فتح الهدایة

هدایة

د اول ټول پاره په آسانه معیاري پښتو
د هدایې یوه جامع شرحه

ژباړه او ترتیب

مولوي حبیب الرحمن مدني

صداقت کتبخانه
کندهار

وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ [القرآن]

فتح الهداية

پښتو شرح

هدايه

د اول ځل لپاره په آسانه معياري پښتو
د هدايې يوه جامع شرحه

د حديثونو تخريج
د متن بشپړ اعراب
صرفي تحقيق
د لغاتو حل

پر فقهي او ضروري معلوماتو
مشتمله يوه جامع مقدمه

تعيين د قول راجح
د هرې جملې ترخنګ ژباړه
د عنواناتو اضافه
صورت د مسئلې

لسم ټوک

كتاب الشفعة تا كتاب الكراهية

ژباړه او ترتيب:
مولوي حبيب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربيه

صداقت كتب خانه - كندهار

فهرس

كِتَابُ الْمُسَاقَاةِ

كِتَابُ الذَّبَائِحِ



كِتَابُ الشُّفْعَةِ

(دا) كتاب د "شفعي" (په بيان كي) دى

تشريح: مخكي تر دې مصنف رَحِمَهُ الله غصب او د هغه احكام بيان كړل، اوس له دې ځايه شفعه او د هغې احكام ذكر كوي، د كتابُ الغصب او كتابُ الشفعة تر مينځ مناسبت په دې توګه دى چي په غصب او شفعه دواړو كي د مال د خاوند له رضاء او خوښې څخه بغير بل څوک د هغه مال په خپله قبضه كي اخلي، فرق يې صرف دومره دى چي په غصب كي ظلم او تعدى كيږي او هغه د شريعت له نظره ډېر قبيح او مذموم فعل دى، حال دا چي شفعه خپله د شريعت له طرفه تاكل سوې خصبه ده او له ظلم او تعدى څخه پاكه ده.

پاته سو دا سوال چي كله شفعه په شريعت كي ثابته ده، نو هغه يې تر كتابُ الغصب مخكي ولي نه ده بيان كړې؟، جواب دا دى چي كه څه هم شفعه يو مشروع امر دى او په دې وجه هغه مخكي بيانول پكار دي، لېكن څرنګه چي د شفعي په مقابله كي غصب كثيرُ الوقوع دى، ځكه چي د زمانې انقلاباتو او تغيراتو خلک له خپل دين، صداقت او ايمانداري څخه ليري كړي دي او هغوى يې د لوټمار او خيانت عادي جوړ كړي دي، نو ځكه مصنف رَحِمَهُ الله د غصب بيان د شفعي تر بيان مخكي كړى، چي خلک د غصب په مسائلو او احكامو خبر سي او په هره توګه له هغه څخه ليري اووسي.

د شفعي لغوي او اصطلاحي معنى او د شفعي وجه تسميه

الشُّفْعَةُ مُشْتَقَّةٌ مِنَ الشَّفْعِ شفعه له شَفْعٌ څخه جوړه كړى سوې ده وَهُوَ الضَّمُّ او هغه [شَفْع] ضمول دي [يعني د "شَفْع" معنىٰ ده: ضمول. سره يو ځاى كول] سُمِّيَتْ بِهَا شفعه [ځكه] په شفعه سره ونومول سوه لِمَا فِيهَا مِنْ ضَمِّ الْمُشْتَرَاةِ إِلَى عَقَارِ الشَّفِيعِ ځكه چي په شفعه كي د رانيول سوي ځمكي ضمول [يو ځاى كول] سته د شفيع د ځمكي سره [يعني ځكه چي په شفعه كي رانيول سوې ځمكه د شفيع د ځمكي سره ضمول كيږي].

اللغات: ﴿مُشتقة﴾ د افتعال له باب څخه صيغه د واحده مؤنثه مفعول ده. اِشْتَقَّ يَشْتَقُّ اِشْتِقَاقًا: د دې باب څو معناوي دي چي له هغوى څخه يې يوه معنى دا ده: يوه كلمه له بلي كلمي څخه جوړول (پريو

مخصوص وزن له بل لفظ څخه يو لفظ جوړول)، ﴿ضَمّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: (يو شی د بل شي) سره يو ځای کول، ضمول، جمع کول، ورسره اضافه کول، (معجم وسيط)، ﴿مشتراة﴾ د افتعال له باب څخه ضيغه د واحده مؤنثه مفعول ده: رانيول سوې، ﴿عَقَار﴾ غير منقوله جايداد، يعني ځمکه، کور او داسي نور کوم چي له يوه ځايه بل ځای ته نه سي نقلول کېدلای بلکي پر خپل ځای ثابت قائم وي.

تشريح: دلته صاحب د هدايې د شفعي مأخذ او د هغې لغوي معنیٰ او وجه د تسميه بيانوي، نو فرمايي چي شفعه له "شَفْعٌ" څخه مشتق ده او "شَفْعٌ" د فتح د باب مصدر دی، "شَفْعُ الشَّيْءِ بِالشَّيْءِ" چي د هغه معنیٰ ده: يو شی د بل شي سره يو ځای کول او عربي قاموسونو يې داسي معنیٰ کړې ده چي: يو شی د خپل هَمْ مثل شي سره يو ځای کول او جُوړه (جفت) ګرځول، همدا د شفعي لغوي معنیٰ ده يعني "سره يو ځای کول".

او د شفعي اصطلاحي معنیٰ ده: "تَمَلُّكُ الْبُقْعَةِ (أَوِ الْعَقَارِ) بِمَا قَامَ عَلَى الْمُشْتَرِيْ بِالشَّرِكَةِ أَوِ الْجِوَارِ" يعني د شرکت يا همسايه توب پر بنياد د (خرڅ کړل سوی) جايداد مالک کېدل د دومره قيمت په عوض کي څومره قيمت چي مشتري اداء کړی وي.

(حق الشفعة: په آسانه وينا دا چي يو څوک خپله ځمکه يا غير منقوله جايداد [لکه کور وغيره] خرڅ وي او د هغه شريک يا همسايه ودريږي چي دا زه رانيسم [په هغومره قيمت څومره چي د هغه ځمکي او جايداد قيمت تاکل سوی وي] او بل چا ته يې نه پرېږدم، نو دې ته "د شفعي حق" وايي).

وجه تسميه: څرنګه چي په شفعه کي د خپلي ځمکي او جايداد سره د بل چا ځمکه او جايداد يو ځای کول کيږي، نو په دې مناسبت شفعي ته "شفعه" ويل سوي دي.

د شفعي د مستحقينو ترتيب

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي الشُّفْعَةُ وَاجِبَةٌ لِلْخَلِيْطِ فِيْ نَفْسِ الْمَبِيْعِ شفعه ثابته ده په خودي مبيع کي د شريک کس لپاره [يعني څوک چي په خودي ځمکه او جايداد کي (د بائع سره) شريک وي، د شفعي حق اولاً هغه لره ثابت او حاصل دی] ثُمَّ لِلْخَلِيْطِ فِيْ حَقِّ الْمَبِيْعِ بيا په حقِ مبيع کي د شريک کس لپاره كَالشِّرْبِ وَالطَّرِيْقِ لکه د اوبو حق [يا د چينلو اوبه] او لاره ثُمَّ لِلْجَارِ بيا د همسايه لپاره أَفَادَ هٰذَا اللَّفْظُ ثُبُوْتَ حَقِّ الشُّفْعَةِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْ هٰؤُلَاءِ دغه لفظ [يعني د متن الفاظو] په دې [مذکوره] کسانو کي د

هر یوه لپاره د حقِ شفعه د ثابتېدلو فایده ورکړه [یعني د متن له الفاظو څخه معلومه سوه چې په مذکوره دریو کسانو کې د هر یوه لپاره مشفعي حق ثابت دی] وَأَفَادَ التَّرْتِيبَ او [بل د دوی دریو سره تر مینځ] د ترتیب فایده یې ورکړه.

اللغات: ﴿خليط﴾ له خلط څخه مشتق دی، د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي، مثلاً: ① شریک، ② ملګری، ③ همسایه، ④ خاوند او داسي نور، دلته مراد ځني شریک دی، جمع خُلَطَاء، ﴿شِرْب﴾ د دې لفظ هم څو معناوي نقل سوي دي: ① د چیښلو اوبه، ② د اُوبو حق، یعني ځمکي او کور ته له والې (نهر) څخه د اوبه ورکولو حق (حق الشرب)، ③ له والې (نهر) او لښتي څخه د اوبو ټاکلې حصه او د اوبو نوبت. په قرآن شریف کي هم دا لفظ ذکر سوی دی ﴿وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَعْلُومٍ﴾. ﴿طَریق﴾ کور او ځمکي ته د تګ راتګ لاره (ځیني وخت پر یوه مُتعیّنه لاره ډېر خلک خپلو کورو او ځمکو ته ځي راځي. دلته همدغه لاره مراد ده)، ﴿جار﴾ همسایه، ګاونډی.

تشریح: د ځمکي او جایداد سره درې قسمه کسان متصل وي:

①... یو خو هغه کس وي کوم چي په خودي ځمکه کي ور سره شریک وي او په ځمکه (مبیع) کي وېش او تقسیم سوی نه وي، داسي کس ته "شریک فی نفس المبیع" وایي یعني "په خودي مبیع کي شریک"، کله چي ځمکه خرڅول کیږي نو همداسي کس د هغې د رانیولو زیات حقدار دی.

②... دویم هغه کس دی کوم چي په خودي ځمکه کي خو شریک نه وي، لېکن د ځمکي چي کوم حق دی په هغه کي ور سره شریک وي، مثلاً ځمکي ته چي کومه د اوبو واله (ویاله) راځي، په هغه کي دواړه سره شریکان وي (یعني بائع او شفیع دواړه له هغه ویالې څخه په خپله حصه کي اُوبه اخلي)، یا مثلاً ځمکي ته چي کومه د تګ راتګ لاره وي، په هغې کي دواړه سره شریکان وي، داسي کس ته "شریک فی حق المبیع" وایي یعني "په حق د مبیع کي شریک"، ده ته پر دویم نمبر حقِ شفعه حاصلیږي چي که اول قسم کس "شریک فی نفس المبیع" نه وي، نو بیا دئ د شفعي او د ځمکي د رانیولو زیات حقدار دی.

③... دریم کس همسایه دی چي هغه نه په مبیع (ځمکه) کي شریک وي او نه د مبیع په حق کي شریک وي، بلکي د مبیع سره د ده ځمکه او جایداد متصل وي، ده ته پر دریم نمبر حقِ شفعه حاصلیږي چي که "شریک فی نفس المبیع" او "شریک فی حق المبیع" موجود نه وي یا موجود خو وي لېکن هغوی دا ځمکه نه غواړي، نو اوس همسایه ګان د شفعي او د ځمکي د رانیولو زیات حق دار دی.

او کله چي مذکوره درې سره کسان دا ځمکه او جایداد نه غواړي، نو بیا د بهر خلکو ته د رانیولو حق سته. تر دغه دریو کسانو مخکي هیڅ ته د هغه د رانیولو حق نسته. (د دې عقلي وجه او دلیل دا

دی چي که مذکوره دریو کسانو ته حقِ شفعه نه ورکول سي، نو خراب او لوچک، بدماش کس به دغه ځمکه او جایداد رانیسي، چي هغه به د دې کسانو لپاره همېشه د تکلیف او ضرر سبب وګرځي، نو ځکه شریعت په مناسب قیمت سره اول دغو کسانو ته د رانیولو حق ورکړی دی).

أفاد هٰذا اللفظ إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د متن له الفاظو (یعني لِلْخَلِیْطِ فِیْ نَفْسِ الْمَبِیْعِ...إلخ) څخه دوې خبري معلومي سوې: ① یوه دا چي مذکوره دریو سره کسانو ته حقِ شفعه حاصلیږي. ② او بله دا چي په هاغه ترتیب سره ورته حاصلیږي کوم ترتیب چي په متن کي بیان سو چي اول شریک فی نفس المبیع دی، د شریک فی نفس المبیع د مخکي والي وجه دا ده چي د هغه شرکت او اتصال له شریک فی حق المبیع او همسایه دواړو څخه زیات دی (نو ځکه امام قدوري هغه اول ذِکر کړی دی او دې ته یې اشاره کړې ده چي د هغه حق تر ټولو مقدم دی)، تر هغه وروسته بیا شریک فی حق المبیع دی، ځکه چي هغه هم په یو درجه نه درجه کي په مبیع کي شریک دی، او بیا تر هغه وروسته همسایه دی، ځکه چي همسایه ته صرف د جوار (همسایه توب) پر بنیاد حقِ شفعه حاصلیږي. نور په مبیع کي د هغه هیڅ شرکت نسته.

په نقلي دلائلو (احادیثو) سره د شفعي ثبوت

أَمَّا الثُّبُوتُ کوم چي [د شفعي] ثابتېدل دي فَلِقَوْلِهِ الْعَلَیْهِ ❶: "الشُّفْعَةُ لِشَرِیْكٍ لَمْ یُقَاسِمْ" نو د نبي کریم ﷺ د دې فرمان په وجه چي: "شفعه د هغه شریک لپاره ده کوم چي تقسیم نه وي کړی" وَلِقَوْلِهِ الْعَلَیْهِ ❷: "جَارُ الدَّارِ أَحَقُّ بِالدَّارِ وَالْأَرْضِ او د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه چي: "د کور همسایه د کور او ځمکي زیات حقدار دی یُنْتَظَرُ لَهُ وَإِنْ كَانَ غَائِبًا إِذَا كَانَ طَرِیْقُهُمَا وَاحِدًا" د هغه لپاره به انتظار کیږي که څه هم غائب وي که چیري د دواړو لاره یوه وي" وَلِقَوْلِهِ الْعَلَیْهِ ❸: "اَلْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ او

---

❶ تخریج: أخرجه البخاري ومسلم بغیر هٰذا اللفظ. البخاري، باب عرض الشفعة على صاحبها قبل البیع، حدیث رقم:۲۲۵۸، ومسلم، باب الشفعة، حدیث رقم:۱۶۰۸، ۴۱۲۸.

یادونه: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله چي کوم احادیث ذکر کړي دي هغه یې د حدیثو له کتابو څخه مخامخ نه دي لیکلي. نو ځکه په الفاظو کي یې څه کمي بیشي راغلې وي.

❷ تخریج: أخرجه أبو داؤد في کتاب البیوع، باب في الشفعة، حدیث رقم:۳۵۱۷، ۲۳۱۸، والترمذي، باب ما جاء في الشفعة للغائب، حدیث رقم:۱۳۶۸.

❸ تخریج: أخرجه أبو داؤد في کتاب البیوع، باب في الشفعة، حدیث رقم:۳۵۱۶، والترمذي، باب ما جاء في الشفعة للغائب، حدیث رقم:۱۳۶۹.

د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه چې: "همسايه د خپل سَقَب زيات حقدار دی" قِيلَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا سَقَبُهُ؟ نو وويل سوه [پوښتنه وسوه] چې اې د الله رسوله! د همسايه سَقَب څه شي دی؟ قَالَ: شُفْعَتُهُ" نبي ﷺ وفرمايل چې: د هغه شفعه [يعني له سقب څخه مراد شفعه ده] وَيُرْوٰى: "اَلْجَارُ أَحَقُّ بِشُفْعَتِهِ" او روايت سوی دی چې: " همسايه د خپل شفعي زيات حقدار دی" [يعني په بل روايت كې د "الجار أحق بشفعته" الفاظ راغلي دي].

اللغات: ﴿سَقَب﴾ د سين او قاف په فتح سره د سمع د باب مصدر دی، سَقِبَ يَسْقَبُ سَقَبًا و سُقُوْبًا: نژدې كېدل، نژدېكت، او له همدې څخه دي "سَاقِبُ الدَّار" (د كور نژدې والا يعني "همسايه") "المُسَاقِب" (مجاور).

تشريح: په دغه عبارت كې صاحب د كتاب رَحِمَهُ الله د شفيع د مخكيني دريو قسمونو په هكله درې جلا، جلا حديثونه ذكر كړي دي، د اول حديث تعلق د اول قسم يعني د "شريک فی نفس المبيع" سره دی چې په دې كې د هغه لپاره شفعه ثابته كړی سوې ده، او د دويم حديث تعلق د "شريک فی حق المبيع" سره دی، په دې دويم حديث كې "جَار" د شريک په معنیٰ سره دی او مطلب يې دا دی چې كه د شريک فی حق المبيع او بائع لاره يوه وي، نو بيا تر شريک فی نفس المبيع وروسته (پر دويم نمبر) شريک فی حق المبيع زيات حقداره دی چې مبيع (ځمكه او كور) رانيسي، تر دې چې د هغه په ناموجوديت كې به هم د هغه رايې او فيصلې ته انتظار كيږي. د درېيم حديث تعلق د همسايه سره دی، چې په هغه كې د "سقب" په لفظ سره د ده لپاره شفعه ثابته كړی سوې ده، د "سقب" معنیٰ ده: قربت او نژدېكت، چې په لغاتو كې يې وضاحت وسو.

په شفعه كې د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک او دلائل

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا شُفْعَةَ بِالْجِوَارِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د همسايه توب پر بنياد شفعه نسته [يعني همسايه لره حقِ شفعه نسته] لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: "اَلشُّفْعَةُ فِيْمَا لَمْ يُقْسَمْ" ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: "شفعه په داسې څه [جايداد] كې سته چې په هغه كې تقسيم [وېش] سوی نه وي [په بله وينا دا چې حقِ شفعه صرف په غير مقسومه ځمكه، كور وغيره كې سته] فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُوْدُ وَصُرِفَتِ الطُّرُقُ نو كه چيرې حدود واقع سي او لارې وګرځول سي [يعني كه په ځمكه او جايداد كې حدود وټاكل سي او

لاري جلا کړل سي] فَلَا شُفْعَةَ" نو بيا شفعه نسته" وَلِأَنَّ حَقَّ الشُّفْعَةِ مَعْدُولٌ بِهٖ عَنْ سُنَنِ الْقِيَاسِ او ځکه چي حقِ شفعه [د شفعي حق] د قياس د لارو څخه اوښتی دی لِمَا فِيْهِ مِنْ تَمَلُّكِ الْمَالِ عَلَى الْغَيْرِ مِنْ غَيْرِ رِضَاهُ ځکه په حقِ شفعه کي د بل چا پر مال د هغه له رضاء څخه بغير مالک کېدل سته وَقَدْ وَرَدَ الشَّرْعُ بِهٖ فِيْمَا لَمْ يُقْسَمْ حال دا چي شريعت د حقِ شفعه په هکله په داسي څه [جايداد] کي وارد سوی دی چي په هغه کي تقسيم سوی نه وي وَهٰذَا لَيْسَ فِيْ مَعْنَاهُ او دا [يعني جار يا مقسوم جايداد] د هغه په معنیٰ سره نه دی [يعني همسايه يا مقسوم جايداد د مَا ورد به الشرع (يعني د غيرِ مقسوم جايداد) په معنیٰ سره نه دی] لِأَنَّ مُؤْنَةَ الْقِسْمَةِ تَلْزَمُهُ فِي الْأَصْلِ دُوْنَ الْفَرْعِ ځکه چي د تقسيم کولو مشقت شفيع لره په اصل [غيرِ مقسوم جايداد] کي لازميږي، نه په فرع [مقسوم جايداد] کي. [يا په بله وينا دا چي د تقسيم زحمت په اصل يعني د "شريک فی نفس المبيع" په صورت کي لازميږي، نه د "همسايه" په صورت کي]

اللغات: ﴿جِوَار﴾ (بكسر الجيم) د مفاعلې د باب اسمِ مصدر دی، جَاوَرَ يُجَاوِرُ مُجَاوَرَةً و جِوَارًا (لکه قَاتَلَ يُقَاتِلُ مُقَاتَلَةً و قِتَالًا): همسايه توب، همسايه ګلوي، ﴿صُرِفت﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صيغه ده: ګرځېدل، ګرځول، اړول. ﴿طُرُق﴾ جمع د طَرِيْقَةٌ ده: لاره. ﴿معدول﴾ د ضرب له بابه د مفعول صيغه ده. عَدَلَ يَعْدِلُ عُدُوْلًا. د دې باب په صله کي چي "عَنْ" ذکر سي، نو معنیٰ يې ده: (د لاري څخه اوښتل. ګرځېدل، ليري کېدل. ﴿حق الشفعة معدول به عن سنن القياس﴾ د شفعي حق د قياس د لارو څخه اوښتی او د قياس د تقاضا خلاف دی؛ ځکه د قياس تقاضا دا ده چي د بل چا مال د هغه په رضاء سره واخيستل سي او دلته (په شفعه کي) د بائع مال بغير د هغه له رضاء څخه اخيستل کيږي. ﴿تملّك﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مالک کېدل (مالک جوړېدل). ﴿مؤنة﴾ مشقت، خرڅ او بار. ﴿وقد ورد الشرع فيما لم يقسم﴾ مطلب دا چي حديث د غيرِ مقسوم (نا تقسيم کړی سوي) جايداد په هکله وارد سوی دی چي صرف په هغه کي شفعه سته، نه د مقسوم جايداد په هکله. ﴿وهٰذا ليس فی معناه﴾ د "هٰذا" په مشارٌإليه کي اختلاف دی. صاحب د عنايې او داسي نور شارحين وايي چي: په دې سره "جَار" ته اشاره سوې ده يعني "شفعه د جار". او صاحب د فتح القدير وايي: صحيح دا ده چي په دې سره "مقسوم" ته اشاره وسي. د تفصيل لپاره فتح القدير وګورئ!. د مَعْنَاهُ ضمير "مَا وَرَدَ بِهِ الشَّرْعُ" (مورد شرع) ته راجع دی. يعني "د کوم شي په هکله چي شريعت يعني حديث وارد سوی دی" هغه ته راجع دی. چي هغه "مَا لَمْ يُقْسَمْ" يعني غير مقسوم جايداد دی يا په بله وينا د "شريک فی نفس للمبيع جايداد".

تشریح: په دې عبارت کې د امام شافعي مسلک او د هغه نقلي او عقلي دواړه دليلونه ذکر کوي، فرمايي چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز صرف په عين مبيع کې د شرکت پر بنياد حق شفعه ثابتيږي، د جوار (همسايه توب) پر بنياد د هغه په نيز حق شفعه نه ثابتيږي. په بله وينا دا چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز صرف "شريک فى نفس المبيع" لره حق شفعه سته او پاتـه سو "جار (همسايه)" لره د شفعي حق نسته[1]؛ دليل دا حديث دی: "الشُّفْعَةُ فِيْمَا لَمْ يُقْسَمْ...إلخ"، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې حديث کې د "الشفعة" الف لام د جنس لپاره دی، نو د حديث مطلب دا دی چې "شفعه د هغه جايداد سره خاص ده چې په هغه کې تقسيم نه وي سوی او تقسيم صرف د "شريک فى نفس المبيع" په جايداد کې نه وي سوی (بلکې هغه د ده او د ملګري تر مينځ مشترک پاته وي)، نو ځکه د امام شافعي په نيز صرف شريک فى نفس المبيع لره حق شفعه حاصل دی، نه همسايه لره؛ ځکه د همسايه د جايداد او د ملګري (بائع) د جايداد تر مينځ حدود واقع سوي او قائم سوي وي او لاري يې سره جلا وي. (دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د نقلي دليل حاصل سو).

ولأن حق الشفعة معدول إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله له طرفه عقلي دليل دی، حاصل يې دا دی چې حق شفعه (د شفعي حق) د قياس خلاف دی؛ ځکه د قياس تقاضا دا ده چې د بل چا مال د هغه په رضاء سره واخيستل سي ليکن په شفعه کې د بائع له رضاء او خوښې څخه بغير د هغه مال (ځمکه او

---

[1] **يادونه:** په اثمارُ الهدايه کې "شريک فى حق المبيع" د "شريک فى نفس المبيع" سره يو ځای شمېرل سوی دی، يعني د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز صرف شريک فى حق المبيع او شريک فى نفس المبيع لره حق شفعه ثابت دی او همسايه لره ثابت نه دی. په احسن الهدايه او په حاشيه کې د عنايې په حواله سره شريک فى حق المبيع د جار (همسايه) سره يو ځای شمېرل سوی دی او د فقهي په عامو کتابو کې هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب همداسې بيان سوی دی چې د هغه په نيز جار او شريک فى حق المبيع دواړو لره حق شفعه نسته او مذکوره حديث يې دليل وړاندې کړی دی، او پاته سو دا سوال چې کله د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز شريک فى حق المبيع لره هم شفعه نسته، نو بيا ولې مصنف رَحِمَهُ الله صرف د جوار تخصيص کړی دی چې "لا شفعة بالجوار"، بايد شريک فى حق المبيع يې هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله په قول کې ذکر کړی وای؟. د دغه سوال جواب صاحب د فتحُ القدير داسې کړی دی چې مصنف ځکه د جوار تخصيص کړی دی چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل صرف د جار په حق کې پوره لګيږي، نه د شريک فى حق المبيع په حق کې (ځکه چې د شريک فى حق المبيع حق [يعني لاره او شرب] مقسوم نه وي بلکې د هغه او د ملګري (بائع) تر مينځ مشاع وي، حال دا چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په مستدل حديث کې د "ما لم يُقسم" الفاظ راغلي دي، لهذا دا حديث صرف د جار پر صورت پوره صادقيږي، نو په دې خاطر يې شريک فى حق المبيع نه دی ذکر کړی). والله أعلم

جايداد) اخيستل كيږي، او تاسو دا اُصول وپلی دی چي کوم شی د قياس خلاف ثابت وي، هغه فقط د شرع تر مورده پوري منحصر وي (يعني په شريعت کي چي د کوم څه په حق کي نص وارد سوی وي، صرف د هغه په حق کي دغه خلاف القياس حکم ثابتيږي)، او دلته په نص [حديث] کي صرف "فيما لم يُقسَم" يعني "نا تقسيم سوی جايداد" وارد سوی دی يا په بله وينا دا چي مذکوره حديث صرف د شريک فی نفس المبيع په حق کي وارد سوی دی (ځکه نا تقسيموالی صرف د هغه په جايداد کي سته چي تر اوسه يې د خپل ملګري [بائع] سره وېش او تقسيم نه دی کړی)، لهذا فقط هغه لره به حق شفعه حاصل وي، او پاته سو جَار لره به دا حق حاصل نه وي؛ ځکه چي تقسيم سوی دی؛ ځکه د هغه او د بائع تر مينځ حدود واقع سوي او قائم سوي وي او لاري يې سره جلا وي (او دا ښکاره خبره ده چي مقسوم د "فيما لم يُقسم" (غيرِ مقسوم) په معنیٰ سره نه دی)، نو ځکه د مذکوره حديث پر بناء به همسايه ته بالکل د شفعي حق حاصل نه وي.

لأنّ مؤنة القسمة إلخ: دا په يوه توګه د امام شافعي رَحِمَهُ الله دويم عقلي دليل دی، حاصل يې دا دی چي شريک فی نفس المبيع ته ځکه حق شفعه ورکول سوی دی چي د تقسيم له مشقت او تکليف څخه خوندي سي، ځکه ښکاره خبره ده چي که ده ته د رانيولو حق نه ورکول سي بلکي بل څوک د ده له ملګري (بائع) څخه ځمکه رانيسي، نو هغه رانيونکی خو خامخا په ده دا ځمکه تقسيموي چي خپل حصه جلا کړي او دئ مجبوراً دا تقسيم کوي، نو د تقسيم له مشقت څخه د خوندي کېدلو په خاطر ده ته حقِ شفعه ورکول سوی دی، لېکن په فرع يعني د جار (همسايه) په صورت کي دا خبره او مجبوري نسته؛ ځکه چي په مبيع (ځمکه او جايداد) کي د همسايه هيڅ حصه او اشتراک نسته چي تقسيم کولو او د حصې جلا کولو ته مجبوري پيدا سي (ځکه ښکاره خبره ده چي همسايه د خپل همسايه سره مشترک نه وي، بلکي د دوی تر مينځ حدود واقع او قائم وي او لاري يې سره جلا وي. لهذا پر همسايه د تقسيم هيڅ مؤنت او مشقت نه راځي)، نو ځکه هغه ته به حق شفعه حاصل نه وي.

(په اصل کي مذکوره عبارت يعني "لأن مؤنة القسمة إلخ" د "هذا ليس في معناه" دليل دی، خو په قول د اثمار الهدايه دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله دويم عقلي دليل دی، او موږ د آسانۍ په خاطر د هغه او اشرف الهدايې دواړو د ترتيب مطابق د عبارت تشريح وکړه).

أصل، فرع: له "أصل" څخه مراد "مورد شرع" يعني "ما لم يقسم" دی يا په بله وينا "شريک فی نفس المبيع" ځني مراد دی، او له "فرع" څخه مراد "غيرِ مورد شرع" يعني "مقسوم" يا په بله وينا "جار" ځني مراد دی. (اثمار الهدايه)

د احنافو دلائل

وَلَنَا مَا رَوَيْنَا او زموږ دليل هغه [دري] حديثونه دي كوم چي موږ روايت كړل وَلِأَنَّ مِلْكَهُ مُتَّصِلٌ بِمِلْكِ الدَّخِيْلِ اتِّصَالَ تَأْبِيْدٍ وَقَرَارٍ او ځكه چي د شفيع ملكيت [جايداد] د مشتري د ملكيت سره په همېشني او دوامي توګه متصل دى فَيَثْبُتُ لَهُ حَقُّ الشُّفْعَةِ عِنْدَ وُجُوْدِ الْمُعَاوَضَةِ بِالْمَالِ اِعْتِبَارًا بِمَوْرِدِ الشَّرْعِ نو ځكه شفيع لره به حقِ شفعه ثابتيږي د معاوضه بالمال د موجودېدلو په وخت كي پر موردِ شرع په قياس كولو سره [په بله وينا: نو ځكه پر "مَاوَرَدَبه الشرع" (يعني پر "شريک فی نفس المبيع") په قياس كولو سره به د جايداد د عوض (قيمت) وركولو په وخت كي د همسايه شفيع لپاره هم حق شفعه ثابتيږي] وَهٰذَا لِأَنَّ الِاتِّصَالَ عَلٰى هٰذِهِ الصِّفَةِ إِنَّمَا انْتَصَبَ سَبَبًا فِيْهِ لِدَفْعِ ضَرَرِ الْجِوَارِ او دا ځكه چي دغه ډول [همېشني او دوامي] اتصال د جوار د ضرر ليري كولو په خاطر په موردِ شرع كي سبب قائم سوى دى [په بله وينا دا چي: دغه همېشني او دوامي اتصال ځكه په موردِ شرع (يعني د "شريک فی نفس المبيع په جايداد") كي سبب تاكل سوى دى چي د جوار ضرر دفع سي] إِذْ هُوَ مَادَّةُ الْمَضَارِّ، عَلٰى مَا عُرِفَ ځكه چي دا جوار [ضررِ جوار او خراب جوار] د ټولو ضررونو جرړه ده، لكه څرنګه چي دا معلومه خبره ده وَقَطْعُ هٰذِهِ الْمَادَّةِ بِتَمَلُّكِ الْأَصْلِ أَوْلٰى او د دغه جرړي [ضررِ جوار] ختمول د شفيع د مالک كيدلو په ذريعه ډېر غوره دي لِأَنَّ الضَّرَرَ فِيْ حَقِّهِ بِإِزْعَاجِهِ عَنْ خُطَّةِ آبَائِهِ أَقْوٰى ځكه چي ضرر د شفيع په حق كي د خپلو پلرونو له ټاټوبي څخه دليري كولو په وجه زيات قوي دى [يعني شفيع د خپل پلار او نيكه له ټاټوبي څخه ليري كول دا د هغه په حق كي له ضررِ جوار څخه زيات ضرر دى، يا په آسانه وينا د ټولي جملې مفهومي معنىٰ دا چي: همسايه شفيع ته حقِ شفعه وركول او هغه د مشفوعه جايداد مالک كول له دې څخه ډېر غوره دي چي هغه له خپل پلرني ټاټوبي څخه ليري كړى سي او د هغه پر ځاى اجنبي مشتري راوستل سي] وَضَرَرُ الْقِسْمَةِ مَشْرُوْعٌ او د تقسيم ضرر مشروع دى [يعني په شريعت كي د هغه ګنجايش سته، او هغه يو روا امر دى] لَا يَصْلُحُ عِلَّةً لِتَحْقِيْقِ ضَرَرِ غَيْرِهِ كوم چي د بل څه د ضرر ثابتولو لپاره د علت جوړېدلو صلاحيت نه لري. [كوم چي د بل څه (يعني د مشتري له رضاء څخه بغير د هغه پر مال د قابض كېدلو) د ضرر ثابتولو لپاره.... په لنډه توګه: د تقسيم ضرر يو مشروع كار دى كوم چي د حقِ شفعه د ثابتولو لپاره د علت جوړېدلو صلاحيت نه لري].

اللغات: ﴿دخيل﴾ د دې لفظ څو معناوي دي: ① داخليدونکی. ② هغه اجنبي کس چې بل قوم ته داخل سي او هغو ته منسوب سي حالانکي اصلاً له هغه قوم څخه نه وي. ③ عجمي کلمه چې عربي ژبې ته داخله سوې وي او داسې نور. دلته ځني مراد مشتري دی (چې هغه لره اوس په جايداد کې دخل سته) وسمّاه دخيلًا لأنه ليس بأصيلٍ في الجوار، والأصيل هو الجَار. ﴿تأبيد﴾ د تفعيل د باب مصدر دی. أَبَّدَ يُؤَبِّدُ تَأْبِيدًا: هميشه کول، دائمي او هميشه کېدل. ﴿قرار﴾ د ضرب له بابه اسم دی: بقاء (باقي پاتېدل، قائم پاتېدل). يادونه: د "تَأْبِيد" په لفظ سره يې له منقولي ملکيت او له هغه ملکيت (جايداد) څخه احتراز وکړی کوم چې په عاريت اخيستل سوی وي. او د "قَرَار" په لفظ سره يې له هغه ملکيت (جايداد) څخه احتراز وکړی کوم چې په شراءِ فاسد سره رانيول سوی وي؛ ځکه هغه لره قرار نسته، چې د بيع فاسد ماتول واجب دي. ﴿مورد الشرع﴾ "ما ورد به الشرع" يعني د کوم څه په باره کې چې شريعت وارد سوی دی چې هغه "ما لم يُقسم" (غير مقسوم جايداد) يعني د "شريک في نفس المبيع" جايداد دی، يا خودي "شريک في نفس المبيع". ﴿مادة﴾ د شي اصل (له کوم څخه چې هغه جوړ سوی او پيدا سوی وي)، جرړه او بنياد. ﴿مضارّ﴾ جمع د مَضَرَّةٌ ده: ضرر، نقصان، تکليف. ﴿إزعاج﴾ د افعال د باب مصدر دی: ليري کول (شړل)، تنګول. ﴿خِطَّة﴾ (د خاء په کسره سره): د ځمکي هغه حصه کوم چې چا د خپل ځان لپاره خاصه کړې وي، تاتوبی. او دا لفظ د خاء په ضمه سره نه دی ځکه د خُطَّة معنیٰ ده: کار، خصلت، مشکله معامله چې د هغه څه حل نه وي او داسي نور. جمع: خُطَط. ﴿لا يصلح﴾ د کَرُم له بابه د نفي صيغه ده: صلاحيت لرل، ورتيا لرل.

تشريح: فرمايي: د شفيع د دريو سره اقسامو لپاره چې موږ حق شفعه ثابت کړی دی، په دې مکله زموږ دليل هغه درې حديثونه دي کوم چې مخکي موږ روايت کړل، چې د هغوی الفاظ داسي دي: ① الشُّفْعَةُ لِشَرِيْكٍ لَمْ يُقَاسِمْ. ② جَارُ الدَّارِ أَحَقُّ بِالدَّارِ إلخ. ③ او الجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهٖ. نو موږ د همدې احاديثو پر بناء د "شفيع في نفس المبيع" سره سره د "جَار" او "شريک في حق المبيع" لپاره هم شفعه ثابتوو. لهذا د دې احاديثو پيشِ نظر د امام شافعي رَحِمَهُ الله تقرير لره اعتبار نسته.

ولأن ملكه إلخ: دا زموږ د احنافو له طرفه عقلي دليل دی. حاصل يې دا دی چې "شريک في نفس المبيع" لره چې کوم د شفعي حق حاصل دی، هغه په دې وجه چې د ده ملکيت د مشتري (دخيل) د ملکيت سره په دائمي توګه متصل دی چې دا د ده لپاره د ضرر او تکليف لامل ګرځي او دې د

قیمت په عوض کي له مشتري څخه کور رانیسي، او دغه علت په جوار یعني د همسایه په صورت کي هم موجود دی (ځکه د همسایه د ملکیت سره هم د مشتري ملکیت مُتصلُ اتّصالَ تأبید وقرار). لهذا کله چي د دائمي متصل کېدلو په سبب شریک فی نفس المبیع لره د مال (قیمت) په عوض کي د ځمکي او جایداد رانیولو حق سته، نو د همسایه لپاره په داسي کولو کي څه تاوان دی؟ [احسن الهدایه]. (یا په بله وینا دا چي کله دغه علت په جوار کي هم موجود دی، نو د مذکوره ضرر د لیري کولو په خاطر به جار [همسایه] ته هم په دوو وجهو سره د شفعي حق حاصل وي: یو دا چي هغه د ځمکي په عوض کي پوره قیمت ورکوي. او دویم دا چي پر مخکیني حدیث "... فِيۡمَا لَمۡ يُقۡسَمۡ" یعني پر "شریک فی النفس المبیع" باندي به قیاس کېږي (چي په هغه کي مذکوره علت په "جَار" کي هم موجود دی [اثمار الهدایه]).

وهذا لأن الاتصال إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دې قول "وَهٰذَا لَيۡسَ فِيۡ مَعۡنَاه" جواب دی چي جَار (یا مقسوم جایداد) د "مَا وَرَدَ بِه الشَّرۡع" (یعني د "شریک فی نفس المبیع" یا غیرِ مقسوم جایداد) په معنیٰ سره نه دی یعني مخکي چي امام شافعي رَحِمَهُ الله جَار (همسایه) له موردِ شرع څخه خارج کړی وو، نو صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په مذکوره عبارت "وهذا لأن الاتصال إلخ" سره د هغه جواب ورکوي، چي له دائمي اتصال څخه مقصد همدا دی چي انسان د همسایه له تکالیفو څخه خوندي اووسي، او دائمي اتصال چي څرنګه په "ما ورد به الشرع" یعني په غیرِ مقسوم (نا تقسیم کړی سوي) جایداد کي سته (یا په بله وینا دا چي دائمي اتصال چي څرنګه د "شریک فی نفس المبیع" په صورت کي سته)، همدارنګه د جوار (همسایه والي) په صورت کي هم سته لکه څرنګه چي دا ښکاره ده؛ او خراب همسایه همېشه د انسان لپاره تکلیف او نقصان وي؛ ځکه خرابه همسایه ګلوي د هر ډول ضرر او نقصان جرړه ده. لهذا د ضرر او نقصان لیري کولو په خاطر جَار (همسایه شفیع) ته هم حقِ شفعه ورکول پکار دي؛ ځکه چي د همدې ضررِ جوار پر بنیاد حقِ شفعه ورکول کېږي، او ښکاره ده چي دغه علت د جَار په صورت کي هم موجود دی، نو ځکه جَار ته به هم د شفعي حق ورکول کېږي.

وقطع هذه المادة إلخ: دا د یو اعتراض جواب دی. اعتراض دا دی چي کله شفیع ته له مشتري څخه د ضرر شکایت او خطره سته، نو دا ضرر (ضررِ جوار) خو داسي هم لیري کېږي چي خپله د شفیع ځمکه هم مشتري ته ورکول سي (پر خرڅه کړل سي)، نو په دې توګه به شفیع له ضرر او نقصان څخه خوندي سي؟.

د دې جواب دا دی چي په مذکوره صورت کي د شفیع نقصان نور هم اضافه کېږي؛ ځکه چي هغه ته دا ځمکه او ځای له خپل پلار او نیکه څخه ورپاته دي او له ډېره وخته دلته اوسېږي او د دې

ځای د خلکو سره پوره بلد دی. اوس که هغه له خپل دغه پلرني ټاټوبي ځخه لیري کړی سي، نو ښکاره خبره ده چي په فطري توګه به هغه ته زیات تکلیف وي، لهذا ډېره غوره همدا ده چي هغه ته حقِ شفعه ورکول سي او مشتري دفع کړی سي.

وضرر القسمة مشروع إلخ: دا دامام شافعي د دې قول "لأنّ مؤنة القسمة إلخ" جواب دی چي امام شافعي رَحِمَهُ الله د حقِ شفعه علت د تقسیم ضرر ګرځولی دی یعني مخکي چي هغه داسي وویل چي ("شريک في نفس المبيع" ته که حقِ شفعه نه ورکول سي بلکي بل څوک ځمکه رانیسي، نو هغه رانیونکی خو خامخا (مجبوراً) په ده هغه ځمکه تقسیموي چي خپله حصله جلا کړي، لهذا د تقسیم له ضرر او زحمت ځخه د خوندي کېدلو په خاطر "شريک في نفس المبيع" ته حقِ شفعه ورکول سوی دی لېکن د همسایه په صورت کي دا خبره او مجبوري نسته...).

نو صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د دې په جواب کي فرمایي چي د تقسیم ضرر خو یو مشروع او روا کار دی (مثلاً که یو شریک د تقسیم غوښتنه وکړي، نو بیا به هم مجبوراً وېش او تقسیم کېږي که ځه هم په دې کي د دویم شریک نقصان وي)، او کله چي د تقسیم ضرر یو مشروع امر دی، نو هغه د حقِ شفعه علت نه سي جوړېدلای، د حقِ شفعه اصل علت ضررِ جوار دی، نه د تقسیم ضرر. (او ښکاره خبره ده چي دغه د ضررِ جوار علت د همسایه په صورت کي هم موجود دی، نو ځکه هغه لره به هم حقِ شفعه ثابت وي).

د امام شافعي د مُستدل حدیث جواب: امام شافعي رَحِمَهُ الله چي په خپل دلیل کي کوم حدیث وړاندي کړی وو (یعني "الشُّفْعَةُ فِيمَا لَمْ يُقْسَمْ")، د هغه دوه جوابونه صاحب د احسن الهدایې نقل کړي دي: ① یو جواب دا چي په دغه حدیث کي رسول الله ﷺ په خاصه توګه په غیرِ مقسوم جایداد کي شفعه ثابته کړې ده او د فقهي قاعده دا ده چي "تخصیص الشيء بالذکر لا یدلّ علی نفي ما عداه" یعني په خاصه توګه د یو شي ذکر کول له هغه ځخه بغیر د بل شي نفي نه ثابتوي، لهذا په مذکوره حدیث سره په مقسوم جایداد کي د شفعي ممانعت نه ثابتېږي.

② دویم جواب دا دی چي په "الشفعة" کي الف لام د مبالغې لپاره دی او د حدیث مطلب دا دی چي "د کاملي درجې شفعه په غیرِ مقسوم جایداد کي ده"، دا یې مطلب نه دی چي "شفعه صرف په غیرِ مقسوم جایداد کي ده او په مقسوم جایداد کي د جوار شفعه نسته".

په شفعه کې د ترتیب دلائل

وَأَمَّا التَّرْتِيبُ فَلِقَوْلِهِ السَّلَامُ: «الشَّرِيكُ أَحَقُّ مِنَ الْخَلِيطِ[1] او کوم چې ترتیب دی نو د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه [ثابت دی]: چې شریک له خلیط [شریک فی حق المبیع] څخه زیات حقدار دی وَالْخَلِيطُ أَحَقُّ مِنَ الشَّفِيعِ» او خلیط له شفیع [همسایه] څخه زیات حقدار دی فَالشَّرِيكُ فِي نَفْسِ الْمَبِيعِ لهذا شریک په نفسِ مبیع کې دی [یعني دلته له شریک څخه شریک فی نفس المبیع مراد دی] وَالْخَلِيطُ فِي حُقُوقِ الْمَبِيعِ او خلیط په حقوقِ مبیع کې دی [یعني له خلیط څخه شریک فی حق المبیع مراد دی] وَالشَّفِيعُ هُوَ الْجَارُ او شفیع هغه همسایه دی وَلِأَنَّ الِاتِّصَالَ بِالشَّرِكَةِ فِي الْمَبِيعِ أَقْوَى او ځکه چې په مبیع کې د شرکت په ذریعه اتصال [له اتصال فی الحقوق څخه] زیات قوي دی لِأَنَّهُ فِي كُلِّ جُزْءٍ ځکه چې دا [د مبیع] په هر جزء کې وي وَبَعْدَهُ الِاتِّصَالُ فِي الْحُقُوقِ او تر هغه وروسته په حقوقو کې اتصال [زیات قوي] دی لِأَنَّهُ شَرِكَةٌ فِي مَرَافِقِ الْمِلْكِ ځکه چې دا د ملکیت په منافعو کې شرکت [اتصال] دی وَالتَّرْجِيحُ يَتَحَقَّقُ بِقُوَّةِ السَّبَبِ او ترجیح د سبب په قوت سره ثابتېږي وَلِأَنَّ ضَرَرَ الْقِسْمَةِ إِنْ لَمْ يَصْلُحْ عِلَّةً او ځکه چې د تقسیم ضرر که څه هم د علت جوړېدلو صلاحیت نه لري صَلُحَ مُرَجِّحًا خو د مُرجح جوړېدلو صلاحیت لري.

اللغات: ﴿الشریك﴾ مراد ځني شریک فی نفس المبیع دی او له خلیط څخه مراد شریک فی حق المبیع دی، لکه څرنګه چې خپله صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي، ﴿مرافق﴾ منافع، د نفعې شیان. ﴿اتصال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: متصل والی، پیوست والی (جوخت والی). ﴿مُرجح﴾ د تفعیل له بابه د فاعل صیغه ده: ترجیح ورکونکی، د ترجیح او تقدّم سبب.

تشریح: مخکې صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله وفرمایل چې د هغه لفظ (یعني د متن الفاظ) د دوو خبرو فایده ورکړه: ثبوت (د شفعې) او ترتیب. نو اول صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په دلائلو سره شفعه ثابته کړه. اوس یې دلته په شفعه کې ترتیب په دلائلو سره ثابت کړی او د دې په دلیل کې یې اول وار د نبي ﷺ حدیث پېش کړی دی چې په هغه کې شریک له خلیط څخه او خلیط له جَار (همسایه) څخه زیات حقدار ښوول سوی دی.

---

[1] تخریج: أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه، كتاب البيوع، باب من كان يقضي بالشفعة للجار، ج:۴، ص:۵۲۰، حديث رقم:۲۲۷۱۷، ۲۳۱۷۲، ومصنف عبد الرزاق، ج:۸، ص:۶۲، رقم:۱۴۴۶۷. (خو په الفاظو کې یې څه تغیر سته او د هغه وجه موږ مخکې ذکر کړه).

ولأن الاتصال إلخ: دا د ترتيب پر ثبوت عقلي دليل دی، حاصل يې دا دی چې په نفسِ مبيع کې د شرکت اتصال په هر هر جزء کې وي (يعني په هر هر جزء کې شريکان سره مشترک وي)، او دا له بل اتصال څخه بالا او اقویٰ دی، لهذا هغه کس کوم چې د دغه اتصال حامل وي (يعني شريک فی نفس المبيع)، د هغه درجه به هم بالا وي او تر ټولو مخکي به هممهغه د حقِ شفعه حقدار وي. او که هغه خپل حقِ شفعه نه غوښتل، نو بيا د شريک فی حقوق المبيع نمبر دی؛ ځکه چې هغه د مبيع (جايداد) په منافعو کې شريک دی او د منافعو اتصال د جَار له اتصال څخه زيات قوي دی؛ ځکه چې دا په هر حال کې په يو درجه نه درجه کې د مبيع سره پېوست وي، نو ځکه شريک فی حق المبيع به پر جَار مخکي کول کيږي او پر دويم نمبر به هغه د حقِ شفعه حقدار وي. او که هغه هم له حقِ شفعه څخه انکار وکړي چې زه دا جايداد او ځمکه نه غواړم، نو بيا پر دريم نمبر جَار (همسايه) د حقِ شفعه زيات حقدار دی؛ ځکه په فقه کې دا مسلمه قاعده ده چې ترجيح او تقدم د سبب په قوت سره حاصليږي، لهذا د شريک فی نفس المبيع سبب تر ټولو زيات قوي دی، نو ځکه د هغه حق هم تر ټولو مخکي دی، بيا شريک فی حق المبيع دا له جَار څخه مضبوط سبب والا دی، نو ځکه جَار ته پر هغه تقدم او فوقيت حاصل دی، او بيا په پر دريم نمبر جَار دی، نو ځکه تر شريک فی حق المبيع وروسته هغه له نورو خلکو څخه زيات حقدار دی.

ولأن ضرر القسمة إلخ: مخکي صاحب د هدايې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په جواب کې ويلي وه چې د تقسيم ضرر د حقِ شفعه علت نه سي جوړېدای، دلته دا راښيي چې که څه هم د شفعي علت نه سي جوړېدای. خو هغه د ترجيح صلاحيت لري او مُرجّح (ترجيح ورکونکی) جوړېدای سي، يعني په کوم صورت کې چې د تقسيم ضرر لازميږي، هغه صورت پر نورو مخکي کول کېدای سي، لکه څرنګه چې زموږ په بيان سوي ترتيب کې هم په اول قسم يعني په شرکت فی نفس المبيع کې د تقسيم ضرر لازميږي، نو ځکه هغه به پر نورو دوو قسمونو مخکي کول کيږي.

ګواکي په دې عبارت سره هم مصنف رَحِمَهُ الله د ترتيب پر ثُبوت دليل نيولی دی. (احسن الهدايه)

د شريک فی نفس المبيع په موجوديت کې د نورو کسانو د محروميت بيان

قَالَ: وَلَيْسَ لِلشَّرِيْكِ فِي الطَّرِيْقِ وَالشِّرْبِ وَالْجَارِ شُفْعَةٌ مَعَ الْخَلِيْطِ فِي الرَّقَبَةِ او نسته شفعه په لاره او شرب کې د شريک لپاره او د همسايه لپاره د شريک فی الرقبه سره [يعني د شريک فی نفس المبيع په موجوديت کې د شريک فی حق المبيع او همسايه لپاره شفعه نسته] لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّهُ مُقَدَّمٌ د هغه دليل پر بناء کوم چې موږ مخکي ذکر کړی چې شريک فی الرقبه [شريک فی نفس المبيع] مخکي دی.

اللغات: ﴿رقبة﴾ معنیٰ غاړه، مراد ځني اصل مبيع (نفسِ مبيع) ده. ﴿شِرب﴾ څه مخکي يې تفصيل تېر سو چې د دې لفظ څو معناوي دي: ① د چيښلو اوبه. ② د اوبو حق، يعني ځمکي او کور ته له والې (نهر) څخه د اوبه ورکولو حق (حق الشرب) او داسي نور. ﴿خليط﴾ مراد ځني شريک دی.

تشريح: کومه خبره چې مخکې صاحب د هدايې (شارح) په تفصيل سره بيان کړه، يعنې د شفيع مراتب او اقسام، هماغه خبره امام قدوري (ماتن) داسې بيان کړې ده چې د شريک فی نفس المبيع په موجوديت کې به شريک فی حق المبيع او همسايه ته حقِ شفعه نه ورکول کيږي، چې دلائل يې مخکې تېر سول (يعنې په مخکينې عبارت کې ذکر سوی حديث، عقلي دليل، قوت سبب).

د پورتنی مسئلې نور وضاحت او د همسايه (جَار) مصداق

قَالَ: فَإِنْ سَلَّمَ فرمايي: نو که چيري شريک فی الرقبة لاس په سر سي [يعني که شريک فی نفس المبيْع له خپل حقِ شفعه څخه لاس په سر سي (پرې يې ږدي) او نه يې واخلي] فَالشُّفْعَةُ لِلشَّرِيْكِ فِي الطَّرِيْقِ نو بيا شفعه په لاره کې د شريک لپاره ده فَإِنْ سَلَّمَ او که هغه هم لاس په سر سي أَخَذَهَا الْجَارُ نو همسايه به يې اخلي لِمَا بَيَّنَّا مِنَ التَّرْتِيْبِ د همغه ترتيب په وجه کوم چې موږ بيان کړی وَالْمُرَادُ بِهٰذَا الْجَارُ الْمُلَاصِقُ او له دغه جار څخه مراد جار ملاصق دی وَهُوَ الَّذِيْ عَلٰى ظَهْرِ الدَّارِ الْمَشْفُوْعَةِ او جار ملاصق هغه دی کوم چې د مشفوعه کور شا ته وي وَبَابُهُ فِيْ سِكَّةٍ أُخْرٰى او دروازه يې په بله کوڅه کې وي وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّ مَعَ وُجُوْدِ الشَّرِيْكِ فِي الرَّقَبَةِ لَا شُفْعَةَ لِغَيْرِهِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې د شريک فی الرقبه په موجوديت کې د بل چا لپاره شفعه نسته سَلَّمَ أَوِ اسْتَوْفٰى برابره ده هغه لاس په سر سي يا [خپل حقِ شفعه] واخلي لِأَنَّهُمْ مَحْجُوْبُوْنَ بِهِ ځکه چې د شريک فی الرقبه په وجه نور شفيع ګان محروم پاته وي وَوَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّ السَّبَبَ تَقَرَّرَ فِيْ حَقِّ الْكُلِّ او د ظاهر روايت وجه دا ده چې د شفعې سبب [چې هغه اتصال دی] د هر يوه په حق کې ثابت سوی دی إِلَّا أَنَّ لِلشَّرِيْكِ حَقَّ التَّقَدُّمِ خو شريک فی الرقبه لره د مخکې والي حق حاصل دی [يعني د هغه حق مخکې دی] فَإِذَا سَلَّمَ لهذا کله چې هغه لاس په سر سي [او خپل حقِ شفعه نه واخلي] كَانَ لِمَنْ يَلِيْهِ نو شفعه به د هغه کس لپاره وي کوم چې ده ته نژدې وي بِمَنْزِلَةِ دَيْنِ الصِّحَّةِ مَعَ دَيْنِ الْمَرَضِ لکه د صحت [د زمانې] قرض د مرض [د زمانې] د قرض سره.

اللغات: ﴿سلم﴾ د تفعيل د باب ماضي ده، د دې باب ډيرې معناوې دي چې د صلې په بدلون سره يې معنیٰ هم بدليږي، مثلاً: ورسپارل، ورکول، راضي کېدل، خالص کول، پر ځان قدرت ورکول او داسې نور. خو څرنګه چې يې دلته صله لفظاً نه ده ذکر سوې، نو ځکه د يو معنیٰ تعيين يې نه سي

کېدلای. اُردو شارحینو دلته د پرېښوولو او لاس په سر کېدلو معنیٰ کړې ده والله أعلم. ﴿ملاصق﴾ متصل، جوخت، ور سره يو ځای. ﴿سِكّة﴾ کوڅه (ګلی). ﴿استوفى﴾ د استفعال د باب ماضي ده: پوره اخیستل، ترلاسه کول. ﴿يليه﴾ د حسب د باب مضارع ده: متصل کېدل. څرمه کېدل (او د ضرب له بابه د ولايت لرلو معنیٰ ورکوي).


تشريح: مخکې د شفيع د اقسامو تر مينځ ترتيب ذکر سو چې اول شريک في نفس المبيع (شريک في الرقبة) د شفعې زيات حقدار دی. بيا شريک في حق المبيع (شريک في الطريق...) او بيا همسايه. د شريک في حق المبيع مطلب مخکې تېر سو چې په لاره (طريق) کې شريک وي يا ځمکې ته چې کوم د اوبو لښتی او واله راځي په هغه کې شريک وي. اوس په دې عبارت کې فرمايي چې که اول حقدار يعني شريک في نفس المبيع موجود وي خو خپل حقِ شفعه نه غواړي يا ګرسره موجود نه وي، نو بيا شريک في حق المبيع لره حقِ شفعه حاصل دی. او که هغه (شريک في حق المبيع) موجود نه وي او يا موجود خو وي لېکن حقِ شفعه نه غواړي، نو بيا همسايه لره حقِ شفعه حاصل دی. او که هغه موجود نه وي يا موجود وي لېکن حقِ شفعه نه غواړي، نو بيا نورو خلکو ته حقِ شفعه يعني د مشفوعه کور او ځمکې د رانيولو حق سته. دا ظاهر روايت دی.

﴿د همسايه مصداق او هغه سره اړوند درې صورتونه په نقشه کې﴾


والمراد بهٰذا الجَار: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې له جَار څخه مراد هغه همسايه دی چې د مشفوعه کور و شاته وي او د هغه دروازه بل طرف (بلې کوڅې) ته خلاصېږي. دلته صاحب د اثمار الهدايې د همسايه درې صورتونه په نقشه سره بيان کړي دي چې ستاسو د آسانۍ په خاطر يې مو رو دلته رانقل کوو:

① ... يو جار ملاصق همسايه دی چې د مشفوعه کور (يا په بله وينا د خرڅېدونکي کور) و شاته د هغه کور وي چې دروازه يې د شا کوڅې ته خلاصېږي (دا صورت په کتاب کې ذکر سوی دی). نقشې ته وګورئ!:

②... دویم صورت دا دی چي د دواړو دروازه يوې کوڅې ته را خلاصيږي، په دې صورت کي هم همسايه ته حق شفعه حاصليږي، خو د جوار (همسايه توب) پر بناء نه، بلکي په دې وجه چي دلته دواړه کورنو والا په يوه لار کي سره شريک دي، نقشې ته وګورئ! :



③... دريم صورت دا دی چي د دواړو کورونه سره مخامخ وي او د دواړو په مينځ کي کوڅه يا سړک وي، چي هغه ته د دواړو دروازه را خلاصيږي، نو په دې صورت کي حق شفعه نه حاصليږي؛ ځکه چي په مينځ کي د کوڅې يا سړک راتللو په وجه جَار ملاصق يعني متصل همسايه پاته نه سو. نقشې ته وګورئ! :



وعن أبي يوسف إلخ: له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه په غيرِ ظاهر روايت کي نقل سوي دي چي که شريک فی نفس المبيع (شريک فی الرقبة) موجود وي، نو برابره ده هغه خپل حقِ شفعه غواړي او که يې نه غواړي، په هر صورت کي بل حقدار (شريک فی حق المبيع او همسايه) ته حقِ شفعه نه حاصليږي، همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اُصول دی.

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په اصل کي دغه مسئله د ميراث پر مسئلې قياسوي او شريک فی نفس المبيع (شريک فی الرقبة) د نورو حقدارنو لپاره حاجب ګڼي، يعني ځرنګه چي په ميراث کي که د پلار مور (انا) او د مور د مور مور سره جمع سي، نو برابره ده د پلار مور ميراث وړي او که يې نه وړي، هغه په هر حال کي د مور د مور مور (له ميراث څخه) محروموي، همداسي دلته هم که شريک فی نفس المبيع موجود وي، نو برابره ده هغه خپل حق شفعه غواړي او که يې نه غواړي، په هر حال کي بل حقدار (له حقِ شفعه څخه) محروموي. دا غيرِ ظاهر روايت دی لکه مخکي چي هم موږ ذکر کړه.

وجه الظاهر إلخ: په ظاهر روايت كي وويل سوه چي كه شريك في نفس المبيع خپل حقِ شفعه نه غواړي، نو شريك في حق المبيع لره حقِ شفعه حاصل دی. او كه شريك في حق المبيع يې هم نه غواړي، نو بيا جَار لره حق شفعه حاصل دی. دلته د ظاهر روايت دليل بيانوي، دليل يې دا دی چي د شفعي سبب (يعني اتصال) د شفيع په دريو سره قسمونو كي ثابت او موجود دی. لهذا د مشفوعه كور د خرڅيدلو سره سم دوی ټولو ته پر يوه ځای شفعه حاصله سوه، خو فرق صرف د اولويت (اول والي) دی، نو څوک چي په نفسِ كور كي شريک دی، هغه ته اول حق حاصليږي، او كه هغه يې نه غواړي، نو بيا په لاره كي شريک ته حاصليږي، او كه هغه يې هم نه غواړي، نو پر دريم نمبر همسايه ته حاصليږي.

بمنزله دين الصحة إلخ: د دې يو مثال ذكر كوي چي مثلاً خالد د صحت (جوړ والي) په زمانه كي پنځه زره روپۍ په قرض واخلي. بيا د مرض (ناجوړی) په حالت كي مثلاً دوه زره په قرض واخلي او بيا مړ سي او تر خپل شا صرف پنځه زره سرمايه پريږدي، نو په دې صورت كي به اول د صحت (جوړ والي) د زماني قرض اداء كول كيږي او چي له هغه څخه روپۍ پاته سي، نو د مرض والا زماني قرض به په اداء كول كيږي. يا مثلاً د صحت والا قرض خالد ته وبخښل سي (معاف كړی سي)، نو د مرض والا زماني قرض به اداء كول كيږي؛ ځكه چي د مړي (خالد) سره په يوه ځل د دواړو حق متعلق سوی دی. فرق صرف د اولويت (اول والي) دی، او اول د صحت قرض دی، نو د صحت والا ته به اول قرض وركول كيږي. همدارنګه دلته هم ټولو ته په يوه ځل حقِ شفعه حاصل سوی دی، خو اول حقدار يعني شريک في نفس المبيع ته به اول حق وركول كيږي، كه هغه خپل حق نه غوښتی، نو بيا به وروسته والا ته وركول كيږي او د چا حق نه ساقطيږي.

امام ابو يوسف ته جواب: دا دی چي ميراث پر شفعه قياسول صحيح نه دي؛ ځكه په ميراث كي ملكيت غيرِ اختياري وي، چي د هغه په ختمولو كي بنده لره هيڅ دخل نسته، حال دا چي په شفعه كي ملكيت اختياري وي او انسان بذاتِ خود له هغه څخه لاس په سر كيدلای سي، لهذا په مقيس عليه او مقيس كي موافقت نسته، فكيف يصح القياس. (احسن الهدايه)

د شريک في المبيع اقسام

وَالشَّرِيْكُ فِي الْمَبِيْعِ قَدْ يَكُوْنُ فِيْ بَعْضٍ مِنْهَا او شريک في المبيع كله د كور [كلا] په څه حصه كي شريک وي كَمَا فِيْ مَنْزِلٍ مُعَيَّنٍ مِنَ الدَّارِ أَوْ جِدَارٍ مُعَيَّنٍ مِنْهَا لكه د كور په يو معيّن منزل كي يا د كور په يو معيّن دېوال كي وَهُوَ مُقَدَّمٌ عَلَى الْجَارِ فِيْ مَنْزِلٍ او دا شريک په منزل كي پر همسايه مخكي

دی [یا په بله وینا د منزل پر همسایه مخکي دی] وَكَذَا عَلَى الْجَارِ فِي بَقِيَّةِ الدَّار او همدارنګه د دَار [کلا] په پاته حصه کي پر همسايه [مخکي دی] فِي أَصَحِّ الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ أَبِي يُوسُفَ له دوو صحيح روايتونو څخه د ډېر صحيح روايت مطابق له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه [یعني د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د اصح روايت مطابق دا شريک د منزل پر همسايه او د کلا د مابقي حصې والا پر همسايه مخکي دی] لِأَنَّ اتِّصَالَهُ أَقْوَى ځکه چي د هغه اتصال زيات قوي دی وَالْبُقْعَةَ وَاحِدَةٌ او د ځمکي حصه يوه ده [په بله وينا دا چي ټوله دار او کلا خو يو ځای او يوه ځمکه ده].

اللغات: ﴿دَار﴾ کور او سرای ته وايي، مراد ځني غټ کور دی يعني لويه کلا چي په هغه کي څو کوچني کورونه وي (چي عموماً په داسي کلا کي د يوه خاندان خلک د هغه په جلا، جلا کورو کي اوسيږي، يا د کرايې لپاره استعماليږي)، ﴿منزل﴾ مراد ځني کوچنی کور دی کوم چي پر دوو يا دريو خونو مشتمل وي (او په لويه کلا کي دننه وي چي داسي کوچني کور ته پلاټ هم ويل کيږي)، او هري خوني ته يې "بَيْت" ويل کيږي، ﴿بقعة﴾ د ځمکي يوه ټوټه، حصه، په اصل کي د ځمکي هغه حصې ته وايي کوم چي له شا وخوا ځمکو څخه بدله وي، جمع: بُقَع او بِقَاع.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي مثلاً يو لويه کلا ده چي په هغه کي څو کوچني کورونه دي چي له هغوی څخه په يوه کور کي يا د کور په يو خونه کي يو کس شريک دی يا صرف په يو دېوال کي شريک دی، اوس که د دغه کلا هسي يو حصه خرڅيږي (يعني برابره ده هغه مشترکه حصه (کور او خونه) وي يا بله حصه خرڅيږي)، نو دغه شريک (کوم چي په بعضي حصه يا دېوال کي شريک دی) تر ټولو مخکي د هغه خرڅېدونکي حصې د رانيولو اول حقدار دی او له هر ډول همسايه (جَار) څخه د هغه حق شفعه مخکي دی، او د دغه مخکي والي دوې وجهې دي: ① يوه دا چي دغه کس په يو درجه نه درجه کي په کلا کي شريک دی، او همسايه بالکل شريک نه وي، نو د هغه اتصال د همسايه له اتصال څخه ډېر قوي دی، ② دويمه وجه دا چي ټوله کلا بقعه واحده (د ځمکي يوه حصه) ده، په بله وينا دا چي ټوله يوه کلا ده يعني په کلا کي د ټولو جوړو کورونو او خونو ځمکه يوه ده، لهذا کله چي دغه کس د کلا په يو منزل يا دېوال کي شريک دی (او منزل، دېوال او داسي نور د کلا له توابعو څخه دي)، نو په دې سره د هغه اشتراک په ټوله کلا کي ثابت سو، او کله چي هغه په ټوله کلا (دَار) کي شريک ثابت سو، نو ښکاره خبره ده چي د هغه حق به په هر حال کي له همسايه ګانو څخه مخکي وي.

د شريک في حق المبيع د حقِ شفعه شرطونه

ثُمَّ لَا بُدَّ أَنْ يَكُوْنَ الطَّرِيْقُ أَوِ الشِّرْبُ خَاصًّا بيا ضروري ده چي دا لاره او شِرب [واله] به خاصه وي حَتّٰى تَسْتَحِقَّ الشُّفْعَةُ بِالشَّرِكَةِ فِيْهِ د دې لپاره چي شفيع په هغه کي د شرکت په وجه د شفعي حقدار سي فَالطَّرِيْقُ الْخَاصُّ أَنْ لَا يَكُوْنَ نَافِذًا نو خاصه لاره دا ده چي هغه نافِذه [خلاصه] نه وي وَالشِّرْبُ الْخَاصُّ أَنْ يَكُوْنَ نَهْرًا لَا تَجْرِيْ فِيْهِ السُّفُنُ او خاص شِرب دا دی چي داسي واله وي چي په هغه کي کښتياني نه سي چلېدلای وَمَا تَجْرِيْ فِيْهِ او په کومه واله کي چي کښتياني چلېدلای سي فَهُوَ عَامٌّ نو هغه عامه واله ده وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا [تفسير] د طرفينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نېز دی وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ ● أَنَّ الْخَاصَّ أَنْ يَكُوْنَ نَهْرًا يُسْقٰى مِنْهُ قَرَاحَانِ أَوْ ثَلَاثَةٌ او له امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ څخه روايت دی چي شِربِ خاص دا دی چي داسي واله وي چي په هغه سره دوه يا درې کښتونه [کېتياني] اوبه کېدلای سي وَمَا زَادَ عَلٰى ذٰلِكَ او کوم چي له دې مقدار څخه زيات وي فَهُوَ عَامٌّ نو هغه عام نهر دی.

اللغات: ﴿نافذ﴾ خلاصه (عمومي) لار، ﴿سُفُن﴾ جمع د سَفِيْنَةٌ ده: کښتۍ، بېړۍ، ﴿القَرَاحَان﴾ تثنيه د قَرَاحٌ ده، د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي چي له هغوی څخه يوه دا ده: هغه کښت او کرونده چي هيڅ ودانۍ (بناء) او درختي پکښي نه وي (مصباح منير)، يا هغه ځمکه چي په هغه کي هيڅ ودانۍ (بناء) او درختي نه وي بلکي د کښت کرني لپاره خالي کړل سوې وي (معجم وسيط)، همسې خو د دې لفظ خپله معنیٰ ده: خالص، لکه څرنګه چي ويل کيږي مَاءٌ قَرَاحٌ يعني خالص اُوبه، او په حاشيه کي د دې لفظ معنیٰ په باغ سره سوې ده کوم چي زموږ په قاموسونو کي نه ده نقل سوې.

تشريح: مخکي په متن کي ذکر سوه چي کوم کس په لاره کي شريک وي يا په شِرب يعني په واله کي شريک وي (نو پر دويم نمبر هغه ته حقِ شفعه حاصليږي)، د دې مطلب دا دی چي په خاصه لاره يا

● القول الراجح: في مسألة شرب الخاص قولان آخران: ① قول عامة الفقهاء: وهو أن الشركاء على النهر إذا كانوا لا يحصون (يعني که د نهر شريکان بې شمېره وي چي بعضي د هغو شمېر پنځه سوه تاکلی دی او بعضو سل او بعضو څلوېښت) فهو كبير وإلا فصغير (خاص)، ② وقيل: انه مفوض إلى رأي كل مجتهد في زمانه إن رآهم كثيرًا كانوا كثيرًا، وإن رآهم قليلًا كانوا قليلًا.

فالقول الراجح في هذه المسئلة هو التفويض إلى رأي كل مجتهد في زمانه، وهذا أصح الأقوال في هذه المسئلة، انظر للتفصيل [القول الراجح ج:۲، ص:۲۶۷]

خاصه واله کي شريک وي، نو حق شفعه ورته حاصليږي، خو که چيري په لويه عامه لاره کي شريک وي، يا په لوی نهر او عامه واله کي شريک وي، نو ښکاره خبره ده چي په هغه کي بيخي ډېر خلک شريکان وي، نو حق شفعه به څنګه ورته حاصل سي!.

وروسته د خاص لاري تعريف کوي چي کومه لاره غير نافذه وي يعني له دواړو طرفونو څخه خلاصه نه وي بلکي يو طرف يې بند وي (چي په هغه کي د عامو خلکو تګ راتګ نه وي او صرف د هغه لاري کورو والا پکښي ځي راځي)، نو دې ته خاصه لاره وايي، او کومه لاره چي (آر پار) خلاصه وي (چي په هغه کي عام کسان تګ راتګ کوي)، نو هغه عامه لاره ده.

او د "شِرْب" په تعريف کي فرمايي چي په کوم نهر (واله) کي کوچنۍ کښتۍ نه سي تللای، هغه شربِ خاص (او کوچنۍ واله) ده، او په کوم نهر کي چي کوچنۍ کښتۍ تللای سي، هغه عام نهر دی چي په هغه کي حقِ شفعه نه ثابتيږي، دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله تعريف دی. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله تعريف دا دی چي په کوم نهر (واله) سره چي دوه يا درې کښتونه او باغونه اوبه کېدلای سي هغه "شرب خاص" دی او کوم نهر چي له دې څخه غټ وي چي په هغه سره تر دې ډېرو کښتو ته اوبه ورکول کېدلای سي، نو هغه "شربِ عام" دی چي په هغه کي شرکت د شفعي سبب نه سي جوړېدای او حقِ شفعه نه سي پکښي ثابتېدای.

د پورتني مسئلي نور وضاحت


فَإِنْ كَانَتْ سِكَّةٌ غَيْرَنَافِذَةٍ او که کوڅه غير نافذه [بنده] وي يَنْشَعِبُ مِنْهَا سِكَّةٌ غَيْرُنَافِذَةٍ چي له هغې څخه بله غير نافذه کوڅه [لاندي] را جلا کيږي وَهِيَ مُسْتَطِيلَةٌ او هغه اوږده کوڅه وي [صاحب د اثمار الهدايې د "هِيَ" ضمير دا اولي کوڅې ته راجع کړی دی له کومي څخه چي بله کوڅه را جلا کيږي، او نورو شارحينو راجلا کېدونکي [منشعبه] کوڅې ته راجع کړی دی] فَبِيْعَتْ دَارٌفِي السُّفْلٰى بيا په لاندينۍ [منشعبه] کوڅه کي يو کور خرڅ سي فَلِأَهْلِهَا الشُّفْعَةُ خَاصَّةً دُونَ أَهْلِ الْعُلْيَا نو صرف د هغې [لاندينۍ منشعبه کوڅې] خلکو لره شفعه سته، نه د پورتنۍ کوڅې خلکو لره وَإِنْ بِيعَتْ فِي الْعُلْيَا او که په پورتنۍ کوڅه کي يو کور خرڅ سي فَلِأَهْلِ السِّكَّتَيْنِ نو د دواړو کوڅو خلکو لره شفعه سته وَالْمَعْنٰى مَا ذَكَرْنَا فِي كِتَابِ أَدَبِ الْقَاضِيْ او د دې وجه هماغه ده کوم چي په "كتاب أدب القاضي" کي موږ ذکر کړې ده وَلَوْكَانَ نَهْرٌصَغِيْرٌيَأْخُذُ مِنْهُ نَهْرٌأَصْغَرُمِنْهُ او که يو کوچنی نهر [واله] وي چي له هغه څخه تر

هغه کوڅې نهر راوڅي فَهُوَعَلٰى قِيَاسِ الطَّرِيقِ فِيمَا بَيَّنَّاهُ نو دا هم د لارې پر قياس ده په هغه صورت کې کوم چې موږ بيان کړی [يعني فإن كانت سكة غير نافذة ينشعب منها سكة غير نافذة إلخ].

اللغات: ﴿سِكّة﴾ کوڅه (ګلی)، ﴿غير نافذة﴾ داسې کوڅه کوم چې خلاصه نه وي چې هغې ته بنده کوڅه ويل کيږي، ﴿ينشعب﴾ د انفعال له بابه د مضارع صيغه ده، د دې باب څو معناوې دي چې يوه معنی يې ده: راجلا کېدل (دا معنی يې هلته راځي کله چې يې په صله کې لار او داسې نور ذکر سي)، ﴿مستطيلة﴾ اوږده، ﴿سُفلیٰ﴾ لاندينی، صاحب د اثمار الهدايې وايي چې له سُفلیٰ څخه مراد کوچنۍ (منشعبه) کوڅه ده او له عُليا څخه مراد اوږده کوڅه ده. (اثمار الهدايه، ج: ۱۲، ص: ۲۴)

اصـول: چيرې چې د خلکو بار، بار تللو ته ضرورت پېښيږي، هلته هغوی ته حق شفعه حاصليږي، او چيرې چې يې د بار، بار تللو ضرورت نه وي، هلته حق شفعه نه ورته حاصليږي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې يوه اوږده غيرِ نافذه (بنده) کوڅه ده چې له هغې څخه بله غيرِ نافذه کوچنۍ کوڅه وځي، مثلاً داسې:



ښکاره خبره ده چې کله د دې کوچنۍ غيرِ نافذه کوڅې خلک دباندې ځي، نو پر دغه اوږده پورتنۍ کوڅه وځي، لهذا د کوچنۍ کوڅې والا خلکو لره هر وخت دا ضرورت پېښيږي چې پر اوږده کوڅه ولاړ سي راسي؛ ځکه بله لار سته نه (نو ځکه کوچنۍ کوڅې والا په دې اوږده کوڅه کې حقِ شفعه لري)، او پاته سو د اوږدې کوڅې خلکو لره دا ضرورت نه پېښيږي چې لاندې کوچنۍ کوڅې ته راسي، نو معلومه سوه چې په لاندې کوچنۍ کوڅه کې د اوږدې کوڅې والا وو اشتراک نسته (ځکه چې هغوی دغه کوڅې ته هيڅ ضرورت نه لري) او د دغه لاندينۍ کوچنۍ کوڅې د خلکو په دواړو کوڅو کې اشتراک سته (ځکه چې د هغوی اوږدې کوڅې ته هم ضرورت سته)، نو په دې وجه که چيرې په اوږده کوڅه کې يو کور خرڅېدی، نو د اوږدې کوڅې د خلکو سره د کوچنۍ کوڅې والا خلکو ته هم حقِ شفعه حاصليږي، خو که په کوچنۍ کوڅه کې يو کور خرڅېدی، نو فقط کوچنۍ کوڅې ولا ته دا حق حاصليږي.

ولوکان النهرالخ: همدارنګه د دوو نهرونو (ویالو) هم دغه حکم دی. یعني که یوه ویاله (نهر صغیر) وي چي له هغه څخه لاندي بله کوچنۍ ویاله (نهر اصغر) یعني لښتی را وځي. اوس ښکاره خبره ده چي د لښتي (نهر اصغر) والا خلک په هغه پورتنۍ ویاله (نهر صغیر) کي اشتراک لري لېکن د ویالې د خلکو د لښتي والا سره هیڅ تعلق نسته، نو په دې وجه که چیري د پورتنۍ ویالې (نهر صغیر) سره متصل دیو چا کښت او ځمکه خرڅېدله، نو د دغه پورتنۍ ویالې د خلکو سره د لښتي (نهر اصغر) خلکو ته هم حق شفعه حاصلیږي (ځکه چي د لښتي (نهر اصغر) والا خلک بار بار د اُوبه را ایله کولو او اخیستلو لپاره پورتنۍ ویالې ته ځي راځي، نو ځکه هغوته به هم حق شفعه حاصل وي)، او که چیري د لښتي (نهر اصغر) سره کښت او ځمکه خرڅېدله، نو فقط د همدغه لښتي خلکو لره حق شفعه سته، د پورتني ویالې خلکو ته حق شفعه نه حاصلیږي (ځکه چي د هغو دلته راتلو ته ضرورت نسته).

د شرکت جوار یو صورت

قَالَ: وَلَا يَكُوْنُ الرَّجُلُ بِالْجُذُوْعِ عَلَى الْحَائِطِ شَفِيْعَ شَرِكَةٍ [صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله] فرمایي: چي سړی پر دېوال د تیرانو په ایښودلو سره د شرکت والا شفیع نه ګرځي وَلٰكِنَّهُ شَفِيْعُ جِوَارٍ لېکن هغه د جوار [همسایه توب] والا شفیع دی لِأَنَّ الْعِلَّةَ هِيَ الشَّرِكَةُ فِي الْعَقَارِ ځکه [د شرکت والا شفیع کېدلو] علت په جایداد [ځمکه] کي شریک کېدل دي وَبِوَضْعِ الْجُذُوْعِ لَا يَصِيْرُ شَرِيْكًا فِي الدَّارِ او د تیرانو په ایښودلو سره هغه په کور کي شریک نه ګرځي إِلَّا أَنَّهُ جَارٌ مُلَازِقٌ خو هغه متصل همسایه دی قَالَ: وَالشَّرِيْكُ فِي الْخَشَبَةِ تَكُوْنُ عَلَى حَائِطِ الدَّارِ جَارٌ [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمایي: او شریک د هغه لرګیو کوم چي د کور پر دېوال وي همسایه دی [یعني د کور پر دېوال په ایښودل سوو لرګیو او تیرانو کي شریک کس د همسایه په حکم کي دی] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړي.

اللغات: ﴿جذوع﴾ جمع د جِذْعٌ ده: د خرما د درختي تنه، تیر، شاتیر، ﴿حائط﴾ دېوال، جمع حِيْطَان. ﴿ملازق﴾ ورسره متصل (موښتی)، جوخت، ﴿عقار﴾ جایداد، لکه ځمکه، کور او داسي نور. ﴿خشبة﴾ واحد د خَشَبٌ دی: مَا غَلُظَ مِنَ الْعِيْدَان یعني پنډ لرګیان. (معجم وسیط)

یادونه: په دغه عبارت کي د اول قَالَ فاعل صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله دی. او د دویم قَالَ فاعل امام محمد رَحِمَهُ الله دی.

تشریح: مخکې چې کوم په دېوال کې د شریک کېدلو بحث تېر سو، د هغه مطلب صرف په دېوال کې شریک کېدل نه دي، بلکې د دېوال سره په هغه ځمکه یا کور کې هم شرکت ضروري دی چې په هغه کې دېوال ولاړ وي، همدا وجه ده چې پر دېوال محض د تېرانو او لرګیانو په ایښودلو سره شرکت نه ثابتیږي، مثلاً که د یو چا پر دېوال د بل کس تېران پراته وي، نو محض په دې وجه سره هغه بل کس شریک فی الدار نه ګرځي، لهذا هغه ته به شرکت والا شفیع نه ویل کیږي، بلکې داسې کس ته د همسایه توب والا شفیع (یا په بله وینا همسایه) ویل کیږي.

قال: صاحب د هدایې د امام محمد رَحِمَهُ الله عبارت د تائید په توګه پېشوي چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز هم د کور پر دېوال د ایښودل سوو تیرانو شریک ته جَار (همسایه) ویل کیږي، نه شریک فی الدار، او د دې دلیل دا دی چې د شریک فی الدار (یا شرکت والا شفیع) کېدلو لپاره په ځمکه او کور کې شرکت ضروري دی کوم چې دلته نسته او محض د تیر او لرګي په ایښودلو سره هغه په کور (دَار) نه شریک کیږي، خو هغه جَار ملاصق دی چې تفصیل یې مخکې تېر سو (چې تر شریک فی نفس المبیع او شریک فی حق المبیع وروسته به حق شفعه ورکول کیږي).

د څو شفیع ګانو د موجود والي یو صورت

قَالَ: وَإِذَا اجْتَمَعَ الشُّفَعَاءُ فرمایي: او کله چې [دیو جایداد مثلاً دیو کور په شفعه کې] څو شفیع ګان جمع سي فَالشُّفْعَةُ بَيْنَهُمْ عَلَى عَدَدِ رُءُوسِهِمْ نو شفعه [حق شفعه] د هغو په مینځ کې د هغو د عدد رؤس [شمېر] مطابق ده [یعني د هغو د شمېر او تعداد اعتبار به کیږي چې ټولو ته به برابر، برابر حقِ شفعه حاصلیږي] وَلَا يُعْتَبَرُ اخْتِلَافُ الْأَمْلَاكِ او د ملکیتونو د اختلاف [کمي و زیاتوب] اعتبار به نه کیږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: هِيَ عَلَى مَقَادِيرِ الْأَنْصِبَاءِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې [په دې صورت کې] شفعه د حصو په اندازه ده [یعني د شفیع ګانو د حصو او ملکیت د مقدار په اعتبار سره (یعني څومره حصه او ملکیت چې یې وي هغومره) حقِ شفعه ورته حاصلیږي] لِأَنَّ الشُّفْعَةَ مِنْ مَرَافِقِ الْمِلْكِ ځکه چې شفعه د ملکیت له منافعو څخه ده أَلَا يُرَى أَنَّهَا لِتَكْمِيلِ مَنْفَعَتِهِ آیا نه ګورې چې شفعه د ملکیت د منفعت پوره کولو لپاره ده فَأَشْبَهَ الرِّبْحَ وَالْغَلَّةَ وَالْوَلَدَ وَالثَّمَرَةَ نو حق شفعه د ګټې، غلې، ولد او مېوې په څېر سو.

اللغات: ﴿رؤوس﴾ جمع د رَأْسٌ ده: سر، مراد ځني ذات او نفس دی. ﴿مقادیر﴾ جمع د مِقْدَارٌ ده: مقدار، اندازه. کچه. ﴿أنصباء﴾ جمع د نَصِيبٌ ده: حصه، برخه. ﴿مرافق﴾ جمع د مَرْفِق ده (پر وزن د مسجد): هغه شی چې انسان نفع ځني اخلي، منفعت، نو مرافق معنیٰ منافع. ﴿ربح﴾ نفع، ګټه،

﴿ولد﴾ مراد ځني د مينځي بچي دی، ﴿الغلّة﴾ د ځمکي غله پيداوار، فصل، محصولات (يعني کوم څه چي له ځمکي څخه حاصليږي لکه غنم، اوربشي، مېوه او داسي نور).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دئ چي مثلاً يو کور څلورو کسانو په څلورېښت لکه رانيوی، چي په هغه کي شل لکه د يوه کس دي، لس لکه د دويم کس دي، پنځه لکه د دريم کس دي او پنځه لکه بيا د څلورم کس دي، اوس مثلاً پنځو لکو والا کس خپله حصه خرڅوي چي د هغه تر شا دري کسان شفيع ګڼل (د شفعي مستحقين) دي، نو په داسي صورت کي زموږ د احنافو مسلک دا دی چي ټولو شفيع ګانو ته برابر حق شفعه حاصليږي يعني دغه خرڅېدونکې حصه به ټوله برابر، برابر اخلي، او د هر کس د حصې (سهم) مقدار ته به نه کتل کيږي، يعني داسي به نه کيږي چي شل لکو والا ته به نيمه حصه ورکول کيږي او لس لکو والا ته څلورمه حصه او پنځو لکو والا ته به د څلورمي نيمی (اتمه حصه) ورکول کيږي (بلکي که شفيع ګان مثلاً دري کسان وه لکه دلته، نو مشفوعه حصه [ځمکه] به دري حصې کول کيږي او هر يوه ته به يوه حصه [دريمه حصه] ورکول کيږي).

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د حصو د مقدار په اعتبار سره حقِ شفعه حاصليږي، يعني د هر کس چي څومره حصه او څومر ملکيت دی، د هغه په اعتبار سره هغه ته د حصه اخيستلو حق سته، مثلاً په پورتني مثال کي شل لکو والا ته به (د خرڅېدونکي [مشفوعه] ځمکي) نيمه حصه ورکول کيږي، ځکه چي په څلوېښت زرو کي نيمی د هغه دئ، او د کوم کس چي لس زره دي، هغه ته به (د خرڅېدونکي ځمکي) څلورمه حصه ورکول کيږي، او د کوم يوه چي پنځه زره دي، هغه ته به اتمه حصه ورکول کيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي شفعه د ملکيت له منافعو څخه ده، يعني شفيع ته د همدې خپل ملکيت په وجه حقِ شفعه حاصليږي چي هغه په ځمکه کي ملکيت لري او چي هغه په حقِ شفعه سره له خپل ملکيت څخه پوره نفع ترلاسه کړي، ګواکي د شفعي مقصد د ملکيت د منفعت تکميل دی، لنډه دا چي کله شفعه د ملکيت له منافعو څخه ده، او ښکاره خبره ده چي د يو ملکيت منافع د حصو په اندازه تقسيميږي، نو موجوده شفيع ګانو ته به هم د خپلو حصو په اندازه حقِ شفعه حاصليږي.

فأشبه الربح والغلة والولد والثمرة إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله د خپل مسلک په تائيد کي څلور مثالونه پېشوي:

① ... ربح: رانيول سوی شی چي خرڅ کړی سي او پر هغه ګټه ترلاسه کړی سي، له ربح څخه همدا ګټه (نفع) مراد ده، مثلاً زيد، عمر او خالد يوه غوا په پنځه دېرش زره (٣٥٠٠٠) رانيوله، چي په هغه کي شل زره د زيد دي، لس زره د عمر دي او پنځه زره د خالد دي، بيا يې دا غوا په اته دېرش نيم

زره (۳۸۵۰۰) خرڅه کړه. يعني درې نيم زره يې ګټه پر وکړه. نو له دغه ګټې (نفعې) څخه به دوه زره زيد ته ورکول کيږي؛ ځکه د هغه حصه شل زره وه، او عمر ته به زر ورکول کيږي؛ ځکه د هغه حصه لس زره وه، او پنځه سوه به خالد ته ورکول کيږي؛ ځکه د هغه حصه پنځه زره وه. لهذا څرنګه چې په ګټه او نفع کې د حصو اعتبار کيږي، نو همداسې به په حقِ شفعه کې هم د حصو اعتبار کيږي چې د هر يوه څومره حصه وي، هغومره حقِ شفعه به ورکول کيږي.

(۲)... غلة: له غله څخه مراد د ځمکې پيداوار دی، مثلاً زيد، عمر او خالد په ۳۵ زره يو ځمکه رانيوله، بيا هغه ځمکې ۳۵ منه غنم وکړه، نو زيد ته به شل منه ورکول کيږي، عمر ته لس منه او خالد ته به پنځه منه ورکول کيږي؛ ځکه چې دوی په همدې حساب سره په ځمکه کې حصه لري.

(۳)... الولد: له ولد څخه مراد د مينځې بچی دی، مثلاً زيد، عمر او خالد په ۳۵ زره يوه مينځه رانيوله، بيا له هغې څخه يو هلک پيدا سو چې وروسته دا هلک په ۳۵ زره خرڅ سو، نو زيد ته شل زره، عمر ته لس زره او خالد ته پنځه زره حاصليږي؛ ځکه دوی په همدې حساب سره په مينځه کې حصه داره دي.

(۴)... الثمرة: مراد ځنې د باغ مېوه ده، مثلاً زيد، عمر او خالد په ۳۵ زره يو باغ رانيوی، بيا هغه باغ مېوه وکړه او په ۳۵ زره خرڅه سوه، نو زيد ته شل زره، عمر ته لس زره او خالد ته پنځه زره حاصليږي؛ ځکه دوی په همدې حساب سره په ځمکه کې حصه داره وه.

په دغه څلور سره مثالو کې هر کس ته د خپل ملکيت منافع (ګټه) د خپل حصې په اندازه حاصليږي، او حقِ شفعه هم د ملکيت منافع دي، نو ځکه حقِ شفعه به هم هر يوه ته د خپل حصې په مقدار سره حاصليږي.

په پورتنی مسئله کې زموږ (د احنافو) دليل

وَلَنَا: أَنَّهُمْ اِسْتَوَوْا فِي سَبَبِ الْاِسْتِحْقَاقِ او زموږ دليل دا دی چې دا ټوله شفيع ګان [د شفعې] د مستحق کېدلو په سبب کې سره برابر دي وَهُوَ الْاِتِّصَالُ او هغه [د شفعې سبب] اتصال دی [يعني د مشفوعه جايداد (کور يا ځمکې) سره د شفيع ملکيت متصل کېدل] فَيَسْتَوُوْنَ فِي الْاِسْتِحْقَاقِ نو ځکه په استحقاق [حقِ شفعه اخيستلو] کې به هم سره برابر وي أَلَا يَرَىٰ أَنَّهُ لَوِ انْفَرَدَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ آيا دې ته نه ګوري چې که له شفيع ګانو څخه يو شفيع يوازې سي [يعني يوازې يو شفيع پاته سي] اِسْتَحَقَّ كُلَّ الشُّفْعَةِ نو هغه د ټولې شفعې مستحق کيږي وَهٰذَا آيَةُ كَمَالِ السَّبَبِ او دا د سبب د کامل والي علامت دی وَكَثْرَةُ

الاِتِّصَالِ تُؤْذِنُ بِكَثْرَةِ الْعِلَّةِ او د اتصال زياتوالى [زياتېدل] د علت د زياتوالي خبر وركوي وَالتَّرْجِيحُ بِقُوَّةِ الدَّلِيلِ لَا بِكَثْرَتِهِ [لېكن] ترجيح د دليل په قوي كېدلو سره وي، نه د هغه په زياتوالي سره وَلَا قُوَّةَ هٰهُنَا او دلته قوت سته نه لِظُهُورِ الْأُخْرَى بِمُقَابَلَتِهِ ځكه چې د هغه په مقابله كې بل قوت ښكاره دى وَتَمَلُّكُ مِلْكِ غَيْرِهِ لَا يُجْعَلُ ثَمَرَةً مِنْ ثَمَرَاتِ مِلْكِهِ او د بل چا د ملكيت مالک كېدل د خپل ملكيت له ثمراتو [نتائجو] څخه نه سي ګرځول كېداى [په بله وينا: د بل چا د ملكيت مالک جوړېدل د خپل ملكيت ثمره او نتيجه نه سي شمېرل كېداى] بِخِلَافِ الثَّمَرَةِ وَأَشْبَاهِهَا په خلاف د مېوې او داسي نورو.

اللغات: ﴿استووا﴾ د استفعال له بابه د جمع مذكر غائب ماضي صيغه ده: برابرېدل. ﴿تُؤْذِن﴾ د افعال د باب مضارع ده. آذَنَ يُؤْذِنُ إِيذَانًا: د دغه باب څو معناوي دي چي له هغوى څخه يوه دا ده: اګاه كول، خبر وركول. ﴿تملك﴾ د تفعّل د باب مصدر دى: مالک كېدل، مالک جوړېدل.

تشريح: په دغه عبارت كي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د احنافو دليل ذكر كړي او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب وركوي، حاصل د عبارت دا دى چي د څو شفيع ګانو د موجود والي په صورت كي چي مونږ دا حكم كړى دى چي دوى ټولو ته برابر، برابر حقِ شفعه حاصلېږي؛ د دې دليل دا دى چي د شفعي سبب اتصال دى (يعني حقِ شفعه هغه چا ته حاصلېږي چي د هغه ملكيت د مشفوعه كور او ځمكي سره په يو توګه متصل وي)، او دلته ټوله شفيع ګان په اتصال كي سره برابر دي (يا په بله وينا دا چي په مبيع كي ټوله سره شريک دي)، نو ځكه دوى به د شفعي په استحقاق كي هم يو د بل سره برابر او مساوي وي؛

په أَلَا يُرَى سره د دې يو دليل پېشوي چي كه له موجوده شفيع ګانو څخه يو يوازي سي يا په بله وينا دا چي له يوه څخه بغير نور (دوه) شفيع ګان له خپل حقِ شفعه اخيستلو څخه انكار وكړي، نو هغه يوازني شفيع ته ټوله شفعه حاصلېږي (يعني د ټوله خرڅېدونكي مشفوعه كور يا ځمكي د اخيستلو حق ورته حاصلېږي). داسي نه ده چي هغه ته فقط د خپلي حصې په اندازه شفعه حاصلېږي، نو دا د دې خبري دليل دى چي په حق شفعه كي د ټولو شفيع ګانو حق سره برابر دى (يا په بله وينا دا چي په انفرادي حالت كي د ټولي شفعي حاصلېدل دا په خپله د سبب د كمال دليل دى. كنې ښكاره خبره ده چي په داسي صورت كي خو منفرد ته صرف د خپلي حصې په اندازه شفعه حاصلېدل پكار دي).

وكثرة الاتصال إلخ: دا د یو اعتراض جواب دی. اعتراض دا دی چي کله د شفعي د استحقاق سبب اتصال دی، نو په اتصال کي خو کمي و زیاتوب وي (یعني د چا اتصال زیات وي او د بل یوه د کم وي)؛ ځکه د زیاتي حصې والا اتصال د کمي حصې والا په مقابله کي زیات وي. نو دا دواړه څنګه سره مساوي کېدلای سي.

د جواب حاصل دا دی چي موږ هم دا خبره در سره منو چي په اتصال کي کمي وزیاتوب (کمي بیشي) راځي، لېکن تاسو دا قاعده په یاد لرئ! چي ترجیح د علتونو په کثرت سره نه حاصلیږي، بلکي ترجیح د علت د قوت پر بنیاد حاصلیږي (په بله وینا دا چي په ترجیح کي د علت مضبوط والي لره اعتبار دی. د علت کثرت لره اعتبار نسته). او دلته د علت قوت نسته که څه هم کثرت یې سته (چي د زیاتي حصې والا علت زیات دي)؛ نو ترجیح به هم نه حاصلیږي، ځکه که چیري زیاتي حصې والا (صاحب کثیر) لره ترجیح حاصله وای، نو د هغه په موجودیت کي به بل یوه ته هیڅ نه حاصلېدای، حال دا چي دلته د هغه په موجودیت کي بل یوه (کمي حصې والا) ته هم حق شفعه حاصلیږي، معلومه سوه چي د علت کثرت د ترجیح وجه نه سي کېدلای. (په بله وینا دا چي د کوم یوه حصه [ځمکه] چي زیاته ده. د هغه علت زیات دی، خو د نورو په مقابله کي د هغه علت قوي او مضبوط نه دی؛ ځکه که هغه قوي وای، نو د زیاتي حصې والا په موجودیت کي به کمي حصې والا ته بالکل حق نه حاصلېدای. حالانکي دلته هغه ته هم حاصلیږي، لهذا کله چي د زیاتي حصې والا علت قوي نه دی. نو ټولو ته به برابر حقِ شفعه حاصلیږي. لاقوة ههنا لظهور الأخرى بمقابلته: صاحب د اثمار الهدایې د دغه عبارت مطلب داسي بیان کړی دی چي څرنګه شریک فی نفس المبیع چي کله موجود وي، نو شریک فی حق المبیع [شریک فی الطریق] لره حق شفعه نه حاصلیږي؛ ځکه په نفسِ مبیع کي د شریک کس علت قوي دی. لېکن دلته داسي نه ده؛ ځکه په مبیع [ځمکه او کور] کي چي د چا حصه زیاته ده. د هغه په موجودیت کي کمي حصې والا ته هم حقِ شفعه حاصلیږي. نو ځکه د زیاتي حصې والا حق د نورو په مقابله کي قوي نه دی).

وتملك مال غيره إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب دی، هغه ویلي وه چي شفعه د ملکیت له منافعو څخه ده او بیا یې څلور مثالونه پېش کړي وه. د جواب حاصل دا دی چي شفعه د ملکیت له منافعو څخه نه سي شمېرل کېدای (د خپل ملکیت منافع نه سي کېدلای)، کنې په هر تملک (مالک کېدلو) کي د خپل ملکیت دخل راتلل پکار دي (یعني که شفعه د ملکیت له منافعو څخه سي او خپل ملکیت لره دخل ورکول سي، نو بیا پکار دا ده چي د هر شي چي انسان مالک سي، نو په هغه شي کي به د دې ملکیت دخل وي. حالانکي داسي نه ده)، مثلاً پلار د خپل ځوی د مینځي مالک وي، لېکن دا ملکیت د هغه د ملکیت ثمره نه ده بلکي دا خو د زوی د ملکیت ثمره ده. لهذا شفعه ته د ملکیت منافع نه سي ویل کېدای.

پاته سوه د مېوې او داسي نورو مسئله، نو مېوه خو له عینِ ملکت څخه پیدا کیږي او هغه د ملکیت ثمره ده. نو ځکه هغه د ملکیت له منافعو څخه شمېرل کیږي. لېکن شفعه د ملکیت له منافعو څخه شمېرل د دې هیڅ وجه زموږ په ذهن کي نه راځي.

په پورتنۍ مسئله کې د یوه شفیع خپل حق ساقطول

وَلَوْ أَسْقَطَ بَعْضُهُمْ حَقَّهُ او که بعضي د دې شفیع ګانو خپل حقِ شفعه ساقط کړي فَهِيَ لِلْبَاقِينَ فِي الْكُلِّ عَلَى عَدَدِهِمْ نو شفعه باقي کسانو لره ده په ټوله مبیع [کور] کې د هغو د شمېر مطابق [یعني په دې صورت کې پاتې شفیع ګانو ته د هغو د عددِ رؤوس مطابق په ټوله مشفوعه کور یا ځمکه کې حقِ شفعه حاصلیږي] لِأَنَّ الِانْتِقَاصَ لِلْمُزَاحَمَةِ مَعَ كَمَالِ السَّبَبِ فِي حَقِّ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ ځکه چې د حصې کمېدل د مزاحمت په وجه وه، د هر شفیع په حق کې د سبب د کامل والي باوجود [په بله وینا: ځکه د ټولو شفیع ګانو حصه چې کمه (لږ) سوې وه، هغه د مزاحم کېدلو په وجه وه، حالانکې د هر یوه په حق کې سبب پوره او کامل موجود دی] وَقَدِ انْقَطَعَتْ او مزاحمت ختم سو.

اللغات: ﴿انتقاص﴾ د افتعال مصدر دی: کمېدل، کموالی، ﴿مزاحمة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: مقابل کېدل، تنګي کول. ﴿لأن الانتقاص للمزاحمة﴾ یعني ټولو شفیع ګانو ته چې کمه حصه (دریمه حصه) رسېدل، هغه د درېیم کس (درېیم شفیع) د مزاحم کېدلو په وجه وه چې دا د درېیم کس د پاته (دوو) کسانو مقابل راتلی، لېکن کله چې هغه خپل حق ساقط کړی او دا مزاحم کېدل ختم سوه، نو اوس به پاته کسانو (شفیع ګانو) ته برابر حق حاصلیږي.

تشریح: دا عبارت د مخکنۍ مسئلې سره تعلق لري چې که له (موجوده دریو) شفیع ګانو څخه یو شفیع خپل حق شفعه پرېږدي او ساقط یې کړي چې زه یې نه غواړم، نو اوس پاته (دوو) شفیع ګانو ته برابر، برابر حقِ شفعه حاصلیږي (او داسې نه ده چې زیاتې حصې والا شریک ته به په مشفوعه کور کې زیاته حصه ورکول کیږي او کمې حصې ولا ته به کمه ورکول کیږي)؛ ځکه چې کامل سبب هر یوه ته حاصل دی، او د حصې کموالی د شریکانو (شفیع ګانو) د کثرت او مزاحمت پر بناء وه (یعني دریو سره شفیع ګانو ته چې کمه [لږ] حصه رسېدل، هغه د درېیم کس د مزاحمت په وجه وه)، لېکن کله چې یوه کس (هغه درېیم کس) خپل حق ساقط کړی او مزاحمت ختم سو، نو ځکه اوس به پاته (دوو) شفیع ګانو ته برابر حق حاصلیږي او هر یوه ته به له مشفوعه کور څخه برابره حصه ورکول کیږي.

که بعضي د شفعې مستحقین (شفیع ګان) غائب وي نو څه حکم دی

وَلَوْ كَانَ الْبَعْضُ غُيَّبًا او که بعضي شفیع ګان غائب وي يُقْضَى بِهَا بَيْنَ الْحُضُورِ عَلَى عَدَدِهِمْ نو د حاضرینو په مینځ کې به د هغو د عدد [شمېر] مطابق د شفعې فیصله کیږي لِأَنَّ الْغَائِبَ لَعَلَّهُ لَا يَطْلُبُ ځکه کېدای سي چې غائب [د شفعې] طلب نه وکړي وَإِنْ قُضِيَ لِحَاضِرٍ بِالْجَمِيعِ او که د یو حاضر

شفيع لپاره د ټولي شفعي فيصله وسي ثُمَّ حَضَرَ آخَرُ بيا بل شفيع حاضر سي يُقْضٰى لَهُ بِالنِّصْفِ نو د هغه لپاره به د نيمي شفعي فيصله کيږي وَلَوْ حَضَرَ ثَالِثٌ او که دريم شفيع حاضر سي فَبِثُلُثِ مَا فِي يَدِ كُلِّ وَاحِدٍ نو د هر يوه په قبضه کي د موجوده حصې د ثلث [دريمي حصې] فيصله به کيږي تَحْقِيقًا لِلتَّسْوِيَةِ د برابرئ ثابتولو لپاره فَلَوْ سَلَّمَ الْحَاضِرُ بَعْدَ مَا قَضٰى لَهُ بِالْجَمِيعِ او که دا حاضر [له شفعي څخه] لاس په سر سي وروسته تر دې چي د هغه په حق کي د ټوله شفعي فيصله وسي [يعني که د حاضر شفيع په حق کي د ټولي شفعي تر فيصله کېدلو وروسته وروسته دا حاضر شفيع لاس په سر سي او خپل حق شفعه پرېږدي] لَا يَأْخُذُ الْقَادِمُ إِلَّا النِّصْفَ نو راتلونکي شفيع به صرف نصف اخلي [يعني راتلونکي غائب شفيع ته صرف نيمه حصه حاصليږي] لِأَنَّ قَضَاءَ الْقَاضِي بِالْكُلِّ لِلْحَاضِرِ يَقْطَعُ حَقَّ الْغَائِبِ عَنِ النِّصْفِ ځکه چي د حاضر په حق کي د قاضي د ټولي شفعي فيصله د غائب حق له نصف څخه قطع کوي [يعني قاضي چي د حاضر لپاره د ټولي شفعي فيصله کړې وه، هغه فيصلې د غائب نيمه حصه ختمه کړه] بِخِلَافِ مَا قَبْلَ الْقَضَاءِ په خلاف د قاضي له فيصلې څخه د مخکي والا صورت.

اللغات: ﴿غُيَّب﴾ جمع د غَائِبٌ ده: غائب، نا حاضر، ﴿يقضى﴾ د ضرب د باب مضارع مجهوله ده: فيصله کول، حکم کول، ﴿تسوية﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: برابرول، ﴿قادم﴾ د سمع د باب فاعل دى: راتلونکى.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى چي په يو کور يا په يو بل جايداد کي مثلاً درې کسان شفيع ګاڼ وه او له دوى څخه يو غائب وو، نو کوم دوه چي حاضر دي، هغو ته به د خپل تعداد (شمېر) مطابق برابر، برابر حق شفعه ورکول کيږي (په بله وينا دا چي دواړو حاضرينو لپاره به د ټولي شفعي فيصله کيږي)، او غائب کس (شفيع) ته به انتظار نه کيږي؛ ځکه کېداى سي چي غائب کس شفعه طلب نه کړي او خپله حصه نه واخلي، يعني د هغه په اخيستلو او نه اخيستلو کي شک سته او حاضرين فى الحاله د اخيستلو مطالبه کوي. لهذا د شک پر بنياد به دوى له خپل حصې څخه نه منع کول کيږي، بلکي د دوى په حق کي به فيصله کيږي. ځکه قاعده دا ده چي "اليقين لا يزول بالشك".

وإن قضى لحاضر بالجميع: د دې حاصل دا دى چي مثلاً درې کسان شفيع ګاڼ وه، خو له هغو څخه يو شفيع حاضر وو. بيا قاضي د هغه لپاره د ټولي شفعي (يعني د ټوله مشفوعه ځمکي يا کور) فيصله وکړه چي دا ټوله ستا ده، تر دې وروسته دويم شفيع راغلی او هغه هم مطالبه وکړه. نو اوس به قاضي د هغه

لپاره د نیمي حصې فیصله کوي یعني له اول شفیع څخه به نیمه (مشفوعه ځمکه) اخلي او دغه دویم شفیع ته به یې ورکوي چي په دې توګه به دواړو ته نیمه، نیمه حصه ورسیږي، لیکن بیا که دریم شفیع هم راغلی او هغه هم د خپل حق شفعه مطالبه وکړه، نو قاضي به له اولو دوو شفیع ګانو څخه یو، یو ثلث (دریمه حصه) واخلي او دغه دریم شفیع ته به د ټولي شفعي (مشفوعه ځمکي) یو ثلث ورکړي چي په دې توګه به هر شفیع ته یو، یو ثلث (دریمه حصه) ورسیږي؛ دا د دې لپاره چي هر یوه ته برابره حصه حاصله سي (ځکه چي دا ځمکه د دوی په مینځ کي په همدې توګه د دوی د عدد رؤس مطابق ده. نو د پورتنۍ طریقې مطابق په ورکولو سره به په عدد رؤس او حق شفعه کي برابري ثابته سي).

فلوسلم إلخ: په دې سره دا رابنیي چي مثلاً شفیع دوه کسان وه، خو یو حاضر وو، او قاضي د هغه لپاره د ټولي شفعي (مشفوعه ځمکي) فیصله وکړه، بیا دغه حاضر شفیع خپل شفعه پرېښووله چي زه یې نه غواړم، تر دې وروسته غائب شفیع راغلی، نو اوس که څه هم ټوله شفعه (پوره مشفوعه ځمکه) پاته ده، خو هغه ته نصف (نیمه حصه) حاصلیږي؛ ځکه کله چي قاضي د حاضر شفیع لپاره د ټولي حصې فیصله وکړه، نو په دغه فیصلې سره په نصف کي د غائب حق په یقیني توګه ختم سو، لهذا ګواکي د هغه لپاره صرف نصف (نیمه حصه) پاته سوه، نو ځکه هغه ته صرف نصف حاصلیږي، ها! که چیري قاضي د حاضر شفیع لپاره فیصله نه وای کړې، نو اوس به غائب شفیع ته ټوله حاصلېدای: (په مشکله وینا پورتنۍ خبره داسي هم کولای سی چي د قاضي په فیصله سره په نصف کي د غائب حق په یقیني توګه ختم سو؛ ځکه چي په دې نصف کي هغه مقضی علیه دی. اوس که هغه ته ټوله شفعه ورکول سي، نو په کوم نصف کي چي هغه مقضی علیه دی، په هغه نصف کي به مقضی لهٔ هم وګرځي، حال دا چي یو کس په یوه مسئله کي مقضی علیه او مقضی لهٔ دواړه نه سي کېدای. خو څرنګه چي ما قبل القضاء [یعني د قاضي تر فیصله کولو مخکي] هغه مقضی علیه نه دی، لهذا په دې صورت کي به هغه په ټوله شفعه کي مقضی لهٔ وي، نو ټوله شفعه [یعني ټوله مشفوعه ځمکه] به هغه ته حاصلیږي).

د شفعي حق کله او څنګه ثابتیږي؟

قَالَ: وَالشُّفْعَةُ تَجِبُ بِعَقْدِ الْبَيْعِ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمایي: او شفعه په عقد بیع سره ثابتیږي دَمَعْنَاهُ بَعْدَهُ او د دې معنیٰ دا ده چي تر بیع وروسته [ثابتیږي] لَا أَنَّهُ هُوَ السَّبَبُ داسي نه ده چي بیع د شفعي سبب ده لِأَنَّ سَبَبَهَا الِاتِّصَالُ ځکه چي د شفعي سبب خو اتصال دی عَلَىٰ مَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکي] چي مونږ ذکر کړه وَالْوَجْهُ فِيهِ أَنَّ الشُّفْعَةَ إِنَّمَا تَجِبُ إِذَا رَغِبَ الْبَائِعُ عَنْ مِلْكِ الدَّارِ او وجه په دې [وجوب الشفعة بعد البيع] کي دا ده چي شفعه هغه وخت واجبیږي کله چي بائع د کور له ملکیت

څخه اعراض [او بې رغبتي] وکړي وَالْبَيْعُ يُعَرِّفُهَا او بيع د دې اعراض خبر ورکوي وَلِهٰذَا يُكْتَفٰى بِثُبُوتِ الْبَيْعِ فِيْ حَقِّهِ په همدې وجه د بائع په حق کي د بيع په ثبوت اكتفاء كيږي [په بله وينا: همدا وجه ده چي د بائع په حق کي د بيع ثابتېدل بس همدومره د شفعي لپاره کافي دي] حَتّٰى يَأْخُذَهَا الشَّفِيْعُ إِذَا أَقَرَّ الْبَائِعُ بِالْبَيْعِ تر دې چي شفيع به کور اخلي که چيري بائع [فقط] د بيع اقرار وکړي وَإِنْ كَانَ الْمُشْتَرِيْ يُكَذِّبُهٗ که څه هم مشتري [رانيونکی] د هغه تکذيب کوي.

اللغات: ﴿رغب﴾ د سمع د باب ماضي ده، د دغه لفظ په صله کي چي عَنْ راسي نو معنیٰ يې ده: اعراض کول، بې رغبتي او بې توجهي کول، پرېښوول. ﴿يُعرّف﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: وريپژندل، په خبرول، ښوول. ﴿يكذّب﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: تکذيب کول، درواغجن ګڼل (درواغجن ګرځول).

تشريح: د دې عبارت حاصل دا دی چي د شفعي سبب د ملکيت اتصال دی (يعني د مشفوعه کور او ځمکي سره د شفيع د ملکيت متصل کېدل، لکه مخکي چي هم ذکر سوه) او د شفعي شرط عقد بيع ده، فرمايي چي شفعه په عقد بيع يعني د کور او جايداد په خرڅېدلو سره ثابتيږي (يعني کله چي بائع خپل کور يا ځمکه خرڅوي او له خپل ملکيت يې څخه باسي، نو په دې وخت کي هغه ته حق شفعه حاصليږي چي د خپل حقِ شفعه په ذريعه دا کور او ځمکه رانيسي).

معناه بعده: د متن له عبارت "بعقد البيع" څخه دا وهم کېدی چي عقد بيع د شفعي سبب دی، نو ځکه دا وهم ليري کوي چي بيع (خرڅلاو) د شفعي د ثبوت سبب نه دی، ځکه چي شفعه تر بيع وروسته ثابتيږي، نو بيع د شفعي د ثبوت لپاره د شرط درجه لري چي شفعه هله ثابتيږي کله چي بيع کيږي؛ او د دې وجه دا ده چي شفعه اصلاً هغه وخت واجبيږي، څه وخت چي مالک له خپل ځمکي او جايداد څخه اعراض او بې رغبتي ښکاره کړي (او د خرڅولو اراده يې وکړي)، او دا يو پټ امر دی، نو فقهاؤ د دغه پټ کار د معلومولو لپاره إقدام على البيع دليل ګرځولی دی، لهذا کله چي هم إقدام على البيع وسي، نو په دې سره سمدستي د مالک اعراض او بې رغبتي ثابتيږي چي د هغه تر څنګ شفعه ثابتيږي.

او څرنګه چي إقدام على البيع د اعراض دليل دی چي په هغه سره د مالک اعراض او بې رغبتي پېژندل کيږي، نو ځکه که مالک (بائع) صرف د بيع اقرار وکړي او مشتري د هغه تکذيب وکړي (چي بيع نه ده سوې)، نو هم د شفيع لپاره حقِ شفعه ثابتيږي چي مشفوعه ځمکه او مشفوعه کور واخلي؛

ځکه کله چې اقدام علی البيع د مالک د اعراض دی. نو اقرار بالبيع خو به په درجه اولیٰ د مالک پر اعراض دليل وي او په هغه سره به هم د شفيع لپاره حق شفعه ثابتيږي.

د حق شفعه د ثابتولو طريقه (د طلب إشهاد او طلب مواثبه حيثيت)

قَالَ: وَتَسْتَقِرُّ بِالْإِشْهَادِ فرمايي: او شفعه په ګواه درولو [ګواه پېښولو] سره مضبوطيږي وَلَابُدَّ مِنْ طَلَبِ الْمُوَاثَبَةِ او فوراً طلب کول ضروري دي لِأَنَّهُ حَقٌّ ضَعِيفٌ يَبْطُلُ بِالْإِعْرَاضِ ځکه چې شفعه کمزوری حق دی کوم چې په اعراض سره باطليږي فَلَابُدَّ مِنَ الْإِشْهَادِ وَالطَّلَبِ لِيُعْلَمَ بِذٰلِكَ رَغْبَتُهُ فِيهِ، دُونَ إِعْرَاضِهِ عَنْهُ نو ځکه ګواه درول او طلب کول ضروري دي چې په دې سره په شفعه کې د شفيع رغبت معلوم سي. او دا چې هغه له دې څخه اعراض نه کوي [يعني چې دا معلومه سي چې شفيع د خپل حق شفعه اخيستلو ته راغب دی. اعراض نه کوي] وَلِأَنَّهُ يَحْتَاجُ إِلَى إِثْبَاتِ طَلَبِهِ عِنْدَ الْقَاضِيْ او ځکه چې شفيع د قاضي مخته د خپل طلب و ثابتولو ته محتاج دی وَلَا يُمْكِنُهُ إِلَّا بِالْإِشْهَادِ او دا [خپل طلب ثابتول] له ګواه درولو څخه بغير ممکن نه دي.

اللغات: ﴿تستقرّ﴾ د استفعال مضارع ده: پخېدل، مضبوطېدل. ﴿إشهاد﴾ د افعال د باب مصدر دی: ګواه درول، ګواه جوړول، ګواه پېښول. ﴿مواثبة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، وَاثَبَ يُوَاثِبُ مُوَاثَبَةً: د دغه باب دوې معناوي دي: ① وړاندې ټوب کول، تېزي او تلوار کول. مراد: سمدستي د شفعي طلب او دعویٰ کول. ② يو پر بل را غورځېدل. دلته اوله معنیٰ مراد ده. ﴿إعراض﴾ د افعال د باب مصدر دی: مخ اړول، توجه نه کول. مراد: د شفعي طلب نه کول او خپل حق شفعه نه قبلول.

تشريح: کله چې بيع ثابته سي چې مالک خپل کور او ځای خرڅ کړي، نو پر شفيع دا ضروري ده چې سمدستي د خپل حق شفعه طلب وکړي (چې دا کور زه رانيسم) او پر هغه ګواه ودروي (د دې لپاره چې ګواه د قاضي مخته دا ګواهي پېښ کړي سي چې شفيع کله په بيع خبر سو. نو سمدستي يې زه پر خپل طلب شفعه او د کور پر اخيستلو ګواه قائم کړم او داسي نور). "إشهاد" يعني ګواه درول ځکه ضروري دي چې په دې سره حق شفعه پوره کيږي او مضبوطيږي. او "طلبِ مواثبه" يعني سمدستي طلب کول ځکه ضروري دي چې حق شفعه نهايت کمزوری حق دی کوم چې په معمولي اعراض سره باطليږي. لهذا شفيع ته پکار دي چې کله هم د کور په بيع (خرڅېدلو) خبر سي نو سمدستي دي خپل حق طلب کړي او پر هغه دي ګواه ودروي. د دې لپاره چې معلومه سي چې دا شفيع د مشفوعه کور رانيولو او اخيستلو ته پوره آماده دی او د خپل حق په ساقطولو بالکل راضي نه دی.

ولأنه یحتاج إلخ: په دې سره د إشهاد (گواه درولو) دویم دلیل پېشوي، فرمایي چې شفیع دې ته مجبوره دی چې د قاضي مخته دا ثابته کړي چې ما د حقِ شفعه طلب کړی دی، او دا خپل طلب ثابتول له إشهاد (گواه درولو) څخه بغیر ممکن نه دي، نو ځکه د طلبِ مواثبه سره إشهاد هم ضروري دی، چې په یقیني توگه د هغه حق ثابت سي.

شفیع کله د مشفوعه کور او جایداد مالک کیږي؟ (د شفعي د بشپړتیا آخري مرحله)

قَالَ: وَتُمْلَكُ بِالْأَخْذِ إِذَا سَلَّمَهَا الْمُشْتَرِيْ أَوْحَكَمَ بِهَا الْحَاكِمُ فرمایي: او کور په اخیستلو سره [د شفیع] په ملکیت کي راځي کله چې مشتري هغه ورسپارلی وي یا حاکم [قاضي] د هغه حکم کړی وي [په بله وینا: کله چې مشتري شفیع ته مشفوعه کور وسپاري یا قاضي د دې فیصله وکړي. نو په دې وخت کي هغه په اخیستلو [یعني په قبضه کولو] سره د شفیع په ملکیت راځي] لِأَنَّ الْمِلْكَ لِلْمُشْتَرِيْ قَدْ تَمَّ ځکه چې د مشتري ملکیت پوره سوی دی فَلَا يَنْتَقِلُ إِلَى الشَّفِيْعِ إِلَّا بِالتَّرَاضِيْ أَوْ قَضَاءِ الْقَاضِيْ لهذا [اوس] هغه د شفیع وطرف ته نه منتقل کیږي مگر [د مشتري] په رضاء سره یا د قاضي په فیصله سره كَمَا فِي الرُّجُوْعِ فِي الْهِبَةِ لکه په هبه کي د رجوع کولو په صورت کي [یعني لکه د هبه کړی سوي شي د واپس اخیستلو په صورت کي چې همدا حکم دی] وَتَظْهَرُ فَائِدَةُ هٰذَا فِيْمَا إِذَا مَاتَ الشَّفِيْعُ بَعْدَ الطَّلَبَيْنِ او د دې فایده په هغه صورت کي ښکاره کیږي ① له چې شفیع له دواړو طلبونو [طلب اشهاد او مواثبه] څخه وروسته مړ سي أَوْبَاعَ دَارَهُ الْمُسْتَحَقَّ بِهَا الشُّفْعَةَ ٬یا شفیع خپل هغه کور خرڅ کړي چې د هغه په ذریعه د شفعي مستحق سوی وي أَوْ بِيْعَتْ دَارٌ بِجَنْبِ الدَّارِ الْمَشْفُوْعَةِ قَبْلَ حُكْمِ الْحَاكِمِ أَوْ تَسْلِيْمِ الْمُخَاصِمِ ③ یا د مشفوعه کور [یعني کوم کور چې شفیع په شفعه اخلي د هغه] تر څنگ یو کور خرڅ سي د حاکم [قاضي] له حکم او د مشتري له ورسپارلو څخه مخکي لَا تُوْرَثُ عَنْهُ فِي الصُّوْرَةِ الْأُوْلٰى نو په اول صورت کي د شفیع له طرفه کور [د شفیع وارثانو ته] په میراث کي نه حاصلیږي٬ وَتَبْطُلُ شُفْعَتُهُ فِي الثَّانِيَةِ او په دویم صورت کي د شفیع شفعه باطلیږي [یعني حقِ شفعه یې ختمیږي] وَلَا يَسْتَحِقُّهَا فِي الثَّالِثَةِ لِانْعِدَامِ الْمِلْكِ لَهٗ او په دریم صورت کي د شفیع د ملکیت د نشتوالي په وجه هغه د کور نه مستحق کیږي.

ثُمَّ قَوْلُهٗ: تَجِبُ بِعَقْدِ الْبَيْعِ بَيَانُ أَنَّهٗ لَا يَجِبُ إِلَّا عِنْدَ مُعَاوَضَةِ الْمَالِ بِالْمَالِ بیا د امام قدوري رَحِمَهُ

الله دا قول "تجب بعقد البيع" د دې خبري بيان دی چي شفعه نه ثابتيږي مګر د مال سره د مال د معاوضې په وخت کي [يعني د دې خبري بيان دی چي شفعه هغه وخت واجبيږي کله چي جايداد (کور او ځمکه) د مال په عوض کي خرڅ سي] عَلَىٰ مَا نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ لکه څرنګه چي موږ به [آينده] انشاء الله د دې بيان وکړو. والله سبحانه أعلم بالصّواب

اللغات: ﴿تُملك﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع مجهولي صيغه ده، ضمير د هِيَ پکښي مقدر دی چي مشفوعه کور ته راجع دی، مملوک کېدل، په ملکيت کي راتلل. ﴿سلّم﴾ د تفعيل ماضي ده: ورسپارل. ﴿تراضي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو له بل څخه راضي کېدل (خپل مينځوی رضامندي). ﴿جنب﴾ څنګ، بغل. ﴿مخاصم﴾ د مفاعلې د باب فاعل دی: خصومت او دعوىٰ کونکی، فريقِ مخالف. دلته مشتري ځني مراد دی. ﴿انعدام﴾ د انفعال د باب مصدر دی: نشتوالی (نه کېدل)، نه موجودېدل.

تشريح: په دې عبارت کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د شفعي د پوره کېدلو آخري حکم ذکر کړی دی، حاصل يې دا دی چي له طلب مواثبه او إشهاد (ګواه درولو) څخه وروسته هم شفيع تر هغه وخته د مشفوعه کور (او مشفوعه ځمکي) نه مالک کيږي، ① تر څو چي مشتري هغه کور ده ته حواله نه کړي، ② يا قاضي د ده لپاره د هغه فيصله نه وکړي، يعني د مشتري تر ورسپارلو يا د قاضي تر قضاوت وروسته شفيع د مشفوعه کور مالک کيږي؛ د دې وجه دا ده چي اوس مالک (بائع) پر مشتري دا کور خرڅ کړی دی او په کور کي د مشتري ملکيت راغلی او پوره سوی دی. او حق شفعه د مشتري له رضاء څخه بغير شفيع ته حاصليږي (لکه مخکي چي ذکر سوه. ځکه د مشتري دا نه ده خوښه چي بل څوک [شفيع] دا رانيول سوی کور ځني واخلي)، نو ځکه د مشتري ورسپارل ضروري دي، د دې لپاره چي هغه ملکيت د شفيع وطرف ته واپس او منتقل سي، او دا داسي ده لکه خالد چي مثلاً و زيد ته يو شی هبه کړي بيا واهب (يعني خالد) له موهوب لهٗ (يعني له زيد) څخه هغه شی واپس واخلي، نو څرنګه چي دلته په هغه شي کي د موهوب لهٗ (زيد) ملکيت راغلی دی، لهذا اوس دا ملکيت د واهب (خالد) وطرف په دوو شکلونو سره منتقل کېدای سي، يو دا چي موهوب لهٗ په خپل رضاء او خوښی سره هغه شی واهب ته وسپاري، دويم دا چي يا قاضي د رجوع او واپس کولو فيصله وکړي.

وتظهر إلخ: څه مخکي دا خبره ده چي ذکر سوه چي د شفيع وطرف ته د ملکيت منتقل کېدلو لپاره د مشتري ورسپارل يا د قاضي فيصله (قضاوت) ضروري دی، اوس فرمايي چي د دې فايده په لاندينی دريو صورتونو کي ښکاره کيږي.

(۱)... که شفیع طلبِ مواثبه او طلبِ اشهاد دواړه وکړه، خو تر اوسه مشتري هغه ته دا مشفوعه کور سپارلی نه وو، یا تر اوسه قاضي د هغه په حق کي د دغه کور فیصله کړې نه وه، نو څرنګه چي شفیع تر اوسه د دې کور مالک سوی نه دی. لهذا اوس که په دې دوران کي هغه مړ سي، نو د هغه وارثان د دې کور نه وارث کیږي (یعنيٰ په میراث کي نه ورته حاصلیږي. که څه هم هغه مواثبه او اشهاد دواړه طلبونه کړي دي)؛ ځکه چي د ملکیت د نشتوالي (نه مالک کېدلو) په وجه دا کور د شفیع په میراث کي داخل نه دی او وراثت صرف د مړي په میراث کي جاري کیږي.

(۲)... دویم صورت دا دی چي د کوم کور په ذریعه چي شفیع ته حق شفعه حاصلیږي، شفیع را اولاړ سو هغه کور یې خرڅ کړی (یعني تر طلبِ اشهاد او مواثبه وروسته او د مشتري تر ورسپارلو او د قاضي تر فیصلې مخکي یې خرڅ کړی)، نو په دې صورت کي شفیع ته حقِ شفعه نه حاصلیږي؛ ځکه د شفعي سبب خو اتصال الملک (د ملکیت اتصال) دی، او د خرڅولو په وجه د شفیع ملکیت ختم سو، لهذا کله چي د هغه ملکیت پاته نه سو. نو اتصال به له کومه وي. نو ځکه په دې صورت کي د شفعي د سبب زائلېدلو په وجه د هغه حقِ شفعه ختمیږي.

(۳)... د درېیم صورت حاصل دا دی چي شفیع د مشفوعه کور لپاره طلب اشهاد او طلب مواثبه دواړه وکړه. لېکن تر اوسه مشتري شفیع ته نه کور سپارلی دی او نه د شفیع په حق کي د قاضي فیصله سوې ده (ګواکي تر اوسه شفیع د مشفوعه کور مالک نه دی). اوس که په دې دوران کي د دغه مشفوعه کور تر څنګ یو بل کور خرڅیږي. نو شفیع هغه خرڅېدونکي کور د حقِ شفعه په توګه نه سي رانیولای: ځکه د شفعي سبب خو اتصال الملک دی. حال دا چي تر اوسه شفیع د اول کور مالک نه دی. نو په دویم کي به له کومه اتصال ثابت سي. لهذا د ملکیت د نشتوالي په وجه هغه دا دویم کور نه سي اخیستلای.

ثم قوله إلخ: دوه عبارته مخکي په متن کي دا جمله تېره سوه چي "تجب بعقد البيع" (یعني شفعه هغه وخت واجبیږي کله چي کور [یا بل جایداد] خرڅ کړی سي). اوس صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي: د دې مطلب دا دی چي مبادلة المال بالمال ثابت سي یعني کله چي هم د مال په عوض کي کور او جایداد خرڅ کړی سي. نو حقِ شفعه واجبیږي. لېکن کله چي مبادلة المال بالمال ثابت نه سي بلکي د هبې، وصیت، میراث او داسي نورو په ذریعه جایداد ورکول سي، نو بیا حقِ شفعه نه واجبیږي. د دې نورو تفصیل به انشاء الله وروسته بیان سي.



بَابُ طَلَبِ الشُّفْعَةِ وَالْخُصُومَةِ فِيهَا

(دا) باب د شفعي د طلب کولو او د شفعي په هکله د خصومت (او دعوې) کولو (په بيان کې) دى

د شفعې د طلب کولو طريقه او تفصيل

قَالَ: وَإِذَا عَلِمَ الشَّفِيعُ بِالْبَيْعِ فرمايي: او کله چې شفيع په بيع [يعني د مشفوعه ځاى په خرڅېدلو] خبر سي أَشْهَدَ فِي مَجْلِسِهِ ذٰلِكَ عَلَى الْمُطَالَبَةِ نو په خپل هغه مجلس کې دې پر [خپله] مطالبه ګواه ودروي اِعْلَمْ أَنَّ الطَّلَبَ عَلٰى ثَلَاثَةِ أَوْجُهٍ پوه سه! چې طلب پر درې (۳) قسمه دى طَلَبُ الْمُوَاثَبَةِ، وَهُوَ أَنْ يَطْلُبَهَا كَمَا عَلِمَ ① [يو] طلب مواثبه دى، او هغه دا دى چې شفيع د شفعې طلب وکړي څرنګه چې هغه خبر سي [يعني کله چې هم هغه د مشفوعه جايداد په خرڅېدلو خبر سي نو سمدستي د خپل شفعې طلب وکړي] حَتّٰى لَوْ بَلَغَ الشَّفِيعَ الْبَيْعَ وَلَمْ يَطْلُبْ شُفْعَتَهُ تر دې که شفيع ته د بيع [خرڅېدلو] خبر ورسيږي او هغه د خپل شفعې طلب نه وکړي بَطَلَتِ الشُّفْعَةُ نو شفعه باطليږي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړى [چې شفعه يو کمزورى حق دى] وَلِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: "الشُّفْعَةُ لِمَنْ وَاثَبَهَا" ❶ او د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه: "شفعه د هغه کس لپاره ده کوم چې شفعې ته ورانديتوب وکړي [يعني کوم چې يې سمدستي طلب کړي] وَلَوْ أُخْبِرَ بِكِتَابٍ وَالشُّفْعَةُ فِي أَوَّلِهِ أَوْ فِي وَسَطِهِ او که چيرې شفيع ته د خط په ذريعه خبر ورکول سي او [ذکر د] شفعه د خط په شروع يا په مينځ کې وي فَقَرَأَ الْكِتَابَ إِلٰى آخِرِهِ بيا شفيع تر آخره پورې [ټوله] خط ووايي بَطَلَتْ

---

❶ تخريج: صاحب د اثمار الهدايه غفرالله له ويلي دي؛ چې دا د تابعي قول دى کوم چې په مصنف عبد الرزاق کې په دې الفاظو سره ذکر سوى دى: عن شريح، قال: إنما الشفعة لمن واثبها (مصنف عبد الرزاق. باب الشفيع يأذن قبل البيع وكم وقتها، ج:۸، ص: ۶۶، رقم: ۱۴۲۸۴)؛ له دې قول تابعي څخه معلومه سوه چې که سمدلاسه او بې له ځنډه د حق شفعه دعوى وکړي نو هغه ته دا حق شفعه حاصليږي او که اعراض وکړي نو دا حق ساقطيږي.

شُفْعَتُهُ نو شفعه يې باطليږي [يعني حق شفعه يې ختميږي] وَعَلَى هٰذَا عَامَّةُ الْمَشَايِخِ او پر همدې عام مشايخ دي [يعني دا دزياتره مشايخو مذهب دی] وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ مُحَمَّدٍ او دا له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت هم دی وَعَنْهُ أَنَّ لَهُ مَجْلِسَ الْعِلْمِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دويم روايت دا دی چې د شفيع لپاره د خبرېدلو مجلس دی [يعني په کوم مجلس کې چې په بيع خبر سي، په هغه ټوله مجلس کې ده ته د طلب شفعه اختيار سته] وَالرِّوَايَتَانِ فِي النَّوَادِرِ او دا دواړه روايتونه په نوادر کې دي وَبِالثَّانِيَةِ أَخَذَ الْكَرْخِيُّ او دويم روايت امام کرخي رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی لِأَنَّهُ لَمَّا ثَبَتَ لَهُ خِيَارُ التَّمَلُّكِ ځکه کله چې د شفيع لپاره د مالک جوړېدلو اختيار ثابت دی [يعني کله چې هغه ته د خپل حق شفعه په وجه د ځای رانيولو اختيار ورکول سوی دی] لَا بُدَّ لَهُ مِنْ زَمَانِ التَّأَمُّلِ نو د هغه لپاره د غور او فکر وخت [ورکول] هم ضروري دي كَمَا فِي الْمُخَيَّرَةِ لکه په مخيّره ښځه کې.

اللغات: ﴿أشهد﴾ د افعال د باب ماضي ده: ګواه درول، ګواه جوړول. ﴿وَاثَبَ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده، وَاثَبَ يُوَاثِبُ مُوَاثَبَةً: وړاندېټوب کول، تېزي او تلوار کول. ﴿التأمّل﴾ د تفعّل د باب اسم مصدر دی: غور و فکر. ﴿مخيّرة﴾ د تفعّل د باب مؤنث اسم مفعول دی: اختيار والا ښځه، مراد ځني هغه ښځه ده چې خاوند د طلاق ورکولو اختيار ورکړی وي.

تشريح: مخکې تر دې دا خبره بيان سوه چې د شفعي له طلب څخه بغير شفعه (حق شفعه) نه ثابتيږي، په دې باب کې د طلب قسمونه او صورتونه ذکر کوي.

د عبارت حاصل دا دی چې په کوم مجلس کې شفيع په بيع خبر سي چې زما همسايه يا زما شريک خپل ځای (ځمکه يا کور) خرڅ کړی، نو هغه ته پکار دي چې فوراً (سمدستي) د خپل حق شفعه مطالبه دي وکړي او پر هغه دي ګواه ودروي (چې ما د خبرېدلو په وخت کې سمدستي د شفعي مطالبه وکړه). په بله وينا دا چې طلبِ مواثبه او طلبِ اشهاد دي وکړي (خو وروسته به ذکر سي چې په دې وخت کې طلب اشهاد [يعني ګواه درول] ضروري نه دي).

د طلب څو صورتونه دي چې له هغوی څخه تر ټولو مخکې طلبِ مواثبه دی، او د هغه حاصل په خپله صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله بيان کړی دی چې د بيع د خبر رسېدلو په وخت کې سمدستي د خپل حق شفعه طلب کول، دې ته ځکه طلب مواثبه وايي، چې دا طلب د تلوار او فوريت (سمدستي والي) تقاضا کوي. لهذا که شفيع په بيع تر خبرېدلو وروسته سمدستي طلب نه وکړي، نو د هغه حق ساقطيږي؛ ځکه دا خبره مخکې هم ذکر سوه چې شفعه يو کمزوری حق دی کوم چې په معمولي

اعراض سره هم ختميږي. او بل صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په حديث سره هم پر طلب مواثبه دليل نيولى دى چې د شفعې طلب به فوراً كوي. (د علامه عيني رَحِمَهُ الله د تحقيق مطابق دا حديث نه دى، بلكې د حضرت شريح قول دى، خو بيا هم د استدلال لائق دى، د تابعي او صحابي پر قول هم د حديث اطلاق كيږي، لكه څرنګه چې دا د حديث په تعريفونه كې ذكر سوي دي).

ولو اخبر الخ: د دې حاصل دا دى چې كه شفيع كس ته څوک خط وليكي او د خط په شروع يا په مينځ كې د بيع او شفعې يادونه وكړي چې "فلانكي خو خپل ځاى خرڅ كړى چې په هغه كې ته د شفعې حق لرې"، بيا شفيع ټوله خط ووايي او د خط په شروع كې يا مينځ كې چې د بيع او شفعې يادونه سوې ده هغه ته هيڅ توجه نه وكړي او نه د خپل شفعې طلب وكړي، نو د زياتره مشائخو په نيز او د امام محمد رَحِمَهُ الله د أصح روايت مطابق د دغه شفيع شفعه باطليږي او حقِ شفعه يې ختميږي: ځكه چې د خط ويلو په دوران كې د بيع او شفعې د يادوني پر مهال د خپل حقِ شفعه طلب نه كول دا د هغه د اعراض او بې رغبتۍ دليل دى، او د اعراض په صورت كې شفيع ته شفعه نه حاصليږي. لهذا په دې صورت كې به هم نه ورته حاصليږي.

او د امام محمد رَحِمَهُ الله دويم روايت (كوم چې د امام كرخي قول هم دى) دا دى چې په بيع او شفعه تر خبرېدلو وروسته به شفيع ته د خبرېدلو تر مجلسه پورې د طلب اختيار وركول كيږي (يعني په كوم مجلس كې چې يې خط ويلى دى او په شفعې خبر سوى دى، كه د هغه مجلس تر ختمېدلو پورې طلب وكړي، نو حقِ شفعه ورته حاصليږي او باطليږي نه، كنې باطليږي)؛ د دې روايت دليل دا دى چې كله شفيع ته د مالک جوړېدلو بشپړ اختيار وركول سوى دى (چې په خپل حقِ شفعه سره مشفوعه ځاى رانيسي او مالک بې سي)، نو ضروري ده چې هغه ته د تأمل او فكر كولو موقع هم وركول سي (چې دا ځاى بايد زه رانيسم او كه نه؟). او د دې لپاره تر ټولو مناسب مقام د خبرېدلو مجلس (مجلسِ علم) دى. لهذا كم تر كمه هغه ته د علم تر مجلسه پورې د طلب اختيار وركول پكار دي، د دې مثال دا دى لكه هغه مُخَيّره ښځه چې خاوند د طلاق اختيار وركړى وي چې تا ته د دې اختيار دى چې خپل ځان ته طلاق وركړې، او ټولو ته به معلومه وي چې د داسې ښځې اختيار د "مجلسِ خيار" تر ختمېدلو پورې باقي پاتيږي، يعني كه د مجلس تر ختمېدلو مخكې هغه طلاق اختيار كړي، نو طلاقيږي، كنې نه طلاقيږي، خاص همداسې شفيع ته هم د "مجلس علم" تر ختمېدلو پورې اختيار حاصلېدل پكار دي.

مګر د دې جواب دا دى چې شفيع پر مُخَيّره ښځه قياسول او د هغه لپاره د تأمل او فكر مهلت غوښتل صحيح نه دي: ځكه تر طلب وروسته شفيع ته فوراً شفعه نه حاصليږي، بلكې تر طلب وروسته د مشتري رضاء او د هغه ورسپارلو ته يا د قاضي فيصلې ته هم ضرورت پرېوځي، او دا (د

مينځ) زمانه د شفيع د تأمل او فکر لپاره کافي ده (يعني هغه په دې دوران کې تأمل کولای سي چې دا ځای باید زه رانیسم، که نه؟)؛ حال دا چې په مُخيّره ښځه کې د قاضي فيصلې او داسې نورو ته ضرورت نه پرېوځي؛ لهذا هغې ته د تأمل او فکر لپاره د خيار تر مجلسه پورې اختيار ورکول سوی دی. لېکن د شفعې په مسئله کې چې څرنګه تر طلب وروسته د تأمل او فکر لپاره شفيع ته ښه کافي وخت حاصلېږي. نو ځکه د هغه په حق کې به د تأمل لپاره د علم تر مجلسه پورې اختيار نه ثابتيږي. (احسن الهدايه)

هغه کلام کوم چې پر اعراض دلالت نه کوي

وَلَوْقَالَ بَعْدَمَا بَلَغَهُ الْبَيْعُ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ أَوْ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ أَوْ قَالَ: سُبْحَانَ اللّٰهِ او که د بیع د خبر له رسېدلو څخه وروسته شفيع ووايي: الحمد لله. يا لَا حَوْلَ ولا قُوَّةَ إلا با الله. يا ووايي: سُبحان الله لَا تَبْطُلُ شُفْعَتُهُ نو [په دې صورتونو کې] د هغه شفعه نه باطليږي لِأَنَّ الْأَوَّلَ حَمْدٌ عَلَى الْخَلَاصِ مِنْ جِوَارِهِ ځکه چې اوله [جمله] د بائع له [بد] همسايه توب څخه پر خلاصون حمد ويل دي وَالثَّانِيَ تَعَجُّبٌ مِنْهُ لِقَصْدِ إِضْرَارِهِ او دويمه [جمله] د شفيع له طرفه د بائع د نقصان ورکولو پر اراده تعجّب کول دي وَالثَّالِثَ لِافْتِتَاحِ كَلَامِهِ او درېيمه [جمله] د خپل کلام د شروع کولو لپاره ده فَلَا يَدُلُّ شَيْءٌ مِنْهُ عَلَى الْإِعْرَاضِ نو ځکه له دوی څخه هيڅ [جمله] هم پر اعراض دلالت نه کوي وَكَذَا إِذَا قَالَ: مَنِ ابْتَاعَهَا وَبِكَمْ بِيعَتْ او همدا راز که شفيع ووايي: چې چا دا کور رانيولی دی او په څو خرڅ سوی دی [نو دا هم اعراض نه دی او په دې سره د هغه شفعه نه باطليږي] لِأَنَّهُ يَرْغَبُ فِيهَا بِثَمَنٍ دُونَ ثَمَنٍ ځکه چې شفيع په دې کور کې رغبت کوي په يوه قيمت سره، نه په بل [زيات] قيمت سره [يعني په هر قيمت سره د دې کور رانيول نه غواړي بلکې که قيمت يې مناسب وي، زيات نه وي. نو بيا يې رانيسي] وَيَرْغَبُ عَنْ مُجَاوَرَةِ بَعْضٍ دُونَ بَعْضٍ او اعراض کوي د بعضي [بد] له همسايه توب څخه، نه د بعضي.

اللغات: ﴿خلاص﴾ د نصر د باب مصدر دی: خلاصون، خلاصېدل، نجات موندل. ﴿جوار﴾ همسايه توب (همسايه ګلوي). ﴿إضرار﴾ د افعال د باب مصدر دی: ضرر او نقصان رسول. ﴿ابتاع، بيعت﴾ د ب. ي. ع (بيع) ماده که د افتعال په باب کې ذکر سي نو د رانيولو معنیٰ ورکوي او د ضرب له باب څخه د خرڅولو معنیٰ ورکوي. ﴿يرغب﴾ د سمع د باب مضارع ده: رغبت کول، لېوالتيا، خو د

دغه باب په صل کي چي عَن ذکر سي، نو معنیٰ يې ده: اعراض او بېزاري کول، توجه نه کول، پرېښوول.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي (له شفعي څخه) په اعراض کولو سره شفعه باطلېږي، لېکن کوم الفاظ پر اعراض دلالت کوي او کوم يې نه کوي، دلته د دې وضاحت بيان سوى دى. حاصل يې دا دى چي کله شفيع په بيع خبر سي (چي زما همسايه يا زما شريک خپل جايداد خرڅ کړى)، او په دې دوران کي الحمد لله ووايي، نو فرمايي چي دا کلمه اعراض نه دى؛ ځکه په دې جمله سره خو شفيع له بد همسايه "بائع" څخه د خلاصېدلو په بدله کي د الله حمد اداء کړى چي شکر دى دا خراب همسايه خو مي ولاړى، همدارنګه که هغه "لَا حَوْلَ" ووايي، نو دا جمله هم له شفعي او طلب څخه اعراض نه دى، بلکي د تعجب او حيرانتيا ښکاره کول دي چي بائع څنګه همسايه دى چي زه يې خبر هم نه کړم او نا بيره يې ځاى پر بل چا خرڅ کړى لا حول ولا قوة إلا بالله. لهذا دا جمله په دې وخت کي د تعجّب لپاره ده، نه (له شفعي څخه) د اعراض لپاره.

همدارنګه که هغه ووايي سُبحان الله، نو دا هم اعراض نه دى؛ ځکه د بعضي خلګو دا عادت وي چي د خبرو په شروع کي (د خوشالي پر مهال) سبحان الله وايي، لهذا هغه دا کلمه د کلام د افتتاح او شروع لپاره ويلې ده؛ خلاصه دا چي په دغه درېو سره جملو کي هيڅ د اعراض او بې رغبتي دليل نسته؛ چي د هغه پر بناء د ويونکي (شفيع) حق شفعه ختم کړى سي، نو ځکه په دې يوه سره به هم حق شفعه نه باطلېږي.

همدا راز که په بيع تر خبرېدلو وروسته شفيع د مشتري (رانيونکي) يا د جايداد په سلسله پوښتنه ووښتنه وکړي (چي دا ځاى چا رانيولى دى يا په څو يې رانيولى دى؟)، نو دا هم پوښتنه هم د اعراض دليل نه دى؛ ځکه کېداى سي چي شفيع په زيات قيمت سره د هغه په اخيستلو راضي نه وي، يا شفيع د هر همسايه سره په اوسېدلو راضي نه وي (په بله وينا دا چي د قيمت په پوښتني سره د شفيع مطلب دا دى چي که دا ځاى په کم قيمت خرڅ سوى وي نو د شفعي طلب او دعوىٰ به وکړم. او که په زيات قيمت خرڅ سوى وي. نو د شفعي طلب به نه کوم. همدارنګه هغه چي دا پوښتنه کوي چي چا رانيولى دى. نو په دې سره دا معلوموي چي که ښه همسايه را نيولى وي، نو د شفعي طلب به نه کوم. او که خراب همسايه رانيولى وي. نو طلب به يې وکړم او خپله به يې رانيسم. چي د هغه له تکليف او ضرر څخه خوندي سم). لهذا د قيمت يا مشتري په هکله پوښتنه کول د اعراض دليل نه دى (بلکي دا د يو ډول د شفعي پر طلب اقدام کول دي).

د "يو مخکيني عبارت" وضاحت (د طلب مواثبه او إشهاد شرعي حيثيت)

وَالْمُرَادُ بِقَوْلِهِ فِي الْكِتَابِ "أَشْهَدَ فِيْ مَجْلِسِهِ ذٰلِكَ عَلَى الْمُطَالَبَةِ" طَلَبُ الْمُوَاثَبَةِ او په قدوري [متن] کي د امام قدوري رَحِمَهُ الله په دې قول "أَشْهَدَ فِي مجلسه إلخ" سره طلبِ مواثبه مراد دی وَالْإِشْهَادُ فِيْهِ لَيْسَ بِلَازِمٍ او په دې [طلب مواثبه] کي اشهاد ضروري دی. إِنَّمَا هُوَ لِنَفْيِ التَّجَاحُدِ اشهاد [يعني ګواه درول] خو صرف د انکار دنفي کولو لپاره دی [چي که مشتري انکار وکړي، نو دهغه دنفي کولو او ختمولو لپاره ګواه پېش کړی سي] وَالتَّقْيِيْدُ بِالْمَجْلِسِ إِشَارَةٌ إِلَى مَا اخْتَارَهُ الْكَرْخِيُّ او د مجلس قيد لګول د امام کرخي رَحِمَهُ الله د اختيار کړی سوي روايت وطرف ته اشاره ده وَيَصِحُّ الطَّلَبُ بِكُلِّ لَفْظٍ يُفْهَمُ مِنْهُ طَلَبُ الشُّفْعَةِ او [د شفعي] طلب کول په هر هغه لفظ سره صحيح دي چي له هغه څخه د شفعي طلب فهمول کيږي كَمَا لَوْ قَالَ: طَلَبْتُ الشُّفْعَةَ لکه شفيع چي [داسي] ووايي: ما شفعه طلب کړه أَوْ أَطْلُبُهَا يا زه شفعه طلب کووم أَوْ أَنَا طَالِبُهَا يا زه د شفعي طلب کونکی يم لِأَنَّ الِاعْتِبَارَ لِلْمَعْنٰى ځکه چي اعتبار معنیٰ لره دی.

اللغات: ﴿إشهاد﴾ د افعال د باب مصدر دی: ګواه درول، ګواه جوړول. ﴿تجاحد﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو د بل انکار کول. ﴿تقييد﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: قيد لګول، مقيّد کول.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د متن د مخکيني عبارت "أَشْهَدَ فِي مَجْلِسِه ذٰلك عَلَى الْمُطَالبة" وضاحت کوي، فرمايي چي له دې څخه طلبِ مواثبه مراد دی يعني په بيع د خبرېدلو په وخت کي پر شفيع طلبِ مواثبه ضروري دی، او پاته سو په هغه مجلس کي طلب اشهاد يعني ګواه درول ضروري نه دي، بلکي پر طلب مواثبه د ګواه درولو حکم يې صرف په دې وجه کړی دی چي که مشتري د شفيع د طلبِ مواثبه انکار وکړي (چي تا خو سمدستي د شفعي [او د مشفوعه ځای د رانيولو] طلب نه دی کړی)، نو شفيع به د ګواهانو په ذريعه خپل طلب ثابت کړی سي

او بغير له ګواهانو څخه د طلبِ مواثبه د ضروري کېدلو وجه دا ده چي د شفيع حق ديانتاً (فيما بينه وبين الله) ثابت سي او بل دا چي که مشتري د شفيع د طلبِ مواثبه انکار وکړي، نو شفيع به قسم اخيستلای سي چي ما طلب کړی وو.

او په متن کي چي امام قدوري رَحِمَهُ الله تر "أَشْهَدَ" وروسته د "فِي مَجْلِسِه" قيد لګولی دی، دا و دې طرف ته اشاره ده چي د هغه په نيز د امام کرخي رَحِمَهُ الله قول خوښ او مختاره دی (يعني د خبر ېدلو تر مجلسه پوري شفيع ته د طلب د اختيار ورکولو قول).

وروسته فرمايي چي د شفعي د طلب لپاره الفاظ متعيّن نه دي، بلکي هر هغه لفظ چي له هغه څخه د شفعي طلب فهمول کيږي، په هغه سره د شفعي طلب کول صحيح دي؛ ځکه چي په عرف او معاملاتو کي معاني وو لره اعتبار دی، نه الفاظو لره. لکه څرنګه چي همدا فقهي قاعده ده چي "اَلاِعْتِبَارُ لِلْمَعَانِي، لَا لِلْمَبَانِي". لهذا کله چي شفيع أَطْلُبُ، أَنَا طَالِبُ الشُّفْعَة يا داسي نور الفاظ ووايي چي له هغه څخه د شفعي طلب فهمول کيږي، نو په هغه سره به د ده طلب ثابتيږي.

په شفعه کي طلب اشهاد يعني ګواه درول کله ضروري دي ؟

وَإِذَا بَلَغَ الشَّفِيْعُ بَيْعَ الدَّارِ او کله چي شفيع ته د کور خرڅېدلو خبر ورسيږي لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ الْإِشْهَادُ حَتّٰى يُخْبِرَهُ رَجُلَانِ أَوْ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ أَوْ وَاحِدٌ عَدْلٌ نو پر هغه ګواه درول [ګواه پيشول] واجب نه دي، تر دې چي هغه ته دوه خلک، يا يو سړی او دوې ښځي، يا يو عادل سړی خبر ورکړي عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ [دا حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [دی] وَقَالَا ❁: يَجِبُ عَلَيْهِ أَنْ يُشْهِدَ إِذَا أَخْبَرَهُ وَاحِدٌ حُرًّا كَانَ أَوْ عَبْدًا صَبِيًّا كَانَ أَوِ امْرَأَةً او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي پر شفيع ګواه درول واجب دي کله چي هغه ته [فقط] يو سړی خبر ورکړي، برابره ده هغه آزاد وي يا غلام وي، بچی وي يا ښځه وي إِذَا كَانَ الْخَبَرُ حَقًّا [په دې شرط] کله چي خبر رښتونی وي وَأَصْلُ الِاخْتِلَافِ فِي عَزْلِ الْوَكِيْلِ او [د امام صاحب او صاحبينو] اصل اختلاف د وکيل د معزوله کولو په باره کي دی وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ بِدَلَائِلِهِ وَأَخَوَاتِهِ فِيمَا تَقَدَّمَ او هغه مورږ د خپل دلائلو او مثالونو سره مخکي ذکر کړی دی [د کتاب أدب القاضي "فصل القضاء بالمواريث" په آخر کي] وَهٰذَا بِخِلَافِ الْمُخَيَّرَةِ إِذَا أُخْبِرَتْ عِنْدَهُ او دا د مخيّره ښځي په خلاف دي کله چي د هغې سره خبر ورکول سي [يعني هغې ته خبر ورکول سي چي تا ته خاوند د طلاق اختيار درکړی دی] لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ إِلْزَامُ حُكْمٍ ځکه په دې کي د څه حکم لازمول نسته وَبِخِلَافِ مَا إِذَا أَخْبَرَهُ الْمُشْتَرِيْ

❁ القول الراجح: قول الإمام أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ظهر من داب المصنف رَحِمَهُ الله، انظر للتوضيح [القول الراجح ج:۲، ص:۲۶۸]

او په خلاف د هغه صورت [هم] کله چې مشتري په خپله شفیع ته خبر ورکړي [نو هم نصابِ شهادت (یعني دوه کسان) او داسې نور ضروري نه دي] لِأَنَّهُ خَصْمٌ فِيهِ ځکه چې مشتري خپله په دې باب کې خصم دی [په بله وینا: ځکه چې مشتري خپله د حقِ شفعه په سلسله کې د شفیع مدِ مقابل او د هغه سره خصومت او دعوىٰ کونکی دی] وَالْعَدَالَةُ غَيْرُ مُعْتَبَرَةٍ فِي الْخُصُومِ او په خصمونو [خاصمینو] کې عدالت معتبر نه دی.

اللغات: ﴿عزل﴾ د ضرب د باب مصدر دی: معزوله کول، برطرفه کول (له منصبه لیرې کول). ﴿مخيّرة﴾ هغه ښځه چې خاوند د طلاق اختیار ورکړی وي. ﴿خصم﴾ جنګ او دعوىٰ کونکی، فریقِ مخالف، مدعي او مدعىٰ علیه دواړو ته ویل کیږي (دوی یو د بل خصم دي). ﴿خصوم﴾ جمع د خَصْمٌ ده: دعوې والا خلک (کوم چې په خپل مینځ کې پر یو شي تنازع او دعوىٰ لري)، مدعیان او مدعىٰ علیهم.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که شفیع ته په یو توګه د مشفوعه ځای د خرڅېدلو خبر ورکول سي (چې ستا همسایه یا شریک خو خپل ځمکه یا کور خرڅ کړی)، نو پر شفیع څه وخت ګواه درول ضروري دي؟، په دې سلسله کې دوه مذهبه دي: ① د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې نصابِ شهادت یا عدالت ضروري دی یعني تر څو چې دوه خلک یا یو سړی او دوې ښځې یا یو عادل سړی شفیع ته د مشفوعه ځای د خرڅېدلو خبر نه ورکړي، تر هغه وخته پر شفیع اشهاد (ګواه درول) ضروري نه دي.
② د صاحبینو مذهب دا دی چې دلته نصاب یا عدالت ضروري نه دی، بلکې که فقط یو سړی راسې خبر ورکړي او شفیع د هغه خبر صحیح او رښتونی وګڼي، نو هم پر شفیع اشهاد ضروري دی.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې د امام صاحب او صاحبینو اصلِ اختلاف د وکیل معزوله کولو په مسئله کې دی، یعني که یو مؤکل خپل وکیل معزوله کړي او بیا وکیل ته د خپل معزولتیا خبر ورسیږي، نو په دې صورت کې امام صاحب نصابِ شهادت یا عدالت ضروري بولي، او صاحبین فرمایي چې فقط د یوه فرد په خبر سره هم هغه معزوله کیږي.

وهذا بخلاف المخيرة: په دې سره دا راښیي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز د هر خبر لپاره نصابِ شهادت یا عدالت ضروري نه دی، بلکې که خاوند د خپلې ښځې په ناموجودیت کې هغې ته د طلاق اختیار ورکړي او بیا هغې ته فقط یو کس خبر ورکړي (چې ته مخیره یې، تا ته خاوند د طلاق اختیار درکړی)، او د دې په اورېدو سره دا ښځه خپل ځان ته طلاق ورکړي نو طلاق واقع کیږي، او ګورئ! په

دې مسئله کي امام صاحب د نصابِ شهادت يا عدالت اعتبار نه دی کړی بلکي صرف د فرد واحد خبر يې معتبر ګڼلی دی؛ د دې وجه دا ده چي د مخيّره ښځي په مسئله کي الزام حکم نسته، يعني که مخيره ښځه طلاق اختيار کړي او خاوند د اختيار ورکولو تصديق وکړي (چي هو! ما د طلاق اختيار ورکړی دی)، نو هغه طلاقيږي، کنې د خاوند د انکار په صورت هغه د ده ښځه پاتيږي او نه طلاقيږي؛ ځکه چي نکاح خو له مخکي څخه لا ثابته او لازمه ده؛ (څرنګه چي دلته پر ښځي د هيڅ حکم لازمول نسته، نو ځکه نصاب او عدالت ضروري نه دي (اثمار الهدايه))

د دې په خلاف د شفيع په مسئله کي الزامِ حکم موجود دی؛ ځکه که شفيع ته د بيع خبر ورسيږي خو بيا هم هغه سکوت اختيار کړي، نو هغه به د همسايه توب د ضرر سره مخامخ سي (په دې توګه چي مشفوعه ځای به بل بد څوک رانيسي)، (همدا ډول دا هم ښکاره خبره ده چي شفيع په خپل حقِ شفعه سره د بل چا [بائع او مشتري] ځای اخلي. نو په شفعه کي الزام سته). خلاصه دا چي د مخيّره ښځي په مسئله کي الزامِ حکم نسته، نو ځکه هلته نصاب (عدد) او عدالت شرط نه دی. او د شفعي په مسئله کي الزام حکم سته، نو په دې وجه دلته نصاب او عدالت شرط دی.

وبخلاف إلخ: په دې عبارت سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله يوه بله مسئله ذکر کوي، چي په هغه کي هم امام صاحب نصاب او عدالت ضروري نه بولي، هغه دا ده چي که مشتري له بائع څخه کور رانيسي او بيا خودي مشتري و شفيع ته د بيع خبر ورکړي (چي ستا همسايه يا ستا شريک خو ځای خرڅ کړی)، نو دلته هم عدد او عدالت ضروري نه دی؛ ځکه چي دلته مشتري په خپله خصم دی، او په خصم کي د عدالت اعتبار نه کيږي، ځکه خصم (مشتري) د بيع په خبر ورکولو سره خپل ځان ته نقصان رسوي، نو ښکاره خبره ده چي هغه به رښتيا وايي، نو په دې وجه د هغه عادل کېدل يا دوه کسان کېدل ضروري نه دي.

د شفعي د طلب کولو دويمه درجه (د طلب تقرير او طلبِ اشهاد حکم)

وَالثَّانِي طَلَبُ التَّقْرِيرِ وَالْإِشْهَادِ او دويم [قسم] طلبِ تقرير او اشهاد دی "لِأَنَّهُ مُحْتَاجٌ إِلَيْهِ لِإِثْبَاتِهِ عِنْدَ الْقَاضِي ځکه چي شفيع د قاضي مخ ته د خپل طلب ثابتولو لپاره اشهاد [ګواه درولو] ته محتاج دی عَلَى مَا ذَكَرْنَا لکه [مخکي] چي موږ ذکر کړه وَلَا يُمْكِنُهُ الْإِشْهَادُ ظَاهِرًا عَلَى طَلَبِ الْمُوَاثَبَةِ او شفيع لره پر طلبِ مواثبه اشهاد [ګواه درول] په ظاهره ممکن نه دي لِأَنَّهُ عَلَى فَوْرِ الْعِلْمِ بِالشِّرَاءِ ځکه چي طلب مواثبه په رانيولو د خبر پدلو سره فوراً ده [يعني چي کله شفيع د مشفوعه ځای په بيع او رانيول کېدلو خبر سي. نو فوراً (سمدستي) پر هغه طلبِ مواثبه لازم ده] فَيَحْتَاجُ بَعْدَ ذَلِكَ إِلَى طَلَبِ الْإِشْهَادِ وَالتَّقْرِيرِ نو ځکه

شفيع به طلبِ اشهاد و تقرير ته تر طلبِ مواثبه وروسته محتاج وي وَبَيَانُهُ مَا قَالَ فِي الْكِتَابِ او د دې طلب بيان همغه دی کوم چې امام قدوري رَحِمَهُ الله په کتاب [متن] کې ويلی دی [چې هغه يې په را روان متن کې ذکر کړی دی].

اللغات: ﴿تقرير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ثابتول. ﴿إشهاد﴾ د افعال د باب مصدر دی: ګواه جوړول، (يو څوک پر خپل قول او دعوئ) ګواه درول.

تشريح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله ويلي وه چې د طلب درې قسمونه دي، اول قسم (يعني طلبِ مواثبه) يې بيان کړی، اوس د طلبِ اشهاد بيان کوي چې د هغه نوم طلب تقرير دی، کيفيت او طريقه به يې په را روانو عباراتو کې ذکر سي، د طلبِ تقرير او اشهاد فايده دا ده چې که مشتري د شفيع د طلب انکار وکړي (چې تا د شفعې طلب نه دی کړی)، نو شفيع به په خپل دغه طلب سره د قاضي په عدالت کې خپل طلبِ مواثبه ثابتولای سي، او دغه طلب (طلب تقرير و اشهاد) ته ضرورت ولې سته، دا مخکې بيان سوه.

ولا يمكنه إلخ: او د دې طلب ضرورت تر طلبِ مواثبه وروسته ولې نه دی، ولې د طلبِ مواثبه سره يو ځای ضروري نه دی ګرځول سوی؟، نو فرمايي چې د هغه سره ځکه يو ځای نه دی ضروري سوی چې په بيع تر خبرېدلو وروسته فوراً پر شفيع طلبِ مواثبه ضروري ده او دا ښکاره خبره ده چې ډېر ځله د خبرېدلو په وخت (مجلسِ علم) کې د شفيع سره هيڅ کس موجود نه وي، لهذا که د شفيع د خبرېدلو په وخت کې پر هغه د طلبِ مواثبه سره طلبِ اشهاد هم ضروري وګرځول سي، نو شفيع ته به ضرر لاحق سي او د ګواهانو د نه موجودېدلو په وجه به د هغه حقِ شفعه ختم سي، نو ځکه دغه طلب تر طلبِ مواثبه وروسته ايښوول سوی دی. د دې پوره وضاحت به په را روان عبارت کې ذکر سي.

د طلب اشهاد ځای (چې ګواه به چيرې قائموي)

ثُمَّ يَنْهَضُ مِنْهُ يَعْنِي مِنَ الْمَجْلِسِ بيا دي شفيع له هغه يعني له مجلس څخه ولاړ سي وَيُشْهِدُ عَلَى الْبَائِعِ او پر بائع [د بائع مخته] دي [پر خپل طلب] ګواه ودروي [خو دا په هغه وخت کې] إِنْ كَانَ الْمَبِيْعُ فِي يَدِهِ، مَعْنَاهُ لَمْ يُسَلِّمْ إِلَى الْمُشْتَرِيْ که چيرې مبيع د بائع په قبضه کې وي. يعني تر اوسه يې مشتري ته سپارلې نه وي أَوْ عَلَى الْمُبْتَاعِ أَوْ عِنْدَ الْعَقَارِ يا [شفيع] دي پر مشتري يا د جايداد سره ګواه ودوري فَإِذَا فَعَلَ ذٰلِكَ نو کله چې شفيع دا وکړي اِسْتَقَرَّتْ شُفْعَتُهُ نو د هغه شفعه پخه [او مضبوطه] سوه

وَهٰذَا لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا خَصْمٌ فِيهِ او دا ځکه چي له بائع او مشتري څخه هر يو [په حق شفعه کي د شفيع] خصم دی لِأَنَّ لِلْأَوَّلِ الْيَدَ وَلِلثَّانِي الْمِلْكَ ځکه چي د اول [بائع] لپاره قبضه ده او د دويم [مشتري] لپاره ملکيت دی وَكَذَا يَصِحُّ الْإِشْهَادُ عِنْدَ الْمَبِيعِ لِأَنَّ الْحَقَّ مُتَعَلِّقٌ بِهِ او همدارنګه د مبيع سره [پر خپل طلب او دعوی] ګواه درول [ځکه] صحيح کيږي چي حق [حق شفعه] د مبيع سره متعلق دی فَإِنْ سَلَّمَ الْبَائِعُ الْمَبِيعَ بيا که بائع [و مشتري ته] مبيع وسپاري لَمْ يَصِحَّ الْإِشْهَادُ عَلَيْهِ نو پر بائع [د بائع مخته] إشهاد صحيح نه دی لِخُرُوجِهِ مِنْ أَنْ يَكُونَ خَصْمًا ځکه چي هغه له خصم کېدلو څخه ووتی [يعني اوس بائع د شفيع خصم پاته نه سو] إِذْ لَا يَدَ لَهُ وَلَا مِلْكَ ځکه چي [اوس] هغه لره نه قبضه سته او نه ملکيت فَصَارَ كَالْأَجْنَبِيِّ نو هغه داجنبي په څېر سو.

اللغات: ﴿ينهض﴾ د فتح د باب مضارع ده: پورته کېدل، ولاړېدل، جګېدل. ﴿مبتاع﴾ د افتعال د باب فاعل دی: رانيونکی، مشتري. ﴿عقار﴾ جايداد، يعني ځمکه، کور او داسي نور. ﴿خصم﴾ د جنګ او دعوې يو فريق، فريق مخالف. ﴿اليد﴾ مراد ځني قبضه ده.

تشريح: په دې عبارت کي د طلبِ اشهاد وضاحت کوي. فرمايي چي د خبرېدلو تر مجلس (مجلسِ علم) وروسته شفيع ته پکار دي چي په چټکتيا سره ولاړ سي او طلبِ اشهاد وکړي. که چيري مبيع (خرڅ کړی سوی ځای) تر اوسه د بائع (خرڅونکي) په قبضه کي وي او مشتري ته يې حواله کړی نه وي، نو شفيع دي هغه ته ورسيږي او د هغه مخ ته دي پر خپل طلب ګواهان ودروي (چي ما د شفعي طلب کړی دی او اوس يې هم طلب کوم او دا مبيع ځای زه غواړم)، او که چيري مبيع د مشتري په قبضه کي وي، نو د هغه مخ ته دي ګواهان ودروي. همدارنګه د مبيع سره هم پر خپل طلب ګواهان درولای سي.

د بائع يا مشتري مخ ته طلبِ اشهاد ځکه کولای سي چي بائع خو پر مبيع قابض دی (يعني مبيع ځای د هغه په قبضه کي دی) او مشتري د رانيولو په وجه د مبيع مالک سوی دی، نو دوی دواړه د حق شفعه په سلسله کي د شفيع خصم جوړېدای سي (لهذا د خپل حق قوي کولو لپاره د بائع يا مشتري مخ ته طلبِ اشهاد ضروري دی).

او څرنګه چي د شفيع حق (يعني حق شفعه) په همدې مبيع کي دی، نو ځکه د مبيع سره هم ګواهان درولای سي. او دا ټوله صرف د خپل حق مضبطولو او ثابتولو لپاره دي.

فإن سلم إلخ: فرمايي كه بائع مبيع مشتري ته حواله كړي، نو څرنګه چي اوس هغه خصم پاتـه نه سو، ځكه اوس هغه نه پر مبيع قابض دى او نه يې مالک دى بلكې د اجنبي په څېر سو، نو په دې وجه اوس د هغه مخته ګواه درول لغو سو (ځكه ښكاره خبره ده چي اوس د هغه مخته طلبِ اشهاد هيڅ فايده نه كوي).

د طلب اشهاد طريقه

وَصُورَةُ هٰذَا الطَّلَبِ أَنْ يَقُوْلَ او د دغه طلب صورت دا دى چي شفيع داسي ووايي إِنَّ فُلَانًا اِشْتَرٰى هٰذِهِ الدَّارَ وَأَنَا شَفِيْعُهَا چي فلانكي كس دا كور رانيولى دى او زه د دغه كور شفيع يم وَقَدْ كُنْتُ طَلَبْتُ الشُّفْعَةَ وَأَطْلُبُهَا الْآنَ فَاشْهَدُوْا عَلٰى ذٰلِكَ او ما [مخكي هم] د شفعي طلب كړى وو او اوس يې هم كوم نو تاسي پر دې ګواهان سئ! وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهُ يُشْتَرَطُ تَسْمِيَةُ الْمَبِيْعِ وَتَحْدِيْدُهُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دى چي د مبيع [ځمكي يا كور] نوم اخيستل او د هغه حدونه بيانول شرط دي لِأَنَّ الْمُطَالَبَةَ لَا تَصِحُّ إِلَّا فِيْ مَعْلُوْمٍ ځكه چي مطالبه صرف په معلوم شي كي صحيح كيږي وَالثَّالِثُ طَلَبُ الْخُصُوْمَةِ وَالتَّمَلُّكِ او دريم [قسم] طلبِ خصومت او طلبِ تملک دى وَسَنَذْكُرُ كَيْفِيَّتَهُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى او د هغه كيفيت به موږ انشاء الله وروسته ذكر كړو.

اللغات: ﴿تسمية﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: نومول، نوم اخيستل، ذكر كول (بيانول)، مُتعيّن كول. ﴿تحديد﴾ دا هم د تفعيل مصدر دى: حد بندي، حدود بيانول (مثلاً د ځمكي حدود مُتعيّن كول چي له دې ځايه تر دې ځايه پوري).

تشريح: په دې عبارت كي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د طلب اشهاد طريقه بيانوي چي شفيع دې د څو خلكو په موجوديت كي دا ووايي چي "دا ځاى (ځمكه يا كور) كوم چي زما د ځاى پر برابر دى. فلانكي دا رانيولى دى او زه د دې شفيع يم، ما مخكي هم د شفعي طلب كړى دى. اوس يې هم طلب كووم، تاسو زما پر طلب ګواهان سئ!".

له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا هم دى چي د هغه په نيز د مبيع ځاى (ځمكي يا كور) نوم اخيستل او د هغه څلور سره حدود بيانول هم ضروري دي، ځكه چي د نوم او حدودو په بيانولو (تسميه او تحديد) سره د مبيع ذات او د هغه طول او عرض متعين كيږي او مبيع په يقيني توګه معلوميږي، او طلب او دعوىٰ د معلوم شي كول صحيح دي، نو ځكه تر تسميه او تحديد وروسته به د شفيع طلب او دعوىٰ صحيح وي.

والثالث إلخ: د شفعي د طلب کولو درېیمه درجه یعني د طلب درېیم قسم طلبِ خصومت دی، د دې مطلب دا دی په درېیم ځل دي شفیع د قاضي مجلس ته ولاړ سي او هلته دي د خپل حقِ شفعه طلب او خصومت وکړي او د مبیع تملک (مالک کېدلو) دعویٰ دي وکړي (چي دا مبیع ځای زه رانیسم او زه یې مالک کېږم)، دې ته طلب خصومت او طلبِ تملک وایي. د دې کیفیت او وضاحت به انشاء الله وروسته راسي،

د طلب اشهاد مودت

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي وَلَا تَسْقُطُ الشُّفْعَةُ بِتَأْخِيرِ هٰذَا الطَّلَبِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ اوشفعه نه ساقطیږي د دغه طلب [طلبِ خصومت] په ځنډولو سره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوْسُفَ او همدا له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه هم یو روایت دی وَقَالَ: مُحَمَّدٌ: إِنْ تَرَكَهَا شَهْرًا بَعْدَ الْإِشْهَادِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: که شفیع له ګواه درولو [طلبِ اشهاد] څخه وروسته تر یوې میاشتي پوري خصومت [طلبِ خصومت] پریږدي بَطَلَتْ نو شفعه باطلیږي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول هم دی مَعْنَاهُ إِذَا تَرَكَهَا مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ د دې مطلب دا دی چي کله هغه بغیر له عذره خصومت پریږدي وَعَنْ أَبِي يُوْسُفَ أَنَّهُ إِذَا تَرَكَ الْمُخَاصَمَةَ فِي مَجْلِسٍ مِنْ مَجَالِسِ الْقَاضِيْ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه [بل] روایت دا دی چي کله شفیع د قاضي له مجلسونو څخه په یو مجلس کي مخاصمه [دعویٰ او طلب] پریږدي تَبْطُلُ شُفْعَتُهُ نو د ده شفعه باطلیږي لِأَنَّهُ إِذَا مَضٰى مَجْلِسٌ مِنْ مَجَالِسِهِ وَلَمْ يُخَاصِمْ فِيهِ اخْتِيَارًا ځکه کله چي د قاضي له مجلسونو څخه یو مجلس تېر سو او ده په خپل اختیار سره په هغه کي مخاصمه نه وکړه دَلَّ ذٰلِكَ عَلٰى إِعْرَاضِهِ وَتَسْلِيْمِهِ نو دا د ده پر اعراض او تسلیم [یعني د شفعي پر پرېښوولو] دلالت کوي.

اللغات: ﴿شهراً﴾ یوه میاشته، ﴿إشهاد﴾ د افعال د باب مصدر دی: ګواه درول، ګواه جوړول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو شفیع له طلبِ مواثبه او طلبِ اشهاد څخه وروسته په طلبِ خصومت کي تأخیر وکړي (یعني د قاضي په مجلس کي د حقِ شفعه د مطالبې او دعوې پېشولو لپاره نا وخته ولاړ

* القول الراجح: قول ابي حنيفة رَحِمَهُ الله، لكن الفتوىٰ اليوم على قول محمد رَحِمَهُ الله لأنه أوفق بهذا الزمان، انظر للتفصيل والتوضيح [القول الراجح ج:۲، ص:۲۶۹]

سي لو ځنډ وکړي)، نو د هغه دا تأخير به یا د عذر په وجه وي یا بېله عذره به وي، که چیري د عذر په وجه وي. نو په دې سره بالاتفاق د هغه حقِ شفعه نه ساقطیږي. او که بغیر له عذره وي (یعني بغیر له عذره په طلبِ خصومت کي تأخير وکړي)، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د یوه روایت مطابق په دې صورت کي هم په تأخير سره حقِ شفعه نه ساقطیږي. د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چي که شفیع بغیر له څه عذره تر یوې میاشتي پوري طلبِ خصومت نه وکړي، نو د هغه حقِ شفعه ساقطیږي.

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله یو بل روایت دا دی چي که شفیع د قاضي په مجلس کي طلبِ خصومت نه وکړي. نو د هغه حقِ شفعه ساقطیږي او ختمیږي، د هغه دلیل دا دی چي د قاضي مجلسونه د خپل حقوقو د ثابتولو لپاره وضع سوي دي (چي څوک هلته خپل حق طلب کړي او د قاضي په قضاوت سره يې ثابت کړي)، لهذا کوم کس چي د قاضي په مجلس کي د خپل حق طلب نه کوي او نه يې ثابتوي. نو دا به ګڼل کیږي چي هغه له خپل حق غوښتلو څخه اعراض کوي او نه يې خوښوي. نو ځکه په دې صورت کي د هغه حقِ شفعه باطلیږي.

د امام محمد رَحِمَهُ الله دلیل

وَجْهُ قَوْلِ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ لَوْ لَمْ يَسْقُطْ بِتَأْخِيرِ الْخُصُوْمَةِ مِنْهُ أَبَدًا د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول وجه دا ده چي که د طلبِ خصومت په ځنډولو سره هیڅکله هم شفعه ساقطه نه سي يَتَضَرَّرُ بِهِ الْمُشْتَرِيْ نو په دې سره مشتري ته ضرر رسیږي لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ التَّصَرُّفُ، حَذَارَ نَقْضِهِ مِنْ جِهَةِ الشَّفِيْعِ ځکه مشتري لره به هیڅ تصرّف کول ممکن نه وي، د شفیع له طرفه د هغه د تصرّف ماتېدلو له بیري [یعني د شفیع له جانبه د مشتري د تصرف ماتېدلو له بیري به مشتري هیڅ تصرّف نه سي کولای] فَقَدَّرْنَاهُ بِشَهْرٍ نو ځکه موږ هغه په یوې میاشتي سره مقدّر [او متعین] کړی لِأَنَّهُ آجِلٌ وَمَا دُوْنَهُ عَاجِلٌ ځکه چي دا یوه میاشته وروستنۍ مودت دی او تر یوې میاشتي کم بېړنی مودت دی [یعني یوه میاشته زیات او لیري مودت دی او تر یوې میاشتي کم وخت لږ او قریب مودت دی] عَلَى مَا مَرَّ فِي الْأَيْمَانِ لکه څرنګه چي په کتابُ الأيمان کي تېر سوه.

اللغات: ﴿يتضرر﴾ د تفعّل مضارع ده: نقصان رسېدل، نقصان مند کېدل (تاواني کېدل)، ﴿حذار﴾ بیره، ځان ساتنه. ﴿نقض﴾ د نصر د باب مصدر دی: ماتول، ماتېدل. ﴿آجل﴾ وروستنی، مؤخر، مراد ځني مدة بعیده دی. ﴿عاجل﴾ بېړنی، ژر کېدونکی، فوري، مراد ځني مدة قریبه دی.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز يوه مياشت د طلبِ خصومت ځنډول (مؤخر کول) حقِ شفعه ساقطوي، په دې عبارت کي د هغه دليل ذکر کوي، حاصل يې دا دی چي امام محمد رَحِمَهُ الله چي کوم د يوې مياشتي قيد لګولی دی، هغه يې ځکه لګولی دی چي مشتري ته نقصان او ضرر نه ورسيږي، ځکه که د طلبِ خصومت په تأخير سره د همېشه لپاره حقِ شفعه ساقط نه سي، نو ښکاره خبره ده چي مشتري به له دې بيري په رانيول سوي ځای کي هيڅ تصرف او لاسوهنه نه سي کولای چي که زه تصرف وکړم او په دې ځای کي څه وداني جوړه کړم او بيا وروسته شفيع په طلبِ خصومت سره دا ځای بير ته زما څخه واخلي، نو زما تصرّف به مات کړي او زما خواري و کوښښ به عبث ولاړ سي، لهذا له دې بيري به مشتري په رانيول سوي ځای کي هيڅکلهٔ هم شی نه جوړوي، نو په دې وجه امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي شفيع ته به د زيات تأخير اجازه نه ورکول کيږي بلکي لږ تر لږه تر ټاکل سوی مودت به د هغه اختيار ورکول کيږي چي مشتري ته ضرر لاحق نه سي، نو په دې باره کي امام محمد رَحِمَهُ الله يوه مياشته مودت وټاکی، ځکه يوه مياشته کم مودت دی، لکه څرنګه چي په کتاب الأيمان کي (د دراهمو د مطالبه کولو په سلسله کي) تر يوې مياشتي کم مودت قليل (قريب) او تر يوې مياشتي زيات مودت کثير (بعيد) شمارل سوی دی، لهذا که شفيع د يوې مياشتي تر تېرېدلو مخکي طلبِ خصومت وکړي يعني د قاضي په مجلس کي د خپل حقِ شفعه مطالبه او دعویٰ وکړي، نو د هغه حقِ شفعه نه ساقطيږي او که يوه مياشته يا تر دې زيات وخت په دې کي تأخير وکړي، نو دا حق يې ساقطيږي او ختميږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل

وَوَجْهُ قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَهُوَ ظَاهِرُ الْمَذْهَبِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى أَنَّ الْحَقَّ مَتَى ثَبَتَ وَاسْتَقَرَّ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول وجه (او همدا ظاهرِ مذهب او مفتیٰ بهٖ قول دی) دا ده چي حق کله ثابت او مضبوط سي لَا يَسْقُطُ إِلَّا بِإِسْقَاطِهِ نو [بيا] هغه نه ساقطيږي مګر د صاحبُ الحق په ساقطولو سره وَهُوَ التَّصْرِيحُ بِلِسَانِهِ او هغه د ده په خپل ژبه سره تصريح کول دي [يعني د خپل حق ساقطولو شکل دا دی چي د حق خاوند په خپل ژبه سره د دې تصريح وکړي] كَمَا فِي سَائِرِ الْحُقُوقِ لکه څرنګه چي په ټولو حقوقو کي [همداسي ده] وَمَا ذُكِرَ مِنَ الضَّرَرِ يُشْكِلُ بِمَا إِذَا كَانَ غَائِبًا او [د امام محمد رَحِمَهُ الله په قول کي] چي د کوم ضرر يادونه سوې ده پر هغه په هغه صورت سره اشکال کيږي کله چي شفيع غائب وي [يعني

پر هغه دا اشکال واردیږي چې که شفیع غائب او مسافر وي نو خو هم مشتري ته ضرر رسیږي] وَلَا فَرْقَ فِي حَقِّ الْمُشْتَرِي بَيْنَ الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ حال دا چې د مشتري په حق کې [د شفیع] د سفر او حضر هیڅ فرق نسته وَلَوْ عَلِمَ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ فِي الْبَلَدِ قَاضٍ او که دا معلومه سي چې په ښار کې قاضي نسته لَا تَبْطُلُ شُفْعَتُهُ بِالتَّأْخِيرِ بِالِاتِّفَاقِ نو [په دې صورت کې] بالاتفاق د تأخیر کولو په وجه د شفیع شفعه نه باطلیږي لِأَنَّهُ لَا يَتَمَكَّنُ مِنَ الْخُصُومَةِ إِلَّا عِنْدَ الْقَاضِيْ ځکه چې شفیع پر خصومت قدرت نه لري مګر صرف د قاضي مخته [د قاضي په مجلس کې] فَكَانَ عُذْرًا نو دا به عذر وي.

اللغات: ﴿استقر﴾ د استفعال د باب ماضي ده: مضبوطېدل، پخېدل، ﴿تصريح﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: واضح او ښکاره بیانول، ﴿لايتمكن﴾ د تفعل له بابه د نفي صیغه ده: قدرت لرل (قدرت پیدا کول)، قادر کېدل.

تشريح: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله له دې ځایه د امام صاحب دلیل ذکر کوي، هغه فرمايي چې په تمام حقوقو کې اُصول دا دی چې حق کله ثابت او مضبوط سي، نو بیا نه ساقطیږي (تر څو چې په خپل ژبه سره انکار نه وکړي)، لیکن کله چې د حق خاوند په خپل ژبه سره انکار وکړي او خپل حق ختم او ساقط کړي، نو بیا ساقطیږي. او شفعه هم یو حق دی، لهذا کله چې د شفیع په طلبِ مواثبه او طلبِ اشهاد سره دا حق ثابت او مضبوط سو، نو د طلبِ خصومت په تأخیر سره به نه ساقطیږي، مګر دا چې شفیع خپل دا حق پرېږدي او ساقط یې کړي، او څرنګه چې په پورتنۍ مسئله کې د شفیع حق ثابت سوی دی، نو ځکه په تأخیر سره به هغه نه ساقطیږي.

وما ذکر الخ: دا د امام محمد رَحِمَهُ الله د دلیل جواب دی، هغه ویلي وه چې "په طلبِ خصومت کې د یوې میاشتې په تأخیر کولو سره حقِ شفعه ساقطیږي ځکه که داسي نه وسي نو مشتري ته ضرر او نقصان رسیږي"، نو په جواب کې فرمايي چې دا خبره صحیح نه ده، ځکه که شفیع غائب وي نو بیا هم هغه ته خپل حقِ شفعه حاصلیږي، حال دا چې په دې صورت کې هم مشتري ته ضرر رسیږي، لهذا کله چې د شفیع د غائب والي او سفر په صورت کې د مشتري ضرر برداشت کړی سوی دی، نو د شفیع د موجود والي په صورت کې هم دا ضرر برداشت کول پکار دي، ځکه چې د مشتري په حق کې د سفر او حضر تر مینځ هیڅ فرق نسته.

ولوعلم إلخ: مخکې موږ وويل چې که د عذر په وجه تأخير وسي، نو بالاتفاق حقِ شفعه نه ساقطيږي، همدا وجه ده که په ښار کې قاضي نه وي چې په دې وجه په طلب خصومت کې تأخير وسي، نو بالاتفاق دا تأخير حقِ شفعه نه ساقطوي؛ ځکه شفيع صرف د قاضي مخ ته د خپل حقِ شفعه دعوىٰ او خصومت کولای سي، او کله چې قاضي سته نه، نو شفيع به خصومت څنګه وکړي!؟، نو ځکه په دې صورت کې به شفيع معذوره ګڼل کيږي او د هغه حقِ شفعه به باقي پاتيږي، ساقطيږي به نه.

په شفعه کې د قاضي وظيفه (د شفعي د دعوې طريقه)

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي وَإِذَا تَقَدَّمَ الشَّفِيعُ إِلَى الْقَاضِيْ فَادَّعَى الشِّرَاءَ وَطَلَبَ الشُّفْعَةَ او کله چې شفيع قاضي ته راسي او د رانيول کېدلو دعوىٰ وکړي [چې فلانکي هغه کور رانيوی چې زه د شفعي حق پکښې لرم] او د شفعې طلب وکړي سَأَلَ الْقَاضِيْ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ نو قاضي دې له مدعىٰ عليه [مشتري] څخه پوښتنه وکړي فَإِنِ اعْتَرَفَ بِمِلْكِهِ الَّذِيْ يَشْفَعُ بِهِ نو که چيري مشتري د شفيع د هغه ملکيت اقرار وکړي چې د هغه په ذريعه شفيع د شفعې دعوىٰ کوي [نو سمه ده] وَإِلَّا كَلَّفَهُ بِإِقَامَةِ الْبَيِّنَةِ کنې قاضي دې شفيع د بېنې په پېشولو سره مکلف کړي لِأَنَّ الْيَدَ ظَاهِرٌ مُحْتَمَلٌ ځکه چې [د شفيع] قبضه يو ظاهري شی ده چې په هغه کې څو احتماله دي فَلَا تَكْفِيْ لِإِثْبَاتِ الْاِسْتِحْقَاقِ نو ځکه محض قبضه [د شفيع] د استحقاق ثابتولو لپاره نه کافي کيږي قَالَ [صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله] فرمايي يَسْأَلُ الْقَاضِيْ الْمُدَّعِيَ قَبْلَ أَنْ يُقْبِلَ عَلَى الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ عَنْ مَوْضِعِ الدَّارِ وَحُدُوْدِهَا چې قاضي به مدعىٰ عليه [مشتري] ته تر متوجه کېدلو مخکې له مدعي [شفيع] څخه د مشفوع کور د ځای او حدودو په هکله پوښتنه کوي لِأَنَّهُ ادَّعٰى حَقًّا فِيْهَا ځکه چې شفيع په هغه کور کې د حق [حقِ شفعه] دعوىٰ کړې ده فَصَارَ كَمَا إِذَا ادَّعٰى رَقَبَتَهَا نو دا داسي سو لکه هغه چې د کور د ملکيت دعوىٰ وکړي وَإِذَا بَيَّنَ ذٰلِكَ او کله چې شفيع دا ټوله بيان کړي يَسْأَلُهُ عَنْ سَبَبِ شُفْعَتِهِ نو بيا به قاضي له شفيع څخه د شفعې د سبب په هکله پوښتنه کوي لِاخْتِلَافِ أَسْبَابِهَا ځکه چې د شفعې اسباب مختلف وي فَإِنْ قَالَ: أَنَا شَفِيْعُهَا بِدَارٍ لِيْ تُلَاصِقُهَا نو که شفيع ووايي: چې زه د دې کور شفيع يم د خپل هغه

کور په وجه کوم چي د دې کور سره متصل دی اَلْاٰنَ تَمَّ دَعْوَاهُ نو اوس د هغه دعوىٰ پوره سوه عَلىٰ مَا قَالَهُ الْخَصَّافُ د هغه تفصیل مطابق کوم چي امام خصاف رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی [یعني د امام خصاف د قول مطابق د سبب په بیانولو سره د هغه دعوىٰ پوره کیږي] وَذُكِرَ فِي الْفَتَاوٰى تَحْدِيدُ هٰذِهِ الدَّارِ الَّتِيْ يَشْفَعُ بِهَا أَيْضًا او په فتاوىٰ کي د دې کور حدودو بیانول هم ذکر سوي دي چي د هغه په وجه شفیع د شفعي دعوىٰ کوي وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي الْكِتَابِ الْمَوْسُوْمِ بِالتَّجْنِيْسِ وَالْمَزِيْدِ او موږ دا په خپل کتاب کي بیان کړي دي چي د هغه نوم "التجنیس والمزید" دی.

اللغات: ﴿يشفع﴾ د فتح د باب مضارع ده: شفیع کېدل، شفیع جوړېدل، صاحب د احسن الهدایې معنىٰ کړې ده: د شفعي دعوىٰ کول، د شفعي مستحق کېدل (خو د ټولو مراد یو دی)، ﴿كلّف﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: مکلف کول، مجبوره او پابند کول، ﴿بيّنة﴾ ګواهي، ﴿يد﴾ لاس، مراد څني قبضه ده، ﴿محتمل﴾ احتمالي (احتمال لرونکی)، ځکه دلته دا احتمال سته چي د کرایې په توګه یې پر کور قبضه کړې وي، دا احتمال هم سته چي د هبې یا عاریت په توګه یې پر کور قبضه وي او دا احتمال هم سته چي د ملکیت په توګه قبضه وي، نو ځکه ګواهي پېښول ضروري دي چي د ملکیت قبضه ثابته کړي. ﴿يُقبل﴾ د افعال د باب مضارع ده: متوجه کېدل، مخامخ کېدل. ﴿تُلاصِق﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: متصل کېدل (جوختېدل).

تشریح: له دې ځایه امام قدوري رَحِمَهُ الله د طلبِ خصومت صورت او د قاضي لپاره کړنلاره بیانوي، حاصل یې دا دی چي کله شفیع د قاضي مجلس ته ولاړ سي او هلته د مشفوعه کور د خرڅېدلو او رانیول کېدلو دعوىٰ وکړي او بیا د خپل حقِ شفعه طلب وکړي، نو د قاضي وظیفه دا ده چي له مشتري (رانیونکي) څخه دا تحقیق او معلومات وکړي چي آیا شفیع واقعي د هغه کور مالک دی چي د هغه په وجه شفیع دخپل حقِ شفعه طلب کوي؟ (یعني کوم کور چي د شفیع په قبضه کي دی چي د هغه پر بناء د حق شفعه دعوىٰ کوي، آیا ربنتیا هم هغه د دې مالک دی. [یا په بله وینا دا چي آیا ربنتیا هم ستا د رانیول سوي کور سره د شفیع کور یو ځای دی])، که چیري مشتري د شفیع د ملکیت اقرار وکړي (چي هو! دئ ربنتیا هم د هغه کور مالک دی [د ده کور زما د کور سره دی] او دئ زما په رانیول سوي کور کي د شفعي حق لري)، نو قاضي به (د شفیع د حق پر بناء) له مشتري څخه مشفوع کور اخلي او شفیع ته به یې ور کوي. او که مشتري د شفیع د ملکیت انکار وکړي، نو قاضي به له شفیع څخه بیّنه (ګواهان) طلب کړي؛ ځکه د کوم کور په وجه

چي شفيع د حقِ شفعه مطالبه کوي، هغه که څه هم په ظاهره د شفيع په قبضه کي دی، لېکن په هغه کي دا احتمال هم سته چي هغه دي د ده ملکيت نه وي، بلکي د کرايې يا هبې يا عاريت دي وي، او په ظاهري قبضه سره استحقاق نه ثابتيږي، نو ځکه د خپل ملکيت ثابتولو لپاره به شفيع بيّنه پېشوي او له بيّنه پېشولو څخه وروسته به هغه ته حقِ شفعه ورکول کيږي.

قال ويسأل إلخ: په دې سره دا راښيي چي له بيّنه پېشولو څخه وروسته به هم مشفوع کور شفيع ته نه سپارل کيږي، بلکي اوس به قاضي له شفيع څخه د مشفوع کور په هکله پوښتنه کوي چي هغه په کومه سيمه او کوم ځای کي واقع دی او د هغه حدودِ اربعه څه دي (مثلاً راسته، چپه، لوړ او لاندي طرف ته يې د کومو کسانو کورونه او ځمکي دي)؛ ځکه چي شفيع په مشفوع کور کي د خپل حقِ شفعه دعویٰ کړې ده او دعویٰ په معلوم شي کي صحيح کيږي، نو ځکه د مشفوع کور په هکله د شفيع معلومات پوښتل هم ضروري دي، لکه يو څوک چي ديوَ کور د ملکيت دعویٰ وکړي (چي زه د دې کور مالک يم). نو له هغه څخه د دې کور معلومات او تفصيل هم پوښتل کيږي چي معلومه سي چي د هغه دعویٰ صحيح ده.

بيا چي کله شفيع قاضي ته د مشفوع کور په هکله معلومات ورکړي او حدودِ اربعه يې بيان کړي، نو بيا به قاضي له هغه څخه دا پوښتنه کوي چي "ته په کوم سبب د حقِ شفعه طَلبْ کوې، آيا د شرکت په سبب (چي ته په مشفوع کور يا لارهْ کي ور سره شريک يې) او که د همسايه توب په سبب (چي ته د ده همسايه يې)"، نو هر صورت چي شفيع بيان کړي، قاضي به د هغه مطابق د ده په حق کي فيصله کوي او مشفوع کور به ده ته سپاري.

د حقِ شفعه د سبب په بيانولو سره د شفيع دعویٰ پوره کيږي، دا د امام خصاف رَحِمَهُ الله مسلک دی.

لېکن د فتاویٰ په کتاب کي دا هم ذکر سوي دي چي څرنګه له شفيع څخه د مشفوع کور معلومات او حدودِ اربعه پوښتل کيږي، همداسي به له ده څخه د هغه کور معلومات او حدودِ اربعه هم پوښتل کيږي چي د هغه په وجه دئ د حقِ شفعه دعویٰ او طلب کوي، او د دې مقصد دا دی چي فريب او دوکه نه وکړي او وروسته بيا نزاع او څه مسئله واقع نه سي.

په پورتني صورت کي که شفيع بيّنه پېش نه کړی سي نو قاضي به له مشتري څخه قسم اخلي (د قسم طريقه)

قَالَ: فَإِنْ عَجَزَ عَنِ الْبَيِّنَةِ فرمايي: که شفيع له بيّنه [پېشولو] څخه عاجزه سي اِسْتَحْلَفَ الْمُشْتَرِيَ "بِاللهِ مَا يَعْلَمُ أَنَّهُ مَالِكٌ لِلَّذِيْ ذَكَرَهُ مِمَّا يَشْفَعُ بِهِ" نو قاضي به له مشتري څخه داسي قسم اخلي "په الله قسم ما ته معلومه نه ده چي شفيع د هغه څه [کور] مالک دی د کوم چي ده يادونه کړې ده

يعني چي د هغه په وجه دئ د شفعي دعوىٰ کوي مَعْنَاهُ بِطَلَبِ الشَّفِيعِ د دې مطلب دا دی چي د شفيع پر مطالبه [يعني قسم به هغه وخت ځني اخيستل کيږي کله چي شفيع د دې مطالبه وکړي.(چي له مشتري څخه دي قسم واخيستل سي)] لِأَنَّهُ ادَّعٰى عَلَيْهِ مَعْنًى لَوْ أَقَرَّ بِهٖ ځکه چي شفيع پر مشتري د يو داسي شي دعوىٰ کړې دم چي که مشتري د هغه اقرار وکړي لَزِمَهُ نو هغه به پر ده لازم سي [په بله وينا دا چي شفيع پر مشتري داسي دعوىٰ کړې ده چي که مشتري اقرار وکړي نو پر مشتري به د کور ورکول لازم سي] ثُمَّ هُوَ اسْتِحْلَافٌ عَلٰى مَا فِي يَدِ غَيْرِهٖ بيا دا پر داسي شي قسم اخيستل دي کوم چي له مشتري څخه بغير د بل چا [شفيع] په قبضه کي دی فَيُحَلَّفُ عَلَى الْعِلْمِ نو ځکه صرف پر علم به قسم ځني اخيستل کيږي [چي په الله قسم! ما ته معلومه نه ده...].

اللغات: ﴿استحلف﴾ د استفعال د باب ماضي ده: د قسم طلب ځني کول، له يو چا څخه قسم اخيستل. ﴿يُحلّف﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: حَلَّفَ يُحَلِّفُ تَحْلِيْفًا: بل څوک په قسم سره مکلف کول، قسم ورکول، قسم په اخيستل.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي که مشتري انکار وکړي (چي شفيع د هغه کور مالک نه دی چي د هغه پر بناء د شفعي دعوىٰ کوي)، نو په دې صورت کي خو پر شفيع بيّنه پېشول واجب او ضروري دي چي خپل ملکيت ثابت کړي، لېکن که شفيع بيّنه پېش نه کړی سي، نو قاضي به له مشتري څخه قسم اخلي او څرنګه چي دا د بل چا پر ملکيت قسم اخيستل دي نو ځکه داسي قسم به ور څخه اخلي "په الله قسم! د کوم کور په وجه چي شفيع د شفعي طلب او دعوىٰ کوي، ما ته معلومه نه ده چي دا کور د هغه ملکيت دی (يا په بله وينا دا چي: په خدای قسم! ما ته معلومه نه ده چي دا کو د شفيع دی او که نه دی) يعني هغه به د شفيع د ملکيت په هکله د خپل لا علمی اظهار کوي. لېکن ښکاره دي وي چي قاضي به هغه وخت له مشتري څخه قسم اخلي کله چي شفيع د دې مطالبه وکړي (چي ما خو بيّنه پېش نه کړی سوه لهذا له مشتري څخه قسم واخله!). او د مشتري د قسم اخيستلو وجه دا ده چي شفيع پر هغه د يو شي (يعني د حق شفعه د ثبوت) دعوىٰ کړې ده او د دغه دعوې د پوره کېدلو يا نه پوره کېدلو همدا دوه صورتونه دي: يا دا چي مشتري د هغه د دعوې تصديق وکړي او هغه ته خپل حق حواله کړي، يا بيا د انکار په صورت کي د خپل لاعلمی قسم واخلي. او پر مشتري د خپل علم ښکاره کولو قسم ځکه لازم دی چي دلته هغه د بل چا پر ملکيت قسم اخلي او قاعده دا ده چي د بل چا پر فعل، ملکيت او داسي نورو به قسم على العلم اخيستل کيږي، نو ځکه دلته به هم مشتري قسم على العلم اخلي. د

دې په خلاف پر خپل فعل او ملکيت به قسم على البتات اخيستل کيږي (على البتات مطلب دا چې په قطعي او يقيني توګه به قسم اخلي).

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

فَإِنْ نَكَلَ أَوْ قَامَتْ لِلشَّفِيعِ بَيِّنَةٌ او که مشتري له قسم اخيستلو [حلف على العلم] څخه انکار وکړي يا د شفيع په حق کې بيّنه پېش سي [يعني يا شفيع پر خپل ملکيت ګواهان پېش کړي (چې دا کور زما ملکيت دی چې د هغه په وجه زه شفيع يم)] ثَبَتَ مِلْكُهُ فِي الدَّارِ الَّتِي يَشْفَعُ بِهَا وَثَبَتَ الْجِوَارُ نو د ده ملکيت په هغه کور کې ثابتيږي چې د هغه په وجه دئ شفيع جوړيږي او جوار [همسايه کېدل] هم ثابتيږي [چې دئ د مشتري همسايه دی او کور يې د مشتري د کور تر څنګ دی] فَبَعْدَ ذٰلِكَ سَأَلَهُ الْقَاضِيْ يَعْنِي الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ هَلِ ابْتَاعَ أَمْ لَا بيا تر دې وروسته به قاضي له مدعىٰ عليه [مشتري] څخه دا پوښتنه کوي چې تا دا کور رانيولی دی که نه؟ فَإِنْ أَنْكَرَ الِابْتِيَاعَ که چيري هغه د رانيولو انکار وکړي قِيْلَ لِلشَّفِيْعِ: أَقِمِ الْبَيِّنَةَ نو شفيع ته به ويل کيږي: چې [پر رانيولو] بيّنه پېش کړه لِأَنَّ الشُّفْعَةَ لَا تَجِبُ إِلَّا بَعْدَ ثُبُوْتِ الْبَيْعِ ځکه چې شفعه صرف د بيع تر ثابتېدلو وروسته ثابتيږي وَثُبُوْتُهُ بِالْحُجَّةِ او د بيع ثبوت په دليل سره کيږي. [يعني په بيع په حجّت او بيّنه سره ثابتيږي]

اللغات: ﴿نکل﴾ د نصر او ضرب د باب ماضي ده: له قسم څخه انکار کول، ﴿جوار﴾ همسايه توب، همسايه والی (همسايه کېدل)، ﴿يشفع﴾ د فتح د باب مضارع ده: شفيع کېدل، شفيع جوړېدل، صاحب د احسن الهدايې معنىٰ کړې ده: د شفعې طلب او دعوىٰ کول، ﴿ابتاع﴾ د افتعال د باب ماضي ده. اِبْتَاعَ يَبْتَاعُ اِبْتِيَاعًا: رانيول، ﴿أَقِم﴾ د افعال له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صيغه ده: قائمول، درول (مراد: پېشول)، ﴿حجة﴾ د قضاء په محاوره کې د حجة معنىٰ ده: دليل،

تشريح: فرمايي که مشتري له حلف على العلم څخه انکار وکړي، يا په دې دوران کې شفيع بيّنه پېش کړي، نو په دواړو صورتونو کې د مشفوعه کور په څنګ والا کور کې د شفيع ملکيت ثابتيږي، او کله چې د شفيع ملکيت ثابتيږي نو جوار يعني همسايه والی يې هم ثابتيږي. لهذا اوس به قاضي له شفيع څخه مخ اړوي او له مشتري څخه به دا پوښتنه کوي چې تا دا مشفوعه کور رانيولی دی، که نه؟، که هغه ووايي چې هو!، نو صحيح ده، او که انکار وکړي چې ما نه دی رانيولی، نو په دې صورت کې به شفيع د رانيولو (شراء) د ثبوت لپاره بيّنه پېشوي، ځکه چې شفعه خو همغه وخت

ثابتيږي، کله چي دا معلومه سي چي کور خرڅ سوی دی، او د خرڅېدلو او رانيول کېدلو (بيع و شراء) علم په دلائلو سره کيږي، لهذا د شراء او بيع د ثابتولو لپاره به شفيع يو وار بيا کوښښ کوي.

که شفيع د کور پر شراء بيّنه پېش نه کړی سي نو قاضي به له مشتري څخه څنګه قسم اخلي؟

قَالَ: فَإِنْ عَجَزَعَنْهَا فرمايي: او که شفيع له بيّـنه پېشولو څخه عاجزه سي اِسْتَحْلَفَ الْمُشْتَرِيَ بِاللهِ مَا ابْتَاعَ نو قاضي به له مشتري څخه داسي قسم اخلي چي "په الله قسم! ده نه دی رانيولی" [يعني مشتري به وايي چي په الله قسم! ما دا کور نه دی رانيولی] أَوْ بِاللهِ مَا اسْتَحَقَّ عَلَيْهِ فِي هٰذِهِ الدَّارِ شُفْعَةً مِنَ الْوَجْهِ الَّذِي ذَكَرَهُ يا "په الله قسم! په دې کور کي شفيع پر ده [پر ما] په هغه توګه د شفعي مستحق نه دی کوم چي شفيع ذکر کړې ده" فَهٰذَا عَلَى الْحَاصِلِ نو دا پر حاصل قسم دی وَالْأَوَّلُ عَلَى السَّبَبِ او اول قسم پر سبب دی وَقَدِ اسْتَوْفَيْنَا الْكَلَامَ فِيهِ فِي الدَّعْوٰى وَذَكَرْنَا الِاخْتِلَافَ بِتَوْفِيْقِ اللهِ او په دې باره کي موږ په کتابُ الدعویٰ کي کلام په تفصيل سره بيان کړی دی او د الله ﷻ په توفيق سره مو اختلاف [هم] بيان کړی دی وَإِنَّمَا يُحَلِّفُهُ عَلَى الْبَتَاتِ لِأَنَّهُ اِسْتِحْلَافٌ عَلَى فِعْلِ نَفْسِهِ وَعَلَى مَا فِي يَدِهِ أَصَالَةً او قاضي به له مشتري څخه قطعي [حتمي] قسم په دې وجه اخلي ځکه چي دا د مشتري پر خپل فعل قسم اخيستل دي او پر هغه شي [قسم اخيستل دي] کوم چي د ده په قبضه کي دی [يعني کور] وَفِي مِثْلِهِ يُحَلَّفُ عَلَى الْبَتَاتِ او په داسي صورت کي قطعي قسم اخيستل کيږي.

اللغات: ﴿على البتات﴾ په قطعي او حتمي توګه (په يقيني توګه).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که مشتري د رانيولو انکار وکړي (چي ما کور نه دی رانيولی) نو په دې صورت کي پر شفيع دا ضروري ده چي د هغه پر رانيولو بيّـنه پېش کړي، لېکن که شفيع بيّـنه پېش نه کړی سي، نو بيا به قاضي له مشتري څخه قسم اخلي، او دا قسم به دوه ډوله وي، يا خو به مشتري د خپل نه رانيولو قسم اخلي (چي ما دا کور نه دی رانيولی)، يا به د شفيع د نه مستحق کېدلو قسم اخلي (چي شفيع د شفعي مستحق نه دی [حقِ شفعه نه لري]). که هغه د نه رانيولو قسم اخلي، نو دا حلف على السبب دی، يعني ګواکي مشتري په دې قسم سره د شفعي (د حقِ شفعه) سبب ختم کوي. او که مشتري د شفيع د نه استحقاق قسم اخلي، نو دا حلف على الحاصل دی، چي د هغه مطلب دا دی چي کور خو ما رانيولی دی لېکن د شفيع حقِ شفعه په هغه کي ثابت نه دی (په هغه کي د شفعي مستحق نه

دی)، دا حلف على الحاصل دی (ځکه د شفعي د طلب او دعوې کولو چې کوم حاصل دی پر هغه قسم اخيستل سوی دی).

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د حلف على السبب او حلف على الحاصل په هکله په کتابُ الدعوىٰ کې موږ تفصيلي بحث کړی دی، او هلته دا ذکر سوي دي چې د حلف على السبب او حلف على الحاصل فرق د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی، کنې امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دواړو صورتونو کې د حلف على السبب قائل دی:

وإنما يحلفه إلخ: مخکې ذکر سوه چې پر خپل ملکيت، خپل فعل او داسي نورو به على البتات (په قطعي توګه) قسم اخيستل کيږي چې دې ته حلف على البتات وايي، وي او د بل چا پر ملکيت او فعل به حلف على العلم اخيستل کيږي، او څرنګه چې دلته مشتري پر خپل فعل او خپل د قبضې پر شي قسم اخلي (چې دا زما په قبضه کې کور ما نه دی رانيولی)، نو ځکه دا قسم به حلف على البتات يعني حتمي او قطعي وي، حلف العلم به نه وي (چې په خدای قسم ما ته معلومه نه ده او داسي نور...).

پر شفيع د قاضي په مجلس کې ثمن حاضرول ضروري دي، که نه (د فقهاؤ قولونه)

قَالَ: وَتَجُوزُ الْمُنَازَعَةُ فِي الشُّفْعَةِ وَإِنْ لَمْ يُحْضِرِ الشَّفِيعُ الثَّمَنَ إِلَى مَجْلِسِ الْقَاضِي فرمايي: او د شفعي په باره کې منازعه [او دعوىٰ] جائز ده که څه هم شفيع د قاضي مجلس ته ثمن [د مشفوعه کور قيمت] حاضر کړی نه وي فَإِذَا قَضَى الْقَاضِي بِالشُّفْعَةِ [ليکن] کله چې قاضي د شفعي فيصله وکړي لَزِمَهُ إِحْضَارُ الثَّمَنِ نو بيا پر شفيع د ثمن حاضرول لازم دي وَهٰذَا ظَاهِرُ رِوَايَةِ الْأَصْلِ او دا د مبسوط ظاهر روايت دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ لَا يَقْضِي حَتَّى يُحْضِرَ الشَّفِيعُ الثَّمَنَ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چې قاضي به فيصله نه کوي تر څو چې شفيع ثمن حاضر نه کړي وَهُوَ رِوَايَةُ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حضرت حسن رَحِمَهُ الله روايت دی لِأَنَّ الشَّفِيعَ عَسَاهُ يَكُونُ مُفْلِسًا ځکه کيدای سي چې شفيع مفلسه وي فَيَتَوَقَّفُ الْقَضَاءُ عَلَى إِحْضَارِهِ حَتَّى لَا يَتْوَى مَالُ الْمُشْتَرِي نو ځکه د ثمن پر حاضرولو به [د قاضي] فيصله موقوفه [او منحصره] وي، تر څو د مشتري مال ضايع نه سي وَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّهُ لَا ثَمَنَ لَهُ عَلَيْهِ قَبْلَ الْقَضَاءِ د ظاهر روايت وجه دا ده چې [د قاضي] تر فيصلې مخکې د مشتري لپاره پر شفيع هيڅ ثمن نسته وَلِهٰذَا لَا يُشْتَرَطُ تَسْلِيمُهُ همدا

وجه ده چي [د قاضي تر فيصلې مخکې] دَ ثمن ورسپارل شرط نه دي فَكَذَا لَا يُشْتَرَطُ إِحْضَارُهُ نو همداسي به د هغه حاضرول هم شرط نه وي.

اللغات: ﴿إِحضار﴾ د افعال د باب مصدر دی: حاضرول، پېشول. ﴿لا يتوي﴾ د سمع له بابه د نفي صيغه ده: هلاکېدل، ضايع کېدل (بربادېدل).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي کله شفيع د قاضي مجلس ته د خپل حقِ شفعه په باره کي د منازعه او دعوىٰ کولو لپاره ولاړ سي. نو پر هغه د ثمن وړل ضروري دي، که نه (چي د ځان سره د مشفوعه کور ثمن او قيمت هم يووسي او د قاضي په مجلس کي د ثمن سره حاضر سي)، په دې باره کي دوه مذهبه دي:

اول مذهب دا دی چي د شفعي تر فيصله کېدلو مخکي پر شفيع د ثمن وړل ضروري نه دي (يعني تر څو چي قاضي د شفيع لپاره د حقِ شفعي فيصله کړې نه وي. تر هغه وخته پر شفيع د ثمن حاضرول لازم نه دي). خو تر فيصله کېدلو وروسته ثمن حاضرول ضروري دي، همدا د ظاهر روايت حکم دی.

دويم مذهب دا دی چي تر څو شفيع ثمن نه راوړي، تر هغه وخته به قاضي د شفعي فيصله نه کوي، دا له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه منقول دي او همدا د امام صاحب رَحِمَهُ الله يو روايت هم دی.

د دې حضراتو دليل دا دی چي کېداى سي شفيع مفلسه وي او محض مشتري ته د تکليف ورکولو لپاره يې له ثمن حاضرولو څخه بغير منازعه او دعوىٰ کړې وي، نو ځکه فقط د ثمن تر حاضرولو وروسته به د شفعي فيصله کيږي چي مشتري له ضرر او نقصان څخه خوندي سي؛ ځکه ښکاره خبره ده چي که د شفيع د مفلسى خبر د شفعي تر فيصله کېدلو وروسته حاصل سي، نو په دې صورت کي خو مشتري ته ضرر رسيږي چي د هغه د رانيول سوي کور فيصله به د شفيع لپاره وسي حال دا چي شفيع اوس ثمن نه اداء کوي نو د مشتري مصرف سوى مال به ضايع سي او هسي په انتظار کي به ناست وي.

د ظاهر روايت دليل دا دی چي د شفعي تر فيصلې مخکي مشتري ته بالکل دا حق نسته چي له شفيع څخه د ثمن مطالبه وکړي، ځکه تر اوسه پر شفيع ثمن لازم سوى نه دی، ثمن خو د شفعي تر فيصلې وروسته لازميږي (چي کله قاضي د شفيع لپاره د شفعي [مشفوعه کور] فيصله وکړي). همدا وجه ده چي د قاضي تر قضاء (فيصلې) مخکي پر شفيع دا لازم نه دي چي مشتري ته (د مشفوعه کور) ثمن وسپاري. نو کله چي تر قضاء مخکي د ثمن اداء کول او ورسپارل ضروري نه دي، نو قبل القضاء د ثمن راوړلو او حاضرولو ته څه ضرورت دی.

مشتري ته تر کومه وخته د مبيع راګرځولو (شفيع ته د نه ورسپارلو) اختيار سته

وَإِذَا قُضِيَ لَهُ بِالدَّارِ فَلِلْمُشْتَرِيْ أَنْ يَحْبِسَهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَ الثَّمَنَ او کله چي د شفيع لپاره د کور فيصله وسي نو مشتري ته دا اختيار سته چي د ثمن ترلاسه کولو [اخيستلو] پوري کور راوګرځوي وَيَنْفُذُ الْقَضَاءُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ أَيْضًا او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز فيصله هم نافذيږي لِأَنَّهٗ فَصْلٌ مُجْتَهَدٌ فِيْهِ ځکه چي دا مجتهد فيه [مختلف فيه] مسئله ده وَوَجَبَ عَلَيْهِ الثَّمَنُ او پر شفيع قيمت واجب سو فَيُحْبَسُ فِيْهِ نو ځکه د دې ثمن په وجه به کور راګرځول کيږي فَلَوْ أَخَّرَ أَدَاءَ الثَّمَنِ بَعْدَ مَا قَالَ لَهُ: اِدْفَعِ الثَّمَنَ إِلَيْهِ او که شفيع د ثمن اداء کول وځنډوي وروسته تر دې چي قاضي هغه ته ويلي وي: چي مشتري ته ثمن ورکړه [يعني قاضي تر فيصلې وروسته شفيع ته حکم وکړي چي د مشتري د کور قيمت اداء کړه، خو بيا هم شفيع تأخير وکړي] لَا تَبْطُلُ الشُّفْعَةُ نو [د شفيع] شفعه نه باطليږي لِأَنَّهَا تَأَكَّدَتْ بِالْخُصُوْمَةِ عِنْدَ الْقَاضِيْ ځکه چي د قاضي مخته په خصومت [او دعوىٰ] کولو سره شفعه مضبوطه سوې ده. [په بله وينا دا چي د قاضي په فيصله سره شفعه مضبوطه سوې ده].

اللغات: ﴿يحبس﴾ د ضرب د باب مضارع ده: د دغه باب اصل معنىٰ ده: منع کول، راګرځول (په خپل تبضه کي يو شی راګرځول). ﴿يستوفي﴾ د استفعال د باب مضارع ده: پوره اخيستل، ترلاسه کول. ﴿القضاء﴾ د قاضي فيصله. ﴿مجتهد فيه﴾ په کومه مسئله کي چي د فقهاؤ اختلاف وي او د دواړو طرفونو سره شرعي دلائل موجود وي او دا مسئله د قرآن، حديث او اجماع خلاف نه وي، نو دې ته مجتهد فيه مسئله وايي. ﴿تأكدت﴾ د تفعل له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي معلوم صيغه ده: مضبوطېدل، تينګېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله شفيع د قاضي په مجلس کي له ثمن حاضرولو څخه بغير منازعه وکړي او قاضي (د شفيع لپاره) د شفعي فيصله هم وکړي، نو اوس مشتري ته دا اختيار سته چي تر څو تهوله ثمن (له شفيع څخه) ترلاسه نه کړي، تر هغه وخته کور راوګرځوي او شفيع ته يې نه سپاري: ځکه کله چي هغه د ثمن په عوض کي کور رانيولی دی، نو له ثمن اخيستلو څخه بغير به يې هغه څنګه ورسپاري!.

وينفذ القضاء إلخ: دا د يو اشکال جواب دی. اشکال دا دی چي کله د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د ثمن تر حاضرولو مخکي ګرسره د شفعي قضاء (فيصله) صحيح نه ده، نو بيا مشتري ته د کور راګرځولو د

اختيار ور کولو څه مطلب دی؟، د دې په جواب کې فرمايي چې که څه هم امام محمد رَحِمَهُ الله د ثمن تر حاضرولو مخکې د عدمِ قضاء قائل دی، خو څرنګه چې دا مجتهد فيه (مختلف فيه) مسئله ده، نو ځکه که له ثمن حاضرولو څخه مخکې هم قاضي فيصله وکړي، نو د هغه فيصله به نافذيږي. او بيا تر فيصلې وروسته ثمن د شفيع پر ذمه واجبيږي (چې هغه به مشتري ته د مشفوعه کور ثمن ورکوي)، نو ځکه د ثمن ترلاسه کولو لپاره به مشتري د کور د راګرځولو اختيار (اختيارِ حبس) وي.

فلوأخر إلخ: يعني کله چې قاضي د شفعي تر فيصلې وروسته شفيع د ثمن په اداء کولو مکلف کړه (چې د مشتري ثمن ژر اداء کړه!)، خو بيا هم شفيع د ثمن په اداء کولو کې ځنډ او تأخير کوي، نو د دغه تأخير په وجه د هغه شفعه (حقِ شفعه) نه باطليږي، ځکه چې شفيع مخکې د قاضي په مجلس کې د مخاصمه او دعویٰ کولو په وجه خپل شفعه مضبوطه او ټينګه کړې ده، لهذا اوس د ثمن په ځنډلو سره د هغه پر دې مؤکده او مضبوطه شفعه (حقِ شفعه) هيڅ اثر نه پرېوځي.

شفيع د بائع سره کله مخاصمت او دعویٰ کولای سي

قَالَ: وَإِنْ أَحْضَرَ الشَّفِيعُ الْبَائِعَ وَالْمَبِيعُ فِي يَدِهِ فرمايي: او که شفيع بائع [د قاضي مخته] حاضر کړي او مبيع [کور] تر اوسه د بائع په قبضه کې وي فَلَهُ أَنْ يُخَاصِمَهُ فِي الشُّفْعَةِ نو شفيع ته دا اختيار سته چې د شفعي په هکله د بائع سره مخاصمه [او دعویٰ] وکړي لِأَنَّ الْيَدَ لَهُ ځکه چې قبضه د بائع ده [يعني مبيع کور د هغه په قبضه کې دی] وَهِيَ يَدٌ مُسْتَحَقَّةٌ او دا معتبره قبضه ده وَلَا يَسْمَعُ الْقَاضِي الْبَيِّنَةَ حَتَّى يَحْضُرَ الْمُشْتَرِي او قاضي به بيّنه نه اوري تر دې چې مشتري حاضر سي فَيَفْسَخُ الْبَيْعَ بِمَشْهَدٍ مِنْهُ نو [د مشتري تر حاضرېدلو وروسته] به قاضي د هغه په موجوديت کې بيع فسخ کوي وَيَقْضِي بِالشُّفْعَةِ عَلَى الْبَائِعِ وَيَجْعَلَ الْعُهْدَةَ عَلَيْهِ او پر بائع به د شفعي فيصله کوي او ذمه واري به هغه ته سپاري لِأَنَّ الْمِلْكَ لِلْمُشْتَرِي وَالْيَدَ لِلْبَائِعِ ځکه چې ملکيت د مشتري دی او قبضه د بائع ده وَالْقَاضِي يَقْضِي بِهِمَا لِلشَّفِيعِ او قاضي د شفيع لپاره د دې دواړو شيانو فيصله کوي فَلَا بُدَّ مِنْ حُضُورِهِمَا نو ځکه د بائع او مشتري دواړو حاضري ضروري ده.

اللغات: ﴿اليد﴾ لاس. مراد: قبضه. ﴿مشهد﴾ د سمع له بابه مصدرِ ميمي دی: موجوديت (موجودګي)، حاضري. ﴿العهدة﴾ ذمه واري.

تشريح: مخکې د شفيع او مشتري ترمينځ د مخاصمه او دعوې بيان وو، اوس له دې ځايه دا رابنيي چې که شفيع تر بيع (يعني د کور تر خرڅولو) وروسته بائع (خرڅونکی) د قاضي مخته پيش کړي او مبيع (کور) تر اوسه د بائع په قبضه کې وي، مشتري ته يې نه وي سپارلی، نو په دې صورت کې شفيع ته دا حق سته چې د خپل شفعې (حقِ شفعه) په هکله د بائع سره مخاصمه او منازعه وکړي؛ ځکه چې شفعه په مبيع (کور) کې ثابتيږي او اوس پر مبيع د بائع قبضه ده، او قبضه چې د چا وي، هغه مدعیٰ عليه او مخاصم وي، نو ځکه په دې پورتني صورت کې به هم شفيع د بائع سره مخاصمه کوي.

ولا يسمع إلخ: حاصل يې دا دی چې په دې مسئله کې که څه هم شفيع به د بائع سره مخاصمه کوي، لېکن څرنګه چې د رانيولو په وجه د مبيع (کور) سره د مشتري حق متعلق سوی دی، نو ځکه د مشتري له حاضروالي او موجوديت څخه مخکې به قاضي بيّنه (ګواهي) او داسې نور نه اوري او نه قبلوي (ځکه د مشتري او بائع دواړو حاضري ضروري ده)، او کله چې مشتري حاضر سي، نو بيا به قاضي د هغه په مخ کې بيع فسخ کوي او پر هغه به د شفعې فيصله کوي، او د شفعې سره اړوند ذمه واري به هم د بائع په غاړه ور کوي مثلاً که تر فيصلې وروسته په مبيع کې د چا استحقاق ثابت سي (يعني بل څوک دعویٰ وکړي چې دا کور يا په دې کور کې څه حصه زما ده او خپل استحقاق ثابت کړي)، نو د هغه ضمان او تاوان به بائع ور کوي.

لأن الملك إلخ: په دې سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د دې خبري علت او دليل بيانوي چې د مشتري سره د بائع موجوديت هم ضروري دی (چې دواړه به موجود او حاضر وي)، علت يې دا دی چې کله مشتري له بائع څخه کور رانيوی، نو په هغه کې د مشتري ملکيت ثابت سو، او څرنګه چې تر اوسه مبيع (کور) د بائع په قبضه کې دی، نو پر هغه د بائع قبضه هم ثابته ده، نو د يوه لپاره ملکيت ثابت دی او د بل لپاره قبضه (په بله وينا دا چې مشتري د کور مالک دی او بائع د قبضې مالک دی)، او قاضي دا دواړه شيان شفيع ته سپاري، نو ځکه د دې دواړو شيانو د مالکانو (بائع او مشتري) موجوديت او حاضري هم ضروري ده، کنې که د يوه په ناموجوديت کې فيصله وسي، نو قضاء علی الغائب به لازم سي، او قضاء علی الغائب صحيح نه ده، نو ځکه په پورتنی مسئله کې د بائع او مشتري دواړو حاضري او موجودګي ضروري ده.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتِ الدَّارُ قَدْ قُبِضَتْ په خلاف د هغه صورت کله چې پر کور [د مشتري] قبضه سوې وي حَيْثُ لَا يُعْتَبَرُ حُضُورُ الْبَائِعِ نو په دې صورت کې د بائع حاضرېدلو لره اعتبار [او ضرورت] نسته لِأَنَّهُ صَارَ أَجْنَبِيًّا ځکه چې [اوس] هغه اجنبي وګرځېدی إِذْ لَا يَبْقَى لَهُ يَدٌ وَلَا مِلْكٌ ځکه نه د هغه قبضه باقي پاته سوه او نه د هغه د ملکيت باقي پاته سو وَقَوْلُهُ "فَيَفْسَخُ الْبَيْعَ بِمَشْهَدٍ مِنْهُ" إِشَارَةٌ إِلَى عِلَّةٍ أُخْرَى او د ماتن [امام قدوري رَحِمَهُ الله] دا قول "چې قاضي به د مشتري په موجوديت کې بيع فسخ کوي" د يو بل علت وطرف ته اشاره ده وَهِيَ أَنَّ الْبَيْعَ فِي حَقِّ الْمُشْتَرِي إِذَا كَانَ يَنْفَسِخُ لَا بُدَّ مِنْ حُضُورِهِ لِيَقْضِيَ بِالْفَسْخِ عَلَيْهِ او هغه دا چې کله [دلته] بيع د مشتري په حق کې فسخ کيږي نو په دې وجه [هم] د هغه حاضري [او موجوديت] ضروري دی چې قاضي پر هغه د فسخ فيصله وکړي.

اللغات: ﴿أجنبي﴾ پردی، کوم چې د عقد (شفعي) سره هيڅ علاقه نه لري. ﴿فيفسخ﴾ د فتح له بابه مضارع ده: فسخ کول، ماتول (ختمول). ﴿ينفسخ﴾ د انفعال د باب مضارع ده: فسخ کېدل، ماتېدل.

تشريح: په مخکنۍ مسئله کې د مشتري سره د بائع (يعني د دوارو) موجوديت او حاضري ځکه ضروري وه چې د بائع قبضه باقي پاته وه، لېکن کله چې بائع مشتري ته کور وسپاری او قبضه يې ختمه سوه، نو اوس د بائع حاضرېدل هيڅ معنیٰ نه لري؛ ځکه چې د هغه ملکيت خو مخکي لا ختم سوی دی، او د قبضې په ختمېدلو سره هغه د اجنبي په څير وګرځېدی او د اجنبي موجوديت لره هيڅ اعتبار نه وي (... برابره ده اجنبي کس موجود وي او که نه وي. قاضي خپله فيصله کوي)، نو ځکه د قبضې تر ختمېدلو وروسته به د بائع موجوديت او حاضري لره هم هيڅ حيثيت او اعتبار نه وي.

وقوله فيفسخ إلخ: په دې سره دا رابښيي چې په مخکنۍ مسئله کې د مشتري د موجوديت او حاضرېدلو (چې مشتري به هم حاضر وي) دوه علته دي. اول خو همغه علت دی چې په دې کور کې د هغه ملکيت ثابت دی، او بل دويم علت دا چې د مشتري په حق کې بيع ثابته سوې ده او د شفعي د فيصلې پر مهلل قاضي د مشتري په حق کې بيع فسخ کوي او شفعه پکښې لازموي. ګواکي قاضي د هغه ثابت شُده حق ختموي، نو ځکه په دې وجه هم د هغه موجوديت ضروري دی. د دې لپاره چې قضاء على الغائب لازم نه سي.

د مشتري په حق کي د بيع فسخ کېدلو مطلب

ثُمَّ وَجْهُ هٰذَا الْفَسْخِ الْمَذْكُورِ أَنْ يَنْفَسِخَ فِي حَقِّ الْإِضَافَةِ بيا د دغه ذکر سوي فسخ وجه دا ده چي بيع [د مشتري وطرف ته] د اضافت په حق کي فسخ سي لِامْتِنَاعِ قَبْضِ الْمُشْتَرِي بِالْأَخْذِ بِالشُّفْعَةِ په شفعه سره د اخيستلو پر بنياد د مشتري د قبضي د منع کېدلو په وجه [يعني ځکه چي د شفعي په ذريعه د اخيستلو په وجه د مشتري قبضه باقي پاتېدل ممتنع دي] وَهُوَ يُوجِبُ الْفَسْخَ او دا [د مشتري د قبضې ممتنع کېدل] فسخ واجبوي إِلَّا أَنَّهُ يَبْقَى أَصْلُ الْبَيْعِ خو اصل بيع باقي پاتيږي لِتَعَذُّرِ انْفِسَاخِهِ ځکه د هغه فسخ کېدل نا ممکن دي لِأَنَّ الشُّفْعَةَ بِنَاءٌ عَلَيْهِ ځکه چي شفع پر هغه [بيع] مبني ده [يعني د همدې بيع پر بنياد شفعه حاصليږي] وَلٰكِنَّهُ تَتَحَوَّلُ الصَّفْقَةُ إِلَيْهِ لېکن د بيع معامه د شفيع وطرف ته منتقل کيږي وَيَصِيرُ كَأَنَّهُ هُوَ الْمُشْتَرِي مِنْهُ او شفيع په خپله داسي ګرځي لکه مشتري له بائع څخه [يعني لکه شفيع چي په خپله دا کور له مشتري څخه رانيولی وي] فَلِهٰذَا يَرْجِعُ بِالْعُهْدَةِ عَلَى الْبَائِعِ په همدې وجه ذمه واري بائع ته راجع کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا قَبَضَهُ الْمُشْتَرِي په خلاف د هغه صورت کله چي مشتري پر مبيع قبضه کړې وي فَأَخَذَهُ مِنْ يَدِهِ نو [په دې صورت کي] به شفيع مبيع د مشتري له قبضې څخه اخلي حَيْثُ تَكُونُ الْعُهْدَةُ عَلَيْهِ په دې حيثيت سره چي [د شفعي] ذمه واري پر مشتري ده لِأَنَّهُ تَمَّ مِلْكُهُ بِالْقَبْضِ ځکه چي د قبضه کولو په وجه د مشتري ملکيت پوره سو وَفِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ امْتَنَعَ قَبْضُ الْمُشْتَرِي او په اول صورت کي د مشتري قبضه ممتنع [او نا ممکنه] وه وَأَنَّهُ يُوجِبُ الْفَسْخَ او همدا شی فسخ ثابتوي وَقَدْ طَوَّلْنَا الْكَلَامَ فِيهِ فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي بِتَوْفِيقِ اللهِ تَعَالَى او موږ په توفيق الهي سره په دې هکله په کفاية المنتهي کي تفصيلي خبره کړې ده.

اللغات: ﴿امتناع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: منع کېدل، نا ممکن کېدل (متعذر کېدل). ﴿تعذُّر﴾ د تفعل د باب مصدر دی: مشکل کېدل، نا ممکن کېدل. ﴿تتحول﴾ د تفعل د باب مضارع ده: بدلېدل (اوښتل)، منتقل کېدل (نقلېدل). ﴿صفقه﴾ معامله، عقد. ﴿ينفسخ فی حق الاضافة﴾ د اضافت (نسبت) په حق کي بيع ماتيږي، يعني د مشتري وطرف ته چي کوم د بيع نسبت وو، هغه ماتيږي او د

شفيع وطرف ته کيږي يعني شفيع مشتري ګرځي. لکنه تتحول الصفقة إليه: صفقه يعني د بيع معامله د مشتري له طرفه د شفيع وطرف ته منتقل کيږي.

تشريح: له دې ځايه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د بيع د فسخ کېدلو علت او د هغه صورت بيانوي، چې په مبيع (کور) کي د شفيع د حق ثابتېدلو او د مشتري په حق کي د بيع د فسخ کېدلو مطلب دا دی چې د اضافت او نسبت په حق کي بيع فسخ کيږي، اصل بيع نه فسخ کيږي، ځکه چې د شفعې د ثابتېدلو مدار پر همدې بيع دی، لنډه دا چې بيع د نسبت په حق کي فسخ کيږي يعني مخکي چې کومه بيع د مشتري وطرف ته منسوبه وه، اوس هغه د شفيع وطرف ته منسوبه کيږي، يا داسي ووايه! چې مخکي مشتري رانيونکی (خريدار) وو، او اوس شفيع رانيونکی سو؛ (او په دې ډول د بيع د فسخ کېدلو وجه دا ده چې کله شفيع دا کور په حق شفعه سره اخلي، نو بيا د مشتري قبضه ممنوع سوه او د مشتري په حق کي د بيع غرض پوره نه سو (په بله وينا دا چې د مشتري د رانيولو غرض پوره نه سوه چې هغه له کور څخه نفع واخلي)، لهذا کله چې دا غرض پوره نه سو، نو ځکه د مشتري په حق کي بيع فسخ کړی سوه).

إلا أنه يبقى إلخ: په دې سره هغه مخکنۍ خبره رابنيي (کوم چې موږ څه مخکي ذکر کړه) چې بيع صرف د مشتري په حق کي فسخ کيږي، اصل عقد او بيع نه فسخ کيږي؛ ځکه چې د شفعې د ثبوت مدار پر بيع دی، لهذا کله چې ګرسره اصل بيع ختم سي، نو شفعه به څنګه ثابته سي، نو ځکه اصل بيع ثابته او و باقي ومنل سوه او د بيع معامله (صفقه) د شفيع وطرف ته منتقل کړی سوه او په خپله شفيع مشتري وګرځول سو (لکه هغه چې دا کور له بائع څخه رانيولی دی)، او د همدې اصل بيع د پاتېدلو او انتقالِ صفقه په وجه د بيع ذمه واريانې اوس هم د بائع پر ذمه دي، کنې دا که چيري نوې بيع وای او اصل بيع فسخ کېدای، نو د بيع ذمه واريانې به د مشتري وطرف ته راجع کېدای.

بخلاف ما إذا إلخ: په دې سره دا رابنيي چې مذکوره تفصيل هغه وخت دی کله چې مبيع (کور) د بائع په قبضه کي وي، خو کله چې مشتري پر مبيع (کور) قبضه وکړي، نو بيا به شفيع له مشتري څخه مبيع اخلي؛ ځکه د مشتري ملکيت خو له مخکي څخه ثابت وو، تر قبضې وروسته هغه مکمل سو. لهذا د بيع ټولي ذمه وارۍ به اوس د هغه وطرف ته راجع کيږي، نو د شفعې په هکله به هم اوس د هغه سره خبري کيږي. او څرنګه چې په اول صورت کي مبيع (کور) د بائع په قبضه کي ؤ او د مشتري قبضه او تصرف په هغه کي ناممکن وو، نو ځکه هلته د هغه په حق کي بيع فسخ کړی سوې وه. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې باره کي موږ په کفاية المنتهي کي پوره تفصيل بيان کړی دی.

د وکالت په ذريعه د خرڅېدونکي ځای د شفعي بيان

قَالَ: وَمَنِ اشْتَرٰى دَارًا لِغَيْرِهٖ فرمايي: او څوک چي د بل چا لپاره کور رانيسي فَهُوَ الْخَصْمُ لِلشَّفِيْعِ نو دا رانيونکی [مشتري] د شفيع خصم [مدعیٰ عليه] دی لِأَنَّهٗ هُوَ الْعَاقِدُ ځکه چي همدا دئ عقد کونکی دی وَالْأَخْذُ بِالشُّفْعَةِ مِنْ حُقُوْقِ الْعَقْدِ او د شفعي په ذريعه اخيستل د عقد له حقوقو څخه دي فَيَتَوَجَّهُ عَلَيْهِ نو دا حق به همدې مشتري ته متوجه کيږي قَالَ: إِلَّا أَنْ يُسَلِّمَهَا إِلَى الْمُوَكِّلِ فرمايي: مگر دا چي مشتري هغه کور مؤکل ته وسپاري لِأَنَّهٗ لَمْ يَبْقَ لَهٗ يَدٌ وَلَا مِلْكٌ ځکه چي [په دې صورت کي] نه د مشتري قبضه پاته سوه او نه د مشتري ملکيت فَيَكُوْنُ الْخَصْمُ هُوَ الْمُوَكِّلُ نو ځکه [اوس] به خصم مؤکل وي وَهٰذَا لِأَنَّ الْوَكِيْلَ كَالْبَائِعِ مِنَ الْمُوَكِّلِ او دا ځکه چي وکيل داسي دی لکه پر مؤکل خرڅونکی [يعني وکيل د مؤکل لپاره د بائع په درجه کي دی گواکي وکيل پر مؤکل دا مبيع خرڅوي] عَلٰى مَا عُرِفَ لکه څرنگه چي معلومه سوې ده فَتَسْلِيْمُهٗ إِلَيْهِ كَتَسْلِيْمِ الْبَائِعِ إِلَى الْمُشْتَرِيْ نو د وکيل [له طرفه د مبيع] سپارل و مؤکل ته داسي دي لکه سپارل د بائع و مشتري ته فَتَصِيْرُ الْخُصُوْمَةُ مَعَهٗ نو ځکه [اوس] به خصومت [او دعویٰ] د مؤکل سره وي إِلَّا أَنَّهٗ مَعَ ذٰلِكَ قَائِمٌ مَقَامَ الْمُوَكِّلِ ليکن دلته وکيل د مؤکل قائم مقام [نائب] دی فَيَكْتَفِيْ بِحُضُوْرِهٖ فِي الْخُصُوْمَةِ قَبْلَ التَّسْلِيْمِ نو ځکه [د مبيع] تر سپارلو مخکي به په خصومت کي د همدې وکيل پر موجوديت اکتفاء کيږي وَكَذَا إِذَا كَانَ الْبَائِعُ وَكِيْلَ الْغَائِبِ او همدارنگه کله چي بائع د يو غائب کس وکيل وي فَلِلشَّفِيْعِ أَنْ يَأْخُذَهَا مِنْهُ إِذَا كَانَتْ فِيْ يَدِهٖ نو شفيع لپاره دا اختيار سته چي [مشفوعه] کور له ده څخه واخلي کله چي کور د ده په قبضه کي وي لِأَنَّهٗ عَاقِدٌ ځکه چي دئ [بائع] عقد کونکی دی وَكَذَا إِذَا كَانَ الْبَائِعُ وَصِيًّا فِيْمَا يَجُوْزُ بَيْعُهٗ لِمَيِّتٍ او همدارنگه کله چي بائع د يو مړي وصي وي، په هغه شيانو کي چيري چي [د وصي] بيع صحيح وي [نو شفيع به د بائع سره خصومت او دعویٰ کوي] لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿خصم﴾ د جنگ او دعوې يو فريق، يعني مدعي يا مدعیٰ عليه. ﴿عاقد﴾ د ضرب د باب اسم فاعل دی: معامله کونکی. ﴿وصي﴾ چا ته چي مړي وصيت کړی وي (هغه کس چي مړي يو کار ورته سپارلی وي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که ديو سړي له طرفه يو څوک وکيل جوړ سي او د هغه لپاره کور رانيسي، نو په دې صورت کي کوم يو د شفيع خصم کيږي يعني شفيع به د خپل حقِ شفعه لپاره د کوم يوه سره مخاصمه او دعویٰ کوي، د دې دوه صورتونه دي: (۱) که وکيل و مؤکل سړي ته مبيع (کور) سپارلی نه وي، نو په دې صورت کي به شفيع د وکيل سره مخاصمه کوي، ځکه چې همدا وکيل عاقد دی او په عقدِ بيع کي حقوق د عاقد وطرف ته راجع کيږي، او د شفعي طلب او دعویٰ کول دا هم يو حق دی، نو ځکه په دې صورت کي به شفيع د عاقد يعني د وکيل سره مخاصمه کوي.
(۲) دويم صورت دا دی چې وکيل کور و مؤکل ته سپارلی وي، نو په دې صورت کي به شفيع د مؤکل سره مخاصمه کوي، نه د وکيل سره، ځکه چې د وکيل ملکيت خو ګرسره سته نه (ځکه د رانيول سوي کور مالک خو مؤکل دی)، د وکيل لپاره صرف قبضه ده. او د مبيع (کور) په ورسپارلو سره هغه قبضه هم ختمه سوه، نو ځکه اوس مخاصمه او دعویٰ صرف د مؤکل سره کېدای سي، د وکيل سره به نه کيږي.

وهذا إلخ: په دې سره د پورتني خبري وجه او وضاحت بيانوي يعني دا خبره چې د مبيع تر سپارلو مخکي (قبل التسليم) به مخاصمه د وکيل سره کيږي او تر سپارلو وروسته به د مؤکل سره کيږي، د دې وجه دا ده چې وکيل او مؤکل د بائع او مشتري په څېر دئ، او د بائع او مشتري په مسئله کي مخاصمه تر سپارلو مخکي د بائع سره کيږي او تر سپارلو وروسته د مشتري سره کيږي، نو د وکيل او مؤکل په مسئله کي به هم حکم د بائع او مشتري د حکم په څېر وي چې د وکيل تر ورسپارلو مخکي به مخاصمه د وکيل سره او تر سپارلو وروسته به د مؤکل سره کيږي.

إلا أنه إلخ: دا ديو مقدر اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چې کله وکيل او مؤکل د بائع او مشتري په درجه کي دي، نو د بائع او مشتري په مسئله کي خو د شفعي حاصلولو لپاره د مبيع (کور) تر سپارلو مخکي د خصومت لپاره د بائع او مشتري دواړو حاضرېدل ضروري وه، نو بيا د وکيل او مؤکل په مسئله کي د مبيع تر سپارلو مخکي د شفعي د حاصلولو لپاره صرف د وکيل په موجوديت کي ولي مخاصمه صحيح ده؟ دلته د وکيل او مؤکل دواړو موجوديت او حاضري ولي ضروري نه ده؟.
د جواب حاصل دا دی چې د وکالت مسئله پر بيع قياسول صحيح نه دي، بلکي په دواړو کي فرق دی، هغه دا چې په وکالت کي وکيل د مؤکل نائب وي (مؤکل يې اصل وي) او د نائب په موجوديت کي اصل لره ضرورت نه وي، نو په دې وجه د وکالت په مسئله کي صرف د وکيل په موجوديت کي هم د شفعي مخاصمه او دعویٰ صحيح ده. پاته سوه د بيع مسئله، نو په هغه کي خو

بائع د مشتري له طرفه نائب نه وي، نو په همدې وجه د بائع سره سره د مشتري حاضري هم ضروري ده او تنها د بائع په موجوديت کې مخاصمه نه کیږي.

وکذا إلخ: په دې سره دا راښيي چې څرنګه چې د وکيل د مشتري کېدلو په صورت کې تر سپارلو مخکې د وکيل سره مخاصمه کيږي، همداسي که وکيل د يو غائب کس له طرفه بائع وي، نو په دې صورت کې به هم د وکيل سره مخاصمه کيږي، يا که بائع د يو مړسوي کس له طرفه وصي وي، نو هم به د هغه سره مخاصمه کيږي، ځکه چې په هر صورت کې همدا وکيل عاقد دی او د بيع حقوق د عاقد وطرف ته راجع کيږي، نو ځکه په دې صورتونو کې به هم د همدې وکيل (عاقد) سره مخاصمه کيږي.

فيما يجوز بيعه إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د مړي د وصي تصرّفات محدود او متعيّن کړي دي، فرمايي چې د مړي د وصي تصرف په همغه شيانو کې صحيح کيږي، چې هلته غبنِ فاحش نه وي، يا هغه وخت صحيح کيږي، کله چې وارثان کوچنيان او غير عاقلين وي. ليکن که دا وصي په غبنِ فاحش کې تصرّف کوي (مثلاً د لسو لکو کور په پنځه لکه خرڅوي)، يا د مړي وارثان عاقلان سوي وي او په دې وخت کې هغه تصرف کوي، نو تصرّف يې نه صحيح کيږي، په اول صورت کې د نه صحيح کېدلو وجه ښکاره ده چې په غبنِ فاحش سره وارثانو ته ضرر رسيږي، او په دويم صورت کې د نه صحت وجه دا ده چې کله وارثان په خپله د عقل او پوهي حدّ ته رسېدلي دي او دوی د ښه او بد تميز کولای سي، نو په خپله همدوی د خپل منفعت او ضرر مالکان دي او اوس دوی د بل چا له تصرّف څخه بې پروا سوي دي، نو ځکه د بل چا تصرّف نه صحيح کيږي.

په شفعه کي د خيارِ عيب او خيارِ رؤيت مسئله

قَالَ: وَإِذَا قُضِيَ لِلشَّفِيْعِ بِالدَّارِ وَلَمْ يَكُنْ رَآهَا او کله چې د شفيع لپاره د کور فيصله وسي حال دا چې ده کور ليدلی نه وي فَلَهُ خِيَارُ الرُّؤْيَةِ نو د هغه لپاره خيارِ رؤيت سته [يعني په دې صورت کي شفيع ته خيارِ رؤيت حاصليږي] وَإِنْ وَجَدَ بِهَا عَيْبًا فَلَهُ أَنْ يَرُدَّهَا [همدارنګه] که شفيع په کور کي يو عيب ومومي، نو هغه ته دا اختيار سته چي کور واپس کړي [يعني شفيع ته خيارِ عيب هم حاصليږي] وَإِنْ كَانَ الْمُشْتَرِيْ شَرَطَ الْبَرَاءَةَ مِنْهُ که څه هم مشتري له عيب څخه د بري کېدلو شرط لګولی وي لِأَنَّ الْأَخْذَ بِالشُّفْعَةِ بِمَنْزِلَةِ الشِّرَاءِ ځکه چي د شفعي په ذريعه اخيستل د رانيولو په درجه کي دي أَلَا يَرَى أَنَّهُ مُبَادَلَةُ الْمَالِ بِالْمَالِ آيا نه ګوري چي دا مبادلة المال بالمال ده فَيَثْبُتُ فِيْهِ الْخِيَارَانِ كَمَا فِي

الشِّرَاءِ نو ځکه په دې کې به خیار [خیارِ رؤیت او خیارِ عیب] ثابتیږي لکه څرنګه چې په رانیولو کې ثابتیږي وَلَا يَسْقُطُ بِشَرْطِ الْبَرَاءَةِ مِنَ الْمُشْتَرِي وَلَا بِرُؤْيَتِهِ لِأَنَّهُ لَيْسَ بِنَائِبٍ عَنْهُ او د مشتري له طرفه د برئ کېدلو په شرط لګولو سره دا خیار نه ساقطیږي او نه د هغه په رؤیت سره [ساقطیږي. دا] ځکه چې مشتري د شفیع نائب نه دی فَلَا يَمْلِكُ إِسْقَاطَهُ نو ځکه هغه د شرط ساقطولو ملکیت نه لري.

اللغات: ﴿إسقاط﴾ د افعال د باب مصدر دی: ساقطول، غورځول.

تشریح: دلته صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د شفیع لپاره خیارِ عیب او خیارِ رؤیت ثابت کړی دی، حاصل د عبارت دا دی چې څرنګه مشتري (رانیونکي) ته خیارِ عیب او خیارِ رؤیت حاصلیږي کله چې هغه تر رانیولو وروسته په شي کې عیب ویني یا شی د لیدلو څخه بغیر رانیسي (چې تفصیل یې په کتابُ البیوع کې تېر شوی دی)، خاص همداسې که شفیع د لیدلو څخه بغیر د شفعې په توګه کور رانیسي نو هغه ته خیارِ رؤیت حاصلیږي، همدارنګه که په مبیع (کور) کې عیب ویني، نو هغه ته خیارِ عیب (د عیب په وجه د واپس کولو اختیار) هم حاصلیږي، که څه هم مشتري له عیب څخه د برئ کېدلو (برائت من العیب) شرط لګولی وي (چې که په کور کې عیب بنکاره سو، نو زه له هغه څخه خلاص او برئ یم)؛ ځکه د شفعې په توګه مبیع اخیستل داسې دي لکه رانیول، او بل دا چې په دې کې د رانیولو (شراء) په څېر مبادلة المال بالمال هم سته، لهذا څرنګه چې د لیدلو څخه بغیر د رانیولو (شراء) په صورت کې مشتري ته خیارِ رؤیت او خیارِ عیب حاصلیږي، نو همداسې به په شفعه کې شفیع ته هم دغه دواړه خیارونه (اختیارونه) حاصلیږي.

ولا یسقط بشرط البرائة إلخ: فرمايي چې دا وهم دې نه کیږي چې د مشتري له طرفه د برائت من العیب په شرط لګولو سره (چې زه له عیب څخه خلاص او بري یم) یا د رؤیت په اقرار کولو سره (چې ما مبیع کور لیدلی دی، په دې سره) د شفیع په حق کې خیار ساقطیږي، په دې سره بالکل خیار نه ساقطیږي، ځکه خیار خو هلته ساقطیږي، چیرې چې د برائت شرط لګونکی یا د مبیع لیدونکی کس د بل چا نائب او قائم مقام وي، او په مذکوره صورت کې مشتري نه د شفیع نائب دی او نه د هغه قائم مقام دی، نو ځکه د هغه د برائت په شرط یا د هغه په رؤیت سره د شفیع پر خیارِ عیب او خیارِ رؤیت هیڅ اثر نه پرېوځي.



فَصْلٌ فِي الْاِخْتِلَافِ

(دا) فصل (د مشتري او شفیع تر مینځ) د اختلاف په بیان کي دی

که د شفیع او مشتري تر مینځ په ثمن کي اختلاف راسي، نو د چا قول معتبر دی؟

قَالَ: وَإِنِ اخْتَلَفَ الشَّفِيعُ وَالْمُشْتَرِي فِي الثَّمَنِ فرمایي: که شفیع او مشتري د ثمن په هکله اختلاف وکړي فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِيْ نو قول د مشتري معتبر دی لِأَنَّ الشَّفِيعَ يَدَّعِي اسْتِحْقَاقَ الدَّارِ عَلَيْهِ عِنْدَ نَقْدِ الْأَقَلِّ ځکه چي شفیع د کم ثمن اداء کولو په وخت کي پر مشتري د کور د مستحق کېدلو دعویٰ کوي وَهُوَيُنْكِرُ او مشتري د دې انکار کوي وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُنْكِرِ مَعَ يَمِينِهِ او قول د منکر معتبر وي د قسم سره [یعني خبره د منکر منل کیږي د قسم سره] وَلَا يَتَحَالَفَانِ او دواړه به قسم نه اخلي لِأَنَّ الشَّفِيعَ إِنْ كَانَ يَدَّعِي عَلَيْهِ اسْتِحْقَاقَ الدَّارِ ځکه که شفیع که څه هم پر مشتري د کور د استحقاق دعویٰ کوي فَالْمُشْتَرِي لَا يَدَّعِيْ عَلَيْهِ شَيْئًا لېکن مشتري خو پر شفیع د هیڅ شي دعویٰ نه کوي لِتَخَيُّرِهِ بَيْنَ التَّرْكِ وَالْأَخْذِ ځکه چي شفیع ته د پرېښوولو او اخیستلو تر مینځ اختیار دی وَلَا نَصَّ هٰهُنَا او دلته [د دواړو د قسم اخیستلو په هکله] هیڅ نصّ هم نسته فَلَا يَتَحَالَفَانِ نو ځکه دواړه به قسم نه اخلي.

اللغات: ﴿یدّعي﴾ د افتعال د باب مضارع ده: دعویٰ کول. ﴿تَخَیُّر﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: اختیار من کېدل، اختیار لرل. ﴿نصّ﴾ صریحي دلیل (مراد ځني قرآن او حدیث وي).

تشریح: تر اوسه د شفعي د متفق علیها مسائلو بیان وو، اوس له دې ځایه مختلف فیها مسائل شروع کیږي (چي په هغه کي شفیع او دلسي نور سره متفق نه وي بلکي اختلاف یې وي). فرمایي چي که شفیع او مشتري د ثمن په مقدار کي اختلاف وکړي مثلاً مشتري وایي چي ما دا (مشفوعه) کور په دوه زره درهمه رانیولی دی او شفیع وایي چي نه! تا په زر درهمه رانیولی دی، او د شفیع سره ګواه نه وي، نو

په دې صورت کې د مشتري قول معتبر دی خو د قسم سره؛ ځکه چې شفيع پر مشتري په کم قيمت سره د کور د استحقاق دعویٰ کوي (چې زه په زر درهمه د دې کور مستحق سوی يم [يعني ما ته دې په زر درهمه راکړی دی])، او مشتري د دې انکار کوي، او تاسو ته دا قاعده معلومه ده "البَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِيْ وَالْيَمِيْنُ عَلٰى مَنْ أَنْكَرَ" چې که مدعي بيّنه پېش نه کړی سي (د ګواه له پېشولو څخه عاجزه سي)، نو بيا د مدعیٰ عليه (منکر) قول مع اليمين معتبر دی، نو ځکه په دې مسئله کې به هم شفيع کوم چې مدعی دی که بيّنه پېش نه کړي، نو د مدعیٰ عليه يعني د مشتري قول به مع اليمين معتبر وي.

ولا يتحالفان إلخ: دا د يو مقدر اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چې کله په شفيع او مشتري (دواړو) کې د يوه سره ګواه نسته، نو څرنګه چې د مشتري قول د قسم سره معتبر منل کيږي، همداسې دې د شفيع قول هم د قسم سره معتبر کړی سي، ځکه که پر داسې موقع د بائع او مشتري تر مينځ اختلاف وي او د يوه سره هم بيّنه نه وي، نو له دواړو څخه قسم اخيستل کيږي، او تاسو مخکې شفيع او مشتري د بائع او مشتري په څېر منلي دي (چې دوی داسې دي لکه بائع او مشتري)، نو ځکه دلته هم له دواړو څخه قسم اخيستل پکار دي.

د دې جواب يې دا ورکړی دی چې د بائع او مشتري والا په مسئله کې له دواړو څخه قسم ځکه اخيستل کيږي چې هلته د دواړو انکار وي (دواړه منکر وي)، او له دواړو څخه د قسم اخيستلو په هکله چې کوم نص (حديث) دی، هغه هم د هغه موقع په هکله دی کله چې دواړه منکر وي، په حديث شريف کې دي "إِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَبَايِعَانِ وَالسِّلْعَةُ قَائِمَةٌ بِعَيْنِهَا تَحَالَفَا وَتَرَادَّا"، او پاته سو په پورتنۍ مسئله کې خو نه څه نص سته او نه د دواړو له طرف انکار سته؛ ځکه چې صرف مشتري منکر دی، او شفيع خو د کم (أقل) قيمت مدعي دی، لهذا دا مسئله د بائع او مشتري والا پر مسئله قياسول او دلته هم له دواړو څخه قسم اخيستل صحيح نه دي.

او بل دا چې دلته شفيع ته دا اخيستلو او نه اخيستلو اختيار سته (چې که زړه يې غواړي نو مشفوعه کور دې واخلي، کنې دا قصه دې پرېږدي)، نو کله چې هغه ته دا اختيار ورکول سوی دی، بيا د قسم اخيستلو څه مطلب دی، که يې زړه نه غواړي، نو کور او شفعه دې پرېږدي، څه زور خو نه ور سره کيږي.

كه په پورتني صورت كي د دواړو سره بيّنه وي؟

قَالَ: وَلَوْأَقَامَا الْبَيِّنَةَ فرمايي: او كه چيري دوی دواړه بيّنه [گواهي] پېش كړي فَالْبَيِّنَةُ لِلشَّفِيعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د شفيع بيّنه معتبره ده وَقَالَ أَبُويُوسُفَ ●: الْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الْمُشْتَرِي او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مشتري بيّنه معتبره ده لِأَنَّهَا أَكْثَرُ إِثْبَاتًا ځكه چي هغه زياته [او غالبه] ده د ثابتولو په اعتبار سره [يعني د مشتري بيّنه زيات ثمن ثابتوي] فَصَارَ كَبَيِّنَةِ الْبَائِعِ وَالْوَكِيلِ وَالْمُشْتَرِي مِنَ الْعَدُوِّ نو هدا د بائع، وكيل او له دښمن [دارُ الحرب] ځخه د رانيونكي د بيّنې په ځېر سو.

اللغات: ﴿بيّنة﴾ گواهي، ﴿إثبات﴾ د افعال د باب مصدر دی: ثابتول، ﴿عدوّ﴾ دښمن.

تشريح: ځرنګه چي په مخكني صورت كي د دواړو سره بيّنه (گواهي) نه وه، په همدې وجه هلته بالاتفاق د مشتري قول معتبر كړی سوی وو، دلته دا راښيي چي كه مشتري او شفيع دواړه پر خپله دعوی گواهي پېش كړي، نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د شفيع بيّنه معتبره ده او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د مشتري بيّنه معتبره ده.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي چيري إثبات غالب وي، د هغه اعتبار كيږي. او د مشتري په بيّنه كي إثبات زيات او غالب دی، نو ځكه هغه به معتبره وي، ① د دې يو مثال دا سی دی لكه بائع او مشتري چي د ثمن د مقدار په هكله اختلاف وكړي او هر يو بيّنه پېش كړي مثلاً مشتري پر دې بيّنه پېش كړي چي ما دا كور په زر درهمه رانيولی دی او بائع پر دې بيّنه پېش كړي چي په دوه زره درهمه مي پر خرځ كړی دی، نو دلته د بائع بيّنه معتبره او مقبوله ده. ② يا مثلاً وكيل او مؤكل د ثمن په مقدار كي اختلاف وكړي، وكيل وايي چي ما دا شی په پنځه سوه درهمه رانيولی دی او مؤكل وايي چي تا په ځلور سوه درهمه رانيولی دی او دواړه بيّنه پېش كړي، نو د وكيل بيّنه معتبره ده. ③ او درېيم مثال دا چي يو مسلمان كس (مثلاً خالد) يو غلام رانيولی وي بيا يو كافر هغه غلام

● القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُ الله. قال العلامة الزيلعي رَحِمَهُ الله في ترجيح قولهما: ولئن سلّمنا أن بيّنة المشتري أولى كما هو ظاهر الرواية اهـ، قال العلامة شبلي رَحِمَهُ الله ففيها العمل بالبيّنتين غير ممكن في حق المالک القديم؛ لأن البيع الأول ينفسخ بالثاني، فوجد التعارض، فصرنا إلى الترجيح لزيادة، وفي حق الشفيع لا ينفسخ، فلم يوجد التعارض (الزيلعي ج:٥، ص:٢٤٧)، وقال العلامة التمرتاشي رَحِمَهُ الله: وإن برهنا، فالشفيع أحقّ؛ لأن بيّنته ملزمة، والبيّنات للإلزام (الدر المختار ج:٥، ص:١٦١)، انظر للتوضيح الكامل [القول الراجح ج:٢، من ص ٢٧٠ إلى ص ٢٧٢]

وتښتوي او دارُ الحرب ته يې بوځي او په دارُ الحرب کي يو بل مسلمان تاجر هغه رانيسي او دارُ الاسلام ته يې راولي، اوس مخکيني مالک (خالد) وايي چي تا دا زما غلام په پنځه سوه درهمه رانيولی دی او تاجر مسلمان (مشتري من العدوّ) وايي چي په زر درهمه مي رانيولی دی، نو د ده ګواهي معتبره ده، تاسو اوګورئ! څرنګه چي په دې ټولو صورتونو کي د بائع، وکيل او مشتري من العدوّ بيّنه د اثبات په اعتبار سره غالبه ده، نو په دې وجه د دوی ټولو بيّنه معتبره ده، لهذا په پورتني مسئله کي به هم د مشتري بيّنه معتبره وي، ځکه چي د مشتري په بيّنه کي هم د اِثبات اړخ غالب دی.

د طرفينو دليل

وَلَهُمَا: أَنَّهُ لَا تَنَافِيَ بَيْنَهُمَا او د طرفينو دليل دا دی: چي د دواړو بيّنو [ګواهيو] په مينځ کي هيڅ منافات نسته فَيُجْعَلُ كَأَنَّ الْمَوْجُودَ بَيْعَانِ نو داسې به ګرځول کيږي ګواکي موجود دوې بيع دي [يعني دوې بيع به موجوده منل کيږي] وَلِلشَّفِيعِ أَنْ يَأْخُذَ بِأَيِّهِمَا شَاءَ او شفيع ته اختيار دی چي له دې دواړو څخه د هر يوه په عوض کي وغواړي، [مشفوعه کور] واخلي وَهٰذَا بِخِلَافِ الْبَائِعِ مَعَ الْمُشْتَرِيْ او دا حکم د بائع او مشتري د خپل مينځوي اختلاف په خلاف دی [په بله وينا دا چي د شفيع او مشتري اختلاف داسې نه دی لکه د بائع او مشتري اختلاف] لِأَنَّهُ لَا يَتَوَالَى بَيْنَهُمَا عَقْدَانِ إِلَّا بِانْفِسَاخِ الْأَوَّلِ ځکه چي د دوی تر مينځ د اول عقد له فسخ کولو څخه دوه عقدونه نسي متوالي [او جاري] کيدای وَهٰهُنَا الْفَسْخُ لَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ الشَّفِيعِ او دلته د شفيع په حق کي فسخ نه ښکاره کيږي وَهُوَ التَّخْرِيجُ لِبَيِّنَةِ الْوَكِيلِ او همدا تخريج ده د وکيل د بيّني لِأَنَّهُ كَالْبَائِعِ ځکه چي وکيل د بائع په څېر دی وَالْمُوَكِّلُ كَالْمُشْتَرِي مِنْهُ او مؤکل له هغه څخه د رانيونکي په څېر دی كَيْفَ وَأَنَّهَا مَمْنُوعَةٌ عَلَى مَا رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ دا [د وکيل د بيّني قياس د مشتري پر بيّني] څنګه کيدای سي حال دا چي دا ممنوع دي د هغه روايت مطابق کوم چي له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه نقل سوی دی.

اللغات: ﴿تنافي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: منافي کيدل (برعکس کيدل)، تضاد. ﴿لا يتوالى﴾ د تفاعل له بابه د نفي صيغه ده: پرلپسې کيدل. ﴿انفساخ﴾ د انفعال د باب مصدر دی: فسخ کيدل، ماتيدل.

تشريح: له دې ځايه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د طرفينو (امام صاحب او امام محمد) رَحِمَهُمَا الله دليل ذکر کوي چي د هغو په نيز د شفيع بيّنه معتبره ده، د دليل حاصل دا دی چي د شفيع او مشتري په

بينه کي هيڅ تعارض نسته، بلکي تطبيق يې ممکن دی او هغه داسي چي په دې مسئله کي دوې بيع ومنل سي، يوه دا چي اول د بائع او شفيع تر مينځ په دوه زره درهمه معامله سوې وه او بيا همداغه معامله په زر درهمه سوې وه، لکه څرنګه چي له ګواهۍ څخه هم د دې پته لګيږي، نو ځکه اوس به شفيع ته اختيار وي چي د کومي بيع په عوض کي وغواړي، دا مشفوعه کور دي واخلي. (دا دليل مضبوط نه ښکاري او مشکل دی، په ښه غور او تدبّر سره يې مطالعه کړئ!)

وهذا بخلاف إلخ: څرنګه چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د خپل مسلک په تائيد کي د قياس په توګه درې مثالونه پېش کړې وه، اوس له دې ځايه د هغه جواب ورکوي، اول مثال دا وو چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د شفيع او مشتري مسئله د بائع او مشتري والا پر مسئله قياس کړې وه، حاصل د جواب دا دی چي دغه مسئله د بائع او مشتري او الا پر مسئله قياسول صحيح نه دي؛ ځکه چي د شفيع او مشتري والا په صورت خو کي د دوو بيع جاري کول ممکن دي؛ ځکه دلته د شفيع په حق کي د بيع د فسخ کېدلو سوال هم نه پيدا کيږي، حال دا چي د بائع او مشتري په صورت کي د اولي بيع له فسخ کولو څخه بغير دويمه بيع نه سي جاري کېدلای (يعني د بائع او مشتري تر مينځ پر يوه ځای دوې بيع نه سي کېدای)، نو ځکه هلته به مجبوراً يوه ته ترجيح ورکول کيږي او ترجيح همدا ده چي د چا په بيّنه کي چي د إثبات ارخ غالب وي، د هغه بيّنه به معتبره وي، او د بائع په بيّنه کي دا صفت موجود دی (ځکه چي هلته هغه زيات ثمن ثابتوي)، نو ځکه مورږ هلته د بائع بيّنه معتبره مَنو، خو څرنګه چي د شفيع او مشتري والا په صورت کي د اول عقد له فسخ کولو څخه بغير د دويم عقد جاري کول ممکن دي، نو ځکه په دې صورت کي مورږ تأويل کوو او د شفيع بيّنه معتبره ګرځوو، نه د بائع (مشتريَ) بيّنه.

وهو التخريج إلخ: په دې سره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د دويم مثال او قياس جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي د شفيع والا مسئله د وکيل او مؤکل والا پر صورت قياسول هم صحيح نه دي؛ ځکه چي د بائع او مشتري د صورت په شير دلته هم د اول عقد له فسخ کېدلو څخه بغير د دويم عقد اجراء ممکنه نه ده، نو ځکه دلته به هم د أكثرُ إثباتاً والا ترجيح پر بنياد د وکيل بيّنه معتبره وي؛ ځکه چي وکيل د بائع په شېر دی او مؤکل د مشتري په شېر دی، او د بائع و مشتري د اختلاف په صورت کي د بائع بيّنه معتبره وي، نو همداسي به دلته هم وي.

كيف وأنها إلخ: د دې مطلب دا دی چي د وکيل د بيّنې په هکله زمورږ دا مخکيني بيان د ظاهر روايت مطابق دی (چي په ظاهر روايت کي د وکيل بيّنه معتبره ګرځول سوې ده)، کنې ورغه ابن سماعه له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دا روايت کړی دی چي د وکيل او د مؤکل د اختلاف په صورت کي د مؤکل بيّنه

معتبره ده، نه د وکیل، لهذا که د دې روایت اعتبار وسي، نو ګرسره د وکیل په مسئله سره د امام ابویوسف رَحِمَهُ الله دلیل نیول او په قیاس کې پېشول نه صحیح کېږي. دا خبره صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله داسې کړې ده "کیف وأنها ممنوعة..." چې دا قیاس څنګه صحیح کېدای سي حال دا چې د امام محمد رَحِمَهُ الله د روایت مطابق دا ممنوع دي. (په لنډه توګه دا چې اول تسلیمي جواب دی او دا انکاري جواب دی).

د امام ابویوسف رَحِمَهُ الله د دریم قیاس جواب

وَأَمَّا الْمُشْتَرِيْ مِنَ الْعَدُوِّ فَقُلْنَا ذُكِرَ فِي السِّيَرِ الْكَبِيْرِ أَنَّ الْبَيِّنَةَ بَيِّنَةُ الْمَالِكِ الْقَدِيْمِ او کوم چې له دښمن [دار الحرب] څخه رانیونکی دی، نو [په دې هکله] موږ وایو چې په سیر کبیر دا ذکر سوي دي چې د مخکیني مالک بیّنه معتبره ده [کوم چې په کم قیمت سره د غلام رانیولو دعویٰ کوي] فَلَنَا أَنْ نَمْنَعَ نو موږ ته دا حق سته چې انکار وکړو [یعني د امام ابو یوسف خبره منع کړو او تسلیم یې نه کړو] وَبَعْدَ التَّسْلِيْمِ نَقُوْلُ: لَا يَصِحُّ الثَّانِيْ هُنَالِكَ إِلَّا بِفَسْخِ الْأَوَّلِ او تر تسلیمولو وروسته موږ دا وایو: چې هلته د اول عقد له فسخ کولو څخه بغیر دویم عقد نه صحیح کېږي أَمَّا هٰهُنَا فَبِخِلَافِهِ او پاته سو دلته د هغه په خلاف دي [یعني د شفیع او مشتري په مسئله کې بیا د اول عقد له فسخ کولو څخه بغیر دویم عقد ثابتېدای سي] وَلِأَنَّ بَيِّنَةَ الشَّفِيْعِ مُلْزِمَةٌ وَبَيِّنَةَ الْمُشْتَرِيْ غَيْرُ مُلْزِمَةٍ او څکه چې د شفیع بیّنه لازمونکې ده او د مشتري بیّنه لازمونکې نه ده وَالْبَيِّنَاتُ لِلْإِلْزَامِ او بیّنې د لازمولو لپاره وي.

اللغات: ﴿القدیم﴾ مخکنی، پخوانی، ﴿تسلیم﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: د دې باب څو معناوې دي چې له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: منل او تسلیمول، ﴿ملزمة﴾ د افعال له بابه مؤنث اسم فاعل دی: لازمونکې.

تشریح: امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د خپل قول په تائید کې دریم قیاس دا کړی وو چې د مشتري من العدوّ (دویم وار رانیونکی) او مخکیني مالک (اول رانیونکی) تر مینځ د اختلاف په صورت کې د مشتري من العدوّ بیّنه معتبره ده، په دې عبارت کې صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د هغه د دې قیاس دوه جوابه کړي دي: ① اول انکاري جواب دی، حاصل یې دا دی چې د شفیع او مشتري اختلاف د مشتري من العدو پر مسئله قیاسول صحیح نه دي، څکه چې هغه متفق علیه مسئله نه ده، بلکې په سیر کبیر کې په صراحت سره دا ذکر سوي دي چې که د مخکیني مالک او مشتري من العدو په مینځ کې اختلاف

راسي، نو د مخکيني مالک (مالک قديم) بيّنه معتبره ده. نو ځکه دې وضاحت ته په کتلو سره موږ ستا قياس نه تسليموو.

② تسليمي جواب، حاصل يې دا دی چې که موږ ستا قياس او قول تسليم هم کړو (چې د مشتري من العدوّ بيّنه معتبره ده)، نو هم موږ هغه مخکنی وجه بيانوو چې د دې وجه هغه ده کوم چې مخکې تېره سوه، چې د دواړو تر مينځ تطبيق ممکن نه دی ماسوا له دې چې اول عقد فسخ ومنل سي يعني هلته داول عقد له فسخ څخه بغير دويم عقد نه سي جاري کېدلای. نو ځکه د مشتري من العدوّ او مالک قديم په مسئله کي به د وجهٔ ترجيح (اکثر إثباتاً) پر بنياد د مشتري من العدو بيّنه معتبره منل کيږي، لېکن د شفيع او مشتري په مسئله کي له څه فسخ څخه بغير د دوو عقدونو جاري کېدل ممکن دي، نو ځکه موږ دلته د تأويل پر بنياد د شفيع بيّنه معتبره منو.

ولأن بيّنة إلخ: دا د طرفينو عقلي دليل دی، حاصل يې دا دی چې بيّنات (ګواهياني) د إلزام يعني د يو شي د لازمولو لپاره وضع سوي دي، او کله چې دوې بيّنې سره جمع سي، نو ترجيح به هغه بيّنې لره وي چې په هغې کي إلزام وي، او دلته د شفيع په بيّنه کي إلزام سته، ځکه د شفيع په بيّنه سره پر مشتري د کور ورسپارل (تسليم الدار) لازم کړی سوي دي، د دې په خلاف د مشتري بيّنه له إلزام څخه خالي ده، ځکه چې شفيع ته (د مشفوعه کور) د اخيستلو او نه اخيستلو اختيار دی، لهذا د إلزام والا بيّنې لره به ترجيح وي او إلزام د شفيع په بيّنه کي دی، نو ځکه صرف هغه به معتبره او راجحه وي.

د مشتري او بائع د اختلاف په صورت کي د شفيع لپاره قول معتبر

قَالَ: وَإِذَا ادَّعَى الْمُشْتَرِيْ ثَمَنًا وَادَّعَى الْبَائِعُ أَقَلَّ مِنْهُ فرمايي: او کله چې مشتري د يو [زيات] ثمن دعوىٰ وکړي او بائع تر هغه د کم ثمن دعوىٰ وکړي وَلَمْ يَقْبِضِ الثَّمَنَ حال دا چې بائع [تر اوسه] پر ثمن قبضه نه وي کړې. أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِمَا قَالَهُ الْبَائِعُ نو شفيع به کور په هغه ثمن [قيمت] سره اخلي کوم چې شفيع ويلي وي وَكَانَ ذٰلِكَ حَطًّا عَنِ الْمُشْتَرِيْ او دا به د مشتري له ذمې څخه کمول وي [يعني دا به ګڼل کيږي چې وروسته بائع د مشتري له ذمې څخه څه ثمن (قيمت) کم کړی دی] وَهٰذَا لِأَنَّ الْأَمْرَ إِنْ كَانَ عَلٰى مَا قَالَ الْبَائِعُ فَقَدْ وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ بِهِ او دا ځکه چې که خبره داسي وي کوم چې بائع ويلي دي [چې قيمت کم دی] نو شفعه د همهغه مقدار مطابق واجبيږي وَإِنْ كَانَ عَلٰى مَا قَالَ الْمُشْتَرِيْ فَقَدْ حَطَّ الْبَائِعُ بَعْضَ الثَّمَنِ او که خبره داسي وي کوم چې مشتري ويلي دي [چې قيمت کم دی] نو [دا به ګڼل کيږي چې] بائع وروسته د ثمن بعضي مقدار کم کړی دی وَهٰذَا الْحَطُّ يَظْهَرُ فِيْ حَقِّ الشَّفِيْعِ او دا کمي

د شفيع په حق کي ښکاره کيږي عَلٰى مَا نُبَيِّنُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى لکه څرنګه چي [وروسته] به موږ انشاء الله د دې بيان وکړو وَلِأَنَّ التَّمَلُّكَ عَلَى الْبَائِعِ بِإِيْجَابِهِ او ځکه چي پر بائع مالک کېدل د هغه د ايجاب په وجه دي [په بله وينا دا چي د بائع د ايجاب (يعني پر بيع د هغه د اقدام کولو) په وجه شفيع د حق شفعه پر بناء د هغه د کور مالک سوی دی. لهذا کله چي دا تملک د بائع د ايجاب په وجه دی فکان القول...] فَكَانَ الْقَوْلُ قَوْلَهُ فِي مِقْدَارِ الثَّمَنِ مَا بَقِيَتْ مُطَالَبَتُهُ نو د ثمن د مقدار په باره کي به د بائع قول معتبر وي تر څو چي د بائع [د ثمن] مطالبه باقي پاته وي فَيَأْخُذُ الشَّفِيْعُ بِقَوْلِهِ نو ځکه شفيع به د بائع د قول مطلق [مشفوعه کور] اخلي.

اللغات: ﴿حطًا﴾ د نصر د باب مصدر دی: کمول، ساقطول. ﴿تملك﴾ د تفعل د باب مصدر دی: مالک کېدل، مالک جوړېدل.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي زيد پر خالد يو کور خرڅ کړی، او حامد د هغه شفيع سو، بيا د ثمن په مقدار کي اختلاف راغلی، بائع (خرڅونکی) يعني زيد وايي چي ما دا کور په پنځه زره درهمه ورکړی دی، او مشتري (رانيونکی) يعني خالد وايي چي په شپږ زره درهمه يې راکړی دی (لهذا شفيع [حامد] به ما ته شپږ زره درهمه راکوي)، حال دا چي تر اوسه بائع پر ثمن قبضه نه ده کړې، نو په دې صورت کي به شفيع يعني حامد دا کور د بائع (زيد) په بيان سوي قيمت (پنځه زره درهمه) سره اخلي او دا به ګڼل کيږي چي وروسته بائع دا کور په پنځه زره درهمه ورکړی دی.

وهذا لأن الأمر الخ: د دليل حاصل دا دی چي دلته دوه صورته دي، يا دا چي د بائع په بيان سوي قيمت سره شفيع دا کور واخلي، يا د مشتري په بيان سوي قيمت سره يې واخلي، او په دواړو کي تطبيق ممکن دی، ځکه که د بائع په بيان سوي قيمت سره يې اخلي، نو هيڅ ستونزه او مشکل نسته، ځکه چي کور د بائع دی نو په هر څو چي د ده خوښه وي خرڅ دي يې کړي، او که د مشتري په بيان سوي قيمت سره شفيع دا کور اخلي، نو دا به ويل کيږي چي اصل معامله خو په لس زره سوې وه، خو بيا بائع د مشتري له ذمې څخه پنځه درهمه کم کړل، او کله چي د مشتري په حق کي پنځه زره درهمه کم سول. نو د شفيع په حق کي هم دا پنځه زره درهمه کميږي، لهذا شفيع به په همداغه کم قيمت سره کور اخلي.

ولأن التملك الخ: دا د بائع د قول معتبر کېدلو دويم دليل دی، حاصل يې دا دی چي شفيع ته د بائع د إيجاب يعني پر بيع د هغه د اقدام کولو (کور خرڅولو) په وجه شفعه حاصليږي، او څرنګه چي تر اوسه

بائع پر ثمن قبضه هم نه ده کړې، نو ځکه د هغه د مطالبې حق تر اوسه پاتـه دی (چې د خپل ثمن مطالبه وکړي)، لهذا کله چې په خپله بائع د شفعې سبب دی (چې هم د ده د اقدام کولو په وجه شفیع ته شفعه حاصلیږي)، نو د شفعې په ذریعه د اخیستل کېدونکي کور د ثمن پـه مقدار کي به هم صرف د ده قول معتبر وي.

د پورتنی مسئلې بل صورت

قَالَ: وَلَوِ ادَّعَى الْبَائِعُ الْأَكْثَرَ فرمايي: او كه بائع د زيات ثمن دعوىٰ وكړي يَتَحَالَفَانِ وَيَتَرَادَّانِ نو دواړه به قسم اخلي او عقد به واپس کوي [یعني بیع به ختموي] وَأَيُّهُمَا نَكَلَ او له دواړو څخه چې هر يو له قسم څخه انکار وکړي ظَهَرَ أَنَّ الثَّمَنَ مَا يَقُولُهُ الْآخَرُ نو ښکاره به سي چې ثمن [قیمت] همغه دی کوم چې دا بل يو [قسم اخیستونکی] وايي فَيَأْخُذُهَا الشَّفِيعُ بِذَلِكَ نو شفيع به په هغه ثمن سره کور اخلي وَإِنْ حَلَفَا او که دواړه قسم اخلي يَفْسَخُ الْقَاضِي الْبَيْعَ نو قاضي به بيع فسخ کوي عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چې دا [په كتاب الدعوىٰ کي] معلومه سوې ده وَيَأْخُذُهَا الشَّفِيعُ بِقَوْلِ الْبَائِعِ او شفيع به د بائع د قول مطابق کور اخلي لِأَنَّ فَسْخَ الْبَيْعِ لَا يُوجِبُ بُطْلَانَ حَقِّ الشَّفِيعِ ځکه چې د بيع فسخ کول د شفيع د حق باطلېدل نه ثابتوي [په بله وينا دا چې د بيع په فسخ کېدلو سره د شفيع حق نه باطليږي].

اللغات: ﴿يتحالفان﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه مذكر غائب مضارع صيغه ده: يو تر بله قسم سره اخيستل، ﴿يترادان﴾ د تفاعل له بابه مخکنۍ صيغه ده: يو بل ته (يو تر بله) واپس کول، يو تر بله ردول، ﴿نكل﴾ د نصر د باب ماضي ده، د ضرب او سمع له بابه هم راځي: له قسم څخه انکار کول.

تشريح: مخکي دا صورت بيان سو چې بائع د کم قيمت (کم ثمن) دعوىٰ کوي، اوس دا صورت بيانوي چې بائع د زيات قيمت دعوىٰ کوي، نو په دې صورت کي به تر ټولو مخکي مشتري او بائع ته د دوو ګواهانو د پېشولو حکم کيږي، ځو که ګواهان پېش نه کړی سي نو له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي، اوس که چيري يو له قسم اخيستو څخه انکار وکړي، نو همدا به ګڼل کيږي چې هغه په خپل قول کي دروغجن دی او کوم چې قسم واخلي (برابره ده هغه مشتري وي او که بائع وي)، هغه په خپل قول کي رښتونی دی، لهذا د هغه قول او دعوىٰ به معتبره منل کيږي او د هغه د بيان سوي قيمت مطابق به شفيع ته مشفوعه کور ورکول کيږي.

لېکن که دواړه قسم واخلي، نو په دې صورت کي به د دوی تر مينځ بيع فسخ کول کيږي. او کله چي بيع فسخ سوه، نو د مشتري حق له مبيع (کور) څخه منقطع او ختم سو، اوس صرف د بائع حق د مبيع سره متعلق دی او مبيع صرف د هغه ملکيت دی. لهذا اوس به شفيع د همدې بائع په بيان سوي قيمت سره کور اخلئ.

لأن فسخ البيع إلخ: په دې سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د يو إشکال جواب ورکوي، هغه دا چي کله د عاقدَينو (بائع او مشتري) تر مينځ بيع فسخ سوه، نو اوس (شفيع لره) شفعه هم نه حاصلېدل پکار دي. ځکه چي د شفعي د ثبوت لپاره د بيع ثبوت ضروري دی.

د جواب حاصل دا دی چي شفعه خو همغه وخت ثابتيږي کله چي شفيع د بيع په ثبوت خبر سي (چي بائع خو خپل کور خرڅ کړی. نو د خبرېدلو سره سمدستي د هغه حق شفعه ثابتيږي)، او د يو شي فسخ د هغه د ثبوت څرګند دليل دی (چي دا شی مخکي ثابت سوی دی)، لهذا د بيع په ثبوت سره خو شفعه او د شفيع حق مخکي لا ثابت سوی دی، نو تر دې وروسته د بيع په فسخ کېدلو سره د هغه حق ختميږي نه، بلکي نور مضبوطيږي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَإِنْ كَانَ قَبَضَ الثَّمَنَ فرمايي: او که بائع پر ثمن قبضه کړې وي [يعني له مشتري څخه يې ثمن اخيستی وي] أَخَذَ بِمَا قَالَ الْمُشْتَرِيْ، إِنْ شَاءَ نو شفيع به په هغه ثمن [قيمت] سره کور اخلي کوم چي مشتري ويلي دي، که يې خوښه وي وَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَى قَوْلِ الْبَائِعِ او د بائع قول ته به هيڅ توجه نه کوي لِأَنَّهُ لَمَّا اسْتَوْفَى الثَّمَنَ ځکه کله چي بائع ثمن ترلاسه کړی انْتَهَى حُكْمُ الْعَقْدِ وَخَرَجَ هُوَ مِنَ الْبَيْنِ وَصَارَ كَالْأَجْنَبِيِّ نو د عقد حکم پوره سو او بائع له منځه ووتی او د اجنبي په څېر وګرځېدی وَبَقِيَ الِاخْتِلَافُ بَيْنَ الْمُشْتَرِي وَالشَّفِيعِ او [اوس] د مشتري او شفيع تر مينځ اختلاف پاته سو وَقَدْ بَيَّنَّاهُ او هغه موږ بيان کړی دی.

اللغات: ﴿لم يلتفت﴾ د افتعال له بابه د جحد صيغه ده: توجه او پاملرنه کول. ﴿استوفى﴾ د استفعال د باب ماضي ده: پوره اخيستل، ترلاسه کول. ﴿بين﴾ مينځ (منځ).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي مخکيني تو له تفصيلات په هغه صورت کي وه کله چي بائع پر ثمن قبضه نه وه کړې (يعني چي بائع او مشتري داسي وخت د ثمن په مقدار کي اختلاف وکړي چي تر اوسه بائع له مشتري څخه ثمن [قيمت] نه وي اخيستی او قبضه کړی). لېکن که تر قبضه کورولو وروسته د ثمن

په مقدار کي د بائع او مشتري اختلاف راسي، نو په دې صورت کي د مشتري قول معتبر دی لهذا په دې صورت کي که شفيع د مشفوعه کور اخيستل (رانيول) خوښوي نو د مشتري د قول (بيان سوي قيمت) مطابق به يې اخلي، اوس د بائع قول نا معتبر او نا مقبوله دی؛ ځکه پر ثمن له قبضه کولو څخه مخکي د هغه قول په دې وجه معتبر وو چي هغه ته د ثمن د مطالبې حق وو (چي له مشتري څخه د خپل ثمن مطالبه وکړي)، لېکن تر قبضه کولو وروسته عقد پوره سو او بائع له منځه ووتی. نو اوس هغه په دې معامله کي د اجنبي په څېر سو، او د اجنبي کس قول لره هيڅ اعتبار نه وي، نو ځکه د بائع قول لره به هم اعتبار نه وي. او څرنګه چي اوس د مشتري او شفيع تر مينځ اختلاف پاته سو، نو ځکه شفيع صرف د مشتري په بيان سوي قيمت سره کور اخيستلای سي.

او موږ مخکي دا بيان کړه چي که د ثمن د مقدار په هکله د مشتري او شفيع اختلاف سي او يو هم بيّنه پېش نه کړی سي، نو د مشتري قول (مع اليمين) معتبر دی، لهذا دلته هم چي کله بائع له منځه ووتی، نو د مشتري قول به معتبر وي او شفيع به د هغه په ويل سوي قيمت سره کور اخلي.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

وَلَوْكَانَ نَقْدُ الثَّمَنِ غَيْرَ ظَاهِرٍ او که چيري د ثمن ادا ينه نا ښکاره [ناخرګنده] وي [په بله وينا: که چيري پر ثمن (د بائع) قبضه نا ښکاره وي. يعني دا ښکاره نه وي چي بائع پر ثمن قبضه کړې ده، که نه] فَقَالَ الْبَائِعُ: بِعْتُ الدَّارَ بِأَلْفٍ وَقَبَضْتُ الثَّمَنَ او بائع [داسي] ووايي: چي ما په زر درهمه کور خرڅ کړی او پر ثمن مي قبضه وکړه يَأْخُذُهَا الشَّفِيعُ بِأَلْفٍ نو شفيع به کور په زر درهمه اخلي لِأَنَّهُ لَمَّا بَدَأَ بِالْإِقْرَارِ بِالْبَيْعِ ځکه کله چي بائع د بيع په اقرار سره ابتداء وکړه تَعَلَّقَتِ الشُّفْعَةُ بِهِ نو د دې اقرار [بيع بالألف] سره شفعه متعلق سوه [او په کور کي د شفيع حق ثابت سو] فَبِقَوْلِهِ بَعْدَ ذٰلِكَ قَبَضْتُ الثَّمَنَ يُرِيدُ إِسْقَاطَ حَقِّ الشَّفِيعِ نو تر دې وروسته بائع خپل په دې قول "قبضتُ الثّمن" سره د شفيع د حق ساقطولو اراده لري فَيُرَدُّ عَلَيْهِ لهذا دا به پر هغه واپس کول کيږي [او د هغه د قبضې خبره به ردول کيږي] وَلَوْقَالَ: قَبَضْتُ الثَّمَنَ وَهُوَ أَلْفٌ او که چيري بائع [داسي] ووايي: چي ما پر ثمن قبضه وکړه او هغه زر درهمه دي لَمْ يُلْتَفَتْ إِلَىٰ قَوْلِهِ نو د هغه قول ته به توجه نه کيږي [او قول يې معتبر نه دی] لِأَنَّ بِالْأَوَّلِ وَهُوَ الْإِقْرَارُ بِقَبْضِ الثَّمَنِ خَرَجَ مِنَ الْبَيْنِ ځکه چي په اوله جمله يعني پر ثمن د قبضه کولو

په اقرار سره هغه له منځه ووتی وَسَقَطَ اعْتِبَارُ قَوْلِهِ فِي مِقْدَارِ الثَّمَنِ او د ثمن د مقدار په هکله د هغه د قول اعتبار ختم سو.

اللغات: ﴿نقد﴾ د نصر د باب مصدر دی: ادا ينه (نغد اداء کول)، ﴿بدأ﴾ د فتح د باب ماضي ده: شروع کول (پیل او ابتداء کول).

تشريح: مخکي ذکر سوه چي که بائع پر ثمن قبضه کړې وي نو بیا د مشتري قول معتبر دی او شفیع به د مشتري د قول مطابق کور اخلي، اوس دلته فرمایي چي که دا خبره ښکاره او معلومه نه سي چي بائع پر ثمن قبضه کړې ده، که نه، او بائع وايي چي ما د زر درهمو په عوض کي خپل کور خرڅ کړی او ثمن مي قبضه کړی (ثمن مي واخیستی)، نو په دې صورت کي که څه هم بائع د ثمن قبضه کولو خبره کړې ده (چي ثمن مي قبضه کړی، لهذا اوس زما قول معتبر نه دی) خو بیا هم شفیع به د هغه په بیان سوي قیمت یعني په زر درهمه سره کور اخلي، ځکه دلته اول بائع د بیع اقرار کړی دی، او کله چي هغه د بیع اقرار وکړی، نو په دې کور کي د شفیع حق شفعه ثابت سو، او پاته سو د بیع تر اقرار (بعتُ الدار بألفٍ) وروسته چي هغه د قبضې خبره هم کړې ده چي وقبضتُ الثّمن، نو په دې سره هغه چم کوي چي خپله له منځه ووځي او شفیع او مشتري په جنجال کي اچول غواړي چي ما خو پر ثمن قبضه کړې ده لهذا زما قول معتبر نه دی، نو شفیع او مشتري دي په مینځ کي سره اخته سي (ځکه چي د بائع تر قبضې وروسته حکم دا دی چي بیا د مشتري قول معتبر دی نو شفیع به د مشتري سره د ثمن په هکله خبره کوي او د هغه د قول مطابق به کور اخلي)، نو صاحب د هدایې فرمایي چي دلته کله بائع اول په زر درهمه سره د خرڅولو خبر ورکړی نو بیا د هغه قَبضتُ الثّمن ویل او له منځه وتل معتبر نه دي، بلکي په همدې زر درهمه به شفیع کور اخلي او د بائع چم او مکر به د هغه پر مخ وهل کیږي.

ولو قبضت الثمن إلخ: فرمایي که بائع له شروع څخه د قبضې خبره وکړي چي قَبَضْتُ الثَّمَن او د ثمن مقدار بیان کړي، نو څرنګه چي دلته هغه د بیع اقرار نه دی کړی بلکي د ثمن قبضه کولو اقرار یې کړی دی او تر قبضې وروسته بائع له منځه وځي او د مشتري قول معتبر کیږي، نو ځکه په دې صورت کي د هغه قول معتبر نه دی او شفیع به د مشتري د بیان سوي قیمت مطابق کور اخلي.



فَصۡلٌ فِيۡ مَا يُؤۡخَذُ بِهِ الۡمَشۡفُوۡعُ

(دا) فصل په (بيان د) هغه شي (ثمن) کي دی چي د
هغه په ذريعه مشفوع ځای اخيستل کيږي

تشريح: مخکي تر دې د مشفوع ځای (جايداد، کور، ځمکي) او داسي نورو احکام بيان سول. اوس له دې ځايه د ثمن په هکله تفصيلات بيانوي. ځرنګه چي مشفوع يعني ځای اصل دی او د مشفوع حاصلولو ذريعه يعني ثمن تابع دی، نو ځکه اصل يې مخکي بيان کړی او تابع وروسته بيانوي.

که بائع ثمن کم کړي نو له مشتري څخه هم کميږي (ساقطيږي)

قَالَ: وَإِذَا حَطَّ الْبَائِعُ عَنِ الْمُشْتَرِيْ بَعْضَ الثَّمَنِ فرمايي: او کله چي بائع د مشتري له ذمې څخه څه ثمن کم کړي يَسْقُطُ ذٰلِكَ عَنِ الشَّفِيْعِ نو هغه د شفيع له ذمې څخه هم ساقطيږي وَإِنْ حَطَّ جَمِيْعَ الثَّمَنِ او که بائع ټوله ثمن کم کړي [معاف کړي] لَمْ يَسْقُطْ عَنِ الشَّفِيْعِ نو د شفيع له ذمې څخه [هيڅ هم] نه ساقطيږي لِأَنَّ حَطَّ الْبَعْضِ يَلْتَحِقُ بِأَصْلِ الْعَقْدِ ځکه چي د څه ثمن کمي د اصل عقد سره يو ځای کيږي فَيَظْهَرُ فِيْ حَقِّ الشَّفِيْعِ لهذا دا کمي به د شفيع په حق کي ښکاره کيږي لِأَنَّ الثَّمَنَ مَا بَقِيَ ځکه چي [اوس] ثمن هغه دی کوم چي پاته دی وَكَذَا إِذَا حَطَّ بَعْدَ مَا أَخَذَهَا الشَّفِيْعُ بِالثَّمَنِ او همدارنګه کله چي شفيع ثمن کم کړي وروسته تر دې چي شفيع کور په ثمن سره واخلي [يعني چي شفيع له مشتري څخه کور واخلي او مشتري ته ثمن (قيمت) هم ورکړي. بيا تر دې وروسته بائع څه ثمن کم کړي] يَحُطُّ عَنِ الشَّفِيْعِ نو [په دې صورت کي] د شفيع له ذمې څخه هم کميږي حَتّٰى يَرْجِعَ عَلَيْهِ بِذٰلِكَ الْقَدْرِ تر دې چي شفيع به په هغه مقدار سره پر مشتري رجوع کوي [يعني بائع چي څومره مقدار ثمن کم کړی وي. شفيع به هغومره مقدار له مشتري څخه واپس اخلي] بِخِلَافِ حَطِّ الْكُلِّ په خلاف د ټوله ثمن د کمولو [معاف کولو] لِأَنَّهُ لَا يَلْتَحِقُ بِأَصْلِ الْعَقْدِ بِحَالٍ ځکه چي هغه په هيڅ حالت کي هم د اصل عقد سره نه يو ځای کيږي وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي الْبُيُوْعِ او موږ په کتاب البيوع کي د دې بيان کړی دی.

اللغات: ﴿حطّ﴾ د نصر د باب ماضي ده: کمول (کم کول)، ساقطول. ﴿يلتحق﴾ د افتعال د باب مضارع ده: يو شی د بل شي سره يو ځای کېدل، (ورسره لګېدل)، متصل کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي زيد خپل ځای پر خالد په پنځه زره درهمه خرڅ کړی، بيا د تبرع او احسان په توګه زيد دوه زره درهمه کم کړل او حامد د دې ځای شفيع دی، نو په دې صورت کي به شفيع يعني حامد دا ځای په درې زره درهمه اخلي، ځکه کله چي د مشتري په حق کي دوه زره کم کړی سوه، نو ګواکي بيع صرف پر درې زره منعقده سوه او همدا درې زره د دې ځای ثمن سو، او شفيع خو د همدې ثمن په عوض کي ځای اخلي، نو ځکه هغه به دا کور په درې زره درهمه اخلي.
لېکن که بائع يعني زيد ټوله ثمن (پنځه زره درهمه) معاف کړي، نو په دې صورت کي له شفيع (حامد) څخه هيڅ هم نه کميږي. بلکي هغه به د پوره پنځه زرو په عوض کي ځای اخلي.

په دې دواړو صورتونو کي فرق دا دی چي کله له پنځو زرو څخه دوه زره کم سوه، نو درې زره باقي پاته سوه. او کوم چي کم سوي دي د اصل عقد يعني د پنځو زرو سره د هغه تر يو ځای کولو (يعني د هغه تر کمولو) وروسته هم د ثمن نوم باقي پاته دی (په بله وينا دا چي ما بقي درې زره خو هم ثمن دی).
او شفيع د ثمن په عوض کي مشفوعه ځای اخلي او ثمن پاته دی، نو ځکه په دې صورت به کي دا کمي (د بعضي ثمن کمي) د شفيع په حق کي ښکاره کيږي او هغه ته به د همدې کم شده ثمن (دريو زرو) په عوض کي کور حاصليږي.

لېکن کله چي بائع ټوله ثمن معاف کړی، نو اوس دلته د ثمن نوم و نشان پاته نه سو. اوس خو دا ځای د بائع له طرفه يا هبه ومنه يا يې بيع بلا ثمن ومنه. او شفعه (حق شفعه) خو نه په هبه کي حاصليږي او نه په بيع بلا ثمن کي، ځکه چي دا بيع فاسد ده. لهذا که چيرې مو ږ له شفيع څخه ټوله ثمن ساقط کړو، نو ګرسره د هغه حق شفعه به ختم سي، نو ځکه د شفيع د حق په رعايت کولو سره موږ دلته د هغه په حق کي د ثمن معافي (بخښنه) معافي نه ده شمېرلې او هغه مو په ټوله ثمن (قيمت) سره د ځای رانيولو مکلف جوړ کړی دی.

يادونه: د "يلتحق بأصل العقد" دلفظي ترجمه ده: د اصل عقد سره يو ځای کول. خو مراد ځني دا دي چي کوم اصل قيمت دی له هغه څخه کمول (احسن الهدايه). صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې باره کي موږ په کتاب البيوع کي تفصيلي خبره کړې ده.

كه مشتري د بائع لپاره په ثمن كي اضافه وكړي، نو پر شفيع دا اضافه سوى ثمن نه لازميږي

وَإِنْ زَادَ الْمُشْتَرِيْ لِلْبَائِعِ او كه مشتري د بائع لپاره [په ثمن كي] څه زياتوب [اضافه] وكړي لَمْ تَلْزَمِ الزِّيَادَةُ فِيْ حَقِّ الشَّفِيْعِ نو دا زياتوب د شفيع په حق كي نه لازميږي لِأَنَّ فِيْ اعْتِبَارِ الزِّيَادَةِ ضَرَرًا بِالشَّفِيْعِ ځكه چي د زياتوب په اعتبار كولو كي د شفيع نقصان دى لِاسْتِحْقَاقِهِ الْأَخْذَ بِمَا دُوْنَهَا ځكه چي شفيع تر هغه د كم ثمن په عوض كي [د مشفوعه كور] د اخيستلو مستحق دى بِخِلَافِ الْحَطِّ په خلاف [د ثمن] د كمولو لِأَنَّ فِيْهِ مَنْفَعَةً لَهُ ځكه چي په دې كي د شفيع فايده ده وَنَظِيْرُ الزِّيَادَةِ إِذَا جَدَّدَ الْعَقْدَ بِأَكْثَرَ مِنَ الثَّمَنِ الْأَوَّلِ او د زياتوب [ثمن زياتولو] مثال دا دى چي كله مشتري له اول ثمن څخه په زيات ثمن عقد نوى كړي [يعني له اولني قيمت څخه په زيات قيمت بل عقد وكړي] لَمْ يَلْزَمِ الشَّفِيْعَ نو [هم] دا زياتوب پر شفيع نه لازميږي حَتّٰى كَانَ لَهُ أَنْ يَأْخُذَهَا بِالثَّمَنِ الْأَوَّلِ تر دې چي د هغه لپاره اختيار دى چي دا كور په اول ثمن سره واخلي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلئل په وجه كوم چي موږ بيان كړى كَذَا هٰذَا نو همدارنګه به دا [بغير له تجديده زياتوب] هم داسي وي.

اللغات: ﴿زاد﴾ د ضرب د باب ماضي ده: زياتول، اضافه كول. ﴿نظير﴾ مثل، مثال.

تشريح: مخكي د بائع د تبرّع او احسان بيان وو، په دې عبارت كي د مشتري د تبرّع بيان كوي چي كه مشتري د بائع سره احسان وكړي او تر ټاكل سوي ثمن هغه ته زياتي پيسې ور كړي، مثلاً ثمن پنځه زره درهمه وي او مشتري د احسان په توګه بائع ته شپږ زره درهمه وركړي، نو دا زياتوب (اضافه سوى ثمن) پر شفيع نه لازميږي، يعني كه شفيع دا كور اخلي نو فقط په پنځه زره درهمه به يې اخلي، نه په شپږ زره، ځكه چي شفيع په اصل ثمن سره د كور اخيستلو مستحق دى. زياتوب (اضافي ثمن) خود مشتري له طرفه تبرّع او احسان دى، كه چيري موږ پر شفيع د دې زائد ثمن اداء كول هم لازم كړو، نو هغه ته به ضرر او نقصان ورسيږي.

او څرنګه چي د ثمن په كمولو كي (يعني چي بائع له مشتري څخه بعضي ثمن كم كړي. په دې كي) د شفيع فايده ده، نو ځكه كمي د شفيع په حق كي هم ښكاره كيږي (لكه مخكي چي ذكر سوه)، او بل دا چي په دې صورت كي د يوه نقصان هم نسته، د مشتري هم فايده ده او د شفيع هم، نو ځكه كمي به د دواړو په حق كي ښكاره كيږي.

ونظیر الزیادة إلخ: د دې حاصل دا دی چې په مخکینې صورت کې د عقد له تجدید (نوي کولو) څخه بغیر په ثمن کې اضافه سوې وه، لیکن که بائع او مشتري د عقد تر تجدید وروسته په ثمن کې اضافه وکړي، نو په دې صورت کې هم پر شفیع اضافه سوې ثمن نه لازمیږي، ځکه څرنګه چې د عقد تر تجدید مخکې په دې سره شفیع ته ضرر رسېدی، همداسې د عقد تر تجدید وروسته هم په دې سره هغه ته ضرر او نقصان رسیږي (چې د مخکینې عقد د ثمن سره د نوي عقد اضافه سوی ثمن هم ورکړي)، نو ځکه په دې صورت کې به هم هغه صرف د مخکینې عقد د ثمن په عوض کې مشفوعه ځای اخلي.

د سامان په بدله کې د خرڅ کړی سوي کور د شفعې بیان

قَالَ: وَمَنِ اشْتَرَى دَارًا بِعَرَضٍ فرمایي: او څوک چې د سامان په عوض کې کور رانیسي أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِقِيمَتِهِ نو شفیع به دا کور د سامان د قیمت په عوض کې اخلي [رانیسي] لِأَنَّهُ مِنْ ذَوَاتِ الْقِيَمِ ځکه چې سامان له ذوات القیم څخه دی وَإِنِ اشْتَرَاهَا بِمَكِيلٍ أَوْ مَوْزُونٍ او که د مکیلي یا موزوني شي په عوض کې کور رانیسي أَخَذَهَا بِمِثْلِهِ نو شفیع به د هغه شي د مثل په عوض کې کور اخلي [رانیسي] لِأَنَّهُمَا مِنْ ذَوَاتِ الْأَمْثَالِ ځکه چې مکیلي او موزوني شی له ذوات الأمثال څخه دی وَهٰذَا لِأَنَّ الشَّرْعَ أَثْبَتَ لِلشَّفِيعِ وِلَايَةَ التَّمَلُّكِ عَلَى الْمُشْتَرِي بِمِثْلِ مَا تَمَلَّكَهُ او د دې وجه دا ده چې شریعت د شفیع لپاره پر مشتري د هغه د ملکیت په مثل سره د تملک [مالک کېدلو] ولایت ثابت کړی دی [په بله وینا: او د دې وجه دا ده چې په کوم شي سره مشتري (د کور) مالک سوی دی شریعت د هغه شي د مثل په ورکولو سره شفیع ته پر مشتري (د کور) د مالک کېدلو ولایت ورکړی دی] فَيُرَاعَى بِالْقَدْرِ الْمُمْكِنِ نو ځکه تر ممکنه مقدار به د دې رعایت کیږي كَمَا فِي الْإِتْلَافِ لکه [د یو شي] د ضایع کولو په صورت کې چې کیږي وَالْعَدَدِيُّ الْمُتَقَارِبُ مِنْ ذَوَاتِ الْأَمْثَالِ او عددی متقارب شی هم له ذوات الأمثال څخه دی [په بله وینا: او هغه شی کوم چې په شمار خرڅیږي او افرادیې یو بل ته نژدې وي، نو هغه هم له ذوات الأمثال څخه دی، یعني مثل به یې ورکول کیږي، نه قیمت] وَإِنْ بَاعَ عَقَارًا بِعَقَارٍ او که د جایداد په بدله کې جایداد خرڅ کړي أَخَذَ الشَّفِيعُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِقِيمَةِ الْآخَرِ نو شفیع به له دوی څخه هر یو د هغه بل یوه د قیمت په عوض کې اخلي لِأَنَّهُ بَدَلُهُ ځکه چې هر جایداد د بل یوه بدل دی [ځکه له دوی څخه هر یو د بل یوه په بدل کې ورکول سوی دی] وَهُوَ مِنْ ذَوَاتِ الْقِيَمِ او جایداد له ذوات القیم څخه دی فَيَأْخُذُهُ

بِقِيمَتِهِ نو ځکه شفيع به هغه د قيمت په عوض کي اخلي.

اللغات: ﴿عَـرَض﴾ او عَـرْض: سامان، لـه ثمـن او نقـودو (دراهـم و دنانيرو) څخـه بغيـر نـور شيان، ﴿مكيل﴾ پيمانه کېدونکی شی، هغه شی کوم چي په ګَيـل (معلوم لوښي او ظرف) سره اندازه کيـږي (پيمانه کيږي)، ﴿موزون﴾ هغه شی کوم چي په وزن سره اندازه کيـږي (تلل کيـږي)، ﴿تملّك﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مالک کېدل، مالک جوړېدل، ﴿يراعىٰ﴾ د مفاعلي د باب مضارع مجهوله ده: مراعات کول، رعايت او لحاظ ساتل، ﴿إتلاف﴾ د افعال د باب مصدر دی: تلفول، هلاکول، ضايع کول، ﴿عددي متقارب﴾ هغه شی کوم چي په شمېر سره معلومول کيږي او عموماً په شمېر خرڅول کيږي او افراد يې يو بل ته نژدې، نژدې وي (تفاوت پکښي کم وي)، لکه هګۍ او دواسي نور، ځکه هګۍ يوه له بلې څخه زياته غټه يا کوچنۍ نه وي بلکي هغوی ټوله په اندازه کي متقارب (سره نژدې، نژدې) وي.

تشريح: په تېرو صفحاتو کي د هغه شفعي بيان وو چي په هغه کي د نغد ثمن په عوض کي بيع سوې وي، اوس له دې ځايه دا راښيي چي که څوک له نغدو څخه بغير د يو سامان په عوض کي کور رانيسي، نو حکم دا دی چي که سامان له ذوات القيم څخه وي، نو د سامان قيمت تـه بـه خـساب کيـږي چي څومره قيمت يې جوړيږي شفيع به هغومره قيمت مشتري ته ورکوي او کور به اخلي، او که دا سامان مکيلي يا موزوني شی وي يعني له ذوات الأمثال څخه وي، نو د هغه سامان مثل به ورکوي، مثلاً مشتري د سل منه غنمو په عوض کي کور رانيولی وي، نو شفيع به هغومره شی (غنم) ورکوي؛ د دې وجه دا ده چي د سامان دوه حيثيته دي: ① ذوات القيم، يعني هغه سامان چي مثل يې په بازار کي موجود نه وي، ② ذوات الأمثال، يعني هغه سامان چي بغير له څه تفاوته مثل يې په بازار کي پيدا کيږي، لهذا کله چي د سامان همدا دوه حيثيته دي، نو کوم سامان چي د کوم حيثيت وي، شفيع به هغه اداء کوي.

وهذا إلخ: د دې حاصل دا دی چي (په ذوات الأمثال کي) موږ شفيع ځکه د مثل په اداء کولو سره مُکلف کړی دی چي شريعت چي شفيع ته کوم دا حق ورکړی دی چي د مشتري ملکيت (کور) رانيسي او مالک يې سي، دا حق يې په هغه توګه ورکړی دی په کومه توګه چي مشتري دا کور له بائع څخه رانيولی او مالک سوی يې دی (يعني په کومه توګه چي مشتري مشفوعه کور رانيولی دی، په هغه توګه به يې شفيع هم رانيسي)، لهذا تر څو چي ممکنه وي د دې مثل رعايت به کيږي، او رعايت همدا دی چي چيري مثل صوري ممکن وي، هلته هغه اداء کړی سي. او په کومه مسئله کي چي مثلِ صوري

ممکن نه وي، هلته مثلِ معنوي یعني قیمت اداء کړی سي. لکه کله چي یو څوک د بل چا یو شی ضایع کړی، نو حکم دا دی چي له ضایع کونکي (مُتلف) څخه به په تاوان کي اولاً د هغه شي مثل اخیستل کیږي، او که مثل یې موجود نه وي، نو د هغه قیمت به ځني اخیستل کیږي. همداسي دلته هم چي تر څو شفیع لره د مثلِ صوري اداء کول ممکن وي، هغه به اداء کوي، کنې مثلِ معنوي (قیمت) به اداء کوي.

والعددی إلخ: په دې سره دا رانښیي چي عددی متقارب یعني هغه شی او سامان چي په افرادو او د افرادو په قیمت کي یې تفاوت نه وي. فقهاؤ هغه هم په ذواتُ الأمثال کي شمېرلي دي. لهذا که چا د عددی متقارب شي مثلاً د هګیو په عوض کي کور رانیولی وي، نو شفیع به د هغه مثل ورکوي، قیمت به یې نه ورکوي.

وإن باع عقارا إلخ: فرمايي که څوک پر بل چا خپله یو جایداد مثلاً ځمکه خرڅه کړي او په بدله کي د هغه ځمکه واخلي، او د دواړو ځمکو شفیع ګان د خپل شفعي اخیستل وغواړي، نو په دې صورت کي حکم دا دی چي د بائع د ځمکي شفیع به په بدله کي د مشتري د ځمکي قیمت ورکوي (یعني د مشتري د ځمکي د قیمت په عوض کي به خپله مشفوعه ځمکه اخلي) او د مشتري د ځمکي شفیع به په بدله کي د بائع د ځمکي قیمت ورکوي؛ ځکه چي ځمکه له ذواتُ القیم څخه ده. نو ځکه هر شفیع به هغه د خپل قیمت په عوض کي اخلي.

په قرض سره د خرڅ کړی سوي جایداد د شفعي بیان

قَالَ: وَإِذَا بَاعَ بِثَمَنٍ مُؤَجَّلٍ فرمايي: او که څوک د نېټه داره [قرض والا] ثمن په عوض کي خپل کور خرڅ کړي فَلِلشَّفِيعِ الْخِيَارُ إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِثَمَنٍ حَالٍّ نو شفیع ته اختیار دی چي که وغواړي نو په نغد ثمن سره دي دا [مشفوعه] کور واخلي وَإِنْ شَاءَ صَبَرَ حَتَّى يَنْقَضِيَ الْأَجَلُ ثُمَّ يَأْخُذُهَا او که وغواړي نو صبر دي وکړي تر دې چي تاکل سوی موده [نېټه] تېره سي بیا دي یې واخلي [ومراده الصبر عن الأخذ، أما الطلب عليه (لازم) فی الحال حتى لو سكت عنه، بطلت شفعته عند أبي حنيفة ومحمد، خلافًا لقول أبي يوسف رَحِمَهُ الله الآخر ۞] وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَأْخُذَهَا فِي الْحَالِ بِثَمَنٍ مُؤَجَّلٍ او هغه ته دا اختیار نسته چي فی الحاله

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة ومحمد رَحِمَهُمَا الله، قال العلامة ابن نجيم رَحِمَهُ الله: قوله "أو يصبر" عن الأخذ، أما الطلب فلا بدّ منه فی الحال، حتى لو سكت ولم يطلب، بطلت شفعته عند أبی حنيفة ومحمد رَحِمَهُمَا الله، وبه كان يقول أبو يوسف أولًا ثم رجع عنه وقال لا تبطل الشفعة (البحر ج:۸، ص:۲۴۵)، فالراجح فيه قول الطرفين، انظر للتوضيح [القول الراجح ج:۲، ص:۲۷۳]

په نېټه داره [قرض] ثمن سره هغه دا كور واخلي وَقَالَ زُفَرُ: لَهُ ذٰلِكَ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هغه ته د دې اختيار سته وَهُوَقَوْلُ الشَّافِعِيِّ فِي الْقَدِيمِ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله مخكينى قول دى لِأَنَّ كَوْنَهُ مُؤَجَّلًا وَصْفٌ فِي الثَّمَنِ ځكه چي د ثمن مؤجل كېدل [قرض والا كېدل] په ثمن كي يو وصف دى كَالزِّيَافَةِ لكه كوټه والى [چي يو وصف دى] وَالْأَخْذُ بِالشُّفْعَةِ بِهِ او په شفعه كي اخيستل د ثمن په بدله كي دي [يعني مشفوعه كور په همدې ثمن سره اخيستل كيږي] فَيَأْخُذُ بِأَصْلِهِ وَ وَصْفِهِ نو ځكه شفيع به [مشفوعه كور] په اصل ثمن او د هغه په وصف دواړو سره اخلي كَمَا فِي الزُّيُوفِ لكه څرنګه چي په كوټه سكو كي كيږي.

اللغات: ﴿مؤجّل﴾ د تفعيل د باب مفعول دى: مؤخر كړى سوى، نېټه داره، هغه شى چي د هغه لپاره څه مودت و ټاكل سي، قرض والا (پور والا)، ﴿حال﴾ اوسنى، نغد، فوري، ﴿ينقضي﴾ د انفعال د باب مضارع ده: تېرېدل، ختمېدل، ﴿زيافة﴾ كوټه والى، كوټه كېدل (ناچله كېدل)، ﴿زيوف﴾ كوټه دراهم او كوټه پيسې كوم چي نه چليږي.

تشريح: تر اوسه خو د نغدي معاملې بيان وو (چي څوک په نغدو پيسو [نقد ثمن] يا نغد سامان سره كور خرڅ كړي يعني له مشتري څخه سمدستي ثمن واخلي)، اوس له دې ځايه د قرض صورت بيانوي، فرمايي چي كه څوک په قرض والا ثمن سره پر بل چا كور خرڅ كړي مثلاً يو كال مودت او نېټه وټاكي (چي يو كال وروسته به ثمن راكوې)، اوس كه د دغه كور شفيع د هغه رانيول او اخيستل وغواړي، نو څه به كوي، په دې سلسله كي دوه مذهبه دي: (١)... د احنافو وينا دا ده چي په داسي مسئلو كي د شفيع لپاره صرف دوې لاري دي: ① يا هغه دي نغد قيمت اداء كړي او مشفوعه كور دي واخلي، ② يا د ټاكل سوي مودت (مثلاً ديوه كال) تر تېرېدو پوري دي انتظار وكړي، يعني د احنافو په نېز دغه شفيع ته دا اختيار نسته چي د مشتري په څېر دئ هم فى الحاله په قرض ثمن سره دا كور واخلي.

(٢)... دويم مذهب د امام زفر رَحِمَهُ الله دى او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول قديم دى چي شفيع فى الحاله دا كور د قرض ثمن په عوض كي اخيستلاى سي.

د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دى چي د ثمن مؤجل كېدل (يعني نېټه داره او قرض والا كېدل) دا د ثمن وصف دى او وصف د موصوف تابع وي، او شفعه (مشفوعه كور) د همدې ثمن په ذريعه اخيستل كيږي، لهذا په كوم وصف سره چي ثمن پر مشتري لازم وه، په هماغه وصف سره به دا ثمن پر شفيع

هم لازم وي، او تاسو ته معلومه ده چي په دې مسئله کي پر مشتري مؤجل (قرض والا) ثمن لازم وه، يعني د مشتري په حق کي د ثمن اداینه د قرض په وصف سره متصف وه، نو ځکه د شفیع په حق کي به هم دا وصف ثابتیږي او هغه ته به هم په قرض ثمن سره فی الحاله د دې کور د اخیستلو اختیار وي.

اصلاً د امام زفر رَحِمَهُ الله مسلک د مخکي په څېر دلته هم مبني بر قیاس دی، هغه فرمایي چي څرنګه د دراهمو کوټه والی یو وصف دی، همداسي د ثمن مؤجل والی هم د ثمن یو وصف دی، مثلاً که څوک په کوټه دراهمو سره کور رانیسي، نو شفیع ته په کوټه دراهمو سره د هغه کور د اخیستلو حق سته، لهذا کله چي کوټه والی یو صفت دی او په دې صفت کي شفیع او مشتري دواړه برابر دي، نو په مؤجل کي دواړه څنګه نه سي برابرېدلای! ښکاره خبره ده چي په دې کي به هم دواړه برابر وي، ځکه دا هم یو وصف دی.

زموږ دلیل

وَلَنَا: أَنَّ الْأَجَلَ إِنَّمَا يَثْبُتُ بِالشَّرْطِ او زموږ دلیل دا دی: چي اجل په شرط سره ثابتیږي وَلَا شَرْطَ فِيمَا بَيْنَ الشَّفِيعِ وَالْبَائِعِ أَوِ الْمُبْتَاعِ او د شفیع او بائع یا مشتري تر مینځ هیڅ شرط نسته وَلَيْسَ الرِّضَاءُ بِهِ فِي حَقِّ الْمُشْتَرِيْ رِضَاءً بِهِ فِيْ حَقِّ الشَّفِيعِ او د مشتري په حق کي په قرض راضي کېدل د شفیع په حق کي په قرض راضي کېدل نه دي [په بله وینا: او د مشتري په حق کي (د بائع) په راضي کېدلو سره د شفیع په حق کي راضي کېدل نه لازمیږي] لِتَفَاوُتِ النَّاسِ فِي الْمَلَاءَةِ ځکه چي په مالداری کي خلک مختلف وي وَلَيْسَ الْأَجَلُ وَصْفَ الثَّمَنِ او أجل د ثمن وصف نه دی لِأَنَّهُ حَقُّ الْمُشْتَرِيْ ځکه چي أجل د مشتري حق دی وَلَوْ كَانَ وَصْفًا لَهُ او که چیري أجل د ثمن وصف وای لَتَبِعَهُ فَيَكُونُ حَقًّا لِلْبَائِعِ كَالثَّمَنِ نو هغه به د ثمن تابع کېدای نو د ثمن په څېر به هغه هم د بائع حق کېدای وَصَارَ كَمَا إِذَا اشْتَرَى شَيْئًا بِثَمَنٍ مُؤَجَّلٍ ثُمَّ وَلَّاهُ غَيْرَهُ او دا داسي سوه لکه یو څوک چي د قرض ثمن په عوض کي یو شی رانیسي بیا پر بل چا هغه د بیع تولیه په توګه خرڅ کړي لَا يَثْبُتُ الْأَجَلُ إِلَّا بِالذِّكْرِ نو [په داسي صورت کي] له ذکر کولو [او صراحت کولو] څخه بغیر أجل نه ثابتیږي كَذَا هٰذَا نو همداسي دا [د شفعي مسئله] هم ده.

اللغات: ﴿أجل﴾ تاکل سوی مودت، نېټه. ﴿مبتاع﴾ د افتعال د باب فاعل دی: رانیونکی، مشتري، ﴿ملاءة﴾ مصدر دی، مالداره کېدل، مالداري. ﴿ولّاه﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: بیع تولیه کول، د تولیه په توګه ورکول.

تشريح: په تېر عبارت کي د مخکنۍ مسئلې په هکله د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل بيان سو. اوس په دې عبارت کي زموږ د نورو احنافو (امام صاحب او صاحبينو) دليل بيان سوی دی، حاصل د دليل دا دی چي أجل د ثمن وصف نه دی، بلکي دا خو يو زائد شی دی کوم چي په شرطولو (شرط لګولو) سره ثابتيږي، او دلته دا شرط د بائع او مشتري تر مينځ دی، لهذا فقط د همدوی په حق کي به ثابتيږي، پاته سو د شفيع او بائع يا د مشتري او شفيع تر مينځ دا ډول هيڅ شرط نه دی لګول سوی، نو ځکه د شفيع په حق کي به دا ښکاره کيږي هم نه، او هغه ته به فی الحاله صرف د نغد قيمت په عوض کي د کور اخيستلو اختيار وي.

ولیس الرضاء إلخ: په دې سره دويم دليل بيانوي، حاصل يې دا دی چي په شفعه کي مبادلة المال بالمال کيږي او د مبادلة المال بالمال په صورت کي د دواړو عاقدَينو رضاء ضروري وي، او دا معلومه خبره ده چي يو څوک يو چا ته په قرض ورکولو راضي وي خو بل چا ته په قرض ورکولو راضي نه وي، ځکه چي په غناء او مالداری کي د خلکو حالات مختلف وي، کېدای سي چي بائع چا ته قرض ورکوي، هغه دي غريب وي، نو د داسي صورت حال په خاطر دا ضروري نه ده چي که بائع په يو وجه مشتري ته په قرض ورکولو راضي وي، نو هغه دي شفيع ته هم په قرض ورکولو راضي وي، حال دا چي رضاء ضروري ده، نو ځکه د شفيع په حق کي په قرض ثمن سره فی الحاله د کور اخيستلو هيڅ صورت نسته.

وليس الأجل إلخ: په دې سره د امام زفر رَحِمَهُ الله د قول او قياس جواب ورکوي، هغه ويلي وه چي أجل (مؤجل کېدل) د ثمن وصف دی،... حاصل د جواب دا دی چي أجل د ثمن وصف ګرځول صحيح نه دي، ځکه که دا د ثمن وصف وي، نو څرنګه چي ثمن د بائع حق دی، همداسي به أجل هم د بائع حق وای، ځکه د شي وصف په هر حال کي د هغه شي تابع کيږي، حال دا چي أجل د مشتري حق دی، نه د بائع، لهذا کله چي دا د بائع حق نه دی، نو بيا هغه د ثمن تابع کول او د ثمن وصف ورته ويل هم صحيح نه دي.

وصار کما إلخ: په دې سره د پورتنۍ مسئلې يو مثال پېشوي، حاصل يې دا دی چي که څوک يو شی په قرض رانيسي او بيا يې د بيع توليه په توګه پر بل مشتري (رانيونکي) خرڅ کړي، نو څرنګه چي دلته د اول مشتري او بائع تر مينځ د أجل او قرض په صراحت سره دا معامله سوې ده، نو ځکه د دوی تر مينځ خو قرض صحيح دی، لېکن د دويم مشتري او دويم بائع (کوم چي اول مشتري دی) تر مينځ د أجل او قرض هيڅ تذکره نه ده سوې، نو ځکه دويم مشتري ته صرف په نغد ثمن سره د هغه شي د اخيستلو اختيار سته، خاص همداسي د شفعي په پورتنۍ مسئله کي هم چي څرنګه د بائع او

مشتري تر مینځ د أجل یادونه سوې ده، نو د مشتري په حق کي خو أجل ثابتیږي، لیکن د بائع او شفیع یا د مشتري او شفیع په معامله کي د أجل هیڅ صراحت او یادونه نه ده سوې، نو ځکه أجل او قرض به هم نه ثابتیږي.

په قرض سره خرڅ کړی سوی مشفوعه جایداد په نغدو رانیول

ثُمَّ إِنْ أَخَذَهَا بِثَمَنٍ حَالٍّ مِنَ الْبَائِعِ بیا که شفیع دا [مشفوعه] کور د نغد ثمن په عوض کي له بائع څخه واخلي سَقَطَ الثَّمَنُ عَنِ الْمُشْتَرِيْ نو د مشتري له غاړي څخه ثمن ساقطیږي لِمَا بَيَّنَّا مِنْ قَبْلُ د هغه دلیل پر بناء کوم موږ مخکي بیان کړی وَإِنْ أَخَذَهَا مِنَ الْمُشْتَرِي او که شفیع دا کور له مشتري څخه واخلي رَجَعَ الْبَائِعُ عَلَى الْمُشْتَرِي بِثَمَنٍ مُؤَجَّلٍ كَمَا كَانَ نو بائع به پر مشتري د مخکي په څیر په قرض ثمن سره رجوع کوي لِأَنَّ الشَّرْطَ الَّذِي جَرَى بَيْنَهُمَا لَمْ يَبْطُلْ بِأَخْذِ الشَّفِيعِ ځکه چي د بائع او مشتري تر مینځ جاري سوی [لګول سوی] شرط د شفیع د [نقداً] اخیستلو په وجه باطل نه سو فَبَقِيَ مُوْجَبُهُ نو د هغه حکم باقي دی فَصَارَ كَمَا إِذَا بَاعَهُ بِثَمَنٍ حَالٍّ وَقَدِ اشْتَرَاهُ مُؤَجَّلًا نو دا داسي سوه لکه یو څوک چي په نغد ثمن سره شی خرڅ کړي حال دا چي هغه په قرض ثمن سره رانیولی وي وَإِنِ اخْتَارَ الِانْتِظَارَ او که شفیع انتظار [او صبر] اختیار کړي لَهُ ذٰلِكَ نو هغه ته د دې اختیار سته لِأَنَّ لَهُ أَنْ لَا يَلْتَزِمَ زِيَادَةَ الضَّرَرِ مِنْ حَيْثُ النَّقْدِيَّةُ ځکه چي هغه ته دا اختیار سته چي د نغد اداء کولو په حیثیت سره اضافي نقصان پر ځان لازم نه کړي.

اللغات: ﴿موجب﴾ تقاضا، حکم، ﴿لا یلتزم﴾ د افتعال له بابه د نفي صیغه ده: پر ځان لازمول، پر خپله غاړه اخیستل.

تشریح: فرمایي چي که شفیع دا په قرض سره خرڅ کړی سوی کور په نغد ثمن سره واخلي او د هغه دا معامله د بائع سره وسي (یعني بائع ته د مشفوعه کور نغد ثمن [قیمت] ورکړي)، نو په دې صورت کي مشتري له ثمن څخه بري کیږي، دلیل مخکي (د باب طلب الشفعه په آخري حصه کي) تېر سوی دی چي د هغه حاصل دا دی چي کله شفیع کور واخیستی نو د مشتري قبضه ممتنع او ناممکنه سوه او د مشتري په حق کي عقد فسخ سو، نو کله چي ګرسره عقد فسخ سو، نو هغه به د څه شي ثمن اداء کوي (ځکه د عقد په فسخ کېدلو سره ثمن ساقطیږي)، نو په همدې وجه په پورتني صورت کي د مشتري له ذمې څخه ثمن ساقط سوی دی.

او که شفيع له مشتري څخه دا کور په نغد ثمن سره واخلي (يعني د بائع پر ځای مشتري ته د مشفوعه کور نغد ثمن ورکړي)، نو څرنګه چي په دې صورت کي د بائع ثمن د مشتري پر ذمه قرض وو (ځکه بائع په قرض سره دا کور پر هغه خرڅ کړی وو)، نو ځکه اوس هم دا ثمن د مشتري پر ذمه قرض پاتيږي (لهذا پر هغه لازم نه دي چي فی الحاله يې اداء کړي. که څه هم شفيع ته هغه نغد ثمن ورکړی دی)؛ ځکه کله چي د بائع او مشتري په مينځ کي تر يو ټاکل سوي مودته پوري دأجل او قرض شرط مذکوره وو (چي ثمن دومره مودت وروسته غواړم تر هغه وخته دي پر تا قرض وي)، نو اوس د شفيع په نغد ثمن سره د دې کور اخيستلو په وجه دا شرط نه ختميږي. بلکي د هغه حکم اوس هم باقي پاتيږي، او کله چي د هغه حکم اوس هم پاته دی، نو د بائع ثمن چي څرنګه مخکي قرض وو، همداسي به اوس هم قرض پاته وي.

د دې مثال داسي دی لکه يو څوک چي له بل چا څخه په قرض يو شی رانيسي او مثلاً پنځه مياشتي مودت وټاکي (چي مشتري [رانيونکی] به پنځه مياشتي وروسته ثمن ورکوي)، بيا مشتري هغه شی له پنځو مياشتو څخه مخکي پر يو بل چا په نغد ثمن سره خرڅ کړي، نو څرنګه چي اوله معامله په قرض سوې وه. نو ځکه هغه تر پنځو مياشتو پوري هغسي (د مخکي په څېر) په قرض پاتيږي. د اول مشتري د نغد خرڅولو په وجه دا ټاکل سوی مودت نه ختميږي. همداسي د شفعي په پورتني مسئله کي هم چي کله د بائع او مشتري تر مينځ ثمن قرض وو. نو د ټاکل سوي مودت تر تېرېدلو مخکي به ثمن هغسي د مشتري پر ذمه قرض پاته وي. برابره ده شفيع و مشتري ته نغد ثمن ورکړي او که يې نه ورکړي.

وإن اختار إلخ: مخکي ذکر سوه چي که شفيع فی الحاله د دې کور رانيول غواړي. نو خو په نغد ثمن سره به يې اخلي. دلته دا ذکر کوي چي که شفيع د بائع او مشتري تر ټاکل سوي مودته پوري انتظار کوي. نو هغه ته د دې هم پوره اختيار سته. ځکه کله چي تر مودت تېرېدلو مخکي هم که شفيع کور رانيول غواړي نو نغد ثمن به اداء کوي او تر مودت تېرېدلو وروسته هم داغه قصه ده چي نغد ثمن به اداء کوي (يعني کله چي په دواړو وختونو کي هيڅ فرق نسته چي که هر وخت يې رانيول غواړي نو نغد ثمن به اداء کوي). نو بيا ولي خپل پيسې په دې کور بندوي او پر ځان بې اضافي ضرر اړدي. ځکه د مودت ختمېدلو تر وخته پوري هغه دا پيسې په يو بل فايده من کار کي لګولای سي (چي ګټه او منفعت ځني حاصل کړي). نو په دې وجه شفيع ته اختيار دی چي تر مودت ختمېدلو پوري انتظار وکړي او تر هغه وروسته په نغد ثمن سره دا مشفوعه کور واخلي. فی الحاله په نغد سره اخيستل پر هغه لازم نه دي.

د پورتني مسئلي نور وضاحت

وَقَوْلُهُ فِي الْكِتَابِ ''وَإِنْ شَاءَ صَبَرَ حَتّٰى يَنْقَضِيَ الْأَجَلُ'' مُرَادُهُ الصَّبْرُ عَنِ الْأَخْذِ او په قدوري [متن] کي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول "وإن شاء صبر حتى ينقضي الأجل" د دې مراد [د مشفوعه ځای] له اخيستلو څخه صبر کول دي أَمَّا الطَّلَبُ عَلَيْهِ فِي الْحَالِ او کوم چي [د شفعي] طلب کول دي نه هغه

فی الحاله [ضروري] دي حَتّٰى لَوْ سَكَتَ عَنْهُ تر دې چي كه شفيع له طلب كولو څخه چپ پاته سي بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د هغه شفعه باطليږي خِلَافًا لِقَوْلِ أَبِيْ يُوْسُفَ الْآخَرِ په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د آخري قول لِأَنَّ حَقَّ الشُّفْعَةِ إِنَّمَا يَثْبُتُ بِالْبَيْعِ ځكه چي د شفعي حق خو په بيع سره ثابتيږي وَالْأَخْذُ يَتَرَاخٰى عَنِ الطَّلَبِ او اخيستل له طلب څخه مؤخر [وروسته] وي [ځكه اول د شفعي طلب كيږي او بيا وروسته مشفوعه كور اخيستل كيږي] وَهُوَ مُتَمَكِّنٌ مِنَ الْأَخْذِ فِي الْحَالِ بِأَنْ يُؤَدِّيَ الثَّمَنَ حَالًّا او شفيع فی الحاله پر اخيستلو قادر دی په دې توګه چي نغد ثمن اداء كړي فَيُشْتَرَطُ الطَّلَبُ عِنْدَ الْعِلْمِ بِالْبَيْعِ نو ځكه په بيع د خبرېدلو په وخت كي به صرف طلب شرط وي [نه اخيستل].

اللغات: ﴿ينقضی﴾ د انفعال د باب مضارع ده: مودت تېرېدل، ختمېدل. ﴿يتراخیٰ﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: مؤخر كېدل، وروسته كېدل.

تشريح: مخكي چي په متن كي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول "وَإِنْ شَاءَ صَبَرَ حَتّٰى يَنْقَضِيَ الْأَجَلُ" ذكر سو، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دلته د هغه صحيح مفهوم او مطلب بيانوي فرمايي چي د دغه عبارت مطلب دا دی چي شفيع دي د مودت تېرېدلو (ختمېدلو) تر وخته پوري د مشفوعه كور له اخيستلو څخه صبر وكړي، دا يې مطلب نه دی چي د شفعي له طلب څخه دي صبر او منع وكړي (د شفعي طلب دي نه كوي)، بلكي طلب خو به په بيع د خبرېدلو سره سمدستي كوي (يعني چي كله هم شفيع په دې خبر سي چي كور خرڅ سو، نو سمدستي به د شفعي طلب كوي) او دا سمدستي طلب كول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز ضروري دي، لهذا كه شفيع څه وخت له هغه څخه چپ پاته سي او غفلت وكړي، نو د هغه حق شفعه باطليږي او ختميږي، همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مخكينی قول دی.

بيا په آخر كي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله له خپل دغه قول څخه اعراض وكړی او د شفيع لپاره يې له طلب څخه د منع كېدلو اجازت ور كړی، او د هغه د دې آخري قول دليل دا دی چي په شفعه كي اخيستل اصل دي، نه طلب كول، او شفيع په دې وخت كي (يعني د مودت تر ختمېدو مخكي) پر اخيستلو قادر نه دی، لهذا د هغه د طلب څه معنی !، ځكه چي په طلب سره د هغه مقصود يعني (د مشفوعه كور) اخيستل نه حاصليږي، نو بيا هغه لره د طلب كولو هم ضرورت نسته.

لأن حق الشفعة إلخ: په دې سره د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل ذکر کوي، حاصل يې دا دی چې نفسِ شفعه خو په بيع سره ثابتيږي او په بيع د خبرېدلو په وخت کې فوراً (سمدستي) د شفعې طلب کول ضروري دي، لېکن تر طلب وروسته فوراً د شفعې (مشفوعه کول) اخيستل ضروري نه دي، ځکه چې ځينې وخت داسې وي چې له طلب څخه وروسته شفيع ته يو عذر پېښ سي او هغه پر فوراً اخيستلو قادر نه وي. لهذا کله چې شفعه اخيستل له طلب څخه متأخر کېدای سي، نو د مودت تېرېدلو تر وختـه پوري د هغه په متأخر کېدلو کې هيڅ حرج نسته، په همدې وجه موږ د طلب د فوراً واجبېدلو او د تأخير فی الأخذ قائل يو.

وهومتمکن من الأخذ إلخ: دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د دليل جواب دی، د هغه دليل دا وو چې کله اوس شفيع (د مشفوعه کور) پر اخيستلو قادر نه دی، نو د هغه طلب کول بې ځايه او بې فايدې دي، نو په جواب فرمايي کې چې داسې نه ده چې هغه فی الحاله پر اخيستلو قادر نه دی، ځکه تاسو لږ غور وکړئ! چې که شفيع نغد ثمن اداء کړي، نو فی الحاله هغه څوک له اخيستلو څخه منع کولای سي (ځکه تر ثمن اداء کولو وروسته سمدستي هغه د مشفوعه کور مالک کيږي)، لهذا کله چې هغه فی الحاله پر اخيستلو قادر دی، نو د هغه لپاره به طلب هم ضروري وي، کنې په طلب کې په تأخير او ځنډ کولو سره گرسره د هغه حق باطليږي.

د شراب يا خنزير په بدله کې د خرڅ کړی سوي جايداد د شفعې بيان

قَالَ: وَإِذَا اشْتَرَى ذِمِّيٌّ بِخَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ دَارًا فرمايي: او کله چې يو ذمي د شراب يا خنزير په عوض کې کور رانيسي وَشَفِيعُهَا ذِمِّيٌّ او د هغه کور شفيع هم ذمي وي أَخَذَهَا بِمِثْلِ الْخَمْرِ وَقِيمَةِ الْخِنْزِيرِ نو دا ذمي شفيع به د شرابو په مثل او د خنزير په قيمت سره دا کور اخلي لِأَنَّ هٰذَا الْبَيْعَ مَقْضِيٌّ بِالصِّحَّةِ فِيمَا بَيْنَهُمْ ځکه د ذميانو تر مينځ د داسې بيع د صحيح والي فيصله سوې ده [يعني د شراب او خنزير بيع د ذميانو په خپل آپس کې شرعاً صحيح ده] وَحَقُّ الشُّفْعَةِ يَعُمُّ الْمُسْلِمَ وَالذِّمِّيَّ او د شفعې حق مسلمان او ذمي دواړو لره عام دی وَالْخَمْرُ لَهُمْ كَالْخَلِّ لَنَا وَالْخِنْزِيرُ كَالشَّاةِ او شراب د دوی لپاره داسې دي لکه زموږ لپاره سرکه او خنزير لکه پسه فَيَأْخُذُ فِي الْأَوَّلِ بِالْمِثْلِ وَالثَّانِي بِالْقِيمَةِ نو ځکه په اول صورت کې به شفيع د مثل په عوض کې او په دويم صورت کې د قيمت په عوض کې [مشفوعه کور] اخلي.

اللغات: ﴿خمر﴾ شراب. ﴿مقضيّ﴾ د ضرب د باب مفعول دی: فيصله کړی سوی. ﴿شاة﴾ اسمِ جنس دی، پسه (مږ)، مېږه، سېرلی، بزه ټولو ته علی الانفراد شاة ويل کيږي او مذکر او مؤنث دواړو لره

شامل دی، صاحب د معجم یې داسي تعریف کړی دی: " الشاة: الواحدة من الغنم، للذكر والانثى، ضأناً كانت أو معزاً". (معجم لغة الفقهاء)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي ذمي يو کور رانيوی او د دې کور شفيع هم ذمي دی، اوس دلته دوه صورتونه دي: ① که ذمي مشتري دا کور د شرابو په عوض کي رانيولی وي، نو ذمي شفيع به هم دا کور صرف د شرابو په عوض کي اخلي، ځکه چي شراب له ذوات الأمثال څخه دي او مخکي ذکر سوه چي حتى الإمكان به مشتري ته ثمن مثلي ورکول کيږي، لهذا کله چي په دې صورت کي د مثل ورکول ممکن دي، نو ذمي شفيع به د شرابو د مثل په عوض کي له ذمي مشتري څخه مشفوعه کور اخلي.

② او که مشتري دا کور د خنزير په عوض کي رانيولی وي، نو څرنګه چي خنزير له ذوات الأمثال څخه نه، بلکي له ذوات القيم څخه دی، نو په دې صورت کي مشتري ته د خنزير مثل ورکول ناممکن دي، لهذا ذمي شفيع به د خنزير د قيمت په عوض کي دا کور اخلي.

څرنګه چي په دې مسئله کي مشتري او شفيع دواړه ذميان دي او شراب د دوی لپاره داسي دی لکه زموږ لپاره سرکه، همدارنګه خنزير د ذميانو لپاره داسي دی لکه زموږ لپاره پسه او بزه (وزه)، او دا معلومه خبره ده چي که د دوو مسلمانانو ترمينځ د سرکې يا پسه بيع او معامله وسي، نو څرنګه چي د سرکې مثل موجود دی، لهذا مسلمان شفيع به په نفس سرکه سره مشفوعه کور اخلي، او پسه له ذوات القيم څخه دی، نو ځکه د پسه د قيمت په عوض کي به مشفوعه کور اخلي. خاص همداسي د خمر او خنزير مسئله د ذميانو په حق کي ده، لهذا په اول صورت کي به ذمي شفيع د خمر (شرابو) په مثل سره او په دويم صورت کي د خنزير په قيمت سره دا مشفوعه کور اخلي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَإِنْ كَانَ شَفِيْعُهَا مُسْلِمًا فرمايي: او که د دې کور شفيع مسلمان وي أَخَذَهَا بِقِيمَةِ الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيْرِ نو دا مسلمان شفيع به د شراب او خنزير په قيمت سره کور اخلي [يعني د دې شيانو قيمت به ورکوي] أَمَّا الْخِنْزِيْرُ فَظَاهِرٌ کوم چي خنزير دی نو دا ښکاره ده [چي د هغه قيمت به ورکوي] وَكَذَا الْخَمْرُ او همدارنګه شراب لِامْتِنَاعِ التَّسَلُّمِ وَالتَّسْلِيْمِ فِي حَقِّ الْمُسْلِمِ ځکه چي د مسلمان په حق کي د شرابو اخيستل او ورسپارل [ورکول] ممنوع دي فَالْتَحَقَ بِغَيْرِ الْمِثْلِيِّ نو شراب د غير مثلي سره ملحق سوه [يعني د مسلمان په حق کي مثلي پاته نه سوه بلکي له ذوات القيم څخه سوه] وَإِنْ كَانَ شَفِيعُهَا مُسْلِمًا وَذِمِّيًّا او

که د دې کور شفیع [د شفعې طلب کونکی] مسلمان او ذمي دواړه وي أَخَذَ الْمُسْلِمُ نِصْفَهَا بِنِصْفِ قِيمَةِ الْخَمْرِ نو مسلمان به د دې کور نیمه حصه د شرابو د نیم قیمت په عوض کې اخلي وَالذِّمِّيُّ نِصْفَهَا بِنِصْفِ مِثْلِ الْخَمْرِ او ذمي به د هغه نیمه حصه د نیمو شرابو په عوض کې اخلي اِعْتِبَارًا لِلْبَعْضِ بِالْكُلِّ پر کُل د بعضي په قیاسولو سره فَلَوْ أَسْلَمَ الذِّمِّيُّ بیا که ذمي مسلمان سي أَخَذَهَا بِنِصْفِ قِيمَةِ الْخَمْرِ نو هغه به دا کور د شرابو د نیم قیمت په عوض کې اخلي لِعَجْزِهِ عَنْ تَمْلِيكِ الْخَمْرِ ځکه چي [اوس] هغه له مالک جوړولو [ورکولو] څخه عاجز دی وَبِالْإِسْلَامِ يَتَأَكَّدُ حَقُّهُ لَا أَنْ يَبْطُلَ او په اسلام راوړلو سره د هغه حق نور مضبوطیږي، نه دا چي باطلیږي فَصَارَ كَمَا إِذَا اشْتَرَاهَا بِكُرٍّ مِنْ رُطَبٍ نو داسي سو لکه د تازه خرماوو په عوض کې چي کور رانیسي فَحَضَرَ الشَّفِيعُ بَعْدَ انْقِطَاعِهِ بیا د تازه خرماوو له نېستي کېدلو څخه وروسته شفیع راسي يَأْخُذُ بِقِيمَةِ الرُّطَبِ نو هغه به د تازه خرماوو د قیمت په عوض کې [کور] اخلي كَذَا هٰذَا همداسي دا هم دی.

اللغات: ﴿امتناع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: منع کېدل (ممنوع کېدل). ناممکن کېدل. ﴿تسلّم﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: اخیستل. ﴿تسلیم﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: ورسپارل. ﴿کُرّ﴾ دا په عربو کي د یو غټي پیمانې (لوښي) نوم وو چي په هغه سره به غنم، اُوربشي او داسي نوره غله پیمانه کېده. مخکي چي د هدایې په حاشیه کي د دې کوم مقدار لیکل سوی وو. د په هغه اعتبار سره یو کُر تقریباً (۲۵۴۷) کېلو کیږي (یعني ۲۵۴۷ سېره په پاکستاني سېر سره). او د قفیز په حساب شپېته (۶۰) قفیزه کیږي. او بعضو ویلي دي چي یو کُر شلو ېنبت قفیزه کیږي. ﴿رطب﴾ تازه او لنده خرما (خیشته خرما). وچي خرما ته تَمر ویل کیږي. ﴿انقطاع﴾ د انفعال د باب مصدر دی: قطع کېدل (پرېکېدل). بندېدل. ختمېدل و نېستي کېدل.

تشریح: مخکي خو د دې حکم بیان سو چي په شراب یا خنزیر سره د رانیول سوي کور شفیع هم ذمي وي. نو هغه به د مثلِ خمر او د خنزیر د قیمت په عوض کي کور اخلي. دلته دا رابنیي چي که د دې کور شفیع مسلمان وي. نو هغه به د خمر او خنزیر په دواړو صورتونو کي د خمر او خنزیر د قیمت په عوض کي دا مشفوعه کور اخلي: ځکه خنزیر خو ښکاره خبره ده چي له ذوات القیم څخه دی. او خمر که څه هم مثلي دی، لېکن څرنګه چي د یو مسلمان لپاره د هغه راکړه ورکړه جائز نه ده. نو ځکه

د مسلمان په حق کي خمر هم له ذواتُ القيم څخه شمېرل سوی دی چي له ده څخه به د شرابو قيمت اخيستل کيږي.

بيا وروسته دا رابنيي چي که د دې خرڅ کړی سوي کور دوه شفيع ګان وي، له هغو څخه يو مسلمان وي او بل ذمي وي، نو په دې صورت کي به مسلمان شفيع د خمر او خنزير د نيم قيمت په عوض کي نيم کور اخلي؛ ځکه خنزير خو له مخکي څخه ذات القيمة دی، او پاته سو شراب نو څرنګه چي مسلمان د هغه ورکړه راکړه نه سي کولای، نو د مسلمانانو په حق کي خمر هم ذاتُ القيمة دي (يعني له ذواتُ القيم څخه دي). نو ځکه مسلمان شفيع به دلته د خمر او خنزير په نصف قيمت سره نيم کور اخلي. او دويم شفيع کوم چي ذمي دی، د هغه لپاره حکم دا دی چي هغه به د شرابو په صورت کي د نيمو شرابو مثل ورکوي او د خنزير په صورت کي به د هغه نيم قيمت ورکوي او نيم کور به اخلي.

د دې فرق وجه دا ده چي خنزير خو د ذمي او مسلمان دواړو په حق کي ذاتُ القيمة دی، لېکن خمر صرف د مسلمان په حق کي ذاتُ القيمة دی او د ذمي په حق کي مثلي دی (لکه مخکي چي ذکر سوه)، نو په همدې حساب سره په شفعه کي به مسلمان د دواړو قيمت ورکوي او ذمي به د يوه قيمت او د بل مثل ورکوي؛ اعتباراً للبعض بالکل يعني ځکه چي که مسلمان يوازي د دې ټوله کور شفيع وای، نو په دې صورت کي به هم هغه د خمر او خنزير ټوله قيمت ورکولای يا که يوازي ذمي د دې کور شفيع وای، نو د خمر په صورت کي مثل او د خنزير په صورت کي به يې د هغه قيمت ورکولای، نو همداسي دا حکم په هغه وخت کي هم دی کله چي مسلمان او ذمي دواړه د بعضي کور مثلاً د نيمايي، نيمايي کور شفيع ګان وي.

فلو أسلم إلخ: فرمايي که د مسلمان سره ذمي شفيع هم اسلام راوړي او تر اوسه هغه مشفوعه کور نه وي اخيستی، نو په دې صورت کي چي څرنګه د مسلمان لپاره د نيمو شرابو قيمت ورکول ضروري وه، همداسي به دئ هم اوس د نصف خمر قيمت ورکوي، نه مثلِ خمر؛ ځکه د اسلام راوړلو په وجه د هغه په حق کي د شرابو معامله حرامه سوه، او پاته سو د اسلام په وجه د هغه حق (حقِ شفعه) نه باطليږي، بلکي نور مضبوطيږي (ځکه د ذمي په هکله د بعضو قول دا دی چي هغه ته حقِ شفعه نه حاصليږي، لېکن تر اسلام راوړلو وروسته هغه ته خامخا حاصليږي). نو ځکه اوس به دا نوی مسلمان د شرابو د قيمت په عوض کي خپله حصه اخلي.

(وبالإسلام يتأكد إلخ: صاحب د احسن الهدايې وايي چي اصلاً دا عبارت د يو مقدر اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چي که د دوو غير مسلم کسانو (مثلاً د دوو ذميانو) تر مينځ بيع وسي او په ثمن کي شراب وټاکل سي، بيا له قبضي څخه مخکي يو عاقد (ذمي) مسلمان سي، نو بيع خو فسخ کيږي او ختميږي، لهذا همداسي دلته هم چي کله شفيع اسلام راوړی، نو د هغه حقِ شفعه ختمېدل پکار دي، خو دلته حکم داسي نه دی، د دې څه وجه ده؟.

د جواب حاصل دا دی چي شفعه پر بيع قياسول صحيح نه دي: ځکه تر اسلام راوړلو وروسته د يو مسلمان لپاره د شرابو بيع او راکړه ورکړه جائز نه ده او څرنګه چي دلته شراب په ثمن کي ټاکل سوي دي. نو ځکه دا مسلمان عاقد خو نه پر هغه قبضه کولای سي او نه بل څوک د هغه مالک کولای سي. لهذا کله چي په دې صورت کي د بيع مقصد فوت سو (يعني د بائع لپاره پر مبيع او د مشتري لپاره پر ثمن قبضه کول). نو ځکه بيع فسخ کړی سوه، خو د بيع په فسخ سره د شفعي فسخ کېدل نه لازميږي. ځکه شفعه خو تر بيع وروسته سمدستي ثابتيږي او څرنګه چي د بيع په وخت کي بائع او مشتري دواړه په يوه مذهب وه. نو ځکه اصل بيع صحيح سوې وه او په هماغه وخت سمدستي شفعه واجب سوې وه، لهذا وروسته د بيع فسخ کيدل پر شفعه هيڅ اثر نه کوي، همدې ته يې ويلي دي چي په اسلام سره خو حق مؤکد او مستحکم کيږي، باطليږي نه).

فصار كما إلخ: په دې سره د ذمي د اسلام راوړلو تر ضورت يو مثال پېشوي، حاصل يې دا دی چي که مشتري د يوه کُر تازه خرماوو په عوض کي کور رانيسي، او شفيع په هغه وخت کي موجود نه وي، کله چي شفيع راسي او د کور اخيستل وغواړي، نو هغه مهال په بازار کي تازه خرماوي نه ترلاسه کيږي، نو څرنګه چي اوس دا شفيع د خرماوو له ورکولو څخه عاجز او قاصر سو، نو ځکه اوس حکم دا دی چي دئ به د خرماوو په بدله کي د خرماوو قيمت ورکوي او دا مشفوعه کور به اخلي، بالکل همداسي دلته هم چي کله ذمي اسلام راوړی، نو هغه د شرابو له مثل اداء کولو څخه عاجز سو، او له مثل څخه د عاجزه کېدلو په صورت کي قيمت ورکول کيږي، نو ځکه په پورتنی مسئله کي به هغه نوی مسلمان شفيع د شرابو په بدله کي د هغوی قيمت ورکوي او د شرابو د قيمت په عوض کي به مشفوعه کور اخلي.



فَصْلٌ

تشریح: په دې فصل کې د دې بیان کیږي چې که په مشفوعه جایداد او مشفوعه ځای کې تغیّر و تبدّل راسي مثلاً مشتري يو بل ځای پکښې جوړ کړي نو څه حکم دی؟ او دا ښکاره خبره ده چې عدم تغیّر اصل دی او تغیّر عارضي شی دی، نو ځکه یې دا فصل جلا بیان کړی دی.

په مشفوعه جایداد کې د مشتري د تصرّفاتو بیان

قَالَ: وَإِذَا بَنَى الْمُشْتَرِىْ فِيْهَا أَوْ غَرَسَ ثُمَّ قُضِىَ لِلشَّفِيْعِ بِالشُّفْعَةِ فرمایي: او کله چې [په مشفوعه ځمکه کې] مشتري ځای جوړ کړي یا نهالان [نیالګي] پکښې ولګوي بیا د شفیع لپاره د شفعي فیصله وسي فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِالثَّمَنِ وَقِيمَةِ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ نو هغه ته اختیار دی که وغواړي نو دا ځمکه دې د ثمن په عوض کې او د جوړ سوي ځای او لګول سوي نهالانو د قیمت په عوض کې واخلي [یعني د ځمکي قیمت دې هم ورکړي او د بناء او غرس قیمت دې هم ورکړي] وَإِنْ شَاءَ كَلَّفَ الْمُشْتَرِىَ قَلْعَهُ او که وغواړي نو مشتري دې د هغه په کنبلو مکلف کړي وَعَنْ أَبِىْ يُوْسُفَ أَنَّهُ لَا يُكَلَّفُ الْقَلْعَ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې مشتري به [د جوړ سوي ځای او نهالانو] په کنبلو سره نه مکلف کول کیږي وَيُخَيَّرُ بَيْنَ أَنْ يَأْخُذَ بِالثَّمَنِ وَقِيمَةِ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ وَبَيْنَ أَنْ يَتْرُكَ [بلکي] شفیع ته به د ثمن او د بناء او نهالانو د قیمت په عوض کې د اخیستلو او پرېښوولو [نه اخیستلو] اختیار ورکول کیږي وَبِهِ قَالَ الشَّافِعِىُّ او همدا امام شافعي رَحِمَهُ الله ویلي دي إِلَّا أَنَّ عِنْدَهُ لَهُ أَنْ يَقْلَعَ وَيُعْطِىْ قِيمَةَ الْبِنَاءِ لیکن د امام شافعي په نیز شفیع ته دا اختیار [هم] سته چې [د بناء...] کنبل ؤکړي او [مشتري ته] د بناء قیمت ورکړي.

اللغات: ﴿بَنَى﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جوړول، تعمیرول. ﴿غَرَسَ﴾ دا هم د ضرب ماضي ده: نهال (نیالګی) او درخته په ځمکه کې لګول (اینښوول)، بوټي اینښوول. ﴿الغَرْس﴾ لګول سوی (اینښوول سوی) نهال او بوټی. لګول سوې درخته. ﴿بناء﴾ جوړ سوی ځای (تعمیر کړی سوی)، ودانې، عمارت.

﴿كلّف﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: مكلف كول، پابند كول، مجبوره كول، تكليف وركول. ﴿قلع﴾ د فتح د باب مصدر دی: كښل، كاږل، (جلا كول او ليري كول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې بائع خپله ځمكه خرڅ كړه او مشتري چې هغه رانيوله، نو ځای او وداني يې پكښې جوړه كړه يا يې بوټي او نهالان پكښې ولګول (مخكې تر دې چې په هغه ځمكه كې ديو چا حقِ شفعه ثابت سي)، بيا تر دې وروسته ديو شفيع حقِ شفعه ثابت سو او د هغه لپاره د دې مشفوعه ځمكې فيصله وسوه (چې دا ځمكه دې اوس شفيع ته وركول سي)، نو شفيع به دغه ځمكه څرنګه اخلي، په دې باره كې درې قوله دي: (١)... په ظاهر روايت كې دي چې په دې صورت كې شفيع ته دوه اختيار دي: ① يا هغه دي د ځمكې او په ځمكه كې د جوړ سوي ځای او لګول سي نهالانو د پوره قيمت په عوض كې دا مشفوعه ځمكه واخلي، ② يا د ځمكې تر قيمت وركولو وروسته دي مشتري ته د خپل جوړ سوي ځای او لګول سوي نهالانو د ماتولو او كښلو حكم وكړي او مشفوعه ځمكه دي واخلي.

(٢) دويم قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی، د هغه په نيز هم شفيع ته دوه اختيار حاصليږي، خو هغه داسي چې ① يا شفيع دي د ځمكې او د ځای او نهالانو (ټولو) د قيمت په عوض كې دا مشفوعه ځمكه واخلي، ② يا بيا دي خپل شفعه پريږدي او د شفعې طلب دي بيا نه كوي، يعني شفيع ته هغه دويم اختيار نسته چې مشتري ته د ځای او داسي نورو د ماتولو او كښلو حكم وكړي.

(٣) دريم قول د امام شافعي رَحِمَهُ الله دی، د هغه په نيز مشتري ته درې اختيار دي، دوه اختياره خو هغه دي كوم چې امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله وركړي دي چې يا دي د ځمكې او د ځای او نهالانو (ټولو) د قيمت په عوض كې ځمكه واخلي، يا دي شفعه پريږدي، او دريم د هغه په نيز شفيع ته دا اختيار هم سته چې مشتري ته د ځای او نهالانو د ماتولو او كښلو حكم وكړي خو د دې كښلو په وجه چې د مشتري كوم تاوان وسي، هغه دې شفيع مشتري ته وركړي.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل

لِأَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ مُحِقٌّ فِي الْبِنَاءِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې په ځای جوړولو كې مشتري پر حق دی لِأَنَّهُ بَنَاهُ عَلَى أَنَّ الدَّارَ مِلْكُهُ ځكه چې هغه ځای په همدې وجه جوړ كړی دی چې كور [او ځمكه] د هغه ملكيت دی وَالتَّكْلِيفُ بِالْقَلْعِ مِنْ أَحْكَامِ الْعُدْوَانِ او په كښلو سره هغه مكلف كول د ظلم له احكامو څخه دي وَصَارَ كَالْمَوْهُوبِ لَهُ وَالْمُشْتَرِي شِرَاءً فَاسِدًا او دا داسي سو لكه

هبه کړی سوی شي او په شراء فاسد سره رانیول سوی شی [مثلاً موهوب لهٔ کس د هبې په ځمکه کې یا مشتري د شراء فاسد په ځمکه کي ځای جوړ کړي، نو هغه په کنبلو سره نه مکلف کول کیږي] وَكَمَا إِذَا زَرَعَ الْمُشْتَرِيْ، فَإِنَّهُ لَا يُكَلَّفُ الْقَلْعَ او [داسي سو] لکه مشتري چي [په ځمکه کي] کنبت وکړي، نو هغه په کنبلو سره نه مکلف کول کیږي [نو همداسي به دلته شفیع هم په کنبلو سره نه مکلف کیږي] وَهٰذَا الْأَنَّ فِي إِيْجَابِ الْأَخْذِ بِالْقِيْمَةِ دَفْعَ أَعْلَى الضَّرَرَيْنِ بِتَحَمُّلِ الْأَدْنٰى او دا ځکه چي د قیمت سره په اخیستلو په واجبولو کي له دوو ضررونو څخه د اعلیٰ [قوي] ضرر لیري کول دي د ادنیٰ [سپک] ضرر په زغملو سره [په بله وينا: او دا په دې وجه چي د قیمت ورکولو په واجبولو کي له دوو تاوانونو څخه د کوچني تاوان په ذریعه د غټ تاوان دفع کول سته] فَيُصَارُ إِلَيْهِ نو ځکه د همدې [قيمت واجبولو] و طرف ته به رجوع کیږي.

اللغات: ﴿مُحِق﴾ پر حق، حق بجانب. ﴿بناء﴾ جوړ سوی ځای، ودانې، عمارت. ﴿تكليف﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مکلف کول، پابند کول. ﴿عدوان﴾ ظلم و زياتوب، سرکښي. ﴿زرع﴾ د فتح د باب ماضي ده: کرل (تخم کرل)، کنبت کول (کښتګري کول). ﴿تحمّل﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: برداشت کول، زغمل، پورته کول. ﴿يُصار﴾ د ضرب د باب مضارع مجهوله ده: ګرځېدل. رجوع کول.

تشریح: په مخکیني عبارت کي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله مسلک ذکر سو، اوس دلته د هغه دلیل بیانوي، حاصل د دلیل یې دا دی چي کله مشتري ثمن اداء کړی او دا ځمکه یې رانیوله نو هغه د دې ځمکي مالک سو، او هر مالک ته په خپل ملکیت کي د تصرف کولو اختیار وي، لهذا مشتري که ځای او داسي نور پکښي جوړ کړي، نو دا خو د هغه حق دی، ځکه هغه په خپل ملکیت کي جوړ کړی دی، او کله چي هغه په خپل ملکیت کي تصرف کړی دی، نو بیا هغه ته د ماتولو او کنبلو حکم کول او په دې سره مکلف کول ظلم او نا انصافي ده کوم چي په هیڅ صورت کي هم صحیح نه دي.

وصار كالموهوب إلخ: امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د خپل دلیل په تائید کي درې مثالونه پېش کړي دي، اوس له دې ځایه هغه بیانوي:

①... د اول مثال حاصل دا دیٔ چي که څوک بل چا ته یو شی هبه او هدیه کړي او موهوب لهٔ په هغه کي تصرف وکړي (مثلاً ځمکه ورته هبه کړي او موهوب لهٔ په هغه کي یو ځای جوړ کړي)، نو وروسته که واهب خپل موهوب شی (ځمکه) واپس اخیستل وغواړي، نو هغه ته د دې اختیار نسته چي موهوب لهٔ د خپل تصرف په ماتولو مکلف کړي (چي ته خپل ځای ونړوه!) او خپل موهوب شی واپس واخلي.

(۲)... که مشتري په شراء فاسد سره یو شی مثلاً ځمکه رانیسي او په هغې کې کور جوړ کړي، نو وروسته بائع ته دا حق او اختیار نسته چې هغه جوړ سوی ځای ونړوي او ځمکه واپس واخلي.

(۳)... که مشتري ځمکه رانیسي او په هغې کې کښت وکړي او بیا د هغه ځمکې د شفیع لپاره د ځمکې فیصله وسي، نو شفیع ته دا حق او اختیار نسته چې مشتري د کښت په کښلو مکلف کړي (چې خپل کښت دي وکاږه او زما دا مشفوعه ځمکه ژر خالي کړه!)، بلکې د کښت پخېدلو تر وخته به انتظار کوي، نو تاسو او ګورئ په دغه دريو سره صورتونو کې د قابض (قبضه کونکي) تر تصرف وروسته هغه بل یوه ته دا اختیار نسته چې تصرف ختم کړی او خپل شی واخلي، همداسي په دغه پورتنۍ مسئله کې هم چې کله مشتري ځای او داسي نور جوړ کړه، نو شفیع د هغه په کښلو او ماتولو سره نه سي مکلف کول کېدای، بلکې شفیع به یا د دې جوړ سوي ځای او نهالانو سره هغه ځمکه اخلي یا خپل شفعه به پرېږدي.

وهذا لأن إلخ: په دې سره دا رابښيي چې مونږ (امام ابو یوسف) چې کوم دا خبره کړې ده چې مشتري به په کښلو سره نه مکلف کوي او شفیع به د جوړ سوي ځای او نهالانو سره سره دا ځمکه اخلي او د هغوی قیمت به ورکوي، د دې وجه دا ده چې په دغه مسئله کې دوه ضررونه سره جمع دي چې په هغوی کې یو قوي ضرر دی او بل سپک دی، که مشتري ته د هغه د جوړ سوي ځای او نهالانو د ماتولو او کښلو حکم وسي (چې خپل ځای ونړوه یا خپل نهالان وکاږه)، نو د دې ضرر قوي او نقصان یې ډېر دی، او که شفیع ته حکم وسي چې ځای او نهالان د خپل قیمت په عوض کې واخلي، نو د دې ضرر سپک دی، ځکه که څه هم پر شفیع د ځمکې د قیمت سره زائد او اضافي قیمت هم لازمیږي، خو بیر ته د دې قیمت عوض او صله (یعني جوړ سوی ځای او نهالان) هغه ته حاصلیږي، حال دا چې د مشتري لپاره د خپل ځای او نهالانو په کښلو کې سر تر پایه تاوان دی چې هغه ته د دې هیڅ عوض نه حاصلیږي.

لنډه دا چې د مشتري ضرر زیات دی او د شفیع ضرر کم دی، او د فقهي اصول او قاعده دا ده چې د غټ ضرر د لیرې کولو او ختمولو لپاره به سپک ضرر برداشت کیږي (إذا اجتمع مفسدتان، رُوعِي أعظمهما ضررًا بارتكاب أخفّهما)، نو ځکه همدا طریقه به دلته اختیارول کیږي چې له غټ ضرر څخه مشتري د ساتلو لپاره به شفیع ته حکم کیږي چې ته د جوړ سوي ځای او لګول سوي نهالانو قیمت اداء کړه او دا مشفوعه ځمکه واخله، کنې شفعه پرېږده!.

د ظاهر روايت دليل او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قياس جواب

وَوَجْهُ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او د ظاهر روايت دليل دا دی أَنَّهُ بَنٰى فِیْ مَحِلٍّ تَعَلَّقَ بِهٖ حَقٌّ مُتَاَكِّدٌ لِلْغَيْرِ مِنْ غَيْرِ تَسْلِيطٍ مِنْ جِهَةِ مَنْ لَهُ الْحَقُّ چي مشتري په داسي محل کي ځای جوړ کړی دی چي د هغه سره د بل [حقدار] کس [يعني د شفيع] مضبوط حق متعلق دی، د حقدار کس له طرفه له څه تسليط څخه بغير [يعني حقدار کس (چي هغه دلته شفيع دی) و مشتري ته پر ځای جوړولو تسلط او قدرت نه دی ورکړی] فَيُنْقَضُ نو ځکه به هغه ماتول کيږي كَالرَّاهِنِ إِذَا بَنٰى فِي الْمَرْهُوْنِ لکه راهن چي په مرهون ځای کي يو ځای جوړ کړي وَهٰذَا لِأَنَّ حَقَّهُ أَقْوٰى مِنْ حَقِّ الْمُشْتَرِیْ او دا ځکه چي د شفيع حق د مشتري له حق څخه زيات قوي دی لِأَنَّهُ يَتَقَدَّمُ عَلَيْهِ ځکه چي شفيع پر مشتري مخکي دی وَلِهٰذَا يُنْقَضُ بَيْعُهُ وَهِبَتُهُ وَغَيْرُهُ مِنْ تَصَرُّفَاتِهٖ په همدې وجه د مشتري بيع، هبه او د هغه نور تصرفات ماتول کيږي بِخِلَافِ الْهِبَةِ وَالشِّرَاءِ الْفَاسِدِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ په خلاف د هبې او شراء فاسد د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز لِأَنَّهُ حَصَلَ بِتَسْلِيْطٍ مِنْ جِهَةِ مَنْ لَهُ الْحَقُّ ځکه چي دا [په موهوبه ځمکه او بالشراء الفاسد رانيول سوې ځمکه کي ځای جوړول] د حقدار کس له طرفه د تسليط په وجه حاصل سوي دي [يعني موهوب لهٗ او مشتري ته خو د همدې حقدار کس له طرفه پر تصرف کولو (ځای جوړولو) تسلط او قدرت حاصل سوی دی] وَلِأَنَّ حَقَّ الِاسْتِرْدَادِ فِيْهِمَا ضَعِيفٌ او ځکه چي په هبه او شراء کي د واپس اخيستلو حق ضعيف دی وَلِهٰذَا لَا يَبْقٰى بَعْدَ الْبِنَاءِ په همدې وجه د واپس اخيستلو حق تر ځای جوړولو وروسته ختميږي وَهٰذَا الْحَقُّ يَبْقٰى او دغه حق [حق شفعه تر ځای جوړولو وروسته هم] باقي پاتيږي فَلَا مَعْنٰى لِإِيجَابِ الْقِيمَةِ نو قيمت واجبولو لره هيڅ معنیٰ نسته [او دا بې ځايه خبره ده] كَمَا فِي الِاسْتِحْقَاقِ لکه د استحقاق په صورت کي [چي پر مستحق کس قيمت نه واجبيږي] وَالزَّرْعُ يُقْلَعُ قِيَاسًا وَإِنَّمَا لَا يُقْلَعُ اسْتِحْسَانًا او کښت خو د قياس په اعتبار سره کښل کيږي لېکن د استحسان په توګه هغه نه کښل کيږي لِأَنَّ لَهُ نِهَايَةً مَعْلُومَةً ځکه چي د کښت انتهاء معلومه ده [چي هغه فقط څو مياشتي پاتيږي] وَيَبْقٰى بِالْأَجْرِ او هغه په اُجرت [کرايه] سره باقي پاتېدای سي وَلَيْسَ فِيهِ ضَرَرٌ كَثِيرٌ او په دې کي زيات ضرر هم نسته. وَإِنْ أَخَذَهُ بِالْقِيمَةِ او که شفيع هغه [بناء...] د قيمت په عوض کي واخلي

يَعْتَبِرُ قِيمَتَهُ مَقْلُوعًا نو د هغه د کښل سوي حالت د قيمت اعتبار به کيږي كَمَا بَيَّنَّاهُ فِي الْغَصْبِ لکه څرنګه چي کتابُ الغصب کي موږ د دې بيان وکړی.

اللغات: ﴿متأکّد﴾ د تفعّل د باب اسم فاعل دی: مضبوط، پوخ. ﴿تسليط﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مسلط کول (ګومارل)، پر يو شي بل چا ته قدرت ورکول، اختيار ورکول. تسلّط او قبضه ورکول. ﴿يُنقض﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: ماتول. ﴿يتقدّم﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: مخکي کېدل (مُقدّم کېدل)، ﴿استرداد﴾ د استفعال د باب مصدر دی: واپس اخيستل. واپس غوښتل، رجوع کول.

تشريح: په دې عبارت کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د ظاهر روايت دليل او د امام ابو يوسف د قياسونو او مثالونو جواب ورکړی دی، د عبارت حاصل دا دی چي که هم څه مشتري په خپل ملکيت کي ځای جوړ کړی دی، خو بيا هم د دې ملکيت سره د بل چا يعني د شفيع حق متعلق دی. او د فقهي اُصول او قاعده دا ده چي که په يو شي کي د يو سړي حق وي او بيا يو بل څوک د دې حقدار سړي له تسليط او اختيار څخه بغير په هغه شي کي تصرّف وکړي (يعني بغير له دې چي حقدار کس هغه ته د تصرف کولو تسلّط او قدرت ورکړي. خو هغه تصرّف وکړي)، نو د هغه تصرّف ماتول کيږي، لهذا کله چي اُصول او قاعده دا ده نو تاسو اوګورئ! چي په دې ځمکه کي د شفيع حق ستـه او شفيع مشتري ته د تصرّف کولو تسلّط او قدرت نه دی ورکړی چي ته دلته ځای جوړ کړه لېکن هغه تصرّف وکړی او ځای يې جوړ کړی، لهذا د همدې پورتنی قاعدې مطابق به د هغه د ماتولو او نړولو حکم کيږي.

د دې مثال بُعينهٖ داسې دی لکه يو څوک چي بل چا ته يو شی مثلاً ځمکه په رهن ورکړي او بيا راهن په دې مرهونه ځمکه کي ځای جوړ کړي، نو که څه هم دا مرهون شی (ځمکه) د راهن ملکيت دی. خو څرنګه چي د هغې سره د مرتهن حق متعلق دی، لهذا د دې حق د متعلق والي په وجه د راهن تصرّف ماتول کيږي، نو همداسې به دلته هم د مشتري تصرّف ماتول کيږي.

وهذا لأن حقه إلخ: په دې سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د شفيع حق نور مضبوطوي، فرمايي چي دا د مشتري تصرّف به ځکه ماتول کيږي چي د شفيع حق د مشتري له حق څخه قوي او مقدّم دی. همدا وجه ده چي د شفيع د حق له کبله د مشتري ټوله تصرفات، مثلاً بيع، هبه او داسې نور ختمول کيږي، لهذا کله چي د شفيع د حق په وجه بيع (کوم چي د دوو کسانو تر مينځ معامله وي) ختمول کيږي، نو دلته خو صرف د مشتري معامله ده، لهذا هغه به په درجه اولیٰ ختمول کيږي.

بخلاف الهبة إلخ: امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دا د شفعي مسئله د هبې پر مسئلې قياس کړې وه، صاحب د هدايې له بخلاف الهبة څخه د هغه جواب ورکوي چي دا قياس مع الفارق دی؛ ځکه چي په هبه کي خو موهوب لهٔ د واهب په تسليط سره تصرّف کوي (يعني د واهب له طرفه هغه ته پر تصرف قدرت او تسلط ورکول سوی وي)، حال دا چي مشتري د شفيع له تسليط څخه بغير تصرف کوي، نو بيا به دا قياس څنګه صحيح وي!.

بخلاف شراء الفاسد: همدارنګه په شراءِ فاسد کي هم تسليط على التصرّف موجود دی (چي مشتري ته د بائع له طرفه پر تصرف تسلط او قدرت ورکول سوی وي)، په خلاف د مشتري او شفيع د مسئلې.

عند أبي حنيفة إلخ: د عند أبي حنيفة په قيد لګولو سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دې ته اشاره کوي چي په شراءِ فاسد کي بائع ته د واپس اخيستلو حق او اختيار نه حاصلېدل دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی، کني د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز حکم دا دی چي که په شراء فاسد کي مشتري تصرّف وکړي مثلاً په شراءِ فاسد سره په رانيول سوې ځمکه کي ځای جوړ کړي. نو بائع ته د هغه د ماتولو او د خپل ځمکي د واپس اخيستلو حق سته.

ولأن حق الاسترداد إلخ: په دې سره د پورتني قياسونو د نا صحيح والي يو بل دليل پېشوي، حاصل يې دا دی چي په هبه او شراءِ فاسد کي د واپس اخيستلو حق ډېر کمزوری دی (چي د موهوب لهٔ او مشتري په لږ تصرّف او ځای جوړلو سره د واپس اخيستلو حق ختميږي)، حال دا چي په شفعه کي د واپس اخيستلو حق ډېر مضبوطه دی (ځکه په هر صورت کي له مشتري څخه مشفوع ځای اخيستل صحيح دي، که څه هم هغه دلته پنځه چته عمارت جوړ کړی وي)، لنډه دا چي په هبه او شراء فاسد کي تر تصرّف او ځای جوړولو وروسته د واپسی حق ختميږي او په شفعه کي باقي پاتيږي، لهذا کله چي شفيع ته په هر صورت کي د واپسی (واپس اخيستلو) حق حاصل دی، نو پر هغه د جوړ سوي ځای او داسي نورو قيمت واجبول او ضروري ګرځول بې ځايه خبره ده.

او د دې مثال داسي وګڼه! چي يو څوک مثلاً ځمکه رانيسي او په هغې کي ځای جوړ کړي او بيا يو بل کس دعوی وکړي چي د دې ځمکي مالک او مستحق زه يم او دا ثابته کړي او قاضي د دغه مستحق کس لپاره فيصله وکړي، نو اوس حکم دا دی چي دا مستحق کس به ځمکه اخلي او د مشتري جوړ سوی ځای به نړوي او هغه ته به يوه روپۍ تاوان او قيمت هم نه ورکوي، بلکي مشتري به پر بائع رجوع کوي او له هغه څخه به د ځمکي او خپل جوړ سوي ځای قيمت او تاوان اخلي، نو څرنګه چي په دې مسئله کي د مستحق کس لپاره د مشتري د تصرّف ماتولو (ځای نړولو) او د هيڅ

قيمت نه اداء کولو حکم دی، همداسې به د شفيع د لپاره هم د مشتري د تصرّف ماتولو او د هيڅ تاوان او قيمت نه اداء کولو حکم وي.

والزرع يقلع قياسًا إلخ: امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د شفعې پورتنۍ مسئله د کښت والا پر مسئله هم قياس کړې وه. د هغه جواب ورکوي چې دا قياس صحيح نه دی، ځکه د کښت په هکله د قياس تقاضا دا ده چې کښت دې وکښل سي او د استحسان تقاضا دا ده چې نه دې کښل کيږي، ځکه د کښت پخيدلو او رسيدلو مودت معلوم دی، حال دا چې د جوړ سوي ځای او لګول سوي نهالانو (درختو) مودت او انتهاء معلومه نه ده. لهذا کله چې د کښت وخت معلوم دی چې مثلاً درې مياشتې بعد يې د پخيدلو او ريبل کيدلو وخت دی او له مشتري څخه د يوې مياشتې اُجرت او کرايه اخيستل کيدای سي، نو په دې کې د شفيع څه زيات نقصان نسته. لنډه دا چې جوړ سوی ځای او لګول سوي نهالان پر کښت قياسول صحيح نه دي.

وإن أخذه بالقيمة إلخ: دا له پورتنۍ مسئلې څخه جلا مسئله ده. حاصل يې دا دی چې که شفيع په دې راضي سي چې زه دا مشفوعه ځمکه د مشتري د جوړ سوي ځای او نهالانو سره رانيسم او د دې شيانو قيمت ورکوم، نو فرمايي چې خاص د جوړ سوي ځای او لګول سوي نهالانو قيمت معتبر نه دی بلکې د کښل سوي ځای او نهالانو قيمت به ورکوي، يعني چې دا ځای ونړول سي او دا نهالان وکښل سي نو په دې وخت کې چې د هغوی څومره قيمت جوړيږي، شفيع به هغومره قيمت اداء کوي.

که په مشفوعه ځمکه کې شفيع يو تصرّف وکړي او بيا دا ځمکه د بل چا مستحقه وخيږي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ أَخَذَهَا الشَّفِيعُ فَبَنٰى فِيهَا أَوْ غَرَسَ ثُمَّ اُسْتُحِقَّتْ او که شفيع دا ځمکه واخلي او په هغې کې ځای جوړ کړي يا نهالان [نيالګي] پکښې ولګوي بيا دا ځمکه مستحقه وخيږي رَجَعَ بِالثَّمَنِ نو شفيع به [د ځمکې] په ثمن سره رجوع کوي [يعني فقط د ځمکې قيمت به واپس واخلي] لِأَنَّهُ تَبَيَّنَ أَنَّهُ أَخَذَهُ بِغَيْرِ حَقٍّ ځکه ښکاره سوه چې د شفيع اخيستل په نا حقه توګه وه [يعني چې ځمکه د بل چا مستحقه وخته، نو ښکاره سوه چې شفيع دا ځمکه په نا حقه اخيستې وه] وَلَا يَرْجِعُ بِقِيمَةِ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ لَا عَلَى الْبَائِعِ إِنْ أَخَذَهَا مِنْهُ وَلَا عَلَى الْمُشْتَرِي إِنْ أَخَذَهَا مِنْهُ او د خپل جوړ سوي ځای او لګول سوي نهالانو په قيمت سره به رجوع نه کوي نه پر بائع که له بائع څخه يې ځمکه اخيستې [رانيولې] وي او نه پر مشتري که له مشتري څخه يې ځمکه اخيستې وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَرْجِعُ او له امام ابو يو

سف رَحِمَهُ الله څخه روایت دي چي شفیع [د بناء او غرس په قیمت سره] رجوع کولای سي لِأَنَّهُ مُتَمَلِّكٌ عَلَيْهِ ځکه چي شفیع پر هغه مالک سوی دی [یعني له چا څخه چي شفیع دا ځمکه اخیستې ده (چي هغه بائع یا مشتري دی). شفیع پر هغه مالک سوی یعني له هغه څخه یې ملکیت حاصل کړی دی] فَنَزَلَا مَنْزِلَةَ الْبَائِعِ وَالْمُشْتَرِيْ نو شفیع او هغه کس [له چا څخه چي یې ځمکه اخیستې ده] د بائع او مشتري په منزله سوه وَالْفَرْقُ عَلَى مَا هُوَ الْمَشْهُوْرُ أَنَّ الْمُشْتَرِيَ مَغْرُوْرٌ مِنْ جِهَةِ الْبَائِعِ وَمُسَلَّطٌ عَلَيْهِ مِنْ جِهَتِهِ او د مشهوره روایت مطابق [په دواړو مسئلو کي] فرق دا دی چي مشتري د بائع له طرفه دوکه سوی او د هغه له طرفه پر ځای جوړولو [او نهال اېښوولو] مسلط کړی سوی دی [یعني مشتري ته د همدې بائع له طرفه د ځای جوړولو او نهال اېښوولو تسلط او قدرت ورکول سوی دی] وَلَا غُرُوْرَ وَلَا تَسْلِيطَ فِیْ حَقِّ الشَّفِيعِ مِنَ الْمُشْتَرِيْ او د شفیع په حق کي د مشتري له طرفه نه دوکه سته او نه تسلیط سته [یعني شفیع د مشتري له طرفه نه دوکه سوی دی او نه مسلط کړی سوی دی] لِأَنَّهُ مَجْبُوْرٌ عَلَيْهِ ځکه چي شفیع پر دې [یعني د مشفوعه ځای پر ورکولو] مجبوره دی.

اللغات: ﴿تبيّن﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: ښکاره کېدل، څرګندېدل. ﴿متملّك﴾ د تفعّل د باب فاعل دی: مالک سوی، مالک جوړېدونکی. ﴿غرور﴾ دوکه، فرېب.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که شفیع مشفوعه ځمکه واخلي او په هغه کي یو ځای جوړ کړي یا نهالان پکښي ولګوي، بیا یو بل کس د دغه ځمکي د استحقاق دعوی وکړي (چي د دې مالک زه یم او خپل استحقاق ثابت کړي)، او قاضي د هغه مستحق کس لپاره د دې ځمکي فیصله وکړي، نو ځمکه د هغه سوه. او شفیع ته به ویل کیږي چي وروره! خپل ځای مات او ونړوه یا نهالان وکاږه. او پاته سو د ځای او نهالانو قیمت یا د هغوی د ماتېدلو تاوان به شفیع ته نه ورکول کیږي. بلکي هغه ته به صرف د ځمکي قیمت (ثمن) ورکول کیږي نو ده که دا مشفوعه ځمکه له بائع څخه اخیستې وي، نو له هغه څخه به خپل ثمن (د ځمکي قیمت) اخلي او که ده دا ځمکه له مشتري څخه اخیستی وي نو له هغه څخه به یې اخلي. او پاته سو د ځای او نهالانو قیمت به ده ته نه مستحق کس ورکوي او نه بائع او مشتري.

سوال: دغه شفیع ته فقط ثمن ولي حاصلیږي، د ځای او نهالانو تاوان او قیمت به ولي نه ورکول کیږي؟

جواب: لأنه تبيّن أنه أخذه بغير حق، یعني کله چي دا ځمکه د بل چا مستحقه وختله، نو ښکاره سوه چي په دې کي د شفیع هیڅ حق نه وو. ګواکي دا شفیع دا ځمکه په ناحقه اخیستې وه. او د

ناحقه اخيستلو په صورت كي تاوان او قيمت خپله زغمل كيږي، لهذا دا به هم د شفيع خپل تاوان او نقصان وي او بل څوک به هغه نه پورته كوي او نه به يې ورکوي.

لېكن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي شفيع به دا تاوان له بائع يا مشتري څخه اخلي، يعني كه شفيع دا مشفوعه ځمكه له بائع څخه اخيستې وي، نو د ځاى او نهالانو تاوان او قيمت به له بائع څخه اخلي، او له مشتري څخه د ځكمي د اخيستلو په صورت كي به يې له مشتري څخه اخلي؛ ځكه شفيع چي كله له بائع يا مشتري څخه ځمكه واخيسته (رانيوله)، نو ګواكي شفيع له هغه څخه ملكيت حاصل كړى، لهذا شفيع او شفيع چي له چا څخه ځكمه اخيستى ده (دوى دواړه) د بائع او مشتري په منزله سوه، او تاسو ته به معلومه وي چي كه د بائع او مشتري تر مينځ معامله وسي، بيا مبيعه ځمكه د بل چا مستحقه وخيږي، نو په دې صورت كي مشتري د ځمكي د ثمن سره د خپل ځاى او نهالانو قيمت هم له بائع څخه اخلي، نو همداسي به دلته شفيع هم د هغوى قيمت واپس اخلي.

والفرق على إلخ: په دې سره مصنف رَحِمَهُ الله د دې دواړو مسئلو تر مينځ فرق بيانوي چي د بائع او مشتري والا په مسئله كي بائع مشتري ته دوكه وركړې ده او مشتري ته پر تصرّف كولو (يعني پر ځاى جوړولو او نهالانو لګولو) د همدې بائع له طرفه تسلّط او قدرت وركول سوى دى (يعني همدا بائع هغه پر دې مسلط او قدرت وركړى دى)، نو په دې وجه به دا مشتري پر بائع رجوع كوي (چي زما د ځاى او نهالانو تاوان راكړه!).

مګر د شفيع والا په مسئله كي خو شفيع ته نه مشتري دوكه وركړې ده او نه شفيع ته د مشتري له طرفه تسلط او قدرت حاصل سوى دى. دوكه يې ځكه نه ده وركړې چي دا مشفوعه مستحق شده ځمكه خو د مشتري خپله نه ده بلكي هغه هم له بل چا (بائع) څخه رانيولې ده او خپله بائع هغه ته دوكه وركړې ده. او تسلط او قدرت على التصرف يې ځكه نه دى وركړى چي شفيع د مشتري له رضاء څخه بغير جبراً د هغه په ملكيت كي شفعه اخلي (په بله وينا دا چي مشتري مجبوراً و شفيع ته مشفوع ځاى [ځمكه] وركوي، نه په خپل اختيار او تسليط سره)، لهذا كله چي دوكه او تسليط دواړه نسته. نو مشتري به د شفيع د جوړ سوي ځاى او داسي نورو قيمت او تاوان هم نه وركوي.

د صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په دغه بيان سوي فرق سره ګواكي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قياس جواب هم وسو چي داسي به نه كيږي چي مشتري او شفيع د بائع او مشتري په منزله وګرځول سي او له هغه څخه تاوان واخيستل سي: ځكه د مشتري او بائع په صورت كي دوكه او تسليط دواړه سته او د شفيع والا په صورت كي يو هم نسته، لهذا يو پر بل قياسول هم صحيح نه دي.

د مشفوعه کور د نړېدلو يا د مشفوعه باغ د وچېدلو او داسي نورو په صورت کي د شفيع لپاره څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِذَا انْهَدَمَتِ الدَّارُ أَوِ احْتَرَقَ بِنَاؤُهَا أَوْ جَفَّ شَجَرُ الْبُسْتَانِ بِغَيْرِ فِعْلِ أَحَدٍ فرمايي: او که کور ونړېږي يا يې بناء [وداني] وسوځي يا د باغ درختي وچي سي ديو چا له کړني څخه بغير فَالشَّفِيعُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِجَمِيعِ الثَّمَنِ نو شفيع لره اختيار دی که وغواړي نو د ټوله ثمن په عوض کي دي دا کور واخلي لِأَنَّ الْبِنَاءَ وَالْغَرْسَ تَابِعٌ ځکه چي بناء او ايښوول سوي درختي [د ځمکي] تابع دي حَتَّى دَخَلَا فِي الْبَيْعِ مِنْ غَيْرِ ذِكْرٍ همدا وجه ده چي بغير له ذکر کولو هم دوی په بيع کي داخلېږي فَلَا يُقَابِلُهُمَا شَيْءٌ مِنَ الثَّمَنِ مَا لَمْ يَصِرْ مَقْصُودًا نو ځکه د دوی په مقابله کي به هيڅ ثمن [قيمت] نه وي تر څو چي مقصود نه وګرځي [يعني تر څو چي د خودي بناء او درختو خرڅول مقصود نه وي تر هغه وخته دوی جلا قيمت نه لري] وَلِهَذَا يَبِيعُهَا مُرَابَحَةً بِكُلِّ الثَّمَنِ فِي هَذِهِ الصُّورَةِ په همدې وجه شفيع دا کور په دې صورت کي په ټوله ثمن سره د مرابحه په توګه خرڅولای سي [يعني د کور پر ټوله ثمن نوره ربح او ګټه اچولای سي] بِخِلَافِ مَا إِذَا غَرِقَ نِصْفُ الْأَرْضِ په خلاف د هغه صورت کله چي د ځمکي نيمه حصه غرقه سي [تر اوبو لاندي سي] حَيْثُ يَأْخُذُ الْبَاقِيَ بِحِصَّتِهِ ځکه هلته به شفيع پاته ځمکه په خپل حصه سره اخلي [يعني د پاته حصې چي څومره ثمن او قيمت وي، هغومره ثمن به ورکوي، په ټوله ثمن سره به يې نه اخلي] لِأَنَّ الْفَائِتَ بَعْضُ الْأَصْلِ ځکه چي فوت سوې د اصل بعضي حصه ده [يعني ځکه چي دا فوت شُده (غرقه سوې) حصه د اصل مبيع بعضي حصه ده] قَالَ: وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ فرمايي: او که شفيع وغواړي نو شفعه دي پرېږدي لِأَنَّ لَهُ أَنْ يَمْتَنِعَ عَنْ تَمَلُّكِ الدَّارِ بِمَالِهِ ځکه شفيع ته دا حق سته چي د خپل مال په بدله کي د کور له مالک جوړېدلو څخه منع سي [يعني شفيع ته دا اختيار سته چي خپل مال صرف نه کړي او کور نه واخلي. يعني پر هغه د مشفوعه کور او ځمکي اخيستل لازم نه دي].

اللغات: ﴿انهدمت﴾ د انفعال د باب ماضي ده: نړېدل، لوېدل. ﴿بناء﴾ د کور پر ځمکه جوړ سوي ځايونه. يعني د کور دېوالونه او داسي نور چي وداني، عمارت او داسي نور ورته وايي. ﴿بستان﴾ باغ، جمع: بَسَاتِيْن. ﴿تملك﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مالک کېدل، مالک جوړېدل.

تشريح : صورت د مسئلې : دا دی چې مشتري يو ځای رانيوی، بيا ديو آسماني آفت په وجه (يعني د بنده له فعل څخه بغير) د هغه كور بناء او دېوالونه ونړېده يا يې بناء وسوځېده، يا مثلاً مشتري يو باغ رانيوی، بيا د هغه درختي وچې او ناكاره سوې، نو اوس د داسې كور يا باغ شفيع ته دوه اختياره حاصلېږي: (۱)... اول اختيار دا ورته حاصلېږي چې د ما بقي بناء يا د وچو درختو سره دي دا كور يا باغ د خپل ټوله ثمن په عوض كې واخلي، داسې نه سي كولای چې د كور په صورت كې د نړېدلې بناء په وجه او د باغ په صورت كې د وچو درختو په وجه په ثمن كې څه كمي وكړي؛ ځكه چې بناء يعني پر ځمكه جوړ سوي ځای، همدارنګه پر ځمكه موجوده باغ د وصف په درجه كې دي، همدا وجه ده كه په بيع كې د دوی تذكره نه وسي، نو هم په بيع كې داخليږي، لهذا كله چې دا وصف دي او وصف د موصوف تابع وي (نو دوی د ځمكې تابع دي) او وصف چې تر څو په خپله مقصود نه وګرځي، تر هغه وخته د وصف لپاره هيڅ ثمن نه وي (يعني تر څو چې د خودي وصف خرڅول مقصود او مطلوب نه وي، تر هغه وخته قيمت نه لري)، نو ښكاره خبره ده چې د نړېدلې بناء او وچو درختو لپاره به هيڅ ثمن نه وي، او كله چې د دوی ثمن او قيمت نسته، نو د دې شيانو په ماتېدلو، سوځېدلو او ناكاره كېدلو سره به په اصل ثمن كې كمي وزياتوب هم نه كيږي.

همدا وجه ده كه شفيع د غه نړېدلی يا سوځېدلی كور د بيع مرابحه په توګه خرڅول وغواړي، نو هغه ته د دې پوره اختيار سته چې پر ټوله ثمن (اصل ثمن) مرابحه او ګټه وكړي، تاسو اوګورئ! كه د وصف په خرابۍ سره په ثمن كې كمي راتلای، نو دلته به شفيع ته پر ټوله ثمن د مرابحه كولو اختيار نه وای، معلومه سوه چې په وصف كې په كمي وزياتوب سره په ثمن كې هيڅ كمي بيشي نه راځي، لهذا په دې صورت كې هم چې كله په نړېدلو، سوځېدلو يا وچېدلو سره د مبيع وصف متغير سوی دی، نو په ثمن كې به هيڅ كمي بيشي نه كيږي، لهذا كه شفيع د مبيع اخيستل وغواړي، نو د ټوله ثمن په عوض كې به يې اخلي.

بخلاف ما إذا غرق إلخ: مخكې د دې بيان وسو چې په وصف كې كمي او خرابي راسي، لېكن كه په اصل مبيع كې كمي او خرابي راسي، نو دا پر ثمن اثر كوي او په همدې حساب سره به په ثمن كې هم كمي كيږي، مثلاً يو سړي لس جريبه ځمكه د لک درهمو په عوض كې رانيوله، بيا سيلاب راغلی او پنځه جريبه يې لاندې او ضايع كړه او دا حصه د درياب په شكل سوه (ګواكې هغه لوی حوض او درياب دی)، نو څرنګه چې اوس په اصل مبيع او اصل شي كې كمي راغله، لهذا اوس كه شفيع دا ځمكه اخيستل غواړي، نو هغه به ما بقي پنځه جريبه د پنځوس زرو درهمو په عوض كې اخلي، ځكه كوم پنځه جريبه ځمكه چې غرقه سوې او خرابه سوې ده، هغه د اصل مبيع يوه حصه ده او د اصل مبيع كمي (كمېدل) د ثمن كمي لره متضمن كيږي.

(۲)... قال: وإن شاء ترك إلخ: مخکي ذکر سوه چي په دې مسئله کې د شفيع لپاره دوه اختياره دي. يو اختيار خو مخکي ذکر سو، دويم اختيار دا دی چي که هغه د ټوله ثمن په عوض کې سودا نه کوي، نو شفعه دي پرېږدي، پر هغه د نړېدلي بناء والا کور يا د وچو درختو والا باغ اخيستل لازم او ضروري نه دي، که يې اخلي، نو پوره ثمن به ورکوي. کنې خپل حق شفعه به پرېږدي. ځکه څرنګه چي ده ته دا اختيار سته چي خپل مال صرف کړي او دا کور يا باغ واخلي. همداسي ده ته دا اختيار هم سته چي خپل مال پر صرف او برباد نه کړي او د هغه له اخيستلو څخه منع سي. لهذا کوم صورت چي د هغه زړه وغواړي، هماغه دي اختيار کړي.

که مشتري د کور وداني او بناء ماته کړي نو څه حکم دی

قَالَ: وَإِنْ نَقَضَ الْمُشْتَرِيُ الْبِنَاءَ فرمايي: او که مشتري [د کور] بناء ماته کړي قِيْلَ لِلشَّفِيْعِ: إِنْ شِئْتَ فَخُذِ الْعَرْصَةَ بِحِصَّتِهَا نو شفيع ته به ويل کيږي: که دي خوښه وي نو خالي ځمکه د خپل حصې په عوض کي واخله! وَإِنْ شِئْتَ فَدَعْ او که دي خوښه وي نو پرېږده يې! لِأَنَّهُ صَارَ مَقْصُوْدًا بِالْإِتْلَافِ ځکه چي د ضايع کولو [ماتولو] په وجه هغه [بناء] مقصود وګرځېده فَيُقَابِلُهُ شَيْءٌ مِنَ الثَّمَنِ نو ځکه د هغه په مقابله کي به څه ثمن وي بِخِلَافِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت لِأَنَّ الْهَلَاكَ بِآفَةٍ سَمَاوِيَّةٍ ځکه چي [هلته] هلاکېدل [ضايع کېدل] د آسماني آفت په وجه وه وَلَيْسَ لِلشَّفِيْعِ أَنْ يَأْخُذَ النَّقْضَ او شفيع لره دا اختيار نسته چي ماته سوې حصه واخلي لِأَنَّهُ صَارَ مَفْصُوْلًا ځکه چي اوس هغه جلا کړی سوې ده فَلَمْ يَبْقَ تَبَعًا نو تابع پاته نه سوه.

اللغات: ﴿نقض﴾ د نصر د باب ماضي ده: ماتول. ﴿عَرْصة﴾ د کور صحن، غولی، هغه خالي ځای (ميدان) کوم چي د کور په مينځ کي وي، يعني د کور خالي ميدان. ﴿دَعْ﴾ د فتح له بابه د واحد مذکر امر حاضر صيغه ده. وَدَعَ يَدَعُ وَدْعًا: پرېښوول (پرېښودل). ﴿إتلاف﴾ د افعال د باب مصدر دی: تلفول. ضايع کول. هلاکول. ﴿النقض﴾ مات سوی شی او ماته سوې حصه. (مات سوي او را لوېدلي څه). ﴿مفصول﴾ د ضرب د باب مفعول دی: جلا کړی سوی (عليحده کړی سوی).

تشريح: مخکي دا صورت بيان سو چي په يو آسماني آفت سره (د بنده له فعل څخه بغير) په وصف کي کمي او نقصان راسي. دلته دا فرمايي چي که په خپله مشتري يا بل بنده د کور بناء (يعني دېوالونه او داسي نور) مات کړي. نو په دې صورت کي هم مشتري ته دوه اختياره دي: ① يو دا چي که وغواړي. نو

شفعه دي پرېږدي. (۲) خو که د شفعي اخیستل غواړي (چي زه دا مات سوی مشفوعه کور قبلوم او غواړم يې)، نو له بناء څخه بغیر چي د کور د خالي ځمکي څومره ثمن (قیمت) دی، د هغه په عوض کي يې اخیستلای سي (مطلب دا چي په دې صورت کي پر شفیع د ټوله کور ثمن اداء کول نسته. بلکي العرصة بحصتها من الثمن). ځکه په دې صورت کي مشتري قصداً بناء ماته کړې ده، لهذا دا بناء مقصود بالإتلاف سوه (یعني تلفول او ماتول يې قصداً وسوه). او وصف چي کله مقصود وګرځي، نو د هغه په مقابله کي ثمن راځي. لهذا د بناء د ماتولو په وجه چي څومره ثمن (قیمت) کم سوی وي، هغه به (د شفیع له ذمې څخه) کمیږي، او د ځمکي چي فی الحاله څومره قیمت دی، شفیع به د هغه په عوض کي دا کور اخلي.

بخلاف الأول إلخ: او دا دویم صورت د اول صورت بالکل مخالف دی، په اول صورت کي تلفېدل او هلاکېدل د آسماني آفت په وجه وه، د بنده په هغه کي دخل نه وو، لهذا هلته بناء مقصود بالإتلاف نه وه، نو ځکه د هغه په مقابله کي هیڅ ثمن نه کمېدی. لیکن څرنګه چي دلته تلفېدل او ماتېدل د بنده په فعل سره سوي دي او په دې صورت کي بناء مقصود بالإتلاف سوه. نو ځکه د هغه په مقابله کي ثمن کم کړی سو.

ولیس للشفیع إلخ: د دې حاصل دا دی چي که په پورتني صورت کي شفیع وغواړي چي د کور ماته سوې حصه واخلي یعني د کور تر ماتېدلو وروسته چي کومي خښتي یا داسي نور (یا مثلاً تیران) له کور څخه مات او را جلا سي، نو څرنګه چي اوس هغه (د ځمکي) تابع پاته نه سوه. بلکي را جلا سوه، نو ځکه اوس شفیع ته دا اختیار نسته چي د خپل حقِ شفعه په توګه هغه هم واخلي. ها! که شفیع د جلا قیمت په عوض کي د مشتري په رضاء سره د هغه اخیستل وغواړي، نو اخیستلای يې سي.

که مشتري داسي ځمکه رانیسي چي په هغه کي میوه داره درختي وي نو د شفیع لپاره څه حکم دی؟

قَالَ: وَمَنِ ابْتَاعَ أَرْضًا وَعَلٰی نَخْلِهَا ثَمَرٌ فرمایي: او که څوک ځمکه رانیسي او د هغې پر درختو میوه وي أَخَذَهَا الشَّفِيْعُ بِثَمَرِهَا نو شفیع به هغه ځمکه د میوې سره اخلي وَمَعْنَاهُ إِذَا ذُكِرَ الثَّمَرُ فِي الْبَيْعِ او د دې مطلب دا دی چي کله په بیع کي میوه ذکر سوې وي [یعني د مشتري او بائع د بیع پر مهال د میوې تذکره او یادونه سوې وي] لِأَنَّهُ لَا يَدْخُلُ مِنْ غَيْرِ ذِكْرٍ ځکه چي میوه بغیر له ذکر کولو [په بیع کي] نه داخلیږي وَهٰذَا الَّذِيْ ذَكَرَهُ اسْتِحْسَانٌ او امام قدوري رَحِمَهُ اللهُ چي دا کوم څه ذکر کړي دي [دا] استحسان دی وَفِي الْقِيَاسِ لَا يَأْخُذُهُ او په قیاس کي دا دي چي شفیع به میوه نه اخلي لِأَنَّهُ لَيْسَ

بِتَبَعٍ ځکه چي هغه تابع نه ده أَلَا يَرىٰ أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ فِي الْبَيْعِ مِنْ غَيْرِ ذِكْرٍ آيا نه ګوري! چي هغه [مېوه] بغير له ذکر کولو په بيع کي نه داخليږي فَأَشْبَهَ الْمَتَاعَ فِي الدَّارِ نو دا د کور د سامان سره مشابه سوه وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّهُ بِاعْتِبَارِ الِاتِّصَالِ صَارَ تَبَعًا لِلْعَقَارِ د استحسان دليل دا دى چي مېوه د اتصال [متصل کېدلو] په اعتبار سره د جايداد [ځمکي] تابع سوه كَالْبِنَاءِ فِي الدَّارِ وَمَا كَانَ مُرَكَّبًا فِيهِ لکه د کور بناء [وداني] او هغه څه کوم چي په کور کي دننه لګول سوي وي فَيَأْخُذُهُ الشَّفِيعُ لهذا شفيع به هغه اخلي.

اللغات: ﴿ابتاع﴾ د افتعال د باب ماضي ده: رانيول. ﴿نخل﴾ جمع د نَخْلَةٌ: د خرما درخته (ونه). بعضي شارحينو يې د اختصار پر بناء د مطلق درختي معنىٰ هم کړې ده. ﴿ثمر﴾ جمع د ثَمَرَةٌ ده: مېوه. ﴿تَبَع﴾ تابع. جمع: أَتْبَاع. ﴿اتصال﴾ د افتعال د باب مصدر دى: متصل کېدل (جوختېدل. ور سره لګېدل).

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دى که مشتري داسي ځمکه رانيسي چي په هغه کي مېوه داره درختي وي. نو که د بائع او مشتري تر مينځ په منعقد سوې بيع کي د مېوې تذکره سوې وي (مثلاً بائع مشتري ته ويلي وي چي د درختو سره مېوې هم درکوم). نو شفيع به هغه د مېوې سره اخلي (داسي به نه کيږي چي شفيع ته خالي درختي ورکول سي او مېوه ځني وشکول سي)؛ په بيع کي د مېوې د ذکر کېدلو قيد يې ځکه لګولىٰ دى. چي مېوه له صراحتاً ذکر کولو څخه بغير په بيع کي نه داخليږي. او کله چي د هغې تذکره وسوه. نو په بيع کي داخله سوه. لهذا کله چي مېوه په بيع کي داخله سوه. نو ځکه شفيع به ځمکه او درختي د مېوې سره اخلي.

صاحب د هدايې فرمايي چي د ځمکي په بيع کي د مېوې داخلېدلو مسئله پر استحسان مبني ده. کنې د قياس تقاضا خو دا ده چي شفيع په شفعه کي مېوه څر سره نه سي اخيستلاى. ځکه چي مېوه نه د ځمکي تابع ده او نه د ځمکي (جايداد) په څېر غير منقولي شى ده (بلکي له يوه ځايه بل ځاى ته نقل کېداى سي). تابع خو ځکه نه ده چي له صراحت څخه بغير دا په بيع کي نه داخليږي. حالانکي د تابع لپاره د صراحت ضرورت نه پرېوځي (بلکي تابع له صراحتاً ذکر کولو څخه بغير په بيع کي داخليږي). لهذا مېوه د کور د سامان سره مشابه سوه. نو څرنګه چي د کور سامان له صراحت څخه بغير په بيع کي نه داخليږي. همداسي مېوه هم له ذکر کولو څخه بغير په بيع کي نه داخليږي. او کله چي مېوه په بيع کي داخله نه ده. نو بيا به د بيع تابع کيږي هم نه. او بل دا چي شفعه په غير منقولي جايداد (لکه ځمکه.

کور او داسي نورو) کي حاصلیږي، لهذکله چي مېوه نه تابع ده، او نه غير منقولي ده. نو د قياس له رويه په هغه کي شفعه نه حاصلېدل پکار دي.

لېکن پر استحسان په عمل کولو سره مېوه د ځمکي او درختو تابع ګرځول سوې ده او په شفعه کي داخله کړی سوې ده. کنې قیاساً خو په هغه کي حق شفعه نه حاصلېدل پکار دي.

د استحسان دلیل دا دی چي څرنګه د کور بناء او په کور کي نصب کرده شیان لکه دېوالي الماری او داسي نور د کور سره د متصل کېدلو په اعتبار سره د کوز تابع دي او د کور سره شفيع هغه هم په شفعه کي اخلي. همداسي مېوه هم د متصل کېدلو په اعتبار سره د ځمکي تابع ده. نو ځکه شفيع به د ځمکي او درختو سره مېوه هم اخلي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَكَذٰلِكَ إِنِ ابْتَاعَهَا وَلَيْسَ فِي النَّخِيْلِ ثَمَرٌ فرمايي: او همدارنګه که څوک ځمکه رانيسي او [د رانيولو پر مهال] پر درختو مېوه نه وي فَأَثْمَرَ فِي يَدِ الْمُشْتَرِيْ بيا د مشتري په قبضه کي مېوه وکړي يَعْنِيْ يَأْخُذُهُ الشَّفِيْعُ يعني شفيع به هغه مېوه اخلي لِأَنَّهُ مَبِيْعٌ تَبَعًا ځکه تبعاً دا مېوه مبيع ده لِأَنَّ الْبَيْعَ سَرٰى إِلَيْهِ ځکه چي بيع و هغې ته [هم] سرايت کړی دی عَلٰى مَا عُرِفَ فِيْ وَلَدِ الْمَبِيْعِ لکه څرنګه چي دا د مبيع [مېنځي...] د بچي په لړ کي پېژندل سوي دي.

اللغات: ﴿أَثْمَرَ﴾ د افعال د باب ماضي ده: مېوه کول (درخته مېوه داره کېدل). ﴿سرىٰ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: سرايت کول، خپرېدل او غوړېدل.

تشريح: په مخکنۍ مسئله کي خو د بيع په وخت کي مېوه موجوده وه، او دلته دا صورت بيانوي چي د بيع په وخت کي مېوه نه وي (يعني د بيع او رانيولو پر مهال درختي مېوه داره نه وي). بلکي د مشتري په قبضه کي مېوه پيدا سي او درختي مېوه داره سي، نو په دې صورت کي به هم شفيع دا مېوه په شفعه کي اخلي: ځکه چي دا مېوه هم د ځمکي تابع ده (ځکه د همدې ځمکي په اوبو سره او د همدې ځمکي په رس څېښلو سره مېوه پيدا سوې ده) نو ځکه بيع په دې مېوو کي هم سرايت کړی دی نو په بيع کي به داخله وي او شفيع به د ځمکي او درختو سره دا مېوه هم اخلي. د دې مثال داسي دی لکه مشتري چي يو مېنځه رانيسي بيا د مشتري له قبضې څخه مخکي هغه مېنځه بچی وزېږوي، نو حکم دا دی چي په دې بچي کي بيع سرايت کوي يعني دغه بچی هم د مشتري کېږي نو مشتري به د مېنځي سره بچی هم اخلي. همدغسي دلته هم د مشتري په قبضه کي پيدا کېدونکې مېوه به هم شفيع اخلي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قَالَ: فَإِنْ جَذَّهُ الْمُشْتَرِيْ فرمايي: كه مشترۍ مېوه وشكوي [پرېكړي] ثُمَّ جَاءَ الشَّفِيْعُ بيا شفيع راسي [حاضر سي] لَايَأْخُذُ الثَّمَرَفِي الْفَصْلَيْنِ جَمِيْعًا نو په دواړو صورتونو كي به شفيع مېوه نه اخلي لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ تَبَعًا لِلْعَقَارِ وَقْتَ الْأَخْذِ ځكه د اخيستلو په وخت كي مېوه د جايداد [ځمكي] تابع پاته نه سوه حَيْثُ صَارَ مَفْصُوْلًا عَنْهُ ځكه چي هغه له جايداد [ځمكي] څخه جلا سوه فَلَا يَأْخُذُهُ نو ځكه شفيع به هغه نه اخلي.

اللغات: ﴿جَذَّ﴾ او جَزَّ (په ذال او زاء سره): د نصر د باب ماضي ده: پرېكول، غوڅول، شكول. ﴿فصل﴾ د دې لفظ يوه معنىٰ ده: صورت. ﴿عقار﴾ جايداد، يعني ځمكه، كور او داسي نور.

تشريح: د عبارت حاصل دا دى چي كه مشتري د شفيع له حاضرېدلو او قابض كېدلو څخه مخكي مېوه له درختو څخه وشكوي (يعني شفيع ته تر اوسه مشفوعه ځمكه او درختي نه وي وركول سوي او هغه د مشتري په قبضه كي وي او مشتري مېوه وشكوي). نو په دواړو صورتونو كي (يعني برابره ده مېوه له مخكي څخه وي يا د مشتري په قبضه كي پيدا سوې وي. په دې دواړو قسمونو كي) شفيع دا مېوه نه سي اخيستلاى؛ ځكه مخكي د استحسان پر بناء د ځمكي په تابع ګرځولو سره مېوه په شفعه كي داخله كړل سوې وه، لېكن د شكول كېدلو په وجه مېوه له ځكمي څخه جلا سوه او د هغې تبعيت (تابع والى) ختم سو، او كله چي تبعيت ختم سو، نو هغه په بيع كي داخله پاته نه سوه، نو ځكه په دې صورت كي شفيع مېوه نه سي اخيستلاى.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قَالَ فِي الْكِتَابِ: فَإِنْ جَذَّهُ الْمُشْتَرِيْ امام قدوري رَحِمَهُ الله په كتاب [مختصر القدوري] كي فرمايلي دي: بيا كه مشتري مېوه وشكوي سَقَطَ عَنِ الشَّفِيْعِ حِصَّتُهُ نو له شفيع څخه د مېوې حصه ساقطېږي قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَهٰذَا جَوَابُ الْفَصْلِ الْأَوَّلِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا د اول صورت جواب دى لِأَنَّهُ دَخَلَ فِي الْبَيْعِ مَقْصُوْدًا ځكه چي [په اول صورت كي] مېوه مقصوداً داخله سوې ده فَيُقَابِلُهُ شَيْءٌ مِنَ الثَّمَنِ نو ځكه د هغې په مقابله كي به څه ثمن وي أَمَّا فِي الْفَصْلِ الثَّانِي يَأْخُذُ مَاسِوَى الثَّمَرِبِجَمِيْعِ الثَّمَنِ پاته سو په دويم صورت كي به شفيع د ټوله ثمن په عوض كي له مېوې څخه بغير [پاته مبيع] اخلي لِأَنَّ الثَّمَرَ لَمْ يَكُنْ مَوْجُوْدًا عِنْدَ الْعَقْدِ ځكه [په دې صورت كي] مېوه په عقد كي

موجوده نه وه فَلَا يَكُونُ مَبِيعًا إِلَّا تَبْعًا نو دا مبيع به نه وي مګر تابع فَلَا يُقَابِلُهُ شَيْءٌ مِنَ الثَّمَنِ نو ځکه د هغه په مقابله کي به هيڅ ثمن هم نه وي. والله أعلم.

تشريح: مسئله دا ده چي که مشتري مېوه وشکوي، نو د هغه په وجه ثمن کمېږي، که نه؟، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دلته دوه صورتونه دي، په يوه صورت کي ثمن کمېږي، او په بل صورت کي په ثمن کي هيڅ کمي نه راځي.

(۱) هغه صورت چي په هغه کي د مشتري د مېوې په شکولو سره ثمن کمېږي هغه اول قسم دی، يعني کله چي د بيع او عقد په وخت کي مېوه موجوده وي؛ ځکه کله چي د عقد په وخت کي مېوه موجوده وي، نو په بيع کي د داخلولو لپاره د مېوې صراحت کيږي (يعني د بيع پر مهال د بائع له طرفه د مېوې تذکره کيږي)، او له صراحت څخه وروسته بيا دا مېوه مقصوده ګرځي او په بيع کي داخليږي (يعني مقصود بالبيع ګرځي)، نو ځکه د هغې په مقابله کي به ثمن هم وي، لهذا کله چي په دې صورت کي د مېوې په مقابله کي ثمن سته (يعني قيمتداره ده)، نو د شکول سوي مېوې په اندازه به ثمن هم ساقطيږي او کمېږي.

(۲) پاته سو هغه صورت کي چي په هغه کي د مشتري د مېوې په شکولو سره ثمن نه کمېږي، دا دويم قسم دی چي په هغه کي د بيع پر مهال مېوه موجوده نه وي، بلکي د مشتري په قبضه کي مېوه پيدا سي، نو په دې صورت کي به شفيع له شکول مېوې څخه بغير پاته مبيع (ځمکه او درختي) د ټوله ثمن په عوض کي اخلي (او د شکول سوي مېوې په وجه به ثمن نه کموي)، ځکه کله چي مېوه د بيع په وخت کي موجوده نه وه (بلکي تر بيع وروسته د مشتري په قبضه کي په درختو کي مېوه پيدا سوه)، نو ښکاره خبره ده چي مېوه مقصود بالبيع نه سوه، بلکي تابع پاته سوه، او د تابع په مقابله کي ثمن نه راځي (لکه مخکي چي هم ضمناً ذکر سوه)، لهذا د تابع په کمېدلو (او شکول کېدلو) سره به ثمن هم نه ساقطيږي، نو ځکه په دې صورت کي به د شکول سوي مېوې په وجه ثمن نه کمېږي او شفيع به د ټوله ثمن په عوض کي شفعه اخلي. فقط والله أعلم وعلمهٔ أتم



بَابُ مَا تَجِبُ فِيْهِ الشُّفْعَةُ وَمَا لَا تَجِبُ

(دا) فصل (په بيان) د هغه شيانو (کې) دی چې په هغوی کې شفعه واجبيږي او هغه چې نه (پکښې) واجبيږي

تشريح: مخکې تر دې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په اجمالي توګه د شفعې د وجوب او ثبوت مسائل بيان کړل، اوس له دې ځايه په تفصيلي توګه هغه بيانوي او دا راښيي چې شفعه په کومو شيانو کې ثابتيږي او په کومو کې نه ثابتيږي.

په کوم جايداد کې د شفعې حق حاصليږي؟

قَالَ: الشُّفْعَةُ وَاجِبَةٌ فِي الْعَقَارِ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: چې شفعه په جايداد [ځمکه...] کې ثابته ده وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا يُقْسَمُ که څه هم هغه داسې وي چې تقسيمېدای نه سي وَقَالَ: الشَّافِعِيُّ: لَا شُفْعَةَ فِيمَا لَا يُقْسَمُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په نا تقسيمېدونکي [غيرِ مقسوم] جايداد کې شفعه نسته لِأَنَّ الشُّفْعَةَ إِنَّمَا وَجَبَتْ دَفْعًا لِمُؤْنَةِ الْقِسْمَةِ ځکه چې شفعه خو د تقسيم د مشقت دفع کولو لپاره ثابته سوې ده وَهٰذَا لَا يَتَحَقَّقُ فِيمَا لَا يُقْسَمُ او دا په ناتقسيمېدونکي جايداد کې نه ثابتيږي وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: "الشُّفْعَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ عَقَارٍ أَوْ رَبْعٍ" او زموږ دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: چې شفعه په هر شي کې سته هغه که جايداد [ځمکه] وي او که ځای وي إِلَى غَيْرِ ذٰلِكَ مِنَ الْعُمُومَاتِ او داسې نور عام احاديث [روايات] وَلِأَنَّ الشُّفْعَةَ سَبَبُهَا الِاتِّصَالُ فِي الْمِلْكِ او

---

[1] تخريج: أخرجه الطحاوي في شرح معاني الآثار في كتاب الشفعة، باب الشفعة بالجوار، حديث رقم: ۵۸۲۹، صفحه رقم: ۲۲۰.

صاحب د اثمار الهدايې رَحمهُ الله فرمايي چې دا حديث له دغه دريو احاديثو څخه را اخيستل سوی دی: ① عن ابن عباس عن النبي ﷺ قال: الشريك شفيع، والشفعة في كل شيء (سنن بيهقي، رقم: ۱۱۵۹۸). ② د ربع لفظ له دې حديث څخه را اخيستل سوی دی. عن جابر قال: قضى رسول الله ﷺ بالشفعة في كل شركة لم تقسم ربعة او حائط (مسلم شريف، رقم: ۱۶۰۸/ ۲۱۲۸). ③ د عقار لفظ له دې حديث څخه مأخوذ دی: عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ: لا شفعة إلا في دار أو عقار (سنن بيهقي، رقم: ۱۱۵۹۷)

ځکه چي د شفعي سبب اتصال في الملک دی وَالْحِكْمَةُ دَفْعُ ضَرَرِ سُوْءِ الْجِوَارِ او د شفعي حکمت د بدي همسايه ګلوی ضرر دفع کول دي عَلٰى مَا مَرَّ لکه [مخکي] چي تېر سو وَأَنَّهُ يَنْتَظِمُ الْقِسْمَيْنِ مَا يُقْسَمُ وَمَا لَا يُقْسَمُ او دا [دفع ضرر] تقسيمېدونکي او نا تقسيمېدونکي دواړه قسمه جايداد لره شامليږي وَهُوَ الْحَمَّامُ وَالرَّحٰى وَالْبِئْرُ وَالطَّرِيْقُ او ناتقسيمېدونکی جايداد [لکه] حمام، ژرنده، څاه او لاره...

اللغات: ﴿عقار﴾ غير منقولي جايدادي، لکه ځمکه، کور او داسي نور. ﴿مؤنة﴾ مشقت، زحمت، خرچ. ﴿رَبْع﴾ (د راء په فتحه سره) ① کور او جاګير. ② د کور شاوخوا والا حصه. ③ محلّة القوم و منزلهم (کلی او محله)، په اصل کي هغه ځای ته ويل کيږي چي خلک د ربيع (پسرلي) په موسم کي پکښي اړوي. جمع: رِبَاع (مصباح اللغات، مصباح منير، معجم وسيط). ﴿حمّام﴾ غسل خانه (غسلخانه). ﴿رحی﴾ ژرنده.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي داحنافو په نېز په مقسوم او غير مقسوم هر ډول جايداد او ځمکه کي شفعه ثابتيږي يعني برابره ده ځمکه او ځای د تقسيم قابل وي (تقسيمېدای سي)، مثلاً غټه ځمکه، غټ کور او داسي نور، په دې کي زموږ (او د شوافعو ټولو) په نېز شفعه ثابتيږي، او هغه ځمکه او ځای چي د تقسيم قابل نه وي (يعني په تقسيم سره د هغه منفعت ته ضرر رسيږي)، مثلاً تنګه مشترکه غسل خانه چي که تقسيم کړی سي نو ديوه شريک په حق کي د انتفاع قابله نه پاتيږي، همدارنګه څاه او ژرنده او د هغې ځمکه چي که تقسيم کړی سي نو د هيڅ کار نه پاتيږي همدارنګه تنګه خونه (کمره)، په دې کي هم زموږ په نېز شفعه ثابتيږي او حاصليږي، ليکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز هغه شی کوم چي د تقسيم قابل نه وي (يعني په تقسيم سره د هغه منفعت متأثر کيږي) په هغه کي شفعه نه حاصليږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي شفيع ته ځکه شفعه حاصليږي چي د تقسيم زحمت او مشقت ليري سي لکه مخکي چي ذکر سوه (مثلاً يوه تنګه خونه د دوو شريکانو ترمينځ مشترکه ده. اوس که يو شريک خپله نيمه حصه خرڅه کړي او بل شوک هغه رانيسي، نو دا بل شوک به په پاته شريک خپله حصه تقسيم او جلا کړي نو په دې توګه به پر پاته شريک د تقسيم مشقت او خرچه پرېوځي او خونه به هم د انتفاع قابله پاته نه سي. لهذا شفعه د دغه تقسيم د مشقت ليري کولو لپاره مشروع سوې ده)، او کوم شی چي د تقسيم قابل نه وي (تقسيمېدای نه سي)، په هغه کي دا مشقت او تکليف نه ثابتيږي، او کله چي دغه علت (د تقسيم مشقت) نه ثابتيږي نو

شفعه به هم نه پکښې ثابتيږي، خلاصه دا چي کله په غيرِ مقسوم جايداد کي دا علت نسته، نو په هغه کي به شفيع ته شفعه نه حاصليږي؛ ځکه قاعدا ده چي "الحكم ينتفي بنفي العلة" يعني د علت په منتفي کېدلو سره حکم هم منتفي کيږي.

زموږ دليل: دا حديث دی "الشفعة في كُلِّ إلخ"، په دغه حديث کي په مطلق ځمکه او ځای کي شفعه ثابته کړی سوې ده، برابره ده هغه د تقسيم قابل وي او که نه وي، له دې څخه بغير چي په کتابُ الشفعه کي هم د شفعي په هکله ځومره حديثونه تېر سوي دي. په هغوی ټولو کي مطلق شفعه ثابته کړی سوې ده او دا تفصيل پکښې نسته چي شفعه په قابلِ تقسيم جايداد کي ثابتيږي.

ولأن الشفعة إلخ: دا زموږ عقلي دليل دی، حاصل يې دا دی چي د شفعې د ثابتېدلو سبب د ملکيت اتصال دی (يعني شفعه هغه کس ته حاصليږي چي د هغه د جايداد سره خرڅ کړی سوی جايداد متصل وي يعني د خرڅ کړی سوي جايداد همسايه وي)، او د شفعي حکمت د بد همسايه توب ضرر ليري کول دي (يعني که بد او مُضر سړی راسي او دا خرڅ کړی سوی جايداد رانيسي نو د شفيع همسايه به سي او بد همسايه د نقصان او تاوان جرړه ده، نو په دې وجه شفعه ورته حاصليږي)، او دا دواړه شيان (يعني اتصال الملك او دفع ضرر الجوار) هر ډول جايداد او هر ډول ځمکي او ځای لره شامل دی، برابره ده هغه د تقسيم قابل وي او که نه وي (ځکه په دواړو صورتونو کي د ملکيت اتصال سته او په دواړو کي د بد همسايه په راتللو سره نقصان کيږي، نو ځکه په دواړو صورتونو کي هغه ته حقِ شفعه حاصلېدل پکار دي).

په کومو شيانو کي شفعه نه حاصليږي؟

قَالَ: وَلَا شُفْعَةَ فِي الْعُرُوضِ وَالسُّفُنِ فرمايي: او په سامانونو او کښتيو کي شفعه نسته لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: «لَا شُفْعَةَ إِلَّا فِي رَبْعٍ أَوْ حَائِطٍ» نبي کريم ﷺ د دې فرمان په وجه: چي شفعه نسته مګر په ځای [جاګير] او دېوال کي وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى مَالِكٍ فِي إِيجَابِهَا فِي السُّفُنِ او دا حديث په کښتيو کي د شفعي ثابتولو په هکله د امام مالک په خلاف حجت دی وَلِأَنَّ الشُّفْعَةَ إِنَّمَا وَجَبَتْ لِدَفْعِ ضَرَرِ سُوْءِ الْجِوَارِ عَلَى الدَّوَامِ او ځکه چي شفعه په دائمي توګه د بدي همسايه ګلوی د ضرر دفع کولو لپاره

[1] تخريج: أخرجه بزار في مسنده وطحاوي معناه في كتاب الشفعة، حديث رقم: ۵۸۴۹.

صاحب د اثمار الهدايه فرمايي چي د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله مذکوره حديث د دغه دوو حديثونو مجموعه ده: (۱) عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ: لا شفعة إلا في دار أو عقار (سنن بيهقي، رقم: ۱۱۵۹۷)، (۲) عن جابر قال: قضى رسول الله ﷺ بالشفعة في كل شركة لم تقسم ربعة أو حائط (مسلم شريف، رقم: ۱۶۰۸/ ۴۱۲۸).

ثابته سوې ده وَالْمِلْكُ فِي الْمَنْقُولِ لَا يَدُومُ حَسَبَ دَوَامِهِ فِي الْعَقَارِ او په منقولي شي کي ملکيت دائمي نه وي لکه څرنګه چي په جايداد [ځمکه...] کي دائمي وي فَلَا يُلْحَقُ بِهِ لهذا منقول شی به د جايداد [ځمکي...] سره نه لاحقول کيږي وَفِي بَعْضِ نُسَخِ الْمُخْتَصَرِ: وَلَا شُفْعَةَ فِي الْبِنَاءِ وَالنَّخْلِ إِذَا بِيعَتْ دُونَ الْعَرْصَةِ او د مختصر القدوري په بعضي نسخو کي دي "ولا شفعة فی البناء والنخل إذا بيعت دون العرصة"(چي بناء او درختي چي کله [تنها] له ځمکي څخه بغير خرڅ کړل سي، نو په هغوی کي شفعه نسته) وَهُوَ صَحِيحٌ مَذْكُورٌ فِي الْأَصْلِ او همدا صحيح دي او په مبسوط کي [هم] ذکر سوي دي لِأَنَّهُ لَا قَرَارَ لَهُ ځکه چي بناء او درختو لره قرار نسته [بلکي له يوه ځای بل ځای ته نقل کول يې ممکن دي] فَكَانَ نَقْلِيًّا نو دا به منقولي وي وَهَذَا بِخِلَافِ الْعُلْوِ او دا د پورتني منزل [بالاخانې] په خلاف دي حَيْثُ يُسْتَحَقُّ بِالشُّفْعَةِ وَيُسْتَحَقُّ بِهِ الشُّفْعَةُ فِي السُّفْلِ ځکه په پورتني منزل کي د شفعي استحقاق ثابتيږي او د هغه په وجه په لانديني منزل کي هم د شفعي استحقاق ثابتيږي [په لنډه توګه دا چي په پاسني منزل [چت] کي هم شفعه حاصليږي او د پاسني منزل په وجه (د پاسني منزل مالک ته) هم شفعه حاصليږي] إِذَا لَمْ يَكُنْ طَرِيقُ الْعُلْوِ فِيهِ [په دې شرط] کله چي په لانديني منزل کي د پاسني منزل لاره نه وي لِأَنَّهُ بِمَا لَهُ مِنْ حَقِّ الْقَرَارِ الْتَحَقَ بِالْعَقَارِ ځکه په دې سبب چي پاسني منزل لره د قرار [بقاء] حق سته هغه د جايداد [ځمکي] سره لاحق سوی دی.

اللغات: ﴿عروض﴾ جمع د عَرْضٌ ده: سامان، له دراهم او دنانيرو (نقودو) څخه بغير نور شيان، او د عَرَضٌ جمع أَعْرَاض راځي: سامان (معجم لغة الفقهاء)، ﴿سُفُن﴾ جمع د سَفِيْنَةٌ ده: کښتی، بيړی، ﴿رَبع﴾ کور او جاګير، ﴿جوار﴾ همسايه توب، همسايه ګلوي، ﴿دوام﴾ دائمي کېدل، هميشتوب، ﴿بناء﴾ جوړ سوی ځای، وداني، ﴿نخل﴾ جمع د نخلةٌ ده: د خرما درختي، ونې، ﴿عرصة﴾ خالي ميدان، خالي ځمکه، ﴿علو﴾ په دغه لفظ کي درې لغات دي: عُلْو، عَلْو، عِلْو: پورتنی پوړ، پاسنی منزل (پورتنی [لوړ] ځای چي چت او بالاخانه ورته وايي)، ﴿سفل﴾ په دې لفظ کي دوه لغات دي: سُفْلِ، سِفْل: لانديني منزل، لانديني ځای چي پر هغه د پاسه بل ځای وي.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي شفعه صرف په غير منقولي شيانو (يعني غير منقوله جايداد) کي ثابتيږي، او څرنګه چي سامان او کښتی (بيړی) له منقولي شيانو څخه دي، نو ځکه په هغوی کي

شفعه نه ثابتيږي. او بل دا چې په حديث پاک کې هم صرف د غيرِ منقولي شيانو تذکره سوې ده. لهذا منقولي شيان لکه کښتی او داسي نور به په هغه کي نه داخلول کيږي.

امام مالک رَحِمَهُ الله په کښتی او منقولي شيانو کي د شفعي د ثبوت قائل دی. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې مذکوره حديث د هغه په خلاف څرګند دليل دی چې په منقولاتو کي شفعه نه سته. او بل دا چې د شفعي حکمت په دائمي توګه له ضررِ جوار څخه بچ کېدل دي (لکه مخکي چې اشاره ورته وسوه)، او په منقولاتو کي ملکيت دائمي نه پاتيږي. لهذا هلته دا حکمت هم نه ثابتيږي نو په هغوی کي به شفعه نه حاصليږي. وروسته فرمايي چې د قدوري په بعضي نُسخو کي د "ولا شفعة في البناء إلخ" عبارت ذکر سوی دی او هغه صحيح دی، او په مبسوط کي هم د دغه عبارت تذکره سوې ده او په دې صورت کي د شفعي د عدمِ ثبوت وجه دا ده چې په تنها بناء (ودانی) او درختو کي دوام او قرار نه پاتيږي. لهذا دا دواړه به د منقولاتو له قبيلې څخه وي او په منقولاتو کي شفعه نه حاصليږي. نو ځکه په دوی کي به هم شفعه نه حاصليږي.

وهذا بخلاف العلو إلخ: دا د يو اعتراض جواب دی. اعتراض دا دی چې کله تاسو په منقولي شيانو کي د شفعي د نه ثابتېدلو قائل ياست، نو بيا که د يو کور فقط پاسنی منزل (پورتنی پوړ [چت]) خرڅيږي، نو تاسو هلته هم شفعه مه ثابتوئ، ځکه چې هغه تنها د بناء حصه ده او يو ډول له منقولاتو څخه ده، لهذا ستاسو په وينا په هغه کي شفعه نه ثابتېدل پکار دي.

د جواب حاصل دا دی چې ستاسو دا اعتراض بالکل پر ځای دی. لېکن نن سبا د لوړو عمارتونو او د پاسني منزلونو معامله او رواج عام سوی دی، او پاسني منزلو (چتونو) لره د قرار او دوام حق حاصل دی. لهذا کله چې پاسني ځايو او منزلو لره د قرار حق حاصل دی. نو دوی د غيرِ منقوله جايداد سره لاحق دي، او په غيرِ منقولاتو کي شفعه حاصليږي. لهذا په دوی کي به هم حاصليږي او پاسنی منزل به د شفعي سبب هم جوړيږي. خو شرط دا دی چې د هغه لاره به په لانديني منزل کي نه وي وتلې (بلکي لاره به يې جلا وي يعني په جلا لاره به استوګن ورداخليږي او راوځي)؛ ځکه دلته د هغه شفعي په هکله بحث کيږي کوم چې د جوار (همسايه توب) په وجه حاصليږي. او په لانديني منزل کي د لاري وتلو په صورت کي د شرکت په وجه شفعه حاصليږي (چې په لاره کي ور سره شريک دی)، نه د جوار په وجه.

په همدې وجه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دلته د "إذا لم يكن إلخ" قيد لګولی دی.

د ذمي كافر لپاره هم د شفعي حق سته (د شفعي استحقاق عام دی)

قَالَ: وَالْمُسْلِمُ وَالذِّمِّيُّ فِي الشُّفْعَةِ سَوَاءٌ فرمايي: او مسلمان او ذمي په شفعه کې سره برابر دي لِلْعُمُومَاتِ داحاديثو د عموم په وجه وَلِأَنَّهُمَا يَسْتَوِيَانِ فِي السَّبَبِ وَالْحِكْمَةِ او ځکه چې دوی دواړه [د شفعي] په سبب او حکمت کې سره برابر دي فَيَسْتَوِيَانِ فِي الِاسْتِحْقَاقِ نو ځکه [د شفعي] په مستحق کېدلو کې به هم سره برابر وي وَلِهَذَا يَسْتَوِي فِيهِ الذَّكَرُ وَالْأُنْثَى وَالصَّغِيرُ وَالْكَبِيرُ وَالْبَاغِي وَالْعَادِلُ وَالْحُرُّ وَالْعَبْدُ إِذَا كَانَ مَأْذُونًا أَوْ مُكَاتَبًا په همدې وجه [د شفعي] په استحقاق کې نارينه او ښځه، کوچنی او غټ، باغي او عادل، آزاد او غلام ټوله سره برابر دي [په دې شرط] چې غلام به مأذون يا مکاتب وي.

اللغات: ﴿ذكر﴾ مذكر، نارينه. ﴿انثى﴾ مؤنث، ښځينه. ﴿باغي﴾ سرکښه. ﴿مأذون﴾ هغه غلام چې د تجارت او کاروبار اجازت ورکول سوی وي.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې څرنګه د مسلمان په حق کې شفعه مشروع او ثابته ده، همداسې د ذمي لپاره هم شفعه ثابته ده، او د دغه ثبوت دوې (۲) وجهې دي: ① په احاديثو او رواياتو کې عموم دی چې په هغوی کې د مسلمان تخصيص نسته، ② د شفعي سبب او د هغه حکمت چې څرنګه د مسلمان په حق کې سته، همداسې د ذمي په حق کې هم سته (د شفعي د سبب او حکمت يادونه مخکې وسوه)، لهذا کله چې ذمي د احاديثو په عموم کې داخل دی او په سبب او حکمت کې هم د مسلمان سره برابر دی، نو په شفعه کې به هم د مسلمان برابر او د هغه په څېر وي لهذا ذمي ته به هم شفعه حاصلېږي.

صاحب د هدايې د استحقاق د عامو الي او مساوي والي څو مثالونه ذکر کړي دي چې شفعه څرنګه نارينه ته حاصلېږي، همداسې ښځي ته هم حاصلېږي او څرنګه چې غټ او بالغ کس ته حاصلېږي، همداسې کشر ته هم حاصلېږي او څرنګه چې عادل کس ته حاصلېږي، باغي کس ته هم حاصلېږي او څرنګه چې آزاد ته حاصلېږي، غلام ته هم حاصلېږي. مګر مطلق غلام ته شفعه نه حاصلېږي: ځکه چې په هغه کې د رانيولو او خرڅولو اهليت نه وي (لکه په دريمه هدايه کې چې څو ځله د دې بيان تېر سو)، خو څرنګه چې په مکاتب او مأذون غلام کې د رانيولو او خرڅولو اهليت وي، نو ځکه دلته صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د مکاتب او مأذون قيد لګولی دی.

په کوم عقد کې د شفعې حق ستـه او په کوم کې نستـه؟

قَالَ: وَإِذَا مَلَكَ الْعَقَارَ بِعِوَضٍ هُوَ مَالٌ فرمايي: او كله چي مشتري په داسي عوض [بدل] سره د جايداد مالک سي کوم چي مال وي وَجَبَتْ فِيهِ الشُّفْعَةُ نو په داسي جايداد كي شفعه ثابتيږي لِأَنَّهُ أَمْكَنَ مُرَاعَاةُ شَرْطِ الشَّرْعِ فِيهِ ځکه چي هغه کي د شريعت د شرط رعايت کول ممکن دی وَهُوَ التَّمَلُّكُ بِمِثْلِ مَا تَمَلَّكَ بِهِ الْمُشْتَرِيْ صُورَةً أَوْ قِيمَةً او هغه مالک کېدل دي [د جايدادي] د هماغه شي په مثل سره چي د هغه په ذريعه مشتري مالک سوی دی برابره ده دا مثل د صورت په اعتبار سره [يعني مثلِ صوري] وي يا د قيمت په اعتبار سره [مثلِ قيمي] وي عَلٰى مَا مَرَّ لکه [مخکي] چي تېر سو.

اللغات: ﴿عقار﴾ غيرِ منقولي جايداد، لکه ځمکه او کور، ﴿تملّك﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مالک کېدل، مالک جوړېدل.

تشريح: څرنګه چي په هبه، صدقه، وراثت او داسي نورو کي د مال معاوضه نستـه (يعني له دواړو طرفونو څخه مال نه پکښې ورکول کيږي)، نو ځکه په هغوی کي شفعه هم نه ثابتيږي، همدا وجه ده چي امام قدوري رَحِمَهُ الله د مالي عوض په قيد سره د مشتري د مالک کېدلو قيد لګولی دی (چي د مال په عوض کي به د جايداد مالک سوی وي)؛ ځکه په شفعه کي شريعت دا شرط لګولی دی چي مشتري د کوم شي په عوض کي ځای او ځمکه رانيولی وي، شفيع به د هغه شي د مثل په عوض کي ځای او ځمکه اخلي، لهذا د دې شرط رعايت ضروري دی، او رعايت همغه وخت کيږي کله چي مشتري په مالي عوض سره ځای او ځمکه رانيولې وي (او دا بيا جلا خبره ده چي که دا عوض له ذواتُ القيم څخه وي نو د هغه مثل د هغه قيمت دی او که له ذواتُ الأمثال څخه وي نو مثل يې د هغه په څېر شی دی کوم چي عرفاً د هغه مثل شمېرل کيږي)، لنډه دا چي شفيع به په هر حال کي په عوض سره مشفوعه ځای او ځمکه اخلي، او دا هغه وخت کېدای سي کله چي مشتري هم په عوض سره ځای او ځمکه رانيولې وي، کنې که يو څاي بلا عوضه مثلاً د هبې او داسي نورو په ذريعه ځای او ځمکه اخيستې وي، نو شفيع لره په هغه کي هيڅ حق نستـه، ځکه چي شرط موجود نه سو، نو شفعه به هم نه پکښې جاري کيږي.

په کوم ځای او کوم عقد کي شفعه نه واجبيږي؟

قَالَ: وَلَا شُفْعَةَ فِي الدَّارِ الَّتِيْ يَتَزَوَّجُ الرَّجُلُ عَلَيْهَا [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او په هغه کور کي شفعه نستـه چي د هغه په عوض کي سړی نکاح کوي أَوْ يُخَالِعُ الْمَرْأَةُ بِهَا يا چي د هغه په ذريعه ښځه خلع کوي أَوْ يَسْتَأْجِرُ بِهَا دَارًا أَوْ غَيْرَهَا يا چي د هغه په ذريعه سړی کور يا داسي بل شی په اجاره [په

کرایه] اخلي أَوْ يُصَالِحُ بِهَا عَنْ دَمِ عَمْدٍ يا چي د هغه په ذريعه له قتلِ عمد څخه صلح کوي أَوْ يُعْتِقُ عَلَيْهَا عَبْدًا يا چي د هغه په عوض کي غلام آزادوي لِأَنَّ الشُّفْعَةَ عِنْدَنَا إِنَّمَا تَجِبُ فِي مُبَادَلَةِ الْمَالِ بِالْمَالِ ځکه چي شفعه زموږ په نېز د مبادلة المال بالمال په صورت کي ثابتيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ مخکي بيان کړي وَهٰذِهِ الْأَعْوَاضُ لَيْسَتْ بِأَمْوَالٍ او دغه عوضونه مال نه دي فَإِيجَابُ الشُّفْعَةِ فِيهَا خِلَافُ الْمَشْرُوعِ وَقَلْبُ الْمَوْضُوعِ نو په دوی کي شفعه ثابتول د مشروع خلاف او د موضوع چپه اړول دي.

اللغات: ﴿يخالع﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: خلع کول. ﴿اعواض﴾ جمع د عوض ده: کوم شی چي د بل شي په بدله کي ورکول کيږي، هغه ته "عوض" وايي، بدل. ﴿إيجاب﴾ د افعال د باب مصدر دی: واجبول، لازمول، ثابتول. ﴿قلب﴾ د ضرب د باب مصدر دی: چپه اړول (د يوشي پورتنۍ حصه لاندي کول، دننۍ حصه دباندي کول...).

تشريح: مسئله دا ده چي د احنافو په نېز صرف د مبادلة المال بالمال په صورت کي شفعه ثابتيږي (يعني صرف په هغه جايداد کي ثابتيږي چي د هغه په راکړه ورکړه کي له دواړو طرفونو څخه مال ورکول سوی وي)، لهذا په کوم صورت کي چي مبادلة المال بالمال نه وي، په هغه کي زموږ په نېز شفعه نشته، همدا وجه ده ① که خاوند د ښځي په مهر کي يو کور ورکړي (يعني د کور په عوض کي نکاح ور سره وکړي)، ② يا يو ښځه د خپل خاوند سره د کور او ځای په عوض کي خلع وکړي، ③ يا څوک د کور په عوض کي کور يا بل شی په کرايه واخلي، ④ يا څوک د قصاص په بدله کي د مقتول وارثانو ته کور ورکړي، ⑤ يا څوک د کور په عوض کي خپل غلام آزاد کړي (مثلاً غلام ته ووايي چي ما ته فلانکی کور راکه! نو ته آزادي او غلام هغه ورکړي)، نو په دې ټولو صورتونو کي شفعه نه ثابتيږي، ځکه چي زموږ په نېز د شفعي د ثبوت لپاره مبادلة المال بالمال ضروري دي، او دلته چي څومره هم عوضونه دي، هغه مال نه دي (ځکه په اول او دويم صورت کي د ښځي بضع مالِ متقوم نه دی. او نه د کرايې والا په صورت کي د کور يا بل شي منافع مال دي. او نه دم مال دی. او نه آزادي مال دی)، نو ځکه په دې ټولو صورتونو کي به شفعه نه ثابتيږي.

لما بيّنا إلخ: په دې سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د هغه دليل وطرف ته اشاره کړې ده کوم چي مخکي تېر سو چي په شفعه کي شريعت دا شرط لګولی دی چي مشتري به د مال په عوض کي مشفوعه ځای (کور او ځمکه) رانيولې وي چي شفيع د هغه مثل (مال) اداء کړي او ځای واخلي، او چيري چي مال نه وي، نو هلته شفيع هم د مال په عوض کي مشفوعه ځای نه سي اخيستلای، او په مذکوره تمام

صورتونو کي عوضونه مال نه دي، نو ځکه په هغوی کي د مشفوعه ځای اخيستلو هيڅ صورت نه جوړيږي.

برسيره پر دې که په دغه صورتونو کي شفعه ثابته کړی سي نو دا به خلاف مشروع وي او قلب موضوع به لازم سي؛ ځکه چي په دې صورتونو کي د شفيع لپاره د مشتري د مثل اداء کولو او ځای اخيستلو هيڅ صورت نسته.

په پورتنی مسئله کي د امام شافعي رَحمَهُ الله اختلاف

وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ تَجِبُ فِيهَا الشُّفْعَةُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په دغه عوضونو کي شفعه ثابتيږي لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَعْوَاضَ مُتَقَوِّمَةٌ عِنْدَهُ ځکه چي د هغه په نېز دا عوضونه قيمتداره دي فَأَمْكَنَ الْأَخْذُ بِقِيمَتِهَا إِنْ تَعَذَّرَ بِمِثْلِهَا نو د دوی د مثل د نا ممکن کېدلو په صورت کي د دوی قيمت اخيستل ممکن دي كَمَا فِي الْبَيْعِ بِالْعَرَضِ لکه د سامان په عوض کي [د جايداد] په بيع کي [چي کيږي] بِخِلَافِ الْهِبَةِ په خلاف د هبې لِأَنَّهُ لَا عِوَضَ فِيهَا رَأْسًا ځکه چي په هغه کي بالکل هيڅ عوض نه وي وَقَوْلُهُ يَتَأَتَّى فِيمَا إِذَا جَعَلَ شِقْصًا مِنْ دَارٍ مَهْرًا أَوْ مَا يُضَاهِيهِ او د امام شافعي دا قول په هغه صورت کي صحيح کيږي [صادقيږي] کله چي خاوند د کور يوه حصه په مهر يا داسي نورو کي ټاکلې [ورکړې] وي لِأَنَّهُ لَا شُفْعَةَ عِنْدَهُ إِلَّا فِيهِ ځکه چي د امام شافعي په نېز صرف په همدې صورت کي شفعه ستته وَنَحْنُ نَقُولُ: إِنَّ تَقَوُّمَ مَنَافِعِ الْبُضْعِ فِي النِّكَاحِ وَغَيْرِهَا بِعَقْدِ الْإِجَارَةِ ضَرُورِيٌّ او موږ وايو: چي په نکاح کي د بضعي د منافعو قيمتداره کېدل او [همدارنګه] له هغه څخه بغير د نورو قيمتداره کېدل د عقدِ اجارې په وجه د ضرورت [او ارتيا] پر بناء دي فَلَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ الشُّفْعَةِ نو ځکه دا تقوم [قيمتداره کېدل] به د شفعې په حق کي نه ښکاره کيږي وَكَذَا الدَّمُ وَالْعِتْقُ غَيْرُ مُتَقَوِّمٍ او همدارنګه دم او آزادول قيمتداره نه دي لِأَنَّ الْقِيمَةَ مَا يَقُومُ مَقَامَ غَيْرِهِ فِي الْمَعْنَى الْخَاصِّ الْمَطْلُوبِ ځکه چي قيمت هغه څه دی کوم چي په خاصه معنیٰ [خاص مطلوب] کي د بل شي قائم مقام سي وَلَا يَتَحَقَّقُ فِيهِمَا او دا خبره په دم او آزادي کي ثابته نه ده وَعَلَى هٰذَا إِذَا تَزَوَّجَهَا بِغَيْرِ مَهْرٍ ثُمَّ فَرَضَ لَهَا الدَّارَ مَهْرًا او همدارنګه کله چي سړی د ښځي سره بغير له مهره نکاح وکړي بيا په مهر کي د هغې لپاره کور وټاکي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْمَفْرُوضِ فِي الْعَقْدِ فِي كَوْنِهِ مُقَابَلًا بِالْبُضْعِ ځکه چي دا د بضع په مقابل

کېدلو کي د مفروض في العقد [په عقد نکاح کي د ټاکل سوي] په څېر دي [په آسانه وينا دا چي تر نکاح وروسته په مهر کي کور ټاکل (ورکول) داسي دي لکه د خودي د نکاح د عقد (تړولو) په وخت کي ټاکل. ځکه دا هم د بضع په مقابله کي دي] بِخِلَافِ مَا إِذَا بَاعَهَا بِمَهْرِ الْمِثْلِ أَوْ بِالْمُسَمّٰى په خلاف د هغه صورت ګله چي خاوند د مهرِ مثل يا مهرِ مسمىٰ [ټاکل سوي مهر] په عوض کي کور خرڅ کړی وي [نو شفعه ثابتيږي] لِأَنَّهُ مُبَادَلَةُ مَالٍ بِمَالٍ ځکه چي دا د مال په بدله کي د مال خرڅول دي.

اللغات: ﴿متقوّمة﴾ قيمتداره (قيمت لرونکی). قابلِ قيمت. ﴿شقص﴾ حصه. ټوکړه. ﴿يضاهي﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: مشابه کېدل. ورته کېدل. ﴿المفروض﴾ د فرض د باب مفعول دی: متعين کړی سوی. ټاکل سوی (مقرر کړی سوی).

تشريح: څرنګه چي احنافو مذکوره شيان (بضع او داسي نور چي په عوض کي يې کور ورکول سوی دی) مال نه دي، نو ځکه احنافو پکښي د شفعي انکار کړی دی. خو د امام شافعي په نيز دا عوضونه (يعني بضع او داسي نور) مال دي، نو ځکه امام شافعي رَحِمَهُ الله په پورتني ټولو صورتونو کي د شفعي قائل دی او فرمايي چي څرنګه د سامان په عوض کي د کور خرڅېدلو په صورت کي د مثل ضوري پر ځای قيمت واجبيږي، همداسي په دغه مذکوره شيانو کي که څه هم مثل نا ممکن دی، خو قيمت بيا واجبيدای سي. لهذا د بيع بالعرض په څېر به په دوی کي هم شفعه ثابتيږي.

بخلاف الهبة إلخ: د دې حاصل دا دی چي په هبه کي شوافع هم د احنافو په څېر د شفعي د نه ثابتېدلو قائل دي، ځکه چي شفعه هلته ثابتيږي چيري چي عوض وي. او په هبه کي خو بالکل عوض نسته. نو په هغه کي د شفعي ثابتولو هيڅ لاره نسته.

وقوله يتأتى إلخ: په دې سره صاحب د هدايې دا راښيي چي په مذکوره عوضونو کي چي امام شافعي رَحِمَهُ الله د شفعي د ثبوت قائل دی. دا صرف په هغه صورت کي کېدای سي کله چي خاوند په مشترک کور کي خپله حصه په مهر او داسي نورو کي ورکړې وي (نو دوېم شريک ته په هغه کي شفعه حاصليږي). ځکه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز صرف د شرکت پر بنياد شفعه حاصليږي او پاته سو د جوار (همسايه توب) په وجه د هغه په نيز شفعه نه حاصليږي. لهذا که خاوند په مشترک کور کي خپله حصه د مهر او داسي نورو په عوض کي ورکړي، نو د خاوند شريک په هغه کي حق شفعه لري چي د شفعي په توګه دا حصه (له خاوند څخه) واخلي، کنې که کور يوازي د خاوند وي (بل څوک ور

شریک نه وي) او هغه يې د مهر او داسي نورو په عوض کي ور کړي، نو ځرنګه چي په دې کي د هيڅا شرکت نسته، نو ځکه په دې صورت کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز شفعه نه ثابتيږي.

ونحن نقول الخ: په دې سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د احنافو يوه توجيه او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب ور کوي، حاصل يې دا دی چي موږ دا مذکوره عوضونه مال متقوّم نه دي شمېرلي (چي دا هر يو قيمتداره مال نه دی)، په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله چي هغه دا متقوّم ګڼي، په همدې وجه موږ په مذکوره صورتونو کي د شفعي قائل نه يو او امام شافعي رَحِمَهُ الله شفعه پکښې ثابتوي، او پاته سو دا خبره چي موږ بضع د دخول په حالت کي متقوّم (قيمتداره) شمېرلئ ده همدارنګه منافع مو په عقدِ اجاره کي متقوّم شمېرلي دي، دا ځکه چي اصل خو همدا ده چي دا عوضونه مال نه دي، لېکن د بضع د احترام او اړتيا په وجه همدارنګه د اجارې د اړتيا په وجه يعني د ضرورت پر بناء موږ دا شيان متقوّم شمېرلي دي، او "الضّرورة تقدّر بقدرها" چي ضرورت صرف د ضرورت او اړتيا په اندازه ثابتيږي، لهذا کله چي د دې عوضونو متقوّم کېدل د ضرورت پر بناء دي، نو د مذکوره قاعدې په وجه به په شفعه کي دوی متقوّم نه منل کيږي او کله چي متقوّم نه دي، نو شفعه به هم نه پکښې ثابتيږي.

وكذا الدم الخ: فرمايي چي د دمِ عمد او آزادی په صورت کي هم د شفعي د نه ثابتېدلو وجه د دوی نا متقوّم کېدل دي چي دوی قيمتداره نه دي، ځکه چي قيمت هغه شي ته وايي کوم چي په خاص مطلوب يعني ماليت کي د بل شي قائم مقام او نائب کېدای سي، او په دم او عتق کي له سره ماليت سته نه، لهذا کله چي ماليت پکښې نسته، نو بيا به دوی متقوّم هم نه وي.

وعلى هذا الخ: د دې حاصل دا دی چي که څوک بغير له مهره د يو ښځي سره نکاح وکړي او تر نکاح وروسته په مهر کي يو کور د هغې لپاره وټاکي (چي په مهر کي دا کور در کوم)، نو دا وروسته ټاکل به داسي ګڼل کيږي ګواکي هغه د نکاح تړلو په وخت کي کور په مهر کي ټاکلی دی، نو ځکه په دواړو صورتونو کي شفعه نه ثابتيږي؛ ځکه ځرنګه چي د نکاح تړلو په وخت کي دا ټاکل سوی کور د بضع په مقابله کي دی، همداسي له نکاح تړلو څخه وروسته (بعد العقد) هم د بضع په مقابله کي دی، او په دواړو صورتونو کي مبادلة المال بالمال نسته، نو ځکه په دواړو کي به شفعه نه ثابتيږي.

بخلاف ما إذا باعها الخ: د مخکيني صورت په خلاف بل صورت ذکر کوي، حاصل يې دا دی چي که څوک د ښځي سره نکاح وکړي او په مهر کي مثلاً لس زره روپۍ وټاکي يا هيڅ هم نه وټاکي او تاسو ته به معلومه وي چي د هيڅ نه ټاکلو په صورت کي مهرِ مثل واجبيږي، بيا خاوند د دې ټاکل سوي مهر (لس زره) يا مهرِ مثل په عوض کي پر هغه ښځي کور خرڅ کړي، نو په دې کور کي شفعه

ثابتيږي. ځکه چي د شفعي د ثبوت لپاره مبادلة المال بالمال ضروري دی او هغه دلته سته (ځکه د خاوند له طرفه کور دی او د ښځي له طرفه مهر دی چي دواړه مالونه دي). نو ځکه دلته به شفعه ثابتيږي.

په مهر کي د ټاکل سوي کور يو خاص صورت او په هغه کي د شفعي حکم

وَلَوْ تَزَوَّجَهَا عَلَى دَارٍ عَلَى أَنْ تَرُدَّ عَلَيْهِ أَلْفًا او که ديو ښځي سره د کور په عوض کي پر دې شرط نکاح وکړي چي ښځه به هغه ته (مثلاً) زر درهمه واپس کوي فَلَا شُفْعَةَ فِي جَمِيعِ الدَّارِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په ټوله کور کي شفعه نسته وَقَالَا: ۞ تَجِبُ فِي حِصَّةِ الْأَلْفِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د زرو درهمو والا په حصه کي شفعه ثابتيږي لِأَنَّهُ مُبَادَلَةٌ مَالِيَّةٌ فِي حَقِّهِ ځکه چي دا د خاوند په حق کي مالي تبادله (مبادلة المال بالمال) ده وَهُوَ يَقُولُ مَعْنَى الْبَيْعِ فِيهِ تَابِعٌ او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي د بيع معنى په دې کي تابع ده وَلِهَذَا يَنْعَقِدُ بِلَفْظِ النِّكَاحِ وَلَا يَفْسُدُ بِشَرْطِ النِّكَاحِ فِيهِ په همدې وجه د نکاح په لفظ سره بيع منعقد کيږي او په بيع کي د نکاح په شرط لګولو سره هغه نه فاسديږي وَلَا شُفْعَةَ فِي الْأَصْلِ او په اصل کي شفعه نسته فَكَذَا فِي التَّبَعِ نو همداسي به په تابع کي هم نه وي وَلِأَنَّ الشُّفْعَةَ شُرِعَتْ فِي الْمُبَادَلَةِ الْمَالِيَّةِ الْمَقْصُودَةِ او ځکه چي شفعه په هغه مالي مبادله کي مشروع ده کوم چي مقصود وي حَتَّى أَنَّ الْمُضَارِبَ إِذَا بَاعَ دَارًا وَفِيهَا رِبْحٌ همدا وجه ده که چيري مضارب يو کور خرڅ کړي او په هغه کي نفع وي لَا يَسْتَحِقُّ رَبُّ الْمَالِ الشُّفْعَةَ فِي حِصَّةِ الرِّبْحِ نو رب المال د نفعي په حصه کي د شفعي نه مستحق کيږي لِكَوْنِهِ تَابِعًا فِيهِ ځکه چي نفع په دې کي تابع ده.

اللغات: ﴿ترد﴾ د نصر د باب واحد مؤنث غائب مضارع صيغه ده: واپس کول. ردول. ﴿ربح﴾ نفع. ګټه.

تشريح: مسئله: دا ده چي کوم کور او ځای په مهر کي ورکول سوی وي، په هغه کي د احنافو په نيز بالاتفاق شفعه نسته، لېکن که څوک په مهر کي کور وټاکي مګر دا شرط هم ور سره ولګوي چي مهر خو دا ټوله کور دی، لېکن ښځه به ما ته زر درهمه واپس راکوي. اوس په دې صورت کي د شفعي د ثابتېدلو په هکله د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دی.

۞ نقول الراجح: قول أبي حنيفة رحمه الله. انظر للتفصيل والتوضيح [الفوائد ... ج:٢، ص:٢٧٣]

د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د دغه كور په هيڅ حصه كي هم شفعه نه ثابتيږي. صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي دلته د كور دوې حصې دي: ① يوه هغه كوم چي خاوند په مهر كي تاكلې ده، ② او دويمه هغه چي په عوض كي يې خاوند له ښځي څخه زر درهمه غوښتي دي، د مهر والا په حصه كي مورږ دلته هم د مخكي په څېر شفعه نه ثابتوو، لېكن څرنګه چي د زرو درهمو والا حصه كي مالي مبادله (بيع) سته (يعني ګواكي هغه حصه خاوند په زر درهمه سره پر ښځي خرڅه كړه)، نو ځكه په هغه كي به شفعه ثابتيږي.

د امام صاحب دليل دا دی چي صحيح ده! دلته مالي مبادله يعني بيع سته، خو تاسو اوګورئ! چي دلته دا بيع تابع ده، او د دې وجه دا ده چي په لفظ نكاح سره هم دلته بيع منعقد كيږي، حال دا چي په لفظ نكاح سره بيع نه منعقد كيږي، په همدې توګه د نكاح په شرط لګولو سره دلته بيع فاسديږي هم نه، حال دا چي په شرط فاسد سره بيع فاسديږي، معلومه سوه چي دلته بيع تابع ده او نكاح متبوع او اصل ده، او په اصل يعني نكاح (مهر والا حصه) كي شفعه نسته، نو بيا په فرع او تابع يعني بيع كي به هم شفعه نه ثابتيږي او حاصليږي.

ولأن الشفعة إلخ: دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دويم دليل دی، حاصل يې دا دی چي شفعه په هغه مالي مبادله كي ثابتيږي چي هلته خودي دا مالي مبادله (بيع) مقصود وي، او په مذكوره صورت كي نكاح مقصود ده، مالي مبادله يعني بيع مقصود نه ده، لهذا كله چي بيع مقصود نه ده، نو بيا په هغه كي به شفعه هم نه ثابتيږي. او د دې مثال داسي دی لكه څوک چي مضارب ته د تجارت لپاره مثلاً زر درهمه وركړي، او مضارب تجارت په وكړي او پنځه سوه درهمه ګټه وكړي، بيا مضارب د پنځلس سوه درهمو په عوض كي يو كور رانيسي، بيا وروسته په همدې پنځلس سوه درهمه بيرته هغه كور خرڅ كړي، نو په دې صورت كي ربُ المال ته شفعه نه حاصليږي چي شفعه (مشفوعه كور) واخلي، نه په رأسُ المال يعني د زر درهمو والا په حصه كي شفعه ورته حاصليږي، او نه د ګټي (پنځه سوه درهمو والا) په حصه كي، د رأسُ المال والا په حصه كي خو ځكه نه ورته حاصليږي چي مضاربت د وكالت په څېر دي، يعني په مضاربت كي ربُ المال د مؤكل په درجه كي وي او مضارب د وكيل په درجه كي وي، او د وكيل بيع خودي د مؤكل بيع ده (يعني د وكيل رانيول او خرڅول داسي دي لكه خپله مؤكل چي يې كوي). لهذا كه دلته شفعه ثابته كړی سي، نو په خپله بيع كي به د شفعي اخيستل لازم سئ (يعني ګواكي هغه خپل رانيول سوی كور د شفعي په توګه بيا رانيوی لا كوم چي عقلاً او نقلاً دواړه پوله صحيح نه دي. او د ګټي په حصه كي ځكه شفعه نه ثابتيږي او حاصليږي چي هغه تابع ده، مقصود خو مال

مضاربت دی او په مقصود يعني مال مضاربت کي شفعه نه حاصليږي، لهذا په تابع کي به هم نه حاصليږي.

د انکار يا اقرار په صورت کي پر کور صلح وکړي نو د شفعي حکم

قَالَ: أَوْ يُصَالِحُ عَلَيْهَا بِإِنْكَارٍ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: يا هغه کور چي سړی د هغه په هکله په انکار سره صلح وکړي (نو په هغه کي شفعه نسته) [يعني يو شوک دیو چا (مثلاً د زيد) په کور دعوی وکړي چي دا کور زما دی او زيد د دې انکار کوي چي نه! ستا نه دی خو بيا هم زيد د هغه (مدعي) سره پر يو شي صلح وکړي، نو په داسي کور کي هم شفعه نسته] فَإِنْ صَالَحَ عَلَيْهَا بِإِقْرَارٍ او که چيري يې د کور په عوض کي په اقرار سره صلح کړې وي وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ نو شفعه ثابتيږي قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: هٰكَذَا ذُكِرَ فِي أَكْثَرِ نُسَخِ الْمُخْتَصَرِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مختصر القدوري په زياتره نسخو کي همدغه عبارت ذکر سوی دی وَالصَّحِيحُ أَوْ يُصَالِحُ عَنْهَا بِإِنْكَارٍ مَكَانَ قَوْلِهِ أَوْ يُصَالِحُ عَلَيْهَا خو د "يصالح عليها" پر ځای د "يصالح عنها بإنکار" عبارت صحيح دی لِأَنَّهُ إِذَا صَالَحَ عَنْهَا بِإِنْكَارٍ ځکه کله چي ده [صلح کونکي] د کور په هکله په انکار سره صلح وکړه بَقِيَ الدَّارُ فِي يَدِهِ فَهُوَ يَزْعُمُ أَنَّهَا لَمْ تَزَلْ عَنْ مِلْكِهِ نو کور د ده په قبضه کي باقي پاته سو او دئ دا گومان کوي چي له کور څخه د ده ملکيت زائل نه سو وَكَذَا إِذَا صَالَحَ عَنْهَا بِسُكُوتٍ او همدارنګه کله چي دئ په سکوت سره د کور په هکله صلح وکړي [نو شفعه نه ثابتيږي] لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنَّهُ بَذَلَ الْمَالَ افْتِدَاءً لِيَمِينِهِ وَقَطْعًا لِشَغَبِ خَصْمِهِ ځکه چي دا احتمال لري [يعني په دې صورت کي دا احتمال سته] چي ده د خپل قسم په فديه کي او د خپل خصم [مقابل] د شور [او جنجال] ختمولو لپاره مال مصرف کړی وي كَمَا إِذَا أَنْكَرَ صَرِيحًا لکه په هغه صورت کي چي ده صراحتاً انکار کړی وي بِخِلَافِ مَا إِذَا صَالَحَ عَنْهَا بِإِقْرَارٍ په خلاف د هغه صورت کله چي يې د کور په هکله په اقرار سره صلح کړې وي [نو شفعه ثابتيږي] لِأَنَّهُ مُعْتَرِفٌ بِالْمِلْكِ لِلْمُدَّعِي ځکه چي [په دې صورت کي] دئ د مدعی د ملکيت اعتراف کوي وَإِنَّمَا اسْتَفَادَهُ بِالصُّلْحِ او ده دا ملکيت [کور] د صلح په ذريعه حاصل کړی دی فَكَانَ مُبَادَلَةً مَالِيَّةً نو دا به مالي مبادله [مبادلة المال بالمال] وي أَمَّا إِذَا صَالَحَ عَلَيْهَا بِإِقْرَارٍ أَوْ سُكُوتٍ أَوْ إِنْكَارٍ ليکن که ده د کور په عوض

کي په اقرار. يا سکوت يا انکار سره صلح کړې وي وَجَبَتْ الشُّفْعَةُ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ نو په دې ټولو صورتونو کي شفعه ثابتيږي لِأَنَّهُ أَخَذَهَا عِوَضًا عَنْ حَقِّهِ فِي زَعْمِهِ ځکه چي ده د خپل ګومان مطابق کور د خپل حق په عوض کي اخيستی دی إِذَا لَمْ يَكُنْ مِنْ جِنْسِهِ | په دې شرط | چي کله هغه د حق | کور | له جنس څخه نه وي فَيُعَامَلُ بِزَعْمِهِ نو د ده د ګومان مطابق به معامله کول کيږي.

اللغات: ﴿يزعم﴾ د مضارع صيغه ده. له نصر او فتح دواړو بابونو څخه راتلای سي: ګومان کول (احسن الهدايه). ﴿بذل﴾ د نصر له بابه د ماضي صيغه ده: خرڅول. مصرفول. ورکول. ﴿افتداء﴾ د افتعال مصدر دی: فديه ورکول. ﴿شغب﴾ شر او فساد. شور او جنجال. ﴿خصم﴾ فريق مخالف. مقابل.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د قدوري په اکثره نسخو کي د "يُصالِحُ عَلَيْهَا" عبارت مذکوره دی. حال دا چي صحيح "يُصَالِحُ عَنْهَا" دی. د "يُصالح عليها" په صورت کي خو په ټولو صورتونو کي شفعه ثابتيږي. يعني برابره ده انکار والا صورت وي او که د اقرار يا سکوت والا صورت وي. چي د تشريح په آخر کي به ذکر سي.

د عبارت حاصل دا دی چي زيد په يو کور کي اوسيږي. خالد دا دعویٰ وکړه چي دا کور زما دی. بيا زيد د هغه سره مثلاً په زر درهمه صلح وکړه. تر دې وروسته يو چا مثلاً عُمر په هغه کي د شفعي دعویٰ وکړه چي زه د دې کور شفيع يم. نو آيا هغه ته شفعه حاصليږي. که نه؟ په دې هکله تفصيل دی. که چيري زيد دا مدعي خالد په خپل دعویٰ کي درواغجن ګڼلی وي (چي دا کور د خالد نه دی. درواغ وايي. محض د جنجال دفع کولو په غرض يې پر زر درهمه صلح ور سره کړې وي). نو په دې صورت کي عُمر (شفيع) ته شفعه نه حاصليږي: ځکه مدعیٰ عليه يعني زيد چي کله انکار وکړی او دعویٰ يې غلطه او درواغجنه ثابته کړه، نو ګواکي هغه د بيع يعني د مبادلة المال بالمال د وجود انکار وکړی. او کله چي دلته مالي مبادله نسته. نو بيا شفعه هم نه ثابتيږي.

همدارنګه که زيد د مدعي يعني د خالد د دعوې په هکله سکوت اختيار کړی وي يعني د دعوې انکار يا اثبات يې نه وي کړی او په پټه خوله يې پر زر درهمه صلح ور سره کړې وي. نو په دې صورت کي هم عُمر ته شفعه نه حاصليږي: ځکه چي په اول يعني د انکار په صورت کي (چي خالد په خپله دعویٰ کي درواغجن دی) زيد دا ثابتوي چي دا کور زما ملکيت دی. خو صرف د جنګ او جنجال دفع کولو په خاطر ما هغه ته زر درهمه ورکړي دي چي زوی مړی چپ سي او له شر څخه يې خوندي سم (لکه څرنګه چي دا د شريفو خلکو عادت دی). او په دويم يعني د سکوت په صورت کي که څه هم زيد په

ښکاره د خالد د دعوې تکذیب نه کوي، خو د هغه سکوت دا ښيي چي هغه له قسم څخه د خالد د خوندي کولو او د هغه د شر او جنجال ختمولو په خاطر زر درهمه ورکړي دي او له هغه څخه یې ځان خلاص کړی دی، نو دا صورت به د اول یعني د صراحتاً انکار والا صورت سره لاحقول کیږي. او څرنګه چي د انکار په صورت کي شفعه نه حاصلیږي، همداسي به دلته هم شفعه نه حاصلیږي.

بخلاف ما إذا صالح إلخ: په دې سره صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله درېیم صورت ذکر کوي. هغه دا چي مدعیٰ علیه یعني زید د مدعي یعني د خالد سره (پر زر درهمه) صلح هم وکړي او د هغه د دعوې تصدیق هم وکړي چي هو! دا کور ستا دی. دا زر درهمه واخله بیا ما او تا سره خلاص یو چي بیا زړغ ونه لرې. نو څرنګه چي په دې صورت کي مدعیٰ علیه (زید) د مدعي (خالد) د ملکیت اقرار کونکی دی او بیا د زر درهمه په ورکولو سره دا ثابتونکی دی چي دلته مالي مبادله موجوده ده. او کله چي په دې صورت کي مالي مبادله سته. نو شفعه به هم ثابتیږي. لهذا په دې درېیم صورت کي به شفیع (عمر) ته شفعه حاصلیږي (یعني دا مشفوعه مصالح عنها کور به هغه ته ورکول کیږي).

أما إذا صالح علیها إلخ: مخکي خو دا مسئله وه چي دعویٰ د کور په هکله وي او صلح پر بل شي یعني پر درهمو سوې وه، دلته دا راښیي چي که دعویٰ له کور څخه بغیر د بل جنس (بل شي) په باره کي وي. مثلاً د زید په لاس کي یوه قیمتي غوا ده او خالد په هغه دعویٰ وکړه چي دا زما غوا ده، بیا زید پر کور (د کور په عوض کي) صلح ور سره وکړه یعني په صلح کي یې کور ورکړی. نو برابره ده زید د مدعي (خالد) د دعوې انکار کړی وي یا یې سکوت اختیار کړی وي یا یې اقرار کړی وي، په دریو سره صورتونو کي په دغه کور کي شفعه ثابتیږي او شفیع لره شفعه حاصلیږي. ځکه ښکاره خبره ده چي دا کور د مدعي (خالد) د حق عوض دی یعني مدعي چي د کوم حق دعویٰ کوي چي دا غوا زما ملکیت دی، هغه ته د دغه حق په عوض کي کور ورکول سوی دی نو مالي مبادله موجوده سوه (ځکه د غوا په بدله کي کور ورکول سوی دی چي دا ګواکي بیع او مالي مبادله ده)، نو ځکه په دې صورت کي شفعه ثابتیږي.

ها! که دعویٰ د کور په باره کي وي (لکه مخکیني صورت) او په صلح کي هم کور ورکول سي، نو په دې صورت کي د بیع معنیٰ یعني مالي مبادله موجوده نه سوه. نو ځکه موږ وویل چي په دې صورت کي شفعه نه ثابتیږي.

خلاصه د کلام دا چي د شفعي د ثابتېدلو مدار د مدعي (خالد) پر ګومان دی که چیري هغه دا کور (کوم چي هغه ته په صلح کي ورکول سوی دی) د خپل حق له جنس څخه نه وګڼي. نو شفعه سته. کنې نسته.

په هبه کړی سوي جايداد کي د شفعي حکم

قَالَ: وَلَا شُفْعَةَ فِي هِبَةٍ فرمايي: او په هبه کي شفعه نسته لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي مونږ ذکر کړی إِلَّا أَنْ تَكُونَ بِعِوَضٍ مَشْرُوطٍ مګر دا چي هبه په شرط کړی سوی عوض سره وي لِأَنَّهُ بَيْعٌ انْتِهَاءً ځکه چي داسي هبه د انتهاء په اعتبار سره بيع ده وَلَا بُدَّ مِنَ الْقَبْضِ وَأَنْ لَا يَكُونَ الْمَوْهُوبُ وَلَا عِوَضُهُ شَائِعًا او ضروري ده قبضه او دا چي هبه کړی سوی شی او د هغه عوض به شائع [نا تقسيم شده] نه وي [بلکي مقسوم (تقسيم شده) به وي يعني بل څوک به په هغه کي شريک نه وي] لِأَنَّهُ هِبَةٌ ابْتِدَاءً ځکه چي دا ابتداءً هبه ده وَقَدْ قَرَّرْنَاهُ فِي كِتَابِ الْهِبَةِ او په کتابُ الهبه مونږ کي د دې بيان کړی دی بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَكُنِ الْعِوَضُ مَشْرُوطًا فِي الْعَقْدِ په خلاف د هغه صورت کله چي عوض په عقد هبه کي شرط کړی سوی نه وي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا هِبَةٌ مُطْلَقَةٌ ځکه چي [په دې صورت کي] هبه او عوض دواړه مطلق هبه دي إِلَّا أَنَّهُ أُثِيبَ مِنْهَا فَامْتَنَعَ الرُّجُوعُ مګر کله چي د دې هبې عوض ورکول سو نو رجوع کول ممتنع [ناممکن] سوه.

اللغات: ﴿شائع﴾ د ضرب د باب فاعل دی، خپله معنی يې ده: منتشر، خپور، اصطلاحي معنی يې ده: مشترک شی کوم چي تر اوسه تقسيم سوی نه وی، نا تقسيم شده (غير مقسوم).

تشريح: مسئله: دا ده که څوک بل چا ته يو جايداد (مثلاً کور، ځمکه او داسي نور) هبه کړي، نو په داسي جايداد کي د شفعي حق نسته او د شفعي طلبګار ته شفعه نه پکښني حاصليږي، ځکه د شفعي لپاره مالي مبادله ضروري ده (چي له دواړو طرفونو څخه به مال وي يعني له يوه طرفه جايداد او له بله طرفه پيسې)، حال دا چي په هبه کي مالي مبادله نسته، په همدې وجه په هبه کړی سوي ځای کي شفعه نه حاصليږي.

إِلَّا أَنْ تَكُونَ إلخ: په دې سره دا رانښيي چي که څوک بل چا ته يو جايداد هبه کړي خو دا شرط هم ولګوي چي ته (موهوب لهٗ) به ما (واهب) ته مثلاً زر درهمه هبه کوې، نو په دې صورت کي په هغه کي شفعه ثابتيږي، ځکه د هبه بشرط العوض دوه حيثيتونه دي: ① ابتداءً هغه هبه ده، ② خو انتهاءً بيع ده. لهذا کله چي په هبه بشرط العوض کي دوه حيثيتونه دي، نو د دواړو لحاظ به کيږي، څرنګه چي هغه ابتداءً هبه ده، نو ځکه په هغه کي به د هبې احکام جاري کيږي او څرنګه چي په هبه کي قبضه ضروري ده، نو همداسي به په هغه (هبه بشرط العوض) کي هم قبضه ضروري وي، همدا ډول په هبه کي

د موهوب او د هغه د عوض مقسوم کېدل ضروري دي (چې هغه به تقسيم شده وي يعني د بل چا شرکت به پکښې نه وي کنې قبضه نه سي پر کېدای او هبه باطلیږي]، نو همداسي به په هبه بشرط العوض کي هم دا خبره ضروري وي.

او انتهاءً (د آخري حالت په اعتبار سره) دا بيع ده، ځکه چې په دې (هبه بشرط العوض) کي د عوض ورکولو شرط لګول سوی دی (چې ما ته به زر درهمه راکوې)، نو کله چې انتهاءً دا بيع ده، نو په دې کي به د بيع احکام جاري کيږي او د بيع په صورت کي شفعه حاصليږي، لهذا د هبه بشرط العوض په صورت کي به هم شفعه حاصليږي (په کتاب الهبة کي د دې مکمل تحقيق تېر سوی دی).

بخلاف ما إذا إلخ: د دې خاصل دا دی چي کله د عقد هبه پر مهال د عوض شرط لګول سوی وي نو شفعه ثابتيږي، لېکن که د عقد پر مهال عوض ورکول مشروط نه وي او تر عقد وروسته موهوب لهٔ (له خپل ځانه) واهب ته د هبې عوض ورکړی، نو په دې صورت کي شفعه نه ثابتيږي؛ ځکه چي اوس هبه او عوض دواړه فقط هبه دي، د مالي مبادلې هيڅ صورت نسته، او موهوب لهٔ چي واهب ته د هبې عوض ورکړی، د دې فايده دا ده چي په دې سره د واهب د استرداد (واپس اخيستلو) حق ختم سو (يعني تر دې وروسته واهب پر موهوب لهٔ رجوع نه سي کولای چي موهوب جايداد واپس ځني واخلي)، لأنّ العوض يقطع حق الرجوع.

د بيع بشرط الخيار په صورت کي د شفعي حکم

قَالَ: وَمَنْ بَاعَ بِشَرْطِ الْخِيَارِ فرمايي: او څوک چي په خيار شرط سره خرڅول وکړي [يعني په خيار شرط سره جايداد (ځمکه يا کور....) خرڅ کړي] فَلَا شُفْعَةَ لِلشَّفِيعِ نو د شفيع لپاره شفعه نسته لِأَنَّهُ يَمْنَعُ زَوَالَ الْمِلْكِ عَنِ الْبَائِعِ ځکه چي دا [د بائع خيار شرط] د بائع د ملکيت زائلېدل منع کوي فَإِنْ أَسْقَطَ الْخِيَارَ بيا که بائع خيار ساقط کړی وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ نو شفعه ثابتيږي لِأَنَّهُ زَالَ الْمَانِعُ عَنِ الزَّوَالِ ځکه چي [د ملکيت] د زائلېدلو منع کونکی شی [يعني خيار] زائل سو وَيُشْتَرَطُ الطَّلَبُ عِنْدَ سُقُوطِ الْخِيَارِ فِي الصَّحِيحِ او د صحيح قول مطابق د خيار ساقطېدلو په وخت کي طلب شرط دی لِأَنَّ الْبَيْعَ يَصِيرُ سَبَبًا لِزَوَالِ الْمِلْكِ عِنْدَ ذٰلِكَ ځکه چي په همدې وخت کي بيع د ملکيت زائلېدلو سبب جوړيږي.

اصول: تر تشريح مخکي دا اُصول په ياد لرئ! چي که په بيع کي بائع لره خيار وي (يعني بائع خيار شرط اخيستی وي چي که مي په دريو ورځو کي دننه دا بيع او سودا خوښه سوه نو مبيع ستا ده، کنې مبيع به واپس راکوې!)، نو په دې صورت کي مبيع د بائع له ملکيت څخه نه وځي (يعني د بائع ملکيت نه زائليږي)، او

که مشتري لره خيار وي. نو مبيع د بائع له مکيت څخه وځي. بيا د مشتري په ملکيت کې داخليږي. که نه. په دې کې د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دی. امام صاحب فرمايي چې نه داخليږي او صاحبين فرمايي چې داخليږي.

تشريح: **مسئله**: دا ده که څوک په خيار شرط سره خپله ځمکه خرڅ کړي. نو تر څو چې خيار باقي پاته وي. شفيع ته شفعه نه حاصليږي، ځکه د شفعي د ثبوت لپاره دا ضروري دي چې بيع به داسي وي کوم چې د شفعي سبب جوړېدای سي. او څرنګه چې د خيار په موجوديت کې مبيع د همدې بائع په ملکيت کې پاتيږي او د بائع ملکيت نه زائليږي (لکه اصول چې ذکر سو). نو ځکه د خيار په موجوديت کې بيع د شفعي سبب نه سي جوړېدای. او کله چې سبب موجود نه سو. نو مسبب يعني شفعه به څنګه ثابت سي!.

لېکن که بائع خپل خيار (اختيار) ساقط کړي يا د خيار مودت ختم سي. نو څرنګه چې اوس مبيع د بائع له ملکيت څخه ووتل. نو ځکه په دې صورت کې بيع د شفعي سبب جوړيږي او شفعه ثابتيږي.

ويشترط إلخ: په دې سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دا راښيي چې که څه هم بعضي مشائخو ويلي دي چې په بيع بشرط الخيار کې د بيع په وخت کې (د شفعي) طلب شرط دی. لېکن صحيح خبره دا ده چې د خيار د سقوط (ساقطېدلو) په وخت کې طلب شرط دی، ځکه د همدې خيار تر سقوط وروسته بيع د بائع د ملکيت زائلېدلو سبب جوړيږي. لهذا تر هغه مخکې د طلب په شرطولو کې څه فايده نسته.

د شراء بالخيار په صورت کې د شفعي حکم

وَإِنِ اشْتَرَى بِشَرْطِ الْخِيَارِ او که مشتري په خيار شرط سره رانيول وکړي وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ نو شفعه ثابتيږي لِأَنَّهُ لَا يَمْنَعُ زَوَالَ الْمِلْكِ عَنِ الْبَائِعِ بِالِاتِّفَاقِ ځکه چې دا بالاتفاق له بائع څخه د ملکيت زائلېدل نه منع کوي وَالشُّفْعَةُ تَبْتَنِي عَلَيْهِ او شفعه د همدې ملکيت پر زائلېدلو مبني ده عَلَىٰ مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سوه وَإِذَا أَخَذَهَا فِي الثَّلَاثِ او کله چې شفيع په دريو ورځو کې دننه شفعه واخلي وَجَبَ الْبَيْعُ نو بيع لازميږي لِعَجْزِ الْمُشْتَرِيْ عَنِ الرَّدِّ ځکه چې [اوس] مشتري له واپس کولو څخه عاجز سو وَلَا خِيَارَ لِلشَّفِيعِ او شفيع ته خيار نه حاصليږي لِأَنَّهُ يَثْبُتُ بِالشَّرْطِ ځکه چې خيار په شرطولو سره ثابتيږي وَهُوَ لِلْمُشْتَرِيْ دُونَ الشَّفِيعِ او هغه د مشتري لپاره وو. نه د شفيع لپاره وَإِنْ بِيعَتْ دَارٌ إِلَىٰ جَنْبِهَا او که د دې کور څنګ ته يو کور خرڅ سي وَالْخِيَارُ لِأَحَدِهِمَا او په دوی دواړو

[بائع او مشتري کي] ديوه لپاره خيار هم وي فَلَهُ الْأَخْذُ بِالشُّفْعَةِ نو د هغه لپاره په شفعه سره د اخيستلو حق سته أَمَّا لِلْبَائِعِ فَظَاهِرٌ پاته سو د بائع لپاره خو ښکاره دی لِبَقَاءِ مِلْكِهِ فِي الَّتِي يَشْفَعُ بِهَا ځکه چي د ده ملکيت باقي دی په هغه کور کي چي دئ د هغه په ذريعه شفعه اخلي وَكَذَا إِذَا كَانَ لِلْمُشْتَرِي او همدارنګه کله چي خيار د مشتري لپاره وي وَفِيهِ إِشْكَالٌ أَوْضَحْنَاهُ فِي الْبُيُوعِ او په دې کي يو اشکال [او خند] دی چي هغه مو په کتاب البيوع کي څرګند کړی دی فَلَا نُعِيدُهُ نو ځکه مو هغه بيا نه راګرځوو وَإِذَا أَخَذَهَا او کله چي مشتري دا کور واخلي كَانَ إِجَازَةً مِنْهُ لِلْبَيْعِ نو دا به د هغه له طرفه د بيع اجازت وي بِخِلَافِ مَا إِذَا اشْتَرَاهَا وَلَمْ يَرَهَا په خلاف د هغه صورت کله چي مشتري کور رانيسي حال دا چي هغه يې نه وي ليدلی حَيْثُ لَا يَبْطُلُ خِيَارُهُ بِأَخْذِ مَا بِيعَ بِجَنْبِهَا بِالشُّفْعَةِ نو په دې صورت کي د هغه خيار [خيار رؤيت] نه باطليږي په شفعه سره د هغه کور د اخيستلو په وجه کوم چي د رانيول سوي کور تر څنګ خرڅ سوی وي لِأَنَّ خِيَارَ الرُّؤْيَةِ لَا يَبْطُلُ بِصَرِيحِ الْإِبْطَالِ ځکه چي خيار رؤيت په صراحتاً باطلولو سره هم نه باطليږي فَكَيْفَ بِدَلَالَتِهِ نو د ابطال په دلالت سره به څنګه باطل سي ثُمَّ إِذَا حَضَرَ شَفِيعُ الدَّارِ الْأُولَى بيا چي کله د اول کور شفيع راسي لَهُ أَنْ يَأْخُذَهَا دُونَ الثَّانِيَةِ نو هغه ته د همدې اول کور د اخيستلو اختيار سته، نه د دويم کور لِانْعِدَامِ مِلْكِهِ فِي الْأُولَى حِينَ بِيعَتِ الثَّانِيَةُ ځکه چي په اول کور کي د دغه شفيع ملکيت معدوم وو کله چي دويم کور خرڅېدی [يعني د دويم کور د خرڅېدلو پر مهال په اول کور کي د ده ملکيت نه وو].

اللغات: ﴿تبتنی﴾ د افتعال د باب مضارع ده: مبني کېدل. ﴿جنب﴾ بغل، څنګ.

تشريح: په مخکني مسئله کي د بائع د خيار صورت بيان سو. او دلته د مشتري د خيار بيان دی او مخکي دا اُصول هم تاسو ووايی چي د مشتري د خيار په صورت کي مبيع د بائع له ملکيت څخه وځي او د بائع ملکيت زائليږي. نو معلومه سوه چي په دې صورت کي شفعه حاصليږي، ځکه د شفعي مدار د بائع د ملکيت پر زوال دی.

خلاصه دا چي کله مشتري د خپل ځان لپاره خيا واخلي. نو هغه ته دا اختيار دی چي په دريو ورځو کي دننه. دننه که وغواړي بيع دي رد کړي او که وغواړي بيع دي لازم او نافذ کړي، ليکن که په

دربو ورځو کي دننه شفيع دغه کور په شفعه سره واخلي، نو اوس بيع خود بخوده لازمه سوه، ځکه اوس مشتري د بيع پر ردولو قادر پاته نه سو.

لوس پر دې سوال کيږي چي دلته چي کوم خيار د مشتري لپاره ثابت دی، آيا دا خيار به د شفيع لپاره هم وي، که نه؟، نو په جواب کي فرمايي چي نه! د مشتري خيار شفيع ته نه حاصليږي؛ ځکه خيارِ شرط په شرطولو سره حاصليږي او دا معامله د بائع او مشتري تر مينځ سوې ده نه د بائع او شفيع تر مينځ (يعني خيارِ شرط د ځان لپاره مشتري شرط کړی دی نه شفيع).

وإن بيعت إلخ: له دې ځايه يوه بله مسئله بيانوي، حاصل يې دا دی چي د دوو خلګو تر مينځ ديو ځای يا کور بيع وسوه او له دوی دواړو څخه يوه د ځان لپاره د خيار شرط ولګوی (خيار يې واخيستی)، بيا له خيار ختمېدلو څخه مخکي د هغه ځای يا کور څنګ ته يو بل دويم کور خرڅ سو، نو په دې صورت کي چي د کوم عاقد لپاره خيار ثابت وي (يعني کوم يوه چي د خيار شرط لګولی وي هغه که مشتري وي او که بائع وي)، شفعه هغه ته حاصليږي.

پاته سوه دا خبره چي بائع ته ولي حاصليږي، نو د دې جواب ښکاره دی چي کله د بائع لپاره خيار ثابت وي، نو ځای د هغه په ملکيت کي پاته وي لهذا شفعه به هغه ته حاصليږي، همدارنګه که خيار د مشتري لپاره ثابت وي نو مشتري ته به هم شفعه حاصليږي.

وفيه إشكال إلخ: د مشتري لپاره د خيار ثابتېدلو په صورت کي مشتري ته د شفعي حاصلېدلو په هکله صاحب د هدايې فرمايي "وفيه إشكالٌ أوضحناه في كتاب البيوع فلا نعيده"، اشکال دا دی چي دا خبره خو د صاحبينو د مسلک مطابق صحيح ده، ځکه د دوی په نيز حکم دا دی چي کله مبيع (ځای) د بائع له ملکيته ووځي نو د مشتري په ملکيت کي داخليږي (لکه څرنګه چي مخکي اُصول ذکر سو)، نو د دوی په نيز اوس د ځای مالک مشتري دی. خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز که څه هم مبيع د بائع له ملکيته ووځي مګر د مشتري په ملکيت نه داخليږي، او شفعه د ملکيت پر بنياد حاصليږي، نو بيا دلته شفيع (مشتري) ته ولي شفعه حاصليږي، دا اشکال دی.

د دغه اشکال جواب دا دی چي کله مشتري د شفعي (مشفوعه کور) پر اخيستلو اقدام وکړی، نو دغه اقدام د دې خبري دليل دی چي هغه خيار ساقط کړی او بيع يې نافذ او پر ځان لازم کړه، او په دې صورت کي خو ښکاره خبره ده چي ځای د مشتري په ملکيت کي داخل سو او همهغه يې مالک دی.

(او دغه اشکال او جواب مصنف رَحِمَهُ الله په هدايه کي نه دي بيان کړي، کېدای سي په کفاية المنتهي کي يې بيان کړي وي).

وإذا أخذها إلخ: يعني كله چې مشتري په شفعه سره کور واخلي (پر شفعه اقدام وکړي)، نو دا د هغه له طرفه د بيع اجازت دی (چې هغه بيع نافذ او لازم کړه).

بخلاف إلخ: ها! کله چې مشتري دا دويم (مشفوعه) کور په شفعه سره واخلي او رانيول سوی ځای يا کور تر اوسه مشتري نه وي ليدلی، اوس هغه ووينې، نو ده ته خيارِ رؤيت حاصليږي او په شفعه سره د کور اخيستلو په وجه د ده خيارِ رؤيت نه باطليږي، ځکه خيارِ رؤيت په صراحتاً باطلولو سره هم نه باطليږي او په شفعه سره کور اخيستل خو د خيار رؤيت د إبطال (باطلولو) محض دليل دی، لهذا کوم حق چې په صراحتاً باطلولو سره نه باطليږي، نو هغه به د إبطال په دلالت سره څنګه باطل سي!.

ثم إذا حضر الشفيع إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مشتري دا دويم (مشفوعه) کور په شفعه سره واخلي، بيا د هغه اول ځای يا اول کور شفيع راسي کوم چې مشتري رانيولی دی (چې د هغه په وجه مشتري ته په دې دويم [مشفوعه] کور کې شفعه حاصل سوې ده) او د شفعې دعویٰ وکړي، نو دغه شفيع ته صرف په اولني ځای او کور کې شفعه حاصليږي، نه په دويم کور کې، ځکه کله چې دا دويم کور خرڅېدی، په هغه وخت کې د شفيع ملکيت معدوم وو، لهذا اوس هغه ته په دې دويم کور کې شفعه هم نه سي حاصلېدای.

په بيع فاسد کې د شفعې حکم

قَالَ: وَمَنِ ابْتَاعَ دَارًا شِرَاءً فَاسِدًا فرمايي: او که څوک په شراءِ فاسد سره يو کور رانيسي فَلَا شُفْعَةَ فِيهَا نو په هغه کې شفعه نسته [نه تر قبضې مخکې او نه وروسته] أَمَّا قَبْلَ الْقَبْضِ فَلِعَدَمِ زَوَالِ مِلْكِ الْبَائِعِ پاته سو تر قبضې مخکې ځکه [شفعه پکښې نسته] چې د بائع ملکيت زائل سوی نه دی وَبَعْدَ الْقَبْضِ لِاحْتِمَالِ الْفَسْخِ او تر قبضې وروسته د فسخ د احتمال په وجه وَحَقُّ الْفَسْخِ ثَابِتٌ بِالشَّرْعِ لِدَفْعِ الْفَسَادِ او د فسخ حق په شريعت سره ثابت دی د فساد ليري کولو لپاره وَفِي إِثْبَاتِ حَقِّ الشُّفْعَةِ تَقْرِيرُ الْفَسَادِ او د حقِ شفعه په ثابتولو کې د فساد مضبطول سته [يعني بعد القبض د شفعې په ثابتولو کې فساد ثابتيږي] فَلَا يَجُوزُ نو ځکه دا جائز نه دي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الْخِيَارُ لِلْمُشْتَرِي فِي الْبَيْعِ الصَّحِيحِ په خلاف د هغه صورت کله چې په بيع صحيح کې د مشتري لپاره خيار ثابت وي لِأَنَّهُ صَارَ أَخَصَّ بِهِ تَصَرُّفًا ځکه چې مشتري مخصوص دی د مبيع سره د تصرف په اعتبار سره [يعني ځکه په بيع صحيح کې مشتري په تصرّف کولو سره

مخصوص دی] وَفِي الْبَيْعِ الْفَاسِدِ مَمْنُوعٌ عَنْهُ او په بيع فاسد كي مشتري له تصرف كولو څخه منع كړی سوی دی.

اللغات: ﴿ابتاع﴾ دافتعال د باب ماضي ده: رانيول. ﴿دفع﴾ د فتح د باب مصدر دی: ليري كول.

تشريح: دا خو تاسي ته معلومه ده چي په بيع كي د فاسد شرط په لګولو سره بيع فاسديږي. صورت د مسئلې دا دی چي كه څوك يو كور رانيسي او فاسد شرط ولګوي چي د هغه په وجه بيع فاسده سي نو برابره ده هغه پر دغه كور قبضه كړې وي، كه نه وي په دواړو صورتونو كي شفيع ته شفعه نه حاصليږي، تر قبضې مخكي خو ځكه نه ورته حاصليږي چي تر اوسه د بائع ملكيت ختم سوی نه دی او مخكي ذكر سوه چي د شفعي د ثبوت لپاره دا ضروري ده چي د بائع ملكيت به (له مبيع څخه) زائل او ختم سوی وي. او تر قبضې وروسته د شفعي د نه ثابتېدلو علت دا دی چي دلته د فاسد شرط په وجه په بيع كي فساد داخل سوی دی او د فسخ (ماتېدلو) احتمال پيدا سوی دی او شريعت د فساد ختمولو حكم كړی دی. لهذا كه شفعه ثابته كړو نو د ختمولو پر ځای به د فساد نور مضبوطول لازم سي. نو ځكه بعد القبض هم شفعه نه ورته حاصليږي.

بخلاف ما إذا إلخ: دا د يو اعتراض جواب دی. اعتراض دا دی چي څرنګه په بيع فاسد كي د بيع د فسخ (ماتېدلو) احتمال سته، همداسي كه په بيع صحيح كي هم مشتري د ځان لپاره خيار شرط كړي، نو هلته هم دا احتمال سته چي مشتري به بيع فسخ كړي. لهذا څرنګه چي په بيع فاسد كي د فسخ د احتمال پر بناء شفعه نه حاصليږي، همداسي په بيع صحيح كي هم د دغه احتمال په وجه شفعه نه حاصلېدل پكار دي. حال دا چي هلته خو شفعه حاصليږي. د دې څه وجه ده؟.

د جواب حاصل دا دی چي بيع فاسد پر بيع صحيح قياسول صحيح نه دي: ځكه په بيع صحيح كي د خيار باوجود مشتري ته د تصرف مكمل اختيار دی. او په بيع فاسد كي مشتري له تصرف څخه منع كړې سوی دی. نو كله چي په دواړو صورتونو كي دومره فرق دی، نو بيا يو پر بل قياسول بالكل صحيح نه دي.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

قَالَ: فَإِنْ سَقَطَ حَقُّ الْفَسْخِ فرمايي: بيا كه د فسخ حق ساقط سي وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ نو شفعه ثابتيږي لِزَوَالِ الْمَانِعِ ځكه چي مانع زائل سو وَإِنْ بِيعَتْ دَارٌ بِجَنْبِهَا وَهِيَ فِي يَدِ الْبَائِعِ بَعْدُ او كه د دغه كور څنګ ته يو كور خرڅ سي حال دا چي دا كور تر اوسه د بائع په قبضه كي وي فَلَهُ الشُّفْعَةُ نو د هغه لپاره شفعه سته لِبَقَاءِ مِلْكِهِ ځكه چي د هغه ملكيت باقي پاته دی وَإِنْ سَلَّمَهَا إِلَى الْمُشْتَرِي او كه

بائع دا کور مشتري ته سپارلی وي فَهُوَ شَفِيعُهَا نو همدا مشتري د هغه [خرڅ کړی سوي] کور شفيع کيږي لِأَنَّ الْمِلْكَ لَهُ ځکه چي ملکيت د ده لپاره دی ثُمَّ إِنْ سَلَّمَ الْبَائِعُ قَبْلَ الْحُكْمِ بِالشُّفْعَةِ لَهُ بيا که د بائع لپاره د شفعي تر فيصلې مخکي بائع کور [ومشتري ته] سپارلی وي بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ نو د ده [بائع] شفعه باطليږي كَمَا إِذَا بَاعَ لکه کله چي ده کور خرڅ کړی وي بِخِلَافِ مَا إِذَا سَلَّمَ بَعْدَهُ په خلاف د هغه صورت کله چي تر فيصلې وروسته بائع ورسپارلی وي لِأَنَّ بَقَاءَ مِلْكِهِ فِي الدَّارِ الَّتِي يَشْفَعُ بِهَا بَعْدَ الْحُكْمِ بِالشُّفْعَةِ لَيْسَ بِشَرْطٍ ځکه د شفعي تر فيصلې وروسته په هغه کور کي (چي د هغه په وجه بائع د شفعي طلب کوي) د ده ملکيت باقي پاتېدل ضروري نه دي فَبَقِيَتِ الْمَأْخُوذَةُ بِالشُّفْعَةِ عَلَى مِلْكِهِ نو په شفعه سره اخيستل سوی کور به د ده په ملکيت کې باقي پاتيږي وَإِنِ اسْتَرَدَّهَا الْبَائِعُ مِنَ الْمُشْتَرِي قَبْلَ الْحُكْمِ بِالشُّفْعَةِ لَهُ او که د مشتري لپاره د شفعي تر فيصلې مخکي بائع له هغه څخه خپل کور واپس واخلي بَطَلَتْ نو د مشتري شفعه باطليږي لِانْقِطَاعِ مِلْكِهِ عَنِ الَّتِي يَشْفَعُ بِهَا قَبْلَ الْحُكْمِ بِالشُّفْعَةِ ځکه د شفعي تر فيصلې مخکي چي د کوم کور په ذريعه هغه د شفعي طلب کوی [شفعه ورته حاصليږي] په هغه کور کي د ده ملکيت ختم سو وَإِنِ اسْتَرَدَّهَا بَعْدَ الْحُكْمِ او که د شفعي تر فيصلې وروسته بائع کور واپس واخلي بَقِيَتِ الثَّانِيَةُ عَلَى مِلْكِهِ نو دويم کور د مشتري په ملکيت کي باقي پاتيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿استرد﴾ د استفعال د باب ماضي ده: واپس اخيستل. ﴿انقطاع﴾ د انفعال د باب مصدر دی: قطع کېدل. ختمېدل.

تشريح: دلته دا خبره په يادلرئ چي مذکوره ټوله بحث د بيع فاسد په هکله دی. فرمايي چي که په بيع فاسد کي د فسخ احتمال ختم سي (په دې توګه چي مشتري هغه کور پر بل چا خرڅ کړي). نو څرنګه چي اوس د بائع د ملکيت منع کونکی شی زائل سو. نو ځکه اوس به په دې کور کي شفعه ثابتيږي.

وإن بيعت إلخ: د دې حاصل دا دی چي که بائع په شرط فاسد سره کور خرڅ کړي او تر اوسه يې هغه مشتري ته سپارلی نه وي چي په دې دوران کي د هغه کور څنګ ته بل دويم کور خرڅ سي. نو څرنګه چي اول کور تر اوسه د بائع په ملکيت کي دی. نو ځکه اوس د دې دويم کور د شفعي حق همدې بائع

ته حاصل دی (بائع يې شفيع دی)، لېکن کـه بائع هغـه کـور مشتري تـه سپارلی وي، ځرنګه چي اوس د بائع ملکيت زائل او ختم سو او د مشتري ملکيت راغلی، نو ځکه اوس په دويم کور کي د شفعي حق مشتري ته حاصل دی.

ثم إن سلم إلخ: د دې حاصل دا دی چي بائع په شرطِ فاسد سره کور خرڅ کړی او کور تر اوسه د هغه په قبضه کي دی، بيا د هغه کور څنګ ته بل دويم کور خرڅ سو او بائع د ځان لپاره د شفعي دعوىٰ وکړه (چي د دې کور شفيع زه يم)، مګر مخکي تر دې چي قاضي د بائع لپاره د شفعي فيصله وکړي بائع هغه خرڅ کړی سوی کـور مشتري تـه وسپاری، نـو ځرنګـه چـي پـه دې صورت کـي د قاضـي د قضاء (فيصلې) پر وخت په اول کور کي د بائع ملکيت نسته، نو ځکه اوس هغـه تـه شفعه نه حاصلېږي، لېکن که بائع د ځان لپاره د شفعي تر قضاء وروسته هغه کـور مشتري تـه سپارلی وي، نو بيا هغه ته شفعه حاصلېږي، ځکه چي د قاضي د قضاء پر وخت په اول کـور کـي د ده ملکيت بحاله دی، او د شفعي تر قضاء وروسته د ده د ملکيت باقي پاتېدل ضروري نه دي.

وإن استردّها إلخ: په دې سره د مخکنی مسئلې صورت بيان سوی دی، يعني بائع کـور ومشتري تـه وسپاری، بيا د هغه کـور تر څرنګ يو بل کـور خرڅ سو او مشتري د ځان لپاره د شفعي دعوىٰ وکړه لېکن د قاضي تر قضاء مخکي بائع له مشتري څخه اولنی کور واپس واخيستی، نو ځرنګه چي په دې صورت کي د شفعي د قضاء پر وخت په اول کور کي د مشتري ملکيت ختم او زائل دی، نو ځکه د دغه اول کور (دارِ اول) په وجه هغه ته په دې بل کور (دارِ ثانی) کي شفعه نه سي حاصلېدای. لېکن که د مشتري په حق کي د شفعي قضاء (فيصله) وسي او تر دې وروسته بائع اول کـور واپس واخلي، نو ځرنګه چي په دې صورت کي د قضاء پر مهال په اول کـور کـي د مشـتري ملکيت قائم دی، نو ځکه اوس د دغه اول کور په وجه هغه ته په دې بل کور (دارِ ثانی) کي شفعه حاصلېږي.

د جايداد د تقسيم په صورت کي د شفعي حکم

قَالَ: وَإِذَا اقْتَسَمَ الشُّرَكَاءُ الْعَقَارَ فرمايي: او کله چي شريکان جايداد تقسيم کړي فَلَا شُفْعَةَ لِجَارِهِمْ بِالْقِسْمَةِ نو د دوی همسايه ته د تقسيم پر بنياد شفعه نه حاصلېږي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ فِيهَا مَعْنَى الْإِفْرَازِ ځکه چي په تقسيم کي د جلا کولو معنىٰ سته [چي دوی خپلي حصې جلا کړي، او په دې کي د بيع معنىٰ نسته] وَلِهَذَا يَجْرِي فِيهَا الْجَبْرُ په همدې وجه په تقسيم کي مجبوره کـول جاري دي وَالشُّفْعَةُ مَا شُرِعَتْ إِلَّا فِي الْمُبَادَلَةِ الْمُطْلَقَةِ او شفعه صرف په مطلقه مالي مبادله کي مشروع سوې ده.

اللغات: ﴿اقتسم﴾ تقسيم او وېش کول، تقسيمول. ﴿إفراز﴾ د افعال د باب مصدر دی: جلا کول (جدا کول)، عليحده کول. ﴿جَبْر﴾ د نصر د باب مصدر دی: مجبوره کول.

تشريح: مخکي دا خبره تېره سوه چي د شفعي استحقاق د بيع پر بنياد ثابتيږي، لهذا که يو جايداد مثلاً ځمکه د څو شريکانو تر مينځ مشترکه وي او بيا دا شريکان هغه سره تقسيم کړي (يعني هر يو خپله حصله جلا کړي)، نو په دې صورت کي د دوی همسايه ته شفعه نه حاصليږي، ځکه د شفعي د استحقاق لپاره بيع ضروري ده او دلته بيع سوې نه ده، بلکي تقسيم (وېش) سوی دی، نو ځکه په دې صورت کي به شفعه هم نه حاصليږي.

بيا صاحب د هدايې د بيع او تقسيم تر مينځ فرق څرګند کړی دی چي په بيع کي خپل مينځوی رضاء ضروري ده (چي عاقدين به په بيع راضي وي)، حال دا چي په تقسيم او وېش کي له جبر او إکراه څخه هم کار اخيستل کيږي، مطلب دا چي شفعه په "مبادلة المال بالتراضی" کي مشروع ده او په تقسيم کي مالي مبادله نسته بلکي د حقوقو او حصو وېش او جدايي ده.

د بيع د فسخ (ماتېدلو) په صورت کي د شفعي حکم

قَالَ: وَإِذَا اشْتَرَى دَارًا فرمايي: او کله چي مشتري يو کور رانيسي فَسَلَّمَ الشَّفِيعُ الشُّفْعَةَ نو شفيع له شفعي څخه لاس په سر سي [خپل حق شفعه پرېږدي] ثُمَّ رَدَّهَا الْمُشْتَرِيُ بِخِيَارِ رُؤْيَةٍ أَوْ شَرْطٍ أَوْ بِعَيْبٍ بِقَضَاءِ قَاضٍ بيا مشتري هغه کور په خيار رؤيت يا خيار شرط يا د يو عيب په وجه د قاضي په فيصله سره واپس کړي فَلَا شُفْعَةَ لِلشَّفِيعِ نو اوس شفيع لره شفعه نسته لِأَنَّهُ فَسْخٌ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ ځکه چي دا رِدّ [واپس کول] په هر اعتبار سره فسخ [د بيع ماتول] دی فَعَادَ إِلَى قَدِيمِ مِلْكِهِ لهذا مبيع [کور] د بائع پخوانی ملکيت ته واپس سو وَالشُّفْعَةُ فِي إِنْشَاءِ الْعَقْدِ او شفعه د عقد په نوي کولو [يعني عقد جديد] کي حاصليږي وَلَا فَرْقَ فِي هَذَا بَيْنَ الْقَبْضِ وَعَدَمِهِ او په دې صورت کي [پر مبيع کور] د قبضه کولو يا نه کولو تر مينځ هيڅ فرق نسته.

اللغات: ﴿فَسَلَّمَ﴾ فاء د عطف ده او سَلَّمَ د تفعيل د باب ماضي ده، د دې باب ډېري معناوي دي چي د صلې په بدلون سره يې معنیٰ هم بدليږي، مثلاً: ورسپارل، ورکول، راضي کېدل، خالص کول، پر ځان قدرت ورکول او داسي نور، خو څرنګه چي يې دلته صله لفظاً نه ده ذکر سوې، نو ځکه د يو معنیٰ

تعیین یې نه سي کېدای، اُردو شارحینو دلته د پرېښوولو او لاس په سر کېدلو معنیٰ کړې ده والله أعلم.

تشریح: مسئله: دا ده چې زید له حامد څخه یو کور رانیوی او د هغه کور شفیع (د شفعي حقدار) خالد دی. خو خالد د خپل حق شفعه له اخیستو څخه انکار وکړی (چې زه یې نه غواړم). بیا څو ورځې وروسته زید په خیار رؤیت یا خیار شرط یا د یو عیب په وجه هغه کور بائع یعني حامد ته واپس کړی او دا واپس کول د قاضي په فیصله سره وسوه. نو تر دې وروسته که شفیع (خالد) له حامد څخه د شفعي مطالبه وکړي (چې اوس یې زه غواړم). نو هغه ته شفعه نه حاصلیږي. ځکه د مبیع (کور) په واپس کېدلو سره هر ډول بیع فسخ سوه او څرنګه چې مخکې هغه کور د حامد (بائع) وو. همداسې اوس هم هغسې د حامد په قبضه کې دی. او کله چې کور هغسې د مالک په قبضه کې پاته وي نو د بیع د نا موجود والي په وجه په هغه کې شفعه نه حاصلیږي. نو همداسې به دلته هم نه حاصلیږي: ځکه چې شفعه خو په عقد جدید او بیع جدید کې کیږي. او د فسخ کېدلو (ماتېدلو) په وجه دلته له سره عقد ختم سو. او دا ردّ (واپس کول) د شفیع په حق کې بیع جدید نه ګرځول او د هغه لپاره شفعه ثابتول دا نه سي کېدای.

ولا فرق إلخ: په دې سره دا راښیي چې برابره ده مشتري پر مبیع (کور) تر قبضه کولو وروسته هغه واپس کړی وي، یا یې تر قبضې مخکې واپس کړی وي، په هر حال کې شفیع ته وروسته شفعه نه حاصلیږي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ رَدَّهَا بِعَيْبٍ بِغَيْرِ قَضَاءٍ او که مشتري د عیب په وجه د قاضي له فیصلې څخه بغیر کور واپس کړي أَوْ تَقَايَلَا الْبَيْعَ یا بائع او مشتري د بیع اقاله وکړي فَلِلشَّفِيعِ الشُّفْعَةُ نو (په دې صورت کې) شفیع لره شفعه نسته لِأَنَّهُ فَسْخٌ فِي حَقِّهِمَا ځکه چې دا [رد او اقاله] د بائع او مشتري دواړو په حق کې فسخ ده لِوِلَايَتِهِمَا عَلَى أَنْفُسِهِمَا ځکه دوی دواړو لره پر خپل ځان ولایت حاصل دی وَقَدْ قَصَدَا الْفَسْخَ او دوی د بیع د فسخ [ماتولو] اراده کړې ده وَهُوَ بَيْعٌ جَدِيدٌ فِي حَقِّ ثَالِثٍ او دا د دریم کس په حق کې نوې بیع ده لِوُجُودِ حَدِّ الْبَيْعِ ځکه چې (په دې صورت کې) د بیع تعریف موجود دی: وَهُوَ مُبَادَلَةُ الْمَالِ بِالْمَالِ بِالتَّرَاضِي او هغه [د بیع تعریف] مال په مال سره بدلول دي په رضاء سره وَالشَّفِيعُ

ثَالِثٌ او همدا شفيع دریم دی وَمُرَادُهُ الرَّدُّ بِالْعَيْبِ بَعْدَ الْقَبْضِ او [په إِنْ رَدَّهَا بِعَيْبٍ سره] دامام قدوري رَحِمَهُ الله مراد تر قبضې وروسته د عیب په وجه واپس کول دي لِأَنَّ قَبْلَهُ فَسْخٌ مِنَ الْأَصْلِ وَإِنْ كَانَ بِغَيْرِ قَضَاءٍ ځکه چي تر قبضې مخکي واپس کول له أصله فسخ کول دي عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چي پیژندل سوې ده.

اللغات: ﴿تقايلا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه مذکر غائب ماضي صيغه ده: اقاله کول. بيع په رضا سره ماتول (فسخ کول). يعني اقاله دې ته وايي چي بائع او مشتري يو د بل په رضا سره بيع ماته کړي.

﴿حدّ﴾ تعريف. ﴿التراضي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو تر بله راضي کېدل (د دواړو طرفونو راضي کېدل).

تشريح: په مخکيني عبارت کي دا صورت بيان سو چي مشتري د قاضي په قضاء (فيصله) سره کور واپس کړی وي. دلته دا رابنيي چي که مشتري رانيول سوی کور د يو عيب په وجه د قاضي له فيصلې څخه بغير واپس کړي. يا بائع او مشتري د بيع اقاله وکړي. نو په دې دواړو صورتونو کي شفيع ته شفعه حاصليږي؛ ځکه بائع او مشتري دواړو لره فقط پر خپل ځان د ولايت حق حاصل دی. نه پر بل چا. لهذا د دوی فيصله د همدوی په حق کي ثابتيږي او فقط تر همدوی پوري محدوده پاتيږي. د دریم کس وطرف ته نه متعدي کيږي. او څرنګه چي دوی دواړو د فسخ اراده کړې ده. نو ځکه فقط د همدوی په حق کي فسخ ده. د دریم کس په حق کي د دوی دا فعل بيع جديد ګڼل کيږي؛ ځکه چي دلته په تراضي سره د مبادلة المال بالمال صورت موجود دی. لهذا کله چي د دریم په حق کي دا بيع جديد ده او دریم کس همدا شفيع دی. نو ځکه هغه ته به شفعه حاصليږي.

ومراده إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چي په "الردّ بالعيب" سره د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد ردّ بعد القبض دی. کنې ردّ قبل القبض خو د هر چا په حق کي فسخ ده. برابره ده هغه د قاضي په قضاء سره وسي او که بغير له قضاء. او کله چي هغه د هر چا په حق کي فسخ ده. نو د شفيع په حق کي به هم فسخ وي او هغه ته به په دې صورت کي شفعه نه حاصليږي.

په تقسيم کي او د خيار رؤيت په صورت کي د شفعي د عدم وجوب دليل

وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَلَا شُفْعَةَ فِي قِسْمَةٍ وَلَا خِيَارِ رُؤْيَةٍ او په جامع صغير کي دي: چي په تقسيم او خيار رؤيت کي شفعه نسته وَهُوَ بِكَسْرِ الرَّاءِ او خيار [دلته] د راء په کسره سره دی وَمَعْنَاهُ لَا شُفْعَةَ بِسَبَبِ الرَّدِّ بِخِيَارِ الرُّؤْيَةِ او د دې مطلب دا دی چي د خيار رؤيت پر بناء د [مبيع] واپس کولو په سبب سره شفعه نسته لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَلَا تَصِحُّ الرِّوَايَةُ بِالْفَتْحِ

عَطْفًا عَلَى الشُّفْعَةِ او پر شفعه په عطف کولو سره د خِيَار د مفتوح ويلو روايت صحيح نه دی لِأَنَّ الرِّوَايَةَ مَحْفُوظَةٌ فِي كِتَابِ الْقِسْمَةِ أَنَّهُ يَثْبُتُ فِي الْقِسْمَةِ خِيَارُ الرُّؤْيَةِ وَخِيَارُ الشَّرْطِ ځکه د مبسوط په کتابُ القسمة کي دا روايت محفوظ دی چي په تقسيم کي خيارِ رؤيت او خيارِ شرط دواړه ثابتيږي لِأَنَّهُمَا يَثْبُتَانِ لِخَلَلٍ فِي الرِّضَاءِ فِيمَا يَتَعَلَّقُ لُزُومُهُ بِالرِّضَاءِ ځکه چي دا دواړه خيارونه په رضاء کي د يو خلل [واقع کېدلو] په وجه ثابتيږي په داسي عقد کي چي د هغه لزوم د رضاء سره متعلق وي وَهٰذَا الْمَعْنٰى مَوْجُودٌ فِي الْقِسْمَةِ او دا معنیٰ په تقسيم کي موجوده ده [نو ځکه په تقسيم کي به هم خيارِ رؤيت او خيارِ شرط ثابتيږي]. والله أعلم

تشريح: دلته صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د جامع صغير د مذکوره عبارت په پښتولو سره په تقسيم کي د شفعي د نه ثابتېدلو په هکله د خپل قول نور تائيد کوي (کوم چي مخکي ده وفرمايل چي د وېش او تقسيم په صورت کي شفعه نشته)، فرمايي په جامع صغير کي هم دا خبره سوې ده چي د وېش او تقسيم او خيارِ رؤيت په صورت کي شفعه نه حاصليږي.

بيا فرمايي چي د خِيَارِ راء مکسوره ويل صحيح دي چي په دې صورت کي بې مطلب دا دی چي که د خيارِ رؤيت پر بناء بائع ته کور واپس کړی سي، نو په هغه کور کي هم شفيع ته شفعه نه حاصليږي، ځکه د خيارِ رؤيت په وجه په واپس کولو سره ګواکي اصل بيع ختم سوه.

او پاته سو خِيَارِ پر وَلَا شُفْعَةَ عطف کول او مفتوح ويل صحيح نه دي. ځکه که پر شفعه عطف سي نو معنیٰ به يې وي چي په تقسيم کي نه شفعه سته او نه خيارِ رؤيت (يعني که جايداد تقسيم کړی سي نو په هغه کي شريک ته خيارِ رؤيت نه حاصليږي)، حال دا چي دا عبارت صحيح نه دي، ځکه د مبسوط په کتابُ القسمة کي دي چي په تقسيم کي خيارِ رؤيت او خيارِ شرط دواړه ثابتيږي (د خيارِ رؤيت مثال دا چي مثلاً يوه ځمکه د څو شريکانو تر مينځ مشترکه وي او په دوی کي يو شريک غائب وي او حاضر شريکان ځمکه سره تقسيم کړي او د غائب شريک لپاره هم خپله حصه ورکړي چي غائب شريک هغه نه وي ليدلې. بيا چي کله هغه حاضر سي او په دې تقسيم راضي نه سي نو هغه ته اختيار دی چي تر ليدلو وروسته دا حصه نه واخلي. لنده دا چي په تقسيم کي خيارِ رؤيت او خيارِ شرط دواړه ثابتيږي)، ځکه دا دواړه خياره هغه وخت ثابتيږي چي په داسي معامله کي يو خلل پيدا سي کوم چي د عاقدينو پر رضاء موقوفه وي. او تقسيم هم د رضاء سره متعلق دی، لهذا دا دواړه خياره به په تقسيم کي ثابتيږي. او کله چي دا په تقسيم کي ثابتيږي. نو د خِيَار د مفتوح ويلو په صورت کي به په کتابُ القسمة کي د دوی عدمِ ثبوت لازم سي کوم چي صحيح نه دي. نو په همدې وجه خِيَار مفتوح ويل صحيح نه دي. (احسن الهدايه)



بَابُ مَا تَبْطُلُ بِهِ الشُّفْعَةُ

(دا) باب د هغه شیانو (په بیان کي) دی
چې په هغوی سره شفعه باطلیږي

تشریح: ښکاره خبره ده چې د شي ثبوت مخکښي وي او بطلان یې وروسته وي، په همدې وجه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د شفعي د ثبوت باب مخکښي بیان کړی او تر هغه وروسته یې د بطلان باب بیانوي.

د طلب مواثبت په پرېښوولو سره د شفعي د باطلېدلو بیان

قَالَ: وَإِذَا تَرَكَ الشَّفِيعُ الْإِشْهَادَ حِينَ عَلِمَ بِالْبَيْعِ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى ذَٰلِكَ فرمايي: او كله چې شفيع إشهاد [گواه پېشول] پرېږدي هغه وخت چې په بيع خبر سي او حال دا چې هغه پر دې [إشهاد] قدرت لري بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ نو د هغه شفعه باطليږي لِإِعْرَاضِهِ عَنِ الطَّلَبِ له طلب څخه د هغه د اعراض كولو په وجه وَهٰذَا لِأَنَّ الْإِعْرَاضَ إِنَّمَا يَتَحَقَّقُ حَالَةَ الِاخْتِيَارِ او دا [د قدرت لرلو شرط] ځكه دى چې اعراض صرف د اختيار په حالت كي ثابتيږي وَهِيَ عِنْدَ الْقُدْرَةِ او دا [د اختيار حالت] د قدرت په وخت كي وي وَكَذٰلِكَ إِنْ أَشْهَدَ فِي الْمَجْلِسِ وَلَمْ يُشْهِدْ عَلَى أَحَدِ الْمُتَبَايِعَيْنِ وَلَا عِنْدَ الْعَقَارِ او همدارنكه كه شفيع په مجلس كي گواه پېش كړي [لېكن] په عاقدينو كي د يوه سره گواه پېش نه كړي او نه د [مشفوعه] جايداد سره [گواه پېش كړي] وَقَدْ أَوْضَحْنَاهُ فِيمَا تَقَدَّمَ او موږ په ماقبل كي د دې وضاحت كړى دى.

اللغات: ﴿إشهاد﴾ د افعال د باب مصدر دی: گواه جوړول، گواه ذړول، گواه پېشول. ﴿إعراض﴾ مخكښي صيغه ده: مخ اړول، توجه نه كول (نه قبلول)، ﴿متبايعين﴾ د تفاعل تثنيه اسم فاعل دی: يو د بل سره بيع كونكي، بائع او مشتري. ﴿عقار﴾ غير منقوله جايداد.

يادونه: په متن كي له إشهاد څخه مراد طلب إشهاد او طلب تقرير نه دی، بلكي طلب مواثبه ځني مراد دی.

تشريح: مخكښي دا خبره ذكره سوه چې كله شفيع د جايداد په بيع خبر سي (چې زما همسايه يا شريک خو خپل كور خرڅ كړی) نو سمدستي (فوراً) پر شفيع طلب مواثبه ضروري دی، دلته دا خبره بيانوي چې كه پر طلب مواثبه د قدرت لرلو باوجود شفيع هغه پرېږدي، نو شفعه (حق شفعه) يې باطليږي، ځكه د طلب مواثبه پرېښوول د إعراض عن الطلب دليل دی.

صاحب د هدایې فرمايي چي پر طلب مواثبه د قادر کېدلو شرط ځکه لګول سوی دی چي إعراض يو اختياري شی دی کوم چي فقط د قدرت په وخت کي ثابتيږي. کنې که يو څوک په لمانځه کي وي او په همدې دوران کي هغه په بيع خبر سي، نو ښکاره خبره ده چي د هغه په دغه إعراض سره شفعه نه باطليږي؛ ځکه د لمانځه په دوران کي هغه پر طلب مواثبه قادر نه دی.

وكذلك إلخ: په دې سره دا راښيي چي د شفعې د ثبوت د مضبوطتيا لپاره د طلبِ مواثبه سره، سره طلبِ اشهاد هم ضروري دی. همدا وجه ده که شفيع طلبِ مواثبه خو وکړي، لېکن په عاقدينو کي د يوه عاقد سره يا د مشفوعه کور يا مشفوعه ځمکي سره پر خپل طلب ګواه پېش نه کړي. نو د طلبِ اشهاد د نشتوالي په وجه په دې صورت کي هم د هغه شفعه باطليږي.

د عوض اخيستلو په بدله کي د شفعي پرېښوولو حکم او تفصيل

قَالَ: وَإِنْ صَالَحَ مِنْ شُفْعَتِهِ عَلَى عِوَضٍ فرمايي: که شفيع د خپل شفعي [حق شفعه] په بدل کي پر يو عوض صلح وکړي بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ نو د ده شفعه باطليږي وَرَدَّ الْعِوَضَ او عوض به واپس کوي لِأَنَّ حَقَّ الشُّفْعَةِ لَيْسَ بِحَقٍّ مُتَقَرِّرٍ فِي الْمَحَلِّ ځکه چي حقِ شفعه خو داسي حق نه دی کوم چي په محل کي د دنه ثابت وي بَلْ هُوَ مُجَرَّدُ حَقِّ التَّمَلُّكِ بلکي حقِ شفعه خو محض د مالک جوړېدلو حق دی [يعني د هغه په ذريعه شفيع محض د مشفوعه ځای مالک جوړېدای سي] فَلَا يَصِحُّ الِاعْتِيَاضُ عَنْهُ لهذا د هغه عوض اخيستل صحيح نه دي وَلَا يَتَعَلَّقُ إِسْقَاطُهُ بِالْجَائِزِ مِنَ الشَّرْطِ او د حقِ شفعه ساقطول د جائز شرط سره نه متعلق کيږي فَبِالْفَاسِدِ أَوْلَى نو د شرطِ فاسد سره خو به په درجه اولیٰ [نه متعلق کيږي] فَيَبْطُلُ الشَّرْطُ وَيَصِحُّ الْإِسْقَاطُ لهذا شرط به باطليږي او د حق ساقطول به صحيح کيږي وَكَذَا لَوْ بَاعَ شُفْعَتَهُ بِمَالٍ او همدارنګه که شفيع د مال په عوض کي خپل شفعه [حق شفعه] خرڅ کړي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی بِخِلَافِ الْقِصَاصِ په خلاف د قصاص لِأَنَّهُ حَقٌّ مُتَقَرِّرٌ ځکه چي قصاص يو ثابت سوی حق دی وَبِخِلَافِ الطَّلَاقِ وَالْعَتَاقِ په خلاف د طلاق او عتاق لِأَنَّهُ اعْتِيَاضٌ عَنْ مِلْكٍ فِي الْمَحَلِّ ځکه دا عوض اخيستل دي په محل کي د دننه ملکيت.

اللغات: ﴿اعتياض﴾ د افتعال د باب مصدر دی: عوض اخيستل.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که شفیع د مشتري سره صلح وکړه چې ته ما ته (مثلاً) سل درهمه عوض راکړه نو زه د خپل شفعي تر سر تېرېږم او خپل حق شفعه نه غواړم. او مشتري په دې راضي سو او هغه ته یې سل درهمه ورکړه، نو اوس څه حکم دی؟. فرمایي چې په دې صورت کې د هغه شفعه باطلیږي او کوم عوض چې هغه اخیستی دی هغه به هم بیرته مشتري ته واپس کوي؛ ځکه چې عوض د هغه شي اخیستل صحیح دي کوم چې په محل کي ثابت وي. او شفیع ته صرف د مشفوعه کور د مالک جوړېدلو حق سته، په محل او کور کي د هغه حق ثابت نه دی. لهذا کله چې په محل کي د هغه حق ثابت نه دی. نو هغه ته د مشفوعه کور د عوض اخیستلو حق هم نسته او په عوض کي اخیستل سوی شی (سل درهمه) به بیرته واپس کوي.

ولا يتعلق إلخ: مخکي په دې ځان پوه کړئ چې شرط جائز هغه شرط دی چې په هغه کي د مال ذکر (یادونه) نه وسي، او شرط فاسد هغه شرط ته ویل کیږي چې په هغه کي د مال ذکر وسي. اوس که په شرط جائز کي مثلاً شفیع داسي ووایې چې ما پر دې شرط خپل حق شفعه ساقط کړی چې مشتري به زما څخه ثمن نه اخلي. یا داسي ووایې چې ما پر دې شرط خپل حق شفعه ساقط کړی چې مشتري به ما ته سل درهمه راکوي، نو په دې دواړو صورتونو کي د هغه شرط باطلیږي او د هغه د خپل حق ساقطول ثابتیږي؛ ځکه کله چې شرط جائز د هغه د حق إسقاط نه منع کوي. نو شرط فاسد خو یې په درجه اولی نه منع کوي.

وكذا لو باع إلخ: د دې مطلب دا دی چې څرنګه پر مال د صلح کولو په صورت کي شفعه باطلیږي او د عوض واپس کول لازمیږي. همداسي د شفعي د خرڅولو په صورت کي هم شفعه باطلیږي او د مال واپس کول لازمیږي. دلیل همغه دی کوم چې څه مخکي ذکر سو.

بخلاف القصاص إلخ: دا د یو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چې څرنګه حق شفعه مال نه دی. همداسي حق قصاص هم مال نه دی. لیکن د حق قصاص عوض اخیستل صحیح دي. نو د حق شفعه عوض اخیستل ولي نه دي صحیح؟.

د دې په جواب کي فرمایي چې قصاص یو متقرر حق دی او شفعه غیر متقرر حق دی. او د متقرر حق عوض اخیستل صحیح دي نه د غیر متقرر. او همدا حال د طلاق او عتاق دی. یعني که خاوند د مال په عوض کي ښځي ته طلاق ورکړي. یا مالک د مال په عوض کي غلام آزاد کړي. نو په دې صورتونو کي عوض اخیستل صحیح دي: ځکه د خاوند او مالک دواړو حق په محل کي ثابت دی. او په محل کي د ثابت شده حق عوض اخیستل صحیح دي. په خلاف د شفیع. ځکه چې د هغه حق فقط په مالک جوړېدلو کي دی. په محل کي د هغه هیڅ حق نسته. نو ځکه د هغه لپاره عوض اخیستل هم صحیح نه دي.

د پورتنۍ مسئلې مثال

وَنَظِيرُهُ إِذَا قَالَ لِلْمُخَيَّرَةِ: اِخْتَارِينِي بِأَلْفٍ او د دې مثال دا دی چې کله خاوند خپلې مخيّره ښځې ته ووايي: چې ته [مثلاً] د زر درهمو په عوض کې ما اختيار کړه أَوْ قَالَ الْعِنِّينُ لِامْرَأَتِهِ: اِخْتَارِيْ تَرْكَ الْفَسْخِ بِأَلْفٍ يا عنين خپلې ښځې ته ووايي: چې ته د زر درهمو په عوض کې د فسخ پرېښوول اختيار کړه فَاخْتَارَتْ او ښځه يې اختيار کړي سَقَطَ الْخِيَارُ وَلَا يَثْبُتُ الْعِوَضُ نو د هغې خيار [اختيار] ساقطيږي او عوض نه ثابتيږي وَالْكَفَالَةُ بِالنَّفْسِ فِي هٰذَا بِمَنْزِلَةِ الشُّفْعَةِ فِي رِوَايَةٍ او د يوه روايت مطابق کفاله بالنفس په دې هکله د شفعې په درجه کې ده وَفِي أُخْرٰى لَا تَبْطُلُ الْكَفَالَةُ وَلَا يَجِبُ الْمَالُ او په يو بل روايت کې دي چې کفاله نه باطليږي او مال [عوض] نه ثابتيږي وَقِيلَ: هٰذِهِ رِوَايَةٌ فِي الشُّفْعَةِ او ويل سوي دي: چې دا په شفعه کې يو روايت دی وَقِيلَ: هِيَ فِي الْكَفَالَةِ خَاصَّةً او ويل سوي دي: چې دا خاص په کفاله کې دی وَقَدْ عُرِفَ فِي مَوْضِعِهِ او دا پر خپل ځای [په مبسوط کې] پېژندل سوي دي.

اللغات: ﴿مخيّره﴾ هغه ښځه چې خاوند د طلاق اختيار ورکړی وي، ﴿عِنِّين﴾ (بکسر العين والنون المشددة) له وطي او جماع څخه عاجز، هغه سړی کوم چې پر جماع کولو قدرت نه لري، نامرد (معجم لغة الفقهاء)، ﴿کفاله بالنفس﴾ د يو چا د نفس کفيل کېدل (د يو چا د حاضرولو ذمه واري اخيستل).

تشريح: له دې ځايه صاحب د هدايې د مخکنۍ مسئلې دوه مثالونه ذکر کوي چې په هغه کې د حقدار حق هم ختميږي او عوض هم نه ورکول کيږي.

(۱)... خاوند خپلې ښځې ته د "اِخْتَارِيْ نَفْسَكِ" په ذريعه اختيار ورکړی، بيا خاوند خطره محسوسه کړه چې هسې نه ښځه خپل نفس (يعني طلاق) اختيار کړي او طلاق بائن واقع سي. نو ده ښځې ته وويل چې طلاقه ايله کوه ما د زرو درهمو په عوض کې اختيار کړه، او ښځې خاوند اختيار کړی، نو د ښځې خيار ساقطيږي او هغې ته عوض (زر درهمه) هم نه حاصليږي (عوض به نه ورکول کيږي).

(۲)... يو کس عنين دی. مخکې تاسو ولوستل چې د عنين ښځې ته د نکاح ماتولو (فسخ نکاح) اختيار حاصليږي. خو عنين خپلې ښځې ته خواست وکړی چې ته دا زر درهمه واخله او زما په نکاح کې اووسه. ښځې دا ورسره خوښه کړه. نو د هغې د فسخ نکاح اختيار ختميږي او عوض يعني زر درهمه هم نه ورته حاصليږي بلکې د لاسه يې وځي.

بالکل همداسي په شفعه کي هم د صلح کولو یا د شفعي خرڅولو په صورت کي حق هم ختميږي او عوض هم د لاسه وځي.

والکفالة بالنفس إلخ: که یو څوک د بل چا د حاضرولو کفيل سو (مثلاً زید و خالد ته وويل چي ته اوس حامد پر ېږده، د شنبې په ورځ يې زه د قاضي مختـه درتـه حاضروم)، بيا څـه وخت وروسته دا کفيل (زيد) و مکفول لهٗ (خالد) ته وويل چي ته دا سل درهمه واخله او ما له خپل ذمه واری او کفالت څخه بري کړه، اوس که مکفول لهٗ په دې راضي سي، نو د يوه روايت مطابق د شفيع په څېر مکفول لهٗ هم تاواني کيږي، يعني ده ته مال (سل درهمه) نه حاصليږي او کفيل يې د لاسه وځي (کفيل بري کيږي)

وفي أخرىٰ إلخ: بل روايت دا دی چي د مکفول لهٗ تر راضي کېدلو وروسته که څه هم مال (عوض) نه ثابتيږي، خو کفاله هم نه ختميږي، يعني کفيل نه بري کيږي.

بعضي حضراتو دا روايت په شفعه کي هم نقل کړی دی چي همداسي په شفعه کي که څه هم شفيع ته مال (عوض) نه حاصليږي، مګر د هغه حقِ شفعه هغسي باقي پاتيږي.

بل قول دا دی چي دا روايت فقط د کفالې سره خاص دی چي هلته که څه هم مال نه ثابتيږي، مګر د کفيل ذمه باقي پاتيږي، په آخر کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په مبسوط کي د دې مسئلې تفصيلات بيان سوی دی، د نور معلومات لپاره دي هغه مطالعه کړی سي.

د شفيع په مرګ سره د شفعي د باطلېدلو بيان

قَالَ: وَإِذَا مَاتَ الشَّفِيعُ فرمايي: او کله چي شفيع مړ سي بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ نو د هغه شفعه باطليږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تُوْرَثُ عَنْهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي شفعه د هغه له طرفه ميراث کيږي [يعني د شفيع وارثانو ته د ميراث په توګه حاصليږي] قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: مَعْنَاهُ إِذَا مَاتَ بَعْدَ الْبَيْعِ قَبْلَ الْقَضَاءِ بِالشُّفْعَةِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: د امام قدوري رَحِمَهُ الله د قول مطلب دا دی چي کله شفيع تر بيع وروسته د شفعي له فيصلې څخه مخکي مړ سي أَمَّا إِذَا مَاتَ بَعْدَ قَضَاءِ الْقَاضِيْ قَبْلَ نَقْدِ الثَّمَنِ وَقَبْضِهِ لېکن که هغه د قاضي تر فيصلې وروسته د ثمن له اداء کولو او پر مبيع له قبضه کولو څخه مخکي مړ سي فَالْبَيْعُ لَازِمٌ لِوَرَثَتِهِ نو بيع د هغه د وارثانو لپاره لازم ده وَهٰذَا نَظِيرُ الِاخْتِلَافِ فِي خِيَارِ الشَّرْطِ او دا [اختلاف] په خيارِ شرط کي د اختلاف مثال دی [يعني د خيارِ شرط د اختلاف په څېر دی] وَقَدْ مَرَّ فِي الْبُيُوعِ او هغه په کتابُ البيوع کي تېر سوی دی وَلِأَنَّهُ بِالْمَوْتِ يَزُولُ

مِلْكُهُ عَنْ دَارِهِ او ځکه چې د مرګ په وجه له خپل کور څخه د شفيع ملکيت زائليږي وَيَثْبُتُ الْمِلْكُ لِلْوَارِثِ بَعْدَ الْبَيْعِ او تر بيع وروسته د وارث لپاره ملکيت ثابتيږي وَقِيَامُهُ وَقْتَ الْبَيْعِ وَبَقَاؤُهُ لِلشَّفِيعِ إِلَى وَقْتِ الْقَضَاءِ شَرْطٌ او د بيع په وخت کې د ملکيت قائموالی [موجوديت] او د فيصلې تر وخته د شفيع لپاره د ملکيت باقي والی شرط دی فَلَا يَسْتَوْجِبُ الشُّفْعَةَ بِدُونِهِ لهذا له دې شرط [ملکيت] څخه بغير به هغه د شفعې نه مستحق کيږي.

اللغات: ﴿تورث﴾ د مضارع مجهول صيغه ده: ميراث کېدل، په ميراث کې حاصلېدل. ﴿لا يستوجب﴾ د استفعال له بابه د نفي صيغه ده: تقاضا کول، مستحق کېدل، حق لرل. (احسن الهدايه)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې زيد د يو کور شفيع دی او هغه کور خرڅ سو. زيد د شفعې دعوىٰ وکړه او له قاضي څخه يې غوښتنه وکړه چې همدا زه د دې کور شفيع يم لهذا زما په حق کې دې د شفعې فيصله وسي، خو قاضي تر اوسه د هغه په حق کې فيصله نه وه کړې چې هغه مړ سو. نو آيا په دې صورت کې دا شفعه د هغه د وارثانو (ميراث خورو) وطرف ته منتقل کيږي. که نه؟.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې شفعه مطلقاً د وارثانو وطرف ته منتقل کيږي. برابره ده د قاضي له قضاء (فيصلې) څخه مخکې مړ سوی وي او که وروسته. احناف وايي چې که د قاضي تر قضاء مخکې مړ سي، نو د هغه شفعه باطليږي او د وارثانو وطرف ته نه منتقل کيږي. لېکن که چېرې قاضي د هغه لپاره د شفعې فيصله وکړي. بيا له ثمن اداء کولو يا پر مبيع (کور) له قبضه کولو څخه مخکې مړ سي، نو څرنګه چې په دې صورت کې شفعه د شفيع لپاره ثابته سوې ده. نو ځکه اوس د هغه د وارثانو وطرف ته منتقل کيږي.

وهٰذا إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چې زموږ او د شوافعو تر مينځ دغه اختلاف د خيار شرط د اختلاف په څېر دی. يعني که څوک په خيارِ شرط سره يو شی رانيسي يا يې خرڅ کړي او بيا د خيار شرط د مودت له پوره کېدلو څخه مخکې هغه مړ سي. نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز دا خيار د وارثانو وطرف ته منتقل کيږي او زموږ په نېز نه منتقل کيږي. همداسې دلته هم دي چې د شوافعو په نېز شفعه وارثانو ته د ميراث په توګه حاصليږي او زموږ په نېز نه حاصليږي.

ولأن بالموت إلخ: دا زموږ عقلي دليل دی (په دې هکله چې مړه شفيع او د هغه وارثانو ته شفعه نه حاصليږي). حاصل يې دا دی چې د کوم کور په وجه چې شفيع ته شفعه حاصليږي. دا ضروري ده چې شفيع به د بيع په وخت کې د هغه کور مالک وي تر دې چې د شفعې د قضاء (فيصلې) تر وخته پوري به هغه

کور د شفيع په ملکيت کي باقي پاته وي (لکه څرنګه چي مخکي هم دا ذکر سوي دي). او په پورتني صورت کي که څه هم د بيع په وخت کي شفيع د هغه کور مالک دی، خو د شفعي د قضاء پر وخت په هغه کور کي د ده ملکيت ختم سوی دی، نو ځکه هغه ته به شفعه نه حاصليږي. او وارثانو ته به ځکه نه حاصليږي چي د قاضي د قضاء پر وخت که څه هم په کور کي د دوی ملکيت دی، خو د بيع په وخت کي د دوی ملکيت معدوم وو، ځکه په هغه وخت کي خو د شفيع ملکيت وو (کوم چي اوس مړی سوی دی). او د شفعي د استحقاق لپاره په دې دواړو وختونو (وقتِ بيع. وقتِ قضاء) کي ملکيت ضروري دی کوم چي د وارثانو په حق کي معدوم دي. نو ځکه دوی ته به هم شفعه نه حاصليږي.

د مشتري په مرګ سره د شفعي نه باطلېدلو بيان

وَإِنْ مَاتَ الْمُشْتَرِيْ او که مشتري مړ سي لَمْ تَبْطُلْ نو شفعه نه باطليږي لِأَنَّ الْمُسْتَحِقَّ بَاقٍ ځکه چي د شفعي حقدار کس [شفيع] باقي دی وَلَمْ يَتَغَيَّرْ سَبَبُ حَقِّهِ او د هغه د حق سبب هم نه دی بدل سوی وَلَا يُبَاعُ فِيْ دَيْنِ الْمُشْتَرِيْ وَوَصِيَّتِهِ او د مشتري په قرض او وصيت کي مشفوعه کور نه سي خرڅول کېدای وَلَوْ بَاعَهُ الْقَاضِيْ أَوِ الْوَصِيُّ او که قاضي يا وصي هغه خرڅ کړي أَوْ أَوْصَى الْمُشْتَرِيْ فِيهَا بِوَصِيَّةٍ يا مشتري د هغه کور په باره کي يو وصيت وکړي فَلِلشَّفِيعِ أَنْ يُبْطِلَهُ وَيَأْخُذَ الدَّارَ نو شفيع لپاره دا حق سته چي هغه باطل کړي او کور واخلي لِتَقَدُّمِ حَقِّهِ ځکه چي د شفيع حق مخکي دی وَلِهٰذَا يُنْقَضُ تَصَرُّفُهُ فِيْ حَيَاتِهِ په همدې وجه د مشتري په ژوند کي هم د هغه تصرف ماتول کيږي.

اللغات: ﴿دَيْن﴾ قرض. ﴿ينقض﴾ د نصر د باب مضارع ده: ماتول.

تشريح: په مخکيني عبارت کي د شفيع د مرګ بيان وو، دلته دا بيانوي چي که مشتري مړ سي. نو په دې صورت کي په هر حال شفيع ته شفعه حاصليږي، برابره ده د قاضي تر قضاء مخکي وي او که وروسته. ځکه په دې صورت کي د شفعي حقدار يعني شفيع ژوندی دی او د هغه د حق شفعي سبب هم هغسي باقي دی. نو هغه ته به شفعه هم حاصليږي.

او که مشتري په داسي حالت کي مړ سي چي پر هغه قرض باندي وي، يا مشتري په دې کور کي مثلاً د مسجد يا د بل خای جوړولو وصيت کړی وي. نو څه حکم دی؟

فرمايي چي کور به نه خرڅول کيږي چي د مشتري قرض په اداء کړی سي او نه به په دې کور کي د مشتري وصيت نافذيږي؛ ځکه چي له قرض او وصيت ټولو څخه د شفيع ملکيت مقدم دی.

لهذا اول به کور شفیع ته ورکول کیږي، بیا به د شفیع په اداء کړی سوي پیسو سره د مشتري قرض او د هغه وصیت پوره کول کیږي.

لهذا کله چي د مشفوعه کور خرڅول ممنوع دي، نو که یو وصي یا قاضي هغه خرڅ کړي یا د مشتري وصیت په هغه کي نافذ کړي، نو شفیع ته د دې ټولو تصرّفاتو د ختمولو او د خپل حق شفعه د اخیستلو اختیار سته، ځکه چي د شفیع حق هم مخکي دی او خودي د مشتري په ژوند کي په مشفوعه کور کي د هغه د تصرفاتو ماتولو هم شفیع ته اختیار وو، نو ځکه د مشتري تر مرګ وروسته به هم شفیع ته له مشتري څخه بغیر د بل چا د تصرفاتو د ختمولو او د خپل حق اخیستلو پوره اختیار وي.

که شفیع د شفعي تر فیصلې مخکي خپل جایداد خرڅ کړي نو د شفعي حکم

قَالَ: وَإِذَا بَاعَ الشَّفِيْعُ مَا يَشْفَعُ بِهِ قَبْلَ أَنْ يُقْضٰى لَهُ بِالشُّفْعَةِ فرمايي: او کله چي شفیع هغه کور خرڅ کړي چي د هغه په وجه دئ شفیع جوړیږي [شفعه ورته حاصلیږي] مخکي تر دې چي د ده لپاره د شفعي فیصله وسي بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ نو شفعه یې باطلیږي لِزَوَالِ سَبَبِ الاِسْتِحْقَاقِ قَبْلَ التَّمَلُّكِ ځکه چي له مالک جوړېدلو څخه مخکي د شفیع د استحقاق سبب ختم سو وَهُوَ الاِتِّصَالُ بِمِلْكِهِ او هغه د شفیع د ملکیت سره [د مشفوعه کور] متصل کېدل دي وَلِهٰذَا يَزُوْلُ بِهِ په همدې وجه د خپل کور خرڅولو په وجه د شفیع د استحقاق سبب ختمیږي وَإِنْ لَمْ يَعْلَمْ بِشِرَاءِ الْمَشْفُوْعَةِ که څه هم شفیع د مشفوعه کور په رانیول کېدلو [خرڅېدلو] خبر نه وي كَمَا إِذَا سَلَّمَ صَرِيْحًا لکه [په هغه صورت کي] کله چي شفیع صراحتاً شفعه پرېږدي أَوْ أَبْرَأَ عَنِ الدَّيْنِ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ بِهِ یا [لکه کله چي] قرضخواه مقروض بري کړي او هغه په قرض خبر نه وي وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا بَاعَ الشَّفِيْعُ دَارَهُ بِشَرْطِ الْخِيَارِ لَهُ او دا [مسئله] د هغه صورت په خلاف ده چي کله شفیع کور د ځان لپاره په خیار شرط [اخیستلو] سره خرڅ کړي لِأَنَّهُ يَمْنَعُ الزَّوَالَ ځکه چي دا [د بائع خیار] د ملکیت زائلېدل منع کوي فَبَقِيَ الاِتِّصَالُ نو اتصال باقي پاته سو.

اللغات: ﴿يشفع﴾ د فتح د باب مضارع ده: شفیع کېدل، شفیع جوړېدل، صاحب د احسن الهدایه معنیٰ کړې ده: د شفعي دعویٰ کول او د شفعي مستحق کېدل (مراد یې یو دی)، ﴿تملك﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مالک جوړېدل، مالک کېدل، ﴿سلّم﴾ د تفعیل د باب ماضي ده، اُردو شارحینو دلته د دې

لفظ معنیٰ کړې ده: (له شفعې څخه) لاس په سر کېدل، (خپل حقِ شفعه) پرېښوول. ﴿أبرأ﴾ د افعال د باب ماضي ده: بري کول، معافول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې زيد ديو کور مالک دی او د هغه څنګ ته د حامد کور دی چې زيد د هغه شفيع دی، اوس که حامد خپل کور خرڅ کړی او تر اوسه د زيد (شفيع) لپاره قاضي د شفعې فيصله نه وه کړې چې هغه هم خپل کور خرڅ کړی، نو په دې صورت کې زيد (شفيع) ته شفعه نه حاصليږي؛ ځکه د مشفوعه کور له مالک جوړېدلو څخه مخکې د زيد (شفيع) د استحقاق سبب ختم سو، چې هغه (د استحقاق سبب) د حامد د ملکيت (کور) سره د زيد د ملکيت متصل کېدل وه کوم چې په خرڅولو سره ختم سو، او څو صفحې مخکې دا خبره تېره سوه چې دا شرط او ضروري ده چې د شفعې د قضاء تر وخته به د شفيع کور د شفيع په ملکيت کې پاته وي او دلته دا شرط معدوم سو، نو ځکه دلته د هغه حقِ شفعه باطليږي او شفعه نه ورته حاصليږي.

ولهذا يزول إلخ: په دې سره دا راښيي چې د استحقاق د سبب زائلېدل د مستحق شي زائلېدلو لره مستلزم دي، همدا وجه ده که حامد خپل کور خرڅ کړی او زيد په دې خبر نه سو، بيا زيد هم خپل کور خرڅ کړي، نو د هغه حقِ شفعه ختميږي، ځکه چې د خپل حق ساقطولو لپاره په مُسقِط (ساقطونکي سبب) خبرېدل ضروري نه دي، او کله چې د مُسقِط علم ضروري نه دی، نو له هغه څخه بغير هم خپل حق ساقطېدای سي. لهذا که په شراء له خبرېدلو څخه بغير زيد خپل کور خرڅ کړي، نو دا د هغه په حق کې عذر نه ګڼل کيږي، بلکې دا داسې ده لکه د مشفوعه کور تر خرڅولو وروسته چې شفيع صراحتاً خپل حقِ شفعه ساقط کړی وي، ښکاره خبره ده چې په دې صورت کې هغه ته شفعه نه حاصليږي، هکذا في الأولیٰ.

أو أبرأ إلخ: په دې سره هم دا خبره ثابتوي چې د شي د إسقاط لپاره د مُسقِط علم ضروري نه دی. مثلاً د خالد پر زيد قرض باندې دی، خو خالد (قرضخواه) ته دا ياد نه دي او په دې خبر نه دی، بيا خالد زيد (مقروض) له قرض څخه بری کړی، نو هغه بري کيږي، همداسې په شفعه کې هم دي، چې د نا خبرتيا (عدم علم) باوجود حقِ شفعه ساقطيږي.

وهذا بخلاف إلخ: د دې حاصل دا دی چې شفيع د مشفوعه کور څنګ ته خپل کور خرڅ کړی، لېکن هغه د ځان لپاره په دې بيع کې خيارِ شرط ولګوی، نو د خيارِ شرط په وجه هغه کور تر اوسه د شفيع په ملکيت کې دی لهذا د مشفوعه کور سره د ده اتصال باقي دی، او د همدې اتصال پر بنياد شفعه ورکول کيږي، نو ځکه ده ته به شفعه حاصليږي، ځکه چې خيار د بائع ملکيت نه زائلوي (لکه مخکې چې ذکر سوه).

د مشتري وکيل يا د بائع وکيل شفيع جوړ بدلای سي، که نه؟ (تفصيلي حکم)

قَالَ: وَوَكِيْلُ الْبَائِعِ إِذَا بَاعَ وَهُوَ الشَّفِيْعُ فرمايي: او د بائع وکيل چي [مشفوعه جايداد] خرڅ کړي حال دا چي شفيع هم هغه [وکيل] وي فَلَا شُفْعَةَ لَهُ نو د هغه لپاره شفعه نسته وَوَكِيْلُ الْمُشْتَرِيْ إِذَا ابْتَاعَ او د مشتري وکيل چي کله [مشفوعه جايداد] رانيسي فَلَهُ الشُّفْعَةُ نو د هغه لپاره شفعه سته وَالْأَصْلُ أَنَّ مَنْ بَاعَ أَوْ بِيْعَ لَهُ او اُصول [قاعده کليه] دا ده چي کوم کس [مشفوعه جايداد] خرڅ کړي يا د چا لپاره چي خرڅ کړی سي لَا شُفْعَةَ لَهُ نو د هغه لپاره شفعه نسته وَمَنِ اشْتَرَى أَوْ ابْتِيْعَ لَهُ او کوم کس چي [جايداد] رانيسي يا د چا لپاره چي رانيول سي فَلَهُ الشُّفْعَةُ نو د هغه لپاره شفعه سته لِأَنَّ الْأَوَّلَ بِأَخْذِ الْمَشْفُوعَةِ يَسْعٰى فِيْ نَقْضِ مَا تَمَّ مِنْ جِهَتِهِ وَهُوَ الْبَيْعُ ځکه چي اول کس د مشفوعه جايداد په اخيستلو سره د هغه شي د ماتولو کوشش کوي کوم چي د ده له طرفه پوره سوی دی او هغه بيع ده وَالْمُشْتَرِيْ لَا يَنْقُضُ شِرَاءَهُ بِالْأَخْذِ بِالشُّفْعَةِ او مشتري د شفعي [مشفوعه جايداد] په اخيستلو سره خپل شراء نه ماتوي لِأَنَّهُ مِثْلُ الشِّرَاءِ ځکه چي شفعه اخيستل هم د رانيولو په مثل سره دي وَكَذٰلِكَ لَوْ ضَمِنَ الدَّرْكَ عَنِ الْبَائِعِ وَهُوَ الشَّفِيْعُ او همدارنګه که څوک د بائع له طرفه د تاوان ضامن [ذمه وار] سي فَلَا شُفْعَةَ لَهُ نو د هغه لپاره شفعه نسته وَكَذٰلِكَ إِذَا بَاعَ وَشَرَطَ الْخِيَارَ لِغَيْرِهِ او همدارنګه کله چي بائع [مشفوعه جايداد] خرڅ کړي او د بل کس لپاره خيار شرط کړي [واخلي] فَأَمْضَى "الْمَشْرُوْطُ لَهُ الْخِيَارُ" الْبَيْعَ وَهُوَ الشَّفِيْعُ بيا هغه بل کس "چي د هغه لپاره خيار شرط کړی سوی دی" بيع نافذ کړي حال دا چي شفيع هم هغه وي فَلَا شُفْعَةَ لَهُ نو د هغه لپاره شفعه نسته لِأَنَّ الْبَيْعَ تَمَّ بِإِمْضَائِهِ ځکه چي د هغه په نافذولو سره بيع پوره سوه بِخِلَافِ جَانِبِ الْمَشْرُوْطِ لَهُ الْخِيَارُ مِنْ جَانِبِ الْمُشْتَرِيْ په خلاف د هغه کس د جانبه [د بيع نافذولو] چي د مشتري له جانبه د هغه لپاره خيار شرط کړی سوی وي.

اللغات: ﴿ابتاع﴾ د افتعال د باب ماضي ده: رانيول. ﴿يسعى﴾ د فتح د باب مضارع ده: کوشش (کوښښ) کول. ﴿شراء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: دا لفظ له اضدادو څخه دی. يعني اصل معنىٰ يې "رانيول" ده لېکن ځيني وخت د "خرڅولو" معنىٰ هم ورکوي. همدارنګه د بيع لفظ هم له اضدادو څخه دی (مصباح منير). ﴿درك﴾ صاحب د احسن الهدايې د دې معنىٰ په تاوان او زر تلافی سره کړې ده. ﴿أمضى﴾ د افعال د باب ماضي ده: جاري کول. نافذول.

تشريح: دعبارت تر حل مخکي په دې يوه اصول خاں پوه کړئ! چي بيع وايي "ورکولو" ته. برابره د مالک له طرفه وي يا د هغه د وکيل له طرفه وي. او په شراء کي د "اخيستلو" معنیٰ موجوده ده. برابره ده د مالک له طرفه وي او که د هغه د وکيل له طرفه (په لنډه توګه دا چي د بيع معنیٰ ده ورکول او د شراء معنیٰ ده اخيستل). او بل دا چي په عقد واحد کي يو شوک يوازي ديوه کس له طرفه (هغه که بائع او که مشتري وي) دا اخيستلو او بيا د هغه شي د ورکولو کار نه سي کولای. يعني دا خو کېدای سي چي مبيع ورکړي او ثمن واخلي (يعني د ثمن په عوض کي مبيع ورکړي) يا د دې برعکس. مګر دا نه سي کېدای چي مبيع ورکړي او بيا همداغه مبيع واپس ځني واخلي. (احسن الهدايه)

صورت د مسئلې: دا دی چي زيد خپل يو جايداد مثلاً خپل کور خرڅوي او د هغه د خرڅولو لپاره يې خالد وکيل جوړ کړی چي ته دا را خرڅ کړه او خالد هغه خرڅ کړی. وروسته ښکاره سوه چي همدا خالد د دې (زيد د) کور شفيع وو. لهذا کله چي همدا خالد د دې کور شفيع وو. نو هغه ته تر وکيل جوړېدلو مخکي د خپل شفعي په هکله سوچ کول پکار وو. لېکن کله چي هغه په دې هکله سوچ نه وکړی او کور يې خرڅ کړی. نو ګواکي هغه بيع پوره کړه. اوس هغه ته شفعه نه حاصلېږي. ځکه که اوس هم خالد ته شفعه ورکول سي. نو همدا به لازمه سي چي کومه بيع خالد د وکيل په توګه کړې ده اوس دي هغه ماته کړي او دا صحيح نه دي. نو ځکه په مذکوره صورت کي د شفيع (خالد) حقِ شفعه ختمېږي.

ومن اشتریٰ إلخ: د دې حاصل دا دی چي مثلاً حامد د کور رانيولو لپاره خالد وکيل جوړ کړی. او د هغه کور شفيع همدا خالد د وو. نو دلته حکم دا دی چي که څه هم خالد کور رانيسي. نو هم د هغه حقِ شفعه باقي پاتېږي. ځکه چي د مشتري په شراء کي هم دا اخيستلو معنیٰ سته او په شفعه کي هم دا معنیٰ سته. لهذا دلته وکيل ته د شفعي ورکولو په صورت کي د بيع او معاملې ماتېدل نه لازمېږي. نو ځکه په دې صورت کي شفيع ته شفعه حاصلېږي.

وکذلك إلخ: د دې حاصل دا دی چي حامد د يو کور رانيول غواړي. مګر پر بائع (عمرو) د هغه باور نسته. اوس خالد د بائع له طرفه د کور يا د هغه د قيمت ضامن (ذمه وار) سو. خو د دې کور شفيع همدا خالد وو. نو په دې صورت کي هغه ته شفعه نه حاصلېږي. ځکه په دې صورت کي هم بيع د ضامن يعني د خالد (کوم چي شفيع دی) له طرفه پوره سوې ده. ځکه چي د همده پر باور حامد هغه کور رانيولی دی. لهذا اوس که موږ ضامن (خالد) ته په شفعه سره هغه کور ورکړو. نو د همده د پوره شي (بيع) ماتېدل به لازم سي. کوم چي صحيح نه دي.

وكذلك إذا باع إلخ: په دې سره دا بيانوي چې كه يو چا كور خرڅ كړي او د خپل يو ملګري لپاره يې كوم چې د دې كور شفيع هم دی د خيار شرط ولګوی، بيا هغه ملګري خيارِ شرط ختم كړی او بيع يې مكمّله او نافذه كړه، نو دلته هم د هغه شفعه ختميږي؛ لأنّه يسعٰى إلخ.

بخلاف المشروط إلخ: د دې حاصل دا دی چې مشتري يو كور رانيوی او د يو داسې سړي لپاره يې د خيارِ شرط ولګوی كوم چې د دې كور شفيع هم دی، بيا هغه سړي (شفيع) بيع نافذه كړه، نو په دې صورت كې هغه ته شفعه حاصليږي؛ ځكه د مشتري دوكيل په څېر دغه سړي ته هم په شفعه وركولو كې د بيع او معاملې ماتېدل نه لازميږي؛ ځكه چې شراء او شفعه دواړه د انجام په اعتبار په يوه معنیٰ (داخيستلو په معنی) سره دي.

د غلط قيمت اوربدلو پر بناء د شفعې پرېښودلو بيان

قَالَ: وَإِذَا بَلَغَ الشَّفِيْعَ أَنَّهَا بِيْعَتْ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ فرمايي: او كله چې شفيع ته دا خبر ورسېدی چې [مشفوعه] كور په زر درهمه خرڅ سوی دی فَسَلَّمَ نو هغه شفعه پرېښودله ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهَا بِيْعَتْ بِأَقَلَّ أَوْ بِحِنْطَةٍ أَوْ شَعِيْرٍ قِيْمَتُهَا أَلْفٌ أَوْ أَكْثَرُ بيا خبر سو چې كور تر زر درهمو په كمه خرڅ سوی دی يا د غنمو يا اوربشو په بدله كې خرڅ سوی دی چې د هغه قيمت زر يا تر دې زيات دی فَتَسْلِيْمُهُ بَاطِلٌ وَلَهُ الشُّفْعَةُ نو د هغه شفعه پرېښوول [له شفعې څخه لاس په سر كېدل] باطل دي لِأَنَّهُ إِنَّمَا سَلَّمَ لِاسْتِكْثَارِ الثَّمَنِ فِي الْأَوَّلِ ځكه چې په اول صورت كې خو شفيع د ثمن د زيات ګڼلو په وجه شفعه پرې ايښې ده وَلِتَعَذُّرِ الْجِنْسِ الَّذِيْ بَلَغَهُ وَتَيَسُّرِ مَا بِيْعَ بِهِ فِي الثَّانِيْ او په دويم صورت كې د جنس د متعذر كېدلو د خبر رسېدلو په وجه او د هغه شي [ثمن] د آسانه كېدلو په وجه چې د هغه په ذريعه بيع سوې ده [په لنډه وينا دا چې په دويم صورت كې د جنس د متعذر كېدلو او د ثمن د سهل كېدلو د خبر په وجه هغه شفعې پرې ايښې ده] إِذِ الْجِنْسُ مُخْتَلِفٌ ځكه چې جنس مختلف دی وَكَذَا كُلُّ مَكِيْلٍ أَوْ مَوْزُوْنٍ أَوْ عَدَدِيٍّ مُتَقَارِبٍ او همداسې هر مكيلي يا موزوني يا عددي متقارب شی [دغه حكم لري].

اللغات: ﴿سلّم﴾ د تفعيل د باب ماضي ده، سَلَّمَ يُسَلِّمُ تَسْلِيْمًا: د دې باب څو معناوي دي چې مشهوره معنیٰ يې "ورسپارل" ده، او دلته شارحينو د دې لفظ معنی كړې ده: (له شفعې څخه) لاس په سر كېدل يعني خپل حقِ شفعه پرېښوول. ﴿أقلّ﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: كمتر، لږ. ﴿اسكثار﴾ د

استفعال مصدر دی: زیات کول، ﴿مکیل﴾ کیلي شی، یعني کوم شی چې پیمانه کیږي او په پیمانه سره اندازه کیږي او خرڅیږي، ﴿موزون﴾ وزني شی، یعني کوم شی چې تلل کیږي او په وزن او تللو سره خرڅیږي، ﴿عددی متقارب﴾ هغه شی کوم چې په شمېر سره معلومول کیږي او عموماً په شمېر خرڅول کیږي او افراد یې یو بل ته نژدې، نژدې وي (تفاوت پکښې کم وي)، لکه هګۍ او داسې نور.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې مثلاً زید شفیع دی، خالد راغلی هغه ته یې دا خبر ورکړی چې ستا څنګ والا کور په زر درهمه خرڅ سو، د دې په اورېدو سره زید خپل شفعه پرېښووله (چې په دومره پیسو خوزه دا کور نه سم رانیولای)، بیا معلومه سوه چې خالد غلط خبر ورکړی دی، کور اصلاً په پنځه سوه درهمه خرڅ سوی دی، یا مثلاً وروسته معلومه سوه چې د کور اصل ثمن دراهم نه وه. بلکې اوربشې یا غنم وه چې د هغه قیمت زر درهمه وو، نو په دې دواړو صورتونو کې شفعه پرېښوول (چې شفیع شفعه پرېښووله دا) لغو کیږي او شفعه ورته حاصلیږي؛ ځکه چې په اول صورت کې هغه د زیات قیمت په ګومان شفعه پرې ایښې وه، حال دا چې معامله تر هغه په کم قیمت سوې وه.

او په دویم صورت کې هم هغه ځکه شفعه پرې ایښې وه چې قیمت زیات دی زر درهمه به له کومې خوا کړم، مګر کله چې ورته معلومه سوه چې اصل ثمن اوربشې یا غنم وه، نو اوس د هغه پرېښول لغو او باطل ګرځي او بیرته شفعه ورته حاصلیږي؛ ځکه د بزګر او داسې نورو لپاره د نغد ثمن په مقابله کې غله اداء کول زیات آسانه وي، نو ځکه په دې صورت کې هم هغه ته حقِ شفعه حاصلیږي، تر إِذِ الجنس... إلخ پوري صاحب د هدایې همدغه خبرې بیان کړې دي. وروسته دا فرمایي چې د هر مکیلي یا موزوني یا عددی متقارب شي هم دغه حکم دی. یعني که مثلاً په دې شیانو کې شفیع ته د نغد قیمت خبر ورکول سي او شفیع خپل شفعه پرېږدي، بیا معلومه سي چې اصل ثمن خو فلانکی مکیلي یا موزوني یا عددی متقارب شی دی، نو په دې ټولو صورتونو کې هم شفیع ته د مخکې په څېر شفعه حاصلیږي.

د پورتنی مسئلې بل صورت

بِخِلَافِ مَا إِذَا عَلِمَ أَنَّهَا بِيْعَتْ بِعَرَضٍ قِيمَتُهُ أَلْفٌ أَوْ أَكْثَرُ په خلاف د هغه صورت کله چې شفیع خبر سي چې کور د سامان په بدله کې خرڅ سوی دی چې د هغه قیمت زر درهمه یا زیات دی لِأَنَّ الْوَاجِبَ فِيهِ الْقِيمَةُ ځکه چې په سامان کې صرف قیمت واجب دی وَهِيَ دَرَاهِمُ أَوْ دَنَانِيرُ او هغه درهم او دینار دي وَإِنْ بَانَ أَنَّهَا بِيْعَتْ بِدَنَانِيرَ قِيمَتُهَا أَلْفٌ او که ښکاره سي چې کور د دینارو په بدله

کي خرڅ سوی دی چي د هغه قیمت زر درهمه دی فَلَا شُفْعَةَ لَهُ نو د شفیع لپاره شفعه نشته وَكَذَا إِذَا كَانَتْ أَكْثَرَ او همدارنګه کله چي هغه تر زر درهمو زیات وي وَقَالَ زُفَرُ[۞]: لَهُ الشُّفْعَةُ لِاخْتِلَافِ الْجِنْسِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د جنس مختلف کېدلو په وجه د هغه لپاره شفعه شته وَلَنَا: أَنَّ الْجِنْسَ مُتَّحِدٌ فِي حَقِّ الثَّمَنِيَّةِ او زموږ دلیل دا دی: چي د ثمن والي په حق کي جنس متحد دی.

اللغات: ﴿عَرَض﴾ او عَرْض: سامان. له دراهم او دنانیرو څخه بغیر نور شیان.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي کور د یو داسي سامان په عوض کي خرڅ کړل سو چي د هغه قیمت زر درهمه وو. او شفیع ته اول د زر درهمه قیمت خبر ورسېدی او هغه شفعه پرېښوده. بیا وروسته شفیع خبر سو چي کور خو د سامان په عوض کي خرڅ سوی وو او د سامان قیمت زر درهمه وو. فرمايي چي په دې صورت کي د هغه پرېښوول (له شفعي څخه لاس په سر کېدل) صحیح او معتبر دي او هغه ته شفعه نه حاصلیږي، ځکه چي دلته شفیع ته د قیمت خبر رسېدلی دی او که اول وار په سامان خبر سوي وای نو هم به ده قیمت ورکولای. لهذا دلته اصل شی قیمت سو او دلته ده مخکي لا برائت کړی دی (شفعه یې پرې ایښې ده). نو ځکه ده ته شفعه نه حاصلیږي.

یو صورت دا دی چي شفیع ته اول په زر درهمه د کور خرڅېدلو خبر ورسېدی. بیا هغه ته معلومه سوه چي کور مثلاً په ۱۰۰ دینارو خرڅ سوی دی چي د هغوی قیمت زر درهمه یا تر دې زیات دی، او ده مخکي لا شفعه پرې ایښې وه. نو زموږ په نیز په دې صورت کي هم د ده شفعه پرېښوول معتبر دي او وروسته ده ته شفعه نه حاصلیږي؛ ځکه چي دینار او درهم د ثمنیت په اعتبار سره متحدُ الجنس دي. امام زفر او امام ثلاثه رَحِمَهُمُ الله فرمايي چي په درهم او دینار کي اختلاف جنس دی. نو د دوی په ثمنیت کي به هم اختلاف وي. لهذا د دوی په نیز د شفیع شفعه نه لغو کیږي بلکي ده ته خپل شفعه حاصلیږي.

د مشتري یا مبیع په هکله د غلط معلومات اورېدلو پر بناء د شفعي پرېښودلو بیان

قَالَ: وَإِذَا قِيلَ لَهُ إِنَّ الْمُشْتَرِيَ فُلَانٌ فرمايي: او کله چي شفیع ته وویل سوه چي فلانکی کس [د جایداد] رانیونکی دی فَسَلَّمَ الشُّفْعَةَ نو هغه شفعه پرېښووله ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ غَيْرُهُ بیا خبر سو چي رانیونکی له هغه څخه بغیر بل څوک دی فَلَهُ الشُّفْعَةُ نو د هغه لپاره شفعه سته لِتَفَاوُتِ الْجِوَارِ د همسایه توب د متفاوت کېدلو په وجه وَلَوْ عَلِمَ أَنَّ الْمُشْتَرِيَ هُوَ مَعَ غَيْرِهِ او که خبر سو چي رانیونکی هغه فلانکی دی سره د بل چا فَلَهُ أَنْ يَأْخُذَ

[۞] القول الراجح: قول علمائنا الثلاثة رَحِمَهُمُ الله، انظر للتفصيل والتوضيح [القول الراجح ج:۲، ص:۲۷۴]

نَصِيبَ غَيْرِهِ نو شفيع ته دا اختيار سته چې د دې بل چا حصه واخلي لِأَنَّ التَّسْلِيمَ لَمْ يُوجَدْ فِي حَقِّهِ ځکه چې تسليم [يعني شفعه پرېښوول] د دې بل چا په حق کې نه دي وَلَوْ بَلَغَهُ شِرَاءُ النِّصْفِ او که شفيع ته د نيم کور د رانيول کېدلو [خرڅېدلو] خبر ورسېدی فَسَلَّمَ نو هغه شفعه پرېښووله ثُمَّ ظَهَرَ شِرَاءُ الْجَمِيعِ بيا د ټوله کور رانيول کېدل ښکاره سوه فَلَهُ الشُّفْعَةُ نو د هغه لپاره شفعه سته لِأَنَّ التَّسْلِيمَ لِضَرَرِ الشَّرِكَةِ ځکه چې شفعه پرېښوول د شرکت د ضرر په وجه وه وَلَا شَرِكَةَ او [دلته] شرکت سته نه وَفِي عَكْسِهِ لَا شُفْعَةَ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او د ظاهر روايت مطابق د دې په برعکس صورت کې شفعه نسته [يعني چې شفيع ته اول دا خبر ورسېدی چې ټوله کور خرڅ سوی دی نو هغه شفعه پرېښووله. وروسته خبر سو چې نيم کور خرڅ سوی دی نو ظاهر روايت دا دی چې شفعه نه ورته حاصلېږي] لِأَنَّ التَّسْلِيمَ فِي الْكُلِّ تَسْلِيمٌ فِي أَبْعَاضِهِ ځکه چې په کُل [ټوله کور] کې شفعه پرېښوول د هغه په بعضي حصو کې هم شفعه پرېښوول دي [يعني کله چې يو وار په ټوله کور کې شفعه پرېښوول سوه، نو د کور په بعض کې هم پرېښوول موجود سوه].

اللغات: ﴿تفاوت﴾ د تفاعل مصدر دی: يو له بل څخه جلا کېدل، توپير پکښې راتلل. ﴿جوار﴾ همسايه توب، همسايه ګلوي. ﴿تسليم﴾ د تفعيل مصدر دی، مخکې يې وضاحت وسو چې دلته يې معنیٰ ده: له شفعې څخه لاس په سر کېدل، شفعه (حق شفعه) پرېښوول. ﴿أبعاض﴾ جمع د بعض ده: حصه.

تشريح: تر دې مخکې خو د قيمت د تفاوت او فرق بيان وو. له دې ځايه د مشتري د تفاوت څو صورتونه بيانوي.

(۱)... يو کس راغلی شفيع ته يې خبر ورکړی چې ستا څنګ والا کور خرڅ سوی دی او فلانکي سړي مثلاً زيد رانيولی دی (چې هغه ډېر بد معاش او لوچک سړی دی). شفيع چې د زيد نوم واورېدی نو شفعه يې پرېښووله. بيا وروسته معلومه سوه چې هغه کور خو حامد رانيولی دی (کوم چې ډېر شريف سړی دی). نو په دې صورت کې شفيع ته شفعه حاصلېږي؛ ځکه په همسايه توب کې تفاوت وي، کېدای سي شفيع ته د يو چا همسايه توب خوښ وي او شفعه واخلي او د يو چا همسايه توب نه خوښوي او شفعه پرېږدي. لنډه دا چې په دې صورت کې هغه ته شفعه حاصلېږي.

(۲)... دويم صورت دا دی چې شفيع ته اولاً دا معلومه سوه چې کور صرف زيد رانيولی دی، نو هغه شفعه پرېښووله. بيا وروسته هغه ته معلومه سوه چې د زيد سره حامد هم دا کور رانيولی دی. نو اوس د حامد په حصه کې شفيع ته شفعه حاصلېږي؛ ځکه شفيع چې شفعه پرې اېښې ده هغه يې صرف د زيد په حق کې پرې اېښې ده.

(۳)... يو صورت دا دی چې شفيع ته اول د نيم کور خرڅېدلو خبر ورسېدی او هغه شفعه پرېښووله. بيا وروسته معلومه سوه چې ټوله کور خرڅ سوی دی. نو په دې صورت کې هم هغه ته شفعه حاصلېږي، ځکه

دلته شفيع اول د شرکت د ضرر او جنجال څخه د خلاصون لپاره شفعه پرېږ ايښې وه. او بيا ورته معلومه سوه چي شرکت نسته. لهذا کله چي شرکت نسته. نو د شفعي د پرېښوولو (تسليم) علت موجود نه سو. او د پرېښوولو د علت د نشتوالي په صورت کي شفعه حاصليږي. لهذا دلته به هم هغه ته شفعه حاصليږي.

(۴)... دا صورت د مخکيني صورت بر عکس دی، يعني اول شفيع ته معلومه سوه چي ټوله کور خرڅ سوی دی او هغه شفعه پرېښووله. بيا خبر سو چي صرف نيم کور خرڅ سوی دی. نو په دې صورت کي هغه ته شفعه نه حاصليږي؛ ځکه چي په ټوله کور کي د شفعي په پرېښوولو سره په نيم کور کي هم د شفعي پرېښوول لازميږي او صرف همدا نيم کور خرڅ سوی دی. لهذا کله چي هغه د ټوله کور په ضمن کي د دې نصف کور شفعه هم پرېږ ايښې ده. نو ښکاره خبره ده چي هغه ته به شفعه نه حاصليږي.

فصل

دا فصل د شفعي ساقطولو د حيلو په بيان کي دی


تشريح: ځيني وخت يو شفيع دومره بد مزاجه، بد اخلاقه او مضر وي چي بالکل د ګذارې نه وي او که هغه ته د شفعي حق (مشفوعه کور) ورکول سي نو نژدې همسايه ګان ډير ور سره په تکليف کيږي، نو په دغه فصل کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله څه داسي حيلې او چلونه بيان کړي دي چي په هغه سره د شفيع حقِ شفعه له منځه ځي او باطليږي.

د شفعي ساقطولو حيله

قَالَ: وَإِذَا بَاعَ دَارًا إِلَّا مِقْدَارَ ذِرَاعٍ مِنْهَا فِيْ طُوْلِ الْحَدِّ الَّذِيْ يَلِي الشَّفِيْعَ فرمايي: او که چا کور خرڅ کړی مګر له هغه څخه يې د يو ذارع په اندازه د هغه حصې په طول کي (خرڅ نه کړی) کوم چي د شفيع [د کور] سره متصل ده فَلَا شُفْعَةَ لَهُ نو د هغه لپاره شفعه نسته لِانْقِطَاعِ الْجِوَارِ د همسايه توب د منقطع کېدلو په وجه وَهٰذِهٖ حِيلَةٌ او دا يو حيله ده وَكَذَا إِذَا وَهَبَ مِنْهُ هٰذَا الْمِقْدَارَ وَسَلَّمَهُ إِلَيْهِ او همدارنګه کله چي هغه دومره اندازه حصه مشتري ته هبه کړي او هغه ته يې وسپاري [نو د شفيع لپاره شفعه نسته] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿ذراع﴾ شرعي ګز. ﴿يلي﴾ د حسب د باب مضارع ده: متصل کېدل، څرمه کېدل. ﴿حيلة﴾ چل (چم)، تدبير.

تشريح: د حق شفعي د ساقطولو او باطلولو يوه حيله دا ده چې کله بائع کور خرڅوي نو د کور هغه حصه کوم چې د شفيع د کور سره متصل ده هلته دې مثلاً د يوه ذراع په اندازه يوه اوږده تراړه پرېږدي مثلاً په لاندې نقشه کې:



په داسې کولو سره صرف په دې اوږده تراړه کې د شفيع حق پاتېږي (کوم چې د شفيع رغبت نه ورته کېږي)، او په پاته کور کې هغه ته شفعه نه حاصلېږي، بيا که تر دې اولې بيع وروسته بائع دا تراړه هم پريو چا خرڅه کړي، نو بيا هم هغه شفيع ته شفعه نه حاصلېږي بلکې مشتري ته حاصلېږي (کوم چې له تراړې څخه بغير پاته کور رانيولی وو)، ځکه چې شفيع که څه هم د دغه حصې همسايه دی لېکن مشتري بيا د بائع سره په دې کور کې شريک دی، او شريک پر همسايه مخکې وي.

وكذلك إلخ: فرمايي همدارنګه که بائع د يوه ذراع په اندازه حصه کوم چې د شفيع د کور سره متصله ده يو چا ته هبه کړي، بيا نور کور خرڅ کړي، نو په دې صورت کې هم شفيع ته شفعه نه حاصلېږي، ځکه د کور هغه حصه کوم چې د شفيع د کور سره متصله ده. هغه هبه کړل سوې ده او په هبه کې شفعه نه حاصلېږي، او کومه حصه چې خرڅه کړل سوې ده. هغه د شفيع د کور سره متصله نه بلکې منقطعه او جلا ده (چې د هغه په وجه د بائع او شفيع تر مينځ همسايه توب منقطع سوی دی). نو ښکاره ده چې په هغه کې هيڅ شفعه نه ورته حاصلېږي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په لِمَا بَيَّنَّا سره د همدغه انقطاعِ جوار او عدمِ اتصال وطرف ته اشاره کړې ده.

د شفعي ساقطولو بله حيله

قَالَ: وَإِذَا ابْتَاعَ مِنْهَا سَهْمًا بِثَمَنٍ ثُمَّ ابْتَاعَ بَقِيَّتَهَا فرمايي: او کله چې څوک د کور يوه حصه په ثمن سره رانيسي بيا د هغه کور پاته حصه [په جلا ثمن سره رانيسي] فَالشُّفْعَةُ لِلْجَارِ فِي السَّهْمِ الْأَوَّلِ دُونَ الثَّانِي نو همسايه لره په اوله حصه کې شفعه سته، نه په دويمه حصه کې لِأَنَّ الشَّفِيعَ جَارٌ فِيهِمَا

ځکه چي شفيع خو په دواړو حصه کي همسايه دی إِلَّا أَنَّ الْمُشْتَرِيَ فِي الثَّانِي شَرِيكٌ خو په دويمه حصه کي بيا مشتري شريک دی [او شريک تر همسايه زيات حقداره دی] فَيَتَقَدَّمُ عَلَيْهِ نو هغه به پر شفيع مخکي وي فَإِنْ أَرَادَ الْحِيلَةَ او که د حيلې کولو اراده وکړي ابْتَاعَ السَّهْمَ بِالثَّمَنِ إِلَّا دِرْهَمًا مَثَلًا نو د کور يوه حصه دي مثلاً له يوه درهم څخه بغير نور په ټوله قيمت سره رانيسي وَالْبَاقِيَ بِالْبَاقِي او نوره حصه دي په پاته قيمت سره واخلي.

اللغات: ﴿سهم﴾ حصه، جمع: سِهَام. ﴿ثمن﴾ قيمت.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي مشتري (مثلاً خالد) د کور يوه حصه رانيوله او تر دې وروسته يې بيا د هغه کور پاته حصه رانيوله، مثلاً داسي:

د شفيع کور	بيا يې دا حصه رانيوله	د بائع کور: مثلا اول دا حصه مشتري رانيوله

نو اوس شفيع فقط په اوله حصه کي د شفعي دعویٰ کولای سي د جوار (همسايه توب) په وجه، او په دويمه حصه کي هغه ته شفعه نه حاصليږي، ځکه که څه هم شفيع په دا دويمه پاته حصه کي هم همسايه دی، خو مشتري بيا په هغه کي شريک دی (ځکه اوله حصه د مشتري په ملکيت کي راغلې ده)، او د شريک په موجوديت کي همسايه له حق شفعه څخه محروميږي او شريک ته حاصليږي، نو همداسي به دلته هم کيږي.

فإن أراد إلخ: له دې ځايه د شفعي د ساقطولو يو بهترينه حيله بيانوي، صورت يې دا دی چي مثلاً د کور قيمت پنځوس زره درهمه دی، نو رانيونکي (مشتري) ته پکار دي چي د کور يوه حصه ډېر گرانه مثلاً په نهه څلوېښت زره رانيسي او بيا دي پاته حصه په زر درهمه رانيسي، نو دلته که څه هم په اول وار رانيول سوې حصه کي شفيع ته شفعه حاصليږي، خو د ډېر گران والي په وجه به شفيع خپله شاته سي چي دا خو د سرو زرو په بيه ده څه دماغ خو مي نه دی خراب چي دومره پيسې پر ور کوم، او پاته سو په دويمه حصه کي بيا مشتري شريک جوړيږي او شريک تر همسايه مخکي وی لهذا دا حصه به هم د هغه د لاسه ووځي (نو په دې توگه به له شرير مضر شفيع څخه خلاصون تر لاسه سي).

د ثمن (قيمت) په عوض کې د بل شي ورکولو حيله

وَإِنِ ابْتَاعَهَا بِثَمَنٍ ثُمَّ دَفَعَ إِلَيْهِ ثَوْبًا عِوَضًا عَنْهُ او که کور د ثمن په بدله کې رانيسي بيا د ثمن په عوض کې بائع ته کپړه ورکړي فَالشُّفْعَةُ بِالثَّمَنِ دُونَ الثَّوْبِ نو شفعه به د ثمن په بدله کې وي، نه د کپړې لِأَنَّهُ عَقْدٌ آخَرُ ځکه چې دا [کپړه ورکول] بل عقد دی وَالثَّمَنُ هُوَ الْعِوَضُ عَنِ الدَّارِ او همدا ثمن د کور عوض دی [نه کپړه] قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَهٰذِهِ حِيلَةٌ أُخْرَى تَعُمُّ الْجِوَارَ وَالشَّرِكَةَ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا يو بله حيله ده کوم چې همسايه توب او شرکت دواړو لره عام ده فَيُبَاعُ بِأَضْعَافِ قِيمَتِهِ وَيُعْطَى بِهَا ثَوْبٌ بِقَدْرِ قِيمَتِهِ نو کور دې له خپل قيمت څخه په څو چنده زيات خرڅ کړی سي او د هغه د قيمت په اندازه کپړه دې ورکول سي إِلَّا أَنَّهُ لَوِ اسْتُحِقَّتِ الْمَشْفُوعَةُ ليکن که مشفوعه حصه [ديو چا] مستحقه ثابته سي يَبْقَى كُلُّ الثَّمَنِ عَلَى مُشْتَرِي الثَّوْبِ نو د کپړې پر رانيونکي ټوله ثمن باقي پاتيږي لِقِيَامِ الْبَيْعِ الثَّانِي ځکه چې دويمه بيع تر اوسه باقي ده فَيَتَضَرَّرُ بِهِ نو په دې سره به بائع ته ضرر ورسيږي وَالْأَوْجَهُ أَنْ يُبَاعَ بِالدَّرَاهِمِ الثَّمَنِ دِينَارٌ او زياته غوره دا ده چې د ثمن والا دراهم په دينار سره خرڅ کړی سي [په بله وينا دا چې د مذکوره حيلې غوره صورت دا دی چې بائع په ثمن کې ټاکل سوي دراهم پر مشتري په مناسب دنانيرو سره خرڅ کړي چې تفصيل به يې په تشريح کې ذکر سي] حَتَّى إِذَا اسْتُحِقَّ الْمَشْفُوعُ تر دې چې که هغه مشفوع کور مستحق ثابت سي يَبْطُلُ الصَّرْفُ نو بيع صَرف به باطله سي فَيَجِبُ رَدُّ الدِّينَارِ لَا غَيْرُ نو [پر بائع] به فقط د دينار واپس کول لازم سي، نه د نورو.

اللغات: ﴿أضعاف﴾ جمع د ضِعفٌ ده: څو چنده، ﴿استحقت﴾ د استفعال له باب څخه واحده مؤنثه غائبه ماضي مجهوله صيغه ده: يو شی د بل چا مستحق ختل، د بل چا حق پکښې ثابتېدل (د بل چا کېدل)، مستحق کېدل. ﴿الصَّرف﴾ بيع صَرف، نغد مال په نغد مال سره بدلول (مبادلة النقد بالنقد).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې مشتري له بائع څخه مثلاً په پنځوس زر درهمه کور را نيوی، بيا يې د دې پنځوس زرو په عوض کې هغه ته د لس زرو کپړه ورکړه، نو اوس که شفيع دا کور په شفعه سره اخيستل غواړي نو په پنځوس زره به يې اخلي، نه په کپړه سره، ځکه د کور اصل ثمن خو پنځوس زره درهمه دي، کپړه نه ده، د کپړې ورکړه راکړه خو د بائع او مشتري تر مينځ د عقد ثاني حيثيت لري، اصل معامله خو د پنځوس زرو ده، او ښکاره خبره ده چې شفيع به په دومره ګران قيمت

څرنګه کور اخلي، صاحب د هدايې فرمايي چې دا يو عامه حيله ده کوم چې همسايه او شريک دواړه پر شا کولو او د شفعې پرېښوولو ته مجبوره کوي.

(په آسانه وينا د مذکوره عبارت حاصل دا دی چې که بائع وغواړي چې د خپل (بد او مضر) شريک يا همسايه د شفعې حق ساقط کړي [چې د هغه له بدۍ او ضرر څخه نژدې همسايه ګان خوندي سي] نو کور دې له خپل قيمت څخه په څو چنده زيات قِيمت پر مشتري خرڅ کړي مثلاً د کور اصل قيمت لس زره درهمه دی بائع دې هغه په پنځوس زره درهمه پر خرڅ کړي او مشتري ته دې ووايي چې ته د دومره ثمن په عوض کي دا بيع قبوله کړه خو وروسته ما ته د دغه ثمن په عوض کي د لس زره درهمو کپړه [يا بل شی] راکړه چې بيا به زما وستا بيع او سودا پر هغه وسي. څو په دې توګه به زما د بد همسايه يا شريک مخ له شفعې څخه واوړي او د هغه پر ځای به تا ته شفعه حاصله سي: ځکه ښکاره خبره ده چې که د کور قيمت څو چنده زيات کړی سي نو بيا يې شفيع [همسايه او شريک] بالکل نه رانيسي).

إلا أنه إلخ: له دې ځايه د دغه پورتني حيلې يو خرابي بيانوي (هغه دا چې د دې حيلې په صورت کي د بائع د ډېر تاواني کېدلو امکان سته). حاصل يې دا دی چې صحيح ده د څو چنده ثمن ټاکلو او بيا د کپړې ټاکلو په وجه به شفيع پر شا سي، لېکن که دا کور د يو چا مستحق وختی (يعني يو چا دعویٰ وکړه چې دا کور زما دی او خپل استحقاق يې ثابت هم کړی) او قاضي د هغه لپاره فيصله وکړه او کور يې له مشتري څخه واخيستی او هغه مستحق کس ته يې ورکړی، نو اوس حکم دا دی چې بائع به مشتري ته اصل ثمن يعني پنځوس زره درهمه ورکوي، نه کپړه (خو که مشتري شرافت وکړي او فقط د خپل کپړې طلب وکړي، نو بيا به بائع کپړه ورکوي. يعني دا داصل ثمن ورکولو حکم په هغه صورت کي دی چې مشتري د کپړې په اخيستلو نه راضي کيږي بلکي اصل ثمن غواړي. نو بيا به بائع اصل ثمن [پنځوس زره درهمه] ورکوي)، ځکه چې د کپړې معامله خو عقدِ ثاني دی او استحقاق په عقدِ اول کي سوی دی، او ښکاره خبره ده چې په دې کي د بائع غټ تاوان دی چې هغه به اصل ثمن واپس ورکوي (ځکه مشتري هغه ته اصل ثمن نه دی ورکړی بلکي کپړه يې ورکړې ده او بائع غريب به اوس کپړه نه بلکي اصل ثمن ورکوي). لهٰذا دا حيله په سوچ او تحقيق سره اختيارول پکار دي (چې آيا دا کور خو به اصلاً د بل چا نه وي).

والأوجه إلخ: په دغه عبارتِ سره د مذکوره حيلې يو غوره صورت بيانوي چې په هغه کي بائع له تاوان څخه خوندي کيږي (په بله وينا دا چې په دې عبارت سره په مذکوره حيله کي د بائع د خلاصون لپاره بله حيله بيانوي)، حاصل يې دا دی چې دلته بائع او مشتري چې څومره ثمن ټاکلی دی مثلاً پنځوس زره درهمه. بائع دې دغه دراهم پر مشتري په دومره دينارو سره خرڅ کړي کوم چې د کور اصل قيمت دی مثلاً د کور اصل قيمت لس زر درهمه دی نو لس زره درهمو ته دې حساب وکړي چې څو ديناره کيږي مثلاً هغه سل ديناره کيږي. نو لنډه دا چې بائع او مشتري دې د سلو دينارو په عوض کي د اصل ثمن (پنځوس زره درهمو) تبادله سره وکړي (يا په آسانه وينا دا چې بائع دې له مشتري څخه في الحاله د پنځوس

زره درهمو پر ځای سل دیناره واخلي) چې دا په یو توګه بیعِ صَرف ده، نو اوس د دې فایده دا ده چې که شفیع دا کور اخلي، نو په پنځوس زر درهمه به یې اخلي (کوم چې اصلِ ثمن دی)، او که دا کور د بل چا مستحق وخېږي، نو څرنګه چې د مستحق ختلو په وجه پر مشتري ګرسره ثمن واجب پاتـه نـه سو چې بائع هغه واپس ورکړي نو په دې توګه بائع له اصل ثمن څخه خلاص سو. فقط هغه سل دیناره د بائع پر ذمه پاتـه سوه کوم چې د اصل ثمن په عوض کې مشتري هغه تـه ورکړي وه (یعني کوم چې دوی بیع صَرف پر کړې وه)، او تاسو ته معلومه ده چې په بیع صَرف کې پر دواړو ثمنینو قبضه شرط ده او دلته قبضه سوې نه وه (بلکې پنځوس زره درهمه خو تر اوسه د مشتري پر ذمه پاته وه او بائع ته یې ورکړي نه وه)، نو بیع صَرف هم باطله سوه، لهذا اوس به بائع فقط هغه مقدار واپس ورکوي کوم چې ده تـه ورکـول سوی وو چې هغه دلته سل دیناره دي، نو په دې توګه مار هم مړ سو او لکړه هم ماته نه سوه یعني د شفیع له ضرر څخه هم حفاظت وسو او د بائع ضرر هم لیرې سو. (همدا د فتح القدیر د عبارت حاصل دی کوم چې موږ په آسانه پښتو تفصیلاً بیان کړی افتح القدیر ج: ۷، ص: ۱۴۴۹).

د شفعې د ساقطولو حیلې شرعي حیثیت

قَالَ: وَلَا تُكْرَهُ الْحِيلَةُ فِي إِسْقَاطِ الشُّفْعَةِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ فرمایي: او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نـېـز د شفعې د ساقطولو لپاره حیله کول مکروه نه دي وَتُكْرَهُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ ❁ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نـېـز مکروه دي لِأَنَّ الشُّفْعَةَ إِنَّمَا وَجَبَتْ لِدَفْعِ الضَّرَرِ ځکه چې شفعه د ضرر دفع کولو [لیرې کولو] لپاره ثابته سوې ده وَلَوْ أَبَحْنَا الْحِيلَةَ مَا دَفَعْنَاهُ او که موږ حیله روا وګرځوو نو ضرر مو دفع نه کړی سو [یعني د حیلې په صورت کې ضرر نه دفع کیږي] وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ مَنْعٌ عَنْ إِثْبَاتِ الْحَقِّ د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې حیله د حق د ثابتولو منع کول دي [یعني حیله د دې لپاره ده چې د شفیع حق (حقِ شفعه) ثابت نه سي او داسي نه ده چې حیله د شفیع د ثابت سوي حق ساقطول دي] فَلَا يُعَدُّ ضَرَرًا نو ځکه

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وتكره الحيلة لإسقاط الشفعة بعد ثبوتها وفاقًا (عند الجميع)...أما الحيلة لدفع ثبوتها ابتداءً فعند أبي يوسف رَحِمَهُ الله لا تكره وعند محمد رَحِمَهُ الله تكره، ويفتى بقول أبي يوسف رَحِمَهُ الله في الشفعة (الدر المختار ج:٥، ص:١٧٣)، وقال شمس الأئمة السرخسي رَحِمَهُ الله: لا بأس بالاحتيال لإبطال حق الشفعة على كل حال.... وبعد وجوب الشفعة لا يكره الاحتيال أيضًا، لأن الاحتيال لدفع الضرر عن نفسه،لا لإضرار بالغير...(نتائج الأفكار ج:٨، ص:٣٤٧)

والحاصل أن الفتوى في الحيلة لإسقاط الشفعة على قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، والفتوى في الحيلة لإسقاط الزكاة على قول محمد رَحِمَهُ الله يعني تكره الحيلة لإسقاط الزكاة ولا تكره لإسقاط الشفعة. [القول الراجح ج:٢، ص:٢٧٥ - ٢٧٦]

دا به ضرر نه شمېرل کېږي وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ الْحِيْلَةُ فِيْ إِسْقَاطِ الزَّكَاةِ او د زکاة ساقطولو حيله هم پر دغه اختلاف ده.

اللغات: ﴿إسقاط﴾ د افعال مصدر دی: ساقطول. ﴿أبحنا﴾ د افعال له بابه جمع متکلم ماضي صيغه ده، أَبَاحَ يُبِيْحُ إِبَاحَةً: مباح کول، روا ګرځول (روا کول). ﴿ضرر﴾ نقصان.

تشريح: د شفعي د حيلې مختلفه صورتونه ستاسي مخته تېر سوه، دلته دا بيانوي چي آيا دغه د شفعي د ساقطولو او باطلولو حيله اختيارول صحيح هم دي، که نه؟.

د عبارت حاصل دا دی چي امام محمد رَحِمَهُ الله دا مکروه بولي؛ د هغه دليل دا دی چي شفعه د شفيع د ضرر دفع کولو لپاره مشروع سوې ده (لکه مخکي چي د دې تفصيل تېر سو)، او په حيله کي د شفيع د حق ساقطول لازمېږي، نو د ضرر دفع به له کومه وسي!، دا خو په خپله يو ډول ضرر دی، نو ځکه مکروه ده.

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د حيلې اختيارولو اجازت ورکړی دی؛ او دليل يې دا دی چي دا هغه وخت ضرر شمېرل کېږي چي د شفيع ثابت سوی حق ساقط کړی سي، او دلته (د حيلې په صورت کي) تر اوسه د شفيع حق ثابت سوی نه دی بلکي مخکي يې د حيلې په ذريعه د هغه ثابتېدلو امکان ختم کړی، لهذا دا خو ضرر نه سو، نو ځکه د شفيع د حق ختمولو لپاره د حيلې اختيارول روا دي او مکروه نه دي.

او د زکاة ساقطولو لپاره حيله کول هم پر دغه اختلاف دي چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز مکروه نه دي او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز مکروه دي.

په مجمع الأنهر کي ذکر سوي دي چي د شفعي له ثابتېدلو څخه مخکي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله پر قول فتوىٰ ده چي حيله مکروه نه ده او تر ثابتېدلو وروسته بالاجماع مکروه ده. بيا يې ويلي دي چي زما په نېز غوره دا ده چي د شفعي ساقطولو حيله مکروه نه ده او د زکاة ساقطولو حيله مکروه ده (ځکه په دې کي د غريبانو نقصان دی).



مَسَائِلُ مُتَفَرِّقَةٌ

بېلا بېلي مسئلې

که د جایداد رانیونکي یا خرخونکي څو کسان وي نو د شفعي څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِذَا اشْتَرَى خَمْسَةُ نَفَرٍ دَارًا مِنْ رَجُلٍ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغیر کي] فرمايي: او کله چي پنځه کسان [په ګډه] له يوه سړي څخه کور رانيسي فَلِلشَّفِيعِ أَنْ يَأْخُذَ نَصِيبَ أَحَدِهِمْ نو شفيع لره دا اختيار سته چي په دوی کي د يوه حصه واخلي وَإِنْ اشْتَرَاهَا رَجُلٌ مِنْ خَمْسَةٍ او که يو سړی له پنځو کسانو څخه کور رانيسي أَخَذَهَا كُلَّهَا أَوْ تَرَكَهَا نو شفيع به ټوله کور اخلي يا به يې پرېږدي وَالْفَرْقُ أَنَّ فِي الْوَجْهِ الثَّانِي بِأَخْذِ الْبَعْضِ تَتَفَرَّقُ الصَّفْقَةُ عَلَى الْمُشْتَرِي او [په دې دواړو صورتونو کي] فرق دا دی چي په دويم صورت کي د کور د يو حصې په اخيستلو سره پر مشتري صفقه [عقد] متفرق کيږي فَيَتَضَرَّرُ بِهِ زِيَادَةَ الضَّرَرِ او په دې سره هغه ته زائد ضرر رسيږي وَفِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ يَقُومُ الشَّفِيعُ مَقَامَ أَحَدِهِمْ او په اول صورت کي شفيع په دوی کي د يوه قائم مقام کيږي فَلَا تَتَفَرَّقُ الصَّفْقَةُ نو [په دې صورت کي] صفقه نه متفرق کيږي.

اللغات: ﴿نصيب﴾ حصه، برخه. ﴿صفقة﴾ عقد، معامله.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که زيد له پنځو کسانو څخه يو کور رانيوی او د دغه کور شفيع ووېل چي زه فقط د يوه کس حصه رانيسم او پاته حصې نه غواړم، نو په دې کي د مشتري (زيد) ضرر دی؛ ځکه چي د مشتري دغومره کور او ځای پکار وو کوم چي يې رانيولی دی، اوس که له دې څخه يوه حصه شفيع ته ورکول سي، نو مشتري غريب به د دې حصې په اندازه د يو بل ځای رانيولو ته مجبوره سي چي ضرورت يې پوره سي، نو په دې سره پر مشتري د صفقې متفرق کېدل لازميږي، او مخکي (په هدايه جلد ثالث) کي څو ځله ذکر سوه چي تفرق صفقه ممنوع دي، نو ځکه په دې صورت کي د شفيع لپاره حکم دا دی چي يا ټوله کور دي واخلي يا ټوله دي پرېږدي، فقط د يوه کس حصه نه سي اخيستلای.

او بل صورت دا دی چي زید مثلاً پر پنځو کسانو خپل کور خرځ کړی، نو په دې صورت کي شفیع ته دا حق هم سته چي ټوله کور واخلي او دا حق هم ورته سته چي له دې پنځو کسانو څخه صرف دیوه حصه واخلي او دهغه قائم مقام سي: ځکه په دې صورت کي تفرّق صفقه نه لازمیږي. او مشترین (رانیونکي کسان) له مخکي څخه متفرق دي چي په دوی کي دیوه کس قائم مقام شفیع سو. لهذا کله چي په دې صورت کي تفرّق صفقه نسته. نو په دې کي به د مشتري ضرر هم نه وي. او کله چي د مشتري ضرر پکښي نسته. نو ځکه شفیع ته به فقط دیوه کس د حصې اخیستلو اختیار هم وي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَا فَرْقَ فِي هٰذَا بَيْنَ مَا إِذَا كَانَ قَبْلَ الْقَبْضِ أَوْ بَعْدَهُ او په دې کي [چي شفیع دیوه کس حصه واخلي] تر قبضي د مخه یا وروسته تر مینځ هیڅ فرق نسته هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحیح قول دی إِلَّا أَنَّ قَبْلَ الْقَبْضِ لَا يُمْكِنُهُ أَخْذُ نَصِيبِ أَحَدِهِمْ إِذَا نَقَدَ مَا عَلَيْهِ مَا لَمْ يَنْقُدِ الْآخَرُ حِصَّتَهُ مګر تر قبضې مخکي دده لپاره په دوی کي دیوه کس حصه اخیستل ممکن نه دي کله چي پر خپل ذمه واجب سوی ثمن اداء کړي [تر هغه وخته ممکن نه دي] تر څو چي بل یو خپل حصه [د ثمن] اداء نه کړي كَيْلَا يُؤَدِّيَ إِلَى تَفْرِيقِ الْيَدِ عَلَى الْبَائِعِ بِمَنْزِلَةِ أَحَدِ الْمُشْتَرِيَيْنِ د دې لپاره چي دئ له دوو مشتریانو څخه دیوه مشتري په درجه کېدلو سره پر بائع د قبضې د تفریق سبب جوړ نه سي بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْقَبْضِ په خلاف تر قبضې وروسته لِأَنَّهُ سَقَطَتْ يَدُ الْبَائِعِ ځکه چي [په دې وخت کي] د بائع قبضه ساقطه سوې ده وَسَوَاءٌ سَمّٰى لِكُلِّ بَعْضٍ ثَمَنًا أَوْ كَانَ الثَّمَنُ جُمْلَةً او برابره ده بائع د هري حصې لپاره [جلا جلا] ثمن بیان کړي یا ثمن مجموعي وي [یعني د ټولو قیمت پر یوه ځای (مجموعتاً) بیان کړي] لِأَنَّ الْعِبْرَةَ فِي هٰذَا لِتَفَرُّقِ الصَّفْقَةِ ځکه چي په دې کي د صفقې متفرّق کېدلو لره اعتبار دی لَا لِلثَّمَنِ نه ثمن لره وَهٰهُنَا تَفْرِيعَاتٌ ذَكَرْنَاهَا فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي او دلته نور تفریعات هم سته کوم چي موږ په کفایت المنتهي کي ذکر کړي دي.

اللغات: ﴿الید﴾ قبضه. ﴿سمّى﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: نومول. بیانول. متعینول او مقررول.

تشریح: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي کومه مسئله مخکي بیان سوه د هغې همداغه حکم دی (کوم چي مخکي ذکر سو). برابره ده مشتري کس تر اوسه قبضه کړې وي او که نه وي. په دواړو

خو دومره فرق سته چي که مشتري (رانیونکي) څو کسان وي او تر اوسه دوی پر مبیع (کور) قبضه نه وي کړې چي په دې دوران کي شفیع له دوی څخه د یوه حصه (په شفعه سره) رانیسي او بائع ته خپل ثمن ور کړي (کوم چي د شفیع پر ذمه واجب دی)، نو تر څو چي نور شریکان د خپلو حصو ثمن اداء نه کړي تر هغه وخته بائع ته دا حق سته چي له شفیع څخه خپله حصه را وګرځوي او هغه ته یې نه وسپاري (که څه هم شفیع ثمن اداء کړی دی)، د دې لپاره چي پر بائع د قبضې تفریق لازم نه سي (او د قبضې متفرق کېدلو له بوج څخه بائع خوندي کړی سي). لکه کله چي مشتري (رانیونکي) دوه کسان وي نو هلته هم دغه حکم دی.

او که چیري مشتري قبضه کړې وي، نو بیا شفیع تر ثمن اداء کولو وروسته خپله حصه له بائع څخه اخیستلای سي، برابره ده بائع د هري حصې ثمن جلا بیان کړی وي یا یې د ټوله کور مجموعي یو ثمن بیان کړی وي. په دواړو صورتونو کي دغه حکم دی.

دلته یو سوال واردېږي چي که ثمن مجموعي وي، نو بیا د هغه تفرقه لازمیږي او تاسو وایاست چي په دواړو کي هیڅ فرق نسته؟

د دې جواب دا دی چي دلته د صفقې اتحاد لره اعتبار دی، نه د ثمن اتحاد لره. نو (د مشتري په حق کي) تفرق صفقه مُضِر دی، نه تفرقِ ثمن.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د دې مسئلې نور تفریعات او مثالونه موږ په کفایة المنتهي کي بیان کړي دي.

د مشترک کور د یوې حصې خرخولو په صورت کي د شفعي تفصیلي حکم

قَالَ: وَمَنِ اشْتَرَى نِصْفَ دَارٍ غَيْرِ مَقْسُومٍ فرمایي: او که څوک د ناتقسیم سوي کور نصف [نیمه حصه] رانیسي فَقَاسَمَهُ الْبَائِعُ بیا د هغه سره بائع تقسیم وکړي أَخَذَ الشَّفِيعُ النِّصْفَ الَّذِي صَارَ لِلْمُشْتَرِي نو شفیع به هغه نصف اخلي کوم چي د مشتري دی أَوْ يَدَعُ یا به یې پرېږدي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ مِنْ تَمَامِ الْقَبْضِ ځکه چي تقسیم د قبضې له پوره والي [پوره کونکي] څخه دی [یعني دلته تقسیم د قبضې پوره کوونکی دی] لِمَا فِيهِ مِنْ تَكْمِيلِ الِانْتِفَاعِ ځکه چي په هغه کي د انتفاع بشپړتیا ده [ځکه له تقسیم څخه بغیر مشتري له خپل حصې څخه نفع نه سي اخیستلای] وَلِهَذَا يَتِمُّ الْقَبْضُ بِالْقِسْمَةِ فِي الْهِبَةِ همدا وجه په ده چي په هبه کي په تقسیم سره قبضه پوره کیږي وَالشَّفِيعُ لَا يَنْقُضُ الْقَبْضَ او شفیع قبضه نه سي ماتولای وَإِنْ كَانَ لَهُ نَفْعٌ فِيهِ بِعَوْدِ الْعُهْدَةِ عَلَى الْبَائِعِ که څه هم په دې [قبضه ماتولو] کي د شفیع فایده ده پر بائع د بیع د ذمه واري په راجع کېدلو سره [په بله وینا دا چي که څه هم د مشتري په

قبضه ماتولو کې د شفیع فایده ده چې د هغه بیع به براه راست د بائع سره شمارل کیږي. لهذا که څه هم د هغه فایده پکښې ده لیکن هغه قبضه نه سي ماتولای] فَكَذَا لَا يَنْقُضُ مَا هُوَ مِنْ تَمَامِهِ نو همداسي به هغه څه هم نه سي ماتولای کوم چې د قبضې له پوره والي [پوره کونکي] څخه دی [چې هغه تقسیم دی] بِخِلَافِ مَا إِذَا بَاعَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ نَصِيبَهُ مِنَ الدَّارِ الْمُشْتَرَكَةِ په خلاف د هغه صورت کله چې یو شریک له مشترک کور څخه خپله حصه خرڅه کړي وَقَاسَمَ الْمُشْتَرِي الَّذِي لَمْ يَبِعْ او مشتري د هغه شریک سره تقسیم وکړي کوم چې خپله حصه نه وي خرڅه کړې حَيْثُ يَكُونُ لِلشَّفِيعِ نَقْضُهُ نو [په دې صورت کې] شفیع لره د تقسیم ماتولو اختیار سته لِأَنَّ الْعَقْدَ مَا وَقَعَ مَعَ الَّذِي قَاسَمَ ځکه مشتري چې د چا سره تقسیم کړی دی عقد د هغه سره نه دی واقع سوی فَلَمْ تَكُنِ الْقِسْمَةُ مِنْ تَمَامِ الْقَبْضِ الَّذِي هُوَ حُكْمُ الْعَقْدِ نو ځکه [دلته] تقسیم د قبضې له تمامیت څخه نه سو هغه قبضه کوم چې د عقد حکم دی بَلْ هُوَ تَصَرُّفٌ بِحُكْمِ الْمِلْكِ بلکي دا د ملکیت په حکم سره [د مشتري] تصرّف دی فَيَنْقُضُهُ الشَّفِيعُ كَمَا يَنْقُضُ بَيْعَهُ وَهِبَتَهُ نو دا [د مشتري] تصرّف شفیع ماتولای سي لکه څرنګه چې د مشتري بیع او هبه ماتولای سي.

اللغات: ﴿قَاسَمَ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: یو د بل سره تقسیم (ویش) کول. ﴿صار﴾ د ضرب د باب ماضي ده: کېدل، ګرځېدل... ﴿عَوْد﴾ د ضرب مصدر دی: راګرځېدل، واپس کېدل. ﴿عهدة﴾ ذمه واري، مدار. ﴿تمام﴾ د ضرب مصدر دی: پوره والی، بشپړ والی، پوره کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې زید د کور نصف (نیمه حصه) یعني نیم کور پر خالد خرڅ کړی او دا کوم نصف چې یې پر خرڅ کړی دا غیر مقسوم دی (یعني تر اوسه یې تقسیم کړی او ویشلی نه دی چې دا نیمه حصه یې ستا ده او دا بله زما ده)، بیا مشتري (خالد) او بائع (زید) تقسیم او ویش سره وکړی (یعني د مشتري نیمه حصه یې ور جلا کړه چې د دې طرف نیمه حصه ستا ده...)، نو اوس د دغه کور شفیع ته صرف دا اختیار سته چې کومه حصه و کوم طرف ته هم د مشتري په حصه کې راغلې ده، هغه دې په (په شفعه سره) واخلي. کنې شفعه دې پرېږدي (یعني داسي نه سي کولای چې خاص هغه نیمه حصه واخلي کوم چې د ده د کور سره متصل ده بلکي صرف د مشتري حصه به اخلي هغه که هر طرف ته وي).

او که شفیع دا وغواړي چې دغه د مشتري تقسیم (یا په بله وینا د مشتري قبضه) مات کړم او زه په خپله د بائع (زید) سره تقسیم وکړم، نو شفیع ته د دې اختیار نسته؛ که څه هم په دې کې د شفیع

فایده ده چي د بیع مدار او ذمه واري به د بائع وطرف ته سي (یا په بله وینا دا چي د بیع مدار به پر بائع سي)؛ ځکه د بیع مدار مخکي د مشتري وطرف ته وو، او اوس چي خودي شفیع د بائع سره تقسیم وکړي، نو د بیع مدار به د بائع وطرف ته وګرځي او داسي به وي لکه شفیع چي په خپله د بائع سره بیع کړې ده (یعني ګواکي خودي شفیع مشتری دی) نو په دې کي د شفیع فایده دا ده چي شفیع به د خپلي خوښي مطابق هغه حصه واخلي کوم چي د شفیع د ځمکي سره متصل ده.

لنډه دا چي که څه هم په دې تقسیم ماتولو کي د شفیع فایده سته، خو شفیع ته بالکل د دې حق نسته چي (د بائع او مشتري تر مینځ سوی) دا تقسیم مات کړي؛ ځکه چي تقسیم د قبضې پوره کونکی (مُتمِّم) دی یعني په تقسیم سره (د مشتري) قبضه پوره سوې ده (ځکه تر څو چي کور تقسیم سوی نه وي تر هغه وخته مشتري پر خپله حصه قبضه نه سي کولای چي نفع ځني واخلي، بلکي تر تقسیم او وېش وروسته چي کله د ده حصه معلومه کړی سي نو بیا قبضه پر کولای سي، نو ګواکي په تقسیم سره د مشتري قبضه صحیح او پوره سوه). او قاعده دا ده چي شفیع (د مشتري) قبضه او د قبضې پوره کونکی سبب (چي هغه دلته تقسیم دی) نه سي ماتولای، نو په دې وجه شفیع ته د تقسیم ماتولو اختیار نسته، بلکي کومه حصه چي د مشتري په جانب کي راغلې ده فقط هغه اخیستلای سي، لهذا که شفیع هغه حصه نه غواړي، نو شفعه به پرېږدي.

ولهٰذا إلخ: څه مخکي صاحب د هدایې وفرمایل چي تقسیم د قبضې پوره کونکی (متمّم) دی (یعني په وېش او تقسیم سره قبضه پوره سوې ده)، اوس په دغه عبارت (ولهذا إلخ) سره د هغه یو مثال بیانوي چي مثلاً که یو څوک خپل ځمکه حامد ته هبه کړي، نو تر څو چي هغه (واهب) ځمکه تقسیم نه کړي او د موهوب لهٗ (حامد) حصه معلومه نه کړي، پر هغه ځمکه د موهوب لهٗ قبضه نه پوره کیږي یعني په قبضه کي یې نه راځي (او هبه نه ثابتیږي)، نو څرنګه چي په هبه کي په تقسیم سره قبضه پوره کیږي، همداسي په بیع کي هم په تقسیم او وېش سره قبضه پوره کیږي.

بخلاف إلخ: د مخکیني صورت بالمقابل یو بل صورت بیانوي، فرمایي څرنګه چي په مخکیني صورت کي د بائع او مشتري تر مینځ تقسیم (وېش) سوی دی، په همدې وجه هلته شفیع ته د تقسیم ماتولو اختیار نه دی ورکول سوی، لیکن که له دوو شریکانو څخه یو شریک خپله حصه مثلاً پر خالد خرڅه کړي او مشتري (خالد) د هغه بل شریک سره تقسیم وکړي کوم چي خپله حصه نه ده خرڅه کړې او خرڅونکی شریک پرېږدي، نو په دې صورت کي شفیع ته د تقسیم ماتولو اختیار سته؛ ځکه چي دلته تقسیم د قبضې پوره کونکی (متمّم) نه دی؛ ځکه دلته تقسیم د بائع له طرفه نه دی سوی، بلکي د داسي کس له طرفه سوی دی کوم چي له عقد څخه خارج او اجنبي دی، او مخکي ذکر سوه چي شفیع ته د مشتري د هر تصرّف ماتولو او ختمولو اختیار سته برابره ده هغه بیع وي او که هبه

او داسي نور وي (ماسوا د مشتري له قبضې او هغه چي د قبضې متمم وي)، او دلته تقسیم هم یو ډل تصرف دی، نو ځکه شفیع ته به د هغه د ماتولو هم اختیار وي.

یادونه: بخلاف ما إذا باع إلخ: د دې صورت دا دی چي که یو شریک خپله حصه خرڅه کړه او دویم شریک د شفعي له طلب څخه اعراض وکړی چي زه خپل شفعه نه غواړم، نو په دې صورت کي همسایه (جَار) ته حق شفعه رسیږي، کنې که شریک خپل شفعه نه پریږدي نو په دې صورت کي شریک في الحقوق (مثلاً په لاره کي شریک) او همسایه ته شفعه نه حاصلیږي، لکه مخکي چي د دې تفصیلات تیر سوي دي.

په پورتنی مسئله کي یو وضاحت

ثُمَّ إِطْلَاقُ الْجَوَابِ فِي الْكِتَابِ يَدُلُّ عَلَى أَنَّ الشَّفِيعَ يَأْخُذُ النِّصْفَ الَّذِي صَارَ لِلْمُشْتَرِي فِي أَيِّ جَانِبٍ كَانَ بیا په کتاب [جامع صغیر کي] د حکم مطلق کېدل پر دې دلالت کوي چي شفیع به د مشتري والا نصف اخلي برابره ده هغه په هر طرف کي وي وَهُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي يُوسُفَ او همدا له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي لِأَنَّ الْمُشْتَرِيَ لَا يَمْلِكُ إِبْطَالَ حَقِّهِ بِالْقِسْمَةِ ځکه چي مشتري په تقسیم کولو سره د هغه د حق باطلولو ملکیت [اختیار] نه لري وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ إِنَّمَا يَأْخُذُهُ إِذَا وَقَعَ فِي جَانِبِ الدَّارِ الَّتِي يَشْفَعُ بِهَا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چي شفیع دا نصف هم هغه وخت اخیستلای سي کله چي دا د هغه کور په طرف [څنګ] کي واقع وي چي د هغه په وجه شفیع د شفعي حقدار جوړیږي [یعني چي د شفیع د کور په طرف کي واقع وي] لِأَنَّهُ لَا يَبْقَى جَارًا فِيمَا يَقَعُ فِي الْجَانِبِ الْآخَرِ ځکه چي شفیع په هغه صورت کي همسایه نه پاتیږي کله چي دا نصف په بل طرف کي واقع وي.

اللغات: ﴿إطلاق﴾ د افعال د باب مصدر دی: مطلق کېدل، مطلق والی.

تشریح: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي په جامع صغیر کي چي کوم دا "أخذ الشفیع النصف الذی صار للمشتری" مطلق راغلي دي (چي د تیر عبارت په متن کي ذکر سوه)، له دغه اطلاق څخه دا معلومیږي چي برابره ده د مشتري رانیول سوی نصف (نیمه حصه) د شفیع د کور وطرف ته وي یا بل طرف ته وي، په هر صورت کي شفیع هغه نصف (په شفعه سره) اخیستلای سي.

او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه همدا نقل سوي دي او همدا غوره او مختاره ده، چي د شفیع د حق باطلول لازم نه سي، کنې بیا دا کېدای سي چي بائع او مشتري دواړه اتفاق وکړي او د مشتري

حصه د شفیع د کور له طرف څخه جلا په بل طرف کې وپلورل شي او ورپسې يې په ټول سوداګر کې پلورل چې دا حصه د شفیع د حق شفعه ابطال (باطلول) ستاسو ته معلومه ده چې تر اثبات وروسته د حق ابطال نه کېږي. او پاتې سو په حیله کې د حق شفعه تر اثبات مخکې دا هغه د إسقاط تدبیر کېدی، نه د حق شفعه تر اثبات وروسته (له مخکې چې هم دا خبره ضمناً ذکر سوه).

او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دا نقل سوي دي چې که د مشتري نصف د شفیع په طرف کې وي نو شفیع هغه (په شفعه سره) اخیستلای سي او که په بل طرف کې وي نو بیا یې نه سي اخیستلای؛ ځکه چې په دې صورت کې شفیع همسایه (جار) نه پاتېږي، حال دا چې هغه د همدې همسایه والي (جوار) پر بنیاد شفعه اخلي.

د مأذون غلام او مالک تر مینځ د شفعي بیان

قَالَ: وَمَنْ بَاعَ دَارًا وَلَهُ عَبْدٌ مَأْذُونٌ عَلَيْهِ دَيْنٌ فرمايي: او که څوک کور خرڅ کړي او د هغه یو مأذون غلام وي چې په هغه قرض باندي وي فَلَهُ الشُّفْعَةُ نو هغه غلام لره شفعه سته وَكَذَا إِذَا كَانَ الْعَبْدُ هُوَ الْبَائِعُ او همدارنګه کله چې غلام بائع وي فَلِمَوْلَاهُ الشُّفْعَةُ نو د هغه مالک لره شفعه سته لِأَنَّ الْأَخْذَ بِالشُّفْعَةِ تَمَلُّكٌ بِالثَّمَنِ ځکه چې په شفعه سره اخیستل په ثمن سره مالک جوړېدل دي [یعني د شفعي په ذریعه کور اخیستل ګواکې هغه په قیمت رانیول دي] فَيُنَزَّلُ مَنْزِلَةَ الشِّرَاءِ نو ځکه دا [په شفعه سره اخیستل] به د رانیولو په منزله ګرځول کېږي وَهٰذَا لِأَنَّهُ مُفِيدٌ او دا ځکه چې دا [په شفعه سره اخیستل] مفید دي لِأَنَّهُ يَتَصَرَّفُ لِلْغُرَمَاءِ ځکه چې هغه [غلام] د خپلو قرضخواهانو لپاره تصرف کوي بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ دَيْنٌ په خلاف د هغه صورت کله چې پر غلام قرض نه وي لِأَنَّهُ يَبِيعُهُ لِمَوْلَاهُ ځکه چې [په دې صورت کې] غلام د خپل مالک لپاره خرڅول کوي وَلَا شُفْعَةَ لِمَنْ بِيْعَ لَهُ او د چا لپاره چې خرڅ کړی سي د هغه لپاره شفعه نسته.

اللغات: ﴿غرماء﴾ جمع د غَرِيمٌ ده: قرضخواه، قرض غوښتونکی یعني د قرض مالک. ﴿يُنـزّل﴾ د تفعیل د باب مضارع مجهوله ده: شوه کول (صحیح همدا ده چې په دې معنیٰ د تفعیل له بابه مستعمل دی). يُنزّل منزلةً: یو شی د بل په درجه کې شوه کول (د بل شي په منزله ګرځول). یو څه د بل څه پر ځای اېښوول، د بل شي قائم مقام کول. ﴿المَنْزِلة﴾ مکان او مرتبه، درجه.

یادونه: مأذون غلام هغه غلام ته وايي چې مالک د تجارت او کاروبار اجازت ورکړی وي. د داسي غلام خرڅول و رانیول (بیع و شراء) جائز دي. او بل دا چې کوم څه د مأذون غلام په قبضه کې دي هغه

ټوله د ده د مالک (مولیٰ) دي، د ده بيع و شراء او د ده شرط ټوله د مالک لپاره واقع کيږي او د ده قرض به مالک اداء کوي. دا په هغه وخت کي کله چي پر مأذون غلام دينِ مستغرق يعني دومره قرض نه وي کوم چي د ده پر رقبه محيط وي (يعني دومره قرض چي د ده تر قيمت زيات وي)، کنې که پر هغه دومره قرض وي، نو پر مالک ضروري نه ده چي د ده قرض اداء کړي، خو که هغه يې اداء کړي نو صحيح ده، کنې هغه به دا غلام خرڅوي او قرض به په اداء کوي، او پر غلام د قرض باندي کېدلو په صورت کي د غلام بيع وشراء د مالک لپاره نه بلکي د قرضخواهانو (غرماؤ) لپاره واقع کيږي. دا تفصيل په يادلرئ!.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي مأذون غلام يو کور د تجارت په غرض رانيولی دی اوس هغه خرڅوي او د هغه په جوار کي د ده د مالک کور دی، نو آيا مالک ته شفعه حاصليږي، که نه؟، په دې هکله حکم دا دی چي کـه دا مأذون غلام مقروض وي (يعني دينِ مستغرق پر وي) نو مالک ته شفعه حاصليږي همدارنګه د مالک د کور خرڅولو په صورت کي مأذون غلام تـه هم شفعه حاصليږي. او که مأذون غلام مقروض نه وي نو مالک ته شفعه نه حاصليږي همدارنګه د مالک د خرڅولو په صورت کي ده ته هم شفعه نه حاصليږي. ځکه چي په اول صورت کي (يعني چي دئ مقروض وي) د ده بيع و شراء د مالک لپاره نه دي نو له شفعي څخه هيڅ مانع نسته، او په دويم صورت کي د ده بيع وشراء د مالک لپاره دي نو ځکه مالک ته شفعه نه حاصليږي.

لېکن د شرط په صورت کي بيا په دې دويم صورت کي هم مالک تـه شفعه حاصليږي چي د دې تفصيل مخکي د قاعده کليه په ضمن کي تېر سو چي په هغه کي ذکر سوي وه چي د چا لپاره (مشفوعه جايداد) خرڅ کړی سي د هغه لپاره شفعه نسته. او د چا لپاره چي رانيول سي د هغه لپاره شفعه سته.

لأن الأخذ بالشفعة إلخ: د پورتنۍ مسئلې دليل دا دی چي په شفعه سره اخيستل د شراء (رانيولو) په درجه کي دي ځکه څرنګه چي په شراء کي ثمن ورکول کيږي او مبيع اخيستل کيږي. همداسي په شفعه کي هم کيږي. او کله چي پر غلام دينِ مستغرق وي، نو په دې وخت کي د ده او مالک (ترمينځ) يو د بل سره بيع و شراء کول صحيح دي، نو همداسي به د دوی يو له بل څخه شفعه اخيستل هم صحيح او جائز وي.

د کوچني هلک (صغير) له طرفه د هغه د پلار يا وصي د شفعي پرېښودلو حکم

قَالَ: وَتَسْلِيْمُ الْأَبِ وَالْوَصِيِّ الشُّفْعَةَ عَلَى الصَّغِيْرِ جَائِزٌ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ فرمايي: او د کوچني له طرفه د پلار يا وصي شفعه پرېښوول د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز جائز دي وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ رَحِمَهُمَا اللهُ: هُوَ عَلَى شُفْعَتِهِ إِذَا بَلَغَ امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي کوچنی پر خپل شفعه [حقِ شفعه] پاتيږي کله چي بالغ سي قَالُوْا: وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا بَلَغَهُمَا شِرَاءُ دَارٍ بِجِوَارِ دَارِ الصَّبِيِّ مشايخو فرمايلي دي: چي پر همدغه اختلاف دا مسئله هم ده چي کله پلار او وصي ته د کوچني د څنګ والا کور د شراء [خرڅېدلو] خبر

ورکول سي فَلَمْ يَطْلُبَا الشُّفْعَةَ لېکن دوی شفعه طلبه نه کړي وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ تَسْلِيْمُ الْوَكِيْلِ بِطَلَبِ الشُّفْعَةِ فِيْ رِوَايَةِ كِتَابِ الْوِكَالَةِ او [دمبسوط] د کتابُ الوکالة د روايت مطابق د طلبِ شفعه د وکيل شفعه پرېښوول هم پر دغه اختلاف دي وَهُوَ الصَّحِيْحُ او همدا صحيح ده لِمُحَمَّدٍ وَزُفَرَ: أَنَّهُ حَقٌّ ثَابِتٌ لِلصَّغِيْرِ د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي شفعه د کوچني لپاره ثابت سوی حق دی فَلَا يَمْلِكَانِ إِبْطَالَهُ نو ځکه پلار او وصي به د هغه د باطلولو ملکيّت نه لري كَدِيَتِهِ وَقَوَدِهِ لکه د کوچني ديت او قصاص [چي پلار او وصي يې د باطلولو ملکيت نه لري] وَلِأَنَّهُ شُرِعَ لِدَفْعِ الضَّرَرِ ځکه چي حقِ شفعه د ضرر ليري کولو لپاره مشروع سوی ده فَكَانَ إِبْطَالُهُ إِضْرَارًا بِهِ نو د هغه باطلول کوچني ته ضرر رسول دي.

اللغات: ﴿تسليم﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مخکي ثو ځله د دې تفصيل تېر سوی دی چي دلته د دې لفظ معنیٰ راځي: خپل حقِ شفعه پرېښوول، له خپل شفعي څخه لاس په سر کېدل. ﴿شراء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: دا لفظ له اضدادو څخه دی، يعني اصل معنیٰ يې "رانيول" ده خو بعضي وخت د "خرڅولو" معنیٰ هم ورکوي، همدارنګه د بيع لفظ هم له اضدادو څخه دی. ﴿قود﴾ مراد: قصاص (احسن الهدايه). ﴿يملكان﴾ د ضرب له بابه د تثنيه غائب مضارع صيغه ده: مالک کېدل، ملکيت او اختيار لرل. ﴿إبطال﴾ د افعال د باب مصدر دی: باطلول او ختمول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي يو کوچني هلک ته د خپل مور په ميراث کي يو کور رسېدلی دی، اتفاقاً د هغه کور څنګ ته يو کور خرڅ سو او دې کوچني هلک ته حقِ شفعه حاصل سو، لېکن د ده پلار يا (د پلار په ناموجوديت کي) وصي شفعه پرېښووله، نو آيا واقعي د ده حقِ شفعه ختمېږي؟، په دې باره کي اختلاف دی، امام صاحب او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د پلار يا وصي په تسليم (شفعه پرېښوولو) سره د کوچني حق ختمېږي، امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د کوچني حق نه ختمېږي او تر بالغ کېدو وروسته هغه ته خپل حقِ شفعه حاصلېږي. پر همدغه اختلاف هغه صورت هم متفرع دی چي د کوچني هلک د کور څنګ ته متصل بل کور خرڅ سي خو پلار يا وصي طلبِ شفعه نه وکړي. همدارنګه هغه مسئله هم ده چي که يو څوک بل کس د طلبِ شفعه وکيل جوړ کړي او وکيل يې طلب نه وکړي (شفعه پرېږدي)، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې ټولو صورتونو کي شفعه باطله ده او د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نېز باقي ده او باطلول يې صحيح نه دي.

لمحمد إلخ: له دې ځایه د دوی دلیل ذکر سوی دی. حاصل یې دا دی چې شفعه د شریعت له طرفه یو ثابت سوی حق دی، او کوم حق چې د شریعت له طرفه ثابت وي، بل څوک د هغه د باطلولو ملکیت (اختیار) نه لري، مثلاً قصاص او دیت د شریعت له طرفه ثابت سوي حقوق دي چې له حقداره کس (صاحب حق) څخه بغیر بل څوک هغه نه سي باطلولای. لهذا شفعه هم پلار یا وصي نه سي باطلولای. او بل دا چې د شفعي مقصد خو د ضرر لیرې کول دي (لکه مخکې چې ذکر سوه). لهذا د شفعي په باطلولو سره کوچني ته ضرر رسیږي، نو ځکه زموږ (د امام محمد او امام زفر) په نېز دلته د هغه باطلول صحیح نه دي.

په پورتنی مسئله کې د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دلیل

وَلَهُمَا: أَنَّهُ فِيْ مَعْنَى التِّجَارَةِ د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چې په شفعه سره اخیستل د تجارت په معنیٰ سره دي فَيَمْلِكَانِ تَرْكَهُ نو ځکه پلار او وصي به د شفعي پرېښوولو ملکیت [اختیار] لري أَلَا تَرَى أَنَّ مَنْ أَوْجَبَ بَيْعًا لِلصَّبِيِّ آیا ته نه ګورې! چې څوک د کوچني لپاره د بیع ایجاب وکړي صَحَّ رَدُّهُ مِنَ الْأَبِ وَالْوَصِيِّ نو د پلار او وصي له طرفه د هغه ردول صحیح دي وَلِأَنَّهُ دَائِرٌ بَيْنَ النَّفْعِ وَالضَّرَرِ او ځکه چې دا [شفعه اخیستل او پرېښوول] د نفع او نقصان تر مینځ دائر دي وَقَدْ يَكُوْنُ النَّظَرُ فِيْ تَرْكِهِ او ځیني وخت شفقت [او د کوچني مصلحت] د شفعي په پرېښوولو کې وي لِيَبْقَى الثَّمَنُ عَلَى مِلْكِهِ د دې لپاره چې ثمن د کوچني په ملکیت کې پاته سي وَالْوِلَايَةُ نَظَرِيَّةٌ او دا ولایت مبني بر شفقت [او مصلحت] دی فَيَمْلِكَانِهِ نو ځکه پلار او وصي به د شفعي پرېښوولو ملکیت لري وَسُكُوْتُهُمَا كَإِبْطَالِهِمَا او د پلار او وصي سکوت [له طلب شفعه څخه چپ پاتېدل] د صراحتاً باطلولو په څېر دی لِكَوْنِهِ دَلِيْلَ الْإِعْرَاضِ ځکه چې سکوت د اعراض دلیل دی.

اللغات: ﴿دائر﴾ د دوو شیانو تر مینځ کېدونکی. جاري. ﴿النظر﴾ شارحینو د دې لفظ دوې معناوې ذکر کړي دي: مصلحت (ښېګڼه). شفقت. ﴿نظریة﴾ پر مصلحت مبني. پر شفقت مبني.

تشریح: په دې عبارت کې صاحب د هدایې د شیخینو دلیل ذکر کړی دی. حاصل یې دا دی چې په شفعه کې (د قیمت ورکولو او کور اخیستلو په اعتبار سره) د تجارت معنیٰ سته او په تجارت کې د نفعې او نقصان (ګټې او تاوان) دواړو احتمال سته. او (پلار او وصي ته) پر کوچني ځکه ولایت حاصلیږي چې د کوچني سره د شفقت چلند وسي او د هغه لپاره داسې معامله وکړی سي چې د هغه مصلحت او ښېګڼه

پکښې وي، او ځينې وخت د شفعې په پرېښوولو کې شفقت او د کوچني مصلحت وي؛ نو ځکه پلار او وصي لره به دا حق حاصل وي چې شفعه اخيستل پرېږدي.

وسكوتهما إلخ: او د صراحتاً باطلولو او شفعې پرېښوولو چې څرنګه حکم دی، د سکوت هم هغه حکم دی (يعني که پلار ويا وصي له طلب شفعه څخه چپ پاته سي او خاموشي اختيار کړي، نو هم د کوچني حق شفعه ساقطيږي او باطليږي)؛ ځکه چې سکوت د اعراض دليل دی او شفعه په اعراض سره باطليږي.

د پورتنی مسئلې بل صورت

وَهٰذَا إِذَا بِيعَتْ بِمِثْلِ قِيمَتِهَا او دا اختلاف هغه وخت دی کله چې کور په خپل مثلي قيمت سره خرڅ سي فَإِنْ بِيعَتْ بِأَكْثَرَ مِنْ قِيمَتِهَا بِمَا لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيهِ لېکن که کور تر خپل قيمت په زياته خرڅ سي [يعني] په دومره زيات قيمت چې خلک په هغه کې نقصان نه زغمي [يا په بله وينا دا چې خلک په هغه کې دوکه نه خوري] قِيلَ: جَازَ التَّسْلِيمُ بِالْإِجْمَاعِ نو ويل سوي دي: چې [په دې صورت کې] بالاتفاق [د پلار او وصي لپاره] شفعه پرېښوول جائز دي لِأَنَّهُ تَمَحَّضَ نَظَرًا ځکه چې اوس دا [شفعه پرېښوول، د کوچني لپاره] خالص مصلحت سو وَقِيلَ: لَا يَصِحُّ بِالِاتِّفَاقِ او ويل سوي دي [يعني دويم قول دا دی]: چې [په دې صورت کې د پلار او وصي لپاره] بالاتفاق شفعه پرېښوول صحيح نه دي لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ الْأَخْذَ ځکه چې په دوی دواړو کې يو په شفعه سره د اخيستلو مالک نه دی فَلَا يَمْلِكُ التَّسْلِيمَ نو د شفعې د پرېښوولو به هم ملکيت نه لري كَالْأَجْنَبِيِّ لکه اجنبي [پردی] کس وَإِنْ بِيعَتْ بِأَقَلَّ مِنْ قِيمَتِهَا مُحَابَاةً كَثِيرَةً او که په زيات رعايت کولو سره کور تر خپل قيمت ډېر په کمه خرڅ سي فَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ لَا يَصِحُّ التَّسْلِيمُ مِنْهُمَا نو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې د دواړو له طرفه شفعه پرېښوول صحيح نه دي وَلَا رِوَايَةَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه [په دې باره کې] هيڅ روايت نسته.

اللغات: ﴿لا يتغابن﴾ د تفاعل له بابه د نفي صيغه ده. تَغَابَنَ يَتَغَابَنُ تَغَابُنًا: د دغه باب خپله معنیٰ ده: يو بل ته نقصان رسول، يو بل ته دوکه ورکول. لېکن شارحينو يې دا معناوي هم کړي دي: نقصان زغمل (تاوان برداشت کول). دوکه خوړل (دوکه کېدل). ﴿تمحض﴾ د تفعل د باب ماضي معلومه ده: محض کېدل، خالص کېدل. ﴿التسليم﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: معنیٰ کې د دې

تفصيل تېر سو چي دلته د دې لفظ معنیٰ ده: خپل حق شفعه پرېښوول. له خپل شفعي څخه لاس په سر کېدل. ﴿محاباة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، د دې لفظ څو معناوي دي: يو چا ته ميلان كول. يو څوک په مال سره خاصول. د يو چا سره په ثمن (قيمت) يا مبيع کي رعايت کول. يعني يو شی په ډېر کم قيمت سره خرڅول. له عام ريټ (نرخ) څخه ډېر په کمه ورکول.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د شيخينو او امام محمد... رَحِمَهُمُ الله تر مينځ دا مخکيني اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي (د صغير د کور څنګ والا) کور په دومره قيمت خرڅ سوی وي څومره چي د هغه خپل قيمت او ماليت وي يا په بله وينا دا چي کور په خپل مناسب قيمت خرڅ سوی وي. لېکن که کور له خپل مناسب قيمت څخه ډېر ګران خرڅ سوی وي، نو په دې صورت کي دوه قولونه دي: ① بالاتفاق شفعه پرېښوول صحيح دي؛ ځکه په دې صورت کي شفقت او د کوچني ښېګڼه د شفعي په پرېښوولو کي ده. ځکه په ډېر ګران قيمت سره د کور په رانيولو کي د کوچني زيات تاوان دی. ② دويم قول دا دی چي بالاتفاق شفعه پرېښوول صحيح نه دي. بلکي د کوچني حق شفعه هغسې باقي پاتيږي؛ ځکه شفعه پرېښوول فرع ده د شفعي اخيستلو. يعني کوم څوک چي د شفعي (مشفوعه ځای) د اخيستلو اختيار لري. همهغه شفعه پرېښوولای سي. او دلته د زيات تاوان (غبنِ فاحش) په وجه پلار او وصي لره د شفعي اخيستلو اختيار نسته. نو اوس دوی دواړه د اجنبي کس په څېر دي. نو څرنګه چي د اجنبي تسليم (شفعه پرېښوول) صحيح نه دی (يعني څرنګه چي دا صحيح او پر ځای نه دي چي اجنبي کس د کوچني له طرفه شفعه پرېږدي). همداسي به د پلار او وصي تسليم هم صحيح نه وي.

وان بيعت باقل الخ: او که کور له خپل مناسب قيمت څخه په ډېر کم قيمت خرڅ سوی وي. مثلاً د کور قيمت شل زره درهمه وي او بائع هغه رعايتاً په پنځه زره درهمه خرڅ کړی وي، نو اوس څه حکم دی؟، فرمايي چي په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د پلار او وصي تسليم (شفعه پرېښوول) صحيح نه دي؛ ځکه چي په دې کي د کوچني ښکاره تاوان دی. او پاته سو له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه په دې هکله هيڅ روايت نه دی نقل سوی. خو غالب ګومان همدا دی چي د هغه رايه به هم دا وي چي شفعه دې نه پرېښوول کيږي. والله أعلم بالصواب



كِتَابُ الْقِسْمَةِ

(دا) کتاب د "تقسیم" (په بیان کي) دی

تشریح: تر کتابُ الشفعه وروسته مصنف رَحِمَهُ الله کتابُ القسمة بیانوي، وجه د مناسبت یې دا ده چي ځرنګه په شفعه کي شفیع جبراً د مشتري د جایداد مالک کیږي، همداسي په تقسیم کي شریک (په ځیني صورتونو کي) د بل شریک د حصې مالک کیږي.

او په شفعه کي انسان د کُل مالک کیږي او په قسمت کي د جزء (حصې) مالک کیږي، او کُل له جزء ځخه مخکي دی، نو ځکه کتابُ الشفعه مخکي او کتابُ القسمة وروسته بیان کړی سوی دی.

د قسمت لغوي او اصطلاحي معنیٰ: لغوي معنیٰ یې ده: وېش او تقسیم، او اصطلاحي معنیٰ یې ده: د یو ځای یا د یو شي حصې سره جلا کول او تقسیمول. (احسن الهدایه)

د قسمت سبب: دا دی چي شریک دا مطالبه وکړي چي ما ته له دي خپل ملکیت ځخه د نفع اخیستلو حق او حصه راکول سي چي په هغه کي بل څوک را سره شریک نه وي، لهذا که شریک مطالبه نه وکړي، نو قسمت نه صحیح نه کیږي.

د قسمت رکن او شرط: د قسمت رکن هغه فعل دی چي د هغه په ذریعه د حصو تر مینځ جدایي او تمیز واقع کیږي لکه ګزول، ګامول او داسي نور. او د قسمت شرط دا دی چي په تقسیم سره به منفعت نه ختمیږي، همدا وجه ده چي په کومو شیانو کي تقسیم د منفعت لپاره مضر وي، په هغوی کي قسمت مشروع نه دی، مثلاً دېوال، ځاه، حمام او داسي نور.

په مشترک شي کي د تقسیم شرعي حیثیت او تفصیل

قَالَ: اَلْقِسْمَةُ فِي الْأَعْيَانِ الْمُشْتَرَكَةِ مَشْرُوعَةٌ فرمایي: په مشترکه شیانو کي تقسیم کول مشروع دي لِأَنَّ النَّبِيَّ ﷺ بَاشَرَهَا فِي الْمَغَانِمِ وَالْمَوَارِيثِ [1] ځکه نبي کریم په غنیمتونو او میراثونو کي تقسیم کړی دی وَجَرَى التَّوَارُثُ بِهَا مِنْ غَيْرِ نَكِيرٍ او بغیر له نکیره په همدې سره توارث جاري سوی دی [یعني بغیر له څه نیوکي او انکاره دا د تقسیم معامله له هغه زمانې ځخه تر اوسه روانه ده] ثُمَّ هِيَ لَا تَعْرَى عَنْ مَعْنَى الْمُبَادَلَةِ بیا تقسیم د مبادله له معنیٰ ځخه خالي نه دی لِأَنَّ مَا يَجْتَمِعُ لِأَحَدِهِمَا بَعْضُهُ كَانَ لَهُ وَبَعْضُهُ كَانَ لِصَاحِبِهِ

[1] تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب الفرائض، باب ما جاء في ميراث الصلب، حديث رقم: ۲۸۹۱.

ځکه په دوو شريکانو کې چې ديوه لپاره کومه حصه جمع کيږي په هغه کې بعضې خو د هغه وي او بعضې د هغه د ملګري شريک وي فَهُوَ يَأْخُذُهُ عِوَضًا عَمَّا بَقِيَ مِنْ حَقِّهِ فِي نَصِيبِ صَاحِبِهِ نو هغه دا اخلي د هغه حق په عوض کې کوم چې د ده د ملګري په حصه کې پاتــه وي [يا په بله وينا دا چې هغه دا حصه د خپل هغه حصې په بدله کې اخلي کوم چې د ده ملګري شريک په حصه کې پاتـه وي] فَكَانَ مُبَادَلَةً وَإِفْرَازًا نو ځکه دا مبادله سوه او افراز [او د خپلې حصې را جلا کول] سو [يعني په تقسيم کې دا د مبادلې معنیٰ سوه چې د يوې حصې په بدله کې بله حصه اخيستل کيږي همدارنګه د افراز معنیٰ هم په پکښې ستـه چې په تقسيم کې خپله حصه را جلا کيږي او اخيستل کيږي] وَالْإِفْرَازُ هُوَ الظَّاهِرُ فِي الْمَكِيلَاتِ وَالْمَوْزُونَاتِ او په کَيلي او وزني شيانو کې افراز ښکاره دی [په بله وينا دا چې په مکيلاتو او موزوناتو کې د افراز معنیٰ غالبه ده] لِعَدَمِ التَّفَاوُتِ د تفاوت د نشتوالي [يعني ځکه چې د دوی په خپل آپس کې تفاوت او توپير نستـه] حَتَّى كَانَ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَأْخُذَ نَصِيبَهُ حَالَ غَيْبَةِ صَاحِبِهِ همدا وجه ده چې په دواړو [شريکانو] کې يـوه تـه ددې اختيار سته چې د خپل ملګري شريک په غائب والي [ناموجوديت] کې خپله حصه واخلي.

اللغات: ﴿اعيان﴾ جمع د عَين دی: متعيّن شی، عيني شی، کوم شی چې مخته موجود وي او په لاس سره مسه کېدای سي او محفوظ کېدای سي، لکه ځمکه، آس او داسي نور. نو هغه تـه "عـين" وايي چې جمع يې "أَعْيَان" راځي. ﴿باشر﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: يو کار په خپله کول. ﴿تـوارث﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو د بل وارث کېدل، له مخکنی زمانې څخه يو له بل څخه لاس تـه راوړل. پرلپسې ديو امر واقع کېدل. ﴿مغانم﴾ جمع د مَغْنَم ده: د غنيمت شيان. ﴿مواريث﴾ جمع د مِيْرَاث ده: ترکه، ميراث. ﴿افـراز﴾ د افعال د باب مصدر دی: جلا کول، عليحده کول. ﴿مکيلات﴾ کَيلي (مکيلي) شيان، يعني کوم شيان چې په پيمانه سره اندازه کيږي او خرڅيږي، لکه غنم، وريجي او داسي نور چې پخوا به دا په پيمانه (معلوم لوښي) سره اندازه کېدل. ﴿موزونـات﴾ وزنـي (موزوني) شيـان، يعني کوم شيـان چې تلل کيـږي او پـه وزن او تـول سره خرڅيږي، لکه سره او سپين زره، چينه او داسي نور. مکيلات او موزونات تـه مثليات هم ويل کيږي ځکه چې په دوی کې تفاوت کم وي (مثلاً غنم چې په خپل آپس کې د دوی ډېر کم تفاوت ستـه).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې کـه يو عيني شی د دوو يا څو کسانو تر مينځ مشترک وي د هغه تقسيمول او حصه دارانو تـه خپله حصه ورکول مشروع او جائز دي چې د نبوت لـه زمانې څخه تر نن ورځـې پـورې دا معامله را روانـه ده او نبـي کـريم ﷺ د غنيمـت او ميـراث تقسـيمولو پـه وخـت کـې همداسي کړي دي.

ثم هي إلخ: د دې حاصل دا دی چې په هر تقسیم (وېش) کې د مبادله او افراز دواړو معنیٰ موجوده وي، د مبادلې مطلب دا دی "یو د بل د حصو سره بدلول" او د افراز مطلب "صرف خپله حصه (خپل حق) اخیستل"، مثلاً دوو کسانو "زید او خالد" په ګډه یو کور رانیوی، ښکاره خبره ده چې د دې کور په هره حصه کې دوی دواړه شریکان دي، بیا چې کله دوی وېش او تقسیم وکړی نو د کور یوه حصه او طرف یوه شریک "زید" ته حاصله سو او بله حصه یې بل شریک "خالد" ته حاصله سوه، حال دا چې مخکې دوی دواړه د کور په هر طرف او هره حصه کې سره شریکان وه، لهذا زید ته چې کومه حصه رسېدلې ده په هغه کې د خالد حصه وه او د خالد والا په حصه کې د زید حصه وه اوس ګواکې په تقسیم کولو سره زید په خپله حصه کې د خالد حصه راوستله او د هغه د حصې په بدله کې زید خپل هغه حصه ورکړه کوم چې د خالد په طرف کې د خالد په حصه کې راغلې ده، نو دا په تقسیم کې د مبادلې معنیٰ سوه، لنډه دا چې په تقسیم (قسمت) کې د افراز او مبادلې دواړو اړخ سته.

والإفراز هو الظاهر إلخ: څرنګه چې په کیلي شیانو لکه غنم، وریجې او په وزني شیانو لکه چینه او داسې نورو کې تفاوت او توپیر کم وي، نو ځکه په دوی کې د افراز معنیٰ غالبه او ښکاره ده، یعنې دوی د تقسیم پر مهال به دا معنیٰ اخیستل کېږي چې شریک خپل حصه واخیسته، بدله یې نه کړه، همدا وجه ده که یو کیلي یا وزني شی مثلاً غنم د دوو کسانو تر مینځ مشترک وي او بیا یو شریک حاضر سي چې خپله حصه واخلي او بل شریک غائب وي (موجود نه وي)، نو حاضر شریک خپله حصه اخیستلای سي، لهذا که چیرې د مبادلې معنیٰ پکښې غالبه وای، نو د خپل حصې اخیستلو په وخت کې به د هغه غائب شریک اجازت ته ضرورت وای ځکه د شریک په غیبوبت کې حصه نه سي اخیستل کېدای، لیکن دلته د افراز معنیٰ غالبه ده، نو ځکه د شریک په غیبوبت او نا موجودوالي کې هم حصه اخیستلای سي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَلَوِ اشْتَرَيَاهُ فَاقْتَسَمَاهُ او که چیرې دوه کسان یو مثلی [یعني کیلي یا وزني] شی رانیسي بیا یې تقسیم کړي يَبِيعُ أَحَدُهُمَا نَصِيبَهُ مُرَابَحَةً بِنِصْفِ الثَّمَنِ نو په دوی کې یو خپله حصه په نیم قیمت سره د مرابحه په توګه خرڅولای سي وَمَعْنَى الْمُبَادَلَةِ هُوَ الظَّاهِرُ فِي الْحَيَوَانَاتِ وَالْعُرُوضِ او په حیوانانو او سامانو کې د مبادلې معنیٰ ښکاره [غالبه] ده لِلتَّفَاوُتِ د تفاوت په وجه [چې په دوی کې تفاوت زیات وي] حَتَّى لَا يَكُونَ لِأَحَدِهِمَا أَخْذُ نَصِيبِهِ عِنْدَ غَيْبَةِ الْآخَرِ همدا وجه ده چې په دواړو

[شریکانو] کې یوه ته د دې اختیار نسته چې د بل یوه په غائب والي کې خپله حصه واخلي وَلَوْ اشْتَرَيَاهُ فَاقْتَسَمَاهُ او که دوی یو حیوان یا سامان رانیسي بیا یې سره تقسیم کړي لَا يَبِيعُ أَحَدُهُمَا نَصِيبَهُ مُرَابَحَةً بَعْدَ الْقِسْمَةِ نو تر تقسیم وروسته په دوی کې یو خپله حصه په بیع مرابحه سره نه سي خرڅولای.

اللغات: ﴿مرابحة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، بیع مرابحه، یعني یو شی په خپل اصل قیمت سره پر معلومه نفع خرڅول (مثلاً بائع مشتري ته ووايي چې دا سامان ما ته په شپېته درهمه پروت دی [یعني د دغه سامان اصل قیمت شپېته درهمه دی] او پر هغه زه نور لس درهمه نفع اچوم او په اویا درهمه یې در کوم. ﴿حیوانات﴾ لکه غوا، غویی، آس او داسې نور. ﴿عروض﴾ سامان. ﴿غیبة﴾ غائب والی، ناموجود والی.

تشریح: مخکې ذکر سوه چې د افراز په صورت کې (یعني په کومو شیانو کې چې د افراز معنیٰ غالبه وي کوم چې مثلي شیان دي، په هغه کې) سړی خپله حصه اخیستلای سي او په هغه کې د بل کس (بل شریک) ګډون نه وي، نو که دوه کسان په ګډه یو مثلي شی (مثلاً غنم) رانیسي بیا یې سره تقسیم کړي یعني هر یوه خپله حصه جلا کړي، نو اوس که یو شریک وغواړي چې خپله حصه پر نصف ثمن د مرابحې په توګه خرڅه کړي (یعني پر نصف ثمن نوره نفع واچوي)، نو دا جائز دي؛ ځکه چې هر یوه خپله حصه (عینِ حصه) اخیستې ده کوم چې دوی رانیولې وه نو ځکه مذکوره بیع جائز ده.

ومعنی المبادلة إلخ: مخکې ذکر سوه چې په کیلي او وزني شیانو کې افراز غالب وي، لېکن په حیوانانو او سامانو کې بیا د مبادلې معنیٰ غالبه وي، او تاسو وپېژندل چې د مبادلې والا په صورت کې د هر شریک حصه د بل شریک د حصې په بدله کې وي، نو که د مبادلې په صورت کې مثلاً یو سامان دوه کسان په ګډه رانیسي او بیا یې سره تقسیم کړي، نو اوس که یو شریک خپله حصه مرابحتاً خرڅه کړي نو جائز نه دي؛ ځکه هغه خاص خپله حصه نه ده خرڅه کړې بلکې د بل شریک د حصې شمولیت او ګډون پکښې سته ځکه چې د هغه په بدله کې ده (یا په بله وینا داسې هم ویل کېدای سي چې مرابحه پر هغه مبیع کېدای سي کوم چې رانیول سوې وي، او دلته رانیول نه دي سوي بلکې د حصو تبادله سوې ده)، همدارنګه یو شریک د بل شریک په ناموجودیت (غیبوبت) کې خپله حصه نه سي اخیستلای، ځکه چې دا مبادله او تبادله ده یعني د هر یوه حصه د بل د حصې په بدله او عوض کې ده، او تاسو ته معلومه ده چې د بل چا په ناموجودیت کې د هغه په حق او عوض کې تصرّف کول صحیح نه دي.

په تقسيم کې د قاضي د جبر حکم او تفصيل

إِلَّا أَنَّهَا إِذَا كَانَتْ مِنْ جِنْسٍ وَاحِدٍ لیکن که هغوی [یعني حیوانات او سامانونه] له یوه جنس څخه وي أَجْبَرَ الْقَاضِيْ عَلَى الْقِسْمَةِ عِنْدَ طَلَبِ أَحَدِ الشُّرَكَاءِ نو له شریکانو څخه د یوه شریک د طلب [مطالبې] په وخت کې به قاضي [تقسیم نه کوونکی شریک] پر تقسیم مجبوره کوي لِأَنَّ فِيهِ مَعْنَى الْإِفْرَازِ ځکه چې په دې کې د افراز معنیٰ موجوده ده لِتَقَارُبِ الْمَقَاصِدِ د مقاصدو د نژدېکت په وجه [چې مقاصد یې یو بل ته نژدې، نژدې دي] وَالْمُبَادَلَةُ مِمَّا يَجْرِي فِيهِ الْجَبْرُ او مبادله له هغه شیانو څخه ده چې په هغوی کې جبر جاري کېدای سي كَمَا فِي قَضَاءِ الدَّيْنِ لکه د قرض په اداء کولو کې [چې جاري کېدای سي] وَهٰذَا لِأَنَّ أَحَدَهُمْ بِطَلَبِ الْقِسْمَةِ يَسْأَلُ الْقَاضِيَ أَنْ يَخُصَّهُ بِالِانْتِفَاعِ بِنَصِيبِهِ وَيَمْنَعَ الْغَيْرَ عَنِ الِانْتِفَاعِ بِمِلْكِهِ او دا ځکه چې په شریکانو کې یو د تقسیم په طلب [مطالبه] کولو سره له قاضي څخه دا غوښتنه [خواست] کوي چې هغه دې د خپل حصې په نفع اخیستلو سره خاص کړي او نور دې د هغه د ملکیت له نفع اخیستلو څخه منع کړي فَيَجِبُ عَلَى الْقَاضِيْ إِجَابَتُهُ نو ځکه پر قاضي د هغه د غوښتنې قبلول ضروري دي وَإِنْ كَانَتْ أَجْنَاسًا مُخْتَلِفَةً او که هغوی مختلف الاجناس وي لَا يُجْبِرُ الْقَاضِيْ عَلَى قِسْمَتِهَا نو قاضي د هغوی پر تقسیم جبر نه سي کولای [تقسیم نه کوونکی شریک نه سي مجبوره کولای] لِتَعَذُّرِ الْمُعَادَلَةِ بِاعْتِبَارِ فُحْشِ التَّفَاوُتِ فِي الْمَقَاصِدِ ځکه په مقاصدو کې د زیات تفاوت په وجه برابري کول مشکل دي وَلَوْ تَرَاضَوْا عَلَيْهَا او که چیري شریکان په تقسیم راضي سي جَازَ نو بیا تقسیم جائز دی لِأَنَّ الْحَقَّ لَهُمْ ځکه چې حق د همدوی دی.

اللغات: ﴿أجبر﴾ د افعال د باب ماضي ده: مجبوره کول، اړ ایستل. ﴿إفراز﴾ (خپله حصه) جلا کول. ﴿تَقَارُب﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو بل ته نژدې کېدل. ﴿المعادلة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، د دې باب یوه معنیٰ ده: د دوو تر مینځ برابري او انصاف کول. ﴿تَعَذُّر﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: د دې باب دوې معناوي راځي: ناممکن کېدل، مشکل (ستونزمن) کېدل. ﴿فحش﴾ د کرُم د باب مصدر دی: زیاتېدل، زیاتوالی (زښتوالی).

تشريح: مخکي صاحب د هدايې وويل چي په حيواناتو او سامانو کي د مبادلې معنیٰ غالبه ده، پر هغه دا اشکال کيږي چي کله په دوی کي د مبادلې معنیٰ سته، نو کهمثلاً د حيواناتو په صورت کي يو شريک په تقسيم راضي نه وي، نو قاضي ته پکار دي چي هغه پر تقسيم مجبوره نه کړي؟. د دې په جواب کي فرمايي چي د حيواناتو او سامانو دوه حيثيتونه دي: ① متحد الاجناس، ② مختلف الاجناس، که چيري حيوانات متحد الاجناس وي مثلاً ټوله آسونه وي يا ټوله پسونه يا غويان وي، نو څرنګه چي د دوی مقاصد متقارب دي او تفاوت ډېر کم دی، نو ځکه که يو شريک د تقسيم مطالبه وکړي او بل شريک راضي نه وي، نو قاضي به دا بل شريک راضي کوي که څه هم جبراً وي.

والمبادلة إلخ: دا هم د پورتني اشکال جواب دی چي ستا سو دا وينا چي په مبادله کي جبر نه کيږي موږ نه تسليموو، ځکه د قرض په اداء کولو کي هم د مبادلې صورت سته (مثلاً څوک چي سل روپۍ په قرض واخلي، نو د اداء کولو په وخت کي خاص هغه نوټ او روپۍ نه ورکوي بلکي د هغه په بدله کي نوري روپۍ ورکوي)، او د قرض په صورت کي که مقروض قرض نه ورکوي نو قاضي هغه پر اداء کولو مجبوره کوي تر دې چي بندي کولای يې سي، نو همداسي به دلته هم جبر کيږي.

وهذا لأن أحدهم إلخ: په تقسيم کي د قاضي د جبر يوه بله وجه بيانوي، هغه دا چي کله په داسي شيانو کي کوم چي قريب المقاصد وي (يعني تفاوت پکښي کم وي) يو شريک د خپلي حصې د تقسيم مطالبه وکړي، نو د هغه مقصد او غوښتنه خو همدا وي چي زما خپله حصه دي را جلا کړی سي او زه دي د هغه د منفعت مالک جوړ کړی سم او نور دي په هغه کي نه را سره شريکول کيږي، او دئ په خپل دغه مطالبه کي حق بجانب (پر حق) دی، او دا معلومه ده چي قاضي د دې ليپاره مقرر سوی وي چي خلکو ته خپل حقوق ورکړي، نو ځکه حتي الامکان به قاضي د ده حق ورکوي.

وإن كانت إلخ: په دې سره دا رانښيي چي که مثلاً حيوانان مختلف الاجناس وي، مثلاً پسونه، غويان، اوښان سره ګډ وي، نو په دې صورت کي قاضي يو شريک پر تقسيم نه سي مجبوره کولای؛ ځکه چي په دې صورت کي په مقاصدو او افرادو کي زيات تفاوت دی او د شريکانو په حق کي برابري (مساوات) نه سي کېدای حال دا چي برابري ضروري ده، نو ځکه په دې صورت کي تقسيم بالجبر نه سي کېدای. ها! که ټوله شريکان په تقسيم راضي سي، نو بيا خو به حتماً تقسيم کيږي؛ ځکه حق د همدوی دی، او په هره معامله کي د حقدار (صاحب حق) په رضاء سره کار ترسره کيږي، نو همداسي به دلته هم کيږي.

د خلګو تر مینځ د تقسیم کولو لپاره د تقسیم کونکي (قاسِم) د ټاکلو حکم او تفصیل

قَالَ: وَيَنْبَغِيْ لِلْقَاضِيْ أَنْ يَنْصِبَ قَاسِمًا يَرْزُقُهُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ فرمايي: او قاضي ته پکار دي چي يو تقسيم كونكى كس ودروي [وټاكي] چي هغه ته له بيتُ المال څخه روزينه [تنخا] وركوي لِيَقْسِمَ بَيْنَ النَّاسِ بِغَيْرِ أَجْرٍ د دې لپاره چي هغه د خلګو تر مينځ بې له أجرته تقسيم كوي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ مِنْ جِنْسِ عَمَلِ الْقَضَاءِ مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ يَتِمُّ بِهِ قَطْعُ الْمُنَازَعَةِ ځكه چي تقسيم د قضاء [قضاوت] د كار له جنس څخه دى په دې حيثيت سره چي د همدې تقسيم په ذريعه د جنګ [او دعوې] ختمول تاميږي فَأَشْبَهَ رِزْقَ الْقَاضِيْ نو دا د قاضي د روزينې [تنخا] سره مشابه سو وَلِأَنَّ مَنْفَعَةَ نَصْبِ الْقَاسِمِ تَعُمُّ الْعَامَّةَ او ځكه چي د تقسيم كونكي د درولو [ټاكلو] منفعت تمام خلګو لره عام دى فَتَكُونَ كِفَايَتُهُ فِيْ مَالِهِمْ نو د تقسيم كونكي كفايت به هم د دوى له مال څخه كيږي غُرْمًا بِالْغُنْمِ په توګه د دې چي تاوان د نفع په عوض كي دى [يا په بله وينا دا چي ګټه په تاوان وي. مطلب دا چي كله د تقسيم نفع او فايده شريكانو ته حاصليږي، نو د هغه تاوان (أجرت) به هم پر دوى وي لأنّ الغرم بالغنم. (دا يو محاوره ده چي څو ځله مخكي تېره سوې ده)]

اللغات: ﴿ينصب﴾ د مضارع صيغه ده له ضرب او نصر دواړو بابونو څخه راځي: د دې څو معناوي دي چي يوه معنى يې ده: درول، مراد ځني ټاكل او مقرر كول دي، ﴿قاسم﴾ د ضرب له بابه د فاعل صيغه ده: تقسيمونكى، وېشونكى، ﴿يرزق﴾ د نصر د باب مضارع ده: روزينه او تنخا وركول، ﴿منازعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دى: جنګ، جنګړه (اختلاف او جنجال)، ﴿غرم﴾ تاوان، جرمانه، ﴿الغنم﴾ غنيمت، نفع.

تشريح: د عبارت حاصل دا دى چي د خلګو د مشترک جايداد، مشترک سامان او داسي نورو د تقسيم (وېش) لپاره يو كس مقرر كول پكار دي كوم چي بلا أجرته دا كار كوي؛ ځكه چي تقسيم كول د قاضي له أمورو څخه دي، څو شرنګه چي قاضي هر وخت د دعوو په حل او فيصلو مصروفه وي. نو ځكه مناسب همدا ده چي هغه يو بل څوک د دې كار لپاره وټاكي او له بيتُ المال څخه د هغه لپاره تنخا مقرره كړي. له بيت المال څخه د تنخا وركولو وجه دا ده چي تقسيم كونكي كس (قاسِم) ته هر سړى مجبوره وي، او أصول دا دي چي څوک له چا څخه كار واخلي أجرت دي هغه وركړي، او

بیتُ المال د خلکو (مسلمانانو) یو قسم بانک دی، نو ځکه د خلکو د کار اُجرت به له همدې بانک څخه اداء کول کیږي.

د عارضي تقسیم کونکي په ذریعه د تقسیم حکم

قَالَ: فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ فرمايي: خو که قاضي داسي نه کوي نَصَبَ قَاسِمًا يَقْسِمُ بِالْأَجْرِ نو یو تقسیم کونکی کس دي ودروي کوم چي په اُجرت سره تقسیم کوي مَعْنَاهُ بِأَجْرٍ عَلَى الْمُتَقَاسِمِيْنَ ددې مطلب دا دی چي پر تقسیم کونکو [شریکانو] په اُجرت سره لِأَنَّ النَّفْعَ لَهُمْ عَلَى الْخُصُوْصِ ځکه چي نفع خصوصاً د دوی ده وَيُقَدِّرُ أَجْرَ مِثْلِهِ كَيْلَا يَتَحَكَّمَ بِالزِّيَادَةِ او قاضي دي د تقسیم کونکي اُجرت مثلي مقرر کړي د دې لپاره چي هغه [د خپل خوښې مطابق] د زیاتوب فیصله [او مطالبه] نه وکړي وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَرْزُقَهُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ او غوره دا ده چي هغه ته له بیت المال څخه روزینه [تنخا] ورکړي لِأَنَّهُ أَرْفَقُ بِالنَّاسِ ځکه چي دا د خلکو سره زیاته آساني ده [یا په بله وینا دا چي په دې کي د خلکو سره زیاته نرمي او آساني ده] وَأَبْعَدُ عَنِ التُّهْمَةِ [همدارنګه] دا له تهمت څخه لیري ده وَيَجِبُ أَنْ يَكُوْنَ عَدْلًا مَأْمُوْنًا عَالِمًا بِالْقِسْمَةِ او ضروري ده چي دا تقسیم کونکی به عادل، امانتدار او په تقسیم پوهېدونکی وي لِأَنَّهُ مِنْ جِنْسِ عَمَلِ الْقَضَاءِ ځکه چي تقسیم کول د قضاوت د کار له جنس څخه دي وَلِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ الْقُدْرَةِ او ځکه چي قدرت لرل [قادر کېدل] ضروري دي وَهِيَ بِالْعِلْمِ او هغه په پوهې [او خبرتیا] سره وي وَمِنَ الْاِعْتِمَادِ عَلَى قَوْلِهِ او [همدارنګه] د هغه پر خبره عتماد هم ضروري دی وَهُوَ بِالْأَمَانَةِ او دا په امانتدارۍ سره وي.

اللغات: ﴿متقاسمين﴾ د تفاعل له بابه د جمع مذکر اسم فاعل صیغه ده: هغه شریکان کوم چي یو د بل سره تقسیم کوي (کوم چي یو تر بله حصې سره جلا کوي). ﴿يقدّر﴾ د تفعیل د باب مضارع ده: اندازه کول، مقرر کول. ﴿يتحكم﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: حکم جاري کول، د خپل رایي او خوښې مطابق فیصله کول، د خپل خواهش مطابق تصرّف کول (مصباح اللغات). ﴿أرفق﴾ د اسم تفضیل صیغه ده: زیات نرم او زیات نفع مند، زیات آسان. ﴿عدل﴾ عادل، منصف.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که قاضي د بیت المال له طرفه یو تقسیم کونکی (قاسم) نه سي ټاکلای، نو هغه ته پکار دي چي یو معتبر او معتمد کس پر دې کار وټاکي چي هغه له خلکو څخه د

اُجرت اخیستلو په عوض کي د دوی تر مینځ د تقسیم (وېش) کولو فریضه سر ته رسوي، او اُجرت به خلک ځکه ورکوي چي کار د همدوی دی. نو چا ته چي فایده حاصلیږي، اُجرت او خرچه هم د هغه له طرفه کېدل پکار دي. اُو بل قاضي ته پکار دي چي د دغه تقسیم کونکي لپاره یو مثلي اُجرت (مثلاً که دومره ځمکه او کور وي نو پنځه سوه روپۍ او که تر دې غټ وي نو زر روپۍ) وټاکي، د دې لپاره چي دا تقسیم کونکی له خلکو څخه د زیاتو پیسو مطالبه نه وکړی سي، خو غوره همدا دا ده چي د تقسیم کونکي تنخا له بیت المال څخه وټاکل سي؛ ځکه چي په دې کي د خلکو لپاره زیاته آساني ده او بل دا چي د څه تهمت او د کمي و زیاتوب شبهه به هم نه کیږي.

ویجب إلخ: د دې حاصل دا دی چي څرنګه دا تقسیم د قاضي عمل دی، نو ځکه تقسیم کونکي کس به د قاضي د اوصافو حامل وي، مثلاً انصاف داره، امانت داره او په تقسیم پوهېدونکي به وي؛ په تقسیم واقف کېدل ځکه شرط دي چي پر تقسیم قدرت لرل ضروري دی او دا په علم او واقفیت سره حاصلیږي. او څرنګه چي پر تقسیم کونکي د خلکو اعتماد کول او خبره یې منل ضروري دي، او دا هلته ممکنه ده چي هغه امانتداره وي او له خیانت څخه ځان ساتونکی وي، نو ځکه د تقسیم کونکي لپاره د امانتدارۍ خیال ساتل هم ضروري دي چي هغه به امین وي. (احسن الهدایه)

د تقسیم کونکي په ټاکلو کي د خلکو د رضا حکم

وَلَا يُجْبِرُ الْقَاضِيْ النَّاسَ عَلٰى قَاسِمٍ وَّاحِدٍ او قاضي به خلک پر یوه تقسیم کونکي نه مجبوره کوي مَعْنَاهُ لَا يُجْبِرُهُمْ عَلٰى أَنْ يَّسْتَأْجِرُوْهُ د دې مطلب دا دی چي هغه به خلک پر دې نه مجبوره کوي چي دوی [خاص] دغه تقسیم کونکی په اُجرت ونیسي لِأَنَّهُ لَا جَبْرَ عَلَى الْعُقُوْدِ ځکه چي پر عقودو [معلاتو] مجبوره کول نسته وَلِأَنَّهُ لَوْ تَعَيَّنَ لَتَحَكَّمَ بِالزِّيَادَةِ عَلٰى أَجْرِ مِثْلِهِ او ځکه چي که یو تقسیم کونکی متعیّن سي نو هغه به پر خپل اُجرتِ مثلي د زیاتِ اُجرت فیصله [مطالبه] وکړي وَلَوِ اصْطَلَحُوْا فَاقْتَسَمُوْا او که شریکان خپله اتفاق وکړي او تقسیم وکړي جَازَ نو جائز دي إِلَّا إِذَا كَانَ فِيْهِمْ صَغِيْرٌ مګر که په دوی [شریکانو] کي یو کوچنی هلک وي فَيَحْتَاجُ إِلٰى أَمْرِ الْقَاضِيْ نو بیا د قاضي فیصلې ته اړتیا ده لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُمْ عَلَيْهِ ځکه چي پر صغیر دوی ته د ولایت حق نسته.

اللغات: ﴿یستأجروا﴾ د استفعال د باب مضارع ده: په اُجرت او مزدوري نیول، په اُجرت اخیستل. ﴿تحکّم﴾ د دې باب معنیٰ د تېر عبارت په لغاتو کي ذکر سوه. ﴿اصطلحوا﴾ د افتعال له بابه د جمع مذکر غائب ماضي صیغه ده: پر یو څه اتفاق کول (چي مثلاً څو خلک د یو کار پر کولو اتفاق او اتحاد وکړي).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي قاضي ته پکار دی (د خلکو تر مینځ) یو تقسیم کونکی کس وټاکي، لیکن د دې کار لپاره یوازي یو کس خاصول پکار نه دي او نه خلک پر دې مجبوره کول پکار دي؛ ځکه په عقودو او معاملاتو کي جبر نه کیږي، او د عدمِ تخصیص یوه وجه دا هم ده چي کله تقسیم کونکی یوازي یو کس وي، نو هغه به د خلکو له مجبوری څخه غلطه فایده اخلي او له دوی څخه به زیاتي پیسې اخلي، نو ځکه غوره همدا ده چي له یوه څخه زیات تقسیم کونکي وي.

ولو اصطلحوا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که ټوله شریکان په خپل مینځوي اتفاق سره (په رضا) خپل مینځ کي تقسیم وکړي، نو بیا نه قاضي ته ضرورت سته او نه تقسیم کونکي (قاسم) ته؛ ځکه چي قسمت یو ډول معامله ده، او معاملات په رضا او خوښی سره تر سره کیږي، ها! که چیري یو کوچنی هم په شریکانو کي داخل وي، نو ښکاره ده چي نورو شریکانو ته پر هغه ولایت نسته؛ نو په دې صورت کي قاضي ته ضرورت پرېوځي؛ ځکه چي د قاضي ولایت عام او تام وي.

د تقسیم کونکو د اجتماع ممانعت

وَلَا يَتْرُكُ الْقُسَّامَ يَشْتَرِكُوْنَ او قاضي به تقسیم کونکي کسان دې ته نه پرېږدي چي په شرکت د تقسیم کار وکړي كَيْلَا تَصِيْرَ الْأُجْرَةُ غَالِيَةً بِتَوَاكُلِهِمْ د دې لپاره چي د دوی د خپل مینځوي اتفاق په وجه اُجرت ګران نه وګرځي وَعِنْدَ عَدَمِ الشَّرِكَةِ يَتَبَادَرُ كُلٌّ مِنْهُمْ إِلَيْهِ خِيْفَةَ الْفَوْتِ او د نه شرکت کولو په صورت کي به هر تقسیم کونکی د فوتېدلو له بیري د تقسیم وطرف ته وړاندیتوب کوي فَيُرَخَّصُ الْأَجْرَ نو اُجرت به ارزانه سي.

اللغات: ﴿قُسّام﴾ جمع د قَاسِمٌ ده: تقسیم کونکي. ﴿غالية﴾ ګران. ﴿تواكل﴾ د تفاعل د باب مصدر دی. ① تَوَاكَلَ الْقَوْمُ: د بعضي پر بعضو اعتماد کول. ② تَوَاكَلُوْه: پرېښوول. مدد نه کول (مصباح اللغات). ﴿يتبادر﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: وړاندیتوب کول. فوراً متوجه کېدل. ﴿خيفة﴾ بېره. اندېښنه.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي قاضي به تقسیم کونکي حضرات له دې څخه منع کوي چي دوی په ګډه خپل جلا یو شرکت او کمپنی جوړه کړي او په شراکت کار (تقسیم) کوي. بلکي هر تقسیم کونکی به په خپل جلا اُجرت سره کار کوي؛ ځکه که دوی په ګډه د یوه شرکت او کمپنی په توګه کار کوي، نو ټوله به په اتفاق یو نرخ (ریټ) چلوي او په ګران نرخ به کار کوي. لیکن د جلا جلا کار کولو په صورت کي به هر یو د کار پیښېدلو پر موقع دي بیري وړاندیتوب کوي چي هسي نه که زه دا پرېږدم نو په بل یوه به تقسیم وکړي او زما څخه به دا کار او اُجرت فوت سي. نو له دې بیري به د اُجرت (مزدوری) حاصلولو په خاطر په ارزانه کار کوي چي په دې سره به عوامو ته فایده ورسیږي. نو

ځکه قاضي ته پکار دي چي تقسيم کونکي عاملين دي د شرکت او کمپنی جوړولو او په شراکت سره کار کولو ته نه پرېږدي.

د تقسيم د اُجرت ورکولو په هکله تفصيل

قَالَ: وَأُجْرَةُ الْقِسْمَةِ عَلَى عَدَدِ الرُّءُوْسِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ فرمايي: او د تقسيم اُجرت د سرونو [يعني د حصه دارانو] د تعداد په اعتبار سره دی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَقَالَا[❁]: عَلَى قَدْرِ الْأَنْصِبَاءِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي [دهغو] د حصو په اندازه دی لِأَنَّهُ مُؤْنَةُ الْمِلْكِ ځکه چي اُجرت د ملکيت بدله ده فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهِ نو د همدې ملکيت په اندازه به ثابتيږي كَأُجْرَةِ الْكَيَّالِ وَالْوَزَّانِ لکه د پيمانه کونکي او وزن کونکي اُجرت وَحَفْرِ الْبِئْرِ الْمُشْتَرَكَةِ وَنَفَقَةِ الْمَمْلُوكِ الْمُشْتَرَكِ او [لکه] د مشترک څاه د کيندلو او د مشترک غلام د نفقې اُجرت.

اللغات: ﴿انصباء﴾ جمع د نَصِيْبٌ ده: حصه، برخه، ﴿مؤنة﴾ خرچه او بدل، لګښت، مشقت، د يو شي د پاتېدلو او بقاء چي کوم خرچ او سبب وي هغه ته مؤنت ويل کيږي، ﴿کيال﴾ د ضرب له بابه د اسم فاعل صيغه ده: پيمانه کونکی (په لوښي سره د غلې وزن معلومونکی). ﴿وزان﴾ مخکنی صيغه ده: وزن کونکی، تولونکی، ﴿حفر﴾ د ضرب د باب مصدر دی: کيندل، کنبل (کارل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله تقسيم کونکی کس (قاسم) د شريکانو حصې ور تقسيم کړي او خپل کار سر ته ورسوي، نو اوس به هغه ته اُجرت په کوم حساب سره ورکول کيږي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمان دا دی چي څومره شريکان وي، ټوله به برابر اُجرت ورکوي. صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي نه! بلکي د شريکانو د حصو او ملکيت په اندازه اُجرت واجبيږي، مثلاً د دريو کسانو ترمينځ يو کور مشترک دی چي په هغه کي شلورمه حصه د يوه کس ده او په پاته کور کي نيمه حصه د دويم کس ده او نيمه د دريم کس ده او د تقسيم اُجرت مثلاً پنځه سوه روپۍ ټاکل سوي دي، نو د نيمي، نيمي حصې والا شريکان به د صاحبينو په نيز هر يو دوه سوه روپۍ ورکوي او د شلورمي حصې والا به سل روپۍ ورکوي. او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به په دې دريو سره شريکانو کي هر يو ١٦٦ روپۍ ورکوي (ځکه ٥٠٠ چي پر دريو کسانو تقسيم کړل سي نو تقريباً څه اټاني د پاسه ١٦٦ کيږي).

[❁] القول الراجح: قول الإمام أبو حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وهو أي ما يقدر على عدد الرؤوس عنده هو الأصح لأن المقصود عليه التمييز لا غير (رد المحتار ج:٥، ص:١٨٠)

د صاحبینو دلیل دا دی چې أجرت دا د ملکیت [یا په بله وینا د حصې] مؤنت او خرچه ده، نو ځکه د ملکیت په تناسب سره به هغه اندازه کیږي (یعني د هریوه په ملکیت کې چې څومره حصه ده د هغه په اندازه أجرت به تاکل کیږي)، لکه څرنګه چې څو شریکان په ګډه خپل یو مشترک کیلي شی (مثلاً غنم) په چا پیمانه کړي یا خپل وزني شی په چا وتلي، نو د ټولو د حصو او ملکیت په اعتبار سره أجرت واجبیږي، یا مثلاً که څو کسان په ګډه مشترک څاه وکیندي، نو په دې وخت کې هم د حصو په اعتبار سره أجرت واجبیږي، یا که یو غلام د څو کسانو تر مینځ مشترک وي، نو په دې صورت کې هم د دوی د حصو په اندازه نفقه واجبیږي. تاسي او ګورئ! په دې ټولو کې به د دوی د حصو په اندازه سره أجرت واجبږي.

په پورتنی مسئله کې د امام صاحب دلیل

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْأَجْرَ مُقَابَلٌ بِالتَّمْيِيزِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې [دلته] أجرت د حصې جلا کولو په مقابله [په بدله] کې دی وَأَنَّهُ لَا يَتَفَاوَتُ او په هغه [جلا کولو] کې تفاوت نه وي [یعني په جلا کولو کې فرق او توپیر نسته] وَرُبَّمَا يَصْعُبُ الْحِسَابُ بِالنَّظَرِ إِلَى الْقَلِيلِ او ځیني وخت په قلیل [لږ حصه] کې په غور کولو سره هم حساب مشکل کیږي وَقَدْ يَنْعَكِسُ الْأَمْرُ او ځیني وخت د دې برعکس وي فَتَعَذَّرَ اعْتِبَارُهُ لهذا د هغه [حصې] اعتبار کول مشکل دي فَيَتَعَلَّقُ الْحُكْمُ بِأَصْلِ التَّمْيِيزِ نو حکم به د اصل جلا کولو سره متعلق کیږي بِخِلَافِ حَفْرِ الْبِئْرِ په خلاف د څاه کیندلو لِأَنَّ الْأَجْرَ مُقَابَلٌ بِنَقْلِ التُّرَابِ ځکه چې [د څاه کیندلو په صورت کې] أجرت د خاورې د نقلولو [وړلو] په بدله کې دی وَهُوَ يَتَفَاوَتُ او په هغه [خاوره نقلولو] کې تفاوت وي وَالْكَيْلُ وَالْوَزْنُ إِنْ كَانَ لِلْقِسْمَةِ قِيلَ: هُوَ عَلَى الْخِلَافِ او پیمانه او وزن که چیرې د تقسیم لپاره وي نو ویل سوي دي: چې هغه پر [همدغه] اختلاف دي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لِلْقِسْمَةِ او که چیرې د تقسیم لپاره نه وي فَالْأَجْرُ مُقَابَلٌ بِعَمَلِ الْكَيْلِ وَالْوَزْنِ نو أجرت به د کیل کولو او وزن کولو په بدله کې وي وَهُوَ يَتَفَاوَتُ او په هغه کې تفاوت وي وَهُوَ الْعُذْرُ لَوْ أُطْلِقَ وَلَا يُفَصَّلُ او همدا عذر دی که چیرې مطلق وویل سي او تفصیل یې نه وسي [یا په بله وینا دا چې که چیرې د مطلق تقسیم کولو مطالبه وکړي او تفصیل نه وکړي. نو دا عذر دی (انمار الهدایه)] وَعَنْهُ أَنَّهُ عَلَى الطَّالِبِ دُونَ الْمُمْتَنِعِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت دا دی چې أجرت

د تقسیم پر طلب کونکي دی نه پر منع کېدونکی [د تقسیم پر انکار کونکي] لِنَفْعِهِ وَمَضَرَّةِ الْمُمْتَنِعِ ځکه چي [په دې تقسیم کي] د طلب کونکي نفع ده او د منع کېدنکي تاوان دی.

اللغات: ﴿تمییز﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: سره جلا کول، علیحده کول. ﴿لا یتفاوت﴾ د تفاعل له بابه د نفي صیغه ده: متفاوت کېدل، مختلف کېدل، فرق او توپیر پکښې راتلل. ﴿یصعب﴾ د نصر مضارع ده: سختېدل، مشکل کېدل. ﴿تعذر﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: مشکل کېدل، نا ممکن کېدل. ﴿ممتنع﴾ د افتعال د باب فاعل دی: منع کېدونکی.

تشریح: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چي أجرت د ملکیت خرچه او بدل (عوض) گرځول صحیح نه دي، بلکي أجرت د حصو د جلا کولو بدل دی. او په جلا کولو کي تفاوت او کمي بیشي نه وي. لهذا په أجرت کي به هم کمي بیشي نه کیږي او ټوله شریکان به برابر أجرت ورکوي. او د دې وجه دا ده چي ځیني وخت د صاحب قلیل (لږ حصې والا) حساب هم مشکل وخیږي او په هغه کي د صاحب کثیر له حساب او تقسیم څخه زیات وخت ولګیږي. نو ځکه د حصې او ملکیت د قلت او کثرت (لږوالي او ډېرښت) اعتبار به نه کیږي، بلکي د تمییز او جلا کولو اعتبار به کیږي.

بخلاف حفر البئر إلخ: په مخکښني عبارت کي صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د تقسیم د أجرت مسئله د څاه کیندلو پر أجرت قیاس کړې وه (چي دا أجرت د شریکانو د حصو په اعتبار سره واجبیږي)، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په بخلاف إلخ سره د هغه جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چي د څاه په کیندلو کي أجرت د کیندلو بدل نه وي. بلکي د خاوري د منتقل کولو بدل وي. او د خاورو په نقل او حمل کي تفاوت وي. نو ځکه هلته به أجرت هم متفاوت وي. (په بله وینا دا چي د هر شریک چي څومره حصه وي، ښکاره خبره ده چي څاه کیندونکی د همهغه حصې په اعتبار سره خاوره منتقل کوي. نو ځکه د هغه په حساب سره به أجرت لازمیږي)

والکیل والوزن إلخ: صاحبینو پر کَیل او وزن هم د تقسیم أجرت قیاس کړی وو. د هغه په جواب کي فرمایي چي د کیل او وزن دوه حیثیتونه دي: ① یو دا چي هغه د تقسیم لپاره وي (یعني د دې لپاره څپل مشترک شی پیمانه کړي یا یې وتلي چي په خپل مینځ کي یې تقسیم کړي او هر یو خپله حصه واخلي)، ② دویم دا چي د تقسیم لپاره نه وي، که چیري هغه د تقسیم لپاره وي، نو دا هم پر همغه اختلاف دي یعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د عدد رؤس په حساب سره أجرت واجبیږي او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د ملکیت په اندازه سره. لهذا کله چي دا مسئله د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز تسلیم شده نه ده، نو پر دې قیاس کول صحیح نه دي.

او كه چيرې د تقسيم لپاره نه وي، بلكې د مقدار او داسې نورو د معلومولو لپاره وي، نو په دې صورت كې أجرت د كيل او وزن د عمل په مقابله كې راځي، او ځرنګه چې په دې عمل كې تفاوت دی، نو ځكه په أجرت كې به هم تفاوت او فرق وي.

وهو العذر إلخ: په دې سره د كيل او وزن د قياس يو بل جواب وركوي، حاصل يې دا دی چې كه دا معلومه نه كړی سي چې كَيل او وزن كول د تقسيم لپاره دي يا د مقدار معلومولو لپاره دي، نو ځرنګه چې دلته جهالت راغلی، لهذا د جهالت د عذر پر بناء به پر ظاهري سبب حكم كيږي، يعنې د چالپاره چې څومره كَيل يا وزن وكړي، په همغه اعتبار سره به پر هغه أجرت لازميږي، لنډه دا چې د عذر والا په مسئله سره صاحبين دليل نه سي نيولای (پر دې خبره چې د حصو په اعتبار سره به أجرت لازميږي).

وعنه إلخ: له دې ځايه يو بله مسئله بيان سوې ده، حاصل يې دا دی چې له أمام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې كوم شريک د تقسيم مطالبه او غوښتنه وكړي، تو له أجرت به هغه وركوي، د تقسيم پر انكار كونكي او منع كونكي أجرت نه واجبيږي؛ ځكه چې په دې تقسيم كې د مطالبه كونكي نفع ده او د تقسيم د ناخوښونكي او منع كونكي لپاره نفع نه بلكې نقصان دی، او تاسو ته معلومه ده چې تاوان او أجرت د منفعت مطابق لازميږي، لهذا دلته هم چې كوم يوه ته فايده رسيږي، همهغه به أجرت وركوي.

د تقسيم د طلب كولو پراوونه

قَالَ: وَإِذَا حَضَرَ الشُّرَكَاءُ عِنْدَ الْقَاضِيْ وَفِيْ أَيْدِيْهِمْ دَارٌ أَوْ ضَيْعَةٌ فرمايي: او كله چې د قاضي سره شريكان حاضر سي او د دوی په قبضه كور يا ځمكه وي وَادَّعَوْا أَنَّهُمْ وَرِثُوْهَا عَنْ فُلَانٍ او دوی دعوىٰ وكړي چې دا [ځمكه يا كور] له فلانكي كس څخه دوی په ميراث كې حاصل كړی دی لَمْ يَقْسِمْهَا الْقَاضِيْ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ حَتّٰى يُقِيْمُوا الْبَيِّنَةَ عَلٰى مَوْتِهِ وَعَدَدِ وَرَثَتِهِ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به قاضي هغه نه تقسيموي تر دې چې دوی د هغه فلانكي كس پر مرګ او د هغه د وارثانو پر شمېر بيّنه [ګواهي] پيش نه كړي وَقَالَ صَاحِبَاهُ: يَقْسِمُهَا بِاعْتِرَافِهِمْ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې قاضي به د دوی پر اعتراف هغه [ځمكه يا كور] تقسيموي وَيَذْكُرُ فِيْ كِتَابِ الْقِسْمَةِ أَنَّهُ قَسَمَهَا بِقَوْلِهِمْ او دا به د تقسيم په كتاب [ريجسټر] كې ذكر كوي [درج كوي] چې قاضي د شريكانو په قول [په وينا] هغه تقسيم كړې دی وَإِنْ كَانَ الْمَالُ الْمُشْتَرَكُ مَا سِوَى الْعَقَارِ وَادَّعَوْا أَنَّهُ مِيْرَاثٌ او كه چيرې مشترک مال له جايداد څخه بغير بل شی وي او شريكان د هغه د ميراث كېدلو دعوىٰ وكړي [چې دا موږ ته له

فلانکي شخه په میراث کي حاصل سوي دي] قَسَمَهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا نو د ټولو د قول مطابق [بالاتفاق] به قاضي هغه تقسیموي وَلَوِ ادَّعَوْا فِي الْعَقَارِ أَنَّهُمْ اِشْتَرَوْهُ او که شریکان د جایداد په باره کي دا دعوىٰ وکړي چي دوی هغه رانیولی دی [یعني د جایداد درانیولو دعوىٰ وکړي، نه د میراث کېدلو] قَسَمَهُ بَيْنَهُمْ نو قاضي به هغه د دوی په مینځ کي تقسیموي.

اللغات: ﴿ضیعة﴾ فصل داره او غله داره ځمکه. ﴿ورثوا﴾ د سمع له بابه د جمع مذکر غائب ماضي صیغه ده: وارث کېدل، یو شی په میراث کي حاصلول. ﴿عقار﴾ جایداد.

تشریح: **صورت د مسئلي**: ګا دی چي یو جایداد مثلاً یو کور د څو شریکانو په قبضه کي دی، او دوی قاضي ته راغلل او دعوىٰ یې وکړه چي دا کور موږ ته له فلانکي سړي (مثلاً خالد) څخه په میراث کي حاصل سوی دی، اوس ته دا زموږ په مینځ کي تقسیم کړه!. نو په دې مسئله کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي تر څو دا خلک د مُورث (خالد) پر مرګ او د هغه د وارثانو پر شمېر بیّنه (ګواهي) پېش نه کړي، تر هغه وخته به قاضي دا کور د دوی په مینځ کي نه تقسیموي.

صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي قاضي به محض د دوی پر دغه اقرار کور تقسیموي، خو د یادابنت لپاره به په ریجسټر (یا په بله وینا د قضاوت په کتابچه) کي دا دعوه او فیصله درج او ثبت کړي.

وإن كان إلخ: پورته د غیر منقولي جایداد صورت بیان سو، او له دې ځایه دا بیانوي چي که څو شریکان د منقولي شي (مثلاً د سل منه غنمو) په میراث کي د حاصلېدلو او د هغه د تقسیم مطالبه وکړي، یا د یو شي د رانیولو او د هغه د تقسیم مطالبه وکړي، نو په دې دواړو صورتونو کي د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله ټولو په نېز حکم دا دی چي قاضي به دا شی بغیر له بیّنه تقسیموي.

د صاحبینو دلیل

لَهُمَا: أَنَّ الْيَدَ دَلِيلُ الْمِلْكِ وَالْإِقْرَارَ أَمَارَةُ الصِّدْقِ د صاحبینو دلیل دا دی: چي قبضه د ملکیت دلیل ده او اقرار د رښتنوالي علامت دی وَلَا مُنَازِعَ لَهُمْ او د دوی [شریکانو] لپاره هیڅ خصم هم نسته فَيَقْسِمَهُ بَيْنَهُمْ نو ځکه قاضي به هغه د دوی په مینځ کي تقسیموي كَمَا فِي الْمَنْقُولِ الْمَوْرُوْثِ وَالْعَقَارِ الْمُشْتَرٰى لکه څرنګه چي په میراث شده منقولي شي او رانیول سوي جایداد کي کېږي وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَا مُنْكِرَ او دا ځکه چي [دلته] هیڅ منکر نسته وَلَا بَيِّنَةَ إِلَّا عَلَى الْمُنْكِرِ او بیّنه صرف پر منکر واجب ده

فَلَا يُفِيْدُ نو ځکه [دلته] بيّنه هيڅ فايده نه کوي إِلَّا أَنَّهُ يَذْكُرُ فِي كِتَابِ الْقِسْمَةِ أَنَّهُ قَسَمَهَا بِإِقْرَارِهِمْ، لِيَقْتَصِرَ عَلَيْهِمْ وَلَا يَتَعَدَّاهُمْ خو قاضي به د تقسيم په کتاب [ربجستر] کي دا ذکر کوي [درج کوي] چي قاضي هغه [ځمکه يا کور] د شريکانو په اقرار سره تقسيم کړی دی. [دا به] د دې لپاره [درج کوي] چي تقسيم پر همدوی منحصر پاته سي او له دوی څخه [بغير بل چا ته] متجاوز نه سي.

اللغات: ﴿اليد﴾ لاس، مراد: قبضه. ﴿أمارة﴾ نښاني، علامت. ﴿صدق﴾ رښتنوالی. ﴿منازع﴾ جګړه او عوه کونکی، فريقِ مخالف. ﴿موروث﴾ د سمع له بابه د اسمِ مفعول صيغه ده: په ميراث کي حاصل سوی، ميراث سوی. ﴿يقتصر﴾ د افتعال د باب مضارع ده. مراد: منحصر کېدل. په يو شي اکتفاء کول او له هغه څخه تجاوز (تېری) نه کول.

تشريح: د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د دليل حاصل دا دی چي کله هغه کور يا ځمکه د شريکانو په قبضه کي دي او دوی يې په ميراث کي د حاصلېدلو اقرار کوي، نو بيا د هغه کور يا ځمکي په تقسيمولو کي قاضي ته ممانعت کول پکار نه دي؛ ځکه د دوی قبضه دا خپله د دوی د ملکيت دليل ده (چي همدوی د دې کور يا ځمکي مالکان دي)، او بيا د دوی له اقرار څخه هم د دوی رښتنوالی او پر حق والي معلومېږي. لهذا له بيّنه پېښولو څخه بغير به هغه د دوی په مينځ کي تقسيمول کيږي. او بل دا چي بيّنه خو په هغه صورت کي پېښول کيږي چي هلته يو کس منکر وي يا منازع او مخاصم وي او دلته خو نه څوک منکر سته، نه مخاصم، لهذا د بيّنې طلب کول دلته طلبِ لغو او غيرِ مفيد دي، نو ځکه بغير له بيّنې به تقسيم کيږي.

او څرنګه چي دا تقسيم بالاقرار دی او تقسيم بالاقرار د غير (بل چا) وطرف ته نه متعدي کيږي، نو ځکه پر دې حاضرو مدعيانو د دغه تقسيم د منحصر کولو لپاره به قاضي هغه په دفتر او ربجستر کي درج کوي.

د امام صاحب دليل

وَلَهُ: أَنَّ الْقِسْمَةَ قَضَاءٌ عَلَى الْمَيِّتِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي [دلته] تقسيم کول د مړي په خلاف فيصله کول دي إِذِ التَّرِكَةُ مُبْقَاةٌ عَلَى مِلْكِهِ قَبْلَ الْقِسْمَةِ ځکه چي تر تقسيم مخکي ميراث د مړي پر ملکيت باقي پاته وي حَتَّى لَوْ حَدَثَتِ الزِّيَادَةُ قَبْلَهَا همدا وجه ده که تر تقسيم مخکي [په ميراث کي] زياتوب وسي تُنَفَّذُ وَصَايَاهُ فِيْهَا وَتُقْضَى دُيُوْنُهُ مِنْهَا نو په هغه زياتوب کي به د مړي وصيتونه هم نافذول کيږي او له هغه زياتوب څخه به د مړي قرضونه هم اداء کول کيږي

بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْقِسْمَةِ په خلاف تر تقسيم وروسته [والا صورت] وَإِذَا كَانَتْ قَضَاءً عَلَى الْمَيِّتِ او کله چي دا تقسيم کول دمړي په خلاف فيصله کول دي فَالْإِقْرَارُ لَيْسَ بِحُجَّةٍ عَلَيْهِ نو [دلته] محض اقرار پر مړي حجّت نه دی فَلَا بُدَّ مِنَ الْبَيِّنَةِ نو ځکه له بيّنې څخه چاره نسته وَهُوَ مُفِيدٌ او بيّنه [دلته] مفيده هم ده لِأَنَّ بَعْضَ الْوَرَثَةِ يُنْتَصَبُ خَصْمًا عَنِ الْمُوَرِّثِ ځکه چي بعضي وارثان به د مورث [مړي] له طرفه خصم ودريږي وَلَا يَمْتَنِعُ ذٰلِكَ بِإِقْرَارِهِ او دا د هغه د اقرار په وجه ممتنع نه دي كَمَا فِي الْوَارِثِ أَوِ الْوَصِيِّ الْمُقِرِّ بِالدَّيْنِ لکه په وارث او د قرض په اقرار کونکي وصي کي فَإِنَّهُ يُقْبَلُ الْبَيِّنَةُ عَلَيْهِ مَعَ إِقْرَارِهِ چي د هغه د اقرار باوجود پر هغه بيّنه قبلول کيږي بِخِلَافِ الْمَنْقُوْلِ په خلاف د منقولي شي لِأَنَّ فِي الْقِسْمَةِ نَظَرًا لِلْحَاجَةِ إِلَى الْحِفْظِ ځکه چي [د منقول] په تقسيم کي [د هغه] د حفاظت کولو ضرورت پيش نظر وي [يا په بله وينا چي په منقولي شي کي تقسيم ځکه کيږي چي د هغه حفاظت ته حاجت وي] أَمَّا الْعَقَارُ فَمُحْصَنٌ بِنَفْسِهِ پاته سو جايداد خو په خپله محفوظ دی [حفاظت ته حاجت نه لري] وَلِأَنَّ الْمَنْقُولَ مَضْمُونٌ عَلَىٰ مَنْ وَقَعَ فِي يَدِهِ او ځکه منقولي شی چي د چا په لاس [قبضه] کي واقع سي د هغه ضمان پر هغه وي وَلَا كَذٰلِكَ الْعَقَارُ عِنْدَهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نيز جايداد داسي نه دی وَبِخِلَافِ الْمُشْتَرٰى او په خلاف د رانيول سوي جايداد لِأَنَّ الْمَبِيعَ لَا يَبْقٰى عَلٰى مِلْكِ الْبَائِعِ وَإِنْ لَمْ يُقْسَمْ ځکه چي مبيع د بائع پر ملکيت باقي نه پاتيږي که څه هم تقسيم نه کړی سي فَلَمْ تَكُنِ الْقِسْمَةُ قَضَاءً عَلَى الْغَيْرِ نو ځکه [دلته] به تقسيم کول د بل چا [مړي] په خلاف فيصله کول نه وي.

اللغات: ﴿مبقاة﴾ د سَمِعَ له بابه د اسم مفعول صيغه ده: پاته سوی، ﴿حدثت﴾ د نصر له بابه د مؤنث غائب صيغه ده: پيښېدل، نوي پيدا کېدل، ﴿تنفذ﴾ دا که د تفعيل له بابه سي نو معنىٰ يې ده: نافذول، جاري کول، او که د نصر له بابه سي نو نافذېدل...، ﴿خصم﴾ فريق مخالف، مخالف طرف، مثلاً مدعي يا مدعىٰ عليه (دوی دواړه يو د بل خصم دي)، ﴿محصن﴾ د افعال د باب مفعول دی: محفوظ، خوندي.

تشریح: له دې ځایه صاحب د هدایې د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل بیانوي، چې د هغه حاصل دا دی چې له تقسیم څخه مخکې میراث (ترکه) د همدې مړي په ملکیت کې پاته وي، همدا وجه ده که تر تقسیم مخکې په میراث کې څه زیاتوب (اضافه) راسي (مثلاً میراث ځمکه وي او هغه وده او ګټه وکړي یا مثلاً غوا وي او له هغې څخه بچی (سخوندر) پیدا سي)، نو په هغه زیاتوب کې د مړي وصیت هم نافذیږي او له هغه زیاتوب څخه به د مړي قرضونه هم اداء کول کیږي، لهذا کله چې تر تقسیم مخکې میراث د مړي په ملکیت کې پاتیږي، نو دلته تقسیم کول ګواکې قضاء علی المیت (یعني د مړي په خلاف فیصله کول) دي، او د قضاء علی أحد لپاره د بیّنې (ګواهي) پېشول ضروري وي، فقط په اقرار سره کار نه کیږي، نو ځکه دلته هم د بیّنې پېشول ضروري دي او له بیّنې څخه بغیر قاضي هغه نه سي تقسیمولای.

وهو مفید إلخ: په دې سره صاحبینو رَحِمَهُمَا الله ته جواب ورکوي چې هغو دلته د بیّنې پېشول غیر مفید ګرځولي وه، د جواب حاصل دا دی چې د بیّنې پېشول دلته هم مفید دي، په دې توګه چې له شریکانو څخه یو شریک د مړي نائب جوړ کړی سي چې هغه خصم یعني مدعیٰ علیه وګرځي او نور شریکان مدعیان وګرځي او دا ثابت شده قاعده ده چې "البیّنة علی المدعی والیمینُ علیٰ مَن أنکر"، نو ځکه په دې صورت کې به بیّنه مفیده وي.

ولا یمتنع إلخ: په دې سره د یو اشکال جواب ورکوي، اشکال دا دی چې کله دلته شریکان اقرار کونکي دي، نو بیا په دوی کې یو شریک د مړي له طرفه څنګه خصم ګرځول کېدای سي؟، د دې په جواب کې فرمایي چې د مقر او خصم اجتماع ممکنه ده، مثلاً زید پر یو مړي د خپل قرض دعویٰ وکړه (چې ما پر هغه قرض باندي وو) او د مړي وارث یا وصي اقرار وکړی (چې هو! ربښتیا هم د زید قرض پر باندي وو)، نو اوس که دا قرضخواه (زید) د قاضي مخ ته همدا وارث یا وصي په بیّنه کې پېش کړي (چې ته د قاضي مخ ته ګواهي اداء کړه)، نو د دې قرضخواه بیّنه به قبلول کیږي، نو څرنګه چې دلته د اقرار او بیّنې اجتماع صحیح ده، نو همداسي به په صورتِ مذکوره کې هم صحیح وي.

بخلاف المنقول إلخ: صاحبینو غیرِ منقولي شی (کور) پر منقولي شي قیاس کړی وو (چې کما فی المنقول الموروث) او پر دې بناء یې دلته په موروث غیرِ منقول (کور) کې تقسیم جائز ګرځولی وو، له دې ځایه د هغه جواب ورکوي چې منقولي شیان پر غیرِ منقول قیاسول صحیح نه دي؛ ځکه منقولي شیان مثلاً سامان، غنم او داسې نور د خرابېدلو او ضایع کېدلو امکان لري (چې خراب او ضایع به سي) او د هغه حفاظت کول ضروري وي، او د حفاظت ذریعه تقسیم دی، نو ځکه په منقولي شیانو کې له بیّنې

پېشولو څخه بغير هم تقسيم جائز دی، لېکن غيرِ منقولي شيان مثلاً کور او ځمکه خو په خپله محفوظ وي او د ضايع کېدلو خطره يې نه وي، لهذا د دوی حفاظت ضروري نه وي، نو په همدې وجه له بيّنې پېشولو څخه مخکې د هغوی تقسيمول جائز نه دي.

دويمه وجه دا ده چې پر منقولي شي چې څوک قبضه وکړي، همهغه يې ضامن کيږي، لېکن پر غيرِ منقولي شي په قبضه کولو سره ضمان نه لازميږي، معلومه سوه چې په منقولي شي کې تقسيم د مړي لپاره نفع مند دی، او کله چې تقسيم د مړي لپاره مفيد دی، نو له بيّنه پېشولو څخه مخکې به هم د هغه تقسيمول جائز وي.

وبخلاف المشتریٰ إلخ: صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دا مسئله پر رانيول سوي جايداد (العقار المشتریٰ) هم قياس کړې وه، د جواب حاصل دا دی چې دلته هم ستاسو قياس صحيح نه دی؛ ځکه چې تر خرڅولو وروسته مبيع د بائع له ملکيته وځي، برابره ده شريکان هغه تقسيم کړي او که يې نه کړي، او کله چې مبيع د بائع له ملکيته ووتل، نو هلته قضاء الغائب نه لازميږي، او د ميراث والا په صورت کې خو تر تقسيم مخکې ميراث د مړي (ميّت) په ملکيت کې پاته وي (لکه مخکې چې ذکر سوه)، نو په دې صورت کې قضاء على الغائب (على الميّت) لازميږي کوم چې له بيّنې پېشولو څخه بغير صحيح نه دي، په همدې وجه موږ (امام صاحب) دلته د بيّنې پېشول لازم او ضروري ګرځولي دي.

د تقسيم د طلب کولو يو صورت او د هغه حکم

قَالَ: وَإِنِ ادَّعَوْا الْمِلْكَ وَلَمْ يَذْكُرُوا كَيْفَ انْتَقَلَ إِلَيْهِمْ فرمايي: او که شريکان د ملکيت دعویٰ وکړي او دا ذکر نه کړي چې هغه جايداد څنګه د دوی ملکيت ته منتقل سوی دی [يعني دا نه وايي چې څنګه زموږ په ملکيت کې راغلی دی] قَسَمَهُ بَيْنَهُمْ نو قاضي به هغه د دوی په مينځ کې تقسيموي لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي الْقِسْمَةِ قَضَاءٌ عَلَى الْغَيْرِ ځکه چې په دې تقسيم کې د بل چا په خلاف فيصله کول نسته فَإِنَّهُمْ مَا أَقَرُّوا بِالْمِلْكِ لِغَيْرِهِمْ ځکه چې دوی د بل چا لپاره د ملکيت اقرار نه دی کړی قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: هٰذِهِ رِوَايَةُ كِتَابِ الْقِسْمَةِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا د مبسوط د کتابُ القسمة روايت دی وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: أَرْضٌ ادَّعَاهَا رَجُلَانِ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ أَنَّهَا فِي أَيْدِيهِمَا وَأَرَادَا الْقِسْمَةَ او په جامع صغير کې دي: يوه ځمکه ده چې په هغه دوو خلکو دعویٰ وکړه او دوی پر دې بيّنه هم پېش کړه چې هغه ځمکه د دوی په قبضه کې ده او دوی د تقسيم اراده وکړه لَمْ يَقْسِمْهَا حَتَّى يُقِيمَا الْبَيِّنَةَ أَنَّهَا لَهُمَا نو قاضي به هغه ځمکه نه تقسيموي تر دې چې دوی دواړه پر دې بيّنه پېش کړي چې هغه ځمکه

د همدوی دواړو ده لِاحْتِمَالِ أَنْ يَكُوْنَ لِغَيْرِهِمَا ځکه کېدای سي چي هغه د بل چا وي ثُمَّ قِيْلَ: هُوَ قَوْلُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ خَاصَّةً بيا ويل سوي دي: چي دا خاص د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی وَقِيْلَ: قَوْلُ الْكُلِّ او ويل سوي دي: چي د ټولو قول دی وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا زيات صحيح ده لِأَنَّ قِسْمَةَ الْحِفْظِ فِي الْعَقَارِ غَيْرُ مُحْتَاجٍ إِلَيْهِ ځکه چي په جايداد کي د حفاظت تقسيم [يعني هغه تقسيم چي د حفاظت لپاره وي] لره حاجت نسته وَقِسْمَةُ الْمِلْكِ تَفْتَقِرُ إِلَى قِيَامِهِ او د ملکيت تقسيم د ملکيت قائم والي لره محتاج دی [يعني په قسمة الملک کي د ملکيت باقي پاتېدلو لره حاجت سته] وَلَا مِلْكَ او [دلته] ملکيت سته نه فَامْتَنَعَ الْجَوَازُ نو ځکه جواز ممتنع سو.

اللغات: ﴿تفتقر﴾ د افتعال له بابه د مضارع صيغه ده، د دې باب يوه معنیٰ ده: محتاج کېدل.

تشريح: دلته صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله اول د مبسوط د کتابُ القسمة يو روايت بيانوي، چي د هغه حاصل دا دی چي که څو شريکان د قاضي مخ ته په يو جايداد مثلاً په يو کور يا ځمکه کي د خپل ملکيت دعویٰ وکړي (چي د دې کور مالکان موږ يو) خو دا ذکر نه کړي چي دا کور زموږ په ملکيت کي څرنګه راغلی دی (مثلاً په ميراث کي يا په رانيولو سره)، نو قاضي به هغه کور د دوی په مينځ کي تقسيموي؛ ځکه کله چي دوی د ملکيت نوع ذکر نه کړه، نو ګواکي د بل چا لپاره د ملکيت ثابتېدلو اعتراف (اقرار) يې هم نه وکړی، او کله چي اعتراف نسته، نو قضاء على الغير نه لازميږي، لهذا بغير له بيّنې پېشولو به د هغه تقسيم صحيح کيږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په جامع صغير کي دا مسئله داسي ذکر سوې ده چي که دوو کسانو په يو ځمکه کي د خپل ملکيت دعویٰ وکړه چي دا ځمکه زموږ په ملکيت کي ده، او پر دې يې بيّنه هم پېش کړه چي دا ځمکه في الحاله زموږ په قبضه کي ده، نو تر څو چي دوی پر خپل ملکيت بيّنه پېش نه کړي، قاضي به هغه ځمکه د دوی په مينځ کي نه تقسيموي؛ ځکه چي اوس هم دا احتمال پاته دی چي هغه به د بل چا ځمکه وي او دوی به جبراً قبضه پر کړې وي، لهذا پر قبضې بيّنه پېشول معتبر نه دي، بلکي د خپل ملکيت پر ثبوت بيّنه پېشول معتبر دي او هغه دلته نه دي سوي. فلذا لا يقسم القاضي.

ثم قيل إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د جامع صغير دغه پورتني روايت دوو طرفونو ته منسوب سوی دی: ① دا يوازي د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی. ② د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله هم دغه

قول دی، او همدا صحیح خبره ده؛ او د دې وجه دا ده چې قسمة (تقسیم) پر دوه قسمه دی: ①قسمة الحفظ، یعني د دې لپاره یو شی تقسیم کړی سی چې هر شریک د خپلې حصې حفاظت وکړي، ② قسمة التمییز، یعني چې د هر شریک د ملکیت او حصې د جلا کولو لپاره تقسیم وسي چې هغه له خپل حصې څخه پوره استفاده وکړی سی. ښکاره خبره ده چې په جایداد یعني ځمکه کې د قسمة الحفظ ضرورت نسته؛ ځکه چې ځمکه خو خپله محفوظه وي حفاظت ته ضرورت نه لري (او له یوه ځایه بل ځای ته نه سي نقلول کېدای چې د غلا کېدلو او ضایع کېدلو خطره یې پیدا سي). معلومه سوه چې دلته قسمة التمییز ته ضرورت سته. لېکن قسمة التمییز هلته کیږي، چیري چې له مخکې څخه ملکیت ثابت وي، او دلته مدعینو کسانو فقط خپل قبضه ثابته کړې ده، نه ملکیت. لهذا تر څو چې پر خپل ملکیت بیّنه پېش نه کړي، هغه ځمکه به د دوی په مینځ کې نه تقسیمول کیږي.

د تقسیم د طلب کولو بل صورت او د هغه حکم

قَالَ: وَإِذَا حَضَرَ وَارِثَانِ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الْوَفَاةِ وَعَدَدِ الْوَرَثَةِ فرمایي: او کله چې دوه وارثان [قاضي ته] حاضر سي او دوی پر مړيني او د وارثانو پر شمېر بیّنه پېش کړي وَالدَّارُ فِي أَيْدِيهِمْ وَمَعَهُمْ وَارِثٌ غَائِبٌ اور کور د همدوی په قبضه کې وي او د دوی سره یو بل غائب وارث هم وي قَسَمَهَا الْقَاضِي بِطَلَبِ الْحَاضِرِينَ وَيَنْصِبُ وَكِيلًا يَقْبِضُ نَصِيبَ الْغَائِبِ نو قاضي به د حاضرو وارثانو پر غوښتنه کور تقسیموي او یو وکیل به دروي کوم چې د غائب وارث پر حصه قبضه وکړي وَكَذَا لَوْ كَانَ مَكَانَ الْغَائِبِ صَبِيٌّ او همداسي که د غائب پر ځای یو بچی وارث وي يُقْسَمُ وَيَنْصِبُ وَصِيًّا يَقْبِضُ نَصِيبَهُ نو هم به قاضي تقسیم کوي او یو وصي به دروي کوم چې د بچي پر حصه قبضه وکړي لِأَنَّ فِيهِ نَظَرًا لِلْغَائِبِ وَالصَّغِيرِ ځکه چې په دې کې د غائب او کوچني لپاره مصحلت [ښېګڼه] ده وَلَا بُدَّ مِنْ إِقَامَةِ الْبَيِّنَةِ فِي هٰذِهِ الصُّورَةِ عِنْدَهُ أَيْضًا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت کې هم د بیّنې پېشول ضروري دي خِلَافًا لَهُمَا په خلاف د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله كَمَا ذَكَرْنَاهُ مِنْ قَبْلُ لکه مخکې چې مو یې ذکر کړه وَلَوْ كَانُوا مُشْتَرِينَ او که دوی [د کور] رانیونکي وي لَمْ يُقْسَمْ مَعَ غَيْبَةِ أَحَدِهِمْ نو قاضي به د یوه په غائب والي [ناموجودیت] کې تقسیم نه کوي.

اللغات: ﴿نصیب﴾ حصه، برخه. ﴿ینصب﴾ د مضارع صیغه ده له ضرب او نصر دواړو بابونو څخه راځي: د دې باب یوه معنیٰ ده: درول، مراد ځني ټاکل او مقرر کول دي. ﴿غیبة﴾ غائب والی، ناموجودیت.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د يو کور مثلاً درې وارثان (ميراث خوره) دي، له دوی څخه دوو کسانو د قاضي مخ ته د خپل مُورث پر مړيني او وفات کېدلو او د وارثانو د شمېر په هکله بيّنه پېش کړه او درېيم وارث موجود نه دی او کور د همدوی په قبضه کې دی، نو قاضي به د غائب وارث له طرفه يو وکيل مقرر کوي او دا کور به پر درېو حصو تقسيموي، حاضر وارثان به خپله، خپله حصه واخلي او دا مقرر سوی وکيل به د غائب وارث حصه واخلي.

يا مثلاً په وارثانو کې يو وارث کوچنی وي، نو په دې صورت کې به هم قاضي د کوچني لپاره يو وصي مقرر کوي او کور به تقسيموي؛ ځکه په دواړو صورتونو کې د وارثانو نفع ده او د غائب او کوچني هم فايده ده؛ ځکه که قاضي تقسيم نه وکړي نو کېدای سي چې څه وخت وروسته وارثان بې ايماني وکړي او د دې دواړو (غائب او کوچني) حق وخوري، لهذا نفع او فايده په همدې تقسيم کې ده، نو ځکه قاضي به د دوی په مينځ کې کور تقسيموي.

ولابدّ إلخ: د دې حاصل دا دی چې څرنګه د غائب وارث والا په صورت کې د مورث پر وفات کېدلو او د وارثانو پر شمېر بيّنه پېشول ضروري دي، همداسې د صبي او کوچني والا په صورت کې هم پر مذکوره دوو شيانو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز بيّنه پېشول ضروري دي، خو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز محض د ملکيت په اعتراف سره به قاضي تقسيم کوي.

ولوكانوا إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د مسئلې صورت او نوعيت همدغه وي کوم چې اوس تېر سو، لېکن حاضر وارثان د کور رانيولو (شراء) دعویٰ وکړي (چې دا کور موږ رانيولی دی)، نو په دې صورت کې که څه هم دوی بيّنه پېش کړي، تر څو چې غائب وارث راغلی نه وي، قاضي به هغه کور نه تقسيموي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَالْفَرْقُ أَنَّ مِلْكَ الْوَارِثِ مِلْكُ خِلَافَةٍ او فرق دا دی چې د وارث ملکيت د خليفه والي [نائب والي] ملکيت دی [چې وارث د مړي نائب دی] حَتّٰى يَرُدُّ بِالْعَيْبِ وَيُرَدُّ عَلَيْهِ بِالْعَيْبِ فِيمَا اشْتَرَاهُ الْمُوْرِثُ أَوْبَاعَ همدا وجه ده چې وارث هغه د عيب په وجه واپس کولای سي او د عيب په وجه پر هغه واپس کېدلای سي په هغه شي کې کوم چې مورث [مړي] رانيولی يا خرڅ کړی وي وَيَصِيرُ مَغْرُوْرًا بِشِرَاءِ الْمُوْرِثِ او وارث د مورث په شراء [رانيولو] سره مغرور ګرځي فَانْتَصَبَ أَحَدُهُمَا خَصْمًا عَنِ الْمَيِّتِ فِيمَا فِي يَدِهِ وَالْآخَرُ عَنْ نَفْسِهِ نو له دوی څخه به يو وارث د مړي له طرفه د هغه څه په باره کې کوم چې د وارث په قبضه کې دی خصم [مدعیٰ عليه] ودرېږي او بل يو به له خپل طرفه خصم [مدعي او

گواه پیشونکی] ودرېږي فَصَارَتِ الْقِسْمَةُ قَضَاءً بِحَضْرَةِ الْمُتَخَاصِمَيْنِ نو دا تقسیم به د دوو خصمونو [مدعي او مدعىٰ علیه] په موجودیت کي فیصله کول وګرځي [نه د غائب په خلاف فیصله کول (قضاء على الغائب)] أَمَّا الْمِلْكُ الثَّابِتُ بِالشِّرَاءِ مِلْكٌ مُبْتَدَأٌ او پاته سو په شراء سره ثابت سوی ملکیت نوی [د ابتدائي درجې] ملکیت وي وَلِهٰذَا لَا يَرُدُّ بِالْعَيْبِ عَلٰى بَائِعِ بَائِعِهِ همدا وجه ده چي مشتري یې د عیب په وجه د خپل بائع پر بائع نه سي واپس کولای فَلَا يَصْلُحُ الْحَاضِرُ خَصْمًا عَنِ الْغَائِبِ نو ځکه [دلته] حاضر د غائب له طرفه د خصم جوړېدلو صلاحیت نه لري فَوَضَحَ الْفَرْقُ نو فرق څرګند سو [نو ځکه د شراء (رانیولو) په صورت کي قاضي تقسیم نه سي کولای]

اللغات: ﴿یرد﴾ د نصر د باب مضارع ده: ردول، واپس کول. دلته اول وار د معلوم په صیغه سره ذکر سوې ده، بیا د مجهول په صیغه سره. ﴿مغرور﴾ د نصر له بابه د مفعول صیغه ده: دوکه کړی سوی، فریب خورده. صورت به یې په تشریح کي ذکر سي چي وارث څنګه مغرور ګرځي.

تشریح: په دې عبارت کي صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د مخکښي دوو (وراثت او شراء والا) صورتونو تر مینځ فرق بیانوي فرمایي چي د میراث والا په صورت کي د قاضي لپاره تقسیم کول ځکه جائز دي چي په میراث سره حاصلېدونکی ملکیت د نیابت (نائب والي) په توګه حاصلېږي (یعني ګواکي وارث د مورث مړي نائب دی)، همدا وجه که د مورث (مړي) په رانیول سوي شي کي وارث یو عیب ووېني نو هغه دا شی د مورث بائع ته واپس کولای سي، یا مثلاً د مورث په خرڅ کړی سوي شي کي مشتري یو عیب ووېني، نو مشتري دا شی وارث ته واپس کولای سي، یا مثلاً د مغرور صورت، هغه دا چي مورث مینځه رانیولې وه او د مورث تر مرګ وروسته وارث هغه اُم ولد وګرځوله (یعني وطي یې ور سره وکړې او له هغې څخه بچی پیدا سو)، بیا هغه د بل چا مستحقه وختته (یعني بل چا دعویٰ وکړه چي دا خو زما مینځه ده او خپل استحقاق یې ثابت کړی او له وارث څخه یې مینځه واخیسته. نو مړي چي له چا څخه مینځه رانیولې وه، ګواکي هغه د هغه وارث ته دوکه ورکړه [که څه هم هغه اصلاً مړي ته دوکه ورکړې ده]. لهذا د غه وارث مغرور یعني دوکه سو)، نو په داسي صورت کي وارث له بائع څخه د هغې قیمت اخیستلای سي، لنډه دا چي د وراثت ملکیت د نیابت او خلافت ملکیت دی. لهذا دلته به له وارثانو څخه یو وارث د مړي له طرفه خصم سي او بل یو به له خپل طرفه خصم سي، نو د قاضي په تقسیم سره به قضاء الغائب نه لازمېږي. بلکي قضاء على المتخاصمَین به وي، کوم چي بېله شکه صحیح ده.

لېکن د رانيولو (شراء) په صورت چې څرنګه نوې ملکيت حاصلېږي، همدا وجه ده چې د عيب په وجه مشتري خپل بائع ته خو مبيع واپس کولای سي، مګر دِبائع و بائع ته يې نه سي واپس کولای، نو کله چې دلته نوې ملکيت حاصلېږي، نو حاضر مشتري د غائب مشتري له طرفه خصم نه سي جوړېدای او کله چې هغه خصم نه سي جوړېدای، نو دلته به قضاء على الغائب لازم سي کوم چې صحيح نه ده، په همدې وجه دلته تقسيم صحيح نه دی. الحاصل دا چې په دواړو مسئلو کې فرق د قضاء الغائب د لازمېدلو او نه لازمېدلو دی (چې د شراء په مسئله کې دا قضاء على الغائب لازمېږي او د وراثت په مسئله کې نه لازمېږي).

د تقسيم د طلب يو بل صورت او د هغه حکم

وَإِنْ كَانَ الْعَقَارُ فِي يَدِ الْوَارِثِ الْغَائِبِ أَوْ شَيْءٌ مِنْهُ او که جايداد د غائب وارث په قبضه کې وي يا د هغه بعضې حصه لَمْ يُقْسَمْ نو قاضي به هغه نه تقسيموي وَكَذَا إِذَا كَانَ فِي يَدِ مُودَعِهِ او همدارنګه کله چې د غائب وارث د مودَع [أمين] په قبضه کې وي [يعني غائب وارث جايداد يا د هغه بعضې حصه يو چا ته امانتاً ورکړې وي] وَكَذَا إِذَا كَانَ فِي يَدِ الصَّغِيرِ او همدارنګه کله چې د کوچني په قبضه کې وي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ قَضَاءٌ عَلَى الْغَائِبِ وَالصَّغِيرِ بِاسْتِحْقَاقِ يَدِهِمَا مِنْ غَيْرِ خَصْمٍ حَاضِرٍ عَنْهُمَا ځکه چې تقسيم کول د غائب او بچي په خلاف فيصله کول دي، د دوی دواړو د قبضې په استحقاق سره [يعني ځکه چې پر جايداد د دوی قبضه ده] د دوی له طرفه د يو حاضر خصم له موجوديت څخه بغير [په آسانه وينا دا چې پر جايداد د غائب او صغير قبضه ده او د دوی له طرفه خصم (مدعیٰ عليه) متعيّن سوی نه دی، نو جايداد تقسيمول ګواکي د دوی په خلاف فيصله کول دي، نو ځکه تقسيم به نه کوي] وَأَمِينُ الْخَصْمِ لَيْسَ بِخَصْمٍ عَنْهُ فِيمَا يَسْتَحِقُّ عَلَيْهِ او د خصم [يعني د غائب] امين د هغه [غائب] له طرفه خصم نه سي کېدای په هغه څه کې چې پر هغه [غائب] يې استحقاق ثابت کړی سي [د عبارت آسانه مطلب دا دی چې کوم وارث غائب دی د هغه مودَع فقط د حفاظت کولو لپاره دی، د خصم (مدعیٰ عليه) جوړېدلو لپاره نه دی، نو ځکه هغه خصم نه سي جوړېدای] وَالْقَضَاءُ مِنْ غَيْرِ الْخَصْمِ لَا يَجُوزُ او له خصم څخه بغير فيصله کول جائز نه دي [يعني بغير له حاضر خصمه د غائب په خلاف فيصله نه سي کېدای، نو ځکه قاضي به دا ځمکه تقسيموي] وَلَا فَرْقَ فِي هٰذَا الْفَصْلِ بَيْنَ إِقَامَةِ الْبَيِّنَةِ وَعَدَمِهَا او په دې صورت کې د بيّنې پېشولو او نه پېشولو ترمينځ

هيڅ فرق نسته هُوَالصَّحِيحُ همدا صحيح ده كَمَا أُطْلِقَ فِي الْكِتَابِ لکه څرنګه په کتاب [جامع صغير] کي مطلق ذکر سوي دي.

اللغات: ﴿مودَع﴾ د افعال د باب مفعول دی: چا ته چي امانت ايښول سوي وي، يعني چا ته چي امانتاً يو مال ورکول سوی وي، امانت ساتونکی، چي هغه ته په نورو الفاظو مستودَع او أمين هم ويل کيږي.

تشريح: د دې حاصل دا دی چي کله ځمکه يا کور د حاضرو شريکانو يا د اکثره وارثانو په قبضه کي وي، نو هلته خو د قاضي تقسيم جائز وو (لکه مخکي چي ذکر سوه)، لېکن که ځکمه يا کور د غائب وارث په قبضه کي وي يا د هغه بعضي حصه د ده په قبضه کي وي، يا د ده د مودَع يا کوچني په قبضه کي ټوله يا بعضي حصه وي، نو په دې ټولو صورتونو کي به قاضي د حاضرو شريکانو يا وارثانو په غوښتنه دا ځمکه او کور نه تقسيموي؛ ځکه چي قبضه خو د غائب يا صغير ده، نو د تقسيم په صورت کي د غائب يا صغير د طرفه له يو حاضر خصم څخه بغير قضاء على الغائب لازميږي کوم چي صحيح نه ده.

وأمين الخصم إلخ: په دې سره د يو اشکال جواب ورکوي، اشکال دا دی چي که ځمکه او کور د غائب وارث د مودَع په قبضه کي وي، نو بايد دغه مودَع د غائب وارث له طرفه خصم جوړ کړی سي او تقسيم جائز کړی سي، داسي ولي نه کوي؟.

د دې په جواب کي فرمايي چي بېله شکه مودَع خصم جوړېدای سي، لېکن هغه فقط د حفاظت او صيانت خصم جوړېدای سي، او له خصم څخه بغير قضاء صحيح نه ده، نو ځکه په دې صورت کي به هم تقسيم صحيح نه وي.

ولا فرق إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله ځمکه او کور يا د هغه څه حصه د غائب وارث يا صغير په قبضه کي وي، نو په دې صورت کي د بيّنه پېشولو يا نه پېشولو تر مينځ هيڅ فرق نسته، بلکي په هر صورت کي به قاضي هغه نه تقسيموي، همدا صحيح قول دی.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَإِنْ حَضَرَ وَارِثٌ وَاحِدٌ فرمايي: او که چيري يو وارث حاضر سي لَمْ يُقْسِمْ وَإِنْ أَقَامَ الْبَيِّنَةَ نو قاضي به تقسيم نه کوي که څه هم هغه بيّنه پېش کړي لِأَنَّهُ لَابُدَّ مِنْ حُضُورِ خَصْمَيْنِ ځکه چي د دوو خصمونو [مدعي او مدعیٰ عليه] حاضرېدل ضروري دي لِأَنَّ الْوَاحِدَ لَا يَصْلُحُ مُخَاصِمًا وَمُخَاصَمًا

وَكَذَا مُقَاسِمًا وَمُقَاسَمًا ځکه چي يوازې يو کس د دې صلاحيت نه لري چي مدعي او مدعىٰ عليه جوړ سي او همدارنګه [نه د دې صلاحيت لري] چي تقسيم کونکی او د هغه سره تقسيم کېدونکی جوړ سي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الْحَاضِرُ اثْنَيْنِ عَلٰى مَا بَيَّنَّا په خلاف د هغه صورت کله چي حاضرېدونکي دوه کسان وي، بناء پر هغه تفصيل کوم چي موږ [مخکي] بيان کړی.

اللغات: ﴿لا يصلح﴾ د كَرُمَ له بابه د نفي صيغه ده، صَلُحَ يَصْلُحُ صَلَاحِيَّةً: صلاحيت لرل، وړتيا لرل. ﴿مخاصِما﴾ د مفاعلې له بابه د فاعل صيغه ده: د يو چا سره خصومت او دعوىٰ کونکی، مدعي. ﴿مخاصَما﴾ له مخکيني بابه د مفعول صيغه ده: د چا سره چي خصومت او دعوىٰ کيږي، مدعىٰ عليه. ﴿مقاسِم﴾ د يو چا سره تقسيم کونکی، تقسيم په کونکی. ﴿مقاسَم﴾ د چا سره چي تقسيم کيږي.

تشريح: مسئله دا ده که يو جايداد (مثلاً کور) د څو وارثانو تر مينځ مشترک وي او له دوی څخه صرف يو وارث قاضي ته ولاړ سي او د تقسيم غوښتنه وکړي، نو قاضي به د تقسيم فيصله نه کوي، که څه هم هغه يو وارث دليل او بيّنه پېش کړي؛ ځکه چي د قضاء (فيصلې) لپاره د دوو خصمينو يعني د مدعي او مدعىٰ عليه موجودېدل ضروري دي، او دا نه سي کېدای چي يوازې يو کس دي مدعي او مدعىٰ عليه دواړه وي او نه دا کېدای سي چي يوازې يو کس په قاضي تقسيم کونکی هم وي او يوازې د ده سره تقسيم هم کېدونکی وي (بلکي د بل شريک حاضرېدل ضروري دي)، نو ځکه دلته قاضي تقسيم نه سي کولای، ها! که چيري دوه کسان (وارثان) حاضر سي، نو بيا تقسيم صحيح دی او قاضي به د دوی تر مينځ تقسيم کوي؛ ځکه چي يو به مدعي او بل به مدعىٰ عليه وګرځي، او په دې صورت کي تقسيم صحيح کيږي.


د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوْ كَانَ الْحَاضِرُ كَبِيْرًا وَصَغِيْرًا او که حاضرېدونکي يو مشر او يو کوچنی [کشر] وي نَصَبَ الْقَاضِي عَنِ الصَّغِيْرِ وَصِيًّا وَقَسَمَ إِذَا أُقِيْمَتِ الْبَيِّنَةُ نو قاضي دي د کوچني له طرفه يو وصي مقرر کړي او تقسيم دي وکړي کله چي بيّنه پېش کړی سي وَكَذَا إِذَا حَضَرَ وَارِثٌ كَبِيْرٌ وَمُوصًى لَهُ بِالثُّلُثِ فِيْهَا وَطَلَبَا الْقِسْمَةَ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمِيْرَاثِ وَالْوَصِيَّةِ او همدارنګه کله چي يو مشر وارث او د کور د دريمي

حصې موصی لهٗ حاضر سي او د تقسيم مطالبه وکړي او پر ميراث او وصيت بيّنه پيش کړي يَقْسِمُهُ نو قاضي به تقسيم کوي لِاجْتِمَاعِ الْخَصْمَيْنِ الْكَبِيْرِ عَنِ الْمَيِّتِ وَالْمُوصٰى لَهٗ عَنْ نَفْسِهِ ځکه چي دوه خصمونه سره جمع سوه، مشر د مړي له طرفه او موصی لهٗ د خپل ځان له طرفه وَكَذَا الْوَصِيُّ عَنِ الصَّبِيِّ كَأَنَّهُ حَضَرَ بِنَفْسِهِ بَعْدَ الْبُلُوْغِ او همدارنګه د بچي [کوچني] وصي داسې دی لکه بچی چي په خپله تر بلوغت وروسته حاضر سي لِقِيَامِهِ مَقَامَهُ ځکه چي وصي د هغه قائم مقام [نائب] دی.

اللغات: ﴿موصی لهٗ﴾ د کوم کس لپاره چي مړي د يو شي وصيت کړی وي، موصی لهٗ بالثلث: هغه کس چي د هغه لپاره مړي د کور يا داسي بل شي د دريمي حصې وصيت کړی وي چي دومره حصه د دې کس ده.

تشريح: ځرنګه چي تر بيّنه پيشولو وروسته د تقسيم صحيح کېدلو لپاره د دوو کسانو (وارثانو) حاضرېدل ضروري دي (لکه مخکي چي ذکر سوه)، نو دلته دا بيانوي چي که دوه کسان حاضر سي خو يو نابالغه کوچنی هلک وي او بل بالغ کس وي او د تقسيم مطالبه وکړي، يا يو بالغ وارث حاضر سي او بل موصی له بالثلث حاضر سي او د تقسيم مطالبه وکړي، نو په دې دواړو صورتونو کي به قاضي تقسيم کوي؛ ځکه چي دوه خصمهٔ موجود دي او د تقسيم تعداد پوره دی، نو بالغ به د مړي له طرفه خصم وګرځي او د کوچني لپاره دي وصي مقرر کړی سي چي هغه به د ده له طرفه خصم وګرځي او په دويم صورت کي به موصی له خپل طرفه خصم وګرځي، نو د اجتماعِ خصمَين په وجه به تقسيم صحيح وي. او ځرنګه چي د کوچني هلک وصي د هغه نائب او قائم مقام کيږي، نو ځکه د وصي حاضرېدل داسي دي لکه تر بالغ کېدو وروسته د کوچني هلک حاضرېدل (يعني لکه کوچنی چي خپله اوس بالغ سوی او حاضر سوی دی)، نو ځکه قاضي به اوس تقسيم کوي.



فَصْلٌ فِيْمَا يُقْسَمُ وَمَا لَا يُقْسَمُ

دا فصل په (بيان د) هغه شيانو کي دی کوم چي تقسيمول کيږي او هغه کوم چي نه تقسيمول کيږي.

تشريح: ښکاره خبره ده چي شيان پر دوه قسمه دي: ① مقسوم (کوم چي د تقسيم قابل وي يعني تقسيمېدلای سي). ② غيرِ مقسوم (کوم چي نه سي تقسيم کېدلای). نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په يو مستقل فصل کي د دوی احکام هم بيان کړي دي.

د تقسيم لپاره طلب ضروري دی

قَالَ: وَإِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشُّرَكَاءِ يَنْتَفِعُ بِنَصِيْبِهِ فرمايي: او کله چي له شريکانو څخه يو شريک له خپل حصې څخه نفع اخيستلای سي قَسَمَ بِطَلَبِ أَحَدِهِمْ نو قاضي به د دوی د يوه په طلب [غوښتنه] سره هم تقسيم کوي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ حَقٌّ لَازِمٌ فِيْمَا يَحْتَمِلُهَا عِنْدَ طَلَبِ أَحَدِهِمْ ځکه چي تقسيم يو لازم حق دی په هغه شيانو کي کوم چي د تقسيم وړتيا لري د يوه شريک د طلب په وخت کي [يعني کوم شيان چي تقسيمېدلای سي. هلته د يوه شريک پر مطالبه تقسيم کول د هغه لازم حق دی] عَلَىٰ مَا بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ لکه مخکي چي دا مور بيان کړه.

اللغات: ﴿ينتفع﴾ دا افتعال د باب مضارع ده: نفع او فايده اخيستل، نفع رسېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي کله مشترک شی داسي وي چي هر شريک پکښي له خپل حصې څخه نفع اخيستلای سي، مثلاً دوه آسان د دوو کسانو تر مينځ مشترک وي (نو ښکاره خبره ده چي که هر شريک ته خپله حصه يعني خپل آس ور جلا کړی سي نو هغه نفع ځني اخيستلای سي)، نو په داسي صورت کي که يو شريک د تقسيم مطالبه او غوښتنه وکړي، نو قاضي به هغه تقسيموي (هر يوه ته به يو آس ور جلا کوي). او که يو د تقسيم منکر وي چي زه تقسيم نه کووم، نو هغه به مجبورول کيږي؛ ځکه چي په قابلِ تقسيم شي کي تقسيم د هر شريک لازم حق دی. او د هغه په تقسيمولو سره هيڅ شريک ته ضرر هم نه رسيږي. نو ځکه د يوه شريک پر مطالبه به قاضي تقسيم پکښي کوي.

د تقسيم د طلب مختلفه صورتونه

وَإِنْ كَانَ يَنْتَفِعُ أَحَدُهُمْ وَيَسْتَضِرُّ الْآخَرُ لِقِلَّةِ نَصِيبِهِ او كه [په تقسيم سره] يو شريک ته نفع رسېده او بل شريک ته د خپل حصې د کموالي [الزوالي] په وجه ضرر [تاوان] رسېدی فَإِنْ طَلَبَ صَاحِبُ الْكَثِيرِ نو که زياتي حصې والا [د تقسيم] طلب وکړی قَسَمَ نو قاضي به تقسيم کوي وَإِنْ طَلَبَ صَاحِبُ الْقَلِيلِ او که کمي حصې والا طلب وکړی لَمْ يَقْسِمْ نو تقسيم به نه کوي لِأَنَّ الْأَوَّلَ مُنْتَفِعٌ بِهِ ځکه چي اول شريک په خپل طلب [يا خپل حصه سره] سره نفع اخيستونکی دی فَيُعْتَبَرُ طَلَبُهُ نو ځکه د هغه طلب به معتبر وي وَالثَّانِي مُتَعَنِّتٌ فِي طَلَبِهِ او دويم يو په خپل طلب کي سرکښه دی فَلَمْ يُعْتَبَرْ نو د هغه طلب به معتبر نه وي وَذَكَرَ الْجَصَّاصُ عَلَى قَلْبِ هَذَا او امام جصاص رَحِمَهُ الله د دې برعکس ذکر کړي دي لِأَنَّ صَاحِبَ الْكَثِيرِ يُرِيدُ الْإِضْرَارَ بِغَيْرِهِ ځکه چي زياتي حصې والا بل يوه ته د ضرر رسولو اراده لري وَالْآخَرُ يَرْضَى بِضَرَرِ نَفْسِهِ او دا بل يو [کمي حصې والا] د خپل ځان په ضرر راضي دی وَذَكَرَ الْحَاكِمُ الشَّهِيدُ فِي مُخْتَصَرِهِ أَنَّ أَيَّهُمَا طَلَبَ الْقِسْمَةَ يَقْسِمُ الْقَاضِي او حاکم شهيد رَحِمَهُ الله په خپل مختصر کي دا ذکر کړي دي چي له دوی دواړو څخه کوم يو هم د تقسيم طلب وکړي نو قاضي به تقسيم کوي وَالْوَجْهُ انْدَرَجَ فِيمَا ذَكَرْنَاهُ او [د حاکم شهيد د قول] دليل زموږ په ذکر سوي دليلونو کي داخل دی وَالْأَصَحُّ الْمَذْكُورُ فِي الْكِتَابِ وَهُوَ الْأَوَّلُ او زيات صحيح قول هغه دی کوم چي په قدوري [متن] کي ذکر سوی دی او هغه اول قول دی.

اللغات: ﴿يستضر﴾ د استفعال د باب مضارع ده: ضرر او نقصان رسېدل. ﴿إضرر﴾ د افعال د باب مصدر دی: ضرر رسول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي يو کور د دوو کسانو تر مينځ مشترک دی او په دوی کي د يوه حصه زياته ده او د بل حصه ډېره کمه ده چي تر تقسيم وروسته نفع نه سي ځني اخيستل کېدای. اوس که په دوی کي يو د تقسيم طلب (مطالبه) وکړي، نو څه حکم به يې وي؟. په دې باره کي څو قولونه دي:

① اول قول دا دی چي که چيري د زياتي حصې والا د تقسيم طلب (مطالبه) وکړي، نو قاضي به تقسيم کوي. کنې نه به يې کوي. دا په قدوري کي ذکر سوی دی؛ ځکه چي صاحبِ کثير (زياتي

حصې والا) ته په طلب سره فايده رسيږي چي هغه له خپل حصې څخه پوره نفع اخيستلای سي. نو ځکه د هغه طلب به معتبر وي، او صاحبِ قليل (کمي حصې والا) ته په طلب کولو سره فايده نه رسيږي؛ ځکه هغه له خپل حصې څخه هيڅ نفع نه سي اخيستلای. نو ځکه د هغه طلب به معتبر نه وي او د هغه پر مطالبه قاضي تقسيم نه کوي.

② امام جصاص رَحِمَهُ الله فرمايي چي صاحبِ کثير د تقسيم په طلب کولو سره بل شريک ته د ضرر رسولو اراده کونکی دی؛ ځکه په تقسيم سره صاحبِ قليل ته ضرر او نقصان رسيږي. نو ځکه د صاحبِ کثير طلب لره به اعتبار نه وي. او څرنګه چي د صاحبِ قليل په طلب کي د هغه خپل نقصان دی. نه د صاحبِ کثير. نو ځکه د هغه طلب به معتبر منل کيږي او پر طلب به يې قاضي تقسيم کوي.

③ حاکم شهيد رَحِمَهُ الله فرمايي چي برابره ده د صاحبِ کثير له طرفه د تقسيم طلب وسي يا د صاحبِ قليل له طرفه. په دواړو صورتونو کي به قاضي تقسيم کوي؛ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د صاحبِ کثير په صورت کي د حاکم شهيد د قول دليل د اول قول والا دليل دی. او د صاحبِ قليل دطلب په صورت کي د هغه د قول دليل د امام جصاص رَحِمَهُ الله د قول والا دليل دی.

دا درې قولونه سوه. خو صحيح اول قول دی او په قدوري او داسي نورو متونو کي هم هغه ذکر سوی دی چي د صاحبِ کثير طلب معتبر دی او د صاحبِ قليل طلب لغو دی.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ كَانَ كُلٌّ وَاحِدٍ يَسْتَضِرُّ لِصِغَرِهِ او که د حصې د کوچنيوالي [لږوالي] په وجه هر شريک ته ضرر رسېدی لَمْ يَقْسِمْهَا إِلَّا بِتَرَاضِيْهِمَا نو قاضي به کور نه تقسيموي مګر د دواړو شريکانو په رضاء سره لِأَنَّ الْجَبْرَ عَلَى الْقِسْمَةِ لِتَكْمِيلِ الْمَنْفَعَةِ ځکه چي پر تقسيم مجبوره کول د منفعت د پوره کولو لپاره وه وَفِي هٰذَا تَفْوِيتُهَا او په دې صورت کي خو د منفعت فوتول سته وَيَجُوزُ بِتَرَاضِيْهِمَا ها! د دواړو په رضاء سره تقسيم جائز دی لِأَنَّ الْحَقَّ لَهُمَا ځکه چي حق د همدوی دی وَهُمَا أَعْرَفُ بِشَأْنِهِمَا او دوی دواړو خپل په شان او حالت ښه خبر دي أَمَّا الْقَاضِيْ فَيَعْتَمِدُ الظَّاهِرَ او پاته سو قاضي به فقط پر ظاهر حالت اعتماد کوي.

اللغات: ﴿تراضى﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو تر بله راضي کېدل (د دواړو شريکانو راضي کېدل). ﴿تفويت﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: فوت کول (فوتول). ﴿شأن﴾ حالت.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که مشترک کور دومره تنګ او کوچنی وي چي که هغه تقسیم کړی سي، نو دیوه شریک لپاره هم د استعمال او نفع اخیستلو قابل نه پاتیږي. نو په دې صورت کي چي تر څو دواړه شریکان په تقسیم راضي نه سي، تر هغه وخته به قاضي د یوه پر مطالبه تقسیم نه کوي؛ ځکه چي یو شریک هغه وخت پر تقسیم مجبورول کیږي کله چي په هغه کي د بل شریک هم نفع وي، او دلته له سره نفع ختمیږي. نو ځکه د دواړو د راضي کېدلو پر مهال به تقسیم کیږي: ځکه چي حق د همدوی دی. لهذا کله چي دوی دواړه راضي سي نو قاضي به تقسیم کوي. که څه هم دوی ته نقصان کوي هغه دوی پوه سه نفع او نقصان یې پوه سه! . د قاضي کار خو پر ظاهر اعتماد او فیصله کول دي. او دلته دواړه شریکان ظاهراً په تقسیم راضي او خوشاله دي. نو ځکه قاضي به په دې صورت کي تقسیم کوي.

د سامان د تقسیم صورت او حکم

قَالَ: وَيَقْسِمُ الْعُرُوْضَ إِذَا كَانَتْ مِنْ صِنْفٍ وَاحِدٍ فرمايي: او قاضي به سامان تقسیموي کله چي هغه د یوه قسم وي لِأَنَّ عِنْدَ اتِّحَادِ الْجِنْسِ يَتَّحِدُ الْمَقْصُوْدُ ځکه چي د جنس د یو والي په وخت کي مقصد هم یو وي فَيَحْصُلَ التَّعْدِيْلُ فِي الْقِسْمَةِ وَالتَّكْمِيْلُ فِي الْمَنْفَعَةِ لهذا په تقسیم کي برابري او په منفعت کي تکمیل به حاصل سي وَلَا يَقْسِمُ الْجِنْسَيْنِ بَعْضَهُمَا فِي بَعْضٍ او قاضي به دوه جنسه بعضي په بعضو کي نه تقسیموي لِأَنَّهُ لَا اخْتِلَاطَ بَيْنَ الْجِنْسَيْنِ ځکه چي په دوو جنسونو کي اختلاط نه کیږي فَلَا تَقَعُ الْقِسْمَةُ تَمْيِيْزًا بَلْ تَقَعُ مُعَاوَضَةً نو ځکه دلته به تقسیم تمییز [د حصو جلا کول] واقع نه سي بلکي معاوضه [مبادله] به واقع سي وَسَبِيْلُهَا التَّرَاضِيْ دُوْنَ جَبْرِ الْقَاضِيْ او د معاوضې لاره رضاء ده [چي شریکان به په هغه راضي وي]. نه د قاضي جبر [اکراه].

اللغات: ﴿عروض﴾ جمع د عرضٌ ده: سامان. ﴿صنف﴾ قسم. ﴿تعديل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: برابري کول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که د یوه صنف او یوه جنس والا شی (مثلاً شل منه غنم) د څو شریکانو تر مینځ مشترک وي، نو په دې صورت کي به قاضي صرف د یوه شریک پر طلب هم تقسیم کوي. او که یو شریک د تقسیم منکر وي چي زه تقسیم نه کوم. نو قاضي به هغه جبراً راضي کوي: ځکه کله چي مشترک شی ټوله د یوه جنس والا سامان دی (ټوله غنم دي). نو د ټولو مقصد یو دی هیڅ فرق پکښي نسته او په وزن کي شریکانو ته برابر، برابر رسیږي. نو ځکه که یو راضي نه وي. نو قاضي به جبراً تقسیم کوي.

لېکن که مشترک شی دوه جنسو والا وي، مثلاً لس تانه کپړې او شل منه غنمه د دوو شریکانو تر مینځ مشترک وي، نو په دې صورت کې که یو شریک په تقسیم راضي نه وي نو قاضي هغه پر تقسیم نه سي مجبوره کولای؛ ځکه کله چي سامان دوه جنسه والا وي نو یو د بل سره ګډ نه وي چي په تقسیمولو کي یې مشکل راځي، نو دلته قاضي داسي تقسیم نه سي کولای چي یوه شریک ته لس تانه کپړې ورکړي او بل شریک ته شل منه غنم ورکړي، او که داسي وکړي نو دا تقسیم د حصو جلا کول نه سوه (چي هر یوه ته یې خپله حصه ور جلا کړه)، بلکي د یوه شریک حصه د بل شریک په حصې سره بدلول (مبادله) سوه، یعني ګواکي یوه شریک ته د کپړې په بدله کي غنم ورکول سوه او بل ته د غنمو په بدله کي کپړه ورکول سوه، او د مبادلې او معاوضې په صورت کي د دواړو شریکانو رضاء ضروري ده، نو ځکه دلته د یوه شریک د نا راضی په صورت کي تقسیم نه سي کولای، بلکي هغه وخت به قاضي تقسیم کوي کله چي دوی دواړه په تقسیم راضي او خوشاله وي.

اُصول: په کوم صورت کي چي افراز او تمییز وي (یعني خپله حصله را جلا کول کیږي، مثلاً یو کَیلي شی [غنم] د دوو کسانو تر مینځ مشترک وي)، نو هلته د دواړو شریکانو ضاء ضروري نه ده، صرف د یوه شریک پر مطالبه به تقسیم کیږي، او چیري چي د مبادلې صورت وي، هلته د دواړو رضاء ضروري ده (لکه مخکي چي هم دا خبره ذکر سوه).

قاضي به کوم څه تقسیموي یا نه تقسیموي (په اجناسِ مختلفه کي د بالجبر تقسیم کولو ممانعت)

وَيَقْسِمُ كُلَّ مَكِيْلٍ وَمَوْزُوْنٍ كَثِيْرٍ أَوْ قَلِيْلٍ او قاضي به تقسیموي هر وزني او کَیلي شی برابره ده هغه زیات وي او که کم وي وَالْمَعْدُوْدِ الْمُتَقَارِبِ وَتِبْرِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْحَدِيْدِ وَالنُّحَاسِ وَالْإِبِلِ بِانْفِرَادِهَا وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ او [قاضي به تقسیموي] معدود متقارب شی او د سرو او سپینو زرو ټوټه او ژړ. [همدارنګه] یوازي اوښان، غویان او پسونه وَلَا يَقْسِمُ شَاةً وَبَعِيْرًا وَبِرْذَوْنًا وَحِمَارًا او نه به تقسیموي پسه او اوښ [سره یو ځای. همدارنګه] آس او خر وَلَا يَقْسِمُ الْأَوَانِيَ او نه به لوښي تقسیموي لِأَنَّهَا بِاخْتِلَافِ الصَّنْعَةِ الْتَحَقَتْ بِالْأَجْنَاسِ الْمُخْتَلِفَةِ ځکه چي د جوړښت د مختلف کېدلو په وجه لوښي د مختلفو جنسو والا شیانو سره لاحق سول وَيَقْسِمُ الثِّيَابَ الْهَرَوِيَّةَ او قاضي به هراتي کپړې تقسیموي لِاتِّحَادِ الصِّنْفِ د نوع د یو والي په وجه.

اللغات: ﴿تِبر﴾ ټوټه. ټوکره. ﴿نحاس﴾ ژړ. یو ډول فلز دی. ﴿برذون﴾ د آس یو قسم دی. ﴿أوانی﴾ واحد یې آنِيَة دی: لوښی.

تشريح: مخکي دا خبره تېره سوې ده چي په اجناسِ متحده کي قاضي جبر کولای سي (يعني که يو شريک په تقسيم نه راضي کيږي او نور راضي وي. نو قاضي هغه مجبوره کولای سي). لېکن په اجناس مختلفه کي قاضي د تقسيم لپاره پر چا جبر نه سي کولای، دلته صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله همدا صورتونه متفرع کوي چي په وزني، کيلي او معدود متقارب شيانو کي اتحادُ الجنس وي همدارنګه د سپينو او سرو زرو په ټوټو او د اُوسپني او ژړو په ټوټو کي اتحاد الجنس وي، نو ځکه قاضي هغوی په جبر او إکراه سره هم تقسيمولای سي، همدا حکم د يوازي اوښانو يا د يوازي غواوو او پسونو دئ (چي مشترک مال فقط اوښان. يا غواوي. يا پسونه وي). د دوی په تقسيم کي هم جبر کېدای سي؛ ځکه په دې صورت کي تفاوت ډېر لږ وي، خو که چيري پسه او اوښ يو ځای سره مشترک وي. يا آس او خر سره مشترک وي، نو ښکاره خبره ده چي دلته د اختلافِ جنس په وجه تفاوت هم ډېر زيات (فاحش) دی، نو ځکه دلته جبراً قاضي تقسيم نه سي کولای (ځکه که اوښ يوه شريک ته ورکړي او پسه بل شريک ته ورکړي. نو دا د خپلي حصې اخيستل نه سوه بلکي د خپلي حصې په بدله کي د بل شريک د حصې اخيستل سوه کوم ته چي مبادله او معاوضه وايي. او په مبادله کي جبر نه جاري کيږي لکه مخکي چي ذکر سوه).

او همداسي په لوښو کي هم قاضي جبراً تقسيم نه سي کولای؛ ځکه لوښي که څه هم صورتاً د يوه جنس معلوميږي، خو د صنعت (جوړښت) او نقش ونګار په بدلون سره هغوی د مختلف الأجناس شيانو په درجه ګرځول سوي دي، چي په هغوی کي جبر نه سي کېدای، خو څرنګه چي د هرات ښار جوړي سوي کپړې به متحد الجنس وې يعني تفاوت به ډېر پکښې کم وو (لکه اوسنی کپړې چي د ټوله تان په کپړه کي څه تفاوت نه وي). نو ځکه هغه کپړې جبراً تقسيمول کېدای سي.

د يوې کپړې د تقسيم حکم

وَلَا يَقْسِمُ ثَوْبًا وَاحِدًا او قاضي به يوه کپړه نه تقسيموي لِاشْتِمَالِ الْقِسْمَةِ عَلَى الضَّرَرِ ځکه چي دا تقسيم پر ضرر [نقصان] مشتمل دی إِذْ هِيَ لَا تَتَحَقَّقُ إِلَّا بِالْقَطْعِ ځکه چي [دلته] له پرېکولو څخه بغير تقسيم نه متحقق کيږي وَلَا ثَوْبَيْنِ إِذَا اخْتَلَفَتْ قِيمَتُهُمَا او نه [به قاضي تقسيموي] دوې کپړې که د هغوی قيمت سره مختلف وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی بِخِلَافِ ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ إِذَا جُعِلَ ثَوْبٌ بِثَوْبَيْنِ په خلاف د درېو کپړو کله چي يوه کپړه د دوو کپړو په بدله کي وګرځول سي أَوْ ثَوْبٌ وَرُبُعُ ثَوْبٍ بِثَوْبٍ وَثَلَاثَةِ أَرْبَاعِ ثَوْبٍ يا يوه کپړه او د يوې کپړې څلورمه حصه د يوې کپړې او د يوې کپړې د درېو څلورمو حصو په بدله کي وګرځول سي [يا په بله ويناداچي يو

طرف ته يوه کپړه او ربع د کپړې ورکړل سي او بل طرف ته يوه کپړه او درې ربع د کپړې ورکړل سي] لِأَنَّهُ قِسْمَةُ الْبَعْضِ دُونَ الْبَعْضِ ځکه چې دا د بعض دون البعض تقسيم دی [يعني په دې صورت کې يې بعض کپړه تقسيم کړه او بعضې يې نه کړه] وَذٰلِكَ جَائِزٌ او دا جائز دي.

اللغات: ﴿اشتمال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: مشتمل کېدل. ﴿ضرر﴾ نقصان.

تشريح: **مسئله**: دا ده که د دوو کسانو تر مينځ مثلاً يو څادر (پټو) يا مثلاً يو لنګ مشترک وي. نو قاضي جبراً هغه نه سي تقسيمولای: ځکه چې له پرېکولو او دوه ځايه کولو څخه بغير د هغه تقسيم نه سي کېدای او داسي تقسيم د دواړو لپاره مضر دی. فلا يقسم. همدارنګه که دوې کپړې د دوو کسانو تر مينځ مشترکي وي لېکن د هغوی قيمت سره مختلف وي (يعني ديوې قيمت تر بلي ګران وي). نو هغوی هم قاضي جبراً نه سي تقسيمولای چې ګرانه کپړه يو شريک ته ورکړي او ارزانه والا بل شريک ته ورکړي؛ ځکه د قيمت د اختلاف په صورت کې يوه ته خامخا ضرر او تاوان رسيږي. او بل دا چې دلته د مبادله او معاوضه صورت جوړېږي (چې مخکې يې وضاحت تېر سوی دی). او په مبادله کې جبر نه چلېږي.

بخلاف ثلاثة أثواب إلخ: ها! که چېري درې کپړې وي. نو د هغوی په تقسيم کې قاضي جبر کولای سي. مثلاً دوه څادران (پټوان) دي او بله سدرۍ يا کرتۍ ده. نو يوه شريک ته دي سدرۍ ورکړي او بل ته دي دوه څادران ورکړي يا برعکس. په دې توګه ديوه هم زيات نقصان نه کېږي. نو ځکه په تقسيم کې يې قاضي جبر کولای سي.

يا مثلاً درې کپړې دي چې دوه څادران دي او يوه سدرۍ ده. په څادرانو کې يو ارزانه قيمت والا او بل ګران قيمته دی. نو يو څادر دي يوه ته ورکړي او بل څادر دي و بل ته ورکړي. او سدرۍ دي په دواړو کې مشترکه ولري. چې دوی يې په نوبت. نوبت استعمالوي. يا سدرۍ دي خرڅه کړي او هر شريک دي خپله حصه واخلي. کوم شريک ته چې قاضي ګران قيمته څادر ورکړی دی. هغه ته دي په سدرۍ کې يوه حصه ورکړي او کوم يوه ته چې يې ارزانه قيمته څادر ورکړی دی هغه ته دي دوې حصې ورکړي. نو په دې توګه به هر يوه ته برابره. برابره حصه ورسيږي. لنډه دا چې څرنګه دلته مساوات او برابري کېدلای سي. نو ځکه قاضي جبراً تقسيم کولای سي. د عبارت مطلب همدا دی.

(اثمار الهدايه ج: ۱۲، ص: ۱۶۱)

قسمة البعض دون البعض: د دې مطلب دا دی چې د دريو کپړو په صورت کې د بعضې تقسيم کېږي او د بعضې تقسيم نه کېږي. لکه په پورتني مثال کې چې د څادرانو تقسيم وسو (چې يوه څادر يې يوه ته

ورکړی او بل څادر یې...)، او د سدرې تقسیم نه وسو بلکې د دواړو تر مینځ یې مشترکه ولرل او د حصې په اعتبار سره یې دواړه پکښې شریکان کړه (دوې حصې یې یوه ته ورکړې او یوه حصه یې بل ته).

د غلامانو او جواهراتو د تقسیم حکم

وَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ: لَايَقْسِمُ الرَّقِيقَ وَالْجَوَاهِرَ او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمایي: چې قاضي به غلامان او جواهر نه تقسیموي لِتَفَاوُتِهِمَا د دوی د تفاوت په وجه [چې یو غلام له بل غلام څخه متفاوت وي] وَقَالَا: يَقْسِمُ الرَّقِيقَ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چې غلامان به تقسیموي لِاتِّحَادِ الْجِنْسِ د جنس د یو والي په وجه [چې ټول په انسانیت کې سره یو دي] كَمَا فِي الْإِبِلِ وَالْغَنَمِ وَرَقِيقِ الْمَغْنَمِ لکه په اوښانو، پسونو او د غنیمت په غلامانو کې چې کیږي وَلَهُ: أَنَّ التَّفَاوُتَ فِي الْآدَمِيِّ فَاحِشٌ لِتَفَاوُتِ الْمَعَانِي الْبَاطِنَةِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې د باطني معناوو د تفاوت په وجه په انسان کې تفاوت ډېر زیات دی [یا په بله وینا دا چې د باطني خوبونو په اعتبار سره د وو انسانانو تر مینځ بېخي زیات توپیر وي] فَصَارَ كَالْجِنْسِ الْمُخْتَلِفِ نو دا د مختلف جنس په څېر سو [یعني لکه دوه غلامان چې د مختلف جنس والا سول] بِخِلَافِ الْحَيَوَانَاتِ په خلاف د حیوانانو لِأَنَّ التَّفَاوُتَ فِيهَا يَقِلُّ عِنْدَ اتِّحَادِ الْجِنْسِ ځکه د جنس د یو والي [یعني د متحد الجنس حیوانانو] پر مهال په دوی کې تفاوت کم وي أَلَا تَرَى أَنَّ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى مِنْ بَنِي آدَمَ جِنْسَانِ وَمِنَ الْحَيَوَانَاتِ جِنْسٌ وَاحِدٌ آیا ته نه ګورې چې د انسان نر او ماده دوه [جلا] جنسونه دي او د حیوانانو نر او ماده یو جنس دی.

اللغات: ﴿رقيق﴾ مملوک انسان، غلام. قد يستوى فيه الواحد والجمع، فيقال: ليس في الرّقيق صدقة أي في عبيد الخدمة (معجم لغة الفقهاء، معجم الوسيط)، وقد يذكر بلفظ جمعه وهو أرقّاء. ﴿جواهر﴾ جمع د جَوْهَرٌ: قیمتي کاڼی (ډبره) چې له هغه څخه نفع منند شیان (مثلاً غمیان او داسې نور) جوړیږي. ﴿مغنم﴾ غنیمت. د غنیمت مال، نفع. ﴿فاحش﴾ ډېر ښکاره او ښکاره او څرګند. ډېر زیات.

تشریح: مسئله: دا ده چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز قاضي څو غلامان یا جواهر جبراً نه سي تقسیمولای. صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې غلامان جبراً تقسیمول کېدای سي: ځکه چې په

● القول الراجح: قول أبي حنيفة؛ لأن قوله قول المتون، كما في الدر المختار (ج:٥، ص:١٨٣)، و ملتقى الأبحر (ج:٢، ص:٢٠). [القول الراجح ج:٢، ص:٢٧٨]

هغوی کي اتحاد الجنس وي، د صاحبينو دليل قياس دی چي څرنګه په يوازي اوښانو يا پسونو يا د مال غنيمت په غلامانو کي د قاضي جبر جاري کيږي، همداسي به دلته هم جاري کيږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دليل حاصل دا دی چي بېشکه په غلامانو کي اتحاد الجنس سته. لېکن د انسان باطني اوصاف او کمالات يو له بل څخه ډېر جلا وي، همدا وجه ده چي د باطني خويونو او کمالاتو د تفاوت په وجه انسان د مختلف الأجناس شيانو په درجه ګرځول سوی دی. لهذا کله چي انسانان د کمالات باطنيه وو په وجه متفاوت دي، نو جبراً به د دوی تقسيم نه کيږي.

بخلاف الحيوانات إلخ: دا د صاحبينو د قياس جواب دی. حاصل يې دا دی چي انسان پر حيواناتو قياسول صحيح نه دي؛ ځکه د متحد الجنس حيوانانو په صورت کي تفاوت بېخي کم وي چي هغه برداشت کېدای سي، همدا وجه ده چي فقهاء د حيوان نر او ماده يو جنس ګڼي، حال دا چي د انسان مذکر او مؤنث دوه جلا جنسونه ګڼل سوي دي، لنډه دا چي کله په يوه کي تفاوت دی او په بل کي نسته، نو يو پر بل قياسول هم صحيح نه دي.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

بِخِلَافِ الْمَغَانِمِ لِأَنَّ حَقَّ الْغَانِمِينَ فِي الْمَالِيَّةِ په خلاف د غنيمتونو ځکه چي د غانمينو حق صرف په ماليت کي دی حَتَّى كَانَ لِلْإِمَامِ بَيْعُهَا وَقِسْمَةُ ثَمَنِهَا تر دې چي امام ته د غنيمتونو د خرڅولو او د هغوی د قيمت د تقسيمولو اختيار سته وَهُنَا يَتَعَلَّقُ بِالْعَيْنِ وَالْمَالِيَّةِ جَمِيعًا او دلته [حق] د عين او ماليت دواړو سره متعلق دی فَافْتَرَقَا لهذا دواړه [صورتونه] سره جلا سوه وَأَمَّا الْجَوَاهِرُ فَقَدْ قِيلَ: إِذَا اخْتَلَفَ الْجِنْسُ او پاتـه سوه جواهر نو ويل سوي دي: چي کله جنس سره مختلف وي لَا يُقْسَمُ نو قاضي به يې نه تقسيموي كَاللَّآلِئِ وَالْيَوَاقِيتِ لکه ملغلري او ياقوت وَقِيلَ: لَا يُقْسَمُ الْكِبَارُ مِنْهَا او ويل سوي دي: چي غټ جواهر به نه تقسيموي لِكَثْرَةِ التَّفَاوُتِ د تفاوت د زياتوالي په وجه [چي غټ جواهرات يو له بل څخه زيات متفاوت وي] وَيُقْسَمُ الصِّغَارُ او کوچني جواهر به تقسيموي لِقِلَّةِ التَّفَاوُتِ د تفاوت د کموالي په وجه وَقِيلَ: يَجْرِي الْجَوَابُ عَلَى إِطْلَاقِهِ او ويل سوي دي: چي جواب پر خپل اطلاق جاري کيږي [حکم مطلق پاتېږي] لِأَنَّ جَهَالَةَ الْجَوَاهِرِ أَفْحَشُ مِنْ جَهَالَةِ الرَّقِيقِ ځکه چي د جواهرو جهالت د غلامانو له جهالت څخه ډېر زيات دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ تَزَوَّجَ عَلَى

لُؤۡلُؤَةٍ أَوۡ يَاقُوتَةٍ أَوۡ خَالَعَ عَلَيۡهِ آیا ته نه ګورې که څوک پر ملغلره یا پر یاقوت نکاح وکړي یا پر هغه خلع وکړي [یعني په نکاح یا خلع کي یاقوت یا ملغلره وټاکي] لَا تَصِحُّ التَّسۡمِيَةُ نو تسمیه [په مهر او خلع کي دي شیانو ټاکل] نه صحیح کیږي وَيَصِحُّ ذٰلِكَ عَلٰى عَبۡدٍ او دا [نکاح او خلع] پر غلام صحیح کیږي فَأَوۡلٰى أَنۡ لَا يُجۡبَرَ عَلَى الۡقِسۡمَةِ نو غوره همدا ده چي [د جواهرو] پر تقسیم به نه مجبورول کیږي.

اللغات: ﴿مغانم﴾ جمع د مَغۡنَم ده: غنیمت، دغنیمت مال. ﴿غانم﴾ غنیمت حاصلونکی.
﴿لآلی﴾ جمع د لُؤۡلُؤ ده: ملغلري. ﴿يواقيت﴾ جمع د يَاقُوت ده: یو قیمتي ډبره. ﴿خالع﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: خلع کول.

تشریح: صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دغنیمت پر غلامانو هم قیاس کړی وو او د غلامانو تقسیم یې صحیح ګرځولی وو، په دې عبارت کي صاحب دهدایې رَحِمَهُ الله دا قیاس رد کوي فرمایي چي ستاسو دا قیاس صحیح نه دی؛ ځکه په غنیمت کي فقط په مالیت کي د غانمینو حق وي، همدا وجه ده چي امام د غنیمتي غلامانو د خرڅولو او د غانمینو تر مینځ د هغوی د قیمتونو د تقسیمولو حق لري، او د شراء والا په صورت کي په مالیت او عین دواړو کي د شریکانو حق وي. نو دواړي مسئلې یو له بل څخه جلا دي. لهذا کله چي دواړي یو تر بله جلا دي. نو یوه پر بلې قیاسول هم صحیح نه دي.

فأمّا الجواهر إلخ: مخکي ذکر سوه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په جواهرو کي هم د تفاوت په وجه جبراً تقسیم نه سي کېدای، اوس له دې ځایه تفصیلاً د هغه احکام بیانول کیږي:

① ... که چیري جواهر مختلف الأجناس وي، نو قاضي جبراً هغوی نه سي تقسیمولای، لکه ملغلري، یاقوت او داسي نور مختلفُ الأجناس دي او جبراً د دوی تقسیم صحیح نه دی.

② ... څرنګه چي په غټو جواهراتو کي تفاوت زیات وي، نو ځکه د هغوی تقسیم جبراً نه سي کېدای او په کوچنیو جواهراتو کي کم تفاوت وي، نو ځکه هغوی جبراً تقسیمول کېدای سي.

③ ... جواهرات برابره ده کوچني وي او که غټ، مطلقاً د هغوی جبراً تقسیم نه سي کېدلای: ځکه چي د جواهراتو تفاوت د غلامانو له تفاوت څخه زیات دی، او د دې وجه دا ده چي که یو څوک د ملغلرو یا د یاقوتو په بدله کي نکاح وکړي یعني په مهر کي ملغلري یا یاقوت وټاکي. نو د هغه تسمیه یعني په مهر کي د دې شیانو ټاکل صحیح نه دي بلکي مهرِ مثل پر واجب دی. لیکن که غلام په مهر کي وټاکي او نکاح وکړي. نو تسمیه صحیح ده. لهذا کله چي په جواهراتو کي تر غلامانو زیات تفاوت سته او غلامان جبراً نه سي تقسیمول کېدای. نو جواهرات خو به په درجه اولی نه تقسیمول کیږي.

د حمام، ژرندي او داسي نورو تقسيم

قَالَ: وَلَا يُقْسَمُ حَمَّامٌ وَلَا بِئْرٌ وَلَا رَحًى إِلَّا بِتَرَاضِي الشُّرَكَاءِ فرمايي: او حمام، څاه او ژرنده به نه تقسيمول کيږي مګر د شريکانو په رضاء سره [چي ټوله به تقسيم راضي وي] وَكَذَا الْحَائِطُ بَيْنَ الدَّارَيْنِ او همدارنګه د دوو کورونو تر مينځ دېوال لِأَنَّهَا تَشْتَمِلُ عَلَى الضَّرَرِ فِي الطَّرَفَيْنِ ځکه چي دا تقسيم د دواړو طرفينو ضرر [تاوان] لره شامل دی إِذْ لَا يَبْقَى كُلُّ نَصِيبٍ مُنْتَفَعًا بِهِ انْتِفَاعًا مَقْصُودًا ځکه چي [د دې شيانو د تقسيمولو په صورت کي] هره حصه د مقصودي نفع اخيستلو قابل نه پاتيږي [يعني د هريوه له حصې څخه يو فايده نه سي اخيستلای] فَلَا يَقْسِمُ الْقَاضِي نو ځکه قاضي به يې نه تقسيموي بِخِلَافِ التَّرَاضِي په خلاف د شريکانو د رضاء [والا صورت چي ټوله په تقسيم راضي وي] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿حمام﴾ غسل خانه. ﴿بئر﴾ څاه. ﴿رحى﴾ ژرنده. ﴿يتراضى﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: يو تر بله راضي کېدل (د دواړو راضي کېدل). ﴿حائط﴾ دېوال. جمع: حِيْطَان.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي تر تقسيم وروسته حمام، څاه، ژرنده او داسي نور د نفع اخيستلو قابل نه پاتيږي، نو ځکه د شريکانو له خوښې او رضاء څخه بغير قاضي دا شيان جبراً نه سي تقسيمولای. همدارنګه هغه دېوال کوم چي د دوو کورونو تر مينځ حائل وي. هغه به هم قاضي جبراً نه تقسيموي؛ ځکه چي په دې کي هم د دواړو شريکانو نقصان دی. خو که شريکان په تقسيم راضي سي، نو قاضي به دا ډول شيان هم تقسيموي، ځکه چي حق د همدوی دی او دوی په خپل نفع ونقصان له قاضي څخه زيات خبر دي. او کله چي خپله دوی په خپل نقصان راضي دي او تقسيم غواړي، نو قاضي به حتماً تقسيم کوي.

د څو مشترکه کورونو د تقسيم حکم

قَالَ: وَإِذَا كَانَتْ دُورٌ مُشْتَرَكَةٌ فِي مِصْرٍ وَاحِدٍ فرمايي: او کله چي په يوه ښار کي څو مشترک کورونه وي قَسَمَ كُلَّ دَارٍ عَلَى حِدَتِهَا فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول مطابق به قاضي هر کور جلا تقسيموي وَقَالَا: إِنْ كَانَ الْأَصْلَحُ لَهُمْ قِسْمَةَ بَعْضِهَا فِي بَعْضٍ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي که بعضي د بعضي سره يو ځای تقسيمول د شريکانو په حق کي غوره وي قَسَمَهَا نو

قاضي به يې تقسيموي وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ الْأَقْرِحَةُ الْمُتَفَرِّقَةُ الْمُشْتَرَكَةُ او پر همدغه اختلاف بيلابيلې مشتركې ځمكې دي لَهُمَا: أَنَّهَا جِنْسٌ وَاحِدٌ اسْمًا وَصُورَةً نَظَرًا إِلَى أَصْلِ السُّكْنٰى د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چې اصل اوسېدلو ته په كتلو سره دا [مشترک ځايونه] د نوم او صورت دواړو په اعتبار سره يو جنس دي وَأَجْنَاسٌ مَعْنًى نَظَرًا إِلَى اخْتِلَافِ الْمَقَاصِدِ وَوُجُوهِ السُّكْنٰى او د مقاصدو او د اوسېدلو د صوررتونو اختلاف ته په كتلو سره دا معناً مختلفه جنسونه دي فَيُفَوَّضُ التَّرْجِيحُ إِلَى الْقَاضِيْ نو ترجيح به قاضي ته سپارل كيږي.

اللغات: ﴿دُور﴾ جمع د دَارٌ ده: كور. ﴿أقرحة﴾ جمع د قَرَاح ده: خالي ځمكه. چې هيڅ وداني او درختې پر نه وي بلكې د كښت و كروندې لپاره خالي كړل سوې وي. ﴿سكنى﴾ اوسېدنه، استوګنه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه په يوه ښار كې څو كورونه د څو كسانو تر مينځ مشترک وه كوم چې بېلا بېل وه. مثلاً درې كونه د دريو كسانو تر مينځ مشترک وه چې د هر يوه قيمت او ځاى جلا وو. مثلاً يو كور مسجد ته نژدې وو. بل د كلي څخه لرې ليري وو او داسې نور. نو د هغوى تقسيم به څنګه كيږي. امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چې هر كور به جلا، جلا تقسيمول كيږي (د دې مطلب دا دى چې هر يوه ته به جلا يو كور نه وركول كيږي. بلكې په دريو سره كورونو كې به هر يوه ته حصه وركول كيږي او د دريو سره كورونو قيمت به اندازه كيږي او پر ټولو به برابر تقسيمول كيږي. دې تقسيم ته قسمتِ فرد هم وايي).

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې كه د ټولو كورونو په يوځاى تقسيمولو (قسمة البعض فى البعض) كې شريكانو ته څه ضرر او تكليف نه لاحقيږي. نو ټوله به يوځاى (مجموعتاً) تقسيمول كيږي (د قسمة البعضِ فى البعض يا مجموعتاً تقسيم مطلب دا دى چې هر شريک ته به جلا يو. يو كور وركول كيږي. دې تقسيم ته قسمتِ جمع هم وايي)، همدغه اختلاف په هغه مشتركو خالي ځمكو كې هم دى كوم چې په جلا، جلا ځايونو كې وي. يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به هره ځمكه جلا، جلا تقسيمول كيږي او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله به نيز به ټوله يوځاى (مجموعتا) تقسيمول كيږي.

د صاحبينو دليل دا دى چې استوګنې او سكنىٰ ته په كتلو سره خو ټوله كورونه يو ډول معلوميږي يعني هر يوه ته دَار ويل كيږي او د ټولو مقصد يو دى چې د استوګنې لپاره دي. نو په دې اعتبار سره ټوله كورونه يو جنس دي. نو بايد هر شريک ته يو. يو كور وركول سي. لېكن مقاصدو او د استوګنې اسبابو ته په كتلو سره كورونه يو له بل څخه بېل او جلا دي يعني په يوه كې سهوليات كم او

په بل كي زيات دي، يو مسجد يا بازار ته نژدې او بل بيا ليري دی (په همدې وجه يې په قيمتونو كي تفاوت دی)، نو په دې اعتبار سره چي وګورې هر كور د جلا، جلا جنس كيږي، نو بايد شريكانو ته په هر، هر كور كي حصه وركول سي، لنډه دا چي په څو مشتركو كورونو كي د اتحادُ الجنس اړخ هم سته او د اختلافُ الجنس اړخ هم سته، نو ځكه موږ د هغوی د تقسيم كار د قاضي رايي ته سپارو، هغه چي كومه طريقه مناسبه وګڼي هغه دي اختيار كړي او د دوی تر مينځ دي تقسيم وكړي.

په پورتني مسئله كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل

وَلَهُ: أَنَّ الِاعْتِبَارَ لِلْمَعْنٰى او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي اعتبار معنىٰ لره دی وَهُوَ الْمَقْصُودُ او همدا معنىٰ مقصوده وي وَيَخْتَلِفُ ذٰلِكَ بِاخْتِلَافِ الْبُلْدَانِ وَالْمَحَالِّ وَالْجِيرَانِ وَالْقُرْبِ إِلَى الْمَسْجِدِ وَالْمَاءِ اِخْتِلَافًا فَاحِشًا او هغه [معنى] د ښارونو، محلو او همسايه ګانو په اختلاف سره او مسجد او اوبو ته د نژدېكت په اعتبار سره ډېر زيات ته مختلف كيږي فَلَا يُمْكِنُ التَّعْدِيلُ فِي الْقِسْمَةِ نو په تقسيم كي به برابري كول ممكن نه وي وَلِهٰذَا لَا يَجُوزُ التَّوْكِيلُ بِشِرَاءِ دَارٍ په همدې وجه د يو كور رانيولو وكيل جوړول صحيح نه دي وَكَذَا لَوْ تَزَوَّجَ عَلٰى دَارٍ او همدارنګه كه پر يو كور نكاح وكړي [يعني په مهر كي كور وټاكي] لَا تَصِحُّ التَّسْمِيَةُ نو تسميه [په مهر كي ټاكل] نه صحيح كيږي كَمَا هُوَ الْحُكْمُ فِيهِمَا فِي الثَّوْبِ لكه څرنګه چي په كپړه كي هم د دې دواړو دغه حكم دی بِخِلَافِ الدَّارِ الْوَاحِدَةِ إِذَا اخْتَلَفَتْ بُيُوتُهَا په خلاف د يوه كور كله چي د هغه خوني [كمرې] سره مختلفه وي لِأَنَّ فِي قِسْمَةِ كُلِّ بَيْتٍ عَلٰى حِدَةٍ ضَرَرًا ځكه چي د هري خوني په جلا تقسيمولو كي ضرر [نقصان] دی [چي هر شريك ته په هره خونه كي حصه وركول سي] فَقُسِمَتِ الدَّارُ قِسْمَةً وَاحِدَةً نو ځكه كور به په يوه تقسيم سره تقسيمول كيږي [يعني هر شريك ته به يوه، يوه خونه وركول كيږي].

اللغات: ﴿المحالّ﴾ جمع د محلـةٌ ده: كلي او محلـه. ﴿جيران﴾ جمع د جَارٌ ده: همسايه. ﴿تعديل﴾ برابري كول، دوې حصې سره برابرول، التعديل: برابري.

تشريح: په دې عبارت كي صاحب د هدايې د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل ذكر كوي، حاصل يې دا دی چي په معاملاتو كي د الفاظو اعتبار نه كيږي، بلكي معانيو لره اعتبار وي او معاني مقصود وي، او موږ وينو چي د ښار او كلي او محلې په تغير او اختلاف، د همسايه ګانو په تغير، او مسجد يا اوبو يا

بازار ته د کور نژدې کېدلو په اعتبار سره په کورونو کې ډېر زيات تفاوت (اختلاف فاحش) وي، لهذا په تقسيم کي د مساوات او برابرۍ ثابتولو لپاره به په هر کور کي شريکانو ته خپله حصه ورکول کېږي او داسي به نه کېږي چي هريوه ته يو، يو کور ورکول سبي (په بله وينا دا چي قسمت فرد به کول کېږي نه قسمت جمع)؛ ځکه د تقسيم مقصد تعديل او تسويه ده او هغه دلته فوتېږي.

ولهذا إلخ: په دې سره د کلي او محلې او داسي نورو په تغير او اختلاف سره د کورو د زيات متفاوت کېدلو علت بيانوي، چي همدا وجه ده که مثلاً زيد بل شوک وکيل جوړ کړي چي ته زما لپاره يو کور رانيسه! نو په دې الفاظو سره هغه وکيل نه جوړېږي، ځکه دلته دا معلومه نه ده چي د غټ کور د رانيولو وکيل يې جوړوي او که د کوچني، يا د ښارني کور د رانيولو وکيل يې جوړوي، که د بهرني کور او داسي نور، د دې هيڅ پته نسته، نو ځکه دا توکيل صحيح نه دی، همدارنګه که خاوند په مهر کي کور وټاکي چي په مهر کي يو کور درکوم، نو دا تسميه (د مهر ټاکل) نه صحيح کېږي يعني کور په مهر کي نه متعين کېږي، بلکي مهر مثل لازمېږي، همدا حکم د کپړو هم دی چي په هغوی کي د زيات تفاوت او اختلاف کېدلو په وجه د کپړې رانيولو وکيل جوړول يا کپړه په مهر کي ټاکل صحيح نه دي.

بخلاف الدار إلخ: د دې حاصل دا دی که د يوه کور شو خوني (کمرې) مثلاً دوې خوني دوو کسانو تر مينځ مشترکي وي، نو ښکاره خبره ده چي دلته په تقسيم تفريق (قسمت فرد) کي د شريکانو نقصان دی (يعني په داسي تقسيم کي) چي په هره خونه کي هر شريک ته حصه ورکول سي، نو ځکه د تقسيم جمع (قسمت جمع) صورت به اختيارول کېږي چي هر شريک ته به يوه خونه ورکول کېږي. د دې لپاره چي يوه ته څه ضرر او تکليف لاحق نه سي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَتَقْيِيْدُ الْوَضْعِ فِي الْكِتَابِ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ الدَّارَيْنِ إِذَا كَانَتَا فِي مِصْرَيْنِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په قدوري [متن] کي د وضع په مقيد کولو کي [يعني چي هغه ويلي دي چي که دور مشترکه په مصر واحد کي وي. په دې کي] ودې خبرې ته اشاره ده چي کله دوه مشترک کورونه [دور مشترکه] په دوو ښارونو کي وي لَا تَجْتَمِعَانِ فِي الْقِسْمَةِ عِنْدَهُمَا نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به هم هغوی په تقسيم کي نه جمع کول کېږي [يعني هر شريک ته به يو. يو کور نه ورکول کېږي] وَهُوَ رِوَايَةُ هِلَالٍ عَنْهُمَا او همدا له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه د هلال ابن يحيىٰ روايت دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يُقْسَمُ إِحْدَاهُمَا فِي الْأُخْرَى او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي له دوی څخه به يو په بل کي

تقسیمول کیږي [يا په وبله وړنا دا چي په تقسيم کي به جمع کول کیږي يعني هر يوه ته به يو. يو کور ورکول کیږي] وَالْبُيُوتُ فِي مَحَلَّةٍ أَوْ مَحَالٍ تُقْسَمُ قِسْمَةً وَاحِدَةً او ديوې محلې يا څو محلو خوني په يوه تقسیم [قسمتِ جمع] سره تقسيمول کیږي لِأَنَّ التَّفَاوُتَ فِيمَا بَيْنَهَا يَسِيرٌ ځکه چي د دوی په خپل مينځ کي تفاوت کم وي وَالْمَنَازِلُ الْمُتَلَازِقَةُ كَالْبُيُوتِ او سره لګېدلي منزلونه [په حکم کي] داسي دي لکه خوني وَالْمُتَبَايِنَةُ كَالدُّوَرِ او جلا. جلا منزلونه داسي دي لکه کورونه لِأَنَّهُ بَيْنَ الدَّارِ وَالْبَيْتِ ځکه چي منزل د کور او خوني په مينځ کي وي [يعني نه لکه کور دومره غټ وي چي ډيري خوني پکښې وي او نه لکه خونه دومره کوچنی وي بلکي څه غټ وي چي پر يوه يا دوو خونو او مطبخ مشتمل وي] عَلَىٰ مَا مَرَّ مِنْ قَبْلُ لکه مخکي چي تېر سوه فَأَخَذَ شَبَهًا مِنْ كُلِّ وَاحِدٍ نو ځکه منزل له هر يوه څخه مشابهت واخيستی.

اللغات: ﴿تقييد﴾ د تفعيل مصدر دی: قيد لګول، مقيد کول. ﴿مصر﴾ ښار. جمع: أَمْصَار. ﴿تفاوت﴾ د تفاعل مصدر دی: فرق، توپير. ﴿متلازقة﴾ د تفاعل له بابه د مؤنث اسم مفعول صيغه ده: يو د بل سره لګېدلي، سره متصل (سره جوخت). ﴿متباينة﴾ مخکنی صيغه ده: يو له بل څخه جلا، سره جلا.

تشريح: د دې حاصل دا دی چي مخکي په متن کي چي کوم د "في مصرٍ واحدٍ" قيد لګول سوی دی، په هغه سره و دې ته اشاره سوې ده چي که دُورِ مشترکه (مشترک کورونه) په دوو ښارونو کي وي، نو په دې صورت کي به د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هم تقسيمِ تفريق (قسمت فرد) کول کیږي. هلال بن يحيیٰ مصري له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه همدغه روايت نقل کړی دی. خو له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا هم دی چي په دې صورت کي به هم تقسيمِ جمع کول کیږي.

والبيوت إلخ: په دې سره دا راښيي چي په يوه يا څو محلو کي د څو خلګو مشترکي خوني (کمرې) وي، نو هغوی به يو ځای (مجموعتا) تقسيمول کیږي (يعني يوه. يوه خونه به هر شريک ته ورکول کیږي)؛ ځکه چي په خونو کي تفاوت ډېر کم وي، او کم (لږ) تفاوت مخل بالمقصود نه وي، لهذا د هغوی په يوه ځای (مجموعتا) تقسيمولو کي څه حرج نسته.

ها! منزل کوم چي له کور (دَار) څخه کوچنی او له خوني څخه غټ وي، د هغه حکم دا دی چي که څو منزلونه سره لګيدلي (څنګ په څنګ) وي، نو هغوی به د بيت (خوني) په حکم ګرځول کيږي او يوه ځای (مجموعتاً) به تقسيمول کيږي، لېکن که منزلونه سره ليري، ليري وي، نو په دې وخت کي به هغوی د دَار په حکم ګرځول کيږي او هر يو به جلا، جلا تقسيمول کيږي؛ ځکه کله چي په دوی کي يو صفت د دَار دی او يو د بيت، نو په تقسيم کي د دواړو خيال ساتل ضروري دي؛

د کور او ځمکي يا د کور او دوکان د تقسيمولو طريقه

قَالَ: وَإِنْ كَانَتْ دَارًا وَضَيْعَةً أَوْ دَارًا وَحَانُوتًا فرمايي: او که چيري کور او ځمکه يا کور او دوکان وي قُسِمَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى حِدَةٍ نو قاضي به له دې دواړو څخه هر يو جلا تقسيموي لِاخْتِلَافِ الْجِنْسِ د جنس د بېل والي په وجه قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: جَعَلَ الدَّارَ وَالْحَانُوتَ جِنْسَيْنِ صاحب د هدايې فرمايي: چي امام قدوري رَحِمَهُ الله کور او دوکان دوه جنسونه ګرځولي دي وَكَذَا ذَكَرَ الْخَصَّافُ او همداسي امام خصاف رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي وَقَالَ فِي إِجَارَاتِ الْأَصْلِ: إِنَّ إِجَارَةَ مَنَافِعِ الدَّارِ بِالْحَانُوتِ لَا تَجُوزُ او امام محمد رَحِمَهُ الله د مبسوط په کتابُ الاجارة کي دا ذکر کړي دي: چي د دوکان په بدله کي د کور د منافعو اجاره صحيح نه ده وَهٰذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُمَا جِنْسٌ وَاحِدٌ او دا پر دې دلالت کوي چي دوکان او کور يو جنس دی فَيُجْعَلَ فِي الْمَسْأَلَةِ رِوَايَتَانِ أَوْ تُبْنَى حُرْمَةُ الرِّبَوا هُنَالِكَ عَلَى شُبْهَةِ الْمُجَانَسَةِ نو ځکه په مسئله کي به دوه روايتونه ګرځول کيږي [يعني ويل کيږي به چي په دې باره کي دوه روايتونه نقل سوي دي] يا دا چي هلته به د ربوا حرمت د مجانست پر شبهه مبني وي.

اللغات: ﴿ضيعة﴾ فصل داره او غله داره ځمکه. ﴿حانوت﴾ دوکان. ﴿ربوا﴾ سُود.

تشريح: څرنګه چي کور، ځمکه او دوکان دا ټول سره مختلف الأجناس دي (يعني يو د بل له جنس څخه نه دي بلکي جنسونه يې سره جلا دي)، لهذا که د شريکانو تر مينځ ځمکه او کور يا ځمکه او دوکان سره مشترک وي، نو په دې صورتو کي به د دواړو جلا، جلا تقسيم (قسمتِ فرد) کول کيږي (يعني هر شريک ته به په هر يوه کي حصه ورکول کيږي)؛ ځکه امام قدوري او امام خصاف رَحِمَهُمَا الله دا شيان له مختلف الأجناس شيانو څخه شمېرلي دي، خو امام محمد رَحِمَهُ الله چي په مبسوط کي کوم دا مسئله بيان کړې ده چي د دوکان په بدله کي د کور د منافعو اجاره جائز نه ده (يعني چي کور په ترايه واخيستل

سي او په كرايه [أجرت] كي دوكان وتاكل سي دا جائز نه دي، نو)، له دې څخه دا معلوميږي چي دوكان او كور د يوه جنس دي (له يوه جنس څخه دي)؛ ځکه چي د استوګني (سكنیٰ) اجاره د استوګني (سكنیٰ) په عوض كي جائز نه ده، حال دا چي د امام قدوري او امام خصاف رَحِمَهُمَا الله له قول څخه معلومه سوه چي دوكان او كور مختلف الجنس دي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د دې دوه جوابه وركړي دي: (۱) يو جواب دا چي يا په دې مسئله كي دوه روايتونه دي: ① د متحد الجنس (چي كور او دوكان دواړه ديوه جنس دي)، ② او دويم روايت د مختلف الجنس دی، لهذا فلا إشكال.

(۲) دويم جواب دا دی چي د مبسوط مسئله د ربوا د مجانست پر شبهي مبني ده، يعني كله چي كور او دوكان ديوه جنس ومنل سي، نو ښكاره ده چي كه ديوه په بدله كي د بل نفع اخيستل كيږي نو د ربوا شبهه به وي، او تاسو ته معلومه ده چي د حقيقي ربوا په څېر له شبهه ربوا څخه هم ځان ساتل ضروري دي، په همدې وجه دا صحيح نه دي. (په بله وينا داسي هم ويل كېداسی چي دلته د ربوا شبهه ده په دې توګه چي په اجاره كي منافع يو دم نه ترلاسه كيږي لكه مخكي چي تېر سوه. بلكي په كراره كراره حاصليږي نو ګواكي منافع قرض دي. او كله چي كور او دوكان ديوه جنس وشمېرل سي. نو دلته كه څه هم تفاضل خو جائز وي لېكن قرض جائز نه وي. پر دغه مقام په عنايه. نتائج الأفكار او مجمع الأنهر كي سوال او جواب دي. د نور معلومات لپاره دي هغه مطالعه كړل سي).



فَصْلٌ فِي كَيْفِيَةِ الْقِسْمَةِ

(دا) فصل په (بيان د) کيفيت د تقسيم کي دی

تشريح: کله چي مصنف رَحِمَهُ الله دا ذکر کړه چي کوم شيان به تقسيمول کيږي او کوم به نه تقسيمول کيږي، نو اوس تر هغه وروسته د تقسيم کولو طريقه بيانوي، يا په بله وينا دا چي د ذات او موصوف د جواز له ثابتولو څخه وروسته اوس د هغه کيفيت او صفت (طريقه) بيانوي. او کيفيت او صفت د ذات تابع وي، او تاسي ته معلومه ده چي تابع تر متبوع وروسته وي، نو ځکه تر "فصل فيما يقسم..." وروسته يې "فصل فی کيفية القسمة" بيان کړی.

د تقسيم طريقه

قَالَ: وَيَنْبَغِي لِلْقَاسِمِ أَنْ يُصَوِّرَ مَا يَقْسِمُهُ فرمايي: او تقسيم کونکي ته پکار دي چي نقشه جوړه کړي د هغه څه کوم چي يې دئ تقسيموي لِيُمْكِنَهُ حِفْظُهُ ددې لپاره چي د هغه يادول ورته ممکن وي [يعني چي هغه ورته يادوي] وَيَعْدِلَهُ يَعْنِي يُسَوِّيَهُ عَلَى سِهَامِ الْقِسْمَةِ او هغه [يعني کوم څه چي تقسيموي هغه] دي د تقسيم پر حصو برابر کړي [يا په بله وينا دا چي په هغه شي کي د هر شريک څومره حصه وي، د هغه برابر دي تقسيم وکړي] وَيُرْوَى يَعْزِلَهُ أَيْ يَقْطَعَهُ بِالْقِسْمَةِ عَنْ غَيْرِهِ او "يعزله" هم نقل سوي دی [په يوه روايت کي يعزله دی] يعني هره حصه [د هر شريک حصه] دي په تقسيم سره له بلي څخه جلا کړي وَيَذْرَعَهُ لِيُعْرَفَ قَدْرُهُ او هغه دي گز کړي چي د هغه مقدار معلوم سي وَيُقَوِّمَ الْبِنَاءَ او د بناء قيمت دي هم اندازه کړي لِحَاجَتِهِ إِلَيْهِ فِي الْآخِرَةِ ځکه چي په آخر کي [د تقسيم کولو پر مهال] هغه ته ضرورت پرېوځي وَيُفْرِزَ كُلَّ نَصِيبٍ عَنِ الْبَاقِي بِطَرِيقِهِ وَشِرْبِهِ او هره حصه دي د خپل لاري او لښتي [نالي] سره له پاته حصو څخه جلا کړي حَتَّى لَا يَكُونَ لِنَصِيبِ بَعْضِهِمْ بِنَصِيبِ الْآخَرِ تَعَلُّقٌ ددې لپاره چي د يوه شريک د حصې د بل شريک د حصې سره هيڅ تعلق پاته نه سي فَتَنْقَطِعُ الْمُنَازَعَةُ نو جنگ او اختلاف به ختم سي وَيَتَحَقَّقُ مَعْنَى الْقِسْمَةِ عَلَى التَّمَامِ او د تقسيم

معنیٰ به په پوره توګه ثابته سي.

اللغات: ﴿یصوّر﴾ د تفعیل له بابه مضارع صیغه ده: تصویر جوړول، ﴿حفظ﴾ د سمع مصدر دی: یادساتل، ﴿یعدل﴾ د ضرب مضارع ده: برابري کول، برابرول، ﴿یسوّی﴾ د تفعیل مضارع ده: برابرول، ﴿سِهَام﴾ جمع د سَهْمٌ ده: حصه، برخه، ﴿یعزله﴾ د ضرب مضارع ده: جلا کول، علیحده کول، ﴿یذرع﴾ د فتح مضارع ده: په ذراع سره ناپول، ګزول، ﴿یقوّم﴾ د تفعیل مضارع ده: قیمت اندازه کول او لګول، قیمت ټاکلو ﴿شِرْب﴾ د اوبو لاره، لښتې.

تشریح: په دې عبارت کې امام قدوري رَحِمَهُ الله د قاسم (تقسیم کونکي) د آسانۍ لپاره څو ګټوري مشوري وړاندي کړي دي: مثلاً: هغه دي اول تقسیمېدونکې ځمکه یا کور ټوله ګز یا ګام کړي او نقشه دي یې پر کاغذ جوړه کړي، د هر شریک حصه دي برابره کړي، او غوره دا ده چي له تقسیمولو څخه مخکې د ټوله کور او داسي نورو قیمت انداره کړي بیا دي د هر شریک حصه مع الطریق والشرب جلا کړي، د دې لپاره چې د تقسیم په دوران کې یا تر هغه وروسته د اختلاف او نزاع هیڅ ګنجایش پاته نه سي.

د تقسیم طریقه

ثُمَّ يُلَقِّبَ نَصِيبًا بِالْأَوَّلِ وَالَّذِي يَلِيهِ بِالثَّانِي وَالثَّالِثُ عَلَى هٰذَا بیا دي یوې حصې ته د اولې [اول نمبر] حصې نوم ور کړي او د هغه سره متصلې حصې ته دي د دویمې حصې نوم ور کړي او دریمه دي همداسي کړي... ثُمَّ يُخْرِجَ الْقُرْعَةَ بیا دي قرعه را وباسي فَمَنْ خَرَجَ اسْمُهُ أَوَّلًا نو د کوم شریک نوم چي اول را ووځي فَلَهُ السَّهْمُ الْأَوَّلُ نو د هغه لپاره اوله حصه ده [کوم ته چي یې د اول نمبر حصې نوم ورکړی دی] وَمَنْ خَرَجَ ثَانِيًا او د کوم یوه نوم چي دویم وار را ووځي فَلَهُ السَّهْمُ الثَّانِي نو د هغه لپاره دویمه حصه ده وَالْأَصْلُ أَنْ يَنْظُرَ فِي ذٰلِكَ إِلَى أَقَلِّ الْأَنْصِبَاءِ او قاعده دا ده چي قاضي په دې باره کې تر ټولو کمې والا حصې ته وګوري حَتّٰى إِذَا كَانَ الْأَقَلُّ ثُلُثًا تر دې چي که کمتره حصه ثلث وي جَعَلَهَا أَثْلَاثًا نو کور دي درې ثلثه [درې حصې] وګرځوي وَإِنْ كَانَ سُدُسًا او که هغه [کمتره حصه] سدس وي جَعَلَهَا أَسْدَاسًا نو کور دي شپږ حصې وګرځوي لِيُمْكِنَ الْقِسْمَةَ چي تقسیم ممکن سي [او که یُمْكِنَ سي نو معنیٰ یې ده چي پر تقسیم قدرت ترلاسه کړي] وَقَدْ شَرَحْنَاهُ مُشْبِعًا فِي كِفَايَةِ

الْمُنْتَهيْ بِتَوْفِيقِ اللهِ تَعَالىٰ او موږ د خدای تعالیٰ په توفیق سره دا په کفایتُ المنتهي کي په زيات تفصيل سره بيان کړي دي.

اللغات: ﴿يلقّب﴾ د تفعيل مضارع ده: لقب ورکول، بل نوم ورکول. ﴿يلي﴾ د ضرب مضارع ده: متصل کېدل، ور سره يو ځای کېدل. ﴿مشبع﴾ د افعال له بابه د فاعل صيغه ده، مراد: کافي او بشپړ.

تشريح: په دې عبارت کي امام قدوري رَحِمَهُ الله د تقسيم د آخري پړاو طريقې ذکر کوي چي د شريکانو د حصصو تر جلا کولو وروسته قاسم ته پکار دي چي هري حصې ته نمبر ورکړي مثلاً اوله (۱) حصه، دويمه (۲) حصه، درېيمه (۳) حصه، بيا دي د شريکانو تر مينځ قرعه اندازي وکړي، د چا نوم چي اول وځيږي هغه ته دي اوله حصه ورکړي او په همدې حساب سره دي دويمه او درېيمه حصه تقسيم کړي.

والأصل إلخ: په دې سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د تقسيم يو اُصول ښيي، حاصل يې دا دی چي قاسم (تقسيم کونکی) دي تر تقسيم مخکي د شريکانو په حصو کي غور وکړي که هغوی ټوله برابري وي مثلاً درې شريکان وي او د هر يوه لپاره يوه حصه وي چي ټوله درې حصې کيږي، نو کور يا ځمکه دي پر درېو حصو تقسيم کړي، او که د يوه شريک حصه نصف (نيمه حصه) وي او د بل د ثلث وي او د بل د سدس وي، نو په دې صورت کي د به د أقلِ انصباء (چي هغه دلته سدس دی) په رعايت کولو سره کور شپږ حصې کول کيږي، نو اول شريک (نصف والا) ته به درې حصې او دويم (ثلث والا) ته به دوې حصې او درېيم (سدس والا) ته به يوه حصه ورکول سي، چي ټولو ته د خپلې حصې مطابق برابره حصه ورسيږي او ديوه څه شکايت پاته نه سي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَقَوْلُهُ فِي الْكِتَابِ: وَيُفْرِزَ كُلَّ نَصِيْبٍ بِطَرِيْقِهِ وَشِرْبِهِ بَيَانُ الْأَفْضَلِ او په قدوري [متن] کي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول "وَيُفرِزَ...إلخ" د افضليت بيان دی فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ أَوْ لَمْ يُمْكِنْ نو که قاسم [تقسيم کونکی] داسي نه وکړي يا داسي کول ممکن نه وي جَازَ نو هم جائز دي عَلَى مَا نَذْكُرُهُ بِتَفْصِيْلِهِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالىٰ لکه څرنګه چي [څه وروسته] به موږ دا إن شاء الله په تفصيل سره ذکر کړو وَالْقُرْعَةُ لِتَطْيِيْبِ الْقُلُوْبِ وَإِزَاحَةِ تُهْمَةِ الْمَيْلِ او قرعه اندازي د زړونو د ښه کولو [اطمينان ورکولو] او د ميلان د تهمت ليري کولو لپاره ده حَتَّى لَوْ عَيَّنَ لِكُلٍّ مِنْهُمْ نَصِيبًا مِنْ غَيْرِ إِقْرَاعٍ همدا وجه ده که قاسم له قرعه

اندازي کولو څخه بغير د هر شريک حصه متعيّنه کړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْقَضَاءِ ځکه چې تقسيم د قضاء [قضاوت کولو] په معنیٰ سره دی فَيَمْلِكُ الْإِلْزَامَ نو ځکه قاسم به د لازمولو ملکيت [اختيار] لري.

اللغات: ﴿شِرْب﴾ د اوبو لاره، لښتی. ﴿إزاحة﴾ د افعال د باب مصدر دی: ليري کول. ﴿إقراع﴾ د افعال د باب مصدر دی: قرعه اندازي کول.

تشريح: په دې عبارت کې صاحب د هدايې د امام قدوري رَحِمَهُ الله د دې قول "ويفرز إلخ" وضاحت کوي فرمايي چې د هر شريک حصه د خپل لاري او اُوبو سره جلا کول افضل او غوره دي، ليکن که داسي نه وکړی سي، نو هيڅ حرج نسته. همداسي قرعه اندازي هم د شريکانو د تسلی او اطمينان لپاره ده چې زړونه يې مطمئن سي او له قاسم څخه دا تهمت ليري سي چې هغه به د يو شريک وطرف ته ميلان کړی وي. کنې که تقسيم کونکی (قاسم) له قرعه اندازی څخه بغير د شريکانو حصې متعيّني کړي، نو هم جائز دي؛ ځکه چې تقسيم د قضاء په معنیٰ او درجه سره دی. او قاضي پر خلکو د إلزام (حکم لازمولو) ولايت لري، نو ځکه قاسم ته به هم ولايت إلزام حاصل وي.

د تقسيم يو خاص صورت

قَالَ: وَلَا يُدْخِلُ فِي الْقِسْمَةِ الدَّرَاهِمَ وَالدَّنَانِيرَ إِلَّا بِتَرَاضِيهِمْ فرمايي: او قاسم به په تقسيم کې دراهم او دنانير نه داخلوي مګر د شريکانو په رضاء سره لِأَنَّهُ لَا شَرِكَةَ فِي الدَّرَاهِمِ ځکه چې په دراهمو کې [د دوی] اشتراک نسته وَالْقِسْمَةُ مِنْ حُقُوقِ الِاشْتِرَاكِ او تقسيم د اشتراک له حقوقو څخه دی وَلِأَنَّهُ يَفُوتُ بِهِ التَّعْدِيلُ فِي الْقِسْمَةِ او ځکه چې په دې تقسيم سره برابري فوتيږي لِأَنَّ أَحَدَهُمَا يَصِلُ إِلَى عَيْنِ الْعَقَارِ وَدَرَاهِمُ الْآخَرِ فِي ذِمَّتِهِ ځکه چې له دوی څخه به يو عين جايداد ته ورسيږي حال دا چې د بل دراهم به [تر اوسه] د ده پر ذمه پاته وي وَلَعَلَّهَا لَا تُسَلَّمُ لَهُ او کيدای سي دا دراهم هغه ته نه وسپارل سي.

اللغات: ﴿تراضي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو له بل څخه راضي کېدل. يو د بل رضاء (چي ټول په دې تقسيم راضي وي). ﴿تعديل﴾ د تفعيل مصدر دی: برابري کول، سره برابرول. التعديل: برابري.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې مثلاً يو کور د څو خلکو تر مينځ مشترک دی، او دا کور په يوه طرف کې څه زيات دی. مثلاً په اوږدول يا بَر يا په راسته يا چپه طرف کې زيات دی، اوس که يو

شریک دا زیاته ځمکه اخلي او د هغه په عوض کي نورو شریکانو ته دراهم یا دنانیر ورکوي، نو قاضي دي عوض (دراهم او دنانیرو) پر اخیستلو دوی نه سي مجبوره کولای مګر د دوی ټولو په رضاء سره؛ ځکه چي د دوی شراکت صرف په ځمکه کي دی، پاته سو په عوض یعني په دراهمو او دنانیرو کي دوی شریکان نه دي، او تقسیم د شرکت له توابعو څخه دی، لهذا دراهم او داسي نور به په تقسیم کي نه داخلول کیږي.

او بل دا چي دراهم او داسي نور که په تقسیم کي داخل کړل سي نو د تقسیم مقصود (یعني برابري) هم فوتیږي؛ ځکه چي د زیاتي حصې اخیستونکي شریک په قبضه کي به ځمکه راسي په داسي حال کي چي ده به تر اوسه و نورو شریکانو ته عوض (دراهم یا دنانیر) نه وي ورکړي، نو په دې توګه به یو شریک له خپلي حصې څخه نفع اخلي او نور به هسي ناست وي، او دا د تقسیم د مقصود خلاف دي، نو ځکه صحیح نه دي.

او بل دا هم ممکنه ده چي دا شریک به ځمکه واخلي لیکن له عوض ورکولو څخه به انکار وکړي (چي زه ولي دوی ته دراهم یا دنانیر ورکړم، دا خو زما خپله حصه ده)، لنډه دا چي دا طریقه اختیارول صحیح نه دي، خو د عذر پر موقع داسي کولای سي لیکن هغه هم د شریکانو په رضاء سره چي هغوی به په دې تقسیم خوښ او راضي وي.

د مشترکه ځمکي او ځای د تقسیم یو صورت

وَإِذَا كَانَ أَرْضٌ وَبِنَاءٌ او کله چي ځمکه او بناء [دواړه مشترک] وي فَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَقْسِمُ كُلَّ ذٰلِكَ عَلَى اعْتِبَارِ الْقِيمَةِ نو له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چي قاسم به دا دواړه د قیمت په اعتبار سره تقسیموي لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ اعْتِبَارُ الْمُعَادَلَةِ إِلَّا بِالتَّقْوِيمِ ځکه چي له قیمت اندازه کولو څخه بغیر د برابرۍ اعتبار کولو ناممکن دي [یعني له قیمت څخه بغیر دلته برابري راوستل ناممکن دي] وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يَقْسِمُ الْأَرْضَ بِالْمِسَاحَةِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چي قاسم به ځمکه په پیمایش [ګزو] سره تقسیموي لِأَنَّهُ هُوَ الْأَصْلُ فِي الْمَمْسُوحَاتِ ځکه چي په ناپېلونکو [ګز کېدونکو] شیانو کي همدا پیمایش اصل دی ثُمَّ يَرُدُّ مَنْ وَقَعَ الْبِنَاءُ فِي نَصِيبِهِ أَوْ مَنْ كَانَ نَصِيبُهُ أَجْوَدَ دَرَاهِمَ عَلَى الْآخَرِ بیا به هغه شریک چي په حصه کي یې بناء راغلې وي یا هغه شریک چي حصه یې غوره وي بل شریک ته څه دراهم ورکړي حَتَّى يُسَاوِيَهُ چي حصه یې سره برابره سي فَتَدْخُلَ الدَّرَاهِمُ فِي الْقِسْمَةِ نو دراهم به په تقسیم کي [د ضرورت پر بناء] داخلیږي كَالْأَخِ لَا وِلَايَةَ لَهُ فِي

الْمَالِ لکه ورور چي هغه لره [دخور] په مال کي ولايت حاصل نه دی ثُمَّ يَمْلِكُ تَسْمِيَةَ الصَّدَاقِ ضَرُورَةَ التَّزْوِيْجِ خو بيا هم د نکاح کولو د ضرورت په خاطر هغه [ورور] د مهر ټاکولو ملکيت لري.

اللغات: ﴿بناء﴾ جوړ سوی ځای، وداني، عمارت. ﴿المعادلة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: برابري، ﴿مِساحة﴾ بکسر الميم د فتح د باب مصدر دی: پيمايش کول، د ذراع (گز) په ذريعه ناپول (گزول)، ﴿صداق﴾ مهر.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د دوو شريکانو تر مينځ څه خالي ځمکه او څه بناء مشترکه وي (مثلاً يو کور او څه خالي ځمکه د دوی تر مينځ مشترک وي)، نو دلته به تقسيم څنګه کيږي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د دواړو قيمت به اندازه کيږي او د قيمت په ذريعه به تقسيم کيږي؛ ځکه په تقسيم کي تعديل او برابري ضروري ده، او دلته له تقويم (قيمت اندازه کولو او قيمت لګولو) څخه بغير تعديل ممکن نه دی، نو ځکه په قيمت لګولو سره (د قيمت په ذريعه) به تقسيم کيږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي قاضي دي ځمکه پيمايش کړي (يعني د ځمکي اندازه دي په ګزو سره معلومه کړي) او تقسيم دي يې کړي، بيا چي د کوم شريک په حصه کي بناء (کور) راسي يا د کوم شريک په حصه کي چي خوندوره ځمکه راسي، هغه دي دويم شريک ته څه دراهم ورکړي، د دې لپاره چي په دواړو کي مساوات او برابري ثابته سي، او د دې وجه دا ده چي ځمکه د ممسوحاتو له قبيلې څخه ده، او په داسي شيانو کي مساحت (پيمايش) اصل وي، لهذا حتى الإمكان به په اصل عمل کيږي.

فتدخل الدراهم إلخ: د دې حاصل دا دی چي مخکي خو دا مسئله بيان سوه چي د ځمکي او داسي نورو په تقسيم کي به دراهم او دنانير نه داخلول کيږي او دلته تاسو په تقسيم کي دراهم داخل کړل، نو فرمايي چي دلته د ضرورت پر بناء داسي سوي دي، کنې د عدمِ ضرورت په وخت کي موږ هم د ځمکي په تقسيم کي د دراهمو د عدمِ دخول قائل يو.

او د دې مثال داسي دی چي مثلاً ورور ته د خپل کوچنی خور په مال کي ولايت حاصل نه دی، خو د هغې د نکاح صحيح کېدلو د ضرورت په خاطر ده ته د مهر ټاکلو اجازت سته، نو همداسي دلته هم ضرورتاً دراهم د ځمکي او کور په تقسيم کي داخل سوي دي، کنې اصل خو د دوی عدمِ دخول دی.

په پورتنی مسئله کي د امام محمد رَحِمَهُ الله روايت

وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يَرُدُّ عَلٰى شَرِيْكِهٖ بِمُقَابَلَةِ الْبِنَاءِ مَا يُسَاوِيْهِ مِنَ الْعَرْصَةِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي هغه به په بدله کي خپل شريک ته د بناء دومره صحن [خالي ځمکه] ورکوي کوم چي [په قيمت کي] د بناء په برابر وي [يا په بله وينا دا چي دومره صحن چي د بناء قيمت پوره کړي] وَإِذَا بَقِيَ فَضْلٌ وَلَمْ يُمْكِنْ تَحْقِيقُ التَّسْوِيَةِ بِأَنْ لَا تَفِي الْعَرْصَةُ بِقِيمَةِ الْبِنَاءِ او که چيري [بيا هم] څه زياتوب پاته سي او برابري ثابتول ممکن نه وي په دې توګه چي صحن د بناء قيمت نه پوره کوي [يا په بله وينا دا چي صحن (خالي ځمکه) د بناء د قيمت لپاره ناکافي وي] فَحِيْنَئِذٍ يُرَدُّ لِلْفَضْلِ دَرَاهِمُ نو په دې وخت کي به د زياتوب په بدله کي دراهم ورکول کيږي [په دراهمو سره به قيمت پوره کوي] لِأَنَّ الضَّرُوْرَةَ فِيْ هٰذَا الْقَدْرِ ځکه چي ضرورت په همدومره مقدار کي دی فَلَا يُتْرَكُ الْأَصْلُ إِلَّا بِهَا نو ځکه [حتی الوسع] به اصل نه پرېښوول کيږي مګر په همدې سره وَهٰذَا يُوَافِقُ رِوَايَةَ الْأَصْلِ او دا [يعني اول صحن ورکول او که هغه کافي نه سي بيا دراهم ورکول] د مبسوط د روايت مطابق دي.

اللغات: ﴿يرد﴾ د نصر مضارع ده: واپس کول، واپس ورکول، ﴿بناء﴾ جوړ سوی ځای، عمارت، وداني، ﴿عرصة﴾ صحن، غولی (انګړ)، د کور دننه خالي ميدان، خالي ځمکه، ﴿فضل﴾ زياتوب، کوم زياته حصه چي پاته سي، ﴿تسوية﴾ د تفعيل مصدر دی: برابري کول، ﴿لا تفي﴾ د ضرب له بابه د نفي صيغه ده: پوره کول، پوره اداء کول.

تشريح: امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي کله د ضرورت په وجه دلته دراهم په تقسيم کي داخلول کيږي، نو بيا به د "الضرورة تتقدر بقدر الضرورة" والا قاعدې پر بناء صرف د ضرورت په اندازه دراهم په تقسيم کي داخلول کيږي او تقسيم به داسي کيږي چي د کوم شريک په حصه کي چي بناء راغلې ده هغه دي دويم شريک ته د بناء په بدله کي د کور صحن (غولی) ورکړي، چي مساوات ثابت سي، لېکن که په صحن ورکولو سره هم مساوات ثابت نه سي، نو بيا دي د بناء والا شريک دويم شريک ته دراهم ورکړي: ځکه اوس و دراهمو ته ضرورت پېښ سو. فرمايي چي په مبسوط کي هم داسي نقل سوي دي.

تر تقسيم وروسته د لاري يا د اوبو د لاري مسئله

قَالَ: فَإِنْ قَسَمَ بَيْنَهُمْ وَلِأَحَدِهِمْ مَسِيْلٌ فِي نَصِيْبِ الْآخَرِ أَوْ طَرِيْقٌ لَمْ يُشْتَرَطْ فِي الْقِسْمَةِ فرمايي: كه قاسم د شريكانو تر مينځ تقسيم وكړي او په دوى كي ديوه شريک لبنتى (نالى) د بل په حصه كي وي [يعني د بل په ملكيت كي راسي] يا لاره وي چي په تقسيم كي د هغه شرط نه وي لګول سوى [يا په بله وينا دا چي د تقسيم پر مهال نه وي ذكر سوي] فَإِنْ أَمْكَنَ صَرْفُ الطَّرِيْقِ وَالْمَسِيْلِ عَنْهُ نو كه چيري د بل شريک له حصې څخه د لاري او لبنتي راګرځول [په خپل حصه كي جوړول] ممكن وي لَيْسَ لَهُ أَنْ يَسْتَطْرِقَ فِي نَصِيْبِ الْآخَرِ نو هغه ته دا حق نسته چي د بل يوه په حصه كي لاره يا لبنتى وباسي لِأَنَّهُ أَمْكَنَ تَحْقِيْقُ مَعْنَى الْقِسْمَةِ مِنْ غَيْرِ ضَرَرٍ ځكه چي [په دې صورت كي] له څه ضرر څخه بغير د تقسيم معنىٰ ثابتول ممكن دي وَإِنْ لَمْ يُمْكِنْ او كه دا [د لاري او لبنتي راګرځول] ممكن نه وي فُسِخَتِ الْقِسْمَةُ نو تقسيم به ماتول كيږي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ مُخْتَلَّةٌ لِبَقَاءِ الْاِخْتِلَاطِ ځكه چي [دلته] د اختلاط پاتېدلو په وجه تقسيم مختل سو فَتُسْتَأْنَفُ نو ځكه له نوي سره به تقسيم كيږي بِخِلَافِ الْبَيْعِ حَيْثُ لَا يَفْسُدُ فِي هٰذِهِ الصُّوْرَةِ په خلاف د بيع چي هغه په دې صورت كي نه فاسديږي لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ مِنْهُ تَمَلُّكُ الْعَيْنِ ځكه د بيع مقصود د عين شي مالک جوړېدل دي وَأَنَّهُ يُجَامِعُ تَعَذُّرُ الْاِنْتِفَاعِ فِي الْحَالِ او دا د انتفاع د متعذر كېدلو سره جمع كېداى سي أَمَّا الْقِسْمَةُ لِتَكْمِيْلِ الْمَنْفَعَةِ ليكن تقسيم د نفع د پوره كولو لپاره وي وَلَا يَتِمُّ ذٰلِكَ إِلَّا بِالطَّرِيْقِ او دا د لاري [د چلا كولو] څخه بغير نه سي پوره كېداى.

اللغات: ﴿مسيل﴾ له سَيْل څخه مشتق دى: د اوبو بهېدلو لبنتى (نالى)، ﴿صرف﴾ د ضرب د باب مصدر دى: ګرځول، اړول، ﴿يستطرق﴾ د استفعال د باب مضارع ده: لاره ايستل، لاره جوړول، ﴿نصيب﴾ حصه، ﴿فسخت﴾ د فتح له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: فسخ كول، ماتول، ختمول، ﴿مختلة﴾ ناقص، ﴿تملك﴾ د تفعّل د باب مصدر دى: مالک جوړېدل، ﴿تعذر﴾ د تفعل د باب مصدر دى: مشكل كېدل، نا ممكن كېدل، ﴿انتفاع﴾ د افتعال د باب مصدر دى: نفع اخيستل، نفع حاصلول، ﴿يجامع تعذر الانتفاع﴾ يعني چي له مبيع څخه نفع اخيستل مشكل وي نو بيا هم بيع جائز كيږي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي قاسم د شريكانو تر مينځ د دوى مشترک ځاى تقسيم كړى او د تقسيم په دوران كي د لاري او د اوبو لبنتى (نالى) تذكره نه وسوه، وروسته ديوه شريک لبنتى يا لاره د بل شريک په حصه كي راغله، نو دلته دوه صورتونه دي:

(۱)... که چیري دا شریک په خپل حصه کي خپل لښتی یا لاره راګرځولای او مقررولای سي، نو بیا دِه ته د بل شریک په حصه کي د اوبو بیولو او د لاري ایستلو اجازت نسته.
(۲)... او که دا شریک (چي د هغه لښتی او لاره د بل شریک په حصه کي راغلي دي) په خپل ملکیت کي د هغه انتظام نه سي کولای، نو بیا به دا تقسیم فسخ کیږي (ماتول کیږي) او له نوي سره به تقسیم کیږي؛ ځکه چي دیوه او بل په حصه کي د اختلاط په وجه دا تقسیم مُخل بالمقصود جوړ سو، او حصې سره جلا نه سوې؛ نو ځکه دوباره به تقسیم کیږي.

بخلاف البیع إلخ: په دې سره مقصود د بیع او تقسیم تر مینځ فرق بیانول دي، حاصل یې دا دی چي که څوک یو کور رانیسي او په هغه کور کي د بل چالاره وتلې وي یا د بل چا د اوبو لښتی (نالی) پکښې وي، نو بیع به نه فسخ کیږي، بلکي باقي به پرېښوول کیږي، حال دا چي تقسیم په دې صورت کي فسخ کېدی، نو په دې دواړو کي فرق دا دی چي د بیع مقصود فقط د عَین مبیع مالک جوړېدل دي (او په بیع کي دإفراز او جلا کولو معنیٰ نسته)، لهذا که په یو وجه انتفاع (نفع اخیستل) ستونزمن وي، نو څه حرج نسته؛ ځکه اصلي مقصود خو حاصل سوی دی، او پاته سو د تقسیم اصلي مقصد له خپل حصې څخه نفع اخیستل دي، او دا ښکاره خبره چي د لاري او نالی څخه بغیر له خپل حصې څخه پوره نفع نه سي اخیستل کېدای بلکي انتفاع ناقص پاتیږي، نو پر همدې بناء په تقسیم او بیع کي فرق دی چي تقسیم فسخ کول کیږي او بیع باقي پرېښوول کیږي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوْ ذَكَرَ الْحُقُوقَ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ كَذٰلِكَ الْجَوَابُ او که چیري په اول صورت کي [یعني چي په خپل حصه کي د لاري او لښتي راګرځول (جوړول) ممکن وي] د حقوقو ذکر وکړي نو هم دا حکم دی [چي لاره او لښتی دي په خپل ځمکه کي راوګرځوي] لِأَنَّ مَعْنَى الْقِسْمَةِ الْإِفْرَازُ وَالتَّمْيِيزُ ځکه چي د تقسیم معنیٰ جلا کول او سره بېلول دي [چي د لاري او لښتي سره خپل حصه جلا کړه] وَتَمَامُ ذٰلِكَ بِأَنْ لَا يَبْقَى لِكُلِّ وَاحِدٍ تَعَلُّقٌ بِنَصِيبِ الْآخَرِ او د دې پوره کېدل په همدې سره دي چي د هیڅ شریک د بل شریک د حصې سره تعلق پاته نه سي وَقَدْ أَمْكَنَ تَحْقِيقُهُ بِصَرْفِ الطَّرِيقِ وَالْمَسِيلِ إِلَى غَيْرِهِ مِنْ غَيْرِ ضَرَرٍ او د دې ثابتول ممکن دي په دې توګه چي لاره او لښتی له څه ضرر ورکولو څخه بغیر د بل وطرف ته وګرځول سي فَيُصَارُ إِلَيْهِ نو ځکه د همدې وطرف ته به رجوع کیږي بِخِلَافِ الْبَيْعِ إِذَا ذُكِرَ فِيهِ الْحُقُوقُ په خلاف د بیع کله چي په هغه کي د حقوقو ذکر وسي حَيْثُ يَدْخُلُ فِيهِ مَا كَانَ لَهُ مِنَ

الطَّرِيقِ وَالْمَسِيلِ ځکه په بيع کي لاره او لښتی داخليږي لِأَنَّهُ أَمْكَنَ تَحْقِيقُ مَعْنَى الْبَيْعِ وَهُوَ التَّمْلِيكُ مَعَ بَقَاءِ هٰذَا التَّعَلُّقِ بِمِلْكِ غَيْرِهِ ځکه چي د بيع د معنیٰ يعني د تمليک ثابتول ممکن دي سره د دې چي دا تعلق [د لاري او لښتي تعلق] د بل چا د ملکيت سره پاته وي [يعني د بل چا د ملکيت سره د لاري او لښتي د تعلق پاتېدلو باوجود هم د بيع معنیٰ (تمليک) ثابتيږي].

اللغات: ﴿الحقوق﴾ د ځمکي او کور حقوق يعني لاره او لښتی، ﴿إفراز﴾ د افعال د باب مصدر دی: را جلا کول، ﴿تمييز﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سره جلا کول، بېلول، ﴿تمليك﴾ مخکني صيغه ده: مالک کول، څوک د يو شي مالک جوړول.

تشريح: په مخکيني عبارت کي خو دا بيان وو چي د تقسيم پر مهال د حقوقو يعني د لاري او لښتي (نالی) تذکره نه وسي، اوس دلته دا بيانوي چي که قاسم د تقسيم پر مهال د لاري او لښتي تذکره وکړي، بيا د يوه شريک دا شيان د بل شريک په حصه کي راسي، نو هم دا غه حکم دی چي هغه دي دا شيان خپل طرف ته را وګرځوي او په خپل حصه کي دي لاره يا لښتی جوړ کړي؛ ځکه چي د تقسيم مطلب هم دا دی چي د هر شريک حصه د بل شريک له حصې څخه من کل وجه جلا کړل سي، او کله چي دلته د خپل حصې وطرف ته د لاري يا لښتي ګرځول ممکن دي، نو بيا دي بل چا ته بلا وجه ضرر نه ورکول کيږي.

بخلاف البيع: لېکن که په بيع کي د مبيع د حقوقو يعني د لاري او لښتي تذکره وسي او بيا هغه د بل چا په حصه کي راسي، نو دلته په خپل حصه کي د لاري او لښتي راګرځولو ته ضرورت نسته؛ ځکه د بيع د معنیٰ مقصود په داسي صورت کي هم حاصليږي (چي لاره او لښتی د بل چا په ملکيت کي راسي)، يعني په دې صورت کي هم تمليک تاميږي، حال دا چي په تقسيم کي په داسي صورت کي مقصود نه حاصليږي (چي لاره او نالی په خپل حصه کي نه وي) او نه تمليک تاميږي، نو ځکه په دې صورت کي تقسيم فسخ کيږي او بيع باقي پاتيږي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي يَدْخُلُ فِيهِمَا او په دويم صورت کي لاره او لښتی په تقسيم کي داخليږي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ لِتَكْمِيلِ الْمَنْفَعَةِ ځکه چي تقسيم د نفع د پوره کولو لپاره دی وَذٰلِكَ بِالطَّرِيقِ وَالْمَسِيلِ او دا [د نفع تکميل] په لاره او لښتي سره حاصليږي فَيَدْخُلُ عِنْدَ التَّنْصِيصِ بِاعْتِبَارِهِ نو ځکه لاره او لښتی به د تصريح [صراحتاً ذکر کېدلو] په وخت کي د تکميل په اعتبار سره داخليږي [احسن الهدايه]

وَفِيهَا مَعْنَى الْإِفْرَازِ او په تقسیم کي دإفراز [جلا کولو] معنیٰ سته وَذٰلِكَ بِانْقِطَاعِ التَّعَلُّقِ او دا [دإفراز معنیٰ] په تعلق قطع کېدلو سره حاصلیږي [چي د شریکانو د حصو به یو د بل سره هیڅ تعلق پاته نه وي] عَلٰى مَا ذَكَرْنَا لکه [مخکي] چي موږ ذکر کړه فَبِاعْتِبَارِهِ لَا يَدْخُلُ مِنْ غَيْرِ تَنْصِيصٍ نو دإفراز د معنیٰ په اعتبار کولو سره به لاره او لښتی له تصریح څخه بغیر نه داخلیږي بِخِلَافِ الْإِجَارَةِ حَيْثُ يَدْخُلُ فِيهَا بِدُونِ التَّنْصِيصِ په خلاف د اجارې چي په هغه کي له تصریح څخه بغیر لاره او لښتی داخلیږي لِأَنَّ كُلَّ الْمَقْصُودِ الِانْتِفَاعُ ځکه چي [په اجاره کي] ټول له مقصود نفع حاصلول دي وَذٰلِكَ لَا يَحْصُلُ إِلَّا بِإِدْخَالِ الشِّرْبِ وَالطَّرِيقِ او دا مقصود نه حاصلیږي مګر د لښتي او لاري په داخلولو سره فَيَدْخُلُ مِنْ غَيْرِ ذِكْرٍ نو ځکه لښتی او لار به [په اجاره کي] له ذکر کېدو څخه بغیر داخلیږي.

اللغات: ﴿تکمیل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: پوره کول، بشپړول. ﴿طریق﴾ لار، لاره. ﴿مسیل﴾ لښتی، نالي. ﴿تنصیص﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: تصریح، صراحت کول (صراحتاً ذکر کول).

تشریح: مسئله: دا ده چي په دویم صورت کي یعني کله چي د طریق او مسیل (لاري او لښتي) ګرځول ممکن نه وي، نو په دې صورت کي که چیري طریق او مسیل په تقسیم کي ذکر سوي وه، نو دا دواړه په تقسیم کي داخلیږي؛ ځکه چي د تقسیم مقصد د منفعت تکمیل او بشپړ تیا ده، او کامل منفعت په طریق او مسیل سره حاصلیږي، لهذا د صراحت کېدلو په صورت کي به (یعني کله چي د طریق او مسیل صراحت او تذکره سوې وي) دوی په تقسیم کي داخلول کیږي.

وفیها معنی الإفراز إلخ: د دې حاصل دا دی چي په تقسیم کي دإفراز معنیٰ هم سته (لکه مخکي چي څو ځله تېر سوه)، او دإفراز معنیٰ تر هغه وخته نه پوره کیږي تر څو چي د شریکانو د حصو تر مینځ په پوره توګه تعلق قطع نه سي، لهذا د صراحت نه کېدلو په صورت کي به دإفراز د معنیٰ په رعایت کولو سره طریق او مسیل په تقسیم کي نه داخلول کیږي.

بخلاف الإجارة إلخ: یعني که په اجاره کي د طریق او مسیل تذکره نه وسي، نو بیا هم هغه په اجاره کي داخلیږي: ځکه په اجاره کي صرف انتفاع (نفع اخیستل) مقصود وي، حال دا چي د طریق او مسیل له دخول څخه بغیر انتفاع نه حاصلیږي، لهذا د اجارې د مقصد حاصلولو په وجه به له صراحت او تذکرې څخه بغیر هم طریق او مسیل په اجاره کي داخلیږي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوِ اخْتَلَفُوْا فِيْ رَفْعِ الطَّرِيْقِ بَيْنَهُمْ فِي الْقِسْمَةِ او که چیري شریکان په تقسیم کي د لاري پرېښوولو په هکله اختلاف وکړي إِنْ كَانَ يَسْتَقِيْمُ لِكُلِّ وَاحِدٍ طَرِيْقٌ يَفْتَحُهُ فِيْ نَصِيْبِهِ نو که چیري د هر شریک لپاره په خپل حصه کي د لاري خلاصول برابر [او ممکن] وي قَسَمَ الْحَاكِمُ مِنْ غَيْرِ طَرِيْقٍ يَرْفَعُ لِجَمَاعَتِهِمْ نو قاضي به د دوی لپاره د [مجموعي] لاري د پرېښوولو څخه بغیر تقسیم کوي لِتَحَقُّقِ الْإِفْرَازِ بِالْكُلِّيَّةِ دُوْنَهُ ځکه چي [دلته] د لاري پرېښوولو څخه بغیر هم په پوره توګه د إفراز [جلا کولو] معنیٰ ثابتیږي وَإِنْ كَانَ لَا يَسْتَقِيْمُ ذٰلِكَ او که دا برابر [او ممکن] نه وي [یعني که دا ممکن نه وي چي هر شریک په خپل حصه کي لاره خلاصه کړي (جوړه کړي)] رَفَعَ طَرِيْقًا بَيْنَ جَمَاعَتِهِمْ نو قاضي به د دوی ټولو شریکانو لپاره یوه لاره پرېږدي لِيَتَحَقَّقَ تَكْمِيْلُ الْمَنْفَعَةِ فِيْمَا وَرَاءَ الطَّرِيْقِ چي د لاري څخه په وروسته [نوره ځمکه] کي د نفع تکمیل ثابت سي.

اللغات: ﴿رفع الطريق﴾ لار پرېښوول، لاره رایستل، د لاري لپاره ځای ورکول. ﴿يستقيم﴾ د استفعال د باب مضارع ده: سیده کېدل، قائم کېدل، استقامله (یعني د دې باب په صله کي چي لام راسي نو معنیٰ يې ده) سمېدل او صحي کېدل، برابرېدل. ﴿إفراز﴾ د افعال د باب مصدر دی: جلا کول.

تشريح: مسئله: دا ده که د لاري پرېښوولو په هکله د شریکانو اختلاف سي، بعضي ووايي چي لاره دي پرېښوول سي او بعضي د لاري پرېښوولو مخالفت وکړي، نو په دې باره کي به قاضي دې ته غور او نظر وکړي چي هر شریک په خپله حصه کي د ځان لپاره لاره پرېښوولای سي، که نه، که چیري د هر شریک لپاره د لاري پرېښوول (جوړول) ممکن وي، نو قاسم به د لاري پرېښوولو څخه بغیر تقسیم کوي (لاره به نه پرېږدي)؛ ځکه دلته بغیر د لاري هم د إفراز معنیٰ ثابتیږي.

لېکن که د هر شریک لپاره په خپل حصه کي د لاري جوړول ممکن نه وي، نو په دې صورت کي به قاضي د دوی لپاره د یو مشترک طریق (لاري) د پرېښوولو حکم کوي او په ما وراء طریق کي به تقسیم کیږي چي تر لاري پرېښوولو وروسته هر شریک له خپل حصې څخه پوره نفع حاصله کړی سي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوِاخْتَلَفُوْا فِي مِقْدَارِهِ او که شریکان د لارې د مقدار په هکله اختلاف وکړي جُعِلَ عَلٰى عَرْضِ بَابِ الدَّارِ وَطُوْلِهِ نو هغه لار به د کور د دروازې د پراخوالي او جګوالي په اندازه ګرځول کیږي [جوړول کیږي] لِأَنَّ الْحَاجَةَ تَنْدَفِعُ بِهِ ځکه چې ضرورت په همدې سره دفع کیږي[پوره کیږي] وَالطَّرِيْقُ عَلٰى سِهَامِهِمْ او لار به د شریکانو د حصو په اندازه وي [یعني د هر شریک چې څومره حصه وي د هغه مطابق به په لار جوړولو کې ځمکه ځنې اخیستل کیږي] كَمَا كَانَ قَبْلَ الْقِسْمَةِ لکه څرنګه چې تر تقسیم مخکې وه لِأَنَّ الْقِسْمَةَ فِيْمَا وَرَاءَ الطَّرِيْقِ لَا فِيْهِ ځکه چې تقسیم د لارې څخه په ماوراء [نوره ځمکه] کې دی، نه په لاره کې وَلَوْشَرَطُوْا أَنْ يَكُوْنَ الطَّرِيْقُ بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا او که شریکان دا شرط ولګوي چې لاره به د دوی په مینځ کې په ثلثونو سره وي [مثلاً دوه ثلثه (دوې جصې) به د یوه وي او یو ثلث به د بل وي] جَازَ نو دا هم جائز دي وَإِنْ كَانَ أَصْلُ الدَّارِ نِصْفَيْنِ که څه هم اصل کور [د دوی په مینځ کې] نیم، نیم وي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ عَلَى التَّفَاضُلِ جَائِزَةٌ بِالتَّرَاضِيْ ځکه چې په تفاضل سره تقسیم کول یو د بل په رضاء سره جائز دي.

اللغات: د تفاعل د باب مصدر دی: زیاتوب کول، کمي وزیاتوب (کمي بیشي).

تشریح: **مسئله**: دا ده که د لارې د مقدار په هکله شریکان اختلاف وکړي، یو د غټې لارې مطالبه کوي، یو د کوچنۍ لارې، نو په دې صورت کې به د کور د دروازې پراخوالي (بر) او جګوالي ته کتل کیږي (یعني د یو کور عمومي دروازه چې څومره وي چې له هغه څخه تانګه، موټر او داسې نور کور ته راځي). د هغه په اندازه دروازه به پریښوول کیږي، او دا به د شریکانو د حصو په تناسب سره پریښوول کیږي (مثلاً که په کور کې د زید دوې حصې وي او د خالد یوه حصه وي، نو په لار کې به د زید له ځمکې څخه دوې حصې اخیستل کیږي او له خالد څخه یوه حصه)، لکه څرنګه چې تر تقسیم مخکې د دوی حصې اندازه کېدلې، هکذا بعد القسمة به هم اندازه کول کیږي؛ ځکه چې تقسیم د لارې څخه بغیر په بل شي (نوره ځمکه او حصو) کې دی، نو د هاغه په تناسب سره به لاره هم پریښوول کیږي (یعني د هر شریک چې څومره حصه وي، د هغه په اعتبار سره به د هغه ځمکه هم اخیستل کیږي)،

ولوشرطوا إلخ: د دې حاصل دا دی چې اُصول خو هماغه دی کوم چې اوس تېر سو، لېکن که شریکان په خپل مینځ کې د لارې پر کمي و زیاتوب اتفاق وکړي، مثلاً د زید او خالد تر مینځ یو کور مشترک

وي او دوی دا شرط ولګوي (يعني پر دې اتفاق وکړي او په راضي سي) چې په لاره کې به د زيد له ځمکې څخه دوه ثلثه (دوې حصې) ورکول کيږي او د خالد له ځمکې څخه يو ثلث مثلاً، نو دا جائز او صحيح دي؛ ځکه د دواړو په رضاء سره داسې کول جائز دي؛ ځکه چې کور او ځمکه د همدوی ده.

د دو منزله (دوچته) ځای د تقسيم مختلفه صورتونه

قَالَ: وَإِذَا كَانَ سِفْلٌ لَا عُلْوَ عَلَيْهِ وَعُلْوٌ لَا سِفْلَ لَهُ وَسِفْلٌ لَهُ عُلْوٌ فرمايي: او که يو داسې لاندينی منزل [يا لاندينی خونه او ځای] وي چې پر هغه پاسنی منزل [بالاخانه] نه وي او يو داسې پاسنی منزل [بالاخانه] وي چې د هغه لاندينی منزل نه وي او داسې لاندينی منزل وي چې د هغه پاسنی منزل هم وي قُوِّمَ كُلُّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَتِهِ وَقُسِمَ بِالْقِيمَةِ نو [د تقسيم په صورت کې] به د هر يوه جلا، جلا قيمت لګول کيږي او د قيمت په ذريعه به تقسيمول کيږي وَلَا مُعْتَبَرَ بِغَيْرِ ذَلِكَ او له دې څخه بغير لره به اعتبار نه وي [يعني د بل څه اعتبار به نه کيږي] قَالَ ﷺ: هٰذَا عِنْدَ مُحَمَّدٍ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز دي وَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ وَأَبُويُوسُفَ ۞: يُقْسَمُ بِالذِّرَعِ او شيخين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د ګزو [او پيمايش] په ذريعه به تقسيمول کيږي لِمُحَمَّدٍ: أَنَّ السِّفْلَ يَصْلُحُ لِمَا لَا يَصْلُحُ لَهُ الْعُلْوُ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې لاندينی منزل [لاندينی خونه] د هغه څه صلاحيت لري چې پاسنی منزل يې نه لري مِنِ اتِّخَاذِهِ بِئْرَ مَاءٍ أَوْ سِرْدَابًا أَوْ إِصْطَبْلًا أَوْ غَيْرَ ذَلِكَ مثلاً لاندينی منزل د اوبو څاه يا زېرخانه يا طبيله يا داسې نور [پکښې] جوړېدای سي فَلَا يَتَحَقَّقُ التَّعْدِيلُ إِلَّا بِالْقِيمَةِ نو ځکه له قيمت څخه بغير برابري نه سي ثابتېدای.

اللغات: ﴿سفل﴾ دا لفظ دوه ډوله ويل کېدای سي: سُفْل، سِفْل: لاندينی منزل (لاندينی پوړ، لاندينی ځای)، ﴿علو﴾ دا لفظ درې ډوله ويل کېدای سي: عُلو، عَلو، عِلو: پاسنی منزل (پورتنی پوړ، لوړ ځای، بالاخانه)، ﴿قُوِّمَ﴾ د تفعيل له بابه د ماضي مجهول صيغه ده: قيمت لګول (اندازه کول)، قيمت ټاکل، ذراع: شرعي ګز، يو لاس، ﴿سرداب﴾ زېرخانه، ﴿اصطبل﴾ د اسونو او داسې نورو څارويو د تړلو او ساتلو خونه، طبيله، تبيله، طويله.

۞ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة علاء الدين الكاساني رَحِمَهُ الله: فكان التعديل في اعتبار القيمة والعمل به في المسئلة على قول محمد رَحِمَهُ الله وهو اختيار الطحاوي (بدائع ج:۷، ص:۲۷)، وفي الدر المختار: وقسم بالقيمة عند محمد رَحِمَهُ الله وبه يفتى (ج:۵، ص:۱۸۵). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۸۰]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی: چې د دوو خلکو (مثلاً د زيد او خالد) تر مينځ درې دانې دو منزله ځايونه مشترک دي (يعني داسې ځايونه کوم چې پر بام د پاسه بل منزل يا په بله وينا پاسنی منزل يا پاسنی خونه هم لري)، په دې توګه مشترک دي (۱) چې د اول دو منزله ځای صرف په لاندينې منزل (يالاندې خونه) کې دوی دواړه (زيد او خالد) شريکان دي، (۲) او د دويم دومنزله ځای صرف په پاسنې منزل کې دوی دواړه شريکان دي، (۳) او د درېيم دومنزله ځای په دواړو منزلونو (دواړو خونو) کې دوی شريکان دي، مثلاً داسې:

دا پاسنی خونه د بل چا ده	په پاسنی خونه کې زيد او خالد شريکان دي	په پاسنی خونه کې هم خالد او زيد شريکان دي
په دغه لاندينی خونه کې زيد او خالد شريکان دي	لاندينی خونه د بل چا ده	په لاندينی خونه کې هم دوی دواړه شريکان دي

نو په داسې صورت که شريکان د تقسيم مطالبه وکړي نو تقسيم به څنګه کيږي، امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې د هر منزل (هرې خونې) قيمت به جلا، جلا اندازه کيږي (معلومول کيږي) او بيا به تقسيمول کيږي (يعني د قيمت په ذريعه به تقسيمول کيږي چې د شريکانو حصې په قيمت کې برابرې وي)، شيخين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې په ذرع (پيمايش او ګزو) سره به تقسيم کيږي (يعني قيمت به په مينځ کې نه راړول کيږي بلکې ټوله منزلونه به ګزول کيږي او تقسيمول کيږي).

دامام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د نفع او نقصان (ګټې او تاوان) په اعتبار سره د لاندينې او پاسنې منزل په مينځ کې تفاوت او فرق دی، ځکه په لاندې منزل کې څاه، زيرخانه، اصطبل او داسې نور هم جوړېدای سي، ليکن په پاسنې منزل کې له اوسېدو څخه بغير نور منافع نه سي ترلاسه کېدای، لهذا کله چې په دواړو منزلونو کې تفاوت دی نو که د قيمت په ذريعه تقسيم نه وسي، نو د شريکانو تر مينځ مساوات او برابري نه سي کېدای (يعني دلته له قيمت څخه بغير برابري نه ثابتيږي)، حال دا چې د تقسيم بنيادي مقصد د شريکانو تر مينځ د برابرۍ لحاظ کول دي، او برابري په قسمة بالقيمة سره راځي. (احسن الهدايه)

د پورتنې مسئلې نور وضاحت

وَهُمَا يَقُولَانِ: إِنَّ الْقِسْمَةَ بِالذِّرَاعِ هِيَ الْأَصْلُ شيخين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د ګزو په ذريعه تقسيم کول اصل دي لِأَنَّ الشَّرِكَةَ فِي الْمَذْرُوعِ لَا فِي الْقِيمَةِ ځکه چې [دلته] شرکت په ګزېدونکې شي [ځمکه] کې دی فَيُصَارُ إِلَيْهِ مَا أَمْكَنَ نو حتی الامکان به د هغه [تقسيم بالذراع] وطرف ته رجوع کيږي وَالْمَرْعِيُّ التَّسْوِيَةُ فِي السُّكْنَى لَا فِي الْمَرَافِقِ او کوم چې د برابرۍ لحاظ سوی دی هغه په اوسېدلو

کي دی، نه په منافعو کي [يعني له سکنیٰ څخه بغير په نورو کي منافعو کي برابري ضروري نه ده] ثُمَّ اخْتَلَفَا فِيمَا بَيْنَهُمَا فِي كَيْفِيَّةِ الْقِسْمَةِ بِالذَّرْعِ بيا دې دواړو امامانو د تقسيم بالذراع د کيفيت په هکله اختلاف کړی دی فَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ: ذِرَاعٌ مِنْ سِفْلٍ بِذِرَاعَيْنِ مِنْ عُلْوٍ نو امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چي د لاندينې منزل يو گز به د پاسنې منزل د دوو گزونو په بدله کي وي [يعني د سفل يو گز د علو د وو گزونو په برابر دی] وَقَالَ: أَبُويُوسُفَ: ذِرَاعٌ بِذِرَاعٍ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي يو گز به د يوه گز په بدله کي وي [يعني سفل او علو دواړه په درجه کي برابر دي] قِيلَ: أَجَابَ كُلٌّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَلَى عَادَةِ أَهْلِ عَصْرِهِ أَوْ أَهْلِ بَلَدِهِ فِي تَفْضِيلِ السِّفْلِ عَلَى الْعُلْوِ وَاسْتِوَائِهِمَا وَتَفْضِيلِ السِّفْلِ مَرَّةً وَالْعُلْوِ أُخْرَى ويل سوي دي: چي هر امام پر علو د سفل د افضل گرځولو يا د دواړو د برابر والي په باره کي يا کله د سفل د افضل گرځولو او کله بيا د علو د افضل گرځولو په باره کي د خپل زمانې يا ښار د خلکو د عادت مطابق جواب ورکړی دی [يا په بله وينا دا چي هر امام د خپل وخت يا خپل ښار پر عادت فيصله کړې ده چي لاندينی منزل يې له پاسني منزل څخه غوره يا دواړه برابر گرځولي دي، يا يو وار لاندينی منزل غوره گرځول سوی دی او بل وار پاسنی منزل] وَقِيلَ: هُوَاخْتِلَافُ مَعْنًى او ويل سوي دي: چي دا معنوي اختلاف دی.

اللغات: ﴿مذروع﴾ د مفعول صيغه ده: گزېدونکی، ناپېدونکی شی، ﴿المرعىٰ﴾ د فتح د باب مفعول دی: رعايت کړی سوی، لحاظ کړی سوی (ملحوظ)، ﴿سکنیٰ﴾ استوګنه، اوسېدنه، ﴿مرافق﴾ منافع، سهوليات، (يعني په لاندينې منزل کي چي کوم د څاه او زير خانه يا د داسي نورو د جوړولو چي کوم منافع او سهوليتونه دي، په هغه کي د برابرۍ لحاظ نه دی سوی).

تشريح: له دې ځايه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د تقسيم بالذراع په هکله د شيخينو رَحِمَهُمَا الله مشترک دليل ذکر کوي، چي د هغه حاصل دا دی چي په تقسيم کي همدا تقسيم بالذراع اصل دی، ځکه دلته شريکان په مذروع يعني په گزېدونکي شي کي شريکان دي، نه په قيمت کي، لهذا ترڅو چي تقسيم بالذراع ممکن وي، پر هغه به عمل کول کيږي. او امام محمد رَحِمَهُ الله چي کوم دا ويلي وه چي د منافعو په اعتبار سره په دواړو منزلونو کي تفاوت دی، نو د هغه جواب دا دی چي د برابرۍ او مساوات لحاظ به په اوسېدنه او سکنیٰ کي کول کيږي، نه په منافعو کي، او د ښکاره ده چي د تقسيم بالزراع په صورت کي په اوسېدنه او سکنیٰ کي برابري راځي، لهذا د هغه مطابق به تقسيم کيږي.

ثم اختلفا إلخ: د دې حاصل دا دی چې شيخين رَحِمَهُمَا الله که څه هم په تقسيم بالذراع کې متفق دي. لېکن په دې صورت کې هغوی د تقسيم په کيفيت او طريقه کې يو له بل څخه جلا دي. امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چې د لانديني منزل يو گز به د پاسني منزل د دوو گزونو په برابر تقسيمول کيږي. امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې نه! د هر منزل گز د بل منزل د گز سره برابر دی، کمي بيشي به نه پکښې کيږي.

د امام محمد او شيخينو رَحِمَهُمُ الله تر مينځ دغه اختلاف ولې دی، په دې باره کې خو د بعضې حضراتو رايه دا ده چې د هر امام قول د هغه د زمانې پر عرف او د خلکو پر عادت مبني دی، مثلاً د امام صاحب رَحِمَهُ الله په زمانه کې به خلکو لانديني منزل ته زيات ارزښت او افضليت ورکوی، نو ځکه امام صاحب د هغه يو گز د پاسني منزل د دوو گزونو مساوي وگرځوی. د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دور کې د دواړو منزلونو ارزښت برابر وو، نو ځکه هغه د مساوات حکم وکړې. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په دور کې به کله خلکو پاسني منزل ته ارزښت او اهميت ورکوی او کله به يې لانديني منزل ته، نو ځکه هغه د عدل او مساوات لپاره تقسيم بالقيمة اختيار کړی. او يو بل قول دا دی چې دا اختلاف معنوي او حقيقي دی او د دلائلو په اعتبار سره د امامانو مختلف اقوال دي. (احسن الهدايه)

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل

وَوَجْهُ قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ مَنْفَعَةَ السِّفْلِ تَرْبُو عَلَى مَنْفَعَةِ الْعُلْوِ بِضَعْفِهِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول دليل دا دی: چې د لانديني منزل نفع د پاسني منزل له نفع څخه دوچنده زياته ده لِأَنَّهَا تَبْقَى بَعْدَ فَوَاتِ الْعُلْوِ ځکه چې هغه د پاسني منزل تر فوتېدلو [نړېدلو] وروسته هم باقي پاتېږي وَمَنْفَعَةُ الْعُلْوِ لَا تَبْقَى بَعْدَ فَنَاءِ السِّفْلِ او د پاسني منزل نفع د لانديني منزل تر ختمېدلو وروسته نه پاتېږي وَكَذَا السِّفْلُ فِيهِ مَنْفَعَةُ الْبِنَاءِ وَالسُّكْنَى همدارنګه په لانديني منزل کې د ځای جوړولو او اوسېدلو [دواړو] نفع سته وَفِي الْعُلْوِ السُّكْنَى لَا غَيْرُ او په لانديني منزل کې صرف د اوسېدلو نفع ده، نه د بل څه إِذْ لَا يُمْكِنُهُ الْبِنَاءُ عَلَى عُلْوِهِ إِلَّا بِرِضَا صَاحِبِ السِّفْلِ ځکه د لانديني منزل والا د رضاء څخه بغير هغه [پاسني منزل والا] پر خپل پاسني منزل ځای نه سي جوړولای فَيُعْتَبَرُ ذِرَاعَانِ مِنْهُ بِذِرَاعٍ مِنَ السُّفْلِ نو ځکه د لانديني منزل د يوه گز په بدله کې به د پاسني منزل د دوو گزونو اعتبار کول کيږي [يعني د مذکوره تفاوت په وجه د پاسني منزل دوه گزه د لانديني منزل د يوه گز سره برابر دي].

اللغات: ﴿منفعة﴾ نفع، فایده. ﴿تربو﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع صیغه ده: زیاتېدل، إضافه کېدل. ﴿ضعف﴾ دوچنده.

تشريح: په دې عبارت کې صاحبِ د هدایې د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل ذکر کړی دی چې هغه د لاندې منزل یو ګز د پاسني منزل د دوو ګزونو په برابر ولې ګرځولی دی، حاصل د دلیل یې دا دی چې د لاندیني منزل منفعت په هر حال کې له پاسني منزل څخه زیات دی؛ ځکه د پاسني منزل تر نړېدو او پنا کېدو او وروسته هم لاندیني منزل د نفع اخیستو قبل پاتېږي، همدارنګه په لاندیني منزل کې د اوسېدو برسېره د بل ځای جوړولو نفع هم شته (چې څاه، زېره خانه او داسې نور پکښې جوړېدلای سي)، حال دا چې پاسنی منزل د لاندې حصې تر نړېدو وروسته ختمېږي او بل دا چې له هغه څخه فقط د اوسېدو نفع اخیستل کېدای سي، لهذا کله چې د دواړو په منافعو کې دومره تفاوت شته، نو د مساوات شکل همدا دی چې د لاندیني منزل یو ګز د پاسني منزل د دوو ګزونو په برابر وي. (احسن الهدايه)

د صاحبينو دلائل

وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ الْمَقْصُودَ أَصْلُ السُّكْنَى او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې اصل مقصود اوسېدنه ده وَهُمَا يَتَسَاوَيَانِ فِيهِ او په دې کې پاسني او لاندیني دواړه منزلونه سره برابر دي وَالْمَنْفَعَتَانِ مُتَمَاثِلَتَانِ او دواړه منفعتونه سره ورته [د برابرۍ درجې] دي لِأَنَّ لِكُلٍّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنْ يَفْعَلَ مَا لَا يَضُرُّ بِالْآخَرِ عَلَى أَصْلِهِ ځکه د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د اصل مطابق په دوی دواړو کې هر یوه ته د داسې کار کولو اختیار شته کوم چې بل یوه ته تاوان نه رسوي وَلِمُحَمَّدٍ: أَنَّ الْمَنْفَعَةَ تَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْحَرِّ وَالْبَرْدِ بِالْإِضَافَةِ إِلَيْهِمَا او د امام محمد رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې د سفل او علو وطرف ته په نسبت کولو سره د ګرمۍ او یخ په بدلون سره منفعت بدلېږي [په لنډه وینا دا چې د یخ او ګرمۍ په وجه د دواړو منزلونو منفعت مختلف کېږي] فَلَا يُمْكِنُ التَّعْدِيلُ إِلَّا بِالْقِيمَةِ نو له قیمت څخه بغیر برابري کول ممکن نه دي وَالْفَتْوَى الْيَوْمَ عَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ او ننه ورځ فتوی د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول ده وَقَوْلُهُ لَا يَفْتَقِرُ إِلَى التَّفْسِيرِ او د هغه قول وضاحت ته محتاج نه دی.

اللغات: ﴿حر﴾ ګرمي. ﴿برد﴾ یخ، یخني. ﴿تعديل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی. مراد: برابري کول، سره برابرول. ﴿لا يفتقر﴾ د افتعال له بابه د نفي صیغه دي، إفتقار: محتاج او ضرورت من کېدل.

تشریح: له دې ځایه د صاحبینو دلائل بیانوي، نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چې منزل برابره ده لاندینی وي او که پاسنی، د دواړو اصلي مقصد اوسېدنه ده، او په نفسِ اوسېدنه کې صاحبِ علو او صاحبِ سفل دواړه برابر دي، بیا د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز هر شریک ته دا حق سته چې په خپله حصه کې یو ځای جوړ کړي په دې شرط چې د بل شریک نقصان پکښې نه وي، لهذا کله چې دواړو ته د بناء جوړولو حق هم سته، نو په منفعت کې هم هغوی سره برابر سوه، په همدې وجه موږ د ذراع بذراع حکم کړی دی.

د امام محمد رَحِمَهُ الله د دلیل خلاصه دا ده چې د موسم یعني دیخ. گرمی. پسرلي په بدلېدو سره منفعت هم بدلیږي، د گرمی په موسم کې خلک کې پاسني منزل خوښوي او دژمي په موسم کې لاندینی منزل بنه گڼي، نو ځکه له قیمت څخه بغیر په شریکانو کې مساوات نه سي راتلای، لهذا غوره همدا ده چې تقسیم بالقیمة وسي، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې په اوسني دور کې د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول فتویٰ ده، د هغه قول آسانه دی نو ځکه تفسیر او وضاحت ته محتاج نه دی، ځکه هر یو په قیمت او حساب وکتاب واقف دی، نو قیمت ته دې اندازه ولګوي او تقسیم دې شروع کړي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول تفسیر

وَتَفْسِيرُ قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ فِي مَسْأَلَةِ الْكِتَابِ أَنْ يُجْعَلَ بِمُقَابَلَةِ مِائَةِ ذِرَاعٍ مِنَ الْعُلْوِ الْمُجَرَّدِ ثَلَاثَةٌ وَثَلَاثُونَ وَثُلُثُ ذِرَاعٍ مِنَ الْبَيْتِ الْكَامِلِ او په قدوري [متن] کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول وضاحت دا دی چې د علو مجرد سل گزه د بیت کامل د دروديرش او دیوه گز د ثلث [۳۳.۳۳] په مقابله کې وګرځول سي [ورکول سي] لِأَنَّ الْعُلْوَ مِثْلُ نِصْفِ السِّفْلِ ځکه چې علو [پاسنی منزل] د سفل [لاندینی منزل] د نصف په څېر دی فَثَلَاثَةٌ وَثَلَاثُونَ وَثُلُثٌ مِنَ السِّفْلِ سِتَّةٌ وَسِتُّونَ وَثُلُثَانِ مِنَ الْعُلْوِ نو [دبیت کامل] د سفل دروديرش گزه او ثلث د علو د شپږ شپېته گزو او [دیوه گز] د دوو ثلثو سره برابر سوه وَمَعَهُ ثَلَاثَةٌ وَثَلَاثُونَ وَثُلُثُ ذِرَاعٍ مِنَ الْعُلْوِ او د دې [شپږ شپېته او دوه ثلثه گزو] سره نور د علو دروديرش گزه او ثلث د گز دی فَبَلَغَتْ مِائَةَ ذِرَاعٍ تُسَاوِي مِائَةً مِنَ الْعُلْوِ الْمُجَرَّدِ نو دا سل گز سوه کوم چې د علوم مجرد د سلو گزو سره برابر دي.

وَيُجْعَلُ بِمُقَابَلَةِ مِائَةِ ذِرَاعٍ مِنَ السِّفْلِ الْمُجَرَّدِ مِنَ الْبَيْتِ الْكَامِلِ سِتَّةٌ وَسِتُّونَ وَثُلُثَا ذِرَاعٍ او د سفل مجرد د سلو گزو په مقابله کې به د بیت کامل شپږ شپېته گزه او دوه ثلثه گرځول کیږي

[ورکول کیږي] لِأَنَّ عُلُوَّهُ مِثْلُ نِصْفِ سِفْلِهِ ځکه چې د بیت کامل علو د هغه د سفل د نصف په څېر ده فَبَلَغَتْ مِائَةَ ذِرَاعٍ نو دا سل گزه سوه كَمَا ذَكَرْنَا لکه څرنګه چې موږ ذکر کړه.

اللغات: ﴿ذراع﴾ شرعي گز (کوم چې یو لاس کیږي تر څنګلي پوري)، ﴿بیت کامل﴾ پوره کور. مراد ځني هغه دومنزله ځای دی چې پاسنی منزل یې هم وي او لاندینی منزل یې هم وي (یعني د دومنزله ځای دواړه منزلونه د دوو شریکانو په مینځ کي مشترک وي). ﴿علو مجرد﴾ صرف پاسنی منزل. یوازي پاسنی منزل (یعني د دومنزله ځای صرف پاسنی منزل مشترک وي او لاندینی منزل د بل چا وي). ﴿سفل مجرد﴾ صرف پاسنی منزل (یعني د دومنزله ځای صرف لاندیني منزل مشترک وي...).

تشریح: څرنګه چې امام صاحب رَحِمَهُ الله د ذراع بذراعَین قائل دی (لکه مخکي چې یې تفصیل تېر سو)، نو که یو طرف ته علو مجرد او بل طرف ته بیت کامل وي (یعني څنګ په څنګ دوه دانې دو منزله ځایونه وي چې دیوه صرف پاسنی منزل او دا بل ټوله د دوو خلکو تر مینځ مشترک وي)، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به تقسیم داسي کیږي چې د علو مجرد د سلو (۱۰۰) گزو په مقابله کي به د بیت کامل درو دېرش گزه او دیوه گز درېیمه حصه (یعني ۳۳.۳۳ گزه) ورکول کیږي، ځکه چې د امام صاحب په نېز د سفل (لاندیني منزل) یو گز د علو (پاسني منزل) د دوو گزونو په برابر دی، او بیت کامل خو علو او سفل دواړه لري (یعني پاسنی او لاندینی دواړه منزلونه پکښي سته کوم چې د دوی تر مینځ مشترک دي) نو یوازي د بیت کامل د سفل ۳۳.۳۳ گزه چې دوچنده کړی سي نو ۶۶.۶۶ گزه کیږي یعني د بیت کامل د سفل درو دېرش گزه او د یوه گز یو ثلث داسي دي لکه شپږ شپېته گزه او د یوه گز دوه ثلثه، لهذا د بیت کامل د سفل ۳۳.۳۳ گزه به د علومجرد د ۶۶.۶۶ گزو په برابر وي. او پاته سوه د علو مجرد ۳۳.۳۳ گزه نو هغه به د بیت د کامل د علو د ۳۳.۳۳ گزو په مقابله کي سي. نو په دې توګه د بیت کامل (یعني د سفل او علو دواړو) ۳۳.۳۳ گزه د علو مجرد (یعني دیوازي علو) د ۱۰۰ گزو سره برابر دي.

او که یو طرف ته سفل مجرد وي او بل طرف ته بیت کامل وي نو تقسیم به یې داسي کیږي چې د سفل مجرد د سلو (۱۰۰) گزو په مقابله کي به د بیت کامل شپږ شپېته گزه او د یوه گزه دوه ثلثه (یعني ۶۶.۶۶ گزه) ورکول کیږي؛ ځکه چې د سفل مجرد ۶۶.۶۶ گزه د بیت کامل د سفل د ۳۳.۳۳ گزو په مقابله کي سوه (ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د سفل ۳۳.۳۳ گزه د ۶۶.۶۶ گزه سره برابر دي)، او پاته سوه د سفل مجرد ۳۳.۳۳ گزه نو هغه به د بیت کامل د علو د ۶۶.۶۶ گزو په مقابله کي سي. نو په دې توګه د سفلِ مجرد سل گزه د بیت کامل د شپږ شپېته گزو او دوه ثلثو په برابر او مقابل دي.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول تفسير

وَتَفْسِيرُ قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ أَنْ يُجْعَلَ بِإِزَاءِ خَمْسِينَ ذِرَاعًا مِنَ الْبَيْتِ الْكَامِلِ مِائَةُ ذِرَاعٍ مِنَ السِّفْلِ الْمُجَرَّدِ وَمِائَةُ ذِرَاعٍ مِنَ الْعُلْوِ الْمُجَرَّدِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول وضاحت دا دی چي د بيت كامل د پنځوس گزو په مقابله كي د سفل مجرد يا د علو مجرد سل گزه وگرځول سي لِأَنَّ السِّفْلَ وَالْعُلْوَ عِنْدَهُ سَوَاءٌ ځكه چي د هغه په نيز سفل او علو [لانديني او پاسنی دواړه منزلونه] سره برابري دي فَخَمْسُونَ ذِرَاعًا مِنَ الْبَيْتِ الْكَامِلِ بِمَنْزِلَةِ مِائَةِ ذِرَاعٍ خَمْسُونَ مِنْهَا سُفْلٌ وَخَمْسُونَ مِنْهَا عُلْوٌ نو د بيت كامل پنځوس گزه د سلو گزو په درجه كي سوه [ځكه] پنځوس گزه [د بيت كامل] د سفل دي او پنځوس گزه يې د علو دي.

اللغات: ﴿بِإِزَاء﴾ په مقابله كي، په برابري كي. ﴿ذراع﴾ شرعي گز.

تشريح: څرنگه چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دلته د تقسيم ذراع بالذراع قائل دی او د هغه په نيز د سفل او علو دواړه منزلونه په درجه كي سره برابره دي، نو د هغه په نيز به د سفل مجرد يا علو مجرد د سلو (۱۰۰) گزو په مقابله كي د بيت كامل پنځوس (۵۰) گزه وي (يعني د بيت كامل پنځوس گزه د علو مجرد يا سفل مجرد د سلو گزو په برابر دي)؛ ځكه بيت كامل خو علو او سفل دواړه لري نو پنځوس گزه د علو سوه او پنځوس گزه د سفل سوه او مجموعه سل (۱۰۰) گزه سو. نو په دې توگه د بيت كامل پنځوس گزه د سفل مجرد يا د علو مجرد د سلو گزو په برابر او مقابل دي.

د شريكانو او قاسمينو د اختلاف په صورت كي معتبر قول

قَالَ: وَإِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَقَاسِمُونَ وَشَهِدَ الْقَاسِمَانِ فرمايي: او كله چي متقاسمين [شريكان] اختلاف وكړي بيا دوه تقسيم كونكي گواهي وركړي قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمَا نو د دواړو گواهي به قبلول كيږي قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: هٰذَا الَّذِي ذَكَرَهُ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا كوم قول چي امام قدوري رَحِمَهُ الله ذكر كړی دی د شيخينو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ ❁: لَا تُقْبَلُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي نه به قبلول كيږي وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ أَوَّلًا او همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اولنی قول دی وَبِهِ قَالَ الشَّافِعِيُّ او همدا امام شافعي رَحِمَهُ الله ويلي دي وَذَكَرَ الْخَصَّافُ قَوْلَ مُحَمَّدٍ مَعَ قَوْلِهِمَا او امام خصاف د امام محمد قول د شيخينو رَحِمَهُمُ الله سره ذكر كړی دی وَقَاسِمَا الْقَاضِي وَغَيْرِهِمَا سَوَاءٌ او [دا] تقسيم كونكي د قاضي له طرفه وي او كه له هغه څخه بغير نور وي تول سره برابر دي.

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة وأبي يوسف رَحِمَهُمَا الله، كما في الخانية (ج:۳، ص:۲۱۵)، وملتقى الأبحر (ج:۴، ص:۳۳). [القول الراجح ج:۲، ص: ۲۸۱]

اللغات: ﴿قَاسِمَا﴾ تثنيه د قَاسِمٌ ده چي په اصل کي قَاسِمَان دي، نون په اضافت سره حذف سو: تقسيم کونکي، وېش کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دي چي تقسيم کونکو (قاسمينو) د شريکانو (متقاسمينو) تر مينځ کور تقسيم کړی، بيا شريکانو اختلاف وکړی مثلاً يوه شريک ووېل چي فلانکی خونه زما په حصه کي وه لېکن هغه ما ته په تقسيم کي نه ده رسېدلې، لېکن دوو قاسمينو دا ګواهي ورکړه چي هغه خونه او حصه ده ته رسېدلې ده هسي درواغ او جنجال جوړوي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به د دې قاسمينو ګواهي قبلول کيږي.

امامَ محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي د قاسمينو ګواهي به د شريکانو په حق کي نه قبلول کيږي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هم مخکي د دې قائل وو، همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دی، او امام خصاف د امام محمد قول د شيخينو رَحِمَهُمُ الله سره يو ځای ذکر کړی دی، يعني څرنګه چي د شيخينو په نيز د قاسمينو ګواهي مقبوله ده، همداسي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز هم مقبوله ده، برابره ده قاسمين د قاضي له طرفه مقرر سوی وي، يا خپله شريکانو هغوی مقرر کړي وي.

د امامانو دلائل

لِمُحَمَّدٍ: أَنَّهُمَا شَهِدَا عَلَى فِعْلِ أَنْفُسِهِمَا د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي تقسيم کونکو [قاسمينو] پر خپل فعل ګواهي ورکړې ده فَلَا تُقْبَلُ نو ځکه هغه به نه قبلول کيږي كَمَنْ عَلَّقَ عِتْقَ عَبْدِهِ بِفِعْلِ غَيْرِهِ لکه هغه کس کوم چي د خپل غلام آزادي د يو بل چا پر فعل معلقه کړي فَشَهِدَ ذٰلِكَ الْغَيْرُ عَلَى فِعْلِهِ بيا دا بل شوک پر خپل فعل ګواهي ورکړي وَلَهُمَا: أَنَّهُمَا شَهِدَا عَلَى فِعْلِ غَيْرِهِمَا وَهُوَ الِاسْتِيفَاءُ وَالْقَبْضُ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي تقسيم کونکو د بل چا [شريکانو] پر فعل ګواهي ورکړې ده او هغه تر لاسه کول [د حصو اخيستل] او قبضه کول دي لَا عَلَى فِعْلِ أَنْفُسِهِمَا پر خپل فعل يې ګواهي نه ده ورکړې لِأَنَّ فِعْلَهُمَا التَّمْيِيزُ ځکه چي د دوی فعل [د شريکانو د حصو] سره جلا کول دي وَلَا حَاجَةَ إِلَى الشَّهَادَةِ عَلَيْهِ او پر دې ګواهی ته ضرورت نسته أَوْ لِأَنَّهُ لَا يَصْلُحُ مَشْهُودًا بِهِ يا ځکه چي تمييز [د قاسم فعل] د مشهود به جوړېدلو صلاحيت نه لري [يعني د دې صلاحيت نه لري چي ګواهي پر ور کول سي] لِمَا أَنَّهُ غَيْرُ لَازِمٍ ځکه چي دا [تمييز] لازم نه دي

وَإِنَّمَا يَلْزَمُ بِالْقَبْضِ وَالِاسْتِيفَاءِ او دا [تميېز] خو تر قبضه کولو او [د حصې] ترلاسه کولو وروسته لازمیږي [چې کله شریکان پر خپلو حصو قبضه وکړي او ترلاسه يې کړي] وَهُوَ فِعْلُ الْغَيْرِ او هغه [قبضه او ترلاسه کول] د بل چا فعل دی [یعني د شریکانو فعل دی، نه د قاسمینو] فَتُقْبَلُ الشَّهَادَةُ عَلَيْهِ نو ځکه پر هغه به [د قاسمینو] ګواهي قبلول کیږي.

اللغات: ﴿استیفآء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: ترلاسه کول، پوره اخیستل. ﴿تمییز﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: سره جلا کول، يو تر بله بېلول. ﴿مشهود به﴾ پر کوم شي چې ګواهي ورکول سي (د کوم شي په باره کې چې ګواهي پېش کړی سي).

تشریح: له دې ځایه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د امامانو دلیلونه ذکر کوي، د امام محمد رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چې دلته تقسیم کونکو (قاسمینو) پر خپل فعل ګواهي ورکړې ده، او د انسان پر خپل فعل د هغه ګواهي نه قبلول کیږي، نو ځکه دلته به د قاسمینو ګواهي نه قبلول کیږي، مثلاً که خالد ووايي چې که زید بازار ته ولاړی نو زما غلام آزاد دی، وروسته غلام دا دعوی وکړه چې زید بازار ته ولاړی نو زه آزاد یم او بیا همدې زید خپله پر خپل تګ ګواهي ورکړه (چې هو! زه ولاړم)، نو د هغه ګواهي معتبره او مقبوله نه ده؛ ځکه چې دلته خپله زید پر خپل فعل ګواهي ورکړې ده.

ولهما إلخ: د شیخینو رَحِمَهُمَا الله د دلیل حاصل دا دی چې موږ هم دا وایو چې پر خپل فعل د انسان ګواهي معتبره نه ده، خو دلته قاسمینو پر خپل فعل نه، بلکې د بل چا (یعني د شریکانو) پر فعل ګواهي ورکړې ده، د شریکانو فعل د قبضې او حصو ترلاسه کول دي، او د قاسمینو فعل د شریکانو د حصو سره جلا کول دي، او پر دې ګواهي ورکولو ته ضرورت نسته، نو دوی پر خپل فعل ګواهي نه ده ورکړې.

او بل دا چې ګواهي (شهادت) د يو شي د لازمولو لپاره وي او په تمییز (سره جلا کولو) کې د إلزام صلاحیت نسته، نو پر هغه د ګواهي ورکولو ته ضرورت هم نسته، خلاصه دا چې دلته قاسمینو د بل چا پر فعل ګواهي ورکړې ده، او د بل چا پر فعل ګواهي مقبوله وي، نو ځکه دلته به د دوی ګواهي قبلول کیږي.

په پورتني مسئله کې د امام طحاوي رَحِمَهُ الله قول او د هغه جواب

وَقَالَ الطَّحَاوِيُّ: إِذَا قَسَمَا بِأَجْرٍ او امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې که تقسیم کونکو [قاسمینو] په اُجرت سره تقسیم کړی وي لَا تُقْبَلُ الشَّهَادَةُ بِالْإِجْمَاعِ نو بالاجماع به د دوی ګواهي نه قبلول کیږي وَإِلَيْهِ مَالَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ او همدې طرف ته بعضې مشایخو میلان کړی دی لِأَنَّهُمَا يَدَّعِيَانِ

إِيْفَاءَ عَمَلٍ اُسْتُوْجِرَا عَلَيْهِ ځکه چي دوی دواړه د داسي کار د پوره کولو دعویٰ کوي چي پر هغه دوی په اُجرت نیول سوي دي فَكَانَتْ شَهَادَةً صُورَةً وَدَعْوَى مَعْنًى نو دا د صورت په اعتبار سره ګواهي او د معنیٰ په اعتبار سره [د خپل اُجرت] دعویٰ ده فَلَا تُقْبَلُ نو ځکه به نه قبلول کیږي إِلَّا أَنَّا نَقُوْلُ: هُمَا لَا يَجُرَّانِ بِهٰذِهِ الشَّهَادَةِ إِلَىٰ أَنْفُسِهِمَا مَغْنَمًا خو موږ [په جواب کي ورته] وایو: چي دوی په خپل دغه ګواهۍ سره خپل طرف ته یو نفع نه را کشوي لِاتِّفَاقِ الْخُصُومِ عَلىٰ إِيْفَائِهِمَا الْعَمَلَ الْمُسْتَأْجَرَ عَلَيْهِ ځکه چي د خصومو [شریکانو] پر دې اتفاق دی چي دوی [قاسمینو] خپل کار پوره کړی دی پر کوم چي دوی په اُجرت نیول سوي دي وَهُوَ التَّمْيِيْزُ او هغه [د شریکانو حصې] سره جلا کول دي وَإِنَّمَا الْاِخْتِلَافُ فِي الْاِسْتِيْفَاءِ او اختلاف خو په ترلاسه کولو کي دی فَانْتَفَتِ التُّهْمَةُ نو [له تقسیم کونکو څخه] تهمت نفي سو.

اللغات: ﴿مَالَ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: میلان کول. ﴿إيفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: پوره کول، پوره اداء کول. ﴿استوجرا﴾ د استفعال له بابه تثنیه غائب ماضي مجهوله ده: په اُجرت نیول کېدل. (په مزدوري نیول کېدل). ﴿لا یجرّان﴾ د نصر له بابه تثنیه غائب نفي ده: راکشول. ﴿مغنم﴾ غنیمت، نفع. ﴿انتفت﴾ د افتعال له بابه واحد مؤنث غائب ماضي ده: نفي کېدل، ختمېدل.

تشریح: د امام طحاوي رَحِمَهُ الله د قول حاصل دا دی چي که تقسیم کونکو (قاسمینو) په اُجرت سره تقسیم کړی وي (یعني شریکانو و هغو ته اُجرت او مزدوري [پیسې] ورکړي وي)، نو د هغو ګواهي به نه قبلول کیږي؛ ځکه چي دلته د ګواهۍ په ضمن کي هغوی د دې خبري دعویٰ کونکي جوړیږي چي د کوم کار لپاره چي موږ په مزدورۍ نیول سوي وو (یعني تقسیم)، موږ خو هغه پوره کړی لهذا موږ ته دي اُجرت راکول سي. نو دلته د دوی ګواهي صورتاً خو ګواهي ده لېکن معناً د اُجرت اخیستلو دعویٰ او د خپل ځان لپاره ګواهي ورکول دي (چي موږ ته دي خپل اُجرت او مزدوري راکول سي)، نو ځکه دا ګواهي به نه قبلول کیږي. (اثمار الهدایه)

إِلَّا أَنَّا نَقُوْلُ إلخ: په دې سره صاحب د هدایې د امام طحاوي رَحِمَهُ الله دلیل بې بنیاده ثابتوي، فرمایي چي دلته خو قاسمینو ته په خپل ګواهي سره څه نفع او فایده نه حاصلیږي، د دوی د کار پر پوره کېدلو خو ټوله شریکان متفق دي، اختلاف فقط د حق او حصې ترلاسه کولو په هکله دی (چي یو شریک وایي ما ته خپله حصه نه ده رسېدلې او نور وایي چي داسي نه ده)، لهذا کله چي د قاسمینو سره اختلاف

نسته، نو پر دوی دا تهمت هم نسته چې دوی به د خپل نفع په خاطر ګواهي ورکوي، او کله چې د تهمت نفي وسوه، نو د دوی ګواهي به معتبره او مقبوله وي؛ ځکه قاعده دا ده چې "إذا زال المانع عاد الممنوع" (د مانع په ختمېدلو سره ممنوع واپس راځي).

د يوه قاسم ګواهي معتبره نه ده

وَلَوْشَهِدَقَاسِمٌ وَاحِدٌ او که یو قاسم ګواهي ورکړي لَا تُقْبَلُ نو نه به قبلول کیږي لِأَنَّ شَهَادَةَ الْفَرْدِ غَيْرُ مَقْبُولَةٍ عَلَى الْغَيْرِ ځکه چې يوازې د يوه کس ګواهي پر بل چا نامقبوله ده وَلَوْأَمَرَالْقَاضِي أَمِينَهُ بِدَفْعِ الْمَالِ إِلَى آخَرَ او که قاضي خپل امين [امانت ساتونکي] ته حکم وکړي چې بل چا ته مال ورکړي يُقْبَلُ قَوْلُ الْأَمِينِ فِي دَفْعِ الضَّمَانِ عَنْ نَفْسِهِ نو د امين قول به له خپل ذات څخه د ضمان دفع کولو په هکله قبلول کيږي وَلَا يُقْبَلُ فِي إِلْزَامِ الْآخَرِ إِذَا كَانَ مُنْكِرًا او پر هغه بل چا [د مال] لازمولو په هکله به نه قبلول کيږي کله چې هغه انکار کونکی وي [چې ما ته امين مال نه دی راکړی].

اللغات: ﴿ضمان﴾ تاوان، جرمانه.

تشريح: مخکې تر دې د دوو قاسمينو د ګواهۍ بيان وو، دلته دا فرمايي چې که يوازې يو قاسم ګواهي ورکړي، نو د هغه ګواهي به نه قبلول کيږي؛ ځکه چې د بل چا په خلاف يوازې د يوه کس ګواهي او قول په شريعت کې نامقبوله دی او دليل نه سي جوړېدای.

که چيرې قاضي خپل امين (امانت ساتونکي) ته ووېل چې فلانکي کس ته مثلاً زر درهمه ورکړه، او امين ووېل چې ما ورکړه او هغه کس انکار کوي چې ما ته يې نه دي راکړي، نو د امين قول به قبلول کيږي، که نه؟، دلته دوه اړخونه دي: ① که د امين قول قبول نه سي، نو پر امين ضمان (تاوان) واجبيږي (چې اوس به امين هغه منکر کس ته زر درهمه ورکوي)، ② او که د امين قول قبول سي، نو هغه زر درهمه پر بل چا (يعني پر منکر کس) لازميږي (چې هغه خپل زر درهمه اخيستي دي).

نو فرمايي چې دلته به داسې طريقه اختيارول کيږي چې د دواړو نقصان پکښې نه وي يعني د امين قول به د ضمان دفع کېدلو په هکله قبلول کيږي چې له هغه څخه ضمان دفع سي (يا په بله وينا دا چې د امين قول به تر دې حده قبلول کيږي چې دلته پر هغه ضمان نسته)، او دويم طرف ته به د هغه په قول سره پر دې منکر کس د مال لازمول (اخيستل) هم نه ثابتيږي (چې هغه نو خپل زر درهمه اخيستي دي)، ځکه چې د امين قول که څه هم دفع کونکی دليل (حجت دافعه) دی، لېکن لازمونکی دليل (حجت مُلزِمه) نه دی.



بَابُ دَعْوَى الْغَلَطِ فِي الْقِسْمَةِ وَالْاِسْتِحْقَاقِ فِيْهَا

(دا) باب په تقسيم کي د غلطۍ (تېروتنې) د دعوې کولو او د استحقاق د دعوې کولو په بيان کي دئ

تشريح: کله چي قاسم وېش او تقسيم وکړي نو اوس که يو شريک په تقسيم کي د غلطۍ دعویٰ وکړي (چي دا تقسيم غلط دئ او تېروتنه پکښې سوې ده) يا څوک په تقسيمېدونکي شي کي د خپل استحقاق دعویٰ وکړي (چي مثلاً په دې کي څه حصه زما ده)، نو د دې بېلا بېل صورتونه او حکمونه دي، چي د هغه تفصيل په دغه باب کي ذکر کيږي؛ ځرنګه چي په مشترک شي کي تقسيم اصل دئ او په تقسيم کي د غلطۍ يا د استحقاق دعویٰ له عوارضو څخه ده، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله اول اصل (تقسيم) بيان کړی دی، او تر هغه وروسته عوارض بيانوي.

په تقسيم کي د غلطۍ دعویٰ کول

قَالَ: وَإِذَا ادَّعٰى أَحَدُهُمُ الْغَلَطَ فرمايي: او کله چي له شريکانو څخه يو [په تقسيم کي] د غلطۍ دعویٰ وکړي وَزَعَمَ أَنَّ مِمَّا أَصَابَهُ شَيْئًا فِي يَدِ صَاحِبِهِ او ووايي چي کومه حصه ما ته رسېدلې ده، له هغه څخه څه زما د ملګري شريک په قبضه کي ده وَقَدْ أَشْهَدَ عَلٰى نَفْسِهِ بِالْاِسْتِيْفَاءِ حال دا چي هغه پر خپل ځان [د خپل حصې] د ترلاسه کولو ګواهي ورکړې وي [يعني هغه دا اقرار هم کړی وي چي ما خپل حصه ترلاسه کړې ده] لَمْ يُصَدَّقْ عَلٰى ذٰلِكَ إِلَّا بِبَيِّنَةٍ نو له بيّنه [ګواهۍ] څخه بغير به د هغه [د دې د غلطۍ] پر دعویٰ تصديق نه کيږي لِأَنَّهُ يَدَّعِي فَسْخَ الْقِسْمَةِ بَعْدَ وُقُوعِهَا ځکه چي هغه د تقسيم تر واقع کېدلو [او پوره کېدلو] وروسته د هغه د فسخ کېدلو دعویٰ کوي فَلَا يُصَدَّقُ إِلَّا بِحُجَّةٍ ۱ نو ځکه له يو دليل څخه بغير به د هغه تصديق نه کيږي فَإِنْ لَمْ تَقُمْ لَهُ بَيِّنَةٌ بيا که د هغه لپاره بيّنه قائم نه کړی سي اسْتَحْلَفَ الشُّرَكَاءَ نو قاضي دې له شريکانو څخه قسم واخلي فَمَنْ نَكَلَ مِنْهُمْ نو له دوی څخه چي کوم يو له قسم اخيستو څخه انکار وکړي جُمِعَ بَيْنَ نَصِيْبِ النَّاكِلِ وَالْمُدَّعِيْ نو قاضي دې د هغه مدعي شريک او منکر شريک حصې سره جمع کړي فَيَقْسِمُ بَيْنَهُمَا عَلٰى قَدْرِ أَنْصِبَائِهِمَا او د

دوی تر مینځ دي د دوی د حصو په اندازه تقسیم وکړي لِأَنَّ النُّكُولَ حُجَّةٌ فِي حَقِّهِ خَاصَّةً ځکه چي انکار په خاصه توګه د منکر په حق کي حجت دی فَيُعَامَلَانِ عَلَى زَعْمِهِمَا لهذا د دوی دواړو د خپل ګومان [او نهم] مطابق به معامله کیږي قَالَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: يَنْبَغِي أَنْ لَا تُقْبَلَ دَعْوَاهُ أَصْلًا صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: پکار دا ده چي د دې مدعي شریک دعویٰ بالکل قبوله نه کړی سي لِتَنَاقُضِهِ ځکه چي په هغه کي تناقض دی وَإِلَيْهِ أَشَارَ مَنْ بَعْدُ او امام قدوري په وروسته [راروان متن] کي همدې ته اشاره کړي ده.

اللغات: ﴿أصاب﴾ د دې باب څو معناوي دي چي يوه معنیٰ يې ده: رسېدل (حاصلېدل). ﴿زعم﴾ د ماضي صيغه ده له فَتح او نصر دواړو بابونو څخه ويل کېدای سي: ګومان کول. د قَالَ په معنیٰ سره هم راځي، ﴿استيفاء﴾ د استفعال مصدر دی: پوره اخيستل، ترلاسه کول. ﴿حجة﴾ دليل. ﴿استحلف﴾ د استفعال ماضي ده: له يو چا څخه قسم اخيستل (قسم په کول). ﴿نكل﴾ د ماضي صيغه ده، له فتح، سمع او نصر ټولو بابونو څخه ويل کېدای سي، مصدر يې نُكُول راځي: له قسم څخه انکار کول. ﴿أنصباء﴾ جمع د نصيبٌ ده: حصه، برخه. ﴿قدر انصباء﴾ يعني د هر شريک چي څومره حصه ده د هغه مطابق به دوباره تقسيم کيږي. ﴿يعاملان على زعمهما﴾ د دوی دواړو د ګومان مطابق معامله به کيږي. يعني د دوی په ګومان کي دي چي تقسيم صحيح نه دی سوی، نو ځکه دوباره به تقسيم کيږي، چي د هغه د ګومان مطابق دوباره تقسيم صحيح سي. (اثمار الهدايه)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د څو خلګو يو مشترکه ځمکه وه او قاسم هغه د دوی په مینځ کي تقسیم کړه او دوی هر يوه پر خپل حصه قبضه وکړه، څه وخت وروسته يو شريک وايي چي د ځمکي فلانکی حصه (ټوټه) هم زما وه، هغه ما ته نه ده راکول سوې او دا غلط تقسيم سوی دی، نو د هغه دا دعوىٰ به له دليل او بيِّنې (ګواهۍ) څخه بغير نه قبلول کيږي؛ ځکه تقسيم خو ثابت سوی او پوره سوی دی، او اوس دا شريک په خپل دغه دعوىٰ سره د تقسيم فسخ کولو (ماتولو) قائل دی، او د يو ثابت شده شي د فسخ کولو لپاره بيِّنه پېشول ضروري دي، لهذا له بيِّنې څخه بغير د هغه دعوىٰ بې بنياده او نا مقبوله ده.

که چيري دا مدعي شريک بيِّنه پېش کړي، نو سمه ده، کنې د هغه پر مطالبه به قاضي د دې تقسيم د صحيح پاتېدلو لپاره له نورو شريکانو څخه قسم اخلي، کوم شريک چي قسم واخلي، هغه

له مينځه وځي (خلاصيږي)، لېکن کوم شريک چي له قسم څخه انکار وکړي، نو قاضي به د هغه او د مدعي شريک حصې سره جمع کړي او دوباره به د دوی تر مينځ د خپلو حصو په برابر تقسيم وکړي؛ ځکه چي د منکر شريک انکار د هغه د اقرار په درجه کي دی، يعني ګواکي له ټولو شريکانو څخه يوازي هغه د مدعي شريک د دعوې اقرار کوي (چي د هغه دعوی صحيح ده)، نو ځکه د هغه او مدعي تر مينځ به دوباره تقسيم کيږي.

قال رضي الله عنه إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي له بيّنه پېشولو څخه وروسته هم د مدعي شريک دعوی قبلول پکار نه دي؛ ځکه مخکي خو يو وار هغه د خپل حق ترلاسه کولو اقرار کړی دی، اوس تر هغه وروسته د خپل حق د پاته والي اقرار کوي (چي ما ته خپل بعضي حصه نه ده راکول سوې او هغه د بل شريک په قبضه کي پاته ده...)، نو د هغه په اقرار او دعوی کي ښکاره تناقض دی، او تناقض له قبول بيّنه څخه مانع دی، نو ځکه له بيّنه پېشولو څخه وروسته به هم د هغه دعوی نه قبلول کيږي. په را روان عبارت (متن) کي همدې ته اشاره سوې ده.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ قَالَ: قَدِ اسْتَوْفَيْتُ حَقِّي وَأَخَذْتُ بَعْضَهُ او که مدعي شريک داسي ووايي: چي ما خپل حق ترلاسه کړی دی [لېکن] تا د هغه بعضي حصه اخيستې ده [او که أَخَذْتُ د متکلم په صيغه سره سي نو معنیٰ يې ده: لېکن ما صرف د هغه بعضي حصه اخيستې ده] فَالْقَوْلُ قَوْلُ خَصْمِهِ مَعَ يَمِينِهِ نو قول د ده د خصم [مدمقابل] معتبر دی سره د قسمه لِأَنَّهُ يَدَّعِي عَلَيْهِ الْغَصْبَ ځکه چي دئ [مدعي شريک] پر هغه د غصب دعویٰ کوي وَهُوَ مُنْكِرٌ او هغه انکار کونکی دی وَإِنْ قَالَ: أَصَابَنِي إِلَى مَوْضِعِ كَذَا فَلَمْ يُسَلِّمْهُ إِلَيَّ او که هغه [مدعي شريک] داسي ووايي: چي [په تقسيم کي] زما حق [او زما حصه] تر فلانکي ځايه رسېدلی وو لېکن هغه ما ته [تر هغه ځايه] نه دی سپارلی وَلَمْ يَشْهَدْ عَلَى نَفْسِهِ بِالِاسْتِيفَاءِ حال دا چي مدعي شريک پر خپل ځان [د خپل حصې] د ترلاسه کولو اقرار هم نه وي کړی وَكَذَّبَهُ شَرِيكُهُ او دده شريک دده تکذيب وکړي تَحَالَفَا وَفُسِخَتِ الْقِسْمَةُ نو [اوس] به دواړه قسمونه اخلي او تقسيم به فسخ کول کيږي لِأَنَّ الِاخْتِلَافَ فِي مِقْدَارِ مَا حَصَلَ لَهُ بِالْقِسْمَةِ ځکه چي اختلاف د هغه څه [حصې] په مقدار کي دی کوم چي ده ته په تقسيم کي حاصل سوی دی [بزعمه] فَصَارَ نَظِيرَ الِاخْتِلَافِ فِي

مِقْدَارِ الْمَبِيعِ نو دا د مبيع په مقدار کې د اختلاف نظير سو عَلىٰ مَا ذَكَرْنَا مِنْ أَحْكَامِ التَّحَالُفِ فِيمَا تَقَدَّمَ لکه څرنګه چې موږ مخکې د قسم اخيستلو د احکامو په بيان کې ذکر کړه.

اللغات: ﴿خصم﴾ مدّ مقابل، مدعي او مدعىٰ عليه يو د بل خصم دي، دلته د مدعىٰ عليه په معنىٰ سره دی (چې په هغه يوه شريک دعوىٰ کړې ده چې تا زما بعض حق اخيستی دی او هغه منکر دی).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې که مدعي شريک (کوم چې د تقسيم د غلطوالي دعوىٰ کوي) يو شريک ته داسې ووايې چې ما خو خپل حق ترلاسه کړی دی لېکن تا له هغه څخه بعضې حصه اخيستې ده، نو په دې صورت کې که مدعي شريک بيِّنه پېش نه کړی سي، نو د منکر شريک قول مع اليمين معتبر دی؛ ځکه چې مدعي شريک پر هغه د غصب دعوىٰ کوي او هغه د دې انکار کوي، او د منکر قول مع اليمين معتبر کيږي.

وإن قال: أصابني إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مدعي شريک داسې ووايې چې مثلاً زما حصه (زما ځمکه) د خالد تر باغ پورې وه چې هغه ما ته پوره نه ده راکول سوې (حال دا چې دغه مدعي شريک تر اوسه د دې هيڅ اقرار نه دی کړی چې ما خپله حصه ترلاسه کړې ده)، او بل شريک د دې انکار کوي چې ته درواغ وايې تا ته خپل حصه پوره درکول سوې ده، نو څرنګه چې په دې صورت کې په هغه مقدار کې اختلاف دی کوم چې په تقسيم سره حاصليږي، نو ځکه له دواړو څخه به پر خپل قول قسم اخيستل کيږي او تقسيم به ماتول کيږي.

او د دې مثال داسې دی لکه تر بيع وروسته چې د مبيع په مقدار کې د بائع او مشتري اختلاف سي، نو په هغه صورت کې هم له دواړو څخه تر قسم اخيستلو وروسته بيع او سوداماتول کيږي، نو همداسې به دلته هم تر تحالف وروسته تقسيم ماتول کيږي.

په تقسيم کې د غلطۍ د دعوې کولو بل صورت

وَلَوِ اخْتَلَفَا فِي التَّقْوِيمِ او که د قيمت لګولو په باره کې دوه شريکان اختلاف وکړي لَمْ يُلْتَفَتْ إِلَيْهِ نو د هغه وطرف ته به توجّه نه کيږي لِأَنَّهُ دَعْوَى الْغَبَنِ ځکه چې دا د غبن دعوىٰ ده وَلَا مُعْتَبَرَ بِهِ فِي الْبَيْعِ او په بيع کې هغه لره اعتبار نسته فَكَذَا فِي الْقِسْمَةِ نو همداسې به تقسيم کې هم نه وي لِوُجُودِ التَّرَاضِيْ ځکه چې [په تقسيم او تقويم کې د دواړو شريکانو] رضاء موجوده ده إِلَّا إِذَا كَانَتِ الْقِسْمَةُ بِقَضَاءِ الْقَاضِيْ وَالْغَبَنُ فَاحِشٌ مګر کله چې دا د قاضي په فيصله سره وي او غبن هم فاحش وي [نو

قول به یې منل کیږي | لِأَنَّ تَصَرُّفَهُ مُقَيَّدٌ بِالْعَدْلِ ځکه چي د قاضي تصرّف په انصاف سره مقیّد دی.

اللغات: ﴿تقویم﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: قیمت لګول، قیمت اندازه کول او ټاکل. ﴿لم یلتفت﴾ د افتعال له بابه د جحد مجهول صیغه ده: توجه او پاملرنه کول. ﴿الغبن﴾ د سمع د باب اسم مصدر دی: غلطي، دوکه او فریب، غبن فاحش: مثلاً د پُسه قیمت شل درهمه وي، لیکن هغه زیات کړی سي او سل درهمه ولګول سي یا ډیر راکم کړی سي مثلاً پنځه درهمه ولګول سي، نو داسي بیخي زیات زیاتوب یا کمی ته غبن فاحش ویل کیږي.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د دوو شریکانو تر مینځ مثلاً سل پسونه مشترک وه چي په هغوی کي ځیني غټ، چاغ او ځیني کوچني وه، او بیا دوی په خپل مینځ کي د قیمت په ذریعه تقسیم وکړی یعني د پسونو قیمت اندازه کړی سو (چي دا پسه په دومره دی او دا بیا په دومره دی مثلاً) نو یوه شریک په حصه کي څلوېښت (۴۰) پسونه راغله او د بل په حصه کي شپېته (۶۰) راغله. اوس ۴۰ پسونو والا وایي چي قیمت غلط لګول سوی دی (یا په بله وینا: چا چي د دې پسونو قیمت اندازه کړی دی له هغه څخه غلطي سوې ده)، نو د هغه قول او دعویٰ معتبره نه ده، ځکه چي هغه پر مقوّمینو (قیمت لګونکو) د غبن او غلطۍ تهمت لګوي، او پاته سو تقسیم خو د دوی دواړو (شریکانو) په رضاء او خوښۍ سره سوی وو، او په بیع کي د غبن دعویٰ معتبره نه ده، لهذا په تقسیم کي به هم هغه لره اعتبار نه وي.

په بیع کي یعني که څوک په معلوم ثمن (قیمت) سره یو شی رانیسي، بیا د غبن دعویٰ وکړي (چي په ثمن کي غلطي او دوکه سوې ده. ثمن دومره نه دی)، نو ښکاره خبره ده چي د هغه دعویٰ بې بنیاده او نا معتبره ده، نو همداسي به په تقسیم کي هم د غبن دعوې لره هیڅ حیثیت نه وي.

الا اذا الخ: د دې حاصل دا دی چي که مذکوره تقسیم د قاضي په قضاء (فیصله) سره سوی وي او غبن هم غبن فاحش وي، نو په دې صورت کي د مدعي شریک دعویٰ معتبره ده، ځکه د قاضي فیصله پر عدل او انصاف مبني وي (چي هغه به د دواړو تر مینځ د انصاف او برابرۍ فیصله کوي) او دلته د غبن فاحش په وجه د قاضي فیصله له انصاف څخه خالي ده او عدل پکښي نسته، نو ښکاره ده چي د مدعي شریک دعویٰ به قبول کیږي او دا تقسیم به نه نافذول کیږي.

د کور په تقسیم کې د اختلاف کولو صورت

وَلَوِ اقْتَسَمَا دَارًا وَأَصَابَ كُلَّ وَاحِدٍ طَائِفَةٌ او که دوه شریکان دیو کور تقسیم [وېش] وکړي او هریوه ته یوه حصه ورسیږي فَادَّعَى أَحَدُهُمْ بَيْتًا فِي يَدِ الْآخَرِ أَنَّهُ مِمَّا أَصَابَهُ بِالْقِسْمَةِ بیا له دوی څخه یو شریک دیو خوني دبل په قبضه کي د کېدلو دعوىٰ وکړي چي هغه خونه ده ته [ماته] په تقسیم سره رسېدلې ده وَأَنْكَرَ الْآخَرُ او دابل یو انکار وکړي فَعَلَيْهِ إِقَامَةُ الْبَيِّنَةِ نو پر ده [مدعي] بینه پېشول دي [یعني پر خپله دعوىٰ به ګواهان پېشوي] لِمَا قُلْنَا دهغه دلیل په وجه کوم چي مو دبیان کړی وَإِنْ أَقَامَا الْبَيِّنَةَ او که دوی دواړه بیّنه پېش کړي يُؤْخَذُ بِبَيِّنَةِ الْمُدَّعِيْ نو د مدعي بیّنه به اخیستل کیږي لِأَنَّهُ خَارِجٌ ځکه چي هغه خارج [غیر قابض] دی وَبَيِّنَةُ الْخَارِجِ تَتَرَجَّحُ عَلَى بَيِّنَةِ ذِي الْيَدِ او د خارج بیّنه د قابض پر بینې راجحه وي وَإِنْ كَانَ قَبْلَ الْإِشْهَادِ عَلَى الْقَبْضِ او که دا دعوىٰ د قبضې له ګواهی پېشولو [اقرار کولو] څخه مخکي وي تَحَالَفَا وَتَرَادَّا نو دواړه به قسم اخلي او دواړه به [تقسیم] واپس کوي [یعني تقسیم به ماتوي] وَكَذَا إِذَا اخْتَلَفَا فِي الْحُدُوْدِ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ او همدارنګه کله چي د حدودو په باره کي دوه شریکان اختلاف وکړي او دواړه بیّنه پېش کړي يُقْضَى لِكُلِّ وَاحِدٍ بِالْجُزْءِ الَّذِي هُوَ فِي يَدِ صَاحِبِهِ نو د هر یوه لپاره به د هغه حصې فیصلې کیږي کومه چي یې د ملګري شریک په قبضه کي وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چي مو دبیان کړی وَإِنْ قَامَتْ لِأَحَدِهِمَا بَيِّنَةٌ او که په دوی کي دیوه لپاره بیّنه پېش کړی سي قُضِيَ لَهُ نو د هغه لپاره به فیصله کیږي وَإِنْ لَمْ تَقُمْ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا او که په دوی کي دیوه لپاره هم بیّنه پېښ نه کړی سي تَحَالَفَا نو دواړه به قسم اخلي كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه څرنګه چي په بیع کي دي.

اللغات: ﴿اقتسما﴾ د افتعال له بابه د تثنیه غائب ماضي صیغه ده: تقسیم او وېش کول، تقسیمول. ﴿بیت﴾ خونه (کمره). ﴿خارج﴾ غیر قابض، یعني د کوم یوه له قبضې څخه چي خونه یا مثلاً ځمکهٔ وتلې وي (په قبضه کي یې نه وي). ﴿تحالفا﴾ د تفاعل له بابه د تثنیه غائب ماضي صیغه ده: یو تر بله قسم اخیستل (قسم کول). له دواړو څخه قسم اخیستل. ﴿ترادّا﴾ مخکنی صیغه ده: یو تر بله واپس کول او ردول. دلته یې مطلب دا دی چي دواړه به تقسیم ماتوي. (اثمار الهدایه)

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې دوو کسانو خپل مشترک غټ کور تقسیم کړی او د کور یوه، یوه حصه دواړو ته ورسېدله او هر یوه پر خپل حصه قبضه هم وکړه (خپل حصه یې واخیستل)، اوس که تر دې وروسته له دوی څخه یو شریک دعوىٰ وکړي چې فلانکی خونه هم په تقسیم کې زما په حصه کې راغلې وه کوم چې اوس ستا په قبضه کې ده، او دویم شریک منکر دی چې دا ستا نه بلکې زما خونه ده، نو په دې صورت کې به مدعي شریک ته ویل کیږي چې پر خپل دعوىٰ بیّنه (گواهي) پیش کړه؛ ځکه هغه چې پر خپل حصې قبضه وکړه نو گواکې هغه د تقسیم صحیح کېدلو او پوره کېدلو دعوىٰ وکړه چې دا تقسیم صحیح دی (یعني یو وار یې تقسیم صحیح وگرځوی)، اوس تر هغه وروسته وایي چې فلانکی حصه ما ته نه ده را کول سې یعني دا تقسیم غلط دی نو د هغه په خبره کې تضاد راغلی (یا په بله وینا دا چې گواکې اوس هغه د تقسیم ماتولو دعوىٰ کوي)، نو ځکه له بیّنه پېشولو څخه بغیر د هغه دعوىٰ معتبره نه ده (بلکه هر وخت چې دوه گواهان پېش کړي نو بیا به د هغه قول منل کیږي).

او که دوی دواړه بیّنه پېش کړي، نو په دې صورت کې د مدعي شریک بیّنه معتبره ده؛ ځکه چې مدعي خارج یعني غیرِ قابض دی (یعني دعوه داره خونه د هغه په قبضه کې نه ده یا په بله وینا دا چې په خونه کې د هغه قبضه ثابته نه ده)، او بیّنه د ناثابت سوي شي د ثابتولو لپاره وي، نو ځکه د مدعي بیّنه به معتبره وي، چې په دې خونه او ځای کې د هغه قبضه ثابته سي.

وإن كان قبل الإشهاد إلخ: د دې حاصل دا دی چې مخکینی تفصیل هغه وخت دی کله چې دواړو شریکانو (پر تقسیم شده کور) د قبضې اقرار کړی وي، لېکن که دوی د قبضې اقرار نه وي کړي، بلکې تر هغه مخکې یو شریک دعوىٰ وکړي چې فلانکی خونه هم په تقسیم کې زما په حصه کې راغلې وه، نو په دې صورت کې بیّنې (گواهی) ته ضرورت نسته، صرف دواړه به قسم اخلي یعني مدعي شریک به وایي چې په الله قسم! هغه خونه زما ده، منکر شریک به وایي چې نه! په الله قسم هغه زما ده او تقسیم به ماتول کیږي، ځکه چې قبضه یې نه ده کړی نو مدعي شریک دا تقسیم صحیح هم نه دی گرځولی، نو ځکه بیّنې ته ضرورت نسته.

وكذا إذا إلخ: په دې سره یو بله مسئله بیانوي چې که شریکان د حدودو په هکله اختلاف وکړی مثلاً دواړه شریکان دعوىٰ وکړي چې د ده حدّ زما په څمکه کې دي (یعني دا بل شریک هم داغسې ووایي)، یا مثلاً دواړه ووایي چې د فلانکي په حدّ کې چې کومه خونه ده هغه زما ده، نو دې ته به کتل کیږي چې کوم یو بیّنه (گواهي) پېشوي، که صرف یو بیّنه پېش کړي، نو د هغه په حق کې به فیصله کیږي (ځکه هغه په بیّنه او گواهی سره خپله دعوىٰ مبرهنه او ثابته کړه).

او که دواړه بيّنه پېش کړي، نو پر کوم حدّ او خونه چې يو شريک قابض دی هغه به بل شريک ته او پر کوم يوه چې دا بل شريک قابض دی هغه به اول شريک ته ورکول کيږي او نزاع او جنګ به ختمول کيږي.

او که يو هم بيّنه پېش نه کړی سي، نو له دواړو څخه به قسم اخيستل کيږي او تقسيم به ماتول کيږي، لکه په بيع کي چي که بائع او مشتري دواړه اختلاف وکړي او يو هم بيّنه پېش نه کړي، نو دواړه قسم اخلي او بيع ماتول کيږي، همداسي به دلته هم کيږي.

فَصْلٌ

دا فصل د استحقاق په بيان کي دی

تر تقسيم وروسته په جايداد کي د بل چا حق ثابتېدل

قَالَ: وَإِذَا اسْتُحِقَّ بَعْضُ نَصِيبِ أَحَدِهِمَا بِعَيْنِهِ فرمايي: او کله چي له دوو شريکانو څخه د يوه شريک د حصې بعضي متعينه حصه مستحقه وخيږي لَمْ تَفْسَخِ الْقِسْمَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز تقسيم نه فسخ کيږي [نه ماتيږي] وَرَجَعَ بِحِصَّةِ ذٰلِكَ فِي نَصِيبِ صَاحِبِهِ او رجوع به کوي د هغه حصې مطابق د خپل شريک په حصه کي [يعني د خپل شريک له حصې څخه به يې واپس اخلي] وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ۞: تَفْسَخُ الْقِسْمَةُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي تقسيم فسخ کيږي قَالَ رَضِيَ الله عَنْهُ: ذَكَرَ الِاخْتِلَافَ فِي اسْتِحْقَاقِ بَعْضٍ بِعَيْنِهِ صاحب د هدايې فرمايي: چي امام قدوري رَحِمَهُ الله د بعض معيّن [بعضي متعيني حصې] په مستحق ختلو کي اختلاف ذکر کړی دی وَهٰكَذَا ذُكِرَ فِي الْأَسْرَارِ او همداسي په "أسرار" کي ذکر سوي دي وَالصَّحِيحُ أَنَّ الِاخْتِلَافَ فِي اسْتِحْقَاقِ بَعْضٍ شَائِعٍ مِنْ نَصِيبِ أَحَدِهِمَا [لېکن] صحيح دا ده چي اختلاف له دوو شريکانو څخه د يوه د

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، لأن محمداً رَحِمَهُ الله معه فى الأصح، وإذا كان مع الإمام أحد صاحبيه فقولهما راجح، وكما فى مجمع الأنهر (ج:۴، ص:۱۳۵)، ورد المحتار (ج:۵، ص:۱۸۷). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۸۲]

حصې د بعضِ شائع [بعض غير معيّن] په مستحق ختلو کي دی فَأَمَّا فِي اسْتِحْقَاقِ بَعْضٍ مُعَيَّنٍ لَا تَفْسَخُ الْقِسْمَةُ بِالْإِجْمَاعِ او پاته سو د بعضِ معيّن د مستحق ختلو په صورت کي بالاجماع تقسيم نه فسخ کيږي وَلَوْ اُسْتُحِقَّ بَعْضٌ شَائِعٌ فِي الْكُلِّ او که د کُل بعضِ شائع مستحق وخيږي تُفْسَخُ بِالِاتِّفَاقِ نو بالاتفاق تقسيم فسخ کيږي فَهٰذِهِ ثَلَاثَةُ أَوْجُهٍ نو دا درې صورتونه سوه وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَ مُحَمَّدٍ او امام قدوري د امام محمد رَحِمَهُ الله قول نه دی ذکر کړی وَذَكَرَهُ أَبُوسُلَيْمَانَ مَعَ أَبِي يُوسُفَ او ابو سليمان د هغه قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره ذکر کړی دی وَأَبُوحَفْصٍ مَعَ أَبِي حَنِيفَةَ او ابو حفص د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره ذکر کړی دی [چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز هم تقسيم نه فسخ کيږي] وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا زياته صحيح ده.

اللغات: ﴿استحق﴾ د استفعال له بابه ماضي مجهوله ده: مستحق ختل. مستحق کېدل (يو شی د بل چا لپاره ثابتېدل). ﴿نصيب﴾ حصه. ﴿تفسخ﴾ د فتح له بابه مضارع ده: فسخ کېدل. ماتېدل. ﴿شائع﴾ د ضرب د باب فاعل دی: غوړېدلی، خپور، نشر سوی. له "بعض شائع" څخه مراد نصف (نیمه حصه)، ثلث (دريمه حصه). ربع (څلورمه حصه) دي. دا هريوه ته بعض شائع ويل کيږي. ځکه چي دا هريو متعيّن جزء او مخصوصه حصه نه ده. بلکي د شريک په ټوله حصه کي شايع ده هر طرف ته کېدای سي.

تشريح: د دې مسئلې ټوله درې صورتونه دي دوه متفق عليه دي او يو مختلف فيه ده. مسئله دا ده چي د دوو کسانو تر مينځ يو غټ کور مشترک وو. دواړو تقسيم وکړی او هريوه پر خپل حصه قبضه وکړه. اوس يو بل کس راغلی او په دې کور کي يې د خپل استحقاق دعوىٰ وکړه. نو آيا دا پوره سوی تقسيم به فسخ کيږي، که نه؟. په دې باره کي تفصيل دا دی چي که هغه مدعي کس صرف د يوه شريک د حصې په يو متعيّن جزء مثلاً په يو خونه کي د خپل استحقاق دعوىٰ وکړي (چي دغه خونه زما ده او بيا استحقاق ثابت هم کړي)، نو په دې صورت کي بالاتفاق تقسيم نه فسخ کيږي. بلکي دا شريک به مستحقه خونه مدعي کس ته سپاري او د هغه د حصې مطابق به له خپل شريک څخه واپس اخلي (يعني د خپل شريک له خوني څخه به نيمه خونه ځني اخلي (الثمار الهدايه)).

دويم صورت دا دی چي مدعي کس د يوه شريک په حصه کي دعوىٰ نه وکړي. بلکي د يوه شريک د ټوله حصې په نصف يا ربع او داسي نورو کي دعوىٰ وکړي (چي مثلاً دا نيم کور يا دا څلورمه

حصه زماده چي دې ته بعض شائع وايي... او دا خپل دعوىٰ ثابته کړي)، نو په دې صورت کي بالاتفاق تقسيم فسخ کيږي.

دريم صورت دا دى چي مدعي کس صرف د يوه شريک په حصه کي خو دعوىٰ وکړي مګر هيڅ جزء يعني خونه او داسي نور متعين نه کړي. بلکي د دې شريک په ټوله حصه کي مطلق د خپل استحقاق دعوىٰ وکړي (او دا ثابته کړي)، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز تقسيم نه فسخ کيږي، بلکي دا شريک کس به مدعي ته د هغه خپل حصه ورکوي او له دويم شريک څخه به د هغه د حصې مطابق اخلي. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت کي تقسيم فسخ کيږي.

صاحب د هدايې فرمايي چي امام قدوري رَحِمَهُ الله د امام محمد رَحِمَهُ الله قول نه دى ذکر کړى. لېکن صحيح دا ده چي هغه په دې مسئله کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دى.

دلته له امام قدوري رَحِمَهُ الله څخه تېروتنه سوې ده چي هغه متفق عليها مسئله مختلف فيها ګرځولې ده؛ ځکه چي په متن کي مذکوره صورت اختلافي نه دى او په اشاراتُ الأسرار کي هم دغه سهو سوې ده. صحيح صورت هغه دي کوم چي بيان سو. (احسن الهدايه)

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل

لِأَبِي يُوسُفَ أَنَّ بِاسْتِحْقَاقِ بَعْضٍ شَائِعٍ ظَهَرَ شَرِيكٌ ثَالِثٌ لَهُمَا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل: دا دى چي د بعضِ شائع د استحقاق په وجه د دوى دواړو دريم شريک ښکاره سو وَالْقِسْمَةُ بِدُونِ رِضَاهُ بَاطِلَةٌ او د هغه له رضاء څخه بغير تقسيم باطل دى كَمَا إِذَا اُسْتُحِقَّ بَعْضٌ شَائِعٌ فِي النَّصِيبَيْنِ لکه کله چي په دواړو حصو کي بعضِ شائع مستحق وګرځي [يعني چي د دواړو شريکانو په حصو کي د بل چا استحقاق ثابت سي نو تقسيم فسخ کيږي، همداسي به دلته هم فسخ کيږي] وَهٰذَا لِأَنَّ بِاسْتِحْقَاقِ جُزْءٍ شَائِعٍ يَنْعَدِمُ مَعْنَى الْقِسْمَةِ وَهُوَ الْإِفْرَازُ او دا ځکه چي د جزء شائع د استحاق په وجه د تقسيم معنىٰ يعني إفراز نيستي کيږي [ختميږي] لِأَنَّهُ يُوجِبُ الرُّجُوعَ بِحِصَّتِهِ فِي نَصِيبِ الْآخَرِ شَائِعًا ځکه چي دا استحقاق د شيوع په توګه د هغه حصې په قدر د بل يوه په حصه کي رجوع ثابتوي بِخِلَافِ الْمُعَيَّنِ په خلاف د معيّن جزء.

اللغات: ﴿إفراز﴾ د افعال د باب مصدر دى: جلا، جلا کول (سره جلا کول).

تشریح: په دې عبارت کې صاحب د هدایې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل بیانوي، فرمايي چې کله بعضِ شائع (بعض غیر معیّن) مستحق وخېږي يعني په بعضِ شائع کې د بل کس حق ثابت سي، نو هغه کس د شریکانو درېیم ملګری او شریک سو او د هغه له رضاء څخه بغیر تقسیم باطل سو (ځکه دا دوو شریکانو په خپل رضاء سره تقسیم کړی وو او دغه شریک [مستحق کس] په هغه وخت کې نه وو نو د هغه رضاء موجوده نه سوه)، او دا داسې ده لکه د دواړو شریکانو په حصو کې چې بعض شائع مستحق وخېږي نو تقسیم فسخ کېږي، لهٰذا د يوه شریک په حصه کې د بعضِ شائع په استحقاق سره به هم تقسیم فسخ کېږي؛ ځکه کله چې هغه شریک د کوم په حصه کې چې (د بعض شائع) استحقاق ثابت سوی دی دا حصه (بعض شائع) مستحق کس ته ورکړي او له خپل اول شریک څخه د هغه د حصې مطابق واخلي، نو ګواکې د هغه په پاته حصه کې هم استحقاق ثابت سو او د تقسیم معنیٰ يعني إفراز ختم سو، نو ځکه غوره همدا ده چې دلته هم تقسیم فسخ کړی سي.

بخلاف المعیّن: يعني څرنګه چې د معیّن جزء او متعیّنې حصې د استحقاق په صورت کې ورکونکی شریک هم له خپل ملګري شریک څخه متعیّن جزء اخلي، نو ځکه په دې صورت کې د تقسیم معنیٰ يعني إفراز موجود دی، لهٰذا دلته د تقسیم د فسخ ضرورت نشته. (احسن الهدایه)

د طرفینو رَحِمَهُمَا اللهُ دلیل او د امام ابو یوسف د دلیل جواب

وَلَهُمَا: أَنَّ مَعْنَى الْإِفْرَازِ لَا يَنْعَدِمُ بِاسْتِحْقَاقِ جُزْءٍ شَائِعٍ فِي نَصِيبِ أَحَدِهِمَا او د طرفینو دلیل دا دی: چې د يوه شریک په حصه کې د جزء شائع په استحقاق سره د إفراز معنیٰ نه نیستي کېږي وَلِهٰذَا جَازَتِ الْقِسْمَةُ عَلَى هٰذَا الْوَجْهِ فِي الِابْتِدَاءِ او په همدې وجه په شروع کې هم دغه ډول تقسیم جائز دی بِأَنْ كَانَ النِّصْفُ الْمُقَدَّمُ مُشْتَرَكًا بَيْنَهُمَا وَبَيْنَ ثَالِثٍ په دې توګه چې مخکینی نصف [مخکنی نیمه حصه] د دوو شریکانو او بل درېیم کس [درېیم شریک] په مینځ کې مشترک وي وَالنِّصْفُ الْمُؤَخَّرُ بَيْنَهُمَا لَا شَرِكَةَ لِغَيْرِهِمَا فِيهِ او وروستنی نصف صرف د دوو شریکانو په مینځ کې مشترک وي چې په هغه کې له دوی څخه بغیر د بل چا شرکت نه وي فَاقْتَسَمَا عَلَى أَنَّ لِأَحَدِهِمَا مَا لَهُمَا مِنَ الْمُقَدَّمِ وَرُبُعَ الْمُؤَخَّرِ نو دوی دواړه په داسې توګه تقسیم وکړي چې کوم څه د دوی په حصه کې دي له هغه څخه به د يوه لپاره مخکنی او وروستنی ربع [څلورمه حصه] وي يَجُوزُ نو دا جائز دي فَكَذَا فِي الِانْتِهَاءِ نو همداسې به په انتهاء کې هم جائز وي وَصَارَ كَاسْتِحْقَاقِ شَيْءٍ مُعَيَّنٍ او دا د معیّن

شي د استحقاق په څېر سو بِخِلَافِ الشَّائِعِ فِى النَّصِيبَيْنِ په خلاف په دواړو حصو کي د شائع [د استحقاق] [يعني چي د دواړو شريکانو په حصو کي بعضِ شائع مستحق وخيږي] لِأَنَّهُ لَوْ بَقِيَتِ الْقِسْمَةُ ځکه که چيري تقسيم باقي پاته سي لَتَضَرَّرَ الثَّالِثُ نو درېيم کس [مستحق کس] ته به نقصان ورسيږي بِتَفَرُّقِ نَصِيبِهِ فِى النَّصِيبَيْنِ ځکه چي د هغه حصه به په دواړو حصو کي متفرّقه [او منقسمه] سي أَمَّا هٰهُنَا لَا ضَرَرَ بِالْمُسْتَحِقِّ او پاته سو دلته خو د مستحق هيڅ نقصان نسته فَافْتَرَقَا نو دواړي مسئلې سره جلا سوې.

اللغات: ﴿لا ينعدم﴾ د انفعال له بابه نفي مضارع ده: نيستي کېدل، ختمېدل.

تشريح: له دې ځايه د طرفينو (امام صاحب او امام محمد) رَحِمَهُمَا الله دليل بيان سوی دی، چي د هغه حاصل دا دی چي د يوه شريک په حصه کي د استحقاق په وجه د افراز معنىٰ نه ختميږي، بلکي فرض يې کړه چي له شروع څخه يوه کور دوې حصې دی (مخکنۍ او وروستنۍ حصه)، او د کور په مخکنۍ حصه کي درې کسان شريکان دي او په وروستنۍ حصه کي له دوی څخه دوه کسان شريکان دي، اوس د مخکنۍ حصې هغه دوه کسان کوم چي په دويمه (وروستنۍ) حصه کي شريکان دي، ويش او تقسيم کوي او د دواړو تر مينځ دا خبره فيصله سي چي يو شريک به په مخکنۍ حصه کي دويم شريک ته خپله حصه ورکړي او په دويمه (وروستنۍ) حصه کي به هغه ته د نصف پر ځای ربع ورکړي، نو داسي تقسيم بالکل صحيح دي او په دې کي د إفراز معنىٰ هم موجوده ده، نو کله چي ابتداءً دا تقسيم صحيح دی، نو انتهاءً يعني د بل چا د استحاق په صورت کي به هم صحيح وي؛ ځکه څرنګه چي ابتداءً دواړه شريکان يو د بل په حصه کي شامليدونکي اخيستل کوي، نو همداسي به انتهاءً هغه مستحقّ کس هم اخيستل کوي، او څرنګه چي د متعيّن جزء د استحقاق په صورت کي د إفراز معنىٰ موجود ده او تقسيم نه فسخ کيږي، همدآسي دلته هم د إفراز معنىٰ موجوده ده، لهذا دلته به هم تقسيم نه فسخ کيږي.

بخلاف الشائع إلخ: دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قياس جواب دی چي هغه د يوې حصې د بعضِ شائع استحقاق د دواړو حصو د بعضِ شائع پر استحقاق قياس کړی وو او دلته يې د تقسيم د فسخ قول کړی وو، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د هغه جواب ورکوي چي دا دوې مسئلې يو پر بل قياسول صحيح نه دي: ځکه که په دواړو حصو کي د استحقاق پر مهال مورږ تقسيم فسخ نه کړو، نو ښکاره ده چي د هغه مستحق کس حصه به دلته و هلته (يعني د دواړو شريکانو په حصو کي)

منشتره سي او هغه ته به ضرر لاحق سي، او دلته په مذکوره صورت کي د هغه حصه نه منتشر کيږي چي څه ضرر ور ته لاحق سي. نو ځکه دلته د تقسيم د فسخ ضرورت نسته.

د پورتنۍ عبارت نور وضاحت

وَصُوْرَةُ الْمَسْأَلَةِ: إِذَا أَخَذَ أَحَدُهُمَا الثُّلُثَ الْمُقَدَّمَ مِنَ الدَّارِ او د مسئلې صورت دا دی چي کله يو شريک د کور مخکينی ثلث [يعني له مخکنۍ حصې څخه دريمه حصه] واخلي وَالْآخَرُ الثُّلُثَيْنِ مِنَ الْمُؤَخَّرِ او بل شريک [د کور] د وروستنۍ حصې دوه ثلثه واخلي وَقِيمَتُهُمَا سَوَاءٌ او د هغوی دواړو حصو قيمت سره برابر وي ثُمَّ اسْتُحِقَّ نِصْفُ الْمُقَدَّمِ بيا د مقدّم [مخکنۍ حصې] نصف مستحق وخيږي فَعِنْدَهُمَا إِنْ شَاءَ نَقَضَ الْقِسْمَةَ نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز که د هغه خوښه وي نو تقسيم دي مات کړي دَفْعًا لِعَيْبِ التَّشْقِيصِ [د حصې] د ټوټه ټوټه کېدلو د عيب دفع کولو لپاره وَإِنْ شَاءَ رَجَعَ عَلَى صَاحِبِهِ بِرُبُعِ مَا فِي يَدِهِ مِنَ الْمُؤَخَّرِ او که وغواړي نو پر خپل ملګري شريک دې د وروستنۍ حصې په ربع سره رجوع وکړي لِأَنَّهُ لَوِ اسْتُحِقَّ كُلُّ الْمُقَدَّمِ ځکه که ټوله مخکنۍ حصه مستحق سوې وای رَجَعَ بِنِصْفِ مَا فِي يَدِهِ نو هغه به د شريک د قبضې والا په نصف سره رجوع کولای فَإِذَا اسْتُحِقَّ النِّصْفُ نو کله چي نصف مستحق سو رَجَعَ بِنِصْفِ النِّصْفِ وَهُوَ الرُّبُعُ نو دئ به پر هغه شريک د نصف په نصف يعني په ربع سره رجوع کوي اعْتِبَارًا لِلْجُزْءِ بِالْكُلِّ پر کُل د جزء په قياسولو سره.

اللغات: ﴿ثلث﴾ دريمه حصه. ﴿مقدّم﴾ د مخکي طرف، مخکنۍ حصه.

تشريح: له دې ځايه د طرفينو د مسلک نور وضاحت کوي. حاصل يې دا دی چي د دوی په نيز په تقسيم د شريکانو راضي کېدل ضروري نه دي، بلکي که له شريکانو څخه يو وغواړي نو تقسيم فسخ کولای سي، د دې لپاره چي خپل حصه له ماتېدلو او منتشر کېدو څخه وساتي. او که د هغه زړه وغواړي نو د خپل ملګري شريک د حصې له نصف مقدّم څخه دي يې واخلي او په نصف مؤخر کي دي د نصف پر ځای ربع واخلي؛ ځکه که چيري ټوله نصف مقدم مستحق ختلي وای، نو هغه به له خپل ملګري شريک څخه نصف اخيستلای. اوس چي کله فقط نصف مستحق سوی دی، نو هغه به له خپل شريک څخه د نصف نصف يعني رُبع اخلي؛ ځکه چي جزء پر کُل قياسول کيږي. (احسن الهدايه)

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوْبَاعَ صَاحِبُ الْمُقَدَّمِ نِصْفَهُ او که مقدم [مخکنۍ حصې] والا شریک خپل نیمه حصه خرڅه کړي ثُمَّ اسْتُحِقَّ النِّصْفُ الْبَاقِيْ بیا پاته نصف مستحق وخیږي رَجَعَ بِرُبُعِ مَا فِيْ يَدِ الْآخَرِ عِنْدَهُمَا نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز به هغه دبل شریک د قبضې والا حصه کي په ربع سره رجوع کوي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَسَقَطَ خِيَارُهُ بِبَيْعِ الْبَعْضِ او د بعضي حصې په خرڅولو سره د هغه اختیار ساقطیږي وَعِنْدَ أَبِيْ يُوسُفَ مَا فِيْ يَدِ صَاحِبِهِ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز کوم څه چي د هغه د ملګري شریک په قبضه کي دي هغه د دوی تر مینځ نیم په نیمه دي وَيَضْمَنُ قِيمَةَ نِصْفِ مَا بَاعَ لِصَاحِبِهِ او دا بائع شریک د خپل ملګري شریک لپاره د خرڅ کړل سوي حصې د نصف قیمت ضامن کیږي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ تَنْقَلِبُ فَاسِدَةً عِنْدَهُ ځکه چي د هغه په نیز تقسیم فاسد ګرځي وَالْمَقْبُوضُ بِالْعَقْدِ الْفَاسِدِ مَمْلُوكٌ او د عقد فاسد په ذریعه قبضه کړی سوی شی هم مملوک کیږي [په ملکیت کي داخلیږي] فَنَفَذَ الْبَيْعُ فِيهِ نو ځکه په هغه کي به بیع نافذیږي وَهُوَ مَضْمُونٌ بِالْقِيمَةِ او هغه بیع مضمون بالقیمت وي فَيَضْمَنُ نِصْفَ نَصِيْبِ صَاحِبِهِ نو ځکه بائع شریک د خپل ملګري د نصف حصې [د قیمت] ضامن کیږي.

اللغات: ﴿تنقلب﴾ د انفعال د باب مضارع ده: اوښتل او ګرځېدل.

تشریح: مسئله دا ده که د کور د مخکنۍ حصې له دوو شریکانو څخه یو شریک خپله حصه خرڅه کړي او د بیا د هغې په نصف ثاني کي د یو چا استحقاق ثابت سي، نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز اوس دا شریک له خپل ملګري څخه د کور په وروستنۍ (مؤخر) حصه کي صرف ربع اخیستلای سي: ځکه که چیري کُل مستحق ختلي وای، نو نصف به یې اخیستلای، لهذا پر کُل د جزء په قیاسولو سره به د نصف د مستحق ختلو په صورت کي رُبع اخلي، د لِمَا ذَكَرْنَا همدغه مطلب دی.

امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چي په نصف ثاني کي د استحقاق په وجه تقسیم فاسد سو، او کله چي تقسیم فاسد سو، نو بائع شریک به له دویم شریک څخه د وروستنی (موخر) حصې نصف اخلي. او د خرڅ کړی سوي نصف له قیمت څخه به نصف قیمت خپل شریک ته ورکوي. (احسن الهدايه)

والمقبوض بالعقد إلخ: دا د یو اشکال جواب دی، اشکال دا دی چي کله د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز تقسیم فاسد سو، نو بیع هم فاسد بدل پکار دي؛ ځکه چي پر همدې تقسیم هغه بناء وه؟، د دې په جواب کي فرمایي چي که څه هم تقسیم فاسد وو، خو د هغه په ضمن کي په منعقد کېدونکي بیع سره مقبوضه شی مملوک کیږي (په ملکیت کي داخلیږي)؛ ځکه د مبادلې د معنیٰ موجود بېدلو په وجه تقسیمِ فاسد د بیعِ فاسد په درجه کي سو، او په بیع فاسد کي په عقد سره قبضه مملوک کیږي، نو همداسي به دلته هم کیږي، لهذا په دې صورت کي به بیع صحیح او نافذه وي نو د بیع فسخ ناممکن ده، مګر بیع مضمونٌ بالقیمت کیږي، نو ځکه بائع شریک به دویم شریک ته د نصف قیمت په ورکولو سره د ځای د نصف مؤخر نصف اخلي. (احسن الهدایه)

که د میراث له تقسیم څخه وروسته په هغه کي قرض ښکاره سي (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَلَوْ وَقَعَتِ الْقِسْمَةُ ثُمَّ ظَهَرَ فِي التَّرِكَةِ دَيْنٌ مُحِيطٌ او که چیري تقسیم وسي [پوره سي] بیا په میراث کي داسي قرض ښکاره سي کوم چي محیط وي رُدَّتِ الْقِسْمَةُ نو تقسیم به ردول کیږي [ماتول کیږي] لِأَنَّهُ يَمْنَعُ وُقُوعَ الْمِلْكِ لِلْوَارِثِ ځکه چي دا [محیط قرض] د وارث لپاره د ملکیت واقع کېدل [ثابتېدل] منع کوي وَكَذَا إِذَا كَانَ غَيْرَ مُحِيطٍ او همدارنګه کله چي قرض غیرِ محیط وي [نو هم به تقسیم ماتول کیږي] لِتَعَلُّقِ حَقِّ الْغُرَمَاءِ بِالتَّرِكَةِ د میراث سره د قرضخواهانو د حق متعلق کېدلو په وجه إِلَّا إِذَا بَقِيَ مِنَ التَّرِكَةِ مَا يَفِي بِالدَّيْنِ، وَرَاءَ مَا قَسَمَ مګر دا چي کله له میراث څخه دومره [مال] پاته سي کوم چي قرض پوره کوي، له هغه مقدار څخه بغیر کوم چي تقسیم سوی دی لِأَنَّهُ لَا حَاجَةَ إِلَى نَقْضِ الْقِسْمَةِ فِي إِيفَاءِ حَقِّهِمْ ځکه چي [اوس] د قرضخواهانو د حق پوره کولو لپاره د تقسیم ماتولو ته ضرورت نسته.

اللغات: ﴿دین﴾ قرض، ﴿ترکة﴾ هغه څه کوم چي یې مړی تر خپل شا پرېږدي، میراث، ﴿محیط﴾ د افعال د باب فاعل دی: احاطه کونکی (دین محیط: دومره قرض چي د مړي پر ټوله مال یې احاطه کړې وي، یا په بله وینا دا چي دومره قرض چي د مړي د ټوله میراث په برابر وي). ﴿غرماء﴾ جمع د غَرِیْمٌ ده: قرضخواه، د قرض مالک. ﴿وراء﴾ وروسته، شاته. ﴿إیفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: (حق) پوره کول، پوره اداء کول.

تشریح : صورت د مسئلې : دا دی چې یو سړی مړ سو، او د هغه وارثانو د قرض له تحقیق کولو څخه بغیر د هغه میراث په خپل مینځ کې تقسیم کړی، بیا پر هغه (مړي) دیو چا قرض ښکاره سو، نو برابره ده هغه قرض ټوله میراث لره محیط وي یا بعضي لره، په دواړو صورتونو کي به تقسیم فسخ کول کیږي؛ ځکه که قرض محیط وي، نو ښکاره ده چې په دې صورت کي میراث د وارثانو کېدلای نه سي؛ ځکه چي د وارثانو حق له قرض څخه مؤخر دی، او که قرض غیر محیط دی، نو څرنګه چي په دې صورت کي د میراث (ترکه) سره د غرماؤ (قرضخواهانو) حق متعلق دی او د وارثانو او غرماؤ ټولو لپاره تصرّف کول مشکل دي، نو ځکه په دې صورت کي به هم تقسیم فسخ کول کیږي.

خو که تر تقسیم وروسته دومره مال پاتیږي چې په هغه سره قرض اداء کړی سي، نو په دې صورت کي د تقسیم فسخ کولو لره ضرورت نسته؛ ځکه چي د تقسیم فسخ کولو مقصد د غرماؤ د حق تعلق او د هغو د حق اداء کول وه، او په باقي مانده مال سره هغه اداء کېدای سي، نو ځکه په دې صورت کي به تقسیم نه فسخ کول کیږي.

په پورتني صورت کي که قرضخواهان مړی معاف کړي (حکم او تفصیل)

وَلَوْأَبْرَأَهُ الْغُرَمَاءُ بَعْدَ الْقِسْمَةِ او که تر تقسیم وروسته قرضخواهان مړی له قرض څخه بري کړي أَوْأَدَّاهُ الْوَرَثَةُ مِنْ مَالِهِمْ یا وارثانو له خپل مال څخه قرض اداء کړی وَالدَّيْنُ مُحِيطٌ أَوْغَيْرُمُحِيطٍ او قرض محیط وي او که غیر محیط وي جَازَتِ الْقِسْمَةُ نو تقسیم جائز دی لِأَنَّ الْمَانِعَ قَدْزَالَ ځکه چي مانع لیري سو وَلَوِادَّعٰى أَحَدُ الْمُتَقَاسِمِيْنَ دَيْنًافِي التَّرِكَةِ او که له تقسیم کونکو [وارثانو] څخه یو په میراث کي د قرض دعویٰ وکړي صَحَّ دَعْوَاهُ نو د هغه دعویٰ صحیح ده لِأَنَّهُ لَاتَنَاقُضَ ځکه چي تناقض نسته إِذِالدَّيْنُ يَتَعَلَّقُ بِالْمَعْنٰى ځکه د قرض تعلق [د میراث] د معنیٰ سره دی وَالْقِسْمَةُ تُصَادِفُ الصُّوْرَةَ او تقسیم [د میراث] پر ظاهر صورت واقع کیږي [یعني کوم میراث چي تقسیمول کیږي هغه د مړي ظاهري مال دی چي تقسیمول کیږي، او د قرض چي کومه دعویٰ ده هغه د مړي پر ذمه ده کوم چي معنوي نمه واري ده، نو په دواړو کي تناقض نسته] وَلَوِادَّعٰى عَيْنًا بِأَيِّ سَبَبٍ كَانَ او که [یو تقسیم کونکی وارث] د عین شي دعویٰ وکړي هغه که په هر سبب سره وي لَمْ يُسْمَعْ لِلتَّنَاقُضِ نو د تناقض په وجه به د هغه دعویٰ نه اورېدل کیږي إِذِالْإِقْدَامُ عَلَى الْقِسْمَةِ اعْتِرَافٌ بِكَوْنِ الْمَقْسُوْمِ مُشْتَرَكًا ځکه چي پر تقسیم اقدام کول د دې اعتراف [او اقرار کول] دي چي تقسیمېدونکی شی [میراث] مشترک دی.

اللغات: ﴿أبرأ﴾ د افعال د باب ماضي ده: بري كول، معاف كول. ﴿تصادف﴾ د مفاعلې له بابه مضارع ده: يو څه د بل څه سره مخ كېدل، وارديدل، واقع كېدل. ﴿إقدام﴾ د افعال د باب مصدر دى: په يو كار شروع كول، وړانديتوب كول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه وارثان د مړي د قرض له تحقيق كولو څخه بغير په خپل مينځ كې ميراث تقسيم كړي، بيا قرض ښكاره سي، ختو تر تقسيم وروسته قرضخواهان خپل قرض معاف كړي، يا وارثان په خپل مال سره قرض اداء كړي، نو تقسيم صحيح دى؛ ځكه كوم څه چې مانع وو يعني د غرماؤ د حق تعلق هغه ختم سو، نو ځكه اوس د تقسيم فسخ ته ضرورت نسته.

ولو ادعى إلخ: يعني كه له وارثانو څخه يو پر مړي د خپل قرض دعوىٰ وكړي چې زما پر مړي مثلاً لس زره روپۍ قرض وو، نو د هغه دعوىٰ صحيح ده؛ ځكه چې د هغه په دې دعوىٰ او إقدام على التقسيم كې هيڅ تناقض او منافات نسته، ځكه قرض د ميراث (تركې) د ماليت او معنىٰ سره متعلق وي او تقسيم د ظاهري ميراث او د هغه د صورت سره متعلق وي، او د تناقض لپاره د متعلق يعني د محل يو والى شرط دى او دلته محل مختلف دى، نو تناقض نسته نو ځكه د هغه دعوىٰ به قبلول كيږي.

ولو ادعى عينًا إلخ: د دې حاصل دا دى چې د قرض په صورت كې خو به د وارث دعوىٰ قبلول كيږي، لېكن د عين شى (مثلاً د كور، يا آس او داسي نورو) د دعوى كولو په صورت كې به د هغه دعوىٰ نه قبلول كيږي؛ ځكه چې د ميراث پر تقسيم د اقدام كولو او بيا له ميراث څخه د يو معين شي د دعوې كولو تر مينځ تناقض او منافات سته، او دواړه صور تونه د ميراث او تركه سره متعلق دي؛ ځكه چې پر تقسيم اقدام كول د ميراث د مشترك والي او د تقسيم اقرار كول دي، او د معيّن شي په دعوىٰ سره د دې تقسيم غلط ګرځول لازميږي (چې ګواكي مدعي وارث دا تقسيم غلط ګرځوي)، نو ځكه د هغه دعوىٰ به نه قبلول كيږي او تقسيم به د مخكې په څېر باقي پاتيږي.



فَصْلٌ فِي الْمُهَايَاةِ

(دا) فصل په (بيان د) مهاياة کي دی

تشريح: مُهَايَاة د مفاعلې او تفاعل د باب مصدر دی چي خپله معنیٰ يې ده: له يو (مشترک) شي څخه په نوبت، نوبت (په واوري، واري) نفع اخيستل، په بله وينا دا چي د يو شي منافع تقسيمول، مثلاً يوه مياشت به دا شريک په کور کي اووسي او يوه مياشت به دا بل شريک پکښي اووسي، يا مثلاً د کور په دې حصه کي به دا شريک اوسيږي او په دې بله حصه کي به يې دا بل شريک اوسيږي، دا ډول د شي د نفع تقسيم ته مهايات ويل کيږي، خلاصه دا چي په تقسيم (قسمة) کي د عينِ شي تقسيم کيږي او په مهاياة کي د نفع تقسيم کيږي.

کله چي مصنف رَحِمَهُ الله د اعيانو له تقسيم څخه فارغ سو، نو اوس د اعراضو په تقسيم شروع کوي؛ ځکه چي اعراض د اعيانو فرع ده.

يادونه: په دې فصل کي ټوله د مبسوط مسئلې ذکر سوي دي، کوم چي امام امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي نه دي ذکر کړي او نه امام قدوري رَحِمَهُ الله په مختصر القدوري کي او نه صاحب د هدايې په هداية المبتدي کي ذکر کړي دي، خو دلته يې د تکثير فوائد لپاره ذکر کوي.

د مهايات شرعي حيثيت

اَلْمُهَايَاةُ جَائِزَةٌ اِسْتِحْسَانًا مهايات استحسانًا جائز دی لِلْحَاجَةِ إِلَيْهِ ځکه هغه ته ضرورت دی إِذْ قَدْ يَتَعَذَّرُ الِاجْتِمَاعُ عَلَى الِانْتِفَاعِ ځکه چي ځيني وخت پر انتفاع جمع کېدل مشکل وي فَأَشْبَهَ الْقِسْمَةَ نو هغه د تقسيم سره مشابه سو وَلِهٰذَا يَجْرِي فِيهِ جَبْرُ الْقَاضِي په همدې په هغه [مهايات] کي هم د قاضي جبر [مجبوره کول] جاري کيږي كَمَا يَجْرِي فِي الْقِسْمَةِ لکه څرنګه چي په تقسيم کي جاري کيږي إِلَّا أَنَّ الْقِسْمَةَ أَقْوَى مِنْهُ فِي اسْتِكْمَالِ الْمَنْفَعَةِ خو د منفعت د بشپړتيا په حواله سره تقسيم له مهايات څخه زيات قوي دی لِأَنَّهُ جَمْعُ الْمَنَافِعِ فِي زَمَانٍ وَاحِدٍ ځکه چي تقسيم [يعني په تقسيم کي] په يوه وخت کي د ټولو منفعتونو جمع کول دي وَالتَّهَايُؤُ جَمْعٌ عَلَى التَّعَاقُبِ او مهايات يو تر بل

وروسته [په نوبت سره] د منفعتونو جمع كول دي [يعني په مهايات كي په نوبت. نوبت نفع اخيستل كيږي]
وَلِهٰذَا لَوْ طَلَبَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ الْقِسْمَةَ وَالْآخَرُ الْمُهَايَاةَ په همدې وجه كه له دواړو شريكانو څخه يو د تقسيم مطالبه وكړي او بل د مهايات يَقْسِمُ الْقَاضِيْ نو قاضي به تقسيم كوي لِأَنَّهُ أَبْلَغُ فِي التَّكْمِيلِ ځكه چي تقسيم [د منفعت] په تكميل كي زيات كامل دى وَلَوْ وَقَعَتْ فِيمَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ او كه چيرې مهايات واقع سي په هغه شي كي چي د تقسيم احتمال لري [يعني چي تقسيمول يې ممكن وي] ثُمَّ طَلَبَ أَحَدُهُمَا الْقِسْمَةَ بيا له شريكينو څخه يو د تقسيم مطالبه وكړي يَقْسِمُ نو قاضي به تقسيم كوي وَتَبْطُلُ الْمُهَايَاةُ او مهايات باطليږي لِأَنَّهُ أَبْلَغُ ځكه چي تقسيم زيات كامل دى وَلَا يَبْطُلُ التَّهَايُؤُ بِمَوْتِ أَحَدِهِمَا وَلَا بِمَوْتِهِمَا او د يوه يا دواړو شريكانو په مرګ سره مهايات نه باطليږي لِأَنَّهُ لَوِ انْتَقَضَ ځكه كه مهايات مات سي لَاسْتَأْنَفَهُ الْحَاكِمُ نو قاضي به يې بيرته راګرځوي [يعني دوباره به مهايات كوي] فَلَا فَائِدَةَ فِي النَّقْضِ ثُمَّ الْاِسْتِئْنَافِ نو د هغه په ماتولو او بيرته راګرځولو [دوباره كولو] كي هيڅ فايده نسته.

اللغات: ﴿مهاياة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دى: په نوبت، نوبت نفع حاصلول، د يوشي د منافعو تقسيمول. ﴿استكمال﴾ د استفعال د باب د مصدر دى: كامل غوښتل، كامل او بشپړ كېدل. ﴿التهايؤ﴾ د تفاعل د باب مصدر دى: په نوبت، نوبت نفع اخيستل، په واري او نوبت سره يو كار كول. ﴿التعاقب﴾ مخكني صيغه ده: يو تر بل وروسته كېدل، يو له بل څخه بعد كي راتلل. ﴿استأنف﴾ د استفعال د باب ماضي ده: له نوي سره شروع كول. راګرځول.

تشريح: مسئله دا ده چي مهايات (د منافعو تقسيم) استحساناً جائز دى، ځكه د قياس تقاضا دا ده چي جائز نه سي، ځكه د منافعو په تقسيم كي مثلاً چي يوه مياشت يو شريک په كور كي اوسيږي نو هغه له خپل حصې څخه هم نفع اخلي او د خپل شريک له حصې څخه بې هم اخلي، او كله چي دا بله مياشت د دويم شريک نوبت راسي او په كور كي استوګن سي نو هغه له خپل حصې څخه هم نفع اخلي او د اول شريک له حصې څخه يې هم اخلي، او دا نفع د خپل اولي نفعي په بدله كي ده، نو نفع د نفعي په بدله كي سوه او د دواړو جنس يو دى (ځكه چي دواړه اوسېدل دي)، نو په دې توګه د سود او ربوا شبهه راغله. نو په دغه وجه قياساً دا مهاياة جائز كېدل پكار نه دي، لېكن څرنګه چي دې ته سخت

ضرورت دی او په آیت کې هم د دې ثبوت سته (چې هغه دا آیت دی: لَهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ الشعراء: ۱۵۵)، نو ځکه د استحسان په توګه مهایات جائز ګرځول سوی دی.

او دې ته سخت ضرورت ځکه دی چې ځیني وخت اجتماعي انتفاع (نفع اخیستل) متعذر او مشکل وي (یعني دواړه شریکان یو ځای له مشترک شي [مثلاً کور] څخه نفع نه سي اخیستلای سي)، نو ځکه دې ته ضرورت پیښ سي چې د انتفاع لپاره نوبت وټاکل سي (چې مثلاً یوه میاشت به یو شریک پکښې اوسي او بله میاشت به دا بل شریک)، نو مهایاة د تقسیم سره مشابه سو، لکه څرنګه چې په تقسیم کې پر عین شي (مثلاً پر کور) د اجتماع د مشکل والي په وخت کې دغه عین شی تقسیمول کیږي، نو همداسې دلته پر انتفاع د اجتماع د مشکل والي په وجه تقسیم کیږي. او لکه څرنګه چې د بعضې شریکانو پر طلب په تقسیم کې د قاضي جبر جائز دی، نو همداسې به دلته هم د قاضي جبر جائز وي. خو څرنګه چې په مهایاة کې منافع یو تر بل وروسته سره حاصلول کیږي (چې مثلاً یو شریک په کور کې یوه میاشت اوسي او بیا یوه میاشت توقف کوي او تر هغه وروسته بیا یوه میاشت پکښې اوسي، همداسې د مهایات تر اختتامه...) او په تقسیم کې په زمان واحد کې منافع جمع کول کیږي، نو د تقسیم منفعت کمال او مبالغه ده، نو په دې وجه تقسیم له مهایات څخه ډېر مضبوط دی.

همدا وجه ده که یو شریک د تقسیم مطالبه وکړي او بل شریک د مهایات مطالبه وکړي، نو قاضي به تقسیم اختیاروي، همدارنګه کوم شی چې د تقسیم قابل وي (مثلاً کور) او په هغه کې مهایاة واقع سوی وي، او وروسته یو شریک د تقسیم مطالبه وکړي، نو قاضي به هغه تقسیموي او مهایات باطلیږي؛ ځکه چې تقسیم له مهایاة څخه مضبوط دی.

ولا يبطل التهايؤ إلخ: د دې حاصل دا دی چې د یوه شریک یا دواړو په مرګ سره مهایات نه باطلیږي؛ ځکه کېدای سي د هغه مړ سوي شریک وارثان د مهایات مطالبه وکړي، نو دوباره به حاکم مهایات کوي، لهذا په باطلولو او بیرته د هغه په کولو کې څه فایده نسته، نو غوره همدا ده چې د یوه فریق په مرګ سره مهایات باطل نه کړی سي او د وارثانو فیصلې ته وکتل سي. (اثمار الهدايه، احسن الهدايه)

د مهایات دویم قسم او د هغه حکم

وَلَوْتَهَايَئَا فِيْ دَارٍ وَاحِدَةٍ عَلٰى أَنْ يَسْكُنَ هٰذَا طَائِفَةً وَهٰذَا طَائِفَةً او که دواړه شریکان په یو کور کې داسې مهایات وکړي چې دا شریک به [د کور] په یوه حصه کې اوسیږي او دا [بل] به په بله حصه کې اوسیږي أَوْهٰذَا عُلُوَهَا وَهٰذَا سِفْلَهَا یا دا شریک به [د کور] په پاسني منزل کې اوسیږي او دا [بل] به په لاندیني منزل کې جَازَ نو دا جائز دي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ عَلٰى هٰذَا الْوَجْهِ جَائِزَةٌ ځکه چې په دې توګه

تقسیم کول جائز دي فَكَذَا الْمُهَايَاةُ نو مهایات به هم جائز وي وَالتَّهَايُؤُ فِي هٰذَا الْوَجْهِ إِفْرَازٌ لِجَمِيعِ الْأَنْصِبَاءِ لَا مُبَادَلَةٌ او په دغه صورت کي مهایات د ټولو حصو إفراز [سره جلا کول] دي، نه مبادله وَلِهٰذِهِ لَا يُشْتَرَطُ فِيهِ التَّأْقِيتُ په همدې وجه په دې کي د وخت ټاکل شرط نه دي وَلِكُلِّ وَاحِدٍ أَنْ يَسْتَغِلَّ مَا أَصَابَهُ بِالْمُهَايَاةِ شُرِطَ ذٰلِكَ فِي الْعَقْدِ أَوْ لَمْ يُشْتَرَطْ او هر شریک ته دا اختیار سته چي په کرایه ورکړي هغه حصه کوم چي په مهایات سره ورته رسېدلې وي برابره ده په عقد کي د هغه شرط لګول سوی وي، که نه وي لګول سوی لِحُدُوثِ الْمَنَافِعِ عَلَى مِلْكِهِ ځکه چي [په دې صورت کي] منافع د هغه په ملکیت کي پیداکیږي.

اللغات: ﴿تهایئا﴾ د تفاعل له بابه د تثنیه غائب ماضي صیغه ده: مهایات کول، منافع تقسیمول. ﴿طائفة﴾ یوه حصه. لفظا: یو جماعت (احسن الهدایه). ﴿علو﴾ دا لفظ درې ډوله ویل کېدای سي: عُلْو، عَلْو، عِلْو: پاسنی منزل (پورتنی پوړ، لوړ ځای، بالاخانه). ﴿سفل﴾ دا لفظ دوه ډوله ویل کېدای سي: سُفْل، سِفْل: لاندینی منزل (لاندینی پوړ، لاندینی ځای). ﴿إفراز﴾ د إفعال د باب مصدر دی: جلا، جلا کول. ﴿تأقیت﴾ د تفعیل مصدر دی: وخت ټاکل، وقت متعینول. ﴿یستغلّ﴾ د استفعال د باب مضارع ده: په کرایه ورکول، د أجرت او کرایې ذریعه جوړول (احسن الهدایه). ﴿حدوث﴾ د نصر د باب مصدر دی: پیدا کېدل، پېښېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که د کور په یوه خونه کي یو شریک اوسي او په بله خونه کي یې بل شریک اوسي، یا دویم صورت دا چي د کور په پاسنی خونه کي یو شریک او په لاندینی خونه کي یې بل شریک اوسي. نو داسي مهایات جائز دي؛ ځکه که کور داسي تقسیم کړی سي نو جائز دي (او مهایات د تقسیم مشابه دی). نو پر هغه په قیاس کولو سره دا ډول مهایات هم جائز دی.

والتهایؤ فی هذا الوجه إلخ: مهایات پر دوه قسمه دی: ① مهایات فی الزمان (د زمانې په اعتبار سره مهایات). ② مهایات فی المکان (د ځای په اعتبار سره مهایات).

(۱) د زمانې په اعتبار سره مهایات دا دی چي مثلاً یوه میاشت به په دې کور کي دا شریک اوسي او دویمه میاشت به دا بل شریک پکښي اوسي، دا مهایات فی الزمان دی. په دې کي د وخت ټاکل ضروري دي (چي مثلاً یوه میاشت یا دوې میاشتي او داسي نور). او په دې کي دا هم سته چي اول شریک (په خپل نوبت کي) د بل شریک له ځای څخه نفع اخلي او دا بل شریک (په خپل نوبت کي) کي

د اول شریک له ځای څخه نفع اخلي (لکه په شروع کي چي ذکر سوه)، نو نفع د نفعي په بدله کي سوه، دې ته مبادله وايي، يعني د مهايات فی الزمان په صورت کي مبادله سته.

(۲) د مکان په اعتبار سره مهايات دا دی چي د کور يوه خونه يوه شريک ته ورکول سي او بله خونه بل ته ورکول سي (لکه په صورت د مسئلې کي چي ذکر سوه)، په دې صورت کي دواړه شريکان يو ځای او په يوه وخت کي نفع اخيستلای سي؛ ځکه چي د هر يوه د نفعي ځای جلا جلا دی، دې ته إفراز "يعني د هر يوه نفع جلا. جلا کول" وايي، په دې کي د مبادلې شکل نسته. په همدې وجه په دې کي د وخت تاکل شرط نه دي، او همدا غوره صورت دی (ځکه چي د إفراز په صورت کي د ربوا شبهه نسته او د مبادلې په صورت کي سته کوم چي بر بناء ضرورت استحسانا جائز گرځول سوې ده).

ولکل واحد أن يستغل إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله شريکان د مهايات په ذريعه خپل. خپل حصه (مثلاً هر يو خپل خونه) جلا کړي، نو اوس هر يوه ته دا اختيار سته چي خپل حصه بل چا ته په کرايه ورکړي؛ ځکه چي تر مهايات وروسته راتلونکي منافع (کرايه) خاص د هغه په ملکيت کي پيدا کيږي (تر لاسه کيږي). لهذا کله چي هغه د خپل حصې مالک دي، نو په هغه کي به د هر ډول تصرف هم مالک وي، برابره ده د عقد (مهايات کولو) پر مهال په کرايه د ورکولو شرط او صراحت سوی وي، که نه.

په يوه غلام کي د مهايات کولو حکم او په مهايات فی الزمان او فی المکان کي د اختلاف حکم

وَلَوْ تَهَايَئَا فِي عَبْدٍ وَاحِدٍ عَلَى أَنْ يَخْدُمَ هٰذَا يَوْمًا وَهٰذَا يَوْمًا او که دوه شريکان په يوه غلام کي داسي مهايات وکړي [نوبت وټاکي] چي هغه غلام به يوه ورځ د دې شريک او بله ورځ د دغه شريک خدمت کوي جَازَ نو دا جائز دي وَكَذَا هٰذَا فِي الْبَيْتِ الصَّغِيرِ او همدارنگه په کوچنۍ خونه کي هم [داسي مهايات کول جائز دي] لِأَنَّ الْمُهَايَاةَ قَدْ تَكُونُ فِي الزَّمَانِ وَقَدْ تَكُونُ مِنْ حَيْثُ الْمَكَانِ ځکه چي مهايات کله د زمانې په اعتبار سره کيږي [چي دومره وخت به د يوه شريک او دومره وخت.....] او کله د مکان په حيثيت سره کيږي وَالْأَوَّلُ مُتَعَيِّنٌ هٰهُنَا او دلته اول [مهايات فی الزمان] متعين دی وَلَوِ اخْتَلَفَا فِي التَّهَايُؤِ مِنْ حَيْثُ الزَّمَانِ وَالْمَكَانِ فِي مَحَلٍّ يَحْتَمِلُهُمَا او که دوه شريکان د زمان يا مکان په اعتبار سره د مهايات په هکله اختلاف وکړي په داسي ځای کي چي هغه ځای [د مهايات فی الزمان والمکان] دواړو احتمال لري يَأْمُرُهُمَا الْقَاضِي بِأَنْ يَتَّفِقَا نو قاضي به دوی ته حکم کوي چي دوی دواړه [په مهايات فی

الزمان او فی المکان کي پريوه] اتفاق وکړي لِأَنَّ التَّهَايُؤَ فِي الْمَكَانِ أَعْدَلُ ځکه چي مهايات فی المکان [د ځای په اعتبار سره مهايات] زيات انصاف والا دی وَفِي الزَّمَانِ أَكْمَلُ او مهايات فی الزمان بيا زيات کامل دی فَلَمَّا اخْتَلَفَتِ الْجِهَةُ لهذا کله چي جهت مختلف سو لَا بُدَّ مِنَ الِاتِّفَاقِ نو اتفاق کول ضروري دي فَإِنْ اخْتَارَاهُ مِنْ حَيْثُ الزَّمَانِ بيا که دواړه شريکان د زماني په اعتبار سره مهايات اختيار کړي [يعني مثلاً پر مهايات فی الزمان اتفاق وکړي] يُقْرَعُ فِي الْبِدَايَةِ نو په شروع کي به قرعه اندازي کوي [...مطلب دا چي اول به کوم شريک په دې ځای کي او سپدل شروع کوي په دې باره کي به قرعه اندازه کوي] نَفْيًا لِلتُّهْمَةِ د تهمت ختمولو لپاره [چي له قاضي څخه تهمت ليري سي].

اللغات: ﴿يُقرَع﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله ده: قرعه اندازي کول، قرعه کشي کول. ﴿بداية﴾ ابتداء، شروع.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي يو غلام د دوو شريکانو (زيد او خالد) تر مينځ مشترک دی، هغو په خپل مينځ کي دا فيصله وکړه چي دا غلام به يوه ورځ د زيد او بله ورځ د خالد خدمت کوي، نو دا جائز دي او دا د مهايات فی الزمان صورت دی (ځکه ښکاره ده چي ورځ د زمان سره تعلق لري).

په مهايات فی الزمان کي د منافعو تحصيل يو تر بل وروسته کيږي (لکه مخکي چي ذکر سوه)، او په مهايات فی المکان کي يو دم دواړه شريکان منافع حاصلوي، خو په اول (مهايات فی الزمان) کي د ټوله مملوک د منافعو تحصيل کيږي، او په دويم (مهايات فی المکان) کي د بعض کيږي (ځکه له يوې حصې [مثلاً خوني] څخه يو شريک نفع اخلي او له بلي څخه بل شريک)...

ولو اختلفا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو شريک ووايي چي موږ مهايات فی المکان کړی وو او بل شريک ووايي چي نه! مهايات فی الزمان مو کړی وو، نو په دې صورت کي به قاضي له خپل ځانه فيصله نه کوي؛ بلکي دوی دواړو ته به پريوه مهايات (مهايات فی المکان يا فی الزمان) د اتفاق کولو حکم کوي؛ ځکه چي دا دواړه قسمونه په بيلابيلو جهاتو سره يو له بل څخه افضل او غوره دي، نو يوه ته ترجيح ورکول مشکل دي، ځکه مهايات فی المکان اعدل دی او مهايات فی الزمان اکمل دی، يعني زيادت عدل او انصاف په مهايات فی المکان کي دی چي دواړه په يوه وخت کي له مشترک شي (کور) څخه نفع حاصلوي، او د منفعت زيات کمال او بشپړ والي بيا په مهايات فی الزمان کي دی چي له ټوله مشترک شي (کور) څخه هر شريک په خپل نوبت کي نفع حاصلوي، نو د اتفاق حکم کول ضروري سوه.

بيا که چيري دوی دواړو پر دې اتفاق وکړی چې مهايات في الزمان دی. نو اول نوبت او اول وخت به د کوم شريک وي، فرمايي چې په دې باره کي به قرعه اندازي کيږي، ځکه که قاضي له خپل طرفه ديو شريک نوبت اول مقرر کړي. نو په دې کي پر قاضي د طرفداری تهمت سته. لهذا قرعه اندازي به کيږي او د کوم نوم چي اول وخيږي. اول نوبت به هغه ته ورکول کيږي.

د دوو مشترکو غلامانو د مهايات حکم او تفصيل

وَلَوْتَهَايَآ فِي الْعَبْدَيْنِ عَلٰى أَنْ يَخْدُمَ هٰذَا هٰذَا الْعَبْدُ وَالْآخَرَ الْآخَرُ او که دوه شريکان په دوو غلامانو کي داسي مهايات وکړي [نوبت وتاکي] چي د دغه شريک به دا غلام خدمت کوي او د دې بل شريک به دا بل خدمت کوي جَازَ عِنْدَهُمَا نو دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز جائز دي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ عَلٰى هٰذَا الْوَجْهِ جَائِزَةٌ عِنْدَهُمَا ځکه چي په دغه توګه تقسيم کول د دوی په نيز جائز دي جَبْرًا مِنَ الْقَاضِي وَبِالتَّرَاضِي د قاضي په جبر سره [هم] او [د شريکانو] په رضاء سره هم فَكَذَا الْمُهَايَاةُ نو همداسي به مهايات هم [جائز] وي وَقِيلَ: عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ لَا يَقْسِمُ الْقَاضِي او ويل سوي دي: چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به قاضي تقسيم نه کوي وَهٰكَذَا رُوِيَ عَنْهُ او همداسي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی لِأَنَّهُ لَا يَجْرِي فِيهِ الْجَبْرُ عِنْدَهُ ځکه دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په دې کي د قاضي جبر نه جاري کيږي وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يَقْسِمُ الْقَاضِي عِنْدَهُ أَيْضًا او صحيح دا ده چي د امام صاحب په نيز هم قاضي دا [د دوو غلامانو د خدمت] تقسيم کولای سي لِأَنَّ الْمَنَافِعَ مِنْ حَيْثُ الْخِدْمَةِ قَلَّمَا تَتَفَاوَتُ ځکه د خدمت په حيثيت سره منافع ډېر کم متفاوت وي [يا په بله وينا دا چي په خدمت والا منافعو کي تفاوت ډېر لږ وي] بِخِلَافِ أَعْيَانِ الرَّقِيقِ په خلاف د عين غلامانو لِأَنَّهَا تَتَفَاوَتُ تَفَاوُتًا فَاحِشًا ځکه چي هغه ډېر زيات متفاوت کيږي [يعني په عين غلامانو کي بيخي ډېر تفاوت وي] عَلٰى مَا تَقَدَّمَ. لکه مخکي چي تېر سوه.

اللغات: ﴿أعيان﴾ جمع د عين ده. مراد: ذوات. ﴿رقيق﴾ مملوک انسان. غلام.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د دوو شريکانو تر مينځ دوه غلامان مشترک دي. او هغو داسي مهايات وکړی چي په دې غلامانو کي به يو غلام د يوه شريک خدمت او دويم به د بل شريک خدمت کوي. نو دا بالاتفاق جائز دي.

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز خو ښکاره ده چي د هغو په نېز په دې صورت کي تقسیم جائز دی جبراً هم او رضاءً هم (یعني که دوی خپله په تقسیم راضي وي او که د قاضي په جبر سره وي). لهٰذا کله چي په اصل یعني په تقسیم کي دا ډول صورت جائز دی. نو په فرع یعني مهایات کي خو به په درجه اولیٰ جائز وي.

او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه په دې سلسله کي دوه قوله نقل سوي دي: ① دا ډول مهایات جائز نه دی؛ ځکه چي په تقسیم کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز جبر نه چلیږي، ځکه د مخکي په څېر دلته هم اختلافِ جنس سته. امام خصاف رَحِمَهُ الله هم له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دا روایت نقل کړی دی.

② زیات صحیح قول دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هم دا ډول مهایات جائز دي؛ ځکه چي دا د منافعو د تقسیم مسئله ده (لکه مخکي چي موږ ذکر کړه چي مهایات د منافعو تقسیم ته وایي). او مخکي چي د تقسیم په بحث کي کومه مسئله ذکر سوې ده هغه د اعیانو د تقسیم مسئله وه، او په اعیانو کي د ډېر زیات تفاوت (تفاوت فاحش) په وجه هغوی مختلف الجنس ګرځول سوي دي، لېکن په خدمت او داسي نورو منافعو کي ډېر لږ تفاوت (تفاوت أقل) وي چي هغه زغمل کېدای سي، نو دلږ تفاوت په وجه منافع متحد الجنس شمېرل سوي دي، نو ځکه مذکوره مهایات جائز دي. (د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله تر مینځ د اعیانو اختلاف مخکي د هدایه ج: ۳، ص: ۳۹۸ کي تېر سو).

د غلامانو د نفقې پر شرط د مهایات کولو حکم

وَلَوْتَهَايَئَا فِيهِمَا عَلٰى أَنَّ نَفَقَةَ كُلِّ عَبْدٍ عَلٰى مَنْ يَأْخُذُهُ او که دوه شریکان په دوو غلامانو کي پر دې شرط مهایات وکړي چي د هر غلام نفقه به پر هغه یوه وي کوم یو چي دا غلام اخلي [یا په بله وینا دا چي کوم غلام چي د کوم شریک خدمت کوي، نفقه به یې پر هغه وي] جَازَ اسْتِحْسَانًا نو دا اَستحساناً جائز دي لِلْمُسَامَحَةِ فِي إِطْعَامِ الْمَمَالِيكِ ځکه غلامانو ته د خوراک ورکولو په هکله نرمي [او آساني] کیږي بِخِلَافِ شَرْطِ الْكِسْوَةِ په خلاف د کپړې د شرط لګولو [یعني دا شرط چي د هر غلام کپړه به پر هغه یوه وي...] لِأَنَّهُ لَا يُسَامَحُ فِيهَا ځکه چي په دې کي نرمي نه کیږي.

اللغات: ﴿مسامحة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی. د دغه باب څو معناوي نقل سوي دي: نرمي کول، آساني کول، د یو چا سره د هغه پر طلب موافقت کول (معجم لغة الفقهاء). چشم پوشي کول (پر څه نقصان ستر کي پټول) (احسن الهدایه). ﴿کسوة﴾ کپړه. اللِّبَاسُ الَّذِي يَسْتَتِرُ بِهِ.

تشريح: مسئله: دا ده چي کله دوه غلامان د دوو کسانو تر مينځ مشترک وي، نو د هغه غلامانو نفقه (خوراکه) او کپړه په مشترکه توګه پر دواړو شريکانو واجبيږي.

ليکن که دواړه پر دې شرط مهايات وکړي چي کوم غلام چي د کوم يوه خدمت کوي، خوراکه، خرچه او کپړې به هم هغه ورکوي، نو د دې څه حکم دی؟، فرمايي چي د خوراکې په صورت کي خو جائز دی، ځکه په خوراکه کي عموماً تفاوت هم کم وي، او په کپړه کي تفاوت فاحش وي، نو د کپړې شرط جائز نه دی.

دويمه وجه دا ده چي په خوراک ورکولو کي عموماً بخل او سختي نه کيږي، او د کپړې په جوړولو کي بخل کيږي (ځکه پخوا به کپړه ډېر په مشکله جوړېده نو ډېره به ګرانه او کخته وه، په همدې وجه پخوا د کفن غلا هم کېده).

همدارنګه کله چي د دوو غلامانو کپړه پر دواړو شريکانو په مشترکه توګه واجب سي، نو دا داسي ده لکه هر يو چي له خپل ملکري شريک څخه نصف کپړه د بل يوه د نصف کپړې په بدله کي رانيسي او په دې کي جهالت دی (ځکه دا نصف مجهول دي)، او د مجهول بيع و شراء جائز نه دي، نو ځکه د کپړې شرط لګول هم جائز نه دي.

يادونه: که يو کپړه متعيّنه کړی سي، نو استحساناً جائز دي. (مجمع الأنهر ج: ۲، ص: ۶۷۸)

د دوو مشترکو کورونو د مهايات حکم

وَلَوْتَهَايَئَافِي دَارَيْنِ عَلَى أَنْ يَسْكُنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا دَارًا او که دوه شريکان په دوو کورونو کي پر دې شرط مهايات وکړي چي له دوی څخه به هر يو په يوه کور کي اوسيږي جَازَ نو دا جائز دي وَيُجْبِرُ الْقَاضِي عَلَيْهِ او قاضي پر دې جبر کولای سي أَمَّاعِنْدَهُمَا فَظَاهِرٌ هرچي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز خو دا ښکاره ده لِأَنَّ الدَّارَيْنِ عِنْدَهُمَا كَدَارٍ وَاحِدَةٍ ځکه دوه کورونه د دوی په نېز [په حکم کي] د يوه کور په څېر دي وَقَدْ قِيلَ: لَايُجْبِرُ عِنْدَهُ او ويل سوي دي: چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز قاضي جبر نه سي کولای اِعْتِبَارًا بِالْقِسْمَةِ پر تقسيم په قياس کولو سره وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ التَّهَايُؤُ فِيهِمَا أَصْلًا بِالْجَبْرِ لِمَا قُلْنَا وَبِالتَّرَاضِي او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي په دوو کورونو کي مهايات بالکل جائز نه دی نه په جبر سره د هغه دليل پر بناء کوم چي موږ

❁ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله كما في الدر المختار: والأصح أن القاضي يهايئ بينهما جبراً بطلب أحدهما (ج:۵، ص:۱۸۹)، وكذا في الهندية (ج:۵، ص:۲۳۰). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۸۳]

ذکر کړی او نه په رضاء سره لِأَنَّهُ بَيْعُ السُّكْنٰى بِالسُّكْنٰى ځکه چي دا د اوسېدلو په بدله کي د اوسېدلو بيع [خرڅول] دي بِخِلَافِ قِسْمَةِ رَقَبَتِهِمَا په خلاف د عينِ کورونو د تقسيمولو لِأَنَّ بَيْعَ بَعْضِ أَحَدِهِمَا بِبَعْضِ الْآخَرِ جَائِزٌ ځکه چي له دوی څخه د يوه کور بعضي حصه د بل د بعضي حصې په بدله کي خرڅول جائز دي وَجْهُ الظَّاهِرِ: أَنَّ التَّفَاوُتَ يَقِلُّ فِي الْمَنَافِعِ د ظاهر روايت دليل دا دی: چي تفاوت په منافعو کي کم [لږ] وي فَيَجُوزُ بِالتَّرَاضِيْ نو ځکه دا په رضاء سره [هم] جائز دي وَيَجْرِي فِيهِ جَبْرُ الْقَاضِيْ او په دې کي د قاضي جبر هم جاري کېدای سي وَيُعْتَبَرُ إِفْرَازًا او دا به إفراز مثل کيږي [يا په بله وينا دا چي په دې کي د إفراز اعتبار کيږي] أَمَّا بِكَثْرَةِ التَّفَاوُتِ فِي أَعْيَانِهِمَا فَاعْتُبِرَ مُبَادَلَةً او پاته سوه په عينِ کورو کي زيات تفاوت وي نو ځکه هغه به مبادله مثل کيږي [د مبادلې اعتبار پکښي کيږي].

اللغات: ﴿تراضي﴾: يو تر بله راضي کېدل، په يو شي د دواړو عاقدينو راضي کېدل. ﴿سكنىٰ﴾ اوسېدونه، استوګنه. ﴿يقلّ﴾ د ضرب مضارع ده: کمېدل، لږېدل. ﴿إفراز﴾ د افعال د باب مصدر دی: جلا، جلا کول، را جلا کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د زيد او خالد په مېنځ کي دوه کورونه مشترک دي، دوی په خپل مېنځ کي دا فيصله وکړه چي په يوه کور کي به زيد اوسېږي او په بل کي به خالد اوسېږي. نو دا جائز دي او له دواړو څخه د يوه شريک پر مطالبه به قاضي پر دغه مهايات جبر هم کوي، پر دې د ائمه ثلاثه وو اتفاق دی.

که سوال وسي چي دا خبره خو صرف د صاحبينو په نېز صحيح کېدای سي کوم چي دوو مشترکو کورونو ته د يوه کور (دارِ واحد) درجه ورکوي (لکه څرنګه چي مخکي د هديه ج:۳ ص: ۳۹۹ کي د دې تفصيل تېر سو)، مګر د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نېز خو دا مهايات نه جائز کېدل پکار دي: ځکه د دواړو کورونو جلا، جلا تقسيم د هغه په نېز جائز نه دی (کمامر). نو بيا د ائمه ثلاثه وو اتفاق څنګه دی؟.

د دې جواب دا دی چي په مهايات کي د منافعو تحصيل کيږي او په منافعو کي ډېر لږ تفاوت وي. نو دا په تراضي سره هم جائز دي او جبراً هم. ځکه چي دا د إفراز درجه ده. او د کورونو په تقسيم کي تفاوت فاحش دی. نو هلته دا مبادله ده او په مبادله کي جبر نهجائز کيږي.

او که سوال وسي چي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه خو نور اقوال هم نقل سوي دي؟.
جواب دا دی چي ظاهر روایت خو هغه دی کوم چي ذکر سو يعني مذکوره مهايات جائز دی. او نور اقوال په "نوادرات" کي نقل سوي دی، له هغوی څخه يو قول دا دی چي په تراضي سره جائز دی. او همدا دامام کرخي رَحِمَهُ الله قول دی، او دويم دا قول نقل سوی دی چي دا مهايات بالکل جائز نه دی نه جبراً او نه په تراضي سره.
د جبراً دليل خو ذکر سو، او د تراضي دليل دا دی چي دا د سکنیٰ (اوسېدلو) بيع د سکنیٰ په بدله کي ده او دا باطله ده، او د تقسيم په صورت کي د کور د بعضي حصي بيع د بل د بعضي حصې په بدله کي ده او دا جائزه ده.

د دوو مشترکو څارويو د مهايات حکم

وَفِي الدَّابَّتَيْنِ لَا يَجُوزُ التَّهَايُؤُ عَلَى الرُّكُوبِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او په دوو څارويو کي پر سپرېدلو مهايات کول د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز نه دي وَعِنْدَهُمَا يَجُوزُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز جائز دي اعْتِبَارًا بِقِسْمَةِ الْأَعْيَانِ داعيانو [عين څارويانو] پر تقسيم په قياس کولو سره وَلَهُ: أَنَّ الِاسْتِعْمَالَ يَتَفَاوَتُ بِتَفَاوُتِ الرَّاكِبِينَ دامام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي د سپرېدونکو د تفاوت [توپير] په وجه په استعمال کي هم تفاوت راځي فَإِنَّهُمْ بَيْنَ حَاذِقٍ وَأَخْرَقَ ځکه چي سپرېدونکي د ماهر او نا تجربه کاره تر مينځ وي [يعني بعضي د آس په سپرتيا او چلولو کي ماهر او بعضي کمزوري وي] وَالتَّهَايُؤُ فِي الرُّكُوبِ فِي دَابَّةٍ وَاحِدَةٍ عَلَى هٰذَا الْخِلَافِ او د يوه څاروي په سپرتيا کي مهايات کول پر همدغه اختلاف دي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی بِخِلَافِ الْعَبْدِ په خلاف د غلام لِأَنَّهُ يَخْدُمُ بِاخْتِيَارِهِ ځکه چي هغه په خپل اختيار سره خدمت کوي فَلَا يَتَحَمَّلُ زِيَادَةً عَلَى طَاقَتِهِ لهذا هغه له خپل طاقت څخه زيات [بوج] نه پورته کوي وَالدَّابَّةُ تَحْمِلُهَا او څاروی يې پورته کوي.

اللغات: ﴿دابة﴾ څاروی، چارپای، جمع: دوابّ، ﴿حاذق﴾ ماهر، ډېر په پوهېدونکی، ﴿أخرق﴾ ناپوه او ناتجربه کاره، أَخْرَقَ بِالشَّيِ: په يو شي نا خبره چي سم نه په پوهيږي. (احسن الهدايه)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د زيد او خالد تر مينځ دوه څاروي مثلاً دوه آسان مشترک دي، او دوی داسي مهايات وکړی چي پر يوه به زيد سپرېږي او پر بل به خالد سپرېږي، يا د دواړو تر مينځ

صرف يو آس مشترک دی، او دوی داسي مهايات وکړي چي پر دې به پنځه ورځي زيد سپريږي او پنځه ورځي به خالد پر سپريږي، نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز خو دا صورت جائز دی، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز نه دی.

ځکه صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د اعيانو پر تقسيم په قياس کولو سره دې ته هم جائز ويلي دي (يعني څرنګه چي د عين آس تقسيم د صاحبينو په نيز جائز دی، نو ځکه مهايات يې هم جائز دی) او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د اعيانو د تقسيم هم دغه حکم دی چي جائز نه دی (کما مرّ).

همدارنګه د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي په سپرېدونکو کسانو کي فرق وي، يو به سپرتيا کي ماهر وي چي د هغه د مهارت په وجه سپرلي (آس) ته هيڅ نقصان نه رسيږي او بل د سپرتيا په چم هم نه پوهيږي چي په هغه سره سپرلي ته نقصان رسېدلای سي.

ها! که همدا پورتنی صورت د يوه غلام او دوو غلامانو تر مينځ وي، نو هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هم جائز دی؛ ځکه غلام خو صاحب اختيار وي له خپل وس او طاقت څخه بالا بوج بالکل نه پورته کوي، او څاروی د وهلو په صورت کي له خپل طاقت څخه زيات بوج پورته کوي، نو په دې وجه د دواړو تر مينځ فرق دی.

په کرايه د کور ورکولو کي د مهايات حکم او تفصيل

وَأَمَّا التَّهَايُؤُ فِي الِاسْتِغْلَالِ يَجُوزُ فِي الدَّارِ الْوَاحِدَةِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او پاته سو په کرايه اخيستلو کي مهايات کول د ظاهر روايت مطابق جائز دي وَفِي الْعَبْدِ الْوَاحِدِ وَالدَّابَّةِ الْوَاحِدَةِ لَا يَجُوزُ او په يوه غلام او يوه څاروي کي جائز نه دي وَوَجْهُ الْفَرْقِ هُوَ أَنَّ النَّصِيبَيْنِ يَتَعَاقَبَانِ فِي الِاسْتِيفَاءِ او وجه د فرق يې دا ده چي د دواړو حصې په نفع اخيستلو [اوسېدلو] کي يو تر بل وروسته راځي وَالِاعْتِدَالُ ثَابِتٌ فِي الْحَالِ او في الحاله اعتدال ثابت دی وَالظَّاهِرُ بَقَاؤُهُ فِي الْعَقَارِ وَتَغَيُّرُهُ فِي الْحَيَوَانِ او په جايداد [ځمکه، کور...] کي د اعتدال باقي پاتېدل او په حيوان [ساکښ] کي د هغه متغير کېدل ښکاره دي لِتَوَالِي أَسْبَابِ التَّغَيُّرِ عَلَيْهِ ځکه چي پر حيوان پرلپسې د تغيّر اسباب راځي فَتَفُوتُ الْمُعَادَلَةُ نو برابري [او انصاف] به فوت سي.

اللغات: ﴿الاستغلال﴾ د استفعال د باب مصدر دی، د دې باب په صِلَهٔ کښې چي جايداد (کور، ځمکه او داسي نور) راسي نو معنیٰ يې ده: د جايداد کرايه اخيستل (معجم الوسيط)، په کرايه ورکول (احسن الهدايه).

﴿توالی﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: پرلپسي کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي يو کور د زيد او خالد تر مينځ مشترک دی، دوی دا فيصله وکړه چي د دې کور کرايه به يوه مياشت زيد اخلي او بله مياشت خالد. يا په بله وينا دا چي دا کور به يوه مياشت زيد په کرايه ورکوي او بله مياشت به يې خالد په کرايه ورکوي او کرايه به يې اخلي، نو په ظاهر روايت کښې دا صورت جائز دی.

او که همدا صورت په يوه غلام او يوه څاروي کښې وي، نو بالاتفاق جائز نه دی؛ ځکه کله چي شريکَين دواړه د برابري درجې شريکان دي، نو په هر صورت کښې د دوی د برابرۍ خيال کول ضروري دي، او دا خيال په اول صورت يعني د کور په صورت کښې باقي دی، ليکن په آخري صوتونو کښې باقي نه پاتېږي؛ په اول صورت کښې ځکه باقي پاتېږي چي ظاهري حالت همدا دی چي د کور چي کوم اوسنی حالت دی، را روانه مياشت به هم هغه حالت پاته وي هيڅ بدلون به سي پکښې رانلای (نو ځکه دواړه شريکان به په برابره توګه نفع حاصله کړی سي)، نو د کور په صورت کښې برابري ثابته ده. او د غلام او څاروي په صورت کښې د دې هيڅ پته او ذمه واري نسته چي را روانه مياشت به د غلام او څاروي همدغه حالت وي او مريض يا عيبداره به نه وي؛ کېدای سي چي هغه مريض سي يا کمزوري سي او د کرايې قابل پاته نه سي، ځکه پر ساکښو (حيواناتو) د تغير اسباب پرلپسي راتلونکي وي، کله ښه وي او کله په مرض مبتلا وي، نو دلته برابري نه سي کېدای.

په کرايه د کور ورکولو په صورت کښې د يوه شريک په نوبت کښې د زياتي کرايې د راتللو حکم

وَلَوْزَادَتِ الْغَلَّةُ فِي نَوْبَةِ أَحَدِهِمَا عَلَيْهَا فِي نَوْبَةِ الْآخَرِ او که له شريکَينو څخه ديوه په نوبت کښې کرايه زياته سي له هغه کرايې څخه کوم چي د بل شريک په نوبت کښې وه يَشْتَرِكَانِ فِي الزِّيَادَةِ نو دوی دواړه په زياتوب [زائده کرايه] کښې شريکان کيږي لِيَتَحَقَّقَ التَّعْدِيلُ د دې لپاره چي برابري ثابته سي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ التَّهَايُؤُ عَلَى الْمَنَافِعِ په خلاف د هغه صورت کله چي پر منافعو مهايات سوی وي فَاسْتَغَلَّ أَحَدُهُمَا فِي نَوْبَتِهِ زِيَادَةً بيا له شريکينو څخه يو په خپل نوبت کښې زياته کرايه واخلي لِأَنَّ التَّعْدِيلَ فِيمَا وَقَعَ عَلَيْهِ التَّهَايُؤُ حَاصِلٌ وَهُوَ الْمَنَافِعُ ځکه په کوم شي کښې چي مهايات واقع سوی دی

په هغه کي برابري حاصل سوې ده چي هغه منافع دي فَلَا تَضُرُّهُ زِيَادَةُ الْاِسْتِغْلَالِ مِنْ بَعْدُ. نو تر دې [برابرۍ] وروسته زياته کرايه اخيستل مهايات ته هيڅ نقصان نه کوي.

اللغات: ﴿الغَلّة﴾ د ځاى کرايه، د ځمکي ما حصل (پيداوار)، آمدن، جمع: غَلّات. ﴿نوبـة﴾ نوبت، واری. ﴿تعـديل﴾ د تفعيـل د بـاب مصـدر دی: برابـري کـول، برابـرول (مثلاً دوې حصې سره برابرول).

التعديل: برابري.

تشريح: مسئله: دا ده چي د زيد او خالد تر مينځ يو کور مشترک دی، دوی دا فيصله وکړه چي دا کور به يوه مياشت زيد او بله مياشت خالد په کرايه ورکوي، نو زيد هغه کور مثلاً په پنځه زره کرايه ورکړی، او د خالد نوبت چي راغلی نو هغه په اووه زره کرايه ورکړی، نو دا زياتوب چي کوم دوه زره روپۍ دي، په دې کي دواړه شريکان کيږي. د دې لپاره چي برابري ثابته سي، او که فيصله داسي سوې وي چي دواړه به يو تر بل وروسته په دې کور کي اوسيږي او منافع به حاصلوي (مثلاً يوه مياشت به زيد او يوه مياشت به خالد پکښي اوسيږي)، بيا دواړه (په نوبت، نوبت) دا کور په کرايه ورکړي او په کرايه کي زياتوب وسي، نو اوس په زياتوب کي دواړه نه شريکان کيږي: ځکه چي مهايات پر منافعو سوی وو، نه پر استغلال، او په منافعو کي برابري باقي ده. لهذا کله چي په منافعو کي تعديل او برابري باقي ده، نو بيا به د استغلال او کرايې زياتوب د بل شريک لپاره مضر نه وي.

په پورتني صورت کي د دوو کورونو حکم

وَالتَّهَايُؤُ عَلَى الْاِسْتِغْلَالِ فِي الدَّارَيْنِ جَائِزٌ أَيْضًا فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او د دوو کورونو د کرايه پراخيستلو مهايات کول هم جائز دي د ظاهر روايت مطابق لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَلَوْ فَضَلَ غَلَّةُ أَحَدِهِمَا او که له شريکينو څخه د يوه شريک کرايه زياته سي لَا يَشْتَرِكَانِ فِيهِ نو دواړه په هغه کي نه شريکان کيږي بِخِلَافِ الدَّارِ الْوَاحِدَةِ په خلاف د يوه کور [چي په زائده کرايه کي دواړه شريکان کيږي] وَالْفَرْقُ أَنَّ فِي الدَّارَيْنِ مَعْنَى التَّمْيِيْزِ وَالْإِفْرَازِ رَاجِحٌ او فرق دا دی چي د دوو کورونو په صورت کي د تمييز او إفراز معنیٰ راجحه ده لِاتِّحَادِ زَمَانِ الْاِسْتِيْفَاءِ ځکه چي [د کرايې] اخيستلو زمانه يوه ده وَفِي الدَّارِ الْوَاحِدَةِ يَتَعَاقَبُ الْوُصُوْلُ او د يوه کور په صورت کي وصولول [د کرايې اخيستل] يو تر بل وروسته وي فَاعْتُبِرَ قَرْضًا وَجُعِلَ كُلُّ وَاحِدٍ فِي نَوْبَتِهِ كَالْوَكِيْلِ عَنْ صَاحِبِهِ نو دا به قرض شمېرل کيږي او هر شريک به په خپل نوبت کي د خپل ملګري له طرفه د وکيل په څېر

گرځول کيږي ﴿فَلِهٰذَا يَرُدُّ عَلَيْهِ حِصَّتَهُ مِنَ الْفَضْلِ﴾ نو په همدې وجه هر شريک به خپل ملګري ته له زائدې کرايې څخه د هغه حصه واپس کوي [يعني څومره کرايه چې زياته سي. له هغه څخه به د خپل ملګري حصه هم ورکوي].

اللغات: ﴿استغلال﴾ مخکي د دې وضاحت وسو چې معنیٰ يې ده: کرايه اخيستل. ﴿فضل﴾ د کرم د باب ماضي ده: اضافه کېدل، زياتېدل. ﴿غلّة﴾ کرايه، آمدن. ﴿تميیز﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سره جلا کول، بېلول. ﴿إفراز﴾ د افعال د باب مصدر دی: را جلا کول. ﴿استيفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: ترلاسه کول، وصولول، اخيستل. ﴿يتعاقب﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: يو تر بل وروسته کېدل (يو له بل څخه وروسته راتلل).

تشريح: په مخکنۍ مسئله کي مهايات په يوه کور کي وو چې د هغه حکم بيان سو. دلته دا بيانوي چې که مهايات په دوو کورونو کي وي په دې توګه چې يو کور به زيد په کرايه ورکوي او بل به خالد په کرايه ورکوي، نو په ظاهر روايت کي د مخکيني دليل پر بناء دا هم جائز دي.

په مخکيني صورت (چې کور يو وي) او په دې صورت کي دا فرق سته چې په مخکيني صورت کي که ديو چا په نوبت کي زياته کرايه حاصله سي نو په هغه کي دواړه شريکان کيږي او په دې صورت کي که يو طرف ته زياته کرايه حاصله سي، نو په زياتوب کي شرکت نه ثابتيږي، او په دواړو صورتونو کي د فرق وجه دا ده چې په دې دويم صورت کي (چې کورونه دوه وي) د إفراز او تميیز معنیٰ راجحه ده؛ ځکه چې د منفعت ترلاسه کولو زمانه يوه ده يعني دواړه شريکان يو ځای ديوه، يوه کور کرايه حاصلوي، او په مخکيني (ديوه کور په) صورت کي د منفعت ترلاسه کول يو تر بل وروسته دي يعني له يوه کور څخه يوه مياشت يو شريک کرايه حاصلوي او دويمه مياشت بل شريک. نو ګواکي هر شريک په خپل نوبت کي د خپل شريک د کرايه اخيستلو وکيل هم سو، نو دا به قرض شمېرل کيږي چې اول کرايه اخيستونکی شريک ګواکي له بل يوه څخه قرض اخلي، او کله چې دئ د خپل شريک له طرفه د وکيل په درجه کي دی، نو ځکه کرايه چې څومره زياته سي، هغه به د دوی تر مينځ مشترکه هم وي چې د هغه نيمايي به شريک ته ورکوي، او څرنګه چې په دويم صورت (يعني چې کورونه دوه وي) کي يو ځای دواړه منفعت (کرايه) اخلي، نو ځکه دلته د قرض او وکيل صورت نسته. او کله چې په دې صورت کي دا شيان نسته، نو په زياتوب (زائد کرايه) کي به شرکت هم نه وي لکه په اول صورت کي.

د دوو غلامانو د مهايات حکم

وَكَذَا يَجُوزُ فِي الْعَبْدَيْنِ عِنْدَهُمَا او همدارنګه په دوو غلامانو کي (تهايؤ في الاستغلال) [يعني دوو غلامانو پر کرايه او مزدوري اخيستلو مهايات کول] د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز جائز دي اِعْتِبَارًا بِالتَّهَايُؤِ فِي الْمَنَافِعِ د منافعو پر مهايات په قياس کولو سره وَلَا يَجُوزُ عِنْدَهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز نه دي لِأَنَّ التَّفَاوُتَ فِي أَعْيَانِ الرَّقِيقِ أَكْثَرُ مِنْهُ مِنْ حَيْثُ الزَّمَانِ فِي الْعَبْدِ الْوَاحِدِ ځکه چي په عين دوو غلامانو کي د زماني په اعتبار سره له يوه غلام څخه زيات تفاوت دی فَأَوْلَى أَنْ يَمْتَنِعَ الْجَوَازُ نو په درجه اولىٰ به جواز ممتنع وي وَالتَّهَايُؤُ فِي الْخِدْمَةِ جُوِّزَ ضَرُورَةً او په خدمت کي د ضرورت په وجه مهايات جائز ګرځول سوی دی وَلَا ضَرُورَةَ فِي الْغَلَّةِ او په کرايه کي ضرورت نسته لِإِمْكَانِ قِسْمَتِهَا لِكَوْنِهَا عَيْنًا ځکه کرايه تقسيمول ممکن دي ځکه چي کرايه عين شی ده وَلِأَنَّ الظَّاهِرَ هُوَ التَّسَامُحُ فِي الْخِدْمَةِ وَالِاسْتِقْصَاءُ فِي الِاسْتِغْلَالِ او ځکه چي ښکاره په خدمت کي نرمي [او چشم پوشي] کول ذي او په کرايه اخيستلو کي پوره پلټنه کول دي [يعني ښکاره همدا ده چي که غلام سم خدمت نه کوي نو خلک ډېره سختي نه ور سره کوي بلکي نرمي کوي او د خدمت پر کمي بيشي سترګي پټوي خو په کرايه اخيستلو کي چشم پوشي نه کوي بلکي پوره حساب اخلي] فَلَا يَتَقَاسَانِ نو ځکه يو پر بل نه سي قياسول کېدای وَلَا يَجُوزُ فِي الدَّابَّتَيْنِ عِنْدَهُ او په دوو څارويو کي (تهايؤ في الاستغلال) د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز نه دی خِلَافًا لَهُمَا په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله وَالْوَجْهُ مَا بَيَّنَّاهُ فِي الرُّكُوبِ او دليل همغه دی کوم چي موږ د سپرتيا په مسئله کي بيان کړی.

اللغات: ﴿رقيق﴾ مملوک انسان، غلام، ﴿جوّز﴾ د تفعيل د باب ماضي مجهوله ده: جائز ګرځول، ﴿التسامح﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: نرمي او آساني کول، د نرمۍ څرګندونه، چشم پوشي کول (پر څه کمزورۍ سترګي پټول). ﴿استقصاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی، استقصی المسألة: د مسئلي بېخ ته رسېدل، د يو شي پوره تفتيش او پلټنه کول.

تشریح: څرنګه چي دا جائز دي چي دوه شریکان خپل دوه کورونه د مهایات په توګه په کرایه ورکړي، همداسي د صاحبینو په نېز دوه غلامان هم د مهایات په توګه په اُجرت ورکولای سي، ځکه صاحبین رَحِمَهُمَا الله دا صورت د منافعو (یعني د خدمت) پر تهایؤ قیاسوي او جائزیې ګرځوي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا صورت جائز نه دی؛ ځکه د زمانې په اعتبار سره یوازي په یوه غلام کي هم تفاوت او توپیر وي، ځکه کله هغه زیات کار کوي او زیاته کرایه راوړي او کله بیا سستي کوي چي نفع او کرایه یې کمه وي، لهذا کله چي په یوه غلام کي هم تفاوت وي، نو په دوو غلامانو کي به نور هم تفاوت وي، نو ځکه دا صورت ناجائز وګرځول سو، کنې د مهایات اصلي مقصد (یعني اعتدال او برابري) فوت یېږي.

والتهایؤ فی الخدمة إلخ: په دې سره د صاحبینو د قیاس جواب ورکول سوی دی چي پر تهایؤ فی الخدمت په قیاس کولو سره تهایؤ فی الاستغلال جائز ګرځول صحیح نه دي؛ ځکه چي په خدمت کي د انساني ضرورت په وجه تهایؤ جائز ګرځول سوی دی، او پاته سو په کرایه ورکولو ته ضرورت نسته، ځکه چي کور او مکان عین شی دی چي په دې وجه د هغه د منفعت او کرایې تقسیم آسانه دی، په دې توګه چي دوی کورونه په کرایه ورکړي او بیا له هغه څخه حاصلېدونکې کرایه په مشترکه توګه سره تقسیم کړي.

دویمه وجه دا ده چي په عامه توګه په خدمت کي خلک نرمي او چشم پوشي کوي، او د کرایې په اخیستلو کي سختي کوي چي د یوې دقیقې حساب هم لګوي، نو کله چي په دواړو کي فرق دی، نو بیا یو پر بل قیاسول هم صحیح نه دي.

ولایجوز إلخ: په دې سره دا رابنیي چي په دوو څاریو کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز تهایؤ فی الاستغلال جائز نه دی او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز جائز دی (لکه مخکي چي ذکر سوه)؛ ځکه صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د څارویو د داسي تقسیم پر جائز کېدلو په قیاس کولو سره د دوی تهایؤ هم جائز ګرځولی دی، او امام صاحب رَحِمَهُ الله د راکبینو (سپرېدونکو) تر مینځ د تفاوت په وجه هغه ممنوع ګرځولی دی.

د درختو او څارويو د مهايات حکم

وَلَوْ كَانَ نَخْلٌ أَوْ شَجَرٌ أَوْ غَنَمٌ بَيْنَ اثْنَيْنِ او كه د دوو كسانو تر مينځ د خُرما درختي يا نوري درختي يا بزې مشترک وي فَتَهَايَئَا عَلَى أَنْ يَأْخُذَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا طَائِفَةً يَسْتَثْمِرُهَا أَوْ يَرْعَاهَا وَيَشْرَبُ أَلْبَانَهَا بيا دوى دواړه پر دې شرط مهايات وکړي چي له دوى څخه به هر يو يوه حصه اخلي چي له هغه څخه به مېوه ترلاسه کوي يا به يې څروي او د هغوى شيدې به چيښي لَا يَجُوزُ نو دا جائز نه دي لِأَنَّ الْمُهَايَأَةَ فِي الْمَنَافِعِ ضَرُورَةُ أَنَّهَا لَا تَبْقَى ځکه په منافعو کي مهايات د دې ضرورت په وجه [جائز] دي چي هغوى باقي نه پاتيږي فَيَتَعَذَّرُ قِسْمَتُهَا نو د هغوى تقسيمول متعذر دي وَهَذِهِ أَعْيَانٌ بَاقِيَةٌ يَرِدُ عَلَيْهَا الْقِسْمَةُ عِنْدَ حُصُولِهَا او دغه [درختي او داسي نور] عين شيان دي کوم چي باقي پاتېدونکي دي چي د هغوى د حاصلېدلو په وخت کي هغوى تقسيمول کېداى سي وَالْحِيلَةُ أَنْ يَبِيعَ حِصَّتَهُ مِنَ الْآخَرِ ثُمَّ يَشْتَرِيَ كُلَّهَا بَعْدَ مُضِيِّ نَوْبَتِهِ او حيله دا ده چي يو شريک دي خپله حصه پر بل شريک خرڅه کړي بيا دي د خپل نوبت تر تېرېدلو وروسته هغه ټوله حصه خپله رانيسي أَوْ يَنْتَفِعَ بِاللَّبَنِ بِمِقْدَارٍ مَعْلُومٍ اسْتِقْرَاضًا لِنَصِيبِ صَاحِبِهِ يا دي [په خپل نوبت کي] په معلوم مقدار سره له شيدو څخه نفع اخلي د قرض اخيستلو په توګه د خپل ملګري له حصې څخه [په آسانه وينا دا چي يا دي په خپل نوبت کي د خپل ملګري شيدې په قرض اخلي او استعمالوي] إِذْ قَرْضُ الْمُشَاعِ جَائِزٌ ځکه چي د مشترک شي قرض جائز دى.

اللغات: ﴿نخل﴾ واحد نَخْلَةٌ: د خرما درخته. ﴿شَجَر﴾ واحد شَجَرَةٌ: عامه درخته. مراد ځني له خرما څخه بغير نوري درختي دي، ﴿غنم﴾ د "غَنَم" لفظ اسم جنس دى، مذکر او مؤنث دواړو لره شامليږي، همدارنګه د پسه، ميږي، سېرلي او بزې ټولو لپاره استعماليږي (معجم لغة الفقهاء)، خو دلته د "ألبان" په قرينه سره ميږې او بزې (وزې) ځني مراد دي، ﴿طائفة﴾ يوه حصه، يوه مجموعه، ﴿يستثمر﴾ د استفعال د باب مضارع ده: مېوه حاصلول (ترلاسه کول). ﴿يرعى﴾ د فتح د باب مضارع ده: څرول، پوول (رمه د خوراک لپاره دباندي څر ځاى [چراګاه] ته بېول). ﴿استقراض﴾ د استفعال مضارع ده: په قرض اخيستل، قرض غوښتل.

تشریح: صورت دَ مسئلې: دا دی که د دوو شریکانو مثلاً د زید او خالد تر مینځ د خرما درختې یا نورې درختې یا بزې، میږې او داسې نور مشترک وي. او دوی په خپل مینځ کې داسې مهایات وکړي چې د دې مشترک شي یوه حصه به زید او بله به خالد اخلې چې هر یو به له خپل حصې څخه نفع اخلي، یا په بله وینا دا چې مثلاً دوې بزې (وزې) د زید او خالد په مینځ کې مشترکې دي او دوی په خپل مینځ کې داسې تقسیم وکړي چې یوه بزه به زه واخلم او بله به ته واخلې چې د هرې یوې شیدې به د هغه وي او هرې یوې ته به خوراکه هم هغه ورکوي (یا مثلاً ډېرې بزې. یا درختې وي او په دې توګه یې تقسیم وکړي)، نو دا جائز نه دي: ځکه چې دا شیان له أعیانو څخه دي او أعیان باقي پاتیږي. نو ځکه د دوی مهایات به هم جائز نه وي. او په منافعو کې چې مهایات جائز ګرځول سوی دي، هغه ځکه دی چې منافع تر ډېره باقي نه پاتیږي او د هغوی تقسیم مشکل وي، نو ځکه یو پر بل قیاسول صحیح نه دي.

<u>والحیلة إلخ</u>: په دې سره صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د درختو، پسونو او داسې نورو د مهایات د جائز کېدلو یو حیله ښیي. چې د هغه حاصل دا دی چې مثلاً زید دې خپل حصه یعنې خپل درختې یا بزې مثلاً د یوې هفتې (اوونی) لپاره پر خالد خرڅې کړي نو اوس هغه ټوله د خالد ملکیت سوې او د خالد لپاره نفع اخیستل جائز سوه. او کله چې یوه هفته ختمه سي نو زید دې له هغه څخه خپل او د هغه ټوله درختې یا بزې رانیسي نو اوس به هغه ټوله د زید ملکیت سي او د هغه لپاره به نفع اخیستل جائز سي (او دا خرڅول او رانیول به د قرض په توګه وي. یعنې یو شریک به هم په دې بیع و شراء کې بل شریک ته پیسې او روپۍ نه ورکوي [احسن الهدایه] والله أعلم) نو په دې توګه دا مهایات جائز کیږي.

او بله حیله داسې هم کېدای سي چې زید دې د خالد شیدې په قرض واخلي (چې مثلاً تر یوې هفتې یا لس ورځو پورې ستا د بزو [وزو] شیدې زه لوښم او هغه به ستا پر ما قرض وي) او د دواړو بزې شیدې دې استعمالوي. او کله چې د زید نوبت (یوه هفته یا لس ورځې) ختم سي او د خالد نوبت راسي. نو خالد دې د خپلو بزو شیدې هم استعمالوي او کومې شیدې چې یې زید ته په قرض ورکړي دي، هغه دې هم له هغه څخه واخلي (یعنې په خپل نوبت کې دې د خپل قرض په عوض کې د زید د بزو شیدې هم لوښي). نو په دې توګه به هر شریک په خپل نوبت کې له دواړو بزو (وزو) له شیدو څخه نفع اخلي، په دې صورت کې که څه هم د مشترک شي په قرض ورکول او اخیستل راځي، خو د مشترک شي قرض جواز لري، نو ځکه دا صورت به هم جائز وي. فقط والله أعلم وعلمهٔ أتم



كِتَابُ الْمُزَارَعَةِ

(دا) کتاب د کښتګرۍ په بيان کي دی

تشريح: څرنګه چي په کتابُ القسمه کي د ځمکي او د هغه د پيداوار له تقسيم څخه بحث کيږي، همداسي په مزارعت هم کي د ځمکي د پيداوار له تقسيم څخه بحث کيږي، نو ځکه تر کتابُ القسمة وروسته يې کتابُ المزارعة بيان کړي دی.

د مزارعة، مخابرة او مساقاة مطلب: مزارعة له زراعت څخه مشتق دی: کښتګري کول، د کښت کرني معامله کول چي ځمکه د يوه کس له طرفه وي او کار (عمل) د بل کس له طرفه وي، او کوم پيداوار (حاصلات) چي وسي هغه د دواړو تر مينځ نيم په نيمه يا يوه حصه د يوه او دوې حصې د بل وي، نو دې ته مزارعت يا مخابره وي.

مخابره له خيبر څخه مشتق ده، نبي کريم ﷺ د خيبر خلکو ته ځمکه په کښتګرۍ ورکړې وه، په همدې وجه مزارعت ته مخابره هم ويل کيږي.

په مزارعت او مساقات کي فرق دا دی چي که ځمکه په کښتګرۍ ورکول سي نو دې ته مزارعت وايي او که درختي ورکول سي نو دې ته مساقات وايي؛ ځکه چي په هغه کي د بل څه ضرورت نسته بلکي صرف په سَقي يعني په اوبه کولو سره ميوه ځني حاصليږي، نو ځکه مساقات ورته ويل کيږي (او په مزارعت کي غوبي او داسي نورو ته هم ضرورت وي د ځمکي اړولو او داسي نورو لپاره).

د مزارعت تعريف او د امامانو اقوال

قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ: اَلْمُزَارَعَةُ بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ بَاطِلَةٌ امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: پر دريمه او څلورمه حصه کښتګري کول باطل دي اعْلَمْ أَنَّ الْمُزَارَعَةَ لُغَةً مُفَاعَلَةٌ مِنَ الزَّرْعِ پوه سه! چي مزارعت لغتاً له زرع څخه د مفاعلت (د باب) مصدر دی وَفِي الشَّرِيعَةِ: هِيَ عَقْدٌ عَلَى الزَّرْعِ بِبَعْضِ الْخَارِجِ او په [اصطلاح د] شريعت کي عقد کول دي پر کښتګرۍ په بدله کي [د کښت] د بعضي پيداوار وَهِيَ فَاسِدَةٌ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيفَةَ او دا [مزارعت] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز فاسد دی

وَقَالَا ۞: هِيَ جَائِزَةٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي جائز دی لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ عَامَلَ أَهْلَ خَيْبَرَ عَلَى نِصْفِ مَا يَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٍ أَوْ زَرْعٍ ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ د اهلِ خيبر سره د راوتونکو [پيدا کېدونکو] مېوو يا کښتونو پر نيم مقدار معامله وکړه وَلِأَنَّهُ عَقْدُ شِرْكَةٍ بَيْنَ الْمَالِ وَالْعَمَلِ او ځکه چي مزارعت د مال او کار په مينځ کښې د شرکت عقد دی فَيَجُوزُ اعْتِبَارًا بِالْمُضَارَبَةِ نو پر مضاربت په قياس کولو سره به دا [هم] جائز وي وَالْجَامِعُ دَفْعُ الْحَاجَةِ او جامع [او اصل بنياد] د ضرورت دفع کول دي فَإِنَّ ذَا الْمَالِ قَدْ لَا يَهْتَدِيْ إِلَى الْعَمَلِ ځکه کله د مال خاوند [د کښتکرۍ] کار ته لار نه مومندي [يعني ځيني وخت مال لرونکی کس د کښتکرۍ په کار نه پوهېږي] وَالْقَوِيُّ عَلَيْهِ لَا يَجِدُ الْمَالَ او پر کار قادر کس بيا مال نه مومندي فَمَسَّتِ الْحَاجَةُ إِلَى انْعِقَادِ هٰذَا الْعَقْدِ بَيْنَهُمَا نو ځکه د داسي دوو کسانو تر مينځ د دغه عقد منعقد کېدلو ته ضرورت پېښ سو بِخِلَافِ دَفْعِ الْغَنَمِ وَالدَّجَاجِ وَدُوْدِ الْقَزِّ مُعَامَلَةً بِنِصْفِ الزَّوَائِدِ په خلاف د بزو [وزو] چرګو او د وربښمي چينجيو د ورکولو د زوائد [يعني له وزو، چرګو او چنجيو څخه د پيدا کېدونکو شيانو] په نصف سره د معامله کولو په توګه [يعني د وزو شيدې او بچي، د چرګو هګۍ او وربښم به زما ستا تر مينځ نيم په نيمه وي، نو داسي معامله جائز نه ده] لِأَنَّهُ لَا أَثَرَ هُنَاكَ لِلْعَمَلِ فِي تَحْصِيلِهَا ځکه چي دلته د زوائدو په حاصلولو کي د يوه د عمل هيڅ اثر نسته فَلَمْ يَتَحَقَّقْ شِرْكَةٌ نو شرکت ثابت نه سو.

اللغات: ﴿مزارعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: کښتکري، ديو چا سره د کښت کرنې معامله کول، يا په بله وينا: بزګر (کښتکر) ته ځمکه ورکول چي هغه يې وکري او څه چي وکړي (يعني پيداوار او غله) هغه به د دواړو تر مينځ مشترک وي، ﴿عَامَلَ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: معامله کول، ﴿غنم﴾ د دې لفظ وضاحت څه مخکي تېر سو، ﴿دجاج﴾ واحد يې دجاجةٌ راځي: چرګي، ﴿دود﴾ واحد يې دودةٌ راځي: چينجي، ﴿القز﴾ وربښم، رېښم، ابرېشم.

۞ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، قال العلامة جلال الدين الخوارزمي رَحِمَهُ الله: إلا أن الفتوى على قولهما لحاجة الناس إليها، ولظهور تعامل الناس بها، والقياس يترك بالتعامل (كفايه ج:٨، ص:٣٨٦)، وفي الخانية: وقال صاحباه: (المزارعة) تجوز إذا استجمعت شرائطها، والفتوى على قولهما، لتعامل الناس في جميع البلدان (ج:٢، ص:٢٢٢)، وفي الدر المختار: وعندهما تصح وبه يفتى للحاجة وقياسا على المضاربة (ج:٥، ص:١٩٣). [القول الراجح ج:٢، ص:٢٨٥]

تشريح. مزارعت د مفاعلې د باب مصدر دی او له زرع څخه مشتق دی چې د هغه معنیٰ ده: إِلْقَاءُ الحَبِّ فِي الأَرْضِ (په ځمکه کې دانه [تخم] اچول) چې په عامه اصطلاح کښت کرنه ورته وايي. او د شريعت په اصطلاح کې د مزارعت معنیٰ ده: د پيداوار (حاصلاتو) د يوې مخصوصې حصې په عوض کې کښتګري کول. د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مزارعت باطل دی. برابره ده هغه پر ربع وي او که پر ثُلث وي (يعني چې ځمکه د پيداوار د څلورمي يا دريمې حصې په کښتګري ورکول سي. په بله وينا: چې ځمکه څومره غله او پيداوار وکړي له هغه څخه يوه حصه زماده او دوې حصې ستا دي [چې دې ته دريمه حصه وايي] يا له هغه څخه درې حصې ستا دي او يوه زما ده [چې دې ته څلورمه وايي]. دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز باطل دي). صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې مزارعت صحيح او جائز دی.

د صاحبينو دليل: د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله نقلي دليل دا دی چې نبي کريم ﷺ د اهلِ خيبر سره د ميوې او کښت د پيداوار پر نصف معامله کړې وه. که دا ناجائز وای. نو نبي ﷺ به دا ډول معامله نه کولای.

عقلي دليل يې دا دی چې څرنګه مضاربت د مال او عمل په مينځ کې د شرکت عقد دی (يعني د يوه کس له طرفه مال دی او د بل له طرفه کار دی چې دا د مال او عمل شرکت دی). همدغه ډول مزارعت هم يو داسې عقد دی. او مضاربت جائز دی. نو د مزارعت په جواز کې هم څه شبهه پکار نه ده. او پر مضاربت د مزارعت قياسولو دليل دا دی چې څرنګه مضاربت ته د خلکو ضرورت پيښيږي. همداسې مزارعت ته هم د خلکو ضرورت او مجبوري پيښيږي؛ ځکه ځيني وخت داسې وي چې يو سړي مال خو لري. لېکن د کښتګرۍ په کار نه پوهيږي. يا يو څوک د کښتګرۍ په کار خو پوهيږي او پکښې ماهره وي. لېکن مال نه لري. نو ځکه دا ډول عقد ته د خلکو ضرورت پيدا سو. او د همدې ضرورت په خاطر هغه جائز ګرځول سوی دی.

بخلاف دفع الغنم إلخ: دا د يو اشکال جواب دی. اشکال دا دی چې څرنګه تاسو د عقد شرکت پر بناء د مزارعت د جائز کېدلو قائلين ياست. همداسې که ميږې (يا بزې) د يوه سړي وي او بل څوک هغوی څروي (پووي) او د هغوی په شيدلو او بچيو کې دواړه مشترک وي (مثلاً د مال مالک يو شپانه ته وايي چې ته زما دغه ميږې او پسونه څروه چې د دې په عوض کې به د هغوی شيدې يا بچې زما او ستا تر مينځ نيم په نيمه وي)، يا چرګانې د يوه وي او بل يو د هغه ساتنه او پالنه کوي. او د هغوی په هګيو او چيچيو کې دواړه مشترک وي. يا همداسې د يوه کس د وريښم چينجيان وي. او بل يو له هغوی څخه وريښم تياروي او په هغه کې دواړه مشترک وي. نو دغه صورتونه هم جائز کېدل پکار دي چې په دوی کې د يوه کس له

طرفه مال دی او د بل کس له طرفه کار دی (لهذا دې ته باید جائز وویل سي)، حال دا چې تاسو دغه صور تونه ناجائز ګرځوی.

د دې په جواب کي صاحب د هدایې فرمایي چې موږ هغه عقد شرکت جائز ګرځولی دی، چې هلته په حاصل سوي شي او زوائدو کي د عامل کار او عمل لره اثر وي، او په مذکوره صورتونو کي د عامل د عمل هیڅ اثر نسته، بلکي بچي ایستل، هګۍ اچول دا خپله د میږي (اوبزې) او چرګي فعل او د هغوی د عمل اثر دی، لهذا په دې شیانو کي ګرسره شرکت متحقق نه دی، او کله چې شرکت نسته، نو په هغوی کي به شرکت هم جائز نه ګرځول کیږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل

وَلَهُ مَا رُوِيَ أَنَّهُ الْعَلِيِّلَا نَهَى عَنِ الْمُخَابَرَةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا روایت دی چې نبي ﷺ له مخابرة څخه منع کړې ده وَهِيَ الْمُزَارَعَةُ او مخابره همدا مزارعت دی وَلِأَنَّهُ اِسْتِئْجَارٌ بِبَعْضِ مَا يَخْرُجُ مِنْ عَمَلِهِ او ځکه چې دا مزارعت په اُجرت نیول دي د هغه څه په بعضي حصې سره کوم چې د ده [اجیر (بزګر)] د کار په وجه راوتلي [پیدا سوي] دي [یعني د عامل او بزګر د کار په وجه چې کوم کښت راوځي، ده ته په اُجرت کي د هغه بعضي حصه ورکوي] فَيَكُونُ فِي مَعْنَى قَفِيزِ الطَّحَّانِ نو دا د قفیز طحان په معنیٰ سره سو وَلِأَنَّ الْأَجْرَ مَجْهُولٌ أَوْ مَعْدُومٌ او ځکه چې اُجرت مجهول دی یا [تر اوسه] معدوم دی وَكُلُّ ذَٰلِكَ مُفْسِدٌ او دا هر یو فاسدونکی دی وَمُعَامَلَةُ النَّبِيِّ ﷺ أَهْلَ خَيْبَرَ كَانَ خَرَاجَ مُقَاسَمَةٍ بِطَرِيقِ الْمَنِّ وَالصُّلْحِ او د اهلِ خیبر سره د نبي ﷺ معامله د احسان او صلح په طریقه سره د خراج مقاسمت په توګه وه وَهُوَ جَائِزٌ او دا جائز دي.

اللغات: ﴿مخابرة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: عقد مزارعت. ﴿استئجار﴾ د استفعال مصدر دی: په اُجرت او مزدوری نیول، په کرایه اخیستل. ﴿قفیز الطحان﴾ د قفیز تعریف مخکي تېر سوی دی چې دا یو پیمانه ده او د طحّان معنیٰ ده: میده کونکی. د غنمو اوړه کونکی (ژرندي والا)، قفیز الطحان یو فقهي اصطلاح ده، صورت یې دا دی چې یو شوک طحان یعني ژرندي والا ته د اوړه کولو لپاره غنم ورکړي او فیصله پر دې وکړي چې کله دا غنم اوړه سي نو تا ته په اُجرت کي له همدې اوړو څخه یو قفیز یا مثلاً شل سېره یا پنځویشت سېره اُوړه درکوم. دا ناجائز دي، ﴿خراج مقاسمة﴾ ځکه چې څومره پیدوار (مثلاً غنم) وکړي، د هغه شلورمه حصه یا درېیمه حصه د خراج په توګه اخیستل، دې ته خراجِ مقاسمت وایي. ﴿مَنّ﴾ احسان.

تشریح: دامام صاحب رَحِمَهُ الله نقلي دليل دا دى چي نبي ﷺ له مخابرة څخه منع کړې ده او مخابره همدې مزارعت ته وايي، معلومه سوه چي نبي ﷺ له مزارعت څخه منع کړې ده.

دامام صاحب رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دى چي په مزارعت کي عامل (بزګر) ته په أجرت او مزدورۍ کي هغه څه ورکول کيږي کوم چي د خودي عامل په عمل سره حاصليږي (مثلاً که عامل د غنمو کښتکري وکړي، نو ښکاره ده چي هغه ته له همدې غنمو څخه أجرت ورکول کيږي)، او همدا صورت په قفيزِ طحان کي هم وي چي کله دژرندي والا غنم اوړه کړي، نو د غنمو مالک هغه ته په أجرت کي له همدې اُوړو څخه اُوړه ورکوي، او مخکي ذکر سوه چي له قفيز طحان څخه په حديث کي منع سوې ده، نو کوم شی چي د قفيز طحان په درجه کي وي (يعني مزارعت)، پر هغه به هم د ممانعت حکم لګول کيږي.

دويم عقلي دليل دا دى چي دا معلومه نه ده چي پيداوار به وسي، که نه؟، که چيري پيداوار کيږي (يعني دا معلومه وي چي څمکه مثلاً غنم کوي)، نو په دې صورت کي أجرت مجهوله دی؛ ځکه دا معلومه نه ده چي څومره پيداوار (غنم) به وسي، بيا له هغه څخه ربع يا ثلث ويستل سي، او که چيري پيداوار نه کيږي، نو اُجرت ګرسره معدوم پاتيږي (يعني عامل ته هيڅ أجرت نه حاصليږي). او دأجرت مجهول کېدل او معدوم کېدل دا دواړه دأجاره لپاره مفسد دي. نو ځکه په دې وجه هم مزارعت باطل دی.

ومعاملة النبي ﷺ إلخ: په دې سره د صاحبينو د قياس جواب ورکوي چي دوی پر دې قياس مزارعت جائز ګرځولی دی چي نبي کريم ﷺ داهلِ خيبر سره دا معامله کړې وه. د جواب حاصل دا دی چي ستاسو دا قياس صحيح نه دی؛ ځکه داهلِ خيبر سره د نبي ﷺ دا معامله د خراجِ مقاسمت په توګه وه، نه د مزارعت په توګه (په بله وينا دا چي دا به نبي ﷺ له اهلِ خيبر څخه خراج اخيستو. چي د هغه صورت دا وو چي ستاسو څمکه څومره پيداوار وکړي له هغه څخه به څلورمه يا دريمه په خراج کي راکوئ) او نبي کريم ﷺ د صلح او احسان په توګه د دوی سره دا معامله کړې وه. لهذا پر هغه قياس کول او پر دې بناء مزارعت ته جائز ويل صحيح نه دي.

دامام صاحب رَحِمَهُ الله د قول تفريعات

وَإِذَا فَسَدَتْ عِنْدَهُ او کله چي دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مزارعت فاسد سو فَإِنْ سَقَى الْأَرْضَ وَكَرَبَهَا وَلَمْ يَخْرُجْ شَيْءٌ مِنْهُ نو که عامل ځمکه اوبه کړي او هغه سره واړوي او هيڅ نه را ووځي [يعني هيڅ پيداوار او غله نه وسي] فَلَهُ أَجْرُ مِثْلِهِ نو د عامل لپاره اُجرت مثلي دی [يعني په دې صورت کي به بزګر ته اُجرت مثلي ورکول کيږي] لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى إِجَارَةٍ فَاسِدَةٍ ځکه چي دا داجارهٔ فاسده په معنیٰ سره

دی وَهٰذَا إِذَا كَانَ الْبَذْرُ مِنْ قِبَلِ صَاحِبِ الْأَرْضِ او دا هغه وخت کله چي تخم د ځمکي والا [مالک أرض] له طرفه وي وَإِذَا كَانَ الْبَذْرُ مِنْ قِبَلِهِ او که تخم د عامل له طرفه وي فَعَلَيْهِ أَجْرُ مِثْلِ الْأَرْضِ نو [په دې صورت] پر هغه د ځمکي أجرت مثلي لازم دی وَالْخَارِجُ فِي الْوَجْهَيْنِ لِصَاحِبِ الْبَذْرِ او پیداوار په دواړو صورتونو کي د تخم والا دی لِأَنَّهُ نَمَاءُ مِلْكِهِ ځکه چي دا د هغه د ملکیت وده [او پیداوار] دی وَلِلْآخَرِ الْأَجْرُ او د بل لپاره أجرت دی كَمَا فَصَّلْنَا لکه څرنګه چي موږ په تفصیل سره بیان کړه إِلَّا أَنَّ الْفَتْوٰى عَلٰى قَوْلِهِمَا خو فتویٰ د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله پر قول ده لِحَاجَةِ النَّاسِ إِلَيْهِمَا ځکه چي مزارعت ته د خلکو ضرورت دی وَلِظُهُورِ تَعَامُلِ الْأُمَّةِ بِهَا او [ځکه چي] پرې دې د أمت تعامل ښکاره دی وَالْقِيَاسُ يُتْرَكُ بِالتَّعَامُلِ او د تعامل په وجه قیاس پرېښوول کیږي كَمَا فِي الْاِسْتِصْنَاعِ لکه څرنګه چي په استصناع کي کیږي.

اللغات: ﴿سقی﴾ د ضرب د باب ماضي ده: اوبه کول، اوبه ورکول. ﴿كَرَبَ﴾ د نصر د باب ماضي ده، كَرَبَ يَكْرُبُ كَرْبًا وَكِرَابًا: ځمکه د کرني لپاره اړول او سمول چي د کښت کرني قابله سي، یوې (یېوې) کول. ﴿أجر مثل﴾ أجرت مثلي (مثلي أجرت)، د یو کار، یوشي او مزدور چي کوم عمومي أجرت وي، یا په بازار کي چي د یو کار یا یو شي کوم عام رېټ چلیږي، هغه ته أجر مثل وايي، ﴿نماء﴾ اضافه، وده. ﴿استصناع﴾ د استفعال د باب مصدر دی. له صُنع څخه مشتق دی: په اړه یو شي جوړول (په فرمایش جوړول) مثلاً یو کس کمپنۍ والا ته د خپلي پښې ناپ ورکړي چي دومره څپلۍ زما لپاره جوړي کړه، یا مثلاً یو نجار ته ناپ ورکړي چي زما لپاره دومره پلنګ یا کټ جوړ کړه نو دې ته استصناع وايي، څرنګه چي اوس هغه څپلۍ یا پلنګ معدوم دي، لهذا د هغه بیع جائز کېدل پکار نه دي، لېکن څرنګه چي پر دې د خلکو تعامل دی. نو ځکه هغه اوس جائز دي.

تشريح: په دې عبارت کي صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله پر مسلک مسئله متفرع کړې ده، حاصل یې دا دی چي کله د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز مزارعت فاسد دی، نو که دوه کسان مزارعت سره وکړي چي یو صاحب الأرض وي او بل عامل وي (یعني ځمکه د یوه له طرفه وي او د کښتګرۍ عمل د بل له طرفه وي). او عامل خپل عمل او محنت وکړي، لېکن هیڅ پیداوار نه وسي، نو د دې دوه صورتونه دي: ① ... که چیري عامل خپل محنت کړی وي او تخم د ځمکي د مالک (صاحب الارض) له طرفه وي، نو عامل ته به د خپل محنت په عوض کي أجرت مثلي ورکول کیږي.

② ... كه عامل محنت كړى وي او تخم هم د هغه له طرفه وي (خپل تخم يې كرلى وي)، نو په دې صورت كې د عامل پر غاړه د صاحبُ الأرض د ځمكې مثلي أجرت واجبيږي. يعني پيداوار په هر حال كې تخم والا ته حاصليږي، برابره ده تخم د ځمكې د مالك وي يا د عامل.

لېكن د مزارعت په باب كې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول مفتىٰ به دى؛ ځكه پر همهغه د خلكو عمل دى او د خلكو مزارعت ته ضرورت هم پېښيږي، او أُصول دا دى چې د تعامل په وجه قياس او داسې نور پرېښوول كيږي، مثلاً استصناع يعني په اډر او فرمايش يو شى جوړول، ښكاره خبره ده چې په دې كې د معدوم شي بيع ده (ځكه شى تر اوسه جوړ سوى نه دى بلكې تر اډر وروسته يې جوړوي) كوم چې د قياس له رويه غير صحيح دي، خو د خلكو د تعامل په وجه دا ضورت جائز گرځول سوى دى او په خلكو كې مشهور، معروف او متداول دى. نو همدغه ډول د تعامل او ضرورت پر بناء مزارعت هم جائز گرځول سوى دى او نن سبا همدا مفتىٰ به قول دى.

د صاحبينو د قول تفريعات

ثُمَّ الْمُزَارَعَةُ لِصِحَّتِهَا عَلَىٰ قَوْلِ مَنْ يُجِيزُهَا شُرُوطٌ بيا د مزارعت د صحيح كېدو لپاره د هغه چا پر قول چې مزارعت جائز گرځوي [يعني د صاحبينو په نيز] څو شرطونه دي أَحَدُهَا كَوْنُ الْأَرْضِ صَالِحَةً لِلزِّرَاعَةِ [١] يو شرط دا دى چې ځمكه به د كښتكرۍ قابله وي [يعني د ځه راشنه كولو صلاحيت به لري] لِأَنَّ الْمَقْصُودَ لَا يَحْصُلُ بِدُونِهِ ځكه چې له دې څخه بغير مقصود نه حاصليږي وَالثَّانِي أَنْ يَكُونَ رَبُّ الْأَرْضِ وَالْمُزَارِعُ مِنْ أَهْلِ الْعَقْدِ [٢] او دويم شرط دا دى چې ځمكې والا او كښتكر به له اهلِ عقد څخه وي [د عقد كولو اهل به وي] وَهُوَ لَا يَخْتَصُّ بِهِ او دا شرط [اهلِ عقد كېدل] يوازې د دغه عقد سره خاص نه دي لِأَنَّهُ عَقْدًا مَا لَا يَصِحُّ إِلَّا مِنَ الْأَهْلِ ځكه چې هيڅ عقد هم نه صحيح كيږي مگر د اهل له طرفه وَالثَّالِثُ بَيَانُ الْمُدَّةِ [٣] او دريم شرط د مودت بيانول دي لِأَنَّهُ عَقْدٌ عَلَىٰ مَنَافِعِ الْأَرْضِ أَوْ مَنَافِعِ الْعَامِلِ ځكه چې دا [مزارعت] د ځمكې يا عامل پر منافعو عقد دى وَالْمُدَّةُ هِيَ الْمِعْيَارُ لَهَا لِتُعْلَمَ بِهَا او همدا مودت د منافعو لپاره ميعار دى چې د هغه په ذريعه منافع معلوميږي وَالرَّابِعُ بَيَانُ مَنْ عَلَيْهِ الْبَذْرُ [۴] او څلورم شرط د دې بيانول دي چې تخم پر چا دى قَطْعًا لِلْمُنَازَعَةِ وَإِعْلَامًا لِلْمَعْقُودِ عَلَيْهِ د نزاع ختمولو او د معقود عليه ښوولو لپاره وَهُوَ مَنَافِعُ الْأَرْضِ أَوْ مَنَافِعُ الْعَامِلِ او هغه [معقود عليه] د ځمكې يا عامل [كښتكر] منافع دي.

اللغات: ﴿يجيز﴾ د افعال د باب مضارع ده: اجازت ورکول. ﴿صالحة﴾ د کرُم د باب فاعل دی: صلاحت او وړتیا لرونکی. ﴿أهل عقد﴾ یعني عاقل، بالغ او آزاد به وي. ﴿إعلام﴾ د افعال د باب مصدر دی: اګاه کول او خبرول، اطلاع ورکول. ﴿معقود عليه﴾ پر کوم شي چي عقد او معامله سوې وي.

تشریح: صاحبین رَحِمَهُمَا الله مزارعت جائز خو ګرځولی دی لېکن مطلقاً نه، بلکي په اته (۸) شرطو سره کوم چي په ترتیب سره صاحب د هدایې بیان کړي دي:

① ... اول شرط دا دی چي مزارعت په داسي ځمکه کي جائز دی کوم چي د کښت قابله وي، ځکه که په ځمکه کي یو شی نه سي کرل کېدای او نه را شین کیږي، نو د مزارعت مقصد یعني انتفاع فوتیږي.

② ... دویم شرط دا دی چي مزارع (عامل) او د ځمکي مالک دواړه به عاقل، بالغ او پر تصرّفاتو قادر وي؛ ځکه د نا اهل هیڅ کار هم معتبر نه وي، لکه څرنګه چي په نورو معاملاتو کي هم د عاقدَینو اهل کېدل مطلوب دي.

③ ... درېیم شرط دا دی چي د مزارعت مدت به هم ټاکل کیږي (چي مثلاً دا ځمکه زه دیوه کال لپاره په مزارعت او بزګری درکوم)، ځکه چي مزارعت د ځمکي پر منافعو عقد کول دي یا د عامل پر منافعو عقد کول دي (کله چي تخم د عامل له طرفه وي)، او د دواړو منافعو د متعیّنولو معیار همدا مودت دی، یعني په همدې مودت سره معلومیږي چي منافع څومره دي، نو ځکه د مودت تعیین او ټاکل ضروري دي.

④ ... څلورم شرط دا دی چي دا به هم معلومول کیږي چي تخم به پر کوم یوه وي، د دې لپاره چي معقود علیه معلوم سي چي هغه د ځمکي د مالک نفع ده یا د عامل؛ ځکه که تخم د ځمکي د مالک وي نو پیداوار د هغه کیږي او هغه ګواکي عامل په اُجرت نیولی دی، او که تخم د عامل وي، نو پیداوار د عامل کیږي او عامل ګواکي ځمکه په اُجرت نیولې ده، نو تخم به پر چا وي د دې په متعیّنولو سره دا معلومیږي چي پیداوار به د چا وي او عامل و مزدور به څوک وي، نو ځکه د هغه متعیّنول ضروري دی، د دې لپاره چي وروسته مزارعت د جنګ او جنجال سبب جوړ نه سي.

د پورتنۍ مسئلې پاته حصه

وَالْخَامِسُ بَيَانُ نَصِيْبِ مَنْ لَا بَذْرَ مِنْ قِبَلِهِ [۵] او پنځم شرط د هغه یوه د حصې بیانول دي چي د هغه له طرفه تخم نه وي لِأَنَّهُ يَسْتَحِقُّهُ عِوَضًا بِالشَّرْطِ ځکه چي هغه د حصې مستحق کیږي د عوض په توګه د شرط پر بناء [یا په لنډه وینا دا چي هغه د شرط په وجه د عوض مستحق کیږي] فَلَا بُدَّ أَنْ يَكُوْنَ مَعْلُوْمًا نو ځکه د هغه معلومېدل ضروري دي وَمَا لَا يُعْلَمُ او کوم شی چي معلوم نه وي لَا

يَسْتَحِقُّ شَرْطًا بِالْعَقْدِ هغه په عقد سره په شرطولو سره نه مستحق کيږي [يا په بله وينا دا چې هغه شی په عقد کې په شرط جوړولو سره نه مستحق کيږي] وَالسَّادِسُ أَنْ يُخَلِّيَ رَبُّ الْأَرْضِ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْعَامِلِ [۶] او شپږم شرط دا دی چې د ځمکې مالک به ځمکه او عامل سره پريږدي [يعنې کاملاً به ځمکه عامل ته سپاري] حَتَّى لَوْ شَرَطَ عَمَلَ رَبِّ الْأَرْضِ همدا وجه ده که د ځمکې د مالک د کار کولو شرط ولګوي يَفْسُدُ الْعَقْدُ نو عقد فاسديږي لِفَوَاتِ التَّخْلِيَةِ ځکه چې تخليه [او ورسپارل] فوت سوه وَالسَّابِعُ الشَّرِكَةُ فِي الْخَارِجِ بَعْدَ حُصُولِهِ [۷] اووم شرط د پيداوار تر حاصليدو وروسته په هغه کې [د دواړو] شريک کېدل دي [يعنې چې څومره پيداوار وسي په هغه کې به د دواړو شرکت وي] لِأَنَّهُ يَنْعَقِدُ شَرِكَةً فِي الِانْتِهَاءِ ځکه چې دا عقد [مزارعت] په انتهاء کې شرکت منعقد کيږي [يا په بله وينا دا چې دا عقد په آخر کې شرکت وي] فَمَا يَقْطَعُ هَذِهِ الشَّرِكَةَ نو کوم شرط چې دغه شرکت ختموي كَانَ مُفْسِدًا لِلْعَقْدِ هغه به د عقد فاسدونکی وي وَالثَّامِنُ بَيَانُ جِنْسِ الْبَذْرِ [۸] او اتم شرط د تخم جنس بيانول دي [چې کوم شی کري] لِيَصِيرَ الْأَجْرُ مَعْلُومًا د دې لپاره چې [د عامل] اُجرت معلوم سي.

اللغات: ﴿يخلّي﴾ د تفعيل د باب مضارع ده. خَلّٰى يُخَلِّيْ تَخْلِيَةً: د دې باب څو معناوې دي چې د صلې په بدلون سره يې معنىٰ هم بدليږي: آزاد پرېښوول. دوه شيان يا دوه کسان په خپل مينځ کې سره پرېښوول. کله چې د مبيع او داسې نورو سره ذکر سي. نو د "ورسپارلو" معنىٰ ورکوي. دلته يې مطلب دا دی چې له ځمکې څخه خپل قبضه ختمول او د بزګر (عامل) په قبضه کې ورکول چې ته پوه سوې کار دې پوه سو!.

تشريح: د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د مزارعت د جواز ⑤ پنځم شرط دا دی چې د کوم يوه له طرفه تخم نه وي، د هغه حصه (اجرت) به متعيّنول کيږي. مثلاً څلورمه حصه (رُبع) يا دريمه. ځکه چې دا کس د شرط په وجه د خپل حصې (اجرت) مستحق کيږي، نو ځکه د حصې متعيّنول ضروري دي، کنې د شرط په وجه به د هغه استحقاق څنګه ثابت سي (وما لا يعلم لا يستحق... يعنې که له مخکې څخه حصه او اُجرت متعين نه وي. نو بيا هغه ته د عقد په وجه هيڅ نه حاصليږي؛ ځکه د هغه اُجرت متعيّن نه دی).

⑥... د شپږم شرط حاصل دا دی چې د ځمکې مالک دې ځمکه او عامل سره پريږدي يعنې خپل قبضه دې ختم کړي او ځمکه دې عامل (بزګر) ته وسپاري. لهذا که د ځمکې د مالک د عمل شرط

ولګول سي (چي هغه به هم په دې ځمکه کي د کښتګرۍ کار کوي)، نو مزارعت فاسديږي؛ ځکه تخليه (ځمکه او عامل سره پرېښوول) شرط او ضروري دي.

⑦... داووم شرط تفصيل دا دی چي کوم پيداوار (مثلاً غنم) وسي، په هغه کي به د ځمکي مالک او عامل دواړه شريکان وي، لهذا که له مخکي څخه يو دا شرط ولګوي چي مثلاً ما ته به لس منه (غنم) راکول کيږي، نو په دې صورت کي مزارعت فاسيږي؛ ځکه چي دا شرط د عقد د متقضا خلاف دی.

⑧... اتم شرط دا دی چي دا به هم بيانوي چي د کوم شي کښت کوي (کوم شی کري) مثلاً غنم، يا اوربشي يا جوار او داسي نور؛ ځکه چي اُجرت له همدې پيداوار څخه ورکول کيږي، نو چي کرل کېدونکی شی هم متعيّن کړی سي نو عامل ته به له مخکي څخه معلومه وي چي ما ته کوم شی په اُجرت کي راکول کيږي، غنم يا اوربشي يا وريجي؛ ځکه له مخکي څخه د اُجرت د جنس معلومېدل ضروري دي.

د صاحبينو په نېز د مزارعت صورتونه

قَالَ: وَهِيَ عِنْدَهُمَا عَلَى أَرْبَعَةِ أَوْجُهٍ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او مزارعت د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر څلورو صورتونو دی [يعني د دوی په نېز د مزارعت څلور طريقې او صورتونه دي] إِنْ كَانَتِ الْأَرْضُ وَالْبَذْرُ لِوَاحِدٍ وَالْبَقَرُ وَالْعَمَلُ لِوَاحِدٍ [۱] که چيري ځمکه او تخم د يوه وي او غويی او کار د بل وي جَازَتِ الْمُزَارَعَةُ نو مزارعت جائز دی لِأَنَّ الْبَقَرَ آلَةُ الْعَمَلِ ځکه چي غويی د عمل [کار] آله ده فَصَارَ كَمَا إِذَا اسْتَأْجَرَ خَيَّاطًا لِيَخِيطَ بِإِبْرَةِ الْخَيَّاطِ نو داسي سو لکه څوک چي [پر دې شرط] خياط په اُجرت ونيسي چي هغه به په خپل ستن سره ګنډل کوي وَإِنْ كَانَتِ الْأَرْضُ لِوَاحِدٍ وَالْعَمَلُ وَالْبَقَرُ وَالْبَذْرُ لِوَاحِدٍ او که چيري ځمکه د يوه وي او کار، غويی او تخم د بل يوه وي جَازَتْ نو هم مزارعت جائز دی لِأَنَّهُ اسْتِئْجَارُ الْأَرْضِ بِبَعْضٍ مَعْلُومٍ مِنَ الْخَارِجِ ځکه چي دا د پيداوار د بعضي معلوم مقدار په عوض کي په اُجرت اخيستل دي فَيَجُوزُ نو دا به جائز وي كَمَا إِذَا اسْتَأْجَرَهَا بِدَرَاهِمَ مَعْلُومَةٍ لکه څرنګه چي څوک د معلومو دراهمو په عوض کي ځمکه په اُجرت واخلي.

اللغات: ﴿أوجه﴾ جمع د "وَجْهٌ" ده: شکل، صورت، طريقه. ﴿بقر﴾ غويی، کوم چي د ځمکي اړولو او يوې کولو آله ده. ﴿خيّاط﴾ کپړه ګنډونکی، جامه جوړونکی، درزي. ﴿إبرة﴾ ستن (ستنه).

تشريح: دا تاسو ته معلومه سوه چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په اتو شرطونو سره مزارعت جائز دی، اوس له دې ځايه د مزارعت څو صورتونه بيانوي:

(۱)... که چيري ځمکه او تخم د يوه له طرفه وي او غويي او عمل (کار) د بل له طرفه وي، نو په دې صورت کي مزارعت جائز دی؛ ځکه چي غويي د عمل آله ده، د دې مثال داسي دی لکه څوک چي خياط ته پر دې شرط خپل کپړه په اُجرت ورکړي چي خياط به خاص په خپل ستن سره زما کپړه جوړوي (يعني صراحتاً دا شرط ولګوي). نو دا صورت جائز دی، لهذا همدغه ډول دلته هم د مزارعت مذکوره صورت جائز دی، ځکه دلته د ځمکي مالک خپل ځمکه عامل ته په اُجرت ورکوي.

(۲)... د مزارعت دويم صورت دا دی چي فقط ځمکه د يوه له طرفه وي او تخم، غويي او کار درې سره د بل يوه له طرفه وي، نو دا صورت هم جائز دی؛ ځکه چي په دې صورت کي تخم والا (عامل) د پيداوار د متعيّن مقدار په عوض کي ځمکه په اُجرت اخيستې ده، او دا داسي ده لکه څوک چي د متعينو دراهمو په عوض کي ځمکه په اُجرت واخلي چي هغه جائز دي، نو د پيداوار د معلوم مقدار په عوض کي به هم د ځمکي په اُجرت اخيستل جائز وي.

د مزارعت يو بل صورت

وَإِنْ كَانَتِ الْأَرْضُ وَالْبَذْرُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ وَالْعَمَلُ مِنْ آخَرَ [۳] او که چيري ځمکه، تخم او غويي د يوه وي او عمل د بل له طرفه وي جَازَتْ نو هم مزارعت جائز دی لِأَنَّهُ اسْتَأْجَرَهُ لِلْعَمَلِ بِآلَةِ الْمُسْتَأْجِرِ ځکه چي مستأجر [يعني د ځمکي مالک] په خپل آله سره عامل د عمل لپاره په اُجرت نيولی دی فَصَارَ كَمَا إِذَا اسْتَأْجَرَ خَيَّاطًا لِيَخِيطَ ثَوْبَهُ بِإِبْرَتِهِ نو داسي سو لکه څوک چي خياط [پر دې شرط] په اُجرت ونيسي چي هغه به زما کپړه زما په ستن ګنډي أَوْ طَيَّانًا لِيُطَيِّنَ بِمَرِّهِ يا ختګر [مستري] په اُجرت ونيسي چي هغه به زما په بېلچه سره ختګري کوي.

اللغات: ﴿طيّان﴾ ختګر، معمار او مستري، ګلکار، ﴿يطين﴾ ختګري کول، ګل کول، ﴿مَرّ﴾ صاحب د معجم الوسيط د دې لفظ معنیٰ په مِسْحَاة سره کړې ده چي د هغه معنیٰ ده: آلَةُ القَشْرِ والجَرْفِ يعني د کيندلو، پوستولو او توړلو آله، چي پر ګلنګ، تېشه، بېلچه ټولو د دې اطلاق کيږي.

تشريح: (۳)... د مزارعت د درېيم صورت حاصل دا دی چي که ځمکه، تخم او غويي درې سره د يوه له طرفه وي او فقط کار د بل يوه له طرفه وي، نو په دې صورت کي هم مزارعت جائز دی؛ ځکه دا داسي ده لکه د ځمکي مالک چي په خپل آله يعني بقر سره عامل په اُجرت نيولی دی (چي عامل د هغه په

غويي سره کار کوي، لنډه دا چي دلته د ځمکي مالک عامل په اُجرت او مزدوري نيولی دی). نو د دې مثال دا دی لکه څوک چي په دې شرط خياط په اُجرت ونيسي يعني په دې شرط خپل کپړه په اُجرت ورکړي چي صرف زما په ستن به هغه جوړوې، يا مستري پر دې شرط په اُجرت ونيسي چي صرف زما په ګلماله به کار کوې، نو دا صورت جائز دی، همدغه ډول مذکوره صورت هم جائز دی.

په ظاهر روايت کي باطل صورت کوم چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز جائز دی

وَإِنْ كَانَتِ الْأَرْضُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ وَالْبَذْرُ وَالْعَمَلُ لِآخَرَ [۴] او که چېري ځمکه او غويي د يوه وي او تخم او عمل [کار] د بل يوه وي فَهِيَ بَاطِلَةٌ نو دا مزارعت باطل دی وَهٰذَا الَّذِي ذَكَرَهُ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ او دغه [قول] کوم چي امام قدوري رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی ظاهر روايت دی وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَجُوزُ أَيْضًا او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چي دا هم جائز دي لِأَنَّهُ لَوْ شَرَطَ الْبَذْرَ وَالْبَقَرَ عَلَيْهِ ځکه که پر ځمکي والا [مالک أرض] باندي تخم او غويي شرط کړی سي يَجُوزُ نو دا جائز دي فَكَذَا إِذَا شَرَطَ وَحْدَهُ نو همداسي [به دا هم جائز وي] کله چي پر هغه صرف غويي شرط کړی سي وَصَارَ كَجَانِبِ الْعَامِلِ او دا د عامل د جانب په څېر سو [يعني لکه پر هغه چي صرف د غويي شرط کول جائز دي] وَجْهُ الظَّاهِرِ: أَنَّ مَنْفَعَةَ الْبَقَرِ لَيْسَتْ مِنْ جِنْسِ مَنْفَعَةِ الْأَرْضِ د ظاهر روايت دليل دا دی: چي د غويي منفعت د ځمکي د منفعت له جنس څخه نه دی لِأَنَّ مَنْفَعَةَ الْأَرْضِ قُوَّةٌ فِي طَبْعِهَا يَحْصُلُ بِهَا النَّمَاءُ ځکه چي د ځمکي منفعت د هغې په فطرت کي يو قوت دی چي په هغه سره وده [پيداوار] حاصلېږي وَمَنْفَعَةُ الْبَقَرِ صَلَاحِيَةٌ يُقَامُ بِهَا الْعَمَلُ او د غويي منفعت يو صلاحيت دی چي په هغه سره [د ځمکي اړولو] کار قائمول کيږي كُلُّ ذٰلِكَ بِخَلْقِ اللهِ تَعَالَىٰ او دا ټوله د الله د خلق [تخليق] په وجه دي فَلَمْ يَتَجَانَسَا نو د دواړو منفعت سره همجنس نه سو فَتَعَذَّرَ أَنْ تُجْعَلَ تَابِعَةً لَهَا نو متعذر [ناممکن] سوه چي د غويي منفعت د ځمکي د منفعت تابع کړی سي بِخِلَافِ جَانِبِ الْعَامِلِ په خلاف د عامل د طرف لِأَنَّهُ تَجَانَسَتِ الْمَنْفَعَتَانِ ځکه چي [هلته] دوه منفعتونه سره همجنس دي فَجُعِلَتْ تَابِعَةً لِمَنْفَعَةِ الْعَامِلِ نو د غويي منفعت د عامل د منفعت تابع کړی سو.

اللغات: ﴿نماء﴾ اضافه، وده. ﴿لم يتجانسا﴾ د تفاعل له بابه د جحد صيغه ده: يو د بل سره هم جنس کېدل (همجنس کېدل).

تشريح: (۴)... دا د مزارعت څلورم صورت دی کوم چي د ظاهر روایت مطابق باطل او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز جائز دی، هغه صورت دا دی چي ځمکه او غویی د یوه له طرفه وي او تخم او کار د بل له طرفه وي، نو امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دا صورت جائز ګرځولی دی؛ د هغه دلیل دا دی چي څرنګه چي دا صورت جائز دی چي بذر او بقر دواړه د ځمکي د مالک له طرفه وي، نو همداسي که د هغه له طرفه له بذر او بقر څخه صِرف یو شی وي، نو هم به مزارعت جائز وي. او لکه کله چي بقر (غویی) د عامل له طرفه وي، نو مزارعت جائز دی، نو همداسي که بقر د ځمکي د مالک له طرفه وي، نو هم به مزارعت جائز کیږي.

وجه الظاهر إلخ: له دې ځایه د ظاهر روایت دلیل بیانوي، چي آسانه حاصل یې دا دی چي ځمکه دا صلاحیت لري چي له هغې څخه پیداوار (مثلاً غنم) راوځي او د غویي صلاحیت دا دی چي په هغه سره ځمکه اړول کیږي، نو د بقر منفعت د ځمکي د منفعت له جنس څخه نه دی، لهذا د بقر منفعت د ځمکي د منفعت نه سي تابع کول کېدای، او د دې رواج هم نسته چي د غویي منفعت (یعني غویی) د پیداوار په عوض کي په اُجرت ونیول سي (مثلاً د څو منه غنمو په عوض کي غویی په اُجرت واخیستل سي)، لنډه دا چي دوی دوه جلا جنسونه سوه، نو د بقر منفعت بغیر له اُجرته باقي پاته سو، نو ځکه د مزارعت دا صورت باطل دی. (اثمار الهدایه)

بخلاف جانب العامل إلخ: په دې سره د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د قیاس جواب ورکوي (چي هغه وفرمایل چي لکه کله چي بقر د عامل له طرفه وي...). حاصل یې دا دی چي دا مذکوره (څلورم) صورت د عامل والا پر صورت قیاسول صحیح نه دي؛ ځکه چي هلته د بقر منفعت او د عامل منفعت یو جنس دی (نه جلا دوه جنسونه)؛ ځکه د عامل کار عمل (د کښتګری کار کول) دي او بقر د هغه د عمل یو جنس دی. لهذا کله چي هلته دواړه منفعتونه د یوه جنس دي، نو یو د بل په تابع ګرځولو سره هلته مزارعت جائز کړی سوی دی. او چیري چي منفعتونه مختلف الجنس وي (لکه دا مذکوره صورت) نو هلته یو د بل نه سي تابع کول کېدای، نو ځکه په مذکوره صورت کي مزارعت نه دی جائز کړی سوی.

د مزارعت څو ناجائز صورتونه

وَهٰهُنَا وَجْهَانِ آخَرَانِ لَمْ يَذْكُرْهُمَا او دلته دوه نور صورتونه هم سته کوم چي امام قدوري رَحِمَهُ الله نه دي ذکر کړي أَحَدُهُمَا أَنْ يَكُونَ الْبَذْرُ لِأَحَدِهِمَا وَالْأَرْضُ وَالْبَقَرُ وَالْعَمَلُ لِآخَرَ [۱] د هغوی یو صورت دا دی چي تخم د یوه وي او ځمکه، تخم او عمل [کار] د بل یوه وي فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ نو دا جائز نه دی لِأَنَّهُ

يَتِمُّ شَرِكَةً بَيْنَ الْبَذْرِ وَالْعَمَلِ ځکه چي دا عقد د تخم او عمل تر مينځ په شرکت سره پوره سو[يا په بله وينا دا چي دا د تخم او عمل تر مينځ شرکت سو] وَلَمْ يَرِدْ بِهِ الشَّرْعُ حال دا چي په دې باره کي شريعت نه دی وارد سوی وَالثَّانِي أَنْ يُجْمَعَ بَيْنَ الْبَذْرِ وَالْبَقَرِ [۲] دويم صورت دا دی چي د تخم او عمل تر مينځ [عقد] جمع کړی سي [يعني تخم او غويی ديوه وي او ځمکه او عمل د بل يوه وي] وَأَنَّهُ لَا يَجُوزُ أَيْضًا او دا هم جائز نه دي لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ عِنْدَ الِانْفِرَادِ ځکه چي دا د انفراد په وخت کي جائز نه دي [يعني که يوازي تخم يا يوازي غويی ديوه وي او نور د بل چاوي، نو دا جائز نه دي] فَكَذَا عِنْدَ الِاجْتِمَاعِ نو همداسي به د اجتماع په وخت کي [چي تخم او غويی دواړه ديوه وي] هم جائز نه وي وَالْخَارِجُ فِي الْوَجْهَيْنِ لِصَاحِبِ الْبَذْرِ فِي رِوَايَةٍ او پيداوار په دواړو صورتونو کي د تخم والا کيږي ديوه روايت مطابق اعْتِبَارًا بِسَائِرِ الْمُزَارَعَاتِ الْفَاسِدَةِ پر نورو فاسدو مزارعتونو په قياس کولو سره وَفِي رِوَايَةٍ لِصَاحِبِ الْأَرْضِ او ديوه روايت مطابق پيداوار د ځمکي د مالک کيږي وَيَصِيرُ مُسْتَقْرِضًا لِلْبَذْرِ قَابِضًا لَهُ لِاتِّصَالِهِ بِأَرْضِهِ او هغه د تخم قرض اخيستونکی ګرځي [او] په داسي حال کي هغه پر تخم قبضه کونکی کيږي د هغه د ځمکي سره د تخم متصل کېدلو په وجه [په آسانه وينا: دويم روايت دا دی چي کله مزارعت فاسد سو. نو پيداوار د ځمکي والا کيږي. او د دې تأويل به داسي کيږي چي د ځمکي مالک له تخم والا شخه تخم په قرض واخيستی، او کله چي دا تخم د هغه په ځمکه کي کښېښول سو او وکرل سو. نو پر دې تخم د ځمکي د مالک قبضه راغله (يعني تخم د ځمکي والا سو)، لهذا کله چي تخم د ځمکي والا سو. نو پيداوار او غله به هم د هغه وي (اثمار الهدايه)].

اللغات: ﴿مستقرض﴾ د استفعال د باب فاعل دی: په قرض اخيستونکی.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ اللهُ په دې عبارت کي د مزارعت باطلېدلو دوه نور صورتونه بيان کړي دي چي هغه امام قدوري رَحِمَهُ اللهُ نه دي ذکر کړي، له هغوی شخه اول صورت دا دی چي ديوه کس له طرفه صرف تخم وي او د بل له طرفه ځمکه غويی او عمل درې سره شيان وي، دا صورت باطل دی، او په دې صورت کي د مزارعت باطلېدلو يوه وجه خو همدا ده چي دا صورت د شرع د مورد خلاف دی، او دويمه وجه دا ده چي دلته د تخم او عمل په مينځ کي شرکت کيږي کوم چي صحيح نه دي؛ ځکه کله چي ديوه له طرفه صرف تخم وي او پاته شيان د بل چا له طرفه وي. نو ځمکه او عمل به دواړه ديوه وطرف ته وي، حال دا چي د عامل او ځمکي تر مينځ تخليه ضروري ده او د مزارعت

صحیح کېدو لپاره تخلیه شرط ده، د دې لپاره چې عامل بالکل فارغ البال سي او خپل کار وکړ سي. نو د دغه شرط د فوتېدلو په وجه دلته مزارعت باطلیږي. (احسن الهدایه)

دریم صورت دا دی چې د یوه له طرفه تخم او غوبی وي او د بل له طرفه عمل او ځمکه وي، په دې صورت کې هم مزارعت باطل دی، او د مزارعت باطلېدلو وجه دا ده چې که یو طرف ته یوازې غوبی وي او بل طرف ته نور شیان (یعني عمل، ځمکه او تخم) وي، یا یوه طرف ته یوازې تخم وي او بل طرف ته نور شیان وي، نو هم مزارعت فاسدیږي، او کوم شی په انفرادي حالت کې صحیح نه دی، هغه په اجتماعي حالت کې څنګه صحیح کېدای سي.

والخارج إلخ: په دې سره یو بله مسئله بیانوي، چې د هغه حاصل دا دی چې د مزارعت په دې پورتني دوو صورتونو کې پیداوار د چا حق کیږي، نو په دې باره کې دوه قولونه دي:

① ... څرنګه چې په نورو مزارعات فاسده وو کې پیداوار د تخم والا (صاحب البذر) کیږي، همداسي به دلته هم د هغه وي.

② ... دویم قول دا دی چې پیداوار د ځمکې والا (صاحب الأرض) کیږي او هغه به له تخم والا څخه مستقرض منل کیږي، مګر بیا دا اشکال کیږي چې د قرض لپاره خو قبضه ضروري ده، او دلته قبضه نسته، نو د دې په جواب کې فرمایي چې څرنګه چې د صاحب الأرض د ملکیت (ځمکې) سره د تخم اتصال دی، لهذا همدغه اتصال د قبضې په څېر منل سوی او صاحبُ الأرض مستقرض ګڼل سوی دی. (احسن الهدایه)

د مزارعت د صحیح کېدلو لپاره د مودت معلومېدل ضروري دي

قَالَ: وَلَا تَصِحُّ الْمُزَارَعَةُ إِلَّا عَلَىٰ مُدَّةٍ مَعْلُومَةٍ فرمایي: او مزارعت نه صحیح کیږي مګر په یو معلوم مودت سره لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی وَأَنْ يَكُوْنَ الْخَارِجُ شَائِعًا بَيْنَهُمَا او [بل] دا چې پیداوار به د دواړو تر مینځ مشترک وي تَحْقِيقًا لِمَعْنَى الشَّرِكَةِ د شرکت د معنی ثابتولو لپاره فَإِنْ شَرَطَا لِأَحَدِهِمَا قُفْزَانًا مُسَمَّاةً نو که دوی [په خپل مینځ کې] د یوه لپاره د څو معلومو قفیزونو شرط ولګوي فَهِيَ بَاطِلَةٌ نو مزارعت باطل دی لِأَنَّ بِهِ تَنْقَطِعُ الشَّرِكَةُ ځکه چې په دې شرط سره شرکت ختمیږي لِأَنَّ الْأَرْضَ عَسَاهَا لَا تُخْرِجُ إِلَّا هٰذَا الْقَدْرَ ځکه کېدای سي چې ځمکه له دغه مقدار څخه بغیر نور نه راوباسي [یعني نور پیداوار نه وکړي] فَصَارَ كَاشْتِرَاطِ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ لِأَحَدِهِمَا فِي الْمُضَارَبَةِ نو داسي سو لکه په مضاربت کې چې له شریکینو څخه د یوه لپاره د څو درهمو شرط ولګول سي.

اللغات: ﴿بـذر﴾ تخم، ﴿خارج﴾ د نصر د باب فاعل دی: لـه ځمکـي څخـه راوتونکي څـه، پيـداوار، حاصلات، ﴿شائع﴾ د ضرب د باب فاعل دی: خپله معنیٰ یې ده: غوړېدلی، منتشر او خپور، اصطلاحي معنیٰ یې ده: مشترک، مشاع، (داسې مشترک شی کوم چې تر اوسه تقسیم سوی او سره جلا کړی سوی نه وي).

﴿مسماة﴾ د تفعیل د باب اسم مفعول دی: نومول سوی، مُتعیّن، ټاکل سوی.

تشريح: مخکي تر دې صاحب د هدایې (د صاحبینو په نېز) د مزارعت صحیح کېدلو اته (۸) شرطونه بیان کړه، چي له هغوی څخه یو شرط د مزارعت د مودت سره متعلق وو (چي د مزارعت مودت به هم بیانوي)، پر هغه دلته دا مسئله متفرع کوي فرمایي چي له مودت بیانولو څخه بغیر مزارعت نه صحیح کیږي؛ دلیل مخکي ذکر سو چي اُجرت له منافعو څخه ورکول کیږي (یعني په مزارعت کي عامل ته د هغه له کرل سوي شي مثلاً غنمو څخه اُجرت ورکول کیږي)، او د منافعو درک په همدې مودت سره معلومیږي، نو ځکه د مودت بیانول ضروري دي.

وأن يكون الخارج شائعًا إلخ: مخکي یو شرط دا هم ذکر سو چي پیداوار به د دواړو تر مینځ مشترک وي، یعني څومره غله (مثلاً غنم) چي وسي، هغه به د ځمکي والا او عامل (بزګر) تر مینځ مشترک وي، داسي به نه کیږي چي د یوه لپاره اول معلوم مقدار خاص کړی سي او بیا له پاته غلې څخه دواړو ته خپل حصه ورکول سي، مثلاً ځمکي والا ووایي چي څومره غنم وسي له هغه څخه مثلاً شل منه زما دي او پاته غنم زما او ستا تر مینځ مشترک دي؛ ځکه دا ممکنه ده چي فقط شل منه غنم وسي نو هغه به ځمکي والا واخلي او عامل ته به هیڅ هم حاصل نه سي او د هغه محنت او عمل به ضایع ولاړ سي، او بل دا چي څومره مقدار د یوه لپاره خاص کړی سي، په هغه کي شرکت نه راغلی، حال دا چي معامله پر شرکت واقع سوې وه، نو ځکه وویل سوه چي د یوه لپاره به د مخصوص مقدار شرط نه لګول کیږي (برابره ده مزارعت پر څلورمه حصه وي او که پر دریمه وي)، کنې مزارعت باطلیږي.

او دا داسي ده لکه په مضاربت کي چي یو د ځان لپاره یو معلوم مقدار خاصُ کړي مثلاً ربُ المال ووایي چي کومه ګټه وسي له هغه څخه سل درهمه زما دي او پاته دراهم زما او ستا تر مینځ مشترک دي، نو مضاربت باطلیږي ځکه چي په دې شرط سره شرکت ختمیږي، نو همداسي دلته هم د شرکت ختمېدلو پر بناء مزارعت باطلیږي.

هر هغه شرط مزارعت فاسدوي کوم چي د شرکت ختمونکی وي

وَكَذَا إِذَا شَرَطَا أَنْ يَرْفَعَ صَاحِبُ الْبَذْرِ بَذْرَهُ وَيَكُونَ الْبَاقِيْ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ او همدارنګه [مزارعت باطلیږي] کله چي دواړه دا شرط ولګوي چي تخم والا به [اول] خپل تخم پورته کوي [یعني له پیداوار څخه به

اول د خپل تخم مقدار جلا کوي] او پاته پيداوار به د دوی تر مينځ نيم په نيمه وي لِأَنَّهُ يُؤَدِّىْ إِلَى قَطْعِ الشَّرِكَةِ فِي بَعْضٍ مُعَيَّنٍ ځکه دا شرط په بعضي معيّن مقدار کي د شرکت ختمولو سبب ګرځي أَوْ فِي جَمِيْعِهِ بِأَنْ لَمْ يُخْرِجْ إِلَّا قَدْرَ الْبَذْرِ يا په ټوله پيداوار کي [د قطع شرکت سبب ګرځي] په دې توګه چي فقط د تخم په اندازه پيداوار وسي فَصَارَ كَمَا إِذَا شَرَطَا رَفْعَ الْخَرَاجِ وَالْأَرْضُ خَرَاجِيَّةٌ وَأَنْ يَكُوْنَ الْبَاقِيْ بَيْنَهُمَا نو دا داسي سوه لکه دواړه چي د خراج پورته کولو [جلا کولو] شرط ولګوي او ځمکه خراجي وي او دا چي پاته پيداوار به د دوی تر مينځ مشترک وي [يعني چي دواړه عاقدين په خراجي ځمکه کي د خراج ايستلو او د ما بقي پيداوار د مشترک کېدلو شرط ولګوي] بِخِلَافِ مَا إِذَا شَرَطَ صَاحِبُ الْبَذْرِ عُشْرَ الْخَارِجِ لِنَفْسِهِ أَوْ لِلْآخَرِ وَالْبَاقِيْ بَيْنَهُمَا په خلاف د دې صورت کله چي تخم والا د ځان لپاره يا د بل يوه لپاره د پيداوار د لسمي حصې شرط ولګوي او پاته پيداوار د دوی تر مينځ مشترک وي [نو دا مزارعت جائز دی] لِأَنَّهُ مُعَيَّنٌ مُشَاعٌ ځکه چي دا معين مشاع دی [په بله وينا دا چي دغه لسمه حصه مشترکه ده] فَلَا يُؤَدِّىْ إِلَى قَطْعِ الشَّرِكَةِ نو ځکه دا د شرکت ختمولو سبب نه ګرځي كَمَا إِذَا شَرَطَا رَفْعَ الْعُشْرِ وَقِسْمَةَ الْبَاقِيْ بَيْنَهُمَا وَالْأَرْضُ عُشْرِيَّةٌ لکه کله چي دواړه د عشر پورته کولو [جلا کولو] او په خپل مينځ کي د پاته پيداوار د تقسيمولو شرط ولګوي او ځمکه عشري وي [نو مزارعت جائز دی].

اللغات: ﴿قطع﴾ د فتح د باب مصدر دی: غوڅول او پرېکول، ختمول. ﴿مشاع﴾ د ضرب د باب اسم مفعول دی، شايع شُده (خپور)، مشترک شی (يعني هغه شی چي دواړه په ګډه پکښي شريکان وي).

تشريح: دا يو اُصول په ياد لرئ! چي هر هغه شرط کوم چي شيوع او شرکت ختموي، هغه مزارعت فاسدوي.

صورت د مسئلي: دا دی که تخم والا (صاحبُ البذر) ووايي چي څومره پيداوار (مثلاً غنم) وسي، زه له هغه څخه اول د خپل تخم (خپل کرل سوو غنمو) مقدار اخلم او پاته پيداوار (غنم) به زما او ستا تر مينځ نيم په نيمه تقسيمول کيږي، نو دا شرط مزارعت فاسدي.

ځکه که پيداوار د تخم له مقدار څخه زيات وسي نو د تخم په اندازه شرکت ختم سو، او که د تخم له مقدار څخه زيات پيداوار نه وسي (بلکي د تخم په اندازه يا تر هغه کم وي)، نو په کل کي شرکت ختم سو او دا هم مزارعت فاسدوي.

او دا بالکل داسي ده چي مثلاً يو خراجي ځمکه ده چي د کاله د هغه ځمکي خراج متعيّن دی مثلاً د کاله لس منه غله د خراج په توګه پر مقرر دي، اوس که په داسي ځمکه کي مزارعت وسي او دواړه عاقدين دا شرط ولګوي چي اول به د خراج مقدار له پيداوار څخه ايستل کيږي او بيا به پاته پيداوار زموږ ترمينځ نيم په نيمه تقسيمول کيږي، نو دا جائز نه دي؛ ځکه چي په بعضي معيّن (يعني د تخم په مقدار) يا کل کي شرکت ختم سو، او په دې سره مزارعت فاسديږي. نو همدغه ډول په اول صورت کي هم مزارعت فاسديږي.

بخلاف ما إذا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که په مزارعت کي داسي شرط ولګول سي چي اول به د پيداوار عشر ايستل کيږي چي هغه به تخم والا يا بل عاقد ته ورکول کيږي او بيا به ما بقي پيداوار نيم په نيمه تقسيمول کيږي، نو په دې صورت کي مزارعت صحيح دی؛ ځکه دلته د متعيّن پيداوار شرط نه دی لګول سوی دی بلکي د مشترک پيداوار شرط لګولی دی او په ما بقيه کي شرکت دی، ځکه د عشر ايستلو شرط، شرط مشترک او معيّن دي؛ ځکه د ځمکي په هر پيدلوار کي عشر وي، نو ځکه دا شرط د شرکت ختمولو سبب نه جوړيږي او تر عشر ايستلو وروسته هم په مابقي کي شرکت باقي پاتيږي، چي هغه به دوی دواړه نيم په نيمه تقسيموي.

او د دې مثال داسي دی لکه په عشري ځمکه کي چي دواړه دا شرط ولګوي چي اول به له پيداوار څخه عشر ايستل کيږي او بيا ما بقي تقسيمول کيږي، نو څرنګه چي دلته په دې شرط لګولو سره شرکت نه ختميږي، همدغسي په اول صورت کي هم د عشر ايستلو په شرط لګولو سره شرکت نه ختميږي او مزارعت بالکل جائز کيږي.

د مزارعت فاسدونکي نور شرائط

قَالَ: وَكَذٰلِكَ إِنْ شَرَطَا مَا عَلَى الْمَاذِيَانَاتِ وَالسَّوَاقِيْ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او همدارنګه [مزارعت فاسديږي] که دواړه شرط ولګوي د هغه پيداوار کوم چي پر غتو او کوچنيو والو [ويالو] وي مَعْنَاهُ لِأَحَدِهِمَا يعني د يوه لپاره [د هغه پيداوار شرط ولګوي] لِأَنَّهُ إِذَا شَرَطَ لِأَحَدِهِمَا زَرْعُ مَوْضِعٍ مُعَيَّنٍ ځکه کله چي د يوه لپاره د يو ټاکلي ځای کښت شرط کړل سي أَفْضٰى ذٰلِكَ إِلَى قَطْعِ الشَّرِكَةِ نو دا د شرکت ختمولو سبب جوړيږي لِأَنَّهُ لَعَلَّهُ لَا يَخْرُجُ إِلَّا مِنْ ذٰلِكَ الْمَوْضِعِ ځکه کېدای سي چي فقط له دغه ټاکلي ځای څخه پيداوار وسي وَعَلٰى هٰذَا إِذَا شَرَطَ لِأَحَدِهِمَا مَا يَخْرُجُ مِنْ نَاحِيَةٍ مُعَيَّنَةٍ وَلِلْآخَرِ مَا يَخْرُجُ مِنْ نَاحِيَةٍ أُخْرٰى او همدارنګه [مزارعت فاسديږي] کله چي د يوه لپاره د يو ټاکلي طرف پيداوار

شرط کړل سي او د بل يوه لپاره د بل طرف پيداوار شرط کړل سي وَكَذَا إِذَا شُرِطَ لِأَحَدِهِمَا التِّبْنُ وَلِلْآخَرِ الْحَبُّ او همدارنګه کله چي د يوه لپاره [د کښت] پروړ او د بل لپاره غله [دانې] شرط کړل سي لِأَنَّهُ عَسَى أَنْ يُصِيبَهُ آفَةٌ ځکه کېدای سي چي کښت ته يو آفت ورسيږي فَلَا يَنْعَقِدُ الْحَبُّ وَلَا يَخْرُجُ إِلَّا التِّبْنُ او غله [او پيداوار] نه وسي او فقط پروړ راووځي وَكَذَا إِذَا شُرِطَ التِّبْنُ نِصْفَيْنِ وَالْحَبُّ لِأَحَدِهِمَا بِعَيْنِهِ او همدارنګه که دا شرط ولګول سي چي پروړ به نيم په نيمه وي او غله به په دوی کي خاص د يوه لپاره وي لِأَنَّهُ يُؤَدِّي إِلَى قَطْعِ الشَّرِكَةِ فِيمَا هُوَ الْمَقْصُودُ وَهُوَ الْحَبُّ ځکه چي دا شرط په مقصود شي يعني غله کي د شرکت ختمولو سبب ګرځي.

اللغات: ﴿مأذيانات﴾ معرب لفظ دی (له فارسي څخه عربي ته را اوښتی لفظ دی). هغه واله (وياله) ته وايي کوم چي نه ډېره غټه وي لکه نهر (لويه واله) او نه ډېره کوچنۍ وي لکه نرۍ لښتی. او د سواقي هم دغه تعريف نقل سوی دی، لکه څرنګه چي په "المغرب" قاموس کي دي، نو بناء پر دې مأذيانات او سواقي مترادف (هم معنی) الفاظ دی، او ځيني وايي چي مأذيانات غټو والو (ويالو) ته وايي او سواقي کوچنيو والو ته وايي. ﴿سواقي﴾ جمع د سَاقِيَةٌ ده. وضاحت يې وسو. ﴿أفضی﴾ د افعال د باب ماضي ده: رسول، رسېدل، سبب جوړېدل. ﴿تبن﴾ پروړ، بوس، د کښت او پيداوار تر غوبل او ميده کولو وروسته چي د هغه کوم فضله مواد او خاشاک پاته سي (کوم چي د څارويو د خوراک او داسي نورو لپاره کارول کيږي)، ﴿حَبّ﴾ حبوب، دانې، غله.

تشريح: دا خو تاسي ته معلومه سوه چي په هغه شرطونو سره مزارعت فاسديږي کوم چي د شرکت ختمونکي وي، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله پر دغه أصول ډېري مسئلې متفرع کړي دي. له هغوی څخه يوه دا ده چي که له دواړو عاقدينو څخه يو دا شرط ولګوي چي د کښت د والو او لښتيو تر څنګ پيداوار به زما وي او پاته پيداوار به زما او ستا تر مينځ مشترک وي، نو څرنګه چي په داسي شرط سره شرکت ختميږي (ځکه کېدای شي چي فقط د والو او لښتيو تر څنګ پيداوار وسي او پاته حصه پيداوار نه وکړي)، نو ځکه مزارعت په داسي شرط سره فاسديږي.

يا يو دا شرط ولګوي چي د کښت د دغه طرف پيداوار به زما وي او د دې بل طرف پيداوار به ستا وي. اوګورئ! په دې صورت کي هم شرکت ختميږي، نو ځکه مزارعت فاسديږي.

وكذا إذا شرط لأحدهما إلخ: د مزارعت فاسدېدلو يو صورت دا دی چې دا شرط پکښې ولګول سي چې د يوه لپاره به فقط پرور وي او د بل لپاره به فقط غله (دانې) وي، نو دا صورت هم قاطع شرکت دی، په دې توګه چې پر کښت يو آفت راسي او غله خرابه سي، بيا فقط پرور ترلاسه کړل سي، لهذا په دې صورت کي هم د شرکت ختمېدلو احتمال سته، نو ځکه دلته هم مزارعت فاسدېږي.

همدارنګه که دا شرط ولګول سي چې په پرورو کي به دواړه شريکان وي، لېکن غله به د يوه وي، نو په دې صورت کي هم مزارعت فاسدېږي، ځکه د کښت وکرونديې اصل مقصد غله ده، او دلته په غله کي شرکت نسته.

که دا شرط ولګول سي چې غله به د دواړو وي لېکن د پرورو تذکره نه وسي

وَلَوْشَرَطَا الْحَبَّ نِصْفَيْنِ وَلَمْ يَتَعَرَّضَا لِلتِّبْنِ او که دواړه دا شرط ولګوي چې غله [دانې] به نيم په نيمه وي [لېکن] دوی د پرورو په باره کي هيڅ طلب [او څرګندونه] نه وکړي صَحَّتْ نو مزارعت صحيح دی لِاشْتِرَاطِهِمَا الشِّرْكَةَ فِيْمَا هُوَالْمَقْصُودُ ځکه دوی په مقصود شي [غله] کي شرکت شرط کړی دی ثُمَّ التِّبْنُ يَكُوْنُ لِصَاحِبِ الْبَذْرِ بيا پرور د تخم والا کيږي [تخم والا يې حقداره دی] لِأَنَّهُ نَمَاءُ بَذْرِهِ ځکه چې دا د هغه د ملکيت وده [او پيداوار] دی وَفِي حَقِّهِ لَايَحْتَاجُ إِلَى الشَّرْطِ او د هغه په حق کي د شرط لګولو ضرورت نسته [يعني د تخم والا د حقداره کېدلو لپاره د شرط لګولو ضرورت نسته] وَالْمُفْسِدُ هُوَالشَّرْطُ وَهٰذَا سُكُوْتٌ عَنْهُ او [د مزارعت] فاسدونکي همدا شرط لګول دي [چې پرور به د تخم والا وي] او دلته له هغه څخه سکوت سوی دی [ځکه عاقدينو صراحتاً دا شرط نه دی لګولی لکه مخکي چې ذکر سوه: لأنه لم يتعرضا للتبن] وَقَالَ مَشَايِخُ بَلْخَ: اَلتِّبْنُ بَيْنَهُمَا أَيْضًا او د بلخ مشايخو رَحِمَهُمُ الله فرمايلي دي: چې پرور هم د دوی تر مينځ مشترک دي اِعْتِبَارًا لِلْعُرْفِ فِيْمَا لَمْ يَنُصَّ عَلَيْهِ الْمُتَعَاقِدَانِ د عرف په اعتبار کولو سره په هغه شي کي چې پر هغه دواړو عقد کونکو صراحت نه وي کړی [يا په بله وينا دا چې د عاقدينو په غير منصوص شي کي پر عرف په قياس کولو سره پرور هم د دوی تر مينځ مشترک دي] وَلِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلْحَبِّ او ځکه چې پرور د غلې [دانو] تابع دي وَالتَّبَعُ يَقُوْمُ بِشَرْطِ الْأَصْلِ او تابع د اصل د شرط مطابق قائمېږي.

اللغات: ﴿حَبّ﴾ دانې، غله. ﴿لم يتعرضا﴾ د تفعل له بابه د تثنيه غائب جحد صيغه ده، تَعَرَّضَ لِلأَمرِ و إلى الأمرِ (يعني د دې باب په صله کې چې لام يا إلى راسي لکه دلته: لِلتّبن) نو معنی يې ده: په پسې کېدل، طلب کول (مصباح اللغات). ﴿نماء﴾ وده، اضافه.

تشريح: مسئله دا ده که عاقدَين دا شرط ولګوي چې غله به زما او ستا دواړو ترمينځ مشترکه وي لېکن د پروړو هيڅ ذکر او څرګندونه نه وکړي (چې دا به چا وي)، نو څرنګه چې اصل مقصود همدا غله ده او په دې کې شرکت سته، نو ځکه مزارعت صحيح کيږي.

اوس سوال دا دی چې په دې صورت کې پروړ د کوم يوه کيږي، نو فرمايي چې په دې باره کې دوه قوله دي: ① پروړ د تخم والا کيږي؛ ځکه دا د هغه د ملکيت نما ده، کما هو ظاهر. ② دويم قول دا دی چې د عرف په اعتبار کولو سره په دې صورت کې پروړ هم مشترک ګرځي، او څرنګه چې غله اصل ده او پروړ تابع دي، او د تابع همغه حکم وي کوم چې د اصل وي، نو ځکه پروړ به هم مشترک وي.

وفي حقه لايحتاج إلخ: يعني د تخم والا په حق کې د پروړو د ثابتېدلو لپاره د شرط ضرورت نسته، او په کومو صورتونو کې چې مزارعت فاسديږي هغه د شرط په وجه وي، او دلته خو له سره شرط سته نه بلکې سکوت دی، او سکوت مفسد زراعت نه دی.

که د تخم والا لپاره د پروړو شرط ولګول سي

وَلَوْ شَرَطَا الْحَبَّ نِصْفَيْنِ وَالتِّبْنُ لِصَاحِبِ الْبَذْرِ او که دواړه دا شرط ولګوي چې غله [دانې] به نيم په نيمه وي او پروړ به د تخم والا وي صَحَّتْ نو [هم] مزارعت صحيح دی لِأَنَّهُ حُكْمُ الْعَقْدِ ځکه همدا د عقد حکم دی [ځکه که په عقد مزارعت کې د پروړو په باره کې سکوت وسي او د تخم والا لپاره شرط نه کړل سي نو هم هغه د تخم والا کيږي، لهذا کله چې شرط کړل سي نو هم به د تخم والا وي چې دغه شرط د عقد د حکم او تقاضا عين مطابق دی] وَإِنْ شَرَطَا التِّبْنَ لِلْآخَرِ او که دواړه د بل يوه لپاره پروړ شرط کړي فَسَدَتْ نو مزارعت فاسديږي لِأَنَّهُ شَرْطٌ يُؤَدِّي إِلَى قَطْعِ الشَّرِكَةِ بِأَنْ لَا يَخْرُجَ إِلَّا التِّبْنُ ځکه دا يو داسي شرط دی کوم چې د شرکت ختمولو سبب ګرځي په دې توګه چې فقط پروړ راووځي [او نور پيداوار (غله) نه وسي] وَاسْتِحْقَاقُ غَيْرِ صَاحِبِ الْبَذْرِ بِالشَّرْطِ او له تخم والا څخه بغير د بل يوه [د پروړو] مستحق کېدل د شرط پر بناء وي [او دا شرط د عقد د حکم او تقاضا خلاف دی، نو ځکه مزارعت فاسديږي].

اللغات: ﴿تبن﴾ پروړ، بوس.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې که دا شرط ولګول سي چې غله به د دواړو تر مینځ مشترکه وي او پروړ به د تخم والا وي، نو ځرنګه چې دا شرط د عقد د تقاضا خلاف نه دی بلکې عین مطابق یې دی، نو ځکه دا مزارعت صحیح دی.

ها! که له تخم والا ځخه بغیر د بل عاقد لپاره د پروړ اخیستلو شرط ولګول سي، نو اوس مزارعت فاسدیږي؛ ځکه دا شرط د عقد د تقاضا خلاف دی.

واستحقاق إلخ: یعني تخم والا خو بلا شرطه هم د پروړو مستحق کېدای سي، او له هغه ځخه بغیر بل عاقد فقط د شرط په وجه مستحق کېدای سي او ځرنګه چې دا شرط د عقد د تقاضا خلاف دی ځکه چې شرطِ فاسد دی، ځکه په دې سره شرکت ختمیږي او په شرکت ختمېدلو سره مزارعت فاسدیږي.

د مزارعت د منعقد کېدلو په صورت کې به پیداوار د شرط مطابق تقسیمول کیږي

قَالَ: وَإِذَا صَحَّتِ الْمُزَارَعَةُ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمایي: او کله چې مزارعت صحیح سي فَالْخَارِجُ عَلَى الشَّرْطِ نو پیداوار به [د دواړو تر مینځ] د شرط مطابق وي لِصِحَّةِ الِالْتِزَامِ د التزام د صحیح کېدلو په وجه [یعني کوم څه چې یې لازم کړي دي د هغه د صحیح کېدلو په وجه] وَإِنْ لَمْ تُخْرِجِ الْأَرْضُ شَيْئًا او که ځمکه هیڅ نه را وباسي [یعني هیڅ پیداوار نه وکړي] فَلَا شَيْءَ لِلْعَامِلِ نو د کار کونکي [بزګر] لپاره هیڅ شی [أجرت] نسته لِأَنَّهُ يَسْتَحِقُّهُ شَرِكَةً ځکه چې هغه د شرکت پر بناء د څه [أجرت] مستحق کیږي وَلَا شَرِكَةَ فِي غَيْرِ الْخَارِجِ او له پیداوار ځخه بغیر په بل څه کې شرکت نسته وَإِنْ كَانَتْ إِجَارَةً او که اجاره وي [یعني که دا مزارعت اجاره ومنل سي] فَالْأَجْرُ مُسَمًّى نو أجرت متعیّن وو فَلَا يَسْتَحِقُّ غَيْرَهُ نو ځکه عامل به د بل څه [غیر مسمی] نه مستحق کیږي بِخِلَافِ مَا إِذَا فَسَدَتْ په خلاف د هغه صورت کله چې مزارعت فاسد سي لِأَنَّ أَجْرَ الْمِثْلِ فِي الذِّمَّةِ ځکه چې [په دې صورت کې] أجرت مثلي پر ذمه لازمیږي وَلَا تَفُوتُ الذِّمَّةُ بِعَدَمِ الْخَارِجِ او د پیداوار په نشتوالي سره ذمه نه فوتیږي [یعني کوم څه چې پر ذمه واجب او لازم وي هغه له ذمې ځخه نه ساقطیږي که څه هم پیداوار نه وسي] قَالَ: وَإِذَا فَسَدَتْ فرمایي او کله چې مزارعت فاسد سي فَالْخَارِجُ لِصَاحِبِ الْبَذْرِ نو پیداوار د تخم والا کیږي

لِأَنَّهُ نَمَاءُ مِلْكِهِ ځکه چي دا د همهغه د ملکيت وده [او پيداوار] دی وَاسْتِحْقَاقُ الْآخَرِ بِالتَّسْمِيَةِ او د بل يوه [د اُجرت] مستحق کېدل په تسميه [متعيّن کولو او شرط لګولو] سره دي وَقَدْ فَسَدَتْ او تسميه فاسده سوه فَبَقِيَ النَّمَاءُ كُلُّهُ لِصَاحِبِ الْبَذْرِ نو ځکه پيداوار ټوله د تخم والا لپاره پاته سو.

اللغات: ﴿التزام﴾ د افتعال د باب مصدر دیَ: پر ځان لازمول، په خپل ذمه اخيستل. ﴿تسمية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: نومول، متعيّن کول (ټاکل).

تشريح: په دغه عبارت کي امام قدوري رَحِمَهُ الله دوې مسئلې بيان کړي دي: (۱)... کله چي مزارعت صحيح سي (يعني مخکيني ټوله شرطونه موجود سي او مزارعت منعقد سي)، نو اوس چي پر کوم شرط مزارعت سوی وي (چي مثلاً د پيداوار يوه حصه به د عامل وي او دوې حصې به د ځمکي والا وي)، د هغه شرط په حساب سره به پيداوار تقسيمول کيږي؛ ځکه کله چي مزارعت صحيح سو، نو کوم شرط چي په دې مزارعت کي پر ځانو لازم کړی سوی وو، هغه هم صحيح سو، نو ځکه د هغه مطابق به عمل هم کيږي؛ لأن المسلمون عند شروطهم.

لېکن که په دې پورتني صورت کي (يعني چي مزارعت پر شرط سوی وي) هيڅ پيداوار نه وسي، نو عامل (بزګر) ته هيڅ هم نه حاصليږي او د هيڅ نه مستحق کيږي؛ ځکه د عامل مستحق کېدل د شرکت پر بناء وه او شرکت په پيداوار کي وو (چي مثلاً د پيداوار دوې حصې به د ربُ الأرض وي او يوه حصه به د عامل وي...)، او دلته پيداوار بالکل سوی نه دی، نو ځکه عامل ته به هيڅ هم نه ورکول کيږي.

وإن كانت إجارة إلخ: دا د يو اشکال جواب دی، اشکال دا دی چي مزارعت خو په ابتداء کي د اجاره په حکم کي وي (او بيا انتهاءً شرکت ګرځي)، لهذا عامل ته اُجرت حاصلېدل پکار دي؟.

د دې په جواب کي فرمايي چي صحيح ده مونږ هم هغه اجاره منو، خو په پورتني صورت کي له همدې پيداوار څخه اُجرت ټاکل سوی وو (چي د پيداوار دومره حصه به د عامل وي او دومره د ځمکي والا). او دلته د پيداوار نه کېدلو په وجه دا ټاکل سوی اُجرت ورته حاصل نه سو، او له پيداوار څخه بغير د بل څه هغه مستحق نه دی، نو ځکه هيڅ به نه ورته حاصليږي (لکه څرنګه چي ځمکي والا ته هم هيڅ حاصل نه سوه).

بخلاف ما إذا إلخ: د دې حاصل دا دی چي دلته خو اُجرت له پيداوار څخه ټاکل سوی دی کوم چي د پيداوار نه کېدلو په وجه نه سي ورکول کېدای، لېکن په مزارعت فاسده کي په هر صورت کي عامل ته اُجرت مثلي ورکول کيږي. د هغه وجه دا ده چي په مزارعت فاسده کي اُجرت مثلي پر ذمه

واجبیږي؛ او کوم شی چي واجب في الذمه وي، هغه د پیداوار نه کېدلو په وجه نه سي ختمېدلای، نو ځکه هلته په هرحال کي عامل ته أجرت حاصلیږي.

قال إلخ: (۲)... دویمه مسئله دا ده چي کله مزارعت فاسد سي، نو پیداوار د تخم والا کیږي؛ ځکه پیداوار د همدې تخم والا د ملکیت وده او نما ده، او بل عاقد خو د تسمیه یعني د شرط لګولو په وجه د پیداوار مستحق کیږي، او کله چي عقد (مزارعت) فاسد سو، نو تسمیه یعني شرط هم فاسد سو، او چي شرط فاسد سو، نو پیداوار به ټوله هغه یوه ته حاصلیږي چي د هغه د ملکیت (تخم) په وجه پیداوار سوی وي، او ملکیت د تخم والا وو، نو ځکه پیداوار به هم د هغه وي.

په مزارعت فاسده کي د أجرت مسئله

قَالَ: وَلَوْكَانَ الْبَذْرُ مِنْ قِبَلِ رَبِّ الْأَرْضِ [امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي]: او که تخم د ځمکي والا له طرفه وي فَلِلْعَامِلِ أَجْرُ مِثْلِهِ نو د عامل لپاره أجرتِ مثلي دی لَايُزَادُ عَلٰى مِقْدَارِ مَا شُرِطَ لَهُ مِنَ الْخَارِجِ چي هغه به نه زیاتول کیږي تر هغه مقدار کوم چي له پیداوار څخه د عامل لپاره شرط کړی سوی وي لِأَنَّهُ رَضِيَ بِسُقُوطِ الزِّيَادَةِ ځکه چي عامل خپله د زیاتوب په ساقطولو راضي سو وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او دا [حکم] د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ ❀: لَهُ أَجْرُ مِثْلِهِ بَالِغًا مَا بَلَغَ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د عامل لپاره أجرتِ مثلي دی هر څو ته چي ورسیږي لِأَنَّهُ اسْتَوْفٰى مَنَافِعَهُ بِعَقْدٍ فَاسِدٍ ځکه د ځمکي مالک په فاسد عاقد سره د عامل منافع ترلاسه کړي دي فَتَجِبُ عَلَيْهِ قِيمَتُهَا نو ځکه پر هغه به د منافعو قیمت واجب وي إِذْ لَا مِثْلَ لَهَا ځکه چي منافعو لره هیڅ مثل نسته وَقَدْ مَرَّ فِي الْإِجَارَاتِ او په إجاراتو [کتابُ الإجارات] کي دا بحث تېر سو وَإِنْ كَانَ الْبَذْرُ مِنْ قِبَلِ الْعَامِلِ او که چېري تخم د عامل له طرفه وي فَلِصَاحِبِ الْأَرْضِ أَجْرُ مِثْلِ أَرْضِهِ نو د ځمکي د مالک لپاره د خپل ځمکي أجرت مثلي دی لِأَنَّهُ اسْتَوْفٰى مَنَافِعَ الْأَرْضِ بِعَقْدٍ فَاسِدٍ ځکه عامل په فاسد عقد سره د ځمکي منافع ترلاسه کړي دي فَيَجِبُ رَدُّهَا نو د دې منافعو واپس کول به ضروري وي وَقَدْ تَعَذَّرَ لیکن هغه [یعني د منافعو واپس کول] مشکل دي [نه يې سي واپس کولای] وَلَا

❀ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما في رد المحتار (ج:۵، ص:۱۹۶)، ومجمع الأنهر (ج:۴، ص:۱۴۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۸۵]

مِثْلَ لَهَا او منافعو لره مثل هم نشته فَيَجِبُ رَدُّ قِيمَتِهَا نو ځکه د هغوی د قیمت واپس کول ضروري دي وَهَلْ يُزَادُ عَلَى مَا شُرِطَ لَهُ مِنَ الْخَارِجِ او آیا دا قیمت به تر هغه مقدار زیاتول کېږي کوم چي له پیداوار څخه د هغه لپاره شرط کړی سوی وو؟ فَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ الَّذِي ذَكَرْنَاهُ نو دا خبره پر همغه اختلاف ده کوم چي موږ [څه مخکي] ذکر کړه.

اللغات: ﴿استوفیٰ﴾ د استفعال د باب ماضي ده: ترلاسه کول، وصولول، اخیستل. ﴿تعذر﴾ د تفعل د باب ماضي ده، د دې باب دوې معناوي نقل سوي دي: ناممکن کېدل، مشکل کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که تخم د ځمکي د مالک له طرفه وو او مزارعت فاسد سو، نو په دې صورت کي عامل ته اجر مثل حاصلیږي یعني اُجرت مثلي به ورکول کیږي (یا په بله وینا دا چي په بازار او ټولنه کي چي د عامل د دغسې کارشومره اُجرت وي، هغه به ورکول کیږي، او پاته سو پیداوار او غله هغه ټوله ځمکي والا ته حاصلیږي) او دا اُجرت به د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه مقدار مطابق ورکول کیږي کوم چي له پیداوار څخه د ده لپاره شرط کړی سوی (ټاکل سوی) وي او تر هغه مقدار به نه اضافه کول کیږي (یعني که د بازار او ټولني اجرت زیات وي تر هغه حصې کوم چي په پیدوار کي د عامل لپاره ټاکل سوې وي، نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز به د پیدوار له حصې څخه زیات اُجرت نه ورکول کیږي بلکي د هغه حصې په اندازه به وي)؛ ځکه کله چي ده په مفسد مزارعت کي لاس ووهی، نو دا د ده له طرفه د خپل اضافي او زائد حق ساقطول سوه، او کله چي څوک خپله د خپل حق په ساقطولو راضي وي، نو بل ته د اضافه کولو څه ضرورت دی!.

امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي عامل ته به خپل اُجرت مثلي ورکول کیږي هغه که هر څومره وي یعني که څه هم تر مشروط مقدار یعني تر هغه مقدار زیات وي کوم چي په پیداوار کي د عامل لپاره ټاکل سوی دی (یا په بله وینا دا چي په هر صورت کي به اُجرت مثلي یعني د بازار او ټولني اُجرت ورکول کیږي که څه هم هغه د ده د پیداوار له حصې څخه زیات وي)؛ ځکه د ځمکي مالک د عقد فاسد په ذریعه د ده منافع حاصل کړل، او څرنګه چي منافع غیر مثلي دي (یعني مثل نه لري) نو د هغوی د عین واپس کول ناممکن دي (یعني دا ناممکنه ده چي اوس د ځمکي مالک عامل ته خپل منافع واپس کړي)، نو ځکه اوس د منافعو قیمت لازمیږي چي د ځمکي مالک به د هغوی ټوله قیمت واپس کوي، که څه هم هغه له مشروط مقدار څخه زیات وي.

وإن كان البذر إلخ: په دې سره بعینه همدا پورتنی صورت بیان سوی دی، خو فرق یې دا دی چي په پورتني صورت کي تخم د ځمکي والا له طرفه وو او په دې صورت کي د عامل له طرفه دی، حاصل یې دا دی چي څرنګه عامل ته له مشروط مقدار څخه د زیات اُجرت ورکولو په هکله د امام محمد او

شيخينو رَحِمَهُمُ الله اختلاف وو، همدارنګه د ځمکي مالک ته هم له مشروط مقدار څخه د زيات ورکولو په هکله د دوی اختلاف دی.

د مزارعت فاسده د اُجرت بله مسئله

وَلَوْ جُمِعَ بَيْنَ الْأَرْضِ وَالْبَقَرِ حَتَّى فَسَدَتِ الْمُزَارَعَةُ او که چيري [ديوه له طرفه] ځمکه او غويی سره جمع کړل سي او مزارعت فاسد سي فَعَلَى الْعَامِلِ أَجْرُ مِثْلِ الْأَرْضِ وَالْبَقَرِ نو پر کار کونکي [بزګر] د ځمکي او غويي مثلي اُجرت دئ هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِأَنَّ لَهُ مَدْخَلًا فِي الْإِجَارَةِ ځکه غويي لره په اجاره کي دخل وي [يعني غويی هم په اُجرت او کرايه ورکول کيږي او اخيستل کيږي] وَهِيَ إِجَارَةٌ مَعْنًى او مزارعت هم د معنیٰ په اعتبار سره اجاره ده.

اللغات: ﴿مدخل﴾ د نصر له بابه مصدر دی: دخل، تعلق.

تشريح: مخکي دا مسئله تېره سوې ده چي که غويی او ځمکه د يوه وي او کار او تخم د بل يوه وي (يا په لنډه وينا دا چي د ځمکي د مالک له طرفه غويی هم وي)، نو په دې صورت کي مزارعت فاسديږي، او کله چي مزارعت فاسد سو، نو ښکاره خبره ده چي تخم د عامل وو نو پيداوار د هغه کيږي، خو هغه به د ځمکي مالک ته د ځمکي او غويي دواړو اُجرت مثلي ورکوي؛ ځکه مزارعت په معنوي توګه داسي دی لکه اجاره (يعني لکه د ځمکي مالک چي عامل ته خپل ځمکه او غويی په اُجرت ورکړی دي)، او څرنګه چي ځمکه په اُجرت او کرايه اخيستل کيږي، همداسي غويی هم په اُجرت اخيستل کيږي، نو ځکه د ځمکي د اُجرت سره به د غويي اُجرت هم ورکوي.

په مزارعت فاسده کي د پيداوار د استحقاق بيان

وَإِذَا اسْتَحَقَّ رَبُّ الْأَرْضِ الْخَارِجَ لِبَذْرِهِ فِي الْمُزَارَعَةِ الْفَاسِدَةِ او کله چي د ځمکي مالک په مزارعت فاسده کي د خپل تخم په وجه د پيداوار مستحق سي طَابَ لَهُ جَمِيعُهُ نو د هغه لپاره ټول پيداوار حلال دی لِأَنَّ النَّمَاءَ حَصَلَ فِي أَرْضٍ مَمْلُوكَةٍ لَهُ ځکه چي [د پيداوار] وده د هغه په خپل مملوکه ځمکه کي حاصل سوې ده وَإِنِ اسْتَحَقَّهُ الْعَامِلُ او که کار کونکی [بزګر] د پيداوار مستحق سي أَخَذَ قَدْرَ بَذْرِهِ وَقَدْرَ أَجْرِ الْأَرْضِ وَتَصَدَّقَ بِالْفَضْلِ نو هغه به د خپل تخم په اندازه او د ځمکي د اُجرت په اندازه اخلي او [له هغه څخه] زائد به صدقه کوي لِأَنَّ النَّمَاءَ يَحْصُلُ مِنَ الْبَذْرِ وَيَخْرُجُ مِنَ

الْأَرْضِ ځکه چي وده له تخم څخه حاصليږي او له ځمکي څخه راوځي وَفَسَادُ الْمِلْكِ فِي مَنَافِعِ الْأَرْضِ أَوْجَبَ خُبْثًا فِيهِ او د ځمکي په منافعو کي د ملکيت فاسديدل په هغه کي خبث پيدا کوي فَمَا سُلِّمَ لَهُ بِعِوَضٍ نو کوم څه چي د عوض په بدله کي ده ته سپارل سوي [حاصل] وي طَابَ لَهُ هغه خو د ده لپاره حلال دي وَمَا لَا عِوَضَ لَهُ او د څه چي عوض نه وي تَصَدَّقَ بِهِ هغه به صدقه کوي.

اللغات: ﴿طاب﴾ د ضرب ماضي ده: ښه کيدل. مراد ځني "حلال کيدل او روا کيدل" دي.
﴿خبث﴾ بدي، ناپاکي، خرابي.

تشريح: په دې عبارت کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دوې مسئلې بيان کړي دي: (۱)... په مزارعت فاسده کي که تخم د مالک له طرفه وو. نو د هغه لپاره د ټوله پيداوار اخيستل حلال او روا دي؛ ځکه ځمکه هم د هغه ده او تخم هم د هغه له طرفه دی (او تاسي ته معلومه ده چي پيداوار يعني فصل او غله له همدې دوو شيانو [تخم او ځمکي] څخه حاصليږي). نو ځکه په ټوله پيداوار کي د ده استحقاق دی او ور ته حلال دی. لهذا ده ته له هغه څخه د څه صدقه کولو ضرورت نسته.

(۲)... که تخم د عامل له طرفه وو چي ټوله پيداوار د هغه سو، او مزارعت فاسده وو. نو عامل دي صرف د خپل تخم په اندازه او د ځمکي د اُجرت په اندازه (يعني په ځمکه کي د کار کولو په بدله کي چي د ده لپاره څومره اُجرت تاکل سوی وي د هغه په اندازه) پيداوار دي واخلي او نور پاته پيداوار دي صدقه کړي؛ ځکه که څه هم هغه تخم والا دی چي په دې وجه د ټوله پيداوار مستحق دی، خو څرنګه چي مزارعت فاسد سو، نو د ځمکي په منافعو (پيداوار) کي د ملکيت په اعتبار سره خبث پيدا سو، او د دغه خبث د ليري کولو طريقه همدا ده چي کوم شی د عامل دی يعني تخم او د ځمکي اُجرت د هغه په اندازه پيداوار او غله دي واخلي؛ ځکه له تخم څخه پيدوار حاصل سوی دی او ځمکه د پيداوار او نما سبب جوړه سوې ده. او دا دواړه شيان عوض دي. نو ځکه د دوی په بدله کي دي عامل د پيداوار عوض واخلي؛ او څرنګه چي له دوی څخه بغير نور پيداوار عامل ته بلا عوضه حاصليږي، نو ځکه هغه مقدار دي صدقه کړي، چي په خبث مبتلا نه سي. (احسن الهدايه)

له مزارعت کولو څخه وروسته د يوه عاقد د انکار کولو بيان

قَالَ: وَإِذَا عُقِدَتِ الْمُزَارَعَةُ فَامْتَنَعَ صَاحِبُ الْبَذْرِ مِنَ الْعَمَلِ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او کله چي عقدِ مزارعت وسي بيا تخم والا له کار کولو څخه منع سي لَمْ يُجْبَرْ عَلَيْهِ نو هغه به پر کار نه مجبورول کيږي لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ الْمُضِيُّ فِي الْعَقْدِ إِلَّا بِضَرَرٍ يَلْزَمُهُ ځکه چي له ضرر [او نقصان] لازميدلو

شخه بغير د هغه لپاره د دې عقد جاري ساتل [او پوره کول] ممکن نه دي فَصَارَ كَمَا إِذَا اسْتَأْجَرَ أَجِيْرًا لِيَهْدِمَ دَارَهُ نو داسي سو لکه يو څوک چي يو مزدور ونيسي چي هغه د ده کور ونړوي وَإِنِ امْتَنَعَ الَّذِي لَيْسَ مِنْ قِبَلِهِ الْبَذْرُ او که هغه يو منع سي چي د هغه له طرفه تخم نه وي أَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ عَلَى الْعَمَلِ نو حاکم به هغه پر کار مجبوره کوي لِأَنَّهُ لَا يَلْحَقُهُ بِالْوَفَاءِ بِالْعَقْدِ ضَرَرٌ ځکه د عقد په پوره کولو سره هغه ته هيڅ ضرر نه لاحقيږي [يعني د عقد مزارعت په جاري ساتلو او پوره کولو کي د هغه هيڅ نقصان نسته] وَالْعَقْدُ لَازِمٌ بِمَنْزِلَةِ الْإِجَارَةِ او عقد لازم دی د اجارې په درجه کي [يا په بله وينا دا چي عقد داجارې په څېر لازم دی] إِلَّا إِذَا كَانَ عُذْرٌ يُفْسَخُ بِهِ الْإِجَارَةَ خو کله چي داسي عذر وي چي د هغه په وجه اجاره ماتول کيږي فَيَنْفَسِخُ بِهِ الْمُزَارَعَةَ نو د هغه عذر په وجه به مزارعت هم فسخ کول کيږي.

اللغات: ﴿مضیٰ﴾ د ضرب د باب مصدر دی: تېرېدل، جاري کېدل. ﴿مضی فی العقد﴾ عقد جاري ساتل او پوره کول، يا په بله وينا د عقد مطابق کار کول او پای ته رسول. ﴿استأجر﴾ د استفعال د باب ماضي ده: په اُجرت او مزدوري نيول، په کرايه نيول.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي کله د ربُ الأرض او عامل تر مينځ د مزارعت معامله وسي، بيا له دوی څخه يو له دغه عقد (معاملې) څخه انکار وکړي، نو دې ته به کتل کيږي چي کوم يو انکار کوي، که چيري تخم والا (صاحب البذر) انکار کوي، نو حاکم به هغه د عقد پر پوره کولو (دعقد پر جاري ساتلو او پای ته رسولو) نه مجبوره کوي؛ ځکه د عقد په پوره کولو کي د هغه نقصان دی، په دې توګه چي اوس به هغه تخم کړي او د منافعو درک نه دی معلوم، کېدای سي چي کښت په يو آفت مبتلا سي او هيڅ پيداوار هم نه وسي، نو څرنګه چي په دې صورت کي د هغه نقصان دی، نو ځکه د عقد مزارعت پر کولو او پوره کولو به هغه نه مجبورول کيږي، او دا داسي ده لکه د يو ځای مالک چي د خپل ځای نړولو لپاره يو کَس په اُجرت ونيسي، بيا د ځای مالک د نړولو څخه انکار وکړي چي نه! زما ځای مه نړوه!، نو څرنګه چي په ځای نړول کېدو کي د هغه نقصان دی چي په دې وجه اوس هغه د ځای پر نړولو نه مجبورول کيږي، همدغسي به په مزارعت کي هم کيږي.

وإن امتنع الذی إلخ: هاّ! که له تخم والا څخه بغير بل عاقد انکار وکړي چي زه دغه عقد او معامله نه کوم، نو حاکم هغه د عمل او عقد پر کولو او پوره کولو مجبوره کولای سي؛ ځکه کله چي تخم د هغه نه دی، نو د عقد او کار په کولو سره د هغه نقصان هم نه کيږي (ځکه په کار کولو سره د هغه پيسې نه ځي)، نو ځکه د عقد پر پوره کولو به مجبوره کول کيږي.

او بل دا چې د هغه په عقد يعني ترون او معامله کولو سره دا عقد مزارعت لازم سو، ځکه چې مزارعت د اجارة په درجه کې دی، او اجارة په عقد سره لازميږي، نو همداسې مزارعت به هم په عقد سره لازميږي او د هغه پوره کول به ضروري وي. خو هغه عذرونه چې اجاره په فاسديږي (مثلاً سخت مرض، يا ډېر قرض او داسې نور)، په هغه عذرونو سره مزارعت هم فاسديږي او بيا د هغه پوره کول نه لازميږي، او د هغه عذرونو په خاطر انکار کونکی عاقد به د عقد پر کولو هم نه مجبورول کيږي. (احسن الهدايه)

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَلَوِامْتَنَعَ رَبُّ الْأَرْضِ وَالْبَذْرُ مِنْ قِبَلِهِ فرمايي: او که چيرې د ځمکې مالک [له مزارعت څخه] منع سي او تخم د هغه له طرفه وي وَقَدْ كَرَبَ الْمُزَارِعُ الْأَرْضَ حال دا چې کښتګر [بزګر] ځمکه سره اړولې وي فَلَا شَيْءَ لَهُ فِي عَمَلِ الْكِرَابِ نو د ځمکې اړولو د کار په عوض کې د هغه لپاره هيڅ [أجرت] نسته قِيلَ: هٰذَا فِي الْحُكْمِ ويل سوي دي: چې دا په حکم [قضاء] کې دي [يعني دا د قضاء فيصله ده] فَأَمَّا فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَى يَلْزَمُهُ اسْتِرْضَاءُ الْعَامِلِ او پاته سو د هغه او الله تر مينځ مسئله نو پر هغه [يعني د ځمکې پر مالک] د عامل راضي کول ضروري دي لِأَنَّهُ غَرَّهُ فِي ذٰلِكَ ځکه چې هغه په دې معامله کې عامل ته دوکه ورکړې ده قَالَ: وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الْمُتَعَاقِدَيْنِ فرمايي: او کله چې له عاقدينو څخه يو مړ سي بَطَلَتِ الْمُزَارَعَةُ نو مزارعت باطليږي اعْتِبَارًا بِالْإِجَارَةِ پر اجاره په قياس کولو سره وَقَدْ مَرَّ الْوَجْهُ فِي الْإِجَارَاتِ او وجه په اجاراتو [كتاب الإجارات] کې تېره سوې ده.

اللغات: ﴿امتنع﴾ د افتعال د باب ماضي ده: منع کېدل، انکار کول، ﴿استرضاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: طلب د رضاء کول، راضي کول، ﴿غرَّ﴾ د نصر د باب ماضي ده: فريب او دوکه ورکول (څوک دوکه کول)، لکه په قرآن کريم کې چې هم دا کليمه ذکر سوې ده: يَا أَيُّهَا الْإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ [الانفطار: ۶].

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې کله د دوو کسانو (عاقدينو) تر مينځ د مزارعت ترون وسي او دا وټاکل سي چې تخم به د ځمکې والا (ربُّ الأرض) له طرفه وي، او تر ترون وروسته عامل د ځمکې اړول او سمول شروع کړي، خو بيا د ځمکې مالک له تخم ورکولو څخه انکار وکړی چې زه يې نه کرم، نو په دې صورت کې عامل ته قضاءً د کښت او ځمکې د اړولو او سمولو أجرت نه حاصليږي؛

ځکه د معاملې تر تړون وروسته پر عامل دا ضروري سوه چي ځمکه واړوي او کرني ته يې آماده کړي، او هغه دا کار وکړی، او د تخم کرلو پړاو خو تر دې وروسته دی، لېکن بيا هم څرنګه چي تخم والا د خپل وعدې مخالفت وکړی او عامل ته يې دوکه ورکړه، نو ځکه تخم والا ته پکار دي چي عامل ته دومره اُجرت ورکړي چي هغه په راضي سي، ځکه هغه زحمت کښلی دی.

قال إلخ: له دې ځايه يوه بله مسئله بيانوي چي څرنګه په عاقدينو کي د يوه په مړګ سره اجاره باطليږي، همدغسي که تر تخم کرلو او داسي نورو مخکې يو عاقد وفات سي، نو مزارعت باطليږي، او د باطلېدلو وجه يې دا ده چي که د يوه عاقد تر مرګ وروسته هم عقد (مزارعت) باقي پرېښوول سي، نو د غير عاقد يعني د عاقد د وارث لپاره د نفع استحقاق لازميږي (يعني تر دې وروسته د مزارعت نفع وارث ته حاصليږي)؛ ځکه چي د عاقد تر مرګ وروسته د هغه حق وارثانو ته حاصليږي، او وارث غير عاقد دی (ځکه ښکاره خبره ده چي دا عقد د هغه سره نه دی سوی بلکي د مورث [مړي] سره سوی دی)، نو ځکه وارث د نفع مستحق ګرځول صحيح نه دي.

همدغه توجيه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په كتابُ الإجارات کي بيان کړې ده. (احسن الهدايه)

د مدت مزارعت په دوران کي د ځمکي د مالک د وفات کېدلو يو صورت

فَلَوْكَانَ دَفَعَهَا ثَلَاثَ سِنِيْنَ نو که ځمکه يې د دريو کالو لپاره ورکړه فَلَمَّا نَبَتَ الزَّرْعُ فِي السَّنَةِ الْأُولٰى وَلَمْ يُسْتَحْصَدْ حَتّٰى مَاتَ رَبُّ الْأَرْضِ بيا چي کله په اول کال کښت شين سو او [تر اوسه] رېبل سوی نه وو چي د ځمکي مالک مړ سو تُرِكَ الْأَرْضُ فِي يَدِ الْمُزَارِعِ نو ځمکه به د کښتګر [بزګر، عامل] په لاس کي پرېږدي حَتّٰى يَسْتَحْصِدَ الزَّرْعَ وَيُقْسِمَ عَلَى الشَّرْطِ تر دې چي هغه کښت ورېبي او د شرط مطابق يې تقسيم کړي وَتَنْتَقِضُ الْمُزَارَعَةُ فِيمَا بَقِيَ مِنَ السَّنَتَيْنِ او په پاتو دوو کلونو کي مزارعت ماتيږي لِأَنَّ فِي إِبْقَاءِ الْعَقْدِ فِي السَّنَةِ الْأُولٰى مُرَاعَاةٌ لِلْحَقَّيْنِ ځکه په اول کال کي د عقد په باقي پرېښوولو کي د دواړو [طرفونو د] حقونو رعايت دی بِخِلَافِ السَّنَةِ الثَّانِيَةِ وَالثَّالِثَةِ په خلاف د دويم او دريم کال لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ ضَرَرٌ بِالْعَامِلِ ځکه په دې کي د کار کوونکي [کښتګر] هيڅ ضرر نسته فَيُحَافَظُ فِيهِمَا عَلَى الْقِيَاسِ نو په هغوی کي به د قياس خيال ساتل کيږي.

اللغات: ﴿دفع﴾ د فتح د باب ماضي ده چي يوه معنیٰ يې ده: ورکول، ورسپارل. ﴿نبت﴾ د نصر د باب ماضي ده: شين کېدل (راشنه کېدل). ﴿زرع﴾ کښت، فصل. ﴿لم يُستحصد﴾ د استفعال له بابه د

جحد صيغه ده: لوول، ربېل، شکول (پرېکول)، ﴿ضرر﴾ نقصان، تاوان، ﴿تـنـتـقض﴾ دافتعال دباب مضارع ده: ماتېدل، ﴿فيحافظ﴾ دافعال دباب مضارع مجهوله ده: حفاظت کول، خيال ساتل.

تشريح: مسئله: دا ده چي دعاقدينو تر مينځ د مزارعت معامله وسوه او د ځمکي مالک (ربُ الأرض) د دريو کالو لپاره خپل ځمکه ورکړه، او عامل (کښتګر) محنت وکړی او کښت يې وکړی، لېکن کښت پخېدلو او رسېدلو ته نژدې وو چي په همدې اول کال د ځمکي مالک مړ سو، اوس ځرنګه چي کښت شين سوی او را پورته سوی دی، نو ځکه د پخېدلو او پرېکېدلو تر وخته به دا ځمکه د عامل په لاس کي پرېښوول کيږي، چي دا کښت او پيداوار پوخ سي او هغه يې ورېبي او د همغه شرط مطابق پيداوار تقسيم کړي کوم چي د ده او د ربُ الأرض تر مينځ تاکل سوی وو (چي مثلاً که يوه حصه دعامل او دوې حصې د ربُ الأرض لپاره تاکل سوې وې نو همداسي به يې تقسيموي....).

خو په پاتو دوو کلونو کي دا عقد مزارعت فسخ کيږي؛ ځکه په اول کال کي دا استحسان پر بناء دعامل او وارثانو د رعايت په خاطر مزارعت باقي پرېښوول سوی وو؛ ځکه د کښت تر پخېدو (رسېدو) مخکي که مزارعت ختم کړی سوي وای، نو هم به د عامل ضرر پکښې وای او هم د وارثانو، او په را روانو دوو کلونو کي خو هيڅ کار هم نه دی سوی، لهذا د يوه ضرر هم پکښې نسته، نو د قياس په رعايت کولو سره به په پاتو دوو کلونو کي مزارعت ختمول کيږي؛ ځکه قياساً له عاقدينو څخه د يوه په مرګ سره مزارعت او داسي نور عقدونه باطليږي.

له تخم کرلو څخه مخکي د ځمکي د مالک د وفات کېدلو حکم

وَلَوْ مَاتَ رَبُّ الْأَرْضِ قَبْلَ الزِّرَاعَةِ بَعْدَ مَا كَرَبَ الْأَرْضَ وَحَفَرَ الْأَنْهَارَ او که د ځمکي مالک له کښت کرني څخه مخکي مړ سي وروسته تر دې چي عامل ځمکه سره اړولې او والې [ويالې] يې کښلي وي اِنْتَقَضَتِ الْمُزَارَعَةُ نو مزارعت ماتيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ إِبْطَالُ مَالٍ عَلَى الْمُزَارِعِ ځکه په دې کي د کښتګر د مال ضايع کول نسته ـ وَلَا شَيْءَ لِلْعَامِلِ بِمُقَابَلَةِ مَا عَمِلَ او د کار کولو په بدله کي د عامل لپاره هيڅ شی نسته لِمَا نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى د هغه دليل په وجه چي موږ به يې ان شاء الله بيان کړو وَإِذَا فُسِخَتِ الْمُزَارَعَةُ بِدَيْنٍ فَادِحٍ لَحِقَ صَاحِبَ الْأَرْضِ او کله چي د يو درووند قرض په وجه کوم چي د ځمکي مالک ته لاحق سوی وي مزارعت فسخ سي فَاحْتَاجَ إِلَى بَيْعِهَا فَبَاعَ او هغه د ځمکي خرڅولو ته مجبوره سي او خرڅه يې کړي جَازَ نو دا جائز دي كَمَا فِي الْإِجَارَةِ لکه څرنګه چي په اجاره کي کيږي وَلَيْسَ لِلْعَامِلِ أَنْ يُطَالِبَهُ بِمَا كَرَبَ الْأَرْضَ وَحَفَرَ الْأَنْهَارَ بِشَيْءٍ او کار کونکي ته دا

حق نسته چي د ځمکي اړولو او د والو کنبلو په بدله کي د څه [اجرت] مطالبه وکړي لِأَنَّ الْمَنَافِعَ إِنَّمَا تَتَقَوَّمُ بِالْعَقْدِ ځکه چي منافع د عقد په وجه قيمتي ګرځي وَهُوَ إِنَّمَا قُوِّمَ بِالْخَارِجِ او د عقد قيمت دلته په پيداوار سره لګول سوی دی فَإِذَا انْعَدَمَ الْخَارِجُ نو کله چي پيداوار معدوم سو [هيڅ پيداوار نه وسو] لَمْ يَجِبْ شَيْءٌ نو هيڅ څه به هم نه واجبيږي.

اللغات: ﴿كرب﴾ د نصر د باب ماضي ده، كَرَبَ يَكْرُبُ كَرْبًا وَ كِرَابًا: ځمکه د کرني لپاره اړول او سمول چي د کښت کرني قابله سي، ﴿حفر﴾ د ضرب د باب ماضي ده: کيندل، کښل، ﴿أنهار﴾ جمع د نَهْرٌ ده: واله (ويالـه)، ﴿فادح﴾ د فتح له بابه د اسم فاعل صيغه ده: ګران باره، درون باره (درونـد بوجه)، درونونکی مشکل، ﴿لَحِق﴾ د سمع د باب ماضي ده: لاحق کېدل، پېوست کېدل...

تشريح: مسئله: دا ده چي د دوو کسانو تر مينځ د مزارعت معامله او تړون وسو، تر دې وروسته عامل په کار لاس پوري کړی، ځمکه يې سره واړول او سمه يې کړل، والې او لښتيان يې پکښې جوړ کړل، اوس له تخم کرلو څخه مخکي د ځمکي مالک وفات سو، نو فرمايي چي مزارعت باطليږي؛ ځکه کله چي تر اوسه عامل په ځمکه کي تخم نه دی کرلی، نو د مزارعت په فسخ کېدو کي د هغه نقصان هم نسته. ها! د ځمکي په اړونه او د والو (ويالو) په جوړونه کي هغه زحمت کښلی دی، خو د هغه د زحمت کښلو او کار کولو اُجرت له پيداوار څخه ټاکل سوی دی يا په بله وينا دا چي د عامل د منافعو (کار) قيمت پيداوار دی (ځکه په مزارعت کي د عامل د کار اُجرت او قيمت له پيداوار څخه ټاکل کيږي)، او پيداوار سوی نه دی، نو ځکه هغه ته به د خپل زحمت کښلو يعني د ځمکي اړولو او داسي نورو اُجرت هم نه ورکول کيږي، په کما نبيّنه سره صاحب د هدايې د همدغې توجيه وطرف ته اشاره کړې ده.

يو بل صورت دا دی چي د دوو کسانو تر مينځ د مزارعت معامله وسوه او عامل ځمکه سره واړول، والې او لښتيان يې پکښې جوړ کړل، اوس له تخم کرلو څخه مخکي پر ربُ الأرض دومره قرض ښکاره سو چي بغير د ځمکي له خرڅولو څخه د هغه د اداء کولو بله لاره نه وه، نو په دې صورت کي د ځمکي خرڅولو لپاره مزارعت فسخ کول کېدای سي؛ ځکه قرض يو عذر دی او د قرض په وجه اجاره هم فسخ کول کيږي، نو ځکه د همدې قرض پر بناء به مزارعت هم فسخ کول کيږي کوم چي د اجارې په څېر دی. او په دغه صورت کي هم عامل تـه د ځمکي اړولو او د والو جوړولو اُجرت نه حاصليږي؛ ځکه دلته په عقد کي د عامل د منافعو قيمت پيداوار ټاکل سوی دی (يعني د کار کولو په

اُجرت کي هغه ته د پيداوار يو حصه ورکول کيږي، مثلاً دريمه حصه يا داسي نور)، او پيداوار سوی نه دی، نو اُجرت او قيمت هم نه واجبيږي.

ښکاره دي وي چي دا ټوله تفصيلات هغه وخت دي کله چي تخم دعامل له طرفه وي، لېکن که تخم د ځمکي د مالک له طرفه وي، نو عامل ته په دواړو صورتونو کي اجرت مثلي حاصليږي (يعني په عام بازار کي چي د ده دعمل او کار څومره اُجرت جوړيږي، هغه به ورکول کيږي). (احسن الهدایه)

د مقروض ربُ الأرض په قرض کي د هغه د ځکمي د نه خرڅولو يو صورت

وَلَوْنَبَتَ الزَّرْعُ وَلَمْ يُسْتَحْصَدْ او که چيري کښت شين سوی وي خو [تر اوسه] رېبل سوی نه وي لَمْ تُبَعْ الْأَرْضُ فِي الدَّيْنِ حَتَّى يُسْتَحْصَدَ الزَّرْعُ نو په قرض کي به ځمکه نه خرڅول کيږي تر دې چي کښت ورېبل سي لِأَنَّ فِي الْبَيْعِ إِبْطَالَ حَقِّ الْمُزَارِعِ ځکه په بيع کي د کښتګر د حق باطلول سته وَالتَّأْخِيرُ أَهْوَنُ مِنَ الْإِبْطَالِ او [دبيع] ځنډول له باطلولو څخه زيات آسانه دي وَيُخْرِجُهُ الْقَاضِيُ مِنَ الْحَبْسِ إِنْ كَانَ حَبَسَهُ بِالدَّيْنِ او قاضي به د ځمکي مالک له بنده راباسي که چيري د قرض په وجه يې بندي کړی وي لِأَنَّهُ لَمَّا امْتَنَعَ بَيْعُ الْأَرْضِ ځکه کله چي د ځمکي بيع منع سوه لَمْ يَكُنْ هُوَ ظَالِمًا نو د ځمکي مالک [د ځمکي نه خرڅولو په وجه] ظالم نه سو وَالْحَبْسُ جَزَاءُ الظُّلْمِ او بندي کول خو د ظلم سزا ده.

اللغات: ﴿نبت، يستحصد﴾ د دې وضاحت څه مخکي تېر سو. ﴿أهون﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات سپک. ﴿حبس﴾ د ضرب مصدر دی: بندي کول، راګرځول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي کله د عاقدينو تر مينځ د مزارعت معامله وسوه. تخم وکرل سو او کښت هم راشين سو، بيا د ځمګي پر مالک ډېر قرض ښکاره سو (چي د ځمکي له خرڅولو څخه بغير د هغه اداء کول ناشوني وه)، نو فرمايي چي په دې صورت کي به د کښت د پخېدلو او رېبل کېدلو تر وخته پوري ځمکه نه خرڅول کيږي او مزارعت به نه فسخ کول کيږي؛ ځکه که د کښت له پخېدلو څخه مخکي ځمکه خرڅه کړل سي، نو په دې کي د کښتګر (مزارع) نقصان دی، چي د هغه تخم او زحمت به ضايع سي، او د ځمکي خرڅولو په تأخير کي که څه هم د قرضخواهانو نقصان دی، لېکن د عامل نقصان د هغو تر نقصان زيات دی، او اُصول دا دی چي "إذا اجتمع مفسدتان روعي أعظمهما ضرراً بإرتكاب أخفهما" يعني کله چي دوه نقصانونه سره جمع سي، نو په دې وخت کي به أخف او سپک والا ضرر اختيارول کيږي، نو دلته به هم أخف اختيارول کيږي او د کښت پخېدلو او رېبل

بیا که د قرض نه اداء کولو په وجه قاضي د څمکې مالک بندي کړي وي (لکه څرنګه چې هم دا اصول دی چې که مقروض د قدرت باوجود په قرض اداء کولو کې تأخیر کوي، نو قاضي ته دا حق سته چې د قرض اداء کولو تر وخته هغه بندیخانې ته واچوي)، نو په دې صورت کې قاضي ته پکار دي چې اوس دا غریب ایله کړي، ځکه کله چې فی الحاله ځمکه خرڅول او قرض په اداء کول مشکل دي، نو هغه د فی الحاله قرض نه اداء کولو په وجه ظالم یعني زیاتوب کونکی نه سو، او بندي کول خو د ظلم و زیاتوب سزا ده او د هغه ظلم ثابت نه دی، لهذا اوس د هغه خوشې کول انصاف دی. (احسن الهدایه)

له کښت پخېدلو څخه مخکې د مودت مزارعت د ختمېدلو بیان

قَالَ: وَإِذَا انْقَضَتْ مُدَّةُ الْمُزَارَعَةِ وَالزَّرْعُ لَمْ يُدْرَكْ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمایي: او کله چې د مزارعت مودت ختم سي او کښت [تر اوسه] رسېدلی نه وي كَانَ عَلَى الْمُزَارِعِ أَجْرُ مِثْلِ نَصِيبِهِ مِنَ الْأَرْضِ إِلَى أَنْ يُسْتَحْصَدَ نو پر کښتګر [عامل] د کښت رېبل کېدلو تر وخته له ځمکې څخه د خپل حصې په مثل اُجرت لازم دی [یا په بله وینا دا چې: له ځمکې څخه د خپلې حصې اُجرت مثلي پر کښتګر لازم دی د کښت رېبل کېدلو تر وخته] وَالنَّفَقَةُ عَلَى الزَّرْعِ عَلَيْهِمَا عَلَى مِقْدَارِ حُقُوقِهِمَا او د کښت خرڅ پر دواړو عاقدینو د خپلو حقوقو په اندازه لازم دی [یا په بله وینا دا چې: پر کښت کوم خرڅ کیږي هغه پر دواړو دی، د دوی د حقوقو مطابق] مَعْنَاهُ حَتَّى يُسْتَحْصَدَ د دې مطلب دا دی چې تر دې چې کښت ورېبل سي [یعني د کښت رېبل کېدلو تر وخته اُجرت او پر دواړو خرڅ لازمیږي] لِأَنَّ فِي تَبْقِيَةِ الزَّرْعِ بِأَجْرِ الْمِثْلِ تَعْدِيلَ النَّظَرِ مِنَ الْجَانِبَيْنِ ځکه د اُجرت مثلي په بدله کې د کښت په باقي ساتلو کې له دواړو طرفونو څخه د مصلحت [او شفقت] برابري ده [او له دواړو طرفونو څخه انصاف دی] فَيُصَارُ إِلَيْهِ نو ځکه د همهغه وطرف ته به رجوع کیږي وَإِنَّمَا كَانَ الْعَمَلُ عَلَيْهِمَا لِأَنَّ الْعَقْدَ قَدِ انْتَهَى بِانْتِهَاءِ الْمُدَّةِ او کار [او خرڅ] په دې وجه پر دواړو لازم دی ځکه چې د مودت ختمېدلو په وجه عقد ختم سو وَهَذَا عَمَلٌ فِي الْمَالِ الْمُشْتَرَكِ او [اوس] دا په مال مشترک کې کار کول دي وَهَذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا مَاتَ رَبُّ الْأَرْضِ وَالزَّرْعُ بَقْلٌ او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چې د ځمکې مالک مړ سي او کښت [تر اوسه] اوم وي حَيْثُ يَكُونُ الْعَمَلُ فِيهِ عَلَى الْعَامِلِ ځکه په هغه صورت کې کار پر عامل [بزګر] وي لِأَنَّ هُنَاكَ أَبْقَيْنَا الْعَقْدَ فِي مُدَّتِهِ ځکه چې هلته موږ د عقد تر مودته پوري عقد باقي پرې ایښی دی

وَالْعَقْدُ يَسْتَدْعِي الْعَمَلَ عَلَى الْعَامِلِ او عقد پر عامل د کار تقاضا کوي [يعني عقد دا تقاضا کوي چې کار به عامل او بزګر کوي] أَمَّا هٰهُنَا الْعَقْدُ قَدِ انْتَهٰى او پاته سو دلته خو عقد ختم سوی دی فَلَمْ يَكُنْ هٰذَا إِبْقَاءُ ذٰلِكَ الْعَقْدِ نو دا به د هغه عقد باقي پرېښول نه وي فَلَمْ يَخْتَصَّ الْعَامِلُ بِوُجُوبِ الْعَمَلِ عَلَيْهِ نو ځکه عامل به هم په دې سره مختص نه وي چې کار کول پرې واجب سي [يعني کله چې دلته عقد باقي پاته نه سو، نو پر عامل کار کول هم واجب پاته نه سو] فَإِنْ أَنْفَقَ أَحَدُهُمَا بِغَيْرِ إِذْنِ صَاحِبِهِ وَأَمْرِ الْقَاضِي بيا که له عاقدينو څخه يو څه خرچ وکړي بغير د خپل ملګري له اجازت او د قاضي له حکم څخه فَهُوَ مُتَطَوِّعٌ نو هغه متبرّع دی لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَيْهِ ځکه چې ده لره پر خپل ملګري ولايت نسته.

اللغات: ﴿تبقية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: پاته کول، باقي ساتل او باقي پرېښوول، او همدا د إِبْقَاء معنیٰ ده، ﴿تعديل﴾ مخکنی صيغه ده: برابرول، برابري کول، ﴿يستدعي﴾ د استفعال د باب مضارع ده: تقاضا کول، ﴿متطوّع﴾ د تفعّل د باب فاعل دی: احسان کونکی، بلا عوضه (مفت) کار کونکی (چې پر خپل کار هيڅ عوض نه ورته حاصليږي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د دوو کسانو تر مينځ د مزارعت معامله سوه چې په هغو کې د ځمکې مالک مثلاً د پنځو (۵) مياشتو لپاره عامل ته ځمکه ورکړه، او عامل په هغه کې کښتګري وکړه، اوس کښت پوخ سوی او رسېدلی لا نه وو چې پنځه مياشتې بيا پوره سوې او د مزارعت موده ختم سو، نو په دې صورت کې به څه کيږي؟.

فرمايي چې دلته دوه صورتونه دي: ① يو دا چې کښت فوراً وربېل سي، ② دويم صورت دا چې د پخېدو تر وخته کښت پرېښوول سي، او په دې دواړو صورتونو کې د عاقدينو ضرر او نقصان دی، ځکه که کښت فوراً (تر پخيدو مخکې) وربېل سي، نو په دې کې د عامل ضرر دی چې د هغه تخم او زحمت به ضايع ولاړ سي، او که د پخېدو تر وخته کښت پرېښوول سي، نو په دې کې د ځمکې د مالک نقصان دی چې ځمکه به له ټاکل سوي مودت څخه زياته مشغوله پاته سي. نو ځکه داسي طريقه به اختيارول کيږي چې نه پکښې د ربُ الأرض نقصان وي او نه د عامل، نو داسي حکم به کيږي چې د مودت زارعت تر ختمېدلو وروسته به کښت خو پرېښوول کيږي لېکن تر هغه وروسته چې څومره وخت کښت پر ځمکه پاته وي، د هغومره وخت به عامل د خپلې حصې په اندازه د ځمکې کرايه ورکوي (مثلاً د مودت مزارعت تر ختمېدلو وروسته د کښت پخېدو ته يوه مياشت پاته وه نو کښت به يوه مياشت پرېښوول کيږي او عامل به د خپلې حصې مطابق د دغه يوې مياشتې اُجرت مثلي ورکوي. يعني په

مزارعت کي چې د عامل څومره حصه ټاکل سوې وي مثلاً که مزارعت پر نصف سوی وي چې نيمه حصه به د عامل وي او نيمه حصه د ځمکي د مالک. نو په دې صورت کي به عامل ديوې مياشتي د اُجرت مثلي نيمه حصه ورکوي؛ ځکه په پيداوار کي د هغه لپاره نيمه حصه ټاکل سوې ده. لهذا د خپل حصې مطابق به ربُ الأرض ته ديوې مياشتي نيمه کرايه ورکوي)، دا د دې لپاره چې هم ربُ الأرض له نقصان او تاوان څخه محفوظ سي او هم عامل.

او څرنګه چې اوس د مودت تر ختمېدلو وروسته عقد مزارعت ختم سو او کښت د دواړو تر مينځ د مال مشترک په څېر سو، نو ځکه اوس د کار او خرچ ذمه واري پر عامل او ربُ الأرض دواړو ده (د هريوه د حصې مطابق. مثلاً که په مزارعت کي د دواړو نيمه، نيمه حصه وي نوپر دواړو نيم، نيم خرچ لازميږي، او که ديوه لپاره دوې حصې وي او د بل لپاره يوه [درېيمه] حصه وي، نو د کوم يوه چې يوه حصه وي پر هغه يوه حصه خرچ لازميږي او د کوم يوه چې دوې وي، پر هغه دوې حصې خرچ لازميږي)؛ ځکه په مال مشترک کي همداسي کيږي.

وهذا بخلاف رب الأرض إلخ: دا د يو اشکال جواب دی، اشکال دا دی چې کله ربُ الأرض مړ سي او کښت تر اوسه پوخ سوی (رسېدلی) نه وي، نو په دې صورت کي ولي پر دواړو عاقدينو کار او خرچ نه واجبيږي. بلکي صرف د عامل پر ذمه کار واجب پاتيږي (چې صرف هغه به کار کوي)، آخر د دې څه وجه ده؟.

د دغه اعتراض په جواب کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې کله ربُ الأرض مړ سي او کښت پوخ سوی نه وي، نو په دې وخت کي (د مصلحت په وجه) عقد باقي پرېښوول کيږي او د عقد د بقاء په صورت کي فقط د عامل پر ذمه کار لازم پاتيږي (ځکه په عقد کي همدا شرط لګول سوی دی چې کار به صرف عامل او بزګر کوي). او پاته سو په دغه مذکوره صورت کښي خو د مودت ختمېدلو په وجه عقد ختميږي او کښت مال مشترک ګرځي، او په مال مشترک کي کار د دواړو طرفونو پر ذمه وي. نو ځکه دلته به هم د دواړو پر ذمه وي او فقط د عامل سره به خاص نه وي.

فإن أنفق إلخ: د دې حاصل دا دی چې که په مذکور صورت کي يو عاقد د بل عاقد له اجازت څخه بغير همدارنګه د قاضي له حکم څخه بغير په کښت يو خرچ وکړي. نو هغه په خپل دغه خرچ کي متبرع او احسان کونکی دی. لهذا هغه ته دا حق نسته چې له خپل ملګري (يعني بل عاقد) څخه د هغه نيم خرچ واخلي؛ ځکه ده ته پر خپل ملګري ولايت نسته او نه ده د قاضي په حکم سره داسي کړي دي چې د قاضي تر ولايت لاندي د ده ملګری هم داخل سي او نيم خرچ اداء کړي. نو ځکه دئ متبرع دی او د نصف اخيستلو حق ورته نسته.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوْ أَرَادَ رَبُّ الْأَرْضِ أَنْ يَأْخُذَ الزَّرْعَ بَقْلًا او که چيري د ځمکي مالک د اُومه (نارسېدلي) کښت اخيستل وغواړي لَمْ يَكُنْ لَهُ ذَلِكَ نو هغه ته د دې اختيار نسته لِأَنَّ فِيهِ إِضْرَارًا بِالْمُزَارِعِ ځکه چې په دې کي کښتګر ته نقصان رسيږي وَلَوْ أَرَادَ الْمُزَارِعُ أَنْ يَأْخُذَهُ بَقْلًا او که چيري کښتګر د اُومه کښت

اخيستل وغواړي قِيْلَ لِصَاحِبِ الْأَرْضِ: اِقْلَعِ الزَّرْعَ فَيَكُوْنُ بَيْنَكُمَا نو د ځمکي مالک ته به ويل کيږي: ① چي [دا نارسېدلی] کښت وربه چي هغه به ستاسي دواړو تر مينځ مشترک وي أَوْ أَعْطِهِ قِيْمَةَ نَصِيْبِهِ ② يا کښتګر ته د خپل حصې قيمت ورکړه أَوْ أَنْفِقْ أَنْتَ عَلَى الزَّرْعِ وَارْجِعْ بِمَا تُنْفِقُهُ فِيْ حِصَّتِهِ. ③ يا ته خپله پر کښت خرچ کوه او د کښتګر په حصه کي چي ته کوم خرچ وکړې هغه واپس ځني واخله لِأَنَّ الْمُزَارِعَ لَمَّا امْتَنَعَ مِنَ الْعَمَلِ ځکه کښتګر چي کله له کار کولو ځخه منع سي لَايُجْبَرُ عَلَيْهِ نو پر هغه پر کار کولو نه مجبورول کيږي لِأَنَّ إِبْقَاءَ الْعَقْدِ بَعْدَ وُجُوْدِ الْمُنْهِيْ نَظَرٌ لَهُ ځکه چي د عقد د ختمونکي شي تر موجودېدلو وروسته د عقد باقي پرېښوول د کښتګر د مصلحت لپاره وه [يا په بله وينا دا چي د عقد مزارعت تر ختمېدلو وروسته هغه باقي ساتل د کښتګر د فايدې لپاره وه] وَقَدْ تَرَكَ النَّظَرَ لِنَفْسِهِ حال دا چي هغه خپله د خپل ځان [فايده او] مصلحت پرېښووی وَرَبُّ الْأَرْضِ مُخَيَّرٌ بَيْنَ هٰذِهِ الْخِيَارَاتِ لِأَنَّ بِكُلِّ ذٰلِكَ يُسْتَدْفَعُ الضَّرَرُ او د ځمکي مالک ته [په دې وجه] د دغه درېو اختياراتو تر مينځ اختيار ورکول سوی دی ځکه چي په دې هريوه سره هغه ضرر دفع کولای سي.

اللغات: ﴿بقل﴾ شين، زرغون، مراد: اُوم نارسېدلی کښت. ﴿إقلع﴾ د فتح له بابه د واحد مذکر امر حاضر صيغه ده: کاږل، له خپل ځايه ليري کول. ﴿مُنْهِي﴾ او مُنَهِّي دواړه ويل کېدای سي اول د افعال له بابه د فاعل صيغه ده او دويم د تفعيل له بابه چي د دواړو معنیٰ ده: انتهاء ته رسونکی، پوره کونکی، ختمونکی، ځکه چي د موت ختمېدل مزارعت ته انتهاء ته رسوي او ختموي يې.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي کښت تر اوسه پوخ سوی (رسېدلی) نه دی او مودت مزارعت ختم سو، اوس که د ځمکي مالک د دغه اُوم کښت تقسيمول او اخيستل غواړي (مثلاً عامل ته ووايي چي زه په همدغه اُوم حالت کي کښت او پيداوار رېبم چي له هغه ځخه به ما و تا خپل تاکل سوې حصه اخلو)، نو هغه ته د دې حق او اختيار نسته؛ ځکه د هغه په دې فعل کي د کښتګر (عامل) نقصان دی چي زحمت وغيره به يې ضايع ولاړ سي، لېکن که خپله کښتګر د اُوم کښت اخيستل وغواړي، نو هغه ته د دې اختيار سته او په دې صورت کي د ځمکي مالک ته درې اختيارات حاصليږي چي هريو وغواړي هغه دي اختيار کړي:

① ... يو دا چي هغه دي د کښتګر (عامل) د خوښي مطابق دا اُوم نارسېدلی کښت ورېبي او په خپل مينځ کي دي يې تقسيم کړي.

④... دويم دا چي ټوله كښت دې خپله واخلي او د كښتګر د حصې موجوده قيمت دې وركړي (يعني په غه اُوم او نارسېدلي حالت كي چي د كښتګر د حصې څومره قيمت جوړېږي، هغه دې وركړي).

③... او درېيم اختيار دا دی چي كښت دې پر خپل حال پرېږدي او پر كښت چي څومره خرچ راسي هغه دې له خپل جېبه اداء كړي (يعني كوم خرچ چي د كښتګر په حصه كي راځي هغه دې هم خپله اداء كړي)، او بيا چي كښت او پيداوار ورسيږي، نو د كښتګر د حصې څومره خرچ چي ده اداء كړی وي، هغه دې له پيداوار څخه واخلي او پاته پيداوار دې كښتګر ته وركړي.

او دا درې اختيارات ځكه ورته سته چي كله كښتګر (عامل) له كار كولو څخه انكار وكړی، نو هغه پر كار كولو نه مجبورول كيږي؛ ځكه د منهي تر موجودېدلو وروسته يعني تر مودت ختمېدلو وروسته خو عقد ختميږي، لېكن د كښتګر د مصلحت اوفايدې په خاطر هغه باقي پرېښوول كيږي، لېكن اوس چي كله خپله هغه خپل مصلحت او فايده نه غواړي، نو ځكه عقد ختميږي، او ځمكي والا ته د هغه د فايدې لپاره درې اختيارات حاصليږي كوم چي پورته ذكر سول. او دا ځكه ورته حاصليږي چي په دې اختياراتو كي د هريوه په اختيارولو سره د ځمكي مالک او عامل دواړه له ضرر او نقصان څخه خوندي كېدای سي.

له كښت پخېدلو څخه مخكي د عامل (كښتګر) د وفات كېدلو حكم

وَلَوْمَاتَ الْمُزَارِعُ بَعْدَ نَبَاتِ الزَّرْعِ او كه له كښت راشنه كېدو څخه وروسته كښتګر مړ سي فَقَالَتْ وَرَثَتُهُ: نَحْنُ نَعْمَلُ إِلَى أَنْ يُسْتَحْصَدَ الزَّرْعُ نو د هغه وارثان ووايي: چي [اوس د هغه پر ځای] موږ كار كوو تر دې چي كښت ورېبل سي وَأَبَى رَبُّ الْأَرْضِ او د ځمكي مالک انكار وكړی فَلَهُمْ ذٰلِكَ نو وارثانو ته د دې اختيار سته لِأَنَّهُ لَا ضَرَرَ عَلَى رَبِّ الْأَرْضِ ځكه چي د ځمكي د مالک [په دې كي] هيڅ ضرر نسته وَلَا أَجْرَلَهُمْ بِمَا عَمِلُوا او وارثانو لره د هغوی د كار كولو په عوض كي هيڅ اُجرت نسته لِأَنَّا أَبْقَيْنَا الْعَقْدَ نَظَرًا لَهُمْ ځكه چي موږ د هغوی د مصلحت لپاره عقد باقي پرې ايښی دی فَإِنْ أَرَادُوا قَلْعَ الزَّرْعِ بيا كه وارثان د [اُومه] كښت رېبل وغواړي لَمْ يُجْبَرُوا عَلَى الْعَمَلِ نو هغوی به پر كار كولو نه مجبورول كيږي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړی وَالْمَالِكُ عَلَى الْخِيَارَاتِ الثَّلَاثِ او [په دې صورت كي] د ځمكي مالک ته [هماغه] درې اختيارات دي [كوم چي څه مخكي ذكر سول] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړی.

اللغات: ﴿مزارع﴾ د مفاعلې د باب فاعل دی: کښتګر، د کښت کار کونکی. ﴿أبی﴾ د فتح د باب ماضي ده: انکار کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د مزارعت له معاملې کولو څخه وروسته عامل تخم وکری او کښت راشين سو، لېکن تر اوسه پوخ سوی او رسېدلی نه وو چې عامل (کښتګر) مړ سو، او د عامل وارثان د کښت پخېدلو تر وخته د عامل پر ځای کار کولو ته تيار سول، نو هغو ته به د کار کولو اجازت ورکول کېږي، که څه هم د ځمکې مالک په دې ناخوښه وي او انکار وکړي؛ ځکه څرنګه چې د عامل د کار کولو په صورت کې د ځمکې د مالک نقصان نه وو بلکې د دواړو فايده وه، همداسې کله چې د عامل وارثان کار کوي، نو په دې کې هم د هغه هيڅ نقصان نسته بلکې کله چې کښت ورسيږي نو دواړو ته به فايده حاصله سي.

خو وارثان چې کوم د عامل پر ځای کار کوي، هغو ته د دې هيڅ اُجرت نه حاصلېږي (يعنې د دې کار په عوض کې به هيڅ اُجرت او حق الزحمه نه ورکول کېږي)، ځکه د عامل په مرګ سره خو عقد ختم سو، مګر د هغو د رعايت او فايدې په خاطر د کښت پخېدلو تر وخته هغه باقي پرېښوول سو. لهذا هغو ته د خپل مورث "عامل" حصه خو حاصلېږي، لېکن د خپل کار او عمل په بدله کې هيڅ هم نه ورته حاصلېږي.

او که د عامل تر مرګ وروسته وارثان وغواړي چې همدا نارسېدلی اُوم کښت ورېبي او تقسيم يې کړي او کار کول نه غواړي، نو هغو ته د دې اختيار سته؛ ځکه چې دا عقد مزارعت د همدوی د مصلحت او فايدې په خاطر پرېښوول سوی وو، اوس دوی خپله د هغه ختمول غواړي او د خپل مصلحت په ختمولو راضي دي. لهذا اوس دوی پر کار کولو نه سي مجبورول کېدای. او په دې صورت کې هم د ځمکې مالک ته هماغه درې اختيارات حاصلېږي کوم چې څه مخکې بيان سول. (احسن الهدايه)

د کښت اضافي خرچونه او لګښتونه پر دواړو د خپل حصو په اندازه لازم دي

قَالَ: وَكَذٰلِكَ أُجْرَةُ الْحَصَادِ وَالرِّفَاعِ وَالدِّيَاسِ وَالتَّذْرِيَةِ عَلَيْهِمَا بِالْحِصَصِ فرمايي: او همدارنګه د لو کولو، درمند ځای ته د وړلو، غوبل کولو او د غلې بادولو [صفا کولو] اُجرت پر دوی دواړو دی د خپلو حصو مطابق فَإِنْ شَرَطَاهُ فِي الْمُزَارَعَةِ عَلَى الْعَامِلِ نو که دوی په مزارعت کې دا اُجرت پر عامل [بزګر] شرط کړي فَسَدَتْ نو مزارعت فاسدېږي وَهٰذَا الْحُكْمُ لَيْسَ بِمُخْتَصٍّ بِمَا ذُكِرَ مِنَ الصُّوْرَةِ وَهُوَ انْقِضَاءُ الْمُدَّةِ وَالزَّرْعُ لَمْ يُدْرِكْ او دغه حکم [يعنې پر دواړو اُجرت لازمېدل] صرف د مذکوره صورت يعنې چې مودت تېر سوی وي او کښت تر اوسه پوخ سوی نه وي سره خاص نه دی بَلْ هُوَ عَامٌّ فِي جَمِيعِ الْمُزَارَعَاتِ بلکې دا په ټولو مزارعاتو کې عام دی [هر مزارعت لره شامل دی] وَوَجْهُ ذٰلِكَ أَنَّ الْعَقْدَ

يَتَنَاهٰى بِتَنَاهِي الزَّرْعِ لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ او د دې وجه دا ده چې د کښت په رسېدو [پخېدو] سره عقد هم رسيږي [ختميږي] فَيَبْقٰى مَالٌ مُشْتَرَكٌ بَيْنَهُمَا وَلَا عَقْدَ نو د عاقدينو تر مينځ مال مشترک پاتيږي په داسي حال کې چې [د دوی تر مينځ] عقد نسته فَيَجِبُ مُؤْنَتُهُ عَلَيْهِمَا نو ځکه د هغه خرچ [او مصرف] به پر دواړو لازم وي.

اللغات: ﴿حصاد﴾ لوْ کول، فصل رېبل (کښت رېبل). ﴿رِفَاع﴾ او رَفَاع: فصل او پيدوار له رېبولو څخه وروسته درمندځای ته وړل (ځکه کله چې فصل مثلاً غنم لو کړل سي [ورېبل سي] او سره جمع کړل سي چې هغه ته درمند وايي، نو بيا د پاکولو او مېده کولو لپاره بل ځای ته وړل کيږي چې هغه ته درمندځای په عربي کې ورته بَيْدَر او داسي نور وايي، همدغه وړلو او منتقل کولو ته رِفَاع ويل کيږي. ﴿دِيَاس﴾ غوبل کول، له وږو څخه دانې (يعني غنم او داسي نور) را ايستل. ﴿تذرية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: درمند بادول (لونل)، غله پورته غورځول چې د باد په ذريعه پروړ ځني جلا سي، د باد په ذريعه دانې له پروړو څخه جلا کول. ﴿يتناهٰى﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: انتهاء ته رسېدل، مراد: د کښت پخېدل.

تشريح: مسئله: دا ده چې څرنګه د کښت تر پخېدلو مخکې د مودت مزارعت د ختمېدلو په صورت کې د کښت باقي پرېښوولو خرچه پر دواړو عاقدينو ده، همدارنګه کله چې کښت پوخ او تيار سي، نو تاسي ته معلومه ده چې په دې سره هم مزارعت ختميږي، او کله چې مزارعت ختم سي، نو بيا کار او خرچ پر دواړو وي، لهذا اوس د کښت رېبلو او لوْ کولو اُجرت د دواړو پر ذمه دی او بيا درمندځای ته د هغه راوړل هم د دواړو کار دی، که يې خپله راوړي يا مزدوران نيسي، همدارنګه د غوبل کولو او د غلې بادولو اُجرت هم د دواړو پر ذمه دی، نن سبا خو د غوبل او داسي نورو رواج ختم سوی دی هر کار په مشين سره کيږي چې د هغه په ذريعه په ډېر آسانه او صفا توګه پروړ او غله سره جلا کيږي.

او که په عقد مزارعت کې دا شرط ولګول سي چې لوْ کول او داسي نور به يوازي د عامل پر ذمه وي، څرنګه چې دا شرط د عقد د مقتضاء خلاف دی، او په داسي شرطونو سره عقد فاسديږي.

او دا حکم صرف د مذکوره صورت سره خاص نه دی، بلکي په نورو مزارعاتو کې هم که د لوْ کولو او داسي نورو اُجرت يوازي د يوه پر ذمه وټاکل سي، نو په دې سره عقد فاسديږي: ځکه کله چې کښت پوخ او تيار سو، نو عقد مزارعت هم ختم سو، ځکه د عقد مقصود حاصل او پوره سو. لهذا د عقد تر ختمېدلو وروسته دا پوخ فصل او کښت د عاقدينو تر مينځ د مال مشترک په درجه کې سو، او تر مال مشترک لاندي راتلونکي هر کار د عاقدينو تر مينځ مشترک وي، نو د مذکوره شيانو اُجرتونه او لګښتونه به هم د دوی تر مينځ د دوی د حصو په اندازه مشترک وي.

په عقد مزارعت کي د عقد د مقتضا خلاف شرط لګولو تفصيل

وَإِذَا شُرِطَ فِي الْعَقْدِ ذٰلِكَ وَلَا يَقْتَضِيهِ او کله چي په عقد کي هغه [يعني حصاد (لو کول) او داسي نور] شرط کړی سي حال دا چي عقد د هغه تقاضا نه کوي وَفِيهِ مَنْفَعَةٌ لِأَحَدِهِمَا او په هغه کي د يوه عاقد نفع وي يَفْسُدُ الْعَقْدُ نو عقد مزارعت فاسديږي كَشَرْطِ الْحَمْلِ أَوِ الطَّحْنِ عَلَى الْعَامِلِ لکه [د پيداوار] د وړلو او ميده کولو شرط چي پر عامل وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَجُوزُ إِذَا شُرِطَ ذٰلِكَ عَلَى الْعَامِلِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي که پر عامل هغه [حصاد او داسي نور] شرط کړی سي نو جائز دي اِعْتِبَارًا بِالِاسْتِصْنَاعِ پر استصناع په قياس کولو سره وَهُوَ اخْتِيَارُ مَشَايِخِ بَلْخٍ او همدا د بلخ د مشايخو اختيار سوی قول دی قَالَ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ السَّرَخْسِيُّ: هٰذَا هُوَ الْأَصَحُّ فِي دِيَارِنَا شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي زموږ په علاقو کي همدغه قول زيات صحيح دی.

اللغات: ﴿حمل﴾ د ضرب مصدر دی: پورته کول، وړل او بارول، ﴿طحن﴾ د فتح مصدر دی: ميده کول (اوړه کول).

تشريح: **مسئله**: دا ده که په عقد مزارعت کي يو داسي شرط ولګول سي کوم چي د عقد د مقتضاء خلاف وي او په هغه کي د يوه عاقد فايده هم وي، نو د ظاهر روايت مطابق داسي شرط مزارعت باطلوي، لکه دا شرط چي ولګول سي چي د پيداوار (مثلاً د حاصل سوو غنمو) د راوړلو او د ميده کولو ذمه واري پر عامل ده، نو څرنګه چي دا شرط د مقتضاء عقد خلاف دی او په دې کي د ځمکي د مالک (ربُ الأرض) فايده هم ده، نو ځکه په دې سره مزارعت فاسديږي.

حضرت امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي څرنګه په اډر (فرمايش) د يو شي جوړولو معامله او د هغه راغوښتل او را وړل صحيح دي، همداسي که مذکور شرطونه يوازي د عامل پر ذمه ولګول سي، نو مزارعت هم صحيح کيږي، د بلخ مشايخو همدغه قول اختيار کړی دی او شمس الائمي سرخسي رَحِمَهُ الله هم دا قول د خپلو علاقو لپاره غوره ګڼلی دی، او همدا مفتیٰ به قول دی.

د کښت د خرچونو او لګښتونو نور وضاحت

فَالْحَاصِلُ أَنَّ مَا كَانَ مِنْ عَمَلٍ قَبْلَ الْإِدْرَاكِ كَالسَّقْيِ وَالْحِفْظِ نو خلاصه دا چي کوم کار د کښت تر رسېدلو [پخېدلو] مخکي والا وي مثلاً کښت اوبول [اوبه ورکول] او پالنه يې کول فَهُوَ عَلَى الْعَامِلِ نو هغه پر عامل دی وَمَا كَانَ مِنْهُ بَعْدَ الْإِدْرَاكِ قَبْلَ الْقِسْمَةِ او کوم چي د کښت تر رسېدلو وروسته او

تر تقسيم مخکي والا کار وي فَهُوَعَلَيْهِمَا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ نو د ظاهر روايت مطابق هغه پر دواړو دی كَالْحَصَادِ وَالدِّيَاسِ وَأَشْبَاهِهِمَا لکه لوول [کنبت ريبل] غو بلول او داسي نور عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چي موږ بيان کړه وَمَا كَانَ بَعْدَ الْقِسْمَةِ او کوم کار چي تر تقسيم وروسته وي فَهُوَعَلَيْهِمَا نو هغه هم پر دواړو دی وَالْمُعَامَلَةُ عَلَى قِيَاسِ هٰذَا او مساقات هم پر دغه قياس دی [يعني د درختو او بولو د معاملې هم دغه حکم دی] مَا كَانَ قَبْلَ إِدْرَاكِ الثَّمَرِ مِنَ السَّقْيِ وَالتَّلْقِيحِ وَالْحِفْظِ چي کوم کار د ميوې تر رسېدلو [پخېدلو] مخکي وي يعني درختي اوبول [اوبه ورکول] او پيوندکاري کول او پالنه يې کول فَهُوَعَلَى الْعَامِلِ نو هغه پر عامل دی وَمَا كَانَ بَعْدَ الْإِدْرَاكِ كَالْجِدَادِ وَالْحِفْظِ او کوم چي د ميوې له رسېدلو څخه وروسته وي لکه مېوه شکول او پالنه يې کول فَهُوَعَلَيْهِمَا نو هغه د دوی دواړو پر ذمه دی.

اللغات: ﴿سقي﴾ د ضرب مصدر دی: اوبه کول، اوبه ورکول. ﴿حفظ﴾ د سمع مصدر دی: حفاظت او پالنه کول. ﴿تلقيح﴾ د تفعيل مصدر دی: پيوندکاري، د خرما وغيره په درختو کي نر او ماده سره پيوندول. ﴿الجِداد﴾ و الجَداد (بالکسر والفتح، و بالدال وبالذال يعني جذاذ هم ويل کېدای سي): خرما او مېوه راشکول.

تشريح: په دې عبارت کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د استحضار ذهن لپاره د مخکينيو مسئلو خلاصه بيانوي چي د ظاهر روايت مطابق د اعمالو او کارونو درې صورتونه دي، برابره ده د مزارعت وي او که د مساقات وي: ① هغه کار کوم چي د کبنت يا مېوې تر پخېدلو او رسېدلو مخکي والا پړاو کي کيږي، مثلاً اوبه کول (اوبه ورکول)، ساتنه او پالنه او داسي نور، داسي کارونه يوازي د عامل پر ذمه دي (د بزګر په غاړه دي)، ② هغه کار کوم چي د کبنت يا مېوې تر پخېدلو وروسته والا پړاو سره متعلق دی، هغه د عاقدينو تر مينځ مشترک دي، مثلاً لو کول او ريبل، د مېوو شکول او داسي نور، ③ هغه کار کوم چي د پيداوار (غلې يا مېوې) له وېشلو او تقسيمولو څخه وروسته کيږي، هغه هم د عاقدينو تر مينځ مشترک دي، مثلاً پيداوار بل ځای ته وړل، ميده کول او داسي نور.

نو اوس چي په دې هر صورت کي کار د کوم يوه پر ذمه دی، که په هغه کي د بل يوه پر ذمه د کار شرط ولګول سي يا په مشترک والا صورت کي يوازي د يوه پر ذمه د کار شرط ولګول سي، څرنګه چي داسي شرط د مقتضاء عقد خلاف دی، نو ځکه په دې سره مزارعت فاسديږي.

كه د مېوې شكول يوازې پر عامل شرط كړى سي

وَلَوْ شَرَطَ الْجِدَادُ عَلَى الْعَامِلِ او كه چيرې [يوازې] پر عامل د مېوې شكول شرط كړى سي لَايَجُوزُ بِالِاتِّفَاقِ نو دا بالاتفاق جائز نه دى لِأَنَّهُ لَا عُرْفَ فِيهِ ځكه په دې كې هيڅ عرف نسته وَمَا كَانَ بَعْدَ الْقِسْمَةِ او كوم كار چې تر تقسيم وروسته وي فَهُوَ عَلَيْهِمَا نو هغه پر دوى دواړو دى لِأَنَّهُ مَالٌ مُشْتَرَكٌ وَلَا عَقْدَ ځكه چې دا مشترک مال دى او عقد نسته وَلَوْ شَرَطَ الْحَصَادُ فِي الزَّرْعِ عَلَى رَبِّ الْأَرْضِ او كه په كښت كې د ځمكې پر مالک لو كول [د كښت رېبل] شرط كړل سي لَايَجُوزُ بِالْإِجْمَاعِ نو دا بالاتفاق جائز نه دى لِعَدَمِ الْعُرْفِ فِيهِ ځكه چې په دې كې عرف نسته وَلَوْ أَرَادَا قَصْلَ الْقَصِيلِ او كه عاقدين د اُومه كښت د رېبلو اراده وكړي أَوْ جَدَّ التَّمْرِ بُسْرًا يا د نيم پخته خرماوو د شكولو أَوْ الْتِقَاطَ الرُّطَبِ يا د تازه پخو خرماوو د را اخيستلو [اراده وكړي] فَذَلِكَ عَلَيْهِمَا نو دا كار پر دوى دواړو دى لِأَنَّهُمَا أَنْهَيَا الْعَقْدَ لَمَّا عَزَمَا عَلَى الْقَصْلِ وَالْجِدَادِ بُسْرًا ځكه چې دوى دا عقد ختم كړى كله چې يې د اُومه كښت رېبلو او د نيم پخته خرماوو د شكولو اراده وكړه فَصَارَ كَمَا بَعْدَ الْإِدْرَاكِ نو داسي سو لكه تر پخېدلو وروسته [چې د رېبلو او شكولو اراده وكړي].

اللغات: ﴿قصل﴾ د ضرب مصدر دى. د دې باب څو معناوي دي چې له هغوى څخه يوه ده: پرېكول، رېبل. ﴿قصيل﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي: ① خسيل (يعني د شنو غنمو او شنو اُوربشو رېبل سوې برخه كوم چې څاروېو ته وركول كيږي)، ② خو د فقهاؤ په اصطلاح كې تصيل هر هغه كښت ته وايي كوم چې تر اوسه رسېدلى (پوخ سوى) نه وي يعني اُوم كښت (مصباح اللغات)، همداسي په حاشيه كې هم ليكل سوي دي: يُقال لكلّ زرعٍ بعد النّبات قبل الإدراك. ﴿بُسر﴾ تر پخېدلو مخكې خرما ته "بسر" وايي، نيم پخته خرما، يعني خرما چې كله جوړه سي، لېكن تر اوسه لا كوچنى وي او رسېدلې نه وي نو دا "بُسر" خرما ده. ﴿التقاط﴾ د افتعال د باب مصدر دى: را اخيستل، چاڼول. ﴿رطب﴾ تازه (خيشته) خرما.

تشريح: مخكې ذكر سوه چې كوم كار د كښت يا ميوې تر پخېدلو وروسته كيږي، هغه د دواړو عاقدينو پر ذمه دى. لېكن كه داسي كار يوازې د عامل (بزگر) پر ذمه شرط كړى سي، نو بالاتفاق جائز نه دى. په ظاهر روايت كې خو په دې وجه چې دا د كښت تر پخېدلو وروسته والا عمل دى چې په

هغه کي د دواړو عاقدينو اشتراک ضروري دی، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز په دې وجه جائز نه دی چي پوازي ديوه کس د مېوې شکولو عرف نسته.

وماکان بعد القسمة إلخ: دا صورت مخکي ذکر سو چي هغه کار کوم چي د پيداوار (غلې يا مېوې) له وېشلو او تقسيمولو څخه وروسته کيږي، هغه هم د عاقدينو تر مينځ مشترک دی يعني د دواړو عاقدينو پر ذمه دی، مثلاً پيداوار بل ځای ته وړل، ميده کول او داسي نور؛ ځکه چي دا مالِ مشترک دی.

سوال: مصنف رَحِمَهُ الله تر وېشولو او تقسيمولو وروسته والا پيداوور ته مالِ مشترک ويلي دي. حال دا چي اوس اشتراک نسته؟.

جواب: دې ته په اعتبار د "ما کان عليه" مشترک ويل سوي وي (کوم چي د مجاز له څلورويشتو علاقو څخه يو علاقه ده)، ځکه تر تقسيم وروسته هم د پيداوار ټوله مجموعه د دوی دواړو ده، مثال يې داسي دی چي په يو ځمکه کي د څو خلکو جلا، جلا حصه وي، نو بيا هم دا ويل کيږي چي دوی ټوله په دې ځمکه کي شريکان دي.

ولوشرط إلخ: د دې حاصل دا دی چي په کښت کي د لَوْ او رېبلو پړاو د کښت تر پخېدو وروسته راځي، چي داسي کار د دواړو پر ذمه لازم وي لهذا که يوازي د ربُ الأرض پر ذمه د لَوْ او رېبلو کار شرط کړی سي، نو دا هم جائز نه دي، او دليل هغه د مېوې شکولو والا دی کوم چي اوس تېر سو.

ولوأراد إلخ: د دې حاصل دا دی چي که دواړه عاقدَين له پخېدو او رسېدو څخه مخکي د کښت يا مېوې د پرېکولو او شکولو اراده وکړي (يا په بله وينا دا چي د اومه کښت او مېوې پرېکول وغواړي)، نو اوس به کوم يو دا کار کوي؟. فرمايي چي کوم حکم تر پخېدلو وروسته دی، هاغه حکم دلته هم دی، يعني دا کارونه (رېبل، پرېکول او شکول) د دواړو پر ذمه دي؛ ځکه کله چي دوی دا اراده وکړه، نو ګواکي عقدِ مزارعت او عقدِ مساقاة ختم سو، لکه د کښت او مېوې تر پخېدو وروسته چي ختميږي، او مخکي ذکر سوه چي د عقد تر ختمېدو وروسته به کار د دواړو پر ذمه وي، نو همداسي به دلته هم د دواړو پر ذمه وي.



كِتَابُ الْمُسَاقَاةِ

(دا) فصل په (بيان د) مساقات کي دی

تشريح: مُسَاقَاة له سَقْيٌ څخه مشتق دی چې ذهغه معنیٰ ده: اُوبنول، اوبه ورکول. اصطلاحي معنیٰ يې ده: باغ او درختي يو چا ته د حفاظت (پالني) او اُوبولو لپاره ورکول او په اُجرت کي يې مېوه تاکل. مثلاً د باغ مالک يو مزدور ونيسي او ورته ووايي چې ته زما دغه باغ ته اوبه ورکوه او حفاظت يې کوه او کله چې دا مېوه وکړي له هغه څخه به دومره حصه ستا وي، همدې ته مساقات وايي.

علامه عيني رَحِمَهُ الله وايي چې که څه هم مساقات په حديث شريف سره ثابت دی (لکه مخکي چې ذکر سوه) او زياتره علماء د مساقات د جواز قائل دي (نو بايد مساقات تر مزارعت مخکي سوي وای)، خو څرنګه چې مزارعت زيات واقع، کيږي نو هغه ته ضرورت زيات دی همدارنګه د مزارعت احکامِ فرعيه او تفريعات هم زيات دي (د مساقات په نسبت)، نو ځکه اول مزارعت او تر هغه وروسته بيا مساقات بيان سوی دی.

د مساقاة شرعي حيثيت

قَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ: الْمُسَاقَاةُ بِجُزْءٍ مِنَ الثَّمَرِ بَاطِلَةٌ امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: د مېوې [مېوو] په يو حصه سره مساقات کول باطل دي وَقَالَا ❁: جَائِزَةٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: جائز دی [هغه وخت إذا ذُکر...] إِذَا ذُكِرَ مُدَّةٌ مَعْلُومَةٌ کله چې يو معلوم مودت ذکر کړی سي وَسُمِّيَ جُزْءٌ مِنَ الثَّمَرِ مُشَاعًا او د مېوې [مېوو] يو حصه د شيوع په توګه متعيّنه کړل سي [يا په بله وينا دا چې (د عامل لپاره) د ميوې يو جزءِ شائع (شائع حصه) وټاکل سي، لکه درييمه حصه، يا څلورمه او داسي نور، داسي حصې ته جزء شائع وايي، وجه د تسميه يې مخکي تېر سوې ده] وَالْمُسَاقَاةُ هِيَ الْمُعَامَلَةُ او مساقات همدا د درختو معامله ده [چې داهل مدينې په لغت کي "معامله" ورته وايي، او د کښتکرۍ معاملې ته مزارعت وايي]

❁ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَاالله، كما مرّ في المزارعة، و كما ذكر في مجمع الأنهر: يفتىٰ علـى صحتها (ج:٢، ص:١٤٨)، وفي الهندية: وعندهما جائزة إذا ذكر مدة معلومة وسمى جزءا مشاعاً، والفتوىٰ على أنه تجوز و إن لم يبين المدة كذا في السراجية (الهندية ج:٥، ص:٢٧٨). [القول الراجح ج:٢، ص:٢٨٦]

وَالْکَلَامُ فِیْهِمَا کَالْکَلَامِ فِی الْمُزَارَعَةِ او خبره [اختلاف] په مساقات کي د مزارعت د خبري [اختلاف] په شان دی [يعني په مساقات کي هم داسي اختلاف دی لکه په مزارعت کي چي وو].

اللغات: ﴿بجزء الثمر﴾ د مېوې په يو جزء او حصه سره، مثلاً دريمه حصه يا څلورمه حصه چي دې ته جزء شائع هم وايي، د مساقات يو صورت خو دا دی چي عامل (يعني د باغ اوبه کونکي او پالونکي) ته په اُجرت کي دراهم يا دنانير ورکول سي يا د شکول سوي (حاصلي کړل سوي) مېوې څه حصه ورکول سي، دا خو جائز دی، او بل صورت يې دا دی چي عامل ته په اول کي وويل سي چي دا باغ چي هر څومره مېوه وکړي له هغه څخه مثلاً دريمه يا څلورمه حصه ستا ده (يعني د عامل په اُجرت کي د مېوې جزءِ شائع وټاکل سي)، نو دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز باطل دی، او د صاحبينو په نېز جائز دی.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز مساقات باطل دی که څه هم د عامل لپاره د مېوې جزءِ شائع (مثلاً دريمه يا څلورمه حصه) متعيّنه کړل سي، لنډه دا چي د مزارعت په څېر مساقات هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز باطل دی

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز که د مساقات موډت معلوم سي او د مېوې جزء شائع متعين کړل سي، نو د مساقات په جواز کي هيڅ شبهه نسته.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل هماغه دی کوم چي په مزارعت کي تېر سو چي حاصل يې داسي راځي چي په مساقات کي هم د مزارعت په څېر د پيداوار پر څه حصې معامله کيږي يعني په اُجرت کي د مېوې بعضي حصه ورکول کيږي، او پيداوار نا معلومه دی چي وبه سي او که نه، او که وسي نو مقدار يې مجهول دی چي څومره پيداوار به وسي، لنډه دا چي په مساقات کي ورکول کېدونکی اُجرت يا مجهول المقدار دی يا ګرسره معدوم دی، او دا دواړه صورتونه صحيح نه دي، نو مساقات به له کومه صحيح سي!.

صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د خلکو د ضرورت او حاجت پر بناء مساقات جائز ګرځولی دی، همدا مفتیٰ به قول دی او پر همدې د خلکو عمل هم دی. او څرنګه چي مساقات د مزارعت او اجارې په څېر دی او په دې دواړو کي د موډت بيانول ضروري دی، نو ځکه په مساقات کي هم د موډت بيانول مشروط دی. او څرنګه چي مساقات يو ډول عقد شرکت دی، نو ځکه د مېوې جزءِ شائع متعيّنول هم ضروري دي، د دې لپاره چي دا عقد مفضي إلى النزاع نه سي، په دې وجه صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په همدې دوو شرطونو سره مساقات جائز ګرځولی دی.

د مساقات او مزارعت په هکله د امام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب او دليل

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: اَلْمُعَامَلَةُ جَائِزَةٌ وَلَا تَجُوْزُ الْمُزَارَعَةُ إِلَّا تَبْعًا لِلْمُعَامَلَةِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې مساقات جائز دی او مزارعت جائز نه دی مګر د مساقات په تابع کېدو سره [يعني مزارعت صرف د مساقات په متابعت کې جائز دی] لِأَنَّ الْأَصْلَ فِيْ هٰذَا الْمُضَارَبَةُ ځکه چې په دې باره کې اصل [بنياد] مضاربت دی وَالْمُعَامَلَةُ أَشْبَهُ بِهَا او مساقات د مضاربت زيات مشابه دی لِأَنَّ فِيْهِ شَرِكَةً فِي الزِّيَادَةِ دُوْنَ الْأَصْلِ ځکه چې په مساقات کې په زائد شي [مېوه] کې شرکت وي، نه په اصل [درختو] کې وَفِي الْمُزَارَعَةِ لَوْ شَرَطَ الشَّرِكَةَ فِي الرِّبْحِ دُوْنَ الْبَذْرِ او په مزارعت کې که چيرې له تخم څخه بغير صرف په نفع کې شرکت شرط کړی سي نه په تخم کې بِأَنْ شَرَطَ رَفْعَهُ مِنْ رَأْسِ الْخَارِجِ په دې توګه چې له پيداوار څخه د تخم ايستل شرط کړل سي تَفْسُدُ نو مزارعت فاسديږي فَجَعَلْنَا الْمُعَامَلَةَ أَصْلًا وَ جَوَّزْنَا الْمُزَارَعَةَ تَبْعًا لَهَا نو ځکه موږ مساقات اصل وګرځوی او د هغه په متابعت کې مو مزارعت جائز وګرځوی كَالشِّرْبِ فِيْ بَيْعِ الْأَرْضِ وَالْمَنْقُوْلِ فِيْ وَقْفِ الْعَقَارِ لکه د ځمکې په بيع کې د اوبو لښتی او د جايداد په وقف کې منقولي [منتقل کېدونکی] شی.

اللغات: ﴿معاملة﴾ اهل مدينه به مساقات ته "معامله" ويل. ﴿رفع﴾ د فتح مصدر دی: پورته کول. مراد: ايستل. ﴿خارج﴾ راوتونکي او پيدا کېدونکي څه. مراد پيداوار دی. ﴿شِرب﴾ د اوبو لښتی (نالی).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز مساقات جائز دی خو مزارعت جائز نه دی، لېکن کله چې مزارعت د مساقات تابع سي، نو بيا د هغه په نيز مزارعت هم (بناء بر تبعيت) جائز دی، مثلاً يو باغ دی چې په يوه حصه کې يې درختي دي او بله حصه يې خالي ځمکه ده کوم چې د کښت لپاره ده. يا مثلاً يوه خالي ځمکه د کښت لپاره پرېښوول سوې ده او د هغې چار طرفه درختي دي، نو مالک دي د درختو سره يو ځای هغه خالي ځمکي هم عامل ته ورکړي چې د کښت کرني کار پکښې وکړي (يعني درختي دې د مساقات لپاره ورکړي او د هغه په متابعت کې دې هغه خالي ځمکه د مزارعت لپاره ورکړي) نو داسې جائز دي، کنې يوازې ځمکه د مزارعت لپاره ورکول جائز نه دي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې په داسې عقودو کې اصل بنياد مضاربت دی کوم چې د تولو په نيز جائز دی او په مساقات او مزارعت کې د مضاربت سره زيات مشابه مساقات دی، نه مزارعت. نو ځکه مساقات جائز دی او د هغه په متابعت کې بيا مزارعت هم جائز کېږي، او مساقات

د مضاربت زيات مشابه ځکه دی چي په مضاربت کي په رأسُ المال کي د مضارب (عامل) هيڅ شرکت نه وي بلکي د هغه شرکت په حاصلېدونکي نفع (ګټه) کي وي. همداسي په مساقات کي هم په رأس المال يعني په درختو کي د عامل هيڅ شرکت نه وي، بلکي په حاصلېدونکې نفع يعني مېوه کي يې شرکت وي، خو مزارعت بيا د دې برعکس دی چي هلته په تخم کي هم شرکت وي، تر دې چي که تخم والا دا شرط ولګوي چي زه اول له پيداوار څخه د خپل تخم په اندازه باسم او اخلم (او پاته پيداوار به سره تقسيمو) نو مزارعت فاسدېږي. لهذا ثابته سوه چي د مضاربت سره مساقات زيات مشابه دی، نو ځکه موږ مساقات جائز ګرځوو او مزارعت ناجائز. خو د مساقات د تبعيت (تابع والي) په توګه مزارعت هم جائز کېږي، او د تبعيت په اعتبار سره ډېر ځله په احکامو کي تفاوت راځي، لکه د شِرب (لښتي او نالۍ) بيع مستقلاً جائز نه ده، خو د ځمکي په متابعت کي جائز ده. همدارنګه د منقولي شي وقف مستقلاً جائز نه دی، خو د جايداد په متابعت کي د هغه د وقف هم جائز دی. مثلاً يوه غسلخانه ده چي په هغه کي څو منقولي شيان پراته دي لکه بدنۍ او داسي نور، نو د دې منقولي شيانو وقف جائز نه دی لېکن د غسلخانې په متابعت کي د هغوی وقف هم جائز دی. نو پر همدې په قياس کولو سره مستقلاً مزارعت خو جائز نه دی، لېکن د مساقات په تابع کولو سره مزارعت هم جائز دی.

يادونه: د منقولي شي مستقلاً وقف د خلکو د تعامل په وجه جائز دي. د تفصيل لپاره وګورئ! شامي (ج: ۳، ص: ۳۷۴)

د مساقات لپاره مودت شرط دی که نه؟

وَشَرْطُ الْمُدَّةِ قِيَاسٌ فِيهَا او په مساقات کي د مودت متعيّنولو شرط د قياس تقاضا ده لِأَنَّهَا إِجَارَةٌ مَعْنًى كَمَا فِي الْمُزَارَعَةِ ځکه چي هغه په معنوي توګه اجاره ده لکه څرنګه چي په مزارعت کي دي وَفِي الِاسْتِحْسَانِ إِذَا لَمْ يُبَيِّنِ الْمُدَّةَ يَجُوزُ [لېکن] په استحسان کي که مودت متعيّن نه کړي نو هم مساقات جائز دی وَيَقَعُ عَلَى أَوَّلِ ثَمَرٍ يَخْرُجُ او واقع کېږي پر اوله راتونکې [پيدا کېدونکې] مېوه باندي لِأَنَّ الثَّمَرَ لِإِدْرَاكِهَا وَقْتٌ مَعْلُومٌ ځکه چي د مېوې د رسېدلو [پخېدلو] يو معلوم وخت دی وَقَلَّمَا يَتَفَاوَتُ چي په هغه کي ډېر کم تفاوت راځي وَيَدْخُلُ فِيهَا مَا هُوَ الْمُتَيَقَّنُ او په مساقات کي هغه مېوه داخلېږي کوم چي يقيني وي [چي هغه اوله راتونکې مېوه ده].

اللغات: ﴿إدراك﴾ د افعال د باب مصدر دی. د دې باب څو معناوي دي، دلته يې معنیٰ ده: (مېوه) د پخېدلو حدّ ته رسېدل، پخېدل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي کله مساقات د معنیٰ په اعتبار سره اجاره ده، او اجاره له مودت بيانولو څخه بغير نه صحيح کيږي، نو د قياس تقاضا همدا وه چي له مودت بيانولو څخه بغير مساقات هم صحيح نه سي، لېکن د استحسان پر بناء له بيان مودت څخه بغير هم مساقات جائز گرځول سوي دی، او کله چي مودت بيان نه کړی سو، نو دا عقد مساقات پر اوله مېوه واقع کيږي؛ ځکه چي اوله مېوه متيقنه ده، او د رسېدلو وخت يې متعيّن دی چي په هغه کي ډېر کم تفاوت وي، لهذا کله چي د مېوې د رسېدلو وخت متعيّن دی، نو مساقات به هم د هاغه وخت پر ميوه واقع کيږي.
(احسن الهدايه ج: ۱۳، ص: ۲۳۲)

يادونــه: د مذکوره عبارت تشريح صاحب د اثمار الهدايې غفر الله لهٗ په نورو الفاظو سره کړې ده، ستاسي د آسانۍ لپاره هغه هم مورږ دلته را نقل کوو، فرمايي:
(حاصل د عبارت دا دی چي) د قياس تقاضا دا ده چي په مساقات کي هم د وخت متعيّنول ضروري سي، لکه څرنگه چي په مزارعت کي د وخت متعيّنول ضروري دي؛ ځکه چي په مساقات کي هم په باطني توگه اُجرت سته، نو څرنگه چي په اجاره او اُجرت کي د وخت متعيّنول ضروري دي، نو همداسي بايد دلته هم ضروري سي، لېکن د استحسان په توگه حکم دا دی چي که څه هم وخت متعيّن نه کړی سي، نو هم مساقات جائز کيږي.
وجه او دليل يې دا دی چي د ميوې پخېدلو وخت تقريباً متعيّن دی چي په هغه کي زيات تفاوت نه وي چي مثلاً په دريو مياشتو کي مېوه پخيږي، خو کم از کم مودت چي په هغه کي مېوه پخيږي، هغه مودت به مراد کيږي. (اثمار الهدايه ج: ۱۲، ص: ۲۵۶)

وَإِدْرَاكُ الْبَذْرِ فِيْ أُصُوْلِ الرَّطْبَةِ فِيْ هٰذَا بِمَنْزِلَةِ إِدْرَاكِ الثِّمَارِ او د شپيشتو په بېخو کي [په بله وينا دا چي د شپيشتو او داسي نورو د بېخو په معامله کي] د تخم رسېدل په دې باره کي داسي دي لکه [په درختو کي] د مېوو رسېدل لِأَنَّ لَهُ نِهَايَةً مَعْلُوْمَةً ځکه د تخم رسېدلو لره يو معلومه انتهاء سته [يعني مودت يې معلوم دی] فَلَا يُشْتَرَطُ بَيَانُ الْمُدَّةِ نو ځکه د مودت بيانول شرط نه دي بِخِلَافِ الزَّرْعِ په خلاف د کښت لِأَنَّ ابْتِدَاءَهُ يَخْتَلِفُ كَثِيْرًا خَرِيْفًا وَصَيْفًا وَرَبِيْعًا ځکه چي د هغه ابتداء مختلفه کيږي د موسم خزان [منې]، گرمۍ [دوبي] او پسرلي په اعتبار سره [يعني د منې، دوبي او پسرلي په راتللو سره ابتداء د کښت بدليږي را بدليږي] وَالِانْتِهَاءُ بِنَاءٌ عَلَيْهِ او انتهاء پر همدې ابتداء مبني وي فَتَدْخُلُهُ الْجَهَالَةُ نو په هغه کي جهالت داخليږي [نو ځکه له بيان مودت څخه بغير مزارعت نه صحيح کيږي].

اللغات: ﴿أُصول﴾ جمع د أُصل ده، مراد: بېخونه. ﴿رَطْبَة﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي: ① د حيوانو شنه وابنه، لکه شپېشتي، شوتل او داسي نور، او کله چي وچ کړل سي نو هغوی ته "قَتّ" وايي چي په پښتو کي ورته "ېده" وايي، ② همدارنګه هغه وابنه او سبزيجات کوم چي تر و تازه خوړل کيږي. لکه کاهو او داسي نور، ③ د شپېشتو او غاتې په څېر يو ډول بوټی دی کوم چي تر کلو. کلو پوري په ځمکه کي ولاړ وي او کله چي هم پرېکړل سي نو بيا را پورته سي، او شپېشتي هم دا خاصيت لري چي د هغوی بېخونه تر څو کالو پوري په ځمکه کي پاتيږي او کله چي هم ورېبل سي نو دويم ځل را پورته سي. او خلک يې (غالبًا) په څلورم، پنځم ځل کي تخم ترلاسه کوي او بيا يې له سيره کري، ﴿خريف﴾ خزان، منی (د کال دريم موسم)، ﴿صيف﴾ ګرمي، دوبی، ﴿ربيع﴾ پسرلی، سپرلی (ځرمنی).

تشريح: مخکي ذکر سوه چي له مودت بيانولو څخه بغير مساقات جائز دی، نو دلته پر هغه قياس کوي فرمايي چي څرنګه له مودت بيانولو څخه بغير مساقات استحسانًا جائز ګرځول سوی دی، همدارنګه که د شپېشتو او داسي نورو په آخري پړاو کي مساقات وسي، نو دا هم له مودت بيانولو څخه بغير جائز دي؛ ځکه د مېوې په څېر د شپېشتو او داسي نورو د تخم وغيره د پخېدلو هم انتهايي مودت معلوم دی.

صورت د مسئلې يې دا دی چي مالک يو عامل او بزګر ته ځمکه ورکړه چي په هغه کي د شپېشتو بېخونه وه (چي همدا يې د رېبلو آخري پړاو او نوبت وو) او عامل ته يې وويل چي ته دې ته اوبه ورکوه، حفاظت او پالنه يې کوه، تر دې چي تخم يې راووځي، او څومره تخم چي وکړي هغه به زما او ستا تر مينځ مشترک وي، نو له مودت بيانولو څخه بغير دا عقد جائز دی؛ ځکه څرنګه چي د مېوې د رسېدلو او پخېدلو وخت معلوم دی، همداسي د شپېشتو او تخم د رسېدلو وخت هم معلوم دی، نو ځکه د مودت بيان پکښې شرط نه دی.

بخلاف الزرع: د دې حاصل دا دی چي څرنګه په مېوه، شپېشتو او داسي نورو کي له بيانِ مودت څخه بغير استحسانًا عقد جائز دی، خو په کښت کي بيا له بيانِ مودت څخه بغير عقد جائز نه دي؛ ځکه د موسم د بدلون په وجه د کښت ابتداء مختلفه وي، او کله چي يې په ابتداء کي اختلاف دی، نو په انتهاء کي به يې هم خامخا اختلاف وي؛ ځکه انتهاء پر ابتداء موقوفه او مبني وي، نو بعضي کښتونه په دوو، درېو مياشتو کي پخيږي، او بعضي په څلورو کي پخيږي وغيره، لهذا که په کښت کي مودت متعيّن نه کړی سي، نو مودت مجهول پاتيږي، نو ځکه په مزارعت کي د مودت بيانول شرط دي.

يادونه: چيري چي د کښت ابتداء او انتهاء معلومه وي، هلته له بيانِ مودت څخه بغير هم مزارعت جائز دی.

د پورتنی مسئلې مستثنیات

وَبِخِلَافِ مَا إِذَا دَفَعَ إِلَيْهِ غَرْسًا قَدْ عُلِّقَ وَلَمْ يَبْلُغِ الثَّمَرُ مُعَامَلَةً او په خلاف د هغه صورت کله چې د معاملې [مساقات] په توګه نهال [نيالګی] ورکړي کوم چې راشين سوی وي او د ميوې حد ته نه وي رسېدلای [يعني کوچنی نهال او بوټی کوم چې اوس مېوه نه سي کولای د مساقات په توګه ورکړي] حَيْثُ لَا يَجُوْزُ إِلَّا بِبَيَانِ الْمُدَّةِ نو دا له مودت بيانولو څخه بغير جائز نه دي لِأَنَّهُ يَتَفَاوَتُ بِقُوَّةِ الْأَرَاضِي وَضُعْفِهَا تَفَاوُتًا فَاحِشًا ځکه د ځمکې په قوت او هغې د کمزورۍ په وجه په نهال [نيالګي] کې ډېر زيات تفاوت راځي وَبِخِلَافِ مَا إِذَا دَفَعَ نَخِيْلًا أَوْ أُصُوْلَ رَطْبَةٍ عَلَى أَنْ يَقُوْمَ عَلَيْهَا او په خلاف د هغه صورت کله چې د خرماوو درختې يا د شپيشتو بېخونه پر دې شرط ورکړي چې پالنه به يې کوي أَوْ أَطْلَقَ فِي الرَّطْبَةِ يا په شپيشتو کې اطلاق وکړي [يعني مطلقا يې ورکړي. څه شرط نه ولګوي] تَفْسُدُ الْمُعَامَلَةُ نو هم مساقات فاسدېږي لِأَنَّهُ لَيْسَ لِذٰلِكَ نِهَايَةٌ مَعْلُوْمَةٌ ځکه چې هغه لره يو معلومه انتهاء نسته لِأَنَّهَا تَنْمُوْ مَا تُرِكَتْ فِي الْأَرْضِ ځکه هغه چې تر څو په ځمکه کې پاته وي تر هغه وخته غټېږي [وده کوي] فَجُهِلَتِ الْمُدَّةُ نو مودت مجهوله سو وَيُشْتَرَطُ تَسْمِيَةُ الْجُزْءِ مُشَاعًا او د شيوع په توګه د يوې حصې [جزء شائع] متعينول شرط دي لِمَا بَيَّنَّا فِي الْمُزَارَعَةِ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ په مزارعت کې بيان کړی إِذْ شَرْطُ جُزْءٍ مُعَيَّنٍ يَقْطَعُ الشَّرِكَةَ ځکه چې د جزء معين [متعيني حصې] شرط لګول شرکت ختموي.

اللغات: ﴿غَرْس﴾ لګول سوی (اېښول) سوی بوټی او نهال. نيالګی. ﴿علق﴾ د تفعيل ماضي مجهوله ده، مراد: راشنه کېدل ﴿أَرَاضي﴾ جمع د أَرْضٌ ده: ځمکه (مځکه). ﴿تفاوت﴾ د تفاعل مصدر دی: يو له بل څخه مختلف کېدل. فرق او توپير. ﴿نخيل﴾ جمع د نَخْلَةٌ ده: د خرما درختې. ﴿يقوم﴾ د نصر مضارع ده. خپله معنیٰ يې ده: پورته کېدل. ولاړېدل او جګېدل. خو چې په صله کې يې علیٰ راسي نو معنیٰ يې ده: نګراني او پالنه کول. ﴿نهاية﴾ انتهاء. آخر. ﴿تنمو﴾ د نصر مضارع ده: وده او نما کول. غټېدل.

تشريح: په مخکنی مسئله کې له مودت بيانولو څخه بغير مساقات جائز ګرځول سوی دی. دلته د دوو صورتونو استثناء کوي:

(۱) یو صورت دا چي یو څوک نهال (نیالګی) ولګوي او هغه شین سي او بیا یې یو عامل او مزدور ته وسپاري چي ته دې ته اوبه ورکوه، حفاظت او پالنه یې کوه!، هر کله چي له دې څخه درخته جوړه سي او مېوه وکړي، نو هغه به زما او ستا تر مینځ نیمه په نیمه وي (په لنډه توګه دا چي راشین سوی نهال د مساقات په توګه ورکړي)، فرمایي چي دا عقد مساقات جائز نه دی؛ ځکه بعضي ځمکي طاقتوري وي چي که په هغه کي نهال ولګول سي نو په دوو، دریو کالو کي درخته ځني جوړېږي او مېوه کوي، او بعضي ځمکي کمزوري وي چي په هغه کي تر پنځو، شپږو کالو پوري نهال د مېوې ځای ته رسیږي، لهذا کله چي په ځمکو کي دومره قدر تغیّر دی، نو له مودت بیانولو څخه بغیر ښکاره ده چي جهالت فاحشه لازمیږي، او جهالت یسیره که څه هم معاف دی، خو جهالت فاحشه نه دی معاف، نو ځکه په دې صورت کي مساقات فاسدیږي.

(۲) وبخلاف إذا دفع نخیلاً إلخ: د دې صورت دا دی چي یو څوک د خُرما درختي عامل ته ورکړي او هغه ته ووایي چي ته د دې حفاظت او پالنه کوه چي مېوه (خرما) به یې زما او ستا تر مینځ نیم په نیمه وي یا داسي نور او دا عقد به تر هغه وخته زما او ستا مینځ وي (تر هغه وخته به د درختو اوبول او پالنه کوې) تر څو چي دا درختي وچیږي او هیڅ مودت متعیّن نه کړي، نو داسي مساقات فاسد دی، ځکه چي مودت مجهول دی.

أو (دفع) أصول الرطبة إلخ: له دې څخه مخکي دا صورت ذکر سو چي د شپیشتو بیخونه په دې توګه ورکړي چي کله هغوی تخم وکړي نو هغه به زما او ستا تر مینځ مشترک وي او د تخم کولو وخت معلوم دی.

او دلته دا صورت دی چي د شپیشتو بیخونه په دې توګه ورکړي (یعني ځمکه ورکړي چي په هغه کي د شپیشتو، یا شوتلو وغیرهما بېخونه وي او داسي ورته ووایي) چي ته دې ته اُوبه ورکوه او پالنه یې کوه تر هغه وخته چي د بېخو وده او شنه کېدل ودریږي، یعني بیخونه یې وچ سي، نو ښکاره خبره ده چي د ودي ختمېدلو او وچېدلو مودت معلوم نه دی (ځکه تر هر څو چي اوبه ورکول کیږي تر هغه وخته وچېدل نه راځي)، نو مودت مجهول پاته سو، نو ځکه له بیان مودت څخه بغیر دا عقد جائز نه دی.

همدارنګه که اطلاق وکړي یعني مطلقاً یې ورکړي او د بېخو د وچېدلو وغیره شرط نه ولګوي او د دې هیڅ تذکر نه وکړي، نو هم داغه حکم دی چي دا عقد فاسد او ناجائز دی.

یادونه: که د خرما درختي مطلقاً ورکړي او د وچېدلو وغیره شرط نه ولګوي، نو عقد صحیح کیږي او د مخکي په څېر عقد پر اوله ښکارېدونکې میوه واقع کیږي، لېکن په شپیشتو او داسي نورو کي د اطلاق په صورت کي هم فساد راځي.

یادونه: د مخکینی عبارت د مسئلې او د دې مذکوره مسئلې تر مینځ د فرق مدار د انتهاء پر علم او عدمِ علم دی، په مخکنی مسئله کې انتهاء معلومه ده، نو ځکه هغه ته جائز ویل سوي دي، او دلته انتهاء معلومه نه ده، نو ځکه فاسد ورته ویل سوي دي، لهذا که د خرما درختي یا شپیشتي په دې توګه عامل ورکړې چې د وچېدلو او د حتیٰ تذهب اُصولها شرط نه ولګوي او د مېوې نښکاره کېدلو او تخم کولو وخت معلوم وي، نو دا عقد جائز دی، او که د تخم کولو وخت معلوم نه وي، نو بیا عقد فاسدیږي.

لکه څرنګه چې د علامه کاساني رَحِمَهُ الله دا عبارت همدې ته اشاره کوي چې د جواز او عدمِ جواز مدار د انتهاء پر علم او عدم علم دی: ولو دفع أرضًا ليزرع فيها الرطاب أو دفع أرضًا فيها أُصول رطبةٍ ثابتةٍ، ولم يسمّ المدة، فإن كان شيئًا ليس لابتداءِ نباتهِ ولا لإنتهائه جذه وقتٌ معلومٌ، فالمعاملة فاسدة، وإن كان وقت جذه معلومًا يجوز، ويقع على الجذةِ الأُولىٰ كما في الشجرة المثمرة. (بدائع ج: ۶، ص: ۱۸۶)

خلاصه دا چې عبارت د صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله صفا او څرګند نه دی، بلکي په کلام کې یې څه خنډ دی، د بدائع عبارت بالکل څرګند دی.

ویشترط تسمیة إلخ: د دې حاصل دا دی چې د مزارعت په څېر په مساقات کې هم دا ضروري ده چې کومه مېوه وسي په هغه کې به د دواړو حصه په مشترکه (په ګډه) توګه وي، هغه که نیم په نیمه وي او که دیوه لپاره دوې حصې وي او د بل لپاره یوه حصه وي یا داسي نور، لهذا که چیري دیوه لپاره متعیّنه حصه شرط کړل سي نو مساقات فاسدیږي، مثلاً زید او خالد عقد مساقات سره وکړی او زید وویل چې هر څومره مېوه وسي، اول زه له هغه څخه سل سېره مېوه اخلم، پاتې مېوه به ما و تا سره تقسیموو، نو په دې سره مساقات فاسدیږي، ځکه چې په دغه جزء معیّن (سل سېره) کې شرکت نه راغلی، حالانکي د اجارې په څېر مساقات هم عقد شرکت دی چې په هغه کې د شرکت لحاظ ضروري دی، او دلته په دغه شرط سره شیوع او شرکت ختم سو، نو په دې وجه مساقات فاسدیږي.

په عقدِ مساقات کې د لږ مودت ټاکلو حکم

وَإِنْ سَمَّيَا فِي الْمُعَامَلَةِ وَقْتًا يُعْلَمُ أَنَّهُ لَا يَخْرُجُ الثَّمَرُ فِيهَا او که عاقدین په مساقات کې داسې وخت وټاکي چې معلومه وي چې په دومره مودت مېوه نه راوځي فَسَدَتِ الْمُعَامَلَةُ نو معامله فاسدیږي لِفَوَاتِ الْمَقْصُودِ وَهُوَ الشَّرِكَةُ فِي الْخَارِجِ د مقصود فوتېدلو په وجه چې هغه په پیداوار [مېوه] کې شرکت دی [یعني په مېوه کې چې کوم شرکت مقصود دی هغه فوتیږي] وَلَوْ سَمَّيَا مُدَّةً قَدْ يَبْلُغُ الثَّمَرُ فِيهَا

وَقَدْ يَتَأَخَّرُ عَنْهَا او که یو داسي مودت وټاکي چي کله خو په هغومره مودت کي مېوه پخيږي او کله بيا له هغه مودت څخه ځنډيږي جَازَتْ نو مساقات جائز دی لِأَنَّا لَا نَتَيَقَّنُ بِفَوَاتِ الْمَقْصُوْدِ ځکه [په دې صورت کي] د مقصود فوتېدلو يقين موږ ته نسته ثُمَّ لَوْ خَرَجَ فِي الْوَقْتِ الْمُسَمّٰى بيا که په هغه ټاکل سوي وخت کي مېوه راووځي [مېوه وسي] فَهُوَ عَلَى الشَّرِكَةِ نو مېوه [د عاقدينو ترمينځ] پر شرکت [مشترکه] پاتيږي لِصِحَّةِ الْعَقْدِ ځکه عقد مساقات صحيح سو وَإِنْ تَأَخَّرَ او که مېوه وځنډيږي فَلِلْعَامِلِ أَجْرُ الْمِثْلِ نو د عامل لپاره اُجرِ مثل دی [يعني په دې صورت کي به عامل او کاريګر ته اُجرتِ مثلي ورکول کيږي] لِفَسَادِ الْعَقْدِ ځکه عقد مساقات فاسد سو لِأَنَّهُ تَبَيَّنَ الْخَطَأُ فِي الْمُدَّةِ الْمُسَمَّاةِ ځکه چي په ټاکل سوي مودت کي غلطي ښکاره سوه فَصَارَ كَمَا إِذَا عُلِمَ ذٰلِكَ فِي الْإِبْتِدَاءِ نو داسي سو لکه په ابتداء کي چي دا معلومه سي [چي په دومره مودت کي مېوه نه کيږي] بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَخْرُجْ أَصْلًا په خلاف د هغه صورت کله چي بالکل مېوه نه راووځي [هيڅ مېوه نه وسي] لِأَنَّ الذَّهَابَ بِآفَةٍ ځکه د مېوې ختمېدل [مېوه نه کېدل] د يو آفت په وجه دي فَلَا يَتَبَيَّنُ فَسَادُ الْمُدَّةِ نو [په دې صورت کي] د مودت فاسدېدل نه ښکاره کيږي فَيَبْقَى الْعَقْدُ صَحِيحًا نو ځکه عقد صحيح سالم پاتيږي وَلَا شَيْءَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ او په دواړو عاقدينو کي د يوه عاقد پر خپل ملګري [بل عاقد] هيڅ نسته [يعني يو له بل څخه د هيڅ شي مطالبه نه سي کولای].

اللغات: ﴿سمّيا﴾ د تفعيل له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: نومول، متعيّنول، ټاکل (مقرر کول). ﴿تبيّن﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: څرګندېدل، ښکاره کېدل. ﴿المساة﴾ د تفعيل له بابه د مؤنث مفعول صيغه ده: نومول سوی، متعيّن سوی، ټاکل سوی.

تشريح: تاسي ته دا معلومه سوه چي په مساقات کي هم د مودت او وخت متعيّنول ضروري او شرط دي. نو اوس واورئ! چي که عاقدَين مودت خو متعيّن کړي. لېکن هغه دومره مودت وي چي په هغه کي د ميوې نه کېدل يقيني وي (يعني دا يقيني وي چي په دومره وخت کي مېوه نه پخيږي). مثلاً درختو په شپږ مياشتو کي مېوه کوله او پخېده. اوس که عاقدين درې مياشتي د مساقات لپاره وټاکي. نو ښکاره ده چي په دې صورت کي مقصود نه حاصليږي. يعني نه خو په دې درېو مياشتو کي مېوه پخيږي او نه په هغه کي د دوی شرکت کېدلای سي. نو ځکه په دې صورت کي مساقات فاسديږي.

ولو سميا مدة قد إلخ: او كه دومره مودت متعين كړي چې په هغه کې كله مېوه رسيږي او كله نه رسيږي او پخيږي، نو په دې صورت کې مساقات نه فاسديږي؛ ځکه دلته د مقصود فوتېدل يقيني نه دي، لهذا صرف د مېوې نه پخېدلو په وهم سره عقد نه فاسديږي، ځکه دا اُميد سته چې مېوه به پخه سي.

بيا كه په دې متعيّن موده کې مېوه پخه سي، نو مساقات صحيح كيږي او مېوه به د عاقدَينو تر مېځ د تاكل سوي شرط مطابق مشترکه وي. او که مېوه په دې متعيّن سوي مودت کې پخه نه سي، نو مساقات فاسديږي او عامل ته به اُجرتِ مثلي وركول كيږي؛ ځکه كله چې په متعين سوي مودت کې مېوه پخه نه سوه، نو معلومه سوه چې مودت غلط وو، او دا داسې سوه لکه له شروع ځخه چې كم مودت متعيّن سوی وو (چې په هغه کې میوه نه پخيږي)، او دا ښكاره ده چې ابتداءً د كم مودت متعيّنولو په وجه مساقات فاسديږي، نو ځکه دلته به هم مساقات فاسديږي.

بخلاف إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مېوه بالكل نه وكړي (پخېدل خو هلته پرېږده!) نو دا د دې خبرې علامت دی چې مودت خو صحيح دی، لېكن د يو آفتِ آسماني په وجه مېوه نه ده سوې، نو دلته عقد صحيح دی، يا په بله وينا دا چې دلته به دا گڼل كيږي چې د ونې د كمبنت په وجه عقد نه دی فاسد سوی بلکې عقد صحيح پاته سوی دی (ځكه فساد د يو آفتِ آسماني په وجه دی کوم چې غيرِ اختياري دی)، او ځرنګه چې دلته هيڅ مېوه نه ده سوې، نو ځکه نه به عامل ته څه اُجرت وركول كيږي، او نه د درختو مالک (باغ والا) له عامل ځخه د څه مطالبه كولای سي؛ ځکه چې شركت په پيداوار (مېوه) کې وو، او پيداوار بالكل نه دی سوی، لهذا يو هم له بل ځخه هيڅ ډول مطالبه نه سي كولای.

مساقات په کومو شيانو کې کېدلای سي؟

قَالَ: وَتَجُوزُ الْمُسَاقَاةُ فِي النَّخْلِ وَالشَّجَرِ وَالْكَرْمِ وَالرِّطَابِ وَأُصُولِ الْبَاذِنْجَانِ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او مساقات جائز دی د خرماوو په درختو، عامو درختو، انګورو، سبزيجاتو او د باتنجو په بوټو کې وَقَالَ الشَّافِعِيُّ فِي الْجَدِيدِ: لَا تَجُوزُ إِلَّا فِي الْكَرْمِ وَالنَّخْلِ او په قول جديد کې امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې صرف په انګورو او خرماوو کې مساقات جائز دی لِأَنَّ جَوَازَهَا بِالْأَثَرِ ځکه چې مساقات په حديث سره ثابت دی وَقَدْ خَصَّهُمَا او حديث صرف دغه دوه [انګور او خرما] خاص کړي دي وَهُوَ حَدِيثُ خَيْبَرَ او هغه د خيبر حديث دی وَلَنَا: أَنَّ الْجَوَازَ لِلْحَاجَةِ او زموږ دليل دا دی: چې د مساقات جائز كېدل د ضرورت په وجه دي وَقَدْ عَمَّتْ او ضرورت عام دی وَأَثَرُ خَيْبَرَ لَا يَخُصُّهُمَا او

د خيبر حديث صرف دغه دوه خاص کړي نه دي لِأَنَّ أَهْلَهَا كَانُوا يَعْمَلُونَ فِي الْأَشْجَارِ وَالرِّطَابِ أَيْضًا ځکه چي اهلِ خيبر به په نورو درختو او سبزيجاتو کي هم مساقات کاوه وَلَوْكَانَ كَمَا زَعَمَ او که خبره داسي وي لکه امام شافعي رَحِمَهُ الله چي وايي [چي اهلِ خبير صرف په انګورو او خرماوو کي مساقات کاوه] فَالْأَصْلُ فِي النُّصُوصِ أَنْ تَكُونَ مَعْلُولَةً نو [موږ جواب ورکوو چي] اصل په نصوصو کي دا ده چي هغوی هغه معلول بالعلت وي [يعني په هر نص او حديث کي علت ته کتل کيږي چي په حديث کي د دې شي د جواز علت او وجه څه ده] سِيَّمَا عَلَى أَصْلِهِ په ځانګړې توګه د امام شافعي رَحِمَهُ الله پر اصل.

اللغات: ﴿نخـل﴾ جمـع د نخلـةٌ ده: د خرمـا (کجوري) درختـي، ﴿رطـاب﴾ جمـع د رطبـة ده: سبزيجات، ﴿أصول﴾ جمع د أصل ده: بيخ، هغه څه کوم چي د فرع په مقابله کي وي.

تشريح: زموږ په نيز په ټولو درختو او سبزيجاتو کي مساقات جائز دي، امام شافعي رَحِمَهُ الله هم مخکي د دې قائل وو، خو وروسته هغه د خرما په درختو او انګورو کي مساقات منحصر کړی او له دې څخه بغير په نورو درختو او سبزيجاتو کي يې د مساقات نه جائز کېدلو فتویٰ ورکړه.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي مساقات خو د خيبر په حديث سره ثابت دی او په هغه حديث کي فقط د خرماوو او انګورو يادونه سوې ده، نو ځکه په نورو کي به مساقات جائز نه وي.

زموږ دليـل دا دی چـي د مسـاقات ثبـوت د ضرورت پـر بنـاء دی او ضـرورت چـي څرنګـه پـه خرماوو او انګورو کي سته، همداسي په نورو مېوو او سبزيجاتو کي هم ثابت دی، لهذا فقط د دې دوو شيانو سره به مساقات خاص نه وي، بلکي په نورو مېوو او سبزيجاتو کي به هم ثابت وي.

وأثرخيبرإلخ: او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل يو (انکاري) جواب دا دی چي د خيبر په حديث سره فقط د خرماوو او انګورو سره مساقات خاصول صحيح نه دي؛ ځکه اهل خيبر چي څرنګه په دې شيانو کي مساقات کاوه، همداسي يې په نورو درختو او سبزيجاتو کي هم مساقات کاوه، لهذا د دې دوو شيانو تخصيص بې معنیٰ او بې ځايه دی.

او بل (تسليمي) جواب يې دا دی چي سمه ده! موږ دا در سره ومنو چي د خيبر په نص (حديث) کي صرف د دغه دوو شيانو تخصيص سته، خو تاسي ته به دا أصول معلوم وي چي نصوص معلول بالعلت وي، او له غور او فکر څخه وروسته په دغه دوو شيانو کي د مساقات ثابتېدلو چي کوم علت ليدل کيږي هغه حاجت او ضرورت دی، لهذا کله چي د ضرورت پر بناء په دې دوو

شیانو کې مساقات ثابت دی، نو په نورو شیانو کې به هم ثابت وي؛ ځکه چې امامان خصوصاً بیا امام شافعي رَحِمَهُ الله نصوص په علت سره مقیّد کوي.

بغیر له عذره به مساقات نه فسخ کول کیږي او عامل به نه ایستل کیږي

وَلَيْسَ لِصَاحِبِ الْكَرْمِ أَنْ يُخْرِجَ الْعَامِلَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ او د انګورو [مېوې] مالک ته دا حق نسته چې بېله یو عذره عامل وباسي لِأَنَّهُ لَا ضَرَرَ عَلَيْهِ فِي الْوَفَاءِ بِالْعَقْدِ ځکه د عقد په پوره کولو کې د ده هیڅ نقصان نسته وَكَذَا لَيْسَ لِلْعَامِلِ أَنْ يَتْرُكَ الْعَمَلَ بِغَيْرِ عُذْرٍ او همدارنګه نه عامل ته دا اختیار سته چې بېله یو عذره کار پرېږدي بِخِلَافِ الْمُزَارَعَةِ بِالْإِضَافَةِ إِلَى صَاحِبِ الْبَذْرِ په خلاف د مزارعت، د تخم والا وطرف ته په نسبت کولو سره عَلَى مَا قَدَّمْنَاهُ لکه څرنګه چې مخکې موږ بیان کړه.

اللغات: ﴿كَرْم﴾ د انګورو تاک، انګور؛ ﴿ضرر﴾ نقصان، تاوان. ﴿وفاء﴾ د ضرب له بابه مصدر دی: پوره اداء کول.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې که یو سخت عذر نه وي نو د باغ مالک ته دا حق او اختیار نسته چې عامل له عقد څخه وباسي؛ ځکه اوس عقد لازم سوی دی، کوم چې فقط د عذر شدید په وجه فسخ کول کېدای سي، او ځکه کله چې عذر نه وي، نو د مالک هیڅ ضرر او نقصان هم نه کیږي، نو ځکه د عقد پوره کول غوره دي، همدارنګه عامل ته هم دا حق نسته چې له کار څخه انکار وکړي، ها! که چیري سخت مرض او داسې نور سخت اعذار وي (چې د هغوی په وجود کې عامل کار نه سي کولای)، نو په دې وخت کې دانکار اختیار ورته سته.

خو د مزارعت مسئله د دې برعکس ده، په مزارعت کې که تخم والا د کښت راشنه کېدلو څخه مخکې انکار کول وغواړي چې زه دا عقد مزارعت نه کوم، نو هغه ته د دې اختیار سته؛ ځکه چې في الحاله د عقد مزارعت په پرېښوولو کې د هغه نقصان دی؛ ځکه کېدای سي چې دا تخم راشین نه سي او هیڅ پیداوار نه وسي.

مېوه داره درختې د مساقات په توګه ورکول (حکم او تفصيل)

قَالَ: فَإِنْ دَفَعَ نَخِيلًا فِيهِ تَمْرٌ مُسَاقَاةً فرمايي: او که د خرما درختې ورکړي چې په هغوی کې خرما [کجوري] وي، د مساقات په توګه [په بله وینا دا چې مېوه داره درختې د مساقات په توګه ورکړي] وَالتَّمْرُ يَزِيدُ بِالْعَمَلِ حال دا چې دا خرما [مېوه] په عمل سره نوره وده کوي [یعني خپل انتهاء ته نه وي رسېدلې بلکې

څه کار لاغواړي چي انتهاء ته ورسيږي او پخه سي] جَازَ نو جائز دي وَإِنْ كَانَتْ قَدِ انْتَهَتْ او که خرما انتهاء ته رسېدلې وي [وده يې پوره سوې وي] لَمْ يَجُزْ نو جائز نه دي وَكَذَا عَلٰى هٰذَا إِذَا دَفَعَ الزَّرْعَ وَهُوَ بَقْلٌ جَازَ او همدارنګه کله چي کښت ورکړي حال دا چي هغه تر اوس شين [اُوم] وي نو جائز دي وَلَوِ اسْتُحْصِدَ وَأُدْرِكَ او که کښت د رېبل کېدلو لائق وي او پوخ سوی وي لَمْ يَجُزْ نو جائز نه دي لِأَنَّ الْعَامِلَ إِنَّمَا يَسْتَحِقُّ بِالْعَمَلِ ځکه عامل خو د کار په وجه [د اُجرت (حصې)] مستحق کيږي وَلَا أَثَرَ لِلْعَمَلِ بَعْدَ التَّنَاهِيْ وَالْإِدْرَاكِ او انتهاء ته له رسېدلو او پخېدلو څخه وروسته د کار هيڅ اثر نسته فَلَوْ جَوَّزْنَاهُ نو که موږ دا جائز وګرځوو لَكَانَ اسْتِحْقَاقًا بِغَيْرِ عَمَلٍ نو دا به بغير له عمل څخه مستحق کېدل وي [يعني بغير له کاره به عامل مستحق سي] وَلَمْ يَرِدْ بِهِ الشَّرْعُ حال دا چي شريعت په دې باره کي نه دی وارد سوی بِخِلَافِ مَا قَبْلَ ذٰلِكَ په خلاف انتهاء ته له رسېدلو [پخېدلو] څخه د مخکي والا صورت لِتَحَقُّقِ الْحَاجَةِ إِلَى الْعَمَلِ ځکه چي [هلته] عمل ته ضرورت ثابت دی قَالَ: وَإِذَا فَسَدَتِ الْمُسَاقَاةُ فرمايي: او کله چي مساقات فاسد سي فَلِلْعَامِلِ أَجْرُ مِثْلِهِ نو د عامل لپاره اجرتِ مثلي دی لِأَنَّهُ فِيْ مَعْنَى الْإِجَارَةِ الْفَاسِدَةِ ځکه چي دا د اجارهٔ فاسده په معنیٰ سره دی وَصَارَ كَالْمُزَارَعَةِ إِذَا فَسَدَتْ او [تر فاسدېدلو وروسته] دا مساقات د مزارعت په څېر سو کله چي هغه فاسد سي [يعني د فاسد شده مزارعت په ډول سو].

اللغات: بقل﴾ شين، زرغون، مراد: اُوم نارسېدلی کښت، ﴿استحصد﴾ د استفعال له بابه د ماضي مجهولي صيغه ده: دلو او رېبل کېدلو قابل کېدل. (احسن الهدايه)

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که د باغ مالک داسي وکړي چي کله درختي مېوه وکړي نو هغه يې په مساقات ورکړي او تر اوسه مېوه پخ سوې او رسېدلې نه وي بلکي څو وخت د عامل تر کار کولو وروسته رسيږي او پخيږي (په بله وينا دا چي د عامل په عمل او لاسوهني سره وده کوي او پخيږي)، نو دا صورت جائز دی. لېکن که مېوه په کامله توګه رسېدلې وي او حتی الامکان وده پکښي راغلې وي، او داسي باغ د مساقات په توګه ورکول وغواړي، نو دا جائز نه دي، همدا حکم د کښت هم دی چي که هغه اُوم وي، نو هغه ورکول کېدای سي، لېکن که کښت رسېدلی او پوخ سوی وي کوم چي لو او رېبل کېدلو ته آماده وي، نو د هغه ورکول جائز نه دي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په دې دواړو صورتونو کې فرق بيانوي فرمايي چې د ميوې او کښت د اُوم والي په صورت کې چې کله هغوی عامل ته ورکول سي، نو د هغوی په وده کولو او پخېدلو کې به د عامل د عمل او کار دخل وي، خو که تر بشپړ رسېدلو او پخېدلو وروسته ورکول سي، نو په ډې ميوه او کښت کې به د هغه د عمل هيڅ دخل نه وي، حالانکې عامل ته چې اُجرت ورکول کيږي هغه د عمل په عوض کې ورکول کيږي، نو ځکه چيرې چې د هغه د عمل دخل وي، نو هلته موږ هغه ته ورکول جائز ګرځوو، او چيرې د هغه د عمل هيڅ اثر نه وي، هلته منع کوو؛ ځکه په هغه صورت کې عامل له عمل څخه بغير د اُجرت مستحق کيږي کوم چې په شريعت کې هيڅ ځای هم ثابت نه دی، او څرنګه چې د مېوې له رسېدلو او پخېدلو څخه مخکې عمل او کار ته ضرورت وي، نو ځکه په هغه صورت کېٔ موږ عامل ته ورکول جائز ګرځوو.

قال وإذا الخ: په دې سره دا رانبسيي چې که په يو وجه مساقات فاسد سي، نو عامل ته به اُجرت مثلي ورکول کيږي؛ ځکه چې د فاسدېدلو په صورت کې هغه د اجارۀ فاسده او مزارعت فاسده په څېر سو، او د هغوی د فاسدېدلو په صورت کې اُجرت مثلي ورکول کيږي، نو ځکه د مساقات د فاسدېدلو په صورت کې به هم اُجرت مثلي ورکول کيږي. (احسن الهدايه)

د ځمکې د مالک (رب الأرض) د مرګ په صورت کې د مساقات حکم

قَالَ: وَتَبْطُلُ الْمُسَاقَاةُ بِالْمَوْتِ فرمايي: او مساقات په مرګ سره باطليږي لِأَنَّهَا فِي مَعْنَى الْإِجَارَةِ ځکه چې مساقات د اجارې په معنیٰ سره دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِيهَا او په اجاره کې موږ د دې بيان کړی دی فَإِنْ مَاتَ رَبُّ الْأَرْضِ وَالْخَارِجُ بُسْرٌ نو که چيرې د ځمکې مالک مړ سي حال دا چې پيداوار [مېوه (خرما)] تر اوسه نيم پخته وي فَلِلْعَامِلِ أَنْ يَقُومَ عَلَيْهِ كَمَا كَانَ يَقُومُ قَبْلَ ذٰلِكَ إِلَى أَنْ يُدْرِكَ الثَّمَرُ نو عامل ته پکاري دي چې د هغه پالنه کوي لکه څرنګه چې يې مخکې کوله [او دا پالنه به يې کوي] تر دې چې خرما [مېوه] ورسيږي وَإِنْ كَرِهَ ذٰلِكَ وَرَثَةُ رَبِّ الْأَرْضِ که څه هم د ځمکې د مالک وارثان دا نا خوښه ګڼي اِسْتِحْسَانًا [دا حکم] استحساناً [دی] فَيَبْقَى الْعَقْدُ دَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنْهُ نو له عامل څخه د ضرر ليرې کولو لپاره به عقد باقي پاتېږي وَلَا ضَرَرَ فِيهِ عَلَى الْآخَرِ او په دې کې د بل يوه هيڅ ضرر [نقصان] نسته وَلَوِ الْتَزَمَ الْعَامِلُ الضَّرَرَ او که عامل خپله د ضرر التزام وکړي يُتَخَيَّرُ وَرَثَةُ الْآخَرِ بَيْنَ أَنْ يَقْسِمُوا الْبُسْرَ عَلَى الشَّرْطِ نو د بل يوه وارثانو ته اختيار دی ① په مېنځ د دې کې چې دوی دا نيم

پخته خرما د شرط مطابق تقسیم کړي وَبَيْنَ أَنْ يُعْطُوْهُ قِيمَةَ نَصِيبِهِ مِنَ الْبُسْرِ ② او په مینځ د دې کي چي عامل ته د هغه د حصې د نیم پخته خرما قیمت ورکړي وَبَيْنَ أَنْ يُنْفِقُوا عَلَى الْبُسْرِ حَتَّى يَبْلُغَ فَيَرْجِعُوْا بِذٰلِكَ فِي حِصَّةِ الْعَامِلِ مِنَ الثَّمَرِ ③ او په مینځ د دې کي چي دوی پر دغه نیم پخته خرما خرچ وکړي تر دې چي هغه ورسیږي [پخه سي] نو بیا د هغه مطابق د عامل په حصه کي له خرما څخه واپس واخلي [یعني بیا چي د عامل په حصه کي څومره خرچ راسي هغه د عامل له خرما څخه واخلي] لِأَنَّهُ لَيْسَ لَهُ إِلْحَاقُ الضَّرَرِ بِهِمْ ځکه چي عامل لره د ځمکي د مالک وارثانو ته د نقصان رسولو اختیار نسته وَقَدْ بَيَّنَّا نَظِيرَهُ فِي الْمُزَارَعَةِ او مورږ په مزارعت کي د دې بیان کړی دی.

اللغات: ﴿بسر﴾ نیم پخته (نارسېدلې) خرما، ﴿التزم﴾ د افتعال ماضي ده: پر ځان لازمول، په خپله ذمه اخیستل.

تشریح: فرمايي چي مساقات د اجارې په درجه کي دی او څرنګه چي اجاره د یوه عاقد په مرګ سره فاسدیږي، همداسي مساقات هم فاسدیږي، نو که چیري د ځمکي مالک (ربُ الأرض) مړ سي او مېوه وغیره تر اوسه پخ سوې نه وي، نیم پخته وي، نو عامل ته پکار دي چي څرنګه د ربُ الأرض په ژوند کي کار او د درختو پالنه کوي، همداسي د هغه تر مرګ وروسته به یې هم کوي د مېوې پخېدلو تر وخته. برابره د ربُ الأرض وارثان د هغه په دې عمل راضي وي، که نه وي؛ ځکه چي په عاقدینو کي د یوه عاقد تر مرګ وروسته قیاساً خو عقد ختمېدل پکار دي، خو له عامل څخه د ضرر او نقصان دفع کولو لپاره د استحسان پر بناء هغه باقي پرېښوول سوی دی؛ ځکه کله چي مېوه اُومه او نیم پخته ده، نو اوس د عقد په ختمولو کي د عامل ضرر دی چي کچه نیم پخته مال به اخلي، نو ځکه د رسېدلو او پخېدلو تر وخته به عقد باقي پرېښوول کیږي.

ولو التزم إلخ: او که عامل خپله پر ځان ضرر لازمول وغواړي یعني د ربُ الأرض تر مرګ وروسته عامل خپله د عقد ختمول وغواړي، نو هغه ته د دې اختیار سته؛ ځکه د عقد باقي پرېښوول د عامل په وجه وه، خو کله چي هغه د خپل حق په ساقطولو خپله راضي دی، نو بیا څه خبره نسته. خو په دې صورت کي د ربُ الأرض وارثانو ته هماغه د مزارعت والا درې اختیارات حاصلیږي: ① یو دا چي: وارثان دا نیم پخته مېوه د شرط مطابق د عامل سره تقسیم کړي. ② دویم: د عامل په حصه کي چي څومره نیم پخته خرما راځي، د هغه قیمت دې ورکړي. ③ دریم: د رسېدلو او پخېدلو تر وخته چي پر دې نیم پخته خرماوو څومره خرچ کیږي، هغه دې وارثان خپله وکړي، او بیا دې خرچ ته حساب وکړي نو د عامل په حصه کي چي څومره خرچ راسي، هغه دې د عامل له مېوې (خرما) څخه

واخلي، او دغه درې اختيارات ځکه دوی ته حاصليږي چي څرنګه د عامل د کار کولو په صورت کي وارثان د عامل سره جبراً تقسيم نه سي کولای چي په دې کي د عامل ضرر دی، همداسي په دې صورت کي عامل جبراً د وارثانو سره تقسيم نه سي کولای چي په دې کي د وارثانو ضرر دی، نو ځکه له وارثانو څخه د ضرر ليري کولو لپاره به وارثانو ته مذکوره اختيارات ورکول کيږي؛ ځکه د فقهي دا مشهوره قاعده ده: لا ضرر ولا ضرار. يعني څوک به نه چا ته په نا حقه نقصان ورکوي او نه به يې پر خپل سر اخلي. (احسن الهدايه)

د عامل يا دواړو عاقدينو د مرګ په صورت کي د مساقات حکم

وَلَوْمَاتَ الْعَامِلُ او که چيري عامل مړ سي فَلِوَرَثَتِهٖ أَنْ يَقُوْمُوْا عَلَيْهِ نو د هغه وارثانو ته دا اختيار سته چي دوی د هغه [درختو] پالنه وکړي وَإِنْ كَرِهَ رَبُّ الْأَرْضِ که څه هم د ځمکي مالک دا ناخوښه ګڼي لِأَنَّ فِيْهِ النَّظَرَ مِنَ الْجَانِبَيْنِ ځکه چي په دې کي د دواړو طرفونو مصلحت [او فايده] ده فَإِنْ أَرَادُوْا أَنْ يَصْرِمُوْهُ بُسْرًا بيا که د عامل وارثان وغواړي چي دا نيم پخته خرما [ميوه] وشکوي كَانَ صَاحِبُ الْأَرْضِ بَيْنَ الْخِيَارَاتِ الثَّلَاثَةِ الَّتِيْ بَيَّنَّاهَا نو د ځمکي مالک د همغه درېو اختياراتو په مينځ کي [مختاره] دی کوم چي موږ بيان کړه وَإِنْ مَاتَا جَمِيْعًا او که [عامل او ربُّ الأرض] دواړه مړه سي فَالْخِيَارُ لِوَرَثَةِ الْعَامِلِ نو اختيار د عامل وارثانو [ميراث خورو] لره دی لِقِيَامِهِمْ مَقَامَهُ ځکه چي دوی د هغه قائم مقام [نائبين] دي وَهٰذَا خِلَافَةٌ فِيْ حَقٍّ مَالِيٍّ او دا په حقِ مالي کي خلافت [نيابت] دی وَهُوَتَرْكُ الثِّمَارِ عَلَى الْأَشْجَارِ إِلٰى وَقْتِ الْإِدْرَاكِ او حق مالي د پخېدلو تر وخته ميوه پر درختو پرېښوول دي لَا أَنْ يَكُوْنَ وَرَاثَةً فِي الْخِيَارِ او داسي نه ده چي دا په خيار کي وراثت دی [يا په بله وينا دا چي دا خيار د وراثت په توګه ورته حاصل نه دی] فَإِنْ أَبٰى وَرَثَةُ الْعَامِلِ أَنْ يَقُوْمُوْا عَلَيْهِ او که د عامل وارثان د هغه [درختو] د پالني څخه انکار وکړي كَانَ الْخِيَارُ فِيْ ذٰلِكَ لِوَرَثَةِ رَبِّ الْأَرْضِ نو اوس په دې کي اختيار د ځمکي د مالک وارثانو لره دی [منه مخکيني درې اختياره] عَلٰى مَا وَصَفْنَا بناء پر هغه تفصيل کوم چي موږ [مخکي] بيان کړی.

اللغات: ﴿يقوموا عليه﴾ مخکي ذکر سوه چي کله د دې باب په صله کي عَلٰى راسي نو معنىٰ يې ده: پالنه او نګراني کول. ﴿يصرموا﴾ د ضرب له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صيغه ده: پرېکول، شکول.

تشريح: فرمايي که عامل مړ سي، نو په دې وخت کې د عمل (کار) ذمه واري د هغه پر وارثانو ده. برابره ده ربُ الأرض په راضي وي او که نه؛ ځکه کله چې د عامل وارثان د مېوې پخېدلو تر وخته د هغه کار (د درختو پالنه) کوي، نو ښکاره ده چې دواړو طرفونو ته په کامله توګه نفع حاصلیږي. لهذا د دواړو طرفونو د مصلحت او ښېګڼې په خاطر د عامل وارثانو ته دا حق ورکول سوی دی. لېکن که د عامل وارثان د عمل پرېښوول او في الحاله د دې نیم پخته مېوې تقسیمول وغواړي، نو په دې صورت کې ربُ الأرض ته همغه درې اختیارات حاصلیږي کوم چې په مخکنۍ مسئله کې تېر سول. -

وإن ماتا جميعًا إلخ: او که عاقدین دواړه یو ځای مړه سي، نو په دې صورت کې هم د عامل وارثانو ته اختیار دی چې د میوې پخېدلو تر وخته د عامل کار وکړي؛ ځکه چې دوی د عامل نائبین دي. او څرنګه چې عامل ژوندی وای، نو د مالک تر مرګ وروسته به عامل د مېوې پخېدلو تر وخته د مساقات کار جاري ساتلای، نو همداسي به وارثان هم دا کوي.

وهذا خلافة إلخ: دا د یو اشکال جواب دی. اشکال دا دی چې خیار شرط د احنافو په نېز عرض دی، او عرض انتقال نه قبلوي او وارثت نه پکښي جاري کیږي، نو بیا تاسي ولي په دې مسئله کې د عامل اختیار د هغه د وارثانو طرف ته منتقل کړی؟.

د دې په جواب کې صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې د مړه عامل وارثانو ته حاصل سوی اختیار په وراثت کې حاصل سوی اختیار نه دی، بلکې دا حقِ مالي دی، او په حقِ مالي کې داسي اختیار جاري کیږي. او دلته حق مالي پر درختو د میوې په پرېښوولو کې دی. لهذا دوی ته به دا حق او اختیار حاصلیږي.

لنډه دا چې کله د وارثانو لپاره دا اختیار ثابت سو، نو که دوی د هغه اختیارول وغواړي، نو ښه دی، خو که دوی انکار وکړي، نو په دې صورت کې د ځمکې د مالک وارثانو ته اختیار حاصلیږي؛ ځکه چې د پخېدلو تر وخته د مېوې په پرېښوولو کې د دواړو طرفونو مصلحت او فایده ده. نو ځکه حتی الامکان به د هغه خیال ساتل کیږي. (احسن الهدایه)

د مېوې تر پخېدلو مخکې د مودت ختمېدلو حکم

قَالَ: وَإِذَا انْقَضَتْ مُدَّةُ الْمُعَامَلَةِ فرمایي: او کله چې د مساقات مودت تېر سي [ختم سي] وَالْخَارِجُ بُسْرٌ أَخْضَرُ حال دا چې پیداوار [مېوه] شنه نیم پخته وي فَهٰذَا وَالْأَوَّلُ سَوَاءٌ نو دا او اول صورت برابر دی [یعني دا مساقات او اول یعني د مرګ په وجه چې کوم مساقات ختم سي د دواړو حکم یو دی] وَلِلْعَامِلِ أَنْ يَقُومَ عَلَيْهَا إِلَى أَنْ يُدْرِكَ او عامل لره حق دی چې د مېوې پخېدلو تر وخته د هغه [درختو] پالنه کوي

لٰكِنْ بِغَيْرِ أَجْرٍ ليکن له اُجرت څخه بغير [به يې کوي] لِأَنَّ الشَّجَرَ لَا يَجُوزُ اسْتِئْجَارُهُ ځکه چې درختې په اجاره اخيستل جائز نه دي بِخِلَافِ الْمُزَارَعَةِ فِيْ هٰذَا په خلاف د مزارعت په دې [د مودت تېرېدلو په] صورت کې لِأَنَّ الْأَرْضَ يَجُوزُ اسْتِئْجَارُهَا ځکه چې ځمکه په اجاره اخيستل جائز دي وَكَذٰلِكَ الْعَمَلُ كُلُّهُ عَلَى الْعَامِلِ هٰهُنَا او همدارنګه دلته کار ټوله پر عامل دی وَفِي الْمُزَارَعَةِ فِيْ هٰذَا عَلَيْهِمَا او په مزارعت کې په داسې صورت کې پر دواړو دی لِأَنَّهُ لَمَّا وَجَبَ أَجْرُ مِثْلِ الْأَرْضِ بَعْدَ انْتِهَاءِ الْمُدَّةِ عَلَى الْعَامِلِ ځکه له مودت ختمېدلو څخه وروسته چې کله پر عامل د ځمکې اجرت مثل واجب سو لَا يَسْتَحِقُّ عَلَيْهِ الْعَمَلَ نو پر هغه د کار استحقاق نه راځي [په بله وينا دا چې: نو پر هغه کار کول واجب نه پاتېږي] وَهٰهُنَا لَا أَجْرَ او دلته [په مساقات کې] هيڅ اجرت نسته فَجَازَ أَنْ يَسْتَحِقَّ الْعَمَلَ نو ځکه [دلته] جائز دي چې پر عامل د کار استحقاق پاته سي كَمَا يَسْتَحِقُّ قَبْلَ انْتِهَائِهَا لکه څرنګه چې له مودت ختمېدلو څخه پر هغه د کار استحقاق وو.

اللغات: ﴿انقضت﴾ د انفعال د باب ماضي ده: تېرېدل، ختمېدل. ﴿بُسر﴾ نيم پخته خرما. ﴿استئجار﴾ د استفعال مصدر دی: په اُجرت اخيستل، په اُجرت (په کرايه) نيول.

تشريح: فرمايي که مېوه (خرما) تر اوسه نيم پخته وي چې په دې حالت کې د مساقات مودت ختم سي، نو په دې صورت کې به د مېوې پخېدلو تر وخته مساقات باقي پرېښوول کېږي او د پخېدلو تر وخته به عامل خپل کار کوي، لکه څرنګه چې په اول صورت کې يعني چې د ځمکې د مالک (رب الأرض) د مرګ په وجه مساقات ختم سي، نو عامل د مېوې پخېدلو تر وخته کار کوي. او څرنګه چې په مزارعت کې که مودت ختم سي، نو د کښت پخېدلو تر وخته عامل کار کوي، همدغسې حکم دلته هم دی چې د مېوې پخېدلو تر وخته به هغه کار جاري ساتي.

خو د مزارعت او مساقات تر مينځ فرق دا دی چې که په مزارعت کې مودت ختم سي او کښت تر اوسه پوخ سوی نه وي، نو د کښت پخېدلو تر وخته چې څومره خرچ او کار کيږي هغه پر دواړو لازم دی او د کښت پخېدلو تر وخته چې څومره ورځې يا مياشتې کښت پر ځمکه پاته وي، د هغومره وخت به عامل د ځمکې اُجرت (کرايه) ور کوي؛ ليکن دلته په مساقات کې حکم دا دی چې دغه اُجرت او کرايه پر عامل نسته. همدارنګه خرچ او کار پر دواړو نه لازمېږي بلکې صرف پر عامل لازمېږي، وجه يې دا ده چې ځمکه په اجاره (په کرايه) اخيستل کېدای سي (نو ګواکې عامل د خپل حصې

لپاره ځمکه په اجاره واخیستله)، لیکن درختې په اجاره نه اخیستل کیږي او جائز نه دي، لهذا کله چې په مزارعت کې ځمکه په اجاره اخیستل جائز دي، نو ځکه هلته د مودت ختمېدلو په صورت کې د کښت پخېدلو تر وخته به عامل د ځمکې اُجرت ورکوي.

وكذا العمل إلخ: فرمايي چې دلته (په مساقات کې) چې کله مودت ختم سي نو کار ټوله صرف پر عامل لازم دی، او په مزارعت کې چې کله مودت ختم سي، نو کار پر دواړو لازم دی؛ د دې وجه دا ده چې ځمکه په اجاره اخیستل کیږي، لهذا کله چې عامل ځمکه په اجاره واخیستله، نو پر هغه کار واجب پاته نه سو، نو په دې وجه پر دواړو کار او خرچ لازم سو، او په مساقات کې درختې په اجاره اخیستل جائز نه دي، نو ځکه پر عامل کار واجب پاتیږي، لکه څرنګه چې مودت ختم سوي نه وای، نو پر هغه به د مېوې پخېدلو تر وخته کار واجب وای.

خلاصه دا چې په کوم صورت کې پر عامل اُجرت لازم وي (چې هغه مزارعت دی)، نو هلته یوازې پر هغه کار لازم نه دی، بلکې د دواړو پر ذمه دی، او چیرې چې پر عامل اُجرت نه وي (چې هغه مساقات دی)، نو هلته ټوله کار یوازې د عامل پر ذمه دې.

د عذر په وجه د مساقات فسخ کېدلو بیان

قَالَ: وَتُفْسَخُ بِالْأَعْذَارِ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: چې د عذرونو په وجه به اجاره فسخ کول کیږي [ماتول کیږي] لِمَا بَيَّنَّا فِي الْإِجَارَاتِ د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ په کتابُ الإجاره کې بیان کړی دی وَقَدْ بَيَّنَّا وُجُوهَ الْعُذْرِ فِيهَا او هلته موږ د عذر صورتونه هم بیان کړي دي وَمِنْ جُمْلَتِهَا أَنْ يَكُونَ الْعَامِلُ سَارِقًا يُخَافُ عَلَيْهِ سَرِقَةُ السَّعَفِ وَالثَّمَرِ قَبْلَ الْإِدْرَاكِ او د هغوی له جملې څخه یو عذر دا دی چې عامل غل وي چې پر هغه بېره [او خطره] وي د درختو د ښاخونو د غلا کولو او تر پخېدلو مخکې د مېوې غلا کولو لِأَنَّهُ يَلْزَمُ صَاحِبَ الْأَرْضِ ضَرَرٌ لَمْ يَلْتَزِمْهُ ځکه چې [په دې صورت کې] د ځمکې پر مالک داسې ضرر لازمیږي کوم چې ده پر ځان لازم کړی نه دی فَيُفْسَخُ بِهِ نو ځکه د دې ضرر په وجه به اجاره فسخ کول کیږي وَمِنْهَا مَرَضُ الْعَامِلِ إِذَا كَانَ يُضْعِفُهُ عَنِ الْعَمَلِ او له هغه عذرونو څخه یو عذر د عامل مریض کېدل دي کله چې دا مرض هغه له کار کولو څخه کمزوری کوي لِأَنَّ فِي إِلْزَامِهِ اسْتِئْجَارَ الْأُجَرَاءِ زِيَادَةَ ضَرَرٍ عَلَيْهِ ځکه چې پر عامل د مزدورانو د استئجار [اُجرت نیولو] په لازمولو کې پر هغه نور ضرر سته [یعني که پر عامل دا لازم کړی سي چې اوس به

د خپل کار لپاره نور مزدوران نيسي. نو په دې سره هغه ته زائد نقصان رسيږي] وَلَمْ يَلْتَزِمْهُ حال دا چي هغه دا پر ځان لازم کړې نه دی فَيُجْعَلُ ذٰلِكَ عُذْرًا نو دا به عذر ګرځول کيږي وَلَوْأَرَادَ الْعَامِلُ تَرْكَ ذٰلِكَ الْعَمَلِ او که چيري عامل د دې کار پرېښوول وغواړي هَلْ يَكُوْنُ عُذْرًا؟ نو آيا دا به عذر وي فِيْهِ رِوَايَتَانِ په دې باره کي دوه روايتونه دي وَتَأْوِيلُ إِحْدَاهُمَا أَنْ يُشْتَرَطَ الْعَمَلُ بِيَدِهِ او له هغوی څخه د يوه تأويل دا دی چي [که چيري] د عامل په خپل لاس سره کول شرط وي [چي عامل به خپله دا کار کوي] فَيَكُونَ عُذْرًا مِنْ جِهَتِهِ نو دا به د هغه له طرفه عذر وي.

اللغات: ﴿تفسخ﴾ د نصر مضارع ده: فسخ کول، عقد ماتول، فسخ کېدل. ﴿السَّعَف﴾ جمع د سَعفةٌ ده: د خرما د درختي وچ ښاخونه چي پاڼي هم ورباندي وي (أغصان شجر النخيل اليابسة ما دامت بأوراقها) (معجم لغة الفقهاء). ﴿يضعّف﴾ د تفعيل مضارع ده: ضعيفه کول، کمزوري کول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي څرنګه اجاره او مزارعت د سخت عذرونو په وجه فسخ کول کېدای سي، همداسي مساقات هم د سخت عذر په وجه فسخ کول کېدای سي، مخکښي د هدايې پر صفحه: ۳۲۵، ج: ۳ د "باب فسخ الإجارات" په ضمن کي د دې اعذارو او اسبابو ذکر تېر سوی دی.

خو صاحب د هدايې له هغه اعذارو څخه دلته د دوو نورو يادونه کوي، چي ① يو عذر دا دی چي عامل غل وي او دا ېره وي چي له پخېدو څخه مخکښي به مېوه وشکوي او کور ته به يې يووسي يا د درختو وچ ښاخونه او د باغ بوټي او لرګي به غلا کړي، نو په دې صورت کي مساقات او مزارعت فسخ کول کېدای سي.

② او بل عذر دا دی چي عامل دومره سخت مريض سي چي له کاره ووځي او په کار کولو سره نور ضعيفه کيږي، نو دا هم عذر دی او په دې صورت کي به مساقات او مزارعت فسخ کول کيږي، او که دا وويل سي چي په دې صورت کي دې دغه مريض عامل د خپل کار لپاره نور خلک په مزدورۍ ونيسي او هغو ته دې أجرت او مزدوري ورکړي، نو دا بيا ځکه صحيح نه دي چي په شروع کي خو عامل د خپل کار کول شرط کړی وو چي زه به خپله کار کوم، او په بل چا د کار کولو په صورت کي هغه ته نور ضرر رسيږي، کوم چي هغه پر ځان لازم کړی نه وو، نو ځکه سخت مرض به هم عذر شمېرل کيږي او عقد به فسخ کول کيږي.

ولوأراد إلخ: فرمايي که عامل وغواړي چي دا کار بالا نه کوم او دغه عقد مساقات او کار پرېږدم، نو آيا دا عذر دی، که نه؟، په دې باره کي دوه روايتونه دي: ① يو روايت دا دی چي څرنګه دلته د عقد په پوره

کولو کي د عامل هيڅ ضرر نسته، نو ځکه د کار پرېښوول عذر نه دي، عامل به پر کار کولو مجبورول کيږي، ② د دويم روايت حاصل دا دی چي که خودي د عامل کار کول شرط وي (چي خپله هغه به دا کار کوي)، او هغه يې نه کول غواړي، نو دا عذر دي، او که چيري د هغه کار کول شرط نه وي، نو په دې صورت کي عذر نه کيږي او په نورو مزدورانو به کار کوي، ځکه چي دا عذر د همده له طرفه راغلی دی، نو ځکه د هغه نقصان به هم دئ پوره ته کوي.

د مساقات يو ناجائز صورت

وَمَنْ دَفَعَ أَرْضًا بَيْضَاءَ إِلَى رَجُلٍ سِنِينَ مَعْلُومَةً او څوک چي يو سړي ته د څو معلومو کلونو لپاره ځمکه ورکړي يَغْرِسُ فِيهَا شَجَرًا عَلَى أَنْ تَكُونَ الْأَرْضُ وَالشَّجَرُ بَيْنَ رَبِّ الْأَرْضِ وَالْغَارِسِ نِصْفَيْنِ چي هغه په دې ځمکه کي درختي کښېږدي [نهالان شنه کړي] پر دې شرط [يې ورکړي] چي ځمکه او درختي به د ربُ الأرض او نهال اېښوونکي [عامل] تر مېنځ نيم په نيمه وي لَمْ يَجُزْ ذَلِكَ نو دا جائز نه دي لِاشْتِرَاطِ الشَّرِكَةِ فِيمَا كَانَ حَاصِلًا قَبْلَ الشَّرِكَةِ لَا بِعَمَلِهِ ځکه چي [دلته] شرکت په هغه شي [يعني ځمکه] کي مشروط دی کوم چي له شرکت څخه مخکي حاصل دی، نه د عامل په عمل سره، [يعني کوم چي د عامل په کار سره حاصل سوی نه دی] وَجَمِيعُ الثَّمَرِ وَالْغَرْسِ لِرَبِّ الْأَرْضِ او ټوله مېوه او اېښوول سوي نهالان د ځمکي د مالک دي وَلِلْغَارِسِ قِيمَةُ غَرْسِهِ وَأَجْرُ مِثْلِهِ فِيمَا عَمِلَ او نهال اېښوونکي [عامل] لره د خپل نهالانو قيمت او د خپل کړي کار أجرت مثلي دی لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى قَفِيزِ الطَّحَّانِ ځکه چي دا صورت د قفيز الطحان په معنیٰ سره دی إِذْ هُوَ اسْتِئْجَارٌ بِبَعْضِ مَا يَخْرُجُ مِنْ عَمَلِهِ ځکه دا په أجرت نيول دي په بعضي هغه څه سره کوم چي د عامل په عمل سره راوځي وَهُوَ نِصْفُ الْبُسْتَانِ او هغه نيم باغ دی [يعني دا صورت د عامل په کار سره د پيدا کېدونکي شي د بعضي حصې په بدله کي يعني د نيم باغ په بدله کي په أجرت اخيستل دي] فَيَفْسُدُ نو ځکه دا صورت به فاسديږي وَتَعَذَّرَ رَدُّ الْغِرَاسِ او د نهالانو واپس کول مشکل دي لِاتِّصَالِهَا بِالْأَرْضِ ځکه چي هغه د ځمکي سره متصل دي فَيَجِبُ قِيمَتُهَا وَأَجْرُ مِثْلِهِ نو ځکه د هغوی قيمت او د عامل أجرت مثلي به واجب وي لِأَنَّهُ لَا يَدْخُلُ فِي قِيمَةِ الْغِرَاسِ ځکه أجرت مثلي د نهالانو په قيمت کي نه داخليږي لِتَقَوُّمِهَا بِنَفْسِهَا ځکه چي نهالان بذات خود متقوم [قيمتداره] دي وَفِي تَخْرِيجِهَا طَرِيقٌ آخَرُ بَيَّنَّاهُ فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي او د دغه مسئلې په

تخريج کي يو بله طريقه هم سته کوم چې مونږ په کفايت المنتهي کي بيان کړې ده وَهٰذَا أَصَحُّهُمَا لېکن دا طريقه [کوم چې مو اوس ذکر کړه] زياته صحيح ده په دواړو کي.

اللغات: ﴿بيضاء﴾ د مؤنث اسم تفضيل صيغه ده. مراد: خالي ځمکه چې څه پر کرل سوي نه وي، ﴿يغرس﴾ د ضرب مضارع ده: نهال او بوټي اينښوول (نيالګی لګول، شنه کول)، ﴿الغارس﴾ نهال او بوټي اينښوونکی، ﴿الغرس﴾ اينښوول سوی نهالان او بوټي (لګول سوي او شنه کړل سوي نيالګي چې وروسته بيا درختي ځني جوړيږي)، جمع: الغِرَاس او الأَغْرَاس، ﴿قفيز الطحان﴾ د قفيز تعريف مخکي تېر سوی دی چې دا يو پيمانه ده او د طَحَّان معنیٰ ده: ميده کونکی، د غنمو اوړه کونکی (ژرندي والا)، قفيز الطحان د فقهي يو اصطلاح ده، صورت يې دا دی چې يو څوک طحان يعني ژرندي والا ته د اوړه کولو لپاره غنم ورکړي او فيصله پر دې وسي چې کله دا غنم اوړه سي نو تا ته په اُجرت کي له همدې اُوړو څخه يو قفيز يا مثلاً شل سېره يا پنځوېشت سېره اُوړه درکوم، دا ممنوع او ناجائز دي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: داسي دی چې که يو څوک بل چا ته د يو څو معلومو کلونو لپاره خپل خالي ځمکه ورکړي چې په دې کي نهالان يعني کوچنۍ درختي کښېږده او دوی دا شرط سره ولګوي چې کله دا کوچنۍ درختي کښېښول سي، نو درختي او ځمکه دواړه به د عامل او ربُ الأرض ترمينځ نيم په نيمه تقسيمول کيږي، نو فرمايي چې دا صورت فاسد او غير صحيح دی، ځکه تاسي ته مخکي ذکر سوه چې عامل ته چې نفع او اُجرت حاصلېږي هغه د عمل او کار په وجه ورته حاصلېږي، او دلته په يو داسي شي (ځمکه) سره هغه ته نفع حاصلېږي، چې په هغه کي نه خو د عامل د عمل دخل سته او نه د شرکت؛ ځکه چې ځمکه خو د دوی له شرکت څخه مخکي موجوده ده، نو ځکه په دې صورت کي عقد فاسدېږي. (يا په بله وينا دا چې ځمکه له مخکي څخه سته، د عامل د کار په وجه په ځمکه کي زياتوب راتلونکی نه دی، او کوم څه چې د عقد په صورت کي له مخکي څخه وي، په هغه کي د چا شرکت صحيح نه دی، نو ځکه دا عقد فاسدېږي [اثمار الهدايه]).

او بل دا چې دا صورت د قفيز الطحان په درجه کي هم دي؛ ځکه چې دلته هم د عامل په کار او محنت سره درختي او نهالان اينښوول کيږي او شنه کيږي، او بيا داغه درختي او نهالان ده ته په اُجرت کي ورکول کيږي، نو دا د قفيز الطحان په څېر سو، او تاسي ته معلومه ده چې له قفيز الطحان څخه منع سوې ده، نو ځکه دا عقد به هم ممنوع او فاسد وي.

وجميع الثمر إلخ: اوس چي كله عقد فاسد سو، نو ټوله مېوه او درختې د ربُ الأرض کيږي، او عامل (غارس) ته به د خپل اينبوول سوو درختو قيمت او د خپل کار اُجرت مثلي ورکول کيږي: ځکه کله چي اينبوول سوي درختې او نهالان د ربُ الأرض د ځمکې سره متصل دي، نو د هغوی کښل او مثل يې واپس کول متعذر او مشکل دي، او د ردّ مثل د متعذر کېدلو په صورت کي د شي قيمت ورکول کيږي، نو ځکه دلته به هم عامل ته د نهالانو (اينبوول سوو درختو) قيمت ورکول کيږي.

لأنه لايدخل إلخ: دا د يو مقدر اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چي کله عامل ته د نهالانو (اينبوول سوو درختو) قيمت ورکول کيږي، نو بيا هغه ته د اُجرت مثلي ورکولو څه ضرورت دی.

د همدې په جواب کي فرمايي چي په کار او نهالانو کي فرق دی، نهالان جوهر دي او بذات خود متقوّم دي، او کار عرض دی، بذات خود متقوّم نه دی، نو ځکه د نهالانو په قيمت کي د کار دخل نسته او د هغه به جلا اُجرت ورکوي.

وفي تخريجها إلخ: او دا مسئله په كفاية المنتهي کښي په بله طريقه سره ذكر سوې ده، کوم چي د دې مسئلې د فاسدېدلو د يو بل دليل حيثيت لري (يعني ګواکي هغه د دغه عقد او مسئلې د فاسدېدلو يو بل دليل دی). هغه داسي ذکر سوې ده چي ربُ الأرض د خپل نصف ځمکې په عوض کي له عامل (غارس) څخه هغه نصف نهالان رانيسي کوم چي يې عامل اږدي، يا د نصف ځمکې او نصف پيداوار په عوض کي د عامل ټوله نهالان رانيسي، او په دې صورت کي عقد په دې وجه فاسديږي چي په دې صورت کي د عقد پر مهال نهالان معدوم دي، او کله چي نهالان معدوم دي، نو ثمن مجهول سو، او د ثمن د جهالت په وجه عقد فاسديږي، نو ځکه په دې صورت کي به هم عقد فاسديږي، خو غوره صورت (او دليل) هغه دی کوم چي دلته په هدايه کي ذکر سوی دی. (احسن الهدايه) والله أعلم وعلمهٔ أتم



كِتَابُ الذَّبَائِحِ

(دا) كتاب د ذبح كېدونكو څارويو (په بيان كې) دى

تشريح: لكه څرنګه چې په مزارعت او مساقات كې له ځمكې او درختو څخه وروسته (په مستقبل كې) نفع اخيستل كيږي، همداسې ذبيحه څاروى اول ذبح كول كيږي، بيا وروسته د هغه له غوښو وغيره څخه نفع اخيستل كيږي. يا په بله وينا دا چې په مزارعت او مساقات كې چې كوم شى فى الحاله د خوړلو قابل نه دى، همداسې په ذبائح كې هم دي. بلكې په دواړو كې وروسته (په مستقبل) كې د انتفاع قابل ګرځي، په همدې مناسبت صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله ذبائح له مزارعت او مساقات څخه وروسته بيان كړي دي.

د څاروي د حلال كېدو لپاره: په ذبح سره د څاروي د حلال ګرځېدلو لپاره پنځه خبرې ضروري دي: ① يو دا چې پر څاروي به "بسم الله" وايي، ② دويم دا چې په ذبح سره به له څاروي څخه وينه وځي، كه چېرې ذبح اختياري وي نو د څاروي د غاړې څلور سره رګونه به ورپرېكوي او ټوله وينه به باسي، او كه ذبح اضطراري وي، نو په غشي وغيره سره به د څاروي څه نا څه وينه باسي، نو بيا څاروى حلال ګرځي، تفصيل به يې وروسته راسي. ③ درېيم شرط دا دى چې ذبح كوونكى (حلالوونكى) به مسلمان وي، يا به كتابي يعني يهودي يا نصراني وي، ④ څلورم دا چې څاروى به داسې وي كوم چې په ذبح كولو سره حلاليږي، يعني خنزير، سپى وغيره به نه وي، ⑤ پنځم دا چې كه د حرم ښكار ذبح كوي، نو ذبح كوونكې به محرم (احرام تړونكى) نه وي او د حرم په حدودو كې به نه وي، هو! عام څاروى (كوم چې د ښكار نه وي) محرم ذبح كولاى سي او د حرم په حدودو كې يې ذبح كولاى سي.

د ذبح شرعي حيثيت، تعريف او شرائط

قَالَ: الذَّكَاةُ شَرْطُ حِلِّ الذَّبِيحَةِ فرمايي: د ذبيحه [څاروي] د حلال كېدو لپاره ذبح كول شرط دي لِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ﴾ [المائدة: ٣] د الله تعالىٰ د دې فرمان "إِلَّا مَا ذَكَّيْتُم" په وجه وَلِأَنَّ بِهَا يَتَمَيَّزُ الدَّمُ النَّجِسُ مِنَ اللَّحْمِ الطَّاهِرِ او ځكه چې په ذكاة [ذبح كولو] سره ناپاكه وينه له پاكې غوښې څخه جلا كيږي وَكَمَا يَثْبُتُ بِهِ الْحِلُّ يَثْبُتُ بِهِ الطَّهَارَةُ فِي الْمَأْكُولِ وَغَيْرِهِ او څرنګه چې په ذبح كولو

سره حلال والی ثابتیږي همداسي په هغه سره په خوړل کېدونکي څاروي او نا خوړل کېدونکي څاروي [دواړو] کي پاکوالی هم ثابتیږي [چي بیا یې دغوښو او داسي نوړو سره لمونځ کول جواز لري] فَإِنَّهَا تُنْبِئُ عَنْهَا ځکه چي ذکاة د طهارت خبر ورکوي [یعني د ذکاة مراد دی: پاکوالی او پاکي] وَمِنْهَا قَوْلُهُ عليه السلام: «ذَكَاةُ[1] الْأَرْضِ يُبْسُهَا» او له همدې قبیل څخه دی د نبي ﷺ دا فرمان چي: د ځمکي ذکاة [یعني د ځمکي پاکوالی] د هغې وچوالی دي [یعني لنده ناپاکه ځمکه چي کله وچه سي نو پاکیږي] وَهِيَ اخْتِيَارِيَّةٌ كَالْجُرْحِ فِيمَا بَيْنَ اللَّبَّةِ وَاللَّحْيَيْنِ او دا ذکاة او ذبح [پر دوه قسمه ده: یو] اختیاري ده [او هغه] لکه زخمي کول [پرېکول] په هغه ځای کي چي په مینځ کي د سینې او زامو دی وَاضْطِرَارِيَّةٌ وَهِيَ الْجُرْحُ فِي أَيِّ مَوْضِعٍ كَانَ مِنَ الْبَدَنِ او [دویم] ذبح ضطراري ده او هغه زخمي کول [زخم لګول] دي په هنې یو حصه د بدن کي وَالثَّانِي كَالْبَدَلِ عَنِ الْأَوَّلِ او دویم [ذبح اضطراري] د اول [ذبح اختیاري] د بدل [او نائب] په څېر دی لِأَنَّهُ لَا يُصَارُ إِلَيْهِ إِلَّا عِنْدَ الْعَجْزِ عَنِ الْأَوَّلِ ځکه چي و دې دویم ته صرف له اول څخه د عاجزه کېدو په وخت کي رجوع کیږي وَهَذَا آيَةُ الْبَدَلِيَّةِ او دا د بدل والي [او نائب والي] نښه ده وَهَذَا لِأَنَّ الْأَوَّلَ أَعْمَلُ فِي إِخْرَاجِ الدَّمِ او دا ځکه چي اول [ذبح اختیاري] د وینې په ایستلو [باسلو] کي زیات کارګذاره دی وَالثَّانِي أَقْصَرُ فِيهِ او دویم [ذبح اضطراري] په دې کي کوتاه دی فَاكْتَفَى بِهِ عِنْدَ الْعَجْزِ عَنِ الْأَوَّلِ نو ځکه په دې دویم [ذبح اضطراري] سره له اول څخه د عاجزه کېدو په صورت کي اکتفاء کیږي إِذِ التَّكْلِيفُ بِحَسْبِ الْوُسْعِ ځکه مکلف کېدل د وس مطابق وي [یعني انسان د خپل وس او ګنجایش مطابق مکلف سوی دی] وَمِنْ شَرْطِهِ أَنْ يَكُونَ الذَّابِحُ صَاحِبَ مِلَّةِ التَّوْحِيدِ او د ذبح له شرط څخه دا ده چي ذبح کونکی به د توحید د ملت والا وي [یعني د توحید له اقرار کونکو څخه به وي] إِمَّا اعْتِقَادًا یا خو په عقیدوي اعتبار سره [به له ملت توحید څخه وي] كَالْمُسْلِمِ لکه مسلمان [چي حقیقتاً د توحید عقیده لري] أَوْ دَعْوَى یا د دعوې په اعتبار سره [به له ملت توحید څخه وي]

---

[1] تخریج: اخرجه ابن ابی شیبه فی کتاب الطهارة. باب فی الرجل یطأ الموضع القذر. حدیث رقم: ۶۲۴. صاحب د اثمار الهدایه غفرالله له فرمایي چي دا قول صحابي دی کوم چي د مصنف ابن أبي شیبه په ج: ۱. ص: ۵۹ کي ذکر سوی دی.

كَالْكِتَابِيّ لکه کتاب والا [يعني يهودي او نصراني] وَأَنْ يَكُوْنَ حَلَالًا خَارِجَ الْحَرَمِ او [بل شرط] دا چې ذبح کونکی به حلال او له حرم څخه بهر وي عَلَىٰ مَا نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَىٰ بناء بر هغه تفصيل چې موږ به يې ان شاء الله [څه وروسته] بيان کړو.

اللغات: ﴿ذكاة﴾ (په ذال سره) اسم مصدر دی: ذبح کول، حلالول (معجم الوسيط، مصباح المنير).

﴿الذبيحة﴾ د صفت مشبه صيغه ده: ذبح کړی سوی ښاروی، ﴿تنبئ﴾ د افعال مضارع ده: خبر ورکول، ﴿لَبَّة﴾ د دې لفظ مختلفه معناوي نقل سوي دي چې د ټولو مطلب يو کېدای سي: ① أَسْفَلُ العنقِ يعني له غاړې څخه لاندې والا حصه (معجم لغة الفقهاء)، ② المَنْحر، يعني مَوضعُ النحر (مصباح المنير)، ③ مَوضعُ القلادة من العنق (معجم الوسيط)، ④ سينه (احسن، اثمار)، ﴿لحيين﴾ تثنيه د لَحْيٌ ده: زامه، ژامه، برغبنی، ﴿وُسْع﴾ (بضم الواو وسكون السين): وس، توان، طاقت، ﴿الملة﴾ دين، مذهب، دلته يې مراد دی: د توحيد اعتقاد (د الله ﷻ ديو والي عقيده لرل).

تشريح: فرمايي چې د ښاروي د روا کېدو او حلال ګرځېدو لپاره ذبح (حلالول) شرط دي؛ ځکه په دې آيت شريف ﴿إلّا ما ذكيتم... إلخ﴾ کي تر ذبح وروسته ښاروی حلال ګرځول سوي دي، او بل دا چې د ذبح په ذريعه ناپاکه وينه له پاکي غوښي څخه جلا کيږي، همدارنګه په ذبح سره چې څرنګه مأکول اللحم پاکيږي، همداسي د هغه په ذريعه په غير مأکول اللحم کي هم پاکي راځي نو بيا د هغه د غوښو او اجزاؤ سره لمونځ جائز کيږي، يعني د کوم حيوان غوښي چې حلال نه وي لکه شېر (زمری) او داسي نور. نو که هغه ذبح کړی سي نو په غوښو کي يې طهارت راځي چې که هغه په جېب کي وساتل سي لمونځ ور سره روا دی، نو ځکه اسلام ذبح کول لازم او ضروري ګرځولي دي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله ذکاة د طهارت په معنیٰ سره استعمال کړی دی. او د دې پر صحت يې يو حديث هم پېش کړی دی چې په "ذكاة الأرض يبسها" کي هم ذکاة د طهارت په معنیٰ سره دی.

وهي اختيارية إلخ: له دې ځايه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د ذبح اقسام بيانوي، نو ياد لرئ! چې ذبح پر دوه قسمه ده: ① اختياري: يعني د ښاروي د سينې او زامو تر مېنځ (يعني پر غاړه) د چاړه وغيره تېرولو ته ذبح اختياري وايي، ② اضطراري: د ښاروي د بدن په هسي يو حصه کي زخم جوړولو (زخمي کولو) ته ذبح اضطراري وايي. او څرنګه چې اصل ذبح اختياري ده، نو ځکه پر اصل د قدرت نه لرلو په صورت کي د ذبح اضطراري وطرف ته رجوع کيږي (مثلاً که يو ښاروی وتر هېږي او ذبح ته غاړه نه ږدي، نو بيا به په غشي وغيره سره ويشتل کيږي...)، په همدې وجه ذبح اضطراري ته د ذبح اختياري بدل

ويل كيږي. او د دغه بدل كېدو (نائب والي) يوه بله وجه دا هم ده چي په ذبح اختياري كي كما حقهٗ وينه ايستل كېداى سي، خو په ذبح اضطراري كي دا كيفيت په كامله توګه نسته، نو ځكه له ذبح اختياري څخه د عاجزه كېدو په صورت كي بيا ذبح اضطراري اختيارول كيږي؛ ځكه كله چي ځاروى وترهيږي او وتښتيږي، نو ښكاره ده چي انسان هلته پر ذبح اختياري قدرت نه لري، او انسان حسب القدرة په احكامو مكلف دى. نو ځكه پر ذبح اختياري د قدرت نه لرلو په صورت كي د ذبح اضطراري وطرف ته رجوع كول دا هم د هغه د بدل كېدو نښه ده چي ذبح اضطراري د ذبح اختياري بدل ده.

ومن شرطه إلخ: له دې ځايه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د ذبح د شرائطو يادونه كوي چي يو شرط يې دا دى چي ذبح كونكى (حلالونكي) به د توحيد اقرار كونكي وي، برابره ده هغه اعتقاداً وي يعني حقيقتاً توحيد والا وي لكه مسلمان، يا دعوىٰ يې وي يعني حقيقتاً توحيد والا خو نه وي، لېكن د دې دعوىٰ كوي چي موږ توحيد والا يو، لكه كتابي (يعني نصراني او يهودي). همدارنګه د ذبح كونكي حلال والى هم شرط دى كله چي ذبيحه د ښكار ځاروى وي؛ ځكه چي د محرم (احرام تړونكي) ذبيحه حلاله نه ده. همدارنګه له حرم شريف څخه د ذبح كونكي خارج والي هم شرط دى؛ چي وروسته به يې تفصيل ذكر سي.

د ذبح د اهليت بيان

قَالَ: وَذَبِيحَةُ الْمُسْلِمِ وَالْكِتَابِيِّ حَلَالٌ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: چي د مسلمان او كتابي ذبيحه حلاله ده لِمَا تَلَوْنَا د هغه آيت په وجه كوم چي موږ تلاوت كړى وَلِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ ﴿وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ﴾ [المائدة: ٥] او د الله تعالىٰ د دې فرمان په وجه چي: طعام يعني ذبيحه د اهلِ كتابو ستاسي لپاره حلاله ده وَيَحِلُّ إِذَا كَانَ يَعْقِلُ التَّسْمِيَةَ او ذبيحه [ځاروى] حلال ګرځي په دې شرط [١] كله چي ذبح كونكى بسم الله پېژني وَالذَّبِيحَةَ [٢] او په ذبح كولو پوهيږي وَيَضْبِطُ [٣] او شرائط د ذبح [يعني د أوداجو او رګونو پرېكول] يې ضبط كړي [ياد] وي وَإِنْ كَانَ صَبِيًّا أَوْ مَجْنُونًا أَوْ اِمْرَأَةً بيا كه څه هم دا ذبح كونكى كوچنى يا لېونى يا ښځه وي [نو ذبيحه يې حلاله ده] أَمَّا إِذَا كَانَ لَا يَضْبِطُ وَلَا يَعْقِلُ التَّسْمِيَةَ وَالذَّبِيحَةَ لېكن كه هغه شرائط د ذبح ضبط كړي نه وي او نه په بسم الله او په ذبح كولو پوهيږي لَا تَحِلُّ نو د هغه ذبيحه حلاله نه ده لِأَنَّ التَّسْمِيَةَ عَلَى الذَّبِيحَةِ شَرْطٌ بِالنَّصِّ

ځکه چي پر ذبیحه بسم الله ویل د نص [آیت] په وجه شرط دي وَذٰلِكَ بِالْقَصْدِ او دا په اراده سره کیږي [چي په قصد او اراده سره بسم الله ووایي] وَصِحَّةُ الْقَصْدِ بِمَا ذَكَرْنَا او د ارادې صحیح کیدل په هغه [دريو] شیانو سره دی کوم چي مونږ ذکر کړه [يعني: يعقل التسمية والذبيحة ويضبط] وَالْأَقْلَفُ وَالْمَخْتُونُ سَوَاءٌ او ناسنته او سنت کړی سوی دواړه سره برابر دي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چي مونږ ذکر کړی وَإِطْلَاقُ الْكِتَابِيِّ يَنْتَظِمُ الْكِتَابِيَّ الذِّمِّيَّ وَالْحَرْبِيَّ وَالْعَرَبِيَّ وَالتَّغْلِبِيَّ او اطلاق د کتابي [يعني په متن کي چي لفظ د کتابي مطلق دی دا] ذمي کتابي، حربي کتابي. عربي کتابي او د قوم تغلب کتابي ټولو لره شامل دی لِأَنَّ الشَّرْطَ قِيَامُ الْمِلَّةِ ځکه چي شرط د ملت توحید قائمېدل دي [چي ذبح کونکی به له ملت توحید څخه وي يعني د توحید اقرار کونکی به وي] عَلَىٰ مَا مَرَّ لکه [مخکي] چي تېر سوه.

اللغات: ﴿ذبيحة﴾ د صفت مشبه صيغه ده په معنیٰ سره د مذبوحة: ذبح کړی سوی ښاروی. جمع: ذبائح. ﴿الملة﴾ دين، مذهب. مراد: د توحيد اعتقاد ﴿يعقل﴾ د ضرب مضارع ده: په پوهېدل، پوهه لرل. ﴿أقلف﴾ هغه کس چي تر اوسه سنت سوی نه وي. ناسنته. نا ختنه سويز

تشريح: څرنګه چي په دې آيت ﴿إلا ما ذكيتم إلخ﴾ سره د مسلمان او کتابي د ذبیحې حلت ثابتیږي، همداسي په دغه آیت ﴿وطعام الذين إلخ﴾ سره هم د اهلِ کتابو د ذبیحې حلت ثابتیږي. په صحيح بخاري کي ذکر سوي دي چي د ابن عباس رضي الله عنه په نيز له "طعام" څخه مراد ذبیحه ده. بیا ذبح کونکی برابره ده صغیر (کوچنی) وي. او که ښځه وي. یا مجنون وي. که چیري هغه په تسمیه (بسم الله ویلو) خبر وي او بسم الله ووایي هم. همدارنګه د ذبح په کیفیت او شرائطو (يعني د څلورو سره رګونو په پرېکولو) پوهیږي. نو د هغه ذبیحه حلاله ده. لیکن که هغه تسمیه نه پېژني، یا په کیفیت د ذبح نا خبره وي. نو د هغه ذبیحه حلاله نه ده؛ ځکه چي د ذبیحې د حلت لپاره تسمیه علی الذبیحه (يعني پر مذبوحه ښاروي بسم الله ويل) شرط دي. او د تسمیې وجود په قصد سره کیږي (چي په اراده سره به بسم الله وايي). او د قصد او ارادې صحیح والی په مذکوره شیانو سره راځي يعني ذبح کونکي به په تسمیه. د ذبح په کیفیت او شرائطو پوهیږي.

والأقلف والمختون إلخ: فرمايي چي په مختون او غیر مختون (سنت شده او ناسنته) کي هیڅ فرق نسته. که چیري په دوی کي مذکوره اوصاف وي. نو د دوی ذبیحه معتبره ده. کښي معتبره نه ده. او صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د دې یادونه ځکه کړې ده چي د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په نيز د غیر

مختون (نابسته) شهادت او د هغه ذبيحه معتبره نه ده. لېکن څرنګه چې د ﴿إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ إلخ﴾ او د ﴿وطعام إلخ﴾ په عموميت کي دا ټوله داخل دي، نو ځکه کله چي په دوی کي د ذبح شرائط موجود وي، نو ذبيحه يې حلاله ده.

واطلاق الكتابي إلخ: د دې حاصل دا دی چي په متن کي چي کوم د "الکتابي" لفظ دی. په هغه کي هر ډول کتابي داخل دي، برابره ده هغه ذمي وي او که حربي وي، عربي او تغلبي وي، او که د بل ځای اوسېدونکی وي، په دې شرط چي هغه د توحيد مُقر او په مذکوره اوصافو متصف وي. نو د هغه ذبيحه حلاله ده؛ ځکه چي د ذبح د حلت لپاره د ملت توحيد قائمېدل شرط دي. برابره ده هغه په اعتقادي توګه وي. يا د دعوې په توګه وي (لکه مخکي چي يې وضاحت وسو).

يادونه: د امريکې، بريطانيې او داسي نورو عيسايان (نصارىٰ) تش په نامه عيسايان دي او په حقيقت کي دهريان دي چي بالکل په بسم الله ويلو خبر نه دي نو وايي به يې چيري!. کوم چي د مسلمان لپاره هم ضروري ده. نو ځکه د دوی له ذبيحې څخه ځان ساتنه ضروري ده.

د مجوسي او مرتد د ذبيحې حکم

قَالَ: وَلَا تُؤْكَلُ ذَبِيحَةُ الْمَجُوسِيِّ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او د مجوسي ذبح کړی سوی څاروی به نه خوړل کيږي لِقَوْلِهِ الطَّيْلَا [1]: «سُنُّوا بِهِمْ سُنَّةَ أَهْلِ الْكِتَابِ غَيْرَ نَاكِحِي نِسَائِهِمْ وَلَا آكِلِي ذَبَائِحِهِمْ» د نبي کريم ﷺ د دې فرمان په وجه: چي تاسي د مجوسيانو سره د اهلِ کتابو طريقه [چلند] اختيار کړئ خو د هغوی د ښځو سره نکاح مه کوئ او مه يې ذبيحې خورئ وَلِأَنَّهُ لَا يَدَّعِي التَّوْحِيدَ او ځکه چي مجوسي د توحيد دعوىٰ نه کوي [لکه کتابي چي يې کوي] فَانْعَدَمَتِ الْمِلَّةُ اعْتِقَادًا وَدَعْوَى نو [د مجوسي په حق کي] د عقيدې او دعوې دواړو په اعتبار سره ملت توحيد معدوم سو قَالَ: وَالْمُرْتَدِّ فرمايي: او نه به د مرتد ذبيحه خوړل کيږي لِأَنَّهُ لَا مِلَّةَ لَهُ ځکه چي هغه لره هيڅ ملت نسته فَإِنَّهُ لَا يُقَرُّ عَلَى مَا انْتَقَلَ إِلَيْهِ ځکه چي مرتد پر هغه ملت باقي [برقرار] نه ساتل کيږي د کوم وطرف ته چي هغه منتقل سوی دی بِخِلَافِ الْكِتَابِيِّ إِذَا تَحَوَّلَ إِلَى غَيْرِ دِينِهِ په خلاف د کتابي کله چي هغه بل

---

[1] تخريج: دغه حديث په اصل کي د دوو حديثونو مجموعه ده چي د هغه اوله حصه (سنوا بهم سنة اهل الکتاب) د مصنف عبد الرزاق په ج: ۹، ص: ۵۵۲ کي ذکر سوې ده. حديث رقم: ۱۹۳۷۳. او دويمه حصه يې هم په مذکوره جلد ص: ۵۵۳ کي ذکر سوې ده. حديث رقم: ۱۹۳۷۶. او مذکوره حديث په مصنف ابن أبي شيبه کي هم نقل سوی دی. حديث رقم: ۳۲۶۳۵.

دین ته واوړي لِأَنَّهُ يُقَرُّ عَلَيْهِ عِنْدَنَا ځکه هغه زموږ په نېز پر هغه دین بر قرار ساتل کیږي فَيُعْتَبَرُ مَا هُوَ عَلَيْهِ عِنْدَ الذَّبْحِ لَا مَا قَبْلَهُ نو اعتبار به کیږي د هغه حالت چي پر هغه دا کتابي د ذبح په وخت کي دی، نه تر هغه د مخکي حالت [یعني عند الذبح والا حالت یې معتبر دی. او تر هغه مخکینی حالت یې معتبر نه دی] قَالَ: وَالْوَثَنِيِّ او نه به د بت پرست ذبیحه خوړول کیږي لِأَنَّهُ لَا يَعْتَقِدُ الْمِلَّةَ ځکه چي هغه د ملت توحیده عقیده نه لري.

اللغات: ﴿سُنُّوا﴾ د نصر له بابه د جمع مذکر امرِ حاضر صیغه ده. د دې باب ډېري معناوي دي، چي یو څو معناوي یې دا دي: جاري کول، تاکل، اختیارول، مراد ځني سلوک او طریقه اختیارول دي، ﴿سنة﴾ طریقه، خصلة، سلوک (چلند). ﴿انعدمت﴾ د افعال له بابه د ماضي صیغه ده: نیستي کېدل، ختمېدل. ﴿لا يُقر﴾ د افعال له بابه د مضارع صیغه ده. د دې باب هم ډېري معناوي دي، دلته یې معنیٰ ده: باقي او بر قرار ساتل (باقي پرېښوول)، پاته کول. ﴿وثني﴾ بت پرست، د بت عبادت کونکی.

تشریح: په دې عبارت کي دري جلا، جلا مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... د مجوسي (اور لمانځي) ذبیحه حلاله نه ده او نه به خوړل کیږي؛ ځکه په حدیث شریف کي صراحتاً د هغه له ذبیحې څخه منع سوې ده. یعني که څه هم د اهل کتابو په څېر مجوسیان هم جزیه ورکوي او د جزیې په بدله کي امن ورکول کیږي، خو مسلمان به نه د دوی د ښځو سره نکاح کوي او نه به د دوی ذبیحه خوري. او بل دا چي د ذبح د صحت لپاره د توحید اقرار شرط دی او مجوسي د توحید منکر وي، لهذا د اعتقاد او عمل دواړو په اعتبار سره د هغه په حق کي ملت توحید معدوم دی، حالانکي د صحت ذبح لپاره د ملت توحید وجود شرط دی. که څه هم صرف د هغه دعویٰ وي.

(۲)... همدارنګه د مرتد ذبیحه هم حلاله نه ده؛ ځکه چي هغه لره هیڅ ملت نسته. ځکه تر اسلام وروسته چي هغه کوم ملت اختیاروي، زموږ په نېز دئ پر هغه بر قرار نه شمېرل کیږي (یعني مرتد چي اوس کوم مذهب اختیار کړی دی، د هغه مذهب والا به نه ګرځول کیږي. بلکي توبه پر لازمه ده یا به قتلول کیږي؛ ځکه هغه د کافر په درجه کي دی)، نو ځکه ذبیحه یې حلاله نه ده.

لېکن که یو کتابي خپل ملت بدل کړي او بل ملت اختیار کړي، مثلاً یهودي نصراني سي یا د دې برعکس، نو د ذبح پر مهال به د هغه ملت ته کتل کیږي، که ملت توحید وي، نو ذبیحه یې حلاله ده. کنې خوړل یې حلال نه دي؛ او د کتابي په حق کي دا رعایت ځکه سوی دی چي زموږ په نېز حکم دا دی چي که له مسلمان څخه بغیر بل مذهب والا خپل مذهب بدل کړي. نو دئ به پر هغه مذهب باقي منل کیږي (او نه به قتلول کیږي)، نو ځکه د ذبح پر وخت به د هغه ملت ته په کتو سره فیصله کیږي.

(۳)... او د بت پرست ذبیحه هم حلاله نه ده؛ ځکه چې هغه د ملتِ توحید معتقد نه دی او نه یې دعویٰ کوي (یعني دیوه خدای عقیده نه لري)، بلکې مشرک دی او د زرهاوو خدایانو عقیده لري. لهذا هغه که څه هم دیوه خدای نوم (یعني بسم الله) ووایي او ځاروی ذبح کړي، نو بیا هم حلال نه ګرځي.

د محرم (احرام تړونکي) ذبیحه

قَالَ: وَالْمُحْرِمِ يَعْنِىْ مِنَ الصَّيْدِ فرمايي: او نه به د محرم ذبیحه خوړل کیږي یعني ښکار والا ذبیحه وَكَذَا لَا يُؤْكَلُ مَا ذُبِحَ فِي الْحَرَمِ مِنَ الصَّيْدِ او همداسې به هغه ښکار والا ذبیحه هم نه خوړل کیږي کوم چې په حرم کې ذبح کړی سوی وي وَالْإِطْلَاقُ فِي الْمُحْرِمِ يَنْتَظِمُ الْحِلَّ وَالْحَرَمَ او د محرم اطلاق حل او حرام دواړو لره شامل دی وَالذَّبْحُ فِي الْحَرَمِ يَسْتَوِي فِيهِ الْحَلَالُ وَالْمُحْرِمُ او [د ښکار] ذبح کول په حرم کې په دې کې حلال او محرم دواړه برابر دي وَهٰذَا لِأَنَّ الذَّكَاةَ فِعْلٌ مَشْرُوعٌ او دا ځکه چې ذبح یو مشروع فعل دی وَهٰذَا الصَّنِيعُ مُحَرَّمٌ او دغه کار [یعني په حرم کې (او د محرم لپاره) ښکار ذبح کول] حرام دي فَلَمْ تَكُنْ ذَكَاةً نو ځکه دا به ذبح کول [حلالول] نه وي بِخِلَافِ مَا إِذَا ذَبَحَ الْمُحْرِمُ غَيْرَ الصَّيْدِ په خلاف د هغه صورت کله چې محرم غیر ښکار [عام ځاروی] ذبح کړي أَوْ ذَبَحَ فِي الْحَرَمِ غَيْرَ الصَّيْدِ یا په حرم کې کې غیرِ ښکار ذبح کړي صَحَّ نو دا صحیح دي لِأَنَّهُ فِعْلٌ مَشْرُوعٌ ځکه دا مشروع فعل دی إِذِ الْحَرَمُ لَا يُؤَمِّنُ الشَّاةَ ځکه چې حرم پسه [بزه او داسې نورو یعني عام ځاروي] ته پناه نه ورکوي وَكَذَا لَا يَحْرُمُ ذَبْحُهُ عَلَى الْمُحْرِمِ او همداسې پر محرم هم د پسه [عام ځاروي] ذبح کول حرام نه دي.

اللغات: ﴿مُحْرِم﴾ هغه کس چې احرام یې تړلی وي، د احرام په حالت کې وي. ﴿صَيد﴾ ښکار، یعني د ښکار حیوان، هغه ځاروی چې خلک یې ښکاروي. ﴿صنيع﴾ کار، کاروايي. ﴿شاة﴾ عام اسم دی: پسه، وزګړي، بزه (وزه) ټولو لره شامل دی.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... محرم کس نه د حرم ښکار ذبح کولای سي، او نه د حِل، که داسې وکړي، نو ذبیحه یې حلاله نه ده.

(۲)... حرم یعني د مکې مبارکې چار طرفه چې کوم معلوم حدود دي، په هغه کې یو ښکار نه محرم کس ذبح کولای سي، او نه حلال کس، که یې ذبح کړي، نو حلال نه دی لهذا نه به خوړل کیږي.

والإطلاق إلخ: يعني په متن کې چې کوم د محرم لفظ مطلق ذکر سوی دی، د هغه مطلب دا دی چې محرم کس نه د حرم ښکار ذبح کولای سي او نه د حل ښکار؛ ځکه چې دواړه ممنوع دي.

والذبح إلخ: يعني په حرم کې برابره ده حلال کس ښکاره ذبح کړي او که محرم کس، د دواړو د ښکار ذبيحه حلاله نه ده؛ ځکه په حرم کې ښکار ذبح کول حرام دي، لهذا په دې ذبح سره هغه نه حلاليږي.

وهذا لأن الزكاة إلخ: د پورتنۍ مسئلې دليل بيانوي چې ذبح يو مشروع او روا کار دی، او په حرم کې ښکار ذبح کول يا د محرم لپاره ښکار ذبح کول ممنوع کار دی (ځکه په آيتو کې له دې څخه منع سوې ده: ﴿حُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا﴾، ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ﴾). نو ځکه دا کار کول به ذکاة (حلالول) نه وي.

بخلاف ما إلخ: فرمايي که محرم له ښکار څخه بغير بل څاروی ذبح کړي مثلاً عام پسه، بزه او داسې نور، نو ذبيحه يې حلاله ده، او همدارنګه که دا عام څاروی په حرم کې ذبح کړي، نو حلال دی؛ ځکه چې حرم صرف ښکار ته پناه ورکوي، او پاته سو عام څاروي (غير صيد) ته امن او پناه نه ورکوي، بلکې په حرم کې دننه د هغه ذبح کول روا دي او همدارنګه د محرم لپاره د هغه ذبح کول روا دي. لنډه دا چې ممانعت فقط د ښکار والا څاروي سره خاص دی، ولا حرج في غيره.

قصداً د تسميه (بسم الله) پرېښوولو بيان

قَالَ: وَإِنْ تَرَكَ الذَّابِحُ التَّسْمِيَةَ عَامِدًا فرمايي: او که چيري ذبح کوونکی قصداً بسم الله ويل پرېږدي فَالذَّبِيحَةُ مَيْتَةٌ لَا تُؤْكَلُ نو ذبيحه مرداره ده، نه به خوړل کيږي وَإِنْ تَرَكَهَا نَاسِيًا او که په هېره سره بسم الله ويل پرېږدي أُكِلَ نو خوړول کيږي به وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: أُكِلَ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په دواړو صورتونو کې به خوړل کيږي وَقَالَ مَالِكٌ: لَا تُؤْكَلُ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په دواړو صورتونو کې به نه خوړل کيږي وَالْمُسْلِمُ وَالْكِتَابِيُّ فِي تَرْكِ التَّسْمِيَةِ سَوَاءٌ او د بسم الله په پرېښوولو کې مسلمان او کتابي دواړه سره برابر دي وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا تَرَكَ التَّسْمِيَةَ عِنْدَ إِرْسَالِ الْبَازِيْ وَالْكَلْبِ وَعِنْدَ الرَّمْيِ او پر همدغه اختلاف دي کله چې بسم الله ويل پرېږدي په وخت کې د ايله کولو د باز او سپي او په وخت کې د غشي ويشتلو.

اللغات: ﴿ذابح﴾ د فتح د باب فاعل دی: ذبح کونکی، حلالونکی. ﴿بازی﴾ باز، مشهوره مرغه دی چې ځینې وخت د ښکار لپاره ګټارول کیږي. ﴿رمی﴾ د ضرب مصدر دی: ویشتل، غورځول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که ذبح کونکی (حلالونکی) بسم الله پریږدي، نو د شوافعو په نیز که یې قصداً پرې ایښې وي او که ناسیاً، په دواړو صورتونو کې ذبیحه حلاله ده او خوړل یې روا دي، امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دواړو صورتونو کې د هغه خوړل صحیح نه دي، او د احنافو په نیز تفصیل دی چې که قصداً بسم الله پریږدي، نو په دې صورت کې ذبیحه مرداره ده او خوړل یې حرام دي، او که په هېره یې پریږدي، نو ذبیحه حلاله ده او خوړل یې روا دي، او په دې سلسله کې د مسلمان او کتابي تر مینځ هیڅ فرق نشته، یعني برابره ده ذبح کونکی کس مسلمان وي، او که یهودي یا نصراني وي هر یو که بسم الله پریږدي، نو ذبیحه یې حلاله نه ده.

وعلی هذا إلخ: همدارنګه که د ښکار نیولو لپاره د باز یا تازي او داسې نورو د ایله کولو پر مهال که بسم الله پریږدي، یا پر ښکار د غشي غورځولو پر مهال یې پریږدي، نو په دې باره کې هم د فقهاؤ مذکوره اختلاف دی، یعني د شوافعو په نیز مطلقاً حلال دی، د امام مالک رَحِمَهُ الله په نیز په دواړو صورتونو کې حرام دی او زموږ په نیز د قصداً بسم الله پرېښوولو په صورت کې ښکار حرام دی او د ناسیاً پرېښوولو په صورت کې حلال دی.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قول حیثیت

وَهٰذَا الْقَوْلُ مِنَ الشَّافِعِيِّ مُخَالِفٌ لِلْإِجْمَاعِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دغه قول د اجماع مخالف دی فَإِنَّهُ لَا خِلَافَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَهُ فِي حُرْمَةِ مَتْرُوكِ التَّسْمِيَةِ عَامِدًا ځکه چې له هغه شخصه په مخکینیو [فقهاؤ او صحابه وو] کې د قصداً بسم الله پرېښوول سوي ښاروي د حرمت په هکله هیڅ اختلاف نه وو وَإِنَّمَا الْخِلَافُ بَيْنَهُمْ فِي مَتْرُوكِ التَّسْمِيَةِ نَاسِيًا او د دوی تر مینځ خو اختلاف صرف په هغه ښاروي کې وو چې په هېره بسم الله باندې پرېښوول سوې وي فَمِنْ مَذْهَبِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ يَحْرُمُ چې د ابن عمر رض مذهب دا وو چې هغه حرام دی وَمِنْ مَذْهَبِ عَلِيٍّ وَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَنَّهُ يَحِلُّ او د حضرت علي او ابن عباس رض مذهب دا وو چې هغه حلال دی بِخِلَافِ مَتْرُوكِ التَّسْمِيَةِ عَامِدًا په خلاف د هغه ښاروي چې قصداً بسم الله باندې پرېښول سوې وي [چې په هغه کې د هیڅا اختلاف نه وو] وَلِهٰذَا قَالَ أَبُو يُوسُفَ وَالْمَشَايِخُ: إِنَّ مَتْرُوكَ التَّسْمِيَةِ عَامِدًا لَا يَسَعُ فِيهِ الْاِجْتِهَادُ

په همدې وجه امام ابو یوسف او نورو مشایخو رَحِمَهُمُ الله فرمایلي دي: چې پر کوم ځاروي قصداً بسم الله پرېښوول سوې وي په هغه کي د اجتهاد گنجایش هم نسته وَلَوْقَضَى الْقَاضِي بِجَوَازِ بَيْعِهِ او که یو قاضي د داسي ځاروي د بیع د جواز فیصله وکړي لَايَنْفُذُ نو هغه به نه نافذیږي لِكَوْنِهِ مُخَالِفًا لِلْإِجْمَاعِ ځکه چي هغه د اجماع په خلاف ده.

اللغات: ﴿التسمية﴾ د تفعیل د باب مصدر د. د دې باب څو معناوي دي چې یوه معنیٰ یې ده: بسم الله ویل. ﴿متروك﴾ د نصر د باب اسم مفعول دی: پرېښوول سوی. ﴿متروك التسمية﴾ لفظي هغه ځاروی چې د هغه ذبح کولو پر مهال بسم الله پرېښوول سي.

تشريح: د عبارت حاصل دا دئ چې امام شافعي رَحِمَهُ الله کوم چې د قصداً بسم الله پرېښوولو په صورت کي هم د ذبیحې د حلت قائل دی، د هغه دا قول د اجماع خلاف دی؛ ځکه چې تر هغه ړمخکي صحابه کرامو او فقهاوو په متفقه توګه داسي ځاروی (يعني متروک التسمية عامداً) حرام ګرځولی دی، او په دې باره کي د یوه اختلاف هم منقول نه دی، ها! په هېره د بسم الله پرېښوولو په صورت کي د صحابه وو اختلاف دی، چې حضرت ابن عمر رضی الله عنهما په دې صورت کي د ذبیحې د حرمت قائل وو، او حضرت علي او ابن عباس رضی الله عنهم یې د حلت قائل وه. لیکن د عمداً په صورت کي خو یو هم د ذبیحې د حلت قائل نه وو.

ولهذا قال: فرمایي څرنګه چې په صحابه وو او متقدمینو کي د متروک التسمية عامداً پر حرمت اجماع منعقد سوې وه، نو ځکه امام ابو یوسف او داسي نورو مشایخو رحمهم الله په دې سلسله کي اجتهاد منلی نه دی. همدا وجه ده که یو قاضي د متروک التسميه عامداً د صحت او د هغه د بیع د جواز فتویٰ ورکړي، نو دا فتویٰ او فیصله یې نه نافذیږي او نا معتبره ده؛ ځکه چي قاضي په دې مکلف دی چي د دین د اُصولو پابندي به کوي، او دلته هغه یو اَهم اصل یعني د اجماع مخالفت کوي، نو ځکه د هغه فتویٰ او فیصله نا معتبره او د قبلولو لائق نه ده.

د جانبینو دلائل

لَهٗ قَوْلُهٗ عليه السلام [1] : اَلْمُسْلِمُ يَذْبَحُ عَلٰى اِسْمِ اللهِ تَعَالٰى سَمّٰى أَوْلَمْ يُسَمِّ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی چي: مسلمان د الله پر نامه ذبح کوي [برابره ده] بسم الله يې ويلې وي او که يې ويلې نه وي وَلِأَنَّ التَّسْمِيَةَ لَوْكَانَتْ شَرْطًا لِلْحِلِّ او ځکه که چيري بسم الله ويل [د ځاروي] د حلال کېدو لپاره شرط وای لَمَا سَقَطَتْ بِعُذْرِ النِّسْيَانِ نو د هيري په عذر سره به نه ساقطېدای كَالطَّهَارَةِ فِي بَابِ الصَّلَاةِ لکه پاکي کول د لمانځه په باب کي [چي که څه هم اودس ځني هېرسي نو بيا هم نه ساقطيږي] وَلَوْ كَانَتْ شَرْطًا او [بيا هم] که چيري بسم الله ويل شرط سي فَالْمِلَّةُ أُقِيمَتْ مَقَامَهَا نو ملت توحيد د هغه قائم مقام دی كَمَا فِي النَّاسِي لکه د هېرونکي په حق کي وَلَنَا الْكِتَابُ وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالٰى: ﴿وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ﴾ [الأنعام: ۱۲۱] او زموږ دليل كتابُ الله دی او هغه د الله تعالیٰ دا فرمان دی: او تاسي مه خورئ له هغه ځارويو څخه چي پر هغوی د الله نوم ذکر سوی نه وي نَهْيٌ وَهُوَ لِلتَّحْرِيمِ دا نهي ده کوم چي د تحريم لپاره ده وَالْإِجْمَاعُ وَهُوَ مَا بَيَّنَّا او [زموږ دليل] اجماع هم ده کوم چي [څه مخکي] موږ بيان کړه وَالسُّنَّةُ وَهُوَ حَدِيثُ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمِ الطَّائِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [2] او [زموږ بل دليل] حديث دی او هغه د حضرت عدی بن حاتم الطائي رضي الله عنه حديث دی فَإِنَّهٗ عليه السلام قَالَ فِي آخِرِهٖ: «فَإِنَّكَ إِنَّمَا سَمَّيْتَ عَلٰى كَلْبِكَ وَلَمْ تُسَمِّ عَلٰى كَلْبِ غَيْرِكَ» چي د هغه حديث په آخر کي نبي ﷺ فرمايلي دي: چي تا خو پر خپل سپي بسم الله ويلې ده او د بل چا پر سپي دي نه ده ويلې ده عَلَّلَ الْحُرْمَةَ بِتَرْكِ التَّسْمِيَةِ [او گورئ! په دې حديث کي] نبي ﷺ د حرمت علت د بسم الله پرېښوول گرځولی دی وَمَالِكٌ يَحْتَجُّ بِظَاهِرِ مَا ذَكَرْنَا او امام مالک رَحِمَهُ الله زموږ د ذکر کړه دليلونو په ظاهر سره دليل

---

[1] تخريج: غريب بهذا اللفظ، ليکن دې ته په مفهوم کي نژدې حديث په دار قطني او سنن بيهقي کي نقل سوی دی (دار قطني، ج:۱، ص:۱۹۸، حديث رقم: ۴۷۶۲، سنن بيهقي، ج:۹، ص:۴۰۱، حديث رقم: ۱۸۸۹۰)، همدارنګه په دار قطني او سنن بيهقي کي د مذکوره حديث څنګ ته قول صحابي هم ذکر سوی دی کوم چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل جوړېدلای سي. هغه دا دی: عن ابن عباس (رض) قال: إذا ذبح المسلم فلم يذكر اسم الله فليأكل، فإن المسلم فيه إسماً من أسماء الله تعالى.

[2] تخريج: أخرجه البخاري، باب صيد المعراض، ص:۹۷۵، ومسلم في كتاب الصيد، باب الصيد بالكلاب المعلمة.

نيسي إِذْلَا فَصْلَ فِيهِ ځکه چي په هغوی کي [د هيري او قصداً پرېښوولو] تفصيل نسته.

اللغات: ﴿سمّٰى﴾ د تفعيل د باب ماضي ده، مخکي ذکر سوه چي د دې باب يوه معنیٰ ده: بسم الله ويل.

تشريح: له دې ځايه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله بالترتيب د شوافعو او زموږ دليلونه بيانوي. د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل هغه حديث دی چي پکښي ذکر سوي دي چي مسلمان د الله پر نامه ذبح کوي برابره ده بسم الله ووايي، که يې نه ووايي (بس دا د مسلمان نوم د ده لپاره کافي دی). په دې حديث سره امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې توګه دليل نيسي چي په دغه حديث کي د عمد او نسيان له څه قيد څخه بغير د مسلمان د ذبيحې خوړلو اجازت ورکول سوی دی، برابره ده هغه بسم الله ويلې وي، که نه. معلومه سوه چي په دواړو صورتونو کي ذبيحه حلاله ده. برابره ده عمداً بسم الله نه ووايي او که يې سهواً نه ووايي.

ولأن التسمية إلخ: د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دی چي که بسم الله ويل د ذبيحې د حلت لپاره شرط وای، نو د نسيان (هيري) په صورت کي به هم هغه نه ساقطېدلای. يعني د بسم الله پرېښوولو په صورت کي بايد بالکل ښاروی حلال نه وای، لکه څرنګه چي اودس د لمانځه لپاره شرط دی چي هغه د عمد او نسيان په دواړو صورتونو کي نه ساقطيږي (بلکي که څوک په هېره اودس پرېږدي. نو هم يې لمونځ نه صحيح کيږي). حال دا چي په هېره د بسم الله پرېښوولو په صورت کي ښاروی حلال پاتيږي. معلومه سوه چي بسم الله ويل د ښاروي د حلت لپاره شرط نه دي.

او که بالفرض بسم الله ويل د ښاروي د حلت شرط ومنل سي، نو څرنګه چي د هيري په صورت کي ملت توحيد (اسلام) د هيرونکي ذابح په حق کي د بسم الله قائم مقام منل کيږي. نو همداسي به د قصداً پرېښوولو په صورت کي هم ملت توحيد د بسم الله قائم مقام منل کيږي. او په هېره د پرېښوولو په صورت کي ښاروی حلال دی. لهذا د قصداً پرېښوولو په صورت کي به هم حلال وي.

ولنا إلخ: د احنافو درې دليلونه دي او درې سره نقلي دي:

(۱)... په قرآن کريم کي د داسي ښارويو له خوړلو څخه منع سوې ده چي بسم الله پر ويل سوې نه وي ﴿ولا تأكلوا ممّا لم يُذكرِ اسمُ الله عليه﴾. او ګورئ! په دې آيت کي صراحتاً د متروك التسمية عامداً د حرمت اعلان سوی دی.

(۲)... د هغه پر حرمت د ټولو صحابه وو او متقدمينو اجماع ده. نو ځکه د دې مخالف هيڅ قول به هم معتبر نه وي.

(۳)... د عدي بن حاتم ﷺ روایت دی کله چې هغه له نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې اې د الله نبي! زه چې کله ښکار کوم نو د ښکار لپاره بسم الله ووايم او خپل سپی پر هغه ور ايله کړم. خو زما د سپي سره نور سپيان هم يوځای سي او ما ته معلومه نه وي چې کوم يوه ښکار ونيوی، نو آيا زه دا ښکار خوړلای سم؟. نبي کريم ﷺ وفرمايل چې "تا خو پر خپل سپي بسم الله ويلې ده. نه د بل چا پر سپي". د دې مطلب دا سو چې که د بل چا سپی ښکار وکړي پر کوم چې تا بسم الله نه ده ويلې، نو بيا هغه ښکار مه خوره! حرام دی، اوګوری! دلته نبي ﷺ بسم الله پرېښوول د حرمت سبب ګرځولی دی، نو معلومه سوه چې متروک التسمية عامداً څاروی مردار دی او خوړل يې حرام دي.

ومالك رَحِمَهُ اللهإلخ: او امام مالک رَحِمَهُ الله د احنافو د مذکوره دليلونو په ظاهري مفهوم سره دليل نيسي فرمايي چې په دې دلائلو کي د عمد او نسيان له څه تفصيل څخه بغير مطلقاً متروک التسمية څاروی حرام ګرځول سوی دی (يعني په آيت او حديث کي دا تفصيل نسته چې که په هېره يې پرېښووله نو حلال دی. بلکي مطلقاً داسي ذکر دي چې پر کومه ذبيحه بسم الله نه وويل سي. هغه مه خورئ)، نو ځکه په هېره د بسم الله پرېښوولو په صورت کي به هم ذبيحه حرامه وي.

زموږ له طرفه جوابونه

وَلٰكِنَّا نَقُوْلُ فِي اعْتِبَارِ ذٰلِكَ مِنَ الْحَرَجِ مَا لَا يَخْفٰى لېکن موږ [جواباً] وايو: چې د دې په اعتبار کولو کي [د خلکو لپاره] ښکاره ستونزه ده کوم چې پټه نه ده لِأَنَّ الْإِنْسَانَ كَثِيْرُ النِّسْيَانِ ځکه چې انسان ډېر هيري وَالا دی وَالْحَرَجُ مَدْفُوْعٌ او حرج [په شريعت کي] ليري کړی سوی دی وَالسَّمْعُ غَيْرُ مُجْرًى عَلٰى ظَاهِرِهٖ او نقلي دليل هم پر خپل ظاهر جاري [او محمول] نه دی إِذْ لَوْ أُرِيْدَ بِهٖ ځکه که چيري ظاهر مراد وای لَجَرَتِ الْمُحَاجَّةُ وَظَهَرَ الْاِنْقِيَادُ نو [د صحابه وو په زمانه کي] به پر دې حجت وينه جاري کېدای او [د مخالف فريق] تسليم به ښکاره کېدای وَارْتَفَعَ الْخِلَافُ فِي الصَّدْرِ الْأَوَّلِ او د شروع په دور کي به اختلاف ليري سوي وای وَالْإِقَامَةُ فِيْ حَقِّ النَّاسِيْ وَهُوَ مَعْذُوْرٌ لَا يَدُلُّ عَلَيْهَا فِيْ حَقِّ الْعَامِدِ وَلَا عُذْرَ او [ملت توحيد د بسم الله] قائم مقام کېدل د هېرونکي په حق کي [بناء پر دې] چې هغه معذور دی دا دلالت نه سي کولای د دې [ملت توحيد] پر قائم مقام والي د قصداً پرېښوونکي په حق کي ځکه چې د هغه هيڅ عذر نسته وَمَا رَوَاهُ مَحْمُوْلٌ عَلٰى حَالَةِ النِّسْيَانِ او کوم حديث چې امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت کړی دی هغه د هيري پر حالت حمل کړی سوی دی.

اللغات: ﴿السمع﴾ اوریدل سوي څه، مراد: نقلي دلیل (قرآني او نبوي دلیل). ﴿محاجة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: د حجت او دلیل په ذریعه مغلوبه کول، بحث او مناظره کول او حجتونه پېشول. ﴿انقیاد﴾ د انفعال د باب مصدر دی: غاړه ایښودل او فرمان برداري کول (منل او تسلیمول).

تشریح: امام مالک رَحِمَهُ الله ته زموږ جواب دا دی چي دلته د ظاهر په اعتبار کولو (او د ظاهري مفهوم په اخیستلو) کي ډېره غټه خرابي لازمیږي؛ ځکه هېره د انسان په فطرت اخښلې ده او د انساني ژوند جزء لا ینفک دی، لهذا که هېره عذر نه وشمېرل سي، نو اُمت په حرج کي مبتلا کیږي، حالانکي په شریعت کي حرج دفع کړی سوی دی. او بل جواب دا چي که د دې دلائلو ظاهري معنیٰ معتبره وای. نو صحابه وو به هم په دې سره حجت نیولای او ټوله به پر دې خبره متفق وای چي په هېره د بسم الله پرېښوولو په صورت کي هم ښکاروی نه حلالیږي، حالانکي داسې نه ده او د صحابه وو په دور کي د دې هیڅ ځرک نه لیدل کیږي، معلومه سوه چي دلته د آیت او حدیث ظاهري معنیٰ مراد نه ده.

والإقامة في حق الناسي إلخ: مخکي امام شافعي رَحِمَهُ الله د ناسي حالت د عامد پر حالت قیاس کړی وو او د دواړو په حق کي یې ملت توحید د بسم الله قائم مقام منلی وو، د هغه په جواب کي فرمایي چي ناسي پر عامد قیاسول صحیح نه دي؛ ځکه چي ناسي د بسم الله په پرېښوولو کي معذوره دی او عامد معذوره نه دی، لهذا چیري چي عذر وي، هلته به ملت توحید د بسم الله قائم مقام منل کیږي او چیري چي عذر نه وي، هلته به ملت د بسم الله قائم مقام نه منل کیږي، لهذا د مقیس او مقیس علیه تر مینځ د تضاد په وجه دا قیاس صحیح نه دی.

وما رواه إلخ: او امام شافعي رَحِمَهُ الله چي کوم حدیث پېش کړی دی (یعني: المسلم یذبح إلخ)، هغه د هیري پر حالت محمول دی؛ ځکه د یو بل صحابي حضرت راشد بن سعید رضی الله عنه په روایت کي د "إذا لم یتعمّد" الفاظ هم نقل سوي دي، لهذا کله چي دا حدیث پر حالت نسیان محمول دی، نو په دې سره د مطلقاً ذبیحې پر حلت دلیل نیول صحیح نه دي.

د ذبح کولو پر مهال د بسم الله ویلو تفصیل

ثُمَّ التَّسْمِيَةُ فِي ذَكَاةِ الِاخْتِيَارِ تُشْتَرَطُ عِنْدَ الذَّبْحِ بیا بسم الله ویل په ذبح اختیاري کي د ذبح کولو پر مهال شرط دي وَهِيَ عَلَى الْمَذْبُوحِ او دا پر ذبح کېدونکي ښکاروي بسم الله ویل دي وَفِي الصَّيْدِ تُشْتَرَطُ عِنْدَ الْإِرْسَالِ وَالرَّمْيِ او په ښکار کي [د ښکار کونکي حیوان او مرغه] د ایله کولو او د غشي غورځولو پر

مهال بسم الله ويل شرط دي وَهِيَ عَلَى الْآلَةِ او دا پر آله بسم الله ويل دي لِأَنَّ الْمَقْدُوْرَ لَهُ فِي الْأَوَّلِ الذَّبْحُ ځکه چي په اول صورت کي پر ذبح کولو قدرت سته وَفِي الثَّانِي الرَّمْيُ وَالْإِرْسَالُ دُوْنَ الْإِصَابَةِ او په دویم صورت کي پر غشي غورځولو او ايله کولو قدرت سته، نه د ښکار پر نيولو فَتُشْتَرَطُ عِنْدَ فِعْلٍ يَقْدِرُ عَلَيْهِ نو ځکه بسم الله ويل به د هغه فعل کولو په وخت کي شرط وي چي ذبح کونکی پر هغه قادر وي [قدرت پر لري] حَتّٰى إِذَا أَضْجَعَ شَاةً وَسَمّٰى فَذَبَحَ غَيْرَهَا بِتِلْكَ التَّسْمِيَةِ تر دې چي که يو پسه پرې باسي او بسم الله ووايي بيا په داغه بسم الله سره بل پسه ذبح کړي لَا يَجُوْزُ نو دا جائز نه دي وَلَوْ رَمٰى إِلٰى صَيْدٍ وَسَمّٰى وَأَصَابَ غَيْرَهُ او که د يو ښکار وطرف ته غشى وغورځوي او بسم الله ووايي خو غشى پر بل ښکار ولګيږي حَلَّ نو هغه حلال دى وَكَذَا فِي الْإِرْسَالِ او همدا حکم [د ښکار کونکي حيوان او مرغه] د ايله کولو په باره کي هم دی وَلَوْ أَضْجَعَ شَاةً وَسَمّٰى او که يو پسه پرې باسي او بسم الله ووايي ثُمَّ رَمٰى بِالشَّفْرَةِ وَذَبَحَ بِالْأُخْرٰى بيا چاړه وغورځوي او په بله چاړه سره [هغه پسه] ذبح کړي أُكِلَ نو هغه به خوړول کيږي وَلَوْ سَمّٰى عَلٰى سَهْمٍ ثُمَّ رَمٰى بِغَيْرِهِ صَيْدًا او که پر يوه غشي بسم الله ووايي بيا په بل غشي سره ښکار وويلي لَا يُؤْكَلُ نو هغه به نه خوړل کيږي.

اللغات: ﴿إرسال﴾ د افعال د باب مصدر دی، د دغه باب څو معناوي دي: ايله کول (پر ښکار ور پرېښودل)، لېږل او استول. ﴿رمى﴾ د ضرب مصدر دی: (غشی) غورځول، ويشتل. ﴿إصابة﴾ د افعال د باب مصدر دی، د دې باب هم څو معناوي دي چي له هغوی څخه ځيني دا دي: رسول، رسېدل، وارد بدل. ﴿أضجع﴾ د افعال د باب ماضي ده: پرې باسل (پرې ايستل، څملاستول). ﴿شاة﴾ عام اسم دی، کوم چي پسه، وزګري، بزې، ميږي ټولو لره شامل دی، او جمع يې من غير لفظه غَنَم راځي. ﴿شفرة﴾ د دغه لفظ څو معناوي دي، چي له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: غټه پراخه چاړه (مصباح اللغات).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي په ذبح اختياري کي د ذبح کولو پر مهال پر مذبوحه څاروي بسم الله ويل ضروري دي، او په ذبح اضطراري کي يعني د ښکار نيولو او د ښکار ويشتلو په وخت کي د سپي، باز وغيره د ايله کولو او د غشي غورځولو پر مهال بسم الله ويل ضروري دي، يعني په ذبح اضطراري کي پر آله (باز، سپي وغيره) بسم الله ويل معتبر دي؛ او د دې وجه دا ده چي انسان د خپل وس په اندازه په احکامو مکلف دی، لهذا په کوم صورت کي چي هم هغه قادر (قدرت لرونکی) وي، هماغه

په محل د بسم الله ګرځول کيږي، او موږ وينو چي په ذبح اختياري کي انسان پر مذبوحه ځاروي قادر وي، نو ځکه په دې صورت کي پر مذبوحه ځاروي بسم الله ويل شرط دئ، او څرنګه چي د ښکار وغيره (ذبح اضطراري) په صورت کي هغه پر مذبوحه ځاروي قادر نه وي، نو ځکه په هغه صورت کي د ښکار کونکي شي د ايله کولو پر مهال بسم الله ويل شرط دي. دغه اُصول تاسي په ياد لرئ!

حتى إذا أضجع إلخ: نو که څوک پسه پر ځمکه پرې باسي چي ذبح يې کړي او بسم الله پر ووايي، بيا په دغه بسم الله ويلو سره بل پسه ذبح کړي (مثلاً هغه اول پسه پر پرېږدي او دويم پسه بغير له بسم الله ذبح کړي)، نو دا جائز نه دي او دا بل پسه نه حلاليږي؛ ځکه چي ده پر اول پُسه بسم الله ويلې وه، نه پر دې بل، لهذا د دې بل پسه ذبح بغير له بسم الله وسوه، نو ځکه د هغه خوړل حلال نه دي.

ولو رمى إلخ: او که څوک مثلاً پر کوتره غشى وغورځوي او د غورځولو (ويشتلو) پر مهال بسم الله ووايي، خو د کوترې پر ځاى هغه غشى پر هوسۍ ولګيږي، نو د دغه هوسۍ خوړل حلال دي؛ ځکه چي دا ذبح اضطراري ده چي په دې کي فقط پر آله بسم الله ويل ضروري دي، او دلته ده پر غشي (يعني د غشي غورځولو پر مهال) بسم الله ويلې ده، نو ځکه په دې صورت کي ښکار حلال دى.

همدا حکم د ښکاري سپي، باز وغيره د ايله کولو هم دى چي که د ايله کولو پر مهال يې بسم الله وويل سي، نو برابره ده دغې باز يا سپي هر ځاروى ښکار کړي (په دې شرط چي مأکول اللحم وي) نو هغه حلال دى.

ولو أضجع إلخ: بل صورت دا دى چي که څوک پسه پرې باسي، چاړه را واخلي او بسم الله ووايي، بيا دا چاړه وغورځوي بله چاړه را واخلي او دا پسه ذبح کړه، نو په دې صورت کي هم ذبيحه حلاله ده؛ ځکه چي دلته محل د بسم الله مذبوحه ځاروى دى چي په هغه کي هيڅ تبديلي نه ده سوې، تبديلي فقط په چاړه کي سوې ده او پسه خو هاغه پسه دى چي بسم الله پر ويل سوې ده، نو ځکه دا ذبيحه حلاله ده.

د دې په خلاف که څوک پر يوه غشي بسم الله ووايي خو بيا د هغه پر ځاى بل غشى وغورځوي، يا مثلاً پر يوه باز بسم الله ووايي خو بيا د هغه پر ځاى بل باز پر ښکار ور ايله کړي، نو داسي ښکار حلال نه دى؛ ځکه چي دا ذبح اضطراري ده چي په هغه کي پر آله بسم الله ويل ضروري دي، حال دا چي په مذکوره صورت کي له ښکار کونکي آلې څخه بغير پر بله آله بسم الله ويل سوې ده، نو ځکه دا ښکار حلال نه دى.

د ذبح پر مهال د الله ﷻ له نوم سره د غير الله يادونه کول

قَالَ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي] فرمايلي دي وَيُكْرَهُ أَنْ يَذْكُرَ مَعَ اسْمِ اللهِ تَعَالَى شَيْئًا غَيْرَهُ او مکروه دي دا چي [د ذبح کولو پر مهال] د الله ﷻ د نوم سره بل شى [مثلاً د بل چا نوم] ذکر کړي وَأَنْ يَقُولَ عِنْدَ الذَّبْحِ: اللَّهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ فُلَانٍ او [مکروه دي] دا چي د ذبح کولو پر مهال ووايي: اې الله ﷻ! له

فلانکي شخه یې قبول کړه وَهٰذِهِ ثَلَاثُ مَسَائِلَ او دا درې مسئلې دي إِحْدَاهَا: أَنْ يَذْكُرَ مَوْصُولًا لَا مَعْطُوفًا [۱] له هغوی څخه یوه دا ده: چې دا بل شی [غیر الله] متصلاً ذکر کړي، نه په عطف سره فَيُكْرَهُ نو دا مکروه دي وَلَا تَحْرُمُ الذَّبِيحَةُ لېکن ذبیحه نه حرامیږي وَهُوَ الْمُرَادُ بِمَا قَالَ او همداغه مراد دي په هغه سره کوم چې امام محمد رَحِمَهُ الله [په متن کي] ویلي دي وَنَظِيرُهُ أَنْ يَقُولَ: بِاسْمِ اللهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ او د دې مثال دا دی چې داسي ووايي: بسم الله محمدٌ رسول الله لِأَنَّ الشِّرْكَةَ لَمْ تُوجَدْ ځکه چې شرکت موجود نه سو فَلَمْ يَكُنِ الذَّبْحُ وَاقِعًا لَهُ نو ذبح د نبي ﷺ [غیر الله] لپاره واقع نه سوه إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ خو دا صورت مکروه دی لِوُجُودِ الْقِرَانِ صُورَةً ځکه چې [دلته] د صورت په اعتبار سره متصل کېدل موجود سوه فَيَتَصَوَّرُ بِصُورَةِ الْمُحَرَّمِ نو ځکه دا صورت به د حرام [مکروه تحریمي] صورت لرونکی وي [یعني د قران موجودېدلو په وجه دغه صورت د مکروه تحریمي صورت اختیار کړي].

اللغات: ﴿قِران﴾ اسمِ مصدر دی، له نصر او ضرب دواړو څخه راځي: متصل کېدل، یوځای کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده چې د ذبح کولو پر مهال له الله ﷻ څخه بغیر د بل چا نوم (متصلاً) اخیستل، همدارنګه د ذبح پر مهال "اللهم تقبّل من فلان" ویل مکروه دي، او دلته درې مسئلې جوړېږي ① چې له هغوی څخه یوه مسئله دا ده چې د بل چا نوم متصلاً واخیستل سي، نه معطوفاً، مثلاً داسي ووايي "بسم الله محمدٌ رسول الله"، ځرنګه چې په دې جمله کي محمد رسول الله پر الله نه دی عطف سوی، نو ځکه د محمد ﷺ پر نامه د ذبح کولو شرکت موجود نه سو، خو ځرنګه چې محمد رسول الله د الله سره متصل دی، چې له هغه څخه د شرکت وهم کېدای سي، نو ځکه داسي جمله استعمالول مکروه تحریمي ګرځول سوي دي.

د پورتنی عنوان سره اړوند نوري مسئلې

وَالثَّانِيَةُ: أَنْ يَذْكُرَ مَوْصُولًا عَلَى وَجْهِ الْعَطْفِ وَالشِّرْكَةِ [۲] او دویمه مسئله دا ده چې دا بل څه [غیر الله] متصلاً ذکر کړي د عطف او شرکت په طریقه سره بِأَنْ يَقُولَ: بِاسْمِ اللهِ وَاسْمِ فُلَانٍ په دې توګه چې ووايي: بسم الله واسم فلان أَوْ يَقُولَ: بِاسْمِ اللهِ وَفُلَانٍ یا ووايي: بسم الله وفلان أَوْ بِاسْمِ اللهِ وَمُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ بِكَسْرِ الدَّالِ یا [ووايي] باسم الله ومحمدٍ رسولِ الله [د محمدٌ د دال] په کسره سره

فَتَحْرُمُ الذَّبِيحَةُ نو [په دې صورتونو کې] ذبیحه حرامیږي لِأَنَّهُ أَهَلَّ بِهِ لِغَيْرِاللهِ ځکه چې هغه پر دې دغیر الله نوم واخیستی وَالثَّالِثَةُ: أَنْ يَقُولَ مَفْصُولًا عَنْهُ صُورَةً وَمَعْنًى [۳] او درېیمه مسئله دا ده: چې دا [غیر الله] له بسم الله څخه بېل [جلا] ووایي د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار سره [یعني چې د غیر الله وینا هم صورتاً جلا وي او هم معنا] بِأَنْ يَقُولَ قَبْلَ التَّسْمِيَةِ وَقَبْلَ أَنْ يُضْجِعَ الذَّبِيحَةَ أَوْ بَعْدَهُ په دې توګه چې له بسم الله ویلو او د څاروي له پرې باسلو څخه مخکې یا تر هغه وروسته [د غیر الله] وینا وکړي وَهٰذَا لَا بَأْسَ بِهِ او دا څه پروا نه لري لِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ ❶ أَنَّهُ قَالَ بَعْدَ الذَّبْحِ ځکه چې له نبي کریم ﷺ څخه روایت سوی دی چې هغه تر ذبح وروسته [دا جمله] وفرمایل اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ هٰذِهِ عَنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ مِمَّنْ شَهِدَ لَكَ بِالْوَحْدَانِيَّةِ وَلِيْ بِالْبَلَاغِ اې الله! دا قرباني د محمد ﷺ د اُمت له طرفه قبوله کړه [یعني] د هغو له طرفه کوم چې ستا د یو والي او زما د تبلیغ رسالت ګواهي ورکوي.

اللغات: ﴿أَهَلَّ﴾ د افعال د باب ماضي ده، د دې باب ډېري معناوې نقل سوي دي چې د صلې په بدلون سره یې معنیٰ بدلیږي، کله چې یې په صله کې تسمیة او داسې نور راسي، نو معنیٰ یې ده: نوم اخیستل، په ذکر سره یې آواز پورته کول. مثلاً: أَهَلَّ بِالتَّسْمِيَةِ عَلَى الذَّبِيحَة: فلانکي پر ذبیحه د الله نوم واخیستی. ﴿وحدانیة﴾ یو والی (یو او یوازي کېدل)، ﴿بلاغ﴾ رسول، تبلیغ کول.

تشریح: په دې عبارت کې صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د مخکیني عنوان (یعني چې د ذبح پر مهال د الله ﷻ د نوم سره د غیر الله یادونه هم وسي) دوېمه او درېیمه مسئله ذکر کوي: ② دوېمه مسئله دا ده چې د الله ﷻ د نوم سره د بل چا نوم متصلاً ذکر کړي او په حرف عطف سره شرکت وکړي (یعني د الله ﷻ تر نوم وروسته متصلاً د عطف او شرکت په توګه د غیر الله نوم واخلي)؛ مثلاً بسم الله وإسم فلان، یا بسم الله وفلان، یا بسم الله ومحمدٍ رسول الله (د محمد د دال په کسره سره). نو څرنګه چې په دغه صورتونو کې د غیر الله پر نوم د څاروي ذبح کول لازمیږي، نو ځکه دلته ذبیحه مرداره او حرامه ګرځي.

③ درېیم صورت دا دی چې د غیر الله ذکر د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار سره د الله له ذکر څخه جلا وي. مثلاً له بسم الله ویلو او د څاروي له پرې باسلو څخه مخکې یا وروسته د غیر الله نوم

واخلي مثلاً داسي ووايي: اللهم تقبّل من فلان، نو په دې کې هيڅ حرج نسته؛ ځکه چې خپله نبي کريم ﷺ له ذبح څخه وروسته داسي دعائيه جمله ويلې ده.

خلاصه دا چې په اول صورت کې ذبيحه مکروه تحريمي ده، په دويم صورت کې حرامه ده او په دريم صورت کې حلاله ده.

د يوازي بسم الله ويلو شرط

وَالشَّرْطُ هُوَ الذِّكْرُ الْخَالِصُ الْمُجَرَّدُ او شرط دا دی چې [دالله] ذکر به خالص او خالي [عن الغرض] وي عَلَى مَا قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه * : جَرِّدُوا التَّسْمِيَةَ لکه څرنګه چې ابن مسعود رضي الله عنه ويلي دي: چې تاسي د بسم الله وينا [له څه غرض وغيره څخه] خالي کړئ! حَتّٰى لَوْقَالَ عِنْدَ الذَّبْحِ: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ همدا وجه ده که د ذبح کولو پر مهال ووايي: اللّٰهم اغفر لي لَايَحِلُّ نو مذبوحه څاروی نه حلاليږي لِأَنَّهُ دُعَاءٌ وَسُؤَالٌ ځکه چې دا دعاء او غوښتنه ده. وَلَوْقَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ أَوْ سُبْحَانَ اللهِ يُرِيْدُ التَّسْمِيَةَ او که الحمد لله يا سبحان الله ووايي چې په دې سره يې د بسم الله ويلو اراده وي حَلَّ نو مذبوحه څاروی حلاليږي وَلَوْعَطَسَ عِنْدَ الذَّبْحِ فَقَالَ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ او که چيري د ذبح کولو پر مهال نوږې [انتروسی] وکړي او الحمد لله ووايي لَايَحِلُّ فِي أَصَحِّ الرِّوَايَتَيْنِ نو نه حلاليږي په دوو روايتونو کې د زيات صحيح روايت مطابق لِأَنَّهُ يُرِيْدُ بِهِ الْحَمْدَ عَلٰى نِعْمَةٍ دُوْنَ التَّسْمِيَةِ ځکه چې هغه په دې سره [د نوږې] پر نعمت د حمد ويلو اراده لري، نه د بسم الله ويلو وَمَا تَدَاوَلَتْهُ الْأَلْسِنُ عِنْدَ الذَّبْحِ او کوم چې [له نبوي زمانې څخه تر دې دمه] ژبه په ژبه را نقل سوي دي د ذبح کولو پر مهال [يا په بله وينا دا چې: کوم کلمات چې د ذبح کولو پر مهال د خلکو پر ژبه را منقول دي] وَهُوَقَوْلُهُ: بِاسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ چې هغه د دې [کلماتو] ويل دي: بسم الله والله أكبر مَنْقُوْلٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فِيْ قَوْلِهِ تَعَالٰى:

---

* تخريج: اخرجه مصنف عبد الرزاق، باب ما يكره أن يصنع في المصاحف ج:۴، ص: ۲۵۰، رقم: ۷۹۷۴. صاحب د اثمار الهدايه رحمه الله وايي: صاحب د هدايه چې د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه کوم قول ذکر کړی دی، هغه د مطلق قرآن په باره کې نقل سوی دی (برابره ده بسم الله وي او که نور قرآن وي) چې د هغه الفاظ داسي نقل سوي دي: جرّدوا القرآن، يقول: لا تلبسوا به ما ليس منه. (مصنف عبد الرزاق مذکوره حواله)

﴿فَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ﴾ [الحج: ۳۶] دا له حضرت عبدالله ابن عباس (رض) څخه دالله تعالیٰ د دې فرمان ﴿فاذکروا اسم الله علیها صواف﴾ په تفسیر کې نقل سوي دي.

اللغات: ﴿مجرّد﴾ د تفعیل د باب اسم مفعول دی: خالي، محض، یوازي، ﴿جرّدوا﴾ د تفعیل له بابه د جمع مذکر امر حاضر صیغه ده: خالي کول، خالي او فارغ ساتل، ﴿تداولته﴾ د تفاعل له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: لاس په لاس اخیستل، نوبت په نوبت اخیستل، پرلپسې له یوه څخه بل ته نقل کیدل (نو د وَمَاتَدَاوَلَتْهُ الأَلْسِنُ لفظي معنیٰ سوه: او هغه کلمات کوم چي [تر دې دمه] ژبه په ژبه رانقل سوي دي).

تشريح: فرمایي د تسمیه (بسم الله ویلو) ویلو شرط دا دی چي د هغه سره به د بنده بل هیڅ غرض او غوښتنه یو ځای نه وي (په وبله وینا دا چي د ذبح کولو پر مهال به بنده خالص ذکر الله کوي او له هغه سره به خپل هیڅ سوال او غوښتنه نه کوي)، په همدې وجه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په تأکید سره ویلي دي چي بسم الله (او قرآن) له څه بل غرض څخه خالي ساتئ او نور څه مه ور سره ګډوئ!.

پر همدغه اصل صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله مسئله متفرع کوي چي که څوک د ذبح پر مهال "اللهم اغفر لي" ووایي، نو ذبیحه نه حلالیږي؛ ځکه چي دا بسم الله نه ده، بلکي سوال او دعاء ده کوم چي له غرض څخه عبارت ده، حالانکي د بسم الله خالي عن الغرض کېدل شرط دي.

ولوقال الحمد لله إلخ: او که د بسم الله ویلو په نیت او اراده سره سبحان الله یا الحمد لله ووایي، نو په دې صورت کي ذبیحه حلالیږي؛ ځکه چي په دې کلیمو کي د بنده هیڅ غرض مخفي نه دی، بلکي دا خالص ذکر الله دي.

او که چا ته د ذبح کولو پر مهال نوږی (انتروسی) راسي او الحمد لله ووایي، نو د یوه روایت مطابق دا هم کفایت کوي او ذبیحه حلالیږي، خو د صحیح روایت مطابق په دې سره ذبیحه نه حلالیږي؛ ځکه چي په دې سره هغه د نوږي پر نعمت شکر اداء کوي، د بسم الله په نیت او اراده سره یې نه وایي، لهذا د خالص ذکر الله د نشتوالي په وجه ذبیحه حرامیږي.

وروسته فرمایي چي د ذبح کولو پر مهال چي په عامه توګه کومې کلیمې ویل کیږي یعني "بسم الله والله أكبر"، دا د ﴿وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُمْ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ، فَاذْكُرُوا اِسْمَ اللهِ﴾ په تفسیر کي له حضرت ابن عباس (رض) څخه نقل سوي دي، او همداغه کلیمې اُمت خپل معمول ګرځولي دي.

د ذبح کولو مقام

قَالَ: وَالذَّبْحُ بَيْنَ الْحَلْقِ وَاللَّبَّةِ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: چې ذبح د سينې او حلق تر مينځ کيږي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: لَا بَأْسَ بِالذَّبْحِ فِي الْحَلْقِ كُلِّهِ وَسَطِهِ وَأَعْلَاهُ وَأَسْفَلِهِ او په جامع صغير کې دي چې: پر ټوله حلق په ذبح کولو کې څه پروا نسته برابره ده د مينځ حصه يې وي، پورتنۍ حصه يې وي او که لاندينۍ حصه يې وي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عليه السلام [1]: «الذَّكَاةُ مَا بَيْنَ اللَّبَّةِ وَاللَّحْيَيْنِ» او اصل په دې باره کې د نبي ﷺ دا فرمان دی چې: ذبح به د سينې او زامو تر مينځ وي وَلِأَنَّهُ مَجْمَعُ الْمَجْرَى وَالْعُرُوقِ او ځکه چې دغه ځای [د خوراک، چښاک] د ناليو او د رګونو د جمع کېدو ځای دی فَيَحْصُلُ بِالْفِعْلِ فِيهِ إِنْهَارُ الدَّمِ عَلَى أَبْلَغِ الْوُجُوهِ نو په دې ځای کې په ذبح کولو سره په بشپړه توګه د وينې ايستل [د وينې بهول] حاصليږي فَكَانَ حُكْمُ الْكُلِّ سَوَاءً نو ځکه [د دې ځای] د هرې حصې حکم به برابر وي.

اللغات: ﴿لَبَّة﴾ د دې تفصيلي تعريف مخکې تېر سو، ﴿عروق﴾ جمع د عِرْقٌ ده: رګ، ﴿إنهار﴾ دافعال د باب مصدر دی: د دې باب څو معناوې دي، کله چې يې په صله کې الدّم راسي، نو معنی يې ده: وينه ايستل (باسل)، وينه بهول.

تشريح: د بسم الله او د هغه له شرائطو څخه تر فارغه کېدو وروسته اوس د مقامِ ذبح تعيين کوي فرمايي چې د حلق او سينې تر مينځ والا حصه د ذبح لپاره متعيّنه ده، په جامع صغير کې هم داغه ويل سوي دي چې پر ټوله حلق (برابره ده مينځ يې وي، يا پورتنۍ يا لاندينۍ حصه يې وي، يعني د حلق) د هرې حصې په ذبح کولو سره ذبح ثابتيږي، او خپله نبي کريم ﷺ هم په حديث کې د ذبح د مقام تعيين کړی دی چې د سينې او زامو تر مينځ به ذبح کيږي، ښکاره ده چې د سينې او زامو تر مينځ والا حصه حلق دی.

په حلق کې د ذبح کولو يوه بله وجه دا هم ده چې د حلق پر مقام ټوله رګونه او د خوراک، چښاک نالی سره يو ځای دي، نو دلته په ذبح کولو او پرېکولو سره په کامله توګه وينه بهيږي، ټوله وينه وځي او د ځاروي له غوښو څخه وينه جلا کيږي، او په ذبح کې همدا وينه بهول او ايستل مقصود دي: نو ځکه له حلق څخه بغير د بل ځای ذبح معتبره نه ده او د حلق د هرې حصې حکم برابر دی چې که په هره حصه کې ذبح کړی سي، نو مقصد حاصليږي.

په ذبح کې به کوم رګونه پرېکول کيږي؟

قَالَ: وَالْعُرُوقُ الَّتِي تُقْطَعُ فِي الذَّكَاةِ أَرْبَعَةٌ فرمايي: او هغه رګونه چې په ذبح [حلالولو] کې به پرېکول کيږي څلور دي الْحُلْقُومُ وَالْمَرِيءُ وَالْوَدَجَانِ ① حلقوم [وچه غاړه]، ② مرۍ ③، ④ او دوه ښارګونه لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1]: «أَفْرِ الْأَوْدَاجَ بِمَا شِئْتَ» د نبي کريم ﷺ د دغه فرمان په وجه چې: رګونه پرېکړه! په کوم شي سره چې ستا خوښه وي وَهِيَ اسْمُ جَمْعٍ وَأَقَلُّهُ الثَّلَاثُ او دا [أوداج] لفظ د جمع دی چې د هغه کمترين مقدار درې دی فَيَتَنَاوَلُ الْمَرِيءَ وَالْوَدَجَيْنِ نو دا مرۍ او دوو ښارګونو له شامليږي وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ فِي الِاكْتِفَاءِ بِالْحُلْقُومِ وَالْمَرِيءِ او دغه حديث د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په خلاف حجت دی په دې کې چې هغه صرف په حلقوم او مرۍ اکتفا کړې ده إِلَّا أَنَّهُ لَا يُمْكِنُ قَطْعُ هٰذِهِ الثَّلَاثَةِ إِلَّا بِقَطْعِ الْحُلْقُومِ خو [څرنګه چې] د حلقوم له پرېکولو څخه بغير د دغه رګونو پرېکول ممکن نه دي فَيَثْبُتُ قَطْعُ الْحُلْقُومِ بِاقْتِضَائِهِ نو ځکه د حديث په تقاضا (غوښتنې) سره د حلقوم پرېکول هم ثابتيږي وَبِظَاهِرِ مَا ذَكَرْنَا يَحْتَجُّ مَالِكٌ او زموږ د ذکر کړی سوي دليل په ظاهري مفهوم سره امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دليل نيسي وَلَا يُجَوِّزُ الْأَكْثَرَ مِنْهَا بَلْ يَشْتَرِطُ قَطْعَ جَمِيعِهَا او د اکثرو رګونو پرېکول جائز نه ګڼي بلکې [د هغه په نيز] د ټولو رګونو پرېکول شرط دي وَعِنْدَنَا إِنْ قَطَعَهَا او زموږ په نيز که ټوله رګونه پرېکړي حَلَّ الْأَكْلُ نو [د ذبيحې] خوړل حلال دي وَإِنْ قَطَعَ أَكْثَرَهَا او که اکثره [درې] رګونه پرېکړي فَكَذٰلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو هم د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نيز دغه حکم دی [چې خوړل د دغه ذبيحې حلال دي] وَقَالَا ❁: لَا بُدَّ مِنْ قَطْعِ الْحُلْقُومِ وَالْمَرِيءِ وَأَحَدِ الْوَدَجَيْنِ او صاحبين رَحِمَهُمَا اللهُ فرمايي: چې د حلقوم او مرۍ او د يوه ښارګ پرېکول ضروري دي.

اللغات: ﴿حلقوم﴾ حلقوم، وچه غاړه، د خوراک او چښاک رګ او نالی. ﴿مريء﴾ مرۍ، ګوړ ګوړو، د ساه نالی (چې د هغه د لارې ساه اخيستل کيږي او کښل کيږي). ﴿وَدَجَان﴾ تثنيه د وَدَج ده:

---

[1] تخريج: غريب، أخرجه ابو داؤد بمعناه فى كتاب الضحايا فى باب الذبيحة بالمروة، حديث رقم:٢٨٢٤.

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ اللهُ، قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ اللهُ عبارته أصح فى الأكثر عنه إذا قطع الحلقوم والمري والأكثر من كل الودجين، يؤكل وما لا فلا (رد المحتار ج:٥، ص:٢٠٧)، والبحر الرائق (ج:٨، ص:١٠). [القول الراجح ج:٢، ص:٢٨٩]

نِبارګ، (نښه رګې)، مراد: په غاړه کي دواړو طرفونو ته دوه رګونه دي چي له هغه ځخه دماغ ته وینې ځي راځي، د همدې په پرېکولو سره ټوله وینه وځي، ﴿أفر﴾ دافعال له بابه د واحد مذکر امر حاضر صیغه ده: پرېکول، غوځول. ﴿اقتضاء﴾ دافتعال مصدر دی: غوښتل، دلالت کول، فرضول، انګېرل (تصور کول).

تشریح: د حلقوم، مرۍ او وَدَجان تعریف مو په لغاتو کي بیان کړی، فرمایي چي په ذبح کي د دغه څلور سره رګونو پرېکول ضروري دي، دلیل هغه حدیث دی چي نبي ﷺ پکښي د أوْدَاج د پرېکولو حکم کړی دی، أَوْدَاج دا جمع د وَدَجٌ ده، او د جمع أقل مقدار درې دی، لهذا په دغه حدیث سره د دریو رګونو (یعني د مرۍ او دوو نِبار رګونو) پرېکول ثابت سوه، خو څرنګه چي له حلقوم څخه بغیر کماحقهٗ دوی نه سي پرېکول کېدای، نو ځکه د حدیث په تقاضا سره د حلقوم پرېکول هم ضروري سوه.

فرمایي چي کله په دغه حدیث سره په مجموعي توګه د دې څلور سره رګونو پرېکول ثابتیږي، نو امام شافعي رَحِمَهُ الله چي فقط د حلقوم او مرۍ په پرېکولو اکتفاء کوي (او وایي چي که د ذبح پر مهال فقط دغه دوه رګونه پرېکړل سي نو د څاروي خوړل حلال دي)، د هغه په خلاف دغه حدیث دلیل جوړېږي؛ ځکه چي له دغه حدیث څخه د څلور سره رګونو د پرېکولو حکم څرګند دی.

وبظاهر ما ذکرنا إلخ: او امام مالک رَحِمَهُ الله بیا زموږ د ذکر کړه حدیث په ظاهر سره دلیل نیسي او فرمایي چي د څلور سره رګونو پرېکول شرط او ضروري دي، یو هم پرېښوول جائز نه دي، لهذا که چیري درې رګونه پرېکول سي، نو ذبیحه نه حلالیږي.

احناف فرمایي چي کهٔ څلور سره رګونه پرېکول سيَ نو ډېر ښه، کنې که درې رګونه پرېکول سي، نو هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ذبیحه حلالیږي، هغه که هر درې رګونه وي، خو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د حلقوم او مرۍ پرېکول ضروري دي او په وَدَجینو (دوو نِبار ګونو) کي که هریو پرېکړي نو کافي دي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

قَالَ ﷺ: هٰكَذَا ذَكَرَ الْقُدُورِيُّ الاخْتِلَافَ فِي مُخْتَصَرِهِ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي: چي امام قدوري رَحِمَهُ الله په خپل مختصر [قدوري] کي همدغسي اختلاف ذکر کړی دی وَالْمَشْهُورُ فِي كُتُبِ مَشَايِخِنَا أَنَّ هٰذَا قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ وَحْدَهُ خو زموږ د مشایخو په کتابو کي مشهوره دا ده چي دا یوازي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: إِنْ قَطَعَ نِصْفَ الْحُلْقُومِ وَنِصْفَ الْأَوْدَاجِ او

امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کې داسې فرمايلي دي چې؛ که د حلقوم او ښارګونو نيمه حصه پرېکړي لَمْ يُؤْكَلْ نو ذبيحه به نه خوړول کيږي وَإِنْ قَطَعَ أَكْثَرَ الْأَوْدَاجِ وَالْحُلْقُومِ قَبْلَ أَنْ يَمُوْتَ او که د ځاروي له مره کېدو څخه مخکې د ښارګونو او حلقوم اکثره حصه پرېکړي أُكِلَ نو هغه به خوړول کيږي وَلَمْ يَحْكِ خِلَافًا او امام محمد رَحِمَهُ الله هيڅ اختلاف نه دی نقل کړی فَاخْتَلَفَتِ الرِّوَايَةُ فِيهِ نو په دې باره کې روايتونه مختلف سوه.

تشريح: صاحب د هدايي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په قدوري کې همداسې اختلاف ذکر سوی دی. يعني د دريو رګونو د پرېکولو په صورت کې چې د امام صاحب او صاحبينو تر مينځ کوم اختلاف موږ ذکر کړی، په قدوري کې هم دغه ډول ذکر سوی دی، لېکن زموږ د مشايخو په کتابو کې دي چې دا قول يوازې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی، نه د دواړو؛ ځکه چې خپله امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کې دا صراحت کړی دی چې که حلقوم او دوه ښارګونه نيمايي پرېکړي، نو ذبيحه به نه خوړول کيږي، لېکن که د ځاروي له مړ کېدو څخه مخکې د حلقوم او ښارګونو اکثره حصه پرېکړي، نو ذبيحه حلاله ده، خوړل کيږي به. لنډه دا چې امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کې هيڅ ډول اختلاف نه دی ذکر کړی، معلومه سوه چې هغه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره نه دی، بلکې ځانته مسلک يې دی، نو په دې هکله د دوی ټولو روايات مختلف سوه.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

فَالْحَاصِلُ أَنَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ إِذَا قَطَعَ الثَّلَاثَ أَيَّ ثَلَاثٍ كَانَ نو خلاصه دا چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز چې کله درې رګونه پرېکړي، هغه که هر درې رګونه وي يَحِلُّ نو ذبيحه حلالېږي وَبِهِ كَانَ يَقُوْلُ أَبُوْ يُوْسُفَ أَوَّلًا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هم مخکې د دې قائل وو ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مَا ذَكَرْنَا بيا هغه زموږ ذکر کړده قول ته رجوع وکړه وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يَعْتَبِرُ أَكْثَرَ كُلِّ فَرْدٍ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې هغه د هر فرد [هر رګ] د اکثر اعتبار کوي [يعني چې د هر رګ اکثره حصه پرېکول سي، نو بيا ځاروی حلالېږي] وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی لِأَنَّ كُلَّ فَرْدٍ مِنْهَا أَصْلٌ بِنَفْسِهِ ځکه چې له رګونو څخه هر فرد [رګ] بذات خود اصل دی لِانْفِصَالِهِ عَنْ غَيْرِهِ ځکه چې يو له بل څخه جلا دی وَلِوُرُوْدِ الْأَمْرِ بِفَرْيِهِ او ځکه چې د هر يو د

پرېکولو په هکله حکم [حديث] وارد سوی دی فَيُعْتَبَرُ أَكْثَرُ كُلِّ فَرْدٍ مِنْهَا نو ځکه له دې رګونو څخه به د هر رګ د اکثره حصې [د پرېکولو] اعتبار کيږي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْ قَطْعِ الْوَدَجَيْنِ إِنْهَارُ الدَّمِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د دوو ښارګونو د پرېکولو مقصد [د ځاروي] وينه بهول دي فَيَنُوبُ أَحَدُهُمَا عَنِ الْآخَرِ نو ځکه يو به د بل قائم مقام کيږي إِذْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَجْرَى الدَّمِ ځکه چې له دې دواړو څخه هر يو د ويني نالۍ ده [يعني له هر يوه ښارګ څخه وينه راوځي] أَمَّا الْحُلْقُومُ فَيُخَالِفُ الْمَرِيءَ او پاته سوه حلقوم نو هغه له مرۍ څخه بالکل جلا دی فَإِنَّهُ مَجْرَى الْعَلَفِ وَالْمَاءِ ځکه چې حلقوم د ځاروي د خوراکي او څښاک نالۍ ده وَالْمَرِيءُ مَجْرَى النَّفَسِ او مرۍ د ساه کښلو نالۍ ده [نو ځکه د دواړو پرېکول ضروري دي].

اللغات: ﴿انفصال﴾ د انفعال د باب مصدر دی: جلا کېدل، بېلېدل. ﴿إنهار﴾ د افعال د باب مصدر دی: وينه ايستل، وينه بيول. ﴿مجرى﴾ د جاري کېدو ځای. ﴿علف﴾ د ځارويانو خوراکه يعني واښه، پروړ او داسي نور. ﴿نَفَس﴾ ساه.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د مخکنۍ اختلافي مسئلې خلاصه بيانوي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په څلورو رګونو کې که هر درې رګونه پرېکول سي، نو ذبيحه حلاليږي (يعني خاص د حلقوم او مرۍ پرېکول ضروري نه دي). د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هم مخکې دغه نظريه وه، خو وروسته هغه خپله رايه بدله کړه او د حلقوم او مرۍ پرېکول يې ضروري وګرځول. او د امام محمد رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې په څلور سره رګونو کې د هر رګ اکثره حصه پرېکول ضروري دي، د يوه روايت مطابق د امام صاحب رَحِمَهُ الله هم دغه نظريه ده.

د امام محمد دليل: دا دی چې هر رګ له بل رګ څخه جلا دی او مستقل بذاته دی او په حديث کې د هر رګ د پرېکولو حکم سوی دی، نو ځکه د هر رګ اکثر پرېکول ضروري دي او په دې سره ذبيحه حلاليږي (لأن للأكثر حكم الكل).

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چې د دواړو ښارګونو د پرېکولو مقصد وينه بهول او ايستل دي؛ ځکه چې دا هر يو د ويني نالۍ ده، نو په دوی کې د هر يوه په پرېکولو سره دا مقصد حاصليږي، لهذا د يوه پرېکول د بل د پرېکولو قائم مقام کيږي، نو ځکه د يوه متمينول ضروري نه دي، خو څرنګه حلقوم او

مرۍ بالکل يو له بل څخه جلا دي چي حلقوم د خوراک او چښاک نالي ده او مرۍ د ساه کښلو نالي ده، نو کله چي دواړه يو له بل څخه جلا دي، نو بيا د يوه پرېکول د بل د پرېکولو نه قائم مقام کيږي، نو ځکه دلته د دواړو تعيين او پرېکول ضروري او لازمي دي.

په پورتنۍ مسئله کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْأَكْثَرَ يَقُومُ مَقَامَ الْكُلِّ فِي كَثِيرٍ مِنَ الْأَحْكَامِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي په ډېرو احکامو کي اکثر د کُل قائم مقام کيږي وَأَيَّ ثَلَاثٍ قَطَعَهَا [نو] هر درې رګونه چي ذبح کونکی پرېکړي فَقَدْ قَطَعَ الْأَكْثَرَ مِنْهَا نو هغه له دوی [څلورو رګونو] څخه اکثره پرېکړه وَمَا هُوَ الْمَقْصُودُ يَحْصُلُ بِهَا او کوم څه چي [په ذبح سره] مقصود دي هغه په دې [يعني د دريو رګونو په پرېکولو] سره حاصليږي وَهُوَ إِنْهَارُ الدَّمِ الْمَسْفُوحِ وَالتَّوْحِيَةُ فِي إِخْرَاجِ الرُّوحِ او [په ذبح سره] مقصود بهېدونکي وينه ايستل او د روح په باسلو کي تېزي [چسپاندي] کول دي [چي د ځاروي ساه ژر ترژره ووځي] لِأَنَّهُ لَا يَحْيَى بَعْدَ قَطْعِ مَجْرَى النَّفَسِ أَوِ الطَّعَامِ ځکه چي د ساه يا د خوارک د نالي [يعني د مرۍ يا حلقوم] تر پرېکولو وروسته ځاروی ژوندی نه پاتيږي وَيَخْرُجُ الدَّمُ بِقَطْعِ أَحَدِ الْوَدَجَيْنِ او له دوو ښارګونو څخه د يوه په پرېکولو سره هم وينه وځي فَيُكْتَفَى بِهِ تَحَرُّزًا عَنْ زِيَادَةِ التَّعْذِيبِ نو ځکه له زائد عذاب ورکولو څخه د بچ کېدو په خاطر به پر همدې اکتفاء کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا قَطَعَ النِّصْفَ په خلاف د هغه صورت کله چي نيمايي رګونه پرېکړي [نو ذبيحه نه حلاليږي] لِأَنَّ الْأَكْثَرَ بَاقٍ ځکه [جانب حرمت د ترجيح ورکولو په وجه دلته] اکثره پاته دي فَكَأَنَّهُ لَمْ يَقْطَعْ شَيْئًا نو ګواکي هغه هيڅ هم پرېکړي نه دي اِحْتِيَاطًا لِجَانِبِ الْحُرْمَةِ د حرمت د جانب د احتياط [او ترجيح] په وجه.

اللغات: ﴿مسفوح﴾ د فتح د باب مفعول دی: بهول سوی، بهېدونکی، ﴿تَوْحِيَة﴾ (په حاء سره) وَحَّى يُوَحِّي تَوْحِيَةً: کار په چسپاندي سره کول، تلوار او تېزي کول، وحّى الذبيحة: ژر ذبح کول (په چټکتيا سره حلالول) (مصباح اللغات)، ﴿تحرز﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ځان ساتل، بچ کېدل.

تشريح: له دې ځايه صاحب د هدايې د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل بيان کړی دی، حاصل يې دا دی چي په ډېرو احکامو (مثلاً د سر په مسح کولو، او د إحرام پر مهال د سر په پټولو) کي اکثر د کُل قائم مقام ګرځول کيږي، همداسي دلته هم چي کله ذبح کونکي له څلورو رګونو څخه درې رګونه پرېکړه، نو

ښکاره ده چي هغه اکثره رګونه پرېکړه، نو ځکه په دې صورت کي به د ذبيحې د حلت فيصله کول کيږي؛ ځکه چي د ذبح مقصد وينه بهول او ژر ساه ور ايستل دي، او دا مقصد د دريو رګونو په پرېکولو سره حاصليږي؛ ځکه چي د مرۍ يا حلقوم په پرېکولو سره روح او ساه وځي، او د يوه وَدَج (ښارګ) په پرېکولو سره وينه هم بهيږي، نو بلا وجه د رګونو د متعينولو فايده څه ده!، حال دا چي له تعيين څخه بغير هم مقصد حاصليږي، لهذا له تکليف او عذاب څخه د څاروي د خوندي کېدو په خاطر به پر همدغه مقدار اکتفاء کيږي.

خو څرنګه چي د نصف رګونو په پرېکولو سره (مثلاً چي دوه رګونه پرېکړي او نور پرېږدي. په دې سره) داکثر پرېکول نه ثابتيږي، نو دا داسي ده لکه ذبح کونکي چي هيڅ رګ هم پرېکړی نه وي، ځکه کله چي په يوه مسئله کي د حلت او حرمت دواړه اړخونه سره جمع سي، نو د حرمت جانب ته به ترجيح ورکول کيږي، په قواعد الفقه کي دي: "إذا اجتمع الحلال والحرام أو المُحرِّم والمُبِيح، غُلّب الحرام والمحرم"، نو دغه قاعدې ته په کتو سره د حرمت جانب لره به ترجيح وي او داسي به ګڼل کيږي چي تر اوسه هغه هيڅ نه دي پرېکړي. (احسن الهدايه)

په کومو شيانو سره ذبح کول جائز دي؟

قَالَ: وَيَجُوزُ الذَّبْحُ بِالظُّفْرِ وَالسِّنِّ وَالْقَرْنِ [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمايي: او جائز دي ذبح کول په نوک، غاښ او ښکر سره إِذَا كَانَ مَنْزُوعًا کله چي هغه کښنل سوی وي حَتَّى لَا يَكُونَ بِأَكْلِهِ بَأْسٌ تر دې چي دهغه په خوړلو کي څه حرج نسته إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ هٰذَا الذَّبْحُ خو دغه ذبح مکروه ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: الْمَذْبُوحُ مَيْتَةٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي: [په دې شيانو سره] ذبح کړی څاروی مردار دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1]: «كُلْ مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَأَفْرَى الْأَوْدَاجَ مَا خَلَا الظُّفْرَ وَالسِّنَّ» د نبي کريم ﷺ د دې فرمان په وجه چي: خوره! هغه څاروي چي د هغوی وينه ايستل سوې وي او رګونه يې پرېکړل سوي وي ماسواله نوک او غاښ څخه فَإِنَّهُمَا مُدَى الْحَبَشَةِ» ځکه چي دا دواړه د حبشو چاړه ده وَلِأَنَّهُ فِعْلٌ غَيْرُ مَشْرُوعٍ او ځکه چي دا [يعني په نوک وغيره سره ذبح کول] يو نا مشروع کار دی فَلَا يَكُونُ ذَكَاةً نو ځکه دا به ذبح کول [حلالول] نه وي كَمَا إِذَا ذُبِحَ بِغَيْرِ الْمَنْزُوعِ لکه کله چي په نا کښنل سوي نوک وغيره سره ذبح کړی سوي وي.

---

[1] تخريج: اخرجه ابو داؤد في كتاب الضحايا، باب الذبيحة بالمروة، حديث رقم: ٢٨٢١. (احسن الهدايه)

اللغات: ﴿الظُّفر﴾ او الظِفر او الظُفر : نوک، جمع: أَظْفَار. ﴿منزوع﴾ د فتح د باب مفعول دی: کښل سوی، کارل سوی. ﴿مَدی﴾ چاړه (په لغت د اهلِ حبشو). ﴿ذکاة﴾ حلالول (ذبح کول او حلال ګرځول).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي څرنګه په چاړه او تېره څنډه لرونکي اوسپني سره ذبح کول جائز دي، همداسي د احنافو په نېز که نوک، غابښ او داسي نور کښل سوي وي او بنه تېره هم وي، نو په هغوی سره هم ذبح کول جائز دي او ذبیحه يې حلاله ده، خو داسي ذبح کول غوره نه دي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي په نوک وغیره سره ذبح کړی سوی څاروی مردار او حرام دی؛ ځکه په حدیث کي صراحتاً د نوک او غابښ د ذبیحې له خوړلو څخه منع سوې ده او دا د اهلِ حبشه وو چاړه او د دوی علامت ښوول سوی دی، او بل دا چي په نوک او غابښ سره ذبح کول یو نا مشروع کار دی، لهذا څرنګه چي په نا کښل سوي (غیر منزوع) نوک او غابښ سره ذبح کول نه صحیح کېږي او ذبح نه شمیرل کېږي، نو همداسي به په مذکوره صورت کي هم ذبح نه صحیح کېږي، او د ذبح د نه صحیح کېدلو په صورت کي ذبیحه مرداره پاتېږي، نو همداسي به په مذکوره صورت کي هم ذبیحه مرداره وي.

په پورتنی مسئله کي زمونږ دلیل

وَلَنَا قَوْلُهُ الطَّيِّلاً [1]: «أَنْهِرِ الدَّمَ بِمَا شِئْتَ» او زمونږ دلیل د نبي ﷺ دا فرمان دی چي: "وینه وباسه! په کوم شي سره چي ستا خوښه وي" وَيُرْوٰى «أَفْرِ الْأَوْدَاجَ بِمَا شِئْتَ» او روایت سوی دی چي: "رګونه پرېکړه په کوم شي سره چي ستا خوښه وي" وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلٰى غَيْرِ الْمَنْزُوْعِ او کوم حدیث چي امام شافعي رَحِمَهُ الله روایت کړی دی هغه پر ناکښل سوي نوک وغیره باندي حمل سوی دی فَإِنَّ الْحَبَشَةَ كَانُوا يَفْعَلُوْنَ ذٰلِكَ ځکه چي حبشو به داسي کوله وَلِأَنَّهٗ آلَةٌ جَارِحَةٌ او ځکه چي دا [نوک وغیره] هم زخمي کونکي آله ده فَيَحْصُلُ بِهٖ مَا هُوَ الْمَقْصُوْدُ وَهُوَ إِخْرَاجُ الدَّمِ نو کوم څه چي مقصود دي یعني د وینې ایستل هغه په دې سره حاصلیږي وَصَارَ كَالْحَجَرِ وَالْحَدِيْدِ او دا د ډبري او اوسپني په څېر سو بِخِلَافِ غَيْرِ الْمَنْزُوْعِ په خلاف د ناکښل سوي نوک وغیره لِأَنَّهٗ يَقْتُلُ بِالثِّقْلِ ځکه چي [په دې صورت کي] ذبح کونکی کس په خپل بوج [او زور] سره [څاروی] قتل کوي فَيَكُوْنُ فِي

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري بمعناه، باب ما أنهر الدم من القصب والمروة والحديد، ص: ۹۸۰، حديث رقم: ۵۵۰۳، و ابو داؤد بمعناه في كتاب الضحايا، باب الذبيحة بالمروة، حديث رقم: ۲۸۲۴. (احسن الهدايه)

مَعْنَى الْمُنْخَنِقَةِ نو دا به د خپه کړل سوي څاروي په معنیٰ سره وي وَإِنَّمَا يُكْرَهُ لِأَنَّ فِيهِ اسْتِعْمَالَ جُزْءِ الْآدَمِيِّ او دا ځکه مکروه دي چي په دې کي د انسان د جزء استعمال سته وَلِأَنَّ فِيهِ إِعْسَارًا عَلَى الْحَيَوَانِ او ځکه چي په دې کي د څاروي سره سختي ده وَقَدْ أُمِرْنَا فِيهِ بِالْإِحْسَانِ حال دا چي موږ د څاروي د ذبح په هکله په احسان کولو سره امر سوي يو.

اللغات: ﴿أَنْهِرْ﴾ د افعال له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صيغه ده: وينه ايستل (باسل). وينه بهول. ﴿أفر﴾ مخکني صيغه ده: پرېکول، غوڅول. ﴿جارحة﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث اسمِ فاعل صيغه ده: زخمي کونکی، زخم جوړونکی. ﴿ثقل﴾ بوج، درونـدوالی. ﴿مخنقة﴾ په خپه سره وژل سوی څاروی (تر ستوني نيول سوی څاروی چي له همدې کبله مړ سي). ﴿إعسار﴾ د افعال د باب مصدر دی: تنګ کول. تنګي او سختي، بدحالي.

تشريح: په دې عبارت کي صاحبِ د هدايي رَحِمَهُ الله په نوک او غاښ وغيره سره د ذبح پر جواز د احنافو دوه دليلونه ذکر کړي دي: (۱) د اول دليل حاصل دا دی چي په حديث کي دا مطلق ويل سوي دي "چي په کوم شي سره ستاسي خوښه وي په هغه سره وينه باسئ"؛ ځکه چي د ذبح مقصدِ اصلي وينه ايستل دي. او امام شافعي رَحِمَهُ الله چي په کوم حديث سره دليل نيولی دی، هغه د ناکښل سوي نوک وغيره سره متعلق دی، ځکه چي اهل حبشه وو به په داسي ناکښل نوک وغيره سره ذبح کوله، او په داسي صورت کي خو موږ هم د نه جائز کېدلو قائل يو.

ولأنه آلة إلخ: (۲) دويم دليل دا دی چي تېره نوک وغيره هم زخم جوړونکې او وينه ايستونکې آله ده، نو په دې سره هم د ذبح مقصدِ اصلي (وينه ايستل) حاصليږي. لهذا څرنګه چي په چاړه وغيره سره ذبح جائز ده، نو همداسي به په دې شيانو سره هم جائز وي.

خو که چيري نوک وغيره کښل سوي نه وي، نو ښکاره ده چي په دې صورت کي د نوک په تېره والي سره نه، بلکي د ذبح کونکي په بوج او زور سره څاروی ذبح کيږي او مري، نو دا د مُنْخَنِقَة په څېر ګرځي، او منخنقة حرامه ده، نو ځکه دا به هم حرام وي.

او په کښل سوي نوک وغيره سره ذبح جائز ده، خو دا صورت مکروه دي؛ ځکه يو خو د انسان جزء پکښي استعماليږي چي په دې کي د انسان توهين او سپکاوی دی، او بل دا چي د ذبح په هکله موږ ته د نرمي او آساني کولو حکم سوی دی، او په مذکوره صورت کي تکليف او عذاب ورکول کيږي، نو ځکه د ذبح په هکله دا صورت که څه هم جائز دی، خو مکروه دی. (احسن الهدايه).

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَيَجُوزُ الذَّبْحُ بِاللِّيطَةِ وَالْمَرْوَةِ فرمايي: او ذبح کول جائز دي د بانس په کلک تېره پوستکي سره او په تېره ډبره سره وَكُلِّ شَيْءٍ أَنْهَرَ الدَّمَ او په هر هغه شي سره کوم چي [له څاروي څخه] وينه باسي إِلَّا السِّنَّ الْقَائِمَ وَالظُّفُرَ الْقَائِمَ مګر په ولاړ [ناکښل سوي] غاښ او نوک سره فَإِنَّ الْمَذْبُوحَ بِهِمَا مَيْتَةٌ ځکه چي په دې دوو سره ذبح کړی سوی څاروی مردار دی لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَنَصَّ مُحَمَّدٌ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ عَلَى أَنَّهَا مَيْتَةٌ او امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي دا صراحت کړی دی چي هغه مردار دی لِأَنَّهُ وَجَدَ فِيهِ نَصًّا ځکه امام محمد رَحِمَهُ الله په دې هکله نص [حديث] موندلی دی وَمَا لَمْ يَجِدْ فِيهِ نَصًّا او د کوم څه په هکله چي دئ نص نه موندي يَحْتَاطُ فِي ذَلِكَ نو په هغه کي احتياط کوي فَيَقُولُ فِي الْحِلِّ "لَا بَأْسَ بِهِ" وَفِي الْحُرْمَةِ يَقُولُ "يُكْرَهُ" أَوْ "لَمْ يُؤْكَلْ" نو د حلت په صورت کي "لا بأس به" وايي او د حرمت په صورت کي "يکره" يا "لم يؤکل" وايي [چي مکروه دي يا نه به خوړل کيږي].

اللغات: ﴿ليطة﴾ د بانس پوستکی، او هر هغه شی کوم چي کلکوالی او مضبوطتيا لري (معجم الوسيط). ﴿مروة﴾ ① يو ډول سپينه تېره ډبره ده. صاحب د معجم يې داسې تعريف کړی دی: الحجارة البيض البراقة. تقدح منها النار. ② په مکه مکرمه کي د يوه مشهوره غره نوم دی چي دا بل طرف ته يې بل غر هم سته کوم چي "صفا" نوميږي. ﴿أنهر﴾ د افعال د باب ماضي ده: وينه ايستل، وينه بيول (بهول).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د ذبح مقصد د څاروي وينه بهول او وينه يې ايستل دي، لهذا په کوم شي سره چي هم د ويني ايستل (باسل) پوره ممکن وي، په هغه سره ذبح کول جائز دي. لهذا څرنګه چي د بانس په هغه تېره کلک پوستکي او په ډېره تېره ډبره سره ذبح کول بالکل ممکن دي، نو ځکه په هغوی سره په ذبح کولو کي هيڅ حرج نسته.

خو د ناکښل سوي غاښ او نوک ذبيحه مرداره ده؛ ځکه مخکي موږ ذکر کړه چي د دوی ذبيحه د مُنْخَنِقَة په درجه کي ده کوم چي د ذبح کونکي په بوج او زور سره ذبح کيږي، لهذا کله چي مُنْخَنِقَة حرامه ده. نو د هغه د درجې والا ذبيحه به هم حرامه وي.

او بل دا چي امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير كي د نا كښل سوي نوک او غاښ ذبيحې ته مردار ويلي دي او په يو نص يعني حديث سره يې دليل نيولی دی (کوم چي مخكي بيان سو). او د امام محمد رَحِمَهُ الله عادت دا دی چي د كومي مسئلې په باره كي ده ته يو نص حاصل سي. نو د هغه مسئلې په هكله امام محمد رَحِمَهُ الله په قطعيت سره يو حكم لكوي. او په كومه مسئله كي چي ده ته نص حاصل نه سي. نو د هغې د حلت په هكله د "لا بأس به" او د حرمت په هكله يې د "يكره" يا "لم يؤكل" الفاظ استعمالوي.

نو دلته په قطعيت سره د امام محمد رَحِمَهُ الله داسي ښاروي ته مردار ويل د دې خبري ښكاره دليل دی چي د نا كښل سوي نوک وغيره ذبيحه حرامه او مرداره ده، (احسن الهدايه)

د ذبح مستحبات

قَالَ: وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يُحِدَّ الذَّابِحُ شَفْرَتَهُ فرمايي: او مستحب دي دا چي ذبح كونكی خپل چاړه تېره كړي لِقَوْلِهِ الطَّيْلاً ❶: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي الله تعالىٰ پر هر شي احسان كول فرض كړي دي فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ نو كله چي تاسي قتل كوی نو په ښه توګه [په احسان او نرمي سره] قتل كوی او كله چي تاسي ذبح كوی نو هم په ښه توګه ذبح كوی وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ» او په تاسي كي ذبح كونكی كس ته پكار دي چي خپل چاړه تېره كړي او خپل ذبيحه ته دي آرام ورسوي وَيُكْرَهُ أَنْ يُضْجِعَهَا ثُمَّ يُحِدَّ الشَّفْرَةَ او مكروه دي دا چي اول ذبيحه پرې باسي بيا چاړه تېره كړي لِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ ❷ «أَنَّهُ رَأَى رَجُلًا أَضْجَعَ شَاةً وَهُوَ يُحِدُّ شَفْرَتَهُ ځكه روايت سوی دی چي نبي ﷺ يو كس وليدی چي هغه پسه پرې ايستلی وو او خپل چاړه يې تېره كوله فَقَالَ: لَقَدْ أَرَدْتَ أَنْ تُمِيتَهَا مَوْتَاتٍ نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: آيا ته دا پسه په څو وارو سزه مړ كول غواړې [آيا ته د هر مرګونه ددكوې!] هَلَّا حَدَدْتَهَا قَبْلَ أَنْ تُضْجِعَهَا» ولي دي د هغه تر پرې ايستلو مخكي چاړه نه تېروله.

---

❶ تخريج: اخرجه الهيثمي في مجمع الزوائد (۴/ ۳۳)، وابن ماجه في كتاب الذبائح، باب إذا ذبحتم فأحسنوا الذبح، حديث رقم: ۳۱۷۰.

❷ تخريج: اخرجه حاكم في المستدرک في كتاب الضحايا، حديث رقم: ۷۵۶۲ / ۴۶.

اللغات: ﴿يحدّ﴾ د مضارع صيغه ده، د افعال او نصر (مزيد او مجرد) دواړو څخه ويل كېداى سي، د دې باب څو معناوي دي چې له هغوى څخه يې يوه معنىٰ ده: تېره كول (تېزول). تېزول. ﴿شفرة﴾ غټه چاړه. ﴿القتلة﴾ د قتل د باب اسم نوع دى: قتل. ﴿يضجع﴾ د افعال د باب مضارع ده: پرې ايستل (پرې باسل). ﴿شاة﴾ عام اسم دى، كوم چې پُسه، وزګري، بزې، ميږې ټولو لره شامل دى. او جمع يې من غير لفظه غَنَم راځي.

تشريح: په دې عبارت كې د ذبح په هكله دوې لارښووني سوي دي:

(١)... له ذبح كولو څخه مخكې چاړه تېره كول (تېزول) مستحب دي؛ ځكه په حديث كې انسان په هر شي كې په احسان كولو سره مكلف سوى دى، او په ذبح كې د انسان احسان دا دى چې د څاروي سره سختي نه وكړي او له تكليف او عذاب وركولو څخه بغير هغه ډېر په تېزي او په ښه توګه ذبح كړي.

(٢)... د ذبح كولو لپاره بايد د څاروي له پرې باسلو څخه مخكې چاړه تېره كړل سي؛ ځكه په دې هكله هم په متن كې د مذكوره حديث پر بناء منع سوې ده. او د دغه سلسلې ذبح ته په څو مرګونو سره مړ كول ځكه ويل سوي دي چې څارويو ته دا معلومه وي چې د دوى سره اوس څه كيږي، اوس كه څوک د څاروي له پرې باسلو څخه وروسته چاړه تېره كوي، نو ښكاره ده چې څاروى به هغه ويني يا په همدې سخت حالت كې به پر څاروي ډېر وخت تيرېږي، نو تر ذبح كېدو مخكې به د مرګ په احساس وركولو سره بار، بار وځورول سي، په همدې وجه د يوه پُسه مخ ته د بل پُسه له ذبح كولو څخه منع سوې ده چې په دې سره دوى ته سخت تكليف رسيږي. (او په دې هكله ما حقير بنده څو قصې هم اورېدلي دي چې كومو خلكو داسي كړي دي او دا مستحب عمل يې معمولي خبره ګڼلې ده او په دې هكله يې لا پروايي كړې ده، نو هغوى هم په مستقبل كې د سخت تكليف سره مخامخ سوي دي).

د ذبح مكروهات

قَالَ: وَمَنْ بَلَغَ بِالسِّكِّيْنِ النُّخَاعَ فرمايي: او كه څوک تر نخاع [حرام مغزه] پوري چاړه ورسوي أَوْ قَطَعَ الرَّأْسَ يا سر پرېكړي كُرِهَ لَهُ ذٰلِكَ نو د هغه لپاره دا مكروه دي وَتُؤْكَلُ ذَبِيحَتُهُ او د هغه ذبيحه خوړل كېداى سي [حلاله ده] وَفِي بَعْضِ النُّسَخِ قَطَعَ مَكَانَ بَلَغَ او په ځيني نسخو كې د "بلغ" پر ځاى "قطع" دى [يعني چې نخاع پرېكړي] وَالنُّخَاعُ عِرْقٌ أَبْيَضُ فِي عَظْمِ الرَّقَبَةِ او نخاع د غاړې په

هلوكي كي يو سپين رګ دى أَمَّا الْكَرَاهَةُ فَلِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ ❶ «أَنَّهُ نَهَى أَنْ تُنْخَعَ الشَّاةُ إِذَا ذُبِحَتْ» كوم چي د دې كار مكروه كېدل دي نو هغه ځكه چي نبي كريم ﷺ د پسه كولو په وخت كي د هغه تر نخاع [حرام مغزه] له پرېكېدو څخه منع وكړه وَتَفْسِيرُهُ مَا ذَكَرْنَاهُ او د دې تفسير همغه دى كوم چي موږ ذكر كړى وَقِيلَ: مَعْنَاهُ أَنْ يَمُدَّ رَأْسَهُ حَتَّى يَظْهَرَ مَذْبَحُهُ او ويل سوي دي: د نخاع معنىٰ دا ده چي د مذبوحه څاروي سر كش كړي تر دې چي د هغه د ذبح كېدلو ځاى ښكاره سي وَقِيلَ: أَنْ يَكْسِرَ عُنُقَهُ قَبْلَ أَنْ يَسْكُنَ مِنَ الِاضْطِرَابِ او ويل سوي دي: چي [د نخاع تفسير دا دى چي] د څاروي غاړه ماته [جلا] كړي مخكي تر دې چي هغه له حركت څخه په سكون كي سي [يعني تر ذبح وروسته چي څاروى تر اوسه لا ښووري [حركت كوي] او يخ سوى او آرام سوي نه وي، تر هغه مخكي يې د غاړې ماتولو او جلا كولو ته نخاع وايي] وَكُلُّ ذَٰلِكَ مَكْرُوهٌ او دا ټوله مكروه دي وَهَٰذَا لِأَنَّ فِي جَمِيعِ ذَٰلِكَ وَفِي قَطْعِ الرَّأْسِ زِيَادَةَ تَعْذِيبِ الْحَيَوَانِ بِلَا فَائِدَةٍ او دا ځكه چي په دې ټولو صورتونو كي او د سر په پرېكولو كي حيوان ته بلا فايدې زائد تكليف وركول سته وَهُوَ مَنْهِيٌّ عَنْهُ او له دې څخه [په حديث كي] منع سوې ده وَالْحَاصِلُ أَنَّ مَا فِيهِ زِيَادَةُ إِيلَامٍ لَا يَحْتَاجُ إِلَيْهِ فِي الذَّكَاةِ مَكْرُوهٌ خلاصه [او أصول كلي] دا دى چي هر هغه كار چي په هغه كي [څاروي ته] زائد تكليف [او درد] وركول وي چي په ذبح كولو كي د هغه هيڅ حاجت [ضرورت] نه وي نو هغه مكروه دى وَيُكْرَهُ أَنْ يَجُرَّ مَا يُرِيدُ ذَبْحَهُ بِرِجْلِهِ إِلَى الْمَذْبَحِ او مكروه دي دا چي كش كړي هغه پسه چي د ذبح كولو اراده يې لري تر پښو د ذبح كولو ځاى ته [يعني چي څاروى تر پښو ونيسي او مذبح ته يې كش كړي] وَأَنْ تُنْخَعَ الشَّاةُ قَبْلَ أَنْ تَبْرُدَ او [مكروه دي] دا چي د پسه سر جلا كړي [يا معنىٰ دا چي تر نخاع پوره يې پرېكړي] مخكي تر دې چي هغه يخ سي يَعْنِي تَسْكُنَ مِنَ الِاضْطِرَابِ يعني له حركت څخه په سكون كي راسي [ښورېدل پرېږدي] وَبَعْدَهُ لَا أَلَمَ او تر دې وروسته [يعني چي كله ښورېدل ختم سي] درد نسته فَلَا يُكْرَهُ النَّخْعُ وَالسَّلْخُ نو

---

❶ تخريج: قلت غريب هذا اللفظ، ومعناه رواه الطبراني في معجم حدثنا ابو حبيبة الفضل إلخ، همدارنګه د دغه حديث په معنى سره يو اثر په بخاري شريف كي هم مذكور دى: اخبرني نافع أن ابن عمر نهى عن النخع يقول يقطع ما دون العظم ثم يدع حتى يموت (بخاري شريف، باب النحر والذبح، ص: ۹۸۱، حديث رقم: ۵۵۱۰).

بیا سر جلا کول او څرمن کښل [پوستول] مکروه نه دي إِلَّا أَنَّ الْكَرَاهَةَ لِمَعْنًى زَائِدٍ خو کراهت د یو زائد [اضافي] معنیٰ په وجه دی وَهُوَ زِيَادَةُ الْأَلَمِ قَبْلَ الذَّبْحِ أَوْ بَعْدَهُ او هغه تر ذبح مخکې یا تر ذبح وروسته زائد درد [او تکلیف] ورکول دي فَلَا يُوجِبُ التَّحْرِيمَ نو ځکه دا حرامول نه واجبوي فَلِهٰذَا قَالَ: تُؤْكَلُ ذَبِيحَتُهُ په همدې وجه امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمایلي دي: چې د هغه ذبیحه خوړل کېدای سي [ذبیحه یې حلاله ده].

اللغات: ﴿سکّین﴾ چاړه. ﴿نُخاع﴾ (د نون په ضمه، فتحه او کسره تولو سره ویل کېدای سي): مؤلف رَحِمَهُ الله یې په خپله معنیٰ بیان کړې ده چې یو سپین رګ دی چې د څټ په هډوکي (عمود فقري) کې تللی دی کوم ته چې په اُردو ژبه کې حرام مغز ویل کیږي.... ﴿مذبح﴾ د ذبح کولو ځای. ﴿یکسر﴾ د ضرب د باب مضارع ده: ماتول، را جلا کول.

تشریح: هر هغه کار چې په ذبح کې ورته هیڅ ضرورت نه وي او په هغه سره مذبوحه څاروي ته درد او تکلیف رسیږي، نو هغه مکروه دی لېکن ذبیحه حلاله پاتیږي، او څرنګه چې دلته خرابي په نفس ذبح کې نه ده، بلکې د یو زائد (اضافي) معنیٰ په وجه خرابي راغلې ده چې هغه بلا وجه إیلام (درد او تکلیف ورکول) دي، نو ځکه دا د ذبیحې حرمت خو نه ثابتوي. بلکې ذبیحه حلاله ده، خو دا فعل مکروه دی.

بیا هغه افعال کوم چې مکروه دي، په لاندې ډول دي:

① ... د ذبح پر مهال تر نخاع (حرام مغز) پورې غاړه پرېکول.

② ... د ذبح د ځای ښکاره کولو لپاره د څاروي سر کشول او پېچل.

③ ... تر ذبح وروسته د څاروي له آرامېدلو (حرکت پرېښودلو) څخه مخکې سر ځنې جلا کول.

④ ... تر پښو نیول او د ذبح کېدو ځای (مذبح) ته بېول.

⑤ ... له آرامېدلو څخه مخکې پوست (څرمن) ځنې کښل.

په عبارت کې له دغو څخه اول درې مکروهات د نخاع په تفسیر کې بیان سوي دي.

د څټ له طرفه د ذبح کولو حکم

قَالَ: وَإِنْ ذَبَحَ الشَّاةَ مِنْ قَفَاهَا فرمایي: او که څوک د څټ له طرفه پسه ذبح کړي فَبَقِيَتْ حَيَّةً حَتّٰى قَطَعَ الْعُرُوْقَ نو [که] هغه ژوندی پاته وي تر دې چې رګونه پرې کړي [یعني که تر مړ کېدلو مخکې یې د ذبح رګونه هم پرې کړي] حَلَّ نو حلال دی لِتَحَقُّقِ الْمَوْتِ بِمَا هُوَ ذَكَاةٌ د مرګ د ثابتېدلو په وجه په هغه شي سره کوم چې ذبح [حلالول] دي [یعني دلته په ذبح کولو سره د دې پسه مرګ واقع سو، یا په بله وینا دا چې

پسه ذبح او حلال کړی سو] وَيُكْرَهُ خو داسي کول مکروه دي لِأَنَّ فِيهِ زِيَادَةَ الْأَلَمِ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ ځکه چي په دې کي بغير له ضرورته زائد درد [او تکليف] ورکول سته فَصَارَ كَمَا إِذَا جَرَحَهَا ثُمَّ قَطَعَ الْأَوْدَاجَ نو دا داسي سو لکه پسه چي زخمي کړي بيا د هغه رګونه پرې کړي وَإِنْ مَاتَتْ قَبْلَ قَطْعِ الْعُرُوقِ او که دا [د څټ له طرفه ذبح کړی سوی پسه] د رګونو تر پرې کول کېدلو مخکي مړ سي لَمْ تُؤْكَلْ نو نه به خوړل کيږي لِوُجُودِ الْمَوْتِ بِمَا لَيْسَ بِذَكَاةٍ فِيهَا د مرګ د راتللو په وجه په داسي شي سره کوم چي په پسه کي ذبح [حلالول] نه دي [يعني د دغه پسه مرګ په ذبح کولو سره واقع نه سو، ځکه چي ذبح او حلالول دې ته وايي چي تر مړ کېدلو مخکي (دژوند په حالت کي) د ذبح رګونه ور پرې کړل سي].

اللغات: ﴿قفا﴾ څټ، ورميږ، د غاړي د شا طرف. ﴿ألم﴾ درد، خوږ.

تشريح: مسئله دا ده چي پُسه د غاړي له طرفه ذبح کول پکار دي، خو که څوک د څټ له طرفه پُسه ذبح کړی سي (چي په هغه کي د غاړي هډوکی پرې سي او نخاع [حرام مغز] پرې سي او څلور د ذبح رګو ته را ورسيږي)، نو اوس به دې ته کتل کيږي چي د پُسه تر مړ کېدلو مخکي د ذبح رګونه (حلقوم، مرۍ او ودجان) هم پرې سول او که د هغوی تر پرې کېدلو مخکي پُسه مړ سو، په اول صورت کي پُسه حلال دی او په دويم صورت کي (چي د حلقوم، مرۍ او ودجان تر پرې کېدلو مخکي پُسه مړ سي) هغه حلال نه دی، خو په هر صورت دا فعل مکروه دی؛ ځکه چي دا بلا ضرورته تکليف ورکول دي.

د ذبح مختلف اقسام (د کومو ځارويو لپاره به ذبح اختياري يا ذبح اضطراري اختيارول کيږي؟)

قَالَ: وَمَا اسْتَأْنَسَ مِنَ الصَّيْدِ فرمايي: او کوم ښکار چي اموخته سوی وي فَذَكَاتُهُ الذَّبْحُ نو د هغه ذکاة [حلالول] ذبح ده وَمَا تَوَحَّشَ مِنَ النَّعَمِ او کوم چي له څارويو څخه وحشي سي فَذَكَاتُهُ الْعَقْرُ وَالْجُرْحُ نو د هغه زکاة عقر او زخمي کول [ذبح اضطراري] ده لِأَنَّ ذَكَاةَ الِاضْطِرَارِ إِنَّمَا يُصَارُ إِلَيْهِ عِنْدَ الْعَجْزِ عَنْ ذَكَاةِ الِاخْتِيَارِ ځکه چي له ذبح اختياري څخه د عاجزۍ په وخت کي د ذبح اضطراري وطرف ته رجوع کيږي عَلَى مَا مَرَّ لکه څرنګه چي تېر سوه وَالْعَجْزُ مُتَحَقِّقٌ فِي الْوَجْهِ الثَّانِي دُونَ الْأَوَّلِ او عاجزي په دويم صورت کي ثابته ده، نه په اول صورت کي وَكَذَا مَا تَرَدَّى مِنَ النَّعَمِ فِي بِئْرٍ وَوَقَعَ الْعَجْزُ عَنْ ذَكَاةِ الِاخْتِيَارِ او همدارنګه کوم چي له څارويو څخه څاه ته شوه سي او له ذبح

اختياري څخه عاجزي واقع سي [نو ذبح اضطراري جائز ده] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړى وَقَالَ مَالِكٌ: لَا يَحِلُّ بِذَكَاةِ الِاضْطِرَارِ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دواړو صوررتونو كي په ذبح اضطراري سره نه حلاليږي لِأَنَّ ذٰلِكَ نَادِرٌ ځكه چي داسي كېدل نادر دي وَنَحْنُ نَقُولُ: الْمُعْتَبَرُ حَقِيقَةُ الْعَجْزِ او موږ [جواباً] وايو: چي معتبر هغه حقيقت عجز دی [يعني اصل اعتبار حقيقي عاجزۍ لره دی] وَقَدْ تَحَقَّقَ او هغه [دلته] متحقق دی فَيُصَارُ إِلَى الْبَدَلِ نو ځكه د بدل وطرف ته به رجوع كيږي كَيْفَ وَإِنَّا لَا نُسَلِّمُ النُّدْرَةَ بَلْ هُوَ غَالِبٌ [او دا نادر] څنګه كېدای سی حال دا چي موږ [د دې] نادر والی نه تسليمو بلكي دا خو غالب دي [يعني ډېر واقع كيږي].

اللغات: ﴿استأنس﴾ د استفعال ماضي ده: : اُنس حاصلول، روږدېدل، اموخته كېدل. ﴿توحّش﴾ د تفعّل ماضي ده: وحشي كېدل، بېرېدل او ترهېدل. ﴿عَقر﴾ دعقر ضرب د باب مصدر دی: زخمي كول. داوښ يوه پښه پرېكول او بيا نحر كول (د نحر معنیٰ به څه وروسته ذكر سي كوم چي مخكي هم ذكر سوې ده). ﴿النعم﴾ څاروي‌ان، چارپايان.

تشريح: مخكي ذكر سوه چي ذبح پر دوه قسمه ده: ① ذبح اضطراري. ② ذبح اختياري.

او مخكي دا هم معلومه سوه چي دغه دواړه چيري مشروع دي (چي ذبح اضطراري به د اضطرار په وخت كي كيږي يعني چي كله څاروی وترهيږي. همدارنګه د ښكار په وخت كي. او ذبح اختياري به د كورني څاروي د ذبح په وخت كي كيږي. كوم چي ذبح ته غاړه ږدي).

دلته فرمايي چي كه چيري كورنی څاروی مثلاً غويی وحشي سي او وتربږي. نو په دې صورت كي د هغه ذبح اضطراري جائز ده. او كه چيري وحشي څاروی مثلاً هوسۍ د ډېر پاللو له كبله اموخته سي او كورنۍ وګرځي. نو اوس به اختياري ذبح كول كيږي.

وكذا ما تردى إلخ: مثلاً پسه يا يو بل څاروی په څاه كي ولويږي. څرنګه چي په دې وخت كي له ذبح اختياري څخه عاجزي واقع سوه. نو ځكه اوس ذبح اضطراري جائز ده.

خو امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي كه دغه صورت وي او كه مخكينی صورت وي يعني چي كورنی څاروی وحشي سي، په دواړو صورتونو كي ذبح اضطراري جائز نه ده؛ ځكه داسي كېدل شاذ ونادر دي او ډېرخي كم واقع كيږي. او پر شاذ او نادر د احكامو بنياد نه ايښوول كيږي.

او موږ په جواب كي ورته وايو چي دلته ذبح اضطراري جائز ده او دليل دا دی چي ذبح اضطراري د ذبح اختياري بدل او قائم مقام ده چي كله ذبح كونكی له ذبح اختياري څخه عاجزه سي

نو له دويم (ذبح اضطراري) څخه به کار اخلي، او دلته عجز متحقق دی، نو ځکه د بدل وطرف ته به رجوع کيږي، او د امام مالک رَحِمَهُ الله دا فرمان چي داسي پېښېدل نادر دي مونږ نه تسليمو، ځکه دا خو کم نه بلکي ډېر پېښيږي.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

وَفِي الْكِتَابِ أَطْلَقَ فِيمَا تَوَحَّشَ مِنَ النَّعَمِ او په کتاب [قدوري] کي يې د هغه څارويو په باره کي کوم چي وحشي سي مطلق حکم بيان کړی دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّ الشَّاةَ إِذَا نَدَّتْ فِي الصَّحْرَاءِ [ليکن] له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي پسه چي کله په صحرا [بيابان] کي وترهيږي فَذَكَاتُهَا الْعَقْرُ نو د هغه ذكاة عقر [ذبح اضطراري] ده وَإِنْ نَدَّتْ فِي الْمِصْرِ لَا تَحِلُّ بِالْعَقْرِ او که په ښار کي وترهيږي نو هغه په عقر [ذبح اضطراري] سره نه حلاليږي لِأَنَّهَا لَا تَدْفَعُ عَنْ نَفْسِهَا ځکه چي هغه له خپل ځان څخه دفاع نه سي کولای فَيُمْكِنُ أَخْذُهَا فِي الْمِصْرِ نو په ښار کي د هغه نيول ممکن دي فَلَا عَجْزَ نو [دلته له ذبح اختياري څخه] عجز نسته وَالْمِصْرُ وَغَيْرُهُ سَوَاءٌ فِي الْبَقَرِ وَالْبَعِيرِ او ښار او نا ښار په غويي او اوښ کي سره برابر دي لِأَنَّهُمَا يَدْفَعَانِ عَنْ أَنْفُسِهِمَا ځکه چي دا دواړه له خپل نفس څخه دفاع کولای سي فَلَا يَقْدِرُ عَلَى أَخْذِهِمَا نو څوک به د دوی پر نيولو قدرت نه لري وَإِنْ نَدَّا فِي الْمِصْرِ که څه هم په ښار کي وترهيږي فَيَتَحَقَّقُ الْعَجْزُ نو عجز به ثابت سي وَالصِّيَالُ كَالنَّدِّ او حمله کول د ترهېدلو په څېر دي إِذَا كَانَ لَا يَقْدِرُ عَلَى أَخْذِهِ کله چي د هغه پر نيولو قدرت نه لري حَتَّى لَوْ قَتَلَهُ الْمَصُولُ عَلَيْهِ وَهُوَ يُرِيدُ الذَّكَاةَ تر دې که مصول عليه [پر چا چي يې حمله کړي ده هغه] دا غويی يا اوښ قتل کړي او اراده يې د ذبح کولو وي حَلَّ أَكْلُهُ نو د هغه خوړل حلال دي.

اللغات: ﴿ندت﴾ د ضرب له بابه د ماضي صيغه ده: د اوښ تړېدل، ترهېدل، بېرېدل او تېښتېدل، ﴿الشاة﴾ عام لفظ دی، پسه، وزګړي، بزه، مېږه پر ټولو يې اطلاق کيږي، ﴿صِيال﴾ د نصر د باب مصدر دی، صَالَ يَصُولُ صَوْلًا و صِيَالًا وصَيَلَانًا: حمله کول. پر راغور ځېدل او زور کول، ﴿مصول عليه﴾ له مخکيني بابه د مفعول صيغه ده: پر چا چي حمله سوې وي، ﴿ذكاة﴾ (په ذال سره) حلالول (ذبح کول او حلال ګرځول).

تشریح: څه مخکې تاسي وليدل چي په متن کي امام قدوري رَحِمَهُ الله مطلقاً (بلا تفصيله) داسي فرمايلي دي چي کله کورني څاروی وحشي سي، نو ذبح اضطراري جائز ده. خو دلته امام محمد رَحِمَهُ الله څه تفصيل بيان کړی دی چي په اوښ او غوايي کي خو دا حکم مطلق دی يعني په دوی کي د ښار او صحرا حکم يو دی (چي که هر ځای وترهيږي، نو اضطراري ذبح يې جائز ده). ليکن د پسه (او داسي نورو يعني دوزګري، بزې، ميږې) حکم په صحرا کي خو همدغه دی. ليکن په ښار کي دننه حکم يې دا دی چي هلته د پسه ذبح اضطراري جائز نه ده، ځکه په ښار کي د پسه او داسي نورو نيول ممکن او آسانه دي، او بل دا چي هغه د خپل ضعف په وجه د ځان دفاع هم نه سي کولای، نو ځکه دلته عجز متحقق نه سو. خو په دښت او صحرا کي دا کېدای سي چي هغه ورک سي او له سترګو نيام سي چي بيا يې ترلاسه کول مشکله وي، لهذا په دې صورت کي عجز متحقق کېدای سي، نو ځکه په دې صورت کي ذبح اضطراري جائز ده. او پاته سو اوښ او غويی د خپل ځان دفاع کولای سي، نو ځکه د دوی حکم په ښار او صحرا دواړو کي برابر دی.

والصيال کالند إلخ: که چيري اوښ او غويی پر يو کس حمله وکړي، نو د دې هم هغه حکم دی کوم چي د ترېدلو او وحشي کېدلو دی، لهذا پر چا چي حمله وکړي که هغه دغه اوښ يا غويی پر يو ځای زخمي کړي او مړ يې کړي، نو حلال دی، ځکه چي په دې صورت کي هم عجز متحقق دی.

خو که دا اوښ يا غويی د بل چا وي، نو پر مړ کونکي کس د هغه د قيمت تاوان واجبيږي، نو هغه حلال دی چي خوړل يې جائز دي.

د ذبح مستحب اقسام (نحر او ذبح)

قَالَ: وَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْإِبِلِ النَّحْرُ فرمايي: او په اوښ کي مستحب نحر کول دي فَإِنْ ذَبَحَهَا خو که اوښ ذبح کړي جَازَ نو جائز دي وَيُكْرَهُ [خو داسي کول] مکروه دي وَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ الذَّبْحُ او مستحب په غويي او پسونو کي ذبح کول دي فَإِنْ نَحَرَهُمَا خو که دوی نحر کړي جَازَ نو جائز دي وَيُكْرَهُ [خو دا] مکروه دي أَمَّا الاِسْتِحْبَابُ فِيهِ کوم چي په دې کي مستحب کېدل دي فَلِمُوَافَقَةِ السُّنَّةِ الْمُتَوَارَثَةِ نو هغه د سنت متوارثه د موافقت [او د احاديث متواتره] په وجه دي وَلِاجْتِمَاعِ الْعُرُوقِ فِيهَا فِي الْمَنْحَرِ او ځکه چي په اوښ کي رګونه د نحر په ځای کي سره جمع دي وَفِيهِمَا فِي الْمَذْبَحِ او

په غوبي او پسه کي د ذبح په ځای کي سره جمع دي وَالْكَرَاهَةُ لِمُخَالَفَةِ السُّنَّةِ او کراهت [مکروه کېدل یې] د سنت د مخالف کېدلو په وجه دي وَهِيَ لِمَعْنًى فِي غَيْرِهِ او دا کراهت د داسي معنیٰ په وجه دي کوم چي له ذبح شخه بغیر په بل شي کي دی فَلَا تَمْنَعُ الْجَوَازَ وَالْحِلَّ نو ځکه دا کراهت جواز او حلت نه منع کوي خِلَافًا لِمَا يَقُولُهُ مَالِكٌ إِنَّهُ لَا يَحِلُّ په خلاف د هغه کوم چي امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایلي دي چي دا حلال نه دي [یعني امام مالک رَحِمَهُ الله چي کوم دا خبره کوي چي د اوبن د ذبح کولو او د غوبي او پسه د نحر کولو په صورت کي دوی نه حلالیږي. دا زموږ بیان د هغه په خلاف دی].

اللغات: ﴿نحر﴾ د نحر صورت دا دی چي د اوبن د سیني له ههوکي شخه د پاسه پر دغه حصه نېزه یا بل تېره شی ووهل سي او غاړه یې شیره کړل سي، نو دې ته نحر وایي، په نحر کي نېزه له پورته شخه لاندي طرف ته بېول کیږي، په اوبن کي چي د نحر کوم ځای دی، هلته ټوله رګونه سره جمع وي، او په ذبح کي د غوبي او پسه تر زامي لاندي غاړه پرېکول کیږي، په دوی کي چي کوم د ذبح ځای دی، هلته ټوله رګونه سره جمع وي، ﴿غنم﴾ واحد له خپل لفظ شخه نه لري، ځکه چي واحد یې "شاة" دی، اسم جنس دی: پسه، بزه، سېرلی او مېږه پر ټولو یې اطلاق کیږي. (مصباح المنير)

تشریح: دَ عبارت حاصل دا دی چي که اوبن وي، یا پُسه او غوبی وي، په هر یوه کي ذبح او نحر دواړه جائز دي او ذبیحه حلاله ده، خو په اوبن کي نحر مستحب دی او ذبح مکروه ده، او په پُسه او غوبي کي ذبح مستحب او نحر مکروه دی، د استحباب دلیل یې دا دی چي همداغه سنتِ متوارثه دی او متواتر احادیث پکښي وارد دي.

په اوبن کي د تمام رګونو اجتماع د نحر ځای دی او په غوبي او پسه کي د ذبح ځای دی، او د مخکي په شېر دغه کراهت حلت او جواز نه منع کوي.

د مذبوحه خاروي له نس شخه د را وتونکي بچي حکم

قَالَ: وَمَنْ نَحَرَ نَاقَةً أَوْ ذَبَحَ بَقَرَةً فَوَجَدَ فِي بَطْنِهَا جَنِينًا مَيِّتًا فرمایي: او شوک چي اوښه نحر کړي یا غوا ذبح کړي نو د هغه په نس کي مړ سوی بچی ومومي لَمْ يُؤْكَلْ نو هغه بچی به نه خوړل کیږي أَشْعَرَ أَوْ لَمْ يُشْعِرْ [برابره ده] وېښتان پر راغلي [راشنه سوي] وي او که نه وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ وَالْحَسَنِ بْنِ زِيَادٍ او همدا د امام زفر او حسن بن زیاد

رَحِمَهُمَا الله قول دی وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ ❁: إِذَا تَمَّ خَلْقُهُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي كه د بچي خلقت بشپړ سوی وي أُكِلَ نو خوړل كيږي به وَهُوَقَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا دامام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِقَوْلِهِ الطَّيِّلاً ●: «ذَكَاةُ الْجَنِينِ ذَكَاةُ أُمِّهِ» د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه: چي د مور ذبح كول [حلالول] د هغې د جنين ذبح كول دي وَلِأَنَّهُ جُزْءٌ مِنَ الْأُمِّ حَقِيقَةً او ځكه چي جنين بچی په حقيقت كي د مور جزء دی لِأَنَّهُ مُتَّصِلٌ بِهَا ځكه چي هغه د مور سره متصل دی حَتَّى يُفْصَلَ بِالْمِقْرَاضِ وَيَتَغَذَّى بِغِذَائِهَا وَيَتَنَفَّسُ بِتَنَفُّسِهَا همدا وجه ده چي هغه په غيچي سره را جلا كول كيږي او د مور په غذا سره پايي او د مور په ساه سره ساه اخلي وَكَذَا حُكْمًا او همداسي حكماً [هم جنين بچی د مور جزء دی] حَتَّى يَدْخُلَ فِي الْبَيْعِ الْوَارِدِ عَلَى الْأُمِّ وَيُعْتَقَ بِإِعْتَاقِهَا همدا وجه ده چي جنين په هغه بيع كي داخليږي كوم چي پر مور وارد ېدونكې وي او د مور په آزادولو سره هغه آزاديږي وَإِذَا كَانَ جُزْءًا مِنْهَا او كله چي جنين د مور جزء دی فَالْجُرْحُ فِي الْأُمِّ ذَكَاةٌ لَهُ عِنْدَ الْعَجْزِ عَنْ ذَكَاتِهِ نو د جنين له ذبح څخه د عاجزۍ په وخت كي به د مور زخمي كول د جنين لپاره ذبح وي كَمَا فِي الصَّيْدِ لكه ښكار كي دي. ښكار په ښكار كي دي.

اللغات: ﴿أشعر﴾ د افعال د باب ماضي ده. د دې باب يوه معنیٰ ده: وېښتانو والا كېدل. وېښته را شين كېدل، وېښته راتلل، ﴿مقراض﴾ غيچي، ﴿يتغذّى﴾ د تفعّل مضارع ده: غذا حاصلول (خوراک ترلاسه كول)، ﴿جنين﴾ په نس كي دننه موجود بچی.

تشريح: صورت د مسئلې آسانه دی. د امام صاحب، امام زفر او امام حسن ابن زياد رَحِمَهُمُ الله مذهب دا دی چي د اوښې، غوا او داسي نور دا دول جنين (بچی) به نه خوړول كيږي، برابره ده وېښتان يې راغلي وي او تام الخلقته وي، كه نه وي، په هر صورت كي دغه حكم دی.

او د امام شافعي او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله قول دا دی چي كه هغه تام الخلقته وي، نو خوړل كيږي به. څه حرج پكښي نسته، او كه داسي نه وي، نو خوړل يې جائز نه دي.

د صاحبينو او د امام شافعي دليل: دغه حضراتو دوه دليلونه پېش كړي دي چي يو نقلي او بل عقلي دليل دی: (۱) نقلي دليل د نبي كريم ﷺ دا فرمان دی چي "ذكاة الجنين ذكاة أمه"، دا حديث په ښكاره الفاظو سره

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: ومتى احتمع موحب الحل والحرمة غلب المحرم، وتزكية نفس لا تزكي نفسين... والصحيح قوله كما في المضمرات (الدر المنتقى ج:۴، ص:۱۶۰)، والبحر الرائق (ج:۸، ص:۳۱۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۸۹]

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الضحايا، باب ما جاء في ذكاة الجنين، حديث رقم:۲۸۲۷، ۲۸۲۸.

دا ښيي چي د مور ذبح د جنين (بچي) لپاره هم ذبح ده او کافي ده. جلا د هغه ذبح کولو ته ضرورت نسته. لهذا خوړل يې جائز دي.

(۲) عقلي دليل دا دی چي جنين حقيقتاً هم د مور جزء دی او حکماً هم. کله چي هغه په هر اعتبار سره د مور جزء دی، نو د مور ذبح د جنين لپاره هم ذبح کېدل پکار دي.

د حقيقتاً جزء کېدلو دليل دا دی چي جنين د مور سره متصل دی. همدا وجه ده که چيري هغه له مور څخه را جلا کول کيږي، نو د مور نوم (ناف) وغيره به پرېکول کيږي کوم چي د ده سره موښتي دي. او بل دا چي هغه د مور په غذا سره پايي. د مور له ساه څخه ساه اخلي. له دغو ټولو خبرو څخه ښکاره سوه چي جنين د حقيقت په اعتبار سره د مور جزء دی.

حکماً د مور د جزء کېدلو دليل دا دی چي کله مور خرڅه کړل سي، نو په بيع کي جنين هم داخليږي. او کله چي مور آزاده کړل سي، نو جنين هم آزاديږي. لنډه دا چي کله جنين په هره توګه د مور جزء سو، نو د مور ذبح به د جنين لپاره هم کافي وي او خوړل به يې جائز وي.

او د دې مثال داسي دی لکه په ښکار کي چي له ذبح اختياري څخه د عاجزه کېدو په وجه ذبح اضطراري اختيارول کيږي. همداسي دلته د جنين له ذبح څخه عجز متحقق دی. نو ځکه دلته به د هغه د مور پر ذبح اکتفاء کيږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل او د امام شافعي رَحِمَهُ الله او نورو د قياس جواب

وَلَهُ: أَنَّهُ أَصْلٌ فِي الْحَيَاةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل: دا دی چي جنين بچی په ژوند والي کي [له مور څخه] اصل [او جلا] دی حَتَّى يُتَصَوَّرَ حَيَاتُهُ بَعْدَ مَوْتِهَا همدا وجه ده چي د مور تر مرګ وروسته د هغه ژوند متصور [ممکن] دی وَعِنْدَ ذٰلِكَ يُفْرَدُ بِالذَّكَاةِ او په داسي وخت کي هغه په ذبح سره جلا کول کيږي [په بله وينا دا چي کله جنين په ژوند والي کي اصل او مستقل دی، نو ځکه هغه به جلا ذبح کول کيږي، د مور ذبح د هغه لپاره کافي نه ده] وَلِهٰذَا يُفْرَدُ بِإِيجَابِ الْغُرَّةِ همدا وجه ده چي جنين د غرّة [مينځي] په واجبولو کي متفرد دی وَيُعْتَقُ بِإِعْتَاقٍ مُضَافٍ إِلَيْهِ [همدارنګه] جنين آزاديږي په هغه إعتاق [آزدولو] سره کوم چي [يوازي] د جنين وطرف ته منسوب وي [يعني که يوازي جنين بچی آزاد کړی سي، نو هم هغه آزاديږي] وَتَصِحُّ الْوَصِيَّةُ لَهُ او د جنين لپاره وصيت کول صحيح کيږي وَبِهِ او [همدارنګه] په ده سره وصيت کول صحيح کيږي وَهُوَ حَيَوَانٌ دَمَوِيٌّ او [همدارنګه] جنين بچی ويني والا حيوان دی وَمَا هُوَ الْمَقْصُودُ مِنَ الذَّكَاةِ وَهُوَ التَّمْيِيزُ بَيْنَ الدَّمِ وَاللَّحْمِ لَا يَتَحَصَّلُ بِجُرْحِ الْأُمِّ او د ذبح مقصود يعني د ويني او غوښي تر مينځ جلايي راتلل د مور په زخمي کولو سره نه حاصليږي إِذْ هُوَ لَيْسَ بِسَبَبٍ لِخُرُوجِ الدَّمِ عَنْهُ ځکه چي د مور زخمي کول له جنين

شخه د وېني و تلو سبب نه دي [یعني د مور په ذبح کولو سره له جنین شخه وینه نه وځي] فَلَا يُجْعَلُ تَبَعًا فِي حَقِّهِ نو ځکه جنین به [د مور] تابع نه ګرځول کیږي د وېني و تلو په حق کي بِخِلَافِ الْجُرْحِ فِي الصَّيْدِ په خلاف د ښکار والا حیوان د زخمي کولو [چي هغه په دې سره حلالیږي] لِأَنَّهُ سَبَبٌ لِخُرُوجِهِ نَاقِصًا ځکه چي زخمي کول د ناقص [لږ] وېني سبب خو دي [یعني په زخمي کولو سره شه ناشه وینه خامخا له ښکار شخه وځي] فَيُقَامُ مَقَامَ الْكَامِلِ فِيهِ عِنْدَ التَّعَذُّرِ نو په ښکار کي به ناقص د کامل [پوره وېني و تلو] قائم مقام ګرځول کیږي د متعذر کېدلو په وخت کي وَإِنَّمَا يَدْخُلُ فِي الْبَيْعِ تَحَرِّيًا لِلْجَوَازِ كَيْ لَا يَفْسُدَ بِاسْتِثْنَائِهِ او جنین په بیع کي د جواز طلبولو لپاره داخلول کیږي چي د جنین په استثناء کولو سره بیع فاسده نه سي [یعني جنین ځکه په بیع کي داخلول کیږي چي بیع جائز وګرځي، ځکه که په بیع کي د هغه استثناء وسي نو بیع فاسدیږي] وَيُعْتَقُ بِإِعْتَاقِهَا كَيْ لَا يَنْفَصِلَ مِنَ الْحُرَّةِ وَلَدٌ رَقِيقٌ او د مور په آزادولو سره جنین [ځکه] آزادیږي چي له آزادي ښځي شخه غلام بچی جلا نه سي.

اللغات: ﴿يفرد﴾ د افعال د باب د مضارع مجهوله ده: جلا کول، جلا کېدل. یوازي کېدل (تنها کېدل).
﴿الغرة﴾ د دې لفظ شو معناوي دي، دلته یې معنیٰ ده: مینځه. د عبارت مطلب دا دی چي که د مور په نس کي بچی (جنین) ووژل سي، نو یوازي د هغه په بدله کي پوره مینځه واجبیږي. نو معلومه سوه چي بچی له مور شخه جلا او مستقل دی. ﴿رقيق﴾ تر غلامی لاندي، غلام.

تشریح: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چي جنین (بچی) په ډېرو احکامو کي له مور شخه جلا او مستقل دی، په دې هکله یې پنځه دلیلونه پېش کړي دي: ① حتی یتصور حیاته، د مور په نس کي د جنین (بچي) ژوند بالکل مستقل دی، لکه شرنګه چي که مور مړه سي، نو جنین په نس کي ژوندی پاتېدای سي. ② ولهٰذا يُفرد، که حامله ښځه پر نس په لغته ووهل سي او جنین یې مړ سي، نو یوازي د دې جنین په عوض کي به یوه مینځه ور کول کیږي. ③ ويُعتق، که یوازي د مینځي جنین آزاد کړی سي، نو هغه آزادیږي، او مینځه نه آزادیږي (نو دا هم د استقلال دلیل دی).
④ الوصية له، که شوک صرف د جنین لپاره وصیت وکړي مثلاً ووایي چي د دغه ښځي په نس کي چي کوم بچی دی، زما له مال شخه هغه ته دومره مال ورکړئ، نو دا وصیت صحیح دی. ⑤ الوصية به، همدارنګه که شوک وصیت وکړي چي مثلاً زما د غوا په نس کي چي کوم بچی دی، دا فلانکي ته ورکړئ، لیکن غوا به نه ورکوئ، نو دا وصیت هم صحیح دی.

نو دغه پنځه مسئلې د دې خبرې ښکاره دليل دی چې بچی مستقل دی، او د موز تابع نه دی، نو ځکه په ذبح کولو کي به هم د مور تابع نه وي او د مور ذبح به د هغه لپاره کافي نه وي.

وهوحيوان دموي إلخ: دا شپږم دليل دی، حاصل يې دا دی چې د ذبح کولو مقصد دا دی چې وينه له غوښو څخه جلا سي، او جنين داسي حيوان دی چې په هغه کي هم وينه سته (لکه څرنګه چې يې په مور کي سته)، او دا ښکاره ده چې د مور په زخمي کولو او ذبح کولو سره د بچي خپل وينه نه راوځي، نو بيا د ويني راوتلو په حق کي بچی څنګه د مور تابع کول کېدای سي.

له دغو ټولو دلائلو څخه معلومه سوه چې د مور ذبح د جنين بچي ذبح نه سي کېدلای، لهذا د مور په ذبح سره بچی نه حلالیږي.

بخلاف الجرح في الصيد إلخ: صاحبينو او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله چې جنين پر ښکار (صيد) قياس کړی دی، دا قياس صحيح نه دی؛ ځکه په ښکار کي خو د ذبح اضطراري (زخمي کولو) په وجه څه وينه وځي، که څه هم ټوله وينه نه وځي ځکه چې دا متعذره ده، نو هلته د تعذر په وجه ناقص د کامل قائم مقام ګرځول کيږي. او پاته سو د جنين په صورت کي وينه بالکل نه وځي؛ ځکه ښکاره خبره ده چې د مور د ويني په وتلو سره د هغه وينه نه وځي، نه ناقصاً او نه کاملاً، نو ځکه هغه پر ښکار قياسول صحيح نه دي.

وانما يدخل إلخ: او دوی حضرات چې کوم دا خبره کوي چې جنين د مور په بيع کي داخليږي او دا د جزئيت (جزء کېدو) دليل دی، نو د جواب حاصل دا دی چې د جنين د مستقل والي او ناجزئيت دلائل مخکي موږ پېش کړل او پاته سو په بيع کي د جنين داخلېدل دا د جزئيت پر بناء نه دي، بلکي د دې لپاره پکښي داخلول کيږي چې بيع فاسده نه سي، ځکه که په بيع کي د جنين استثناء وسي، نو بيع فاسديږي.

ويعتق إلخ: او د دوی دا خبره چې د مور په آزادېدلو سره جنين هم آزاديږي، د هغه په جواب کي فرمايي چې د مور د آزادېدلو په وجه چې جنين آزاديږي، هغه د جزئيت پر بناء نه دي، بلکي قاعده دا ده چې د آزاد بچی هم آزاد وي، او که داسي نه وسي نو له آزادي ښځي څخه د غلام بچي جلا کېدل لازميږي، کوم چې صحيح نه دي.

لنډه دا چې د مذکوره دلائلو په وجه، همدارنګه د احتياط اړخ ته د ترجيح ورکولو په وجه موږ وايو چې د مور په ذبح سره جنين نه حلاليږي، نو ځکه نه به خوړل کيږي.

يادونه: په عبارت کي د صاحبينو او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله د ذکر کړه حديث جواب نه دی ورکول سوی، د هغه جواب دا دی چې دغه حديث د تشبيه لپاره دی او مفهوم يې دا دی چې "ذكاةُ الجنين كذكاة أمه" يعني څرنګه چې مور ذبح کول کيږي، همداسي که جنين بچی د مور له نسه ژوندی را وايستل سي، نو خاص د مور په څېر به ذبح کول کيږي او خوړل کيږي.

او بل دا چې د لته د حلت او حرمت اجتماع ده چې په داسي صورت کي حرمت ته ترجيح ورکول کيږي، همدارنګه د يوه نفس ذبح څنګه د دوو نفسونو ذبح کېدلای سي !، نو ځکه أصح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی چې د مور ذبح د جنين لپاره نه کافي کيږي او هغه نه حلاليږي. (احسن الهدايه، اشرف الهدايه)

فَصْلٌ فِيمَا يَحِلُّ أَكْلُهُ وَمَا لَا يَحِلُّ

(دا) فصل په بيان د هغه حيواناتو کي دی چي خوړل يې حلال دي او هغه چي خوړل يې حلال نه دي

تشريح: د ذبح د مشروعيت اصل مقصد د ښکارونو او حيواناتو غوښه وغيره حلالول دي (چي د انسان لپاره يې خوړل او استعمالول حلال او روا سي). نو ځکه صاحب د کتاب د ذبح له تفصيلاتو څخه تر فارغ کېدو وروسته د حيواناتو او ښکارونو تفصيلات بيانوي.

د حرامو حيواناتو او مرغانو بيان (چي خوړل يې حرام دي)

قَالَ: وَلَا يَجُوزُ أَكْلُ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَلَا ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطُّيُورِ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او جائز نه دي له درنده ګانو څخه د داړي لرونکي [او ښيرونکي] حيوان خوړل او نه [جائز دي] له مرغانو څخه د منګول لرونکي مرغه خوړل [په بله وينا دا چي: او روا نه دي خوړل د داړه داره [ښيرونکو] درندګانو او نه د منګول داره مرغانو] لِأَنَّ «النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ نَهَى (1) عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطُّيُورِ وَكُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ» ځکه نبي ﷺ له مرغانو څخه د هر منګول داره او له درندګانو څخه د هر داړه داره له خوړلو څخه منع کړې ده وَقَوْلُهُ مِنَ السِّبَاعِ ذُكِرَ عَقِيبَ النَّوْعَيْنِ او د نبي کريم ﷺ دا فرمان "مِنَ السِّبَاعِ" تر دواړو قسمونو وروسته ذکر سوی دی فَيَنْصَرِفُ إِلَيْهِمَا نو ځکه د دواړو وطرف ته به راجع وي فَيَتَنَاوَلُ سِبَاعَ الطُّيُورِ وَالْبَهَائِمِ نو درنده مرغانو او چارپايانو دواړو لره به شامل وي [يعني مرغان او حيوانان دواړه قسمه درندګانو لره به شامل وي] لَا كُلُّ مَا لَهُ مِخْلَبٌ أَوْ نَابٌ نه هر منګول دار او داړه دار لره [بلکي صرف هغه درنده (ښيرونکي) لره] وَالسَّبُعُ كُلُّ مُخْتَطِفٍ مُنْتَهِبٍ جَارِحٍ قَاتِلٍ عَادٍ عَادَةً او سَبُع هر هغه حيوان دی کوم چي غوټه وهونکی، لوټونکی، زخمي کونکی، وژونکی او حمله کونکي وي د عادت په اعتبار سره [يعني کوم چي عادتاً او فطرتاً دغه اوصاف لري].

اللغات: ﴿ذو ناب﴾ د ښيرونکي حيوان په خوله کي دوه تېره اوږده غاښونه وي چي په هغه سره دئ ښيرل کول. دې ته ذو ناب حيوان ويل کيږي، او کوم حيوان (ساکښ) چي تېره منګولي او تېره

(1) تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الذبائح، باب تحريم أكل ذي ناب من السباع، حديث رقم:١٦.

مشوکه لري چي په هغه سره نيول کوي او مرغان څيري، هغه ته ذو مخلب مرغه وايي. ﴿سِبَاع﴾ جمع د سَبُع ده: درنده، څيرونکی. ﴿مخلب﴾ منګول (منګولي)، پنجه. ﴿مختطف﴾ دافتعال د باب فاعل دی: په ډېر تېزي سره راتلونکی او شی اخيستونکی، ناڅاپه غوټه وهونکی. ﴿منتهب﴾ د انفعال د باب فاعل دی: لوټونکی (لوټمار کونکی)، په زوره د شي اخيستونکی. ﴿جارح﴾ د نصر د باب فاعل دی: زخمي کونکی. ﴿عاد﴾ په اُردو شروحو کي د دې لفظ معنیٰ په سرکښ او حمله کونکي سره سوې ده.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي درنده (څېرونکی) برابره ده ذوناب (داړه مار حيوانان) وي او که ذو مخلب (منګولو والا مرغان) وي، د هغه خوړل حلال او روا نه دي؛ ځکه نبي کريم ﷺ په حديث شريف کي د منګول لرونکو څيرونکو مرغانو او د څيرونکو حيوانانو او درندګانو له خوړلو څخه منع کړې ده. او په حديث شريف کي د "من السباع" لفظ له ذو مخلب او ذو ناب دواړو قسمونو څخه وروسته ذکر سوی دی، نو ځکه دا دواړه د هغه مصداق جوړېږي يعني له مرغانو او حيوانانو څخه هر درنده يعني څيرونکي او په منګولو او داړو سره ښکارونکي حرامُ الأکل دي، کنې کوم حيوان چي ښکار کونکی او په داړو سره څيرونکی نه وي مثلاً اوښ، غوا، پسه او داسي نور، يا کوم مرغه چي ښکار کونکی او په منګلو سره څيرونکی نه وي مثلاً کوتره، مېنو او داسي نور، نو هغه په دې لفظ کي نه داخلېږي.

والسبع إلخ: سبع کوم حيوان ته وايي؟، صاحب د هدايي رَحِمَهُ الله دلته د هغه څو لوصاف بيان کړي دي چي هر هغه حيوان کوم چي په فطري او عادتي توګه ناڅاپه حمله کونکی (راغور ځېدونکی) او چاپه وهونکی وي، او د نورو شيانو وژونکی او ختمونکی وي مثلاً زمری، لېوه، چي فطرتاً په درندګانو کي شامل او د مذکوره اوصافو حامل دی، نو په داسي اوصافو سره متصف حيوانات په سبع او درنده توب کي داخل دي، برابره ده له هغوی څخه د دغه ډول کارونو صدور کيږي، که نه. لهذا که يو لموخته زمری، يا اموخته لېوه وي کوم چي حمله نه کوي، نو بيا هم هغه درنده دی؛ ځکه چي مذکوره لوصاف او کارونه د هغه له فطرت او عادت څخه دي.

د درنده د حرامېدلو وجه (د انسان شرافت او کرامت)

وَمَعْنَى التَّحْرِيمِ (وَاللّٰهُ أَعْلَمُ) كَرَامَةُ بَنِيْ آدَمَ او [د درندګانو] د حرامولو وجه (والله اعلم) د انسان احترام دی كَيْ لَا يَعْدُوَ شَيْءٌ مِنْ هٰذِهِ الْأَوْصَافِ الذَّمِيْمَةِ إِلَيْهِمْ بِالْأَكْلِ چي [د هغوی] د خوړلو په وجه له دغو بدلو صفتونو څخه د انسانانو وطرف ته څه سرايت نه وکړي وَيَدْخُلُ فِيْهِ الضَّبُعُ وَالثَّعْلَبُ او په حرمت کي کوږ او ګيدړ هم داخل دي فَيَكُوْنُ الْحَدِيْثُ حُجَّةً عَلَى الشَّافِعِيِّ فِيْ إِبَاحَتِهِمَا نو [مذکوره]

حديث به د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت وي د دې دواړو په روا ګرځولو کې وَالْفِيلُ ذُوْ نَابٍ او فيل [هم] داړې لرونکی حيوان دی [يعني فيل که څه هم ځيرونکی حيوان نه دی. لېکن د هغه مخ ته د ښکرو په شان دوې اوږدې داړې دي چې "ناب" ورته وايي. نو فيل که څه هم حرام نه دی خو حلال هم نه دی بلکې مکروه دی] فَيُكْرَهُ نو ځکه مکروه دی وَالْيَرْبُوعُ وَابْنُ عِرْسٍ مِنَ السِّبَاعِ الْهَوَامِّ او ځنګلي موږک او موش خورما له درنده حشراتو څخه دي [ځکه چې دوی هم پر نورو کوچني حشراتو حمله کونکي او ځيرونکي يې دې او په همدې ګذاره کوي] وَكَرِهُوا أَكْلَ الرَّخَمِ وَالْبُغَاثِ او فقهاؤ د مړزګه خور [کرګس] او بغاث خوړل مکروه ګرځولي دي لِأَنَّهُمَا يَأْكُلَانِ الْجِيَفَ ځکه چې دا دواړه مړزګي خوري.

اللغات: ﴿لا يعدو﴾ د نصر له بابه د نفي صيغه ده: تجاوز کول او منتقل کېدل (احسن. اثمار). ﴿الضبع﴾ کوړ. کفتار. ﴿ثعلب﴾ چغال. ګيدړه. ابن انباري رَحِمَهُ الله وايي چې "يقع على الذكر والأنثىٰ". ﴿اليربوع﴾ ساراني موږک. ځنګلي موږک. ﴿ابن عرس﴾ موش خرما (ميشخورما). له مږي څخه غټ حيوان دی چې اوږده بيره لکۍ لري. ﴿الهوامّ﴾ جمع د هَامَّةٌ ده (په تشديد د ميم سره): ① صاحب د معجم د دې لفظ دا معناوي ذکر کړي دي: حشرات (خزندې) او زهر لرونکي حيوانات. هر زهر لرونکی پر ځمکه تلونکی کوچنی ساکښ (معجم لغة الفقهاء). ② صاحب د حاشيې د دې لفظ معنیٰ په دَابَّةٌ سره کړې ده. يعني پر ځمکه تلونکي څه. ③ او اُردو شارحينو يې معنیٰ کړې ده: پر ځمکه ښکېدونکی. ﴿الرخم﴾ او الرخمة: کرګس. مړزګه خور. لاش خور چې "کجير" هم ورته وايي. يو غټ الوتونکی مرغه دی کوم چې زياتره وخت مړزګه (مرداره) خوري. ﴿البغاث﴾ دا هم کرګس ته مشابه مرغه دی خو تر هغه کوچنی دی. او چې چيرې کرګس مرداره خوري. نو زياتره وخت بغاث هم هلته ور سره وي. ﴿الجِيَف﴾ جمع د جِيْفَةٌ ده: مړزکه. مرداره. هر هغه مړ سوی حيوان وغيره چې بدبويه سي. صاحب د مصباح يې داسي تعريف کړی دی: اَلْجِيْفَةُ :مَيْتَةُ مِنَ الدَّوَابِّ وَالْمَوَاشِيْ إِذَا أَنْتَنَتْ. وَالْجَمْعُ جِيَفٌ مِثْلُ: سِدْرَةٍ وَسِدَرٍ. سُمِّيَتْ بِذٰلِكَ لِتَغَيُّرِ مَا فِيْ جَوْفِهَا.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د درنده حيوانانو او مرغانو (کوم چې ځيرونکي وي) د حرامولو وجه غالبا دا ده چې د دوی په فطرت کې خباثت او شرارت اخښلی دی. لهذا که دوی حِلال وګرځول سي. نو انسان کوم چې اشرف المخلوقات دی هغوی به خوري او په ده کې به هم د هغوی خبيثه خصلتونه پيدا سي. نو ځکه دوی حرام ګرځول سوي دي چې انساني شرافت او کرامت په رذالت او خباثت بدل نه سي.

فرمايي چي کوړ او چغال هم په درندګانو کي داخل دي او د مخکيني حديث پر بناء هم دا حرام دي (چي په هغه کي له درنده څخه منع سوې ده)، حال دا چي امام شافعي رَحِمَهُ الله دوی حلال ګرځولي دي، نو هغه مخکيني حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت او دليل دی.

همدارنګه فيل نو کداره غابنونه او داړي لري، خو ځرنګه چي په هغه کي د درنده ټوب ټوله اوصاف نسته، نو ځکه هغه مکروه تحريمي ګرځول سوی دی، همدارنګه ځنګلي موږک او موښ خورما هم له درنده وو څخه دي او د درنده توب ځيني اوصاف پکښي سته، نو ځکه دوی هم مکروه تحريمي ګرځول سوي دي.

او فقهاؤ کرګس (مږګه خور) مرغه او د هغه همشکل مرغه يعني بغاث هم مکروه ګرځولي دي: ځکه دوی چي هر ځای مړزګه (مردار سوی حيوان) او لاش ويني نو هغه ته ورځي او خوري يې.

د کارګه قسمونه او د هغوی حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِغُرَابِ الزَّرْعِ فرمايي: او څه پروا نسته د کښت والا کارګه په خوړلو کي لِأَنَّهُ يَأْكُلُ الْحَبَّ وَلَا يَأْكُلُ الْجِيَفَ ځکه چي هغه دانې خوري او مړزکي نه خوري وَلَيْسَ مِنْ سِبَاعِ الطَّيْرِ او هغه له درنده [ښيرونکو] مرغانو څخه نه دی قَالَ: وَلَا يُؤْكَلُ الْأَبْقَعُ الَّذِي يَأْكُلُ الْجِيَفَ فرمايي: او نه به خوړل کيږي أبقع کارګه کوم چي مړزکي خوري وَكَذَا الْغُدَافُ او همدا ډول غداف کارګه وَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ: لَا بَأْسَ بِأَكْلِ الْعَقْعَقِ او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د کيږکي په خوړلو کي څه پروا نسته لِأَنَّهُ يُخَلِّطُ ځکه چي هغه [د پاک او مردار ترمينځ] اختلاط کوي [يعني کله ګندګي خوري او کله بيا دانې خوري] فَأَشْبَهَ الدَّجَاجَةَ نو د چرګي مشابه سوه وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يُكْرَهُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چي کيږکه مکروه ده لِأَنَّ غَالِبَ أَكْلِهِ الْجِيَفُ ځکه چي د هغه عام خوراک مړزکي دي.

اللغات: ﴿غراب الزرع﴾، ﴿الأبقع﴾، ﴿الغُدَاف﴾ د کارګه څو قسمونه دي چي له هغوی څخه يې مشهوره درې قسمونه دي: او غالباً زموږ په علاقو کي دا ټوله وجود نه لري نو ځکه په پښتو کي د دې هر قسم لپاره يې ځانګړی نوم نسته: ① اول قسم کارګه د عامو مرغيو په څير ګرځي او په کښتونو او کټيانو کي دانې او چينجي مينجي خوري، همدې ته "غراب الزرع" وايي. ② دويم قسم کارګه چي د هغه مښکوکه ټېره او را پېچلې وي او په تور والي کي يې څه سپينوالي غونډي وي او د غاړې

سره يې څه سپينوالى څرګند وي، دا دېر هوښيار قسم کارګه دي د خلګو کورو ته ورځي او د چرګو چيچيان ورې او خوري يې همداسي که يو ځاى مړژګه او مرداره ووينې نو په هغه ګذاره کوي، همدې کارګه ته "أَبْقَع" وايي، ③ دريم قسم کارګه بالکل تک تور وي او له مخکيني کارګه څخه څه غوندي غټ وي، دا د مخکيني کارګه په څير ښکار نه سي کولاى، بلکي دئ خوشايي، خرشينه او له داسي نورو څخه دانې راباسي او خوري يې او د مړژګي وغيره غوښي هم خوري، همدې ته "غُذَان" کارګه وايي، ﴿العقعق﴾ کيږکه، ګيژکه، کشکره.

تشريح: څرنګه چي د کښت کارګه فقط غله او دانې خوري، مردار سوي حيوان او ګندګي ته ورنژدې کيږي هم نه، نو ځکه د هغه په خوړلو کي څه حرج نسته. او په دې وجه هم چي د حرمت او کراهيت تعلق د درنده توب او خباثت سره دي، او د کښت په کارګه کي دا دواړه شيان نسته.

ولايؤكل الأبقع إلخ: د دې حاصل دا دی چي هغه کارغان کوم چي ګندګي او پليتي خوري د هغوی خوړل روا نه دي؛ ځکه ښکاره ده چي د دوی وده او نما په غلاظت او ګندګي سره کيږي.

او پاته سوه کيږکه (ګيژکه) نو د امام د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغه خوړل روا دي، ځکه هغه فقط ګندګي نه خوري بلکي نور پاک شيان هم خوري، نو د چرګي سره مشابه سوه، او چرګه حلاله ده، نو ګيژکه به هم حلاله وي.

خو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز ګيږکه هم مکروه ده؛ ځکه هغه غالباً ګندګي مړژګي او مرداري خوري، نو په دې وجه يې نه خوړل ډير غوره دي..

يادونه: د خوراک په اعتبار سره د کارګه درې قسمونه دي: ① کوم چي فقط دانې خوري، دا مکروه نه دي، ② کوم چي فقط ناپاکي او ګندګي خوري، دا مکروه دي، ③ کوم چي کله دانې او کله ګندګي خوري، دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مکروه نه دي او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز مکروه دي، کذا في مجمع الأنهر. (ج: ۲، ص: ۴۹۵)

د کومو ځارويو خوړل مکروه دي

قَالَ: وَيُكْرَهُ أَكْلُ الضَّبُعِ وَالضَّبِّ وَالسُّلَحْفَاةِ وَالزُّنْبُورِ وَالْحَشَرَاتِ كُلِّهَا فرمايي: او مکروه دي خوړل د کوږ، دښتي سمسارې، کيشپ، غالبوزي او د ټولو خزندو أَمَّا الضَّبُعُ فَلِمَا ذَكَرْنَا هر چي کوږ دی نو د هغه دليل په وجه [مکروه دی] کوم چي موږ ذکر کړی [چي کوږ هم ذی ناب درنده دی] وَأَمَّا الضَّبُّ

فَلِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ[1] نَهَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حِيْنَ سَأَلَتْهُ عَنْ أَكْلِهِ او کوم چي دښتي سمساره ده نو هغه ځکه [مکروه ده] چي نبي کريم ﷺ حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له هغې څخه منع کړه کله چي دې مبارکي له نبي ﷺ څخه د هغه د خوړلو په هکله پوښتنه وکړه وَهِيَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ فِي إِبَاحَتِهِ او دا حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی [چي هغه ضَبّ حلال ګرځولی دی] وَالزُّنْبُوْرُ مِنَ الْمُؤْذِيَاتِ او غالبوزه له ضرر رسونکو خزندو څخه ده وَالسُّلَحْفَاةُ مِنْ خَبَائِثِ الْحَشَرَاتِ او کيشپ له بدترينه حشراتو څخه دی وَلِهٰذَا لَا يَجِبُ عَلَى الْمُحْرِمِ بِقَتْلِهِ شَيْءٌ په همدې وجه د هغه په وژلو سره پر محرم کس هيڅ شی نه واجبيږي وَإِنَّمَا تُكْرَهُ الْحَشَرَاتُ كُلُّهَا اِسْتِدْلَالًا بِالضَّبِّ او حشرات ټوله پر ضَبّ په استدلال کولو [او پر هغه په قياس کولو] سره مکروه دي [يعني حشراتُ الأرض او خزندې ځکه مکروه دي چي پر دښتي سمساري قياس کړل شوي دي] لِأَنَّهُ مِنْهَا ځکه چي ضبّ هم له حشراتو څخه دی.

اللغات: ﴿الضبّ﴾ د ښتي سمساره. ﴿سلحفاة﴾ کيشپ (کيشو)، چي په سرحدي پښتو کي کاسه ګرپ او شمشتی هم ورته وايي. ﴿زُنْبُوْر﴾ غالبوزه. ﴿حشرات﴾ خزندې.

تشريح: فرمايي چي د کوږ (کفتار) خوړل مکروه دي؛ ځکه چي له درندګانو څخه دی او په حديث کي صراحتاً له درنده څخه منع سوې ده.

همداسي د ضبّ (دښتي سمسارې) خوړل هم مکروه دي؛ ځکه په حديث د عائشې رضی الله عنها کي له دې څخه منع سوې ده، او امام شافعي رَحِمَهُ الله چي د ضبّ خوړل مباح او روا ګرځولي دي، دا حديث د هغه په خلاف حجت او دليل دی، چي په دې کي صراحتاً نبي ﷺ حضرت عائشه د هغه له خوړلو څخه منع کړې ده.

او څرنګه چي غالبوزي زهرجنې او موذي حشرات دي، نو ځکه د هغوی خوړل هم مکروه دي. او کيشپ هم له ځمکني حشراتو څخه شمېرل سوی دی بلکي د هغوی له خبائثو څخه دی، نو ځکه د هغه خوړل هم مکروه دي؛ د کيشپ د خبيث کېدلو يو دليل دا هم دی چي که محرم کس هغه قتل کړي، نو پر هغه هيڅ تاوان نه لازميږي.

---

[1] تخريج: أخرجه إبوداؤد في كتاب الأطعمة، باب في أكل الضبّ، حديث رقم: ۳۷۹۶.

وإنما تكره الحشرات إلخ: د حشراتو د مکروه کېدلو دليل دا دی چې ضبّ (دښتني سمساره) د حديث پر بناء مکروه ګرځول سوې ده، نو پر هغه په قياس کولو سره دا نور حشرات هم مکروه دي؛ ځکه چې ضبّ له حشراتُ الأرض څخه ده او مکروه ده، نو ځکه د تمام حشراتُ الأرض به همدغه حکم وي.

د کورني خره، غاتړي او آس حکم

قَالَ: وَلَا يَجُوْزُ أَكْلُ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَالْبِغَالِ فرمايي: او د کورني خرونو او غاترو خوړل جائز نه دي لِمَا رَوٰى خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ رضي الله عنه «أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم نَهٰى عَنْ لُحُوْمِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيْرِ» [1] ځکه حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه روايت کړی دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د آسونو، غاترو او خرونو له غوښو څخه منع کړې ده وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه «أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَهْدَرَ الْمُتْعَةَ وَحَرَّمَ لُحُوْمَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ يَوْمَ خَيْبَرَ» [2] او له حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت سوی دی چې نبي عليه السلام د خيبر په ورځ متعه باطله کړه او د کورني خرونو غوښې يې حرامي کړې قَالَ: وَيُكْرَهُ لَحْمُ الْفَرَسِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ فرمايي: او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د آس غوښې مکروه دي وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ او همدا د امام مالک رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ وَالشَّافِعِيُّ: لَا بَأْسَ بِأَكْلِهِ صاحبين او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چې د آس غوښې خوړل پروا نه لري [څه حرج پکښې نسته] لِحَدِيْثِ جَابِرٍ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ: «نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَأَذِنَ فِيْ لُحُوْمِ الْخَيْلِ يَوْمَ خَيْبَرَ» [3] د حضرت جابر رضي الله عنه د حديث په وجه چې نبي صلى الله عليه وسلم د خيبر په ورځ د کورني خرونو له غوښو څخه منع وکړه او د آس د غوښو اجازه يې وکړه.

---

[1] تخريج: أخرجه النسائي، باب تحريم أكل لحوم الخيل، ص:۶۰۲، حديث رقم:۴۳۳۷، وابن ماجه، باب لحوم البغال، ص:۴۶۴، حديث رقم:۳۱۹۸.

[2] تخريج: أخرجه البخاري بمعناه، باب لحوم الحمر الانسية، ص:۸۲۹، حديث رقم:۵۵۲۳.

القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله مع الكراهة التنزيهيّة، قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: الخيل عندهما والشافعي تحل، وقيل: إن أبا حنيفة رجع عن حرمته قبل موته بثلاثة أيام وعليه الفتوىٰ... وقال ابن عابدين: قوله وعليه الفتوىٰ فهو مكروه كراهة تنزيه وهو ظاهر الرواية (رد المحتار ج:۵، ص:۲۱۴)، ومجمع الأنهر (ج:۴، ص:۱۶۲). [القول الراجح ج:۲، ص: ۲۹۰]

[3] تخريج: أخرجه البخاري بمعناه، باب لحوم الخيل، ص:۹۸۳، حديث رقم:۵۵۲۰، ومسلم، باب إباحة أكل لحوم الخيل، ص:۸۲۸، حديث رقم: ۱۹۴۱/ ۵۰۲۲.

اللغات: ﴿أهدر﴾ د افعال د باب ماضي ده: لغو كول، باطلول.

تشريح: په دې عبارت كې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دوې آسانه مسئلې بيان کړې دي:

(۱)... دائمه وو په اتفاق د كورني خرونو او غاترو غوښې خوړل جائز نه دي؛ ځکه نبي كريم ﷺ د خيبر پر موقع صراحتاً دوی حرام وګرځول.

(۲)... دويمه مسئله دائمه وو تر مينځ مختلف فيه ده، هغه دا چې د امام صاحب او امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز د آس غوښې مکروه دي، او د صاحبينو او امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د آس غوښې خوړل جائز دي، څه حرج نه لري؛ د دوی دليل د حضرت جابر رضي الله عنه هغه حديث دی چې په هغه کې د كورني خره له غوښو څخه ممانعت سوی دی او د آس د غوښو اجازت ورکول سوی دی. (د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل را روان دی)

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً﴾ [النحل: ۸] او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د الله جل جلاله دا فرمان دی: او [باري تعالىٰ پيدا كړي دي] آسونه، غاترې او خرونه د دې لپاره چې تاسې پر هغه سپارلي وکړئ او [دوی] ښکلا ده [يعني باري تعالىٰ دوی زينت ګرځولي دي چې دوی سبب د زينت او ښکلا دي] خَرَجَ مَخْرَجَ الِامْتِنَانِ د الله تعالىٰ دا فرمان د احسان يادوني پر موقع وارد سوی دی [ځکه د سورة النحل له پنځم آيت څخه د احساناتو سلسله پېلېږي] وَالْأَكْلُ مِنْ أَعْلَى مَنَافِعِهَا او خوړل د دوی ډېر لوړ [ستر] منفعت دی وَالْحَكِيمُ لَا يَتْرُكُ الِامْتِنَانَ بِأَعْلَى النِّعَمِ وَيَمْتَنُّ بِأَدْنَاهَا او حکيم داسې نه کوي چې د لوړ [ستر] نعمت احسان يادونه [احسان اچونه] پرېږدي او د ادنىٰ منفعت احسان يادونه وکړي [دا د حکيم له شان څخه نه دي] وَلِأَنَّهُ آلَةُ إِرْهَابِ الْعَدُوِّ او ځکه چې آس د دښمن د مرعوبه کولو [او دارولو] آله ده فَيُكْرَهُ أَكْلُهُ احْتِرَامًا لَهُ نو د آس د احترام په وجه د هغه خوړل مکروه دي وَلِهَذَا يُضْرَبُ لَهُ بِسَهْمٍ فِي الْغَنِيمَةِ په همدې وجه د آس لپاره په غنيمت کې حصه ټاکل کيږي وَلِأَنَّ فِي إِبَاحَتِهِ تَقْلِيلَ آلَةِ الْجِهَادِ او ځکه چې د دې په روا ګرځولو کې د جهادي آلې کمول سته [چې د ذبح کولو او خوړلو په وجه به آسونه کم سي] وَحَدِيثُ جَابِرٍ رضي الله عنه مُعَارِضٌ بِحَدِيثِ خَالِدٍ رضي الله عنه او د حضرت جابر رضي الله عنه حديث د حضرت خالد رضي الله عنه د حديث سره معارض دی وَالتَّرْجِيحُ لِلْمُحَرِّمِ او ترجيح

حرامونكي دليل لره وي ثُمَّ قِيْلَ: اَلْكَرَاهَةُ عِنْدَهُ كَرَاهَةُ تَحْرِيْمٍ بيا ويل سوي دي: چې كراهت [مكروه والى] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز كراهت تحريمي دى وَقِيْلَ: كَرَاهَةُ تَنْزِيْهٍ او ويل سوي دي: چې كراهت تنزيهي دى وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ ليكن اول قول زيات صحيح دى [چې كراهت تحريمي دى] وَأَمَّا لَبَنُهُ فَقَدْ قِيْلَ: لَا بَأْسَ بِهِ او پاته سو د آس [اسپي] شيدې نو ويل سوي دي: چې په [چيښلو او كارولو د] هغه كي هيڅ حرج نسته لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيْ شُرْبِهِ تَقْلِيْلُ آلَةِ الْجِهَادِ ځكه چي د هغوى په چيښلو كي د جهادي آلې كمول نسته.

اللغات: ﴿امتنان﴾ د افتعال د باب مصدر دى: احسان اچول، احسان وريادول، منت باري. ﴿إرهاب﴾ د افعال د باب مصدر دى: ډارول، ترهول، بېرول. ﴿إباحة﴾ مباح او روا گرځول، حلال كول.

تشريح: د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول دليل دا دى چي په قرآن كي د څارويو د بيان پر مهال الله تعالىٰ فرمايلي دي ﴿وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ لِتَرْكَبُوْهَا وَ زِيْنَةً﴾ په دې ځاى كي باري تعالىٰ پر بندگانو د خپلو احساناتو يادونه كوي او دلته د آسونو وغيره د خلقت مقصد سپارلي او زينت ښوول سوى دى او په دې كي د خوراک هيڅ تذكره نسته، نو كه چيري د دوى خوړل جائز واى كوم چي تر ټولو اعلىٰ منفعت او نعمت دى، نو د دغه احسان پر موقع به الله تعالىٰ حتماً د دې يادونه هم كولاى چي "لِتَأْكُلُوْهَا" وغيره. او الله جَلَّ جَلَالُهُ حكيم ذات دى او حكيم چي كله د خپلو احساناتو يادونه كوي نو د ډېر غټ نعمت يادونه نه پرېږدي، لنډه دا چي د باري تعالىٰ سكوت عن بيان الأكل د دې خبري دليل دى چي د آس وغيره غوښې به نه خوړل كيږي (ځكه سكوت عن بيان الأكل دا څرگندوي چي د آس وغيره غوښې خوړل د دوى له اعلىٰ منافعو څخه نه دي، نو ځكه يې خوړل مكروه دي).

ولأنه آلة إرهاب إلخ: دويم دليل كوم چي عقلي دى دا دى چي آس د جهاد كولو او له دښمنانو سره د جنگ پر مهال د هغوى د مرعوبه كولو او ډارلو غوره ذريعه ده، په همدې وجه د آس لپاره په مال غنيمت كي خپل حصه ټاكل سوې ده (چي د هغه تفصيل مخكي تېر سو)، نو احتراماً به د هغه خوړل مكروه وي، او بل دا چي كه د هغه د خوړلو اجازت وركول سي، نو د جهاد په مقصد كي به كمي او نقص لازم سي كوم چي صحيح نه دي، نو په دې وجه هم د هغه خوړل مباح نه دي گرځول سي.

وحدیث جابر إلخ: له دې ځایه د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د دلیل جواب ورکوي چې سمه ده! د جابر رضي الله عنه له حدیث څخه د آس د غوښو حلت څرګندیږي، لیکن د خالد بن ولید رضي الله عنه له حدیث څخه د هغه حرمت څرګندیږي، او د فقهي قاعده دا ده: "إذا اجتمع الحلال والحرام أو المُحَرِّمُ وَالْمُبِيْحُ، غلب الحرام و المُحَرِّم" چې کله حلال او حرام یا حرامونکی دلیل او مباح ګرځونکی دلیل سره جمع سي، نو په دې وخت کې د حرمت جانب لره ترجیح ده، او د خالد بن ولید رضي الله عنه په حدیث سره دلته حرمت ثابتیږي، نو ځکه دلته به هم دغه جهت او جانب لره ترجیح حاصله وي او د آس د غوښو خوړل به صحیح نه وي.

ثم قیل الکراهة إلخ: فرمایي چې د صحیح قول مطابق د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دا کراهت تحریمي دی (یعني د آس غوښې مکروه تحریمي دي)، او بعضې حضراتو دا تنزیهي ګرځولی دی، خو دا صحیح نه ده.

او څرنګه چې د اسپې (آسې) د شیدې په استعمالولو کې نه د آلۀ جهاد کمې راځي او نه دا د آس احترام منافي دي، نو ځکه د هغې د شیدو په استعمال کې څه حرج او پروا نسته.

د سوی (سوی ګي) حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِأَكْلِ الْأَرْنَبِ فرمایي: او د سوی په خوړلو کې څه پروا نسته لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] أَكَلَ مِنْهُ حِينَ أُهْدِيَ إِلَيْهِ مَشْوِيًّا ځکه چې نبي ﷺ له هغه څخه خوراک کړی دی کله چې هغه نبي ﷺ ته سور کړی [کباب کړی سوی] هدیه کړی سو [یعني کله چې نبي ﷺ ته د سوی کباب کړل سوي غوښې په هدیه کې پېش کړل سوې نو نبي ﷺ له هغه څخه څه وخوړل] وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ بِالْأَكْلِ مِنْهُ او نبي ﷺ خپل صحابه وو ته د هغه د خوړلو حکم وکړی وَلِأَنَّهُ لَيْسَ مِنَ السِّبَاعِ وَلَا مِنْ أَكَلَةِ الْجِيَفِ او ځکه چې سوی له درندګانو څخه نه دی او نه د مرزګو له خوړونکو څخه دی فَأَشْبَهَ الظَّبْيَ نو د هوسی مشابه سو.

اللغات: ﴿الأرنب﴾ سوی، سویه، ﴿مشويّ﴾ پر اور سور کړل سوی، کباب کړی سوی، ﴿ظبي﴾ هوسی، ﴿جِيَف﴾ جمع د جِيفَةٌ ده: مرزګه، تفصیلي تعریف یې مخکې تېر سو.

---

[1] تخریج: أخرجه مسلم في کتاب الصید، باب إباحة الأرنب، حدیث رقم: ۱۹۵۳/ ۵۰۴۸.

تشریح: دعبارت حاصل دا دی چي یو ځل رسول الله ته سُوی (أرنب) په هدیه کي پېش کړل سو، نو هغوی ﷺ خپله هم له هغه ځخه خوراک وکړی او نورو صحابه وو ته یې هم دهغه دخوړلو حکم وکړی، نو دا نبوي عمل د دې خبري دلیل دی چي د سوي په خوړلو کي څه حرج او پروا نسته. او بل دا چي د حرمت او کراهت تعلق د درنده توب او مردار خوري سره دی (چي ځیرونکي وي. مردار او ګنده شیان خوري)، او سُوی له دې دواړو شیانو ځخه منزه او پاک دی، نو د هوسي مشابه سو، او د هوسي خوړل جائز دي، نو د هغه خوړل به هم جائز او حلال وي.

په ذبح سره د حرام حیوان د پاکېدلو بیان

قَالَ: وَإِذَا ذُبِحَ مَا لَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمایي: او کله چي ذبح کړی سي هغه حیوان چي غوښي یې نه خوړل کیږي [مثلاً چغال] طَهُرَ جِلْدُهُ وَلَحْمُهُ نو د هغه څرمن او غوښي پاکیږي [لهذا که اوس د هغه پر څرمن لمونځ وسي نو جائز دي. همداسي که دلمانځه پر مهال د هغه د غوښو ټوټه وغیره په جیب کي وساتل سي نو جائز دي] إِلَّا الْآدَمِيَّ وَالْخِنْزِيرَ خو نه انسان او خنزیر فَإِنَّ الذَّكَاةَ لَا تَعْمَلُ فِيهِمَا ځکه چي ذبح [حلالول] په دې دواړو کي اثر نه کوي أَمَّا الْآدَمِيُّ فَلِحُرْمَتِهِ وَكَرَامَتِهِ کوم چي انسان دی نو د هغه د احترام او عظمت په وجه وَالْخِنْزِيرُ لِنَجَاسَتِهِ او د خنزیر د نجس والي په وجه كَمَا فِي الدِّبَاغِ لکه ځرنګه چي په دباغت کي دي [چي دباغت هم په دوی کي اثر نه کوي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: الذَّكَاةُ لَا تُؤَثِّرُ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي ذبح په دې ټولو کي اثر نه کوي لِأَنَّهُ يُؤَثِّرُ فِي إِبَاحَةِ اللَّحْمِ أَصْلًا ځکه چي ذبح د اصل په توګه د غوښو په مباح [روا] کولو کي اثر کوي وَفِي طَهَارَتِهِ وَطَهَارَةِ الْجِلْدِ تَبَعًا او د تابع په توګه د غوښو په پاکولو او د څرمن په پاکولو کي اثر کوي [یعني په ذبح سره اولاً غوښي حلالیږي او بیا د حلال والي په ضمن او متابعت کي هغه او څرمن پاکیږي هم] وَلَا تَبَعَ بِدُونِ الْأَصْلِ او له اصل ځخه بغیر تابع والی نسته [مطلب دا چي په کوم حیوان کي په ذبح سره اصل (اباحتِ لحم) نه ثابتیږي نو په هغه کي تابع (طهارتِ جلد ولحم) هم نه ثابتیږي] وَصَارَ كَذَبْحِ الْمَجُوسِيِّ او دا د مجوسي د ذبح په څېر سو.

اللغات: ﴿جلد﴾ څرمن. پوست. ﴿دباغ﴾ دباغت. پوست ته رنګ ورکول. څرمن وچول او پخول (یعني د مسالې. مالګي یا د لمر او داسي نورو شیانو په ذریعه د پوست لوندوالی او بدبویي ورختمول چي هغه ته زموږ په

اصطلاح غالباً څرمن رنګول [رنګ ورکول] وايي)، الدِّبَاغ: (بالکسر): هغه څه په کوم سره چي پوست رنګ او وچ کړی سي (ما يُدبَغ به).

تشريح: صورت د مسئلې: داسي دی چي کله څوک غيرِ مأکول اللحم حيوان په شرعي طريقه سره ذبح (حلال) کړي، نو په دې ذبح سره که څه هم د هغه حيوان غوښي نه حلاليږي، لېکن د هغه څرمن او پوست پاکيږي، ځکه چي په ذبح سره وينه او نجس رطوبات ټوله وځي.

خو د انسان او خنزير څرمن وغيره نه په ذبح سره پاکيږي، او نه په دباغتِ سره؛ ځکه چي انسان مکرَم، اشرف المخلوقات او لائقِ احترام دی، او خنزير نجس العين دی. له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چي په غيرِ مأکول اللحيم حيوان کي ذبح هيڅ اثر نه کوي؛ ځکه چي ذبح په اصل کي غوښي مباح او حلال ګرځوي (چي تر ذبح وروسته يې غوښي خوړل کېدای سي)، بيا د غوښو په تابع کېدلو سره د هغه څرمن (پوست) هم پاکيږي او غوښي يې هم پاکيږي (چي تر ذبح وروسته يې غوښي وغيره په لمانځه وغيره کي د ځان سره اخيستل کېدای سي)، خو څرنګه چي په غير مأکول اللحم کي اصل يعني "اباحت لحم" معدوم دی (يعني په ذبح سره هغه مباح او حلال نه ګرځي)، نو ځکه تبع يعني "طهارت جلد ولحم" به هم معدوم وي؛ ځکه چي تابع (طهارت جلد ولحم) له متبوع (اباحتِ لحم) څخه بغير نه ثابتيږي. او د دې مثال داسي دی لکه د مجوسي ذبح چي په هغه سره نه د غوښي حلت ثابتيږي او نه يې طهارت، فكذا هٰهنا.

د احنافو دليل

وَلَنَا: أَنَّ الذَّكَاةَ مُؤَثِّرَةٌ فِي إِزَالَةِ الرُّطُوبَاتِ وَالدِّمَاءِ السَّيَّالَةِ او زموږ دليل دا دی: چي ذبح [حلالول] د رطوباتو [لندو مادو] او بهېدونکي وينو په ايستلو کي اثر کونکی دی وَهِيَ النَّجِسَةُ دُونَ ذَاتِ الْجِلْدِ وَاللَّحْمِ او همدا شيان ناپاک دي، نه د څرمن او غوښي ذات فَإِذَا زَالَتْ نو کله چي دا شيان [رطوبات وغيره] زائل سوه طَهُرَ نو غوښه او څرمن پاک سوه كَمَا فِي الدِّبَاغِ لکه څرنګه چي په دباغت کي دي وَهٰذَا الْحُكْمُ مَقْصُودٌ فِي الْجِلْدِ كَالتَّنَاوُلِ فِي اللَّحْمِ او دا [د پاکولو] حکم په څرمن کي مقصود دی لکه څرنګه چي خوړل په غوښه کي مقصود دي وَفِعْلُ الْمَجُوسِيِّ إِمَاتَةٌ فِي الشَّرْعِ او د مجوسي فعل [ذبح] په شريعت کي مردارول [شمېرل سوي] دي فَلَا بُدَّ مِنَ الدِّبَاغِ نو ځکه [د مجوسي د ذبيحې د څرمن پاکېدلو لپاره] دباغت ضروري دی وَكَمَا يَطْهُرُ لَحْمُهُ يَطْهُرُ شَحْمُهُ او [په ذبح کولو سره] څرنګه چي د هغه

غوښه پاکيږي همداسي د هغه وازګه هم پاکيږي حَتّٰى لَوْ وَقَعَ فِي الْمَاءِ الْقَلِيْلِ تر دې که دغه وازګه په لږ اوبو کي ولويږي لَا يُفْسِدُهٗ نو اوبه نه خرابوي خِلَافًا لَهٗ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله وَهَلْ يَجُوْزُ الْاِنْتِفَاعُ بِهٖ فِي غَيْرِ الْاَكْلِ؟ او آيا له خوراک څخه بغير په بل څه کي له وازګي څخه نفع اخيستل جائز دي قِيْلَ: لَا يَجُوْزُ اعْتِبَارًا بِالْاَكْلِ ويل سوي دي: چي جائز نه دي پر خوراک په قياس کولو سره وَقِيْلَ: يَجُوْزُ او ويل سوي دي: چي جائز دي كَالزَّيْتِ إِذَا خَالَطَهٗ وَدَكُ الْمَيْتَةِ وَالزَّيْتُ غَالِبٌ لکه د زيتون تېل چي کله د هغه سره د مړزکي [مردار سوي څاروي] وازګه ګډه سي لَا يُؤْكَلُ وَيُنْتَفَعُ بِهٖ فِي غَيْرِ الْاَكْلِ نو هغه نه خوړل کيږي خو بغير له خوړلو له هغه څخه نوره نفع اخيستل کيږي.

اللغات: ﴿الذكاة﴾ (په ذال سره): ذبح کول، حلالول. ﴿رطوبات﴾ جمع د رُطوبة ده: لنده بل، نمجنوالی، لنده ماده. ﴿زيت﴾ د زيتون تېل (روغن)، مطلق تېلو ته هم وايي.

تشريح: زموږ د دليل حاصل دا دی چي په حيوان کي چي کوم ناپاکه رطوبات او بهېدونکې وينه وي، ذبح (ذکاة) هغه ټوله باسي، او په عين غوښو او څرمن کي خو هيڅ نجاست نه وي، نو په ذبح سره په هر حال غوښه او څرمن پاکيږي؛ ځکه چي په ذبح سره د حيوان باطني نجسه ماده خارج سوه، لکه څرنګه چي په دباغت سره د رطوبات نجسه وو په وچېدلو او وتلو سره څرمن پاکيږي، نو همداسي به د نجسي مادې په وتلو سره غوښه او څرمن پاکيږي.

وهذا حكم مقصود إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب دی چي هغه طهارت جلد (د څرمن پاکي) د اباحت لحم تابع ګرځولې ده، نو د جواب حاصل دا دی چي موږ دا نه تسليموو؛ ځکه څرنګه چي د غوښي اصل مقصد خوړل دي، همداسي د څرمن اصلي مقصد طهارت او پاکي ده او دوی يو د بل تابع نه دي، نو ځکه په مأکول اللحم څاروي کي به په ذبح سره خو اباحت او طهارت دواړه حاصليږي او په غير مأکول اللحم کي به صرف طهارت حاصليږي.

وفعل المجوسي إلخ: او امام شافعي رَحِمَهُ الله چي داسي ذبيحه د مجوسي پر فعل قياس کړې ده، د هغه په جواب کي فرمايي چي دا قياس هم صحيح نه دی؛ ځکه د مجوسي په فعل سره ځکه طهارت نه ثابتيږي: چي په شريعت کي د هغه ذبح مړه کول او مرداررول شمېرل سوي دي (يعني مجوسي که څه هم څاروی ذبح کړي، خو دا داسي ده لکه هغه چي څاروی مردار کړي يا لکه څاروی چي خپله مردار سي)، لهذا کله چي

د هغه ذبيحه د مردار کړی سوي حيوان په څېر ده، نو ځکه د هغه د څرمن پاکولو لپاره دباغت ضروري دی (ځکه د مردار شده حيوان [ميتة] د څرمن همدغه حکم دی)، او څرنګه چي دلته (په مأکول اللحم کي) ذبح صحيح شمېرل سوې ده، نو ځکه په دې سره طهارت او پاکي حاصلېږي، د دباغت ضرورت يې نشته.

وکمايطهرالخ: فرمايي چي کله زموږ په نېز د غير مأکول اللحم حيوان غوښه په ذبح سره پاکيږي، نو همداسي د هغه وازګه (وازده) هم پاکېږي (خو حلاليږي نه يعني خوړل کېداى نه سي)، همدا وجه ده که دا وازګه لږ په اوبو کي ولوېږي، نو هغه اوبه نه په مرداريږي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلته هم اختلاف دی فرمايي چي څرنګه د هغه غوښه نه پاکيږي، همداسي د هغه وازګه هم نه پاکيږي او ماء قليل مرداروي.

وهل يجوزالخ: فرمايي چي کله زموږ په نېز وازګه پاکيږي خو حلاليږي نه، نو آيا له خوړلو څخه بغير بله نفع ځني اخيستلاى سي يعني د نورو مقاصدو مثلاً د څراغ وغيره د لګولو لپاره هغه استعمالولاى سي، نو په دې باره کي دوه قولونه دي: ① څرنګه چي يې خوړل منع دي، همداسي په بل ځاى کي نفع ځني اخيستل يې هم ممنوع دي، ② او دويم قول دا دی چي نفع ځني اخيستلاى سي؛ د دې مثال يې دا پېش کړی دی چي که د زيتون په تېلو کي د مردار سوي حيوان وازګه ګډه سي، نو که څه هم د هغه خوړل جائز نه دي، خو له هغه څخه بله نفع اخيستل جائز دي (برابره ده وازګه پر غالبه وي او که مغلوبه)، نو همداسي دلته هم د دغه وازګي خوړل خو جائز نه دي، لېکن نفع ځني اخيستل او په نورو مقاصدو کي يې استعمالول جائز دي.

د اوبو د حيوانانو بيان

قَالَ: وَلَا يُؤْكَلُ مِنْ حَيَوَانِ الْمَاءِ إِلَّا السَّمَكَ فرمايي: او نه به خوړول کيږي د اوبو له حيوانانو څخه مګر ماهی [يعني له سمندري حيوانانو څخه به فقط ماهی خوړل کيږي] وَقَالَ مَالِكٌ وَجَمَاعَةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ بِإِطْلَاقِ جَمِيعِ مَا فِي الْبَحْرِ امام مالک رَحِمَهُ الله او د علماؤ يو جماعت د دې ټولو حيوانانو د اباحت وينا کړې ده [چي دا ټول مباح الأكل او روا دي] وَاسْتَثْنَى بَعْضُهُمُ الْخِنْزِيرَ وَالْكَلْبَ وَالْإِنْسَانَ او بعضو خنزير، سپی او انسان مستثنی کړي دي وَعَنِ الشَّافِعِيِّ أَنَّهُ أَطْلَقَ ذٰلِكَ كُلَّهُ او له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چي هغه دا ټول جائز ګرځولي دي وَالْخِلَافُ فِي الْأَكْلِ وَالْبَيْعِ وَاحِدٌ او اختلاف په

خوړلو او نه خوړلو کي يو دی لَهُمْ قَوْلُهُ تَعَالٰی ﴿أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ﴾ [المائدة: ۹۶] مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ د دوی ټولو دليل د الله تعالیٰ دا فرمان دي: "ستاسي لپاره حلال دی ښکار د سمندر" بغير له څه تفصيله [يعني په دې الهي فرمان کي د ماهي او غير ماهي ترمينځ هيڅ فصل نه دی سوی بلکي مطلقاً صيد حلال ګرځول سوی دی] وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] فِي الْبَحْرِ «هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ وَالْحِلُّ مَيْتَتُهُ» او د سمندر په هکله د نبي ﷺ دا فرمان دي چي "دا اوبه د سمندر پاکونکي دي او مُرده يې حلال دي" وَلِأَنَّهُ لَا دَمَ فِي هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ او ځکه چي په دغو شيانو کي وينه نه وي إِذِ الدَّمَوِيُّ لَا يَسْكُنُ الْمَاءَ ځکه ويني والا حيوان په اوبو کي نه اوسيږي وَالْمُحَرَّمُ هُوَ الدَّمُ او حرامونکی شی خو وينه ده فَأَشْبَهَ السَّمَكَ نو دوی ټوله د ماهي په څېر سول.

اللغات: ﴿ميتة﴾ مړ سوی (مردار سوی) حيوان، مرده حيوان.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د احنافو په نيز د اُوبو له حيوانانو (ساکنو) څخه صرف ماهی حلال دی. او د امام مالک او ابن ابي ليلیٰ رَحِمَهُمَا الله او داسي نورو په نيز ټوله د اوبو حيوانان حلال دي، خو د بعضو په نيز د اوبو خنزير، سپی او انسان له دې څخه مستثنیٰ دي، له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه دا روايت نقل سوی دی چي هغه له څه استثناء څخه بغير د اوبو ټوله حيوانان مباح او حلال ګرځولي دي.

او د احنافو او د دوی ترمينځ مذکوره اختلاف د دغه حيوانانو د بيع او شراء په هکله هم دی، دوی د قرآن په دې آيت ﴿أُحِلَّ لَكُمْ إلخ﴾ په عموم سره دليل نيسي، چي په دې آيت کي د ماهي او غيرِ ماهي هيڅ تفصيل نه دی ذکر سوی، نو ځکه د آيت اطلاق به تمام سمندري حيوانانو لره شامل وي چي هغوی ټوله به حلال او مباح وي.

دويم دليل هغه حديث شريف دی کوم چي د سمندر په هکله نقل سوی دی چي سمندري اوبه پاکي دي او د سمندر مړ سوی حيوان (ميتة) حلال دی. لهذا کله چي د اوبو مړ سوی حيوان هم حلال دی، نو د هغه نور ژوندي حيوانان خو به په درجه اولیٰ حلال وي.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب الوضوء بماء البحر، ص:۲۳، حديث رقم:۸۳، والترمذی، باب ما جاء في البحر أنه طهور، ص:۱۹، حديث رقم:۶۹.

د دوی عقلي دليل دا دی چې د حرمت دار ومدار پر بهېدونکې وينه دی او داوبو په حيوانانو کې بهېدونکې وينه نسته؛ ځکه که په دوی کې وينه وای، نو په اوبو کې به يې ژوند نه سوای کولای (او د بهېدونکي ويني علامت دا دی چې که هغه لمر ته څو وخت کېښېنول سي نو توربږي. لېکن د سمندري حيواناتو وينه په لمر سره سپينېږي، نو د دوی وينه بهېدونکې [دم مسفوح] نه ده). لهذا کله چې داوبو په حيواناتو کې وينه نسته، نو ټوله د ماهي سره مشابه سوه، او ماهي بالاتفاق حلال دی. لهذا نور د اُوبو سمندري حيوانان به هم حلال وي.

د احنافو دليل او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او نورو ته جواب

وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالَى: وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ [الأعراف: ١٥٧] او زموږ دليل د الله تعالىٰ دا فرمان دی: او حراموي پر دوی باندې خبيث شيان وَمَا سِوَى السَّمَكِ خَبِيثٌ او له ماهي څخه بغير نور ټوله سمندري حيوانان خبيث دي «وَنَهَى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ [1] عَنْ دَوَاءٍ يُتَّخَذُ فِيْهِ الضِّفْدَعُ» او نبي کريم ﷺ له داسې څخه دوا څخه منع کړې ده چې په هغه کې چونګښه [چندخه] استعمال سوې وي وَنَهَى [2] عَنْ بَيْعِ السَّرَطَانِ او د چنګاښ له بيع څخه يې منع کړې ده. وَالصَّيْدُ الْمَذْكُورُ فِيمَا تَلَا مَحْمُولٌ عَلَى الاِصْطِيَادِ او د فريق مخالف په تلاوت کړه آيت کې چې کوم [الفظ د] صيد ذکر سوی دی هغه پر اصطياد [ښکار کولو] حمل سوی دی وَهُوَ مُبَاحٌ فِيمَا لَا يَحِلُّ او ښکار کول د هغه حيوان هم جائز دي کوم چې حلال نه وي وَالْمَيْتَةُ الْمَذْكُورَةُ فِيمَا رَوَى مَحْمُولَةٌ عَلَى السَّمَكِ او د فريق مخالف په روايت کړه حديث کې چې مَيْتَةٌ [مُرده] ذکر دی هغه پر ماهي حمل سوی دی وَهُوَ حَلَالٌ مُسْتَثْنًى مِنْ ذٰلِكَ او ماهي حلال دی کوم چې له دې تمام ميتة [دسمندر له ټولو مُرده وو] څخه مستثنیٰ دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [3] «أُحِلَّتْ لَنَا مَيْتَتَانِ وَدَمَانِ د نبي کريم ﷺ د دې فرمان په وجه چې: زموږ لپاره دوه مُرده حيوانان او دوې وينې حلال کړل سوي دي أَمَّا الْمَيْتَتَانِ فَالسَّمَكُ وَالْجَرَادُ کوم چې دوه مرده دي نو هغه ماهي او ملخ دي وَأَمَّا الدَّمَانِ فَالْكَبِدُ وَالطِّحَالُ» او کوم چې دوې وينې دي نو هغه اينه او توری دی.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطب، باب في الأدوية المكروهة، ص: ٥٥٠، حديث رقم: ٣٨٧١.
[2] تخريج: غريب جدًا، ما وجدته. (اثمار الهدايه)
[3] تخريج: أخرجه ابن ماجة في كتاب الذبائح، باب الكبد والطحال، ص: ٤٨٠، حديث رقم: ٣٣١٤.

اللغات: ﴿خبائث﴾ جمع د خَبِيثٌ ده: ناخوښه شيان، ګنده او بد، هغه شيان کوم چي عربو به ناخوښه ګڼل او نه به يې خوړل لکه خزندې او داسي نور (معجم لغة الفقهاء). ﴿ميتة﴾ مړ سوی (مردار سوی) حيوان، ميتة البحر: د سمندر (درياب) مړ سوی حيوان. ﴿کبد﴾ اينه، ينه، ځيګر. ﴿طحال﴾ توری، دا هم د انسان په بدن کي يو غړی دی.

تشريح: زموږ په دليل کي يو آيت او دوه احاديث پيش کړل سوي دي، حاصل يې دا دی چي په قرآن پاک کي الله تعالیٰ خبائث صراحتاً حرام ګرځولي دي، او له ماهي څخه بغير نور سمندري حيوانان ټول له خبيث دي، د ټولو په طبيعت کي خبث دی او فطرت سليمه هغوی ته په کتلو سره انکار کوي او ناخوښه يې ګڼي. همدارنګه په حديث کي ذکر سوي دي چي نبي کريم ﷺ له داسي دواء څخه منع کړې ده چي په هغه کي چونګښه اچول سوې وي، که چيري چونګښه جائز وای، نو نبي ﷺ به ولي له دواء څخه منع کولای!.

او په دويم حديث کي د چنګاښ له بيع څخه منع سوې ده، چنګاښ د اوبو حيوان دی، او مخکي معلومه سوه چي د بيع او أکل دواړو حکم سره برابر دی، نو که چيري دغه د اوبو حيوان حلال وای، نو د هغه له بيع څخه به نبي ﷺ منع نه کولای، معلومه سوه چي له ماهي څخه بغير نور د اوبو سمندري حيوانان حرام دي.

والصيد إلخ: فريق مخالف (يعني امام شافعي رَحِمَهُ الله او نورو) چي په دې آيت سره دليل نيولی دی چي - ﴿أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ﴾، له دې څخه د سمندر ښکار والا حيوان مراد نه دی (چي ستاسي لپاره هر هغه حيوان حلال دی کوم چي تاسو په سمندر کي ښکار کړی وي)، بلکي دلته صَيْد په خپل مصدري معنیٰ سره دی (يعني ښکار کول) او مطلب يې دا دی چي ستاسي لپاره په سمندر کي ښکار کول حلال او روا دي، او ښکار خو د هغه حيوانانو هم جائز دی کوم چي حلال نه وي، لهذا په دې آيت سره دليل نيول مناسب نه دي.

والميتة إلخ: فريق مخالف چي په کوم حديث سره دليل نيولی دی يعني "هو الطهور والحل ميتته" په دې سره هم د دوی استدلال صحيح نه دی؛ ځکه په دې حديث کي له "ميتة" څخه مراد همدا ماهي دی کوم ته چي موږ حلال وايو، مطلق د سمندر مړ سوی حيوان ځني مراد نه دی، مطلب يې دا دی چي له سمندري حيوانانو څخه فقط ماهي حلال دی. او که څوک وايي چي د دې خبري څه دليل دی چي منسي "ميتة" دی؟، نو د هغه جواب دا دی چي په بل حديث کي په ښکاره الفاظو سره د ماهي

د "ميتة" كېدلو او د هغه د حلال كيدلو وينا سوې ده "أحلت لنا ميتتان... إلخ" چې مطلب يې دا دی چې کوم ماهي په سمندر کي مړ (مردار) سي، نو بيا هم حلال دی، لهذا مذکوره حديث ته په کتلو سره د "والحل ميتته" هم دغه مطلب دی.

د "سمک طافي" حکم (او د فقهاؤ قولونه)

قَالَ: وَيُكْرَهُ أَكْلُ الطَّافِي مِنْهُ فرمايي: او له ماهيو څخه طافي ماهی مکروه دی [يعني هغه ماهی کوم چې په اوبو کي مړ سي او د اوبو پر مخ راپورته سي او چپه واوړي] وَقَالَ مَالِكٌ وَالشَّافِعِيُّ: لَا بَأْسَ بِهِ امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې په طافي ماهي کي هيڅ حرج نسته [خوړل يې مکروه نه دي] لِإِطْلَاقِ مَا رَوَيْنَا ځکه زموږ روايت کړده حديث [الحل ميتة] مطلق دی وَلِأَنَّ مَيْتَةَ الْبَحْرِ مَوْصُوفَةٌ بِالْحِلِّ بِالْحَدِيثِ او ځکه چې د سمندر مرده [مړ سوی حيوان] د حديث په وجه په حلال کېدو سره موصوف دی وَلَنَا مَا رَوَى جَابِرٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ [1] او زموږ دليل هغه حديث دی کوم چې حضرت جابر رَضِيَ الله عَنْهُ روايت کړی دی چې نبي ﷺ وفرمايل «مَا نَضَبَ عَنْهُ الْمَاءُ فَكُلُوا له کوم ماهي څخه چې اوبه ولاړي سي [وچې سي] نو تاسي هغه خورئ! وَمَا لَفَظَهُ الْمَاءُ فَكُلُوا او کوم ماهي چې اوبه بهر را وغورځوي نو هغه هم خورئ! وَمَا طَفَا فَلَا تَأْكُلُوا» او کوم ماهی چې مړ سي او چپه واوړي نو هغه مه خورئ! وَعَنْ جَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ مِثْلُ مَذْهَبِنَا او د صحابه وو رضی الله عنهم له يو جماعت څخه زموږ د مذهب په څېر نقل سوي دي وَمَيْتَةُ الْبَحْرِ مَا لَفَظَهُ الْبَحْرُ لِيَكُونَ مَوْتُهُ مُضَافًا إِلَى الْبَحْرِ او د سمندر مرده [مړ سوی حيوان] هغه دی کوم چې سمندر بهر راغورځولی وي، چې د هغه مړ کېدل د سمند وطرف ته منسوب کړی سي لَا مَا مَاتَ فِيهِ مِنْ غَيْرِ آفَةٍ [او] هغه د سمندر مرده نه دی کوم چې بغير له آفته په سمند کي مړ سوي وي [يعني طافي ماهی].

اللغات: ﴿طافي﴾ د نصر د باب اسم فاعل دی، طَفَى يَطْفُوْا طَفُوًا: راپورته کېدل او بيا لاندي نه تلل، نو طافي هغه ماهي ته وايي چې په اوبو کي مړ سي او بيا (د پاړسوب او ورستېدلو له کبله) د اوبو پر مخ را

[1] تخريج: أخرجه دار قطني وسنن البيهقي بمعناه (دار قطني، كتاب الأشربة ج:۴، ص:۱۸۰، حديث رقم:۴۶۶۸. سنن البيهقي، باب من كره أكل الطافي، ج:۹، ص:۴۲۸، حديث رقم:۱۸۹۹۰)

پورته سي. ﴿لفظه﴾ د ضرب د باب ماضي ده، د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: راغورځول، را اچول. ﴿نضب﴾ د نصر د باب ماضي ده: اوبه په ځمکه ننوتل، اوبه وچېدل او نيستي کېدل.

تشريح: دا مسئله خو تاسي ته معلومه سوه چي احناف هر ډول ماهي جائز ګرځولي دي، خو دلته د يوه ماهي استثناء کوي، هغه دا چي کوم ماهي په سمندر کي له يو آفت او سبب څخه بغير خپله مړ سي او چپه واوړي (يعني د اوبو پر مخ را پورته او ښکاره سي سي چي شا يې لاندي وي او نس يې را پورته وي) کوم ته چي طافي ماهي وايي، دا مکروه تحريمي دی (ځکه عموماً هغه ماهي را پورته کيږي او چپه اوړي کوم چي پړسېدلي او روست سوی وي، نو ځکه داسي ماهي مکروه ګرځولي سوی دی).

خو امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ الله داسي ماهي هم حلال ګرځوي او په دليل کي همغه مخکيني حديث پېشوي "والْحِلُّ مَيْتَتُهُ"، دوی فرمايي چي کله په سمندر کي مړ سوی حيوان حلال دی، نو طافي خو هم د سمندر مړ سوی حيوان (ميتة) دی.

ولنا إلخ: زموږ دليل په عبارت کي مذکوره د حضرت جابر ﷺ حديث دی چي ① که د سمندر اوبه وچي سي او د اوبو وچېدلو په وجه ماهي مړ سي، نو د هغه خوړل حلال دي، ځکه چي دا مرګ د آفت په وجه دی، ② همدا ډول که د سمندر په اوبو کي زور داره حرکت او څپه راسي چي د هغه په وجه ماهي مړ سي او دباندي يې را وغورځوي، نو دا حلال دی؛ ځکه چي مرګ يې د آفت په وجه دی، ليکن کوم چي طافي ماهي دی (چي بغير له آفته په سمندر کي مړ سوي او چپه اوښتی وي) هغه حلال نه دی. د صحابه وو د يو پوره جماعت مذهب هم زموږ د مذهب په څېر دی.

وميتة البحر إلخ: د دې حاصل دا دی چي په "والْحِلُّ مَيْتَتُهُ" سره د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دليل نيول صحيح او مناسب نه دي، ځکه ميتة البحر هغه ماهي ته وايي چي د هغه مرګ د اوبو او سمندر و طرف ته منسوب وي يعني کوم چي سمندر دباندي راغورځولي وي وغيره، او دې ته خو موږ هم حلال وايو، لهذا په مذکوره حديث سره د مطلق ميتة پر حلت دليل نيول صحيح نه دي.

د ماهي بعضي نور قسمونه (او د ملخ په هکله د امام مالک رَحِمَهُ الله رايه)

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِأَكْلِ الْجِرِّيْثِ وَالْمَارْمَاهِيْ وَأَنْوَاعِ السَّمَكِ وَالْجَرَادِ بِلَا ذَكَاةٍ فرمايي: او جريث ماهي او مار ماهي او د ماهي ټوله قسمونه او ملخ بغير له ذبح کولو خوړل جائز دي وَقَالَ مَالِكٌ: لَا يَحِلُّ الْجَرَادُ إِلَّا أَنْ يَقْطَعَ الْآخِذُ رَأْسَهُ أَوْ يَشْوِيَهُ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي ملخ حلال نه دی مګر دا چي نيونکی کس د هغه سر پرېکړي يا يې سور کړي لِأَنَّهُ صَيْدُ الْبَرِّ ځکه چي ملخ د وچي ښکار دی

وَلِهٰذَا يَجِبُ عَلَى الْمُحْرِمِ بِقَتْلِهِ جَزَاءٌ يَلِيقُ بِهِ او په همدې وجه پر محرم د ملخ د وژلو په وجه د هغه لائقه [مناسبه] جزاء لازميږي فَلَا يَحِلُّ إِلَّا بِالْقَتْلِ نو ځکه له وژلو [سر پرېکولو] څخه بغير به ملخ نه حلاليږي كَمَا فِي سَائِرِهِ لکه د وچي په ټولو حيواناتو کي چي [همداسي حکم دی] وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَا او د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف هغه حديث حجت دی کوم چي موږ روايت کړی [يعني: اُحلت لنا ميتتان] وَسُئِلَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ الْجَرَادِ يَأْخُذُهُ الرَّجُلُ مِنَ الْأَرْضِ وَفِيهَا الْمَيِّتُ وَغَيْرُهُ او له حضرت علي رضي الله عنه څخه د ملخانو په باره کي پوښتنه وسوه چي يو سړی هغه پر ځمکه ونيسي او په هغوی کي بعضي مړه وي او بعضي غيرِ مړه وي [يعني ځيني مړه او ځيني ژوندي وي] فَقَالَ: كُلْهُ كُلَّهُ نو حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل: چي هغوی ټوله خوره! وَهٰذَا عُدَّ مِنْ فَصَاحَتِهِ او دا [ورنا] د حضرت علي رضي الله عنه له فصاحت څخه شمېرل سوې ده [ځکه چي په دې جمله کي يې دوه داسي الفاظ جمع کړي دي چي په شکل کي خو سره مشابه دي لېکن معناوي يې سره جلا دي] وَدَلَّ عَلَى إِبَاحَتِهِ وَإِنْ مَاتَ حَتْفَ أَنْفِهِ او دا [ورنا] د ملخانو پر روايېښت دلالت کوي چي که څه هم هغوی په خپل [طبعي] مرګ مړه سوي وي بِخِلَافِ السَّمَكِ إِذَا مَاتَ مِنْ غَيْرِ آفَةٍ په خلاف د ماهي کله چي هغه بغير له آفته مړ سي [چي هغه حلال نه دی] لِأَنَّا خَصَّصْنَاهُ بِالنَّصِّ الْوَارِدِ فِي الطَّافِي ځکه د طافي په هکله د وارد سوي نص [حديث] په وجه موږ د ماهي تخصيص کړی دی [يا په بله ورنا: ځکه داسي طافي ماهی موږ په هغه حديث سره خاص کړی او مستثنی کړی دی کوم چي د طافي په هکله وارد دی].

اللغات: ﴿جِرِّيث﴾ دا يو قسم بد شکله ماهی دی چي له عامو ماهيانو څخه جلا دی او د مار په څېر اوږد دی (او زياتره وخت سره ټول پروت وي او ګول مول معلوميږي)، ﴿مار ماهي﴾ فارسي لفظ دی، دا هم يو قسم ماهی دی چي په شکل کي مار ته سوی دی، د دواړو خوړل ځکه جائز دي چي دوی ماهيان دي. ﴿جراد﴾ جمع د جَرَادة ده: ملخ، ﴿يشوي﴾ د ضرب معض څه اوږده او مار غوندي دي (اثمار الهدايه)، مضارع ده: په اور سور کول، کباپول، ﴿البَرّ﴾ د بحر ضد، وچه (له سمندرونو څخه بغير د دنيا وچه ځمکه). ﴿صيد﴾ د دې لفظ دوې معناوي دي: ① ښکار کړی سوی حيوان، ② ښکار کول، ﴿حتف انفه﴾ په خپل طبعي مرګ (په خدايي مرګ).

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي جریث او مار ماهی او د ماهي هر قسم او ملخ بغیر له ذبح خوړل جائز دي، څه حرج او کراهت پکښي نسته. خو امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایي چي ملخ به ذبح کیږي یعني د هغه سر به څني جلا کیږي؛ ځکه ملخ د وچي حیوان دی (همدا وجه ده چي د ملخ په وژلو سره پر محرم جزاء واجبیږي، لکه څرنګه چي په سپږه کي واجبیږي چي څه غوندي وریجي یا داسي نور به صدقه کوي) او د وچي په ټولو حیوانانو کي ذبح ضروري ده، نو په ملخ کي به هم ذبح ضروري وي او بغیر له ذبح به یې خوړل جائز نه وي.

لیکن موږ په جواب کي ورته وایو چي په مخکیني حدیث "أُحِلَّتْ لَنَا مَيْتَتَانِ... السَّمك والجَراد" کي ماهي او ملخ دواړه داخل دي (لکه مخکي چي ذکر سوه). لهذا څرنګه چي ماهی بغیر له ذبح خوړل جائز دی، نو همداسي به ملخ هم بغیر له ذبح خوړل جائز وي.

وسئل علی إلخ: همدارنګه د ژوندي او مرده ملخانو په هکله له حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه پوښتنه وسوه چي د دوی څه حکم دی؟، نو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ډېر فصیح انداز سره وفرمایل: "كُلُّه كُلُّه" چي ټوله خوړلای سې، که په ملخ کي ذبح ضروري وای، نو یقیناً به حضرت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې صراحت کولای، خو د هغه سکوت پر دې خبره دلالت کوي چي ملخ برابره ده ښکار کړی سي یا خپله مړ سي، بغیر له ذبح د هغه خوړل روا دي. او د ماهي هم دغه حکم دی، خو څرنګه چي د طافي ماهي په هکله صراحتاً په نص (حدیث) کي منع سوې ده، نو ځکه موږ احنافو د طافي په مستثنیٰ کولو سره د نورو ماهیانو د خوړلو حکم کړی دی؛ ځکه چي نص فقط د همدې طافي په هکله واردسوی دی.

د ماهي د حلت او حرمت په هکله قاعده کلیه

ثُمَّ الْأَصْلُ فِي السَّمَكِ عِنْدَنَا أَنَّهُ إِذَا مَاتَ بِآفَةٍ بیا زموږ په نېز د ماهي په باره کي اُصول دا دی چي کله ماهی په آفت سره مړ سي يَحِلُّ نو هغه حلال دی كَالْمَأْخُوذِ لکه نیول سوی ماهی [چي مړ سي نو حلال دي] وَإِذَا مَاتَ حَتْفَ أَنْفِهِ مِنْ غَيْرِ آفَةٍ خو کله چي ماهی بغیر له آفته په خپل [طبعي] مرګ مړ سي لَا يَحِلُّ نو حلال نه دی كَالطَّافِي لکه طافي ماهی وَتَنْسَحِبُ عَلَيْهِ فُرُوعٌ كَثِيرَةٌ بَيَّنَّاهَا فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي او پر دغه اصل ډېر فروع متفرع کیږي کوم چي موږ په کفاية المنتهي کي بیان کړي دي وَعِنْدَ التَّأَمُّلِ يَقِفُ الْمُبَرِّزُ عَلَيْهَا چي ذهین کس د تفکر [غور] کولو په وخت کي په هغوی [فروعو] اګاه کېدای سي مِنْهَا إِذَا قَطَعَ بَعْضَهَا فَمَاتَ له هغوی څخه یو فرع دا ده چي کله څوک د ماهي بعضي حصه

پرېکړې او هغه مړ سي يَحِلُّ أَكْلُ مَا أُبِيْنَ وَمَا بَقِيَ نو د هغه حصې [ټوټې] خوړل حلال دي کوم چي جلا کړل سي او کوم چي [نور ماهی] پاته دی [يعني ماهی هم حلال دی او جلا کړل سوې ټوټه يې هم حلاله ده] لِأَنَّ مَوْتَهُ بِآفَةٍ ځکه چي د هغه مرګ د آفت په وجه دی [يعني د بعضي ټوټې د پرېکولو په وجه مړ سوی دی] وَمَا أُبِيْنَ مِنَ الْحَيِّ وَإِنْ كَانَ مَيِّتًا او کومه ټوټه چي له ژوندي حيوان څخه جلا کړل سي هغه که څه هم مرداره ده فَمَيْتَتُهُ حَلَالٌ خو د سمندر مرده حلال دي وَفِي الْمَوْتِ بِالْحَرِّ وَالْبَرْدِ رِوَايَتَانِ او په ګرمۍ او يخ سره د [ماهي] مړ کېدلو په هکله دوه روايتونه دي [يو روايت دا دی چي داسي ماهی حلال دی، او دويم دا چي حلال نه دی].

اللغات: ﴿تنسحب﴾ د انفعال د باب مضارع ده: (د ځمکي پر مخ) را کشېدل، را واتـل، دلته ځني مراد متفرع کېدل دي، ﴿يقف﴾ واقف کېدل، اګاه کېدل. ﴿مبرّز﴾ فائق، ډېر ذهين او ځيرک. ﴿تأمّل﴾ غور او فکر کول. ﴿أُبِيْن﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: جلا کول کېدل، بېلول.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د ماهي په باره کي يوه قاعدهٔ کليه بيانوي فرمايي چي که ماهی د يو آفت او سبب (مثلاً د ذبح کولو، د سمندر وچېدلو، په جال کي د بندېدلو وغيره) په وجه مړ سي، نو هغه حلال دی، لکه ژوندی ماهی چي شوک ونيسي او مړيې کړي نو حلال دی، او که بغير له آفت څخه مړ سي، نو هغه حلال نه دی، لکه طافي ماهی چي حلال نه دی. بيا فرمايي چي پر دغه اصول ډېري فروع او مسئلې متفرّع کيږي، چي عاقل او ځيرک په غور او تأمّل سره خپله هغه را ايستلی سي.

مثلاً (له هغه فروعو څخه يوه دا ده چي) که د ژوندي ماهي هسي يو حصه پرېکړل سي او هغه مړ سي، نو دا مرګ د آفت په وجه دی، نو ځکه داسي ماهی هم حلال دی او هغه پرېکړل سوې ټوټه يې هم حلاله ده؛ د ماهي حلّت خو ښکاره دی، او ټوټه که څه هم د ژوندي حيوان ټوټه ده کوم چي نه سي حلاله کېدلای، بلکي مرداره وي، خو څرنګه چي دا د ماهي ټوټه ده کوم چي سمندري حيوان دی، نو د "الحِلُّ مَيْتَتُه" پر بناء يې ټوټه هم حلاله ده.

په آخر کي فرمايي چي کوم ماهی د ډېري ګرمۍ يا ډېر يخ په وجه مړ سي، نو په دې باره کي دوه قولونه دي: يو دا چي هغه هم حلال دی، او بل دا چي حلال نه دی، خو مختاره قول اول دئ چي حلال دی؛ ځکه دلته هم د آفت په وجه مرګ واقع سوی دی، نو ځکه داسې ماهي به هم حلال وي (او په مجمع الأنهرج: ۲، ص: ۴۶۹ کي پر همدې فتویٰ ورکول سوې ده). والله أعلم وعلمهُ أتم



كِتَابُ الأُضْحِيَةِ

(دا) كتاب د قربانۍ د احكامو (په بيان كې) دى

تشريح: د كتابُ الذبائح او كتابُ الأضحية تر مينځ مناسبت په دې توګه دى چې دواړه د ذبح پر بيان مشتمل دي، خو ذبح عام ده او اُضحيه خاص ده، نو صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د عام تر بيانولو وروسته اوس د خاص احكام او تفصيلات بيانوي.

د "اضحية" لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د قربانۍ په ورځو (ايامُ النحر) كې ذبح كړى سوي څاروي ته په لغت كې اضحيه وايي.

او اصطلاحي معنیٰ يې ده: "ذَبْحُ حَيَوَانٍ مَخْصُوصٍ بِنِيَّةِ الْقُرْبَةِ فِيْ وَقْتٍ مَخْصُوصٍ" (يعني د عبادت [قربانۍ] په نيت سره په مخصوص وقت "أيام النحر" [يعني د ذى الحجې په لسمه، يوولسمه او دوولسمه] كې د مخصوص څاروي ذبح كول.

نور د اُضحيه (قربانۍ) شرائط او تفصيل به خپله مصنف رَحِمَهُ الله په را روانو صفحو كې ذكر كړي.

د قربانۍ شرعي حيثيت او د قربانۍ حكم (پر كوم چا او څه وخت واجب ده؟)

قَالَ: اَلْأُضْحِيَةُ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ حُرٍّ مُسْلِمٍ مُقِيْمٍ مُوْسِرٍ فِيْ يَوْمِ الْأَضْحَى فرمايي: چې قرباني واجب ده پر هر داسي آزاد كس كوم چې مسلمان، مقيم او مالدار وي، د قربانۍ په ورځ كې عَنْ نَفْسِهِ وَعَنْ وَلَدِهِ الصِّغَارِ د خپل ځان له طرفه او د خپلو كوچني بچيانو له طرفه أَمَّا الْوُجُوْبُ فَقَوْلُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ وَزُفَرَ وَالْحَسَنِ كوم چې [د قربانۍ] واجبدل دي نو هغه د امام صاحب، امام محمد، امام زفر او حسن بن زياد رَحِمَهُمُ الله قول دى وَإِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ ❁ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله له دوو روايتونو څخه يو روايت [هم دا] دى وَعَنْهُ أَنَّهَا سُنَّةٌ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه بل روايت دا

❁ القول الراجح: قول ابي حنيفة رَحِمَهُ الله...، قال العلامة قاضيخان: فهي واجبة في ظاهر الرواية على الرجل والمرأة الموسر المقيم في الأمصار دون المسافر (الخانية ج:۴، ص:۳۲۸)، وفي رد المحتار (ج:۵، ص:۲۲۰). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۹۱]

دی چې قرباني سنت ده ذَکَرَهُ فِي الْجَوَامِعِ دا روايت يې په [خپل کتاب] جوامع کې ذکر کړی دی وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا دامام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی وَذَكَرَ الطَّحَاوِيُّ أَنَّ عَلَى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَاجِبَةٌ او طحاوي رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چې دامام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول واجب ده وَعَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله پر قول سنت مؤکده ده وَهَكَذَا ذَكَرَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ الِاخْتِلَافَ او همدغسي بعضي مشايخو هم اختلاف ذکر کړی دی.

اللغات: ﴿اضحية﴾ قرباني، اخترى (هغه څاروى چې قرباني کيږي)، ﴿مؤسر﴾ پراخ لاسی، مراد مالدار.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله په متن کې څلور خبري کړي دي چې قرباني واجب ده، بيا: پر چا واجب ده، کله واجب ده، او د چا له طرفه واجب ده، او په دغه عبارت کې د اولي خبري تفصيل بيان سوی دی.

حاصل يې دا دی چې قرباني د طرفينو، امام زفر او حسن بن زياد رَحِمَهُمُ الله په نيز واجب ده، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هم يو روايت دغسي دی، خو د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د دوېم روايت مطابق کوم چې يې په جوامع کې ذکر کړی دی قرباني سنت ده.

امام طحاوي او ځيني نورو مشايخو رَحِمَهُمُ الله بيا داسي اختلاف ذکر کړی دی چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز قرباني واجب ده او د صاحبينو په نيز سنت مؤکده ده. خو فتوىٰ د قرباني پر وجوب ده، نو دلته دوه قوله سوه: ① سنت، ② واجب.

اوس صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د هر فريق دلائل پېشوي، اول د هغو حضراتو دليلونه پېشوي کوم چې قرباني ته سنت وايي، او بيا د قائلين وجوب دلائل پېشوي.

قرباني ته د سنت ويونکو حضراتو دلائل

وَجْهُ السُّنَّةِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] «مَنْ أَرَادَ أَنْ يُضَحِّيَ مِنْكُمْ د سنت [يعني د قرباني د سنت والي] دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی چې: په تاسي کې چې کوم څوک د قرباني کولو اراده وکړي فَلَا يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهِ وَأَظْفَارِهِ شَيْئًا» نو هغه دي له خپلو وړېښتو او نوکانو څخه هيڅ نه پرېکوي وَالتَّعْلِيقُ بِالْإِرَادَةِ يُنَافِي الْوُجُوبَ او پر اراده مُعلق کول د وجوب منافي دي وَلِأَنَّهَا لَوْ كَانَتْ وَاجِبَةً عَلَى الْمُقِيمِ او

[1] تخريج: أخرجه مسلم بمعناه، باب نهي من دخل عليه عشر ذی الحجة إلخ، ص:٨٨٢، حديث رقم:١٩٧٧/ ٥١١٧، وأيضا أخرجه ابن ماجة فی كتاب الأضاحی، باب من اراد أن يضحی، حديث رقم:٣١٤٩، ٣١٥٠.

ځکه که قرباني پر مقيم واجب واى لَوَجَبَتْ عَلَى الْمُسَافِرِ نو پر مسافر به هم واجب واى لِأَنَّهُمَا لَا يَخْتَلِفَانِ فِي الْوَظَائِفِ الْمَالِيَّةِ ځکه چي مقيم او مسافر په مالي عباداتونو کي يو له بل څخه مختلف نه دي كَالزَّكَاةِ لکه زکاة [چي پر مقيم او مسافر دواړو واجب دی] وَصَارَ كَالْعَتِيرَةِ او دا د عتيره په څېر سو.

اللغات: ﴿عتيرة﴾ د رجب د مياشتي قرباني، يعني هغه پسه وغيره چي د جاهليت په زمانه کي به خلکو د رجب د مياشتي په اوله عشره کي ذبح کول، او اسلام هغه منسوخه کړل.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د قائلينِ سنت دوه دليلونه ذکر کړي دي: يو نقلي او بل عقلي دليل.

نقلي دليل په عبارت کي ذکر سوی حديث دی چي د هغه مفهوم دی: که د چا د قرباني اراده وي، نو خپل وربېښتان وغيره دي نه پرېکوي. او ګورئ! دلته قرباني پر اراده مُعلّق کړل سوې ده (چي که د چا د قرباني اراده وي او قرباني کول غواړي)، ښکاره خبره ده چي دا د وجوب الفاظ نه دي.

عقلي دليل دا دی چي که پر مقيم قرباني واجب وي (لکه څرنګه چي د وجوب قائلين وايي)، نو بايد پر مسافر هم واجب سي، ځکه چي په عبادت ماليه کي هر ځای مقيم او مسافر سره برابر وي، مثلاً زکاة مالي عبادت دی، نو هغه چي څرنګه په مالدار مقيم باندي واجب دی، همداسي په مالدار مسافر باندي هم واجب دی، او مثلاً عتيره پر مسافر واجب نه وه، همداسي پر مقيم هم واجب نه وه.

حال دا چي قرباني پر مسافر واجب نه ده (لکه څرنګه چي د وجوب والا حضرات هم په دې قائل دي)؛ نو ځکه پر مقيم به هم واجب نه وي، کنې د دواړو د حکم مختلف کېدل به لازم سي، لنډه دا چي په زکاة کي مسافر او مقيم دواړه په وجوب کي سره برابر دي او په عتيره کي په عدمِ وجوب کي سره برابر دي، نو په قرباني کي هم برابري او مساوات کېدل پکار دي، او هغه داسي کېږي چي په دواړو کي قرباني ته سنت وويل سي، نه داسي چي پر مقيم واجب ده او پر مسافر واجب نه ده.

د عتيره تعريف په لغاتو کي ذکر سو او دا تعريف (د را روان عبارت په آخر کي) مصنف رَحِمَهُ الله هم بيان کړی دی.

قرباني ته د واجب ويونکو حضراتو دلائل

وَوَجْهُ الْوُجُوبِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] «مَنْ وَجَدَ سَعَةً وَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا» او د [قرباني د] واجب کېدلو دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: څوک چي وس ومومي او قرباني نه وکړي نو هغه دي زموږ عيدګاه ته نه نژدې کېږي وَمِثْلُ هٰذَا الْوَعِيدِ لَا يَلْحَقُ بِتَرْكِ غَيْرِ الْوَاجِبِ او دغه قسم وعيد د نا

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجة في كتاب الأضاحي، باب الأضاحي واجبة هي أم لا، حديث رقم: ٣١٢٣.

واجب شي په پرېښوولو پسې نه لاحقيږي [بلکي داسي وعيد د واجب شي د پرېښوولو په باره کي وارديږي] وَلِأَنَّهَا قُرْبَةٌ يُضَافُ إِلَيْهَا وَقْتُهَا او ځکه چي قرباني يو داسي قربت [عبادت] دی چي د هغه وطرف ته د خپل وخت اضافت [نسبت] کيږي يُقَالُ: يَوْمَ الْأَضْحٰى ويل کيږي: يوم الأضحیٰ وَذٰلِكَ يُؤْذِنُ بِالْوُجُوْبِ او دا د وجوب خبر ورکوي [چي قرباني واجب ده] لِأَنَّ الْإِضَافَةَ لِلاخْتِصَاصِ ځکه چي اضافت د اختصاص لپاره وي وَهُوَ بِالْوُجُوْدِ او اختصاص په وجود سره کيږي [چي قرباني موجوده سي يعني وکړی سي] وَالْوُجُوْبُ هُوَ الْمُفْضِيْ إِلَى الْوُجُوْدِ او وجود ته همدا وجوب رسول کوي [يعني د قرباني وجود (موجودېدل) او کېدل هغه وخت په يقيني توګه کېدای سي کله چي هغه واجب وي، ځکه د سنت والي په صورت کي يې پرېښوول (نا موجودېدل) هم امکان لري چي مکلفين به يې نه وکړي] ظَاهِرًا بِالنَّظَرِ إِلَى الْجِنْسِ [او وجود ته همدا وجوب رسول کوي] په ظاهري توګه د جنسِ مکلفينو وطرف ته په نظر کولو سره غَيْرَ أَنَّ الْأَدَاءَ يَخْتَصُّ بِأَسْبَابٍ يَشُقُّ عَلَى الْمُسَافِرِ اسْتِحْضَارُهَا وَيَفُوتُ بِمُضِيِّ الْوَقْتِ خو [خرنګه چي] د قرباني اداء کول د څو داسي اسبابو سره خاص دي چي پر مسافر د هغوی حاضرول [او ترلاسه کول] مشکل دي او [خرنګه] قرباني د وخت په تېرېدلو سره فوتيږي هم فَلَا تَجِبُ عَلَيْهِ بِمَنْزِلَةِ الْجُمُعَةِ نو ځکه پر مسافر واجب نه ده د جمعې [د لمانځه] په څېر [چي هم پر مسافر واجب نه دی] وَالْمُرَادُ بِالْإِرَادَةِ فِيْمَا رُوِيَ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ مَا هُوَ ضِدُّ السَّهْوِ لَا التَّخْيِيْرُ او په روايت کړی سوي حديث کي له ارادې څخه مراد (والله اعلم) د سهو ضد دی، نه اختيار ورکول [يعني د هغه مراد اختيار ورکول نه دي چي که قرباني کوې که يې نه کوې] وَالْعَتِيْرَةُ مَنْسُوْخَةٌ او عتيره منسوخه ده وَهِيَ شَاةٌ تُقَامُ فِيْ رَجَبٍ او عتيره هغه پسه [وغيره] دي کوم چي د رجب په مياشت کي به ذبح کېدل عَلٰى مَا قِيْلَ لکه څرنګه چي ويل سوي دي.

اللغات: ﴿سعة﴾ وس، طاقت، ګنجايش، ﴿سهو﴾ هېره، ﴿ما هو ضد السهو﴾ يعني د ارادې "إرادة" دوې معناوي کېدای سي؛ يو دا چي اختيار ورکول چي که دي خوښه وي دا وکړه، کنې مه يې کوه، او دويم: اراده د سهو او هيري د ضد په معنیٰ سره راځي، يعني دا يې هېر نه سي بلکي اراده يې وکړي، نو فرمايي چي دلته اراده د تخيير په معنیٰ سره نه ده، بلکي د هيري په مقابل کي ده، ﴿عتيرة﴾ تعريف يې ذکر سو، خو د دې په تعريف کي نور اقوال هم نقل سوي دي، يو دا چي کله به د اوښې د لنګوالي

اول ځل وو، نو دهغې دا اول بچی به يې ذبح کوی وغيره. ﴿شاة﴾ عام اسم دی، پر پسه، وزګړي، بزه ټولو يې اطلاق کيږي.

تشريح: له دې ځايه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د قائلينِ وجوب دلائل ذکر کړي دي چې يو نقلي او بل عقلي دليل دی، نقلي دليل دا دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: که څوک د قربانۍ وس او طاقت لري، خو بيا هم قرباني نه کوي، نو هغه دي زموږ عيدګاه ته نژدې هم نه ورځي. دا يو ډېر سخت وعيد دی کوم چې فقط د يو واجب کار د پرېښوولو په هکله وارېدلای سيَ. لهذا په دې سره د قربانۍ وجوب ثابت سو.

ولأنها قربة يضاف إلخ: د عقلي دليل حاصل دا دی چې قرباني يو داسي عبادت دی کوم چې د خپل وخت وطرف ته منسوبول کيږي او يوم الأضحیٰ ويل کيږي (يعني د قربانۍ وطرف ته د قربانۍ د وخت نسبت کيږي او خلک داسي وايي: يوم الأضحیٰ)، او دغه د وخت په نسبت او اضافت سره د وجوب وطرف ته اشاره ترلاسه کيږي؛ ځکه چې اضافت د مضاف إليه (يعني د قربانۍ) د اختصاص لپاره وي، او اختصاص هغه وخت ثابتيږي چې د قربانۍ وجود وسي (قرباني وکړی سي)، او د سنت په صورت کي کېدای سي چې ټوله مکلفين پر قرباني نه کولو اتفاق وکړي او ټوله قرباني پرېږدي (کوم ته چې مصنف رَحِمَهُ الله جنسِ مکلفين ويلي دي)، لهذا د وجودِ قربانۍ (قرباني کولو) لپاره وجوب ضروري سو. د دې لپاره چي اختصاص ثابت سي، لکه څرنګه چي په يوم الجمعه، يا وقت الظهر، يا شهر رمضان کي همدغه خبره ده (په بله او لنډه وينا داسي هم ويل کېدای سي چې د قربانۍ عبادت د خپل وخت وطرف ته منسوب دی يعني يوم الأضحی، او کوم عبادت چي د وخت وطرف ته منسوب وي، هغه واجب وي، نو ځکه قرباني به هم واجب وي. لکه په يوم الجمعة کي چي لمونځ د جمعې وطرف ته منسوب دی، نو جمعه واجب او لازم ده).

غيرأن الأداء إلخ: په دې سره قائلينِ سنت ته جواب ورکوي چي دوی مسافر پر مقيم قياس کړی دی، حاصل يې دا دی چي د مسافر په حق کي د قربانۍ پر نه واجبېدلو قياس کول او په دې قياس سره د مقيم په حق کي هم د قربانۍ نه وجوب ثابتول صحيح نه دي؛ ځکه چي د قربانۍ لپاره څه اسباب او شرائط ضروري وي، او د سفر په وجه مسافر لره د هغه اسبابو ترلاسه کېدل مشکل وي، همدارنګه د قربانۍ لپاره يو څو مخصوصه ورځي شرط دي (يعني اوله، دويمه او درېيمه د ذی الحجې)، نو د هغوی په تېرېدلو سره قرباني ختميږي. لنډه دا چي مسافر لره د دې شرطونو رعايت کول او د قربانۍ اسباب حاصلول او بيا خاص په خپل وخت کي قرباني کول مشکل او ستونزمن دي، نو له حرج او ستونزي څخه د مسافر بچ کېدلو لپاره موږ د هغه له غاړي څخه د قربانۍ وجوب ساقط کړی دی، لکه څرنګه

چې د مسافر لپاره د جمعې د شرطونو د مشکل کېدو په وجه له هغه څخه جمعه ساقطه کړل سوې ده او پر مسافر واجب نه ده ګرځول سوې، نو همداسې قرباني هم پر هغه واجب کړل سوې نه ده.

(**یادونه**: کوم حاجیان چې په منیٰ کې مسافر وي، پر هغوی قرباني واجب نه ده، خو پر تمتّع او قِران کونکو حاجیانو دمِ تمتع او دمِ قران واجب دي).

والمراد إلخ: دا د فریقِ مخالف د پېش کړه حدیث "من أرادَ منكَ إلخ" جواب دی، حاصل یې دا دی چې په دې حدیث کې د ارادې هغه مراد او مطلب نه دی کوم چې تاسې ګومان کوي چې د دې مطلب اختیار ورکول دي چې که قرباني کوي که یې پرېږدي، بلکې اراده په معنیٰ سره د قصد ده، یعنې کوم څوک چې د دغه واجب اداء کولو قصد او اراده وکړي، نو هغه ته پکار دي چې ورېښتان وغیره پرې نه کړي، لکه په "من أرادَ الصلاة فليتوضأ" او "من أرَاد الجمعة فليغتسل" کې چې هم دغه خبره ده، لهذا د "أرَادَ" په لفظ سره پر سنت والي دلیل نیول بالکل صحیح نه دي.

والعتيرة إلخ: او پر عتیره قیاس کول هم صحیح نه دي؛ ځکه چې عتیره منسوخه کړل سوې ده، او پر منسوخ شي یو ثابت شده حکم قیاسول د عقل او اُصول خلاف دي، نو قائلین سنت چې د قرباني نه وجوب د عتیره پر نه وجوب قیاس کړی دی، دا هم صحیح نه سو.

د قرباني شرائط او د هغوی وجوهات

وَإِنَّمَا اخْتَصَّ الْوُجُوبُ بِالْحُرِّيَّةِ او [د قرباني] واجبېدل د آزاد والي سره [په دې وجه] خاص دی لِأَنَّهَا وَظِيفَةٌ مَالِيَّةٌ لَا تَتَأَدَّى إِلَّا بِالْمِلْكِ ځکه چې قرباني یو مالي وظیفه [او مالي عبادت] دی کوم چې له ملکیت [مالک کېدو] څخه بغیر نه اداء کېږي وَالْمَالِكُ هُوَ الْحُرُّ او مالک [ملکیت لرونکی کس] هغه آزاد وي وَبِالْإِسْلَامِ لِكَوْنِهَا قُرْبَةً او د مسلمان والي سره [د قرباني وجوب په دې وجه] خاص دی چې قرباني یو عبادت دی [او له اسلام څخه بغیر عبادت نه سي اداء کېدلای] وَبِالْإِقَامَةِ لِمَا بَيَّنَّا او د مقیم والي سره د هغه دلیل په وجه خاص دی کوم چې موږ بیان کړی وَالْيَسَارِ لِمَا رَوَيْنَا مِنِ اشْتِرَاطِ السَّعَةِ او د مالداری سره د هغه حدیث په وجه خاص دی کوم چې موږ روایت کړی چې [د قرباني] وس لرل شرط دي وَمِقْدَارُهُ مَا يَجِبُ بِهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ او د مالداری مقدار هغه دی د کوم په وجه چې صدقة الفطر واجبېږي وَقَدْ مَرَّ فِي الصَّوْمِ او هغه په کتاب الصوم [په باب صدقة الفطر کې] تېر سو وَبِالْوَقْتِ وَهُوَ

يَوْمُ الْأَضْحَى لِأَنَّهَا مُخْتَصَّةٌ بِهِ او دوخت سره [د قرباني وجوب په دې وجه] خاص دی ځکه چي قرباني د همدغه وخت سره خاص ده وَسَنُبَيِّنُ مِقْدَارَهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او د وخت مقدار به يې موږ انشاء الله ژر بيان کړو.

اللغات: ﴿قُربة﴾ نېکي، طاعت او عبادت (هر د نېکۍ کار چي په هغه سره د الله نژدېکت حاصلول کيږي)، ﴿إقامة﴾ د افعال د باب مصدر دی: مقيم کېدل، ځايي کېدل، ﴿يسار﴾ پراخ لاسي، مراد: مالداري.

شريح: په شروع (متن) کي چي کوم څلور خبري سوي دي، له هغوی څخه د اولي خبري (يعني د قربانۍ د وجوب) بحث خويې په تفصيلي توګه بيان کړی، په دې عبارت کي د اولي او دويمي خبري (قرباني پر آزاد، مسلمان، مقيم او مالدار باندي د اختر په ورځو کي واجب ده) بحث او تفصيل بيانوي.

نو قرباني پر کوم چا واجب ده، د دې لپاره يې څلور شرطونه بيان کړي دي.

(۱)... اول شرط آزاد والی دی (چي قرباني کونکي به آزاد وي، غلام به نه وي)؛ ځکه چي قرباني يو مالي وظيفه ده کوم چي له ملکيت څخه بغير نه سي اداء کېدلای (بلکي ملکيت ضروري دی چي قرباني کونکي به د مال وغيره مالک وي)، او په غلام کي د مالک کېدلو صلاحيت نسته، بلکي هغه خپله د بل چا تر ملکيت لاندي دي او د هغه د ملل په درجه کي دی.

(۲)... دويم شرط مسلمان والی دي؛ ځکه چي قرباني يو عبادت دی، او کافر د عبادت اداء کولو اهل نه دی.

(۳)... درېيم شرط مقيم والی دی، ځکه چي د قربانۍ لپاره ځو اسباب او شرائط ضروري دي، او له مقيم کېدلو څخه بغير د هغوی حصول او په هغوی عمل کول مشکل دي (لکه مخکي چي هم دا دليل ذکر سو)، لهذا د قربانۍ واجبېدلو لپاره اقامت هم ضروري دی.

(۴)... څلورم شرط مالدار والی دی (چي قرباني کونکي کس به مالدار وي او د هغه سره به وس او ګنجايش وي)، ځکه د مخکيني حديث "مَنْ وَجَدَ سَعَةً إلخ" پر بناء د قربانۍ وس لرل هم مشروط دي.

يادونه: دومره وس (مالداري) شرط ده کوم چي په صدقهٔ فطر کي شرط ده يعني مالک د نصاب به وي، خو د دې نصاب نامي کېدل او کال پر تېرېدل ضروري نه دي، بلکي که د قربانۍ يوه ورځ مخکي هم څوک د نصاب مالک سي، نو پر هغه قرباني واجبيږي (د مالک نصاب مطلب دا چي دومره مال لري کوم چي د اووه نيمو تولو سره زرو يا دو پنځوس نيمو تولو سپينو زرو په برابر وي)، همدارنګه که څوک دوه کورونه لري چي په يوه کي اوسيږي او بل خالي ولاړ وي چي د هغه قيمت د نصاب په اندازه وي، نو زکاة که څه هم نه پر واجبيږي ځکه چي دا مالِ نامي نه دی، خو قرباني او صدقهٔ فطر پر واجبيږي.

(۵)... پنځم شرط د قربانۍ د وخت موجود والی دی، یعني د قربانۍ وخت به پاتـه وي چي هغه تـه د قربانۍ ورځي (ایام نحر) وایي، ځکه چي قرباني د همدې ورځو سره خاص ده.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د وخت مقدار به انشاء الله موږ په را روانو صفحو کي بیان کړو (چي هغه درې ورځي دي، یعني ۱۰، ۱۱، ۱۳ د ذی الحجې).

قرباني د چا له طرفه واجب ده؟

وَتَجِبُ عَنْ نَفْسِهِ او قرباني پر انسان د خپل ځان له طرفه واجب ده لِأَنَّهُ أَصْلٌ فِي الْوُجُوبِ عَلَيْهِ ځکه چي پر خپل ځان د [قربانۍ] واجبېدلو په اعتبار سره انسان اصل دی عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چي موږ [مخکي] بیان کړه [په باب صدقة الفطر کي] وَعَنْ وَلَدِهِ الصَّغِيرِ او د خپل کوچني بچي له طرفه [هم قرباني] واجب ده لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى نَفْسِهِ ځکه کوچنی بچی د انسان د خپل ځان په درجه کي دی فَيُلْحَقُ بِهِ نو ځکه بچی به د هغه سره لاحق وي كَمَا فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ لکه څرنګه چي په صدقة الفطر کي کیږي وَهٰذِهِ رِوَايَةُ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حسن رَحِمَهُ الله روایت دی وَرُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ لَا تَجِبُ عَنْ وَلَدِهِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه بل روایت دا سوی دی چي د خپل بچي له طرفه قرباني واجب نه ده وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ ۞ او همدا ظاهر روایت دی بِخِلَافِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ په خلاف د صدقهٔ فطر لِأَنَّ السَّبَبَ هُنَاكَ رَأْسٌ يَمُونُهُ وَيَلِي عَلَيْهِ ځکه چي سبب هلته [یعني پر انسان د صدقهٔ فطر واجبېدلو سبب] داسي ذات دی چي انسان یې نفقه [خرچه] زغمي او چي پر هغه ولایت لري وَهُمَا مَوْجُودَانِ فِي الصَّغِيرِ او دا دواړه [مؤنت او ولایت] په کوچني بچي کي موجود دي [ځکه ښکاره ده چي انسان پر خپل بچي ولایت هم لري او د هغه نفقه او قضاء حوائج هم پر انسان دي] وَهٰذِهِ قُرْبَةٌ مَحْضَةٌ او اُضحیه [قرباني] خالص قربت دی وَالْأَصْلُ فِي الْقُرَبِ أَنْ لَا تَجِبَ عَلَى الْغَيْرِ بِسَبَبِ الْغَيْرِ او په قرباتو کي اصول دا دی چي د یوه په سبب سره پر بل چا نه لازمیږي وَلِهٰذَا لَا تَجِبُ عَنْ عَبْدِهِ همدا وجه ده چي د خپل غلام له طرفه [پر مالک] قرباني نه واجبیږي وَإِنْ كَانَ يَجِبُ عَنْهُ صَدَقَةُ الْإِفْطَارِ که څه هم د غلام له طرفه [پر مالک] صدقهٔ فطر واجبیږي.

۞ القول الراجح: ظاهر الرواية، قال العلامة قاضیخان رَحِمَهُ الله: وفي الولد الصغير عن أبي حنيفة رَحِمَهُ الله روايتان، في الظاهر الرواية يستحب ولا يجب (فتاوى قاضيخان ج:۲، ص:۳۲۹)، وكذا في رد المحتار (ج:۵، ص:۲۲۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۹۲]

اللغات: ﴿رأس﴾ سر، مراد: ذات، فرد. ﴿یموئه﴾ د نصر د باب مضارع ده: خرچه او نفقه ذغمل (په غاړه اخیستل)، مراد: نفقه ورکول.

تشریح: په دې عبارت کې د څلورمې خبرې (قرباني د چا له طرفه واجب ده) تفصیل بیان سوی دی، نو فرمایي چې د خپل ځان له طرفه او د خپل کوچني اولاد له طرفه واجب ده، لکه څرنګه چې صدقۀ فطر د خپل ځان له طرفه او د خپل کوچني اولاد له طرفه واجب ده.

په دې باره کې له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه نقل سوي دي، یو د حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله روایت دی کوم چې ذکر سو، او دویم روایت ظاهر الروایة دی او هغه دا چې د کوچني له طرفه قرباني واجب نه ده

او د دې روایت (ظاهر الروایه) مطابق په صدقۀ فطر او قرباني کې فرق دا دی چې د صدقۀ فطر د واجبېدلو سبب مؤنت او ولایت دی، یعني پر سړي د هر هغه فرد له طرفه صدقۀ فطر واجب ده چې سړی د هغه د نفقې ذمه وار وي او پر هغه ولایت لري، او په کوچني (صغیر) کې دا دواړې خبرې سته، او د غلام حال هم داسې دی، نو ځکه د دوی له طرفه صدقۀ فطر واجب ده.

او پاته سوه قرباني خو یو خالص قربت او عبادت دی، او په قرباتو کې قاعده دا ده چې هغه پر سړي د بل چا په وجه نه واجبیږي.

دا ټوله تفصیل هغه وخت دی کله چې د کوچني سره مال نه وي، او که چیرې د هغه سره مال وي، نو د هغه تفصیل په لاندیني عبارت کې را روان دی.

د مال لرونکي کوچني د قرباني بیان

وَإِنْ كَانَ لِلصَّغِيرِ مَالٌ او که د کوچني لپاره خپل مال وي يُضَحِّيْ عَنْهُ أَبُوْهُ أَوْ وَصِيُّهُ مِنْ مَالِهِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د هغه له طرفه دې خپل پلار یا وصي د هغه له مال څخه قرباني وکړي. وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ ۞: يُضَحِّيْ مِنْ مَالِ نَفْسِهِ لَا مِنْ مَالِ الصَّغِيْرِ امام محمد، امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله فرمایي: چې له خپل مال څخه دې قرباني وکړي، نه د کوچني له مال څخه فَالْخِلَافُ فِيْ هٰذَا كَالْخِلَافِ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ نو په دې کې د صدقۀ فطر د اختلاف په څېر اختلاف دی وَقِيْلَ: لَا تَجُوْزُ التَّضْحِيَةُ مِنْ مَالِ الصَّغِيْرِ فِيْ قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا او ویل سوي دي: چې

۞ القول الراجح: قول محمد وزفر رَحِمَهُمَا الله، وفيه تفصيل في رد المحتار (ج:۵، ص:۲۳۲). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۹۴]

د دوی ټولو د قول مطابق د کوچني له مال څخه قرباني کول جائز نه دي لِأَنَّ الْقُرْبَةَ تَتَأَدّٰى بِالْإِرَاقَةِ ځکه چي [دغه] قربت په وینه بیولو سره اداء کیږي وَالصَّدَقَةُ بَعْدَهَا تَطَوُّعٌ او تر هغه وروسته [د غوښو] صدقه کول نفلي عبادت دی فَلَا يَجُوْزُ ذٰلِكَ مِنْ مَالِ الصَّغِيْرِ نو ځکه دا د کوچني له مال څخه جائز نه دي وَلَا يُمْكِنُهُ أَنْ يَأْكُلَ كُلَّهُ او دا [هم] ممکن نه دی چي کوچنی ټوله غوښي وخوري وَالْأَصَحُّ أَنْ يُضَحِّيَ مِنْ مَالِهِ وَيَأْكُلَ مِنْهُ مَا أَمْكَنَهُ او صحيح دا ده چي د کوچني له مال څخه قرباني وکړي او له هغه څخه کوچنی دومره غوښي وخوري چي خوړل يې ممکن وي [يعني بقدر أكل غوښي را وګرځوي] وَيَبْتَاعَ بِمَا بَقِيَ مَا يَنْتَفِعُ بِعَيْنِهِ او په باقي مانده غوښو سره داسي څه رانيسي چي له هغه څخه کوچنی نفع اخيستلای سي.

اللغات: ﴿تطوع﴾ نفلي عبادت، ﴿يبتاع﴾ د افتعال د باب مضارع ده: رانيول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که د کوچني هلک سره خپل مال وي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حکم دا دی چي په دې صورت کي به د هغه له مال څخه قرباني کيږي، امام محمد، امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله فرمايي چي له خپل مال څخه به قرباني کوي، نه د کوچني له مال څخه.

يعني لکه څرنګه چي په صدقهٔ فطر (سرسايه) کي اختلاف دی چي که يو کوچنی خپل مال لري، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د کوچني له مال څخه صدقهٔ فطر اداء کول جائز دي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه دي، هغسي اختلاف په قرباني کي هم دی.

وقيل لايجوز إلخ: يو قول دا نقل سوی دی چي د کوچني له مال څخه قرباني کول د هيڅا په نېز هم جائز نه دي: ځکه چي د قرباني دوه مقصده دي: ① وينه بيول، چي دا د مال تلفول دي، او په همدې سره قرباني اداء کيږي. ② غوښي صدقه کول، حال دا چي پلار نه د کوچني د مال تلفولو مالک دی او نه د کوچني مال په نفلي توګه صدقه کول جائز دي، او نه دا کېدلای سي چي ټوله غوښي کوچنی خپله وخوري، نو ځکه د کوچني له طرفه قرباني کول جائز نه دي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي زياته صحيح دا ده چي د کوچني له طرفه قرباني وکړی سي او کوچنی چي څومره غوښي خوړلی سي هغه دي را وګرځول سي، او پاته غوښي دي خرڅي کړل سي او په هغه سره دي کوچني ته داسي شی رانيول سي چي د هغه عين باقي پاتيږي چي کوچنی له هغه څخه نفع اخلي، لکه څپلی، کالي، پټو (څادر)، سندوخ، الماری او داسي نور.

يادونه: فتویٰ پر ظاهر روايت ده چي پر سړي نه د بچي له طرفه قرباني واجب ده او نه د بچي له مال څخه قرباني جائز ده.

د قرباني کوم څاروي او د څومره کسانو له طرفه کافي دي (تفصيلي بيان)

قَالَ: وَيَذْبَحُ عَنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ شَاةً فرمايي: او هغه دي په دوی کي [يعني له خپل ځان او اولاد څخه] د هر يوه له طرفه يو پسه ذبح كړي أَوْيَذْبَحُ بَقَرَةً أَوْ بَدَنَةً عَنْ سَبْعَةٍ يا دي يوه غوا يا يو اوښ داوو كسانو له طرفه ذبح كړي وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا تَجُوزَ إِلَّا عَنْ وَاحِدٍ او قياس دا دی چي دا [غوا او اوښ] جائز نه سي مګر صرف د يوه کس له طرفه لِأَنَّ الْإِرَاقَةَ وَاحِدَةٌ وَهِيَ الْقُرْبَةُ ځکه چي وينه بيول يعني قربت صرف يو دی إِلَّا أَنَّا تَرَكْنَاهُ بِالْأَثَرِ خو موږ داثر په وجه قياس پرېښی دی وَهُوَ مَا رُوِيَ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ[1] أَنَّهُ قَالَ او دا هغه اثر دی کوم چي له حضرت جابر رضي الله عنه څخه نقل سوی دی چي هغه وفرمايل «نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ» موږ د رسول الله سره غوا او اوښ د اوو، اوو کسانو له طرفه قرباني کړی وَلَا نَصَّ فِي الشَّاةِ او د پسه په باره کي هيڅ نسته فَبَقِيَ عَلَى أَصْلِ الْقِيَاسِ نو هغه پر اصل قياس باقي پاته سو وَتَجُوزُ عَنْ سِتَّةٍ أَوْ خَمْسَةٍ أَوْ ثَلَاثَةٍ او غوا، اوښ د شپږو يا پنځو يا دريو کسانو له طرفه هم جائز دي ذَكَرَهُ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْأَصْلِ دا امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي ذکر کړي دي لِأَنَّهُ لَمَّا جَازَ عَنِ السَّبْعَةِ ځکه چي کله دا داوو کسانو له طرفه جائز دي فَعَمَّنْ دُونَهُمْ أَوْلَى نو تر اوو د کمو کسانو له طرفه به په درجه اولیٰ جائز وي وَلَا تَجُوزُ عَنْ ثَمَانِيَةٍ او داتو کسانو له طرفه جائز نه دي أَخْذًا بِالْقِيَاسِ فِيمَا لَا نَصَّ فِيهِ پر قياس په عمل کولو سره په هغه شي کي چي د هغه په باره کي هيڅ نص نسته [ځکه د کوم څه په باره کي چي نص نه وي، هلته له قياس څخه کار اخيستل کيږي] وَكَذَا إِذَا كَانَ نَصِيبُ أَحَدِهِمْ أَقَلَّ مِنَ السُّبُعِ او همدارنګه که له دوی څخه د يوه حصه تر اوومي حصې کمه وي لَا يَجُوزُ عَنِ الْكُلِّ نو د ټولو له طرفه نه جائز کيږي لِانْعِدَامِ وَصْفِ الْقُرْبَةِ فِي الْبَعْضِ ځکه [دلته] په بعضي حصه کي د قربت وصف معلوم سو وَسَنُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او موږ به ان شاء الله تعالی [وروسته] ژر د دې بيان وکړو.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد بمعناه، باب البقرة والجزور عن كم يجزي؟، ص:۴۰۹، حديث رقم:۲۸۰۸، والترمذي. واخرجه ابن ماجة في كتاب الأضاحي، حديث رقم:۳۱۳۲.

اللغات: ﴿شاة﴾ مخکې ذکر سوه چې دا عام اسم دی، پر پسه، بزه او داسې نور ټولو یې اطلاق کیږي، ﴿البَدَنة﴾ هغه اوښ، اوښه یا غوا کوم چې قربانول کیږي (او کوم چې د الله د قُرب او ثواب حاصلولو په اراده سره ذبح کول کیږي). او د ځینو په نیز فقط اوښ ځنې مراد دی. جمع یې: بُدْن او بُدُن راځي لکه په قرآن کریم کې چې ذکر سوي دي "وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُمْ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ" [سورة الحج: ۳۶].

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې د پسه قرباني فقط د یوه کس له طرفه جائز او کافي ده. خو د غټو څارویو قرباني مثلاً د اوښ، غویي، غوا وغیره په قرباني کې اووه کسان شریک کېدلای سي.

که څه هم د قیاس تقاضا په غټ څاروي کې هم دا ده چې د هغه قرباني فقط د یوه کس له طرفه کافي سي؛ ځکه څرنګه چې پسه نفسِ واحد دی، همداسې غویی وغیره هم نفسِ واحد دی، او څرنګه چې په پسه کې یو ځل وینه بیول کیږي، همداسې په غویي وغیره کې هم یو ځل وینه بیول کیږي. او همدا إراقت دم (وینه بیول) عبادت دي، لهذا کله چې دوی په إراقتِ دم کې دواړه یو شان دي نو په کفایت کې هم یو شان کېدل پکار دي (چې فقط د یوه کس له طرفه کافي کېدل پکار دي).

خو موږ د حضرت جابر رضي الله عنه د حدیث په وجه (کوم چې په عبارت کې ذکر سو) قیاس پرې ایښی دی، چې هغه صرف د غټ څاروي په هکله دي، لهذا اوس فقط کوچنی څاروی یعني پسه وغیره د قیاس مطابق پاته سو، ځکه چې د هغه باره کې هیڅ نص نسته.

وتجوز عن خمسة إلخ: څرنګه چې په غټ څاروي کې د اوو خلکو شرکت جائز دی، لهذا که تر اوو کم وي، نو په درجه اولیٰ جائز دی، ځکه چې اقل د اکثر تابع او د هغه جزء وي، نو کوم حکم چې د اکثر دی، هغه به د اقل هم وي، خو څرنګه چې تر اوو د زیاتو کسانو په هکله هیڅ نص نسته، نو ځکه د اتو یا تر دې د زیاتو کسانو له طرفه د غټ څاروي قرباني نه صحیح کیږي؛ ځکه د غیرِ منصوص شي په هکله پر قیاس عمل کیږي.

وكذا إذا كان إلخ: د غټ څاروي د قرباني په صُورت کې شرط دا دی چې د ټولو شریکانو حصې به سره برابري وي، نو که د یوه شریک حصه له اوومې حصې څخه کمه وي (مثلاً اووه کسان سره شریکان دي چې له هغوی څخه د یوه کس لپاره یوه حصه ده او د بل لپاره تر هغه کمه ده، پوره اوومه نه ورکول سوه)، نو په دې صورت کې د هیچا له طرفه هم قرباني نه کیږي، د ټولو له طرفه فوتیږي؛ ځکه کوم یوه ته چې کمه (لږ) حصه ورکول سوه، د هغه له طرفه قربت ثابت نه سو، او د دغه یوه قربت د نشتوالي په وجه د یوه له طرفه هم قربت نه ثابتیږي او د یوه قرباني هم نه کیږي (ځکه اُصول دا دی چې په هره، هره حصه کې قربت موجودېدل پکار دي، نو بیا د ټولو قرباني صحیح کیږي، او د یوه د قربت نشتوالي په وجه د هیچا قرباني نه کیږي [اثمار الهدایه] یادونه: که د یوه کس له طرفه په نفلي توګه پسه قرباني کړي او د هغه ثواب ډېرو کسانو ته وبخښي (ور ورسوي)، نو دا جائز دي).

د پورتنۍ مسئلې په هکله د امام مالک رَحِمَهُ الله مذهب

وَقَالَ مَالِكٌ: تَجُوْزُ عَنْ أَهْلِ بَيْتٍ وَاحِدٍ وَإِنْ كَانُوْا أَكْثَرَ مِنْ سَبْعَةٍ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چې يو پسه ديوې کورنۍ له طرفه جائز دی که څه هم هغوی تر اُووه زيات وي وَلَا تَجُوْزُ عَنْ أَهْلِ بَيْتَيْنِ وَإِنْ كَانُوْا أَقَلَّ مِنْهَا او د دوو کورنيو له طرفه جائز نه دی که څه هم هغوی تر اووه کم وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ «عَلَىٰ كُلِّ أَهْلِ بَيْتٍ فِيْ كُلِّ عَامٍ أَضْحَاةٌ وَعَتِيْرَةٌ» ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې پر هر کور والا هر کال قرباني او عتيره لازم ده قُلْنَا: الْمُرَادُ مِنْهُ وَاللهُ أَعْلَمُ قَيِّمُ أَهْلِ الْبَيْتِ موږ وايو: چې له دې څخه (والله اعلم) د کورنۍ سرپرست [مشر] مراد دی لِأَنَّ الْيَسَارَ لَهُ ځکه چې مالداري د هغه لپاره ده يُؤَيِّدُهُ مَا يُرْوٰى «عَلَىٰ كُلِّ مُسْلِمٍ فِيْ كُلِّ عَامٍ أَضْحَاةٌ وَعَتِيْرَةٌ» او د دې [تأويل] تأييد کوي دا روايت سوی حديث چې "پر هر مسلمان په هر کال کې يوه قرباني او عتيره لازم ده" وَلَوْ كَانَتِ الْبَدَنَةُ بَيْنَ اثْنَيْنِ نِصْفَيْنِ او که يو اوښ د دوو کسانو تر مينځ نيم په نيمه وي تَجُوْزُ فِي الْأَصَحِّ نو د صحيح قول مطابق جائز دي لِأَنَّهُ لَمَّا جَازَ ثَلَاثَةُ الْأَسْبَاعِ ځکه کله چې له اوو څخه درې حصې جائز دي جَازَ نِصْفُ السُّبُعِ تَبَعًا نو د هغوی په تبعيت کې د اُوومې حصې نصف هم جائز کيږي وَإِذَا جَازَ عَلَى الشَّرِكَةِ او کله چې د شرکت په توګه قرباني جائز ده فَقِسْمَةُ اللَّحْمِ بِالْوَزْنِ نو د غوښو تقسيم به په وزن [تول] سره کيږي لِأَنَّهُ مَوْزُوْنٌ ځکه چې غوښې موزوني [تلل کېدونکي] شی دي وَلَوِ اقْتَسَمُوْا جُزَافًا او که يې په اټکل [او اندازه] سره تقسيم کړي لَا يَجُوْزُ نو جائز نه دي إِلَّا إِذَا كَانَ مَعَهُ شَيْءٌ مِنَ الْأَكَارِعِ وَالْجِلْدِ مګر کله چې د غوښو سره پښې او څرمن هم موجود وي اِعْتِبَارًا بِالْبَيْعِ پر بيع په قياس کولو سره.

اللغات: ﴿أهل البيت﴾ کور والا، په يوه کور کې استوګن کسان، کورنۍ (فاميل). ﴿أضحاة﴾ يوه قرباني. ﴿قيّم﴾ کارساز، سرپرست. ﴿يسار﴾ پراخ لاسي، سهولت، مراد: مالداري. ﴿جزاف﴾ اټکل، اندازه. ﴿أكارع﴾ جمع د "كُرَاعٌ" ده: د حيوان پښې. ﴿جلد﴾ څرمن، پوست.

---

❶ تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب ... في إيجاب الأضاحي ص:۴۰۶، حديث رقم:۲۷۸۸. والترمذي، باب ما جاء أن الشاة الواحدة يجزى عن أهل البيت ص:۳۰۰، حديث رقم:۱۵۰۵. وابن ماجة، باب الأضاحي واجبة هي أم لا، حديث رقم:۳۱۲۵.

تشريح: فرمايي دامام مالک رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چي ديوه کور د خلګو له طرفه يو پسه هم جائز او کافي دی، که څه هم هغوی له اوو څخه زيات وي، خود دوو کورنو د خلګو له طرفه يوه پسه نه کافي کيږي، که څه هم هغوی تر اوو کم وي؛ امام مالک رَحِمَهُ الله په هغه حديث سره دليل نيسي کوم چي په عبارت کي مذکوره دی، چي رسول الله ﷺ د ټوله اهلِ بيت له طرفه يوه قرباني لازم ګرځولې ده، نو ځکه ديوه اهل بيت له طرفه به يو پسه کافي وي، برابره ده هغوی تر اوو کم وي او که زيات وي.

د احنافو له طرفه جواب دا دی چي اولاً خو په دې حديث سره دليل نيول صحيح نه دي؛ ځکه چي غريب دی، امام ترمذي رَحِمَهُ الله د دغه حديث په هکله فرمايلي دي: "غريب لا نعرفه مرفوعاً إلّا من هٰذا الوجه إلخ"، همدارنګه علامه عبد الحق رَحِمَهُ الله د دې اسناد ضعيف ګرځولی دی.

او که بيا هم مونږ دا روايت ثابت او صحيح ومنو، نو جواب يې دا دی چي د دې حديث مطلب دا نه دی چي پر هر کور والا يوه قرباني ده، بلکي مطلب يې دا دی چي د هر کور پر مشر قرباني ده؛ ځکه چي پر هغه واجب ده، چي هغه مالدار دی او د ټوله کور مشر توب پر هغه دی (او قرباني نقط د هغه له طرفه کافي کيږي)، نو دلته د دغه يوه کس قرباني د اهلِ بيت له طرفه کافي ګرځول سوې ده، نه دا چي يو پسه د کور د ټوله خلګو له طرفه کافي ګرځول سوی دی. او بل دا چي له نبوي دور څخه تر نن ورځي پوري د امت پر دې اجماع ده چي يو پسه د يوه فرد له طرفه کافي کيږي، لهذا ستاسو دا فرمان د عقل او نقل دواړو خلاف دی. (احسن الهدايه)

ولوكانت البدنة إلخ: فرمايي چي که دوه کسان په ګډه يو اوښ قرباني کړي، نو دا صحيح دی، که نه؟، په دې باره کي دو قولونه دي: ① ... قاضي احمد بن محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا صحيح نه دي؛ ځکه چي په دې صورت کي د هر شريک له طرفه درې نيمي حصې قرباني کيږي، او د نصف حصې قرباني غير متصور ده، نو دا نصف حصه په قرباني کي نه راځي، لهذا کله چي په نصف حصه کي قرباني جائز نه سوه، نو په پاته دريو حصو کي به هم جائز نه وي.

② ... صحيح قول دا دی چي په دې صورت کي قرباني جائز ده، فقيه ابو الليث او صدر شهيد رَحِمَهُمَا الله همدا قول اختيار کړی دی؛ وجه يې دا ده چي په نصف حصه سره هغه وخت قرباني نه اداء کيږي کله چي يوازي همدا نصف حصه وي، او دلته درې نيمي حصې دي، او درې حصې د قربانی لپاره کافي دي او پاته سوه نصف حصه د دوی په ضمن او متابعت کي جائز کيږي (يعني نيمه حصه د هغه دريو حصو تابع کيږي او هغه جائز کيږي)؛ ځکه داسي ډېر حکمونه سته کوم چي قصداً نه ثابتيږي، خو ضمناً او تبعاً ثابتيږي.

﴿د شريکانو په مينځ کي د غوښو د تقسيمولو طريقه﴾

وإذا جاز إلخ: يعني کله چي په شرکت سره قرباني جائز ده، نو کله چي په يوه ښاروي کي څو خلک شريکان سي، نو د قرباني غوښي به د شريکانو تر مينځ په وزن او تول سره تقسيمول کيږي؛ ځکه چي غوښي موزوني شی دي، نو وزن او تول پکښي اصل دی، لهذا حتی الامکان به پر اصل عمل کيږي. او که چيري شريکان يې په اټکل او اندازې سره تقسيم کړي، نو دا تقسيم نه صحيح کيږي. ها! که چيري د غوښو سره څرمن، سر او پښې، اينه وغيره يوځای کړي او بيا يې په اټکل او اندازه سره تقسيم کړي، نو په دې صورت کي تقسيم صحيح کيږي؛ ځکه چي اوس کمي بيشي (تفاضل) د خلاف جنس وطرف ته گرځي او جائز کيږي، او د دې مثال دا دی چي د غوښو بيع د غوښو په بدله کي په کمي بيشي سره جائز نه ده، خو که چيري له يوه طرفه د غوښو سره پښې وغيره هم وي، نو بيا په کمي بيشي سره بيع جائز ده.

قرباني د خپل ځان لپاره رانيول خو بيا شپږ نور کسان پکښي شريکول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَلَوِ اشْتَرَى بَقَرَةً يُرِيدُ أَنْ يُضَحِّيَ بِهَا عَنْ نَفْسِهِ فرمايي: او که څوک غوا رانيسي چي په هغه سره يې اراده دا وي چي د خپل ځان له طرفه يې قرباني کړي ثُمَّ أَشْرَكَ فِيهَا سِتَّةً مَعَهُ بيا د خپل ځان سره په هغه کي شپږ کسان شريکان کړي جَازَ اسْتِحْسَانًا نو دا استحسانا جائز دي وَفِي الْقِيَاسِ لَا يَجُوزُ او په قياس کي جائز نه دي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّهُ أَعَدَّهَا لِلْقُرْبَةِ ځکه چي هغه دغه ښاروی د قربت لپاره تيار کړی دی [يعني د عبادت په نيت يې رانيولی او درولی دی چي زه به يې د لوی اختر په ورځ قربانوم] فَيُمْنَعُ عَنْ بَيْعِهَا تَمَوُّلًا نو د مال ترلاسه کولو د غرض په وجه به هغه له بيع [خرڅولو] څخه منع کول کيږي [ځکه ښکاره ده چي دئ د پيسو په عوض کي هر يوه ته يوه (اوومه) حصه ورکوي او له هر شريک څخه پيسې اخلي] وَالْإِشْرَاكُ هٰذِهِ صِفَتُهُ او د شريک نيولو [يعني په غټ ښاروي کي د نورو کسانو د شريکولو] همدغه صورت دی وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ: أَنَّهُ قَدْ يَجِدُ بَقَرَةً سَمِينَةً يَشْتَرِيهَا د استحسان دليل دا دی: چي انسان ځيني وخت چاغه غوا پيدا کړي نو هغه رانيسي وَلَا يَظْفَرُ بِالشُّرَكَاءِ وَقْتَ الْبَيْعِ وَإِنَّمَا يَطْلُبُهُمْ بَعْدَهُ او د بيع [رانيولو] په وخت کي هغه په [موندلو کي د] شريکانو کامياب نه سي نو تر بيع وروسته په هغوی پسي طلب [او لټون] کوي

فَكَانَتِ الْحَاجَةُ إِلَيْهِ مَاسَّةً نو دې ته ضرورت پېښ سو [چي دا صورت جائز وګرځول سي يعني تر بيع وروسته په غټ ښاروي كي د ځان سره نور كسان شريكول] فَجَوَّزْنَاهُ دَفْعًا لِلْحَرَجِ نو ځكه د حرج دفع كولو لپاره دا مورږ جائز وګرځول وَقَدْ أَمْكَنَ او دا [حرج دفع كول په شريكولو] ممكن دي لِأَنَّ بِالشِّرَاءِ لِلتَّضْحِيَةِ لَا يَمْتَنِعُ الْبَيْعُ ځكه چي د قرباني لپاره رانيولو سره بيع نه ممتنع كيږي وَالْأَحْسَنُ أَنْ يَفْعَلَ ذٰلِكَ قَبْلَ الشِّرَاءِ او غوره دا ده چي هغه دا كار [شريكان نيول] تر رانيولو مخكي وكړي لِيَكُونَ أَبْعَدَ عَنِ الْخِلَافِ وَعَنْ صُورَةِ الرُّجُوعِ فِي الْقُرْبَةِ چي له اختلاف څخه او په قربت كي د رجوع له صورت څخه ليري سي [يعني چي وروسته اختلاف پېښ نه سي، او يا د قربت (قرباني) لپاره د ښاروي تر متعين كېدلو وروسته يو شريك رجوع نه وكړي] وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يَكْرَهُ الِاشْتِرَاكَ بَعْدَ الشِّرَاءِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي له رانيولو څخه وروسته شريكان نيول [يعني په غټ ښاروي كي نور كسان شريكول] مكروي ده لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي مورږ بيان كړی.

اللغات: ﴿أشرك﴾ د افعال د باب ماضي ده: شريک نيول، يو شوک په يو څه كي شريكول. ﴿أعدّ﴾ د افعال د باب ماضي ده: تيارول، تيار ساتل. ﴿تموّل﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مال حاصلول او ترلاسه كول، مال ذخيره كول، مال والا كېدل. ﴿لا يظفر﴾ د سمع د باب نفي صيغه ده: كاميابېدل، برى ترلاسه كول، غالبېدل، د يو شي حاصلول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي كه څوک د قرباني لپاره غوا يا مثلاً غويى رانيسي او اراده يې داوي چي دا به له خپل طرفه قرباني كړم، خو بيا په دې كي شپږ نور كسان شريكان كړي، نو استحساناً دا صورت جائز دی او قياساً جائز نه دی.

د قياس دليل دا دی چي دا په قربت كي د تموّل صورت دی، او د استحسان دليل ضرورت دی. او د قرباني لپاره په رانيولو سره بيع نه ممتنع كيږي بلكي جائز ده مثلاً كه يو مالدار كس د قرباني لپاره غوا رانيسي خو هغه يې خوښه نه سي بيا يې خرڅه كړي او بله رانيسي او قرباني يې كړي، نو دا جائز دي. خو په هر حال غوره دا ده چي له رانيولو څخه مخكي شركت او حصه داري وكړي چي بيا هيڅ اختلاف پاته نه سي او نه په قربت كي د رجوع صورت را مخته سي.

يادونه: د اُصول تقاضا دا ده چي كه فقير كس د قرباني په ورځو كي د قرباني په نيت غوا رانيسي او بيا نور كسان پكښي شريكان كړي، نو شركت نه جائز كيږي، او د مالدار كس د جائز كيږي، لېكن مكروه دي. شامي رَحِمَهُ الله په رد المختار كي همدې ته اشاره كړې ده (ج:۵، ص:۲۰۱)

پر غريب او مسافر كس د قرباني نه وجوب او د قرباني وخت

قَالَ: وَلَيْسَ عَلَى الْفَقِيْرِ وَالْمُسَافِرِ أُضْحِيَّةٌ فرمايي: او پر فقير [غريب] او مسافر قرباني نسته لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړى وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ كَانَا* لَا يُضَحِّيَانِ إِذَا كَانَا مُسَافِرَيْنِ او حضرت ابو بكر او عمر رضى الله عنهما چي كله به په سفر كې وه نو قرباني به يې نه كوله وَعَنْ عَلِيٍّ**: وَلَيْسَ عَلَى الْمُسَافِرِ جُمُعَةٌ وَلَا أُضْحِيَّةٌ او له حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دى: چي پر مسافر نه جمعه سته او نه قرباني قَالَ: وَوَقْتُ الْأُضْحِيَّةِ يَدْخُلُ بِطُلُوْعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ فرمايي: او د قرباني وخت د يوم نحر [لوى اختر د ورځي] له سهار كېدلو [سپېده چاودو] څخه داخليږي إِلَّا أَنَّهُ لَا يَجُوْزُ لِأَهْلِ الْأَمْصَارِ الذَّبْحُ حَتَّى يُصَلِّيَ الْإِمَامُ الْعِيْدَ خو د ښاريانو لپاره تر هغه وخته ذبح جائز نه ده تر دې چي امام د اختر لمونځ وكړي فَأَمَّا أَهْلُ السَّوَادِ فَيَذْبَحُوْنَ بَعْدَ الْفَجْرِ او كوم چي صحرا والا دي، نو هغوى تر سهار كېدلو وروسته ذبح كولاى سي وَالْأَصْلُ فِيْهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ (1) «مَنْ ذَبَحَ شَاةً قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيُعِدْ ذَبِيْحَتَهُ او اصل په دې باره كې د نبي كريم ﷺ دا فرمان دى: څوک چي [د اختر] تر لمانځه مخكي ذبح وكړي نو خپل ذبيحه دي راوګرځوي وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَقَدْ تَمَّ نُسُكُهُ وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِيْنَ» او څوک چي [د اختر] تر لمانځه وروسته ذبح وكړي، نو د هغه عبادت [قرباني] پوره سوه او هغه د مسلمانانو طريقه خپله كړه وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ (2): «إِنَّ أَوَّلَ نُسُكِنَا فِيْ هٰذَا الْيَوْمِ الصَّلَاةُ ثُمَّ الْأُضْحِيَّةُ» [همدا راز] نبي ﷺ فرمايلي دي چي: په دې ورځ زموږ اول عبادت لمونځ دى بيا قرباني ده.

---

* تخريج: اخرجه مصنف عبد الرزاق، باب الضحايا ج:۴، ص:۲۹۳، حديث رقم:۸۱۷۰.

** تخريج: صاحب د اثمار الهدايه وايي چي په دې سره صاحب د هدايه رَحِمَهُ الله د حضرت علي رضي الله عنه ودې قول ته اشاره كړې ده: من على قال: لا جمعة ولا تشريق إلا في مصر جامع (مصنف عبد الرزاق، باب القرى الصغار، ج:۳، ص:۷، حديث ۵۸۹. وايضاً فى مصنف ابن ابي شيبة، حديث رقم:۵۰۵۹).

(1) تخريج: أخرجه البخارى بمعناه، باب سنة الاضحية، ص: ۹۸۶، حديث رقم:۵۵۴۶.

(2) تخريج: أخرجه البخارى بمعناه، باب سنة الأضحية، ص:۹۸۶، حديث رقم:۵۵۴۵.

اللغات: ﴿اضحية﴾ قرباني يعني د قرباني څاروی، اختری. ﴿السواد﴾ د ښار اطراف، يعني د صحرا کلي او علاقه (د صحرا سيمه، صحرايي مېنه). ﴿أهل السواد﴾ هغه خلک کوم چي د ښار په أطرافو (صحرا) کي استوګن وي، چي هغه ته زموږ په اصطلاح ساراني (صحرا والا) خلک وايي. ﴿نسك﴾ مراد: عبادت.

تشريح: پر مسافر او غريب د قرباني نه واجبېدلو دليلونه مخکي تېر سوه چي د غريب کس په هکله دا حديث وو "مَنْ وَجَدَ سَعَةً" چي که څوک وس لري يعني صاحب د نصاب وي نو پر هغه قرباني سته، همدارنګه په بل روايت کي ذکر سوي دي چي حضرت ابو بکر او عمر رضی الله عنهما به په سفر کي قرباني نه کوله، او دا هم نقل سوي دي چي دوی به ځيني وخت مطلقاً له دې بيري قرباني پرېښووله چي خلک هغه فرض نه وګڼي. (نور په عبارت کي د رواياتو تخريج وسوه).

يادونه: پر مسافر خو قرباني واجب نه ده، لېکن که يې وکړي. نو قرباني يې اداء کيږي.

ووقت الأضحية: فرمايي د قرباني ورځي (أيام نحر) درې (۳) دي: د ذی الحجې د مياشتي لسمه ورځ (کوم ته چي موږ د لوی اختر ورځ وايو) او بيا تر هغه وروسته يوولسمه او دوولسمه ورځ.

او که د ښار خلک د اختر تر لمانځه مخکي قرباني وکړي، نو دا جائز نه دي، خو په کومه علاقه کي چي جمعه او د اخترونو لمونځ مشروع نه وي، د هغه علاقې خلک د لوی اختر (يوم النحر) په ورځ تر صبح صادق وروسته ذبح کولای سي.

والأصل فيه قوله ﷺ: په دې کي له مذکوره دوو حديثونو څخه معلومه سوه چي قرباني به د اختر تر لمانځه وروسته کيږي، لکه څرنګه چي د وتړو د لمانځه وخت د ماخوستن وخت دی، لېکن هغه د ماخوستن تر لمانځه وروسته کول واجب دي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت (د صحرا د خلکو لپاره د قرباني وخت)

غَيْرَ أَنَّ هٰذَا الشَّرْطَ فِي حَقِّ مَنْ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَهُوَ الْمِصْرِيُّ خو دغه شرط د هغه کس په حق کي دی چي پر هغه [د اختر] لمونځ واجب وي چي هغه ښاري [د ښار اوسېدونکی] دی دُوْنَ أَهْلِ السَّوَادِ نه د صحرا د اوسېدونکو په حق کي لِأَنَّ التَّأْخِيْرَ لِاحْتِمَالِ التَّشَاغُلِ بِهِ عَنِ الصَّلَاةِ ځکه چي قرباني ځنډول [د اختر تر لمانځه وروسته کول] د دې احتمال په وجه دي چي د قرباني په وجه به له لمانځه څخه مشغوله سي وَلَا مَعْنٰى لِلتَّأْخِيْرِ فِيْ حَقِّ الْقَرَوِيِّ او د صحرا والا په حق کي د قرباني ځنډولو هيڅ معنی نسته وَلَا صَلَاةَ عَلَيْهِ [ځکه چي] پر هغه [د اختر] لمونځ نسته وَمَا رَوَيْنَاهُ حُجَّةٌ عَلٰى مَالِكٍ وَالشَّافِعِيِّ فِي

نَفْيِهِمَا الْجَوَازَ بَعْدَ الصَّلَاةِ قَبْلَ نَحْرِ الْإِمَامِ او کوم حديث چې موږ روايت کړی هغه حجت دی د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په خلاف [د قربانۍ] د جواز نفي کولو په باره کې [داختر] تر لمانځه وروسته او د امام تر قربانۍ مخکې.

اللغات: ﴿قروي﴾ قريه ته منسوب دی، قريه وايي له ښار څخه بهر د أطرافو علاقې ته چې په هغه کې خلک آباد وي، د صحرا کلي او علاقه. ﴿نحر﴾ د دې لفظ يوه معنیٰ ده: ذبح کول او قربانول. ﴿مضحي﴾ د تفعيل د باب فاعل دی: اضحيه (قرباني) کونکی. ﴿انشق﴾ د انفعال د باب ماضي ده: چاودېدل، څيرېدل. انشق الفجر: د سهار سپېدې چاودېدل (چې دې وخت ته صبح صادق وايي).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې قرباني د اختر تر لمانځه وروسته کول فقط پر ښاري کس واجب دي، نه پر صحرا والا، ځکه د قربانۍ تأخير (وروسته کول) په دې وجه واجب دي چې په قربانۍ د مشغولېدو په وجه د اختر په لمانځه کې غفلت نه وسي، او پر چا چې ګردسره د اختر لمونځ نه وي، نو هلته دا وجه هم نسته، نو په دې وجه پر هغه تأخير واجب نه دی.

د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې ښاري کس ته تر هغه وخته د قربانۍ کولو اختيار نسته، تر څو چې امام له خپل قربانۍ څخه فارغ نه سي؛ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي مخکې چې موږ کوم حديث بيان کړی (يعني: مَنْ ذبح قبل الصلاة.. إلخ) په هغه سره د دې حضراتو د مسلک ترديد کيږي؛ ځکه په دې حديث شريف کې صرف د لمانځه ذکر سته، د امام د قربانۍ هيڅ ذکر پکښې نسته، نو دا حديث د دوی په خلاف حجت دی.

يادونه (۱): له صحرا څخه مراد هغه صحرايي کلی او علاقه ده چې هلته د جمعې او اخترونو لمونځ جائز نه وي. او په کومو صحرايي علاقو کې چې جائز وي، هغوی د ښار په حکم کې دي.

يادونه (۲): ذبح د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز شرط ده. نه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز. خو د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز له خطبې څخه د امام فارغېدل شرط دي، نو په دغه اعتبار سره مذکوره حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت کيږي، نه په هغه اعتبار سره کوم چې مصنف رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي. او امام احمد د امام مالک رَحِمَهُ الله سره دی.

په قرباني کې به د کوم ځای اعتبار کیږي؟

ثُمَّ الْمُعْتَبَرُ فِي ذٰلِكَ مَكَانُ الْأُضْحِيَّةِ بيا په دې باره کې د قرباني [د قرباني د څاروي] ځای معتبر دی حَتّٰى لَوْكَانَتْ فِي السَّوَادِ وَالْمُضَحِّيْ فِي الْمِصْرِ تر دې چې که قرباني [د قرباني څاروی] په صحرا کې وي او قرباني کونکی په ښار کې وي يَجُوْزُ كَمَا انْشَقَّ الْفَجْرُ نو د سپېدو چاودېدو [صبح صادق] سره سمدستي ذبح کول جائز دي وَلَوْكَانَ عَلَى الْعَكْسِ او که د دې برعکس وي لَا يَجُوْزُ إِلَّا بَعْدَ الصَّلَاةِ نو جائز نه دي مګر تر لمانځه وروسته وَحِيْلَةُ الْمِصْرِيِّ إِذَا أَرَادَ التَّعْجِيْلَ أَنْ يَبْعَثَ بِهَا إِلٰى خَارِجِ الْمِصْرِ او حيله د ښاري کس لپاره کله چې هغه د ژر قرباني کولو [وختي ذبح کولو] اراده وکړي دا ده چې خپل قرباني له ښار څخه بهر ته واستوي فَيُضَحّٰى بِهَا كَمَا طَلَعَ الْفَجْرُ نو [په دې صورت کې] د هغه قرباني د سهار کېدلو [صبح صادق] سره سمدستي قربانول کېدای سي وَهٰذَا لِأَنَّهَا تُشْبِهُ الزَّكَاةَ او دا ځکه چې قرباني د زکاة مشابه ده مِنْ حَيْثُ أَنَّهَا تَسْقُطُ بِهَلَاكِ الْمَالِ قَبْلَ مُضِيِّ أَيَّامِ النَّحْرِ په دې حیثیت سره چې قرباني د ايام نحر له تېرېدو څخه مخکې د مال په هلاکېدو سره ساقطيږي كَالزَّكَاةِ بِهَلَاكِ النِّصَابِ لکه څرنګه چې زکاة د نصاب په هلاکېدو سره ساقطيږي فَيُعْتَبَرُ فِي الصَّرْفِ مَكَانُ الْمَحَلِّ لَا مَكَانُ الْفَاعِلِ نو ځکه په قرباني صرفولو [قرباني اداء کولو] کې به د محل [څاروي] ځای معتبر وي، نه د فاعل [قرباني کونکي] ځای اِعْتِبَارًا بِهَا پر زکاة په قياس کولو سره بِخِلَافِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ په خلاف د صدقهٔ فطر لِأَنَّهَا لَا تَسْقُطُ بِهَلَاكِ الْمَالِ بَعْدَ مَا طَلَعَ الْفَجْرُ مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ ځکه چې صدقهٔ فطر د کوچني اختر تر سهار کېدلو وروسته د مال په هلاکېدو سره نه ساقطيږي وَلَوْضَحّٰى بَعْدَ مَا صَلّٰى أَهْلُ الْمَسْجِدِ او که چیرې د اهلِ مسجد تر لمونځ کولو وروسته يو قرباني وکړي وَلَمْ يُصَلِّ أَهْلُ الْجَبَّانَةِ حال دا چې تر اوسه عیدګاه والا وو لمونځ نه وي کړی أَجْزَأَهُ اِسْتِحْسَانًا نو استحساناً هغه لره دا کفايت کوي [يعني دا قرباني ور لره جائز او کافي ده] لِأَنَّهَا صَلَاةٌ مُعْتَبَرَةٌ ځکه چې هغه [د مسجد لمونځ] معتبر لمونځ دی حَتّٰى لَوِ اكْتَفَوْا بِهَا تر دې چې که خلک پر همدې [د مسجد پر لمانځه] اکتفاء وکړي أَجْزَأَتْهُمْ نو دا لمونځ ور لره کافي کیږي وَكَذَا عَلٰى عَكْسِهِ او همداسي د دې برعکس وَقِيْلَ: هُوَ جَائِزٌ قِيَاسًا وَاسْتِحْسَانًا او ويل سوي دي: چې دا په قياس او استحسان دواړو کې جائز دي.

اللغات: ﴿مضىٰ﴾ د ضرب د باب مصدر دی: تېرېدل، ختمېدل. ﴿صرف﴾ دا هم د ضرب د باب مصدر دی: خرڅول، صرفول، لګول (مصرفول). مراد: څاروی د قربانۍ لپاره صرفول، قرباني اداء کول. ﴿الجبانة﴾ عيدګاه، داختر د لمانځه اداء کولو ځای، کوم چې عموماً په غټ ميدان کې اداء کيږي. ﴿أجزأه﴾ د افعال د باب ماضي ده: کافي کېدل، کفايت کول. ﴿مكان المحل﴾ د قربانۍ د څاروي ځای. ﴿مكان الفاعل﴾ د قرباني کونکي ځای.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې د قربانۍ په باب کې د قربانۍ څاروي لره اعتبار دی، نه قرباني کونکي لره، په بله وينا دا چې اعتبار محل لره دی، نه فاعل لره، يعني که د قربانۍ څاروی په صحرا کې وي، نو داختر تر لمانځه مخکې قرباني جائز ده، که څه هم مالک يې په ښار کې وي.

او که څاروی په ښار کې وي، نو قرباني به داختر تر لمانځه وروسته کيږي، که څه هم مالک يې په صحرا کې وي.

وحيلة المصري إلخ: فرمايي که يو ښاري کس وغواړي چې ژر تر ژره قرباني وکړي، نو د هغه لپاره حيله همدا ده چې خپل د قربانۍ څاروی له ښار څخه دباندې واستوي (چيرې چې د جمعې او اخترونو لمونځ جواز نه لري)، نو هلته تر صبح صادق وروسته سمدستي قرباني کېدلای سي.

وهٰذا لأنها تشبه إلخ: د دې حاصل دا دی چې په قرباني او اُضحيه کې ولې محل لره اعتبار دی، نه فاعل او مضحي لره، نو فرمايي چې د محل (مکان اضحيه) د اعتبار کولو وجه دا ده چې قرباني د زکاة مشابه ده په دې حيثيت سره چې زکاة د نصاب په هلاکېدو سره ساقطيږي، همدارنګه قرباني د ايام نحر په تېرېدو سره د مال هلاکېدو په صورت کې ساقطيږي، لهٰذا کله چې قرباني د زکاة مشابه ده او په زکاة کې د اداء په هکله محل يعني د مال مقام لره اعتبار وي (چيرې چې مال موجود وي)، نو په قرباني کې به هم محل يعني د څاروي مقام لره اعتباري وي، نه د فاعل او مضحي مقام لره.

ولوضحّٰى إلخ: د دې حاصل دا دی چې که په يوه علاقه کې دوه ځايه داختر لمونځ کيږي ① په مسجد کې، ② په عيدګاه کې، نو که په عيدګاه کې تر اوسه داختر لمونځ نه وي سوی او په مسجد کې وسي او ختم سي، نو قرباني کول جائز دي، دا استحسان دی، ځکه چې د مسجد لمونځ معتبر لمونځ دی. او که د دې برعکس وي (چې په عيدګاه کې لمونځ وسي او په مسجد کې تر اوسه نه وي سوی او خلک له لمانځه څخه فارغ سوي نه وي)، نو په درجه اولیٰ قرباني جائز ده، او د ځينو قول دا دی چې په قياس او استحسان دواړو په اعتبار سره دا صورت جائز او صحيح دی.

د قرباني ورځې او مودت

قَالَ: وَهِيَ جَائِزَةٌ فِيْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ: يَوْمُ النَّحْرِ وَيَوْمَانِ بَعْدَهُ فرمايي: او قرباني په دريو ورځو کې جائز ده: د نحر ورځ [چې دلوی اختر ورځ ده] او تر هغه وروسته دوې ورځې وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ بَعْدَهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې تر يوم نحر درې ورځې وروسته لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «أَيَّامُ التَّشْرِيقِ كُلُّهَا أَيَّامُ ذَبْحٍ» ❶ د نبي کريم ﷺ د دې فرمان په وجه: چې ايام تشريق ټول ه د ذبح [قرباني] ورځې دي وَلَنَا مَا رُوِيَ عَنْ عُمَرَ وَعَلِيٍّ وَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَنَّهُمْ قَالُوْا: أَيَّامُ النَّحْرِ ثَلَاثَةٌ أَفْضَلُهَا أَوَّلُهَا او زموږ دليل هغه روايت دی کوم چې له حضرت عمر، حضرت علي او ابن عباس رضي الله عنهم څخه نقل سوی دی چې دوی فرمايلي دي: د نحر [قرباني] ورځې درې دي چې له هغوی څخه افضله اوله ورځ ده وَقَدْ قَالُوْهُ سَمَاعًا او دوی دا خبره [له نبي ﷺ څخه] د اورېدلو پر بناء کړې ده لِأَنَّ الرَّأْيَ لَا يَهْتَدِيْ إِلَى الْمَقَادِيْرِ ځکه چې رايه د مقدارونو وطرف ته لاره نه سي موندلای [يعني څوک په خپل رايه سره يو شرعي مقدار نه سي ټاکلی] وَفِي الْأَخْبَارِ تَعَارُضٌ او په اخبارو [د صحابه وو په اقوالو] کې تعارض دی فَأَخَذْنَا بِالْمُتَيَقَّنِ وَهُوَ الْأَقَلُّ نو موږ هغه يقيني مقدار واخيستی چې هغه کمتر [درې ورځې] دي وَأَفْضَلُهَا أَوَّلُهَا كَمَا قَالُوْا او افضله يې اوله ورځ ده لکه څرنګه چې دوی اصحابه ثلاثه وو ويلي دي وَلِأَنَّ فِيْهِ مُسَارَعَةً إِلَى أَدَاءِ الْقُرْبَةِ او ځکه چې په دې [اوله ورځ په قرباني کولو کې] د عبادت اداء کولو ته وړانديتوب کول دي وَهُوَ الْأَصْلُ إِلَّا لِمُعَارِضٍ او همدا اصل د. مګر د يوه معارض په وجه [يعني کله چې يو عارض او يو عذر نه وي].

اللغات: ﴿يوم النحر﴾ د ذبح او قرباني ورځ. د ذوی الحجې د مياشتې لسمه چې د لوی اختر ورځ ورته وايي. ﴿أيام التشريق﴾ د ذی الحجې د مياشتې ۱۱، ۱۲، ۱۳. تشريق د تفعيل د باب مصدر دی. دوې معناوي يې نقل سوي دي: لمر روښانه کېدل. غوښې وچول. دغه ورځو ته ايام التشريق ځکه ويل کيږي چې په دې ورځو کې به د قرباني غوښې وچول کېدې (ځکه د قرباني څاروي له دې څخه يوه ورځ مخکې په يوم نحر کې ذبح کول کيږي. نو په را روانو ورځو کې به يې غوښې څړول او وچول کېدې). يا په

❶ تخريج: أخرجه دار قطني في سننه، في كتاب الأشربة وغيرها، باب الصيد والذبائح، ج: ۴، ص: ۱۸۸، حديث رقم: ۴۷۱۱.

دې وجه چې د هَدی څاروي تر هغه وخته نه قربانول کيږي تر دې چې لمر راوخيږي او ښه روښانه سي (معجم لغة الفقهاء). ﴿مسارعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: تېزي کول، ژر والي کول، وړاندېتوب کول.

تشريح: ايام نحر يعني د قربانۍ ورځې درې دي: د ذی الحجې ۱۰، ۱۱ او ۱۲ مه، او ايام تشريق درې ورځې دي: ۱۱، ۱۲، ۱۳ مه.

د شوافعو په نيز ايام تشريق پوره ايام نحر (د قربانۍ ورځې) دي، يعني د هغو په نيز د ذی الحجې تر ديارلسمي ۱۳ ورځې پوري قرباني کول جائز دي؛ او دوی په هغه حديث سره دليل نيسي چې په هغه کي تمام ايام تشريق ته ايام ذبح ويل سوي دي.

د احنافو په نيز د قربانۍ درې ورځې دي، او ديارلسمه ورځ که څه هم يوم التشريق ده خو يوم النحر (د قربانۍ) ورځ نه ده.

زموږ دليل د حضرت عمر، علي او ابن عباس رضی الله عنهم حديث دی چې "أيّام النحر ثلاثة أيام، أفضلها أوّلها". همدارنګه په موطأ امام مالک کي له حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه نقل سوي دي چې "الأضحیٰ يومان بعد يوم الأضحیٰ". له دې څخه هم په دريو ورځو کي د ايام نحر منحصر کېدل ثابتيږي. او مخکينی قول کوم چې د حضرت عمر رضي الله عنه وغيره دی، هغه هم له نبي کريم ﷺ څخه پر سماع محمول دی، ځکه چې د انسان په خپل رايه او خپل قول سره د عباداتو وغيره تخصيص او تقدير نه سي کېدلای، لهذا دې حضراتو چې کوم څه فرمايلي دي، هغه يې هم له نبي کريم ﷺ څخه اورېدلي دي.

او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د پېش کرده حديث يو جواب خو دا دی چې په دې کي ډېر زيات اضطراب دی، لهذا دا روايت قابلِ استدلال نه دی، دويم جواب دا دی چې د امام شافعي په بيان کرده روايت سره د ايام نحر زياتوالي ثابتيږي او زموږ په بيان کرده روايت سره د هغوی کموالی ثابتيږي، او قاعده دا ده چې کله روايات سره متعارض سي، نو په دې وخت کي پر أقل والا روايت عمل کول کيږي؛ ځکه چې أقل متيقّن او متعيّن وي، نو ځکه موږ پر أقل والا روايت عمل کړی دی او د يوم النحر (عيد الأضحیٰ) تر ورځې وروسته مو نور تر دوو ورځو پوري قرباني کول جائز ګرځولي دي.

خو په دې دريو ورځو کي د قربانۍ لپاره تر ټولو افضل وخت اوله ورځ ده، د دې يو دليل همدا دی چې صحابه کرامو رضی الله عنهم دا وخت افضل ګرځولی دی، او دويم دليل يې دا دی چې کله يو معارض نه وي، نو عبادات په خپل اول وخت کي اداء کول اصل دي، او د قربانۍ (أضحيې) په هکله هيڅ معارض نه ليدل کيږي، نو ځکه په اوله ورځ قرباني کول افضل او عمل علی الأصل دي.

په شپه کې د قربانۍ ذبح کولو بیان

وَيَجُوزُ الذَّبْحُ فِي لَيَالِيهَا إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ او د دې ورځو په شپو کې [هم] ذبح جائز ده، خو دا مکروه دي لِاحْتِمَالِ الْغَلَطِ فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ د شپې په تیاره کې د غلطۍ واقع کېدلو دا احتمال په وجه وَأَيَّامُ النَّحْرِ ثَلَاثَةٌ او ایام نحر [د قربانۍ ورځې] درې دي وَأَيَّامُ التَّشْرِيقِ ثَلَاثَةٌ او یام تشریق [د غوښو وچولو ورځې] هم درې دي وَالْكُلُّ يَمْضِي بِأَرْبَعَةٍ او له دې دواړو [ایام نحر وتشریق] څخه هر یو په څلورو سره تېرېږي [په بله وینا: او هر یو د څلورو ورځو په تېرېدو سره ختمېږي] أَوَّلُهَا نَحْرٌ لَا غَيْرُ چې له هغوی [څلورو ورځو] څخه اوله صرف د نحر [قربانۍ] ورځ ده، نه د تشریق وَآخِرُهَا تَشْرِيقٌ لَا غَيْرُ او آخره یې د تشریق ورځ ده، نه د نحر وَالْمُتَوَسِّطَانِ نَحْرٌ وَتَشْرِيقٌ او د مینځ دوې ورځې د نحر او تشریق دواړو دي وَالتَّضْحِيَةُ فِيهَا أَفْضَلُ مِنَ التَّصَدُّقِ بِثَمَنِ الْأُضْحِيَّةِ او د دې قربانۍ په ورځو [ایام نحر] کې قرباني کول افضل دي د قربانۍ [څاروي] د قیمت له صدقه کولو څخه لِأَنَّهَا تَقَعُ وَاجِبَةً أَوْ سُنَّةً ځکه چې قرباني واجب واقع کېږي یا سنت وَالتَّصَدُّقُ تَطَوُّعٌ مَحْضٌ او صدقه کول محض نفلي عبادت دی فَتَفْضُلُ عَلَيْهِ نو ځکه دا [قرباني کول] پر هغه [تطوع] فضیلت لري وَلِأَنَّهَا تَفُوتُ بِفَوَاتِ وَقْتِهَا او ځکه چې قرباني د وخت په فوتېدو [تېرېدو] سره فوتېږي وَالصَّدَقَةُ يُؤْتَى بِهَا فِي الْأَوْقَاتِ كُلِّهَا او صدقه په ټولو وختونو کې کېدلای سي فَنَزَلَتْ مَنْزِلَةَ الطَّوَافِ وَالصَّلَاةِ فِي حَقِّ الْآفَاقِيِّ نو د قربانۍ درجه داسي سوه لکه [درجه د] طواف او لمونځ د آفاقي په حق کې [یعني لکه د اطرافي حاجي په حق کې چې د طواف او نفلي لمانځه درجه ده، همداسي په قرباني هم وي].

اللغات: ﴿ظلمة﴾ تیاره، تاریکه. ﴿تصدّق﴾ د تفعّل مصدر دی: صدقه کول، خیراتول. ﴿تطوع﴾ د تفعل اسم مصدر دی: نفل، نفلي عبادت، غیر واجب کار. ﴿آفاق﴾ کوم سړی چې له له میقات څخه بهر په اطرافو کې اوسېږي هغه ته آفاقي ویل کېږي. اطرافي (نو له مکې شریفې او میقات څخه دباندې د هر هیواد اوسېدونکي ته آفاقي ویل کېږي).

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې څرنګه په ایام نحر (د قربانۍ په ورځو) کې قرباني کول جائز دي، همداسي د هغوی په شپو کې هم قرباني جائز ده. خو څرنګه چې د شپې د تاریکۍ په وجه د بنه نه ذبح کېدلو او داسي نورو غلطیو احتمال سته. نو په دې وجه فقهاء کرامو د شپې قرباني کول مکروه ګرځولې ده.

وروسته فرمايي چي ايام نحر او ايام تشريق دواړه درې، درې ورځې دي، فرق يې دا دى چي ايام نحر زموږ په نيز د عيد الأضحىٰ (لوی اختر) دورځې سره درې ورځې دي، او ايام تشريق د عيد الاضحىٰ له ورځې ښخه بغير درې ورځې دي. او دا تولهيعني أيام نحر او أيام تشريق د څلورو ورځو (يعني د ذی الحجې د ۱۰، ۱۱، ۱۲ او ۱۳) په تېرېدو سره تيرېږي او ختميږي؛ ځکه د ذی الحجې ۱۰ ورځ (چي د لوی اختر ورځ ده) صرف يوم نحر ده، نه يوم تشريق، همدارنګه د ذی الحجې ۱۳ ورځ صرف يوم تشريق ده، نه يوم نحر، او د مينځ دوې ورځې يعني ۱۱ او ۱۲ ورځې ايام نحر هم دي او ايام تشريق هم دي، اوس د څلورو ورځو په تېرېدو سره د ايام نحر او ايام تشريق ختمېدلو مطلب دا دی چي که د ذی الحجې د ۱۰ ورځې ښخه شمېر وسي، نو څلورمي ورځې يعني د ذی الحجې ديارلسمي ۱۳ ورځې ته ايام نحر نه پاتيږي او ختميږي چي ۱۳ ورځ يوم نحر نه ده، او که له ديارلسمي ۱۳ ورځې ښخه شمېر وسي چپه طرف ته، نو لسمي ۱۰ ورځې ته ايام تشريق ختميږي چي ۱۰ ورځ يوم تشريق نه ده. (په ساده پښتو د دې عبات لنډ او آسانه مطلب داسي هم ويل کېدای سي: چي کله د لوی اختر اولي څلور ورځې تيري سي، نو هم ايام نحر ختميږي او هم ايام تشريق).

والتضحية فيها إلخ: په ظاهر روايت کي قرباني واجب ده او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په قول سنت ده (لکه مخکي چي د دې تفصيل تېر سو)، او پاته سو صدقه او خيرات محض تطوع او نفلي عبادت دی، او دا ښکاره خبره ده چي واجب او سنت له تطوعِ محض ښخه غوره او اعلیٰ دي، نو ځکه په ايام نحر کي قرباني کول افضله دي له دې ښخه چي د قرباني قيمت صدقه کړی سي.

او بل دا چي صدقه هر وخت که انسان وغواړي، کولای يې سي، او د قرباني لپاره فقط همدغه ايام مخصوص دي، نو دا مسئله داسي سوه لکه د آفاقي حاجي په حق کي د طواف او نفلي لمانځه مسئله چي د هغه لپاره طواف افضل دی؛ ځکه چي طواف خو صرف همدلته (په مکه شريفه) کي کولای سي، او لمونځ چي افغانستان ته ولاړ سي نو هم يې هرڅومره کولای سي.

د قرباني نه کولو جرمانه

وَلَوْلَمْ يُضَحِّ حَتَّى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ او که چيري قرباني نه وکړي تر دې چي ايام نحر [د قرباني ورځې] تېري سي إِنْ كَانَ أَوْجَبَ عَلَى نَفْسِهِ نو که چيري هغه پر خپل ځان قرباني واجب کړې وي أَوْ كَانَ فَقِيْرًا وَقَدْ اشْتَرَى الْأُضْحِيَّةَ يا هغه غريب وي او د قرباني څاروی يې رانيولی وي تَصَدَّقَ بِهَا حَيَّةً نو هغه به دا څاروی ژوندی صدقه کوي وَإِنْ كَانَ غَنِيًّا او که چيري مالدار وي تَصَدَّقَ بِقِيْمَةِ شَاةٍ نو د

يوه پسه قيمت به صدقه كوي اِشْتَرٰى أَوْلَمْ يَشْتَرِ برابره ده هغه [مالدار كس د قرباني څاروى] رانيولى وي او كه نه وي لِأَنَّهَا وَاجِبَةٌ عَلَى الْغَنِيِّ ځكه چي قرباني پر مالدار كس واجب ده وَتَجِبُ عَلَى الْفَقِيْرِ بِالشِّرَاءِ بِنِيَّةِ التَّضْحِيَةِ عِنْدَنَا او پر غريب كس په نيت د قربانولو د څاروي په رانيولو سره قرباني واجبيږي زموږ په نيز فَإِذَا فَاتَ الْوَقْتُ نو كله چي وخت فوت سو [تېر سو] وَجَبَ عَلَيْهِ التَّصَدُّقُ إِخْرَاجًا لَهُ عَنِ الْعُهْدَةِ نو اوس [د قرباني] له ذمه واري څخه د خپل ځان ايستلو [غاړي خلاصولو] لپاره پر هغه صدقه كول واجب سوه كَالْجُمُعَةِ تُقْضَى بَعْدَ فَوَاتِهَا ظُهْرًا لكه د جمعې لمونځ چي د هغه تر فوتېدلو وروسته د ماپښين په لمانځه سره يې قضاء راوړل كيږي وَالصَّوْمِ بَعْدَ الْعَجْزِ فِدْيَةً او لكه روژه چي [له روژي څخه] تر عاجزه كېدلو وروسته په فديه وركول سره يې قضاء راوړل كيږي.

اللغات: ﴿شاة﴾ عام اسم دى، پر پسه، بزه، وزګري ټولو يې اطلاق كيږي، ﴿غني﴾ مالدار، شتمن.

تشريح: پر مالدار كس د خپل مالدار والي په وجه قرباني واجب ده، او پر غريب كس بيا هغه وخت قرباني واجب ده كله چي هغه په ايام نحر كي د قرباني په نيت څاروى رانيسي يا د قرباني كولو نذر ومني او څاروى رانيسي (نو لنډه دا چي پر غريب كس هغه وخت قرباني واجبيږي كله چي د قرباني په نيت څاروى رانيسي، او پر مالدار كس خودبخوده واجبيږي، د هغه په حق كي د قرباني واجبېدلو لپاره د هغه رانيولو [شراء] ته ضرورت نسته).

صورت د مسئلې دا دى چي پر يو كس قرباني واجب وه، خو هغه قرباني نه وكړه تر دې چي د قرباني ورځي تيري سوې، نو فرمايي چي كه هغه مالدار وي نو د يوه پسه قيمت به صدقه كوي، او كه فقير (غريب) وي او څاروى يې رانيولى وي، نو د هغه څاروي صدقه كول ضروري دي؛ ځكه چي د دواړو په حق كي اصل خو همدا وه چي د قرباني په ورځو (ايام نحر) كي قرباني وكړي، ليكن دوى داسي نه وكړه او وخت تېر سو، نو ځكه د واجب اداء كولو او د غاړي خلاصولو په خاطر به اوس دوى صدقه كوي؛ خو مالدار به ځكه قيمت صدقه كوي چي د هغه په حق كي د قرباني څاروى متعين نه وو (ځكه پر هغه خودبخوده قرباني واجبيږي)، او فقير به ځكه هغه څاروى صدقه كوي چي په نيت د قرباني د څاروي رانيولو په وجه دا څاروى د قرباني لپاره متعين سو او قرباني پر واجب سوه، نو ځكه د هغه عين څاروي په صدقه كولو سره يې غاړي خلاصيږي.

د دې مثال داسي دى چي كه د جمعې لمونځ له يو چا څخه تېر سي، نو پر هغه د ماپښين د لمانځه قضاء ضروري ده چي د جمعې د لمانځه پر ځاى به اوس د ماپښين لمونځ كوي، همدارنګه كه له يو چا څخه روژه تېره سي او بيا يې هغه د عجز او مجبوري په وجه نه سي نيولاى، نو فديه وركول

پر واجب دي چي اوس به د روژې پر ځای فدیه ورکوي، نو همدغسي چي کله د قربانۍ وخت تېر سي، نو د هغه پر ځای به مالدار کس د یوه پسه قیمت صدقه کوي او غریب کس به هاغه څاروی صدقه کوي کوم چي یې رانیولی دی.

د کومو عیبداره څارویو قرباني جائز نه ده؟

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي وَلَا يُضَحِّيْ بِالْعَمْيَاءِ وَالْعَوْرَاءِ وَالْعَرْجَاءِ الَّتِيْ لَا تَمْشِيْ إِلَى الْمَنْسَكِ او قرباني به نه کوي په ړانده او کانه او ګوډ څاروي سره کوم چي د ذبح کېدو تر ځایه پوره نه سي تللای وَلَا الْعَجْفَاءِ او نه به قرباني کوي په ډېر ډنګر څاروي سره لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶: «لَا تُجْزِئُ فِي الضَّحَايَا أَرْبَعَةٌ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي چي: په قربانیو کي څلور قسمه څارویان کفایت نه کوي الْعَوْرَاءُ الْبَيِّنُ عَوَرُهَا [یو] داسي کوڼ څاروی چي کوڼوالي یې ښکاره وي وَالْعَرْجَاءُ الْبَيِّنُ عَرَجُهَا او [دویم] داسي ګوډ څاروی چي ګوډوالي یې ښکاره وي وَالْمَرِيضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا او [دریيم] هغه مریض څاروی چي مرض یې ښکاره وي وَالْعَجْفَاءُ الَّتِيْ لَا تُنْقِي» او [څلورم] هغه ډنګر څاروی چي مغز داره [یعني چاغ] نه وي قَالَ: وَلَا تُجْزِئُ مَقْطُوعَةُ الْأُذُنِ وَالذَّنَبِ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: غوږ او لکۍ پرېکړل سوی څاروی هم کفایت نه کوي أَمَّا الْأُذُنُ فَلِقَوْلِهِ ❷ الطَيِّلا: «اسْتَشْرِفُوا الْعَيْنَ وَالْأُذُنَ» کوم چي [پرې والی د] غوږ دی نو د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه چي: تاسو سترګي او غوږ ته پاملرنه کوئ! أَيْ اُطْلُبُوا سَلَامَتَهُمَا یعني د دوی د سالم والي طلب کوئ! [د سترګي او غوږ سلامتیا ته ګورئ] وَأَمَّا الذَّنَبُ فَلِأَنَّهُ عُضْوٌ كَامِلٌ مَقْصُودٌ او کوم چي [پرېکېدنه د] لکۍ ده نو ځکه چي غوږ یو بشپړ او مقصود [مطلوب] اندام دی فَصَارَ كَالْأُذُنِ نو لکۍ [هم] د غوږ په څېر سوه.

اللغات: ﴿منسک﴾ د اسم ظرف صیغه ده: د څاروي د قربانولو ځای، مذبح او قربان ګاه.
﴿استشرفوا﴾ د استفعال له باب د جمع مذکر امر حاضر صیغه ده: مراد پاملرنه او توجه کول، په غور

---

❶ تخريج: أخرجه أبوداؤد في كتاب الضحايا، باب ما يكره من الضحايا، ص:۴۰۸، حديث رقم:۲۸۰۲.

❷ تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الضحايا، باب ما يكره من الضحايا، ص:۴۰۹، حديث رقم:۲۸۰۲. والترمذي، باب ما يكره من الأضاحي، ص:۳۶۲، حديث رقم:۱۴۹۸.

سره کټل. ﴿لا تُنقِي﴾ د افعال له بابه د نفي صيغه ده. أَنْقَى يُنْقِيْ إِنْقَاء. د دې باب يو معنیٰ ده: مغز داره کېدل. ماغزه داره کېدل (باطني حصه يې ډېرېدل). چاغېدل.

تشريح: د عبارت مطلب واضح او څرګند دی کوم چې له ترجمې څخه معلومېږي. خو د عبارت د وضاحت لپاره دا قاعده په یاد لرئ چې له معمولي عيب څخه خو حيوان نه سي خالي کېدای. نو ځکه له هغه څخه خالي والي شرط نه دی. خو له زيات عيب (فاحش عيب) څخه حيوان خالي وي. نو ځکه له هغه څخه د قرباني د حيوان خالي کېدل شرط دي.

څومره مقدار عيب شمېرل کيږي؟

قَالَ: وَلَا الَّتِيْ ذَهَبَ أَكْثَرُ أُذُنِهَا وَذَنَبِهَا فرمايي: او نه هغه څاروی [کفايت کوي] چې د غوږ او لکۍ اکثره حصه يې ختم سوې [ضايع سوې] وي وَإِنْ بَقِيَ أَكْثَرُ الْأُذُنِ وَالذَّنَبِ او که د غوږ او لکۍ اکثره حصه يې پاته وي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ لِلْأَكْثَرِ حُكْمَ الْكُلِّ بَقَاءً وَذِهَابًا ځکه چې اکثره لره حکم د کل دی د پاتېدو او ختمېدو [ضايع کېدو] په اعتبار سره وَلِأَنَّ الْعَيْبَ الْيَسِيْرَ لَا يُمْكِنُ التَّحَرُّزُ عَنْهُ او ځکه چې له معمولي عيب څخه بچ کېدل ممکن نه دي فَجُعِلَ عَفْوًا نو هغه معاف وګرځول سو وَاخْتَلَفَتِ الرِّوَايَةُ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ فِيْ مِقْدَارِ الْأَكْثَرِ او د اکثر مقدار په هکله له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايتونه مختلف [نقل سوي] دي فَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ عَنْهُ: وَإِنْ قُطِعَ مِنَ الذَّنَبِ أَوِ الْأُذُنِ أَوِ الْعَيْنِ أَوِ الْأَلْيَةِ الثُّلُثُ أَوْ أَقَلُّ چې په جامع صغير کي له هغه څخه دا نقل سوي دي چې: که چيري د لکۍ يا د غوږ يا د سترګي يا د لمْ دريمه حصه يا تر دې کمه پرې سي أَجْزَأَهُ نو دا څاروی کفايت کوي [کافي دی. قرباني يې جائز ده] وَإِنْ كَانَ أَكْثَرَ او که تر دې زياته وي لَمْ يُجْزِهِ نو کفايت نه کوي لِأَنَّ الثُّلُثَ تَنْفُذُ فِيْهِ الْوَصِيَّةُ مِنْ غَيْرِ رِضَاءِ الْوَرَثَةِ ځکه چې د وارثانو له رضاء څخه بغير هم په ثلث [دريمه حصه] کي وصيت نافذيږي فَاعْتُبِرَ قَلِيْلًا نو ثلث کم ومنل سو [ثلث لږ او معمولي وشمېرل سو] وَفِيْمَا زَادَ لَا تَنْفُذُ إِلَّا بِرِضَاهُمْ او له ثلث څخه په زياته حصه کي د وارثانو له رضاء څخه بغير وصيت نه نافذيږي فَاعْتُبِرَ كَثِيْرًا نو له ثلث څخه زيات ډېر ومنل سو وَيُرْوٰى عَنْهُ الرُّبُعُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت د څلورمي حصې هم نقل سوی دی [چې څلورمه حصه کثير ده]

لِأَنَّهُ يَحْكِي حِكَايَةَ الْكَمَالِ ځکه چې څلورمه حصه د کامل والې [کل] حکايت بيانوي [يعني څلورمه حصه د کُل په حکم کې ده] عَلَىٰ مَا مَرَّ فِي الصَّلَاةِ لکه څرنګه په [بيان د] لمانځه کې تېر سوه وَيُرْوَى الثُّلُثُ او [له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه] د درېيمې حصې روايت هم نقل سوی دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي حَدِيثِ الْوَصِيَّةِ [1]: «الثُّلُثَ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ» د وصيت په حديث کې د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه: چې [وصيت کوه! د] ثلث او ثلث هم ډېر دی.

اللغات: ﴿يسير﴾ لږ، معمولي. ﴿تحرز﴾ د تفعل د باب مصدر دی: بچ کېدل، خوندي کېدل. ﴿إلية﴾ لم.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې له معمولي (قليل) عيب څخه د حيوان او څاروي خوندي کېدل خو مشکل دي او له ډېر (کثير) عيب څخه خوندي کېدل يې آسانه او غالب دي، نو که عيب قليل وي، خو معاف دی، او که عيب کثير وي، نو معاف نه دی او د هغه قرباني نه جائز کېږي.

بقاءً وذهاباً: په بقاء او ذهاب کې د اکثر حکم د کُل په څېر دی چې که اکثره حصه يې باقي وي، نو ګواکې کُل حصه يې باقي ده او قرباني جائز ده، او که اکثره حصه يې ختم سوې وي، نو ګواکې کُل حصه ختمه سوه، لهذا قرباني يې جائز نه ده.

بيا د قليل او کثير حدّ څومره دی، په دې باره کې روايات مختلف دي، له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه په دې باره کې څلور روايتونه نقل سوي دي:

(۱)... درېيمه حصه (ثلث) او له درېيمې حصې څخه کم قليل دی کوم چې معاف دی. (نو که د څاروي د غوږ يا پزې يا لکۍ وغيره درېيمه حصه پرې سوې وي، نو د هغه قرباني جائز ده؛ ځکه چې درېيمه حصه قليل ده، همدا وجه ده چې د وارثانو له رضاء او خوښې څخه بغير هم د مړي د مال په ثلث [درېيمه حصه] کې وصيت نافذيږي).

(۲)... څلورمه حصه (ربع) کثير ده؛ ځکه چې په ډېرو احکامو کې څلورمې حصې ته د کُل درجه ورکول سوې ده، مثلاً د سر څلورمه حصه مسح کول د ټوله سر د مسح قائم مقام دي.

(۳)... درېيمه حصه يعني ثلث هم کثير دی، لهذا که ثلث يې پرې سوی وي، نو قرباني نه جائز کيږي؛ ځکه چې رسول الله ﷺ و حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د مال په ثلث (درېيمه

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب الوصايا، باب فيما يجوز للموصىٰ فى ماله، ص:۴۱۶، حديث رقم:۲۸۲۴.

حصه) کي د وصيت کولو حکم وکړی او هغه يې په کثير سره تعبير کړی "والثُّلث کثير". له دغه روايت څخه معلوميږي چي درېيمه حصه هم کثير ده.

(۴)... نيمه (نصف) حصه کثير ده، نو که يې تر نيم کمه حصه پرې سوې وي، قرباني يې جائز ده، او که له نيم څخه زيات پرې سوې وي، نو جائز نه ده (همدا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول هم دی)

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله رايه

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ [*]: إِذَا بَقِيَ الْأَكْثَرُ مِنَ النِّصْفِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي که له نيمي څخه زياته حصه پاته وي أَجْزَأَهُ نو دا څاروی ورلره کافي دی [کفايت کوي. قرباني يې جائز ده] اِعْتِبَارًا لِلْحَقِيقَةِ د حقيقت په اعتبار کولو سره عَلَى مَا تَقَدَّمَ فِي الصَّلَاةِ لکه مخکي چي د لمانځه په هکله تېر سوه وَهُوَ اخْتِيَارُ الْفَقِيهِ أَبِي اللَّيْثِ او همدا د فقيه ابو الليث سمرقندي رَحِمَهُ الله اختيار کړده قول دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: أَخْبَرْتُ بِقَوْلِي أَبَا حَنِيفَةَ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي: ما په خپل قول امام صاحب رَحِمَهُ الله خبر کړی فَقَالَ: قَوْلِي هُوَ قَوْلُكَ نو هغه وفرمايل: چي زما قول همدا ستا قول دی قِيلَ: هُوَ رُجُوعٌ مِنْهُ إِلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ ويل سوي دي چي: دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله له طرفه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول وطرف ته رجوع ده وَقِيلَ: مَعْنَاهُ قَوْلِي قَرِيبٌ مِنْ قَوْلِكَ او ويل سوي دي چي: د دې مطلب دا دی چي زما قول ستا قول ته نژدې دی وَفِي كَوْنِ النِّصْفِ مَانِعًا رِوَايَتَانِ عَنْهُمَا او د نصف [نيمي حصې] په مانع کېدلو کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي كَمَا فِي انْكِشَافِ الْعُضْوِ عَنْ أَبِي يُوسُفَ لکه څرنګه چي د اندام لڅېدلو په هکله له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي.

اللغات: ﴿انکشاف﴾ د انفعال د باب مصدر دی: لڅېدل، لڅوالی.

تشريح: د اکثر مقدار په هکله د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول خو تاسي ته معلوم سو، له دې ځايه د صاحبينو د قول بيان دی (چي دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه هم روايت هم دی)، حاصل يې دا دی چي اعتبار حقيقت لره دی، او کله چي له نصف څخه زياته حصه پاته ده، نو اکثر مقدار يې پاته دی، او که

---

[*] القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، وبه ظهر أن ما في المتون كالهداية والكنز والملتقى هو الرواية الرابعة، وعليها الفتوى (رد المحتار ج:٥، ص:٢٢)، وكذا في الهندية (ج:٥، ص:٢٩٨). [القول الراجح ج:٢، ص:٢٩٥]

چيري له نصف څخه زياته حصه ختمه او پرې سي، نو اکثر مقدار يې ختم سو، همدا د فقيه ابو الليث سمرقندي رَحِمَهُ الله مختاره قول دی.

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې ما امام صاحب رَحِمَهُ الله ته د خپل دغه قول خبر ورکړی، نو هغه وفرمايل: "قَوْلِيْ هُوَ قَوْلُكَ" چي زما قول همدا ستا قول دی، علماؤ د دې دوه مطلبه بيان کړي دي: يو دا چي امام صاحب رَحِمَهُ الله له خپل قول څخه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول ته رجوع وکړه، او دويم مطلب يې دا دی چي زما او ستا په قول کي زيات فرق نسته، بلکي دواړه سره نژدې، نژدې دي.

او که چيري صرف نصف (نيمه حصه) ختم او پرې سي، نو په دې باره کي له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه دوه روايتونه دي لکه څرنګه چي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه د اندام لګېدلو په باره کي دوه روايتونه نقل سوي دي: ① قرباني جائز نه ده؛ ځکه چي ختمېدونکې (پرېکېدونکې) حصه قليل نه ده، ② قرباني جائز ده؛ ځکه چي ختمېدونکې حصه اکثر نه ده. (په باب شرائط الصلاة کي دا بحث تېر سوی دی)

په عيبداره عضو کي د عيب معلومولو طريقه

ثُمَّ مَعْرِفَةُ الْمِقْدَارِ فِيْ غَيْرِ الْعَيْنِ مُتَيَسِّرٌ بيا له سترګي څخه بغير په نورو کي د مقدار پېژندل آسانه دي وَفِي الْعَيْنِ قَالُوْا: تُشَدُّ الْعَيْنُ الْمَعِيْبَةُ بَعْدَ أَنْ لَا تَعْتَلِفَ الشَّاةُ يَوْمًا أَوْ يَوْمَيْنِ او د سترګي په باره کي فقهاؤ ويلي دي چي: [د پسه] عيبداره سترګه دي وتړل سي وروسته تر دې چي پسه يوه يا دوې ورځي واښه خوړلي نه وي ثُمَّ يُقَرَّبُ الْعَلَفُ إِلَيْهَا قَلِيْلًا قَلِيْلًا بيا دي په کرار، کراره د هغه وطرف ته واښه نژدې کړل سي فَإِذَا رَآهُ مِنْ مَوْضِعٍ نو پسه چي کله دغه واښه له هر ځايه ووېني أُعْلِمَ عَلٰى ذٰلِكَ الْمَكَانِ پر هغه ځای دي علامت [نښانې] ولګول سي ثُمَّ تُشَدُّ عَيْنُهَا الصَّحِيْحَةُ بيا دي د هغه سمه سترګه وتړل سي وَقُرِّبَ إِلَيْهَا الْعَلَفُ قَلِيْلًا قَلِيْلًا او په کراره، کراره دي واښه ور نژدې کړل سي حَتّٰى إِذَا رَآهُ مِنْ مَكَانٍ تر دې چي کله پسه دغه واښه له يو ځايه ووېني أُعْلِمَ عَلَيْهِ نو پر هغه ځای دي علامت ولګول سي ثُمَّ يُنْظَرُ إِلٰى تَفَاوُتِ مَا بَيْنَهُمَا بيا دي د هغه دواړو ځايو تر مينځ فرق ته وکتل سي فَإِنْ كَانَ ثُلُثًا نو که هغه فرق د ثلث [درېيمي حصې] وي فَالذَّاهِبُ الثُّلُثُ نو ختمېدونکې حصه ثلث ده [يعني: نو د عيبداره سترګي درېيمه حصه ديد ختم سوی دی، په درېمه حصه يې

نه ويني] وَإِنْ كَانَ نِصْفًا او فرق د نصف [نيمايي] وي فَالنِّصْفُ نو ختمېدونکې حصه نصف ده.

اللغات: ﴿لا تعتلف﴾ د افتعال له بابه د نفي صيغه ده: خوارکه خوړل، واښه خوړل. ﴿علف﴾ د څارويانو خوراکه يعني واښه، پروړ او داسي نور. ﴿أُعْلِمَ﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده. د دې باب يوه معنیٰ ده: علامتُ او نښان لګول، نښاني کول.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د عيبداره او پرېکړل سوي اندام د مقدار معلومېدو په هکله فرمايي چي له سترګي څخه بغير د نورو اندامونو (مثلاً د غوږ، ښکر وغيره) مقدار معلومول آسانه دي، ځکه چي هغوی ظاهر او ښکاره وي، خو څرنګه چي سترګه غير ظاهره او غير محسوسه ده، نو ځکه د سترګني عيب د مقدار معلومولو په هکله فقهاؤ دا طريقه ليکلې ده چي ته دا پسه يوه يا دوې ورځي وږی وساته، بيا د واښو تر ورکولو مخکي د هغه پر عيبداره سترګه ربښکی يا داسي بل شي ور وتړه چي بنده او پټه سي او سمه سترګه يې خلاصه پرېږده، اوس واښه په لاس کي را واخله! او له څه ليري څخه يې په کراره، کراره د ده وطرف ته نږدې کوه، نو له کوم ځايه چي هغه دا واښه (په سمه سترګه) ووينې، هغه ځای نښاني کړه. بيا يې دا سمه سترګه ورښده او پټه کړه او عيبداره سترګه يې ورخلاصه کړه، او د مخکي په څېر د ده وطرف ته په کراره، کراره واښه ور نږدې کوه، نو په دې وار چي هغه له کوم ځايه دا واښه (په عيبداره سترګه) ووينې، هغه ځای هم نښاني کړه، بيا د دواړو ځايونو ترمينځ موازنه وکړه چي څومره فرق يې په مينځ کي دی.

مثلاً په اول وار کي دا پسه د ديرش قدمو يا ديرش ګزو پر فاصله واښه ليدلي وه او دويم وار يې د لس قدمو يا لس ګزو پر فاصله وليدله، نو معلومه سوه چي د عيبداره سترګي دوې حصې ديد يې ختم سوی دی، يعني عيبداره سترګه يې دوې حصې خرابه ده.

او که په اول وار کي يې د ديرش قدمو پر فاصله ليدلي وه او دويم وار يې د پنځلس قدمو پر فاصله وليدل، نو ويل کيږي به چي نيم ديد يې ختم سوی دی يعني عيبداره سترګه يې نيمه خرابه ده چي ګواکي په نيمه سترګه ويني او په نيمه نه ويني.

هغه عيبونه چي د هغوی باوجود قرباني جائز ده

قَالَ: وَيَجُوزُ أَنْ يُضَحِّيَ بِالْجَمَّاءِ فرمايي: او جائز دي دا چي په بې ښکره څاروي سره قرباني وکړي وَهِيَ الَّتِي لَا قَرْنَ لَهَا او جماء هغه څاروی دي چي ښکر يې نه وي لِأَنَّ الْقَرْنَ لَا يَتَعَلَّقُ بِهِ مَقْصُودٌ ځکه چي د ښکر سره هيڅ مقصود متعلق نه دی وَكَذَا مَكْسُورَةُ الْقَرْنِ او همدارنګه د هغه څاروي

[قرباني جائز ده] چي ښکر يې مات سوی وي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي مور ووايي وَالْخَصِيِّ او د خسي څاروي قرباني جائز ده لِأَنَّ لَحْمَهَا أَطْيَبُ ځکه چي د هغه غوښې ډېر ښه وي وَقَدْ صَحَّ [1] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحَّى بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ مَوْجُوْئَيْنِ» او په صحيح حديث کي دي: چي نبي کريم ﷺ دوه مېږه قرباني کړه کوم چي دواړه برگ [کمر] او خسيان وه وَالثَّوْلَاءِ او د لېوني څاروي قرباني جائز ده وَهِيَ الْمَجْنُونَةُ او [مراد دا] ثولاء هغه لېونی څاروی دی وَقِيلَ: هٰذَا إِذَا كَانَتْ تَعْتَلِفُ او ويل سوي دي: چي دا هغه وخت کله چي وابښه [خوراکه] خوري لِأَنَّهُ لَا يُخِلُّ بِالْمَقْصُودِ ځکه چي دا [ډول لېونتوب] په مقصود کي خلل اچونکي نه دي أَمَّا إِذَا كَانَتْ لَا تَعْتَلِفُ لېکن که هغه وابښه نه خوري فَلَا تُجْزِئُهُ نو بيا هغه نه کافي کيږي وَالْجَرْبَاءُ إِنْ كَانَتْ سَمِينَةً او خارښتي [خارښت زده] څاروی که چيري چاغ وي جَازَ نو قرباني يې جائز ده لِأَنَّ الْجَرَبَ فِي الْجِلْدِ وَلَا نُقْصَانَ فِي اللَّحْمِ ځکه چي [په دې صورت کي] خارښت په څرمن کي دی او په غوښنو کي هيڅ نقصان نسته وَإِنْ كَانَتْ مَهْزُولَةً او که دا خارښتی څاروی ډنگر وي لَا يَجُوزُ نو قرباني يې جائز نه ده لِأَنَّ الْجَرَبَ فِي اللَّحْمِ ځکه چي [دلته] خارښت په غوښنو کي دی فَانْتَقَصَ نو [په غوښنو کي] نقصان پيدا سو.

اللغات: ﴿قرن﴾ ښکر، ﴿مكسورة﴾ د ضرب له بابي د واحد مؤنث مفعول صيغه ده: مات کړی سوی، ﴿خصي﴾ خسي، هغه څاروی چي خوټې يې کښل سوي وي، ﴿كبش﴾ نر پسه، مېږ، ﴿أملح﴾ د دې لفظ يوه معنیٰ ده: هغه څاروی چي تور او سپين وي، يا هغه چي سريې تور وي نور بدن يې سپين وي، دو رنګه، برګ، کمر، ابلک، ﴿موجوء﴾ هغه مېږ او مېنده ته ويل کيږي چي خوټې او د خوټې رګونه يې وټکول سي او بې شهوت سي نو دا هم لکه خسي داسي دی، صاحب د معجم د وجاء له تعريفونو څخه يو تعريف دا ليکلی دی: دقّ عروق خصيتيه بين حجرين ولم يخرجهما، أو رضّهما حتّى تنفضخا فيكون شبيها بالخصا، ﴿ثولاء﴾ څه لېونی غوندي، ﴿جرباء﴾ په خارښت مبتلا، خارښتي.

---

[1] تخريج: أخرجه ابوداؤد، باب ما يستحب من الضحايا، ص:۴۰۷، حديث رقم:۲۷۹۵. وابن ماجة، باب أضاحي رسول الله ﷺ ص:۴۵۵، حديث رقم:۳۱۲۲.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د څاروي هغه اندامونه چي د هغوی سره مقصود متعلق وي، د هغوی عيبداره کېدل خو د قرباني د جواز لپاره مضر دي، لېکن هغه اندامونه چي هيڅ مقصد ور سره متعلق نه وي، د هغوی په عيبداره کېدو يا نه کېدو سره پر قرباني هيڅ اثر نه لوېږي، نو که د يو څاروي ښکرونه نه وي، يا خو وي، لېکن مات سوي وي، نو دا د قرباني جواز نه منع کوي؛ ځکه د ښکر سره هيڅ مقصد متعلق نه وي، لهذا د هغوی د ماتېدلو باوجود قرباني جائز ده (ها! که ښکري له بېخه وخيږي چي د ماتېدو اثر يې تر ماغزو پوري ورسيږي، نو د هغه قرباني جائز نه ده [شامي ج: ۵، ص: ۲۰۵])

همدارنګه د خسي څاروي قرباني هم جائز ده؛ ځکه اولاً خو د خوټو (خصيتينو) سره هيڅ مقصد متعلق نه وي، او بل دليل حديث دی چي په عبارت کي ذکر سو.

والثولاء إلخ: حيوانات خو غير ذوي العقول دي، نو په دوی کي د جنون مطلب دا دی چي څاروی هسي دې خوا ها خوا ته ځغلي راځغلي او د لېوني غوندي چمونه کوي، نو که چيري خپل واښه او خوراکه خوري، نو قرباني يې جائز ده، کنې جائز نه ده.

والجرباإلخ: او که چيري څاروی خارښتي (په خارښت مبتلا) وي، نو د دې دوه حالتونه دي، د دغه خارښت په وجه به يې بدن ډنګر سوی وي يا به نه وي، که چيري ډنګر سوی وي، نو معلومه سوه چي خارښت يې پر غوښو اثر او سرايت کړی دی، نو قرباني يې جائز نه ده، او که بدن يې ډنګر سوی نه وي بلکي چاغ وي، نو ښکاره خبره ده چي د خارښت اثر پر پوست دی او غوښو ته يې سرايت نه دی کړی، نو ځکه قرباني يې جائز ده.

هغه عيبونه چي د هغوی باوجود قرباني جائز ده

وَأَمَّا الْهَتْمَاءُ وَهِيَ الَّتِي لَا أَسْنَانَ لَهَا او پاته سو هتماء او دا هغه څاروی دی چي غاښونه يې نه وي فَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَعْتَبِرُ فِي الْأَسْنَانِ الْكَثْرَةَ وَالْقِلَّةَ نو روايت سوی دی چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د غاښو په هکله د ډېرښت او کمښت اعتبار کوي وَعَنْهُ إِنْ بَقِيَ مَا يُمْكِنُهُ الِاعْتِلَافُ بِهِ او له هغه څخه بل روايت دا نقل سوی دی چي که دومره [غاښونه] پاته وي چي په هغوی سره [څاروي لره] خوراک کول ممکن وي أَجْزَأَهُ نو [د قرباني لپاره] کافي کيږي لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ د مقصود حاصلېدو په وجه وَالسَّكَّاءُ وَهِيَ الَّتِي لَا أُذُنَ لَهَا خِلْقَةً او سکا، دا هغه څاروی دی چي له پيدايښته [مور زاده] غوږ نه لري لَا تَجُوزُ جائز نه دی لِأَنَّ مَقْطُوعَ أَكْثَرِ الْأُذُنِ إِذَا كَانَ لَا يَجُوزُ ځکه د کوم څاروي چي د غوږ اکثره حصهٔ پرېکړل سوې وي کله چي هغه لا [په قرباني کي] جائز نه دی فَعَدِيمُ الْأُذُنِ

أَوْلىٰ نو د کوم ځاروي چي ګردسره غوږ نه وي هغه به په درجه اولیٰ جائز نه وي وَهٰذَا الَّذِي ذَكَرْنَا إِذَا كَانَتْ هٰذِهِ الْعُيُوبُ قَائِمَةً وَقْتَ الشِّرَاءِ او دغه تفصيل کوم چي موږ ذکر کړی هغه وخت دی کله چي دا عيبونه درانيولو په وخت کي موجود وي وَلَوِ اشْتَرَاهَا سَلِيمَةً ثُمَّ تَعَيَّبَتْ بِعَيْبٍ مَانِعٍ [لیکن] که صحيح سالم ځاروی رانيسي بيا هغه په داسي عيب سره عيبجن سي کوم چي له قرباني څخه مانع وي إِنْ كَانَ غَنِيًّا نو که چيري هغه [رانيونکی] مالدار وي عَلَيْهِ غَيْرُهَا نو پر هغه بل ځاروی واجب دی وَإِنْ كَانَ فَقِيرًا او که غريب وي تُجْزِئُهُ هٰذِهِ نو هغه لره همدغه ځاروی کافي دی لِأَنَّ الْوُجُوبَ عَلَى الْغَنِيِّ بِالشَّرْعِ ابْتِدَاءً لَا بِالشِّرَاءِ ځکه چي پر مالدار کس [د قرباني] واجبېدل له شروع څخه د شريعت په وجه دي، نه د رانيولو په وجه فَلَمْ تَتَعَيَّنْ بِهِ نو ځکه [د هغه په حق کي] دا [رانيول سوی] ځاروی متعيّن نه دی وَعَلَى الْفَقِيرِ بِشِرَائِهِ بِنِيَّةِ الْأُضْحِيَّةِ او پر غريب کس [د قرباني واجبېدل] د قرباني په نيت د ځاروي رانيولو په وجه دي فَتَعَيَّنَتْ نو [د غريب په حق کي] دا ځاروی متعيّن سو وَلَا يَجِبُ عَلَيْهِ ضَمَانُ نُقْصَانِهِ او پر غريب کس د هغه د نقصان ضمان نسته كَمَا فِي نِصَابِ الزَّكَاةِ لکه څرنګه چي د زکاة په نصاب کي دي.

اللغات: ﴿اعتلاف﴾ د افتعال د باب مصدر دی: خوراکه (واښه وغيره) خوړل. ﴿تعيبت﴾ د تفعّل له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: عيبداره (عيبجن) کېدل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د کوم ځاروي غاښونه نه وي، نو د هغه د قرباني په جواز او نا جواز کي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روايته نقل سوي دي: ① قلت او کثرت ته به کتل کيږي، يعني که اکثره غاښونه يې صحيح سالم وي، نو د هغه قرباني جائز ده. او که اکثره يې نه وي، نو قرباني يې جائز نه ده. ② دويم روايت دا دی چي د غاښو مقصود خوراکه (واښه وغيره) خوړل دي. لهذا که د ځاروي دومره غاښونه پاته وي چي خوراک په کولای سي، نو قرباني يې جائز ده، کنې جائز نه ده.

والسكاء إلخ: او کوم ځاروی چي مور زاده (له پيدايښت څخه) غوږ نه لري، نو د هغه قرباني جائز نه ده؛ ځکه کله چي د اکثر غوږ پرېکېدو په صورت کي قرباني جائز نه ده. نو د بالکل معدوم کېدو صورت کي به په درجه اولیٰ جائز نه وي؛ ځکه مخکي تاسي وويل چي د ځاروي غوږ هم مقصود اندام دی، او

د مقصود اندام معلوم والی د قربانۍ له جواز څخه مانع دی. ها! که چیري غوږونه یې کوچني وي، نو قرباني یې جائز ده.

وهذا الذی ذکرنا إلخ: فرمایي چي دا مخکیني ټول تفصیلات هغه وخت دي کله چي د څاروي رانیولو په وخت کي دا عیبونه موجود وي، لېکن که څوک صحیح سالم څاروی رانیسي او بیا داسي عیب پکښي پیدا سي چي د هغه په وجه قرباني یې جائز پاته نه سي، نو په دې صورت کي حکم دا دی چي که دغه کس مالدار وي، نو پر هغه د بل څاروي رانیول ضروري دي، او که فقیر او غریب وي، نو همدا څاروی دي قرباني کړي.

او د مذکوره فرق وجه دا ده چي پر مالدار کس د خپل مالدار والي په وجه قرباني واجبېږي، نه د رانیولو په وجه (یعني هغه که څه هم څاروی رانیولی نه وي، خو بیا هم قرباني پر واجب او لازم ده)، نو د مالدار له طرفه رانیول سوی څاروی د مالدار د قربانۍ لپاره متعیّن نه سو. او پر غریب کس هغه وخت قرباني واجبېږي کله چي د قربانۍ په نیت څاروی رانیسي، نو د هغه رانیول سوی څاروی د قربانۍ لپاره متعیّن سو.

ولایجب علیه إلخ: او په دې څاروي کي چي کوم نقصان او کمي راغلې ده، آیا پر غریب د هغه ضمان (تاوان) واجب دی، نو فرمایي چي نه!، لکه څرنګه چي د زکاة په نصاب کي هم دغه حکم دی چي مثلاً که د یو چا سره درې لکه روپۍ وې چي د کال تېرېدو (حولان حول) په وجه زکاة پکښي واجب سو، خو تر اوسه هغه لا زکاة نه وو اداء کړی چي له هغوی څخه یو نیم لک روپۍ ضایع سوې، نو اوس به هغه صرف د ما بقي (یو نیم لک) زکاة ورکوي او د ضایع شده روپو نه ضامن کیږي (زکاة یې نه پر لازمیږي)، همداسي دلته هم دغه حکم دی.

پر مذکوره قاعده متفرع شده مسئله

وَعَنْ هٰذَا الْأَصْلِ قَالُوْا: إِذَا مَاتَتِ الْمُشْتَرَاةُ لِلتَّضْحِيَةِ او د همدغه قاعدې مطابق فقهاوو ویلي دي: چي کله د قربانۍ لپاره رانیول سوی څاروی مړ سي عَلَى الْمُوْسِرِ مَكَانَهَا أُخْرٰى نو پر مالدار کس د هغه پر ځای بل څاروی [رانیول] واجب دي وَلَا شَيْءَ عَلَى الْفَقِيْرِ او پر غریب کس هیڅ شی نسته وَلَوْ ضَلَّتْ أَوْ سُرِقَتْ او که چیري دا رانیول سوی څاروی ورک سي یا غلا کړی سي فَاشْتَرٰى أُخْرٰى او هغه [مشتري] بل څاروی رانیسي ثُمَّ ظَهَرَتِ الْأُوْلٰى فِيْ أَيَّامِ النَّحْرِ بیا د قربانۍ په ورځو کي هغه اول څاروی هم ښکاره سي [پیدا سي] عَلَى الْمُوْسِرِ ذَبْحُ إِحْدَاهُمَا نو پر مالدار کس له دوی څخه د یوه ذبح کول

واجب دي وَعَلَى الْفَقِيرِ ذَبْحُهُمَا او پر غريب كس د دواړو ذبح كول واجب دي.

اللغات: ﴿مشتراة﴾ د افتعال له بابه د واحد مؤنث مفعول صيغه ده: رانيول سوى. ﴿تضحية﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: قرباني كول، څاروى قربانول. ﴿موسر﴾ د افعال له بابه د واحد مذكر اسم مفعول صيغه ده: پراخ لاسى، مراد: مالدار، شتمن.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ اللهِ فرمايي چي كله أصول او قاعده دا ده چي پر مالدار كس د شريعت له طرفه د خپل مالدارۍ په وجه قرباني واجبيږي او د هغه رانيول سوي څاروي د قربانۍ لپاره نه متعين كيږي، او پر فقير كس د رانيولو په وجه قرباني واجبيږي او د هغه رانيول سوى څاروى د قربانۍ لپاره متعيّن كيږي، نو دغه قاعده په ياد لرئ! او دې مسئلې ته ګورئ! چي كه څوک د قربانۍ لپاره يو څاروى مثلاً پسه رانيسي، بيا هغه مړ سي، نو كه چيري مشتري مالدار وي، نو پر هغه د بل څاروي قرباني واجب ده، ځكه د هغه په حق كي دا څاروى متعيّن نه دى. ها! كه چيري مشتري فقير او غريب وي، نو پر هغه د بل څاروي قرباني واجب نه ده؛ ځكه چي د ده په حق كي خاص همدا پسه متعيّن وو او هغه هلاک سو، نو د ده له غاړي څخه قرباني هم ساقطه سوه.

يو صورت دا دى چي كه د قربانۍ لپاره رانيول سوى پسه ورک سي يا يې څوک غلا كړي، بيا مشتري بل پسه رانيسي او د ايامِ نحر له تېرېدو څخه مخكي هغه ورک سوى پسه هم پيدا سي، نو اوس كه چيري مشتري مالدار وي، نو هغه ته دا اختيار دى چي له دې دواړو پسونو څخه كه هر يو قرباني كوي؛ ځكه چي له دواړو څخه يو هم د هغه په حق كي متعيّن نه دى، لهذ كوم چي وغواړي هغه دي قرباني كړي، د دواړو قرباني پر هغه واجب نه ده. لېكن كه مشتري فقير وي، خو بيا هم بل پسه رانيسي او هغه مخكيني پسه يې هم پيدا سي، نو پر دغه فقير مشتري د دواړو قرباني اجب ده؛ ځكه چي رانيول د هغه په حق كي د قربانۍ واجبېدلو سبب دي او په رانيولو سره د قربانۍ لپاره د هغه څاروى هم متعيّن كيږي. نو ځكه دا غريب به دواړه څاروي قرباني كوي؛ ځكه چي دواړه يې د قربانۍ په نيت رانيولي

د څاروي د ذبح كولو په وخت كي د عيب پيدا كېدلو حكم

وَلَوْأَضْجَعَهَا فَاضْطَرَبَتْ فَانْكَسَرَتْ رِجْلُهَا او كه [د ذبح كولو لپاره] څاروى پرې باسي او هغه سره وغورځيږي نو پښه يې ماته سي فَذَبَحَهَا او [په همدې حال كي] هغه يې ذبح كړي أَجْزَأَهُ اِسْتِحْسَانًا عِنْدَنَا نو دا څاروى استحساناً زموږ په نېز كافي دى [قرباني يې جائز ده] خِلَافًا لِزُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ په

خلاف د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله لِأَنَّ حَالَةَ الذَّبْحِ وَمُقَدِّمَاتِهِ مُلْحَقَةٌ بِالذَّبْحِ ځکه چې د ذبح حالت او د هغه مقدّمات د ذبح سره ملحق دي فَكَأَنَّهُ حَصَلَ بِهِ نو ګواکې دا عيب د ذبح په وجه حاصل [پيدا] سو اِعْتِبَارًا قياساً [د قياس په اعتبار سره] وَحُكْمًا او د حکم په اعتبار سره وَكَذَا لَوْ تَعَيَّبَتْ فِيْ هٰذِهِ الْحَالَةِ فَانْفَلَتَتْ او همدارنګه که هغه په دې حالت کې عيبداره سي نو خوشي سي [وتښتيږي] ثُمَّ أُخِذَتْ مِنْ فَوْرِهِ بيا په هغه ګړي [سمدستي] ونيول سي [نو کافي دې او قرباني يې جائز ده] وَكَذَا بَعْدَ فَوْرِهِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ او همدا رنګه څه ګړی وروسته [که ونيول سي نو هم کافي دی] د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز خِلَافًا لِأَبِيْ يُوْسُفَ ۞ په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله لِأَنَّهُ حَصَلَ بِمُقَدِّمَاتِ الذَّبْحِ ځکه چې دا عيب هم د ذبح په مقدماتو سره حاصل سوی دی.

اللغات: ﴿اضطربت﴾ د افتعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: ښوريدل، سره غورځيدل. ﴿انفلتت﴾ د انفعال له بابه مخکنی صيغه ده: په تېزي سره خلاصېدل او خوشي کېدل(خلاصون او نجات موندل).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې د ذبح مقدمات د ذبح سره ملحق دي، نو که د ذبح پر مهال په څاروي کې څه نقص او عيب پيدا سي، نو هغه د قرباني جواز نه منع کوي.

وكذا لو تعيّبت إلخ: د دې حاصل دا دی چې کله څاروی د ذبح لپاره پرې باسي او ذبح کول يې شروع کړي، نو په دې دوران کې هغه ځان خلاص کړي او وتښتي او يو عيب پکښې پيدا سي، خو بيا سمدستي هغه ونيسي او ذبح يې کړي، نو هم يې قرباني جائز ده؛ ځکه چې دا صورت هم د ذبح له مقدّماتو څخه دی، نو ځکه هغه به د ذبح سره لاحقول کيږي. او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې که تر تښتېدو څه ګړی وروسته هم هغه ونيول سي او ذبح کړل سي، نو هم د هغه قرباني جائز ده. لېکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې که هغه ناوخته ونيول سي، نو قرباني يې نه صحيح کيږي؛ ځکه کله چې هغه سمدستي نه ونيول سي او سمدستي ذبح نه کړی سي، نو د هغه عيبداره کېدل د ذبح له مقدماتو څخه ووتل، نو ځکه هغه به د ذبح سره نه لاحقول کيږي.

۞ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، لأنه قوله هو الاستحسان، وكذا في الدر المنتقى (ج:۴، ص:۱۷۳،۱۷۲)، والبحر الرائق (ج:۸، ص:۳۲۴). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۹۶]

د قرباني لپاره کوم څارویان خاص دي؟

قَالَ: وَالْأُضْحِيَةُ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ فرمايي: او قرباني به له اوښانو، غويانو او پسونو څخه کيږي لِأَنَّهَا عُرِفَتْ شَرْعًا ځکه چې همدا څارویان شرعاً پيژندل سوي دي [يعني په شريعت کي د همدوی قرباني منقوله او معروفه ده] وَلَمْ تُنْقَلِ التَّضْحِيَةُ بِغَيْرِهَا مِنَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَلَا مِنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او له دوی څخه بغير د نورو څارويو قرباني له نبي كريم ﷺ او صحابه وو رضی الله عنهم څخه نقل سوې نه ده.

اللغات: ﴿إبل﴾ اسم جنس، لا واحد له من لفظه، يقع على الواحد والجمع: الجمال، وإذا قيل آبال فالمراد به القطيع. ﴿البقر﴾ اسم جنس، يُطلق على الذكر والانثى، يَشْمل الثور والجاموس، والبقرة ايضًا تقع على الذكر والانثى. ﴿الغنم﴾ بفتح الغين والنون، لا واحد له من لفظه، والواحدة منه شاة، ج أغنام: اسم يشمل الشياه والماعز. والشاة: الْوَاحِدَة من الضَّأْن والمعز (يُقَال للذكر وَالْأُنْثَى). (معجم لغة الفقهاء. معجم الوسيط)

تشريح: فرمايي د قرباني لپاره فقط دا درې قسمه څارويان خاص دي: ① اوښان (مذکر ومؤنث)، ② غويان او ګاميښې (مذکر ومؤنث)، ③ پسونه او ميږې، وزګرې او بزې.

ځکه له دې څخه بغير د بل څاروي قرباني له نبي كريم ﷺ او د هغه له صحابه وو څخه منقوله نه ده. بلکې صرف پر همدغه څارويو له نبوي دور څخه قرباني را روانه ده.

د قرباني د جواز لپاره د څارويو د کم عمر بيان

قَالَ: وَيُجْزِئُ مِنْ ذٰلِكَ كُلِّهِ الثَّنِيُّ فَصَاعِدًا فرمايي: او له دغه ټولو څارويو څخه ثني يا تر دې زيات عمر والا [د قرباني لپاره] کافي دی إِلَّا الضَّأْنَ فَإِنَّ الْجَذَعَ مِنْهُ يُجْزِئُ ماسوا له پسه [او ميږې] څخه چې د هغه جذع [وری] هم کافي دی لِقَوْلِهِ[1] عليه السلام: «ضَحُّوا بِالثَّنَايَا د نبي كريم ﷺ د دې فرمان په وجه چې: تاسي ثني څارويان ذبح کوئ! إِلَّا أَنْ يَعْسُرَ عَلَى أَحَدِكُمْ مګر دا چې که [قرباني د] هغه مشکل وي په تاسو کي پر يوه فَلْيَذْبَحِ الْجَذَعَ مِنَ الضَّأْنِ» نو هغه دي د پسه جذع ذبح کړي وَقَالَ عليه السلام: «نِعْمَتِ[2] الْأُضْحِيَةُ الْجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ» او نبي ﷺ فرمايلي دي چې: ډېر ښه قرباني ده د پسه

---

[1] تخريج: أخرجه ابوداؤد بمعناه، باب ما يجوز في الضحايا من السن، ص:۴۰۷، حديث رقم:۲۷۲۹. والنسائي في كتاب الضحايا، حديث رقم:۴۳۸۳.

[2] تخريج: أخرجه الترمذي، باب ما جاء في الجذع من الضان في الأضاحي ص:۳۶۴، حديث رقم:۱۴۹۹.

جذع قَالُوْا: وَهٰذَا إِذَا كَانَتْ عَظِيْمَةً بِحَيْثُ لَوْ خُلِطَتْ بِالثُّنْيَانِ فقهاؤ فرمايلي دي: او دا هغه وخت [كافي ده] كله چې جذع دومره غټه [چاغه] وي چې كه د ثني څارويو سره يو ځای كړل سي يَشْتَبِهُ عَلَى النَّاظِرِ مِنْ بَعِيْدٍ نو دليري څخه پر كتونكي كس مشتبه سي [چې دا اوس جذع ده كه ثنی] وَالْجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ مَا تَمَّتْ لَهُ سِتَّةُ أَشْهُرٍ فِي مَذْهَبِ الْفُقَهَاءِ او د پسه جذع دا ده چې شپږ مياشتې يې پوره سوي وي، په مذهب د فقهاؤ كي [يې دا تعريف سوی دی] وَذَكَرَ الزَّعْفَرَانِيُّ أَنَّهُ ابْنُ سَبْعَةِ أَشْهُرٍ او زعفراني رَحِمَهُ الله ذكر كړي دي چې د پسه جذع داوو مياشتو بچی دی [يعني چې د اوو مياشتو وي هغه ته جذع وايي] وَالثَّنِيُّ مِنْهَا وَمِنَ الْمَعْزِ سَنَةٌ او له پسو او بزو [وزو] څخه ثني ديوه كال بچی دی وَمِنَ الْبَقَرِ ابْنُ سَنَتَيْنِ او له غواوو [غواګانو] څخه د دوو كالو بچی [ثنی] دی وَمِنَ الْإِبِلِ ابْنُ خَمْسِ سِنِيْنَ او له اوښانو څخه د پنځو كالو بچی [ثني] دی وَيَدْخُلُ فِي الْبَقَرِ الْجَامُوْسُ او په غواوو كي کامیښه هم داخله ده لِأَنَّهُ مِنْ جِنْسِهِ ځكه چې هغه د همدوی له جنس څخه ده وَالْمَوْلُوْدُ بَيْنَ الْأَهْلِيِّ وَالْوَحْشِيِّ يَتْبَعُ الْأُمَّ او د كورني او وحشي حيوان تر مينځ پيدا سوی بچی د خپل مور تابع كيږي لِأَنَّهَا هِيَ الْأَصْلُ فِي التَّبَعِيَّةِ ځكه په تابع والي كي همدا مور اصل ده حَتّٰى إِذَا نَزَا الذِّئْبُ عَلَى الشَّاةِ تر دې چې كه لېوه پر بزې [يا ميږې] وغور ځيږي [جفتي او جماع ورسره وكړي] يُضَحّٰى بِالْوَلَدِ نو بچی يې قربانول كېدای سي [ځكه بچی د خپلي مور (شاة) تابع دی].

اللغات: ﴿ثني﴾ د څارويو هغه بچی چې د مخ دوه غاښونه (پورتني، لانديني) يې وخيږي، (كلّ ما سقطت ثـنيته)، نور په هر جنس كي يې عمر جلا دی چې هغه مصنف رَحِمَهُ الله ذكر كړی دی، ﴿جَذَع﴾ (بفتحتين): د څارويو كوچني بچي ته وايي چې په هر جنس كي يې عمر جلا دی: جمع: جِذَاع، او جِذَع ښاخ او تنې ته وايي، جمع: جُذُوع، ﴿الضأن﴾ "ذو الصّوف من الغنم": يعني ميږي او پسونه، پر واحد او جمع دواړو يې اطلاق كيږي، همدارنګه يوه پُسه او ميږي ته "ضَائِنٌ او ضَائِنَةٌ" وايي، ﴿معز﴾ بزې (وزې) او سېرليان، همدارنګه يوه سېرلي او بزې ته "مَاعِزٌ او مَاعِزَةٌ" وايي، عربي قاموسونو يې داسي تعريف كړی دی: "ذو الشعر من الغنم، خلاف الضأن"، ﴿الزعفراني﴾ له دې

څخه مراد حسن بن احمد بن مالك ابوعبد الله الفقيه الزعفراني رَحِمَهُ الله دی کوم چې د جامع صغير مرتب دی، د ده يو كتابُ الأضاحي دی، په هغه کې يې دا پورتنی خبره کړې ده. ﴿جاموس﴾ ګامېښه، مېښه. ﴿شاة﴾ عام اسم دی، پر پسه، مېږې، وزګړي او بزه ټولو يې اطلاق کيږي (لکه مخکې چې هم څو ځله موږ دا ذکر کړي دي). (معجم لغة الفقهاء، معجم الوسيط، مصباح المنير)

تشريح: په دې عبارت کې د قربانۍ د جواز لپاره داوښ، غوبې او پسه عمرونه بيانوي، مختصر حاصل يې دا دی چې له دې ټولو څارويو څخه ثني يا تر دې زيات عمر والا بچی د قربانۍ لپاره جائز دی، او تر ثني کم عمر والا څاروي قربانول پکار نه دي، د پسه جذع هم د قربانۍ لپاره کافي ده؛ ځکه نبي کريم ﷺ د ثني د قربانۍ ترغيب کړی دی او د تنګلاسۍ په وخت کې يې د پسه د جذع د قربانۍ اجازت فرمايلی دی، همدارنګه د پسه جذع هم نبي ﷺ غوره او بهترينه قرباني ګڼلې ده، خو څرنګه چې جذع ډېر کوچنۍ وي، نو ځکه فقهاؤ د جذع په هکله د چاغښت او صحت قيد لګولی دی، چې هغه به دومره ښکاري چې که په ثني (يعني ديوه کال په) وربانو کې ايله کړی سي، نو دليري څخه يې فرق کول مشکل وي (چې آيا دا اوس جذع ده که ثني).

والجذع من الضأن إلخ: له دې ځايه د جذع وغيره تفصيلي بيان کوي، فرمايي چې د فقهاؤ په اصطلاح کې د پسه شپږ مياشتني بچي (وري) ته جذع وايي، خو په لغت کې جذع د پسه هغه بچي ته وايي کوم چې د پوره يو کال وي، په همدې وجه صاحب د هدايې دلته د "في مذهب الفقهاء" قيد لګولی دی چې دا تعريف يې د فقهاؤ په نيز دی. خو د امام زعفراني رَحِمَهُ الله په نيز د اوو مياشو بچي ته جذع ويل کيږي. د پسه او بزې د يوه کال بچي ته ثني وايي، د غوا دوه کلن بچي ته ثني وايي او د اوښ پنځه کلن بچي ته ثني وايي. غوا او ګامېښه سره همجنس دي، نو ځکه کوم حکم چې د غوا د بچي دی، هغه د ګامېښي د بچي هم دی.

والمولود إلخ: فرمايي چې بچی د خپل مور تابع کيږي؛ ځکه بچی د مور جزء وي نو همدا مور په تبعيت کې اصل ده. او تاسي ته معلومه ده چې قرباني صرف د اهلي او کورني څارويو صحيح کيږي کوم چې وحشي نه وي، لهذا که د يو بچي مور اهلي وي مثلاً بزه يا مېږه وي او پلار يې وحشي مثلاً لېوه وي، نو د هغه قرباني جائز ده؛ ځکه چې د قربانۍ د صحت او جواز لپاره اهلي والی شرط دی، او دلته مور اهلي ده، نو بچی به يې هم اهلي شمېرل کيږي، لهذا د هغه قرباني جائز ده. خو که مور وحشي مثلاً هوسۍ وغيره وي او پلار اهلي مثلاً وزګړی وي، څرنګه چې په دې صورت کې بچی اهلي نه دی، نو ځکه قرباني يې نه صحيح کيږي.

د قرباني له شريکانو څخه د يوه شريک د مرګ يو خاص صورت

قَالَ: وَإِذَا اشْتَرَى سَبْعَةٌ بَقَرَةً لِيُضَحُّوا بِهَا فرمايي: او كله چې اووه كسان يوه غوا رانيسي د دې لپاره چې قرباني پې کړي فَمَاتَ أَحَدُهُمْ قَبْلَ النَّحْرِ بيا تر ذبح [قرباني] مخکې له دوی څخه يو مړ سي وَقَالَتِ الْوَرَثَةُ: اِذْبَحُوهَا عَنْهُ وَعَنْكُمْ او وارثان [شريكانو ته] ووايي چې: تاسې دا د مړي له طرفه او له خپله طرفه ذبح کړئ أَجْزَأَهُمْ نو دا [قرباني] دوی لره كافي كيږي وَإِنْ كَانَ شَرِيكُ السِّتَّةِ نَصْرَانِيًّا أَوْ رَجُلًا يُرِيدُ اللَّحْمَ او كه د شپږو كسانو [اووم] شريک نصراني وي يا داسې كس وي كوم چې د غوښو اراده لري [نه د قرباني] لَمْ يُجْزِ عَنْ وَاحِدٍ مِنْهُمْ نو په دوی کې د يوه له طرفه هم نه كافي كيږي وَوَجْهُهُ أَنَّ الْبَقَرَةَ تَجُوزُ عَنْ سَبْعَةٍ او د دې وجه دا ده چې غوا د اووو كسانو له طرفه كافي كيږي وَلَكِنَّ مِنْ شَرْطِهِ أَنْ يَكُونَ قَصْدُ الْكُلِّ الْقُرْبَةَ خو د هغه شرط دا دی چې د ټولو اراده به قربت وي وَإِنِ اخْتَلَفَتْ جِهَاتُهَا كه څه هم د قربت جهات مختلف وي كَالْأُضْحِيَّةِ وَالْقِرَانِ وَالْمُتْعَةِ لكه [جهت د] قرباني او قِران او تمتّع عِنْدَنَا زموږ په نېز لِاتِّحَادِ الْمَقْصُودِ وَهُوَ الْقُرْبَةُ د مقصود د يوالي په وجه چې هغه قربت دی [يعني د دغه ټولو جهاتو مقصود قربت دی] وَقَدْ وُجِدَ هَذَا الشَّرْطُ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ او دغه شرط په اول صورت کې موجود دی لِأَنَّ التَّضْحِيَةَ عَنِ الْغَيْرِ عُرِفَتْ قُرْبَةً ځکه چې د بل چا له طرفه قرباني كول هم قربت پېژندل سوې ده [يعني د بل چا له طرفه قرباني هم قربت او عبادت شمېرل سوې ده] أَلَا تَرَى أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] ضَحَّى عَنْ أُمَّتِهِ آيا ته نه ګورې چې نبي ﷺ د خپل امت له طرفه قرباني كړې ده عَلَى مَا رَوَيْنَا مِنْ قَبْلُ لكه څرنګه چې مخکې موږ دا حديث روايت كړی وَلَمْ يُوجَدْ فِي الْوَجْهِ الثَّانِي او په دويم صورت کې دا شرط [د قربت] موجود نه دی لِأَنَّ النَّصْرَانِيَّ لَيْسَ مِنْ أَهْلِهَا ځکه چې نصراني د قربت اهل نه دی وَكَذَا قَصْدُ اللَّحْمِ يُنَافِيهَا او همدارنګه د غوښو خوړلو اراده [نيت] د قربت منافي دی وَإِذَا لَمْ يَقَعِ الْبَعْضُ قُرْبَةً او كله چې بعضې حصه [يعني د نصراني او قاصد اللحم حصه] قربت واقع نه سوه وَالْإِرَاقَةُ لَا تَتَجَزَّأُ فِي حَقِّ الْقُرْبَةِ حال دا چې وينه بهول [قرباني كول] د

---

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجه، باب أضاحي رسول الله ﷺ، ص:۴۵۵، حديث رقم:۳۱۲۲.

قربت په حق کې نه متجزي کيږي [يعني داسي نه سي کېدلای چي د قرباني يو جزء او حصه قربت واقع سي او بل جزء يې قربت نه سي، لهذا کله چي داسي ده] لَمْ يَقَعِ الْكُلُّ أَيْضًا نو ټوله [قرباني (اضحيه)] قربت واقع نه سوه فَامْتَنَعَ الْجَوَازُ نو د قرباني جواز ممتنع سو [يعني د قرباني جائز کېدل منع او ناممکن سوه] وَهٰذَا الَّذِىْ ذَكَرَهُ اِسْتِحْسَانٌ او دا کوم څه چي امام محمد رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي [چي د وارثانو تر اجازت وروسته د مړي له طرفه قرباني جائز کيږي] دا استحسان دی [کنې د قياس تقاضا دا ده چي جواز نه لري].

اللغات: ﴿قربة﴾ د نېکۍ کار، عبادت او طاعت (هر هغه د نېکۍ کار چي په هغه سره ثواب او قرب الهي مطلوب وي)، ﴿إراقة﴾ د افعال د باب مصدر دی: (وينه) بېيول، بهول، ﴿لا تتجزأ﴾ د تفعّل له بابه د نفي صيغه ده: جزء، جزء کېدل (حصه، حصه کېدل)، ټوټه، ټوټه کېدل، ﴿استحسان﴾ د دې تعريف خو څرګند دی، خو په بله او آسانه وينا يې تعريف داسي هم کېدای سي چي: که په يو کار کې د قياس تقاضا دا وي چي هغه نه جائز کېدل پکار دي لېکن د هغه جائز کېدلو ته د اُمت ضرورت او مجبوري وي، نو د هغه کار جائز کولو ته "استحسان" وايي. (اثمار الهدايه)

تشريح: عبارت څرګند او آسانه دی چي له ترجمې څخه هم معلومېږي، خو په لنډه توګه حاصل يې دا دی چي په قرباني کې دا ضروري ده چي هغه په کامله توګه قربت (عبادت) واقع سي، او که داسي نه وي، نو قرباني نه جائز کيږي، لهذا که د يوه شريک مقصد خاص الخاص غوښې وي او نيت د قربت او عبادت يې نه وي، نو د يوه قرباني هم نه جائز کيږي.

همدارنګه که له شريکانو څخه يو شريک نصراني وي، نو څرنګه چي هغه د قربت اهل نه دی او د عبادت قابل نه دی، نو ځکه په دې صورت کې هم د يوه قرباني نه جائز کيږي.

لنډه دا چي د قربت نيت کول ضروري دي.

او که چيري د قربت جهات بدل سي، نو هيڅ حرج نسته، مثلاً که يو شريک د قرباني نيت وکړي او بل د دم قِران نيت وکړي او دريم شريک د دم تمتع نيت وکړي، نو جائز دي؛ ځکه چي په قربت کې ټوله سره يو او متحد دي.

لأن الأضحية إلخ دا د يو سوال جواب هم دی، هغه دا چي د قربت لپاره خو د مباشر (قربت کونکي) وجود ضروري دی چي هغه به موجود وي، لهذا د مړه شريک له طرفه څنګه قرباني جائز کيږي؟، نو فرمايي چي دا ضروري نه ده، بلکي انسان د بل چا (ناموجوده کس) له طرفه هم قرباني کولای سي او هغه د بل چا له طرفه هم قربت واقع کيږي؛ لکه څرنګه چي د نبي کريم ﷺ عمل پر همدې دلالت کوي، نو معلومه سوه چي که د مړي له طرفه د هغه وارثان شريکانو ته اجازت ورکړي، نو قرباني جائز ده، خو دا

حکم استحسان دی، او د قیاس تقاضا دا ده چې تر اجازت وروسته هم قرباني جائز نه سي، لکه څرنګه چې په راوان عبارت کې ذکر سوي دي.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يَجُوْزَ او قیاس دا دی چې جائز نه وي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ او همدا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت هم دی لِأَنَّهُ تَبَرُّعٌ بِالْإِتْلَافِ ځکه چې دا په اتلاف [مال ضايع کولو] سره تبرّع ده [يعني دا د تبرّع په توګه مال ضايع کول دي] فَلَا يَجُوْزُ عَنْ غَيْرِهِ کوم چې د بل چا له طرفه جائز نه دي كَالْإِعْتَاقِ عَنِ الْمَيِّتِ لکه د مړي له طرفه آزادول [چې جائز نه دي] لٰكِنَّا نَقُوْلُ: الْقُرْبَةُ قَدْ تَقَعُ عَنِ الْمَيِّتِ ليکن موږ وايو چې قربت د مړي له طرفه هم واقع کيږي كَالتَّصَدُّقِ لکه صدقه [خيرات] کول بِخِلَافِ الْإِعْتَاقِ په خلاف [د مړي له طرفه] د آزادولو لِأَنَّ فِيْهِ إِلْزَامَ الْوَلَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ ځکه چې په دې کې پر مړي د ولاء لازمول سته [او دا جائز نه دي، نو ځکه د هغه له طرفه آزادول هم جائز نه دي] وَلَوْ ذَبَحُوْهَا عَنْ صَغِيْرٍ فِي الْوَرَثَةِ أَوْ أُمِّ وَلَدٍ او که دوی په وارثانو کې د يو موجود کوچني له طرفه يا د اُم ولد له طرفه دا څاروی [غوا] ذبح کړي جَازَ نو هم جائز دي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ قُرْبَةٌ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی چې دا قربت دی [او صغير او اُم ولد هم د قربت اهل دي] وَلَوْ مَاتَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ او که له دوی [شريکانو] څخه يو مړ سي فَذَبَحَهَا الْبَاقُوْنَ بِغَيْرِ إِذْنِ الْوَرَثَةِ بيا پاته شريکان [د مړه شريک] د وارثانو له اجازت څخه بغير څاروی ذبح کړي لَا يُجْزِيْهِمْ نو دا دوی لره نه کافي کيږي [يعني د يوه قرباني هم نه جائز کيږي] لِأَنَّهُ لَمْ يَقَعْ بَعْضُهَا قُرْبَةً ځکه چې بعضي حصه يې [يعني د مړه شريک حصه] قربت واقع نه سوه [نو پاته به هم قربت نه وي] وَفِيْمَا تَقَدَّمَ وُجِدَ الْإِذْنُ مِنَ الْوَرَثَةِ او په مخکيني صورت کې د وارثانو له طرفه اجازت سوی دی فَكَانَ قُرْبَةً نو ځکه هغه قربت [واقع سوی] وو.

اللغات: ﴿تبرع﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: نېکي او احسان کول، داسي کار کول کوم چې د انسان پر ذمه واجب نه وي لکه وصيت، هبه او داسي نور، نفلي او غير لازم کار. ﴿إتلاف﴾ د افعال د باب مصدر دی: تلفول، ضايع کول. ﴿قربة﴾ د دې تعريف مخکې تېر سو.

تشريح: فرمايي د قياس تقاضا دا ده چي د وارثانو د اجازت باوجود دا قرباني جائز نه ده. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت هم دغه دی؛ ځکه د مړه شريک تر مرګ وروسته وارث د هغه د حصې مالک سو. نو اوس چي وارث د قرباني اجازت ورکوي دا تبرّع بالاتلاف ده يعني داسي نفلي کار دی کوم چي د مال ضايع کولو په ذريعه حاصليږي. او د تبرّع په توګه د مړي له طرفه مال ضايع کول جائز نه دي لکه څرنګه چي د مړي له طرفه د هغه غلام آزادول جائز نه دي. او وجه يې همدا ده چي په دې کي تبرع بالاتلاف راځي، لېکن موږ پر استحسان عمل کوو؛ او د استحسان دليل دا دی چي د مړي له طرفه هم قربت واقع کيږي، لکه د مړي له طرفه صدقه او خيرات کول. او د مړي له طرفه حج کول؛ ځکه چي وارثانو لره دا حق سته چي د مړي له طرفه د ثواب کار وکړي. نو دلته د دوی په اجازت سره د مړه شريک حصه هم د نورو شريکانو د حصو په څېر قربت واقع سوه. نو ځکه دا قرباني جائز ده.

بخلاف الإعتاق إلخ: پاته سو إعتاق عن الميت، نو هغه ځکه نه جائز کيږي چي په دې صورت کي د غلام ولاء او ميراث مُعتَق (آزادونکي مالک) لره حاصليږي. او په مړي کي د مالک جوړېدو اهليت نه وي. لهذا کله چي په إعتاق عن الميت کي پر مړي د ولاء لازمول سته (ځکه چي د مړي له طرفه د غلام آزادولو پر بناء به ولاء مړي ته حاصليږي)، نو ځکه دا جائز نه دي. او په قرباني کي پر مړي د هيڅ شي لازمول نسته. نو ځکه د هغه په جائز کېدو کي څه خبره نسته.

ولو ذبحوها إلخ: يعني که له دې (اوو) شريکانو څخه يو شريک کوچنی (صغير) وي، يا أُم ولد وي. او د کوچني له طرفه د هغه پلار يا د أُم ولد له طرفه د هغې مالک قرباني وکړي يا يې اجازت ورکړي، نو دا قرباني جائز ده. يعني دا دواړه د قرباني په ښاروي کي شريکان وي بيا دوی مړه سي او پلار يا مالک يې د قرباني کولو اجازت ورکړي، نو قرباني جائز ده او د ټولو شريکانو قرباني جائز کيږي؛ ځکه کوچنی يا أُم ولد چي کله مسلمان وي، نو دوی هم د قربت او ثواب اهل دي؛

او که په مخکيني صورت کي شريکان د وارثانو له اجازت څخه بغير قرباني وکړي، نو ديوه قرباني هم نه جائز کيږي؛ ځکه د اجازت د نشتوالي په وجه د مړه شريک په حق کي قربت معدوم سو (يعني په ښاروي کي د مړه شريک حصه قربت واقع نه سوه)، نو د يوه د قربت نشتوالي په وجه د ټولو قرباني نه جائز کيږي.

د قرباني د غوښو مصارف

قَالَ: وَيَأْكُلُ مِنْ لَحْمِ الْأُضْحِيَةِ فرمايي: او قرباني کونکی کس د قرباني غوښي خوړلای سي وَيُطْعِمُ الْأَغْنِيَاءَ وَالْفُقَرَاءَ او په مالدارانو او فقيرانو يې [هم] خوړلای سي [يعني د قرباني له غوښو څخه غريبانو او مالدارانو ته هم ورکولای سي] وَيَدَّخِرُ او ذخيره جمعي يې هم کولا سي [يعني خوندي کولای يې هم

سي] لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] : «كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْأَضَاحِيْ دنبي كريم ﷺ د دې فرمان په وجه: ما تاسي د قربانيو له غوښو څخه منع کولاست فَكُلُوْا مِنْهَا وَادَّخِرُوْا» نو [اوس] تاسي له هغه څخه خوراک او ذخيره جمعي کوئ! وَمَتٰى جَازَ أَكْلُهُ وَهُوَغَنِيٌّ او کله چي د قرباني کونکي لپاره د قربانۍ غوښي خوړل جائز دي په داسي حال کي چي دئ مالدار [هم] دی جَازَ أَنْ يُؤْكِلَهُ غَنِيًّا نو د ده لپاره به دا [هم] جائز وي چي په يو مالدار کس هغه وخوري قَالَ: وَيُسْتَحَبُّ أَنْ لَا يَنْقُصَ الصَّدَقَةَ عَنِ الثُّلُثِ فرمايي: او مستحب دا ده چي صدقه له درېيمي حصې څخه کمه نه کړي [يعني چي توله غوښي درې حصې کړل سي، نو له هغوی څخه يوه حصه پوره صدقه کول مستحب دي] لِأَنَّ الْجِهَاتِ ثَلَاثَةٌ: الْأَكْلُ وَالِادِّخَارُ لِمَا رَوَيْنَا وَالْإِطْعَامُ لِقَوْلِهِ تَعَالٰى ځکه چي جهتونه درې دي: ① خپله خوړل ② او ذخيره کول [دا دواړه] د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی ③ او په نورو خوړل [دا] د الله تعالیٰ د دې فرمان په وجه ﴿وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ﴾ [الحج: ۳۶] او تاسي يې په صابر او سوالگر وخورئ! فَانْقَسَمَ عَلَيْهِمْ أَثْلَاثًا نو د قربانۍ غوښي پر دوی [جهات ثلاثه وو] په دريو حصو سره تقسيم سوې [چي د هر يوه لپاره يو ثلث يعني درېيمه حصه سوه]

اللغات: ﴿الأُضحية﴾ قرباني يعني د قربانۍ څاروی، اختری، ﴿يُطعم﴾ د افعال د باب مصدر دی، أَطْعَمَ يُطْعِمُ إِطْعَامًا: په خوړل (په بل چا يو شی خوړل)، د خوراک لپاره يو شی ورکول، ﴿يدّخر﴾ د افتعال د باب مضارع ده: ذخيره کول، خوندي ساتل، ﴿قانع﴾ د سمع د باب اسم فاعل دی: قناعت کونکی (چي څه وي بس په هغه قناعت کوي او له بل چا څخه سوال او خواست نه کوي) صابر کس، ﴿معتر﴾ د افتعال د باب اسم فاعل دی: سوالگر، درويزگر، د سوال او خيرات غوښتني لپاره پېښېدونکی.

تشريح: په دې عبارت کي د قربانۍ د غوښو په هکله تفصيل بيانوي، فرمايي چي قرباني کونکی کس برابره ده مالدار وي او که تنگلاسی وي، د هغه لپاره د قربانۍ غوښي خوړل، بل چا ته ورکول يا خوندي کول دا درې سره جائز دي، که څه هم نبي ﷺ يو وخت له دې څخه منع کړې وه چي تر دريو ورځو زيات غوښي ذخيره کړل سي، لېکن وروسته نبي کريم ﷺ دا ممانعت ختم کړی او د مطلق ادّخار اجازت يې ورکړی.

---

[1] تخريج: اخرجه مسلم، باب بيان ما كان من النهي عن اكل لحوم الأضاحي بعد ثلاث إلخ، ص: ۸۸۰، حديث رقم: ۱۹۷۲/ ۵۱۰۴. وابو داؤد، باب حبس لحوم الأضاحي ص: ۴۱۰، حديث رقم: ۲۸۱۳.

وحق جاز إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په دلالة النص سره دليل نيسي فرمايي چې كله مالدار قرباني کونکي لره د قربانۍ غوښې خوړل جائز دي، نو مالدار کس په خپلو ملګرو او دوستانو هم هغه غوښې خوړلای سي، په دې کي هيڅ قباحت نسته.

ويستحب إلخ: فرمايي چي په قرآن او حديث کي د قربانۍ د غوښو درې جهتونه ثابت سوي دي: ① خپله خوړل، ② په بل چا خوړل (وركول)، ③ ذخيره كول (خوندي كول)، نو ځکه مستحب دا ده چي غوښې درې حصې کړل سي، پر دريو جهتونو تقسيم سي، په همدې وجه فرمايي چي له يوې (دريمي) حصې څخه کم صدقه كول غير مستحب او نا مناسب دي. او دليل د دې خبري چي جهات درې دي يو خو دا حديث دی "فَكُلُوا مِنْهَا وَادَّخِرُوا" چي په دې سره دوه جهتونه يعني أكل او ادّخار ثابتيږي او بل دليل د قرآن كريم دا آيت دی ﴿وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ إلخ﴾ چي په دې سره بل جهت يعني إطعام ثابتيږي.

د قربانۍ د څرمن مصارف

قَالَ: وَيَتَصَدَّقُ بِجِلْدِهَا فرمايي: او د قربانۍ څرمن دي صدقه کړي لِأَنَّهُ جُزْءٌ مِنْهَا ځکه چي څرمن هم د قربانۍ جزء ده أَوْ يَعْمَلُ مِنْهُ آلَةً تُسْتَعْمَلُ فِي الْبَيْتِ يا دي له څرمن څخه داسي شی جوړ کړي کوم چي په کور کي استعمالول کيږي كَالنِّطْعِ وَالْجِرَابِ وَالْغِرْبَالِ وَنَحْوِهَا لکه سترخان [سرخان]، خلته، غلبيل او داسي نور لِأَنَّ الِانْتِفَاعَ بِهِ غَيْرُ مُحَرَّمٍ ځکه له څرمن څخه نفع اخيستل حرام نه دي وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَشْتَرِيَ بِهِ مَا يَنْتَفِعُ فِي الْبَيْتِ بِعَيْنِهِ مَعَ بَقَائِهِ او هيڅ پروا نسته په دې کي چي د قربانۍ په څرمني سره داسي شی رانيسي چي په كور كي د هغه په عين [يعني په خودي هغه] سره نفع اخيستل کېدای سي د هغه د پاته والي باوجود [يعني چي په نفع اخيستلو سره نه ختميږي لکه سرخان وغيره] اِسْتِحْسَانًا دا حکم د استحسان په توګه دی وَذٰلِكَ مِثْلُ مَا ذَكَرْنَا او دا لکه هغه شيان کوم چي موږ ذکر کړه [يعني سترخان وغيره] لِأَنَّ لِلْبَدَلِ حُكْمَ الْمُبْدَلِ ځکه چي بدل لره د مبدل حکم دی وَلَا يَشْتَرِي بِهِ مَا لَا يَنْتَفِعُ بِهِ إِلَّا بَعْدَ اسْتِهْلَاكِهِ او د قربانۍ په څرمني سره به داسي شی نه رانيسي چي په هغه سره د هغه له استهلاک [ختمولو] څخه بغير نفع نه سي اخيستل کېدای [يعني چي په نفع اخيستلو او استعمالولو سره ختميږي] كَالْخَلِّ وَالْأَبَازِيرِ لکه سرکه او دارو ګان اِعْتِبَارًا

بِالْمَبِيعِ بِالدَّرَاهِمِ د دراهمو والا بيع باندي په قياس كولو سره [يعني لكه د دراهمو او پيسو په عوض كي چي د خپلې قرباني څرمن خرڅول جواز نه لري] وَالْمَعْنٰى فِيهِ أَنَّهُ تَصَرُّفٌ عَلٰى قَصْدِ التَّمَوُّلِ او د دې وجه دا ده چي داسي كول د مال تر لاسه كولو په غرض سره تصرف كول دي وَاللَّحْمُ بِمَنْزِلَةِ الْجِلْدِ فِي الصَّحِيحِ او غوښې د صحيح قول مطابق د څرمن په درجه كي دي فَلَوْ بَاعَ الْجِلْدَ أَوِ اللَّحْمَ بِالدَّرَاهِمِ او كه څرمن يا غوښې د دراهمو په عوض كي خرڅي كړي أَوْ بِمَا لَا يَنْتَفِعُ بِهِ إِلَّا بَعْدَ اسْتِهْلَاكِهِ يا يې د داسي شي په عوض كي خرڅي كړي چي په هغه سره د هغه له ختمولو څخه بغير نفع نه سي اخيستل كېداى تَصَدَّقَ بِثَمَنِهِ نو [په دې صورت كي] به د څرمن قيمت صدقه كوي لِأَنَّ الْقُرْبَةَ انْتَقَلَتْ إِلٰى بَدَلِهِ ځكه چي [اوس] قربت د هغه د بدل [قيمت] وطرف ته منتقل سو.

اللغات: ﴿جلد﴾ څرمن (څرمنه)، پوست، ﴿نطع﴾ هغه ستر خان "سرخان" چي له څرمني (چمړې) څخه جوړ وي. ﴿جِرَاب﴾ له څرمني څخه جوړه ختله او بوری چي په هغه كي به د سفر توښه ساتل كېده، توښه دان، ﴿غربال﴾ غلبېل، چڼونی، ﴿انتفاع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: نفع اخيستل (نفع حاصلول)، فايده ځني اخيستل، ﴿أبازير﴾ جمع د أَبْزَار ده: د كټوي دارو ګان وغيره، مساله جات، ﴿استهلاك﴾ د استفعال د باب مصدر دی: هلاكول، ضايع كول، ختمول.

تشريح: له دې ځايه د قرباني د څرمن تفصيل بيانوي، حاصل د عبارت دا دی چي څرمن د قرباني يو جزء دی، نو ځكه د هغه صدقه كول هم مستحب دي، لېكن كه څوک د قرباني څرمن خپله استعمال كړي مثلاً ستر خان، خلته او داسي نور ځني جوړ كړي (يا مثلاً د پسه الويل وكړي او څرمن په غوښو كي راسي)، نو په دې كي هيڅ حرج نسته؛ ځكه د قرباني له څرمن څخه نفع اخيستل حرام نه دي؛ ځكه كله چي انسان د قرباني له غوښو څخه هم نفع اخيستلای سي، نو د قرباني څرمن كوم چي تر غوښو كمي درجې والا ده، له هغه څخه به په درجه اولیٰ نفع اخيستل جائز وي.

همدارنګه كه څوک د قرباني څرمن خرڅه كړي او يو داسي شی په رانيسي چي عين يې باقي پاتيږي او نفع ځني اخيستل كيږي، مثلاً د لمانځه مسله، ستر خان وغيره، نو دا هم د استحسان په توګه جائز دي؛ ځكه د بدل او مُبدل منهٔ دواړو حكم يو وي، او كله چي له عين مبدل يعني له څرمن څخه نفع اخيستل جائز دي، نو د هغه له بدل (رانيول سوي شي) څخه به هم نفع اخيستل جائز وي.

ولايشترى إلخ: فرمايي چي كه د څرمن په عوض كي يو داسي شى چي د بقاءِ عَين سره نفع څني اخيستل ناممكن وي، مثلاً سركه يا خرما، چي په استعمال سره دا شيان ختميږي يعني د هغوى په ختمولو (خوړلو) سره نفع څني اخيستل كيداى سي، نو دا جائز نه دي او نه له دې شيانو څخه نفع اخيستل جائز دي. لكه څرنګه چي يو څوک كه خاص د دراهمو او پيسو په عوض كي څرمن خرڅه كړي نو دا صحيح نه دي، او د دې صورتونو د نه جائز كيدلو وجه دا ده چي په دوى كي د تموّل (مال ترلاسه كولو) په غرض تصرّف كيږي، حال دا چي په اُضحيه كي د تموّل هيڅ ګنجايش نسته. چي هغه يو قربت او عبادت دى.

واللحم إلخ: فرمايي د نفع اخيستلو چي كوم حكم د څرمن په هكله دى، بعينهٖ هغه حكم د غوښو هم دى.

ولوباع إلخ: په دې سره هاغه د خرڅولو مسئله بيانوي چي كه څوک د قرباني څرمن يا د قرباني غوښي او داسي نور د دراهمو او پيسو په عوض كي خرڅ كړي، يا د يو داسي شي په عوض كي يې خرڅ كړي چي د هغه له استهلاک څخه بغير نفع څني اخيستل ممكن نه وي، نو په دې صورتونو كي د ترلاسه كړى سوي ثمن او پيسو صدقه كول ضروري دي؛ څكه چي دا صورتونه د تموّل په غرض سره اختيارول كيږي او دلته د تموّل لار بنده ده، خو د قربت يوه بله لار خلاصه ده چي هغه د ثمن صدقه كول دي، لهذا د ثمن په صدقه كولو سره دي قربت حاصل كړي؛ څكه چي اوس قربت د بدل يعني د ثمن وطرف ته منتقل سو.

د پورتني مسئلې نور وضاحت او د قرباني د شيدو وغيره حكم

وَقَوْلُهُ الطَّيِّلاٰ ❶: «مَنْ بَاعَ جِلْدَ أُضْحِيَّتِهِ فَلَا أُضْحِيَّةَ لَهُ» او د نبي كريم ﷺ دا فرمان چي: كه څوک د خپل قرباني څرمن خرڅه كړي نو د هغه قرباني نسته" يُفِيْدُ كَرَاهَةَ الْبَيْعِ دا د بيع د مكروه والي فايده وركوي اَلْبَيْعُ جَائِزٌ نور بيع جائز ده لِقِيَامِ الْمِلْكِ وَالْقُدْرَةِ عَلَى التَّسْلِيمِ څكه چي ملكيت قائم [موجود] دى او پر ورسپارلو قدرت هم سته [يعني قرباني كونكي كس د څرمن وغيره پر ورسپارلو قادر هم دى او ملكيت يې هم قائم دى] قَالَ: وَلَا يُعْطِيْ أُجْرَةَ الْجَزَّارِ مِنَ الْأُضْحِيَّةِ فرمايي: او له قرباني څخه دي د قصاب مزدوري نه وركوي «لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِعَلِيٍّ رضي الله عنه ❷: تَصَدَّقْ بِجِلَالِهَا

---

❶ تخريج: أخرجه الحاكم في المستدرك، باب تفسير سورة الحج، ج:۲، ص:۴۲۲، حديث رقم:۳۴۶۸، وسنن البيهقي، ج:۹، ص:۴۹۶، حديث رقم:۱۹۲۳۳.

❷ تخريج: أخرجه البخاري بمعناه، باب يتصدق بجلود الهدى، ص:۲۷۷، حديث رقم:۱۷۱۷. ومسلم، ص:۵۵۲، حديث رقم:۱۳۱۷. وسنن البيهقي الكبرى، في كتاب الأضاحي، باب لا يبيع من أضحيته، حديث رقم:۱۹۲۳۲.

وَخِطَامِهَا ځکه نبي کريم ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمايل چي: د قرباني ځل او د هغې قيزه صدقه کړه وَلَا تُعْطِ أَجْرَ الْجَزَّارِ مِنْهَا شَيْئًا» او له هغه څخه هيڅ هم د قصاب أجرت [مزدوري] مه ورکوه وَالنَّهْيُ عَنْهُ نَهْيٌ عَنِ الْبَيْعِ أَيْضًا او له أجرت [مزدوري ورکولو] څخه نهي له بيع [خرڅولو] څخه هم نهي ده لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْبَيْعِ ځکه چي دا [اجرت ورکول] د بيع په معنیٰ سره دي قَالَ: وَيُكْرَهُ أَنْ يَجُزَّ صُوفَ أُضْحِيَّتِهِ وَيَنْتَفِعَ بِهِ قَبْلَ أَنْ يَذْبَحَهَا او مکروه دي دا چي تر ذبح کولو مخکي د خپل قرباني وړی وسکستي او له هغه څخه نفع واخلي لِأَنَّهُ الْتَزَمَ إِقَامَةَ الْقُرْبَةِ بِجَمِيعِ أَجْزَائِهَا ځکه چي هغه [قرباني کونکي کس] د قرباني د ټولو اجزاؤ سره د قربت اداء کول پر ځان لازم کړي دي بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الذَّبْحِ په خلاف تر ذبح وروسته لِأَنَّهُ أُقِيمَتِ الْقُرْبَةُ بِهَا ځکه چي [اوس] په قرباني سره قربت اداء سو كَمَا فِي الْهَدْيِ لکه څرنګه چي د هدي په څاروي کي دي وَيُكْرَهُ أَنْ يَحْلُبَ لَبَنَهَا فَيَنْتَفِعَ بِهِ او مکروه ده دا چي د قرباني د څاروي شيدې ولوښي او له هغه څخه نفع واخلي كَمَا فِي الصُّوفِ لکه څرنګه چي په وړيو کي [هم دا مکروه دي].

اللغات: ﴿الجزّار﴾ قصاب، د څارويو ذبح کونکی، ﴿جِلال﴾ بکسر الجيم، كساء يوضع على ظهر الدابة، هغه پرده، پوښ چي د څاروي پر شا ايښوول کيږي، ځل، ﴿خطام﴾ پېـزوان، أردو شارحينو يې په قيزه "لگام" سره معنیٰ کړې ده، ﴿يجـز﴾ د نصر د باب مضارع ده: پرېکول، غوڅول، جز الصوف: وړی سکستل، ﴿صوف﴾ د پسونو او مېږو وړښته، يعني وړی.

تشريح: و قوله عليه السلام إلخ: په دې سره صاحب د هدايې د يو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چي په حديث کي د قرباني له څرمن خرڅولو څخه سخته منع سوې ده او تاسي وايئ چي خرڅول يې جائز دي لکه څه مخکي چي ذکر سوه، نو په جواب کي فرمايي چي په حديث کي چي کوم د خرڅلاو د نفي حکم سوی دی، هغه د کراهت له قبيل څخه دي يعني د مذکوره شيانو بيع مکروه ده؛ ځکه کله چي پر غوښو وغيره د قرباني کونکي کس ملکيت هم قائم دی او هغه د دې شيانو پر ورسپارلو قادر هم دی. لهذا د بيع (خرڅلاو) په جواز کي هيڅ شبهه نسته، خو بيع يې مکروه ده، په همدې وجه موږ يې د ثمن او قيمت صدقه کول واجب ګرځولي دي.

ولا يعطي إلخ: کله چي بيع مکروه ده، نو قصاب (ذابح) ته په مزدوري کي د قرباني څرمن ورکول هم مکروه دي؛ ځکه چي دا هم د بيع په درجه کي دي.

او له قرباني څخه مخکي د هغه وړي سکستل او نفع ځني اخيستل جائز نه دي. ها! تر قرباني وروسته جائز دي؛ ځکه چي تر قرباني وروسته قربت (عبادت) اداء سوی دی. او د شيدو لوښلو هم دغه حکم دی.

تنبيه: که چيري يو څوک د خپل قرباني د څاروي وړي وسکستي يا د قرباني څاروی په کرايه ورکړي يا يې ولوښي، نو کوم شی چي د صدقې قابل دی، هغه دي صدقه کړي او کومه کرايه چي يې اخيستې ده، هغه دي هم صدقه کړي. د تفصيل لپاره وګورئ! (شامي ج:۵، ص:۲۰۹)

قرباني په خپل لاس ذبح کول افضل دي

قَالَ: وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَذْبَحَ أُضْحِيَّتَهُ بِيَدِهِ فرمايي: او افضل دا ده چي خپله قرباني په خپل لاس ذبح کړي إِنْ كَانَ يُحْسِنُ الذَّبْحَ که چيري هغه ښه ذبح کولای سي وَإِنْ كَانَ لَا يُحْسِنُهُ او که چيري ښه ذبح نه سي کولای فَالْأَفْضَلُ أَنْ يَسْتَعِينَ بِغَيْرِهِ نو افضل دا ده چي له بل چا څخه مرسته وغواړي [په بل چا يې ذبح کړي] وَإِذَا اسْتَعَانَ بِغَيْرِهِ او کله چي هغه له بل چا څخه مرسته وغواړي يَنْبَغِيْ أَنْ يَشْهَدَهَا بِنَفْسِهِ نو پکار دا ده چي قرباني ته خپله حاضر پاته سي «لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] لِفَاطِمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ځکه نبي کريم ﷺ وحضرت فاطمي رضي الله عنها ته وفرمايل قُوْمِيْ فَاشْهَدِيْ أُضْحِيَّتَكِ ولاړه سه! [جګه سه!] خپل قرباني ته حاضره سه! فَإِنَّهُ يُغْفَرُ لَكِ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ مِنْ دَمِهَا كُلُّ ذَنْبٍ» ځکه چي د قرباني دويني په اوله قطره سره به ستا هره ګناه وبخښل سي.

اللغات: ﴿يستعين﴾ د استفعال د باب مضارع ده: مرسته او کومک غوښتل (په بل چا خپل کار کول).

﴿فاشهدي﴾ د سمع له بابه د واحد مؤنث امرِ حاضر صيغه ده. د دې باب يوه معنیٰ ده: حاضرېدل، حاضر اوسېدل.

تشريح: فرمايي که چيري قرباني کونکی (د قرباني مالک) په ښه توګه څاروی ذبح کولای سي او په طريقه يې پوهيږي چي أوداج او د ذبح رګونه کوم دي، نو په دې صورت کي په خپل لاس سره خپل څاروی ذبح کول افضل او غوره دي، لېکن که هغه په ښه توګه پر ذبح کولو قادر نه وي، نو په دې

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الحج، باب ما يستحب للمرء من أن يتولى ذبح إلخ، ج:۹، ص:۴۷۶، حديث رقم:۱۹۱۶۲. ومصنف عبد الرزاق، باب فضل الضحايا والهدى إلخ، ج:۴، ص:۲۹۸، حديث رقم:۸۱۹۹.

صورت کي دي يې په يو ماهر کس ذبح کړي، او بنه خبره دا ده چې د ذبح پر مهال د قربانۍ مالک هلته موجود او حاضر وي؛ رسول الله ﷺ چي وحضرت فاطمې رضی الله عنها ته کوم فرمان کړی دی، د هغه همدغه مطلب دی.

په کتابي (نصراني او يهودي) سره د قربانۍ خاروۍ ذبح کول

قَالَ: وَيُكْرَهُ أَنْ يَذْبَحَهَا الْكِتَابِيُّ فرمايي: او مکروه دي دا چې کتابي کس قرباني ذبح کړي لِأَنَّهُ عَمَلٌ هُوَ قُرْبَةٌ ځکه چې د قربانۍ ذبح يو داسي عمل دی کوم چې قربت [عبادت] دی وَهُوَ لَيْسَ مِنْ أَهْلِهَا او کتابي د قربت اهل نه دی فَلَوْ أَمَرَهُ او که چيري مسلمان وکتابي ته حکم وکړي فَذَبَحَ او کتابي يې ذبح کړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّهُ مِنْ أَهْلِ الذَّكَاةِ ځکه چې کتابي د ذبح کولو [حلالولو] اهل دی وَالْقُرْبَةُ أُقِيمَتْ بِإِنَابَتِهِ وَنِيَّتِهِ او قربت اداء سو د مسلمان په نائب جوړولو او د هغه په نيت کولو سره [يعني دغه مسلمان دا کتابي خپل نائب جوړ کړی دی او د قربت نيت يې هم کړی دی او په همدې حالت کي قربت (قرباني) واقع سوې او اداء سوې ده] بِخِلَافِ مَا إِذَا أَمَرَ الْمَجُوسِيَّ په خلاف د هغه صورت کله چې مسلمان و مجوسي ته حکم وکړي [نو قرباني نه کيږي] لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ الذَّكَاةِ ځکه چې هغه د ذبح کولو [حلالولو] اهل نه دی [لهذا دا ذبح کول نه سوه، بلکي مردارول سوه] فَكَانَ إِفْسَادًا نو دا فاسدول [مردارول] سوه.

اللغات: ﴿إِنابة﴾ د افعال د باب مصدر دی: څوک د خپل ځان نائب کول، نائب جوړول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د کتابي د لاس ذبح کړی سوی څاروی که څه هم حلال دي، لېکن د هغه په لاس د قربانۍ څاروی ذبح کول مکروه دي؛ ځکه چې دا يو قربت دی او کتابي د قربت اهل نه دی.

خو بيا هم که يو مسلمان کس کتابي ته د قربانۍ د ذبح کولو حکم وکړي، نو قرباني يې جائز کيږي؛ ځکه چې مسلمان هغه نائب جوړ کړی، او مسلمان د قربت نيت کړی دی؛ لهذا د ده نيت کافي دی.

او که مسلمان کس يو مجوسي ته د ذبح حکم وکړي، نو څرنګه چې مجوسي بالکل د ذبح او ذکاة (حلالولو) اهل نه دی، لهذا د مسلمان قرباني نه جائز کيږي؛ ځکه چې دا ذکاة او حلالول نه سوه، بلکي إفساد (خرابول او مردارول) سوه. او په دې صورت کي پر مجوسي ضمان (تاوان) نه واجبيږي؛ ځکه چې دغه إفساد د مالک (مسلمان) په حکم سره واقع سوی دی.

که څوک په غلطۍ سره د بل څاروی ذبح کړي

قَالَ: وَإِذَا غَلِطَ رَجُلَانِ فَذَبَحَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أُضْحِيَّةَ الْآخَرِ فرمايي: او کله چي دوه کسان خطا سي [غلطي وکړي] او له دوی څخه هريو د بل يوه څاروی ذبح کړي أَجْزَأَ عَنْهُمَا وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمَا نو دا له دواړو څخه کافي دي او پر دواړو ضمان [تاوان] نسته وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَأَصْلُ هٰذَا أَنَّ مَنْ ذَبَحَ أُضْحِيَّةَ غَيْرِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ او د دې اصل دا دی چي څوک د بل چا قرباني د هغه له اجازت څخه بغير ذبح کړي لَا يَحِلُّ لَهُ ذٰلِكَ نو دا د هغه لپاره حلال نه دي وَهُوَ ضَامِنٌ لِقِيمَتِهَا او دئ [ذبح کونکی] د قربانۍ د قيمت ضامن دی وَلَا يُجْزِئُهُ عَنِ الْأُضْحِيَّةِ فِي الْقِيَاسِ او د قياس مطابق دا ده لره له قربانۍ څخه کفايت نه کوي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی وَفِي الِاسْتِحْسَانِ يَجُوزُ وَلَا ضَمَانَ عَلَى الذَّابِحِ او په استحسان کي جائز دي او پر ذبح کونکي ضمان نسته وَهُوَ قَوْلُنَا او همدا زموږ قول دی وَجْهُ الْقِيَاسِ أَنَّهُ ذَبَحَ شَاةَ غَيْرِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِ د قياس دليل دا دی چي هغه د بل چا پسه د هغه له حکم څخه بغير ذبح کړی دی فَيَضْمَنُ نو ځکه ذبح کونکی به [د قربانۍ د قيمت] ضامن وي كَمَا إِذَا ذَبَحَ شَاةً اِشْتَرَاهَا الْقَصَّابُ لکه کله چي څوک داسي پسه ذبح کړي کوم چي قصاب رانيولی وي.

اللغات: ﴿غَلِطَ﴾ د سمع د باب ماضي ده: غَلِطَ يَغْلَطُ غَلَطًا: غلطي کول، خطاوتل او تېروتل، ﴿شاة﴾ د دې تعريف مخکي شو ځله تېر سوی دی چي پر پسه، وزکړي، بزه وغيره ټوله يې اطلاق کيږي، ﴿قصّاب﴾ د څارويو ذبح کونکی، او د غوښو خرڅونکی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي زيد او عمر هر يوه د خپل ځان لپاره د قربانۍ څاروی رانيوی، بيا د قربانۍ په ورځ له دواړو څخه غلطي وسوه چي زيد د عمر پسه ذبح کړی او عمر د زيد پسه ذبح کړی، نو اوس څه حکم دی؟، فرمايي چي په دې کي د قياس او استحسان تعارض دی، د قياس تقاضا دا ده چي د يوه قرباني هم جائز نه سي او پر هريوه ضمان هم واجب سي او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله مذهب دی.

او د استحسان حکم دا دی چي د هر يوه قرباني جائز ده او پر يوه هم ضمان واجب نه دی او همدا زموږ مذهب دی.

وجه القياس إلخ: د قياس دليل دا دی چي كله يو څوک د بل چا پسه بغير د هغه له اجازې ذبح كړي، نو ذبح كونكی د هغه ضامن كيږي (ضمان پر لازميږي)، لكه يو قصاب چي د خرڅولو لپاره پسه رانيسي چي زه به يې سبا ذبح كړم او غوښي به يې خرڅي كړم، بيا يو څوک هغه ذبح كړي، نو پر هغه ضمان واجبيږي، همداسي دلته هم واجبېدل پكار دي.

د استحسان دليل

وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّهَا تَعَيَّنَتْ لِلذَّبْحِ د استحسان دليل دا دی چي دا قرباني د ذبح لپاره متعينه ده لِتَعَيُّنِهَا لِلْأُضْحِيَّةِ د قربانۍ لپاره د هغې د متعين كېدلو په وجه حَتَّى وَجَبَ عَلَيْهِ أَنْ يُضَحِّيَ بِهَا بِعَيْنِهَا فِي أَيَّامِ النَّحْرِ تر دې چي پر مالک واجب دي چي هغه د قربانۍ په ورځو كي بعينه همدا [څاروی] قرباني كړي وَيُكْرَهُ أَنْ يُبَدِّلَ بِهَا غَيْرَهَا او مكروه دي دا چي دا قرباني [څاروي] د بلي قربانۍ سره بدله كړي [يعني د قربانۍ لپاره متعين څاروی په بل څاروي سره بدلول مكروه دي] فَصَارَ الْمَالِكُ مُسْتَعِينًا بِكُلِّ مَنْ يَكُونُ أَهْلًا لِلذَّبْحِ نو مالک له هر هغه چا څخه مرسته غوښتونكی سو كوم چي د ذبح اهل وي آذِنًا لَهُ دَلَالَةً او دلالتاً هغه ته اجازت وركونكی سو لِأَنَّهَا تَفُوتُ بِمُضِيِّ هَذِهِ الْأَيَّامِ ځكه چي قرباني د دې ورځو [أيام نحر] په تېرېدلو سره فوتيږي وَعَسَاهُ يَعْجَزُ عَنْ إِقَامَتِهَا بِعَوَارِضَ او كېدای سي چي هغه [قرباني كونكی] د څه عوارضو په وجه له قرباني كولو څخه عاجزه سي فَصَارَ كَمَا إِذَا ذَبَحَ شَاةً شَدَّ الْقَصَّابُ رِجْلَهَا نو داسي سو لكه څوک چي هغه پسه ذبح كړي چي قصاب يې پښې ورتړلي وي فَإِنْ قِيلَ: يَفُوتُهُ أَمْرٌ مُسْتَحَبٌّ وَهُوَ أَنْ يَذْبَحَهَا بِنَفْسِهِ أَوْ يَشْهَدَ الذَّبْحَ او كه وويل سي [اعتراض وسي]: چي له هغه [قرباني كونكي] څخه يو مستحب كار پاتېږي او هغه دا چي قرباني كونكی كس دا قرباني په خپله ذبح كړي يا خپله د ذبح پر مهال حاضر وي فَلَا يَرْضَى بِهِ نو هغه به [د دې مستحب كار نوتېدلو] په وجه راضي نه وي قُلْنَا: يَحْصُلُ لَهُ مُسْتَحَبَّانِ آخَرَانِ: صَيْرُورَتُهُ مُضَحِّيًا لِمَا عَيَّنَهُ مورږ [په جواب كي] وايو: چي [دلته] ده ته دوه نور مستحب عملونه حاصليږي: [يو دا چي] هغه به قرباني كونكی سي د هغه څاروي كوم چي يې [د قربانۍ لپاره] متعين كړی دی وَكَوْنُهُ مُعَجِّلًا بِهِ او [بل دا چي] د هغه په ذبح [قربانولو] كي به تلوار كونكی سي فَيَرْتَضِيهِ نو ځكه هغه [قرباني كونكي] به په دې سره راضي وي.

اللغات: ﴿مستعين﴾ داستفعال د باب فاعل دی: د مدد طلبونکی، مرسته او کومک غوښتونکی. ﴿يبدل﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: بدلول، اليشول. مخکې ذکر سوه چې پر مالدار کس د خپل مالدار والي په وجه قرباني واجب ده، نه د رانيولو په وجه، لهذا که مالدار کس د قرباني لپاره څاروی رانيسي، نو پر هغه که څه هم دا واجب نه دي چې خاص همدغه رانيول سوی څاروی ذبح کړي، خو د هغه لپاره داسي کول مکروه دي چې دغه رانيول سوی څاروي په بل څاروي سره بدل کړي (په يکره أن يبدل سره همدې ته هم اشاره سوې ده).

تشريح: مخکې مو ووېل چې په دې مسئله کې پر استحسان په عمل کولو سره مورږ قرباني جائز ګرځولې ده او ضمان مو نه دي واجب کړی، په دې عبارت کې د استحسان دليل بيان سوی دی. د دليل حاصل دا دی چې دا هر پسه چې د کوم کار لپاره متعين وو، هغه کار خو وسو، يعني دا پسونه خو د قربانۍ لپاره متعين وه، او دواړه قرباني سول (په قربانۍ کې ذبح کړل سوه)؛ ځکه کوم پسه وغيره چې د قربانۍ لپاره متعين وي، نو ګواکي په هغه پسه کې مالک دلالتاً له هر هغه کس څخه (د ذبح په مکله) د مرستي طلب کوي کوم چې ذبح کولای سي او د ذبح په طريقه پوهيږي، او ګواکي هغه دلالتاً هر دغسي کس ته د ذبح کولو اجازت ورکوي او په دې راضي دی.

ځکه دا ښکاره خبره ده چې د قربانۍ د ورځو (ايامِ نحر) په تېرېدو سره قرباني فوتيږي او ډېر ځله داسي کيږي چې انسان خپله د ذبح په طريقه ښه نه پوهيږي يا په بله وجه له قرباني کولو څخه عاجزه وي، نو په دې صورت کې له بل چا څخه مرسته اخلي. نو د مذکوره مسئلې حکم بالکل داسي سو لکه يو قصاب چې د پسه پښې وتړي او د ذبح لپاره تياري وکړي چې په همدې حالت کې بل څوک بسم الله ووايي او د پسه پر غاړه چاړه تېره کړي، ذبح يې کړي، نو پر دغه ذبح کونکي کس ضمان نه لازميږي؛ ځکه هغه داسي څاروی ذبح کړی کوم چې مالک د ذبح لپاره متعين کړی دی، نو همداسي دلته نه پر زيد ضمان لازميږي او نه پر عمر او د هر يوه قرباني صحيح کيږي، لأنه ذبح ما عيّنه المالك للذبح.

او پاته سو د مطلق قصاب پسه چې څوک ذبح کړي نو پر هغه ولې ضمان واجبيږي (لکه د قياس په دليل کې چې تېر سوه)، نو جواب يې دا دی چې هغه ځکه واجبيږي چې کېدای سي قصاب دا پسه ذبح نه کړي، بلکې بيرته يې ژوندی خرڅ کړي. لنډه دا چې کله څاروی د ذبح لپاره متعين وي، هلته ضمان نسته، او چيري چې متعين نه وي، هلته ضمان واجب دی.

فإن قيل إلخ: په دې سره د يو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چې مخکې ذکر سوه چې د قربانۍ مالک (قرباني کونکي) که د ذبح په طريقه پوهيږي، نو هغه ته په خپل لاس ذبح کول يا که نه پوهيږي نو بيا د ذبح پر مهال خپله حاضر پاتېدل مستحب دي، او په مذکوره پورتني صورت (د

استحسان) كي هغه (زيد او عمر) له دې دواړو شخصه يو هم نه وكړى سو، لنده دا چي په دې صورت كي له هغه شخصه يو مستحب كار فوتيږي، معلومه سوه چي هغه به راضي نه وي، نو ځكه قرباني جائز كېدل پكار نه دي.

د دې په جواب كي فرمايي چي سمه ده! له هغه شخصه يو مستحب عمل فوتيږي خو تاسي دې ته نه گورئ چي په دې صورت (د استحسان) كي هغه ته نور دوه مستحبات حاصليږي: ① يو دا چي د قرباني لپاره كوم پسه متعيّن وو، هغه قرباني سو كوم چي يو مستحب عمل دى، ② او بل دا چي د دې واجب كار (قرباني) په اداء كولو كي تلوار او عجلت وسو چي دا هم يو مستحب عمل دى. لهذا كله چي د يوه مستحب عمل پر ځاى هغه ته دوه مستحب عملونه ترلاسه كيږي، نو ښكاره خبره ده چي هغه به په دې ډېر راضي وي.

د پورتنى مسئلې په خبر نور څلور استحساني مسائل (چي په هغوى كي په استحسان عمل كيږي)

وَلِعُلَمَائِنَا رَحِمَهُمُ اللهُ مِنْ هٰذَا الْجِنْسِ مَسَائِلُ اِسْتِحْسَانِيَّةٌ او زموږ علماؤ لره د دغه جنس څو استحساني مسائل دي وَهِيَ أَنَّ مَنْ طَبَخَ لَحْمَ غَيْرِهِ [۱] او هغه دا چي كه څوک د بل چا غوښي پخې كړي أَوْ طَحَنَ حِنْطَتَهُ [۲] يا د بل چا غنم ميده كړي [اوړه كړي] أَوْ رَفَعَ جَرَّتَهُ فَانْكَسَرَتْ [۳] يا د بل چا منگى پورته كړي او هغه مات سي أَوْ حَمَلَ عَلٰى دَابَّتِهِ فَعَطِبَتْ [۴] يا د بل چا پر څاروي [سپارلي] سامان بار كړي او هغه څاروى هلاک سي كُلُّ ذٰلِكَ بِغَيْرِ أَمْرِ الْمَالِكِ او دا ټوله د مالک له اجازت څخه بغير وي يَكُوْنُ ضَامِنًا نو هغه ضامن كيږي وَلَوْ وَضَعَ الْمَالِكُ اللَّحْمَ فِى الْقِدْرِ [۱] او كه مالک غوښي په دېگ كي كښيږدي وَالْقِدْرَ عَلَى الْكَانُوْنِ وَالْحَطَبَ تَحْتَهُ او دېگ پر انغري كښيږدي او ترهغه لاندي بوټي كښيږدي أَوْ جَعَلَ الْحِنْطَةَ فِى الدَّوْرَقِ وَرَبَطَ الدَّابَّةَ عَلَيْهِ [۲] يا مالک غنم په دَورق [دژرندي] كي واچوي او د دَورق سره څاروى وتړي أَوْ رَفَعَ الْجَرَّةَ وَأَمَالَهَا إِلٰى نَفْسِهِ [۳] يا مالک منگى را پورته كړي او د ځان طرف ته يې راكوږ كړي أَوْ حَمَلَ عَلٰى دَابَّتِهِ فَسَقَطَ فِى الطَّرِيْقِ [۴] يا مالک پر خپل څاروي سامان بار كړي او هغه په لار كي ايله سي فَأَوْقَدَ هُوَ النَّارَ فِيْهِ وَطَبَخَهُ نو [په اولني صورت كي] يو څوک په هغه انغري كي اُور بل كړي او غوښي پخې كړي أَوْ سَاقَ الدَّابَّةَ فَطَحَنَهَا يا [په دويم صورت كي دژرندي سره ترل سوى] څاروى روان كړي او غنم په ميده كړي أَوْ أَعَانَهُ

عَلٰى رَفْعِ الْجَرَّةِ فَانْكَسَرَتْ فِيمَا بَيْنَهُمَا يا [په درېيم صورت كي] هغه د مالک سره د منګي په پورته كولو كي مدد وكړي خو منګى د دوى په مېنځ كي مات سي أَوْ حَمَلَ عَلٰى دَابَّتِهِ مَا سَقَطَ فَعَطِبَتْ يا [په څلورم صورت كي] هغه ايله سوى سامان د مالک پر څاروي بار كړي نو هغه څاروى هلاک سي لَا يَكُوْنُ ضَامِنًا فِي هٰذِهِ الصُّوَرِ كُلِّهَا اسْتِحْسَانًا نو په دې ټولو [څلورو] صورتونو كي استحساناً هغه نه ضامن كيږي لِوُجُوْدِ الْإِذْنِ دَلَالَةً ځكه چي [د مالک له طرفه] دلالتاً اجازت موجود سو.

اللغات: ﴿دَوْرَق﴾ د دې لفظ خپله معنىٰ ده: د شربتو پيمانه، دا يو د بنيښې پيمانه (لوښى) وو چي خوله يې تنګه او غاړه به يې ور اوږده كړې وه، او په دې سره به شربت، شراب وغيره پيمانه كېدل چي مقدار به يې درې يا څلور رطلِ بغدادي وو. خو دلته ځني مراد هغه ګول صندوق غوندي شى دى چي د پخواني ژرندو پر سر به وو چي په هغه كي به يې غله (غنم وغيره) اچول او له هغه ځخه به بيا د ژرندي پل (چكى) ته كښته كېدل. او پخوا به ژرنده په غوايي يا اوبو سره چلول كېدل. اوس خو په برق او بجلى سره دا كارونه كيږي، خو د دواړو حكم يو دى. ﴿جرة﴾ منګى، ﴿حمل﴾ د ضرب د باب ماضي ده: پورته كول. باروِل (پر څاروي وغيره سامان اېښوول)، بار وړل. ﴿عطبت﴾ د سمع د باب ماضي ده: هلاكېدل. د څاروي هلاكېدلو (مړه كېدلو) ته وايي. ﴿قِدْر﴾ دېګ، ﴿كانون﴾ د اور بلولو ځاى، انغرى، اورغالى. ﴿أوقد﴾ د افعال د باب ماضي ده: اور بلول. ﴿ساق﴾ د نصر ماضي ده: د څاروي هشه كول، شړل، د څاروي روانول.

تشريح: دلته صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله څلور داسي مسئلې ذكر كړي دي چي په هغوى كي زموږ علماؤ په استحسان عمل كړى دى او قياس يې پرې اېښى دى. هغه څلور مسئلې دا دي:

① ... خالد د حامد غوښې د هغه له اجازت ځخه بغير پخې كړې.

② ... خالد د حامد غنم ميچن او ميده كړل (اوړه يې كړل).

③ ... خالد د حامد منګى يا خم راپورته كوى او هغه مات سو. ④ خالد د حامد پر خره يو بار كښېښودى چي د هغه په وجه خر مړ سو.

څرنګه چي په دې ټولو صورتونو كي د مالک (حامد) له طرفه نه صراحتاً اجازت سته او نه دلالتاً، نو ځكه پر خالد د دغه شيانو ضمان او تاوان واجبيږي؛ ځكه چي دا كارونه خالد پر خپل سر كړي دي چي د هغوى په وجه حامد ته تاوان رسېدلى دى. نو ځكه ضمان به يې ور كوي.

ولو وضع المالك إلخ: په دې سره د پورتني څلورو مسئلو نور صورتونه بيانوي چي په هغوى كي د مالک له طرفه دلالتاً اجازت موجود دى، په همدې وجه په دغه صورتونو كي هيڅ ضمان نه واجبيږي.

① ... مالک په دېګ كي غوښې پر انغري كښېښودې او تر هغه لاندي يې بوټي وغيره هم كښېښوول، اوس كه يو څوک راسي اور بل كړي او دا غوښې پخې كړي، نو پر هغه ضمان (تاوان) نه

واجبيږي؛ ځکه چي د مالک په دغه فعل سره دلالتاً اجازت حاصل سو چي د هغه اراده او مقصد د همدې غوښو پخول وه.

(۲)... مالک د ژرندي په ټورق کي غنم واچول او د مخکنۍ زمانې مطابق يې د هغه سره غوبۍ وتړې (يا مثلاً د اوسنۍ زمانې مطابق يو چا خپل ژرندي ته غنم واچول او دئ په يو بل کار اخته سو)، اوس يو بل کس راغلی او غوبۍ يې د ژرندي په چلولو لګيا کړې (يا يې اوسنۍ ژرنده ولګوله) او غنم ميده سوه، نو پر دغه بل کس ضمان نه واجبيږي؛ ځکه چي دلالتاً د مالک له طرفه اجازت موجود دی چي د هغه مقصد د غنمو ميده کول وه او هغه حاصل سو.

(۳)... مالک خپل منګی او خم راپورته کوی او خپل ځان ته يې را کوږ کړی، په دې دوران کي بل چا لاس ور کړی چي منګی ور سره پورته کړي، خو له بده مرغه منګی مات سو، نو پر دغه بل کس ضمان نه سته؛ ځکه چي دلالتاً اجازت موجود دی.

(۴)... مالک پر خپل خره يو سامان بار کړی خو په لاره کي هغه سامان ايله سو، په دې دوران کي يو بل سړي مثلاً خالد راغلی او سامان يې راپورته کړی پر خره يې کښېښوی، خو له بده مرغه په همدې حالت کي خر مړ سو، نو پر دغه ايښوونکي کس ضمان نه واجبيږي؛ ځکه چي دلته هم د مالک له طرفه دلالتاً اجازت سته چي د هغه مقصد سامان راپورته کول او بارول وه، او خالد هم دغسي وکړه، نو ځکه دلته هم ضمان نه واجبيږي.

د مذکوره پورتنۍ مسئلې خلاصه

إِذَا ثَبَتَ هٰذَا کله چي دا خبره ثابته سوه فَنَقُوْلُ فِيْ مَسْأَلَةِ الْكِتَابِ نو موږ د کتاب [متن] د مسئلې په هکله وايو ذَبَحَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أُضْحِيَّةَ غَيْرِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ صَرِيْحًا چي له دوی څخه هر يوه د بل له صريح اجازت څخه بغير د هغه قرباني ذبح کړې ده فَهِيَ خِلَافِيَّةُ زُفَرَ بِعَيْنِهَا نو دا بعينه د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلافي مسئله ده وَيَتَأَتَّى فِيهَا الْقِيَاسُ وَالِاسْتِحْسَانُ او په دې کي قياس او استحسان دواړه جاري کيږي كَمَا ذَكَرْنَا لکه څرنګه چي موږ ذکر کړه فَيَأْخُذُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَسْلُوْخَةً مِنْ صَاحِبِهِ نو له دوی څخه هر يو به له خپل ملګري څخه خپل څاروی څرمن سوی اخلي وَلَا يُضَمِّنُهُ او ضامن به يې نه ګرځوي [يعني څه ضمان (تاوان) به نه ځني اخلي] لِأَنَّهُ وَكِيْلُهُ فِيمَا فَعَلَ دَلَالَةً ځکه چي دئ په خپل کړي کار کي دلالتاً د هغه وکيل دی [يعني دلالتاً له دوی څخه هر يو په خپل دې کړنه کي د بل يوه وکيل دی]

فَإِذَا كَانَا قَدْ أَكَلَا ثُمَّ عَلِمَا او که دوی [هر يوه له قرباني څخه] خوراک کړی وي بيا خبر سي فَلْيُحَالِلْ

كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ نو حلال [او روا] دي کړي له دوی څخه هر يو خپل ملګري لره وَيُجْزِيهِمَا [نو] بيا دا دواړو لره کافي کيږي لِأَنَّهُ لَوْ أَطْعَمَهُ فِي الِابْتِدَاءِ ځکه دئ که په شروع کي دا [قرباني] په خپل ملګري [يا په بل چا] وخوري يَجُوزُ نو جائز دي وَإِنْ كَانَ غَنِيًّا که څه هم مالدار وي فَكَذَا لَهُ أَنْ يُحَلِّلَهُ فِي الِانْتِهَاءِ نو ځکه ده لره به دا اختيار هم وي چي په آخر کي [بعد الأكل] دا ورته حلال کړي.

اللغات: ﴿مسلوخة﴾ د فتح او ضرب له بابه د مفعول صيغه ده: له پوسته کښل سوی، څرمن سوی.

تشريح: فرمايي چي کله زموږ بيان کړده استحساني مسائل تاسي ته معلوم سول، نو اوس هغه مخکني مسئله بالکل ښکاره او آسانه سوه (کوم چي تقريباً دري عبارته مخکي په دې الفاظو سره ذکر سوه: وإذا غلط رجلان...إلخ)؛ ځکه چي په هغه کي هم دوو کسانو (زيد او عمر) يو د بل له طرفه د صراحتاً اجازت څخه بغير قرباني کړې ده، خو دلالتاً اجازت موجود دی، لهذا په هغه مسئله کي به هم همدا حکم وي کوم چي ذکر سو، يعني استحسانا دِدواړو قرباني جائز ده او پر يوه هم ضمان واجب دی کوم چي زموږ مذهب دی، او قياساً جائز نه ده کوم چي د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی.

فيأخذ كل واحد إلخ: کله چي زموږ په نېز قرباني جائز ده، نو اوس که چيري دوی (زيد او عمر) د پسه غوښي استعمال کړي نه وي بلکي محض څرمن يې کښلې وي (لکه عموماً چي همداسي کيږي چي تر ذبح وروسته سمدستي له څاروي څخه پوست او څرمن کښل کيږي)، نو هر يو به له بل څخه خپل دا څرمن سوی پسه اخلي او يو به بل ته هيڅ شی د ضمان په توګه نه ورکوي؛ ځکه چي هر يو په خپل کړنه کي دلالتاً د بل يوه وکيل دی (يعني دوی دلالتاً يو د بل وکيلان دي)، او پر وکيل ضمان نه لازميږي.

فإن كانا إلخ: ها! که چيري دواړو غوښي خوړلي وي، بيا خبر سي چي زموږ پسونه سره بدل سوي دي، نو اوس حکم دا دی چي هر يو دي د بل يوه لپاره خپل قرباني او د هغه غوښي وغيره حلال کړي (چي زما له طرفه تا ته معاف او حلال دي)، او په داسي کړنه سره د دواړو له طرفه قرباني اداء کيږي؛ ځکه که قرباني کوونکی کس په شروع کي د قربانۍ غوښي په مالدار کس وخوري نو جائز دي، لهذا که په آخر کي د يو مالدار لپاره هغه حلال وګرځوي، نو هم به جائز وي.

د قربانۍ له څاروي څخه د حاصل شده ضمان حکم

وَإِنْ تَشَاحَّا او که دوی دواړه تنازع [او دعوه] وکړي فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنْ يُضَمِّنَ صَاحِبَهُ قِيمَةَ لَحْمِهِ نو هر يوه لره دا حق سته چي خپل مګری د خپل غوښو د قيمت ضامن وګرځوي [يعني په ضمان او تاوان کي د غوښو قيمت ځني واخلي] ثُمَّ يَتَصَدَّقُ بِتِلْكَ الْقِيمَةِ بيا هغه قيمت صدقه کړي لِأَنَّهَا بَدَلٌ

عَنِ اللَّحْمِ ځکه چې دا قیمت د غوښو بدل دی فَصَارَ كَمَا لَوْ بَاعَ أُضْحِيَّتَهُ نو داسې سو لکه خپل قرباني چې یې خرڅه کړې وي [چې د هغې قیمت صدقه کول هم ضروري دي] وَهٰذَا لِأَنَّ التَّضْحِيَةَ لَمَّا وَقَعَتْ عَنْ صَاحِبِهِ او دا ځکه چې کله قرباني د ده د ملګري له طرفه واقع سوه كَانَ اللَّحْمُ لَهُ نو غوښې د ملګري سوې وَمَنْ أَتْلَفَ لَحْمَ أُضْحِيَّةِ غَيْرِهِ او څوک چې د بل چا د قربانۍ غوښې ضایع کړي كَانَ الْحُكْمُ مَا ذَكَرْنَاهُ نو [د دې] حکم هاغه دی کوم چې موږ ذکر کړی وَمَنْ غَصَبَ شَاةً فَضَحّٰى بِهَا او څوک چې پسه غصب کړي بیا هغه قرباني کړي ضَمِنَ قِيمَتَهَا نو دا غاصب [غصبونکی] د هغه پسه د قیمت ضامن کیږي وَجَازَ عَنْ أُضْحِيَّتِهِ او د ده [غاصب] د قربانۍ له طرفه هغه جائز کیږي لِأَنَّهُ مَلَكَهَا بِسَابِقِ الْغَصْبِ ځکه چې دئ [غاصب] د مخکینې غصب په وجه د هغه پسه مالک سوی دی بِخِلَافِ مَا لَوْ أُودِعَ شَاةً فَضَحّٰى بِهَا په خلاف د دې صورت چې که ده ته یو پسه ودیعتاً [امانتاً] ورکول سي او دئ هغه قرباني کړي لِأَنَّهُ يُضَمِّنُهُ بِالذَّبْحِ ځکه چې [په دې صورت کې] دئ [مودَع] د ذبح په وجه ضامن کیږي فَلَمْ يَثْبُتِ الْمِلْكُ لَهُ إِلَّا بَعْدَ الذَّبْحِ نو [په دې صورت کې پر پسه] د ده لپاره صرف تر ذبح وروسته ملکیت ثابت سو.

اللغات: ﴿تشاحا﴾ د تفاعل له بابه د تثنیه غائب ماضي صیغه ده، له شُحّ څخه مشتق دی چې خپله معنیٰ یې ده بخل او حرص، لکه څرنګه چې په عربي کې ویل کیږي: "تَشَاحَّ الرَّجُلَانِ عَلٰى هٰذَا الأَمْرِ" دوو خلګو پر دغه شي حرص وکړی یعني هر یوه دا غوښتل چې زما څخه فوت نه سي، "أَيْ حَرَصَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلٰى أَنْ لَا يَفُوتَهُ هٰذَا الأَمْرُ". دلته څني مراد تنازع ده یعني جنګ او جنجال کول دي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که دوی (زید او عمر) په دې باره کې اختلاف او دعویٰ وکړي چې زه دا څرمن سوی پسه نه غواړم یا زما د پسه غوښې چې تا خوړلي دي هغه خوستا د پسه تر غوښو ډیري خوندوري وې، او دا بل یو هم هاغه وینا کوي، نو فرمایي چې په دې صورت کې به یو له بل څخه د خپل قربانۍ د غوښو قیمت اخلي او تر قیمت اخیستو وروسته به هر یو هغه صدقه کوي؛ ځکه چې قیمت د غوښو بدل دی او څرنګه چې د قربانۍ والا څاروي د خرڅولو په صورت کې د هغه قیمت صدقه کول واجب دي، همداسې دلته هم د قیمت صدقه کول ضروري دي.

ومن أتلف إلخ: فرمايي كه څوک د بل چا د قرباني غوښې ضايع كړي، نو د هغه هم دغه حكم دى. او دا داسې ده لكه زيد چې د خالد پسه ذبح كړي، نو قرباني د خالد وسوه، او د خالد د قرباني غوښې زيد په خوړلو سره ضايع كړې (يعني ويې خوړې)، نو پر زيد ضمان واجبيږي.

ومن غصب شاةً إلخ: د دې حاصل دا دى چې كه زيد د خالد پسه غصب كړي او پر خپل نامه په هغه سره قرباني وكړي، نو په دې صورت كې دي زيد هغه ته د خپل پسه د قيمت ضمان وركړي او د زيد له طرفه دا قرباني صحيح كيږي؛ ځكه چې د قرباني د صحت لپاره د څاروي ملكيت شرط دى (چې قرباني كونكي به يې مالک وي). او غاصب (زيد) دلته د مخكيني غصب او ضمان وركولو په وجه تر غصب سمدستي وروسته د څاروي مالک سو، لهذا دلته د ذبح په وخت كي د غاصب ملكيت موجود دى، نو ځكه قرباني يې جائز او صحيح ده.

ها! كه چيري خالد زيد ته خپل پسه امانتاً درولى وي او زيد پر خپل نامه هغه ذبح كړي، نو په دې صورت كي د زيد قرباني نه صحيح كيږي؛ ځكه چې د قرباني د صحت لپاره د څاروي ملكيت ضروري دى، او دلته د زيد ملكيت نسته، ځكه د وديعت او امانت په خاطر زيد دلته د ذبح په وجه د هغه ضامن كيږي (ضمان پر لازميږي)، معلومه سوه چې د ذبح په وخت كي هغه د پسه مالک نه دى، او كله چې د ذبح پر مهال هغه د پسه مالک نه دى بلكي د بل چا د پسه ذبح كونكى دى، نو بيا د هغه له طرفه قرباني هم نه صحيح كيږي.

يادونه: په بله وينا دا چي په غصب كي د غصب له وخت څخه ملكيت ثابتيږي، نو د غصب په صورت كي ذبح پر خپل ملكيت (خپل پسه) وارده سوه، او په امانت او وديعت كي هغه د ذبح په وجه غاصب وګرځېدى، نو د امانت په صورت كي ذبح پر خپل ملكيت وارده نه سوه.

او د عاريت، بضاعت، مضاربت، رهن ټولو همدغه حكم دى (كوم چي د وديعت دى).



كِتَابُ الْكَرَاهِيَة

(دا) كتاب د مكروه والي (د احكامو په بيان كي) دی

تشريح: د علامه عيني رَحِمَهُ الله د تحقيق مطابق له كتابُ الأضحية څخه وروسته د كتابُ الكراهِية د بيانولو وجه دا ده چي څرنګه د أضحيه (قرباني) اكثره مسائل په رواياتو او آثارو سره ثابت دي، همداسي د كراهت عام مسائل هم په رواياتو او آثارو سره ثابت دي، لهذا د همدې مناسبت په وجه كراهيت تر اضحيه وروسته بيان سوی دی.

د مكروه لغوي او اصطلاحي معنیٰ: په لغت كي مكروه هغه شي ته وايي كوم چي د خوښي او محبوب شي خلاف وي.

او په اصطلاح د شريعت كي مَا يَكُوْنُ تَرْكُهُ أَوْلٰى مِنْ تَحْصِيْلِهٖ. يعني چي د هغه نه كول (پرېښوول) د هغه له كولو څخه غوره وي.

يادونه (۱): په دې كتاب كي كه څه هم د غيرِ مكروهاتو بيان هم سته، خو هغه په دې وجه چي كله له مكروهاتو څخه ځان ساتل ضروري دي، نو ځكه د غيرِ مكروهاتو بيانول هم مهم دي.

يادونه (۲): مؤلفينو دغه كتاب "كتابُ الكراهية" په بېلا بېلو نومونو سره ياد كړی دی:

①... امام قدوري رَحِمَهُ الله دې ته د "كتابُ الخطر والإباحة" عنوان وركړی دی، دا غوره عنوان دی؛ ځكه خطر د منع په معنیٰ سره دی او اباحة د جواز په معنیٰ سره دی، او په دې كتاب كي هم هغه څه بيانول كيږي كوم چي ممنوع او مباح دي.

②... ځيني حضراتو دې ته د "كتابُ الاستحسان" عنوان وركړی دی؛ ځكه په دې كي د هغه شيانو بيان وي كوم چي شريعت مستحسن يا قبيح ګرځولي دي.

③... او ځينو دې ته د كتابُ الزهد والورع عنوان وركړی دی؛ ځكه په دې كي ډېر مسائل داسي دي چي شريعت د هغوی اجازت وركړی دی، لېكن زهد او تقوا د هغوی د پرېښوولو تقاضا كوي.

په تحفه او خانيه كي د كتابُ الخطر والإباحة عنوان ذكر سوی دی، په جامع صغير او هدايه كي د كراهيت او په مبسوط او ذخيره كي د استحسان عنوان ذكر سوی دی.

د مکروه معنیٰ او مراد

قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : تَكَلَّمُوْا فِيْ مَعْنَى الْمَكْرُوْهِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مکروه د معنیٰ په باره کي فقهاؤ خبره کړې ده وَالْمَرْوِيُّ عَنْ مُحَمَّدٍ نَصًّا أَنَّ كُلَّ مَكْرُوْهٍ حَرَامٌ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه صراحتاً دا روايت سوی دی چي هر مکروه حرام دی. إِلَّا أَنَّهُ لَمَّا لَمْ يَجِدْ فِيْهِ نَصًّا قَاطِعًا لېکن څرنګه چي امام محمد رَحِمَهُ الله په هغه کي هيڅ قطعي نص موندلی نه دی لَمْ يُطْلِقْ عَلَيْهِ لَفْظَ الْحَرَامِ نو ځکه ده پر هغه د حرام اطلاق نه دی کړی وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ ۞ أَنَّهُ إِلَى الْحَرَامِ أَقْرَبُ او له شيخينو رَحِمَهُمَا الله څخه روايت دا دی چي مکروه حرام ته زيات نژدې دی وَهُوَ يَشْتَمِلُ عَلَى فُصُوْلٍ او دا [كتاب الكراهية] پر څو فصلونو مشتمل دی مِنْهَا فَصْلٌ فِي الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ چي له هغوی څخه يو فصل په [بيان د] د خوراک او څښاک کي دی.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د مکروه د معنیٰ او مراد په هکله علماؤ اختلاف کړی دی، لکه ځيني چي وايي مکروه دې ته ويل کيږي چي نه کول (پرېښوول) يې تر کولو غوره وي او ځيني وايي چي بالکل د هغه نه کول غوره وي، دې ته مکروه وايي.

خو له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دا روايت سوی دی چي د مکروه مراد او مطلب حرام دی چي هغه په خپلو کتابو کي د مکروه لفظ استعمال کړی دی له هغه څخه حرام مراد دی، خو په مکروه سره يې ځکه نوموي چي په دې باره کي هغه ته هيڅ قطعي نص حاصل نه سو، نو ځکه د حرام پر ځای د مکروه نوم ورکوي. لنډه دا چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز چي د کوم شي او مسئلې په هکله صريح او قطعي نص موجود وي، نو هلته د حرام او حلال حکم لګوي، خو د کوم شي په هکله چي صريح نص موجود نه وي، نو هلته د حرام لپاره د مکروه او د حلال لپاره د "لا بأس" الفاظ استعمالوي.

د شيخينو رَحِمَهُمَا الله نظريه دا ده چي مکروه حرام ته ډېر نژدې دی، همدا وجه ده چي د مطلق والي په وخت کي له مکروه څخه مکروه تحريمي مراديږي.

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: ... واما المكروه كراهة تنزيه، فإلى الحل أقرب اتفاقاً وعندهما وهو الصحيح، ومثله البدعة والشبهة إلى الحرام أقرب، وقال ابن عابدين رَحِمَهُ الله: ذكر الاختلاف بينه وبين الشيخين وتصحيح قولهما، نعم! هو موافق لما حققه المحقق ابن الهمام في تحرير الأصول من أن قول محمد رَحِمَهُ الله أنه حرام فيه نوعٌ من التجوّز للاشتراك في استحقاق العقاب وقولهما على سبيل الحقيقة...إلخ (رد المختار ج:۵، ص:۲۳۷)، ومجمع الأنهر

يادونه: فقهاء کرام چې پر کوم شي د کراهت تنزيهي حکم صادروي، نو هغه په کراهت تنزيهي سره مقيدوي، کنې د مطلقاً مکروه ويلو په صورت کې له هغه څخه مکروه تحريمي مراد وي. (شامي ج: ۱، ص: ۱۵۰، البحر ج: ۱، ص: ۱۳۱، العرف الشذي ص: ۵۷)

وهويشتمل إلخ: فرمايي چې تر کتاب الکراهيه لاندې بېلابېل فصلونه بيانول کيږي، چې له هغوی څخه اول د خوراک او څښاک د احکامو په هکله فصل بيانوي.

فَصْلٌ فِي الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ

(دا) فصل په (بيان د) خوراک او څښاک کې دی

د خرو غوښې، شيدې او د اوښانو متيازې مکروه دي

قَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ: يُكْرَهُ لُحُوْمُ الْأُتُنِ وَأَلْبَانُهَا وَأَبْوَالُ الْإِبِلِ امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د خرو غوښې او د هغوی شيدې او د اوښ متيازې مکروه دي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ: لَا بَأْسَ بِأَبْوَالِ الْإِبِلِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د اوښ په متيازو کې څه حرج نشته وَتَأْوِيْلُ قَوْلِ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهَا لِلتَّدَاوِيْ او د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله د قول تأويل دا دی چې د درملنې [علاج] کولو لپاره د اوښ په متيازو څه حرج نشته وَقَدْ بَيَّنَّا هٰذِهِ الْجُمْلَةَ فِيْمَا تَقَدَّمَ فِي الصَّلَاةِ وَالذَّبَائِحِ او دا ټوله مخکې په کتاب الصلاة او کتاب الذبائح کې مونږ بيان کړې دي فَلَا نُعِيْدُهَا لهذا دلته يې بيا نه راګرځوو وَاللَّبَنُ مُتَوَلِّدٌ مِنَ اللَّحْمِ او شيدې له غوښو څخه پيدا کېدونکې شی دي فَأَخَذَ حُكْمَهُ نو ځکه د غوښو حکم يې واخيستی [يعني د غوښو په حکم سره سوې].

اللغات: ﴿أُتُن﴾ جمع د أَتَانٌ ده: خره ته وايي (حمارة). ﴿متولد﴾ د تفعل د باب فاعل دی: پيدا کېدونکی.

تشريح: فرمايي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د خرو غوښې او متيازې همدارنګه د خرې شيدې او د اوښ متيازې مکروه تحريمي دي، او د صاحبينو په نېز د اوښ متيازې مکروه نه دي چې په

استعمالولو کي يې څه حرج او پروا نسته، خو له صاحبينو څخه امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د علاج او تداوي پر بناء د هغه د استعمال جائز ګرځولی دی او امام محمد رَحِمَهُ الله مطلقاً د اوښ متيازې جائز ګرځولي دي؛ د صاحبينو دليل هاغه د اصحابه عرينه وو واقعه ده.

لېکن د دوی د دليل واضح او ښکاره جواب همدا دی چې د اوښ په متيازو سره شفاء ترلاسه کول خو د وحي په ذريعه معلوم سوي وه صرف د اصحاب عرينه وو په حق کې، نو د نورو خلکو په حق کې به د حرمت حکم باقي پاته وي، لهذا پر دې واقعې قياس کول او مطلقاً د اوښ متيازې جائز ګرځول صحيح نه دي.

وقد بينا إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې مونږ د دې پوره تفصيل مخکې (په کتاب الصلاة او کتاب الذبائح کي) بيان کړی دی. او پاته سوې شيدې نو هغه له غوښو څخه پيدا کيږي او جوړيږي، لهذا تاسي دومره په يادلرئ! چې کوم حکم د څاروي د غوښو وي هغه يې د شيدو هم دی، نو ځکه د خرې متيازې مکروه دي.

يادونه: د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چې کله سخته مجبوري وي چې د اوښ له متيازو څخه بغير بله هيڅ دواء نه وي او يو ماهر طبيب ووايي چې په دې سره يې مرض ښه کيږي، نو په داسي مجبورۍ کې د اوښ متيازې بقدرِ ضرورت جائز دي. (اثمار الهدايه)

د سرو او سپينو زرو د لوښو استعمالول (تفصيلي بيان)

قَالَ: وَلَا يَجُوزُ الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ وَالِادِّهَانُ وَالتَّطَيُّبُ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ فرمايي: او جائز نه دي خوړل، چيښل، تېل لګول، خوشبو [عطر] لګول د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کي د خلکو او ښځو تولو لپاره لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي الَّذِي يَشْرَبُ فِي إِنَاءِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ [1] د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه د هغه کس په هکله کوم چې د سرو او سپينو زرو په لوښه کي چيښل کوي «إِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ» [چي] دا کس د دوږخ اُور خپل نس ته غړپي [اچوي] «وَأُتِيَ أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِشَرَابٍ فِي إِنَاءِ فِضَّةٍ [2] [همدارنګه] حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د سپينو زرو په لوښي کي اوبه

---

[1] تخريج: أخرجه البخاری باب آنية الفضة، ص: ۸۴۱، حديث رقم: ۵۶۳۴.

[2] تخريج: د روايت په اصل کي په نورو الفاظو له حضرت حذيفه رضی الله عنه څخه نقل سوی دی، نه له حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه. وګورئ! (بخاري شريف، باب الأكل فی اناء مفضض، ص: ۹۶۸، حديث رقم: ۵۴۲۶).

پېش کړل سوې فَلَمْ يَقْبَلْهُ وَقَالَ: نَهَانَا عَنْهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» نو حضرت ابو هريره هغه قبول نه کړې او ويې فرمايل: چې د الله نبي ﷺ موږ له دې څخه منع کړي يو وَإِذَا ثَبَتَ هٰذَا فِي الشُّرْبِ او کله چې دا [عدمِ جواز] د څښلو په باره کې ثابت سو فَكَذَا فِي الِادِّهَانِ وَنَحْوِهِ نو د تېل لګولو او داسې نورو په باره کې به هم ثابت وي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَاهُ ځکه چې تېل لګول او داسې نور هم د څښلو په معنیٰ سره دي وَلِأَنَّهُ تَشَبُّهٌ بِزِيِّ الْمُشْرِكِينَ او ځکه چې دا مشابهت اختيارول دي د مشرکينو په طرز سره وَتَنَعُّمٌ بِنِعَمِ الْمُتْرَفِينَ وَالْمُسْرِفِينَ او عيش وعشرت کول په نعمتونو سره د سرکښو او فضول خرڅو (په څېر) وَقَالَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ يُكْرَهُ او په جامع صغير کې امام محمد رَحِمَهُ اللهُ يُكْرَهُ ويلي دي وَمُرَادُهُ التَّحْرِيمُ او په دې سره د ده مراد مکروه تحريمي دی وَيَسْتَوِي فِيهِ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ او په دې حکم کې خلک او ښځې ټول سره برابر دي لِعُمُومِ النَّهْيِ د نهي د عام والي په وجه [يعني د مذکوره حديث نهي عام دي] وَكَذٰلِكَ الْأَكْلُ بِمِلْعَقَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ او همدارنګه [ناجائز دي] د سرو او سپينو زرو په کاچوغې سره خوراک کول وَالِاكْتِحَالُ بِمِيلِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ او د سرو او سپينو زرو په سلايي سره سترګې تورول وَكَذَا مَا أَشْبَهَ ذٰلِكَ كَالْمُكْحُلَةِ وَالْمِرْآةِ وَغَيْرِهِمَا او همدارنګه کوم چې د دې شيانو سره مشابه وي لکه رنجينه، هينداره او له دوی څخه بغير نور څه لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿يجرجر﴾ د فعللة د باب مضارع ده: اوبه او داسې نور پرلپسې (متواتر) غړپل، صاحب د معجم يې داسې تعريف کړی دی: جرجر الشراب: أي جرعه جرعاً متواتراً لَهُ صَوت. ﴿تشبّه﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مشابه کېدل، مشابهت اختيارول. ﴿زيّ﴾ شکل، طرز، کړوه وړه. ﴿تنعّم﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: د تفعّل مضارع ده: عيش او عشرت کول، مېله کول (چړچې وهل)، خوند او مزه اخيستل. ﴿المترفين﴾ جمع د مُتْرِفٌ ده: د افعال د باب فاعل دی، د دې لفظ څو معناوې دي چې له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: سرکښه، پر بغاوت او سرکښې ټينګار کونکی. ﴿مکحلة﴾ هغه ښيښه چې رانجه پکښې خوندي کيږي چې هغه ته رنجينه (يا سرمه دانی) وايي.

تشريح: فرمايي د سرو او سپينو زرو په لوښو کې خوراک او څښاک کول او داسې نور جائز نه دي، د خلکو لپاره هم او د ښځو لپاره هم، د هغه دوو حديثونو په وجه کوم چې ذکر سول، همدارنګه دا د مشرکينو، متکبرينو او عيش پرسته خلکو پېروي کول دي.

وقال في الجامع إلخ: فرمايي دلته امام قدوري رَحِمَهُ الله "لا يجوز" ويلي دي لېکن په جامع صغير کي د "يکره" لفظ استعمال سوی دی، خو د دواړو مراد يو دی؛ ځکه مخکښي ذکر سوه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله د روايت مطابق له مکروه څخه حرام مراد دي، نو له "يکره" څخه مراد مکروه تحريمي په معنیٰ د "لا يجوز" سره دی، لهذا په دواړو کي څه تعارض نسته.

او څرنګه چي په احاديثو کي د نر او ښځي تر مينځ هيڅ فرق نه دی سوی، نو ځکه له زيوراتو څخه بغير په نورو شيانو او احکامو کي د خلکو په څېر ښځو لره هم دا ممانعت شامل دی او پر هغوی هم له دې څخه ځان ساتل ضروري دي.

وكذالك الأكل إلخ: فرمايي چي د سرو او سپينو زرو کاچوغه يا سلايي او رنجينـنه استعمالول هم مکروه دي؛ ځکه چي دا هم د مترفينو او مسرفينو خوی او طريقه ده، نو ځکه پر أکل وشرب په قياس کولو سره دا شيان هم د مسلمانانو لپاره مکروه ګرځول سوي دي.

يادونه: د قلم، لګن، بدنی وغيره ټولو همدغه حکم دی. (شامي ج: ۵، ص: ۲۱۷)

د مسو، سرپو او داسي نورو لوښي استعمالول

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِاسْتِعْمَالِ آنِيَةِ الرَّصَاصِ وَالزُّجَاجِ وَالْبِلَّوْرِ وَالْعَقِيْقِ فرمايي: او څه پروا نسته په استعمالولو کي د لوښو د سرپو او د ښيښې او د بلور ښيښې او د عقيق وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُكْرَهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي مکروه دي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ فِي التَّفَاخُرِ بِهِ ځکه په دې شيانو سره د تفاخر کولو په وجه دوی هم د سرو او سپينو زرو په معنیٰ سره دي قُلْنَا: لَيْسَ كَذٰلِكَ موږ [په جواب کي ورته] وايو چي: داسي نه ده لِأَنَّهُ مَا كَانَ مِنْ عَادَتِهِمُ التَّفَاخُرُ بِغَيْرِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ ځکه چي له سرو او سپينو زرو څخه بغير په بل سره شي تفاخر کول د مشرکينو عادت نه وو.

اللغات: ﴿الرصاص﴾ أردو شارحينو د دې لفظ دوې معناوي ليکلي دي: ① سرپ (کوم چي يو مشهوره فلز دی)، ② قلعي (کوم چي تر سرپو کلک يو ډول فلز دی چي ارزيز هم ورته وايي)، ﴿الزجاج﴾ ښيښه، شيشه. ﴿البلور﴾ ① د ښيښې يو ډول قسم دی کوم چي تر عامي ښيښې ډېر صفا او شفاف ده. ② يو ډول سپينه زياته صفا ډبره ده. ﴿العقيق﴾ يو ډول سور قيمتي کاڼی دی چي له هغه څخه عموماً د ګوتمی غميان جوړول کيږي.

تشریح: دغه مذکوره توله لوښي زموږ په نیز د استعمال قابل دي او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز د دوی استعمال مکروه دی؛ اصل مدار پر دې خبره دی چي امام شافعي دا وینا کوي چي د دې لوښو په ذریعه هم تفاخر کول کیږي او موږ وایو چي د دوی په ذریعه تفاخر نه کیږي؛ ځکه له سپینو او سرو زرو څخه بغیر په دې نورو لوښو وغیره سره به مشرکینو فخرونه نه کول. که بالفرض داسي وي. نو د سرو او سپینو زرو په څیر به مذکوره شیان هم ګران قیمته وای، حالانکي داسي هیڅ هم نسته، او دا تاسي هم تسلیموئ چي "الأصل فی الأشیاء الإباحة"، لهذا د دوی د مکروه کېدلو څه وجه زموږ په پام کي نه راځي.

په سپینو زرو یا سرو زرو سره د پوښل سوي او ښکلي کړی سوي لوښي وغیره حکم

قَالَ: وَيَجُوْزُ الشُّرْبُ فِي الْإِنَاءِ الْمُفَضَّضِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ فرمایي: او جائز دي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز چښاک کول په هغه لوښي کي کوم چي په سپینو زرو سره ښکلي کړی سوی وي وَالرُّكُوْبُ عَلَى السَّرْجِ الْمُفَضَّضِ او [جائز دي] سپرېدل پر هغه زین چي په سپینو زرو سره ښکلي [سینګار] کړی سوی وي وَالْجُلُوْسُ عَلَى الْكُرْسِيِّ الْمُفَضَّضِ وَالسَّرِيْرِ الْمُفَضَّضِ او [جائز دي] پر هغه کرسي او چپرکټ کښېنستل [یا پرېوتل] چي په سپینو زره سره ښکلي [سینګار] کړل سوي وي إِذَا كَانَ يَتَّقِيْ مَوْضِعَ الْفِضَّةِ [په دې شرط] کله چي د سپینو زرو له ځای څخه ځان ساتي وَمَعْنَاهُ: يَتَّقِيْ مَوْضِعَ الْفَمِ او د دې مطلب دا دی چي د خولې ایښوولو له ځای څخه ځان ساتي [یعني په دې شرط کله چي په دغه لوښي کي د سپینو زرو له ځای څخه خوله لیري ساتي] وَقِيْلَ: هٰذَا وَمَوْضِعَ الْيَدِ فِي الْأَخْذِ او ویل سوي دي: چي له دغه [موضع الفم] او په اخیستلو [نیولو] کي د لاس له ځای څخه ځان ساتي وَفِي السَّرِيْرِ وَالسَّرْجِ مَوْضِعَ الْجُلُوْسِ او په چپرکټ او زین کي د ناستي له ځای څخه ځان ساتي وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ ❁: يُكْرَهُ ذٰلِكَ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چي دا [توله صورتونه] مکروه دي وَقَوْلُ مُحَمَّدٍ يُرْوٰى مَعَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَيُرْوٰى مَعَ أَبِيْ يُوْسُفَ او د امام محمد رَحِمَهُ الله قول د امام صاحب رَحِمَهُ

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما فى الخانية (ج:۴، ص:۳۷۰)، والهندية (ج:۵، ص:۳۳۴). وقال المفتى غلام قادر النعماني: والأولىٰ اليوم العمل على قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، سداً لباب استعمال الذهب والفضة للرجال؛ لأن العوام لا يميّزون بين موضع الفضة وغيره. [القول الراجح ج:۲، ص:۲۹۹]

الله سره هم روایت سوی دی او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله سره هم روایت سوی دی [یعني یو روایت دا دی چي هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی او بل روایت دا دی چي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله سره دی] وَعَلٰی هٰذَا الْخِلَافِ الْإِنَاءُ الْمُضَبَّبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ او پر همدغه اختلاف دي په سرو او سپينو زرو سره سره پوښول سوی لوښی وَالْكُرْسِيُّ الْمُضَبَّبُ بِهِمَا او په سرو او سپينو زرو سره پوښله سوې کرسی. وَكَذَا إِذَا جَعَلَ ذٰلِكَ فِي السَّيْفِ او همدارنګه کله چي دا [په سپينو يا سرو زرو سره ښکلي کول او پوښل] وکړي په توره کي وَالْمِشْحَذِ او په سوان کي وَحَلْقَةِ الْمِرْآةِ يا د هينداري په حلقه کي أَوْ جَعَلَ الْمُصْحَفَ مُذَهَّبًا أَوْ مُفَضَّضًا يا قرآن شريف په سرو زرو يا سپينو زرو سره ښکلي کړي وَكَذَا الِاخْتِلَافُ فِي اللِّجَامِ وَالرِّكَابِ وَالثَّفَرِ إِذَا كَانَ مُفَضَّضًا او همداسي اختلاف دی په قيزه [کيزه]، رکاب او دُمچي کي کله چي دا په سپينو زرو سره ښکل کړل سوي وي وَكَذَا الثَّوْبُ فِيهِ كِتَابَةٌ بِذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ عَلٰى هٰذَا او همداسي هغه کپړه چي په هغه کي د سرو زرو يا سپينو زرو ليکنه سوې پر همدغه اختلاف ده.

اللغات: ﴿مفضّض﴾ د تفعيل له بابه د مفعول صيغه ده: په فضّه (سپينو زرو) سره ښکلي کړی سوی چي پر شاوخوا يې سپين زر لګول سوي وي، ﴿المضبّب﴾ د تفعيل له به بابه مخکنی صيغه ده، د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: مات سوي لوښي وغيره ته اوسپنه او داسي نور ور اغوستل، په پوښل، نو المُضبب بالذهب والفضة: په سرو يا سپينو زرو سره پوښل سوی (سره يا سپين زر ور اغوستل سوی) لوښی. تفضيض په اصل کي د ښکلا لپاره وي او تضبيب د مضبوطتيا لپاره وي، ﴿مشحذ﴾ سوان، سوهان، وسپن توږی، هغه څه چي چاړه او داسي نور په تېره کول کيږي، جمع: مشاحذ، ﴿اللجام﴾ قيزه، کيزه، لګام، ﴿رِکاب﴾ (بکسر الراء) د آس وغيره رِکاب، يعني هغه د اوسپني وغيره حلقه او کړۍ چي د آس د زين دواړو خواوو ته راځړيږي چي سپور کس په هغه کي پښې اړدي، ﴿الثفر﴾ له څرمني او داسي نورو څخه جوړه سوې هغه پټې او تسمه چي د زين وغيره تر شا د څاروي پر کوناټو تر لکۍ لاندي تړل کيږي، کوم ته چي په پښتو کي دُمچي وايي.

تشريح: عبارت آسانه دی کوم چي له ترجمې څخه هم معلوميږي، مشکل لغات حل کړل سوه.

امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي کله دا مُفضّض او مُضبّب يا مُذهّب خالص د سپينو زرو لوښي وغيره نه دي بلکي له بل شي څخه جوړ دي، محض پر شاوخوا يې سپين زر لګول سوي دي، نو څکه استعمال يې جائز دی، په دې شرط چي د سپينو زرو له ځای څخه ځان ساتي يعني که د

چينلو لوښی وي، نو خاص د سپينو زرو پر ځای دي خوله نه اړدي (که څه هم لاس پر سپينو زرو ولګيږي، دا پروانه لري ديوه قول مطابق)

همدارنګه که پر زين يا کرسۍ سپين زر لګول سوي وي، نو د سپينو زرو له ځای څخه بغير پر بل ځای يې کښېنستل جائز دي.

وقال ابويوسف إلخ: فرمايي دغه ټوله صورتونه امام صاحب رَحِمَهُ الله جائز ګرځولي دي. خو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مکروه ګرځولي دي. او پاته سو امام محمد رَحِمَهُ الله نو له هغه څخه دوه قوله نقل سوي دي: ① ځينو حضراتو ويلي دي چي هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی، نو هغه د دې شيانو د حلت قائل دی. ② او ځينو ويلي دي چي هغه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دی او د دې شيانو د کراهت قائل دی.

وعلی هذا الخلاف إلخ: فرمايي په سرو زرو سره پوښل سوي او ښکلي کړل سوي شيان مثلاً کرسۍ، يا توره، يا داسي نور سامان، يا هغه کپړه او ټوکر چي په هغه کي په سرو يا سپينو زرو سره ليکنه نقش کړل سوې وي، په دې ټولو صورتونو کي هاغه اختلاف دی کوم چي ذکر سو. يعني نور مسئله هاغه ده مخکي دا بيان وو چي مُفَضّض شی استعمال کړی او دلته دا بيان دی چي مُضَبّب يا مُذَهّب شی استعمال کړي.

د امام صاحب او صاحبينو محل د اختلاف

وَهٰذَا الِاخْتِلَافُ فِيمَا يَخْلُصُ او دغه اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي دا سره او سپين زر را جلا کېدای سي فَأَمَّا التَّمْوِيهُ الَّذِي لَا يَخْلُصُ او پاته د سرو او سپينو زرو اوبه لګول کوم چي نه را جلا کيږي فَلَا بَأْسَ بِهِ بِالْإِجْمَاعِ نو بالاتفاق په [استعمالولو د] هغه کي هيڅ حرج نسته لَهُمَا: أَنَّ مُسْتَعْمِلَ جُزْءٍ مِنَ الْإِنَاءِ مُسْتَعْمِلَ جَمِيعِ الْأَجْزَاءِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي د لوښي د يوه جزء [يوې حصې] استعمالونکی [د هغه] د ټولو اجزاؤ استعمالونکی دی فَيُكْرَهُ نو ځکه مکروه به وي كَمَا إِذَا اسْتَعْمَلَ مَوْضِعَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ لکه څرنګه [چي دا مکروه دي] چي [په لوښي کي] خاص د سرو او سپينو زرو ځای استعمال کړي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ ذٰلِكَ تَابِعٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي دا [لګول سوي سره او سپين زره] تابع دي وَلَا مُعْتَبَرَ بِالتَّوَابِعِ او توابعو لره اعتبار نسته فَلَا

يُكْرَهُ نو ځکه مکروه به نه وي كَالْجُبَّةِ الْمَكْفُوْفَةِ بِالْحَرِيْرِ لکه هغه چپنه چي په وربښمو سره حاشيه ورکول سوې وي [يعني د وربښمو حاشيې ورکول سوي وي] وَالْعَلَمُ فِي الثَّوْبِ او لکه په کپړه کي [د وربښمو] نقش کاري [گلکاري] وَمِسْمَارُ الذَّهَبِ فِي الْفَصِّ او [لکه] د گوتمې په غمي کي د سرو زرو ميخ.

اللغات: ﴿يخلص﴾ د کَرُم د باب مضارع ده، د دې لفظ دوې معناوي دي: خالص کېدل، او بل را خلاصېدل او جلا کېدل. (يعني چي په وريلي کولو وغيره سره ذهب يا فضه ځني را جلا کېدای سي نو دا اختلاف دی). ﴿تمويه﴾ د تفعيل د باب مصدر دئ: په سرو يا سپينو زرو سره لړل (د سرو يا سپينو زرو اوبه ورکول). ﴿العَلَم﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: نقش ونګار (نخش ونګار)، گلکاري.

تشريح: په دې عبارت کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د مخکښني اختلاف وضاحت کوي فرمايي چي د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله اختلاف صرف په هغه صورت کي دی چي پر لوښو وغيره لګول سي سره او سپين زر ځني را جلا کېدای سي، لېکن که هغوی داسي پر لګول سوي وي چي بيا يې رجلا کېدل ممکن نه وي مثلاً د سرو او سپينو زرو په اوبو سره رنګول سوي وي، نو په دې صورت کي د ټولو امامانو په اتفاق سره د داسي لوښو وغيره استعمالول جائز دي. (ځکه د سرو او سپينو زرو په اوبو کي صرف رنګ پاته وي، نور خو هغه اوبه دي، نو د رنګ باقي پاتېدلو لره هيڅ اعتبار نسته، لهذا دا که لوښي وي، او که قيزه يا رکاب وغيره وي، ټول بالاجماع جائز دي).

په مخکښي مسئله کي (چي سره او سپين زر راجلا کېدای سي) د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي د لوښي بعضي حصه استعمالول ګواکي د ټوله لوښي استعمالول دي، لهذا څرنګه چي په لوښي کي خاص د سره او سپينو زرو ځای استعمالول مکروه دي، نو همداسي به د دې استعمال هم مکروه وي.

او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي په شريعت کي اعتبار مقاصدو لره دی، د توابعو اعتبار نه کيږي، او دلته چي کوم سره او سپين زر پر لګول سوي دي دا ټوله تابع دي او اصل مقصود د لوښي استعمالول دي، نه د سرو او سپينو زرو نقش ونګار، لهذا څرنګه چي وربښم داره حاشيو والا چپنه مکروه نه ده يعني که د چپني حاشيې د وربښمو وي همدارنګه يا په وربښمو سره په کپړه کي نقش ونګار او ګلکاري سوې وي دا مکرونه دي، يا لکه څرنګه چي د سپينو زرو په ګوتمې کي د سرو زرو ميخ لګول سوی وي دا مکروه نه دي (چي وروسته بعيې بيان هم راسي)، نو همداسي مذکوره قسم لوښي استعمالول هم مکروه نه دي او په دوی کي هيڅ ډول قباحت او کراهت نسته.

د مجوسي خادم د خبر حکم

قَالَ: وَمَنْ أَرْسَلَ أَجِيرًا لَهُ مَجُوسِيًّا أَوْ خَادِمًا فَاشْتَرَى لَحْمًا [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمايي: او كوم څوک [مالک] چي خپل مجوسي مزدور يا خدمتګاره [نوکر] واستوي او هغه غوښي رانيسي فَقَالَ: اِشْتَرَيْتُهُ مِنْ يَهُودِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ أَوْ مُسْلِمٍ او هغه ووايي چي: ما داغوښي له يو يهودي يا نصراني يا مسلمان څخه رانيولي دي وَسِعَهُ أَكْلُهُ نو مالک لره د هغوی خوړل جائز دي لِأَنَّ قَوْلَ الْكَافِرِ مَقْبُولٌ فِي الْمُعَامَلَاتِ ځکه چي د کافر قول په معاملاتو کي منل سوی [او معتبر] دی لِأَنَّهُ خَبَرٌ صَحِيحٌ ځکه چي دا يو صحيح خبر دی لِصُدُورِهِ عَنْ عَقْلٍ وَدِينٍ يُعْتَقَدُ فِيهِ حُرْمَةُ الْكَذِبِ ځکه دا خبر له عقل والا او داسي دين والا څخه صادر سوی دی چي د هغه په دين کي [هم] د درواغو د حرام والي عقيده ساتل کيږي وَالْحَاجَةُ مَاسَّةٌ إِلَى قَبُولِهِ او د هغه د خبر قبلولو ته ضرورت هم سته لِكَثْرَةِ وُقُوعِ الْمُعَامَلَاتِ د معاملاتو د زيات واقع کېدلو په وجه وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذٰلِكَ او که هغه [يعني له چا څخه چي دا مجوسي غوښي رانيولي وي] له دې [مسلمان او کتابي] څخه بغير وي لَمْ يَسَعْهُ أَنْ يَأْكُلَ مِنْهُ نو مالک لره جائز نه دي چي دا غوښي وخوري مَعْنَاهُ: إِذَا كَانَ ذَبِيحَةَ غَيْرِ الْكِتَابِيِّ وَالْمُسْلِمِ د دې [غير ذالک] معنیٰ دا ده: چي له کتابي او مسلمان څخه بغير د بل چا ذبيحه وي[مثلاً مجوسي خادم ووايي چي "ماله يو مجوسي څخه دا غوښي رانيولي دي" چي د هغه ذبيحه حلاله نه ده] لِأَنَّهُ لَمَّا قُبِلَ قَوْلُهُ فِي الْحِلِّ ځکه کله چي د حلال والي په باره کي د مجوسي قول مقبول دی أَوْلَى أَنْ يُقْبَلَ فِي الْحُرْمَةِ نو د حرام والي په باره کي خو به په درجه اولیٰ قبلول کيږي.

اللغات: ﴿أجير﴾ په أجرت (په مزدوري) نيول سوی کس، مزدور کاره، او د خَادِم معنیٰ ده: خدمت کونکی، نوکر. ﴿وسعه﴾ د سمع د باب ماضي صيغه ده. وَسِعَ يَسَعُ سَعَةً: ګنجايش کېدل، په يو شي کي تنګي نه کېدل (پراخي پکښي راتلل)، مراد ځني جائز کېدل دي، ځکه د يو کار د جائز کېدلو مطلب همدا دی چي په هغه کي تنګي نه کېدل بلکي پراخي او ګنجايش پکښي راتلل. (معجم وسيط)

تشريح: مخکي تېر سوه چي د اهلِ کتابو ذبيحه جائز ده. لهذا که د يو مسلمان مجوسي مزدور او نوکر له بازار څخه غوښي رانيسي او ووايي چي دا ما له مسلمان قصاب يا له يهودي يا نصراني قصاب څخه رانيولي دي، نو د هغه خوړل جائز دي؛ ځکه چي دا له مسلمان وغيره څخه د رانيولو خبر دی

کوم چې یو معامله ده. او دا قصداً د حلت او حرمت خبر ورکول نه دي چې دا له دیانا تو څخه وشمېرل سي. او په معاملاتو کې د کافر خبر او قول لره اعتبار سته؛ ځکه چې دا مجوسي هم خاوند د عقل دی. او ښکاره همدا ده چې کله هغه عاقل او د خپل عقیدې په اعتبار سره یو دین او مذهب ته منسوب دی (که څه هغه دین [مجوسیت] زموږ په نېز باطل دی). نو درواغ به نه وایي؛ ځکه درواغ په ټولو دینونو کې حرام دي. او بل دا چې معاملات زیات واقع کیږي هم، نو په معاملاتو کې دې ته ضرورت پېښیږي چې د کافر قول ومنل سي، نو ځکه د دوی داسې خبر به مقبول او معتبر وي.

وإن کان غیر ذالك إلخ: یعني که مجوسي خادم او نوکر خبر ورکړي چې ما دا غوښې د یو مجوسي له لوکان څخه رانیولې دي، نو د هغه خوړل حلال نه دي؛ ځکه اوس ښکاره همدا ده چې هغه د مجوسي ذبیحه ده؛ او کله چې په مخکنۍ مسئله کې د حلت په هکله د کافر قول مقبول دی، نو په حرمت کې خو په درجه اولیٰ مقبولېدل پکار دي؛ ځکه په حرمت کې د نور احتیاط ضرورت وي.

د هدیه (تحفه) وغیره په باره کې د غلام، مینځې او بچې د خبر حکم

قَالَ: وَيَجُوزُ أَنْ يُقْبَلَ فِي الْهَدِيَّةِ وَالْإِذْنِ قَوْلُ الْعَبْدِ وَالْجَارِيَةِ وَالصَّبِيِّ فرمایي: او جائز دي چې د هدیه او اجازت په باره کې د غلام، مینځې او بچې قول قبول کړی سي لِأَنَّ الْهَدَايَا تُبْعَثُ عَادَةً عَلَى أَيْدِي هٰؤُلَاءِ ځکه هدیې [او تحفې] عموماً د همدې کسانو په لاس استول کیږي وَكَذَا لَا يُمْكِنُهُمْ إِسْتِصْحَابُ الشُّهُودِ عَلَى الْإِذْنِ او همدارنګه دوی لره پر خپل اجازت ګواهان د ځان سره ساتل ممکن نه دي عِنْدَ الضَّرْبِ فِي الْأَرْضِ د سفر کولو په وخت کې وَالْمُبَايَعَةِ فِي السُّوقِ او په بازار کې د سودا کولو په وخت کې فَلَوْلَمْ يُقْبَلْ قَوْلُهُمْ نو که د دوی [یعني د غلام وغیره] قول قبول نه کړی سي يُؤَدِّيْ إِلَى الْحَرَجِ نو دا به د تکلیف [ستونزې] سبب وګرځي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: إِذَا قَالَتْ جَارِيَةٌ لِرَجُلٍ: بَعَثَنِيْ مَوْلَايَ إِلَيْكَ هَدِيَّةً او په جامع صغیر کې دي: کله چې مینځه یو سړي ته ووایي چې: زه خپل مالک [بادار] تا ته په هدیه کې را استولې یم وَسِعَهُ أَنْ يَأْخُذَهَا نو هغه سړي لره جائز دي چې دا مینځه واخلي لِأَنَّهُ لَا فَرْقَ بَيْنَ مَا إِذَا أَخْبَرَتْ بِإِهْدَاءِ الْمَوْلٰى غَيْرَهَا أَوْ نَفْسَهُ ځکه چې هیڅ فرق نسته په مینځ د دې کې چې دا مینځه د خپل مالک د بل شي یا د خپل نفس د هدیه کولو خبر ورکړي [یعني د نفس (چې زه یې په هدیه کې درکړې یم) او د بل شي د هدیې د خبر ورکولو تر مینځ هیڅ فرق نسته] لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ ووایی.

اللغات: ﴿استصحاب﴾ د استفعال مصدر دی: د ځان سره ساتل (د ځان سره لرل). ﴿حرج﴾ تنګي، سختي، تکلیف.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که کوچنی هلک، یا غلام او مینځه یو هدیه راوړي چې زما پلار، یا زما مالک دا هدیه ستا لپاره را استولې ده، یا دا کسان دیو شي د رانیولو لپاره بازار ته ولاړ سي چې مور ته د بیع وشراء اجازت راکول سوی دی، نو د دوی قول به قبلول کیږي؛ ځکه عادت همدا دی چې هدیه د دوی په لاس استول کیږي او دا ممکنه نه ده چې هر وخت د دوی سره د اجازت ګواهان یا د هغوی لاسلیکونه ورسره وي، لهذا که د دوی قول معتبر نه کړی سي، نو زیات حرج به لازم سي.

په جامع صغیر کي امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایلي دي چې که مینځه یو سړي ته ووایي چې زه خپل مالک تا ته په هدیه کي را استولې یم، نو د مینځي قول قبلول او مینځه د ځان سره راګرځول جائز دي؛ دلیل هغه دی کوم چې اوس ذکر سو (يؤدي إلى الحرج)؛ ځکه د دې دوو جملو ترمینځ فرق نسته چې زما مالک دا هدیه ستا لپاره را استولې ده یا زه یې تا ته په هدیه کي را استولې یم (د دواړو ترمینځ هیڅ توپیر نسته)؛ ځکه چې د دواړو مطلب إرسالِ هدیه دی، لهذا څرنګه په اوله جمله کي د مینځي قول معتبر دی، همداسي به په دویمه جمله کي هم معتبر وي.

په معاملاتو او دیاناتو کي د فاسق د قول حکم

قَالَ: وَيُقْبَلُ فِي الْمُعَامَلَاتِ قَوْلُ الْفَاسِقِ فرمایي: په معاملاتو کي به د فاسق قول قبلول کیږي وَلَا يُقْبَلُ فِي الدِّيَانَاتِ إِلَّا قَوْلُ الْعَدْلِ او په دیاناتو کي به نه قبلول کیږي مګر صرف د عادل قول وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ الْمُعَامَلَاتِ يَكْثُرُ وُجُودُهَا فِيمَا بَيْنَ أَجْنَاسِ النَّاسِ او وجه د فرق یې دا ده چې د معاملاتو موجودېدل [واقع کېدل] ډېر کیږي د خلکو د بېلا بېلو جنسونو په مینځ کي فَلَوْ شَرَطْنَا شَرْطًا زَائِدًا نو که مونږ یو اضافي شرط ولګوو يُؤَدِّيْ إِلَى الْحَرَجِ نو دا به د تکلیف سبب جوړ سي فَيُقْبَلُ قَوْلُ الْوَاحِدِ فِيهَا نو ځکه [د حرج دفع کولو په خاطر] به په معاملاتو کي د یوه کس قول قبلول کیږي عَدْلًا كَانَ أَوْ فَاسِقًا كَافِرًا أَوْ مُسْلِمًا عَبْدًا أَوْ حُرًّا ذَكَرًا أَوْ أُنْثَى برابره ده هغه عادل وي او که فاسق وي، کافر وي او که مسلمان وي، غلام وي او که آزاد وي، نر وي او که ښځه وي دَفْعًا لِلْحَرَجِ د حرج [تکلیف] دفع کولو لپاره.

اللغات: ﴿وقوع﴾ د فتح د باب مصدر دی: واقع کېدل، پېښېدل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې په دیاناتو کي فقط د داسي مسلمان قول معتبر دی کوم چې عادل وي، او پاته سوه معاملات د بېلا بېلو (مختلف قسمه) خلکو ترمینځ واقع کیږي، نو که په دې کي د

عدالت شرط ولګول سي نو حرج کثیر به لازم سي؛ په دې وجه دا حکم وسو چي د فاسق قول هم په معاملاتو کي معتبر دی.

یادونه : دلته له معاملاتو څخه مطلق معاملات مراد نه دي، بلکي هغه معاملات ځني مراد دي چي إلزام (دیو حکم لازمول) پکښې نه وي، تفصیل یې دا دی چي معاملات پر درې قسمه دي: ① هغه چي إلزام پکښې نه وي، لکه مضاربات او د تجارت إذن، ② هغه چي محض إلزام پکښې وي، لکه هغه حقوق چي خصومت او دعویٰ پکښې جاري کیږي، ③ هغه چي من وجه إلزام پکښې وي او من وجه نه وي، لکه د وکیل معزولېدل.

په اول قسم کي فقط تمیز کافي دی، عدالت او نور څه شرط نه دي. او په دویم قسم کي د شهادت عدد ضروري دی (چي خبر ورکونکي به دوه خلک یا یو سړی او دوې ښځي وي). او په دریم قسم کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز د شهادت عدد یا عدالت ضروري دی، خلاصه دا چي دلته اول قسم معاملات مراد دي. (شامي ج:۵، ص: ۲۲۰)

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

أَمَّا الدِّيَانَاتُ فَلَا يَكْثُرُ وُقُوعُهَا حَسَبَ وُقُوعِ الْمُعَامَلَاتِ کوم چي دیانات دي نو د معاملاتو د ډېر واقع کېدلو په څېر د هغوی واقع کېدل ډېر نه کیږي فَجَازَ أَنْ يُشْتَرَطَ فِيهَا زِيَادَةُ شَرْطٍ نو په دیاناتو کي د یو زائد [اضافي] شرط لګول جائز [او ممکن] دي فَلَا يُقْبَلُ فِيهَا إِلَّا قَوْلُ الْمُسْلِمِ الْعَدْلِ نو ځکه په دیاناتو کي به صرف د عادل مسلمان قول قبلول کیږي لِأَنَّ الْفَاسِقَ مُتَّهَمٌ وَالْكَافِرَ لَا يَلْتَزِمُ الْحُكْمَ ځکه چي فاسق تورن دی او کافر حکم پر ځان نه لازموي [یعني کافر بیا ګردسره د دیانت او اسلام حکم پر ځان لازم کړی نه دی] فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُلْزِمَ الْمُسْلِمَ نو ځکه هغه لره دا اختیار هم نسته چي پر مسلمان حکم لازم کړي بِخِلَافِ الْمُعَامَلَاتِ ـ په خلاف د معاملاتو لِأَنَّ الْكَافِرَ لَا يُمْكِنُهُ الْمَقَامُ فِي دِيَارِنَا إِلَّا بِالْمُعَامَلَةِ ځکه چي کافر لره زموږ په ښارو [دار الاسلام] کي پاتېدل ممکن نه دي مګر په معامله کولو سره وَلَا يَتَهَيَّأُ لَهُ الْمُعَامَلَةُ إِلَّا بَعْدَ قَبُولِ قَوْلِهِ فِيهَا او معامله د هغه لپاره مهیا کېدای نه سي مګر هغه وخت چي په معاملاتو کي د هغه قول قبول کړی سي فَكَانَ فِيهِ ضَرُورَةٌ لهذا په دې [قبول قوله فی المعاملات] کي ضرورت دی فَيُقْبَلُ نو ځکه د هغه قول به قبلول کیږي.

اللغات: ﴿دیانات﴾ جمع د دِيَانَةٌ ده، مراد: د دینداریو او دیني احکامو سره متعلق مسائل کوم چې غیرِ معاملات وي، ما کان بین الانسان وربه والا احکام. ﴿لا یلتزم﴾ د افتعال له بابه د نفي صیغه ده: پر ځان لازمول، په خپله غاړه او ذمه باندې اخیستل. ﴿دِیار﴾ جمع د دَارٌ ده چې د الدّار یوه معنیٰ ده: ښار او علاقه، لکه څرنګه چې د الدّار اطلاق پر دار الاسلام او دار الکفر هم کیږي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې دیانات دومره په کثرت سره نه واقع کیږي لکه معاملات، لهذا که په دیاناتو کې زائد شرط ولګول سي نو په دې کې به څه حرج او تکلیف نه وي؛ لهذا په دیاناتو کې به فقط د مسلم عادل قول معتبر وي، نه د فاسق او کافر؛ ځکه فاسق خو د خپل درواغ ویلو په وجه متهم او تورن دی، نو په خبر ورکولو کې هم هغه درواغ ویلای سي، او کافر چې کله خپله د حکم التزام نه دی کړی، نو پر مسلمان به هم د څه لازمولو حق نه لري. خو د معاملاتو مسئله جلا ده؛ ځکه کله چې کافر زموږ په دار الاسلام کې استوګن وي او په معاملاتو کې د هغه قول قبول نه کړی سي، نو هغه به دلته څنګه استوګن سي؛ ځکه کله چې هغه هیڅ معامله نه سي کولای، نو خپل ضروریات به له کومه پوره کوي، لنډه دا چې په دې کې ضرورت دی، په دې وجه په معاملاتو کې د فاسق او کافر قول معتبر دی.

یادونه: له دیاناتو څخه دیانات محضه مراد دي، دیانات ضمینه مراد نه دي، همدارنګه هغه دیانات مراد نه دي کوم چې د ملکیت زائلېدو لره متضمن وي، د تفصیل لپاره وګورئ (شامي ج: ۵، ص: ۲۲۰).

په دیاناتو کې د مستور الحاله کس د قول حکم

وَلَا يُقْبَلُ فِيهَا قَوْلُ الْمَسْتُورِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او د ظاهر روایت مطابق د مستور الحال کس قول به په دیاناتو کې نه قبلول کیږي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يُقْبَلُ قَوْلُهُ فِيهَا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چې په دیاناتو کې به د هغه قول قبلول کیږي جَرْيًا عَلَى مَذْهَبِهِ أَنَّهُ يَجُوزُ الْقَضَاءُ بِهِ په قیاس کولو سره د هغه پر دې مذهب چې د مستور الحاله پر قول فیصله کول جائز دي وَفِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ هُوَ وَالْفَاسِقُ فِيهِ سَوَاءٌ او د ظاهر روایت مطابق هغه [مستور الحاله] او فاسق سره برابر دي حَتَّى يُعْتَبَرَ فِيهِمَا أَكْبَرُ الرَّأْيِ تر دې چې په دواړو کې به د غالب ګومان اعتبار کول کیږي.

اللغات: ﴿المستور﴾ د نصر د باب مفعول دی: مخفي، پټ، غیر معلوم الحال (یعني حالت یې پټ وي چې عادل دی که فاسق).

تشریح : کوم څوک چې مستور الحاله وي، یعني د هغه عدالت او فاسق والی معلوم نه وي، نو ظاهر روایت دا دی چې په دیاناتو کې د هغه قول معتبر نه دی.

او له امام صاحب رَحِمَہُ اللہ څخه یو روایت دا دی چې د هغه قول به قبلول کیږي: ځکه امام صاحب رَحِمَہُ اللہ فرمایي چې کله قاضي د مستور الحال کس په قول فیصله وکړي نو جائز دي په دې شرط چې د ده خصم په ده کې طعن نه وکړي.

او په ظاهر روایت کې مستور الحاله او فاسق دواړه سره برابر دي، لهذا په دوی دواړو کې د غالب رایې او غالب ګومان اعتبار کیږي، لهذا که غالب رایه دا وي چې دوی ربښتوني دي، نو قول به یې قبلول کیږي، کنې نه به قبلول کیږي، لکه کله چې څوک د اُوبو د مردار والي خبر ورکړي، نو په هغه کې پر غالب رایه عمل کول کیږي.

په دیاناتو کې د غلام او مینځې د قول حکم

قَالَ: وَيُقْبَلُ فِيهَا قَوْلُ الْعَبْدِ وَالْحُرِّ وَالْأَمَةِ فرمایي: او په دیاناتو کې به د آزاد، غلام او مینځې قول قبلول کیږي إِذَا كَانُوا عُدُولًا [په دې شرط] کله چې دوی عادلان وي لِأَنَّ عِنْدَ الْعَدَالَةِ الصِّدْقُ رَاجِحٌ ځکه د عادل والي په وخت کې [جانب د] ربښتیا والي راجح دی [یعني غالب او راجح همدا ده چې عادل کس ربښتیا وایي] وَالْقَبُولُ لِرُجْحَانِهِ او [د قول] قبلېدل د همدې ربښتیا والي د راجح کېدو په وجه دي فَمِنَ الْمُعَامَلَاتِ مَا ذَكَرْنَاهُ نو له معاملاتو څخه ځیني خو هغه دي کوم چې موږ ذکر کړل وَمِنْهَا التَّوْكِيلُ او له هغوی څخه [یوه معامله] وکیل جوړول هم دي وَمِنَ الدِّيَانَاتِ الْإِخْبَارُ بِنَجَاسَةِ الْمَاءِ او له دیاناتو څخه [یو] د اوبو د مردار والي خبر ورکول دي حَتَّى إِذَا أَخْبَرَهُ مُسْلِمٌ مَرْضِيٌّ تر دې چې که یو خوښ سوی [عادل] مسلمان [یو چا ته] د اوبو د مردار والي خبر ورکړي لَمْ يَتَوَضَّأْ بِهِ وَيَتَيَمَّمُ نو په هغوی سره به اودس نه کوي [بلکې] تیمم به کوي وَلَوْ كَانَ الْمُخْبِرُ فَاسِقًا أَوْ مَسْتُورًا او که چیرې خبر ورکونکی کس فاسق یا مستور الحاله وي تَحَرَّى نو غور او فکر به کوي فَإِنْ كَانَ أَكْبَرُ رَأْيِهِ أَنَّهُ صَادِقٌ نو که چیرې د ده غالب ګومان دا وي چې هغه [خبر ورکونکی] ربښتونی دی [کوم چې د اوبو د مردار والي خبر ورکړی دی] يَتَيَمَّمُ وَلَا يَتَوَضَّأُ بِهِ نو تیمم به کوي او په اوبو سره به اودس نه کوي وَإِنْ أَرَاقَ الْمَاءَ ثُمَّ تَيَمَّمَ او که اوبه چپه [توی] کړي بیا تیمم وکړي كَانَ أَحْوَطَ نو دا زیات احتیاط والا صورت دی [یعني په داسې صورت کې د اوبو په چپه کولو او تویولو کې زیات احتیاط دی]

اللغات: ﴿راجح﴾ غالب، معتبر. ﴿مرضی﴾ د سمع د باب مفعول دی: خوښ کړی سوی (خوښ).
﴿التحرّی﴾ د تفعل د باب مصدر دی: : طلب او لټون کول، غور او فکر کول. (په اصل کي طلب الأحریٰ ته وايي يعني د ډېر مناسب څه طلب کول)، ﴿أحوط﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات احتياط والا.

تشريح: صورت د مسئلې واضح او آسانه دی.

د عادل کس په هکله د کذب احتمال ساقطيږي، او که د چا په هکله غالب ګومان د درواغو وي نو څه حکم دی؟

وَمَعَ الْعَدَالَةِ يَسْقُطُ احْتِمَالُ الْكَذِبِ او د عدالت سره [يعني چي خبر ورکونکی عادل وي نو] د درواغو احتمال ساقطيږي فَلَا مَعْنَى لِلِاحْتِيَاطِ بِالْإِرَاقَةِ نو [په دې صورت کي] د اوبو په تويولو سره احتياط کولو لره هيڅ معنیٰ [او وجه] نسته أَمَّا التَّحَرِّي فَمُجَرَّدُ ظَنٍّ او کوم چي [د مستور الحال کس په هکله] تحري کول دي نو هغه محض ګومان دی [فلا بد فيه من الاحتياط بالإراقة] وَلَوْكَانَ أَكْبَرُ رَأْيِهِ أَنَّهُ كَاذِبٌ او که چيري د ده غالب ګومان دا وي چي هغه [خبر ورکونکی] درواغجن دی يَتَوَضَّأُ بِهِ وَلَا يَتَيَمَّمُ نو په هغه اوبو سره به اودس کوي او تيمم به نه کوي لِتَرَجُّحِ جَانِبِ الْكَذِبِ بِالتَّحَرِّي ځکه چي په تحرّي کولو سره د درواغو طرف راجح سو وَهٰذَا جَوَابُ الْحُكْمِ او دا [چي اودس به کوي دا] د حکم جواب دی فَأَمَّا فِي الِاحْتِيَاطِ فَيَتَيَمَّمُ بَعْدَ الْوُضُوْءِ خو په احتياط کي تر اودس وروسته به تيمم [هم] کوي [يعني احتياط دا دی چي تر اودسه وروسته تيمم هم وکړي] لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَمِنْهَا الْحِلُّ وَالْحُرْمَةُ او له دياناتو څخه حلالېدل او حرامېدل هم دي [چي يو څوک ديو شي د حلت يا حُرمت خبر ورکړي] إِذَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ زَوَالُ الْمِلْكِ [په دې شرط] کله چي په دې کي د ملکيت زائلېدل نه وي [يعني چي د دې حلت او حرمت په خبر ورکولو سره ديو چا ملکيت نه زائليږي] وَفِيهَا تَفَاصِيلُ وَتَفْرِيعَاتٌ ذَكَرْنَاهَا فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي او د دياناتو په باره کي [نور هم] ډېر تفصيلات او تفريعات سته کوم چي موږ په كفاية المنتهي کي ذکر کړي دي.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي که مُخبر (خبر ورکونکی کس) فاسق يا مستور الحاله وي او غالب ګومان دا وي چي هغه رښتونی دی، نو احتياطي حکم خو همدا دی چي اوبه چپه کړی او تيمّم وکړي.

لېکن که د مُخبِر عدالت ثابت سي، نو په دې وخت کي د اوبو چپه کولو (تویـېولو) هيڅ ضرورت نسته، بلکي فقط تيمم کول کافي دي؛ او څرنګه چي تحرّی د يقين په درجه کي نه ده، بلکي په تحرّی کي يو ظن او ګومان کيږي، نو ځکه د مُخبر د مستور الحاله کېدو په صورت کي د اوبو چپه کول او تر هغه وروسته تيمم کول أحوط ګرځول سوي دي.

ولوکان إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د ده (چا ته چي خبر ورکول سوی دی) غالب ګومان دا وي چي مُخبر په خپل قول او خبر کي درواغجن دی، نو په دې وخت کي په مذکوره اوبو سره اودس کول غوره دي، د تيمّم ضرورت نسته؛ ځکه چي د درواغو جانب راجح سو، لهذا په اودس کولو کي څه حرج نسته.

وهذا جواب الحکم إلخ: يعني دا خبره چي که د مُخبر په باره کي غالب ګومان دا وي چي هغه کاذب دی نو اودس به کوي، نه تيمم، دا د حکمِ شرعي بيان دی، خو احتياط په دې کي دی چي اول اودس وکړي او وروسته تيمم هم وکړي؛ ځکه تحرّی خو محض يو ګومان دی چي په هغه کي د خطا احتمال هم سته.

ومنها الحل إلخ: فرمايي چي له دياناتو څخه د حلت او حرمت مسئله هم ده، په دې شرط چي په هغه کي د ملکيت زوال نه وي، يعني که يو سړی مثلاً د غوښو د حلت يا حرمت خبر ورکړي (چي دا غوښي پاکي يا مرداري دي)، نو د هغه خبر به قبلول کيږي، لېکن که يو سړی د زوجينو تر مينځ د رضاعت ثابتېدلو خبر (يوازي) ورکړي، نو د هغه قول به نه قبلول کيږي؛ ځکه په دې خبر ورکولو سره (له ښځي څخه) د خاوند (د بضع) ملکيت زائليږي، نو ځکه د دغه خبر د قبلولو لپاره عدد او عدالت دواړه شيان ضروري دي.

فرمايي چي دا ډول نور تفاصيل او تفريعات موږ په کفاية المنتهي کي بيان کړي دي.

که يو دعوت او مېلمستيا ته انسان وغوښتل سي او هلته خلاف شرع څه وليدل سي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ دُعِيَ إِلَى وَلِيمَةٍ أَوْ طَعَامٍ فرمايي: او څوک چي وليمې يا بل خوراک [مېلمستون] ته را وبلل سي فَوَجَدَ ثَمَّةَ لَعِبًا أَوْ غِنَاءً نو هلته يو لوبه يا سرود ومومي فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَقْعُدَ وَيَأْكُلَ نو څه حرج نسته چي [هلته] کښېني او خوراک وکړي قَالَ: أَبُوحَنِيفَةَ: أُبْتُلِيتُ بِهَذَا مَرَّةً امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چي يو ځل زه په دې [ډول دعوت] مبتلا سوم فَصَبَرْتُ نو ما صبر وکړی وَهَذَا لِأَنَّ إِجَابَةَ

الدَّعْوَةِ سُنَّةٌ او دا ځکه چي د دعوت قبلول سنت دي قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] : «مَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ» نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: څوک چي دعوت [بلنه او مېلمستيا] قبول نه کړي نو هغه د ابو القاسم محمد ﷺ نافرماني وکړه فَلَا يَتْرُكُهَا لِمَا اقْتَرَنَ بِهَا مِنَ الْبِدْعَةِ مِنْ غَيْرِهِ نو دعوت دي په دې وجه نه پرېږدي په چي د دې دعوت سره د بل چا له طرفه بدعت يوځای سوی دی كَصَلَاةِ الْجِنَازَةِ وَاجِبَةُ الْإِقَامَةِ وَإِنْ حَضَرَتْهَا نِيَاحَةٌ لکه څرنګه چي د جنازې د لمانځه اداء کول واجب دي که څه هم نوحه کونکې ښځه حاضره سي فَإِنْ قَدَرَ عَلَى الْمَنْعِ بيا که چيري هغه [رابلل سوی کس د دوی] پر منع کولو قدرت لري مَنَعَهُمْ نو دوی دي منع کړي وَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ او که [پر دې] قدرت نه لري يَصْبِرُ نو صبر دي وکړي وَهٰذَا إِذَا لَمْ يَكُنْ مُقْتَدًى او دا حکم هغه وخت دی کله چي رابلل سوی کس پېشوا نه وي فَإِنْ كَانَ وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى مَنْعِهِمْ او که چيري هغه پېشوا وي. خو د دوی پر منع کولو قدرت نه لري يَخْرُجُ وَلَا يَقْعُدُ نو هغه به وځي او نه به کښېني لِأَنَّ فِي ذٰلِكَ شَيْنُ الدِّينِ وَفَتْحُ بَابِ الْمَعْصِيَةِ عَلَى الْمُسْلِمِينَ ځکه چي په دې کي د دين عيبداره کول او پر مسلمانانو د ګناه دروازه خلاصول دي. وَالْمَحْكِيُّ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ فِي الْكِتَابِ كَانَ قَبْلَ أَنْ يَصِيرَ مُقْتَدًى او کوم [حکايت] چي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه په کتاب [جامع صغير] کي نقل سوی دی هغه د ده تر پېشوا کېدو مخکي وو.

اللغات: ﴿الوليمة﴾ هغه خوراک او مېلمستيا کوم چي د واده په خوشحالۍ او مبارکۍ کي تيار کړل سي (په جديد عربي کي د عامي مېلمستيا خوراک ته هم وايي. خو دلته ښکاره خبره ده چي د واده طعام څني مراد دی). ﴿غناء﴾ سروز او سندره ويل. ﴿مقتدیٰ﴾ مقتدا: چي خلک اقتداء پسي کوي. پېشوا. لارښوونکی. ﴿شَيْن﴾ مصدر او اسم مصدر دواړه ډوله استعماليږي: عيبدار کول. عيب. بدي.

تشريح: له دې ځايه د دعوت او مېلمستيا په هکله د جامع صغير يو مسئله ذکر کوي. فرمايي چي که يو څوک د واده ډوډۍ او دعوت ته يا بل عام دعوت ته وبلل سي او دئ چي هلته ولاړ سي نو معلومه سي چي دلته خو د سروز او سندرو بازار ګرم دی يا يو بل خلاف شرع کار. لوبه او لهو شروع ده. نو دا کس به څه کوي؟ فرمايي چي دلته دوه صورتونه دي: دا رابلل سوی کس به د خلکو مقتدا (پېشوا) وي يا به نه وي. او بل دا چي هغه به دا خلاف شرع کار منع کولای سي يا نه؟.

[1] تخريج: أخرجه مسلم كتاب النكاح، باب الأمر بإجابة الداعي إلى دعوة، ص:۶۰۶، حديث رقم:۱۴۳۲، ۳۵۲۵.

که چیري دئ (رابلل سوی کس) مقتدا نه وي او منع کولای سي، نو منع دي یې کړي. کنې صبر دي وکړي او تر خوراک وروسته دي رخصت سي؛ ځکه دعوت قبلول سنت نبوي دي او بلا عذره له هغه څخه انکار کول په نبوي حدیث سره ګناهګاره دی، لهذا که له مخکي څخه خبر نه وي چي په دعوت کي خلاف شرع کارونه کیږي. نو بیا بلا وجه له دعوت څخه انکار کول پکار نه دي. خپله امام صاحب رَحِمَهُ الله یو ځل په داسي خلاف شرع دعوت کي ګیر پاته سو. او څرنګه چي په دې وخت کي هغه دامت مقتدا نه وو جوړ سوی، نو ځکه هغه له صبر څخه کار واخیستی او تر خوراک ختمېدو پوري یې انتظار وکړی.

لیکن که رابلل سوی کس مقتدا وي خو بیا هم پر منع کولو قادر نه وي، نو حکم دا دی چي هغه دي یو ګړی هم هلته نه پاتیږي او بغیر له خوراکه دي واپس ولاړ سي؛ ځکه که د مقتدا کېدو باوجود هغه دلته پاته سي، نو په دې سره د دین او علماؤ بدنامي راځي، او عوام الناس په غلط مفهوم مبتلا کیږي: چي خلک به د هغه پر عمل دلیل نیسي او په دې ډول دعوتونو کي به ښه په خرپ شرکت کوي او څه هم تأمل به نه کوي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوْكَانَ ذٰلِكَ عَلَى الْمَائِدَةِ او که چیري دا [غناء او لوبه] پر سرخوان وي لَايَنْبَغِيْ أَنْ يَقْعُدَ نو پکار نه دي چي کښېني وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُقْتَدًى که څه هم دئ پیشوا نه وي لِقَوْلِهِ تَعَالىٰ: ﴿فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ [الأنعام: ٦٨] د الله تعالیٰ د دې فرمان په وجه: نو مه کښېنه! وروسته تر یادېدو د ظالم قوم سره وَهٰذَا كُلُّهُ بَعْدَ الْحُضُوْرِ او دا ټوله تر حاضرېدو وروسته دي [یعني دا ټوله تفصیل هغه وخت دي کله چي رابلونکی کس دعوت ته تر حاضرېدو وروسته په لوبه او غناء خبر سي] وَلَوْ عَلِمَ قَبْلَ الْحُضُوْرِ او که تر حاضرېدو مخکي په خبر سي لَايَحْضُرُ نو [دعوت ته] به نه حاضریږي لِأَنَّهُ لَمْ يَلْزَمْهُ حَقُّ الدَّعْوَةِ ځکه چي [په دې صورت کي] پر هغه د دعوت حق لازم نه سو [لإن إجابة الدعوة إنما یلزم إذا کانت الدعوة علی وجه السنة] بِخِلَافِ مَا إِذَا هَجَمَ عَلَيْهِ په خلاف د هغه صورت کله چي رابلونکی کس پر دې [لوبه او غناء] ناڅاپه راسي لِأَنَّهُ قَدْ لَزِمَهُ ځکه چي [په دې صورت کي] دعوت پر هغه لازم سو وَدَلَّتِ الْمَسْأَلَةُ عَلىٰ أَنَّ الْمَلَاهِيَ كُلَّهَا حَرَامٌ او دا مسئله پر دې دلالت کوي چي ټوله ملاهي حرام دي حَتَّى التَّغَنِّيْ بِضَرْبِ الْقَضِيْبِ تر دې چي د لرګي په وهلو سره سندره ویل هم حرام

دي وَكَذَا قَوْلُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ اُبْتُلِيتُ او همدارنګه [دلالت كوي] د امام صاحب رَحِمَهُ الله دا وينا "اِبتليتُ" (زه په مبتلا سوم) [پر دې چي ملاهي ټوله حرام دي] لِأَنَّ الاِبْتِلَاءَ بِالْمُحَرَّمِ يَكُوْنُ ځکه ابتلاء په حرام شي سره كيږي [مطلب دا چي په داسي صورت كي مبتلا كېدل په حرام مبتلا كېدلو ته وايي].

اللغات: ﴿هجم﴾ د نصر مضارع ده، د دې باب يوه معنیٰ ده: نابيره داخلېدل، ناڅاپه راتلل.

﴿ملاهي﴾ د لهو ولعب او د موسيقۍ آلات، د راجح قول مطابق د دې مفرد مَلْهَاةٌ دى، ﴿قضيب﴾ ښاخ (پر بكړل سوى ښاخ او لرګى)، لښته.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي كه په دعوت او مېلمستون كي د سروز او سندرو پروګرام او خلاف شروع لهو و لعب دومره تجاوز كړى وي چي سرخان هم محفوظ نه وي او پر سرخان داغه شوږنګ شروع وي. نو په دې صورت كي د مسلمان لپاره غوره همدا ده چي له سرخانه ولاړ سي او بغير له ډوډۍ خوړلو واپس سي. برابره ده هغه مقتدا وي او كه نه وي، د غيرت ايماني تقاضا همدا ده چي ولاړ سي؛ ځكه د قرآن كريم په دې آيت ﴿فلا تقعد إلخ﴾ كي د ظالمانو له ناستي پاستي څخه منع سوې ده.

وهذا كله إلخ: فرمايي چي مخكينى ټوله تفصيل هغه وخت دى كله چي له ورتګ څخه مخكي انسان په دې خبره نه وي چي په دغه دعوت كي به لهو و لعب او خلاف شرع كارونه كيږي، لېكن كه هلته له ورتګ څخه مخكي دا ورته معلومه سي چي په دې دعوت كي د شريعت مخالف كارونه كيږي، نو بيا د تللو اجازت ورته نسته؛ ځكه چي د معصيت او ګناه په وجه پر دې رابلونكي كس دعوت قبلول لازم نه دي؛ ځكه دعوت قبلول هغه وخت لازم دي كله چي دا دعوت او مېلمستون د سنت مطابق وي. او دلته خو په سنت ملنډي وهل كيږي؛ نو د داسي دعوت قبلول به څنګه صحيح وي.

بخلاف إلخ: د دې حاصل دا دى چي كه انسان يو دعوت ته راوبلل سي او له مخكي څخه هغه ته د خلاف شرع كار خبر نه وي، اوس چي هغه ناڅاپه راسي نو خلاف شرع كار ويني، نو فرمايي څرنګه چي اوس هغه دعوت قبول كړى او ورته راغلى دى او د راتګ په وجه د دعوت حق پر هغه لازم سوى دى، نو ځكه اوس هغه معذور ګڼل كيږي.

ودلت المسألة إلخ: فرمايي چي له پورتنۍ مسئلې څخه دا څرګنده سوه چي هر ډول لهو و لعب، سروز او موسيقي وېل حرام دي، برابره ده هغه محض په يو ښاخ، لرګي، تولكه وغيره سره وي؛ همدارنګه د امام صاحب رَحِمَهُ الله دا وينا چي "زه په مبتلا سوم" پر همدې دلالت كوي چي دا ټوله لهو و لعب حرام دي؛ ځكه چي ابتلاء عموماً د حرامو شيانو سره استعماليږي، لهذا په دې سره هم د هغوى حرمت څرګند سو. فقط والله أعلم وعلمه أتم

فَصْلٌ فِي اللُّبْسِ

(دا) فصل په (بیان د احکامو د) کپړې اغوستلو کې دی

د ورېښمي جامې د اغوستلو حکم

قَالَ: لَا يَحِلُّ لِلرِّجَالِ لُبْسُ الْحَرِيْرِ وَيَحِلُّ لِلنِّسَاءِ فرمايي: او حلال نه دي د خلکو [سړيو] لپاره د ورېښمو اغوستل او د ښځو لپاره حلال دي لِأَنَّ النَّبِيَّ عليه السلام[1] نَهٰى عَنْ لُبْسِ الْحَرِيْرِ وَالدِّيْبَاجِ ځکه نبي ﷺ د ورېښمو او ديباج له اغوستو څخه منع کړې ده وَقَالَ: إِنَّمَا يَلْبَسُهُ مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ او داسې يې فرمايلي دي: دا خو هغه کس اغوندي چې په آخرت کې ورله هيڅ حصه نه وي وَإِنَّمَا حَلَّ لِلنِّسَاءِ بِحَدِيْثٍ آخَرَ[2] او دا صرف د ښځو لپاره په يو بل حديث سره حلال دي وَهُوَ مَا رَوَاهُ عِدَّةٌ مِنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مِنْهُمْ عَلِيٌّ رضي الله عنه چې هغه حديث څو صحابه وو روايت کړی دی چې له هغوی څخه يو حضرت علي رضي الله عنه دی «أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم خَرَجَ وَبِإِحْدٰى يَدَيْهِ حَرِيْرٌ وَبِالْأُخْرٰى ذَهَبٌ چې نبي کريم ﷺ بهر راغلی په يوه لاس کې يې ورېښم او په بل لاس کې يې سره زر وه وَقَالَ: هٰذَانِ مُحَرَّمَانِ عَلٰى ذُكُوْرِ أُمَّتِيْ حَلَالٌ لِإِنَاثِهِمْ» او ويې فرمايل چې: دغه دوه شيان زما د امت پر نارينه وو حرام دي او د دوی د ښځينه وو لپاره حلال دي وَيُرْوٰى: «حِلٌّ لِإِنَاثِهِمْ» او روايت سوی دی: حِلٌّ لِإِنَاثِهِمْ [يعني په يوه روايت کې د حَلَالٌ پر ځای حِلٌّ يا حَلَّ ذکر سوي دي] إِلَّا أَنَّ الْقَلِيْلَ عَفْوٌ خو [د ورېښمو] لږ مقدار معاف دی وَهُوَ مِقْدَارُ ثَلَاثَةِ أَصَابِعَ أَوْ أَرْبَعَةٍ او هغه درې يا

---

[1] تخريج: دا حديث په اصل کې د دوو حديثونو مجموعه ده چې هغه دواړه په ابن ماجه شريف کې پرلپسې ذکر سوي دي (ابن ماجه، باب لبس الحرير والذهب للنساء، ص:۵۱۷، حديث رقم: ۳۵۹۰، ۳۵۹۱).

[2] تخريج: أخرجه ابن ماجة، باب لبس الحرير والذهب للنساء، ص:۵۱۷، حديث رقم:۳۵۹۵. وابو داؤد، باب في الحرير للنساء، ص:۲۰۶، حديث رقم:۴۰۵۷.

څلور ګوتي دي كَالْأَعْلَامِ وَالْمَكْفُوْفِ بِالْحَرِيْرِ لکه د کپړې [ټوکر] نقش ونګار او په وريښمو سره حاشيه ورکول سوې کپړه لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهٰى ③ عَنْ لُبْسِ الْحَرِيْرِ إِلَّا مَوْضِعَ إِصْبَعَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةٍ أَوْ أَرْبَعَةٍ ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ د وريښمو له اغوستو څخه منع کړې ده مګر د دوو ګوتو يا دريو ګوتو يا څلورو ګوتو په اندازه أَرَادَ الْأَعْلَامَ په دې سره د نبي کريم ﷺ مراد د کپړې نقش ونګار دی وَعَنْهُ عليه السلام ④: أَنَّهُ كَانَ يَلْبَسُ جُبَّةً مَكْفُوْفَةً بِالْحَرِيْرِ او له نبي ﷺ څخه روايت سوی دی: چي هغوی ﷺ به په وريښمو سره حاشيه داره چپنه اغوستله.

اللغات: ﴿حرير﴾ وريښم، په اصل کي هغه تارو ته وايي چي د وريښمو چينجی يې تازه را وباسي، ﴿ديباج﴾ وريښمينه کپړه، له وريښمو څخه جوړه کپړه به څو قسمه وه: يو به هغه کپړه وه چي د اوږدول تار [سدیٰ] (يعني کوم تار چي په کپړه [ټوکر] کي طولاً غځېدلی او جار وتلی وي دا تار) به يې له پمبه يا وړيو يا داسي نورو څخه وو. او د بَر تار [لُحمة] (کوم چي په کپړه کي عرْضاً جار وتلی وي) له خالص وريښمو څخه وو چي داسي کپړې ته به خَزّ ويل کېده. او بل به داسي کپړه وه چي دواړه تارونه (يعني ټوله کپړه) به له خالص وريښمو څخه وه، داسي کپړې ته دِيْبَاج ويل کېده. (دا لفظونه به څو ځله راسي. لهذا په ياد يې لرئ!). ﴿خلاق﴾ حصه، برخه او نصيب، ﴿أعلام﴾ جمع د عَلَمٌ ده. د دې لفظ يو معنیٰ ده: هغه نقش ونګار (کښېده) او هغه ګلکاري کوم چي په کپړه کي کښل سوې وي چي ځيني په پښتو کي طراز هم ورته وايي. يعني د کپړې او ټوکر نخش ونګار او ګلکاري.

تشريح: د پورتني ټوله عبارت خلاصه دا ده چي دأمت د ښځو لپاره خو مطلقاً وريښم استعمالول جائز دي، خو د خلکو لپاره له زياتو څخه زيات د څلورو ګوتو په اندازه د وريښم استعمالولو اجازه سته. او دا اجازه هم د کپړې د نقش ونګار او جامې ته د حاشيې ورکولو په توګه ده (چي مثلاً چپنه يا پټو [څادر] ټوله له عام ټوکر څخه جوړ سي خو د دوو. يا دريو يا څلور ګوتو په اندازه وريښم هم پر ولګول سي يا د وريښمو حاشيه ورکول سي. د دې اجازت سته)؛ لکه څرنګه چي په حديث کي له نبي کريم ﷺ څخه دا ثابت سوي دي. نو له دې څخه زيات وريښم د خلکو لپاره قطعي حلال نه دي؛ دواړه قسمه حديثونه په کتاب کي ذکر سوي دي. نور عبارت څرګند او آسانه دی.

③ تخريج: أخرجه مسلم، باب لبس الحرير وغير ذالك للرجال، ص:۹۲۸،حديث رقم: ۲۰۶۹/ ۵۴۰۹.

④ تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب الرخصة في العَلَم وخيط الحرير، ص:۵۲۷، حديث رقم:۴۰۵۴.

له اغوستلو څخه بغير بل ځای ورېښم استعمالول

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِتَوَسُّدِهِ وَالنَّوْمِ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ فرمايي: او څه پروا نسته پر ورېښمو په تکيه لګولو کي او پر هغوی په خوب کولو کي وَقَالَا: يُكْرَهُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي: مکروه دي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ ذُكِرَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ وَحْدَهُ او په جامع صغير کي د امام محمد رَحِمَهُ الله قول يوازي ذکر سوی دی وَلَمْ يُذْكَرْ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول نه دی ذکر سوی وَإِنَّمَا ذَكَرَهُ الْقُدُورِيُّ وَغَيْرُهُ مِنَ الْمَشَايِخِ او هغه بيا امام قدوري رَحِمَهُ الله او نورو مشائخو ذکر کړی دی وَكَذَا الِاخْتِلَافُ فِي سِتْرِ الْحَرِيرِ وَتَعْلِيقِهِ عَلَى الْأَبْوَابِ او همداسي اختلاف دی د ورېښمو په پرده کي او پر دروازو د هغه په ځړولو کي لَهُمَا الْعُمُومَاتُ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل هغه عام احاديث دي [چي په هغه کي له ورېښمو څخه مطلقاً منع سوې ده] وَلِأَنَّهُ مِنْ زِيِّ الْأَكَاسِرَةِ وَالْجَبَابِرَةِ او ځکه چي دا د عجمي باچاهانو او د متکبرينو طرز [او خصلت] دی وَالتَّشَبُّهُ بِهِمْ حَرَامٌ او د دوی سره مشابهت اختيارول حرام دي وَقَالَ: عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ *: إِيَّاكُمْ وَزِيَّ الْأَعَاجِمِ او حضرت عمر رضي الله عنه فرمايلي دي چي: ځان وساتئ! د عجمو له طرز [او کړه وړه] څخه وَلَهُ مَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ❶ جَلَسَ عَلَى مِرْفَقَةِ حَرِيرٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل هغه حديث دی چي [په هغه کي] روايت سوي دي چي نبي کريم ﷺ پر ورېښمي بالښت کښيناستو وَقَدْ كَانَ عَلَى بِسَاطِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا مِرْفَقَةٌ ** [همدارنګه] د عبدالله بن عباس (رض) پر بستره ورېښمي بالښت وو وَلِأَنَّ الْقَلِيلَ مِنَ الْمَلْبُوسِ مُبَاحٌ او ځکه چي لږ اغوستل سوي [ورېښم] روا دي كَالْأَعْلَامِ لکه د کپړې نقش ونګار

---

* تخريج: أخرجه مسلم بمعناه، باب اللباس والزينة، ص:۹۲۷، حديث رقم:۲۰۶۹، ص:۵۴۱۱.

❶ تخريج: دا روايت اصلاً د ابن عامر رضي الله عنه په هکله نقل سوی دی چي هغه د ورېښمو پر تکيه ګاه ناست وو. نه رسول الله ﷺ. لکه په مصنف ابن ابي شيبه کي چي داسي ذکر سوي دي: استاذن سعد على ابن عامر وتحته مرافق من حرير (مصنف ابن ابي شيبة، باب من رخص في لبس الخز، ج:۵، ص:۱۲۹، حديث رقم:۲۴۶۲۱) (ومستدرک للحاكم، كتاب التفسير، سورة الأحقاف ج:۲، ص:۴۹۴، حديث رقم:۳۶۹۷). [الثمار الهدايه]

** تخريج: أخرجه مصنف ابن ابي شيبة، باب من رخص في لبس الخز، ج:۵، ص:۱۴۹، حديث رقم:۲۴۶۲۱.

فَكَذَا الْقَلِيْلَ مِنَ اللُّبْسِ وَالِاسْتِعْمَالِ نو همداسي به لږ اغوستل او استعمالول هم روا وي وَالْجَامِعُ كَوْنُهُ نَمُوذَجًا او [د دواړو ترمينځ] جمع كونكى علت د هغوى [ورېښمو] نمونه كېدل دي عَلٰى مَا عُرِفَ لكه څرنګه چي پېژندل سوي دي.

اللغات: ﴿توسّد﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: تكيه لګول (پر يو شي ځان تكيه كول)، ټېک لګول. ﴿سِتْر﴾ (بكسر السين) پرده، جمع: سُتُور او أَسْتَار. ﴿زی﴾ طرز، شكل، كړه وړه. ﴿أكاسرة﴾ جمع د كِسْرىٰ ده، د فارس (پخواني ايران) د باچاهانو لقب وو. ﴿بِساط﴾ هر هغه څه چي پر ځمكه هوارول كيږي: بستره، فرش، ټاټ. ﴿مرفقة﴾ د تكيه او څنګ لګولو بالښت يا بل داسي شی. ﴿أعلام﴾ د تېر عبارت په لغاتو كي يې وضاحت وسو. ﴿نموذج﴾ له فارسي څخه عربي ته را اوښتى لفظ دی: ① مِثَالُ الشَّيْءِ الَّذِي يُعْمَلُ عَلَيْهِ. ② مَا يَدُلُّ عَلَى صِفَةِ الشَّيْءِ. يعني نمونه. مثل. (كونه نموذجًا... يعني أن المستعمل يعلم بهذا المقدار لذة ما وعده له في الآخرة ليرغب في تحصيل سبب يوصل إليه).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د ورېښمو بالښت يا كوربچه جوړول، يا د ورېښمو پرده جوړول او په دروازه باندي ځړول جائز دي، د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا ټوله شيان مكروه دي، لېكن په جامع صغير كي يوازي د امام محمد رَحِمَهُ الله قول ذكر سوی دی، هلته د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله ذكر نسته، خو امام قدوري رَحِمَهُ الله وغيره د هغه قول د امام محمد رَحِمَهُ الله سره بيان كړی دی، لنډه دا چي صاحبين د مذكوره شيانو د كراهت قائل دي.

د دوی دليل هغه ټوله عام احاديث دي چي په هغوی كي له ورېښمو څخه مطلقاً منع سوې ده، او بل دليل دا چي د ورېښمو بالښت وغيره جوړول د عجمي بادشاهانو طريقه ده، او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له دې څخه منع كړې ده چي د عجمي بادشاهانو سره مشابهت اختيار كړی سي، نو ځكه د مذكوره مقاصدو لپاره ورېښم استعمالول جائز نه دي.

وله ما روى إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول دليل خو هغه حديث دی چي په هغه كي له نبي ﷺ څخه د ورېښمي بالښت استعمالول ثابت سوي دي. دويم دليل دا دی چي د ابن عباس (رض) پر بستره ورېښمي بالښت موجود وو، نو كه چيري د ورېښمو استعمالول جائز نه وای، نو نبي ﷺ به پر هغه تكيه نه كولای او نه به د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا پر بستره د هغه نوم ونښان ليدل كېدای، معلومه سوه چي څه خو سته، مطلقاً حرام نه دي.

او بل دا چي څرنګه د نمونې په توګه په ملبوساتو يعني په جامو او کاليو کي څه غونډي (يعني د څلور ګوتو په اندازه) وربښم کارول جائز ګرځول سوي دي (لکه مخکي چي ذکر سوه)، نو همداسي په اغوستلو او استعمالولو کي هم دومره مقدار جائز کېدل پکار دي؛ ځکه که څوک د څه غونډي وربښمو اغوستل د دې يادوني لپاره کوي چي په جنت کي به هم الله ﷻ ما ته داسي وربښم بلکي تر دې اعلیٰ وربښم راکوي او په دې توګه هغه د آخرت په فکر کي مشغوله وي. نو د وربښمو د پردې، بالښت وغيره په استعمالولو سره خو دا فايده نوره هم زياته حاصليږي؛ ځکه پر کپړه لګول سوي وربښم ته به انسان بالقصد ګوري. لېکن پر بالښت، پرده او داسي نورو استعمال سوي وربښم هر ګړی سړی خپل طرف ته متوجه کوي. شرط دا دی چي سړی به په همدې نيت وربښم اغونډي يا استعمالوي چي د دې په ذريعه يې فکرِ آخرت زيات سي. (احسن الهدايه)

د جنګي مقاصدو او د جنګ په حالت کي د وربښمو استعمالول

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِلُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ فِي الْحَرْبِ عِنْدَهُمَا فرمايي: او څه پروا نسته د وربښمو او ديباج په اغوستلو کي د جنګ پر مهال د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز لِمَا رَوَى الشَّعْبِيُّ [1] أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ رَخَّصَ فِي لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ فِي الْحَرْبِ ځکه امام شعبي رَحِمَهُ الله روايت کړی دی چي نبي ﷺ په جنګ کي د وربښمو او ديباج د اغوستلو اجازت کړی دی وَلِأَنَّ فِيهِ ضَرُورَةً او ځکه چي په دې [د جنګ پر مهال د وربښمو په اغوستلو] کي ضرورت دی فَإِنَّ الْخَالِصَ مِنْهُ أَدْفَعُ لِمَعَرَّةِ السِّلَاحِ وَأَهْيَبُ فِي عَيْنِ الْعَدُوِّ لِبَرِيقِهِ ځکه خالص وربښم د اسلحې د سختۍ [او تېره والي] زيات دفع کونکي دي او د خپل ځلا په وجه د دښمن په سترګو کي زيات هيبت اچونکي دي وَيُكْرَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مکروه دي لِأَنَّهُ لَا فَصْلَ فِيمَا رَوَيْنَاهُ ځکه چي زموږ په روايت کړی سوي حديث کي هيڅ تفصيل نسته وَالضَّرُورَةُ انْدَفَعَتْ بِالْمَخْلُوطِ او ضرورت په مخلوط وربښمو سره دفع سو [يعني په جنګ کي چي وربښمو ته کوم ضرورت پرېوځي، هغه په مخلوطه وربښمو سره هم پوره کيږي] وَهُوَ الَّذِي لُحْمَتُهُ حَرِيرٌ وَسَدَاهُ غَيْرُ ذٰلِكَ او مخلوط وربښم هغه [توکر د وربښمو] دی چي د بر تار يې د وربښمو

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري والترمذي بمعناه عن انس رضی الله عنه (بخاري، باب الحرير في الحرب ص:۴۸۳، حديث رقم:۲۹۲۰، والترمذي، باب ما جاء في الرخصة في لبس الحرير في الحرب، ص:۳۰۲، حديث رقم:۱۷۲۲) وفي المصنف: عن عطاء قال لا بأس بلبس الحرير في الحرب (مصنف ابن ابي شيبة، ج:۵، ص:۱۵۳، حديث رقم۲۴۶۶۳).

وي او د اوږدول تارېږ د ورېښمو نه وي [بلكې له وړيو يا پمبې وغيره څخه وي] وَالْمَحْظُوْرُ لَايُسْتَبَاحُ إِلَّا لِضَرُوْرَةٍ او ممنوع شی روا نه ګرځول کيږي مګر د ضرورت په وجه وَمَا رَوَاهُ مَحْمُوْلٌ عَلَى الْمَخْلُوْطِ او کوم حدیث چې امام شافعي رَحِمَهُ الله روایت کړی دی هغه پر مخلوط ورېښمو محمول دی.

اللغات: ﴿الحرير، الديباج﴾ ددې تعريف د فصل د شروع عبارت په لغاتو کې وسو. ﴿أَدْفَعُ﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات دفع کونکی او خوندي کونکی. ﴿مَعَرّة﴾ د دې لفظ تقريباً نهه معناوي نقل سوي دي، چې له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: شدت او سختي. ﴿بزيق﴾ چمک، ځلا، برېښنا. ﴿لُحمة﴾ (بضم اللام) د دې لفظ هم څو معناوي دي چې له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: په کپړه (ټوکر) کې هغه تارونه کوم چې په بَر سره پکښې تېر سوي او اوبدل سوي وي. يعني د کپړې او ټوکر د بَره تار (کوم چې عرضاً غځېدلي وي). ﴿سَدٰی﴾ (بفتح السين) په کپړه کې هغه تارونه کوم چې په اوږدول سره پکښې تېرسوي وي يعني چې په اوږدل سره پکښې اوبدل سوی او غځېدلي وي، ځکه هر ټوکره او کپړه له تارو او سپنسيو څخه جوړېږي نو د بَر تارو ته يې لُحْمَة وايي او د اوږدل تارو ته يې سَدٰی وايي.

تشريح: دا مسئله د مخکنۍ مسئلې برعکس ده. حاصل يې دا دی چې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د جنګ وجدال پر موقع ورېښم اغوستل مباح او روا دي، څه حرج پکښې نسته؛ د دې يو دليل خو هغه دی چې په هغه کې نبي ﷺ په جنګ کې د ورېښمو رخصت ورکړی دی.

او دويم دليل دا دی چې په جنګ کې د دښمن د توري او اسلحې د وار منع کولو او د ورېښمو په ځلا او برېښنا سره د هغه د مرعوبه کولو او بېرولو لپاره ورېښمو ته ضرورت پرېوځي (ځکه ورېښم زيات چمک لري. همدارنګه کله چې د ورېښمو کپړه درې غبرګه کړل سي نو توره پر نه تېرېږي)، او دا ښکاره خبره ده چې الضرورات تبيح المحظورات.

ويکره الخ: او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د جنګ په حالت کې هم خالص ورېښم استعمالول جائز نه دي، هغه فرمايي چې په دې حديث "هٰذَانِ مُحَرَّمَانِ عَلٰى ذُكُوْرِ أُمَّتِيْ" کې د جنګ او غير جنګ هيڅ تفصيل او توپير نه دی سوی، نو ځکه په جنګ کې به هم ممنوع وي. او بل دا چې که ورېښمو ته په جنګ کې ضرورت پرېوځي، نو دا ضرورت په مخلوط ورېښمو سره پوره کيږي يعني په داسې کپړه او ټوکر سره چې اوږده تارونه يې د ورېښمو او د بَر تارونه يې د عام ټوکر وي. لهذا د "الضرورة تتقدر

بقدر الضرورة" پر بناء به په همدې مخلوط ورېښمو سره کار اخیستل کیږي او خالص ورېښم به جائز نه وي.

وما رواه إلخ: فرمايي چي مورد د حديث مخالفت هم نه کوو؛ ځکه د امام شعبي په روایت کړه حديث کي چي د ورېښمو اباحت او جواز ذکر سوی دی، هغه هم د مخلوط ورېښمو په هکله دی، نه د خالص ورېښمو په هکله.

د ورېښمو نور قسم جامې (خز وغیره)

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِلُبْسِ مَا سَدَاهُ حَرِيرٌ وَلُحْمَتُهُ غَيْرُ حَرِيرٍ كَالْقُطْنِ وَالْخَزِّ فرمايي: او څه پروا نسته د داسي کپړې [او ټوکر] په اغوستلو کي چي د اوږدول تارېې ورېښمي وي او د بَر تارېې ورېښمي نه وي لکه [کپړه د] پمبه او خز فِي الْحَرْبِ وَغَيْرِهِ په جنګ کي او له هغه څخه بغير [بل حالت] کي [يعني په جنګ او ناجنګ دواړو حالتونو کي روا دي] لِأَنَّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ كَانُوا يَلْبَسُونَ الْخَزَّ ځکه صحابه وو به خز کپړه اغوسته وَالْخَزُّ مُسْدًى بِالْحَرِيرِ او خز هغه کپړه ده چي د اوږدول تارېې د ورېښمو وي [او د بَر تارېې له پمبې يا وړيو څخه وي] وَلِأَنَّ الثَّوْبَ إِنَّمَا يَصِيرُ ثَوْبًا بِالنَّسْجِ او ځکه چي کپړه د اوبدلو په ذريعه جوړيږي وَالنَّسْجُ بِاللُّحْمَةِ او اوبدل د بَر د تار په ذريعه کيږي [ځکه چي د بَر تار په آخر کي جار ايستل کيږي او پر اوږده تار د پاسه راځي] فَكَانَتْ هِيَ الْمُعْتَبَرَةُ دُونَ السَّدَى نو ځکه د کپړې همدا د بَر تار به معتبر وي، نه د اوږدول تارېې.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: أَكْرَهُ ثَوْبَ الْقَزِّ يَكُونُ بَيْنَ الْفَرْوِ وَالظِّهَارَةِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي: زه هغه د ورېښمو کپړه مکروه ګڼم چي د څرمني [چمړې] او پاسني استر ترمينځ وي [وضاحت به يې په تشريح کي وسي] وَلَا أَرَى بِحَشْوِ الْقَزِّ بَأْسًا خو د ورېښمو په ډک سوي څه کي حرج نه وينم [يعني هغه روا دی، وضاحت به يې په تشريح کي وسي] لِأَنَّ الثَّوْبَ مَلْبُوسٌ وَالْحَشْوَ غَيْرُ مَلْبُوسٍ ځکه چي کپړه اغوستل کېدونکې ده او حشو نااغوستل کېدونکې ده قَالَ: وَمَا كَانَ لُحْمَتُهُ حَرِيرًا وَسَدَاهُ غَيْرَ حَرِيرٍ او هغه کپړه چي د بَر تارېې ورېښمي وي او د اوږدل تارېې ورېښمي نه وي لَا بَأْسَ بِهِ فِي الْحَرْبِ نو د جنګ پر مهال په [اغوستلو د] هغه کي څه حرج نسته لِلضَّرُورَةِ د ضرورت په وجه وَيُكْرَهُ فِي غَيْرِهِ او له جنګ څخه بغير [بل حالت] کي مکروه دي لِانْعِدَامِهَا د ضرورت د

نشتوالي په وجه وَالِاعْتِبَارُ لِلُحْمَةِ او اعتبار د بَر تار لره دی [کوم چي په کپړه کي په بَره سره جاروتلی وي] عَلٰى مَا بَيَّنَّا لکه څرنګه چي [څه مخکي] موږ بيان کړه.

اللغات: ﴿سدا، لُحمة﴾ په تېر عبارت کي يې وضاحت وسو. ﴿قطن﴾ مالوچ او پمبه (هغه صفا کړل سوې پمبه چي پمبه دانې ځني کښل سوې وي). ﴿خز﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يې يو معنیٰ ده: هغه کپړه او ټوکر چي اوږده تارونه يې د ورېښمو وي او د بَر تارونه (لحمه) يې د ورېښمو نه وي بلکي له وړی، پمبې يا داسي نورو څخه وي. ﴿النسج﴾ مصدر دی، له نصر او ضرب دواړو څخه راځي: له تارونو څخه ټوکر جوړول، اوبدل (وودل)، جار باسل. ﴿قَزّ﴾ خام ورېښم چي له هغوی څخه بيا د ورېښمو کپړه جوړول کيږي، هغه ورېښم کوم چي تازه د ورېښمي چنجيو له ځالي څخه را ويستل سي (معجم). ﴿فَرْو﴾ د دې لفظ دوې معناوي دي: ① څرمن، چمړه (د ګيدړي او داسي نور)، ② له څرمن او چمړې څخه جوړ سوی پوستين. ﴿الظِّهَارَة﴾ (بكسر الظاء): د جامې پاسنی (ښکاره) استر، صاحب د معجم يې داسي تعريف کړی دی: الظِّهَارة من الثوب ما يُظهر للعين منه ولا يلي الجسد وهو خلاف البِطَانَة، يا په بله وينا دا چي د جامې د مخ استر او د مخ کپړه.

تشريح: په دې عبارت کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د جامع صغير دوې مسئلې بيان کړې دي:

(۱)... که چيري د کپړې اوږده تارونه (يعني کوم چي په کپړه او ټوکر کي په اوږدل سره [طولاً] اوبدل سوي وي که چيري هغه) د د ورېښمو وي او د بَر تارونه يې د ورېښمو نه وي بلکي له پمبې، وړی، او داسي نورو څخه وي، نو په جنګ وغيره کي د هغه استعمالول بلا کراهته جائز دي؛ ځکه چي له صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه د داسي کپړې استعمالول ثابت دي.

او بل دليل دا دی چي د کپړې مدار پر جوړښت دی (بغير له جوړولو کپړه نه تيارېږي) او د کپړې د جوړښت مدار پر هغه تارو دی کوم چي په بَر کي (عرضًا) وودل کيږي چي هغه ته په عربي کي اللُحمَة وايي. لهذا د کپړې د حُرمت او حلت په هکله به هم دا د بَر تارونه (لحمة) اصل وي او د هغه اعتبار به کيږي چي که ديو کپړې او ټوکر د بَر والا تارونه ورېښمي وي، نو حرام، کنې حلال به وي.

وقال أبويوسف أكره ثوب القز الخ: **يادونه:** په شروحو کي د دغه عبارت بېلابېل صورتونه بيان سوي دي، خو زما د ناقص فهم مطابق د اثمار الهدايې صورت او تحقيق مناسب را ته څرګند سو. نو دلته زه د هغه مطابق تشريح او صورت په خپل اندازه سره بيانوم:

امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ورېښمو هغه کپړه مکروه ده چې د څرمنې (لاندينې استر) او پاسني استر تر مینځ وي. يعني که يو جامه داسې وي چې درې غبرګه يعني درې استره وي يا په بله وينا دا چې درې کپړې پکښې ګنډل سوي وي (لکه زموږ په اوسني وخت کې ځينې پنډې ډبلې چپنې وغيره چې پر دريو کپړو او استرو مشتمله وي). او د هغې پاسنی استر (اول غبرګ) له پمبه وو يا له وړيو يا له چمړې څخه وي (مطلب دا چې د جامې اول غبرګ او اوله کپړه د ورېښمو نه وي بلکې بل ټوکر وي). او تر هغه لاندې دوېم استر د ورېښمو وي او درېيم لاندينی استر د څرمنې (چمړې) يا بل شي څخه وي، نو داسې جامه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز مکروه ده؛ ځکه په دې جامه کې د ورېښمو کپړه او ټوکر په مينځ کې دی نو هغه هم په اغوستلو کې راځي (ځکه جامه چې هر څو غبرګه او هر څو کپړې پکښې کارول سوي وي، چې واغوستل سي نو ټوله غبرګونه او کپړې [ټوکران] يې واغوستل سوه. لهذا د ورېښمو کپړه هم پکښې راله). نو ځکه داسې جامه مکروه ده.

لېکن که يو جامه داسې وي چې پاسنی او لاندينی استرې له پمبې، يا چمړې وغيره څخه وي او په مينځ کې يې د پمبې د بالښته په څېر ورېښم اچول سوي وي (يا په بله وينا دا چې دوه غبرګې کپړه وي او په مينځ کې يې د ورېښمو ټوټې اچول سوي او تخته کړل سوي وي. او دا پاسنی او لاندينی استر يې له پمبې. وړی يا چمړې څخه وي)، نو داسې څه مکروه نه دي؛ ځکه دلته په مينځ کې د ورېښمو کپړه او ټوکر نه دی راغلی، بلکې د پمبه وو په څېر ورېښم په مينځ کې وراچول سوي دي يا په بله وينا دا چې په ورېښمو سره يو جامه ډکه کړل سوې ده چې بالښت او کوربچه هم په دې ضمن کې راځي، نو ځکه بلا کراهته د دې استعمالول صحيح دي.

(۲)... قال وماكان إلخ: په دې سره هغه مخکنی خبره کوي چې که د کپړې او ټوکر د بَر تارونه د ورېښمو وي او اوږده تارونه (سَدی) يې د بل څه وي، نو څرنګه چې اعتبار د بَر تارو لره دی او دلته د بَر تارونه يې ورېښمي دی، نو داسې کپړه مکروه ده. خو څرنګه چې په جنګ کې ورته ضرورت سته. نو د ضرورت پر بناء په جنګ کې يې اغوستل بلا کراهته جائز او روا دي.

يادونه: وَقَالَ الشُّرَّاحُ: جُمْلَةُ وُجُوهِ هٰذِهِ الْمَسْأَلَةِ ثَلَاثَةٌ: ① الْأَوَّلُ مَا يَكُوْنُ كُلُّهُ حَرِيْرًا (يعنی لُحمته وسَداه کلاهما من الحرير) وَهُوَ الدِّيْبَاجُ. لَا يَجُوْزُ لُبْسُهُ فِي غَيْرِ الْحَرْبِ بِالِاتِّفَاقِ. وَأَمَّا فِي الْحَرْبِ فَعِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ لَا يَجُوْزُ وَعِنْدَهُمَا يَجُوْزُ. ② وَالثَّانِيْ مَا يَكُوْنُ سَدَاهُ حَرِيْرًا وَلُحْمَتُهُ غَيْرَهُ فَلَا بَأْسَ بِلُبْسِهِ فِي الْحَرْبِ وَغَيْرِهِ. ③ وَالثَّالِثُ عَكْسُ الثَّانِيْ وَهُوَ مُبَاحٌ فِي الْحَرْبِ دُوْنَ غَيْرِهِ.

د سرو يا سپينو زرو زېورات او ګاڼي استعمالول د خلکو لپاره څنګه دي؟

قَالَ: وَلَا يَجُوزُ لِلرِّجَالِ التَّحَلِّيْ بِالذَّهَبِ فرمايي: او جائز نه دي د خلکو [سړيو] لپاره په سرو زرو سره ښکلا اختيارول [يعني د سرو زرو زېورات استعمالول ورلره جائز نه دي] لِمَا رَوَيْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَلَا بِالْفِضَّةِ او نه په سپينو زرو سره لِأَنَّهَا فِي مَعْنَاهُ ځکه چي سپين زر هم د سرو زرو په معنیٰ سره دي إِلَّا بِالْخَاتَمِ وَالْمِنْطَقَةِ وَحِلْيَةِ السَّيْفِ مِنَ الْفِضَّةِ مګر د سپينو زرو په ګوتمۍ، کمربندي او د توري په دسته [موټي] سره [ښکلا اختيارول جواز لري] تَحْقِيقًا لِمَعْنَى النَّمُوذَجِ د دې لپاره چي د نمونې معنیٰ ثابته کړل سي [د دې وضاحت مخکي وسو] وَالْفِضَّةُ أَغْنَتْ عَنِ الذَّهَبِ او سپينو زرو له سرو زرو څخه استغنا پيدا کړه [يعني چي سپين زر وي، نو سرو زرو ته ضرورت نسته (د خلکو په حق کي)] إِذْ هُمَا مِنْ جِنْسٍ وَاحِدٍ ځکه دا دواړه له يوه جنس څخه دي كَيْفَ وَقَدْ جَاءَ فِي إِبَاحَةِ ذٰلِكَ آثَارٌ او څنګه به وي حال دا چي د سپينو زرو د روايښت په هکله څو آثار راغلي دي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَلَا يَتَخَتَّمُ إِلَّا بِالْفِضَّةِ او په جامع صغير کي دي: چي ګوتمۍ به نه اغوندي مګر صرف د سپينو زرو وَهٰذَا نَصٌّ عَلَى أَنَّ التَّخَتُّمَ بِالْحَجَرِ وَالْحَدِيدِ وَالصُّفْرِ حَرَامٌ او دا [جمله د جامع صغير] پر دې خبره صراحت دی چي د ډبرې، اُوسپني او ژړو ګوتمۍ اغوستل [په ګوته کول] حرام دي «وَرَأَى رَسُولُ اللهِ ﷺ[1] عَلَى رَجُلٍ خَاتَمَ صُفْرٍ او نبي کريم ﷺ پر [ګوته د] يو سړي د ژړو ګوتمۍ وليده فَقَالَ: مَالِيْ أَجِدُ مِنْكَ رَائِحَةَ الْأَصْنَامِ نو ويې فرمايل چي: څه دي مالره [څه خبره ده!] چي زه ستا څخه د بُتانو بوی محسوسوم وَرَأَى عَلَى آخَرَ خَاتَمَ حَدِيدٍ او پر يو بل سړي يې داوسپني ګوتمۍ وليده فَقَالَ: مَالِيْ أَرَى عَلَيْكَ حِلْيَةَ أَهْلِ النَّارِ» نو ويې فرمايل: څه دي مالره چي پر تا د دوږخيانو زېور وينم وَمِنَ النَّاسِ مَنْ أَطْلَقَ الْحَجَرَ الَّذِي يُقَالُ لَهُ يَشَبُ او ځينو حضراتو د هغه ډبري اجازت ورکړی دی چي "يشب". ورته ويل کيږي

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الخاتم، باب ما جاء في خاتم الحديد، ص:۵۹۲، حديث رقم:۴۲۲۳. والترمذي في كتاب اللباس، ص:۴۲۳، حديث رقم:۱۷۸۵).

لِأَنَّهٗ لَيْسَ بِحَجَرٍ ځکه هغه ډبره نه ده إِذْ لَيْسَ لَهٗ ثِقَلُ الْحَجَرِ ځکه چي هغې لره د ډبري درونډ والې نسته [یعني د ډبري په شان وزن نه لري] وَإِطْلَاقُ الْجَوَابِ فِي الْكِتَابِ يَدُلُّ عَلٰى تَحْرِيْمِهٖ او په کتاب [جامع صغير] کي د جواب مطلق کېدل د "یشب" پر حراموالي دلالت کوي.

اللغات: ﴿التحلّي﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: زینت او ښکلا اختیارول، په یو څه ځان ښایسته کول (یو شی د ځان یا بل څه لپاره زېور جوړول). ﴿مِنطقة﴾ کمر بند (ملاوستنی). هغه پټۍ چي ملا په تړل کیږي. ﴿نموذج﴾ نمونه. مثال. ﴿أغنت﴾ د افعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: مستغني کول. بې پروا کول. یو شي ته ضرورت نه پاته کول. ﴿لا یتختّم﴾ د تفعّل له بابه د نفي صیغه ده: ګوتمۍ په ګوته کول. ګوتمۍ اغوستل. ﴿صُفر﴾ ژړ. مشهوره فلز دی. ﴿أجِد﴾ د ضرب له بابه د واحد متکلم صیغه ده: پیدا کول. موندل. ﴿حِلْيَة﴾ زېور. د ښکلا شی. ﴿یشب﴾ یو ډول کاڼی دی کوم چي په مختلفه رنګو (ژړ، سور وغیر) سره موندل کیږي. ﴿ثقل﴾ بوج. درونډ والی. د وزن زیاتوالی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي د مسلمانانو خلکو لپاره نه د سرو زرو زېور استعمالول جائز دي او نه د سپینو زرو، خو په سپینو زرو کي بعضې شیان مستثنیٰ دي، مثلاً ګوتمۍ. کمربند. د توري موټ او داسي نور چي که دا شیان له سپینو زرو څخه وي. نو په استعمال کي یې هیڅ حرج نسته.

لما روینا إلخ: فرمایي چي د سرو زرو د حرمت دلیل خو هغه مخکینی حدیث دی یعني "هٰذان حرامان علی ذکور أمتي"، او هلته که څه هم د سپینو زرو حکم بیان سوی نه دی، خو څرنګه چي سپین زر د سرو زرو په معنیٰ سره دي او تر ډېري اندازې دواړه په ښکلا تر لاسه کولو کي سره ورته دي. نو ځکه کوم حکم چي د سرو زرو دی، هغه به د سپینو زرو هم وي. خو ګوتمۍ وغیره مستثنیٰ دی چي د دوی پر جواز آثار او روایات نقل سوي دي.

تحقیقا لمعنی النموذج إلخ: د دې جملې مطلب دا دی چي څرنګه وړېښم د ضرورت پر بناء جائز ګرځول سوي دي چي یو مسلمان هغه د خپل ځان لپاره نمونهٔ عمل ګرځوي (چي وضاحت یې مخکي وسو). نو همداسي سپین زر هم په ګوتمۍ وغیره کي د ضرورت پر بناء د نمونې په توګه جائز ګرځول سوي دي. او څرنګه چي سره او سپین زر دواړه هَمْ معنیٰ دي. نو ځکه سپین زر کوم چي ادنیٰ دي. صرف د هغه په نمونې پېشولو باندي اکتفاء سوې ده او د اعلیٰ یعني د سرو زرو له جواز او له نمونې پېشولو څخه احتراز سوی دی.

وفي الجامع الصغير إلخ: امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي په ټينګار سره دا ويلي دي چې مسلمان دي له سپينو زرو څخه بغير د بل شي ګوتمي نه په ګوته کوي، د جامع صغير دا عبارت د دې خبري څرګند ثبوت دی چې د ډبري، اوسپني وغيره ګوتمۍ په ګوته کول ناجائز او حرام دي او خپله نبي ﷺ د داسي کسانو په حق کي د ناراضۍ اظهار کړی دی. حديثونه په عبارت کي ذکر سوه.

ومن الناس إلخ: فرمايي ځيني حضرات چي له هغوی څخه شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله هم دی د يَشب نومي ډبري ګوتمۍ جائز ګرځولې ده. او وجه يې دا بيان کړې ده چي هغه ډبره نه ده: ځکه د ډبري په څېر وزنداره نه ده نو من کل وجه ډبره نه سوه. لهذا د هغې استعمال جائز کېدل پکار دي چي په ګوته کړل سي. لېکن د جامع صغير په دې عبارت "لا يتختم إلا بالفضة" کي د يَشب ډبري وغيره هيڅ تفصيل نسته، نو ځکه د هغې ګوتمۍ هم پکښي داخله ده چي اغوستل يې صحيح نه دي.

د سرو زرو يا سپينو زرو ګوتمۍ استعمالول د خلکو لپاره څنګه دي؟

وَالتَّخَتُّمُ بِالذَّهَبِ عَلَى الرِّجَالِ حَرَامٌ او د سرو زرو ګوتمۍ اغوستل [په ګوته کول] پر خلکو حرام دي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ «أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى عَنِ التَّخَتُّمِ بِالذَّهَبِ» [1] او له حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی: چي نبي ﷺ د سرو زرو له ګوتمۍ اغوستو څخه منع کړې ده وَلِأَنَّ الْأَصْلَ فِيهِ التَّحْرِيمُ او ځکه چي په سرو زرو کي حراموالی اصل دی وَالْإِبَاحَةُ ضَرُورَةُ الْخَتْمِ أَوِ النَّمُوذَجِ او [د ګوتمۍ] روايښت د مهر لګولو يا د نمونې د ضرورت په خاطر دی وَقَدِ انْدَفَعَتْ بِالْأَدْنَى وَهُوَ الْفِضَّةُ او دا ضرورت په ادنیٰ يعني په سپينو زرو سره پوره سو [يعني دا ضرورت په سپينو زرو سره هم پوره کېږي] وَالْحَلْقَةُ هِيَ الْمُعْتَبَرَةُ او [په ګوتمۍ کي] اعتبار د ګوتمۍ حلقې لره دی لِأَنَّ قِوَامَ الْخَاتَمِ بِهَا ځکه چي د ګوتمۍ قايموالی [او جوړښت] په همدې حلقه سره دی وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْفَصِّ او د ګوتمۍ غمي لره اعتبار نسته حَتَّى يَجُوزَ أَنْ يَكُونَ مِنْ حَجَرٍ تر دې چي دا جائز دي چي د ګوتمۍ غمۍ له ډبري څخه وي وَيَجْعَلَ الْفَصَّ إِلَى بَاطِنِ كَفِّهِ او غمۍ به د خپل ورغوي [الاس] دننه طرف ته ګرځوي [يعني غمۍ به يې د ورغوي وطرف ته کوي] بِخِلَافِ النِّسْوَانِ په خلاف د

[1] تخريج: أخرجه الترمذي، باب ما جاء في كراهية خاتم الذهب، ص:٤١٥، حديث رقم:١٧٣٧.

ښځو لِأَنَّهُ تَزَيُّنٌ فِيْ حَقِّهِنَّ ځکه ګوتمۍ اغوستل [په ګوته کول] د ښځو په حق کي ښکلا [او سينګار کول] دي وَإِنَّمَا يَتَخَتَّمُ الْقَاضِيْ وَالسُّلْطَانُ او ګوتمۍ به قاضي او باچا اغوندي لِحَاجَتِهِ إِلَى الْخَتْمِ. ځکه چي د هغه [قاضي او باچا] مهر لګولو ته ضرورت دی وَأَمَّا غَيْرُهُمَا فَالْأَفْضَلُ أَنْ يَتْرُكَهُ او له دې دواړو څخه بغير [بل چا] لره افضل دا ده چي هغه پرېږدي [ګوتمۍ په ګوته نه کړي] لِعَدَمِ الْحَاجَةِ إِلَيْهِ ځکه چي مهر لګولو ته د بل چا ضرورت نسته.

اللغات: ﴿تختم﴾ د تفعل د باب مصدر دی: ګوتمۍ په ګوته کول. ګوتمۍ اغوستل. ﴿ختم﴾ د نصر ماضي ده: مهر لګول (ټاپه لګول). ﴿فصّ﴾ د ګوتمۍ غمی. ﴿تزيّن﴾ د تفعل د باب مصدر دی. د تجلی په معنیٰ سره دی يعني: زينت او ښکلا اختيارول (خو تحلی عموماً د سرو او سپينو زرو سره استعماليږي).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د خلکو لپاره د سرو زرو ګوتمۍ اغوستل حرام دي؛ ځکه په حديث شريف "هٰذَانِ حَرَامَانِ عَلٰى ذُكُوْرِ أُمَّتِيْ" کي دا صراحتاً ذکر سوي دي، همدارنګه له حضرت علي رضي الله عنه څخه هم د سرو زرو د ګوتمۍ اغوستلو د حرمت په هکله حديث روايت سوی دی. او د "هٰذَانِ حَرَامَانِ..." پر بناء په سرو زرو کي اصل شی حرمت دی، خو د مهر او نمونې د ضرورت په خاطر يې حلت او اباحت ثابت سوی دی. او کله چي (د خلکو په حق کي) دا ضرورت په ادنیٰ يعني په سپينو زرو سره پوره کيږي (لکه مخکي چي هم ذکر سوه)، نو اعلیٰ ته هيڅ ضرورت نسته: ځکه دا قاعده ده چي: "الضرورة تتقدّر بقدرها".

والحلقة إلخ: فرمايي د ګوتمۍ د جوړښت ټوله مدار پر حلقه او کړۍ دي (ځکه ګوتمۍ همدې ته وايي چي د حلقې په شيان ګول جوړه کړل سي او بيا پر سر د غمي ځای ورکول سي)، نو ځکه اعتبار صرف حلقې لره دی. نه غمي وغيره لره، همدا وجه ده که د ګوتمۍ حلقه له سپينو څخه وي او په حلقه کي اېښول سوی غمی د ډبري وي نو جائز دي، لېکن که د ګوتمۍ حلقه له ډبري څخه وي، نو دا جائز نه دي، ځکه د ګوتمۍ په حلت او حرمت کي اعتبار حلقې لره دی.

ويجعل الفصّ إلخ: څرنګه چي د ګوتمۍ اغوستل د هغه سړي په حق کي منقول دي چي د مهر (ټاپه) لګولو په غرض يا د نمونې په توګه يې اغوندي، نو ځکه سړي لره پکار دي چي د ګوتمۍ د غمي والا طرف د ورغوي وطرف ته ساتي، چي له زينت او ښکلا څخه محفوظ پاته وي، خو څرنګه چي ښځې د زينت او ښکلا لپاره ګوتمۍ اغوندي، نو ځکه هغوی دي يې ښکاره ساتي يعني د ګوتي پر پاسني طرف دي يې ساتي.

وإنما يتختم إلخ: د دې حاصل دا دی چې څرنګه د خلکو په حق کې د ګوتمۍ اغوستلو اصل مقصد مهر لګول دي، نو څوک چې دا مقصد تر سره کوي، هم هغه ته ګوتمۍ اغوستل پکار دي، چې په عامه توګه قاضي یا باچا دغه کار ترسره کوي. لهذا له دوی څخه بغیر د بل چا په حق کې ضرورت ختم نسته، نو د بل چا لپاره د ګوتمۍ نه استعمالول ښه دي.

یادونه: د اوسپني وغیره ګوتمۍ جائز کېدل پکار دي، لکه څرنګه چې د ابو داؤد په یو حدیث کې ذکر سوي دي: كان خاتم النبي ﷺ من حديد ملوى عليه فضة (ابو داؤد، باب ما جاء في خاتم الحديد، ص: ۵۹۲، حديث رقم: ۴۲۲۳، وايضا في مصنف ابن أبي شيبة، حديث رقم: ۲۵۱۲۴)

د سرو زرو نور شيان استعمالول

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِمِسْمَارِ الذَّهَبِ يُجْعَلُ فِي حَجَرِ الْفَصِّ أَيْ فِي ثَقْبِهِ فرمايي: او پروا نسته په دې کې چې د سرو زرو مېخ د ګوتمۍ د غمي په سوري کې ولګول سي لِأَنَّهُ تَابِعٌ ځکه دا مېخ تابع دی كَالْعَلَمِ فِي الثَّوْبِ لکه په کپړه کې [لګول سوی] نقش ونګار [چې د کپړې تابع دی] فَلَا يُعَدُّ لَابِسًا لَهُ نو [د داسي مېخ والا ګوتمۍ اغوستونکي] به د سرو زرو اغوستونکی نه شمېرل کېږي قَالَ: وَلَا تُشَدُّ الْأَسْنَانُ بِالذَّهَبِ وَتُشَدُّ بِالْفِضَّةِ فرمايي: او نه به تړل کېږي غاښونه په [تار د] سرو زرو سره [بلکي] تړل کېږي به په [تار د] سپينو زرو سره وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ ۞: لَا بَأْسَ بِالذَّهَبِ أَيْضًا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په سرو زرو هم څه پروا نه لري وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ مِثْلُ قَوْلِ كُلٍّ مِنْهُمَا او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه د دوی [طرفينو] د هر يوه د قول په څېر [قول نقل سوی] دي [يعني له هغه څخه هم دوه قوله نقل سوي دي] لَهُمَا: «أَنَّ عَرْفَجَةَ بْنَ أَسْعَدَ ❶ أُصِيبَ أَنْفُهُ يَوْمَ الْكُلَابِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې د کلاب [د جنګ] په ورځ د حضرت عرفجه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پزه ضايع سوه [پرې کړل سوه] فَاتَّخَذَ أَنْفًا مِنْ فِضَّةٍ نو هغه د سپينو زرو پزه جوړه کړه فَأَنْتَنَ بيا هغه بد بويه [خرابه] سوه فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ عَلَيْهِ السَّلَام بِأَنْ يَتَّخِذَ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ» نو رسول الله ﷺ هغه په دې سره امر وکړی چې د سرو زرو پزه جوړه کړي [ولګوي]

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله كما ظهر من دأب المصنف، و كما ذكر في الخانية (ج:۴، ص:۳۷۱)، وملتقى الأبحر (ج:۴، ص:۱۹۶)، و رد المحتار (ج:۵، ص:۲۵۵). [القول الراجح ج:۲، ص:۳۰۰]

❶ تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب ما جاء في ربط الاسنان بالذهب، ص:۵۹۳، حديث رقم:۴۲۳۲.

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْأَصْلَ فِيهِ التَّحْرِيمُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي په سرو زرو کي حراموالی اصل دی وَالْإِبَاحَةُ لِلضَّرُورَةِ او روايښت د ضرورت په وجه دی وَقَدِ انْدَفَعَتْ بِالْفِضَّةِ وَهِيَ الْأَدْنَى او ضرورت په سپينو زرو يعني په ادنیٰ سره پوره سو [يعني کوم ضرورت چي دی هغه په سپينو زرو هم بېله شکه پوره کېږي] فَبَقِيَ الذَّهَبُ عَلَى التَّحْرِيمِ نو سره زر پر [خپل اصل] حراموالي پاته سوه وَالضَّرُورَةُ فِيمَا رُوِيَ لَمْ تَنْدَفِعْ فِي الْأَنْفِ دُونَهُ او کوم حديث چي [د حضرت عرفجه په هکله] روايت سوی دی په هغه کي ضرورت له سرو زرو څخه بغير [يعني په سپينو زرو سره] پوره نه سو، حَيْثُ أَنْتَنَ ځکه چي [د سپينو زرو] پزه بدبويه سوه.

اللغات: ﴿مِسمار﴾ مېخ، جمع: مَسَامِير. ﴿جُحر﴾ غار. ﴿ثَقب﴾ سوری. ﴿عَلَم﴾ د دې لفظ يوه معنیٰ ده: نقش ونګار (نخش ونګار)، د کپړې ګلکاري. ﴿أنتن﴾ د افعال د باب ماضي ده: بدبويه کېدل. خوسا کېدل. خرابېدل.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... اعتبار په هر شي کي متبوع لره وي. نه تابع لره. لهذا که د سرو زرو مېخ وغيره د غمي په سوري کي نصب کړی سي. نو د داسي ګوتمۍ او غمي په استعمالولو کي څه حرج نسته؛ ځکه چي دلته سره زر تابع دي او پر تابع هيڅ حکم نه لګول کېږي. لهذا د داسي ګوتمۍ او غمي استعمالونکی د سرو زرو (ذهب) استعمالونکی نه دی.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د سرو زرو په تار سره غاښ تړل جائز نه دي. همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله يو قول هم دی. خو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز چي څرنګه د سپينو زرو په تار سره غاښ تړل جائز دي، همداسي د سرو زرو په تار سره هم جائز دي. همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دويم قول دی.

د صاحبينو دليل: صاحبين رَحِمَهُمَا الله د حضرت عرفجه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حديث سره دليل نيسي. فرمايي چي د "جنګ کلاب" په ورځ د هغه پزه پرې سوې وه. نو نبي ﷺ هغه ته د سرو زرو د پزې جوړولو حکم وکړی. لهذا که چيري په دې هکله سره زر جائز نه وای. نو نبي ﷺ به دا حکم نه کولای. او کله چي ټوله پزه د سرو زرو جوړول جائز دي. نو په غاښو کي به معمولي غوندي تار لګول خو په درجه اولیٰ جائز وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي اصل په سرو زرو کي حرمت دی. او اباحت عارضي دی. او کله چي تر سرو زرو په ادنیٰ يعني په سپينو زرو سره ضرورت پوره کېږي. نو بيا خامخا د سرو زرو د تار لګولو يا په سرو زرو سره د دکولو څه ضرورت دی. لهذا کله چي په سپينو زرو سره هم کار کېږي. نو د سرو زرو به قطعاً اجازت نه ورکول کېږي.

ومارُوِيَ إلخ: فرمايي کوم حضرات چي د حضرت عرفجه رضي الله عنه په حديث سره دليل نيسي. د هغه دوه جوابه دي:

①... په دغه حديث سره دليل نيول صحيح نه دي؛ ځکه دا حديث خو د پزي په هکله دی. د غاښ هيڅ تذکره پکښې نسته.

②... دويم جواب دا دی چي مقصد ضرورت پوره کېدل دي. او د حضرت عرفجه ضرورت خو په سپينو زرو سره پوره نه سوه چي په هغه کي يې پرې سوې پزه بدبويه سوه. نو ځکه هغه ته د سرو زرو د پزي جوړولو اجازت ورکول سو. تاسي خپله فکر وکړئ! چي حضرت عرفجه رضي الله عنه ته هم اول د ادنى يعني د سپينو زرو حکم سوی وو. خو د مجبورۍ او عذر په وجه بيا د اعلىٰ (سرو زرو) حکم ورته وسو. او د ضرورت په وخت کي خو موږ هم په حلت او جواز ګويا يو چي "الضرورات تبيح المحظورات".

د کوچني بچيانو او هلکانو لپاره د وريښمو او سرو زرو استعمالول

قَالَ: وَيُكْرَهُ أَنْ يُلْبَسَ الذُّكُوْرَ مِنَ الصِّبْيَانِ الذَّهَبُ وَالْحَرِيْرُ فرمايي: او مکروه دي دا چي نارينه کوچنيانو ته سره زر يا وريښم ور واغوستل سي لِأَنَّ التَّحْرِيْمَ لَمَّا ثَبَتَ فِيْ حَقِّ الذُّكُوْرِ وَحَرُمَ اللُّبْسُ ځکه کله چي د نارينه وو په حق کي [د دې شيانو] حراموالى ثابت سو او اغوستل [يې] حرام سوه حَرُمَ الْإِلْبَاسُ نو [بل چا ته يې] ور اغوستل به هم حرام وي كَالْخَمْرِ لَمَّا حَرُمَ شُرْبُهَا حَرُمَ سَقْيُهَا لکه شراب چي کله د هغه څښل حرام دي نو په [بل چا] څښل يې هم حرام دي.

اللغات: ﴿ذکور﴾ جمع د ذَکَرٌ: نارينه. ﴿سقي﴾ د ضرب د باب مصدر دی: په څښل، اوبول.

تشريح: مسئله: دا ده چي کوچنيان که څه هم مکلف نه دي، خو بيا هم د دوی لپاره وريښم او سره زر استعمالول مکروه دي، ځکه کله چي د خلکو لپاره د دې شيانو اغوستل او استعمالول حرام دی، نو همداسي به کوچنيانو ته هم د دې ور اغوستل حرام وي، مثلاً شراب چي د مسلمان لپاره د هغه څښل حرام دي، نو په بل چا هم د هغه څښل حرام دي؛ ځکه په حديث کي دا مضمون وارد سوی دی چي "الدال على الخير كفاعله والدال على الشر كفاعله".

د مخ وغيره د وچولو لپاره ځانګړی دسمال ګرځول (تفصيلي حکم)

قَالَ: وَتُكْرَهُ الْخِرْقَةُ الَّتِيْ تُحْمَلُ فَيُمْسَحُ بِهَا الْعَرَقُ فرمايي: او مکروه ده د کپړې هغه ټوټه کوم چي د ځان سره ورل کيږي بيا په هغه سره خوله وچول کيږي [يعني د کپړې ټوټه (دسمال) چي د خولې وغيره

وچولو په غرض یې د ځان سره ګرځوي. دا مکروه دي] لِأَنَّهُ نَوْعُ تَجَبُّرٍ وَتَكَبُّرٍ ځکه دا یو ډول جبر او لویي کول [ځان لوړ ښودل] دي وَكَذَا الَّتِيْ يُمْسَحُ بِهَا الْوُضُوْءُ أَوْ يُمْتَخَطُ بِهَا او همدارنګه هغه کپړه چي په هغه سره د اودس اوبه وچول کیږي یا په هغه سره پزه پاکول کیږي وَقِيْلَ: إِذَا كَانَ عَنْ حَاجَةٍ لَا يُكْرَهُ او ویل سوي دي: چي کله د ضرورت په وجه وي نو مکروه نه دي وَهُوَ الصَّحِيْحُ او همدا صحیح ده وَإِنَّمَا يُكْرَهُ إِذَا كَانَ عَنْ تَكَبُّرٍ وَتَجَبُّرٍ او مکروه هلته دي کله چي د کبر او جبر کولو په توګه وي وَصَارَ كَالتَّرَبُّعِ فِي الْجُلُوْسِ او دا داسي سو لکه چارزانو کښېنستل وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَرْبِطَ الرَّجُلُ فِيْ أُصْبُعِهِ أَوْ خَاتَمِهِ الْخَيْطَ لِلْحَاجَةِ او څه پروا نسته په دې کي چي سړی پر خپله ګوته یا پر خپلي ګوتمۍ د یو ضرورت په وجه تار [سپنسی] وتړي وَيُسَمّٰى ذٰلِكَ الرَّتَمُ وَالرَّتِيْمَةُ او دغه تار ته رتم او رتیمه ویل کیږي وَكَانَ ذٰلِكَ مِنْ عَادَةِ الْعَرَبِ او دا د عربو له عادت څخه وو قَالَ قَائِلُهُمْ: د عربو یو [شعر] ویونکی وایي:

لَا يَنْفَعَنَّكَ الْيَوْمَ إِنْ هَمَّتْ بِهِمْ

هیڅکله به نن تا ته نفع [ګټه] نه وکړي که چیري ښځي د خلکو سره [د بدکاری] اراده کړې وي

كَثْرَةُ مَا تُوْصِيْ وَتَعْقَادُ الرَّتَمْ

ډېروالی د وصیت چي ته یې کوې او تار چي ته یې [پر ګوته وغیره] تړې [یعني ګټه به نه وکړي ستا ډېر وصیت کول او ستا تار تړل]

وَقَدْ رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عليه السلام أَمَرَ [1] بَعْضَ أَصْحَابِهِ بِذٰلِكَ او روایت سوی دی چي نبي ﷺ خپل یو صحابي ته د دې [تار تړلو] حکم وکړی وَلِأَنَّهُ لَيْسَ بِعَبَثٍ او ځکه چي دا عبث نه دي لِمَا فِيْهِ مِنَ الْغَرَضِ الصَّحِيْحِ ځکه په دې کي یو صحیح غرض دی وَهُوَ التَّذَكُّرُ عِنْدَ النِّسْيَانِ او هغه د هیري پر مهال یادښل دي [یعني پر ګوته وغیره تار تړل د یو صحیح مقصد په غرض سره کیږي او هغه دا چي که فلانی کار را څخه هېر سو. نو تار ته په کتلو سره به را ته یاد سي].

---

[1] قال صاحب الثمار الهدايه: لم أجده وقال صاحب احسن الهدايه: أخرجه الطبراني في معجم الوسيط عن بشر بن ابراهيم الانصاري بمعناه.

اللغات: ﴿خِرقة﴾ د کپړې (ټوکر) ټوټه، ګودړ. ﴿عَرَق﴾ خوله. ﴿تجبّر﴾ د تفعل د باب مصدر دی: سرکښه کېدل، کبر او لويي کول. ﴿يتمخط﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: پزه صفا کول، ګرنګ وغيره پاکول. ﴿تربّع﴾ دا هم د تفعّل مصدر دی: چار زانو کښېنستل. ﴿خيط﴾ تار، سپنسی. ﴿عبث﴾ لغو او بې فايدې کار. ﴿همّت﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده. د دې باب يو معنیٰ ده: پخه اراده کول. ﴿تعقاد﴾ صاحب د حاشيې وايي چې "تَعْقَاد" مصدر دی په معنیٰ د عَقْد سره پر وزن د تَفْعَال دی لکه تلعَاب او تهداب. ﴿الرّتم﴾ او الرّتمة او الرّتيمة: هغه تار کوم چې د يو علامت يا د يو حاجت يادوني لپاره پر ګوته يا ګوتمۍ تړل کيږي. ﴿تذكّر﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: يادېدل (په ياد کېدل)، ياد ساتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې ځيني خلک د خولې (عرق) وچولو لپاره يا تر اودس وروسته داندامو د وچولو يا د پزې پاکولو لپاره دُسمال وغيره د ځان سره ساتي، که چيري دا تکبّر او خيال خانۍ لپاره وي، نو هغه د ځان سره ساتل او استعمالول مکروه دي؛ او بل دا چې دا د اهلِ عجمو طريقه ده، لهذا له کراهت څخه به خالي نه وي، او که چيري د ضرورت پر بناء وي، نو جائز دي. لکه چار زانو کښېنستل چې د خيال او تکبّر په غرض مکروه دي او د مجبورۍ او ضرورت په وجه جائز دي، همداسي د دُسمال مسئله ده.

ولابأس إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د يو کار او شي د ياد ساتلو په خاطر يا د داسي بل ضرورت په خاطر که څوک پر خپل ګوته يا ګوتمۍ تار (سپنسی) وغيره وتړي، نو شرعاً دا جائز دي؛ ځکه دا فعل يې عبث نه دی؛ ځکه په دې سره يې د يو جائز مقصد حاصلولو لپاره آسانه تدبير کړی دی؛ او خپله رسول الله ﷺ هم يو صحابي ته د داسي مقصد لپاره د تار وغيره د تړلو اجازت ورکړی دی، او عربو به هم چې کله چا ته يو تنبيه ورکوله يا يو شرير انسان به يې له خپل بدي او شرارت څخه منع کوی، نو د هغه پر ګوته وغيره به يې تار تړی، د دې لپاره چې د بدي کولو پر مهال هغه تار ته ګوري او له خپل بدۍ څخه ځان ساتي، لکه څرنګه چې په شعر کي هم دې طرف ته اشاره سوې ده چې که يو نبځه په بديو اموخته او عادي سي او د خلکو سره د بدکارۍ کولو ژمنه وکړي، نو هغې ته چې ته څومره هم نصيحت وکړې، هغه بې کاره او د هغې پر ګوته وغيره په تار تړلو سره هيڅ نه کيږي. خو څرنګه چې د يو کار پر هېرولو يا د يو کار د ياد ساتلو په غرض مذکوره طريقه استعمالول مفيده ثابتيږي، لهذا د هغه ګنجائش سته. خو د جاهله او ناخبره عوامو لپاره دا طريقه پرېښودل (تار نه تړل) غوره دي ځکه چې اوس بېلابېلو بدعاتو او خرافاتو د انسان زړه او دماغ په بده توګه متأثر کړی دی. (احسن الهدايه)



فَصْلٌ فِي الْوَطْيِ وَالنَّظَرِ وَاللَّمْسِ

(دا) فصل په (بیان د) وطي کولو، کتلو او مسه کولو کي دی

د ښځي د بدن هغه اعضاء چي په عورت کي داخل نه دي

قَالَ: وَلَا يَجُوْزُ أَنْ يَنْظُرَ الرَّجُلُ إِلَى الْأَجْنَبِيَّةِ إِلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا فرمايي: او جائز نه دي دا چي سړی وګوري د پردی ښځي وطرف ته مګر د هغې مخ او د هغې ورغوي [لاسونه] لِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ [النور: ٣١] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: او نه دي ښکاره کوي ښځي خپل ښکلا مګر هغه کوم چي خپله ښکاري قَالَ عَلِيٌّ وَابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ: مَا ظَهَرَ مِنْهَا الْكُحْلُ وَالْخَاتَمُ حضرت علي او ابن عباس (رض) فرمايلي دي چي: "ما ظهر منها" رانجه او ګوتمی دي وَالْمُرَادُ مَوْضِعُهُمَا وَهُوَ الْوَجْهُ وَالْكَفُّ او مراد د رانجه او ګوتمی ځای دی چي هغه مخ او ورغوی [لاس] دی كَمَا أَنَّ الْمُرَادَ بِالزِّيْنَةِ الْمَذْكُوْرَةِ مَوْضِعُهَا لکه څرنګه چي په [آيت کي په] ذکر سوي ښکلا سره مراد د هغه ځای دی وَلِأَنَّ فِي إِبْدَاءِ الْوَجْهِ وَالْكَفِّ ضَرُوْرَةً او ځکه چي د مخ او ورغوي په څرګندولو [ښکاره کولو] کي ضرورت دی لِحَاجَتِهَا إِلَى الْمُعَامَلَةِ مَعَ الرِّجَالِ أَخْذًا وَإِعْطَاءً وَغَيْرَ ذٰلِكَ د ښځو د محتاجه کېدو په وجه د خلګو سره معامله کولو ته د اخيستلو او ورکولو او داسي نورو په اعتبار سره [په بله وينا دا: او ځکه چي په اخيستنه او ورکونه او داسي نورو کي د خلګو سره د مخامخ کېدو د ضرورت په خاطر د مخ او لاس ښکاره کولو ته ضرورت دی] وَهٰذَا تَنْصِيْصٌ عَلَى أَنَّهُ لَا يُبَاحُ النَّظَرُ إِلَى قَدَمِهَا او دا په دې خبره صراحت کول دي چي د ښځي پښې ته کتل روا نه دي وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ أَنَّهُ يُبَاحُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي دا روا دي لِأَنَّ فِيْهِ بَعْضَ الضَّرُوْرَةِ ځکه په دې کي هم څه ضرورت سته وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهُ يُبَاحُ النَّظَرُ إِلَى ذِرَاعِهَا أَيْضًا او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي د ښځي بازو [مټ] ته کتل هم روا دي لِأَنَّهُ قَدْ يَبْدُوْ مِنْهَا عَادَةً ځکه عادتاً هغه هم ځيني وخت له ښځي څخه ښکاره کيږي.

اللغات: ﴿كف﴾ ورغوى سره له ګوتو. الرَّاحَةُ مَعَ الْأَصَابِعِ (إلى منتهى الأصابع)، سُمِّيَتْ بِذٰلِكَ لِأَنَّهَا تَكُفُّ الْأَذٰى عَنِ الْبَدَنِ. ﴿كحل﴾ رانجه. ﴿إبداء﴾ دافعال دباب مصدر دى: ښکاره کول. ښکاره کول. ﴿ذِراع﴾ بازو. مټ. لاس له څنګلو څخه د ګوتو تر سره (اليد من المرفق إلى أطراف الأصابع).

تشریح: مسئله: دا ده چي له مخ او ورغوو څخه بغير نور د ښځي ټوله بدن په ستر عورت کي داخل دى. لهذا له مذکوره دوو اندامو څخه بغير د پردى ښځي بل اندام ته کتل جائز نه دي: دليل دا آيت دى ﴿وَلَا يُبْدِينَ إلخ﴾ . د حضرت علي او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په تفسير د دغه آيت کي د همدې دوو شيانو استثناء سوې ده، او څرنګه چي ښځو ته د مواضعِ زينة د ټولو حکم سوى دى. همداسي د مواضع سرمه او ګوتمى يعني له مخ او ورغوو څخه بغير د نورو ځايونو هم د ټولو حکم دوى ته سوى دى.

او د مذکوره دوو ځايونو د نه پټولو اجازت ځکه ورکول سوى دى چي په دې کي ضرورت او مجبوري ده: ځکه د ښځو هم د خلکو سره معامله او سودا کولو ته ضرورت پېښيږي چي شه څني واخلي او شه ورکړي او داسي نور. نو د مجبورى په وجه مخ او لاسونه ښکاره کولاى سي (دا عقلي دليل دى).

وهٰذا تنصيص إلخ: د دې حاصل دا دى چي حضرت علي او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ چي د مذکوره آيت په تفسير کي مخ او ورغوو ته اشاره کړې ده، له دې څخه دا هم صراحتاً ثابتيږي چي د پردى ښځي پښو ته کتل هم ناجائز دي. خو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دى چي د ښځي پښو ته کتل جائز دي: ځکه د پښو ښکاره کېدو ته هم ضرورت پېښيږي. او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دى چي د جامو او کاليو د پرېولو پر مهال د ښځي ليڅي او مټان هم حتماً ښکاره کيږي، نو د ضروررت پر بناء هغوى ته هم کتل جائز دي. ځکه که پر دې پابندي ولګول سي، نو حرج به لازم سي. والحرج مدفوعٌ في الشرع.

په شهوت سره د ښځي ورېښتو وغيره ته د کتلو حکم

قَالَ: فَإِنْ كَانَ لَا يَأْمَنُ الشَّهْوَةَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او که چيري هغه له شهوت څخه په امن [او مطمئن] نه وي لَا يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهَا إِلَّا لِحَاجَةٍ نو د هغې مخ ته دي نه ګوري مګر د يوه ضرورت په وجه لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] : «مَنْ نَظَرَ إِلَى مَحَاسِنِ امْرَأَةٍ أَجْنَبِيَّةٍ عَنْ شَهْوَةٍ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چي د پردى ښځي ښکلاوو ته د شهوت په نظر سره وګوري صُبَّ فِي عَيْنَيْهِ الْآنُكُ يَوْمَ

---

[1] تخريج: أخرجه ابن الأثير في النهاية في غريب الحديث والأثر (ج ۱، ص: ۷۷). دا حديث په اصل کي د دوو حديثونو مجموعه ده چي د دې په مفهوم او معنى سره په بخاري شريف او ابوداؤد کي دوه حديثونه ذکر سوي دي (بخاري شريف، باب من كذب في حلمه، ص: ۱۲۱۴، حديث رقم: ۷۰۴۲. ابو داؤد شريف، باب ما يؤمر به من غض البصر، ص: ۳۱۰، حديث رقم: ۲۱۴۸).

الْقِيَامَةِ» نو د قيامت په ورځ به يې په سترګو کي سرپ ور واچول سي فَإِذَا خَافَ الشَّهْوَةَ نو کله چي کتونکی پر شهوت وبيرېږي [چي شهوت به مي پورته سي] لَمْ يَنْظُرْ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ نو بلا ضرورته دي نه [ورته] ګوري تَحَرُّزًا عَنِ الْمُحَرَّمِ له حرام کار څخه د بچ کېدو لپاره وَقَوْلُهُ لَا يَأْمَنُ يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ لَا يُبَاحُ إِذَا شَكَّ فِي الِاشْتِهَاءِ او د قدوري دا قول "لا يأمن" [چي که له شهوت څخه په امن نه وي] پر دې دلالت کوي چي [هغه وخت هم] کتل روا نه دي کله چي يې د شهوت راپورته کېدو شک وي كَمَا إِذَا عَلِمَ أَوْ كَانَ أَكْبَرُ رَأْيِهِ ذَلِكَ لکه [په هغه صورت کي] کله چي يې د دې يقين وي يا يې غالب ګومان وي [چي شهوت به مي پورته سي] وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَمَسَّ وَجْهَهَا وَلَا كَفَّيْهَا وَإِنْ كَانَ يَأْمَنُ الشَّهْوَةَ او د سړي لپاره دا روا نه دي چي مسه کړي د هغې مخ او نه د هغې ورغوي که څه هم له شهوت څخه په امن وي لِقِيَامِ الْمُحَرِّمِ د حرامونکي د قائموالي په وجه [يعني ځکه چي حرامونکی دليل قائم (موجود) دی] وَانْعِدَامِ الضَّرُورَةِ وَالْبَلْوَى او د ضرورت او ابتلاء عام د نشتوالي په وجه [يعني بل دا چي د مسه کولو ضرورت هم نسته او عموم بلوی هم پکښې نسته] بِخِلَافِ النَّظَرِ په خلاف د کتلو لِأَنَّ فِيهِ بَلْوَى ځکه چي په دې کي ابتلاء عام سته وَالْمُحَرِّمُ قَوْلُهُ عليه السلام: «مَنْ مَسَّ كَفَّ امْرَأَةٍ لَيْسَ مِنْهَا بِسَبِيلٍ[2] او مُحَرِّم [حرامونکی دليل] د نبي ﷺ دا قول دی: څوک چي د ښځي ورغوی [لاس] مسه کړي حال دا چي د ده لپاره په دې کي شرعاً هيڅ لاره [ضرورت] نه وي وُضِعَ عَلَى كَفِّهِ جَمْرَةٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» نو د هغه پر لاس به د قيامت په ورځ سکروټه کېښبنول سي.

اللغات: ﴿لا يأمن﴾ د سمع له بابه د نفي صيغه ده: په امن کېدل، خوندي کېدل. ﴿محاسن﴾ ښېګني، ښکلاوي، د ښکلا ځايونه. ﴿الآنك﴾ ويلي کړل سوي سرپ. ﴿تحرز﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: بچ کېدل، خوندي کېدل. ﴿جمرة﴾ سکروټه (انګاره).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د پردۍ ښځي مخ او د هغې لاس ته کتل چي جائز ګرځول سوي دي، هغه مطلق نه دي، بلکي له شهوت څخه په امن کېدل ضروري دي چي په کتلو سره به يې شهوت نه راپورته کيږي، ها! که چيري يو ضرورت وي او بله چاره نه وي نو په شهوت سره هم کتل

---

[2] تخريج: غريب بهذا اللفظ، صاحب د اثمار الهدايه وايي چي د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله دغه حديث په اصل کي له دې حديث څخه مستنبط دی: قال ابو هريرة عن النبي ﷺ ... واليد زناها البطش والرجل زناها الخطا (مسلم شريف. كتاب القدر، باب قدر على ابن آدم حظه من الزنى وغيره، ص:١١٥٧، حديث رقم:٢٦٥٧ / ٦٧٥٤)

ورته جائز دي، خو بلا ضرورته په شهوت سره اجنبیه ښځي ته کتل په دې هکله په حدیث کې سخت وعید راغلی دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو، لهذا له شهوت څخه د نه خوندي کېدو په صورت کې بلا ضرورته ورته کتل جائز نه دي.

وقوله لایأمن إلخ: فرمایي امام قدوري رَحِمَهُ الله چې کوم دِ "لا یأمن الشهوة" جمله ذکر کړې ده. له هغه څخه دا اشاره ترلاسه کېږي چې که فقط د شهوت شک او اندېښنه وي چې کېدای سي شهوت به مې راپورته سي، نو هم بلا ضرورته کتل جائز نه دي.

ولا یحل أن یمس إلخ: د دې حاصل دا دی چې په نظر او مس کې فرق دی. په نظر کې ضرورت هم سته او ابتلاء عامه هم پکښې سته، په خلاف د مسه کولو. چې په هغه کې ضرورت هم بېخي کم دی او عموم بلوی هم پکښې نسته (مګر دا چې څوک طبیب او ډاکټر وي او بله هیڅ چاره نه وي)؛ لهذا که یو کس څه هم له شهوت څخه په امن وي، نو هم هغه ته د اجنبیه ښځي د لاس او مخ مسه کولو اجازت نسته. او بل دا چې بلا ضرورته پر داسي کونکي د رسول الله ﷺ له طرفه وعید هم نازل سوی دی. لهذا حتی الامکان به له دې حرکاتو څخه احتراز کوي، چې له نبوي لعنت او غضب الهي او اُخروي عذاب څخه په امن وي.

له پورتنی مسئلې څخه استثناء

وَهٰذَا إِذَا كَانَتْ شَابَّةً تَشْتَهِي او دا [حکم] په هغه صورت کې دی کله چې ښځه ځوانه شهوت [خواهش] لرونکې وي [او که تُشْتَهٰى سي د مضارع مجهولي په صیغه سره نو معنی یې ده: کله چې ښځه ځوانه وي چې هغې ته د چا شهوت او اشتها کېدای سي] أَمَّا إِذَا كَانَتْ عَجُوزًا لَا تَشْتَهِي لېکن کله چې ښځه سپین سرې [بوډۍ] وي چې شهوت لرونکی نه وي فَلَا بَأْسَ بِمُصَافَحَتِهَا وَمَسِّ يَدِهَا نو څه پروا نسته د هغې سره په مصافحه کولو او د لاس په مسولو کې یې لِانْعِدَامِ خَوْفِ الْفِتْنَةِ ځکه چې د فتنې بېره نسته وَقَدْ رُوِيَ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يَدْخُلُ بَعْضَ الْقَبَائِلِ الَّتِي كَانَ مُسْتَرْضَعًا فِيهِمْ او روایت سوی دی چې ابو بکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به هغه قبیلو ته ورتلی چې په هغوی کې ده ته تی [شیدې] ورکول سوي وې وَكَانَ يُصَافِحُ الْعَجَائِزَ او ده به د سپین سرو [بوډیانو] سره مصافحه کوله وَعَبْدُ اللهِ بْنُ الزُّبَيْرِ اسْتَأْجَرَ عَجُوزًا لِتُمَرِّضَهُ او عبد الله بن زبیر رضي الله عنه یوه سپین سرې په مزدوري نیولې وه د دې لپاره چې د ده تداوي به کوي وَكَانَتْ تَغْمِزُ رِجْلَيْهِ وَتُفَلِّي رَأْسَهُ او هغې به د ده پښې چاپې

کولې او د ده په سر کې به يې سپږې پيدا کولې [را ايستلې] وَكَذَا إِذَا كَانَ شَيْخًا يَأْمَنُ عَلٰى نَفْسِهِ او همدارنګه کله چې سړی داسې بوډا وي چې پر خپل ځان په امن وي [چې شهوت مې نه پورته کيږي] وَعَلَيْهَا او پر ښځې هم په امن وي [چې شهوت يې نه پورته کيږي، نو د داسې بوډا لپاره مصافحه وغيره کول جائز دي] لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی فَإِنْ كَانَ لَا يَأْمَنُ عَلَيْهَا او که چيرې هغه پر ښځې په امن نه وي لَا تَحِلُّ مُصَافَحَتُهَا نو د هغې سره مصافحه کول روا نه دي لِمَا فِيْهِ مِنَ التَّعْرِيْضِ لِلْفِتْنَةِ ځکه چې په دې کې پر فتنې پېښول سته [چې خپل ځان او ښځه په مبتلا کوي] وَالصَّغِيْرَةُ إِذَا كَانَتْ لَا تُشْتَهٰى او کوچنۍ نجلۍ چې کله د شهوت قابله نه وي يُبَاحُ مَسُّهَا وَالنَّظَرُ إِلَيْهَا نو د هغې مسه کول او ورته کتل روا دي لِعَدَمِ خَوْفِ الْفِتْنَةِ ځکه چې [په دې کې] د فتنې بېره نسته.

اللغات: ﴿عجوز﴾ بوډۍ، سپين سرې ښځه. ﴿يصافح﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: مصافحه کول، لاس ملاوول. ﴿تُمَرِّضُ﴾ د تفعيل له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع صيغه ده (د تفعل له بابه مصدر نه دی)، مَرَّضَ يُمَرِّضُ تَمْرِيْضًا: د دې باب څو معناوې دي چې له هغوی څخه يې ځينې دا دي: د مريض د تداوي او درملنې کار کول، علاج ومعالجه، د مرض پر مهال د مريض خدمت کول. ﴿تغمز﴾ د ضرب له بابه مخکنۍ صيغه ده. د دې باب هم څو معناوې دي چې له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: چاپې کول. يعني په لاسو سره د چا بدن مښل او کنبېکنبل. ﴿تفلّي﴾ د تفعيل له بابه مخکنۍ صيغه ده (له مجردو څخه هم راځي): په سر کې سپږې پيدا کول. له سر څخه سپږې را ايستل او وژل.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې مخکينې ټوله تفصيلات په هغه صورت کې دي، کله چې ښځه ځوانه او مشتهاة (د شهوت قابله) وي، لېکن که يو غير مشتهاة بوډۍ (سپين سرې) ښځه وي، نو بيا په دې کې څه حرج نسته چې د هغې سره مصافحه وکړی سي او لاس يې مسه کړی سي؛ ځکه د ممانعت مدار پر فتنه دی چې داسې کول د فتنې او بدکارۍ سبب جوړ نه سي، او د بوډۍ ښځې يا د شيخ فاني په صورت کې د فتنې بېره نسته، نو ځکه دا صور تونه مباح او له ممانعت څخه خارج دي: لکه څرنګه چې د حضرت ابو بکر صدّيق او حضرت ابن زبير رضی الله عنهما له طرز عمل څخه هم د دې اېښت ثابتيږي.

وكذا إذا إلخ: د دې حاصل دا دی چې که سړی شيخ فاني وي (چې تر اوريا كالو اوښتی وي) او د هغه پر خپل ځان كنټرول وي چې شهوت مې نه راپورته كيږي او د ښځې په هكله هم په امن وي يعني كومې ښځې ته چې لاس ور وړي د هغې شهوت هم نه راپورته كيږي (په دې وجه چې جانب مقابل ډېر بوډا دی يا هغه هم خپله ډېره بوډۍ ده)، څرنګه چې په دې صورت كې د فتنې خطره نسته. نو ځكه د هغې سره د ده مصافحه كول او مسه كول جائز دي (لما قلنا أي لعدم خوف الفتنة). ليكن كه كوم بوډا د خپل ځان يا ښځې په هكله په امن نه وي، نو په دې صورت كې د ښځې مسه كول وغيره جائز نه دي: ځكه چې په دې صورت كې د فتنې انديښنه سته چې د بدكارۍ دروازه به خلاصه سي. الله تعالى فرمايلي دي ﴿وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ﴾.

او كوچنۍ نجلۍ چې مشتهاة نه وي، نو د مينې او شفقت لپاره د هغې مچول او ور ته كتل څه پروا نه لري.

د قاضي لپاره كتل جائز دي (تفصيلي بيان)

قَالَ: وَيَجُوزُ لِلْقَاضِيْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَحْكُمَ عَلَيْهَا فرمايي: او جائز دي قاضي لره [كتل] كله چې هغه اراده وكړي چې پر ښځې فيصله وكړي وَلِلشَّاهِدِ إِذَا أَرَادَ أَدَاءَ الشَّهَادَةِ عَلَيْهَا او د ګواه لپاره كله چې هغه پر ښځې د ګواهۍ وركولو اراده وكړي النَّظَرُ إِلَى وَجْهِهَا [جائز دي] كتل د هغې د مخ وطرف ته وَإِنْ خَافَ أَنْ يَشْتَهِيَ كه څه هم دا ډېره يې وي چې شهوت [اشتها] به يې وسي لِلْحَاجَةِ إِلَى إِحْيَاءِ حُقُوْقِ النَّاسِ بِوَاسِطَةِ الْقَضَاءِ وَأَدَاءِ الشَّهَادَةِ ځكه چې د قضاء [فيصله كولو] او د ګواهۍ وركولو په واسطه د خلكو د حقوقو ژوندي كولو ته ضرورت دی وَلٰكِنْ يَنْبَغِيْ أَنْ يَقْصِدَ بِهِ أَدَاءَ الشَّهَادَةِ أَوْ الْحُكْمَ عَلَيْهَا ليكن پكار دا ده چې په دې سره د ګواهۍ اداء كولو يا پر ښځې د فيصله كولو اراده وكړي لَا قَضَاءَ الشَّهْوَةِ نه د شهوت پوره كولو تَحَرُّزًا عَمَّا يُمْكِنُهُ التَّحَرُّزُ عَنْهُ له هغه شي څخه د بچ كېدلو [ځان ساتلو] په خاطر له كوم څخه چې ځان ساتل ممكن وي وَهُوَ قَصْدُ الْقَبِيْحِ او هغه [يعني له كوم څخه چې بچ كېدل ممكن دي] د بدۍ اراده كول دي وَأَمَّا النَّظَرُ لِتَحَمُّلِ الشَّهَادَةِ إِذَا اشْتَهٰى او پاته سو د ګواه جوړېدو لپاره كتل كله چې يې شهوت [اشتها] هم كيږي قِيْلَ: يُبَاحُ نو ويل سوي دي چې: روا دي وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ لَا يُبَاحُ او صحيح دا ده چې روا نه دي لِأَنَّهُ يُوْجَدُ مَنْ لَا يَشْتَهِيْ ځكه

داسي کس هم پیدا کېدلای سي چي [په کتلو سره] یې شهوت نه کیږي فَلَا ضَرُوْرَةَ نو ضرورت نسته بِخِلَافِ حَالَةِ الْأَدَاءِ په خلاف د ګواهي اداء کولو د حالت وَمَنْ أَرَادَ أَنْ يَتَزَوَّجَ امْرَأَةً او څوک چي اراده وکړي چي د یو ښځي سره نکاح وکړي فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهَا نو په دې کي پروا نسته چي هغې ته وګوري وَإِنْ عَلِمَ أَنَّهُ يَشْتَهِيْهَا که څه هم د دې یقین یې وي چي هغې ته به یې شهوت [اشتها] وسي لِقَوْلِهِ عليه السلام[1] فِيْهِ ځکه چي په دې باره کي نبي ﷺ فرمایلي دي «أَبْصِرْهَا فَإِنَّهُ أَحْرٰى أَنْ يُؤْدِمَ بَيْنَكُمَا» هغې ته وګوره! ځکه دا زیات لائق دي چي ستاسي دواړو تر مینځ اُلفت پیدا کړي وَلِأَنَّ مَقْصُوْدَهُ إِقَامَةُ السُّنَّةِ او ځکه چي د دې کتلو مقصد سنت اداء کول دي لَا قَضَاءُ الشَّهْوَةِ نه شهوت پوره کول.

اللغات: ﴿يحكم﴾ د نصر د باب مضارع ده: حکم کول، فیصله کول. ﴿تحرز﴾ د تفعل د باب مصدر دی: بچ کېدل، ځان ساتل. ﴿أبصر﴾ د افعال د باب ماضي ده: لیدل. ﴿أحرىٰ﴾ د اسم تفضیل صیغه ده: زیات لائق، زیات مناسب. ﴿يؤدم﴾ او يُوْدم. د افعال له بابه د مضارع صیغه ده (او په مجردو کي د ضرب له بابه هم راتلای سي خو بیا به يُوْدَمُ یعني د دال په فتحه سره ویل کیږي)، د دې باب معنیٰ ده: د خلکو تر مینځ صلح (سوله) او روغه کول. جوړ جاړی راوستل. اُلفت او اتفاق پیدا کول. نو د أَنْ يُوْدم بَيْنَكُمَا مطلب دا دی چي د خاوند او ښځي تر مینځ به اُلفت او مینه وي او د خوابدی پر ځای به د دوی تر مینځ صلح او محبت وي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي د یو ښځي په خلاف د فیصله کولو یا پر هغې د ګواهي ورکولو پر مهال قاضي او ګواه لره جائز دي چي هغې ته ګوري، که څه هم د شهوت را پورته کېدو بېره یې وي؛ ځکه دلته که یو طرف ته د شهوت بېره ده، نو بل طرف ته د خلکو د حقوقو د اداء کولو لپاره فیصله کول یا ګواهي ورکول ضروري دي، ښکاره ده چي د حقوقو ادائنه د شهوت له بیري څخه مهم ده. نو ځکه په دې صورت کي به ښځي ته کتل جائز وي، چي صحیح فیصله وکړی سي او د حق په ادائنه کي هیڅ ډول کمي او کوتاهي نه وسي، خو د قاضي او شاهد (ګواه) لپاره ضروري ده چي په دې هکله له الله جل جلاله څخه وبیرېږي او له څه خباثت او د شهوت له نیت څخه بغیر خپل فریضه سر ته ورسوي، او همدا د مسلمان د زړوند مقصد دی چي حتی الامکان به له بدی څخه ځان ساتي.

وأما النظرالخ: مخکي ذکر سوه چي د ګواهي اداء کولو (اداء شهادة) پر مهال کتل روا دي که څه هم د شهوت بېره او خطره وي، خو د ګواه جوړېدو (تحمّل شهادة) پر مهال که د شهوت راپورته کېدلو بېره وي، نو په دې هکله دوه قوله دي: ① ورته کتل جائز دي، ② لېکن صحيح قول دا دی چي جائز نه دي؛ ځکه په دې صورت کي داسي څوک هم ترلاسه کېدلای سي چي هغې ته په نظر کولو سره يې شهوت نه پورته کيږي.

بخلاف الاداء الخ: يعني ګواهي اداء کول له ګواه جوړېدو څخه جلا دي؛ ځکه ګواه جوړېدل يو امانت دی چي تر ګواه جوړېدلو وروسته ګواهي اداء کول لازم دي، لهذا څوک چي يو وار د يو شي ګواه جوړ سي، نو تر دې وروسته د هغه د اداء کولو فريضه به سر ته رسوي که څه هم د شهوت بېره وي.

﴿د نکاح په اراده ښځي ته کتل جائز دي﴾

ومن أراد الخ: د دې حاصل دا دی چي که څوک مثلاً زيد غواړي چي له فاطمې سره نکاح وکړي، نو زيد لره دا جائز او روا دي چي فاطمې ته وګوري، په دې کي څه حرج نسته، که څه هم د شهوت راپورته کېدو يقين يې وي: ځکه نبي کريم ﷺ و حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه ته د دغه کتلو اجازت ورکړی وو چي په دې سره به د خاوند او ښځي تر مينځ اُلفت او موافقت پيدا سي او د همېشه لپاره به يې تر مينځ محبت او صلح قائم وي؛ او بل دا چي د دغه کتلو مقصد او غرض دا دی چي د نکاح سنت اداء سي، نه شهوت او مزه ترلاسه کول، لهذا په همدې مقصد سره د قضاءِ شهوت له ارادې څخه بغير ورته اجازت سته.

ښځي ته د طبيب (ډاکټر) کتل څنګه دي؟

وَيَجُوْزُ لِلطَّبِيْبِ أَنْ يَنْظُرَ إِلَىٰ مَوْضِعِ الْمَرَضِ مِنْهَا او جائز دي طبيب لره چي د ښځي د مرض ځای ته وګوري لِلضَّرُوْرَةِ د ضرورت په وجه وَيَنْبَغِيْ أَنْ يُعَلِّمَ امْرَأَةً مُدَاوَاتَهَا او پکار دا ده چي دا طبيب يو ښځي ته د هغې درملنه ور وښودي [يعني غوره دا ده چي خپله يې علاج نه وکړي بلکي د دوی د کورنيو ښځي يا بلې ښځي ته يې ور وښودي چي هغه دا کار تر سره کړي] لِأَنَّ نَظَرَ الْجِنْسِ إِلَى الْجِنْسِ أَسْهَلُ ځکه د جنس [ښځي] کتل و جنس [ښځي] ته زيات آسانه دي [چي په دې کي د شهوت را پورته کېدو خطره نسته] فَإِنْ لَمْ يَقْدِرُوْا خو که چيري دوی [د ښځي کور والا] قدرت نه لري [چي خپله د ښځي علاج وکړی سي] يُسْتَرُ كُلُّ عُضْوٍ مِنْهَا سِوَىٰ مَوْضِعِ الْمَرَضِ نو د ښځي هر اندام دي پټ کړل سي د مرض له

ځای شخه بغیر ثُمَّ يَنْظُرُ وَيَغُضُّ بَصَرَهُ مَا اسْتَطَاعَ بیا دي طبیب ورته وګوري او څومره چې یې وس وي خپل نظر دي ټيټ ساتي لِأَنَّ مَا ثَبَتَ بِالضَّرُوْرَةِ ځکه کوم شی چي د ضرورت پر بناء ثابت وي يَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهَا هغه د ضرورت په مقدار اندازه کیږي [یعني د ضرورت مطابق ثابتیږي. نه تر هغه زیات] وَصَارَ كَنَظَرِ الْخَافِضَةِ وَالْخَتَّانِ او دا [د طبیب نظر] داسي سو لکه د سنتونکي [ختنه کونکي] ښځي او د سنتونکي سړي نظر وَكَذَا يَجُوْزُ لِلرَّجُلِ النَّظَرُ إِلَى مَوْضِعِ الاِحْتِقَانِ مِنَ الرَّجُلِ او همدارنګه سړي لره د سړي د حقنه کولو [حقنه لګولو] ځای ته کتل جائز دي لِأَنَّهُ مُدَاوَاةٌ ځکه چي حقنه کول یو درملنه [علاج] دی وَيَجُوزُ لِلْمَرَضِ او دا درملنه [یعني حقنه کول] د مرض لپاره جائز دي وَكَذَا لِلْهُزَالِ الْفَاحِشِ او همداسي د زیات ډنګر والي لپاره عَلَى مَا رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ لکه څرنګه چي له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله شخه روایت سوی دی لِأَنَّهُ أَمَارَةُ الْمَرَضِ ځکه زیات ډنګر والی [هم] د مرض نښه ده [او د مرض لپاره حقنه لګول جائز دي. فکذا هذا].

اللغات: ﴿یعلم﴾ د تفعیل د باب مضارع ده: ور زده کول. ور ښوول. ﴿مداوتها﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی (مداواة): علاج او درملنه. ﴿یغض﴾ د نصر د باب مضارع ده: نظر ټيټول. ټيټ او لاندي ساتل. ﴿الخافضة﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی شخه یې یوه معنیٰ ده: هغه ښځه کوم چي د ښځو د سنتېدو کار کوي. سنتونکې (د تناسلي آلې پرېکونکې) ښځه. ختنه کونکې. ﴿ختان﴾ سنتونکی سړی. ﴿احتقان﴾ د افتعال د باب مصدر دی: حقنه حقنه کول. حقنه ورکول او لګول (د شا د لاري [یعني د مقعدي لخوا] د مریض معدې ته دواء رسول). اماله کول. وتطلق الیوم علی إدخال الدواء إلی داخل الجسم بواسطة الضغط سواء کان عن طریق الدبر أم عن طریق الجلد. (معجم لغة الفقهاء) ﴿أمارة﴾ علامت. نښه.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي که یو ښځه مریضه وي او نژدې هیڅ ښځینه طبیبه نه وي او مرض داسي وي چي له نارینه مریض شخه بغیر یې علاج نه سي کېدلای. نو په دې صورت کې د طبیب (ډاکټر) لپاره د مجبورۍ پر بناء د ښځي د مرض ځای لره کتل جائز دي. او د مرض له ځای شخه پرته نور اندامونه دي په کامله توګه پټ کړل سي، او د طبیب لپاره ضروري ده چي صرف د مرض ځای ته ګوري او حتی الامکان به خپل نظر ټيټ ساتي؛ ځکه چي دا ضرورتاً ثابت دي. او د "الضرورة تقدر بقدرها" قاعده خو تاسي ډېر له مخکي شخه معلومه ده.

وکذا یجوز إلخ: فرمايي که څوک سخت مريض سي، يا څوک ډېر ډنګر او کمزوري وي، نو په دې صورت کي هغه لره حقنه ورکول جائز دي. او حقنه لګونکي کس لره دا روا دي چي د حقنه لګولو ځای ته يې وګوري؛ ځکه د عام علاج په څېر حقنه هم يو علاج دی او د مرض لپاره حقنه ورکول جائز دي، او زښت ډنګر والی هم د مرض په وجه وي. نو ځکه په دواړو صورتونو کي حقنه ورکول جائز دي، او کله چي دا يو علاج دی، نو د مرض ځای ته به د طبيب (حقنه لګونکي) کتل هم جائز وي.

د سړي کوم اندامونه په عورت کې داخل دي؟

قَالَ: وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنَ الرَّجُلِ إِلَى جَمِيعِ بَدَنِهِ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او سړی د سړي ټول بدن ته کتلای سي إِلَّا مَا بَيْنَ سُرَّتِهِ إِلَى رُكْبَتِهِ مګر هغه حصه کوم چي په مېنځ کي له نامه څخه تر ځنګنو پوري ده [يعني له نامه څخه تر ځنګنو پوري دا حصه يې په عورت کي داخله ده] لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1]: «عَوْرَةُ الرَّجُلِ مَا بَيْنَ سُرَّتِهِ إِلَى رُكْبَتِهِ» ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: د سړي [نارينه] عورت هغه دی کوم چي په مېنځ کي له نامه څخه تر ځنګنو پوري دی وَيُرْوَى: «مَا دُونَ سُرَّتِهِ حَتَّى يُجَاوِزَ رُكْبَتَيْهِ» او [دويم] روايت سوی دی چي: د هغه تر نامه لاندي تر دې چي تر ځنګنو يې تېر سي [نو ځنګون هم په عورت کي داخل سو] وَبِهَذَا ثَبَتَ أَنَّ السُّرَّةَ لَيْسَتْ بِعَوْرَةٍ او په همدې [دويم روايت] سره دا ثابته سوه چي نوم عورت نه دی خِلَافًا لِمَا يَقُولُهُ أَبُو عِصْمَةَ وَالشَّافِعِيُّ په خلاف د هغه چي ابو عصمه او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي. وَالرُّكْبَةُ عَوْرَةٌ او ځنګون عورت دی خِلَافًا لِمَا قَالَهُ الشَّافِعِيُّ په خلاف د هغه چي امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايلي دي وَالْفَخِذُ عَوْرَةٌ او ورون عورت دی خِلَافًا لِأَصْحَابِ الظَّوَاهِرِ په خلاف د اصحاب ظواهرو وَمَا دُونَ السُّرَّةِ إِلَى مَنْبَتِ الشَّعْرِ عَوْرَةٌ او تر نامه لاندي د وربېښتانو د راشنه کېدو تر ځايه [سپوختي] پوري هم عورت دی خِلَافًا لِمَا يَقُولُهُ الْإِمَامُ أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ الْكَمَارِيُّ مُعْتَمِدًا فِيهِ الْعَادَةَ په خلاف د هغه کوم چي امام ابو بکر محمد بن الفضل الکماري رَحِمَهُ الله فرمايي [چي دا عورت نه دی] چي هغه په دې هکله پر عادت اعتماد

---

[1] تخریج: أخرجه دار القطني، باب الأمر بتعليم الصلاة... وحد العورة التي يجب سترها ج:١، ص:٢٣٧، حديث رقم:٨٧٩.

کونکی دی [چي خلک عادتاً او عموماً تر نامه لاندي لنګ وغيره تړي. نو دا قول يې معتبر نه دی] لِأَنَّهُ لَا مُعْتَبَرَ بِهَا مَعَ النَّصِّ بِخِلَافِهِ ځکه چي عادت لره اعتبار نسته د داسي نصّ [د موجود والي] سره کوم چي يې خلاف دی [يعني څرنګه چي د ده د قول په خلاف نصّ (حديث) موجود دی نو ځکه دلته عادت لره اعتبار نسته] وَقَدْ رَوَى أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ عليه السلام أَنَّهُ قَالَ [2] : «الرُّكْبَةُ مِنَ الْعَوْرَةِ» او حضرت ابو هريره رضي الله عنه له نبي ﷺ څخه روايت کړی دی چي هغه وفرمايل: ځنګون له عورت څخه دی وَأَبْدَى الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ رضي الله عنه سُرَّتَهُ فَقَبَّلَهَا أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه [همدارنګه] حسن بن علي رضي الله عنه خپل نوم بنکاره کړی وو، نو حضرت ابو هريره رضي الله عنه پر هغه مچ کړی وَقَالَ عليه السلام لِجَرْهَدٍ [3] : «وَارِ فَخِذَكَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ؟» [همدارنګه] نبي ﷺ جرهد رضي الله عنه ته وفرمايل: ورون دي پټ کړه! ته نه يې خبر چي ورون عورت دی وَلِأَنَّ الرُّكْبَةَ مُلْتَقَى عَظْمِ الْفَخِذِ وَالسَّاقِ او ځکه چي ځنګون د ورانه او پنډۍ د هډوکي د يو ځای کېدلو ځای دی فَاجْتَمَعَ الْمُحَرِّمُ وَالْمُبِيحُ نو [د ځنګون په هکله] حراموونکی دليل او روا کوونکی دليل سره جمع سول وَفِي مِثْلِهِ يَغْلِبُ الْمُحَرِّمُ او په داسي صورت کي حراموونکي دليل غالب [او راجح] وي [يعني ترجيح مُحرِّم لره وي] وَحُكْمُ الْعَوْرَةِ فِي الرُّكْبَةِ أَخَفُّ مِنْهُ فِي الْفَخِذِ او عورت والا حکم په ځنګانه کي سپک دی له هغه عورت والا حکم څخه کوم چي په ورانه کي دی [په بله وينا دا چي د عورت کېدلو په حکم کي ځنګون د ورانه په نسبت سپک دی] وَفِي الْفَخِذِ أَخَفُّ مِنْهُ فِي السَّوْأَةِ او [د عورت والا حکم] په ورانه کي له هغه حکم څخه سپک کوم چي په شرمګاه کي دی [يعني ورون بيا د شرمګاه په نسبت په حکم د عورت کېدلو کي سپک دی] حَتَّى أَنَّ كَاشِفَ الرُّكْبَةِ يُنْكَرُ عَلَيْهِ

---

[2] تخريج: دا حديث له حضرت علي رضي الله عنه څخه منقول دی، نه له حضرت ابو هريره رضي الله عنه، چي الفاظ يې داسي دي: سمعتُ علياً يقول: قال رسول الله ﷺ: الركبة من العورة (دار قطني، باب الأمر بتعليم الصلاة إلخ، ج:۱، ص:۲۳۷، حديث رقم:۸۷۸).

[3] تخريج: په ابو داؤد شريف کي دا حديث په دې الفاظو سره منقول دی: ...كان جرهد هذا من اصحاب الصفة أنه قال: جلس رسول الله ﷺ عندنا وفخذي منكشفة، فقال: أما علمت أن الفخذ عورة (ابوداؤد، باب النهي عن التعري ص:۵۶۷، حديث رقم:۴۰۱۴، والترمذي، ص:۶۳۰، حديث رقم:۲۷۹۵)

بِرِفْقٍ تر دې چې د ځنګانه پر لځونکي به په نرمي سره نکير [منع] کول کيږي وَكَاشِفُ الْفَخِذِ يُعَنَّفُ عَلَيْهِ او د ورانه پر لځونکي به سختي [او زور] کيږي وَكَاشِفُ السَّوْئَةِ يُؤَدَّبُ إِنْ لَجَّ او د شرمګاه لځونکي ته به سزا ورکول کيږي که چيرې هغه ټينګار کوي وَمَا يُبَاحُ النَّظَرُ إِلَيْهِ لِلرَّجُلِ مِنَ الرَّجُلِ يُبَاحُ الْمَسُّ او سړي لره چې د سړي کوم ځای ته کتل جائز دي د هغه ځای مسه کول هم ورته جائز دي لِأَنَّهُمَا فِيمَا لَيْسَ بِعَوْرَةٍ سَوَاءٌ ځکه چې دا دواړه [يعني کتل او مسه کول] په هغه ځای کي چي عورت نه وي سره برابر دي.

اللغات: ﴿فَخْذ﴾ او فَخِذ: ورون، پټون، ج: أَفْخَاذ. ﴿منبت﴾ د اسم ظرف صيغه ده: د را شنه کېدلو (راپورته کېدو) ځای. ﴿ملتقى﴾ دا هم د اسم ظرف صيغه ده: د سره يو ځای کېدلو ځای، ﴿سوئة﴾ او سوأة: فرج، شرمګاه (د سړي او ښځي دواړو په فرج باندي يې اطلاق کيږي)، ﴿رِفق﴾ نرمي، آساني. ﴿يعنّف﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: سُختي کول. په سختي او ټينګار سره غندل. ﴿يؤدّب﴾ مخکني صيغه ده. د دې باب دوې معناوي دي: ① ادب ور ښودل. ② پر يو جرم سزا ورکول. ﴿لَجّ﴾ د ماضي صيغه ده. له ضرب او سمع دواړو بابونو څخه راتلای سي: ټينګار او اصرار کول. له منع کېدو څخه انکار کول. يو کار لازم نيول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې د احنافو په نيز د سړي نوم (ناف) په عورت کي داخل نه دی او ځنګون پکښي داخل دی، نو ځکه يو سړی د بل سړي ټوله اندامونو ته کتلای سي خو تر نامه لاندي بيا د ځنګنو تر حصې پوري کتل ورته جائز نه دي؛ دليل په عبارت کي ذکر سوی حديث شريف دی. او له همدې حديث څخه دا خبره ثابته سوه چې نوم په عورت کي داخل نه دي، ځکه د مذکوره روايت په دواړو الفاظو کي نوم (ناف) له عورت څخه خارج ګرځول سوی دی، نو امام شافعي او ابو عصمه رَحِمَهُمَا الله چې نوم په عورت کي داخلوي دا صحيح نه دي. يعني ابو عصمه رَحِمَهُ الله چې کوم دا خبره کوي چې نوم د عورت حدّ دی، نو هغه به هم په عورت کي داخل وي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله بيا فرمايي چې څرنګه شرمګاه د شهوت محل ده، همداسي نوم هم د شهوت محل دی، خو مذکوره حديث د دوی په خلاف دی؛ ځکه په حديث کي په ښکاره توګه نوم له عورت څخه ايستل سوی دی، لهٰذا د حديث په خلاف به هيڅ تعليل هم نه قبلول کيږي.

والركبة إلخ: زموږ په نيز ځنګون په عورت کي داخل دی او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز خارج دی: د دوی دليل هغه روايت دی چې په هغه کي د حضرت انس طرزِ عمل بيان سوی دی چې حضرت

انس رضي الله عنه به د بل ځای نه هیڅکله هم ځنګون نه ښکاره کوي، او د دې روایت مقصد شمائل بیانول دي، که چیرې ځنګون عورات وي نو د شمائلو په ضمن کې به نه راتلای؛ ځکه عورت پټول خو فرض دي، که چیرې دا عورت وای، نو د فرائضو په ضمن کې به نه ذکر کول کېدای، معلومه سوه چې ځنګون عورت نه دی.

الفخذ عورة إلخ: او زموږ په نېز ورون په عورت کې داخل دی، خو اصحاب ظواهر هغه له عورت څخه خارج بولي؛ دوی په دې آیت ﴿فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا﴾ سره دلیل نیسي په دې توګه چې د غنمو د خوړلو پر مهال د حضرت آدم او حضرت حوا علیهما السلام دواړو ورنونه لڅ او ښکاره وه، که چیرې د ورونو پټول فرض وای او عورت وای، نو دوی به ضرور د دې اهتمام کولای.

وما دون السرة إلخ: زموږ په نېز تر نامه لاندې د وریښتو راشنه کېدلو تر ځایه (سپوختي) پورې هم په عورت کې اخل دي، لېکن امام ابو بکر کماري دا حصه خارج عن العورة بولي او دلیل دا پېشوي چې خلک عموماً له دې څخه لاندې لنګ وغیره تړي، لهذا د تعامل ناس په وجه به هغه له عورت څخه خارج وي.

لأنه لا معتبر إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د دې په جوب کې فرمایي چې کله په حدیث شریف کې دا حصه عورت ښوول سوې ده، نو بیا د هغه په مقابله کې تعامل او قیاس حجت جوړول او دا حصه عورت نه شمېرل پکار نه دي.

وقد روی ابو هریرة إلخ: مخکې مو وویل چې امام شافعي رَحِمَهُ الله ځنګون له عورت څخه ایستلی دی. نو صاحب د هدایې د هغه پر عورت کېدو د حضرت ابو هریره رضي الله عنه په حدیث سره دلیل پېش کړی دی، او د صریح حدیث په مقابله کې د صحابي عمل حجت نه دی. او امام شافعي او ابو عصمه چې نوم (ناف) په عورت کې داخل کړی دی، د هغه په تردید کې بیا صاحب د هدایې د حضرت ابو هریره رضي الله عنه عمل پېشوي چې ستاسو قیاس صحیح نه دی، ځکه که نوم عورت وای، نو ابو هریره رضي الله عنه به د حضرت حسن رضي الله عنه نوم نه مچولای.

وقال النبي ﷺ لجرهد إلخ: مخکې مو دا هم وویل چې اصحاب ظواهر ورون په عورت کې داخل نه بولي. د لته صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د هغه په خلاف د حضرت جرهد واقعه پېشوي کله چې هغه صُفه ته په داسې حال کې راغلی چې ورون یې لڅ وو، نو نبي کریم ﷺ هغه ته د ورون پټولو حکم وکړی چې دا عورت دی، له دې څخه دا ښکاره سوه چې ورون په عورت کې داخل دی. او اصحاب ظواهر چې په

آيت سره دليل نيسي دا صحيح نه دي؛ ځکه هغه يوه غيرِ اختياري حالت وو، او اختياري حالت پر غيرِ اختياري حالت قياسول صحيح نه دي.

وإن الركبة إلخ: په دې سره د ځنګون د عورت کېدلو په هکله عقلي دليل بيانوي، حاصل يې دا دی چې ځنګون د ورانه د هډوکي او د پنډۍ د هډوکي د سره يوځای کېدلو ځای دی. نو د ورون وطرف ته په نظر کولو سره هغه په عورت کې داخلېدل پکار دي؛ ځکه چې ورون په عورت کې داخل دی. او د پنډۍ تقاضا دا ده چې هغه له عورت څخه خارج دی؛ ځکه پنډۍ په عورت کې داخله نه ده. نو اوس دلته مُحرِم او مُبِيح سره جمع سول. او د فقهي دا ثابت شده أصول دی چې "إِذَا اجْتَمَعَ الْحَلَالُ وَالْحَرَامُ أَوِ الْمُحَرِّمُ وَالْمُبِيحُ، غُلِّبَ الْحَرَامُ وَالْمُحَرِّمُ" يعني کله چې حلال او حرام يا حرامونکی او روا کونکی دليلونه سره جمع سي، نو په دې وخت کې مُحرِم (حرامونکي دليل) لره ترجيح وي. نو ځکه دلته به هم مُحرِم لره ترجيح حاصله وي چې د ورون والا طرف به غالب وي، لهذا کله چې داسي ده نو ځنګون به هم په عورت کې داخل وي.

وحكم العورة إلخ: د دې خاصل دا دی چې کله ځنګون، ورون وغيره هم په عورت کې داخل دي، نو آيا د دوی او د شرمګاه حکم يو دی او که سره جلا دي؟، فرمايي چې د دوی په حکم او مرتبه کې فرق دی. نو تر ټولو سخت عورت شرمګاه ده، چې که څوک د هغه پر لڅولو ټينګار کوي. نو سزا به ورکول کيږي چې د هغه لڅول تر ټولو زيات بد دي، او بيا تر هغه را لاندي ورون دی چې د هغه د لڅولو څخه به په ټينګه منع کول کيږي، او تر هغه لاندي بيا ځنګون دی، چې د هغه د لڅولو څخه به په نرمي سره منع کول کيږي، دا په دريو سره عورتونو کې فرق سو.

ومايباح إلخ: فرمايي سړی چې د بل سړي کومو اندامونو ته کتلای سي، هغه اندامونو ته لاس وروړل او مسه کول هم روا دي، څه حرج پکښې نسته؛ ځکه چې له عورت څخه خارج دي، خو که د شهوت راپورته کېدو خطره وي، نو بيا به يې نه مسه کوي.

ښځه د سړي کومو اندامو ته کتلای سي؟

قَالَ: وَيَجُوزُ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَنْظُرَ مِنَ الرَّجُلِ إِلَى مَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَيْهِ مِنْهُ فرمايي: او جائز دي ښځي لره چې وګوري د سړي هغه حصې ته کوم ته چې بل سړی کتلای سي إِذَا أَمِنَتِ الشَّهْوَةَ [په دې شرط] کله چې له شهوت څخه په امن وي لِاسْتِوَاءِ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ فِي النَّظَرِ إِلَى مَا لَيْسَ بِعَوْرَةٍ ځکه سړی او ښځه هغه حصې ته په کتلو کې سره برابر دي کوم چې عورت نه وي كَالثِّيَابِ وَالدَّوَابِّ لکه جامې او

سپارلي وَفِي كِتَابِ الْخُنْثَى مِنَ الْأَصْلِ او د اصل [مبسوط] په کتاب الخنثیٰ کي دي أَنَّ نَظَرَ الْمَرْأَةِ إِلَى الرَّجُلِ الْأَجْنَبِيِّ بِمَنْزِلَةِ نَظَرِ الرَّجُلِ إِلَى مَحَارِمِهِ چي د پردي سړي وطرف ته د ښځي کتل داسي دي لکه خپل محارمو ته د سړي کتل [او سړی د خپل محارمو ملا او نس ته نه سي کتلای. فكذا هذه] لِأَنَّ النَّظَرَ إِلَى خِلَافِ الْجِنْسِ أَغْلَظُ ځکه چي د خلاف جنس [ښځه و سړي] ته کتل زيات سخت دي فَإِنْ كَانَ فِي قَلْبِهَا شَهْوَةٌ او که چيري د ښځي په زړه کي شهوت وي أَوْ أَكْبَرُ رَأْيِهَا أَنَّهَا تَشْتَهِي يا د هغې غالب ګومان دا وي چي شهوت [اشتها] به يې وسي أَوْ شَكَّتْ فِي ذَلِكَ يا په دې باره کي شکمنه وي يُسْتَحَبُّ لَهَا أَنْ تَغُضَّ بَصَرَهَا نو هغې لره مستحب دي چي خپل نظر ټيټ وساتي وَلَوْ كَانَ النَّاظِرُ هُوَ الرَّجُلُ إِلَيْهَا او که چيري خپله سړی د ښځي وطرف ته کتونکی وي وَهُوَ بِهَذِهِ الصِّفَةِ او هغه په دغه صفت سره وي [يعني شهوت يې وي يا يې غالب ګومان يا شک وي] لَمْ يَنْظُرْ نو نه دي ګوري وَهَذَا إِشَارَةٌ إِلَى التَّحْرِيمِ او دا [چي نه دي ګوري] د حراموالي وطرف ته اشاره ده [چي ورته کتل حرام دي].

اللغات: ﴿استواء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: سره برابر بدل، برابر والی. ﴿دواب﴾ جمع د دَابَّةٌ ده: څاروی (چارپای)، سپارلی ﴿محارم﴾ ذی رحم محرم قريبان.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي دوه سړي چي يو د بل کومو اندامو ته کتلای سي، همداسي يوه پردۍ ښځه هم د سړي هغه اندامو ته کتلای سي، په دې شرط چي دا ښځه له شهوت څخه په امن وي؛ او د دې د جائز کېدو دليل دا دی چي د سړي او ښځي چي کوم اندامونه عورت نه وي، دوی يو د بل هغه اندامو ته کتلای سي او جائز دي، لکه څرنګه چي سړی د ښځي جامو او سپارلي ته کتلای سي. همداسي ښځه هم د سړي جامو او سپارلي ته کتلای سي. له دواړو طرفو څخه په دې کي هيڅ حرج نسته.

وفي كتاب إلخ: فرمايي د مبسوط په کتاب الخنثیٰ کي دا مسئله داسي بيان سوې ده چي اجنبي سړي ته د ښځي کتل داسي دي لکه سړی چي خپل محارمو (خپل ذی رحم محرم ښځو) ته ګوري، او ښکاره ده چي سړی د خپل محارمو شا او نس ته نه سي کتلای، نو ځکه پردۍ ښځه هم د يو سړي نس يا شا ته نه سي کتلای؛ ځکه د خلاف جنس په صورت کي کتل نور هم زيات خطرناک او شهوت راپورته کونکي وي.

يادونه: صاحب د اثمار الهدايه غفرالله له وايي چي زما سره چي د مبسوط (کتاب الاصل) کومه نسخه موجوده ده په هغه کي کتاب الخنثیٰ نسته.

فإن كان في قلبها إلخ: او که چیري یو سړي ته په کتلو سره د ښځي زړه مائله سي یا دا یې ظنِ غالب وي چي شهوت به یې پورته سي یا یې د شهوت اندېښنه او خطره وي، نو په دې تولو صورتونو کي هغې ته پکار دي چي خپل نظر ټیټ وساتي، کنې هغې لره به نقصان وي.

ولو كان إلخ: د دې حاصل دا دی چي که کتل د سړي له طرفه وي او ښځي ته په کتلو سره د هغه د شهوت را پورته کېدو ظنِ غالب یا یې شک او اندېښنه وي، نو په دې وخت کي ښځي ته د سړي کتل حرام او ناجائز دي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ الشَّهْوَةَ عَلَيْهِنَّ غَالِبَةٌ او [په دواړو صورتونو کي] د فرق وجه دا ده چي پر ښځو شهوت غالب وي وَهُوَ كَالْمُتَحَقِّقِ اعْتِبَارًا او غالب شی د اعتبار له رویه د ثابت سوي [موجود] شي په څېر دی [نو مطلب دا چي په ښځه کي ګواکي هر وخت شهوت وي] فَإِذَا اشْتَهَى الرَّجُلُ نو کله چي د سړي هم اشتها وسي [شهوت یې پورته سي] كَانَتِ الشَّهْوَةُ مَوْجُودَةً فِي الْجَانِبَيْنِ نو په دواړو طرفونو کي بِه شهوت موجود سي وَلَا كَذٰلِكَ إِذَا اشْتَهَتِ الْمَرْأَةُ او [برابر] د ښځي د اشتها کېدلو په صورت کي داسي نه ده لِأَنَّ الشَّهْوَةَ غَيْرُ مَوْجُودَةٍ فِي جَانِبِهِ حَقِيقَةً وَاعْتِبَارًا ځکه [اوس] د سړي په طرف کي نه حقیقتاً شهوت موجود دی او نه اعتباراً [یعني نه یې اعتبار کېدلای سي] فَكَانَتْ مِنْ جَانِبٍ وَاحِدٍ لهذا صرف له یوه طرفه شهوت [ثابت] سو وَالْمُتَحَقِّقُ مِنَ الْجَانِبَيْنِ فِي الْإِفْضَاءِ إِلَى الْمُحَرَّمِ أَقْوٰى مِنَ الْمُتَحَقِّقِ فِي جَانِبٍ وَاحِدٍ او هغه [شهوت] چي له دواړو طرفونو څخه ثابت وي و حرام ته په رسولو کي [یعني د بدکارۍ په سبب جوړېدلو کي] زیات قوي دی له هغه [شهوت] څخه چي صرف په یوه طرف کي موجود وي.

اللغات: ﴿متحقق﴾ د تفعّل د باب مفعول دی: ثابت سوی، موجود. ﴿إفضاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: رسول، رسېدل، سبب جوړېدل.

تشریح: په مخکیني صورت کي ذکر سوه چي ښځي لره نظر ټیټول پکار دي او سړي لره نظر کول (کتل) حرام دي، د دې دواړو تر مینځ د فرق وجه دا ده چي پر ښځو شهوت غالبه وي او په احکامو کي غالب لره د وقوع درجه ورکول کیږي، لهذا ښځه له مخکي څخه تیاره او سړی چي هم کله مشتهي او تیار سي، نو د معاملې خرابېدلو خطره به زیاته سي.

خو کله چې پوازې د ښځې شهوت پورته وي. نه د سړي. نو په دې وخت کې د فساد خطره نه وي چې د سړي شهوت مړ وي. نو په دې وخت کې د ښځې لپاره د غض بصر (نظر ټيټولو) حکم سوی دی. او چې د سړي شهوت پورته وي. نو په دې وخت کې هغه لره نظر کول حرام ګرځول سوي دي؛ ځکه په داسې صورت کې د ګناه واقع کېدلو زيات خطره وي. لنډه دا چې کله له دواړو طرفونو څخه شهوت موجود وي. نو د فساد خطره قوي وي. لهذا په دې صورت کې محض کتل جرم ګرځول سوي دي. او که له يوه طرف څخه شهوت وي. نو د فساد خطره کمه وي. نو ځکه محض په نظر ټيټولو سره دا خطره ختميږي.

ښځې ته د ښځې کتل (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَتَنْظُرُ الْمَرْأَةُ مِنَ الْمَرْأَةِ إِلَى مَا فرمايي: او ښځه د ښځې هغه حصې [اندامو] ته کتلای سي يَجُوْزُ لِلرَّجُلِ أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ مِنَ الرَّجُلِ کوم چې سړي لره جائز دي چې د سړي هغه حصې ته وګوري لِوُجُوْدِ الْمُجَانَسَةِ د همجنس والي د موجوديت په وجه [يعني ځکه چې د دواړو يو جنس دی] وَانْعِدَامِ الشَّهْوَةِ غَالِبًا او غالباً د شهوت د نشتوالي په وجه كَمَا فِي نَظَرِ الرَّجُلِ إِلَى الرَّجُلِ لکه د سړي وسړي ته د کتلو په صورت کې [چې شهوت معدوم وي] وَكَذَا الضَّرُوْرَةُ قَدْ تَحَقَّقَتْ إِلَى الْاِنْكِشَافِ فِيْمَا بَيْنَهُنَّ همدارنګه د ښځو تر مينځ [د دومره حصې] لڅېدو ته ضرورت ثابت دی وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ نَظَرَ الْمَرْأَةِ إِلَى الْمَرْأَةِ كَنَظَرِ الرَّجُلِ إِلَى مَحَارِمِهِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې د ښځې و ښځې ته کتل داسې دي لکه د سړي وخپل محارمو ته کتل بِخِلَافِ نَظَرِهَا إِلَى الرَّجُلِ په خلاف د ښځې و سړي ته کتل [چې له نامه څخه تر زنګنو بغير نور ټوله بدن ته يې کتلای سي] لِأَنَّ الرِّجَالَ يَحْتَاجُوْنَ إِلَى زِيَادَةِ الْاِنْكِشَافِ لِلْاِشْتِغَالِ بِالْأَعْمَالِ ځکه په کارو د مشغولېدو په سبب خلک [د بدن] زيات لڅېدو ته محتاجه دي وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ او اول قول زيات صحيح دی.

اللغات: ﴿مجانسة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: هَمْ جنسه کېدل (همجنس والی)، له يوه جنسه کېدل. ﴿انکشاف﴾ د انفعال د باب مصدر دی: لڅېدل (لڅوالی).

تشريح: يو نارينه چې د بل نارينه کومو اندامونو ته کتلای سي، ښځه هم د بلې ښځې هغه اندامونو ته کتلای سي؛ ځکه همجنس ته کتل زيات آسانه او له فساده خالي وي چې همجنس ته د کتلو په صورت کې د ميلان او شهوت پورته کېدو خطره نه وي، او څرنګه چې سړی و بل سړي ته په کتلو سره نه مشتهي کيږي او په خپل مينځ کې يو د بل مخ ته ځينې اندامونه ښکاره کوي، همداسې ښځې

هم د خپل همجنس په مخ کي "حمام" وغيره ته د ننوتو پر مهال د ځيني اندامونو پر لڅېدو مجبوره وي، لهذا که دا ممنوع وګرځول سي، نو حرج کثير به لازم سي، والحرج مدفوعٌ في الشرع.

وعن أبي حنيفة إلخ: د دې حاصل دا دی چي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا هم نقل سوی دی چي څرنګه سړی د خپل محارمو (ذوي محرم قريبانو) نس او ملا ته نه سي کتلای. همداسي ښځه هم د بلي ښځي نس او ملا ته نه سي کتلای، خو ښځه د سړي نس او ملا ته کتلای سي: ځکه د کارو او مزدوريو د کثرت پر بناء د نارينه وو دا ځايونه حتماً ښکاره کيږي او د دې ښکاره کولو ته مجبوره دي. لهذا د دې په منع ګرځولو سره ضرر کثير لازميږي کوم چي صحيح نه دی.

لېکن صاحب د کتاب فرمايي چي اول قول او صورت زيات صحيح دی چي ښځه د بلي ښځي نس او ملا ته کتلای سي، لکه څرنګه چي سړی د بل سړي هغې ته کتلای سي او ښځه د سړي هغې ته کتلای سي. (احسن الهدايه)

خپلي ښځي ته کتل

قَالَ: وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنْ أَمَتِهِ الَّتِي تَحِلُّ لَهُ وَزَوْجَتِهِ إِلَى فَرْجِهَا فرمايي: او سړی د خپل هغه مينځي چي ورته حلاله وي او د خپل ښځي فرج [شرمګاه] ته کتلای سي وَهَذَا إِطْلَاقٌ فِي النَّظَرِ إِلَى سَائِرِ بَدَنِهَا عَنْ شَهْوَةٍ وَغَيْرِ شَهْوَةٍ او دا [عبارت] د کتلو په باره کي مطلق دی د هغې ټوله بدن ته په شهوت سره وي او که بغير له شهوته وي [يا په بله وينا دا چي دا عبارت د شهوت او بدون شهوت دواړو کي د خپل مينځي او خپل ښځي ټوله بدن ته د کتلو مطلقاً اجازت دی] وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] «غُضَّ بَصَرَكَ إِلَّا عَنْ أَمَتِكَ وَامْرَأَتِكَ» او اصل په دې باره کي د نبي کريم ﷺ دا فرمان دی: خپل نظر ټيټ ساته! مګر له خپل مينځي او خپل ښځي څخه وَلِأَنَّ مَا فَوْقَ ذَلِكَ مِنَ الْمَسِّ وَالْغِشْيَانِ مُبَاحٌ او ځکه چي تر دې بالا شی يعني مسه کول او جماع کول [هم] روا دي فَالنَّظَرُ أَوْلَى نو نظر خو به په درجه اولیٰ روا وي إِلَّا أَنَّ الْأَوْلَى أَنْ لَا يَنْظُرَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا إِلَى عَوْرَةِ صَاحِبِهِ خو غوره دا ده چي له دوی دواړو [زوجينو] څخه هر يو د خپل ملګري عورت ته نه ګوري لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [2] «إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ أَهْلَهُ

---

[1] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الأدب، باب ما جاء في حفظ العورة، ص: ۶۳۰، حديث رقم: ۲۷۹۴.

[2] تخريج: أخرجه ابن ماجة في كتاب النكاح، باب التستر عند الجماع، ص: ۲۷۵، حديث رقم: ۱۹۲۱، ۱۹۲۲.

فَلْيَسْتَتِرْمَا اسْتَطَاعَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: کله چي له تاسي څخه يو خپلي کور والا [ښځي] ته راسي نو څومره چي يې طاقت پرده دي کوي وَلَايَتَجَرَّدَانِ تَجَرُّدَ الْعَيْرِ او دوی دي د خرو په څېر ځان نه لڅوي وَلِأَنَّ ذٰلِكَ يُوْرِثُ النِّسْيَانَ او ځکه چي دا [عورت او فرج ته کتل] هېره پيدا کوي لِوُرُوْدِ الْأَثَرِ ځکه [په دې هکله] اثر وارد سوی دی وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُوْلُ: الْأَوْلٰى أَنْ يَنْظُرَ لِيَكُوْنَ أَبْلَغَ فِي تَحْصِيْلِ مَعْنَى اللَّذَّةِ خو حضرت ابن عمر (رض) به فرمايل: غوره دا ده چي [ورته] وګوري د دې لپاره چي د لذت د معنیٰ په حاصلولو کي زيات کامل وي [يعني چي په پوره توګه خوند حاصل کړی سي].

اللغات: ﴿مسيس﴾ مصدر دی. له سمع او نصر دواړو څخه راځي. مَسَّ يَمَسُّ وَيَمُسُّ مَسًّا و مَسِيْسًا و مِسِيْسٰى: مسه کول. لاس ور وړل. رسېدل. ﴿غِشْيَانٌ﴾ او غَشَيَان د سمع مصدر دی: يو ځا ته راتلل. مراد ځني کور والي او جماع کول دي. ﴿تجرّد﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: لڅېدل. بربنډ کېدل. ﴿عَيْر﴾ (په فتح د عين سره) خر ته وايي، هغه که وحشي خر وي او که کورنی وي (يعني عَيْر هر دوړل خره ته وايي). او عِيْر (په کسره د عين سره) هغه اوښان يا خرونه او غاطري چي غله او خوراکه باندي راوړل کيږي، بيا يې پر هره قافله اطلاق وسو. (مصباح)

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي د خپل حلالي مينځي او د خپل ښځي فرج او د هغې ټوله بدن ته د سړي کتل مطلقاً جائز دي، برابره ده په شهوت سره وي يا بغير له شهوته وي؛ ځکه نبي کريم ﷺ مينځي او ښځي ته د مطلقاً کتلو اجازت ورکړی دی.

او د دې عقلي دليل دا دی چي د خپل حلالي مينځي او ښځي مسه کول بلکي جماع ورسره کول هم روا دي، نو په کتلو کي يې څه ځرج دی. دا خو به په درجه اولیٰ روا وي. دا کوم څه چي ذکر سوه دا مسئله او فتویٰ ده. لېکن تقویٰ دا ده چي له زوجينو څخه به يو د بل فرج ته نه ګوري؛ ځکه په حديث کي د جماع پر مهال هم د پرده کولو حکم سوی دی او د لڅوالي ممانعت راغلی دی. او بل دا چي فرج ته په کتلو سره په سړي کي د هيري ناروغي پيدا کيږي؛ نو ځکه نه ورته کتل زيات غوره دي. لېکن د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په نېز کتل زيات غوره دي چي د ځاوند او ښځي تر مينځ بشپړ لطف او لذت حاصل سي، همدارنګه بعضي فقهاؤ د جماع پر مهال خاوند او ښځي لره يو د بل فرج ته کتل د خوند او لذت زياتېدلو سبب ګرځولي دي. (احسن الهدايه)

خپلو محارمو ته د سرې کتل

قَالَ: وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنْ ذَوَاتِ مَحَارِمِهِ إِلَى الْوَجْهِ وَالرَّأْسِ وَالصَّدْرِ وَالسَّاقَيْنِ وَالْعَضُدَيْنِ فرمايي: او سړی کتلای سي د خپل ذی رحم محرم ښځو مخ، سر، سينه، پنډيو، بازوګانو [ليڅو او متانو] ته وَلَا يَنْظُرُ إِلَى ظَهْرِهَا وَبَطْنِهَا وَفَخِذِهَا او نه سي کتلای د هغوی ملا، نس او ورنو ته وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَى او اصل په دې باره کي د الله تعالىٰ دا فرمان دی وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ [النور: ۳۱] او نه دي ښکاره وي ښځي خپل ښايست [او ځايونه د ښايست] مګر لپاره د خپلو خاوندانو [او لپاره د خپلو پلرونو. او ځامنو ...إلخ] وَالْمُرَادُ وَاللَّهُ أَعْلَمُ مَوَاضِعُ الزِّينَةِ او [په آيت کي له زينت څخه] مراد والله اعلم د زينت [ښايست] ځايونه دي وَهِيَ مَا ذُكِرَ فِي الْكِتَابِ او د زينت ځايونه هغه دي کوم چي موږ په قدوري [متن] کي ذکر کړل وَيَدْخُلُ فِي ذَلِكَ السَّاعِدُ وَالْأُذُنُ وَالْعُنُقُ وَالْقَدَمُ او په دې [مواضع زينت] کي ليڅي، غوږ، غاړه او پښه هم داخليږي لِأَنَّ كُلَّ ذَلِكَ مَوَاضِعُ الزِّينَةِ ځکه چي دا ټول د ښايست ځايونه دي بِخِلَافِ الظَّهْرِ وَالْبَطْنِ وَالْفَخِذِ په خلاف د ملا او نس او ورنو لِأَنَّهَا لَيْسَتْ مِنْ مَوَاضِعِ الزِّينَةِ ځکه چي دا د ښايست له ځايو څخه نه دي.

اللغات: ﴿العضد﴾ ما بين المرفق الى الكتف، بازو، مټ، ﴿بُعُولة﴾ جمع د بَعْلٌ ده: مېړه، خاوند (کله چي د هغه او ښځي تر مينځ واده وسي)، ﴿الساعد﴾ ما بين المرفق الى الكفّ من الاعلىٰ (يعني له څنګلو څخه تر ورغوي پوري د دغه حصې پورتني او ښکارېني طرف ته ساعد وايي)، ليڅه چي دواړو ته ليڅي وايي. خو عموماً عضد او ساعد په يوه معنیٰ سره استعماليږي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د خپل ذی رحم محرم ښځو مخ، سر، سينه، پنډۍ او ليڅو ته کتل جائز دي، خو د دوی ملا، نس او ورونو ته کتل جائز نه دي؛ دليل د قرآن کريم هغه آيت دی کوم چي په کتاب کي ذکر سو؛ ځکه په دې آيت کي ښځو لره د محارمو مخ ته د زينت ښکاره کولو اجازه ورکول سوې ده (يعني إلّا لبعولتهن أو آبائهن...إلخ)، او له زينت څخه مراد مواضعِ زينت دي (لکه مخکي چي هم ذکر سوه)، او ښکاره ده چي سر، سينه وغيره مواضعِ زينت دي، نو ځکه دې ځايو ته به د محرم کس نظر ناروا نه وي.

ویدخل إلخ: فرمايي كله چي په آيت كي له زينت څخه مراد مواضع زينت دي، نو څرنګه چي په ليڅو او په غوږو، غاړه او پښو باندي زيورات اغوستل كيږي، لهذا دوى به هم په مواضع زينت كي داخل وي چي د دوى ښكاره كول او كتل به هم جائز وي، خو نس او ملا څرنګه چي په هغوى زيورات نه اغوستل كيږي، نو ځكه هغوى به له مواضع زينت څخه خارج وي او ښكاره كول او كتل به يې جائز نه وي.

د پورتنى مسئلې نور وضاحت

وَلِأَنَّ الْبَعْضَ يَدْخُلُ عَلَى الْبَعْضِ مِنْ غَيْرِ اسْتِئْذَانٍ وَاحْتِشَامٍ او ځكه چي له څه اجازت غوښتلو او شرم كولو څخه بغير بعضي پر بعضو داخليږي وَالْمَرْأَةُ فِي بَيْتِهَا فِي ثِيَابِ مِهْنَتِهَا عَادَةً او ښځه په خپل كور كي عموماً د كار [خوارى] په كپړو كي وي فَلَوْ حَرُمَ النَّظَرُ إِلَى هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ نو كه چيري دغه ځايو ته نظر حرام وګرځول سي أَدَّى إِلَى الْحَرَجِ نو دا به د ستونزي [تكليف] سبب وګرځي وَكَذَا الرَّغْبَةُ تَقِلُّ لِلْحُرْمَةِ الْمُؤَبَّدَةِ او همدارنګه د همېشني حرمت په وجه رغبت كم وي فَقَلَّ مَا تُشْتَهٰى نو [نتيجتاً] به اشتها [شهوت] هم ډېر كم وي بِخِلَافِ مَا وَرَاءَهَا په خلاف له دې [مواضع زينت] څخه بغير نور ځايونه لِأَنَّهَا لَا تَنْكَشِفُ عَادَةً ځكه هغوى عادتاً نه لڅيږي وَالْمَحْرَمُ مَنْ لَا تَجُوزُ الْمُنَاكَحَةُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا عَلَى التَّأْبِيْدِ او ذى رحم محرم هغه كس دى چي د همېشه لپاره د هغه او ښځي تر مينځ نكاح جائز نه وي بِنَسَبٍ كَانَ برابره ده د نسب په وجه وي أَوْ بِسَبَبٍ يا د يو سبب په وجه وي كَالرَّضَاعِ وَالْمُصَاهَرَةِ لكه [په وجه د] رضاعت او مصاهرت لِوُجُودِ الْمَعْنَيَيْنِ فِيهِ ځكه چي په دوى كي هم دواړي معناوي [يعني ضرورت او قلت رغبت] موجود دي وَسَوَاءٌ كَانَتِ الْمُصَاهَرَةُ بِنِكَاحٍ أَوْ سِفَاحٍ فِي الْأَصَحِّ او برابره ده مصاهرت په نكاح سره وي يا په زنا سره وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړى.

اللغات: ﴿احتشام﴾ د افتعال د باب مصدر دى: شرم وحيا كول، انقباض. ﴿مهنة﴾ كار، خواري. ﴿مصاهرة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دى: د خسرتوب او خواښي توب قرابت (خواښي والى او خسر والى). د خېښى او زومتوب قرابت. ﴿سَفَاح﴾ بدكاري، زنا.

تشريح: مخكي ذكر سوه چي د ذى رحم محرم ښځو سر، پندى وغيره ته كتل جائز دي، په دې عبارت كي د هغه عقلي دليل بيانوي فرمايي چي په معاشره (ټولنه) كي رواج دا دى چي محارم يو د بل كورو او خونو ته په آزاده داخليږي او په دې هكله هيڅ بنديز نه وي، نه خو اجازت غواړي او نه

شرم وحيا محسوسوي، او ښځي په خپل کورني کارنو مصروفه وي نو داسي هم کيږي چي ځيني وخت د دوی پړوني له سر څخه لاندي يا جلا وي، لهذا که د مذکوره ځايو (سر وغيره) پر کتلو پابندي ولګول سي، نو زيات خرج به لازم سي، حالانکي شريعت حتیٰ الامکان د حرج او تکليف ليري کولو کوشش کړی دی نو ځکه د مجبورۍ او ضرورت پر بناء مذکوره ځايو ته کتل جائز ګرځول سوي دي.

وکذا إلخ: او بل دا چي د کومو کسانو تر مينځ چي دائمي حرمت وي (يعني محارم)، نو د هغوی يو بل ته رغبت هم کم وي، او په داسي کتلو سره د هغوی شهوت هم نه پورته کيږي، نو ځکه د فساد او فتنې د نشتوالي په وجه هم د محارمو سر، پنډۍ وغيره ته کتل جائز ګرځول سوي دي.

بخلاف ما وراءها إلخ: فرمايي چي له سر وغيره څخه بغير نور ځايونه مثلاً ورون، نس وغيره چي څرنګه په عامه توګه د هر چامخ ته د هغوی د پټولو التزام کيږي او د خلکو مخ ته لڅول يې معيوب ګڼل کيږي، نو ځکه د هغوی نه لڅول جائز دي او نه ورته کتل جائز دي.

والمحرم إلخ: په دې سره د ذی رحم محرم تعريف بيانوي چي محرم هغه کس ته وايي چي هيڅکله هم د ښځي سره د هغه نکاح نه سي کېدلای، برابره ده د نسب په وجه وي، لکه ورور، اکا وغيره، يا د يو بل سبب پر بناء وي، مثلاً دواړو د يوې ښځي تی رودلی وي، يا حرمت مصاهرت وي يعني د ښځي مور (خواښې) وغيره، د دوی سره هم په داسي توګه نکاح حرامه ده؛ ځکه د شهوت او رغبت کمښت چي څرنګه په نسبي قرابت کي سته، همداسي په رضاعت او مصاهرت کي هم سته.

او أصح قول دا دی چي د نکاح او زنا دواړو حرمت مصاهرت سره برابره دی؛ ځکه په دواړو صورتونو کي کتل حرام ګرځول د حرج سبب ګرځي، همدارنګه په دواړو صورتونو کي د شهوت او رغبت قلت موجود دی، خو ځيني مشايخو د مصاهرت بالزنا په صورت کي مذکوره ځايو ته کتل جائز نه دي ګرځولي او دليل يې دا پېش کړی دی چي که دا جائز وګرځول سي، نو په دې صورت کي به زاني لره د جرم په توګه اجازت ثابت سي، حال دا چي د محارمو اجازت د نعمت او انعام په توګه دی. نو ځکه د مزنيه ښځي د مور مخ، سر وغيره ته به د زاني کتل جائز نه وي، خو صحيح اول قول دی چي په هغه کي مصاهرت بالنکاح او بالزنا دواړو په يوه حکم ګرځول سوي دي.

د خپلو محارمو د مسه کولو حکم او تفصيل

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَمَسَّ مَا جَازَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ مِنْهَا فرمايي: او پروا نسته په دې کي چي مسه کړي د محارمو هغه اندامونه چي ورته کتل جائز وي [يعني د ذی رحم محرّم ښځو وکومو اندامونو ته چي کتل جائز دي. د هغوی مسه کول هم جائز دي] لِتَحَقُّقِ الْحَاجَةِ إِلَى ذٰلِكَ فِي الْمُسَافَرَةِ ځکه په سفر کي دې ته

ضرورت ثابت دی وَقِلَّةِ الشَّهْوَةِ لِلْمَحَارِمِيَّةِ او [ځکه چي] د حرمت پر بناء شهوت هم کم دی بِخِلَافِ وَجْهِ الْأَجْنَبِيَّةِ وَكَفَّيْهَا په خلاف د پردۍ ښځي مخ او د هغې ورغوي حَيْثُ لَا يُبَاحُ الْمَسُّ چي [د هغوی] مسه کول روا نه دي وَإِنْ أُبِيحَ النَّظَرُ که څه هم [ورته] کتل روا دي لِأَنَّ الشَّهْوَةَ مُتَكَامِلَةٌ ځکه چي [دلته] شهوت کامل دی إِلَّا إِذَا كَانَ يَخَافُ عَلَيْهَا أَوْ عَلَى نَفْسِهِ الشَّهْوَةَ مګر دا چي کله هغه [کتونکي] ته د شهوت بېره وي پر خپلو محارمو یا پر خپل ځان فَحِينَئِذٍ لَا يَنْظُرُ وَلَا يَمَسُّ نو په دې وخت کي به نه [ورته] ګوري او نه به [یې] مسه کوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] «الْعَيْنَانِ تَزْنِيَانِ وَزِنَاهُمَا النَّظَرُ ځکه نبي کريم ﷺ فرمایلي دي: چي سترګي زنا کوي او د هغوی زنا کتل دي وَالْيَدَانِ تَزْنِيَانِ وَزِنَاهُمَا الْبَطْشُ» او لاسونه هم زنا کوي او د هغوی زنا نیول دي وَحُرْمَةُ الزِّنَا بِذَوَاتِ الْمَحَارِمِ أَغْلَظُ او د محارمو سره د زنا حرمت زیات سخت دي فَيَجْتَنِبُ نو ځکه [د شهوت د بيري په وخت کي] به [له نظر او مس څخه] پرهيز کوي وَلَا بَأْسَ بِالْخَلْوَةِ وَالْمُسَافَرَةِ بِهِنَّ او څه پروا نشته د محارمو سره په خلوت او سفر کولو کي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [2] : «لَا تُسَافِرُ الْمَرْأَةُ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا إِلَّا وَمَعَهَا زَوْجُهَا أَوْ ذُو رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهَا» ځکه نبي کريم ﷺ فرمایلي دي: ښځه به سفر نه کوي تر دریو ورځو زیات مګر دا چي د هغې سره خپل خاوند یا ذو رحم محرم وي وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [3] : «أَلَا لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ لَيْسَ مِنْهَا بِسَبِيلٍ فَإِنَّ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ» او د نبي کريم ﷺ فرمان دی: خبردار! خلوت دي نه کوي سړی د يو داسي ښځي سره چي له هغې سره يې هيڅ سبيل نه وي، ځکه د دوی دواړو [سره] درېيم شيطان دی وَالْمُرَادُ إِذَا لَمْ يَكُنْ مَحْرَمًا او مراد [له دې فرمان "ليس منها بسبيل" څخه]-دا دی چي کله ذو رحم محرم کس [ور سره] نه وي فَإِنِ احْتَاجَتْ إِلَى الْإِرْكَابِ وَالْإِنْزَالِ بيا که ذو رحم محرم ښځي [پر سپارلي] سپرولو ته او را شوه کېدلو ته محتاجه

---

[1] تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب النكاح، باب في ما يؤمر به من غض البصر، حديث رقم:٢١٥٢.

[2] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب سفر المرأة، حديث رقم:٤١٨.

[3] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الفتن، باب ما جاء في لزوم الجماعة، حديث رقم:٢١٦٥.

سي فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَمَسَّهَا مِنْ وَرَاءِ ثِيَابِهَا نو بيا څه پروا نسته په دې کې چې پر کپړو سربېره يې مسه کړي وَيَأْخُذَ ظَهْرَهَا وَبَطْنَهَا دُونَ مَا تَحْتَهُمَا او ملا يا نس يې ونيسي، نه تر ملا او نس لاندې حصه إِذَا أَمِنَا الشَّهْوَةَ [په دې شرط] کله چې دواړه له شهوت څخه په امن وي فَإِنْ خَافَهَا عَلٰى نَفْسِهِ أَوْ عَلَيْهَا تَيَقُّنًا أَوْ ظَنًّا أَوْ شَكًّا خو که چيرې پر خپل ځان يا پر ښځه يې په يقيني توګه يا په ګوماني يا شکي توګه د شهوت بېره وي فَلْيَجْتَنِبْ ذٰلِكَ بِجَهْدِهِ نو بيا دې ځان ساتي له مسه کولو څخه د خپل کوشش [او وس] مطابق ثُمَّ إِنْ أَمْكَنَهَا الرُّكُوبَ بِنَفْسِهَا بيا که ذو رحم محرم ښځو لره خپله سپرېدل ممکن وي يَمْتَنِعُ عَنْ ذٰلِكَ أَصْلًا نو سړی به بالکل له مسه کولو څخه منع کيږي وَإِنْ لَمْ يُمْكِنْهَا او که خپله سپرېدل ورلره ممکن نه وي يَتَكَلَّفُ بِالثِّيَابِ نو په کپړه سره به [د مسه کولو] تکليف کوي كَيْ لَا تُصِيبَهُ حَرَارَةُ عُضْوِهَا د دې لپاره چې د اندام [بدن] ګرمي يې سړي ته نه ورسيږي وَإِنْ لَمْ يَجِدِ الثِّيَابَ او که کپړه نه ومومندي يَدْفَعُ الشَّهْوَةَ عَنْ قَلْبِهِ بِقَدْرِ الْإِمْكَانِ نو حتی الامکان دې له خپل زړه څخه شهوت ليرې کوي.

اللغات: ﴿أغلظ﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات سخت، بدترين. ﴿بَطْش﴾ مصدر دی، له نصر او ضرب دواړو څخه راځي: نيول (په لاس نيول او رااخيستل). ﴿إركاب﴾ د افعال د باب مصدر دی: سپرول، خېژول. ﴿إنزال﴾ مخکنۍ صيغه ده، د دې باب څو معناوي دي چې له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: (له سپارلي څخه) راښوه کول، راکوزول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د ذی رحم محرم ښځو کومو اندامو ته چې کتل جائز دي، د هغوی مسه کول هم پروا نه لري، څه قباحت او حرج پکښې نسته. په دې شرط چې له جانبين څخه د شهوت خطره نه وي؛ ځکه د سفر په حالت کې دې ته ضرورت پېښيږي، او بل دا چې د دائمي حرمت په وجه شهوت غالباً کم وي، نو ځکه د دوی په مسئله کې شرعاً څه حرج نسته.

بخلاف وجه الأجنبية إلخ: او پاتې سو د اجنبيه (پردۍ) ښځې حکم له دې څخه جلا دی؛ ځکه د اجنبيه ښځې مخ او لاسو ته کتل خو جائز دي. لېکن مسه کول يې جائز نه دي؛ ځکه که څه هم د سفر وغيره د ضرورت په وجه د اجنبيه ښځې مسه کول هم روا کېدل پکار دي، خو څرنګه چې د اجنبيه ښځې په صورت کې شهوت کامل موجوديږي. او عموماً اجنبيه ښځې ته په کتلو سره شهوت پوره ته

کیږي، لهذا که دلته هم مسه کول منع نه کړل سي، نو دا به د فساد سبب وګرځي، نو ځکه داجنبیه ښځي په صورت کي د مسه کولو اجازت نه دی ورکول سوی.

إلا إذا کان یخاف إلخ: د دې حاصل دا دی چي د ذی رحم محرم ښځو مسه کول هم هغه وخت جائز دي، کله چي له دواړو طرفونو څخه د شهوت بېره نه وي، لېکن که د سړي پر خپل ځان واک او کنټرول نه وي، یا یې د ښځي د شهوت پورته کېدو بېره وي، نو په دې وخت کي ذی رحم محرم ښځي ته هم کتل او مسه کول یې جائز نه دي؛ ځکه په حدیث کي دي چي سترګي هم زنا کوي او لاسونه هم زنا کوي چي د سترګو زنا (په شهوت سره) کتل دي او د لاسو زنا (په شهوت سره) نیول دي. لهذا حتی الامکان به له دې څخه د بچ کېدو کوښښ کیږي، او د ذی رحم محرم ښځو سره د زنا حرمت د اجنبیه ښځو په نسبت نور هم زیات سخت او سنګین دی. نو ځکه د شهوت د خطرې په وخت کي دلته له کتلو او مسه کولو څخه ځان ساتل نور هم ډېر لازمي او ضروري دي.

ولا بأس إلخ: فرمایي د محارمو سره د سفر کولو یا د هغوی سره په خلوت کولو او تنها کښېنستلو کي څه حرج نسته؛ ځکه په حدیث شریف کي د خاوند او محارمو سره د سفر کولو اجازت ورکول سوی دی. او په بل حدیث شریف "أَلَا لَا یَخْلُوَنَّ رَجُلٌ إلخ" کي دي چي که د ښځي سره غیر ذی محرم کس وي نو هلته د دوی سره دریم کس شیطان دی چي په مینځ کي یې ډېر ژر جوړښت راولي او فتنه وفساد واقع کوي. لهذا په سفر وغیر کي په ځانګړې توګه ذی رحم محرم کس پکار دی. (احسن الهدایه)

فإن احتاجت إلخ: که ښځه د خپل ذو رحم محرم کس سره سفر کوي او سپارلي ته په ختلو او راشوه کېدو کي مرستي ته مجبوره سي، نو که چیري دواړه له شهوت څخه په امن وي، نو د هغې دغه محرم کس لره دا اجازه سته چي پر جامو سربېره هغه تر ملا او نس (له بغل څخه) ونیسي او مرسته ور سره وکړي، په دې کي څه حرج نسته. لېکن که د یوه له طرفه د شهوت یقین یا ظن غالب یا شک وي. نو په دې صورت کي حتی الامکان له مسه کولو او نیولو څخه بچ کېدل پکار دي. او که ښځه بذات خود سپرېدلای سي، نو بیا د لاس ور وړلو قطعاً اجازت نسته. لېکن که په ختلو، راشوه کېدلو کي ور ته تکلیف وي، نو په دې وخت کي سړي لره پکار دي چي په ختلو او راشوه کېدو کي یې مرسته وکړي او له جامې او کپړې وغیره څخه هغه ونیسي، د دې لپاره چي د ښځي د بدن حرارت او ګرمي محسوس نه کړئ سي، او که جامه او کپړه نه وموندل سي، نو ښکاره ده چي د ضعیف کس سره مرسته کول ضروري دي، نو ځکه سړي ته پکار دي چي حتی الامکان پر خپل نفس کنټرول راولي او له شیطاني او شهواني خیال څخه په کلکه ځان وساتي او د هغې مرسته وکړي.

د بل چا د مينځي احکام

قَالَ: وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنْ مَمْلُوكَةِ غَيْرِهِ إِلَى مَا فرمايي: او سړی کتلای سي د بل چا د مينځي هغه حصې [اندامونو] ته يَجُوْزُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ مِنْ ذَوَاتِ مَحَارِمِهِ کوم چي جائز دي چي ورته وګوري له خپل ذی رحم محرم ښځو څخه [يعني د خپلو محرماتو کومو اندامو ته کتل چي جائز دي، د بل چا د مينځي هم هغه اندامونو ته کتل جائز دي] لِأَنَّهَا تَخْرُجُ لِحَوَائِجِ مَوْلَاهَا ځکه چي مينځه د خپل مالک د ضرورتونو لپاره بهر وځي وَتَخْدُمُ أَضْيَافَهُ وَهِيَ فِي ثِيَابِ مِهْنَتِهَا او د خپل مالک د مېلمنو خدمت کوي په داسي حال کي چي هغه خپل د کار په کپړو [کاليو] کي وي فَصَارَ حَالُهَا خَارِجَ الْبَيْتِ فِي حَقِّ الْأَجَانِبِ كَحَالِ الْمَرْأَةِ دَاخِلَهُ فِي حَقِّ مَحَارِمِ الْأَقَارِبِ نو له کور څخه بهر د پرديو خلکو په حق کي د مينځي حالت داسي سو لکه په کور کي دننه د ذی رحم محرم قريبانو په حق کي د ښځي حالت وَكَانَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ إِذَا رَأَى جَارِيَةً مُتَقَنِّعَةً . او حضرت عمر رضي الله عنه چي کله به يو مينځه په پړوني کي وليدله عَلَاهَا بِالدِّرَّةِ نو هغه به يې پر سر په دره ووهله وَقَالَ: أَلْقِي عَنْكِ الْخِمَارَ يَا دَفَارُ او داسي به يې وفرمايل: له ځانه پړونی ليري کړه! اې بويناکي! أَتَتَشَبَّهِينَ بِالْحَرَائِرِ آيا ته د آزادو ښځو سره مشابهت اختياروې وَلَا يَحِلُّ النَّظَرُ إِلَى بَطْنِهَا وَظَهْرِهَا او د مينځي نس او شا ته کتل جائز نه دي خِلَافًا لِمَا يَقُولُهُ مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَنَّهُ يُبَاحُ إِلَّا إِلَى مَا دُوْنَ السُّرَّةِ إِلَى الرُّكْبَةِ په خلاف د هغه کوم چي محمد بن مقاتل رَحِمَهُ الله وايي چي له نامه څخه تر ځنګنو بغير د مينځي نور بدن ته کتل روا دي [يعني دا قول يې صحيح نه دی] لِأَنَّهُ لَا ضَرُورَةَ كَمَا فِي الْمَحَارِمِ ځکه چي [مينځي ته د کتلو] ضرورت نسته لکه څرنګه چي په محارمو کي دی بَلْ أَوْلَى بلکي [د مينځي ملا او نس ته] نه کتل غوره دي لِقِلَّةِ الشَّهْوَةِ فِيهِنَّ وَكَمَالِهَا فِي الْإِمَاءِ ځکه په محارمو کي شهوت کم دی او په مينځو کي شهوت کامل دی وَلَفْظَةُ الْمَمْلُوكَةِ تَنْتَظِمُ الْمُدَبَّرَةَ وَالْمُكَاتَبَةَ وَأُمَّ الْوَلَدِ او د "مملوکه" لفظ مدبره، مکاتبه او امِ ولد ټولو لره شامل دی لِتَحَقُّقِ الْحَاجَةِ د حاجت ثابتېدلو پر بناء وَالْمُسْتَسْعَاةُ كَالْمُكَاتَبَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او سعی کونکي مينځه د مکاتبه مينځي په څېر ده د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز عَلَى مَا عُرِفَ لکه

ځرنګه چې پېژندل سوې ده وَأَمَّا الْخَلْوَةُ بِهَا وَالْمُسَافَرَةُ مَعَهَا فَقَدْ قِيلَ يُبَاحُ او پاته سو [د بل چا] د مینځې سره خلوت او سفر کول نو ويل سوي دي چې روا دي كَمَا فِي الْمَحَارِمِ لکه ځرنګه چې په محارمو کې [روا دي] وَقَدْ قِيلَ: لَا يُبَاحُ او ويل سوي دي: چې روا نه دي لِعَدَمِ الضَّرُورَةِ ځکه چې ضرورت نسته وَفِي الْإِرْكَابِ وَالْإِنْزَالِ اِعْتَبَرَ مُحَمَّدٌ فِي الْأَصْلِ الضَّرُورَةَ فِيهِنَّ او د سپرولو او راښوه کولو په هکله په اصل [مبسوط] کې امام محمد رَحِمَهُ الله په مینځو کې د ضرورت اعتبار کړی دی وَفِي ذَوَاتِ الْمَحَارِمِ مُجَرَّدَ الْحَاجَةِ او په محارمو کې يې د محض حاجت اعتبار کړی دی.

اللغات: ﴿حوائج﴾ جمع د حَاجَةٌ ده: حاجتونه، ضرورتونه، اړتیاوې، ﴿متقنعة﴾ د تفعّل له بابه د واحد مؤنث اسم فاعل صیغه ده: نقاب کونکې ښځه چې مخ يې پټ کړې وي، په پړوني وغیره باندې سر پټونکې ښځه، مراد: پرده کونکې ښځه، ﴿خمار﴾ پړوني، پوړنۍ، ﴿دفار﴾ بدبویه (بوناکه)، ګنده، نالائق، ﴿مستسعاة﴾ د استفعال له بابه د واحد مؤنث فاعل صیغه ده: هغه مینځه چې مالک ورته ویلي وي دومره مال را وګټه بیا ستا دا پاته حصه آزاده ده، اِسْتَسْعٰى يَسْتَسْعِيْ اِسْتِسْعَاءً: په غلام یا مینځه سعی او خواري کښل، خواري (مال په ګټل)، یعنې په غلام کسب او مزدوري کول (د دې لپاره چې غلام څه مال وګټي او د خپل پاته حصې قیمت اداء کړي او په پوره توګه آزاد سي).

تشریح: **صورت د مسئلې**: ذا دی چې ځرنګه د خپل ذی رحم محرم ښځو مخ، سر، سینې وغیره ته کتل جائز دي، همداسې د بل چا د مینځې هم مذکوره اندامو ته کتل جائز دي. او د دې د جائز کېدو وجه دا ده چې په عامه توګه مینځې د خپل مالک د ضروریاتو او خدماتو لپاره دباندې وځي، او د خپل کار په جامو کې د مالک د مېلمنو خدمت کوي، نو له کور څخه دباندې د پردیو خلکو په حق کې د مینځې درجه داسې سوه لکه په کور کې دننه د ذی رحم محرم قریبانو په حق کې د آزادې ښځې درجه، په بله وینا دا چې ځرنګه په کور کې دننه انسان خپل ذی رحم محرم ښځو ته کتلای سي، همداسې له کور څخه دباندې د بل چا مینځې ته کتلای سي، همدا وجه ده چې کله به حضرت عمر رضي الله عنه د یو چا مینځه په چادرې، نقاب وغیره کې ولیدله، نو هغې ته به يې سزا ورکوله؛ ځکه پر مینځې د خپل مالک حکم پوره کول او اطاعت کول ضروري دي او د حکم پوره کولو لپاره له کوره دباندې وتل هم پېښیږي او ځینې وخت د مالک یو کار ته ډېر تلوار وي، اوس که دا مینځه چادرې وغیره پر سر کړي، نو کېدای سي چې او به تر ورخ واوړي او دا کار ډېر وخت ونیسي، او بل دا چې په

چادري وغيره کې وتل دا دآزادو ښځو خاصه او ځانګړنه ده، که چيرې مينځې هم دغه طرز اختيار کړي، نو مَا الفَرق بينهما.

ولا يحلّ إلخ: څرنګه چې د ذی رحم محرم ښځو نس او ملا ته کتل جائز نه دي چې هيڅ ضرورت دې ته نشته، همداسې د بل چا د مينځې دغه حصو ته کول جائز نه دي، خو په دې هکله د محمد بن مقاتل رَحِمَهُ الله اختلاف دی هغه وايي چې له نامه څخه تر زنګنو بغير نورو ځايو ته يې کتل روا دي، او مونږ وايو چې د عدمِ ضرورت په وجه د مينځې نس او ملا ته کتل جائز نه دي. او بل چې کله د ذی رحم محرم ښځو نس او ملا ته کتل جائز نه دي سره د دې چې د هغوی په حق کې شهوت غالباً کم وي، نو د مينځو نس او ملا ته کتل په درجه اولیٰ جائز کېدل پکار نه دي؛ ځکه د مينځو په هکله شهوت غالب وي او د فساد او فتنې خطره پکښې زياته وي.

ولفظة المملوكة إلخ: فرمايي په متن کې چې کوم د "مَمْلُوْکَةٌ" لفظ ذکر دی، په هغه کې مدبّره، اُم ولد او مکاتبه ټوله مينځې داخلې دي؛ ځکه کوم ضرورت چې د مملوکه مينځې سره متعلق دي، هاغه د مدبّره وغيره سره هم متعلق دي، لهذا څرنګه چې د مملوکه مينځې په حق کې اجازت شته، نو په مدبّره، اُم ولد او مکاتبه مينځې کې به هم اجازت وي.

والمستسعاة إلخ: په کتابُ العتق کې ستاسې مخ ته تېر سوه چې امام صاحب رَحِمَهُ الله د عتق د تجزّی قائل دی (چې عتق [آزادي] هم متجزي کېدای سي)، نو فرمايي هغه مينځه چې مالک يې يوه حصه آزاده کړې وي او د پاته حصې د آزادولو لپاره مينځه هڅه او مزدوري کوي، د داسې مينځې هم هاغه حکم دی کوم چې د مدبّره او مکاتبه مينځې دي، يعني د هغې مخ ته هم کتل جائز دي.

وأما الخلوة إلخ: د دې حاصل دا دی چې ځينې حضرات د ذی رحم محرم ښځو په څېر د اجنبيه مينځې سره خلوت او سفر کول روا ګڼي، او ځينې نور حضرات بيا د عدمِ ضرورت په وجه دا ناروا ګڼي، خو امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کې د سپرېدلو او له سپارلې څخه د راښوه کېدلو په اړه د مينځو په حق کې د ضرورت اعتبار کړی دی او د ذی رحم محرم ښځو په حق کې يې د حاجت اعتبار کړی دی. يعني که د مينځې خيژولو او راښوه کولو ته سخت ضرورت وي مثلاً که مينځه نه وخېژول سي نو قافله به ځني ولاړه سي او دا به د مرګ په انتظار ناسته پاته سي، نو په داسې وخت کې اجنبي کس مرسته ورسره کولای سي، او د ذی رحم محرم ښځې مسئله دا ده چې که هغه د يو حاجت لپاره روانه وي، مثلاً کور يې په ښار کې وي او هغه خپل کښت ته ځي او د خوراک لپاره سبزيجات

رواړي، نو که چيري په ختنلو او راشوه کېدو کي مرستي ته مجبوره وي، نو مرسته ورسره کول جائز دي، په دې شرط چي له جانبينو څخه د شهوت خطره نه وي، کنې جائز نه دي.

فايده: ضرورت دې ته وايي چي له هغه څخه هيڅ چاره نه وي او حصول يې ضروري وي او حاجت هغه دی چي انسان ورته محتاجه وي خو له هغه څخه بغير هم چاره او ګذاره کېدلای سي. (احسن الهدايه)

د مېنځي د رانيولو پر مهال د مسه کولو حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَمَسَّ ذٰلِكَ إِذَا أَرَادَ الشِّرَاءَ فرمايي: او پروا نسته په دې کي چي دا ځايونه مسه کړي کله چي [د مېنځي] د رانيولو اراده لري وَإِنْ خَافَ أَنْ يَشْتَهِيَ که څه هم پر دې بېرېږي چي اشتها [شهوت] به يې وسي كَذَا ذَكَرَهُ فِي الْمُخْتَصَرِ همداسي يې په مختصر القدوري کي ذکر کړي دي وَأَطْلَقَ أَيْضًا فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ وَلَمْ يُفَصِّلْ او په جامع صغير کي هم امام محمد رَحِمَهُ الله مطلق بيان کړی دی او هيڅ تفصيل يې نه دی کړی قَالَ مَشَايِخُنَا رَحِمَهُمُ اللهُ: يُبَاحُ النَّظَرُ فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ وَإِنِ اشْتَهَى لِلضَّرُورَةِ زموږ مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چي په دغه حالت کي د ضرورت په وجه کتل خو روا دي که څه هم اشتها [شهوت] يې وسي وَلَا يُبَاحُ الْمَسُّ إِذَا اشْتَهَى أَوْ كَانَ أَكْبَرُ رَأْيِهِ ذٰلِكَ خو مسه کول روا نه دي کله چي اشتها يې وسي يا يې د دې غالب ګومان وي [چي اشتها به مي وسي] لِأَنَّهُ نَوْعُ اِسْتِمْتَاعٍ ځکه چي مسه کول هم يو ډول نفع اخيستل دي وَفِي غَيْرِ حَالَةِ الشِّرَاءِ يُبَاحُ النَّظَرُ وَالْمَسُّ بِشَرْطِ عَدَمِ الشَّهْوَةِ او د رانيولو له حالت څخه بغير بل حالت کي کتل او مسه کول د شهوت [اشتها] نه کېدلو په شرط سره روا دي.

اللغات: ﴿يَمَسَّ﴾ او يَمُسّ يعني له سمع او نصر دواړو بابونو څخه ويل کېدای سي: مسه کول، لاس وړل. ﴿استمتاع﴾ د استفعال د باب مصدر دی: (له بنځي څخه) نفع او کار اخيستل. (د ښځي سره جماع کول).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د رانيولو پر مهال که څوک د مېنځي سر وغيره مسه کړي، نو څه پروا نه لري، که څه هم د خپل شهوت پورته کېدو بېره يې وي، په قدوري او جامع صغير کي يې دغه مسئله مطلقاً ذکر کړې ده، يعني د شهوت او عدمِ شهوت تر مينځ يې هيڅ فرق نه دی کړی (يعني د شهوت او عدمِ شهوت په دواړو صورتونو کي د مېنځي هغه اندامونه مسه کول روا دي کوم ته چي کتل روا دي)، خو مشايخو رَحِمَهُمُ الله د رانيولو د ضرورت په خاطر په شهوت سره کتل خو روا کړي دي، لېکن مسه کول يې نا روا ګرځولي دي که د شهوت يقين يا يې ظن غالب وي؛ ځکه چي مسه کول هم يو ډول استمتاع ده، او استمتاع بالاجنبيه حرام ده. ها! که چيري شهوت نه وي، نو کتل او مسه کول دواړه جائز دي، برابره ده رانيول يې مقصود وي او که نه وي.

د بالغي مينځي احکام او د نامرده کس، نربنځي وغيرهما احکام

قَالَ: وَإِذَا حَاضَتِ الْأَمَةُ فرمايي: او کله چي مينځه حائضه سي لَمْ تُعْرَضْ فِيْ إِزَارٍ وَاحِدٍ نو په يوازي لنګ کي به نه پېشول کيږي [چي فقط لاندي حصه يې پټه وي او نس او ملا ښکاره وي] وَمَعْنَاهُ بَلَغَتْ او د دې معنیٰ دا ده چي [کله] بالغه سي وَهٰذَا مُوَافِقٌ لِمَا بَيَّنَّا أَنَّ الظَّهْرَ وَالْبَطْنَ مِنْهَا عَوْرَةٌ او دا حکم د هغه دليل په وجه دی کوم چي موږ بيان کړی چي د مينځي ملا او نس عورت دي وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهَا إِذَا كَانَتْ تَشْتَهِيْ وَيُجَامَعُ مِثْلُهَا او له امام محمد رَحِمَهُ الله ځخه روايت دی چي کله مينځه داشتها [شهوت] قابله وي او د داسي [دومره عمر والا] ښځي سره جماع کېدلای سي فَهِيَ كَالْبَالِغَةِ نو هغه د بالغي ښځي په څېر ده لَا تُعْرَضُ فِيْ إِزَارٍ وَاحِدٍ چي په يوه جامه کي به نه پېشول کيږي لِوُجُوْدِ الِاشْتِهَاءِ داشتها [شهوت] موجودېدلو په وجه قَالَ: وَالْخَصِيُّ فِي النَّظَرِ إِلَى الْأَجْنَبِيَّةِ كَالْفَحْلِ فرمايي: او پردۍ ښځي ته د کتلو په هکله خسي کس د [ناخسي] نارينه په څېر دی لِقَوْلِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: اَلْخِصَاءُ مُثْلَةٌ د حضرت عائشې (رض) د قول په وجه: چي خسي کول [په څېر د] مثله کول دي فَلَا يُبِيْحُ مَا كَانَ حَرَامًا قَبْلَهُ لهذا خسي کول هغه شی نه روا کوي کوم چي تر خسي کولو مخکي حرام وي وَلِأَنَّهُ فَحْلٌ يُجَامِعُ او ځکه چي خسي نارينه دی چي جماع کولای سي وَكَذَا الْمَجْبُوْبُ او همداسي هغه کس چي ذکر يې پرېکړل سوی وي لِأَنَّهُ يَسْحَقُ وَيُنْزِلُ ځکه هغه ځان مږلای سي او انزال کولای سي [يعني په ځان مږلو سره مني را ايستلای سي] وَكَذَا الْمُخَنَّثُ فِي الرَّدِيْءِ مِنَ الْأَفْعَالِ او همدارنګه مخنث [د ښځو سره مشابهت اختيارونکی] په بدو کارو کي [يعني بدکاره مخنث] لِأَنَّهُ فَحْلٌ فَاسِقٌ ځکه چي هغه فاسق نارينه دی وَالْحَاصِلُ أَنَّهُ يُؤْخَذُ فِيْهِ بِمُحْكَمِ كِتَابِ اللهِ الْمُنَزَّلِ فِيْهِ خلاصه دا چي په دې باره کي به په کتابُ الله کي پر نازل سوي حکم عمل کيږي وَالطِّفْلُ الصَّغِيْرُ مُسْتَثْنًى بِالنَّصِّ او کوچنی بچی د نص په وجه [له پورتني حکم ځخه] مستثنیٰ دی.

اللغات: ﴿لم تعرض﴾ د ضرب له بابه د جحدِ مجهول صيغه ده: پېشول، وړاندي کول، مخ ته راوړل. ﴿إزار﴾ هغه جامه چي د بدن پر لاندي نيمه حصه تړل کيږي، يعني لنګ. الإزار: ثوب يحيط

بالنصف الاسفل من البدن، ﴿خصي﴾ خسي، هغه سړی چي خوټي (خصيتين) يې تکول سوي وي، ﴿فحل﴾ مينده، نارينه، هغه سړی چي په وطي سره يې له ښځي څخه کوچنی پيدا کېدلای سي، ﴿مجبوب﴾ هغه سړی چي ذکر يې پرېکړی سوي وي، ﴿يسحق﴾ مُږل، له مساحقت څخه دی (أحسن الهداية)، ﴿مُخنث﴾ په عربي کي اصل نرښځي ته "خُنثى" وايي کوم چي د نارينه اندام يعني ذکر هم لري او د ښځي فرج هم لري، او "مُخَنَّث" هغه سړي ته وايي کوم چي بالکليه د ښځو سره مشابهت اختياروي او د ښځو چمونه او حرکتونه کوي، صاحب د معجم يې داسي تعريف کړی دی: "الرَّجُلُ الْمُتَشَبِّهُ بِالنِّسَاءِ فِيْ مِشْيَتِهٖ وَكَلَامِهٖ وَتَعَطُّفِهٖ وَتَلَيُّنِهٖ" (يعني هغه سړی کوم چي په خپل تګ، کلام، ميلان او نرمۍ کي د ښځي سره مشابهت کونکی وي)، او دلته ځني مراد "المتشبه بالنساء فی الردیء من الأفعال" دی لکه څرنګه چي خپله مصنف رَحِمَهُ الله ويلي دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي څرنګه د آزادو ښځو نس او ملا عورت دي، همداسي د مينځي نس او ملا هم په عورت کي داخل دي او هغوی ته کتل جائز نه دي، او س مسئله دا ده چي کله مينځه حِائضه يعني بالغه سي، نو تر دې وروسته به هغه د خرڅلاو وغيره په غرض د خلکو مخ ته په يوه لنګ او پرتوک کي نه پېشول کيږي بلکې د هغې نس او ملا وغيره به هم پټول کيږي يا کميس به ور اغوستل کيږي چي څه فتنه واقع نه سي. امام محمد رَحِمَهُ الله هم مشتهاة مينځي ته د بالغي مينځي حکم ورکړی دي او په يوه إزار کي له وتلو څخه يې منع کړې ده.

قال إلخ: د دې حاصل دا دی چي څرنګه سړي لره د پردۍ ښځي د مخ او لاسو څخه بغير نورو ځايو ته کتل جائز نه دي، همداسي خسي کس، مقطوع الذکر او بدکاره مخنث لره هم د مخ او لاسو څخه بغير د پردۍ ښځي نورو ځايو ته کتل جائز نه دي؛ د خسي په هکله دليل د حضرت عائشې رضی الله عنها دا فرمان دی چي خسي کول د مثله کولو په څېر دي، لهذا کوم شی چي تر دې مخکي حرام وو يعني نظر إلی الأجنبية، تر خسي کولو وروسته به هم جائز او حلال نه وي. او بل دا چي دا خسي هم د نورو خلکو په څېر پر جماع قادره وي، تر دې چي ځينو د خسي کس جماع نوره هم زيات سخته ښوولې ده؛ ځکه د هغه په آله کي ژر سستي نه راځي. والله أعلم

او مقطوع الذکر کس ځکه د روغو خلکو په حکم کي دی چي د ذکر او ځان مږلو په ذريعه هغه هم پر انزال کولو قادر دی، لهذا د شهوت او بدکارۍ بېره په هغه کي هم سته. او بدکاره مخنث هم د فاسق نارينه په څېر دی، نو ځکه دا دواړه به هم د نارينه وو په حکم کي وي.

والحاصل إلخ: فرمايي خلاصه د خبري دا ده چي د مذکوره اصنافو په هکله به په کتابُ الله کي پر نازل سوي حکم عمل کيږي او په کتابُ الله کي په دې هکله دوه آيتونه نازل سوي دي: ① ﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ﴾، ② ﴿أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ﴾. تاسي او گورئ! له دغه دوو آيتو څخه مخکي اول آيت محکم دی او په هغه کي مطلقاً ټولو مسلمانانو ته ته د نظر ټيټ ساتلو حکم سوی دی، خو دويم آيت متشابه دی چي په هغه کي تأويلات هم سوي دي او د هغه تأويلاتو په ضمن کي خسي وغيره له نارينه وو څخه مستثنیٰ سوي دي او د کوچنيانو په حکم گرځول سوي دي چي دوی ته هم د کوچنيانو په څېر و اجنبيه ښځي ته د مطلقاً کتلو اجازت سته، لېکن تاسي ته معلومه ده چي کله په محکم او متشابه کي تعارض راسي نو په دې وخت کي په محکم عمل کيږي او متشابه پرېښوول کيږي، نو ځکه دلته به هم په محکم عمل کيږي او د محکم په وجه به خسي او دا نورو کسانو ته د نارينه وو حکم ورکول کيږي چي دوی لره به ښځو ته د کتلو اجازت نه وي لکه څرنگه چي کوچنيانو لره اجازت دی. او پاته سوه کوچنيان په دې آيت ﴿أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا إلخ﴾ سره مستثنیٰ او خارج کړل سوي دي، نو ځکه کوچني لره خو به د مطلقاً کتلو، مسه کولو وغيره اجازت وي.

د نارينه غلام خپلي مالکي ښځي ته د کتلو حکم

قَالَ: وَلَايَجُوزُ لِلْمَمْلُوكِ أَنْ يَنْظُرَ مِنْ سَيِّدَتِهِ إِلَّا مَا يَجُوزُ لِلْأَجْنَبِيِّ النَّظَرُ إِلَيْهِ مِنْهَا فرمايي: او غلام لره جائز نه دي چي خپل مالکي ته وگوري مگر د دې هغه اندامو ته چي پردی کس هغوی ته کتلای سي وَقَالَ مَالِكٌ: هُوَ كَالْمَحَارِمِ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي غلام د محرم [نو رحم محرم] په څېر دی وَهُوَ أَحَدُ قَوْلَيِ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله يو قول دی لِقَوْلِهِ تَعَالَى: أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ [النور: ۳۱] د الله تعالیٰ د دې فرمان په وجه: ﴿أو ما ملكت أيمانهنّ﴾ [...يا هغه ښځي چي تاسي يې مالکان ياست] وَلِأَنَّ الْحَاجَةَ مُتَحَقِّقَةٌ او ځکه چي ضرورت موجود دی لِدُخُولِهِ عَلَيْهَا مِنْ غَيْرِ اسْتِئْذَانٍ ځکه غلام پر خپل مالکي بغير له اجازت نه داخليږي وَلَنَا: أَنَّهُ فَحْلٌ غَيْرُ مَحْرَمٍ او زموږ

دليل دا دی: چي غلام يو داسي نارينه دی کوم چي محرم نه دی [نا محرمه نارينه دی] وَلَا زَوْجٌ او نه خاوند [مېړه] دی وَالشَّهْوَةُ مُتَحَقِّقَةٌ لِجَوَازِ النِّكَاحِ فِي الْجُمْلَةِ او في الجمله د نکاح جائز کېدلو په خاطر شهوت هم موجود دی وَالْحَاجَةُ قَاصِرَةٌ او ضرورت ډېر کم [معمولي] دی لِأَنَّهُ يَعْمَلُ خَارِجَ الْبَيْتِ ځکه چي غلام د کور دباندي کارونه کوي وَالْمُرَادُ بِالنَّصِّ الْإِمَاءُ او په نصّ [آيت] سره مراد مينځي دي قَالَ: سَعِيدٌ وَالْحَسَنُ وَغَيْرُهُمَا: لَا تَغُرَّنَّكُمْ سُورَةُ النُّورِ فَإِنَّهَا فِي الْإِنَاثِ دُونَ الذُّكُورِ حضرت سعيد او حضرت حسن رَحِمَهُمَا الله فرمايلي دي: چي سورة النور دي تاسي دوکه نه کړي ځکه هغه د ښځينه وو په باره کي دی، نه د نارينه وو.

اللغات: ﴿سيدة﴾ مالکه، باداره، ﴿استئذان﴾ د استفعال د باب مصدر دی: د اجازت طلب کول، اجازه غوښتل، ﴿لا تغرن﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب نفي مؤکد با نون ثقيله صيغه ده: په فريب او دوکه مبتلا کول، دوکه کول.

صورت د مسئلې: دا دی چي د احنافو په نيز غلام د اجنبي په څېر دی، يعني يو پردي کس لره چي د ښځي کومو اندامو ته کتل جائز دي، غلام لره هم د خپل مالکي ښځي صرف هاغه اندامو ته کتل جائز دي (چې هغه مخ او لاسونه دي)، امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي غلام د خپل مالکي په حق کي محرم دی، يعني محرم کس لره چي د ښځو کومو اندامو ته کتل جائز دي، غلام لره هم د خپل مالکي هغه اندامو ته کتل جائز دي.

د دوی دليل دا آيت دی ﴿أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ﴾ چي په دې آيت کي کلمه د "مَا" عامه ده غلامان او مينځي ټوله پکښي داخل دي، لهذا څرنګه چي د مينځو په مخ کي خپل مواضع زينت (د ښکلا ځايونه) ښکاره کول جائز دي، نو همداسي به د غلامانو په مخ کي هم ښکاره کول جائز وي.

او دويم دليل دا دی چي غلام د خپل مالکي د کار او خدمت لپاره کور ته ځي راځي او عموماً بلا اجازته ځي راځي، او ښځه هر وخت په کور کي پرده او چادري نه سي کولای، نو ځکه د ضرورت پر بناء به د ښځي په حق کي خپل غلام د محرم په درجه کي وي او حکم به يې د محارمو په څېر وي.

ولنا إلخ: دا احنافو دليل دا دی چي غلام هم يو نارينه دی، پر جماع قادر دی، او بل هغه محرم او خاوند هم نه دی او د هغه او د مالکي تر مينځ د نکاح حرمت هم ابدي او دائمي نه دی (لکه د محارمو تر مينځ د نکاح حرمت)، نو د شهوت قوي امکان هم شته، لهذا هيڅکله به غلام ته د محارمو درجه نه ورکول کيږي، کنې د فتنې او فساد لامل به وګرځي.

والحاجة إلخ: او پاته سو امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا چي د غلام په حق کي د محرم کېدلو ضرورت ثابت کړی دی، د هغه جواب دا دی چي دلته ډېر معمولي ضرورت دی، ځکه غلام خو زياتره وخت دباندينې کارونه ترسره کوي، د کورني کارو لپاره خو مينځه او نوکره مقرره وي او غلام کله نا کله کور ته راځي، لهذا د دومره معمولي ضرورت په خاطر هغه ته د محارمو درجه نه سي ورکول کېدلای.

• پاته سو په پورتني آيت سره د دوی دليل نيول صحيح نه دي؛ ځکه که څه هم د "مَا" کلمه د عموم لپاره ده، لېکن څرنګه چي حضرت سعيد او حضرت حسن بصري رَحِمَهُمَا الله او داسي نورو دلته فقط ښځي د "مَا" مصداق ښوولي دي، نو بيا له دې څخه "مَا" عام کول او په هغه کي غلامان هم داخلول به صحيح نه وي.

له خپلي ښځي يا مينځي څخه د عزل کولو حکم

قَالَ: وَيَعْزِلُ عَنْ أَمَتِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهَا فرمايي: او سړی له خپلي مينځي څخه د هغې له اجازته بغير عزل کولای سي وَلَا يَعْزِلُ عَنْ زَوْجَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهَا لېکن له خپلي ښځي څخه د هغې له اجازته بغير عزل نه سي کولای لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] نَهَى عَنِ الْعَزْلِ عَنِ الْحُرَّةِ إِلَّا بِإِذْنِهَا ځکه نبي کريم ﷺ د آزادي ښځي له اجازته بغير د هغې له عزل څخه منع کړې ده وَقَالَ لِمَوْلَى أَمَةٍ: اِعْزِلْ عَنْهَا إِنْ شِئْتَ او نبي ﷺ د يوې مينځي مالک ته وفرمايل: له هغې څخه عزل کوه! که ستا خوښه وي وَلِأَنَّ الْوَطْءَ حَقُّ الْحُرَّةِ قَضَاءً لِلشَّهْوَةِ وَتَحْصِيلًا لِلْوَلَدِ او ځکه چي وطي د آزادي ښځي حق دی د شهوت پوره کولو او بچي حاصلولو لپاره وَلِهَذَا تُخَيَّرُ فِي الْجَبِّ وَالْعِنَّةِ په همدې وجه [د خاوند] د مقطوع الذکر او

---

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجة في كتاب النكاح، باب العزل، حديث رقم:١٩٢٨.

نامرده کېدو په صورت کې آزادې ښځې ته اختيار ورکول کيږي وَلَا حَقَّ لِلْأَمَةِ فِي الْوَطْءِ او په وطي کي د مينځي هيڅ حق نسته فَلِهٰذَا لَا يَنْقُصُ حَقَّ الْحُرَّةِ بِغَيْرِ إِذْنِهَا په همدې وجه خاوند د آزادې ښځې له اجازت نه بغير د هغې حق نه سي کمولای وَيَسْتَبِدُّ بِهِ الْمَوْلٰى خو د مينځې مالک په دې هکله مستقل [خود مختاره] دی وَلَوْكَانَ تَحْتَهُ أَمَةُ غَيْرِهِ او که د يو چا تر ملکيت لاندې د بل چا مينځه وي فَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي النِّكَاحِ نو د دې ذکر موږ په کتاب النکاح کې کړی دی.

اللغات: ﴿جَبّ﴾ (بفتح الجيم): د ذکر پرېکېدل، مقطوع الذکر کېدل، ﴿عِنَّة﴾ عنين کېدل (نامرده کېدل)، د يو مرض په وجه له جماع څخه عاجزه کېدل، ﴿يستبد﴾ د استفعال له بابه د مضارع صيغه ده، اِسْتَبَدَّ يَسْتَبِدُّ اِسْتِبْدَادًا: مستقل کېدل، خود مختاره کېدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې له خپلې مينځې څخه د هغې له اجازت نه بغير هم عزل کول جائز دي، خو له خپلې آزادې ښځې څخه د هغې له اجازت نه بغير عزل کول جائز نه دي؛ ځکه نبي کريم ﷺ د آزادې ښځې له اجازت نه بغير له عزل کولو څخه منع کړې ده او د مينځې په هکله يې عزل د مالک (مولیٰ) پر خوښه موقوف کړی دی.

او بل دا چې وطي دا د آزادې ښځې حق دی چې هغه خپل شهوت پوره کړی سي او د وطي په ذريعه د بچي نعمت حاصل کړی سي، همدا وجه ده چې د دغه حقوقو په خاطر هغې ته د مقطوع الذکر او نامرده (عنين) سره د اوسېدلو او نه اوسېدلو اختيار ورکول سوی دی. لهذا کله چې وطي د هغې حق دی نو احترام يې ضروري دی، او د احترام تقاضا دا ده چې د هغې له اجازت نه بغير عزل (د انزال په وخت کې جلا کېدل) نه وَسي، ځکه همدا انزال د وطي مغز او ما حصل دی. او پاتې سوه مينځه د وطي سره د هغې هيڅ حق متعلق نه دی؛ نو ځکه مالک لره د هغې سره د عزل کولو يا نه کولو اختيار سته، ځکه دلته د حق ضايع کېدلو هيڅ انديښنه نسته.

فرمايي که د چا په ملکيت کې د بل چا مينځه وي، نو د هغې سره د عزل کولو مسئله په کتاب النکاح کې بيان سوې ده.



فِصْلٌ فِي الْاِسْتِبْرَاءِ وَغَيْرِه

دا فصل په (بيان د) استبراء او داسي نورو کي دی

تشريح:

د استبراء معنیٰ او وضاحت: استبراء له "بَرَاءَة" څخه مشتق دی: د رحم د پاکوالي او خالي والي طلب کول، یا په بله وینا دا چې د رحم د خالي والي (نه حامله کېدلو) خبر تر لاسه کول او معلومول چي د ښځي رحم خو به د بل چا په اُوبو سره مشغوله نه وي يعني حامله خو به نه وي، د استبراء او را روان عبارت آسانه مطلب دا دی چي کله د چا په ملکيت کي مينځه راسي (هغه که هر ډول راسي) نو تر يوه حيضه پوري دي وطي نه ور سره کوي، بلکي کله چي يې حيض راسي او بيا ختم سي نو وطي دي ور سره وکړي د دې لپاره چي په يقيني توګه معلومه سي چي په نس کي يې د بل چا حمل نسته؛ ځکه د حيض راتلل د دې خبري علامه ده چي په نس کي يې حمل نسته. او پاته سوه حامله مينځه چي کله بچی وزېږوي او د نفاس موده يې پوره سي، نو بيا دي وطي ور سره وکړي ځکه چي نس د بل چا په نطفه او حمل سره مشغول دی.

د استبراء حکم

قَالَ: وَمَنِ اشْتَرَى جَارِيَةً فرمايي: او څوک چي مينځه رانيسي فَإِنَّهُ لَا يَقْرَبُهَا نو دئ به هغه مينځي ته نه ورنژدې کيږي [سملستي به جماع نه ور سره کوي] وَلَا يَلْمِسُهَا او نه به يې مسه کوي وَلَا يُقَبِّلُهَا او نه به يې مچوي وَلَا يَنْظُرُ إِلَى فَرْجِهَا بِشَهْوَةٍ او نه به يې فرج ته په شهوت سره ګوري حَتَّى يَسْتَبْرِئَهَا تر دې چي استبراء ور سره وکړي [طلب د برائت او پاکوالی يې وکړي] وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي سَبَايَا أَوْطَاسٍ [1] «أَلَا لَا تُوطَأُ الْحَبَالَى حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ خبردار! د حامله ښځو [مينځو] سره به وطي نه کيږي تر دې چي حمل وزېږوي وَلَا الْحَيَالَى حَتَّى يُسْتَبْرَأْنَ بِحَيْضَةٍ» او نه به د غير حاملاتو سره وطي کيږي تر دې چي په يوه حيض استبراء ور سره وکړل سي أَفَادَ وُجُوبَ

[1] تخريج: اخرجه ابو داؤد في كتاب النكاح، باب في وطء السبايا، حديث رقم:٢١٥٧.

الِاسْتِبْرَاءِ عَلَى الْمَوْلٰى دغه حديث پر مالک د استبراء واجبېدلو فايده ورکړه وَدَلَّ عَلَى السَّبَبِ فِي الْمَسْبِيَّةِ [همدارنګه] پر هغه سبب يې دلالت وکړی کوم چي د قيد کړل سوې مينځي په هکله دی وَهُوَ اسْتِحْدَاثُ الْمِلْكِ وَالْيَدِ او هغه سبب د ملکيت او قبضې استحداث دی لِأَنَّهُ هُوَ الْمَوْجُودُ فِي مَوْرِدِ النَّصِّ ځکه همدا [استحداث] په مورد نص کي موجود دی وَهٰذَا لِأَنَّ الْحِكْمَةَ فِيهِ التَّعَرُّفُ عَنْ بَرَاءَةِ الرَّحِمِ او دا ځکه چي د استبراء حکمت د رحم د برائت [خالي والي او پاکوالي] په هکله معلومات کول دي صِيَانَةً لِلْمِيَاهِ الْمُحْتَرَمَةِ عَنِ الِاخْتِلَاطِ د بچ کېدو په خاطر د محترمو اوبو له اختلاط څخه [يعني چي د مينځي په رحم کي د دوو کسانو نطفې سره ګډې نه سي] وَالْأَنْسَابِ عَنِ الِاشْتِبَاهِ او له اشتباه څخه د نسبونو [د بچ کېدو په خاطر]

اللغات: ﴿سبايا﴾ جمع د سَبِيٌّ ده: قيدي (بندي)، قيد کړل سوې ښځه، (په عربي ژبه کي عموماً د قيدي سړي لپاره "أسِيْر" استعماليږي، او د قيدي ښځي لپاره "سَبْي" او "سَبِيّ" استعماليږي د اول جمع سُبِيٌّ او د دويم جمع سَبَايَا راځي)، ﴿حَبالى﴾ جمع د حُبْلى ده: حامله (بلاربه) ښځه، ﴿حَيَالى﴾ جمع د حَائِل ده: وهي التى لا حمل لها، يعني هر هغه مؤنث حيوان او ساکښ چي حامل نه وي، د دغه لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه همدغه معنیٰ ده، اوګورئ!: ① اَلْمُتَغَيِّر، ② وَالْأُنْثٰى مِن ولد النَّاقة سَاعَةَ تولَد، ③ وكل أُنثى لا تحبل، يُقَال: امْرَأَة حَائِل وناقة حَائِل ونخلة حَائِل، ﴿استحداث﴾ د استفعال د باب مصدر دی: نوي کېدل، نوی کول، نوي پيدا کول.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که رانيول سوې مينځه حامله وي، نو د حمل زېږولو تر وخته له هغې څخه هر ډول استمتاع (نفع اخيستل) ممنوع دي، او که هغه غير حامله وي، نو د يوه حيض تر راتللو استمتاع وغيره ممنوع دي، دليل د غزوهٔ حنين د بنديانو او قيديانو په هکله د نبي کريم ﷺ فرمان دی. "أوطاس" له مکې مبارکي څخه د دريو مراحلو پر فاصله د يو ځای نوم دی، همدلته غزوهٔ حنين واقع سوې وه.

أفاد إلخ: فرمايي چي له دغه حديث څخه دوې خبري څرګنديږي: ① استبراء پر مالک واجب ده، ② او بل دا چي هر کله هم د استبراء سبب (استحداث الملک) موجود سي يعني مينځه د يو چا ملکيت ته نقل سي، نو استبراء واجب ده، او په حديث شريف کي هم دا دوې خبري بيان سوي دي چي د نيول سوي (ګرفتار شده) ښځو سره تر هاغه وخته وطي مه کوئ!، يعني اول خو د مالکانو لپاره تر وضع

الحمل او استبراء بالحيض پوري انتظار کول بيان سوي دي او بيا همدا بيان پر سبب د انتظار دلالت کونکی هم دی.

وهذا لأن إلخ: دا د استبراء واجبېدلو عقلي دليل دی، فرمايي د استبراء مقصد دا دی چي د اوبو (مني وو) اختلاط رانه سي او نسب مشتبه نه سي او دا معلومه سي چي رحم بري او پاک دی، کنې که چيري استبراء واجب نه کړی سي، نو نه د ثابت النسب او ولد الزنا تر مينځ توپير کېدلای سي او نه د چا نسب محفوظ کېدلای سي. له ماء محترم څخه مراد دا دي چي هغه د زنا اوبه نه وي يعني حمل (بچي) ثابت النسب وي لکه په را روان عبارت کي به هم ذکر سي. صاحب کتاب رَحِمَهُ الله د "المياه المحترمه" په قيد سره زنا وغيره خارج کړي دي؛ ځکه هغه مياه غير محترمه دي.

د استبراء واجبېدلو شرطونه

وَذٰلِكَ عِنْدَ حَقِيقَةِ الشُّغْلِ أَوْ تَوَهُّمِ الشُّغْلِ بِمَاءٍ مُحْتَرَمٍ او دا [بچ کېدل او استبراء کول] د رحم د حقيقتاً مشغول والي يا د هغه د وهم په وخت کي دي په محترمو اوبو سره [په بله وينا دا چي په اوبو (نطفې) سره درحم د حقيقتاً مشغولېدو يا د دې د وهم پر بناء استبراء کول واجب دي] وَهُوَ أَنْ يَكُونَ الْوَلَدُ ثَابِتَ النَّسَبِ او هغه [ماءِ محترم] دا دي چي د بچي نسب ثابت وي [يعني چي هغه اوبه د زنا اوبه او نطفه نه وي بلکي د حلالي جماع اوبه وي نو په دې وخت کي اوبه محترم شمېرل کيږي] وَيَجِبُ عَلَى الْمُشْتَرِيْ لَا عَلَى الْبَائِعِ او استبراء پر مشتري واجب ده، نه پر بائع لِأَنَّ الْعِلَّةَ الْحَقِيقِيَّةَ إِرَادَةُ الْوَطْءِ ځکه چي حقيقي علت د وطي اراده ده وَالْمُشْتَرِيْ هُوَ الَّذِيْ يُرِيدُهُ دُونَ الْبَائِعِ او همدا مشتري [رانيونکی] هغه کس دی چي د وطي اراده کوي، نه بائع فَيَجِبُ عَلَيْهِ نو ځکه پر مشتري به استبراء واجب وي غَيْرَ أَنَّ الْإِرَادَةَ أَمْرٌ مُبْطَنٌ خو څرنګه چي اراده يو باطني شی ده فَيُدَارُ الْحُكْمُ عَلَى دَلِيلِهَا نو ځکه د حکم مدار به د ارادې پر دليل وي وَهُوَ التَّمَكُّنُ مِنَ الْوَطْءِ او هغه پر وطي قدرت لرل دي وَالتَّمَكُّنُ إِنَّمَا يَثْبُتُ بِالْمِلْكِ وَالْيَدِ او قدرت لرل په ملکيت او قبضې سره ثابتيږي فَانْتَصَبَ سَبَبًا نو همدا [تمکّن] به سبب دريږي [يعني همدا قدرت لرل به سبب منل کيږي] وَأُدِيرَ الْحُكْمُ عَلَيْهِ تَيْسِيرًا او پر همدې [تمکّن] به د حکم مدار کيږي د آسانتيا په خاطر فَكَانَ السَّبَبُ اسْتِحْدَاثَ مِلْكِ الرَّقَبَةِ الْمُؤَكَّدِ بِالْيَدِ نو سبب به د ملک رقبه استحداث وي داسي ملک رقبه کوم چي په قبضه سره مؤکد وي وَتَعَدَّى الْحُكْمُ إِلَى سَائِرِ أَسْبَابِ

الْمِلْكِ او دا حکم د ملکیت د نورو اسبابو وطرف ته [هم] متعدي کیږي كَالشِّرَاءِ وَالْهِبَةِ وَالْوَصِيَّةِ وَالْمِيرَاثِ وَالْخُلْعِ وَالْكِتَابَةِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ لکه رانیول، هبه، وصیت، میارث، خلع، مکاتبت او له دې څخه بغیر نور اسباب.

اللغات: ﴿شغل﴾ د فتح د باب اسم مصدر دی: مشغولیت (رحم په بچي مشغولېدل، یعني ښځه حامله کېدل).
﴿أمر مُبْطَن﴾ پټه معامله، ناڅرګند او مخفي کار. ﴿یدار﴾ د فتح مضارع مجهوله ده: دائر کېدل، مدار کېدل، مبني کېدل. ﴿تمکّن﴾ د تفعل د باب مصدر دی: قدرت لرل، قادر کېدل. ﴿الید﴾ لاس، مراد: قبضه.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي د استبراء واجبېدلو شرط دا دی چي رحم حقیقتاً (په حمل سره) مشغول وي یا د هغه د مشغولیت وهم وي، او د استبراء واجبېدلو حقیقي علت د وطي اراده ده، او د وطي اراده همدا مشتري (رانیونکی کس) کوي، نو ځکه استبراء به هم پر هاغه واجب وي، او د بائع په حق کي چي څرنګه دا علت نسته، نو ځکه هغه به په استبراء سره نه مکلّف کیږي.

غیرأن إلخ: د دې حاصل دا دی چي د استبراء واجبېدلو علت خو اراده ګرځول سوې ده او اراده یو مخفي شی ده. لهذا د حکم مدار به د ارادې پر دلیل وي، د ارادې پر دلیل به پام کیږي، او د ارادې دلیل پر وطي قدرت لرل دي، او پر وطي قدرت لرل په ملکیت او قبضه سره ثابتیږي (یعني چي څوک د مینځي مالک سي او قبضه پر وکړي، او دا په مشتري کي موجود دي)، نو ځکه پر وطي قدرت لرل (تمکّن) به د وطي سبب ګرځول کیږي او پر هغه به د حکم مدار وي.

وتعدی الحکم إلخ: د دې حاصل دا دی چي د استبراء واجبېدلو سبب استحداث الملک دی، نو چیري چي هم دا سبب (استحداث الملک والید) وي، هلته به استبراء کیږي، مثلاً د شراء، هبې، وصیت، میراث او خلع په صورت کي چي څرنګه استحداث الملک راځي، نو ځکه په دې صورتونو کي به استبراء هم واجب وي، مطلب چي که د شراء (رانیولو) یا د هبې او داسي نورو په ذریعه څوک مینځه ترلاسه کړي، نو پر هغه استبراء واجب ده.

پر پورتنی مذکوره قاعده څه نور تفریعات

وَكَذَا يَجِبُ عَلَى الْمُشْتَرِيْ مِنْ مَالِ الصَّبِيِّ وَمِنَ الْمَرْأَةِ وَالْمَمْلُوْكِ وَمِمَّنْ لَا يَحِلُّ لَهُ وَطْؤُهَا او همدارنګه پر هغه کس استبراء واجب ده کوم چي [د مینځي] رانیونکي وي د بچي له مال څخه او له ښځي څخه او له مملوک [غلام] څخه او له داسي کس څخه چي هغه ته د مینځي سره وطي کول روا نه وي [مثلاً د یو چا رضاعي خور رانیسي] وَكَذَا إِذَا كَانَتِ الْمُشْتَرَاةُ بِكْرًا او همدارنګه کله چي رانیول سوې مینځه

باکره وي لَمْ تُوطَأْ نو نه به وطي کول کيږي [يعني د باکره مينځې سره به هم استبراء کوي] لِتَحَقُّقِ السَّبَبِ د سبب د ثابتېدلو [موجودېدلو] په وجه وَإِدَارَةُ الْأَحْكَامِ عَلَى الْأَسْبَابِ دُونَ الْحِكَمِ او د حکمونو دار ومدار پر اسبابو وي، نه پر حکمتونو لِبُطُونِهَا ځکه چې حکمتونه باطني [مخفي] وي فَيُعْتَبَرُ تَحَقُّقُ السَّبَبِ عِنْدَ تَوَهُّمِ الشُّغْلِ نو [د رحم] د مشغولتيا د وهم په وخت کي به د سبب موجودېدلو اعتبار کيږي وَكَذَا لَا يُجْتَزَأُ بِالْحَيْضَةِ الَّتِي اشْتَرَاهَا فِي أَثْنَائِهَا او همدارنګه اکتفاء به نه کيږي په هغه حيض سره چې د هغه په دوران کي يې مينځه رانيولې وي وَلَا بِالْحَيْضَةِ الَّتِي حَاضَتْهَا بَعْدَ الشِّرَاءِ أَوْ غَيْرِهِ مِنْ أَسْبَابِ الْمِلْكِ قَبْلَ الْقَبْضِ او نه په هغه حيض سره کوم چې له رانيولو يا [د داسي] نورو د ملکيت له اسبابو څخه وروسته تر قبضې مخکي راغلی وي [په بله وينا دا چې او نه هغه حيض کوم چې تر رانيولو يا تر بل سببِ ملک (لکه هبه وغيره) وروسته او تر قبضې مخکي راغلی وي] وَلَا بِالْوِلَادَةِ الْحَاصِلَةِ بَعْدَهَا قَبْلَ الْقَبْضِ او نه به اکتفاء کيږي په هغه ولادت سره کوم چې د ملکيت له اسبابو څخه وروسته تر قبضې مخکي حاصل سوی وي خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله لِأَنَّ السَّبَبَ اسْتِحْدَاثُ الْمِلْكِ وَالْيَدِ ځکه چې [د استبراء] سبب د ملکيت او قبضې [دواړو] استحداث دی وَالْحُكْمُ لَا يَسْبِقُ السَّبَبَ او حکم تر سبب نه سي مخکي کېدلای وَكَذَا لَا يُجْتَزَأُ بِالْحَاصِلِ قَبْلَ الْإِجَازَةِ فِي بَيْعِ الْفُضُولِيِّ او نه به اکتفا کيږي په هغه حيض سره کوم چې د فضولي په بيع کي تر اجازت مخکي راغلی وي وَإِنْ كَانَتْ فِي يَدِ الْمُشْتَرِي که څه هم مينځه د مشتري په قبضه کي وي وَلَا بِالْحَاصِلِ بَعْدَ الْقَبْضِ فِي الشِّرَاءِ الْفَاسِدِ قَبْلَ أَنْ يَشْتَرِيَهَا شِرَاءً صَحِيحًا او نه به په هغه حيض سره اکتفا کيږي کوم چې راغلی وي په شراء فاسد کي تر قبضې وروسته مخکي تر دې چې هغه دا مينځه په شراء صحيح سره رانيسي [يعني هغه حيض کوم چې په شراء فاسد کي تر قبضې وروسته او د شراء صحيح په توګه تر رانيولو مخکي راغلی وي] لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿بکر﴾ باکره، پېغله (هغه ښځه چې د بکارت پرده يې ثابته پاته وي)، ﴿استحداث﴾ د استفعال د باب مصدر دی: نوي کېدل، نوي کول، ﴿لا يجتزأ﴾ د افتعال له بابه د نفي مجهول صيغه ده: اکتفاء کېدل، کافي کېدل.

تشريح : کله چي مصنف رَحِمَهُ الله يوه قاعده بيان کړه چي په استحداث الملک واليد سره استبراء واجبيږي، نو اوس تر دې قاعدې لاندي ځو مسئلې بيانوي، مثلاً که څوک ديو بچي مينځه دهغه له پلار يا وصي څخه رانيسي، يا ديو ښځي مينځه رانيسي، يا ديو مأذون في التجارة غلام مينځه رانيسي، يا ديو داسي کس مينځه رانيسي چي دهغې سره دهغه وطي حلال نه وي، مثلاً ديو چا په ملکيت کي خپل رضاعي خور وي، نو ښکاره ده چي د رضاعي خور سره وطي حلال نه دي، اوس که له هغه څخه څوک دا رضاعي خور رانيسي، نو په دې ټولو صورتونو کي که څه هم حقيقي شغل نسته (يعني حقيقتاً دا معلومه نه ده چي دهغې نس به په حمل سره مشغوله وي)، خو د شغل د توهّم پر بناء د استحداث الملک واليد په خاطر استبراء واجب ده.

او د شغل توهّم دا دی چي کېدلی سي د دغو مينځو سره وطي بالشبهه سوي وي، نو ښکاره ده چي اوس استبراء ضروري سوه. فرمايي که ديو چا مينځه بالکل باکره وي او هغې ته هيچا لاس ور وړی نه وي، نو د دې هم داغه حکم دی؛ ځکه چي سبب (استحداث الملک واليد) متحقق او موجود دی او د شغل وهم باقي دی.

وكذا لايجتزأ إلخ: د دې حاصل دا دی چي هغه حيض به په استبراء کي شمېرل کيږي کوم چي تر ملکيت او قبضې وروسته راسي (مثلاً چي مشتري مينځه رانيسي او قبضه پر وکړي، نو تر دې وروسته راتلونکی حيض معتبر دی)، لهذا که څوک حائضه مينځه رانيسي، نو دهغې دا موجوده حيض به په استبراء کي نه شمېرل کيږي؛ ځکه دا حيض قبل الملکيت واليد راغلی دی، همدارنګه که له رانيولو څخه وروسته، يا په وراثت کي له حصه معلومېدلو څخه وروسته يا له هبې وغيره څخه وروسته او تر قبضې مخکي مينځي ته حيض راسي، نو دا حيض هم په استبراء کي معتبر نه دی؛ ځکه چي اوس يو سبب يعني قبضه (يد) کم او ناقص دی. همدارنګه که څوک حامله مينځه رانيسي او هغه له قبضې څخه مخکي بچی وزېږوي، نو دا ولادت هم داستبراء لپاره کفايت نه کوي؛ ځکه چي دا قبل القبض پيښ سوی دی.

خو په دې مسئله کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اختلاف دی، هغه فرمايي چي کله بچی پيدا سو، نو دا څرګنده سوه چي اوس دمينځي رحم بالکل خالي دی او داستبراء مقصد همدا دی چي د رحم فراغت او خالي والی يقيني سي، او په مذکوره صورت کي خو له استبراء څخه مخکي د رحم فراغت يقيني سو، نو اوس به بلا وجه ولي تر يوه حيضه په انتظار کولو سره مکلف کول کيږي، آيا تاسي ته معلومه نه ده چي که تر دخول مخکي يو ښځي ته طلاق ورکول سي، نو څرنګه چي په دې صورت کي د رحم فراغت متيقن دی، نو ځکه پر هغې عدت نه واجبيږي، لهذا همداسي به دلته هم استبراء نه واجبيږي؛ ځکه چي د رحم فراغت متيقن دی. او قاعده دا ده چي "اليقين لا يزول بالشك".

لېکن زموږ دليل هاغه دی کوم چې مخکې ذکر سو چې د استبراء واجبېدلو سبب استحداث الملک واليد دواړه دي او حکم (چې هغه دلته د استبراء واجبدل دي) تر سبب وروسته ثابتيږي. نه تر سبب مخکې.

وکذا لايجتزأ إلخ: د دې حاصل دا دی چې که څوک د مالک له اجازته بغير د فضولي په توګه ديو چا مينځه خرڅه کړي، نو اوس دا بيع د مالک پر اجازت موقوفه ده. لهذا که د مالک تر اجازت مخکې مينځې ته حيض راسي، نو دا حيض هم د استبراء لپاره ناکافي دی. که څه هم مينځه د مشتري په قبضه کې وي، ځکه دلته حيض که څه هم بعد القبض راغلی دی. لېکن د بيع د مړتوف کېدو په وجه دا حيض د استبراء لپاره د کافي کېدو قابل نه دی.

همدارنګه که څوک په شراء فاسد سره يو مينځه رانيسي او هغې ته حيض راسي. بيا داغه مينځه وروسته په شراء صحيح سره رانيسي. نو هغه شراء فاسد والا حيض د استبراء لپاره نه کافي کيږي؛ ځکه چې استحداث الملک واليد په شراء صحيح کې موجود دي. او معتبر هغه حيض دی کوم چې تر استحداث الملک واليد وروسته وي. تر هغه مخکې والا حيض معتبر نه دی.

د خپلې مشترکې مينځې د رانيولو په صورت کې د استبراء حکم

وَيَجِبُ فِي جَارِيَةٍ لِلْمُشْتَرِيْ فِيْهَا شِقْصٌ فَاشْتَرَى الْبَاقِيَ او استبراء په هغه مينځه کې هم واجب ده چې په هغه کې د مشتري بعضي حصه وي بيا مشتري پاته حصه [هم] رانيسي لِأَنَّ السَّبَبَ قَدْ تَمَّ الْآنَ ځکه چې سبب اوس پوره سو وَالْحُكْمُ يُضَافُ إِلَى تَمَامِ الْعِلَّةِ او حکم د بشپړ علت وطرف ته منسوب کيږي وَيُجْتَزَأُ بِالْحَيْضَةِ الَّتِيْ حَاضَتْهَا بَعْدَ الْقَبْضِ وَهِيَ مَجُوسِيَّةٌ أَوْ مُكَاتَبَةٌ او په هغه حيض سره به [هم] اکتفا کيږي کوم چې تر قبضې وروسته مينځې ته په داسې حال کې راغلی وي چې هغه مجوسيه يا مکاتبه وي بِأَنْ كَاتَبَهَا بَعْدَ الشِّرَاءِ په دې توګه چې تر رانيولو وروسته مالک هغه مکاتبه جوړه کړې وي ثُمَّ أَسْلَمَتِ الْمَجُوسِيَّةُ أَوْ عَجَزَتِ الْمُكَاتَبَةُ بيا دا مجوسيه مينځه اسلام راوړي يا مکاتبه له بدلت کتاب څخه عاجزه سي لِوُجُودِهَا بَعْدَ السَّبَبِ ځکه چې حيض تر سبب وروسته موجود سو وَهُوَ اسْتِحْدَاثُ الْمِلْكِ وَالْيَدِ او هغه [سبب] د ملکيت او قبضې نوې کېدل دي إِذْ هُوَ مُقْتَضٍ لِلْحِلِّ ځکه همدا [سبب] د حلت تقاضا کونکی دی وَالْحُرْمَةُ لِمَانِعٍ او حرمت د يو مانع په وجه وو كَمَا فِي حَالَةِ الْحَيْضِ لکه څرنګه چې د حيض په حالت کې کيږي وَلَا يَجِبُ الْاِسْتِبْرَاءُ إِذَا

رَجَعَتِ الْاٰبِقَةُ أَوْ رُدَّتِ الْمَغْصُوبَةُ أَوِ الْمُؤَاجَرَةُ او استبراء نه واجبيږي کله چي تښتېدلې مينځه واپس راسي يا غصب کړل سوې مينځه يا په أجرت ورکول سوې مينځه واپس کړل سي أَوْ فُكَّتِ الْمَرْهُوْنَةُ يا په رهن کي ورکول سوې مينځه را خلاصه کړل سي لِانْعِدَامِ السَّبَبِ وَهُوَ اسْتِحْدَاثُ الْمِلْكِ وَالْيَدِ ځکه چي [په دې ټولو صورتونو کي] سبب يعني د ملکيت او قبضې نوي کېدل معلوم دي وَهُوَ سَبَبٌ مُتَعَيِّنٌ او همدا [استحداث الملک واليد (د استبراء لپاره)] ټاکل سوی سبب دی فَأُدِيْرَ الْحُكْمُ عَلَيْهِ وُجُوْدًا وَعَدَمًا نو ځکه د وجود او عدم دواړو په اعتبار سره به د حکم دار ومدار پر هغه وي وَلَهَا نَظَائِرُ كَثِيْرَةٌ كَتَبْنَاهَا فِيْ كِفَايَةِ الْمُنْتَهِيْ او دغه مسئلې لره ډېر مثالونه سته کوم چي موږ په کفاية المنتهي کي بيان کړي دي.

اللغات: ﴿شقص﴾ حصه، ټوکره. ﴿يضاف﴾ د افعال له بابه مضارع مجهوله ده: مضاف کېدل، منسوب کېدل (اضافت او نسبت کېدل). ﴿فكّت﴾ د سمع له بابه بابه ماضي مجهوله ده. د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: خلاصول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د دوو يا څو کسانو تر مينځ يوه مينځه مشترکه ده، بيا له دوی څخه يو شريک د نورو شريکانو حصې رانيولې او قيمت يې ورکړی، نو اوس استبراء واجب ده؛ ځکه د استبراء سبب يعني "حدوث الملك واليد" د شريکانو د حصو تر رانيولو وروسته موجود سو، نو ځکه اوس به حکم (استبراء) هم ثابتيږي؛ ځکه حکم د ټوله علت وطرف ته مضاف کيږي، نه د بعضي وطرف ته، او تر رانيولو وروسته علت پوره سو؛ ځکه تر دې مخکي خو په هغه مينځه کي د نورو حق هم وو (او په رانيولو سره د نورو حق ختم سو او د استبراء سبب کامل ثابت سو).

ويجتزأ إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو څوک د يو مجوسي مينځه رانيسي او پر هغې قبضه وکړي يا د يو مسلمان مينځه رانيسي او هغه مکاتبه جوړه کړئ، بيا د ده په قبضه کي مجوسيه مينځي ته حيض راسي او بيا هغه مسلمانه سي، يا د مسلمان مينځي ته د همدې مکاتبت په حالت کي حيض راسي بيا هغه د بدل کتابت له اداء کولو څخه عاجزه سي، نو په دې دواړو صورتونو کي د دوی حيض د استبراء لپاره کافي کيږي؛ ځکه دا له مِلك او يَد دواړو څخه وروسته راغلی دی او د استبراء په باب کي داسي حيض معتبر دی، لهذا دا حيض به په استبراء کي کاريګر ثابتيږي، خو د وطي عدمِ حلت (ناروابنت) د يو عارض په وجه وو يعني د مجوسيه مينځي د نا مسلمانوالي په وجه او په مکاتبه کي

د بدل كتابت په وجه وو، لهذا كله چي دا دواړه شيان زائل سوه، نو اوس وطي كول هم حلال او صحيح سوه، لكه د حيض په حالت كي چي د وطي حرمت ديو مانع يعني د حيض په وجه وي او د هغه په ختمېدلو سره حرمت ختمېږي.

ولا يجب الاستبراء إلخ: څرنګه چي د استبراء واجبېدلو سبب استحداث الملک والید دي، نو چيري چي دا سبب موجود او ثابت سي، هلته استبراء هم واجبېږي، او چيري چي دا سبب موجود نه وي، هلته استبراء هم نه واجبېږي.

مثلاً تښتېدلې مينځه واپس راسي، يا مغصوبه مينځه غاصب واپس کړي، يا مستأجره مينځه مستأجر واپس کړي، يا مرهونه مينځه راخلاصه کړل سي (مثلاً يو كس له بل چا څخه قرض اخيستی وي او په رهن اګروي ا كي يې مينځه ورکړې وي، بيا هغه كس قرض اداء کړي او خپل مينځه څني واخلي)، نو څرنګه چي په دې ټولو صورتونو كي استحداث الملک واليد نسته، نو ځكه په دې صورتونو كي استبراء هم نه واجبېږي.

تر استبراء مخكي د وطي د دواعي وو حرمت

وَإِذَا ثَبَتَ وُجُوبُ الِاسْتِبْرَاءِ وَحَرُمَ الْوَطْءُ او كله چي د استبراء واجبېدل ثابت سوه او وطي حرام سوي حَرُمَ الدَّوَاعِيْ نو د وطي دواعي [وطي ته رابلونكي څه] به هم حرام وي لِإِفْضَائِهَا إِلَيْهِ وطي ته د هغوی د رسېدلو په وجه [يعني ځكه چي د وطي دواعي آخر د وطي سبب ګرځي] أَوْ لِاحْتِمَالِ وُقُوْعِهَا فِيْ غَيْرِ الْمِلْكِ عَلَى اعْتِبَارِ ظُهُوْرِ الْحَبَلِ وَدَعْوَةِ الْبَائِعِ يا د بل چا په ملكيت كي د هغوی د واقع كېدلو په وجه د حمل ښكاره كېدلو او د بائع د دعوې كولو په اعتبار سره بِخِلَافِ الْحَائِضِ حَيْثُ لَا تَحْرُمُ الدَّوَاعِيْ فِيْهَا په خلاف د حائضې مينځي چي د هغې په هكله دواعي حرام نه دي لِأَنَّهُ لَا يُحْتَمَلُ الْوُقُوْعُ فِيْ غَيْرِ الْمِلْكِ ځكه چي [دلته] د بل چا په ملكيت كي د دواعي وو د واقع كېدلو احتمال نسته وَلِأَنَّهُ زَمَانُ نَفْرَةٍ او ځكه چي دا [د حيض زمانه] د نفرت زمانه ده فَالْإِطْلَاقُ فِي الدَّوَاعِيْ لَا يُفْضِيْ إِلَى الْوَطْءِ لهذا [دلته] د دواعي وو اجازت وركول وطي ته رسول نه كوي وَالرَّغْبَةُ فِي الْمُشْتَرَاةِ قَبْلَ الدُّخُوْلِ أَصْدَقُ الرَّغَبَاتِ او په رانيول سوې مينځه كي تر دخول مخكي رښتونې رغبت وي فَتُفْضِيْ إِلَيْهِ نو [هلته] دواعي وطي ته رسول كوي وَلَمْ يَذْكُرِ الدَّوَاعِيَ فِي الْمَسْبِيَّةِ او [په ظاهر روايت كي] د قيد كړل سوې مينځي په هكله يې د دواعي وو يادونه نه ده كړې وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهَا لَا تَحْرُمُ او له امام محمد

رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې [د مسبیه مینځې سره] دواعي د وطي حرام نه دي لِأَنَّهَا لَا تَحْتَمِلُ وُقُوعَهَا فِي غَيْرِ الْمِلْكِ ځکه چې [دلته] د بل چا په ملکیت کې د هغوی د واقع کېدلو احتمال نسته لِأَنَّهُ لَوْ ظَهَرَ بِهَا حَبَلٌ ځکه که چیري په دې مینځه کې حمل ښکاره سي لَا تَصِحُّ دَعْوَةُ الْحَرْبِيِّ نو هم د حربي دعوی نه صحیح کیږي بِخِلَافِ الْمُشْتَرَاةِ په خلاف د رانیول سوي مینځې عَلَى مَا بَيَّنَّا لکه څرنګه چې مونږ بیان کړه.

اللغات: ﴿دواعي﴾ جمع د دَاعِيَة ده: بلونکي، سبب ګرځېدونکي څه. ﴿إفضاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: رسول، رسېدل، سبب جوړېدل. ﴿مسبية﴾ د واحد مؤنث اسم مفعول صیغه ده: قیدي کړل سوې ښځه. ﴿حبل﴾ حمل، حامله والی.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کله تر استبراء مخکې د رانیول سوې مینځې سره وطي جائز نه دي، نو د وطي دواعي هم جائز نه دي؛ یعنې څرنګه چې وطي او جماع کول ممنوع دي، همداسې مسه کول، مچول او داسې نور هم ممنوع دي؛ ځکه د وطي دواعي مفضي إلى الوطي وي یعنې وطي ته لاره هواري او د وطي سبب ګرځي. او بله وجه (د دواعیو د حرامېدلو) دا ده چې کېدای سي د مینځې حمل ښکاره سي او بائع د خپل حمل کېدلو دعوی وکړي (چې دا حمل زما له نطفې څخه دی)، نو په دې صورت کې دوه (۲) نقصانه پېښیږي: ① بیع به باطله سي، ② دواعي به د بل چا په ملکیت کې واقع سي، نو ځکه احوط همدا ده چې د وطي د حرامېدو سره دواعي هم حرام دي.

بخلاف الحائض إلخ: دا د یو مقدّر سوال جواب دی، سوال دا دی چې څرنګه دلته وطي او دواعي د وطي دواړه حرام ګرځول سوي دي، همداسې د حائضه ښځې په مسئله کې هم دواړه حرامېدل پکار دي؛ حال دا چې مونږ وینو د حائضې سره خو وطي حرام دي، لېکن دواعي روا دي دي. آخر د دې څه وجه ده؟.

صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د دې په جواب کې فرمایي چې د کومو دوو وجوهاتو پر بناء په مینځه کې دواعي حرام کړل سوي دي (یعنې دواعي مفضي إلى الوطي کېدل. او د بل چا په ملکیت کې د وطي واقع کېدلو احتمال)، هغه وجوهات په حائضه کې نسته؛ ځکه دلته ښځه خپله وي، لهذا د بل چا په ملکیت کې د دواعي وو د واقع کېدلو احتمال ختم دی. او بل دا چې د حیض زمانه د نفرت او کراهیت زمانه وي، لهذا په دې زمانه کې دواعي مفضی إلى الوطي هم نه ګرځي. په همدې وجه په حیض او حائضه کې د دواعي وو اجازت ورکول سوی دی.

والرغبة إلخ: فرمايي څرنګه چې په رانيول سوې مينځه کې د سړي رغبت ربښتونی رغبت او زيات وي، نو ځکه که په دې صورت کې د دواعي وړ اجازت ركول سي، نو د هغوی د مفضي إلى الوطي کېدلو خطره څه زياته ده، لهذا غوره هم دا ده چې دلته د وطي په څېر دواعي د وطي هم ممنوع پاته وي.

ولم يذكر إلخ: فرمايي چې په ظاهر روايت کې د قيد کړل سوي مينځي سره تر استبراء مخکي صرف د وطي د ممانعت حکم سوی دی او د وطي د دواعي وو هيڅ ذكر نه دی سوی، امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې د قيد کړل سوي مينځي سره دواعي حرام نه دي؛ ځکه دلته مينځه په خپل ملکيت کې وي، لهذا د حامله کېدو په صورت کې نه د وقوع الدواعي في غير الملک والا نقصان راځي او نه د هغې د حربي خاوند دعویٰ صحيح کيږي چې دا زما حمل دی؛ نو ځکه د قيد کړل سوي مينځي سره به قبل الاستبراء دواعي جائز وي، خو د رانيول سوې مينځي سره به دواعي جائز نه دي؛ ځکه هغې ته رغبت او شهوت زيات وي. (احسن الهدايه)

د حامله، صغيره او آئسه په حق کي د استبراء حکم

وَالِاسْتِبْرَاءُ فِي الْحَامِلِ بِوَضْعِ الْحَمْلِ او د حامله مينځي په هکله استبراء په حمل زېږولو سره ده لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی وَفِي ذَوَاتِ الْأَشْهُرِ بِالشَّهْرِ او د مياشتي والا مينځو [چې د هغوی په حق کې د حيض پر ځای په مياشتي سره حساب کيږي يعني د صغيره او آئسه] په هکله استبراء په مياشتي سره ده لِأَنَّهُ أُقِيمَ فِي حَقِّهِنَّ مَقَامَ الْحَيْضِ ځکه چې د هغوی په حق کې مياشته د حيض قام مقام ده كَمَا فِي الْمُعْتَدَّةِ لکه څرنګه چې د عده تېرونکي ښځې په هکله کيږي وَإِذَا حَاضَتْ فِي أَثْنَائِهِ او کله چې داسي مينځې [صيغره او آئسه] لره د مياشتي په دوران کي حيض راسي بَطَلَ الِاسْتِبْرَاءُ بِالْأَيَّامِ نو په ورځو سره استبراء باطليږي لِلْقُدْرَةِ عَلَى الْأَصْلِ قَبْلَ حُصُولِ الْمَقْصُودِ بِالْبَدَلِ پر اصل د قادر کېدلو په وجه مخکې تر دې چې د بدل په ذريعه مقصد حاصل کړی سي كَمَا فِي الْعِدَّةِ لکه څرنګه چې په عده کي کيږي فَإِنِ ارْتَفَعَ حَيْضُهَا بيا که د هغې حيض پورته سي [يعني حيض يې ودريږي او ممتدة الطهر سي] تَرَكَهَا حَتَّى إِذَا تَبَيَّنَ أَنَّهَا لَيْسَتْ بِحَامِلٍ نو هغه دې پريږدي [وطي دي نه ور سره کوي] تر دې چې کله دا ښکاره سي چې هغه حامله نه ده وَقَعَ عَلَيْهَا نو [بيا] دي جماع ور سره وکړي وَلَيْسَ فِيهِ تَقْدِيرٌ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او په ظاهر روايت کي د دې پرېښوولو [وطي نه

کولو] په هکله هيڅ اندازه نه ده ټاکل سوې وَقِيلَ: يَتَبَيَّنُ بِشَهْرَيْنِ أَوْثَلَاثَةٍ او ويل سوي دي [يعني يو قول دا دی]: چي په دوو يا دريو مياشتو کي دا ښکاره کيږي وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشَرَةُ أَيَّامٍ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه څلور مياشتي او لس ورځي نقل سوي دي وَعَنْهُ❁ شَهْرَانِ وَخَمْسَةُ أَيَّامٍ [همدارنګه] له هغه څخه دوې مياشتي او پنځه ورځي [هم] نقل سوي دي اِعْتِبَارًا بِعِدَّةِ الْحُرَّةِ أَوِ الْأَمَةِ فِي الْوَفَاةِ په قياس کولو سره د آزادي ښځي يا د مينځي پر عده په وفات کي [يعني امام محمد رَحِمَهُ الله په دې هکله د آزادي ښځي يا مينځي د خاوند د وفات پر عده قياس کړی دی] وَعَنْ زُفَرَ سَنَتَانِ او له امام زفر رَحِمَهُ الله څخه دوه کاله نقل سوي دي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی.

اللغات: ﴿اليد﴾ قبضه. ﴿العدة﴾ عده، عدت. ﴿الوفاة﴾ مرينه، مړ کېدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د حامله مينځي په حق کي استبراء د هغې حمل زېږول دي؛ ځکه په حديث شريف کي صراحتاً دا حکم سوی دی چي "أَلَا لَا تُوْطَأُ الْحَبَالَىٰ حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ"، خو په مياشتو سره د حيض وغيره شمېرونکي ښځي مثلاً آئسه او صغيره د هغوی په حق کي مياشته استبراء ده؛ ځکه د هغوی په حق کي همدا مياشته د حيض قائم مقام کړل سوې ده. لکه د وفات عده تېرونکې ښځه که چيري صغيره يا آئسه وي، نو د هغې په حق کي هم مياشته د حيض قائم مقام وي، نو ځکه د دوی په حق کي به د همدې مياشتي په ذريعه استبراء کول کيږي.

وإذا حاضت إلخ: فرمايي که چيري صغيره يا آئسه د ورځو په اعتبار سره استبراء کوي او د ورځو له پوره کېدو څخه مخکي هغې ته حيض راسي، نو څرنګه چي اوس ورځي (آيام) فرع او بدل دي او حيض اصل دی، او قاعده دا ده چي د بدل په ذريعه د مقصود حاصلولو څخه مخکي پر اصل د قدرت پيدا کېدلو په صورت کي حکم د اصل وطرف ته ګرځي، لهذا دلته به هم حکم د اصل يعني د حيض وطرف ته ګرځي او استبراء بالأيام لره به اعتبار نه وي، لکه يو ښځه چي په ورځو سره عده تېروي بيا هغې ته حيض راسي، نو حکم دا دی چي اوس به هغه د حيض مطابق عده تېروي.

❁ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله فی هذه الرواية الثانية (أی شهران وخمسة أيام)، كما ذكر فی الدر المختار (ج:۵، ص:۲۶۵)، وكذا فی مجمع الأنهر (ج:۴، ص:۲۰۸). [القول الراجح ج:۲، ص:۳۰۲]

فإن ارتفع إلخ: د دې حاصل دا دی چې که په حیض سره د استبراء کولو په دوران کې د ښځې حیض بند سي او طهر يې اوږد سي (يعني مينځه ممتدة الطهر سي)، نو اوس به څه کوي؟. فرمايي چې تر هغه وخته دې له جماع څخه منع کيږي تر څو چې د ښځې نه حامله کېدل يقيني سي، او کله چې يقيني معلومه سي چې هغه حامله نه ده، نو بيا دې جماع وغيره شروع کړي.

لېکن دا به څنګه معلوميږي چې هغه حامله ده، که نه؟. فرمايي چې په ظاهر روايت کې د دې هيڅ مقدار متعيّن سوی نه دی، خو ځينو ويلي دي چې تر دوو۲ مياشتو او ځينو ويلي دي چې تر دريو۳ مياشتو به ځان ساتل کيږي. له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه په دې هکله دوه روايتونه نقل سوي دي: ① څلور مياشتې او لس ورځې، ② دوې مياشتې او پنځه ورځې. امام زفر رَحِمَهُ الله د دوو ۲ کلنو قائل دی او په همدې کې زيات احتياط دی؛ ځکه تر دوو کالو زيات بچی په نس کې نه پاتيږي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله هم يو قول دغسې دی، خو فقهاؤ د آسانتيا په خاطر د دوو مياشتو او پنځو ورځو والا قول اختيار کړی دی.

د استبراء لپاره د حيله کولو حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِالِاحْتِيَالِ لِإِسْقَاطِ الِاسْتِبْرَاءِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ فرمايي: او پروا نسته په حيله اختيارولو کې د استبراء ساقطولو لپاره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ ۞ په خلاف د امام محمد رَحِمَهُ الله وَقَدْ ذَكَرْنَا الْوَجْهَيْنِ فِي الشُّفْعَةِ او موږ دواړې وجهې [د دواړو دليلونه] په کتاب الشفعه کې ذکر کړي دي وَالْمَأْخُوذُ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ فِيمَا او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول په هغه صورت کې قابل د عمل [معتبر] دی إِذَا عُلِمَ أَنَّ الْبَائِعَ لَمْ يَقْرَبْهَا فِي طُهْرِهَا ذَٰلِكَ کله چې دا معلومه سي چې بائع په هغه طهر کې د مينځې سره جماع نه ده کړې وَقَوْلُ مُحَمَّدٍ فِيمَا او د امام محمد رَحِمَهُ الله قول په هغه صورت کې قابل د عمل دی إِذَا قَرِبَهَا کله چې يې جماع ور سره کړې وي وَالْحِيلَةُ إِذَا لَمْ يَكُنْ تَحْتَ الْمُشْتَرِي حُرَّةٌ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا قَبْلَ الشِّرَاءِ او حيله کله چې تر مشتري لاندې [د مشتري په نکاح کې] آزاده ښځه نه وي [نو حيله] دا ده چې هغه د دغه مينځې سره تر رانيولو مخکې نکاح وکړي ثُمَّ يَشْتَرِيَهَا بيا يې رانيسي وَلَوْ كَانَتْ او که [د هغه په نکاح کې آزاده ښځه] وي فَالْحِيلَةُ أَنْ

۞ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، وقد مرّ بيان هٰذه المسئلة يعني بيان الحيلة فى باب ما تبطل به الشفعة، فارجع هناك.

يُزَوِّجَهَا الْبَائِعُ قَبْلَ الشِّرَاءِ أَوِ الْمُشْتَرِىْ قَبْلَ الْقَبْضِ مِمَّنْ يُوْثَقُ بِهِ نو حيله دا ده چي تر رانيولو مخکي بائع يا مشتري دا مينځه په نکاح ورکړي داسي کس ته چي پر هغه اعتماد [باور] کېدلای سي ثُمَّ يَشْتَرِيَهَا وَيَقْبِضَهَا بيا مشتري هغه رانيسي او قبضه پر وکړي [په اول صورت کي] أَوْ يَقْبِضُهَا يا [فقط] پر هغه قبضه وکړي [په دويم صورت کي يعني چي مشتري په نکاح ورکړې وي] ثُمَّ يُطَلِّقُ الزَّوْجُ بيا دي خاوند طلاق ورکړي لِأَنَّ عِنْدَ وُجُوْدِ السَّبَبِ وَهُوَ اسْتِحْدَاثُ الْمِلْكِ الْمُؤَكَّدِ بِالْقَبْضِ ځکه د سبب موجودېدلو په وخت کي او هغه [سبب] د داسي ملکيت استحداث [نوي کېدل] دي کوم چي په قبضه سره مؤکد وي إِذَا لَمْ يَكُنْ فَرْجُهَا حَلَالًا لَهُ کله چي د هغې شرمګاه د ده لپاره حلاله نه وه [يعني د سبب موجودېدلو په وخت کي چي کله د هغې شرمګاه د ده لپاره...] لَا يَجِبُ الْاِسْتِبْرَاءُ نو استبراء نه واجبېږي [د پوره جملې وعند السبب... إلخ مجموعي ترجمه دا ده: ځکه کله چي د سبب موجودېدلو يعني د استحداث الملک المؤکد بالقبض په وخت کي د مينځي شرمګاه د مشتري لپاره حلاله نه وه. نو استبراء به هم واجب نه وي] وَإِنْ حَلَّ بَعْدَ ذٰلِكَ که څه هم تر دې [يعني تر سبب موجودېدلو] وروسته ورته حلاله سي لِأَنَّ الْمُعْتَبَرَ أَوَانُ وُجُوْدِ السَّبَبِ ځکه چي معتبر د سبب موجودېدلو وخت دی كَمَا إِذَا كَانَتْ مُعْتَدَّةَ الْغَيْرِ لکه [په هغه صورت کي] کله چي مينځه د بل چا عده تېرونکې وي.

اللغات: ﴿احتيال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: حيله جوړول، حيله اختيارول، چل او تدبير کول. ﴿لـم يقـرب﴾ د سمع له بابه د جحد صيغه ده: نژدې کېدل، مراد وطي او جماع کول. ﴿يـزوّج﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: په نکاح ورکول، نکاح ورتړل. ﴿يوثـق﴾ د مضارع مجهولي صيغه ده: : اعتماد کول، باور کول. ﴿فرج﴾ د ښځي شرمګاه.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي دا استبراء ساقطولو لپاره حيله اختيارول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز ګنجايش لري، څه حرج پکښي نسته، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله دا مکروه ګڼلي دي ځکه په دې صورت کي د محترمو اوبو (مياه محترمه) حفاظت او صيانت نسته. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د دواړو حضراتو قول د عمل قابل دی. لېکن دومره ياد ساتل پکار دي چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله پر قول دي هغه وخت عمل کيږي کله چي په يقين سره معلومه سي چي د خرڅولو په طهر کي بائع د هغې سره وطي نه دي کړي (يعني په کوم طهر کي چي بائع مينځه خرڅه کړې ده په هغه کي

يې وطي نه دي ور سره کړي). نو په دې وخت کې د استبراء ساقطولو حيله صحيح ده. خو کله چې دا معلومه سي چې بائع په دې طهر کې خپل کار کړی دی، نو په داسي وخت کې دي د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول عمل کيږي او د استبراء ساقطولو حيله نه صحيح کيږي.

والحيلة إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د استبراء ساقطولو لپاره دوې حيلې بيان کړي دي. له هغوی څخه اوله حيله دا ده چې که د مشتري په نکاح کې يو آزاده ښځه نه وي. نو هغه دي د مينځې تر رانيولو مخکې د هغې سره نکاح وکړي او بيا دي يې رانيسي، نو په دې صورت کې استبراء نه واجبيږي؛ ځکه د خپل منکوحه مينځې په رانيولو سره خو اول نکاح باطليږي او دويم دا چې په دې صورت کې استبراء هم نه واجبيږي؛ ځکه چې عدم جماع يقيني ده. او دا شرط ځکه لګول سوی دی چې آزاده ښځه به يې په نکاح کې نه وي؛ ځکه د آزادې ښځې په موجوديت کې د مينځې سره نکاح کول صحيح نه دي.

ولو كانت إلخ: له دې ځايه دويمه حيله بيانوي؛ تفصيل يې دا دی چې که د مشتري په نکاح کې آزاده ښځه وي، نو بيا حيله دا ده چې بائع دي د مشتري له شراء (رانيولو) څخه مخکې د يو معتمد کس سره د مينځې نکاح وکړي، يا مشتري دي تر قبضې مخکې د يو معتمد کس سره د هغې نکاح وکړي (د معتمد کس مطلب دا چې پر هغه دومره اعتماد لري چې د مينځې سره به وطي نه کوي او وروسته به طلاق ورکوي)، بيا دي په اول صورت کې مشتري (يعني که بائع په نکاح ورکړې وي [قبل الشراء]، نو مشتري دي) هغه رانيسي او قبضه دي پر وکړي او په دويم صورت کې (چې مشتري رانيولې وي او په نکاح يې ورکړې وي. مشتري) دي صرف پر مينځې قبضه وکړي، لنډه دا چې په دې دواړو صورتونو کې د استحداث الملک واليد (يعني د مينځې رانيولو او قبضه پر کولو) په وخت کې د مشتري لپاره د هغې فرج حلال نه دی (فرج يې ځکه ورته حلال نه دی چې هغه تر اوسه د بل چا [معتمد کس] په نکاح کې ده)، نو ځکه پر مشتري به استبراء هم واجب نه وي، بيا دي تر دې وروسته د مينځې خاوند (معتمد کس) هغې ته طلاق ورکړي، څرنګه چې دا طلاق قبل الدخول دی، نو ځکه عده هم نه واجبيږي او نه پر مالک (مشتري) استبراء واجبيږي؛ ځکه د استحداث الملک واليد په وخت کې خو د فرج د نا حلال والي په وجه استبراء پر واجب سوې نه وه. او اوس ځکه نه پر واجبيږي چې اوس خو استحداث الملک واليد نه دی واقع سوی (ځکه هغه د خاوند تر طلاق ورکولو مخکې واقع سوی وي. يعني مشتري خو د هغه تر طلاق مخکې مينځه رانيولې او قبضه يې پر کړې ده).

او د دې مثال بالکل داسي دی لکه مشتري چې له يو مالک څخه داسي مينځه رانيسي چې هغه د بل چا په نکاح کې وي (يعني مالک بل چا مثلاً زيد ته په نکاح ورکړې وي) او خاوند (زيد) هغې ته طلاق

ورکړې وي چې هغه اوس د دې عده تېروي، نو مشتري (رانيونکی) به د هغې سره وطي نه کوي تر دې چې د هغې عده تېره نه سي، بيا د عدې له تېرېدلو څخه وروسته پر مشتري استبراء واجب نه ده؛ ځکه کله چې مشتري مينځه رانيولې وه نو په هغه وخت کې (يعني د استحداث الملک واليد په وخت کې) د ده لپاره د مينځې فرج حلال نه وو (ځکه هغه تراوسه د مړه خاوند په نکاح کې وه)، او پاته سو اوس چې د ده لپاره هغه حلاله سوه، نو اوس بيا استحداث الملک واليد نه دی سوی.

د کفارهٔ ظهار تر اداء کولو مخکې د وطي د دواعي وو حکم

قَالَ: وَلَا يَقْرَبُ الْمُظَاهِرُ فرمايي: او ظهار کونکی کس به نه جماع کوي وَلَا يَلْمِسُ او نه به مسول کوي وَلَا يُقَبِّلُ او نه به مچول کوي وَلَا يَنْظُرُ إِلَى فَرْجِهَا بِشَهْوَةٍ او نه به د هغې شرمګاه ته په شهوت سره ګوري حَتّٰى يُكَفِّرَ تر دې چې کفاره اداء کړي لِأَنَّهُ لَمَّا حَرُمَ الْوَطْءُ إِلَى أَنْ يُكَفِّرَ ځکه کله چې د هغه د کفاره اداء کولو تر وخته وطي حرام دي حَرُمَ الدَّوَاعِيْ نو دواعي به هم حرام وي لِلْإِفْضَاءِ إِلَيْهِ ځکه چې دواعي وطي ته رسول کوي لِأَنَّ الْأَصْلَ أَنَّ سَبَبَ الْحَرَامِ حَرَامٌ ځکه اُصول دا دی چې د حرام سبب هم حرام وي كَمَا فِي الْاِعْتِكَافِ وَالْإِحْرَامِ وَفِي الْمَنْكُوْحَةِ إِذَا وُطِئَتْ بِشُبْهَةٍ لکه څرنګه چې په اعتکاف او احرام او منکوحه کې کيږي کله چې هغه په شبهه سره وطي کړل سي بِخِلَافِ حَالَةِ الْحَيْضِ وَالصَّوْمِ په خلاف د حيض او روژې د حالت لِأَنَّ الْحَيْضَ يَمْتَدُّ شَطْرَ عُمْرِهَا ځکه چې حيض د ښځې تر نيمايي عمره پورې اوږدېږي [يعني د هغې نيم عمر په حيض کې تيرېږي] وَالصَّوْمُ يَمْتَدُّ شَهْرًا فَرْضًا وَأَكْثَرُ الْعُمْرِ نَفْلًا [همدارنګه] فرض روژه تر يوې مياشتې پورې او نفلي روژه تر اکثر عمره پورې اوږدېږي [يعني په کال کې يوه مياشت فرضي روژې نيسي او په دا نورو وختو کې بيا نفلي روژې نيسي] فَفِي الْمَنْعِ عَنْهَا بَعْضُ الْحَرَجِ نو له دواعي وو څخه په منع کولو کې څه حرج سته وَلَا كَذٰلِكَ مَا عَدَدْنَاهَا او کوم چې موږ شمارلي دي [يعني اعتکاف او احرام] هغه داسي نه دي لِقُصُوْرِ مُدَدِهَا ځکه چې د هغوی مودتونه کم دي وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ يُقَبِّلُ وَهُوَ صَائِمٌ او په صحيح حديث سره ثابت دي چې نبي کريم ﷺ به مچه اخيسته په داسي حال کې چې هغه به روژتي وو [يعني د روژې په حالت کې به يې خپلې بيبياني مچولې] وَيُضَاجِعُ نِسَاءَهُ وَهُنَّ حُيَّضٌ او د خپلو بيبيانو [أزواج مطهراتو] سره به پرېوتی په داسي حال کې چې هغوی به حائضې وې.

اللغات: ﴿يكفّر﴾ د تفعيل له بابه د مضارع صيغه ده، د دې باب له معناوو څخه يوه معنىٰ ده: كفاره وركول. ﴿يمتدّ﴾ د افتعال د باب مضارع ده: اوږدېدل، كشېدل. ﴿شطر﴾ نيمه حصه، جزء، ﴿يضاجع﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: پرېوتل، څملاستل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه څوک د خپلې ښځې سره ظهار وكړي نو د كفارۀ ظهار تر اداء كولو مخكې چې څرنګه ده ته وطي كول جائز نه دي، همداسې دواعي د وطي هم ورته جائز نه دي: ځكه دواعي د وطي سبب ګرځي او د دوى په جائز ګرځولو كي خطره زياته ده. او بل دا چې قاعده همدا ده چې د حرام سبب هم حرام وي، لكه په اعتكاف كي چې وطي حرام دي نو دواعي د وطي هم پكښې حرام دي، او د احرام په حالت كي وطي حرام دي نو دواعي هم پكښې حرام دي. همدارنګه كه څوک د بل چا ښځه خپل منكوحه وګڼي او د هغې سره وطي وكړي (يعني د بل چا د ښځې سره وطي بالشبهه وكړي)، نو د هغې خاوند لره د عده تېرېدلو تر وخته وطي او دواعي د وطي دواړه ناجائز دي.

بخلاف حالة الحيض إلخ: دا د يو مقدّر اعتراض جواب دى، اعتراض دا دى چې كله تاسې دا قاعده مقرره كړه چې د حرام سبب هم حرم وي، نو بيا خو پكار دا ده چې د حيض او روژې په حالت كي هم د وطي دواعي حرام سي (كوم چې د وطي سبب دي)، حالانكې په دې صورتونو كيږ دواعي روا دي، آخر د دې څه وجه ده؟.

د دې په جواب كي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د حيض او روژې مسئله له اعتكاف وغيره څخه جلا ده؛ ځكه ښځې خپل نيمايي عمر په حيض كي تېروي، همدارنګه په كال كي يوه مياشت فرض روژې نيسي او په عامو ورځو كي نفلي روژې نيسي، لهذا كه په دې حالتونو كي د وطي سره دواعي هم حرام كړل سي، نو حرج به لازم سي، او په شريعت مطهره كي هر ځاى حرج لېرې كړى سوى دى، نو ځكه په دې حالتونو كي به دواعي جائز وي. او پاته سو په اعتكاف او احرام كي په شمار څو ورځو لګيږي (هغه هم پر اعتكاف كونكو او احرام تړونكو كسانو)، نو په دې حالتونو كي د دواعي وو په حرامولو سره حرج نه لازميږي، نو ځكه په دې صورتونو كي به دواعي پر خپل ممانعت باقي پاته وي او ناجائز به وي.

همدارنګه د حيض او روژې په هكله خو خپله د نبي كريم ﷺ له عمل څخه هم د دواعي وو جواز څرګنديږي، لكه څرنګه چې په عبارت كي په دې هكله حديث ذكر سوى دى.

دوې داسې مينځې مجول کوم چې سره خوندې وي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ لَهُ أَمَتَانِ أُخْتَانِ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کې] فرمايي: او که چا لره دوې خوندې مينځې وي [يعني که دوې داسې بنځې د چا مينځې وي چې دواړه سره خوندې وي] فَقَبَّلَهُمَا بِشَهْوَةٍ بيا هغه دا دواړې په شهوت سره مچ کړي فَإِنَّهُ لَا يُجَامِعُ وَاحِدَةً مِنْهُمَا نو هغه به د دوی يوې سره هم نه جماع کوي وَلَا يُقَبِّلُهَا او نه به يې مچوي وَلَا يَمَسُّهَا بِشَهْوَةٍ او نه به يې په شهوت سره مسه کوي وَلَا يَنْظُرُ إِلَى فَرْجِهَا بِشَهْوَةٍ او نه به يې فرج ته په شهوت سره ګوري حَتَّى يُمَلِّكَ فَرْجَ الْأُخْرَى غَيْرَهُ تر دې چې هغه [مچونکی مالک] په دوی کې د هغه بلې يوې د فرج بل څوک مالک جوړ کړي بِمِلْكٍ په ملکيت سره [يعني د بل چا په ملکيت کې يې ورکړي] أَوْ نِكَاحٍ په نکاح سره [يعني دا بله يوه په نکاح ورکړي] أَوْ يُعْتِقُهَا يا يې آزاده کړي وَأَصْلُ هَذَا أَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ الْمَمْلُوكَتَيْنِ لَا يَجُوزُ وَطْئًا او اصل د دې [مسئلې] دا دی چې د داسې دوو خوندو تر مينځ کوم چې دواړه مملوکه [مينځې] وي د وطې په اعتبار سره جمع راوستل جائز نه دي لِإِطْلَاقِ قَوْلِهِ تَعَالَى: وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ [النساء: ۲۳] د الله تعالیٰ د دې فرمان د مطلقوالي په وجه: او دا چې تاسې جمع [يو ځای والی] راولئ د دوو خوند تر مينځ وَلَا يُعَارَضُ بِقَوْلِهِ تَعَالَى: أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ [النساء: ۳] او معارضه نه کيږي د دې [مخکني] آيت د دغه آيت سره [يعني د هغه او دغه آيت تر مينځ تعارض نشته] : يا هغه مينځې چې تاسې يې مالکان ياست لِأَنَّ التَّرْجِيحَ لِلْمُحَرِّمِ ځکه چې ترجيح حراموونکي دليل لره وي [نه مُبيح (روا کوونکي دليل) لره. او "أن تجمعوا إلخ" مُحرِّم دی او دا بل آيت مُبيح دی. او د محرم او مبيح تر مينځ تعارض نشته ځکه چې تعارض په دوو برابرو شيانو کې راځي لېکن دلته دواړه برابر نه دي بلکې محرم لره ترجيح حاصله ده] وَكَذَا لَا يَجُوزُ الْجَمْعُ بَيْنَهُمَا فِي الدَّوَاعِي او همدارنګه د وطې په دواعي وو کې هم د دوو خوندو تر مينځ جمع راوستل جائز نه دي لِإِطْلَاقِ النَّصِّ د نص [آيت] د مطلق والي په وجه وَلِأَنَّ الدَّوَاعِيَ إِلَى الْوَطْءِ بِمَنْزِلَةِ الْوَطْءِ فِي التَّحْرِيمِ او ځکه چې د تحريم [حرامېدلو] په باب کې د وطې دواعي هم د وطې په درجه کې دي عَلَى مَا مَهَّدْنَاهُ مِنْ قَبْلُ لکه څرنګه چې مخکې په ترتيب سره موږ د دې بيان کړی دی فَإِذَا قَبَّلَهُمَا نو کله چې هغه دواړې مچ کړي فَكَأَنَّهُ وَطِئَهُمَا نو ګواکې هغه د دواړو سره وطې کړې وَلَوْ وَطِئَهُمَا او که چيرې

هغه د دواړو سره وطي وکړي فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُجَامِعَ إِحْدَاهُمَا وَلَا أَنْ يَأْتِيَ بِالدَّوَاعِيْ فِيهِمَا نو بيا هغه ته جائز نه دي چې په دوی کې ديوې سره جماع وکړي او نه دا جائز دي چې د دواړو سره دواعي د وطي وکړي فَكَذَا إِذَا قَبَّلَهُمَا نو همداسي کله چې دواړه مچ کړي وَكَذَا إِذَا مَسَّهُمَا بِشَهْوَةٍ او همدارنګه کله چې په شهوت سره دواړه مسه کړي أَوْ نَظَرَ إِلَى فَرْجِهِمَا بِشَهْوَةٍ يا په شهوت سره د دواړو شرمګاه ته وګوري لِمَا بَيَّنَّا د هاغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی إِلَّا أَنْ يَمْلِكَ فَرْجَ الْأُخْرَى غَيْرَهُ بِمِلْكٍ أَوْ نِكَاحٍ مګر دا چې د هغه بلې يوې د فرج بل څوک مالک جوړ کړي په ملکيت يا نکاح سره أَوْ يُعْتِقَهَا يا يې آزاده کړي لِأَنَّهُ لَمَّا حَرُمَ عَلَيْهِ فَرْجُهَا ځکه کله چې پر هغه د بلې يوې فرج حرام سو لَمْ يَبْقَ جَامِعًا نو هغه [د دو خوندو ترمينځ] جمع کونکی پاته نه سو.

اللغات: ﴿يُملّك﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: مالک جوړول، په ملکيت کي ورکول. ﴿مهدنا﴾ د تفعيل له بابه د جمع متکلم صيغه ده، خپله معنیٰ يې ده: سمول او برابرول، بستره هوارول (غوړول)، مراد ځني په "ترتيب او تفصيل سره بيانول" دي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې په قرآني آيت سره جَمْع بَيْنَ الأُخْتَيْنِ حرام ګرځول سوې ده، د نکاح په اعتبار سره هم او د وطي په اعتبار سره هم. او په شهوت سره مچول وغيره هم د وطي په حکم کي دي، نو که د يو چا په ملکيت کي دوې داسي مينځې وي کوم چې سره خوندي وي او مالک هغوی دواړه په شهوت سره مچي کړي، نو اوس مالک د هغوی ترمينځ جمع کونکی سو. لهذا اوس مالک نه د هغوی يوې سره وطي کولای سي او نه يې په شهوت سره مچولای او مسه کولای سي او نه د يوې فرج ته په شهوت سره کتلای سي، ها! که چيري تر دې وروسته مالک له هغوی څخه يوه مينځه بل چا ته ورکړي يعني بل څوک يې د فرج مالک کړي، يا يوه مينځه بل چا ته په نکاح ورکړي يا يوه آزاده کړي، نو بيا د بلې يوې (يعني د هغې د خور) سره وطي او دواعي د وطي کول ورته جائز دي.

يادونه: او که مالک فقط يوه مچ کړي نو فقط د هغې سره وطي جائز دي، نه د بلي سره، همدارنګه که مچه په شهوت سره نه وي، نو دا د نه مچولو په درجه کي ده.

وأصل هذا إلخ: په دې سره د مذکوره د مسئلې دليل بيانوي چې د الله تعالیٰ دا فرمان ﴿وأن تجمعوا بين الأختين﴾ مطلق دی چې په هغه کي د دوو خوندو سره نکاح کول هم شامل دي او د دوې مملوکه خوندي په وطي کي جمع کول هم پکښې داخل دي.

ولا يعارض إلخ: پر پورتني دليل يو اعتراض وارديږي چي د قرآن كريم په يو بل آيت ﴿فَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ كي عموم دى چي برابره ده تاسي د هرڅومره مينځو مالكان ياست د هغوى سره وطي وغيره كول حلال دي، لهذا په دې دوو آيتونو كي تعارض راغلى، په اول سره حرمت او په دويم سره حلت ثابتيږي؟، د جواب حاصل دا دى چي تعارض په دوو برابرو شيانو كي راځي او دلته برابري نسته ځكه "و أن تجمعوا إلخ" مُحرّم دى او دا بل آيت "أو ما ملكت إلخ" مُبيح دى او أصول دا دى چي محرم لره پر مبيح ترجيح حاصله ده، نو ځكه دلته به هم محرم او جانب د حرمت لره ترجيح وي او جمع بين الأختين به صحيح نه وي.

خلاصه د كلام دا چي په آيت سره ثابته سوه چي په نكاح كي دوې خوندي سره جمع كول حرام دي، نو همدغسي په ملكيت والا وطي كي دوې خوندي سره جمع كول هم حرام دي.

وكذا لايجوز إلخ: څرنګه چي په قرآن كي مطلقاً له جمع بين الأختين څخه منع سوې ده، لهذا څرنګه چي په وطي كي دوې خوندي سره جمع كول حرام دي، همداسي دآيت د اطلاق په وجه په دواعي د وطي كي هم دوې خوندي سره جمع كول حرام دي؛ ځكه د وطي دواعي د وطي په درجه كي دي چي تفصيل يې مخكي تېر سوى دى، نو مچه اخيستل د وطي په درجه كي سوه، او دا معلومه خبره ده چي كه مالک د دواړو خوندو مينځو سره وطي وكړي نو همدا حكم به يې وي چي تر دې وروسته هغه نه دې يوې سر وطي كولاى سي او نه دواعي د وطي كولاى سي (ځكه چي په وطي سره هغه جامع بين الأختين وګرځېدى)، نو د دواړو تر مچولو وروسته به هم داغه حكم وي چي اوس د دواړو سره وطي او دواعي د وطي حرام دي.

خو كه تر دې وروسته مالک له هغوى څخه يوه مينځه د بل چا په ملكيت كي وركړي يا يې بل چا ته په نكاح وركړي يا يې آزاده كړي، نو بيا د بلي يوې (يعني د هغې د خور) سره وطي كول حلال او جائز دي، ځكه كله چي اوس بل چا ته د وركولو وغيره په وجه يوه مينځه د مالک لپاره حرامه سوه، نو اوس د بلي يوې سره د وطي كولو په وجه هغه جامع بين الأختين نه ګرځي؛ ځكه چي د هغې خور د ده له ملكيته ووتله او ورته حرامه سوه.

د پورتني مسئلې نور وضاحت او تفصيل

وَقَوْلُهُ: بِمِلْكٍ او [په متن كي] د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول: بِمِلْكٍ [چي بل څوک د مينځي د فرج مالک جوړ كړي په ملكيت سره] أَرَادَ بِهِ مِلْكَ يَمِينٍ په دې سره هغه د ملک يمين اراده كړې ده [يعني له دې ملک څخه ملک يمين مراد دى] فَيَنْتَظِمُ التَّمْلِيكُ بِسَائِرِ أَسْبَابِهِ نو دا به د تمليک [مالک جوړولو] ټولو

اسبابو لره شامل وي بَيْعًا أَوْ غَيْرَهُ هغه که بيع وي [يعني په بيع سره يې مالک جوړ کړي] يا له بيع څخه نور اسباب [لکه هبه، وصيت او داسي نور] وَتَمْلِيْكُ الشِّقْصِ فِيْهِ كَتَمْلِيْكِ الْكُلِّ او [د مينځي] د يوې حصې مالک جوړول په دې باب کي د ټولي [مينځي] د مالک جوړولو په څېر دي لِأَنَّ الْوَطْءَ يَحْرُمُ بِهِ ځکه د دې [بعضي حصې د تمليک] په وجه وطي حراميږي وَكَذَا إِعْتَاقُ الْبَعْضِ مِنْ إِحْدَاهُمَا كَإِعْتَاقِ كُلِّهَا او همدارنګه له دوی دواړو [خوندو مينځو] څخه د يوې څه حصه آزادول د ټولي مينځي د آزادولو په څېر دي وَكَذَا الْكِتَابَةُ كَالْإِعْتَاقِ فِي هٰذَا او همدارنګه په دې باب کي مکاتبه جوړول د آزادولو په څېر دي لِثُبُوْتِ حُرْمَةِ الْوَطْءِ بِذٰلِكَ كُلِّهِ ځکه چي په دې ټولو سره د وطي حرمت ثابتيږي وَبِرَهْنِ إِحْدَاهُمَا وَإِجَارَتِهَا وَتَدْبِيْرِهَا لَا تَحِلُّ الْأُخْرٰى او له دوی څخه يوه مينځه په رهن کي په ورکولو سره يا په اجارتا ورکولو سره يا د يوې په مدبّره جوړولو سره بله يوه [مالک لره] نه حلاليږي لِأَنَّهَا لَا تَخْرُجُ بِهَا عَنْ مِلْكِهِ ځکه د دې افعالو په وجه هغه مينځه د مالک له ملکيت نه وځي وَقَوْلُهُ: أَوْ نِكَاحٍ او د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول: أَوْ نِكَاحٍ [چي يا بل چا ته يې په نکاح ورکړي] أَرَادَ بِهِ النِّكَاحَ الصَّحِيْحَ په دې سره هغه د صحيح نکاح اراده کړې ده أَمَّا إِذَا زَوَّجَ إِحْدَاهُمَا نِكَاحًا فَاسِدًا خو که مالک له دوی څخه يوه په نکاحِ فاسد سره په نکاح ورکړي لَا يُبَاحُ لَهُ وَطْءُ الْأُخْرٰى نو ده ته د هغه بلي يوې سره وطي کول نه روا کيږي إِلَّا أَنْ يَدْخُلَ الزَّوْجُ بِهَا فِيْهِ مګر دا چي خاوند په دې نکاح فاسد کي په هغې دخول وکړي [وطي ور سره وکړي، نو بيا مالک ته د هغه بلي يوې سره وطي کول روا کيږي] لِأَنَّهُ يَجِبُ الْعِدَّةُ عَلَيْهَا ځکه چي پر هغې [مدخول بها] عده واجبيږي وَالْعِدَّةُ كَالنِّكَاحِ الصَّحِيْحِ فِي التَّحْرِيْمِ او د تحريم په باب کي عده د نکاحِ صحيح په څېر ده وَلَوْ وَطِئَ إِحْدَاهُمَا او که مالک په دوی کي د يوې سره وطي کړې وي حَلَّ لَهُ وَطْءُ الْمَوْطُوْءَةِ دُوْنَ الْأُخْرٰى نو هغه ته د دې وطي کړل سوې مينځي سره وطي کول روا دي، نه د هغه بلي يوې سره لِأَنَّهُ يَصِيْرُ جَامِعًا بِوَطْءِ الْأُخْرٰى لَا بِوَطْءِ الْمَوْطُوْءَةِ ځکه چي د هغه بلي يوې په وطي کولو سره مالک [د دوو خوندو ترمينځ] جمع کوونکی ګرځي، نه د موطوئه په وطي کولو سره وَكُلُّ امْرَأَتَيْنِ لَا يَجُوْزُ الْجَمْعُ بَيْنَهُمَا نِكَاحًا او هر داسي دوې مينځي چي په نکاح کي د

هغوی جمع کول جائز نه وي فِيمَا ذَكَرْنَاهُ بِمَنْزِلَةِ الْأُخْتَيْنِ هغوی په دې ټولو صورتونو کې کوم چې مونږ ذکر کړل د دوو خوندو په درجه کې دي.

اللغات: ﴿ملك يمين﴾ پر غلام یا مینځې د سړي ملکیت ثابتېدل (یعني د غلام او مینځې مالک کېدل)، چې دې ته ملکِ رقبه هم وايي، ﴿تمليك﴾ مالک جوړول، مالک ګرځول، په ملکیت کې ورکول.

تشريح: له دې ځایه صاحب د هدایې په متن کې د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ د قول "بِمِلْكٍ" مراد بیانوي، چې د دې مراد او مطلب دا دی چې بل څوک د دې مینځې مالک جوړ کړي چې دې ته ملکِ یمین وایي. نو د ملک (مالک کېدو) او تملیک چې څومره هم اسباب دي، له هغوی څخه چې کومه طریقه هم اختیار کړل سي ټوله سره برابر دي، یعني برابره ده مینځه پر دې بل چا خرڅه کړی سي، یا په هبه یا صدقه کې ورکړل سي او داسي نور.

وتمليك الشقص إلخ: او تاسي ته به معلومه وي چې کومه مینځه د دوو کسانو تر مینځ مشترکه وي. نو په دوی کې یوه لره هم د هغې سره وطې کول روا نه دي. لهذا که دلته مالک له دغه دوو خوندو مینځو څخه د یوې بعضې حصه د بل چا په ملکیت کې ورکړي، نو ترڅنګه چې اوس هغه مینځه پر مالک حرامه سوه. نو ځکه اوس د هغې د خور سره وطې او دواعي د وطې کول حلال دي. همدارنګه که د یوې بعضې حصه آزاده کړي. نو هم یې د بلي خور سره وطې او دواعي حلال دي، همدارنګه که یوه مکاتبه جوړه کړي. نو هم دغه حکم دی: ځکه په دې ټولو صورتونو کې حرمت ثابتیږي او کله چې حرمت ثابت سو. نو د هغې د خور سره په وطې کولو سره جمع بین الأختین نه لازمیږي، ځکه چې هغه د مالک له ملکیته ووتله.

وبرهن أحدهما إلخ: یعني که مالک له دواړو خوندو مینځو څخه یوه مینځه بل چا ته په رهن (ګروي) کې ورکړي. نو ترڅنګه چې په دې سره دا مرهونه مینځه د مالک له ملکیته نه وځي، نو ځکه اوس د هغې خور ورته حلاله نه ده. همدارنګه که یوه مینځه په اجاره ورکړي یا یې مدبّره وګرځوي. نو هم داغه حکم دی چې په دې سره هغه د مالک له ملکیت نه وځي، لهذا د هغې د خور سره وطې کول حلال نه دي.

وقوله أو نكاح إلخ: په متن کې چې د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ دا قول ذکر سوی دی "أَوْ نِكَاحٍ" (چې یا مینځه بل چا ته په نکاح ورکړي)، له دې څخه مراد نکاحِ صحیح ده. لهذا که مالک د یوې مینځې نکاح د بل چا سره وکړي خو هغه نکاحِ فاسد وي نو په دې صورت کې هم مالک ته د هغې د خور سره وطې کول روا او حلال نه دي. خو که خاوند په دې نکاحِ فاسد کې د هغې سره وطې وکړي او دخول په وکړي. نو اوس مالک ته د هغې د خور سره وطې کول روا نه دي؛ ځکه د دخول په وجه پر هغې عده واجب سوه، او کله چې عده واجب سوه، نو معتده (عده تېرونکې) پر خپل مالک حرامه سوه او کله چې حرامه سوه. نو اوس د هغې د خور سره وطې کول روا سوه. په بله وینا دا چې ترڅنګه په نکاحِ صحیح سره د مالک لپاره حرمت ثابتیږي. همداسي په عده سره هم حرمت ثابتیږي.

ولو وطئ إلخ: او که مالک د یوې سره وطي کړې وي نو بس د هغې سره دي وطي کوي. دا بلې ته دي نه ورنژدې کيږي. څکه چې جمع بين الأختين هغه وخت لازميږي کله چې دا بلې ته هم ورنژدې سي وطي ور سره وکړي.

وکل امرأة إلخ: فرمايي هر داسي دوې ښځې چې په نکاح کې د هغوی جمع کول جائز نه وي. داسي دوې مينځې هم په وطي کې جمع کول جائز نه دي او نه په دواعي د وطي کې. مثلاً دوې داسي مينځې چې سره خاله او خورزه وي يا دوې داسي مينځې چې سره امه او ورېره وي. د دوی احکام هم د جمع بين الأختين په څېر دي.

د سړي خوله وغيره مچول او معانقه کول څنګه دي؟(حکم او تفصيل)

قَالَ: وَيُكْرَهُ أَنْ يُقَبِّلَ الرَّجُلُ فَمَ الرَّجُلِ أَوْيَدَهُ أَوْ شَيْئًا مِنْهُ فرمايي: او مکروه دي دا چې سړی مچ کړي د سړي خوله يا د هغه لاس يا د هغه د بدن يوه حصه أَوْيُعَانِقَهُ يا د هغه سره معانقه وکړي وَذَكَرَ الطَّحَاوِيُّ أَنَّ هٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ او امام طحاوي رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چې دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَقَالَ أَبُويُوسُفَ ۞: لَا بَأْسَ بِالتَّقْبِيلِ وَالْمُعَانَقَةِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په مچولو او معانقه کولو کې څه پروا نسته لِمَا رُوِيَ ❶ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَانَقَ جَعْفَرًا رضي الله عنه حِينَ قَدِمَ مِنَ الْحَبَشَةِ وَقَبَّلَ بَيْنَ عَيْنَيْهِ څکه روايت سوی دی چې نبي کريم ﷺ د حضرت جعفر رضي الله عنه سره معانقه وکړه کله چې هغه له حبشې څخه راغلی او هغه يې د ستر کو تر مينځ مچ کړی وَلَهُمَا مَا رُوِيَ ❷ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهٰى عَنِ الْمُكَامَعَةِ وَهِيَ الْمُعَانَقَةُ وَعَنِ الْمُكَاعَمَةِ وَهِيَ التَّقْبِيلُ او د طرفينو دليل دا روايت دی چې نبي کريم ﷺ له مکامعه

۞ القول الراجح (ونفي الخلاف): قال المصنف (صاحب الهداية) رحمه الله في آخر العبارة: الخلاف في المعانقة في إزار واحد. أما إذا كان عليه قميص أو جبة فلا بأس بها بالإجماع، وهو الصحيح. وفي العناية: ذكر التوفيق بين الأحاديث بهذا الطريق. قال العلامة أكمل الدين البابرتي [illegible] وهو جمع بين هذه الأحاديث، فقال: المكروه من المعانقة ما كان على وجه الشهوة، وعبر عنه المصنف رحمه الله بقوله في إزار [illegible] فأما على وجه البر والكرامة إذا كان عليه قميص أو جبة فلا بأس (العناية ج:٨، ص:٤٨٥). وقال صاحب [illegible] ما إذا [illegible] عليه غير الإزار، فإن كان عليهما قميص أو جبة فلا بأس بالإجماع (البحر ج [illegible] ص:٣٦٤) | [illegible] ٣٠٣|

❶ تخريج: أخرجه الحاكم في مستدركه في مناقب جعفر ابن أبي طالب، حديث رقم ٤٩٤١.

❷ تخريج: أخرجه أبوداؤد في كتاب اللباس، باب من كرهه، حديث رقم ٤٠٤٩.

شخه منع کړې ده او هغه معانقه کول دي او له مکاعمه شخه يې منع کړې ده او هغه مچول دي وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلٰى مَا قَبْلَ التَّحْرِيْمِ او کوم چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت کړی دی هغه له تحريم شخه پر مخکيني حالت محمول دي قَالُوْا: الْخِلَافُ فِي الْمُعَانَقَةِ فِيْ إِزَارٍ وَاحِدٍ بيا فقهاؤ ويلي دي: چي اختلاف په هغه معانقه کي دی چي په يوه لنګ کي وسي أَمَّا إِذَا كَانَ عَلَيْهِ قَمِيْصٌ أَوْ جُبَّةٌ ليکن کله چي د معانقه کونکي پر بدن کميس يا چپنه [هم] وي فَلَا بَأْسَ بِهَا بِالْإِجْمَاعِ نو [بيا] بالاتفاق په معانقه کولو کلي څه پروا نسته وَهُوَ الصَّحِيْحُ او همدا صحيح ده قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِالْمُصَافَحَةِ فرمايي: او په مصافحه کولو کي څه حرج نسته لِأَنَّهُ هُوَ الْمُتَوَارَثُ ځکه چي همدا مصافحه [له عهد نبوي شخه ترننه پوري] متوارث ده وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [3]: مَنْ صَافَحَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ وَحَرَّكَ يَدَهُ او نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: څوک چي د خپل مسلمان ورور سره مصافحه وکړي او د هغه لاس وښوروري تَنَاثَرَتْ ذُنُوْبُهُ نو [په دې سره] د هغه ګناهونه ورژيږي [تويږي].

اللغات: ﴿معانقة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: ترغاړي کېدل. يو بل سره غاړه ملاوول. ﴿مصافحه﴾ مخکنی صيغه ده: يو بل ته لاس ورکول، روغبړ. مصافحه په اصل کي دې ته وايي چي خپل مخ د بل يوه د مخ سره برابر کړي سي او د لاس ورغوي د هغه د لاس د ورغوي سره ملاو کړل سي. فقط ګوتي نيول مصافحه نه ده. په خلاف د روافضو. ﴿مُتَوَارَث﴾ د تفاعل له باب شخه د مفعول صيغه ده: يو بل ته په ميراث کي پاته سوی. يو بل ته په ميراث کي حاصل سوی. ﴿تناثرت﴾ د تفاعل له باب شخه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: رژېدل. (تويېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز يوه سړي ته د بل سړي خوله، لاس، يا يې د بدن بل اندام مچول او د هغه سره معانقه کول مکروه دي، خو د امام بو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دا مچول او معانقه دواړه جائز دي.

د امام ابو يوسف دليل: دا حديث دی چي کله حضرت جعفر طيار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له حبشې شخه واپس راغلی نو نبي کريم ﷺ د هغه سره معانقه وکړه او د دواړو سترګو پر مينځ والا حصه يې مچ هم کړی. نو له دې شخه د دواړو جواز ثابت سو.

---

[3] تخريج: أخرجه الطبراني في معجمه الوسط، انظر للتفصيل [نصب الراية ۴/۲۵۹].

د طرفينو دليل: هغه دويم حديث دی چي په هغه کي له معانقه او مچولو څخه منع سوې ده. او طرفينو رَحِمَهُمَا الله د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د حديث دا جواب ورکړی دی چي دغه قصه له تحريم څخه مخکي پېښه سوې ده او په مذکوره حديث سره منسوخه ده.

ثم قالوا إلخ: لېکن مشائخو دلته دا تحقيق کړی دی چي دا اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي په يوازي لنګ کي د سړي سره معانقه وسي. لېکن که د پاسه يې کميس يا چپنه وغيره هم اغوستي وي. نو بيا بالاتفاق معانقه جائز ده. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله همدغه تحقيق صحيح ګرځولی دی.

ولا بأس بالمصافحة إلخ: فرمايي چي په مصافحه کولو کي څه حرج او پروا نسته، ځکه همدا په مسلمانانو کي رواج دي او بل په حديث کي د دې اجازت او فضيلت وارد سوی دی. (او سنت دا ده چي مصافحه په دواړو لاسو سره وسي او د ملاقات پر مهال تر سلام وروسته وسي او په مينځ کي يوه کپړه وغيره حائل نه وي. او په مصافحه کي دې بټه ګوته هم نيسي ځکه په هغې کي يو رګ دی چي د هغه په کښېکښل کېدو سره محبت زياتيږي).

يادونه (۱): که يو نارينه له بل نارينه څخه يا يوه ښځه له بلي ښځي څخه د ملاقات يا رخصتي پر مهال مچه واخلي. که چيري دا په شهوت سره وي، نو مکروه تحريمي دی او که د اکرام او احترام په غرض سره وي. نو جائز دي. لکه د يو فقيه مخ مچول. (در مختار شامي ج: ۵، ص: ۲۴۴)

يادونه (۲): د يو عالم او نېک صالح کس لاس مچول د تبرک په توګه جائز دي. همدارنګه د ديندار ه حاکم او عادل باچا مخ مچول جائز دي او بعضي حضراتو سنت ګرځولي دي. شرنبلالي رَحِمَهُ الله ويلي دي چي د احاديثو مفاد سنت والی يا نُدب دی چي ودې طرف ته علامه عيني رَحِمَهُ الله اشاره کړې ده. او غير عادل او غير عالم کس مچول جائز نه دي او په حواله د مجتبیٰ او محيط که چيري مقصود د هغه د اسلام تعظيم او اکرام کول وي. نو جائز دي او که مقصود حصول د دنيا وي. نو مکروه دي. (درمختار شامي ج: ۵، ص: ۲۴۵)

يادونه (۳): د داسي کس په احترام کي ولاړېدل مستحب دي کوم چي د تعظيم او احترام قابل وي (پورتنی حواله) او د خپل ځان لپاره دا خوښول مکروه دي او که له خوښي څخه بغير خلک ورته ولاړ سي، نو مکروه نه دي. (مجمع الأنهر)

قد تم بعون الله وتوفيقه المجلد الأول من كتاب الشفعة، ويتلوه المجلد الثاني مبتدئًا بـ «فصل في البيع» من «كتاب الكراهية»، نلتمس من جميع القرّاء أن يدعوا الشارحه ولوالديه

ولأساتذته ولمن قام بنشره وتوزيعه، والله المُوفّق والمُعين.

ربنا تقبل منا إنك أنت السميع العليم، وتب علينا إنك أنت التواب الرحيم



